

# مه پېرۍ یون

## دولسم ټوک

(تحصیلي اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل

**په دې څوارلس ټوکيزو کلياتو کې**

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهير (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دويم ټوک (راټولونې):** هيلې، نيمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سيندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېيم ټوک (راټولونې):** د نازو انا ياد، د استاد الفت نثري کلّيات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (يونليکنې):** د اماراتو سفر، که يون دی يون دی، د پنتاګون تر څنډو، د کرملين په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (يونليکونه):** د ډيلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساينسي پرمختياوې، هيله د خپلو سريزو په لمن کې، د کتابونو په ورمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زيانونه، مرګه او مرګي، کلتوري يون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** بېړنۍ لويه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سياسي کړليچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** [illegible] سوال [illegible] په کړليچ کې، ملي هويت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ويلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيمه پېړۍ يون

## دولسم ټوک

## (تحصيلي اثار/ دوکتورا)

محمد اسمعيل يون

۱۳۹۶ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## دولسم ټوک

**(تحصيلي اثار/دوکتورا)**

ليکوال: **محمد اسمعيل يون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحريک**

ډيزاين: **فياض حميد**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمريز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۹)**

ويبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاين خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

**۱۰۸۲۳**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


| گڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۱۰۸۲۹ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۱۰۸٤٥ |
| | **کتاب الشعر او لس نورې لیکنې** | |
| ۱ | د تحریک یادښت | ۱۰۸٥٥ |
| ۲ | دا اثر د ښاغلي (یون) یوه بله گټوره هڅه | ۱۰۸٥٦ |
| ۳ | د دوکتورا پروگرام او دا اثر | ۱۰۸٥۹ |
| ٤ | د لیک تاریخي بهیر | ۱۰۸٦۳ |
| ٥ | د ادم خان او درخانۍ داستان لنډه شننه او تلنه | ۱۰۸۹۳ |
| ٦ | داردي ژبې او هغو ته پېښ خطرونه | ۱۰۹۱٦ |
| ۷ | د روښان جنگونه | ۱۰۹۳٤ |
| ۸ | د ژبپوهنې د ښوونځیو لنډیز | ۱۰۹٦۸ |
| ۹ | د افغانستان فرهنگي میراثونه | ۱۰۹۸۷ |
| ۱۰ | په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان ځرکونه | ۱۱۰۲۷ |
| ۱۱ | کنایه او په کلام کې یې دریځ | ۱۱۰٤٦ |
| ۱۲ | د ارسطو د کتاب الشعر موخه، مانا او محتوا | ۱۱۰٦٤ |
| ۱۳ | د شېخ سعدي او رحمان بابا د اخلاقي ایډیالونو پرتلنه | ۱۱۰۸٦ |
| ۱٤ | د پرتلیزې او تاریخي ژبپوهنې حدود | ۱۱۱۱۹ |
| | **د خادم نړۍ لید** | |
| ۱ | (د خادم نړۍ لید) په باب د پښتو څانگې نظر | ۱۱۱۳٦ |
| ۲ | د لاربښود گزارش | ۱۱۱۳۸ |
| ۳ | د خادم نړۍ لید او زما نظر | ۱۱۱٤۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٤ | د خادم نړۍ ليد | ۱۱۱٤۷ |
| ٥ | د ارزوونکي نظر | ۱۱۱٥۳ |
| ٦ | سريزه | ۱۱۱٥۷ |


## لومړۍ برخه

## خادم څوک و؟


| | | |
|---|---|---|
| ۷ | د خادم پېژندنه | ۱۱۱٦۹ |
| ۸ | ۱- زوکړه | ۱۱۱۷۳ |
| ۹ | ۲- زده کړه | ۱۱۱۷۸ |
| ۱۰ | ۳- ليکوالي | ۱۱۱۸۲ |
| ۱۱ | ۴- دندې | ۱۱۱۸٤ |
| ۱۲ | ۵- اثار | ۱۱۱۸۸ |
| ۱۳ | ٦- سياسي فکر، ژوند او هڅې | ۱۱۱۹۰ |
| ۱٤ | ۷- کورني او بهرني سفرونه | ۱۱۱۹۷ |
| ۱٥ | ۸- کورنی او ټولنيز ژوند | ۱۱۱۹۸ |
| ۱٦ | ۹- د ژوند وروستي کلونه، بند او مړينه | ۱۱۱۹۹ |
| ۱۷ | ۱۰- يادونه او نمانځنه | ۱۱۲۰۲ |
| ۱۸ | ۱۱- د ژوند پېښو لنډيز | ۱۱۲۰٦ |


## دويمه برخه

## خادم څه کړي ؟


| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | د خادم اثار | ۱۱۲۱۰ |
| ۲۰ | الف - د استاد خادم منظوم اثار | ۱۱۲۱۱ |
| ۲۱ | ب- د استاد خادم منثور اثار | ۱۱۲۲۹ |
| ۲۲ | د استاد خادم د اثارو نوښتونه او ارزښتونه | ۱۱۳۱۲ |
| ۲۳ | الف- د منظومو اثارو نوښتونه او ارزښتونه | ۱۱۳۱۳ |
| ۲٤ | ب- د منثورو اثارو نوښتونه او ارزښتونه | ۱۱۳٥٦ |
| ۲٥ | په ويښتيايي پړاو کې د استاد خادم د اثارو مقام | ۱۱۳٦۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲٦ | د ولس په ویښتابه کې د استاد خادم د مفکورو اغېزه | ۱۱۳۹٤ |
| ۲۷ | د خادم په اثارو کې فکري تاثر، تقلید او تولید | ۱۱۳۹۸ |
| ۲۸ | الف- خادم او خپله ټولنه | ۱۱٤۰۰ |
| ۲۹ | ب- کورني لیکوال او مهم شخصیتونه | ۱۱٤۰٥ |
| ۳۰ | ج- نړیوال لیکوال او موثر شخصیتونه | ۱۱٥۲٥ |

## درېیمه برخه

## د خادم نړۍ لید

| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ | ملتپالنه | ۱۱٥۷۳ |
| ۳۲ | الف- پښتانه او پښتونولي | ۱۱٥۷۷ |
| ۳۳ | ب- پښتانه او پښتونستان | ۱۱٦۰٦ |
| ۳٤ | ج- افغان او افغانیت | ۱۱٦۲۷ |
| ۳٥ | دینپالنه | ۱۱٦۸۱ |
| ۳٦ | الف- د دین اصلي ماهیت | ۱۱٦۸۳ |
| ۳۷ | ب- د دین اخلاقي ایډیالونه | ۱۱٦۹۰ |
| ۳۸ | ټولنپالنه | ۱۱۷۰۸ |
| ۳۹ | سمونپالنه | ۱۱۷۲۰ |
| ٤۰ | الف- فردي سمون | ۱۱۷۲۱ |
| ٤۱ | ب- ټولنیز سمون | ۱۱۷۲۷ |
| ٤۲ | ج- هېوادنی سمون | ۱۱۷۳۱ |
| ٤۳ | کره کتنه | ۱۱۷۳۸ |
| ٤٤ | الف- ژبپوهنیزه کره کتنه | ۱۱۷۳۹ |
| ٤٥ | ب- ادبي کره کتنه | ۱۱۷٤۳ |
| ٤٦ | ج- سیاسي او ټولنیزه کره کتنه | ۱۱۷٤۷ |
| ٤۷ | ښارپالنه | ۱۱۷٥۹ |
| ٤۸ | د فلسفي افکارو روزنه | ۱۱۷۷٥ |
| ٤۹ | د سیمې او نړۍ په باب انګېرنې | ۱۱۸۱۰ |
| ٥۰ | الف – په سیمه ییزه کچه انګېرنې | ۱۱۸۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٥١ | ب- په نړیواله کچه انگېرنې | ١١٨١٤ |
| ٥٢ | ژبپالنه او نور افکار | ١١٨٢٤ |
| | **څلورمه برخه** | |
| ٥٣ | خادم د نورو لیکوالو له نظره | ١١٨٥٠ |
| ٥٤ | الف- کورني لیکوال | ١١٨٥١ |
| ٥٥ | ب- بهرني لیکوال | ١١٩٧٢ |
| | **پنځمه برخه** | |
| ٥٦ | د خادم د خدمتونو ارزونه | ١١٩٨٥ |
| ٥٧ | فرهنگي برخه کې د استاد خادم خدمتونه | ١١٩٨٧ |
| ٥٨ | الف- لیکنیز خدمتونه | ١١٩٨٨ |
| ٥٩ | ب- رسنیز خدمتونه | ١١٩٩٣ |
| ٦٠ | ج- دیني خدمتونه | ١٢٠٠٣ |
| ٦١ | ټولنیزه برخه کې د استاد خادم خدمتونه | ١٢٠٠٧ |
| ٦٢ | الف- کورنۍ او سیمه ییز چاپېریال | ١٢٠٠٨ |
| ٦٣ | ب- عامه ټولنه | ١٢٠٠٩ |
| | **شپږمه برخه** | |
| ٦٤ | وروستۍ یادونې | ١٢٠١٣ |
| ٦٥ | وروستۍ بشپړونې | ١٢٠١٥ |
| ٦٦ | لنډیز او پایله | ١٢٠٢١ |
| ٦٧ | اخځونه | ١٢٠٢٨ |
| ٦٨ | CERTIFICATE | ١٢٠٣٣ |
| ٦٩ | وروستۍ نښلونې | ١٢٠٣٤ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروبانښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړي. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴۶ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختتو شرايطو کې يې هم خپل هوډ قوي وساته، هم يې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعيل يون پر (۱۳۵۳ل)کال د الينگار ولسوالۍ د (سلينگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د يون له کوره په پلي مزله يې نږدې يو نيم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، يون يو کال د سويې ازموينه ورکړه او يو ټولگی يې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د يون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفينو له خوا وسوځول شو، يون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، يون له درس سره د خپلې مينې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال يې د کابل په (ده خدايداد) او بيا په (ده يحيی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقيب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دويمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبياتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال يې د ياد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموينه ورکړه، په ياده ازموينه کې بريالی او پر همدې کال د (نامزد پوهيالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. يون پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروگرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې د دوکتورا (PhD) پروگرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانگړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولگي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلوده او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمني کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد اسمعیل یون د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته پر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د مرستو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یادو ولایتونو کې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنده هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱۶۰۰) تنو په کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپاره ټاکنې وشوې او یون د رایو په اکثریت سره د بېړنۍ لویې جرګې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګه- ولسواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تر منځ د (امن ګډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامد کرزي د یوه ځانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګه غوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامدکرزي ته یې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ازاد، فرهنگي، مدني، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ کېښود.**

## ۴- کورنی ژوند:

**استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کال له (ارین مومند) سره واده وکړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سوله او ودان). (هیله) او (سمسور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پر لوړو زده کړو بوخت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.**

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې: یون له (۱۳٦٦ل)کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، په یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیدنې کتنې کړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یې ځان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې يـې خلکـو تـه پـه مسـتقيم او نامسـتقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کـړې ده. د مصـيبت ځپلـو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې ځو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يـې ونـډه اخيسـتې، د صـحي اوبـو لپاره يې د ژورو څاګانو په کيندنه او د چاپېريال د پـاک سـاتلو لپـاره يـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چـې يـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې لـه کوم سياسي ګوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحريک) په نامـه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسـټ ايښـی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سـياسي فعاليتونـه تـرسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنګي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی دی، په ېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو په لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلګونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| مټکور | (لومړۍ شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ دروند مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند دربیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترځ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مونږ یې دمخه یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا تـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، منـاظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظـاهرې، تـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا تـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو سترې، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـونې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېده، خو استاد یـون او ملګـرو یـې د اسلامیت او افغانیـت غـږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هـم د دې رسـا غـږ او داعیـې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چـې افغانسـتان پردیـو ایـډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینـو نـورو شخصـیتونو برکـت و چـې د مـلي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولـولې تـر هـرې بلـې ایـډیالوژۍ زیـاتې ځلیږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبـارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولـو اثـارو کـې انځـورېږي. خـو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چـې زمـوږ راتلـونکی نسـل د اسـتاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلویزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳۶۶ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳۶۶ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۶ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره وواېم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد اینبی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.**

**نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.**

**ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په ښنو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختتو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالبږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور ښنو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه


ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب الشعر او لس نورې لیکنې

## (د دکتورا دورې د لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: کتاب الشعر او لس نورې لیکنې

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریک د خپرونو لړ: (۹۵)

لیکوال د خپرونو لړ: (۴۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو گرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینگ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې گټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملگرتیا کړې او دا فرهنگي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنگ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنگي څانگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا اثر د ښاغلي (یون) یوه بله گټوره هڅه

د (پښتو PHD پروگرام) په لومړیو دوو کلونو کې هر محصل مکلف دی چې په هر مضمون پورې د نورو اړوندو چارو تر څنګ کنفرانس هم ورکړي او کورنۍ دنده هم سرته ورسوي. په دې لړ کې ښاغلي محمد اسمعیل یون د څلورو سمسترونو په ترڅ کې (یوولس کنفرانسونه) په ترتیب سره په لاندې ډول ور کړي دي چې تر څنګ یې په تړاو سره د مضمون د استاد نوم هم وړاندې کېږي.

| کنفرانسونه: | استاد: |
| --- | --- |
| ۱- د لیک تاریخي بهیر | ډاکتره زرغونه زېور رښتین |
| ۲- د ادم او درخانۍ داستان لنډه شننه او تلنه | ډاکتر محمد اجان حقپال |
| ۳- داردي ژبې او هغو ته پېښ خطرونه | پوهاند محمد صابر خوېشکی |
| ۴- د پیر روښان جنګونه | ډاکتر محمداجان حقپال |
| ۵- د ژبپوهنې ښوونځیو لنډیز | ډاکتره زرغونه زېور رښتین |
| ۶- د افغانستان فرهنګي میراثونه (پرون، نن او سبا) | سرمحقق زلمی هېوادمل |
| ۷- په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان څرکونه | سر محقق زلمی هېوادمل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸-کنایه او په کلام کې يې دريځ ډاکټر محمد اجان حقپال

۹- د ارسطو د (کتاب الشعر) موخه، معنا او محتوا سرمحقق زلمی هېوادمل

۱۰- د شېخ سعدي او رحمان بابا د اخلاقي اېډيالنو پرتلنه ډاکټر محمدا جان حقپال

۱۱- د پرتليزې او تاريخي ژبپوهنې حدود پوهاند محمد صابر خوېشکی

دا بايد ووېل شي چې ښاغلي محمد اسمعيل يون يوازې د پورته يوولسو کنفرانسونو په ورکولو بسنه ونه کړه، بلکې تر دې لا زيات بل غوره کار ته يې ملا وتړله او دې کنفرانسونو ته يې د علمي مقالو بڼه ورکړه، تر څو د نورو محققينو او محصلينو لپاره د لارښود حيثيت ولري.

دا حقيقت له هېچا پټ نه دی چې تحقيق او څېړنه يو دروند کار دی، کېدی شي چې د يوه ورک تاريخ په لټون پسې ورځې ورځې او مياشتې تېرې شي، زيات کړاوون وغواړي او بيا هم ونه موندل شي، زه باور لرم چې له دغسې ستونزو سره به هم يو محقق مخامخېږي، خو د همت خاوند کولی شي چې دغه ډول سختې چارې پر مخ بوځي، له زغم او حوصلې څخه کار واخلي او خپل مطلب ته ځان ورسوي.

زما په خيال دغه يوولس علمي مقالې چې هره يوه يې ځانته د يو اثر حيثيت لري، د اوسنۍ نړۍ له نورمونو او مېتودونو سره برابرې دي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مقالو کې: پیلیزه، لنډیز، سریزه، پایله، ماخذونه او نور په پـام کـې نیول شوي، څه کمی په کې نه محسوسېږي.

پر داسې یو اثر چې یو نه بلکې د اثارو ټولګه یې ګڼلی شو، پـه کـار ده چې پر هر یوه یې اوږد بحث وشي خو زه نه غواړم چې اوږد بحث پـرې وکړم، ځکه چې خپله ددې مقالو ټولګه ستاسو په مخ کې پرته ده. نـو خپلې خبرې راټولوم، درنو لوستوالو ته بلنه ورکوم چـې دوی یـې پـه خپله وارزوي او خپله څېړنه پرې وکړي. زه د (PHD) دورې د استاد پـه توګه په پای کې د ښاغلي (یون) دغه هڅه او هانـد سـتایم او پـه دې برخه کې ورته له لوی خدای (ج) څخه تر دې د لا زیـاتو بریـاوو هیلـه لرم.

په مینه

ډاکټر محمدا جان حقپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دوکتورا پروګرام او دا اثر

د (۱۳۹۲ل کال) په نیمايي کې د کابل پوهنتــون د ژبــو او ادبیــاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د لومړي ځل لپاره د دوکتورا پروګرام پیل شو، که څه هم ددې پروګرام له پیلولو سره په دولتي او نادولتي کچــه مخالفتونه وو؛ یو شمېر اشخاصو بېلابېل دلایل، خنډونــه او مشــکلات پیدا کول، ځینو به ویل چې کابل پوهنتون ددې جوګه نــه دی او ددې سویه نه لري چې د دوکتورا په کچه دې په کې تدریس پیل شي، زمــوږ دوکتورا باید له نړۍ سره په انډول کې وي، کابل پوهنتون کــې لا هــم همغه زوړ تدریسي سستم دود دی. دا سستم ددې ظرفیت نه لري چې د دوکتورا په کچه محصلین وروزي، چــا چــې لــه دې پروګــرام ســره لېوالتیا او مینه درلودله، هغوی به ویل: دې کې شک نه شته چې مــوږ په ساینس، ټکنالوژۍ او تجربه یي علومو کې له نورو هېوادونــو څخــه ډېر شاته پاتې یو، خو دا نو بیا بل شرم دی چې موږ دې (پښتو او دري) ژبو کې هم بل چاته لاس اوږد کړو چې راشئ او موږ ته خپلــې ژبــې او خپل ادبیات راوښایئ، د دلایلو دا خوا که څه هم درنه وه، خو بیــا هــم مشکلات او خنډونه وو ، ښاغلي سر محقق زلمي هېوادمل او یو شمېر نور خواخوږي په پای کې پر دې بریالي شــول چــې پــه پښــتو او دري څانګو کې د دوکتورا پروګرام پیل کړي، پــه پښــتو څانګــه کــې د دې پروګرام د زده‌کوونکو له جملې څخه یو تن زه (یون) هم وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ څلور سمستره منظم درس تعقیب کړ، په لومړي سمستر کې د (ژبې تاریخي تحول) د استاد ډاکټر اورمړ، (منظوم داستاني ادبیات) د ډاکټر محمداجان حقپال ، (د افغانستان ژبــې او توکمونــه) د پوهانــد محمد صابر خوېشکي او (فلسفه) مضامین د ښاغلي ډاکټر افغانیار لــه خوا تدریس شول.

په دویم سمستر کې (لیکدود پوهنه) ډاکټرې زرغونې زبور رښتین، (پښتو حماسه) سر محقق زلمي هېوادمل، (روښــان پېژندنــه) ډاکتــر محمدا جان حقپال او بهرنۍ ژبه (انګلیســي) مضــامین اســتاد خالــد وزیري تدریس کړل. په درېــیم سمســتر کــې بیــا (پښــتو، اوســتا او سانسیکریت)د پوهاند محمد صابر خوېشکي، (د افغانستان د فرهنګ تاریخ) د سرمحقق زلمي هېوادمل، (د ژبپوهنې ښــوونځي) د ډاکتــرې زرغونې زبور رښتین او (بلاغي علوم) د ډاکټر محمدا جان حقپــال لــه خوا تدریس شول. په ورپسې څلــورم سمســتر کــې بیــا (جغرافیــایي ژبپوهنه) د پوهاند محمد صابر خویشکي، (پرتلیــز ادبیــات)، د ډاکتــر محمداجان حقپال، (پرتلیزه او مقابلوي ژبپوهنه) د ډاکټر زرغونې زبور رښتین او (ادبي نظریات) د ښاغلي سر محقق زلمي هېوادمل له خــوا تدریس شول.

په مجموعي ډول (۱۶) بېلابېل مضامین د اوو (۷) تنو استادانو لــه خوا، چې د دوکتورا دورې د مضامینو د تدریس لپاره یې وړ علمي رتبې درلودلې، د دوو کلونو په بهیر کې تدریس شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تدریس په بهیر کې د اړوندو مضامینو په برخه کې د اړوند استاد له خوا هر زده کوونکي ته یوه موضوع ټاکل کېدله او هغه پرې یو علمي کنفرانس برابراوه، ما په دې ټول بهیر کې (۱۱) عنوانه کنفرانسونه برابر کړل او پر خپلو ټاکلو وختونو مې د استادانو حضور کې محصـلینو تـه وړاندې کړل.

دا کنفرانسونه پر همغه وخت د استادانو لـه خـوا مثبـت او ګټـور وارزول شول. یو دوه موضوعګانې بیا پـه ګړنـي ډول وړانـدې شـوې؛ لیکنۍ بڼې ته یې اړتیا پېښه نه شوه. په بهرنۍ ژبـه کـې د کنفـرانس لیکلو ته اړتیا نه وه او په یوه دوو مضمونو کې د اړوند استاد لـه خـوا د کنفرانس د ورکړې اړتیا احساس نه شوه.

کله چې دوه کلن تدریس بهیر بشپړ شو، نو ما خپل دا کنفرانسونه او یا په اصطلاح علمي لیکنې په ترتیب سره راټولې او منظمـې کـړې، اوس غواړم دلته یې د یوې ټولګې په توګه یې هم چاپ کړم چـې ګټـه یې عامو لوستونکیو ته هم رسېږي او که څـوک پـه راتلـونکي کـې د دوکتورا پروګرام تعقیبوي، هغوی ته هم لیدلوري ورکړي او ګټـه ورتـه ورسوي. د یادونې وړ ده چې د دکتورا نوره پاتې دوه کلنه موده کې یې یوه برخه بیا عمومي ازموینې او بله یې تېزس لیکنې ته ځانګړې شوې ده. زه هیله لرم چې خپل تېزس هم تر بشـپړاوي او ارزونـې وروسـته چاپ او لوستونکو ته وړاندې کړم.

(کتاب الشعر) د نړۍ د نامتو عالم (ارسطو) اثر دی، مـا ددې اثـر د مانا او محتوا په باب یو تحلیلي کنفرانس ورکړی، چې پـه دې یوولسـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنو کې شامل دی او ددې کنفرانسونو د ټولګې لپاره مې هم دا نــوم غوره کړی دی.

زه فکر کوم ددې دورې د لیکنو د ټولګې چاپ به لوستونکو تــه دا په ډاګه کړي چې موږ په دې دوره کې څه کړي او څه مو باید کړي وای، که په دې دوره کې شامل نور ګډونوال هم د خپلو لیکنو ټولګــه او بیــا خپل تېزس ورپسې چاپ کړي، نو هم به ژبې او کلتور ته پــه لســګونو عنوانه علمي، شننیز او څېړنیز اثار وړاندې شي او هم به نورو راتلونکو محصلینو ته ددې دورې په باب ښه لیدلوری ورکړي، د مخالفینو هغــه دلیل او منطق به هم له منځه لاړ شي چې ددې پروګرام پر وړاندې یې تیرې تولولې او راتلونکو محصلینو ته به هم لاره خلاصه شي. بل زمــوږ خپل ظرفیت به هم په ډاګه شي چې دا تحصیلي پوړۍ مو په وړیا ډول تر لاسته کړې او که نه کار مو هم کړی دی. ما خو په همدغــه نیــت دا لیکنې راټولې او د چاپ پر اوږو بار کړې، نور نو دا لیکنې او دا هم تاسو قدرمن لوستونکي!

په هېواد کې د علمي ځانګو د غوړېدا او پراختیا په هیله

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیک تاریخي بهیر

## د لیک اهمیت:

د بشر له پیدایښته بیا تردې دمه د (ادم علیه السلام) زامنو د ژوند په هر ډګر کې ډېر نوښتونه کړي، ډېر څه یې اختــراع کــړي او د همــدغو اختراعاتو پر بنسټ یې ډېر پرمختګونه کړي دي. د ګڼو اختراعاتو په لړ کې ځینې اختراعات سړي ته ډېر مهم ښکاري، خو ځینې بیا کــه څــه هم ډېر ګټور، ضروري او ارزښتمن دي، خو خلکو ته یې اهمیت دومــره زیات نه ښکاري. لیک، د لیک پیدایښت، جوړښــت او بشــپړتیا هــم د همدغو اختراعاتو له جملې څخه دي، چې چاتــه لکــه مــوټر، الوتکــه، اورګاډی، کمپیوټر او نور ډېر مهم نه ښکاري، خو په حقیقت کې تر ټولو زیات مهم دي. همدا لیک دی چې له برکته یې نور اختراعات رامنځته شوي دي. لوی خان؛ خوشال خان خټک د لیک دې ارزښت تــه خــورا زیات متوجه شوی او په خپل نامتو اثر (دستارنامه) کې یې لیک د یــوه هنر په توګه راوړی دی. خوشال بابا وایي: ((علــم او خــط ســره لازم او ملزوم دي، علم په مثال وحشي، خط یې لکه کمند، چې وحشــي دې پرې قید شي، دا هومره کتابونه به نه وو، که خط نه وای، په حساب، په کتاب، په سیاق به څوک پوهېدل که خط نه وای. د جهان کار سره ټول په خط دی، لوی هنر دی، منزلت، مرتبت یې هم ډېر دی، قیمت یې تــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب تېر دی، که یې دولتمند زده کا زېب و زینت دی، که یې درویش زده کا د درویش دولت دی، الحق څو چې څوک وایي دا هنــر لایــق د هغه تعریف دی، کار یې پټ نه دی څرګند دی، ولې حیف دا چې د هــر چا په مصاحبت تن ورکا، لار نه ګوري، هر څوک یې په لاس واخلي، نور د هغه شي، د هر چا یار دی:

درسته ښه یې ته دلــــداره    یوه چـــــار دې ده بېـــــکاره
چې و تـــــاو ته نږدې شي    نوره یـــــې د هــغـــــه یـــاره

کور دده وران شه، چې دده دمخه څه وراني ودانی په جهان شي، په هر چا چې دی دا تور مخ برابر کا، کیمیاګر دی، سیس یې زر کار، بې کامــه وي هزارکامراني ورکا، د ډېرو په سرتاج کېږدي، د ډېرو خاورې په ســر کا، په دا سبب دو زبان دی. د جهان سر ګرداني په ده، هر زمان یې سر په تېغ واهه شي، چار پخپل سر کا، مراد و نامردانو ورکــا، ځــان ګــداز رفیق نواز دی، جوانمردي ډېره، وفا یې تر حده تېره ده، دریغه چې د نا اهلو په لاس کې نه وای، په لاس د اهلو وای، دده د سر بلا په بد ذاتو په سفله و په سهلو وای.)) [۱]

د لیک اهمیت خورا زیات دی خو زه د لیک د ارزښت او اهمیت په باب د خوشال بابا پر همدې خبرو بسنه کوم، خو اوس راځــو د لیــک څــو ببلابېلو تعریفونو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیک تعریف:

لیکپوهانو او ژبپوهانو تردې دمه د لیک بېلابېل تعریفونه کړي دي. دا تعریفونه که څه هم بېلابېل برېښي، خو ډېر زیات مشترک ټکي هم لري.

ځینو ژبپوهانو (لیک) د ژبې مادي استر ګڼلی، ځینو نورو بیا د ژبې انځوریزې بڼې ته لیک ویلی، ځینو بیا ((هر لیکل شوی شی چې د یوه مفهوم لرونکی وي لیک ګڼلی، خکه نو ترافیکي اشارې او د هټیو لوحې، لیکل شوې ژبه یا لیک ګڼل کېږي.)) [۲]

ځینې نور بیا وایي ((لیک هغه قراردي نښې دي چې د یوې ژبې وګړي یې د خپلو غږونو د افادې لپاره کاروي))

او ځینې نور د لیک، لیکدود او املا تعریف په دې ډول کوي: ((په ټاکلي الفبایي یا لیکني سستم کې د توپیر یا نه ګډون له آر سره سم د یوې ژبې لیکنۍ یا انځوریزه بڼه ده.)) [۳]

یو شمېر نورو ژبپوهانو بیا لیک د ژبې له تعریف سره تړلی،دوی وایي لکه څنګه چې: ((ژبه په واقعیت کې یوه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافتي پدیده)) [۴] او همدا راز د پوهولو او راپوهولو وسیله او یوه قراردادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارنده ده، د غسې لیک هم چې د ژبې انځور ګــري او ښــکارندويي کوي، يوه قراردادي پديده ده.

## د ليک پيدايښت:

د ليک د پيدايښت او لومړي جوړښت په باب د ليکپوهانو تر منځ د نظر اختلاف موجود دی. مذهبي او تاريخي روايات هم يو له بل سره تــوپير لري. ځينو مذهبي ليکوالو ليکلي: ((کله چې (ادم عليــه الســلام) پــر ځمکه مېشت شو، نو ليک يې هم پيل کړ. تر ادم (ع) وروســته د هغــه اولادې هم په خپلو منځو کې ليک کارولی دی او په پرله پسې ډول تــر اوسه رارسېدلی دی، اسلامپوهان په دې نظر دي چې ادم (ع) په خپلو ګوتو ليکنې کړي دي. تر هغه وروسته د شــيش (ع) زوی ادريــس (ع) چې د ادم (ع) لمسی کېږي، د قلم په وسيله په خپلو ګوتو ليکنې کړي دي...))

تاريخپوهان وايي: ((شاوخوا دوه ويشت زره کالــه وړانــدې انســانانو د (لاسکو) په غار کې پر دېوالونو تصويرونه وکــاږل او دا تقريبــاً د ليــک لومړنۍ نښې نښانې ګڼل کېږي)) ((د ليک د همغو لومړنيو نښو نښــانو او بيا د هغه له انتقال سره د وخت مذهبي مشرانو مخالفت وکړ او ويې ويل، دې سره د انسانانو اخلاق خرابېږي او ځينو خلکو ورته د کوډو او جادو په سترګه کتل. ځينې افسانوي روايات وايي، چې ليــک لــومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوانو زده کړ او بیا یې انسانانو ته وښود. تاریخي روایات وایي هغه وخت چې د انساني ژوند لومړۍ بڼه واوښته د ډلو ځای قبیلې ونیو، نو لیک د لرغونو انسانانو له انځوریز هنر سره په نږدې تړاو کې رامنځته شو، ځکه نو لرغوني انځوریز هنرونه د لیک سرچینه ګڼل کېږي.

ځینې لیکپوهان بیا وایي د نوموړي هنر لرغوني اثار (دېرش) یا (څلوېښت) زرو کلونو پخوانۍ زمانې پورې اړه پیدا کوي.)) [۵]

بشر پرله پسې هڅه وکړه چې خپلو افکارو ته تصویري بڼه ورکړي. (دوه ویشت زره) کاله پخوا د تصویري لیک لومړنۍ نښې ځرګندې شوې، تر هغه اولس زره کاله وروسته بشر پر دې بریالی شو دلیک هنر چې د بشر ستره لاسته راوړنه وه، رامنځته کړي. تر تصویري لیک وروسته مېخي خط تر میلاد (۳۰۰۰-۲۵۰۰)کاله وړاندې رامنځته شو.

د (ډاکټر ژاله) په نامه یو ایرانی عالم وایي: ((کله چې بشر غوښتل خپل فکر بیان او انتقال کړي، په لومړي ګام کې یې واقعي تصویرونه د کتبې اړیکو لپاره ترسیم کړل، په دې ډول د تصویر یا انځوریز لیک کار پیل شو.

ورو ورو تصویرونه ساده او اسانه شول او د عاطفي مفاهیمو د انتقال لپاره قراردادي نښې وضع شوې. وروسته بیا په همدې بهیر کې په مصر کې ((هیرو ګلیف)) لیک رامنځته شو. ددې لیک تاریخ تر میلاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه څلورمې زریزې ته رسېږي. دې لیک افقي بڼه درلودله او اکثــره له ښي څخه کینې خواته لیکل کېده، کم له کینې څخه ښي خواتــه او کله هم له پورته څخه کښته خواته لیکل کېده. دا لیک وروسته ســاده شو، وده یې وکړه، بیا پر دوو ډولونــو هیراتیــک (دینـــي) او دموتیــک (ولسي) لیک ووېشل شو.

تردې وروسته (مېخي) لیک رامنځته شو، لومړني خلک چـــې مېخـــي لیک یې په بین النهرین کې رامنځته کــړ، (ســومریان) وو، دې لیــک، مصري لیک ته ورتوالی درلود او تصویري بڼه یې درلودله، دې لیک هم ورو ورو ساده بڼه خپله کړه. مېخي خط وروسته نــه یــوازې پــه بــین النهرین، بلکې په کوچنۍ اسیا، د (هتیانو، هوتیانو اورارتورانو، لولویانو او کاسیانو) په منځ کې یې پراختیــا وموندــده. د مېخـــي خــط تــر ودې وروسته د فنیقیانو په سیمه کې تر میلاد دمخه په (۲)مه زریــزه کـــې (فنیقي) لیک رامنځته شو.))

وروسته بیا په نړۍ کې د وخت په تېرېــدو ســره ګــڼ شــمېر لیکونــه رامنځته شول، چې په هر یوه کې بیا بېلا بېل بدلونونه راغلل چې اوس د نړۍ اکثره ژبې ترې ګټه پورته کوي، هغه لیکونه چې په نړۍ کې زیات کارول کېږي په دې ډول دي:

لاتین، سیرلیک، یوناني، ګرجي، ارامي، چیني، جاپاني، کانجي، کره ای، هانجا، عربي، عبري، هندي، ایتوپیایي، تانا، کاناډایي او ځینې نور....

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته غواړو لومړی په نړۍ کې د لیک د ودې پر څو پړاوونو، بیا د لیک د لیکلو پرتګلوري او بیا د لیک پر بېلابېلو ډولو لنډه رڼا واچوو:

## د لیک د ودې ځرنګوالی:

دا چې د لیک جوړښت څو پړاوونه وهلي؟ لومړنی او وروستی بڼې یې څه دي؟ غواړو په لنډیز سره ورته اشاره وکړو:

## ۱- انځوریز یا تصویري لیک:

دا د لیک دویمه او اساسي مرحله ده، البته تر دې وړاندې یو لړ داسې علایم وو چې د خاطرو او یو لړ هغو چارو له خوندیتابه سره یې مرسته کوله چې باید خوندي او ساتل شوي وای، لکه د لرګي واړه خطونه او یا هم غوټه شوې رسۍ اونور...

خو په تصویري مرحله کې د یوه فکر د څرګندتیا لپاره د هغه صورت انځورېږي، لکه د یوه څاروي د لیکلو لپاره دهغه شکل رسمېده، د خلکو او قومونو په منځ کې شاید دا د خاطرو د خوندي کولو لپاره لومړنۍ وسیله وي. ځکه چې لومړنیو انسانانو د هغو چارو د خوندیتابه لپاره چې غوښتل یې کلونه کلونه پاتې شي، په پیل کې یې د هغو د شکل او صورت پر انځورولو پیل وکړ اود لیکنې ارتباط لپاره یې دهغو واقعي بڼې ترسیم کړې. له دغې انځورنې څخه تصویري لیک رامنځته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. ځرنګه چې تصویرونه زیات وو او عاطفي مسایل یې نه شــو افــاده کولای، نو ځکه خو دې ډول لیک ټول ضرورتونه نه شو پوره کولای.

## ۲- فکري لیک:

انځوریز لیک په پیل کې د شیانو تصویرونه کاږل، خو وروسته وروسته بیا تصویري لیک ځرګنده او ساده بڼه خپله کړه او د عــاطفې مســایلو لپاره یې هم قرار دادي نښې وضع کړې. په دې ډول نــو بشــر پــر دی بریالی شو چې فکر ته د ورته څیزونو د تصویر کاږلو له لارې، د فکــر د ځرګندولو لپاره هم ګام پورته کړي. لکه د دوو ګامونو ترسیم د (تــګ) او نمجنې سترګې د (غم) نښې ګڼل کېدی، د لیک په تاریخي بهیر کې د لیک دې ډول بڼې ته فکري لیک وایي چې په انګلیســي کــې ورتــه (Ideogram) وایي.

## ۳- کلیمه یي لیک:

د فکري لیک نیمګړتیا ددې سبب شوه، چې په لیک کې نورې داســې طریقې او لارې رامنځته شي چې له ژبې سره زیات تــړاو ولــري، یــانې داسې تړاو چې کله غوږونه غږونه واوري، د هغو مانا درک کړي. په دې طریقه کې کلیمې د نښو نښانو له لارې ښودل کېدی چې د کلیمو لــه اړوندو غږونو سره یې دومره اړیکي نه درلودل، خو په مقابل کې یــې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیا درلودله چې کله هم دا نښې نښانې په سترګو لیدل کېدلې، ژبه هغو ته په ورته الفاظو ګرځېدله.

## ۴- څپیز لیک:

تر کلمه یي لیک وروسته څپیز یا هجایي لیک رامنځته شو، په دې پړاو کې هره څپه، سېلاب یا هجا په ځانګړو نښو نښانو ښودل کېدله.

## ۵- الفبایي لیک:

د څپییز لیک په پرمختګ سره ورو ورو الفبایي لیک رامنځته شو، په دې مانا چې د هر غږ لپاره یو شکل رسم شو. دا نو د لیک ډېر پرمختللی شکل دی، چې تر ننه کارول کېږي.

ځینو ژبپوهانو یا لیکپوهانو بیا د لیک دا ډولونه پر دې ډول هم وېشلي دي:

۱. جمله یي یا فراز ګراما لیک
۲. کلمه یي یا لوګو ګراما لیک
۳. څپیز یا سېلاب ګراما لیک
۴. غږیز یا فونو ګراما لیک

جمله یي یې بیا پر دوو برخو: (انځوریز) او (شرطي) هم وېشلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیک تګلوری:

د تصویري، فکري، کلمه یي، څپیز اوغږیز لیک پرمختیایي بهیر ته تر کتنې وروسته اوس راځو دلیک تګلوري ته چې په څو ډوله دی او له کومې خوا پیلېږي؟ تر اوسه پورې چې په نړۍ کې د لیک کوم ډولونه رامنځته شوي، نو په ټولیز ډول پر څلورو ډولونو وېشل کېږي:

**۱- له کینې څخه ښي خواته:** لاتین، سیرلیک، یوناني، ګرجي، ارمني، اتوپیایي او همدارنګه مصري، سانسکریت، سلاوي او ځینې نورې ژبې له کینې څخه ښي خواته لیکل کېږي.

### ۲- له ښي څخه کینې خواته:

عربي، عبربي او همدارنګه کلداني، اسوري، پښتو، فارسي، ترکي، تاتاري او ځینې نورې ژبې له ښي څخه کینې خواته لیکل کېږي.

### ۳- له پورته څخه کښته خواته:

چیني او جاپاني ژبې له پورته څخه کښته خواته لیکل کېږي او توری یې له ښي څخه کینې خواته .

### ۴- له کښته څخه پورته خواته:

مکزیکي ژبې له کښته څخه پورته خواته لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يادونې وړ ده چې تر ټولو لرغونې ليکنې معمولاً له ښي څخه کينې او وروسته بيا له کينې څخه ښي خواته ليکل شوي دي.

## د ليک ډولونه:

په نړۍ کې اوس تر درې زرو (۳۰۰۰) داسې ژبې شته چې خلــک پــرې ګړېږي، خو هره ژبه ځانته ځانګړې الفبا يا ليک نه لري. اکثــره داســې دي چې څو ژبې په يوه ليک کې راټاله شوي او يا يې هم په يوه واحــد ليک کې د خپلو ځانګړو غږونو لپاره د ځانګړو تورو د جوړولو لــه لارې خپل مشکل حل کړی دی. ((د نړۍ د خلکو ژبې)) نومی اثر څخه چــې د ژبو د وېش په برخه کې د (دايره المعــارف) حيثيــت لــري، دا خبــره جوتېږي چې نن سبا په نړۍ کې څه د پاسه (۳۰۰۰) ژبو بانــدې خبــرې اترې او ويناوې کېږي چې له دې ډلې نږدې سل (۱۰۰) ژبې داســې دي چې ليک او لوست پرې کېږي او پاتې نورې د وينا ژبې دي چې ليک او لوست نه لري او د نړۍ له پنځه ويشت (۲۵) ډوله خط څخه په يوه هم نه ليکلی کېږي.)) (۶) . يو شمېر ژبپوهان په دې نظر دي چې، په نــړۍ کې تر (۱۶–۲۰) په حدودو کې ليکونه شته چې زيات کارول کېــږي او اکثره ژبې د همدغو ليکونو په جوړښت او چوکاټ کــې خپــل مشــکل حلوي. دلته به په ترتيب سره ددې ليکونو يادونه وکړو، خو لومړی به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورو هغو لیکونو یادونه وکړو چې د همدې مطرح لیکونو په جمله کې دي، خو په لرغونې زمانه کې د فکر د بیان لپاره په ښه ډول کارېدل.

## ۱- ګرجي لیک:

دا د ګرجۍ ژبې ځانګړی لیک دی، ګرجي ژبه اوس د ګرجستان رسمي ژبه ده. دا ژبه د نړۍ د هغو (۱۴) ژبو له جملې څخه ده چې الفبا لري.



ګرجي لیک په نړۍ کې له ډېرو پخوانیو لیکونو څخه یو دی او په ورتـه وخت کې د ګرجي ژبې اوسنۍ الفبا د نړۍ تر ټولو مدرنـه الفبـا ګڼـل کېږي. د ګرجي ژبې تر ټولو پخوانۍ لاسته راغلې کتیبه تر مـیلاد یـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ وړاندې زمانې پورې اړه لري، یـانې (۲۰۰۰) کالـه وړانـدې وخـت پورې اړه پیدا کوي.

## ۲- چیني لیک:

چینایانو په پیل کې د تصویرونو پر کارېدلو لیک پیل کړ، د نښو نښـانو د نیمګړتیاوو له امله اړ شول یو ډول ترکیبات رامنځته او خپل فکر بیان کړي. که څه هم دا ترکیبات د هغوی د افکارو ښکارندوی وو، خو نه یې شول کولای د هغوی ټول افکار په ښه ډول بیان کړي، وروسـته دوی د غږونو لپاره نښې نښانې وضع کړې، یانې د غږیز لیک پر جوړولو بریالي شول. دې لیک که څه هم له ژبې سره تړاو درلود او تر پخواني هغه ښه و، خو څرنګه چې یو توری د څو غږونو د افادې لپاره کارېده، نـو ځکـه یې نیمګړتیا محسوسه وه، چینایانو له دې نیمګړتیا څخه د خلاصـون لپاره یانې دا چې د هرې نښې د حقیقي مانا پر ځای یې د (کیلـي) پـه نامه د فکري لیک له علایمو څخه ګټه پورته کړه او هرې (کیلي) د یوه فکر څرګندونه کوله. چینایي پوهان وروسته پر دې بریالي شول چې یو ډول چټک لیک رامنځته کړي چې د جاپاني لیک لپاره بېلګه شو.

د چیني لیک بېلګه دلته وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ۳- مصري هیرو ګلیف لیک:


مصري هیرو ګلیف لیک د فکري لیک په بهیر کې رامنځته شو. د هغه پراختیا زیاتره په مصر کې وه او د کاهنانو په لاس کې وه. دا نـوم ورتـه یونیانو ځکه ورکړ چې په یوناني ژبه کې د (سپېڅلو لیکنو) پـه مانـا و. هغو دا لیک د مصر د کاهنانو له پټو رازونو او عجایبو څخـه ډک لیـک ګاڼه. د دې لیک لرغونتیا تر میلاد وړاندې څلورمې زریزې ته رسـېږي، هیروګلیف لیک یې د (پاپیروس) پر پاڼو باندې لیکه. دا لیـک معمـولاً افقي او له ښي خوا څخه کینې خواته او ډېر کم له کینې خوا څخه ښي او کله کله هم له پورته څخه کښته خواته لیکل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیرو ګلیف بشپړ فکري لیک نه دی، په هغه کې زیاتره غرېز او الفبایي عناصر شته او همدارنګه په دې لیــک کــې د انســانانو او حیوانــاتو د انځورونو شتوالی په اټکلیز ډول ددې لیک د پیل پړاوونه ښیي.

د (پاپیروس) په رامنځته کېدو سره په مصر کې د (هیروګلیــف) لیــک



بدلون مومي، اسانه او ساده کېږي او هیراتیک (دیني) با صلابته لیــک ورڅخه رامنځته کېږي، چې یو بل سره پیوستون او ترښت یې یــو ډول چټک لیک، چې د (دموتیک) یا (ولسي) لیک په نامه یادېږي، رامنځته کړ.


## ۴- مېخي لیک:

مېخي لیک اصلاً فکري لیک و، یانې د فکر د افادې لپاره کارېــده او د لویدیځې اسیا په ټولو هېوادونو کې کارېده، لیکپوهان په دې نظــر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د مېخي لیک د ټوکېدو اصلي ځای د (بین النهرین جنوب) یانې د (سومریانو) سیمه ده. همدا سومریان لومړني خلک وو چې مېخي لیک یې کارولی دی.**




**سومریانو د مېخي تصویري لیک په ایجادولو بشري ټولنــه تــر تــاریخ وړاندې له تیاره او مجهول دورانه راوایستله او تاریخي مرحلې تــه یــې داخله کړه. ددې لیک پیدایښت تر میلاد وړاندې د**

**څلورمې زریزې دویمې نیمایي ته رسېږي. مېخي لیــک او هیروګلیــف لیک پر ظاهري توپیر سربېره د لیکلو په بڼې او د لیکلو په وسایلو کــې هم توپیر درلود. هیروګلیف د (کړکي) په واسطه د (پاپیروس) پــر پــاڼو لیکل کېده، خو مېخي لیک (نرمو خټینو تختو) تــه اړتیــا لرلــه او پــه (لرګینو قلمونو) لیکل کېده او بیا دا تختې پخېدلې. لومړنۍ لوحې چې پر همدې خټینو تختو لیکل شوي، د بین النهرین تمدن پورې اړه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاغذ تر پیدایښت وړاندې له ډبرو او فلزاتو او همدارنګه د حیوانــاتو له پوټکو څخه ګټه پورته کېدله، خو څرنګه چې ددې شــیانو لګښــت زیات و، نو وروسته هم په لیک کې لنډیز راغی او هم پوټکي ورته توږل کېدل او بیا کارېدل. وروسته بیا مېخي لیک پر دوو ډولونو ووېشل شو. یو (ایلامي مېخي لیک) چې له (سومري مېخــي لیــک) څخــه رابېــل شوی او د (ایلامي) ژبې لپاره کارېده. بل (اکدي مېخي لیک) و. اکــدي مېخي (بابلي) لیک هم د سومري لیک یوه څانګه ده چې نه یوازې پــه بین النهرین کې باب شو، بلکې د کوچنۍ اسیا او د شمالي رودونــو تــر منځ، د هیتیانو، هوریانو، اورارتورانو، لولویانو او کاسیانو تر مــنځ هــم دود شو.

ددې تر څنګ بل (هخا منشي مېخي لیک) و چې له (بابلي مېخــي) او (ایلامي مېخي) لیک څخه جوړ شوی اود هغو په انــډول ســاده دی او کمې نښې یا علایم لري. د لرغونې فارســي ژبــې د هخامنشــي دورې کتبې په همدې لیک لیکل شوي دي.


## ۵- فنیقي لیک:

تر میلاد وړاندې د دویمې زریزې په بهیر کې د مېخي لیک له تدریجي ودې سره سم د فنیقیانو په ټاټوبي کې یو بل لیک رامنځته شو دا لیک (هیتیتي فنیقي) لیک و چې د (فنیقي لیک) پــه نامــه یــادېږي. ددې لیک تر ټولو لرغونې بېلګه له (ګوبله) ښار څخه چې د فنیقیانو لرغونی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار ګڼل کېده او د اوسنۍ سوریې په څنډو کې واقع و، د څېړنو او پلټنو په نتیجه کې تر لاسه شو.



فنیقي الفبا (۲۲) توري لري، له ښي خوا څخه کیڼې خواته لیکل کېږي، او یوازې چوپ (کانسونېنټ) غږونه انځوروي. ددې لیک لیکل اسانه و او عوامو ورته لاسرسی درلود، ځکه نو فنیقیان لومړني کسان دي چې د فنیقي الفبا د کشف ویاړ لري.

دې لیک لویدیځې اسیا ته پراختیا وکړه او د مېخي لیک ځای یې ونیوه. فنیقي لیک زیاته وده وکړه او وروسته ترې (یوناني) او (رومي) الفبا هم وټوکېدله، څرنګه چې د یو زیات شمېر اروپایي ملتونو د الفبا بنسټ همدا فنیقي الفبا ده، وروسته بیا یونانیانو په دې الفبا کې نور بدلونونه هم راوستل، د لیکلو ډول یې هم ورته له کیڼې څخه ښي خواته پیل کړ، بیا یونانیانو دا لیک روم ته یووړ او پر همدې بنسټ یې د (لاتیني) الفبا بنسټ کېښود او بېلابېلې اروپایي ژبې په هغه ولیکل شوې. وروسته په (۹)مه میلادي پېړۍ کې د (سیریل) په نامه یو کشیش د یوناني او رومي لیک له ترکیب څخه یو لیک جوړ کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلاوي ژبې يې پرې وليکلې، وروسته بيا روسي او نورې ګاونـډۍ ژبـې هم په همدې ليک چې (سيرليک) يې باله، وليکل شوې.


فنيقي ليک بيا د هند نيمې وچې ته ورسېد، پوهان (برهمـايي ليـک) چې (سانسيکريت) او نورې هندي ژبې پرې ليکل کېدې، هم د همدې ليک زوی ګڼي.

## ۶- ارامي ليک:

د فنيقي ليک له زامنو څخه يو هم ارامي ليک دی چـې پـه منځنـي ختيځ کې په ډېرې چټکۍ سره دود شو. (اراميان) هغه قومونه وو چې د عربستان له شمالي سارا څخه د منځني ختيځ پر لوري وخوځېدل او په بين النهرين کې ځای پر ځای شول. ددې خلکو ژبه تر ډېره وخته په دې سيمه کې پاتې شوه او مهمه دا چې د فنيقي ليک پر بنسـټ يـې ارامي ليک رامنځته کړ چې په ډېر سرعت سره دود او د سيمې پر يـوه نړيوال ليک بدل شو او ارامي ژبه هم چې له سامي ژبو څخه ډېره لـرې نه وه، د منځني ختـيځ د ارتبـاطي ژبـې پـه توګـه څرګنـده شـوه. هخامنشي دولت هم ددې ژبې په پراختيا کې ونډه واخيسـته، مېخـي ليک چې د کتيبو لپاره په کارېده، د ليک د لېږدولـو او نـورو اړتيـاوو لپاره نه کارېده، ځکه نو له ساده الفبايي (ارامي) ليک څخه زيات کـار واخيستل شو. دا ليک او ژبه په هخامنشي دولت کې د دېوان او دفتـر ژبه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







پورتنی جدول د ارامي لیک څرنګوالی په ګوته کوي.

## ۷- پهلوي لیک:

تر هخامنشي دورې وروسته د (سکندر) او (سلوکیانو) پــه لنــډه دوره کې په رسمي او اداري مراسلاتو کــې یونــاني لیــک او ژبــه وکارېــدل، وروسته بیا د اشکانیانو پــه دوران کــې د ارامــي لیــک پــر بنســټ د (اشکاني پهلوي) ژبې د لیکلو لپاره (اشکاني پهلوي لیک) طرح شــو او



وروسته (ساماني پهلوي لیک) په همدې بهیر کې رامنځته شو چې هر یو یې کتیبه یي او لیکنی بېلګې لري. دا لیک یــوازې (چــوپ غږونــه) افاده کوي، ان توري یا نښې او علایم یې هم د ارامي لیک په اندول کم


(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او همدا نیمګړتیا وه، چې د پهلوي ژبې لوستل مشکلوي. دا لیکونه له ښي څخه کیڼې خواته لیکل کېدل.

## ۸- اوستایي لیک:

اوستایي لیک د زردتشیانو د دیني کتاب د لیکلو لپاره کارېده، د نړۍ د ډېرو بشپړو لیکونو له جملې څخه دی او د ساساني پهلــوي لیــک پــر بنسټ رامنځته شوی دی. دا لیک غرېز دی او د (۵۳) یا (۵۸) بېلابېلو علایمو په لرلو سره چوپ (کانسوننټ) او غرېز (واول) د ټولو غرېونــو د افادې وړتیا لري. له ښي خوا څخه کیڼې خواته لیکل کېږي، په لومړیــو اسلامي پېړیو کې څرنګه چې پهلوي ژبې اولیک خپل رسمي حالت لــه لاسه ورکړ او د هغو ستونزې هم په ډاګه شوې، نــو د پهلــوي متونــو د اسانه لوستو په خاطر یې هغه اوستایي الفبا ته واړول او د لیکلو دا ډول یې ورته د (پازند) په نامه یاد کړ.




پورته بېلګه یې لیکنی بڼه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹- سریاني لیک:

سریاني ژبه د ارامي ژبې دختیز ګروپ دژبو له جملـې څخـه ده چـې پخوا د علم ژبه وه. د یوناني، پهلوي او عبري ژبو اکثره علمي اثـار دې ژبې ته اړول شوي دي. سریاني لیک هم د (ارامي) لیک له زامنو څخـه ګڼل کېږي. عراق مېشتو سریانیانو خپل لیک په څو قلمونو لیکه چـې له هغې جملې څخه د (سطر نجیلي) په نامه مشهور لیک په ځـانګړې توګه د (تورات) او (انجیل) د لیکلو لپـاره کارېـده. عربـو پـه لـومړۍ اسلامي پېړۍ کې دا (سطر نجیلي) لیک له سریاني څخه اقتباس کړ او همدا لیک د هغوی د پرمختګونو یو مهم عامل شو. وروسته بیا (کوفي لیک) هم له همغه لیک څخه رامنځته شو. دا دواړه لیکونه یو لـه بـل سره ورتوالی نه لري.



## ۱۰ سغدي لیک:

هغه لیکنې چې په سغدي ژبه لیکـل شـوي، پـه (مـانوي سـغدي)، (مسیحي سغدي) او (بودایي سـغدي) لیکونـو دي، وروسـتنۍ یـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library




سغدي لیک څرګندونه کوي. دا لیک هم د ارامي لیک د زامنو یوه بلـه ځانګه ګڼل کېږي.

## ۱۱- اورخون لیک:

دا هغه لیک دی چې تر اسلام وړاندې د (ګوک ترکانو) د حکومت پـه دوره کې د پخوانۍ ترکۍ ژبې د لیکلو لپاره کارېده.

## ۱۲- عبري لیک:

عبري لیک چې ژبنۍ سابقه یې تر میلاد وړاندې څلـورمې پېـړۍ تـه رسېږي، هم له ارامي لیک څخه یـې ریښـه اخیسـتې، د نـړۍ ټـول یهودیان دخپلو اثارو دلیکلو لپاره له عبري لیک څخه کار اخلي.




## ۱۳- نبطي لیک:

(نبطیان) د عربو د نژاد یو قوم و چې په (نبطیه) کې یې ژوند کاوه، تـر میلاد (۱۵۰) کاله وړاندې د ارامي ژبې او لیک یو ډول په دوی کـې دود

(c) ketabton.com: The Digital Library



**و، له دې لیک څخه د (نوي سینایي) په نوم یو لیک رامنځته شو چې تر میلاد وړاندې له لومړۍ پېړۍ څخه بیا تر څلورمې میلادي پېړۍ پورې په (سینا) جزیره کې دود و.**

## ۱۴- کوفي لیک:

**کوفي لیک له سریاني لیک څخه راټوکېدلی او د قران کریم دلیکلو د لومړني لیک په توګه یادېږي. دا شبه چې د وحې د لیکلو پر مهال، د (کوفي) په نامه لیک موجود نه و، ډېره بې دلیله نه ده، ځکه چې کوفي لیک په پیل کې په (حیرى) مشهور و او کله چې مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر (رض) پر وخت (انبار) او (حیره ) ته نږدې کوفه جوړه کړه، دې لیک هم د (کوفي لیک) نوم خپل کړ، هغو عربو چې**



**شام ته به یې سوداګریز سفرونه کول، (نبطي) لیک یې د (حوران) له خلکو او حیري (کوفي) لیک یې له عراقه راوړ او لکه څنګه چې (تورات) په (سطرنجیلي) لیک لیکل کېده، دوی هم، قران کریم په کوفي لیک ولیکه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (کوفي) او (سطرنجیلي) لیک کې دا دود و چې که چېـرې (ممـدود الف) د کلمې په منځ کې راشي، د لیکلو پر مهال له قلمه لوېـده، لکـه څنګه چې د اسلام په پیل په تېره بیا د قران کـریم پـه لیکلـو کـې دا قاعده په بشپړ ډول مراعت شوې ده. نو د (کتاب) پر ځای (کتب) او یاد (ظالمین) پر ځای (ظلمین) لیکل کېده.

## ۱۵-عربي لیک:

ویل کېږي چې عربي لیک هم د (نبطي) لیک په واسطه له ارامي لیک څخه راټوکېدلی. د (جرجي زیدان) په وینا د عربي لیک د تاریخي بهیر لنډیز په دې ډول دی:


د حجاز د عربو د لیک او لوست په باب څه خاص ثبوت نه شته، خو د حجاز له شمال او لویدیځ عربو څخه دکتابت ډېر اثار پاتې دي چې ډېـر مشهور یې د یمن خلک دي. دوی په مسندو تورو لیکل کـول او بـل د شمال نبطیان وو چې لیک یې نبطي وو. د حجـاز خلـک چـې اکثـره پوونده وو د لیک او لوست له نعمته بې برخې وو. تر اسلامه لږ وړانـدې به یې شام او عراق ته سفرونه کول او د عراقیانو او شامیانو له لیکونـو به یې ګټه اخیستله اوکله چې به حجاز ته راتلل، خپله عربي ژبه به یې په (نبطي، سریاني اوعبراني) تورو لیکله. د اسلام تر فتوحاتو وروسـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم سریاني او نبطي لیک د عربو په منځ کې پاتې شو. په کوفه کــې کوفي لیک او په مکه او مدینه کې سریاني حیره او نسخ خط له نطبــي لیک څخه اقتباس شوي دي. مورخین دهغه ښار په اړه د نظر اخــتلاف لري چې حجاز ته ترې لیک ورغلی دی. خو دا خبره مشهوره ده چې د (انبار) له پخواني ښار څخه سریاني لیک حجاز ته ورغلی دی.

د عربي لیک یوه بېلګه:



((د اسلام تر راتګ وروسته د حجاز عرب له لیکلو سره اشــنا وو. خــو ډېرو کمو خلکو لیکل کولای شول. چې د دوی له ډلې بیا ځینــې یــې صحابه کرام شول. لکه علي بن ابي طالب، عمر بن خطاب او طلحه بــن عبیدالله له دې ډلې څخه وو. تر اسلام وروسته عربي لیــک پــه بشــپړ ډول د قران په لیکلو پورې تړل کېږي، د خلفاوو اوتر هغو وروسته (بني امه) پر وخت یې قران کریم په کوفي لیک لیکه او د بني امیه د وخت د قران لیکلو تر ټولو مشهور کاتب (قطبه) نومېده چې ډېر ښــکلی خــط

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې درلود، هغه کوفي لیک په څلورو قلمونو یا ډولونو لیکــه، وروســته وروسته بیا کوفي لیک (دولس) او بیا (شــلو) ډولونــو یــا قلمونــو تــه ورسېده.

خو نبطي یا نسخ لیک په خپل پخواني شکل او د نا رسمي لیکنو لپاره د خلکو تر منځ دود و. تر هغه پورې چې مشهور خطــاط (ابــن مقلــه) (۳۲۸)هـ ق) کې په خپل نبوغ سره دې لیک ته ډېر کار وکړ، د دولــت رسمي لیک یې کړ او تر نن ورځې پورې معمول دی. ده پــه کــې شــپږ ډولونه: (ثلث، نسخ، محقق، توقیع، رقاع او ریحان) شامل کړل، کــوفي او نبطي لیکونه دواړه د اسلام په لومړیو کې معمــول وو، کــوفي یــې د قران کریم د لیکلو او نبطي یې په رسمي لیکنو کې کاراوه. خو وروسته چې په نسخ کې (ابن مقله) کوم اصلاحات راوړل، د قران د لیکلو لپاره یې هم مناسب کړ. وروسته وروسته بیا نسخ نور ډولونــه هــم راخپــل کړل.)) [۷]


## ۱۶- دیوانا ګري لیک:

دا لیک په لرغوني هند کې په ملي کچه پېژندل شوی لیک و چــې تــر اوسه لا کارېږي، سرچینه یې هماغه د (براهمي ګوپتا) لیک دی چې پر کلیمو یې ډېره لګوله. له یوولسمې مــیلادي پېــړۍ څخــه تــر اوســه د هندوستان مهم لیک ګڼل کېږي، د (دېو) ویې وروسته پــرې ورزیــات

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شو. په افغانستان کې د دیوانا ګري لیــک او د سانســکریت کتیبــې د هېواد په سویل ختیځ کې موندل شوي دي.**



**د دیواناګري  لیک بېلګه**

## ۱۷- پښتو او فارسي لیکونه:

**لکه څنګه چې ددې لیکنې په پیل کې مو وویل، ژبې ډېــرې دي، خــو لیکونه کم، نو ځکه خو څو ژبې په یوه واحد لیک کې راټولې شــوي او په هغو کې یې د خپل غږیز سیستم لــه اړتیــاوو ســره ســم   بــدلون راوستی دی، پښتو او فارسي ژبې تر اسلام دمخه د تاریخ په اوږدو کــې په بېلابېلو لیکونو لیکل کېدلې، خو تر اسلام وروسته یې دګنــو نــورو ارياني ژبو په شان عربي لیک راخپل کړ. البته په عربي ژبــه کــې چــې کوم غږونه نه شته، نو طبعاً ګرافیم هم ورته نه شته، پښتو اوفارسي ژبو د عربي ژبې د لیک له قاعدې سره سم دخپلو ځــانګړو غږونــو لپــاره مشخص توري یا ګرافیمونه وضع کړل. د عربي ژبې لــه الفبــا څخــه د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي ژبې (څلور توري) او د پښتو ورڅخه نـړدې (اتلـس ګرافیمــه) زیات دي. د لیک د ډولونو له مخې هم اکثره هغه ډولونه چې په عربــي کې کارول کېږي، تقریباً په پښتو او فارسي دواړو کې هم کارول کېږي.

ځینې ژبپوهان په دې نظر دي چې پښتو او فارسي د عربي ژبې د لیک تر راخپلولو دمخه نور لیکونه کـارول، پــه دې تــرڅ کــې ((د مېخــي، خروشتي، یوناني ارامي، براهمــي، دېــوانګري سانســکریت، ســخدي، پهلوي))[٨] او نورو لیکونو یادونه هم کېږي، خو د پښتو او فارســي ژبــو کوم ژوندي اثار چې راپاتي، هغه اکثره پــه همــدې عربــي لیکــدود او اسلامي دورې پورې اړه لري.

د یادو لیکونو تر څنګ ځینې نور لیکونه هــم شــته لکــه (خروشــتي، یوناني، سامي، کوشاني، ګوتیک، تدمري، ســاکي او نــور...) خــو کــوم لیکونه چې موږ یې په لنډیز سره یادونه وکړه، همغه وو چــې تــر ټولــو زیات کارول شوي او یا هم کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱) دستارنامه، خوشال خان خټک، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ل کال، (۱۸-۱۹)مخونه

(۲)د لیک او ژبې پیدایښت، زاهدي احمدزی، ۱۳۷۷ل کال بېلا بېل مخونه

(۳) لیکلاربڼود، پوهاند دوکتور مجاور احمدزیار، ۱۳۸۶ل کال، ۱۴ مخ

(۴) پښتو غږ پوهنه او ویبپوهنه، پوهنوال محمد صابر خویشکي، د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۸۸ل کال، ۱ مخ

(۵) لیکدود پوهنه، پوهندوی دوکتوره زرغونه زېور رښتین، د دوکتورا کورس لکچرنوټ، بېلابېل مخونه.

(۶) د کوشاني دورې د ژبو څېړنه، محمد نبي صلاحي، علومو اکاډمی، ۱۳۸۶ل کال، ۱۸ مخ

(۷) دانشنامه (دایره المعارف) ازاد، تهران، بېلابېل مخونه

(۸) تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، پوهاند عبدالحی حبیبي، انجمن تاریخ و ادب افغانستان، اکادیمي، ۱۳۵۰ل کال، بېلا بېل مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ادم خان او درخانۍ داستان لنډه شننه او تلنه

په پښتو داستاني اثارو کې ادم خان او درخانۍ خورا نامتو داستاني اثر دی، ددې داستان اساس د مینې پر یوې کیسې ایښودل شوی، چې مرکزي کرکټرونه یې (ادم خان او درخانۍ) دي، داستان په خوشالۍ پیل او په تراژیدۍ پای ته رسېږي، دا کیسه د خوشال خټک ادیب او شاعر زوی (صدر خان خټک) د نظم په یوه قالب کې پیېلې ده. زه غواړم دلته لومړی ددې داستان لنډیز بیان کړم، تر لنډیز وروسته غواړم ددې داستان پر شکل او بیا پر کلتوري، ټولنیزو او ځینو نورو خواو لنډې خبرې وکړم.

د (ادم خان او درخانۍ) د منظوم داستان (ناظم صدر خان خټک) دی، طبیعي خبره ده، هر څوک چې غواړي یوه کیسه نظم کړي او د هغې پر واقعیت پوه شي، مجبور دی د کیسې راوي او یا راویان پیدا او د اثر د نظمولو دلایل بیان کړي، صدر خان خټک هم دا کار کړی دی. مخکې تر دې چې صدر خان خټک د کتاب اصلي کیسې ته راشي، د ادم خان او درخانۍ د داستان د لیکلو او نظمولو عوامل او دلایل بیانوي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي چې زه یوه ورځ خپل پلار (خوشال خان ختټک) سره ناست وم، خوږې خبرې مو کولې او د پښتو د تېرو حکایتونو د لیکلو کیسه مې ورته وکړه، پلار مې ډېر خوشاله شو،راته یې وویل چې که ماته ژوند مجال راکړ، نو زه به دا کار وکړم، خو که ژوند او کارونو فرصت رانه کړ، نو ته باید دا کار بشپړ کړې، داسې لیک د یو یادګار په توګه پاتې کېږي، هر څه له منځه ځي، نظم او لیک پاتې کېږي، نو ځکه ما د پلار تر مرګ وروروسته ددې داستان لیکلو ته تکل وکړ:

زما پلار ځای یې جنت شه | په اولاد یې برکت شه
یوه ورځ په اشتغال و | د اشعار په قیل و قال و
هغه دم له عاشقانو | له رښتینو صادقانو
مذکور پیش شه ناګهانه | ما عرض وکړ له زبانه
ډېر اشعار له هره بابه | کتابت شه بې حسابه
د عشاقو افغانانو | د ماضیو عاشقانو
کتاب بویه چې نګار شي | وروستو پاتې یو یادګار شي
ده وې ښه دې ووې زویه | یو کتاب په دا باب بویه
که د عمر څه وفا وي | له کار بار فرصت زما وي
له ادم له درخانۍ | بویه ښې سخن دانۍ
چې منظوم یوه نسخه شي | یادګار پاتو په ستنه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که پاتې شي له مـــانه
زه روان شـــم لـــه جهانـــه

ته منظومه کړه بالجـــزم
دا قیصـــه پـــه ښـــکلي نظـــم

په جهان کې دا ګفتار دی
ای فرزنده چـــې یادګـــار دی

چې پدر مې سفر وکــــړو
لــه دنیــا یــې ګــذر وکـــړو

په دا فکر پیوستــــــه وم
کـــه ولاړ کـــه نشســـته وم

پس د پلار له مرګـــه لاله
چې مرور شـــول هـــژده کالـــه

ما اغازه دا نامه کـــــړه
خرامانـــه مـــې خامـــه کـــړه

اوس یاري صدر خوشـــاله
غـــواړه تـــه لـــه ذوالجلالـــه

چې له سره تر انجــــامه
په ښه رنـــګ یـــې کـــا تمامـــه

صدر خان ختک د کیسې د حقیقي بیان لپاره ډېره خبړنه کړې، دی تر هر څه دمخه د کیسې راوي معلوموي، چې (تاتی) نومېده. ددې کیسې څو روایته دي، صدر خان وایي چې ماله (تاتي) څخه وپوښتل: کوم یو روایت سم دی؟ هغه وایي کوم چې زه درته وایم، همغه سم دی، (تاتی) وایي چې دا ټوله کیسه یې کټ مټ او په سم ډول له (میرو) قوال څخه اورېدلې ده. صدر خان ختک وایي چې تر ډېر دقـت وروســته یــې دا کیسه د (تاتي) له خولې رانقل کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاتي نام يو يـــوســـفـــزی و     حاجي خېل و ښه زلمی و
د ميـــــــرو قـــوال له پـــوره     ماته شـــــوې وه مذبوره

صدر خان ختک د کتاب په پيل کې د سوات سـيمه ، پــه هغــې کــې مېشت قومونه او بېلا بېل خېلونه په تېره بيا يوسفزي معرفي کوي.

د (باز درې) يادونه کوي چې په سوات کې يــو ښايســته سـيمه ده او (درخانۍ) په همدې سيمه کې زيږېدلې ده:

بــاز درې ځـــکــه نومېــږي     چې ترې بازې پيــدا کېــږي
بلکې حــورې په کـې جونــه     بـــاز درې دي جنتونـــه
په کښـــيـــنـــۍ باز دره کې     درخـــانۍ وه ســـتاره کـــې
دستــــارې مېرمن پـيدا وه     په ښايست کې بې همتا وه
پلار يې خان په نوم موسوم و     په پردي په خپل معلـوم و
دُرخو در وه پلار يې خـــان و     له ترکيب نام يــې عيـان و

ددې تر څنګ چې دا سيمه معرفي کوي،تر ډېره حده د درخو د ښــکلا ستاينه کوي:

چا وې دا لکه قمر ده     چا وې دا په حسن نمر ده

په دې اثر کې د درخانۍ د ښايست دومره توصيف کېږي چې له مشرقه تر مغربه او له شماله تر جنوبه يې په ښايست کې ساری نه ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې پلار یې د خپلې سیمې خان و، نو د درخانۍ تربیت ته یې ملا وتړله:

پلار ددې و تربیت ته فضیلت و علمیت ته
یو ملا یې داو طلب کړ په خپل کور یې جوړ مکتب کړ
په اندک مدت ملا شوه په معقول منقول دانا شوه

کله چې درخانۍ مکتب لولي، نو خپله ترې ملا او عالمه جوړېږي، بیا نورو نجونو ته درس ورکوي، په همدې (باز دره) کې یوه بله ښایسته پېغله (بسۍ) پیدا کېږي، بسۍ هم خورا ښایسته ده او درخانۍ سره یو ځای ګرځي او د هغې خور لنډه جوړېږي. بسۍ او درخو یو بل سره ژمنه کوي، چې که د هر چا واده دمخه وي، نو بله به په کې ګډون کوي او تر هغه پورې به یې د وربل غوټه نه خلاصېږي چې یو یې د بلې په واده کې ګډون نه وي کړی.

څرنګه چې بسۍ او درخانۍ یو بل سره ژمنه کړې وه چې د یوې بلې په واده کې به حتمي ګډون کوي، نو د بسۍ واده تر درخانۍ دمخه تیار شو:

د بسۍ واده تیاره شه جوړې خرځ جوړې هر کارشه

په واده کې پیر صالح هم ګډون کړی و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پير صالـح بابوزی پير و          د عشـاقو دستګير و
دی يې هم را و بالنـــه          په واده کې حاضرشنه

وايي چې دا داسې يو واده و چې تر اوسه نه په غره او نه په سمه او نه د پښتنو په نورو سيمو کې تېر شوی و.

کله چې يې (بسۍ) پر تخت کښنوله، نو هغې وويل: تر هغه چې درخانۍ رانه شي زما غاړې او وربل ته څوک ګنډه نه شي اچولی، دا زما له هغې سره ژمنه ده.دا مهال د بسۍ مور د درخانۍ پلار ته ورځي، هغه ته عذر کوي چې درخانۍ ته اجازه ورکړي، پلار يې وايي: د سر په سترګو، خـو دا کار د درخانۍ دی، د هغې زړه دی، خو زما له خوا ممانعت نـه شـته، درخو ته چې ځي هغه ورته وايي: ما او بسۍ چې کله سـندرې ويلــې، هغه د ماشومتوب وخت و، اوس هغه وخت نـه دی چــې زه لاړه شـم، اوس زما ورور، هغه ستر دی، هغه اجازه نه راکـوي دا عيــب ګڼــي، مـا معاف کړه، خو د بسۍ مور ډېرې زارۍ وکړې، سوګندونه يې ورکړل، نو درخانۍ له ناچارۍ ورسره لاړه، خو دوه شرطه يې پرې کښښودل، يو دا چې سيالې او همبالې تر ما دمخه روانې کړه او بـل دا چــې د واده پـر ځای له نورو ښځو او نرو مستوره شم.

درخانۍ ځان سينګار کړ. ناظم دلته د درخـانۍ د سـينګار څرنګـوالی تشريح کوي:

شب برات يې چراغان کړ          منور يې درست جهان کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درخانۍ په ښځو او نرو کې مستوره وه، پیر صالح ته خلکو شکایت وکړ چې که درخانۍ په نرو کې مستوره ده، نو سمه خبــره ده، دود دی ، دا چې په ښځو کې مستوره ده دا نو بدعت دی:

له مردانو که حجـــاب کا      دا له ښځو په کوم باب کا
دا نـــه دود نه روایت دی      بلکې دا ستر بدعت دی

پیر صالح ته یې وویل: ته درخانۍ ته ووایه چې دا بدعت لرې کړي او که ته دا کار نه شې کولی، نو موږ مجبور یو بل پیر ته لاړ شــو، د بــل پیــر مریدان شو.

کله چې شپه پخه شوه، پیر نفل پیل کړل، تر نفلو وروسته پیر ته یوازې (ادم خان) په ذهن کې راغی چې که هغه ساز او د درد سندرې ووایي، نو د درخو زړه به نرم شي، کله چې یې د عشق څپه په ننګ راشي، نــو مخ به راښکند کا، سهار وختي یې ادم خان تــه خــواب ورولېـږه، ادم خان د حسن‌خان زوی په قوم پټه خېل و، ښایسته ځوان و، رباب یــې غږ اوه:

په مخ ګل نازک بدن و      شکر لب شکر سخن و
چې په ده سخنراني کړه      ګویا نی به جوهري کړه

ادم خان د شعر او موسیقۍ په هنر ډېر پوه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ادم خان د پیر صالح پیغام له خپلو ملګــرو (میروګــي) او نــورو ســره شریک کړ؛ میروګی درخانۍ ته دا مسره وویله:**

**درخـــانـــۍ د حــــورو حورې     ښـــاپېرۍ د تـــا مـــزدورې**
**په هـــر چا چـــې ستا نظر شه     د هغه ګوزار پـــر ســـر شـــه**
**هغه څوک دی ادم خـــان دی     چې د تا د وصال ځوان دی**

**ادم خان د پیر صالح لاسونه ښکلوي، خلک ټول پاڅېږي، د ادم خـــان په ستاینه چغې پورته کوي، درخو پوښتنه کوي چې څه خبره ده؟ کله چې یې دا ننداره وکتله نو متحیره شوه.**

**درخو د ادم خان ښایست ته حیرانه شوه، دې وخت کې ربابونه وغږول شول.**

**یو شعر په کې دا وویل شو:**

**درخانۍ د باغ بلـــــــــبلې     چې رخســـار د ګـــل نشـــان دی**
**مخ ښکاره کړه نن راغـــــلي     ستا دیدن ته شنه طوطیان دي**

**دې وخت کې ادم خان درخو ته دا قطعه وویله:**

**درخانۍ د ټول مـــېرمنې     نـــوراني یـــې لکـــه شـــمع**
**په مجلس توره تـــیاره ده     تـــه رڼـــا کـــړه مجلـــس جمـــع**
**د دیدن بې رحمي مه کړه     مـــوږ راغلـــي پـــه دا طمـــع**
**هغه مخ راته ښـــکاره کړه     چې تر نمـــر دی رخشـــان لمـــع**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې درخو د ادم خان دا نارې واورېدې، نو زړه یې نرم شو.

دا نغمـــه ده کـــه جـــنـــون دی          دا سرود دی که افسون دی
دانـــایـــي یـــې لـــه مـــا یـــوړه          پـــارســـایي یې له ما یوړه

دې وخت کې یې یوه توره وینځه ادم خان ته ولېږله، چې پوښتنه ترې وکړي چې دا مغل دی که افغان؟
ادم خان یو غلام درلود (بلو) نومېده، د تـــره زوی یـــې (شـــمس خـــان) نومېده چې د ادم خان ډېر ملګری و.
دې وخت کې د خلکو له منځه شمس خان په درخانۍ غږ کوي:

درخانـــۍ د ټولـــو مـــیرې          چېرې نه وي وار خطا کړې
پلو ټینـــګ نیسه په مخ کې          او که نه ځان به رسوا کړې

د شمس خان په دې نارې پسې بلوګي خپله ناره پورته کړه:

درخانۍ زمـــوږ مېرمـــنې          ادم خان د ســورو میـــر دی
شمس خان لکه قارګه دی          ادم خان ښکلی قجیـــر دی

په همدې ډول د شمس خان او بلو تر منځ څو قطعې یـــا نـــارې تبادلـــه شوې.

د بلوګي او شمس خان تر منځ په مناظره کې ادم خان مداخلـــه وکـــړه، ویل یې اصلي موضوع ته راشئ له بې اتفاقۍ څخه لاس واخلئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځــــپلـــــه اتـــفــاق کړئ　　له میان لرې دا نفاق کړئ

چـــــې پـــــه اصل افغانــان یو　　خود معلوم د نفاق کان یو

دې پسې ادم خان، درخانۍ ته څو نارې وویلې او د پړونې د لرې کولــو هیله یې وکړه.

درخانۍ تر ډېرو نارو او غږونو وروسته پړونی له مخه لرې کړ، کله چـــې خلکو د درخانۍ ښایست ولید، نو هک حیران شول، ټولو په عمر کـــې داسې ښایست نه و لیدلی، ټول په ځمکــه پرېوتــل، یــوازې ادم خــان حیران ولاړ و، درخانۍ د کور پر لور روانه او ادم خان هم ورپســـې روان شو:

ادم خان وویل:

د ټولې په مخــــــکې درومې　　درخـــانــــــــــۍ وه لـــــــکه بطـــه

نورې جونې په کې ســـــتورې　　تـــه ســـپوږمۍ یـــې غبـــار خطـــه

ادم خان له (میرو) هیله وکړه یوازې (میرو) دې ورسره پاتې وي، چـــې د درخو پل تعقیب کړي، د شپې یې د درخو کور ته ځان ورسوه، درخو او ادم خان په تیاره کې یو بل سره ډېرې نارې تبادله کړې چې د مینې له راز او نیازه ډکې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سهار وځي، ادم له درخانۍ رخصت اخلي، نو تر هغې وروسته پر درخانۍ زیاته پرېشاني راځي او دواړه په خپل کلام کې خپل درد بیانوي.

کله چې د ادم او درخو په مینې د هغې پلار او ورونه خبر شول، نو پر هغې یې سخت بندیزونه ولګول او ځار یې پرې سخت کړ، یوازې د مور او یوې کنیزې ورتګ ورته ازاد و او بس.

درخانۍ د ادم خان په غم ډېره وکړېده:

| | |
|---|---|
| ګاه به دا په اور لنبه شوه | ګاه به دا په خیال زنده شوه |
| نه یې مرګ نه یې صحت و | زړه خسته خوار یې صورت و |

مور یې ورته زاري کوي چې لورې څه درباندې وشول، د مور او لور مناظره خورا دردوونکې او د پښتني کلتور انځورونکې ده.

درخانۍ مور ته وایي چې له ادم خان سره زما مینه د رښتینې محبت زېږنده ده، نه د شهوت :

| | |
|---|---|
| زما عشق نه د شهوت دی | دا رښتینی محبت دی |
| لکه مینه د پتنګ ده | په چراغ د هغه رنګ ده |
| لکه مینه د بلبلو | په جمال وینې د ګلو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله یې چې مور د درخو حقیقي مینه درک کړه، نو د لور د مرستې په فکر کې شوه.

ادم خان یې د شپې له خوا دعوت کړ چې درخو ورسره لاړه شي، ادم خان راځي او درخو پر اس سوروي او دواړه له کوره وځي، د ادم او درخانۍ سوال قبلېږي.

یو وخت درخانۍ له ادم خان څخه د علم په باب غوښتنه کوي او ادم خان ورته ځواب ورکوي:

چې طلب د علم نه کا | په خپل ځان به پسات وکه
چې خاوند به سوال له ده کا | هغه ځای به ځواب څه کا

بیا د درخانۍ او ادم خان تر منځ مناظره کېږي، درخانۍ له ادم خان څخه پوښتي چې پر حېوان باندې د انسان فضیلت په څه کې دی؟

ادم خان ورته وایي: فضیلت یې په زرګونه دی، یو فضیلت یې دادی چې انسان ناطق دی، انسان اصلي دی، حیوان فرعي دی، اصل او فرع توپیر لري.

درخو وویل: حیوان خو هم خپله ژبه لري.

ادم خان وویل: د حیوان ژبه د حال او د انسان ژبه د قال ده.

د دوی مناظره همداسې دوام پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ادم خان د درخانۍ د حفاظت او عزت په خاطر د (میربامي) په نامه یــو شخص سره خبرې کوي، چې لښکرې تیــارې کــړي او دده کــور تــه د درخو په رسولو کې مرسته وکړي، (میربــامي) ډېــره درغلــي وکــړه، د رشوت په مقابل کې یې درخو بل چا کره کېنوله او دې کار درخو لکه د پانې په شان ژېړه کړه او ویې رژوله.**

**ادم خان د یوې بوډۍ له خوا خبر شو چې (میر بامي) داسې جفا کړې، نو د ادم خان پر زړه د غم لښکرې خورې شوې او (میر بــامي) تــه یــې ډېرې ښېراوې وکړې. ادم خان له ډېره غمه د نس خوږۍ پر رنځ اختــه شو او څلوېښت ورځې د نس خوږۍ رنځ وکړاوه. د ادم خان د رنځ خبر درخانۍ ته ورسېد او هغې باندې هم د غم غرونــه پرېوتــل، د پســرلي موسم و، درخو ادم ته د ګلو ګېډۍ ولېږله، خپــل ســوز او فریــاد یــې ورسره ملګری کړ او و یې ویل چې ستا له غمه مړه کېږمه. ادم خان تــه چې د درخو د ګلو ګېډۍ ورسېده، هغه یې بوی کړه، د درخــو د زلفــو شمال پرې ولګېد، لږ یې نفس کې ساه وغورېده، لږ ارام شــو، بیــا یــې ریبار ته وویل چې درخو ته مې سلام کوه، زما او ستا یو ځــل دیــدن و، نور دا ټول غمونه، خو څو چې ژوندون وي، زه به ځان نیست خو یار به هست کړم، کله چې درخو ته د ادم پیغام راورسېد، نو درخو نــوره هــم پرېشانه شوه، خو ادم ته به یې هره ورځ د ګلو دسته ورلېږله، ادم بــه د ګلو په ګېډۍ ارام کاوه، څلوېښت ورځې به یې هــره ورځ یــوه دســته ورلېږله او ادم خان کې به د همدې دستې په زور ساه چلېدله، خــو پــر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځلوېښتمه ورځ د ګلو دسته ورنغله ،نو ادم خـان وارخطـا شـوه، پـه (میروګي) یې غږ کړ:**

ادم غــږ کـــړ مـــیـــرو یـاره | رانــژدې شــه غمګســاره
مـــیـــروګي وې زمـا خـــانـــه | زه نـــږدې یــم زمـــا جانـــه
راتـــه وایـــه زه غـــلام یـــم | منتظـر سـتا د کـلام یـم
ادم ووې ای جــلــــیـســـه | ای همدمـــــه ای انیســـــه
صبـا دروم‌ه شتاب تـرشـــــه | تـر درخـو پـه خپلـه ورشـه
پـرې اول زمـا دعــا کـــــړه | بیـا پـرې دا پیغـام ادا کـړه
چـې مونږ لاړو که رښتیا کړې | تـه بـه هم ورانـه دنیـا کـړې
لـــه دنـــیا شـــه مسـافـــره | زر و ماتـــه شـــه حاضـــره
هغـــه ځـای چـې تل وصال دی | زر را درومـه څـه مهـال دی
کــه دې مـینـه پـه رښــتیا وي | دا پیغـام بـه مـرګ د تـا وي
مخ بـه ماتـه زر حـضـور کــړې | تور لحد به په ما نـور کـړې
دا یـې ووې نـــور یـې سـاه | پـــه اســمـان لاړه لـــه آه
پـــه دنیا چې تېر ادم شـــه | پـه همـه جهـان مـاتم شـه

**کله چې (میرو) د (ادم خان) جنازه خاورو ته وسپارله، نو د درخـو پـر لوري روان شو، هغه ځای ته ورغی چې درخانۍ به ګلونه پرېکول او ادم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خان ته به یې رالېږل، هلته پټ کېناست، په دې ورځ ګلونــو د غمونــو بوی کاوه، ټول غم او ماتم و.**

**کله چې درخو باغ ته راغله، نو د ګلو پر ماتم او حال پوه شوه:**

**چې درخو په باغ درون شـــــوه پوه د ګلو په مضمون شوه**
**چــې نــن بــوی د ګــلــو نور دی په هر ګل کې پیدا اور دی**
**د بـــاغ طـــور دیــګر ګــون دی هر ګل وینم چې زبون دی**

**درخو لا ګلو ته لاس نه و وروړی، چې (میروګي) پرې د غم زېری وکــړ، میروګي وویل:**

پــرې ویـــلی یــار سلام دی بیـا یـې کـړی دا پیغـام دی
مونــږه لاړو کـــه ربنـتیـا کړې تـه بـه هـم ورانـه دنیـا کـړې
په صباح بېــګـاه بــه راشــې د کـور شـمع بـه زمـا شـې
لـــه بـېـلـتـونـه بـه رهــا شو همېشه به خوا پـه خوا شو
چــې مــیرو پـوره پـیغــام کـړ درخـانۍ سـمع تمـام کـړ
دې پرې غـــږ کړ میرو وروره اوس زمــا ننـدارە ګـــوره
چې په یار پسې څوک تـله کـا دا رنګ درومي تعطیل نه کا
دا یـــې وویـــل پـــه غـاړه آه یـې وکـړ ساه یـې لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درخو له ادم سره خپله ژمنه ترسره کړه او په دې ډول يې له ژوند سره خدای پاماني وکړه.

د ادم خان د مرګ په باب بېلا بېل روايتونه دي، ځينې وايي ادم خان په زړه نتلی، په صورت ټکلی د يوسفزو له سيمې راووت، دا کوڅې په مصري بانډه کې وفات شو، کله چې درخانۍ د ادم خان له مرګه خبره شوه، نو هغې هم ساه ورکړه او د ادم خان په خوا کې خاورو ته وسپارل شوه او تر نن ورځې پورې دوه قبرونه په يو ځای يادېږي، درخانۍ په خپل وصيت او د هغې د کورنۍ په اجازه د ادم خان تر خوا خښه شوه. دا و د ادم خان او درخانۍ د تراژيک داستان لنډيز.

اوس راځو ددې داستان شکلي، ټولنيزو او کلتوري خواوو ته!

## ددغه داستان شکل:

د اوږدو رومانتيکو او رزمي داستانونو د نظمولو لپاره اکثره له مثنوي فورم څخه کار اخيستل کېږي. صدر خان ختټک هم د ادم خان او درخانۍ کيسې د نظمولو لپاره له مثنوي فورم څخه کار اخيستی دی، مثنوي هغه فورم دی چې هر بيت يې په خپل منځ کې مشترکه قافيه لري، د مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي وي. رديف په کې اختياري دی، کېدی شي يو بيت يې رديف ولري، بل يې ونه لري، خو قافيه په کې حتمي ده، د مثنوي بل خاصيت دادی چې د ټولو بيتونو د مسرو شمېر يې سره مساوي وي، څرنګه چې د مطلع د قافيې تعقيب ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فورم پر ټولو بیتونو حتمي نه دی، نو ځکه خو د زیاتو بیتونــو او اوږدې کیسې د ټولو جزیاتو د بیان او ځایونې ظرفیت لري.

د ادم خان او درخانۍ د داستان فورم همدا د مثنوي فورم دی.

د بیتونو د مسرو د څپو شمېر یې اته (۸) اته (۸) څپې دی او تــر پایــه پورې همدا قانون پر ټولو بیتونو تطبیقېږي.

دلته به یې څو بیتونو ته نغونه وکړو:

نتـــــیجه چـــې د خــــرد ده        ښـــه خبـــره د ســـــند ده
کـــه غـــزل کـــه مثنـــوي ده        پـــه خبـــره معنـــــوي ده

لومړی بیت یې اته څپې، دویم بیت هم اته څپې دی، د څپو وېش یــې په دې ډول دی.

نه-تي-جه-چې-د-خ-رد-ده

ښه-خ-ب-ره-د-س-ند-ده

د دویم بیت وېش یې په دې ډول دی:

ک- غ- زل- که- مث-ن- وي- ده

په- خ- ب- ره- مع- ن- وي- ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بيتونه يې هم تر پايه همدې ډول دي:

يعنې مرګ چې د ادم شه    د جهان عمر په غم شه

يعـــ-نې - مرګ - چې - د - ا- دم - شه

د - ج - هان - ع -مر - په - غم - شه

۱- ۲- ۳- ۴-۵- ۶- ۷- ۸

پرده ورانه درباب شوه    نغمه پاتې له ځواب شوه

پر-ده- ورا-نه- د-ر-باب- شوه

نغ-مه- پا-تې- له- ځ-واب- شوه

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸

بله عجيبه خبره داده؛کوم فورمونه چې د قطعو د فورم پــه بڼــه د ادم خان او درخانۍ په داستان کې راغلي، هغه هم د څپيــز جوړښــت لــه مخې له مثنوي سره يو شان دي، يانې دا چې هره مسره يې اته څپــې ده.

خانه زېرې مــې درباندې    نمايان د نمر شغـــــلې دي

نمر به وځــې لــه جهانــه    چې يې پاتې درې پرې دي

خا-نه- زې-رې- مې- در-بان-دې

ن-ما-يان- د- نمر- شغ-لې- دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمر-به-و-ځي-له-جـ-ها-نه

چې-یې-پا-تې-درې-پر-دي-دي

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸

د (ادم خان درخانۍ) په داستان کې راغلې قطعې که څه هم اکثره یې د قطعو بڼه لري، یانې دا چې د هرې قطعې دویمه او څلورمه مسره یې په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري، خو لومړۍ او دویمه مسره یې له قافیې څخه ازادې دي او تر دوو بیتونو وروسته بیا د مثنوي یو بیت ورلوېږي.

که څه هم دا قانون پر اکثرو قطعو تطبیقېږي، خو بیا هم په دې داستان کې ځینې داسې جوړښتونه یا فورمونه شته چې د قطعو په نامه راغلي، خو د قطعو معمول تعریف پرې نه تطبقېږي، د بیتونو شمېر یې تر دوو اوړي که څه هم د هر بیت د دویمې مسرې قافیه د لومړي بیت د دویمې مسرې قافیه تعقیبوي لکه دا لاندې قطعه چې د ادم خان له خوا درخو ته ویل شوې او د بیتونو شمېر یې د قطعې تر معمول تعریفه اوړي.

د ټولي په مخکې درومي
درخانۍ وه لکه بطه
نورې جونه لکه ستوري
ته سپوږمۍ یې غبار خطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بـلـو د پــــاره وکــړه
پیـر تـه پیـر حجـاب سـقطه
چې دې ووینـي پـه عـــین
د تـــا عینـــې لـــه نقطـــه

**تر دې وروسته د مثنوي یو بیت ورلوېږي:**

**د درخو یوه دوه همسالې　　　ورسره وې ګل مشالې**

**که څه هم په دې داستان کې راغلي قطعې ټولې د بیتونو د شـمېر لـه مخې یو شان نه دي، خو د مسرو د څپو د شمېر له مخې ټولې یو شـان دي.**

**ژبنۍ اغېزې**: **د پښتو په کلاسیک ادب، روښاني پـړاو او تـر هغـه وروسته د ببلا ببلو شاعرانو په کلام کې د فارسي او عربي ژبې تاثیرات څرګند وو، په تېره بیا د منظوم کلام په قافیه یي برخو کې. د ادم خان او درخانۍ په مثنوي کې هم د فارسي ژبې اغېزې خورا جوتې دي، هـم په قافیه یي برخو او هم د مسرو په ببلا ببلو برخو کـې. لکـه (ګفتـار، دیدار، بخشنده، جان ستان، نان ستان، شیران، ابر، بهار، ګوهریز، اتش بار، اتش انګېز، اوباش، ویراني، جویان، استوار، سـخندان، سـخن ران، پیش، زبان، نګار، اب، ګـذر، نشسـته، مـرده دل، صـدګان، درمانـده، دستګیر، رویدار، بیرون، یکسو، یکرو، مانند، پري پیکر، دیګر) او داسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې په سلګونو فارسي کلمې چې هم د قافيې په توګه راغلي او هم د نظم د متن په نورو برخو کې.

د فارسي تر څنګ په سلګونو عربي کلمو څخه هم په دې منظوم متن کې کار اخیستل شوی، چې یا د قافيې په توګه کارول شوي او یا هم په متن کې راغلي دي.

(برکت، عظیم الشان، نافع الناس، عبارت، خط، الماس، رقم، کرم، شجاعت، ماضي حایضي، حکمت، صفت، عدل، حروف، موزون، معلوم، مضمون، تناسب، تمثیل، توصیع، بدیع، کامل، قایل، وفاق، اغراق، عشاق، نتیجه، قیامت، فکر، ترکیب، عیان، رضیع، ربیع، لطافت، نزاکت، جمال) او په سلګونو نورې عربي کلمې چې یا په قافیه کې کارول شوي او یا هم د نظم د متن په نورو برخو کې.

## کلتوري او ټولنیزې ځانګړنې:

د ادم خان او درخانۍ د داستان ټول چاپیریال رښتینی پښتني چاپیریال دی، مرکزي کرکټرونه (ادم خان او درخانۍ) فرعي کرکټرونه، (بسوګۍ، میروګۍ، بلو، شمس خان، میربامي،) ټول هغه شخصیتونه دي چې په دې داستان کې بېلا بېل کارونه تر سره کوي. دا داسې کارونه دي چې زموږ په ټولنه کې یې همدا ډول شخصیتونه ترسره کوي، د فرعي شخصیتونو لپاره د تصغیري نومونو کارونه لکه د (میرولي) لپاره، (میرو او میروګۍ)، د بسی لپاره (بسوګۍ) کارول زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنــه کــې معمــول دي او دا ډول کرکټرونــه د دویمــو او درېیمــو شخصیتونو په توګه دود دي.

د داستان اصلي شخصیتونه لکه (ادم خان او درخانۍ) پر ټولنه بانــدې د خور او حاکم کلتوري چاپېریال له دایرې څخه نه شي وتــلای، همــدا ټینګ کلتوري ضوابط او روابط وو چې داستان یې تراژیک حالــت تــه ورساوه.

د داستان اتلان د ټولنې له کلتوري دایرې څخه ځان نــه باســي او نــه ټولنیزو او کلتوري ارزښتونو سره مخالفت کوي. درخو او ادم خان اصلاً د پښتني ټولنې د لوړو اخلاقي اصولو او پرنیسونو ممثلین دي. د (ادم خان او درخو) تر منځ مناظره د لوړو علمي او اخلاقي ژورتیاوو تمثیــل کوي، کله کله د داستان ځینې برخې افسانه یي بڼــه خپلــوي، خــو د داستان اکثره برخې داسې نه دي چې د ټولنې لــه عینــي واقعیتونــو څخه لرې وي.

پر پښتني ټولنه واکمن عیني واقعیتونه په دې داستان کې پــه ترتیــب سره راغلي، ځنې جغرافیایي نومونه چې تر دې دمه لا هم ژونــدي دي او پښتني قبیلي په کې ژوند کوي، هم په همغه خپله بڼه تر دې دمــه کارول کېږي.

د داستان د اتلانو تر منځ صداقت او رښــتینولي د پښــتني ټــولنې د کلیوالي ژوند بله ځانګړنه ده، همدا صداقت دی چې د داســتان اتــلان یې نه یوازې په دې داستان کې د اخلاقو لوړو مدارجو ته رسولي، بلکې ددې اتلانو تر مرګ وروسته هم هغوی په پښــتني افغــاني ادب کــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسانوي اتلانو په توګه تمثیل شوي دي. په پښتنو شــاعرانو کــې بــه داسې شاعر ډېر کم پیدا شي چې هغه دې شعر یا نظم لیکلی وي او په یو نه یو ډول دې ادم خان او درخانۍ د مثبتو کرکټرونو او یا هم اتلانــو په توګه په خپل کلام کې نه وي کارولي.

ادم خان او درخانۍ نه یوازې پښتني کلتوري او ټولنیز ارزښتونه تمثیل کړي، بلکې دوی ددې سبب شوي چې د دوی په وجــود کــې پښــتني کلتور او لوړ ټولنیز اخلاق، پر نسیپونه او معیارونه سینه په ســینه لــه یوه پښت څخه بل ته ولېږدول شي، د ادم خان او درخانۍ د داستان د بېلابېلو خواوو د سپړنې او شننې په باب بېلا بېلې لیکنې لیکل کېدی شي، ښاغلي (پروفیسور محمد نواز طایر) د ادم او درخانۍ د داســتان په باب یوه اوږده هــر اړخیــزه، تحلیلــي او علمــي لیکنــه کــړې او د صدرخان خټک له مثنوي سره یو ځای یې ځو ځلــه چــاپ کــړې ده، دربیم ځل پر (۱۹۸۱)م کال په پېښور کې د پښتو اکاډمي له خوا چــاپ شوې ده. نورو لیکوالو هم ددې داستان د بېلا بېلو خواوو د تحلیــل او ارزونې په باب لیکنې کړي دي. زما هدف له دې لیکنې څخه دا و چې د ادم خان او درخانۍ د داستان یو لنډ جاج لوستونکو ته وړاندې کــړم او یو ځل بیا د دې تراژیک داستان ایډیالو شخصیتونو ته په دې نبت د نوي نسل پام راواړوم چې ددې اتلانو له اخلاقي روحیې څخــه مثبتــه ګټه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داردي ژبې او هغو ته پېښ خطرونه

مخکې تر دې چې د (داردي) ژبو څېړنې ته راشو، ښــه بــه وي چــې د (داردي) اصطلاح او مانا وڅېړو او بیا به د داردي ژبو د څــومره والــي، څرنګوالي او موقعیت څېړنې او په اوسني وخت کې هغو ته د ورپېښــو خطرونو په باب رڼا واچوو.

## د داردي اصطلاح:

((د (داردي) اصطلاح لــه (داراده) څخــه اخیســتل شــوې چــې پــه سانسکریت کې دغه اصطلاح ډېره لرغونتیا لري، هــم پــه جغرافیــایي اثارو او هم په حماسي نژادی قصایدو کې دهغه اولس یا ولسونو لپــاره استعمال شوې چې هغه وخت د هند دنیمې قــارې پــه شــمال غــرب سیمو کې اوسېدل. دغه اصــطلاح لرغونــو مورخــانو او مولفینــو هــم استعمال کړې ده. (بطلیموس) د (دارادایي)، (سترابون) د (ددیردایي)، (پلینوس) د (داردا) او داسې نورو په همدغه شان ورته کلمو ذکر کــړې ده.

## د داردي ژبو موقیت:

داردي ژبې د (هندو اریایي) ژبو هغه ګــروپ دی چــې دافغانســتان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمال ختيځ په غرنيو سيمو او يو څه يې د پاکستان په شمال او د هند د شمال لويديځ په څو سيمو کې موجودې دي. د دغــو ژبــو د ژونــد ساحه د هندي او باختري ژبو تر منځ واقع ده. د داردي ژبو د پيدايښت او پراختيا په باب د اريايي ژبو محققين بېل بېل نظريات لري.

د (رابرت کلي شاو) په عقيده (داردي ژبې) د پاميري (چــې د بــاختري ژبو په ګروپ کې شاملې دي، ژبو په شمول د شرقي اروپايي (هندي) او مرکزي او لويديځ اريايي (باختري او ايراني) ژبو تر منځ موقعيت لــري. دده په عقيده له يوه ګروپ سره هم د خپلوۍ رابطه نه لري، ياني نه په هندي ګروپ او نه هم په باختري او ايرانــي ګــروپ کــې شــاملې دي. نوميالي ژبپوه (اميل بن ونيست) د ژبو د وېش په لړ کې داردي ژبې ((د هندو اريايي ژبو په لړ کې دهغو سلو ژبو په جمله کې حساب کړي چې خبرې پرې کېږي او موقعيت يې ورته شمال لويديځ ګروپ ښودلی چې په نورستان او له نورستان څخه بهر نورې ژبې په کې راځي.)) (۱)

په دې باره کې بله نظريه د (ستين اکاناو) ده. دده په عقيــده ((داردي خصوصاً نورستاني ګروپ له اريايي ژبو (باختري اوايراني) ګروپ ســره خپلوي لري. خو دلته دی هم داسې وايي چې له دغه باختري او ايراني سره د داردي ژبو ښاخ يو نه دی، بلکې له هغو څخه په دومــره لرغونــو زمانو کې بېل شوی دی، لکه چې څومره پخوا د هندي ژبــو ښــاخ لــه اريايي (باختري او ايراني) څخه بېل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ګ، ګریوسون) لومړی د (شاو) او (اکاناو) تر منځ یوه متوسطه نظریــه ښکاره کړه، په دې مانا چې دنوموړي په عقیده د داردي ژبو ښــاخ لــه پامیري ژبو سره څنګ په څنګ او په متوازي ډول دمرکزي (بــاختري) او (پیر سیک) ژبو له ونې جلا شوی او ځانګړی انکشاف یې کــړی دی. خو دغه جلاتوب که څه هم ډېر لرغونی دی خو له اریایي ژبــو څخــه د هندي ژبو تر جلاتوبه وروسته دی، (ګرېرسون) بیا په خپلــو وروســتیو اثارو کې داسې نظریه ښکاره کړه چې داردي ژبې د ختیځ (هنــدي) او لوېدیځ (باختري او ایراني) ژبو تر منځه یوه بله ځــانګړې څانګــه ده.)) (۲)

د دغو ژبو په باب که څه هم د محققینو نظریات سره یو شان نــه دي، خو په دغه باب سره ډېر نږدې دي چې چې وایي: داردي ژبې دیــو لــړ داسې ژبو مخصــوص ګــروپ دی چــې مخصــوص تــاریخي فونتیــک اومورفولوژیک ګډ خصوصیات لري.

اوس داسې ګڼل کېږي چې د داردي ژبو ګروپ د اریایي ژبو د یوه هغــه ډیالکتیک پر اساس انکشاف کړی دی ویونکي یې لرغوني اریایان او په خپله همدغه معاصره سیمه کې مېشته وو.

له ځینو روایاتو سره سم د داردی ژبو سیمه پخوا د موجوده سیمې پــه تناسب ډېره پراخه وه، دغه سیمه پخوا د معاصر افغانستان پــه شــمال ختیځو غرنیو برخو او د هند د نیمې وچې په ټول شمال کې شامله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پاکستان، پنجاب، هند اوحتی د تبت لویدیځه برخه ورکې شــامله وه، د دغو سیمو پر ژبو د داردي ژبو څرګنده اغېزه د دغــې موضــوع د ثبوت یو ښه دلیل دی.

## د داردي ژبو وېش:

د ژبو د وېش مسله خورا حساسه مسئله ده، هم له تاریخي پلوه، هــم د ژبني جوړښت له پلوه او هم دجغرافیایي موقعیت له پلــوه. د داردي ژبو د وېش په باب هم دا ستونزه موجوده ده. ځینې ژبپوهان په معاصر وخت کې داردي ژبې پــر دربــو څــانګو وېشــې، دا وېــش تــر ډېــره د جغرافیایي موقعیت له مخې شوی، چې دلته ورته اشاره کوو:

الف: لویدیځې داردي (نورستاني) ژبې:

ب: مرکزي داردي ژبې.

ج: ختیځې داردي یا خاصې داردي ژبې.

## الف- لوېدیځې داردي ژبې:

د داردي ژبو دغه څانګه (لویدیځې داردي) چې د (کافري ژبو) په نامه هم کله کله یادېږي د دوی د ژوند ځای د افغانستان د نورستان خاوره ده، په دغه ګروپ کې شاملې مشهورې ژبې دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاتي**: (کتايي) ددغې ژبې د ژوند ساحه د کتايي دره د پېچ سیند ښي اړخ دی) د ټولو ډیالکتونو اصلي ټاټوبی او زانګو ده او د رامګیل او کولوم (د-الینګار معاونین) د سیندونو تر منځ سیمه ده.

د دغو سیمو ژبه د کاتي لویدیځ دیالیکت دی. ختیځ یې د باشګل په دره کې دی چې د باشګل سیند په پاسني جریان (چترال کې) د کونړ د سیند مرستیال دی، دغه ژبه هم ددغې درې (باشګلي) په نامه یادېږي.

**وایګلي**: د( ګریرسون) په اصطلاح (وایي) یا (وایي، آیي): د دغې ژبې د موجودیت سیمه اساساً د وایګل دره (د پېچ د سیند د کیڼ اړخ مرستیال سیند) دی. د پېچ د درې په نورو وړو سیمو کې هم د دغې ژبې او یا دهغې دخپلوانو دیالیکتونو څرک لیدل کېږي.

**اشکوني**: د دغې ژبې د موجودیت سیمه د الینګار او پېچ د سیندونو تر منځ ساحه ده. کاتي، وایګلي او اشکوني ژبې یو تر بله سره نږدې خپلوي لري.

**پراسوني یا (پاروني) ژبه**: د دغې ژبې د موجودیت ساحه د (پارون) دره ده د دې درې سیند د پېچ د سیند کیڼ مرستیال دی. دغه ژبه له پورته یادو شویو درې ژبو څخه له دې کبله ډېره لرې ښکاري چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغې کې د یوې نا هندو اریایي غالباً مغلوبې (سوبسترات) ژبې څرګند عناصر موجو دي.**

**دامیلي ژبې: دغه ژبه د نورستاني او داردي مرکزي ژبو تـر منځــه د وصل د کړۍ حیثیت لري او کېدی شي چې د ځینو زیاتو ځانګړتیــاوو له مخې په مرکزي داردي ګروپ کــې شــامله وګڼــل شــي. د هغــې د موجودیت ساحه د (دامیل) دره ده چې د چترال د سیند په ښي خــوا کې پرته ده.**

## ب– داردي مرکزي ژبې:

**په دغه ګروپ کې ډېرې او بېخي ببلې ببلې ژبې شاملي دي چې تقریباً له بېلو بېلو کورنیــو څخــه دي. هــم پــه جغرافیــایي لحــاظ او هــم د فونیتیکي او مورفولوژیکي ځانګړتیاوو پر بنســټ دغــه ژبــې پــر دوو څانګو وېشل کېږي:**

**الف: شمالي څانګه**

**ب: جنوبي څانګه**

**شمالي څانګه له دوو ژبو یانې (کهووار) او (کلیشــي)څخه عبــارت ده چې تاریخي اوګمنټ (Augment) لري.**

**جنوبي څانګې بېخي بیل بیل ډولونه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغې کې ګواري، شوماشتي، وټه پوري او د هغو خپلوان دیالیکتونــه او ژبې (کلانګلي او ننګلامي) همدارنګه د پشه یي دیالیکتونه او تیرایي شامل دي.

ځینې فونیتیکي ځانګړتیاوې په ځانګړې توګه د ژبې یو اړخیز صــامت (lateral consonant) اوازونو (د تیرایي په استثنا) موجودیت دغه ژبــې سره نښلوي.

پشه یي: دا د یو لړ سره لرې وتلو د یالیکتونو (امکان لري د ژبو) یــوه ځانګه ده چې په هغې کې د نورستان پــه جنــوبي برخــو، الیشــنګ، الینګار د سیندونو په لاندنیو برخو، په دره نور، مزار درې په کــینې اړخ، د کونړ سیند په ځینو نورو غاړو، لکه د کاپیسا په الــه ســای، درنامــه، بولغین، ځینو نورو وړو وړو سیمو کې وربانديې خبرې کېږي.

شوماشتي ژبه: دغه ژبه د شوماشت د درې په پاسنۍ برخــه د مــزار درې په کینې اړخ د کونړ سیند د ښي مرستیال سیند پر غاړه خپره ده. (شوماشت د درې په لاندینۍ برخه کې پشه یي مروجه ده).

د ننګلامۍ دیالیکتونــه: دغــه دیالیکتونــه چــې اوس مــړه دي (او شوماشتي سره یې نسبي خپلوي لرله) په هغو د نــنګلام اوســېدونکو خبرې کولې او د پېچ او وایګل د سیندونو د یو ځای کېدلو پــه ســیمه کې ژوندي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاري چې له دغو دیالیکتونو سره ګلانګلي دیالیکتونو (ژبــو) زیات خصوصیات لرل (ګلانګل) د پېچ د سیند په ښي اړخ کې چې لــه وایګل سره یو ځای کېږي، پروت دی.

**وټه پوري ژبه:** په وټه پور او ګټر (ګتر ګل) کې یانې د کونړ پر سیند د پېچ د سیند، د تویېدلو له ځای څخه لږ څه پاس دغه ژبه ژوندۍ ده.

**ګواري ژبه:** (ډېر محققین دغه ژبه د (ګوارباتي) په نامــه یــادوي خــو خپله د ژبې د خلکو په اصــطلاح (ګــواري) ژبــه ورتــه ویــل کېــږي. د (نرساتي) په نامه هم یادېږي، دغه ژبه د چترال په سیمه کې د باشــګل د سیند په کښتنۍ برخه کې مروجه ده. شوماشتي، وټه پوري، ګــواري ژبې او د ننګلامۍ او ګلانګلۍ د پالیکتونه یو تر بله ســره ډېــر شــریک خصوصیات  لري او په مرکزي داردي ژبو کې یوه ځــانګړې څانګــه ده. ددغې څانګې یو شمېر دیالیکتونه د (دیګانو) په نامه یادېږي.

**تیرایي ژبه:** دغه ژبه د جلال اباد په جنوت ختیځ د (کوټ) په دره کې د پښتو ژبو وګړو تر منځه ژوندۍ وه، خو اوس مړه او یوازې منفرد لغات یې د خلکو په یاد دي. د تیرایــي ژبــې ویونکــو د کــونړ د درو د نــورو داردیانو د اکثریت په شان په دوو ژبو خبرې کولې چې دویمه ژبــه یــې پښتو وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کلشي ژبه:** دغه ژبه د چترال او باشګل د سیندونو د یو ځای کېدلو په سیمه کې د چترال په جنوب لویدیځ (زبوبوریت) (ګلشګوم) او (بېرار) کې ژوندۍ ده.

**خوواري ژبه:** دغه ژبه چې د (چتراری) (چترالی) همدارنګه (ارنیه) په نومونو یادېږي، د چترال د درې په پاسینۍ برخه کې ژوندۍ ده. د دغې ژبې یو لږ شمېر ویونکي د تاجکستان په بدخشان کې هم موجود دي.

## ج-ختیځې داردي (یا خاصي داردي) ژبې:

دغه ژبې په خپل وار پر درېو څانګو وېشل کېږي:

**لومړۍ څانګه-** دغه څانګه له هغو داردي ژبو څخه عبارت ده چې د پنجکوړې، سوات او اباسین د سیندونو په غرنیو برخو کې چې په (کوهستان) سره شهرت لري، ژوندۍ ده، ددغې څانګې اساسي ژبې دا دي:

**بشکاریک:** دغه ژبه د یوه دیالیکت له مخې (دیری) هم نومېږي، دغه ژبه د (دیر) په (کوهستان) د (پنجکوړې د سیند په پاسنۍ برخه کې) ژوندۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاروي ژبه**: دغه ژبه د سوات د سیند په غرنیو برخو کې ژوندۍ او لــه باشکاریک ژبې سره ډېره نږدې ده دا نږدېوالی دومره زیــات دی چـــې عملاً باشکاریک اوکاروي د یوې ژبې دوه ښاخونه دي، ددې ژبې د ژوند ساحه د باشکاریک په لویدیځ کې واقع ده.

**توروالي ژبه**: ددې ژبې د ژوند ساحه د سوات او پنجکوړې د سیندونو په غرنیو برخو کې له کاروي څخه په لاندینۍ سیمه کې پرته ده.

**مایاني ژبه**: ددې ژبې ساحه د اباسین په غرنیو برخو کې او د اباســـین او د سوات د سیند تر منځه له یوې خوا او له بلې خــوا د اباســین او د جیلم له بېلتون څخه تر یو ځای کېدلو پورې په دغو سیمو کـــې دغــه ژبه ژوندۍ ده. (مایایي ژبه) د هغې ژبې ویونکو له خوا نومېږي او زیــات شهرت په (کوهستانۍ) ژبه لري مایاني پر یو لړ دیالیکتونو وېشل کېږي چې د هغو په جمله کې یو مشـــهور یـــې (کانیـــاوال) نـــومېږي چـــې د (تانګیر) په (بانګاري) نومي کلي کې ژوندی دی. دغه دیالکت د (شینـي ژبې) په چاپېریال کې پروت دی.

**شیني ژبه**: دا ژبه د یو لړ دیالیکتونو مجموعه ده چې یو له بله ســـره لرې شوي او د ژبې ساحه یې اساساً په کشمیرکې د ګلګېـــت، تـــانکیر، چیلاس، د راس او دا هاني ځایونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پهار لوري یا (یا لولي) ژبه:** په دغه ژبه د چترال په ختیځ کې د څو وړو ووړو (شریت، بیړي، باشي، ګهوس، ګومادانو) اوسیدونکي خبرې کوي. د ژبنیو خصوصیاتو له مخې دغه ژبه شیني ژبې ته ډېره نږدې ده.

**کشمیري ژبه:** د دې ژبې د ژوند ساحه کشمیر دی چې د زیات شمېر وګړو ژبه ده.

## د داردي ژبو د وګړو شمېر:

((د داردي ژبو د ویونکو شمېر په یقیني ډول نه دی څرګند، د اټکل له مخې یې شمېر درې میلیونو وګړو ته رسېږي چې یوازې تقریباً دوه میلیونه یې (د ۱۹۶۱م کال د احصایې له مخې) په کشمیرۍ خبرې کوي. د اټکل له مخې ګهواري (۱۲۱)زره، په پشه یي (۱۰۰)زره، په شیني (۷۰) زره، په کوهستاني(۶۷)زره، په وایګلي (۵) زره، په پراسویي (۲۸۰۰)، په پهالورۍ (۱۰۰۰) تنه خبرې کوي.

د نورو داردي ژبو ویونکو احصایه نه ده اټکل شوې، د مذهب له مخې د داردیانو اکثریت مسلمانان دي، د نورستان اوسېدونکو د شلمې پېړۍ په سر کې او د کشمیر خلکو په څوارلسمه پېړۍ کې اسلام منلی دی. په کشمیر کې په سلو کې (۷۷)خلک مسلمان، (۲۰) بودایان او د (۱,۵) سکان دي.)) (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یادونې وړ ده چې د نفوسو پورتني ارقام کېدی شي د نفوسو له اوسني شمېر سره سمون ونه خوري، دا تقریباً د نیمې پېړۍ دمخه ارقام دي، خو کوم خطرونه چې یادو ژبو ته متوجه وو او متوجه دي، نه یوازې د یادو ژبو د ویونکو شمېر زیات شوی نه دی، بلکې کم شوی هم دی. تر دې پېژندنې وروسته غواړو داردي ژبو ته د ورپېښو خطرونو په باب لنډه رڼا واچوو:**

## داردي ژبو ته ورپېښ خطرونه:

**ځینې ژبپوهان په دې نظر دي چې ((ژبه د کلتور د عرادې په حیث له ټولنیز اوښتون سره یوځای تحول کوي. لکه څنګه چې بشر وخت پر وخت ددې ناپایه جهان له ناپېژندل شویو سیمو سره اشنا کېږي او پر زمان او مکان باندې برې مومي، هماغسې په ژبه کې نوي مفهومونه او نا اشنا تعبیرونه زیاتېږي او د ډېرو پېچلو عندي تصویرونو او پرمختللو افاقي مفکورو د افادې لپاره چمتو کېږي. سربېره پر دې د نړۍ د ولسونو ترمنځ د اجتماعي- اقتصادي او کلتوري مناسباتو په ترخ کې، په مختلفو بڼو، ژبني مناسبات هم ټینګېږي، د مثال په ډول، یوه ژبه نه یوازې د بلې ژبې کلمې راپوروي او خپلوي یې، بلکې تعبیرونه، مفکورې، سبکونه، اصطلاحات، د افادې ډول او حتی اوازونه هم ترېنه اخلي او ورو ورو یې خپلوي.)) (۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدغو تعاملاتو په بهیر کې ځینې ژبې خپل جوړښت له لاسه ورکوي، نورې ژبې پرې یرغل کوي، قوي ژبې د کمزورو ژبو ځای نیسي. دا یرغلونه له بېلابېلو لارو د بېلابېلو عواملو په نتیجه کې ترسره کېږي، دلته به هغو ته هم اشاره وکړو. خو تر هغو دمخه به ځینو نورو مسایلو ته چې داردي ژبې یې له ګواښ سره مخ کړي او ځینې یې له منځه وړي دي، هغو ته هم اشاره وکړو:

## ۱- د داردي ژبو موقعیت:

داردي ژبو ته تر ټولو دمخه غټ خطر دهغوی خپل جغرافیایي موقعیت دی. د دې ژبو د موقعیت په باب مو یادونه وکړه چې اکثره یې د سیندونو، غرونو او درو ترمنځ محاصره دي. یوه ژبه د سیند پر یوې غاړه او بله یې پر بله غاړه شتوالی لري، ځینو یې په یوې درې او ځینو یې په بله دره کې موقعیت درلود، ځینې د غره پر یوې غاړه او ځینې یې په بله غاړه کې ویونکي درلودل. همدا محصور حالت ددې سبب شو چې دا ژبې د ودې امکانات پیدا نه کړي او د تمدن له ښېګڼو بې برخې شي.

## ۲- د لیکدود نشتوالی:

تر ډېره وخته دې ژبو کوم لیکدود نه درلود، په ګړنۍ ډول ویل کېدی ، اوس یې هم اکثره لیکدود نه لري او ځینې مخکې تر دې چې لیکدود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړي، له منځه لاړې. ځینو بیا ډېر وروسته د پښتو او دري په تقلید له عربي لیکدود څخه ګټه پورته کړه، خو هغه هم په نیمګړي ډول، د ځینو غږونو لپاره یې توري تر سیم نه شو کړای، یانې له کره لیکدود څخه بې برخې شوې.

((کره لیکدود هله رښتینوالی موندای شي چې په اړونده ابڅې (الفبا) کې د هر غږ او ویي لپاره ټاکلی سمبول (توری-حرف) ولري او بیا د هماغې ټاکلې کره ژبې تر وسې وسې څرګندویي وکړای شي.)) (۵)

څرنګه چې دې ژبو لیکدود او بیا کره لیکدود خپل نه کړ، نو ځکه یې ونه کړای شول خپله ماضي له حال سره وصل کړي، پخوانی پانګه وساتي او نوې پرې زیاته کړي.

((د نوې ژبپوهنې له مخې دا د لمر غوندې جوته کړای شوې ده چې د هرې ژبې ویي پانګه له څلور ګونو رغنده توکونو (اجزاوو) څخه رغېدنه مومي.

۱- دیالکتیزموه (ګړویزونه) ۲- ارګاییزمونه (زړوېزونه) ۳- نیولوجیزمونه (نوېزونه) ۴- فارنیزمونه او اداپتېزمونه یا پورویيونه (پردي وییونه.)) (۶)

دا ژبې له پورتنیو ټولو معیارونو او بهیرونو څخه لرې پاتې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محصور جغرافیایي موقعیت، د لیکدود نه درلودل او یا هم د نیمګړي لیکدود ترڅنګ داسې نور عوامل هم شته چې دا ژبې یې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کړي دي.

دلته یې د ځینو یادونه کوو:

## ۱- دیني او مذهبي ملاتړ:

هره ژبه چې دیني یا مذهبي ارزښت ولري او په همغه ژبه مذهبي اثار لیکل شوي وي او بیا دا یې د دیني یا مذهبي نصاب اساس وي، تر هغه پورې چې خلک د هغه دین یا مذهب پلویان وي، هغه ژبه به هم ژوندۍ وي. تر دین او مذهب نور لوړ ارزښتونه په ټولنه کې نه وي، څرنګه چې خلک د خپلې وسې تر وروستي بریده دیني ارزښتونه پالي، نو په کومه ژبه چې دیني مفاهیم انتقالېږي، نو اتومات د ژبې د تبلیغ او خوندیتابه سبب ګرځي. د داردي ژبو ویونکو ساحې ته د اسلام مبارک دین وړانګې ډېرې وروسته ورسېدې، پخواني مذهبونه یې هم په داسې حالت کې له لاسه ورکړل چې له هغو څخه هم کوم لیکلي اثار ورته پاتې نه وو او نه یې لیک درلود،، اسلامي اثار هم ورته په خپله ژبه ونه رسېدل، نو ځکه داردي ژبې په بشپړ ډول د دیني اثارو له لـه شتوالي بې برخې شوې، دغه کار ددې ژبو دفاعي قوت ختم کړ، نو ځکه یې په اسانۍ سره د نورو ژبو اغېز ته لار خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- اقتصادي ملاتړ:

هره ژبه چې تر شا یې اقتصادي ملاتړ موجود وي، خلک یې د خپلو اقتصادي ګټو لپاره هم ژوندۍ ساتي، هم پراختیا ورکوي، هم یې خپله زده کوي، هم یې نورو ته زده کوي او هم یې له نورو زده کوي. ښه مثال یې انګلیسي ژبه ده چې د نړۍ یو زیات شمېر وګړي یې د اقتصادي ګټو او کار موندنې په خاطر زده کوي.

داردي ژبې د اقتصادي ګټې له نعمت څخه بې برخې وې او کومې چې اوس هم ژوندۍ دي، لا هم له دې ګټو بې برخې دي، نو ځکه یې د پراختیا او د زیات وخت لپاره د ژوند کولو چانس ډېر کم دی.

## ۳- علمي ملاتړ:

په هره برخه کې چې په یوه ژبه زیات علمي اثار ولیکل شي، هماغومره د ژبې د پراختیا، تداوم، مقاومت او زده کړې د اړتیا چانس زیاتوي. په نړۍ کې یو زیات شمېر مطرح ژبې د هغو د علمي ارزښت له مخې مطرح دي او پرته له دې چې پر چا کوم فشار راوړل شي، هغوی یې زده کوي. په داردي ژبو کې علمي اثار ښېخي کم دي او ان په نشت حساب دي، نو په دې خاطر د نورو ژبو ویونکي ددې ژبو د زده کړې اړتیا نه احساسوي او خپله ددې ژبې ویونکي هم مجبور دي، د خپلو علمي اړتیاوو د پوره کولو لپاره نورو ژبو ته مخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- سیاسي او دفتري ملاتړ:

د کومې ژبې ویونکي چې سیاسي برلاسی لـري او ژبــه یــې د دفتــر، دېوان او رسنیو ژبه وي، د ژبې د پراختیا لپــاره یــې ډېــره زیاتــه لاره اوارېږي، د داردي ژبو له جملې څخه یوه ژبه هم نه د دفتر ژبه ده، نه د دېوان، نه د مسجد او نه د ښوونځي او پوهنځي، نو لــه دې کبلــه یــې ځای همغو ژبو نیولی چې دا امتیازات او امکانات لري.

## ۵- د نورو ژبو اغېز:

کله چې ژبه یا ژبې پورتني ملاتړونه له لاسه ورکړي، نو د ژوند چــانس یې خورا را کمېږي. انګلیسي ژبه چې پورتني ټول ملاتړونه او ارزښتونه لري، د نړۍ په کچه زیاتــه مطــرح ده او ان ((ژبخــوره ژبــه هــم ورتــه وایي))(۷)

ژبخوره ژبه ورته ځکه وایي چې د خپل علمي، سیاســي، اقتصــادي او مذهبي ملاتړ او ارزښت له امله یې د نړۍ ګڼې ژبې تــر ســتوني تېــرې کړې دي. داردي ژبې چې د یوې ژبې د ساتنې، پالنې او پرمختــګ لــه اساسي ارزښتونو او ملاتړونو څخه بې برخې دي، نو ځکــه پــه اســانۍ سره د نورو ژبو تر اغېز لاندې راغلي او دا اغېز نــور هــم ورځ تــر بلــې زیاتېږي. پر داردي ژبو تر ټولو زیات اغېز د پښتو ژبې دی، چې ددې ژبو ترڅنګ او یا هم شاوخوا موقعیت لري او دا یوه طبیعي خبــره هــم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې د داردي ژبو د ویونکو دویمه ژبه پښتو ده، نو دوی چې کله خپله لومړۍ ژبه له لاسه ورکوي، اتومات یې ځای دویمه ژبه نیسي. د پښتو ترڅنګ، دري، اردو او انګلیسي ژبې هم په ځینو برخو کې د داردي ژبو پر ویونکو خپل خپل اغېز ښندلی دی.

# اخځونه


(۱)تاریخ تلفظ و صرف پښتو، امیل بن ونیست، لومړی ټوک، ۱۳۵۶ ل کال، ۲ مخ

(۲) د افغانستان ژبې او توکومونه، څېړنوال دوست محمد دوست، د افغانستان علومو اکاډمی، ۱۳۵۶ل کال، ۲۲۴ مخ.

(۳) د پښتو ژبې او ادبیاتو د دوکتورا پروګرام، پوهاند محمد صابر خویشکي، ۱۳۹۳ ل کال، ۳۵۲- ۳۵۹ مخونه.

(۴) لغت پوهنه، څېړنوال دوکتور دولت محمد لودین، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵ ل کال، ب مخ.

(۵) لیکلارښود، پوهاند دوکتور مجاور احمدزیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۶ل کال، ۱۵ مخ.

(۶) پښتو سیندکی، پوهاند ډاکتر مجارو احمد زیار، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۷۸ل کال، ۶-۸ مخونه.

(۷) کلتوري یون، (د لیکنو ټولګه) محمد اسمعیل یون، یون کلتوري یون ۱۳۸۷ل کال، ۲۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روښان جنګونه

## سریزه:

پیر روښان په پښتنو کې د لسمې هجـري قمـري پېـړۍ یـوه وتلـې، مذهبي، سیاسي او فرهنګي څېره ده، د روښان بشـپړه پېژندنـه او د هغه د ژوند او فکر د هر اړخ څېړنه او شننه خورا زیاتو پلټنـو، څېړنـو، لیکنو او د ګڼو اثارو لیکلو ته اړتیا لري. موږ په خپلـه دې لیکنـه کـې غواړو یوازې د روښان جنګونو ته اشاره وکړو. دا جنګونه چې یوه زیاته برخه یې تحمیلي ده، کېدی شي ټول په یوه لیکنه کې ځای نـه شـي، خو کوښښ کوو چې په لنډیز سره هغو ته اشاره وکړو. مخکـې تـردې چې دې باب ته داخل شو، ښه به وي چې د روښان ژوند او اثارو ته هم لږ تم شو. ځکه کله چې موږ د روښان ژوند او اثار، چې په واقعیت کـې ددې جګړې لپاره فکري اساس ګڼل کېږي، له نظـره تېـر نـه کـړو، د روښان د جګړې ماهیت او ژورتیاوو ته نه شو داخلېدلای.

## الف- د روښان ژوند:

پیر روښان پر (۹۲۸ هـــ ق، ۱۵۲۱ م) کـال د پنجـاب پـه جالنـد کـې زېږېدلی دی (البته د زېږېدو د کال په باب د روښانپوهانو ترمنځ د نظـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف شته). پلار یې (عبدالله) نومېده او د مور نوم یې بي بي ایمنــه (امنه) و، پلار یې د (شیخ محمد) زوی و او مور یې د (حاجي ابوبکر) لور وه.

د عبداله او بي بي امنې نیکونه سره ورونه وو، کله چې روښان وزېږېد، نو پلار یې پرې د خپل نیکه (بایزید) نوم کېښود.

بایزید (اوه کلن) و،چې د مور له لمنې جلا کــړای شــو، بایزیــد خپلــې لومړنۍ زده کړې له (ملا پاینده) څخه وکړې او قران یې هم له همدغــه ملا څخه زده او ختم کړ. دی له همغه کوچنیوبه ډېر ذهین انسان و، له مشرانو به یې پوښتنې کولې، مخلوقات به یې نه لیدل، خو د مخلوقاتو د خالق په باب به یې ډېرې پوښتنې کولې، د الله وېره یې په زړه کې وه او له ګناهونو به یې ځان ژغوره. بایزید له علم سره ډېر شوق درلود، خو کورنیو ستونزو او خنډونو پرې نښود چې په پرله پسې ډول زده کــړې پسې ووځي، له ناچارۍ یې سوداګرۍ ته مخه کړه.

بایزید چې د (شپاړسو کلونو) شو، د پلار په کور کې یــې غــلا وشــوه، مېرنۍ مور یې ددې غلا تور پر بایزید پورې کړ، وروسته بایزیــد تــه لــه خپلې میرې مور څخه د مرګ وېره پیدا شوه، نو ځکه یې له خپل پلاره ځان جلا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایزید چې کله له خپل پلاره جلا شو، نو ډېر وپنځېد، په سوداګرۍ کې یې ترقي وکړه او کاروبار یې ډېر پراخ شو، تره یې (شیخ حسن) چې د عبداله ورور و، خپله لور (بي بي شمسو) بایزید ته په نکاح کړه.

بایزید که څه هم په تنکۍ ځوانۍ کې د مسلسلو زده کړو له نعمته بې برخې شو، خو خپلې شخصي مطالعې ته یې دوام ورکاوه، د ځوانۍ په پیل کې یې ځینې فقهي کتابونه لکه (عمدت الاسلام، منیر) او نورلوستي وو، خو د معاملاتو او قضاوت چارو ته یې ډېر ځکه زړه نه ښه کاوه چې مبادا چاته ناسمه فتوه ور کړي.

وروسته یې بیا پر یو مقوله سترګې ولګېدې: ((لادین لمن لاشیخ له)) (څوک چې پیر نه لري، هغه دین نه لري) دی حیران شو، ده وویل، ما خو ځان د شریعت پیرو بللو، خو له دې مقولې څخه ښکاري چې څوک پیر نه لري، نو هغه بې دینه وي. بیا یې له یوه بل عالم څخه تپوس وکړ: هغه ورته وویل: پیر هغه دی چې مرید ته مجاهدې او ریاضتونه وروښیي، د خدای (ج) لوري ته یې لارښوونه وکړي. تر هغه وروسته بایزید د یو پیر په لټه کې شو، غوښتل یې د (خواجه اسمعیل) مرید شي، خو پلار یې مخالفت وکړ. بیا یې قران کې دا ایت شریف وموند چې (اولیک الذین هدی الله فبهدهم اقتده) (د هغه چا پیروي وکړه چاته چې خدای سمه لار ورښودلې ده) بیا بایزید د یو پیر په لټه کې شو، بیا یې خضر علیه السلام په خوب ولید او له هغه څخه یې دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښته، د بایزید په زړه کې چې د خدای (ج) د مینې کوم اورونه بل وو، د خدای په لاره کې یې خپلو هڅو ته دوام ورکړ، (۲۱) کاله یې ریاضت وګاله او تر دغه ریاضت وروسته د پیرۍ درجې اود خلکو د روحاني لارښوونې مرتبې ته ورسېد. ((استاد علامه عبدالحی حبیبي له (۹۵۵-۹۷۵هـ ق) پورې کلونه هغه مهال ګڼي چې پیر روښان په کې د کامل پیر درجې ته رسېدلی دی.))[1] ((بایزید یوه شپه خوب ولید چې یونیک سړی خلکو ته وایي: بایزید د هغه په خپل نوم سره مه بولئ؛ په ډېر ادب سره یې میا بولئ، بله شپه یې بیا خوب ولید چې په یوه ځای کې خلک سره ناست دي، زه هم ورغلم ټولو خلکو زما درناوی وکړ او ویې ویل چې پیر راغی، خو پیر بایزید په دې خبرو عمل نه کاوه، تر څو چې د الله تعالی (ج) څخه ورته اواز ونه شي، هغه و چې څو ورځې وروسته یې دوو تنو مریدانو اواز واورېد چې ای ملګرو! تر دې وروسته بایزید د هغه په خپل نوم سره مه بولئ، میاروښان او یا پیر روښان یې بولئ! د پیر بایزید دغو مریدانو چې دا اواز یې اورېدلی و، پیر بایزید ته راغلل او هغه یې له دغې پېښې څخه خبر کړ او نور ملګري هم له دې الهام څخه اګاه شول او تر دې وروسته ټولو ملګرو او یارانو پیر بایزید میا روښان او پیر روښان وبللو.))[۲]

د پیرۍ، ښه سرېتوب او خلکو ته د لارښوونې اوازې یې تر ملکونو خورې شوې، له هرې خوا څخه به خلک ورته راتلل او دده لاسنیوی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کاوه.

((بايزيد روښان يوه روحاني او تصــوفي لاره درلــوده، چــې زمــوږ پــه فرهنګي خېړنو کې د روښاني تصوفي لارې په نامه هــم يــادېږي، دده تصوفي لاره د اسلامي عرفان د وحــدت الشــهود د عرفــاني لارې پــه پيروي جوړه شوې چې کله کله د وحدت الوجــود خواتــه هــم تمايــل ښيي.)) [۳]

بايزيد لکه د اسلامي فرهنګ پخواني عارفان د خپلــې عرفــاني لارې لپاره (اته) مقامونه ټاکلي وو: شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت. او خپلو پلويانو ته يې، (اوه صفتونه) ټــاکلي وو. دا (اته) مقامونه او (اوه) صفتونه د بايزيد د صوفيانه لارې د شمزۍ حيثيت لري.

کله چې بايزيد د پيرۍ مقام ته ورسېد، نود خپلې تصوفي لارې د تبليغ او ترويج لپاره يې خپل مبلغان او استازي بېلابېلو ځايونو او ټولنــو تــه ولېږل. د وخت په تېرېدو سره ډېرې ښځې او ډېر نرينه د بايزيد مريدان شول.

دې حالت د واکمنو مغلو په بېلابېلو کړيو کې د روښان په باب بېلابېــل حساسيتونه راوپارول، خبره له روښان سره فزيکې جګــړې تــه ووتــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښان تر اوږدو مبارزو، سترياوو، کړاوونو او هڅو وروسته د (۹۸۵)هـــ ق کال په بهير کې وفات شو.

## ب- د روښان اثار:

بايزيد روښان د مذهبي او سياسي مبارزې تر څنګ د قوي قلم خاوند و، د خپلو خلکو د پوهولو، د خپلې عرفاني لارې د تبليغ او عامو خلکو ته د ديني او شرعي احکامو د ښوولو په منظور ده په پښـــتو، پارســـي، عربي او هندي ژبو اثار وليکل، دی په پارسي او پښـــتو ژبـــو منظـــوم او منثور اثار لري، چې له دغو اثارو څخه يې ځينې موږ ته پاتې دي:

## ۱- صراط التوحيد:

(( بايزيد دا کتاب په پارسي او عربي ژبو ليکلی ، يانې نيمـــايي مســـايل يې په پارسي او نيمايي يې په عربي ژبه بيان کړي دي، بايزيد روښان دا کتاب پر (۹۷۸هـ ق) کال) تاليف کړی دی، په دې کتاب کې بايزيـــد د خپل کوچنيوالي احوال، بيا د خپل دعـــوت خبـــرې راوړي او ورپســـې باچاهانو ته درې نصيحته ليکي، بيا د توبې اصول او د کامل پير صفات بيانوي او د کتاب په يوه باب کې د خپلې تصوفي لارې مقامونه تشريح کوي، دا کتاب پر ۱۹۵۲ع کال په پېښور کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- مقصود المومنین:

دا کتاب بایزید روښان د خپل مشر زوی (شیخ عمر) په غوښـــتنه پــه عربي ژبه لیکلی دی، ټول (۲۱) فصله دی، مقصــود المــومنین هــم د روښان پیر د روحاني او تصوفي اصولو بیان ته وقــف شــوی دی او پــه وروستیو بابونو کې یې د روښاني عرفــان د مقامــاتو تشــریح او بیــان راغلی دی. مقصود المومنین د (دوکتــور میــر ولــي خــان) لــه یــوې څېړنیزې سریزې سره پر (۱۹۷۵م) کال په اسلام اباد کې چــاپ شــوی دی.

## ۳- فخر الطالبین:

ددغه کتاب نوم په (حالنامه) کې راغلی دی، خو تر اوسه نــه دی پیــدا شوی، حالنامه وایي چې بایزید دغه کتاب د بدخشان میرزا سلیمان ته استولی و.

## ۴-حالنامه:

په دې کتاب کې بایزید خپل احوال لیکلي وو، د بایزید روښان حالنامه دده یوه مرید (علي محمد مخلص شینواري) بشپړه کړې او له سره یې لیکلې ده، دده د کورنۍ، اولاد، لمسیانو او مریدانو احوال یې هم پکــې راوړي دي. د حالنامې ځینې برخې د روښان د عقایدو او افکارو بیانونه هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د رسم الخط رساله:

دا رساله د خیرالبیان په پیل کې راغلې ده. په دې رساله کې بایزید د پښتو خاصو اوازونو، لکه: (ښ، ږ، څ، ځ، ډ، ړ) او نورو لپاره ځینې ځانګړي اشکال وضع کړي، چې دده دا وضع کړی لیکدود په پښتو ځېړنو کې د (روښاني لیکدود) په نامه یادېږي، دلته باید دا خبره واضح کړو، چې پښتو لیکدود (رسم الخط) د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې جوړ شوی، خو بایزید روښان په پښتو لیکدود کې اصلاحات راوستي دي.

## ۶- خیرالبیان:

د بایزید روښان ډېر مهم اثر خیرالبیان دی، چې په څلورو ژبو: (عربي، فارسي، هندي او پښتو) یې تالیف کړی دی. دا کتاب (څلوېښت بیانونه) لري، په خیرالبیان کې عقاید، شرعي احکام، عرفاني او اخلاقي مباحث راغلي دي، د حلالو او حرامو بیانونه، نور فقهي حکمونه او د عباداتو برخې په دې کتاب کې په تفصیل سره څېړل شوي دي.

د خیرالبیان د پښتو برخې د شکلي جوړښت په باب له پخوا څخه دا خبره معموله وه، چې بایزید خیرالبیان په مسجع نثر کښلی دی، خو (استاد رشاد) د خپلو عروضي څېړنو (خیرالبیان نظم دی که نثر؟) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه کې ویلي دي، چې که ټول نه وي، نو ددې کتاب یوه برخــه خــو هرو مرو نظم ده.

د خیرالبیان یوه ټوټه داده:

((مرګ به ورشي و سړي وته نګهان، نشته د سړي په دنیا کې تل د تله مقام او چار دې کا د ښېګړې په واړه اندامو هلــه کښــېوځي زمــا پــه راحت کې ادمیان.))

د خیرالبیان یوه نا مکمله نسخه په المان کې او یوه بشپړه نسخه یې د (حیدر آباد د کن) د (سالار جنګ) په میوزیم کې خوندي ده. د هند په نسخه کې ټول مضامین په څلورو ژبو راغلي او د المان په نسخه کې له لومړیو څو مخونو پرته د خیر البیان په نور متن کې د څلورو ژبو خیــال نه دی ساتل شوی.

د المان د نسخې له مخــې پــر (۱۹۶۷م) کــال پــه پېښــور کــې او پــر (۱۳۵۳ل) کال په کابل کې خیرالبیان چاپ شوی دی. د خیرالبیان یو متن ښاغلي قلندر مومند هم په پېښور کې چاپ کړی دی.

## ۷- تذکره:

د بایزید روښان دا رساله پر (۱۳۵۵ل) کال (د روښاني رساله) په نامه او پر (۱۳۶۴ل) کال (د علم رساله) په نامه چاپ شوې ده. د رســالې نــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(تذکره) ده، لکه خپله بایزید چې ویلي دي:

((دا تذکره د علم رساله نومینه))

په حالنامه کې هم دا رساله د (تذکره) په نامه یاده شوېده، په دې رساله کې دیني احکام او ځینې فقهي او عرفاني مسایل په نظم بیان شوي دي، د بایزید روښان دا رساله د اوږدو قصیده ډوله نظمونو په قالب کې اوډل شوې ده، پیل یې په دې بیت شوی دی:

میا روښان ویلي دینه دا سړي دې یې نغوږینه

او په پای کې یې دا لاندې بیتونه راغلي دي:

دا تصنیف د میا روښان دی سړی دې یې نغوږینه
خدای دپاره دې یې ساز کا چې غلطي پکې مومینه

## ۸- فرحت المجتبي:

دا د بایزید روښان یوه بله منظومه پښتو رساله ده، چې د پښتو د اولسي شعر په اهنګونو کې یې نظم کړې ده.

ددې منظومې رسالې پیل داسې شوی دی:

میا روښان ویلي دي په عنایت د الهي
زه به در بیان کړم یو څو رباعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې رسالې په پای کې یې ویلي دي:

میـــا روښـــان ویلـــي          دا رساله مې فرحت المجتبی

دا رساله تر اوسه نه ده چاپ شوې، مضامین یې د عرفاني مسایلو بیان ته وقف شوي دي. د بایزید روښان د اثارو له کتنې څرګندېږي، چې ده په عربي، هندي، پارسي او پښتو ژبــو د لیکلــو تــوان درلــود او خپــل عرفاني افکار او په دیني او شرعي تبلیغ پورې مربوط مسایل یــې پــه دغو څلورو ژبو بیان کړي دي.

ده په پارسي نثر او نظم او په پښتو د مسجح نثر ټوټې او منظــوم اثــار لیکلي دي.)) (۴)

## د روښان جنګونه:

د روښان تر دې لنډې پېژندنې وروسته اوس راځو د روښـــان جنګونـــو ته. د روښان جنګونه موږ په لومړي پړاو کې پر دوو برخو وېشلای شــو: لومړی د روښان فکري جنګونه چې زیاتره دده پر فکري اثارو او بحثونو راڅرخي او دویم د روښان فزیکي یا انګېزه یي جنګونه دي، په دویمــه کته ګورئ کې بیا د روښان جنګونه پر دوو برخو وېشلای شو، لومړی د روښان تر پیرۍ دمخه ناسیاسي جنګونــه او تــر پیــرۍ وروســته بیــا سیاسي، مذهبي او نور جنګونه، خو اوس راځو لومړی د روښان فکري جنګونو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف: د روښان فکري جنګونه:

له هغې ورځې چې روښان قلم ته ګوتې وروړې او پر څه لیکلو یې پیل وکړ، نو د خدای(ج) لاره یې خلکو ته وښودله، شهرت یې عام شو، پـر خلکو ګران شو او مریدان یې له شماره تېر شول، نـو مخالفتونـه هـم ورسره تر حده تېر شول.

کله چې د روښان د اثارو اوازه خپره شوه، تاثیر یې پر ولس عـام شـو، منښت او ګرانښت یې هر ځای ته ورسېد، نو مخالفتونه هم ورسره پـه همغه کچه زیات شول، که چېرې پیـر روښـان، (خیرالبیـان) نـه وای لیکلی، نو کېدی شي هېڅکله د هغه پر وړاندې (مخـزن الاسـلام) نـه وای لیکل شوی.

د روښان پر ضد فکري حملې لومړی د همغو کسانو له خوا پیل شـوې چې د مغلو له درباره خړوبېدل، (سید علي ترمذي) او (اخوند دروېـزه ننګرهاری) په دې ډله کې تر ټولو زیات مطرح شخصیتونه وو.

له روښانیانو سره د (سید علي ترمذي)، (اخوند دروېزه)، (اخوند پنجو) او ځینو نورو د مخالفت د علتونو په باب دوه ډوله نظریې شته، لـومړی نظریه داده چې له روښانیانو سره د نوموړو اخوندانو مخالفـت یـوازې مذهبي جنبه لري، باید هېڅ ډول سیاسي رنګ ورنه کړ شـي، دویمـه نظریه وایي چې روښاني نهضت یو سیاسي جنبش و او د دغه نهضـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفان په یوه یا بله بڼه د کورګاني امپراتورۍ پلویـان او اسـتازي وو. دلته غواړو د روښانیانو د مخالفو مذهبي لیکوالو لـه جملـې څخـه د ځینو مهمو هغو یادونه وکړو:

## ۱-سید علي ترمذي او له روښان سره د هغه مخالفتونه:

((سید علي ترمذي یا پیربابـا پـر (۹۰۸ هــ ق) کـال زېږېـدلی او پـر (۹۹۱هـ)ق کال وفات شوی دی. سـیدعلي ترمـذي پـه اصـل کـې د (ترکستان) و، پلار یې د (همایون پاچا) په پوځ کې صـاحب منصـب و، کوم وخت چې (شېرشاه سوري) همایون ته ماتې ورکړه او همـایون در په در ګرځېده، نو د سیدعلي پلار هم ورسره ملګری و. ده لـه اشـرفو ډکه همیانۍ خپل زوی (سیدعلي شاه) ته ورکړه او په خپله له همایون سره ولاړ، د شېرشاه سـپاهیانو دغـه همیـانۍ لـه سـیدعلي څخـه واخیسته، بیا کوم وخت چې د همایون زوی (اکبر) پاچاهۍ ته ورسېد، سیدعلي له پیر روښان سره مقابله شروع کړه.)) د اخوند درویـزه پـه (تذکره الابرار والاشرار) کې په وضاحت سره لیکل شـوي دي، څرنګـه چې پیر بابا د شېرشاه له لښکر سره په پښتو خبرې ونه کړې، نو هغوی فکر وکړ چې دی به د ګورګانیانو استازی وي او د څه هدف لپاره بـه د پښتنو سیمې ته راغلی وي، نو ځکه یې له ده څخه هاغه دوه همیـانۍ چې پلار یې ورکړې وې او یوه یې د سرو او بلـه یـې د سـپینو زرو وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیستې سیدعلي ترمذي دا هم وایـي چـې د شېرشـاه سـپاهیانو غوښتل چې هغه د همایون پلویانو په نامه ووژني، خو د خدای پاک پـه فضل له مرګه وژغورل شو. دی د پیر روښان په باب وايي: (( قـوي بـلا برین مردم افاغنن نازل شده معلوم نیست که نابود ګردد چی در ایـن حدود پادشاه اسلام نیست زیرا که توضیح دین از علما است و تقویـت دین از امرا است.)) دې کې هېڅ شک نه شته چې د روښـان تحریـک که په هر فکري لوښي کې و، د روښانیانو بریـالیتوب د مغلـو د واک د ړنګېدو په مانا و. سیدعلي ترمذي چې پلار يې هم د مغولو په دربار کې لوبېدلی و، یانې پلار يې د اکبر پاچا له پـلار (همـایون) سـره ملګرتیـا لرله،او زوی يې د همایون له زوی (اکبـر) باچـا سـره ملګـری و. نـو د همدغه راڼه واقعیت له مخې سړی ویلای شي چې له روښـان سـره د سیدعلي ترمذي فکري جګړه که څه هم د مذهب په جامه کې وه، خو اساسي علت او انګېزه يې سیاسي سـرچینه وه. سـیدعلي ترمـذي د خپلو اهدافو لپاره یو بل شاګرد وروزه چې اخوند درويزه نومېـده، اوس راځو همدغه اخوند درويزه ته!

## ۲- اخوند درويزه او له روښان سره فکري جګړه:

((اخونددرويزه د ګدای زوی، د سعدي لمســی، د درغـان کړوســی، د احمد کوسی، د متي کودی او د جیون پردی دی. جیون په لغمان کــې اوسېده او درغان له له لغمان څخه د ننګرهار پاپین تـه راغـی او دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی سعدي د سوات او بونیر سیمو ته ولاړ. د اخوند درویزه پلار گـدای د بونیر په سیمو کې استوگنه درلوده او په همدغه ځای کې د (۹۴۰هـ ق) شاوخوا اخوند درویزه دنیا ته سترگې پرانیستې.

اخوند درویزه له (ملا منزر، ملا مصر احمد او ملازنگي) څخه زده کـړې وکړې او د خپلې علمي سویې د لوړولو لپاره هندوستان ته لاړ او هلته یې درس ووایه، کله چې له هندوستانه بېرته راوگرځېد، نو د (سیدعلي ترمذي) (۹۰۸- ۹۹۱ هـ ق) چې په پیربابا مشهور دی، مرید شو، دده له خوا د خلافت اجازه ورکړل شوه او دده خلیفه شو.))(۵)

درویزه پر (۱۰۲۸هـ ق) کال وفات او د پېښور په هزارخانۍ هدیره کـې خاورو ته وسپارل شو. د اخوند درویزه تـر ټولـو مشـهور اثـر (مخـزن الاسلام) دی، چې له روښانیانو سره د مخالفت تر اغېـز لانـدې یـې د هغوی د مقابلې لپاره لیکلی دی. درویـزه د مخـزن ترڅنـگ (ارشـاد الطالبین، ارشاد المریدین او تذکره الابرار و الاشرار) اثار هـم لیکلـي چې دا درې واړه په پارسي ژبه دي، خو تر ټولو مشهور اثـر یـې همـدا مخزن الاسلام دی چې دده د بېلابېلو لیکلـو او ترجمـه کـړو رسـالو مجموعه ده. (د قصیده امالي، قصیده بـرده، د بیـان عقایـد نسـفیه، خلاصه کیدانی او د لسو فرقو د عقاید بیان) رسالو ژباړې په مخزن کې شاملې دي. (د تجوید رساله) او د درویزه (الفنامه) هم پـه دې مخـزن کې خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځېړونکو له روښان سره د دروېزه د مخالفتونو او فکري جګړو په بــاب ډېر څه ویلي دي، اکثره په دې نظر دي چې د دروېزه له خوا دا فکــري جګړې او د مخزن لیکل اساساً سیاسي انګېزه لري او د مغلو له درباره الهام اخلي، سره له دې چې ځینې لیکوال او ځېړونکي فکر کوي چــې هغه وخت په پښتنو کې بېلابېلې مذهبي فرقې وې، نو له روښان ســره مخالفت هم د همدې مذهبي او فرقه یي انګېزو پر اساس و، خو ځینې نور بیا دا نظریه ردوي او وایي: (( دا څرګنده خبــره ده چــې د بایزیــد روښان په زمانه کې ډېرې زیــاتې مــذهبي فرقــې موجــودې وې او ان خپله اکبر بادشاه هم د (دین الهي) په نامه یو نوی دین را ایستلی و، نو چېرته و اخوند دروېزه چې د اکبرخان په مقابل کــې دمــذهبي جهــاد جنډه پورته کړي؟ برعکس ده د اکبر پر مخالف او سیاسي رقیب باندې د کفر فتوا ولګوله. اخوند دروېزه پر دې ښــه پوهېــده چــې روښــان د هندوستان د پاچاهۍ خیال په سر کې لري، لکه چې وایي: (( دی ها له له ځانه خوښ شو چې مهدي شوم د مهدي چارې به کړمه لښکرې بــه کړم بنیادې هندوستان به ونیسمه. اوازې یې کړلې ګډې: هر چــې آس لري راځي آس به ما پورې باسي. د اکبر بادشاه ټنګې واړه زما دي.)) [۶]

اخوند دروېزه د پښتنو اتــڼ تــه ګمراهــي وایــي، خــو د ګورګانیــانو د درباروونو پر تنخواوو سترګې پټوي. همدارنګه دی د روښان پیروانو تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله بد وايي چې هغوی سندرې ویلې، خو د اکبر دربار چې له سندرغاړو ډک و هغو ته څه نه وايي.

د پښتو یو وتلی لیکوال عبدالاکبرخان اکبر وايي: ((تر څو پورې چې بایزید د کورګانیانو د امپراتورۍ په مخالفت بیرغ نه و پورته کړی اخوند درویزه دده په هکله داسې لیکلي وو چې هغه پابند د شریعت و، طاعت او عبادت کې به مشغول و، ډېر هوښیار، ځیرک او دانا سړی و او په حکمت هم پوهېده، خو وروسته اخوند درویزه پر هغه فتوا ولګوله چې بایزید ملحد دی، پیر تاریک دی او خلک بې لارې کوي)).

که څه هم اخوند درویزه پخپله دا خبره تصریح کړې ده چې له بایزید سره دده مخالفت فقط پر دیني اصولو بنا دی او د اهل سنت او جماعت له عقایدو څخه مدافعه کوي، خو احتمال لري چې درویزه به ځینې کترې او کنایې اورېدلې وي او یا به په خپله دې ټکي ته ملتفت شوی وي چې د روښانیانو پر ضد دده د تبلیغاتو انګېزه په بل ډول هم توجیه کېدی شي. درویزه د خپل ځان د تبریه کولو لپاره کوښښ کړی دی او خپله غایه او انګېزه یې د روښانیانو په مخالفت کې داسې بیان کړې ده: ((درویزه چې څه بیان کا واړه دین د پاک نبي بیانوینه، پښتانه په بله ژبه نه پوهېږي، ځکه دی یې په پښتو وروښیینه. واړه دین د پاک نبي بیانومه وپوهېږئ مومنانو، ددې پاک نبي له دینه په دا خپله ژبه پوه شئ افغانانو بل غرض مې په کې نه شته مګر دا چې شفقت کړم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامیانو هر چې دا باور يې نه وي څه تهمت راباندې وایي هغه کس دې ودرېږي له بې دینو له بې ایمانو.)) (۷)

اخوند دروېزه د روښان په باب خپله فکري جګړه جاري ساتي او وایي: ((پیر تاریک قایم اللیل و صایم الدهر دی. لیکن دننه په زړه کې کافر دی.)) حمزه بابا په دې باب وایي: (( اوس نو دا فیصله خو به انصاف پسند لوستونکي کوي چې کوم انسان ټول عمر روژه او ټوله شپه په لمانځه ولاړ وي، هغه کافر کېدی شنګه شي او له زړه يې څوک خبر وو؟))

ځینې څېړونکي په دې نظر دي چې له روښانیانو سره د اخوند دروېزه د دښمنۍ انګېزه فرقه يي ده، خو علت يې سیاسي دی.

په مجموعي ډول د روښانیانو د غورځنګ په باب پوهان وایي چې: ((د روښانیانو نهضت د شکل په لحاظ عرفاني او دمحتوی له مخې نشنل عوامي حرکت و، هغه مورخان چې شکلیاتو او ظواهرو ته ارزښت ورکوي، طبعاً روښاني نهضت په سطي بڼه مطالعه کوي. یو شمېر مورخان د ظاهري پېښو پر لیکنه بسنه نه کوي، بلکې غواړي چې د ټولنیز انکشاف د عمومي قوانینو په رڼا کې د پېښو اصلي عوامل په ګوته کړي.)) (۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولیز ډول ګڼ پوهان همدا خبره راټولوي چې که د اخوند درویزه او روښان ترمنځ د اختلاف انګېزه ظاهراً هر څومره مذهبي او فرقــه یــي بڼه ولري، خو ددې ټولو انګېزو تر شا سیاسي علت او قوت پروت دی.

(د یوسف زي پټهان) کتاب کې چــې پــه اردو ژبــه لیکــل شــوی دی، روښاني نهضت ته د ازادۍ غوښتنې تحریک ویل شــوی دی. د کتــاب مولف (الله بخش یوسفي د محمد عبدالشکور په حواله وایي چې بایزید انصاري یو صحیح مبلغ، رهنما، سیاست دان او ادیب و، خــو حضــرت اخون درویزه د مذهبي تعصب، ذاتي عناد او سیاسي اختلافاتو په وجه ده ته ملحد او زندیق وویل، مولف د اخوند درویزه په باب لیکي چــې د هغه اصلي نوم هم چاته نه دی معلوم، خو دی په خپله شجره کې وایي چې د مور له خوا تاتاری مغل او د پلار له طرفه یونانی یــم. دی لیکــي چې اخون درویزه پښتو ژبې ته د پیر روښان د مخالفت په برکــت ډېــر خدمت کړی دی.

استاد پوهاند حبیبــي د خپلــې څېړنــې د نتیجــې پــه توګــه وایــي: ((روښانیانو پر پښتو باندې د ګورګاني دولت د استبداد په مقابــل کــې قیام وکړ او د ازادۍ غوښتنې بیرغ یې پورته کړ، خو بابري دولت ددغه نهضت د مخنیوي لپاره کوښښ وکړ چې پښتانه په خپل مینځ کې سره وجنګېږي، نو سیدعلي ترمذي او اخوند درویزه چې له قدیمه یــې لــه ګورګانیانو سره خپلولي درلودله، ددې کار لپاره وګومارل شول.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- له روښان او روښانیانو سره د اخوند پنجو فکري جنګونه:

د اخوند درویزه په معاصرینو او مریدانو کې یو بل ډېر مشـــهور ســـړی (اخوند پنجو) دی. دده اصلي نوم (عبدالوهاب) و، خو په خلکو کـــې د (اخوند پنجو) په نامه مشهور و. ځینې وايي چې (سرمست روښاني) د ملنډو په ډول پر ده باندې د (پنجو) نوم ایښی و.

سرمست روښاني به ویل چې عبدالوهاب د توحید او عرفان له مسایلو څخه نه دی خبر او تر پنج بنا زیات پر بل څه نه پوهېږي، نو ځکـــه یـــې هغه (اخون پنجو) باله، خو اخون پنجو چې دا خبـــرې واورېـــدې، ویـــې ویل: ((ازین چه بهتر خواهد بود که لقب من معلم پـــنچ بنـــای اســـلام باشد و دعا کرد که حق تعالی این لقب برای من تا قیامت قایم بدارد.)) اخوند درویزه په خپل اثر (تذکره الابرار و الاشرار) کې هغه ستایلی او د هغه په باب وايي (( ملا عبدالوهاب (مانکراوی) دانشمند مدقق و فقیه محقق است..))

((اخوند پنجـــو لـــه ګورګـــاني پاچاهـــانو ســـره کلکـــه رابطـــه درلـــوده، (عبدالحلیم اثر) لیکي چې اخوند پنجو له ګورګاني واکمنانو سره ددې لپاره دوستانه تعلقات ساتل چې د هغوی په مرسته روښانیان او نـــور د باطلو عقیدو خاوندان (دده په نظر) ورک او نابود کړي. اخوند پنجو بـــه د ګورګانیانو مخالفان باغیان بلل او هغوی به یې تشویقول چې د اسلام پاچاهانو ته غاړه کېږدي. د سیدعلي ترمذي، اخوند درویـــزه او اخـــون

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجو له ویناوو څخه دا ټکي څرګندېږي چې دوی د پښتنو ازادو سیمو ته د یاغیانو په سترګه کتل او په دې یې ډېره خواشیني ښودله چې د غرو خلک د امپراتورانو او حاکمانو تر نفوذ لاندې نه دي.))

دروېزه په مخزن الاسلام کې د پیر روښان په باب وایي چې هغه هرې خواته پیغامونه ولېږل، نو زه او پیر دستګیر سیدعلي ترمذي په بایزید پسې ورغلو. (( پس این فقیر هم همرا برفتم و او را چنان در دعوی خجل و شرمسار ساختم که سخن و دم زدن در حضور نتوانست تا لقب او را پیر تاریک کردیم و هکذا به کرامت و مرات ګاهی با حضرت پیر و ګاهی به تنهایی می شدم و این ملحد را خوار و خجل میساختم اما از ین جا که دین و ملت بی حکومت حکام اسلام تقویت نمی یابد فایده نکرد زیرا که بادشاهی اسلام نبوده تا سر او را ببرند.))

لکه څنګه چې دمخه مو وویل اخوند پنجو د اخوند دروېزه پلوی او دوست دی او دروېزه هم د سیدعلي ترمذي مرید او خلیفه دی. سربېره پر دې اخوند پنجو د بابر او همایون له خوا پالل شوی او سیدعلي د ګورګانیانو خوریی دی، دوی ټول د پښتنو ازادي خوښوونې او استقلال غوښتنې ته بغاوت او فساد وایي او د روښانیانو پر ضد سخت پروپاګند کوي، اخون پنجو جلال الدین اکبر ته چې د (دین الهي) خپرونکی دی او ماینه یې بت پرسته ده، دعا کوي چې پر یوسفزیو مسلمانانو، عبدالله خان ازبک او روښانیانو باندې بری ومومي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم څرګنده ده چې جلال الدين اکبر د ټولو مذهبي فرقو په نسبت له چشتيانو سره زياته علاقه لري او سيدعلي، درويزه او پنجو درې واړه د همدې طريقې پلويان وو.

لنډه دا چې د پنجو، درويزه او سيدعلي چې هر څه له لاسه او فکره پوره وو، هغه يې د روښان او روښانيانو پر وړاندې تر سره کړل، تر پنجو وروسته د درويزه نورو مريدانو هم د روښان او روښانيانو پر ضد ډېرې فکري جګړې او هڅې کړي، خو دلته د هغو ټولو له يادولو څخه تېرېږو.

## ۴- له روښان سره د ځينو نورو ملايانو مناظره:

روښان سره نه يوازې سيد علي ترمذي، اخوند درويزه او د هغو مريدان مخالف وو او وخت پر وخت يې د يو بل نظريات رد کړي، بلکې نور ملايان، اخوندان، ملکان، شيخان، درويشان او نور خلک چې د ترمذي او درويزه په فرقه يې ګروپونو پورې تړلي نه وو، هغوی هم د پير روښان له نظرياتو سره مخالف وو، د پير روښان نظريات دا مهال تر نورو نوي وو، طبيعي خبره ده چې هرې نوې پديدې سره په طبيعي ډول حساسيت ښودل کېږي، ددې ډول اشخاصو له جملې څخه چې د روښان له نظرياتو سره مخالف وو، (ملک لودي، مولانا ذکريا) او د هغه زوی (احمد) شامل وو، دوی له بايزيد سره مناظرې ته کېناستل، مولانا ذکريا ورته وويل چې ای بايزيده له خدای (ج) نه ولې نه وېرېږې،هغه څه وايي چې د ويلو نه دي او هغه څه کوې چې د کولو نه دي؟ يو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځان ته پیر وایې، دویم وایې چې ماته الهام کېږي، دریـیم دا چــې خلک منافق بولې او هغه چې د کولو نه دي هغه دادي چې یو خــو پــه درواغو پیري کوې، دوهم د پلار او ورور په خبرو عمل نه کوې، دریېم دا چې کبرجن شوی یې، د مســلمانانو دیــن کــې دې درز اچــولی دی او ډېرې نورې پوښتنې یې وکړې. بایزید هرې پوښتنې ته په خورا تفصیل او دقت او د ایتونو او حدیثونو په رڼا کې ځوابونه ورکړل، له هغې جملې څخه یې د خپل پلار او ورور د خبرو د نه منلو په باب وویل: ای مولانــا ذکریا! زه چې د پلار او ورور خبره نه منم، هغه په دې خاطر ده چې لــه دین څخه مې دنیا ته مخ اړوي او هر څوک چې بل څــوک د حــق لــه لارې څخه دنیا ته اړوي نو داسې خلک خدای پاک جاهلان بللــي دي، لکه کله چې نبي علیه السلام د نبوت اعلان وکړ، نــو ابــو طالــب، ابــو جهل، ابو لهب او نورو ورته وویل چې دغه لار پرېږده هغې لارې ته اوړه ورکړه چې زموږ او نورو خلکو د دود او دستور لار ده. همداســې نــورې پوښتنې یې ورته ځواب کړې. بیا پیر روښان له ملا ذکریا څخه پوښتنه وکړه: ای ذکریا زه درڅخه د (الف) او (ب) د تورو د معنــی او حقیقــت تپوس کوم، که ځواب دې راکړ نو منم چې ته د توحید پر علم پوهېږې، ذکریا ورته وویل: ښه ده تپوس وکړه. پیر روښان ورته وویل چــې ټــول څو توري دي؟ ذکریا ځواب ورکړ چې نه ویشــت دي، پیــر روښــان ور څخه بیا پوښتنه وکړه چې ووایه کوم توري په خدای تعالی پورې تعلق لري، کوم یې په پیغمبرانو پورې او کوم کوم یې په جنت اودوزخ پورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا ذکریا ځواب ورنکړای شو، پیر روښان ورته وویل چې د نــه ویشــت تورو ځواب نه درځي نو د توحید پر علم به څنګه پوی شي!؟ (۹)

## ب- د روښان انګېزه يي او فزيکي جنګونه:

مخکې تر دې چې روښان سياسي، فکري او مذهبي بلوغ ته ورسېږي په کورنۍ کچه له یو لړ داسې ستونزو او مشکلاتو سره مخ شو چې کــه فزيکي جګړه ورته ونه وايو، نو داسې ذهني جګړه خو ورته ويلای شــو چې روښان يې تر فزيکي هغې هم زيــات ځــوروللی او کړولــی دی، دې ډول تاوتريخوالی که څه هم سياسي انګېزه او علتونه نه درلودل، خــو روښان ته يې ډېر زيات علمي او اقتصــادي زيانونــه اړولــي دي، دلتــه غواړو دې ډول ټکرونو ته هم نغوته وکړو.

## ۱- له زده کړو بې برخې کېدل:

کله چې بایزید قران کریم ختم کړ، نو غوښتل يې چې خپلې زده کړې پسې وغځوي، علم سره يې ډېره علاقه وه، خو د میرې مور (فاطمې) د پټ او ښکاره مخالفت او همدارنګه د پــلار د سســتيا او څــه نــا څــه مخالفت له امله يې د نورو زده کړو مخه ونيول شوه، روښــان دې کــار خواشينی کړ، خو هېڅ چاره يې نه درلوده، ان تر دې چې روښــان لــه (ملا پاينده) څخه قران ختم کړ، د هغه وخت رواج و چې ملا ته به يــې اس، غوا او يا پسه په ډالۍ کې ورکول، خو د روښان پــلار (عبــدالله)، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښان لپاره دا ډالۍ ورنه کړه او روښان د خپلو همصنفیانو له خوا لــه پېغور سره مخ شو، دې کار پر روښان سخت بد اغېز وکړ، دا عمل ددې سبب شو چې روښان نور درسونه پرېږدي او تجارت ته مخه کړي، ان تر دې چې له خپله پلاره یې د (قدوري) او (لباب الاخبار) کتابونه لوستل، هغه یې هم پرېښودل او تجارت ته یې مخه کړه.

۲- له میرې سره خوابدي او ټکر: روښان لا ډېر کوچنی (۷) کلن و چې د مور بي بي (امنې) له نعمته بې برخې شو، ((د روښان پلار (قاضي عبدالله) دده پالنه خپلې بلې مېرمنې (فاطمې) ته وسپارله او روښــان یې پر دې پوه کړ ، د میرې عزت کوه چې رخه او کینه درسره ونه کړي، د روښان له ډېر ښه چلند سره سره بیا هم داســې وخــت راغــی چــې میرې یې پرې د غلا تور پورې کړ. دا وخت بایزید د شپاړسو کلونو و، د عبدالله له کور څخه د ګــاڼو او پیســو غــلا وشــوه، د عبــدالله ښــځې (فاطمې) پر بایزید ګومان وکړ، عبدالله بایزید ته وویل چې که دا غلا تــا کړې وي نو ښه به وي، چې اقرار پرې وکړې، خــو بایزیــد انکــار وکــړ، فاطمې ورته وویل، چې سوګند دې وخوري، بایزید ځواب ورکړ چــې دا مال زموږ د ټولو شریک دی، که ټول سوګند وخوري، نو زه به یــې هــم وخورم، په دې خبره فاطمه ډېره په غوسه شوه، درې کاله یې له بایزید سره خبرې ونه کړې، بایزید ته چا وویل چې دعوه پــر تــا ده، ســوګند درباندې لازم دی، بایزید سوګند ته تیار شو، خو فاطمې ورتــه وویــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سوګند پر ځای هسې ووایه چې که دا غلا ما کړې وي، نو د خپلو نېکیو ثواب مې دې ستا شي، بایزید همداسې وویل، خو فاطمه خوشاله نه شوه.))[۱۰]

## ۳- له پلار سره تاوتریخوالی:

د روښان دویم کورنی تاو تریخوالی یا نسبي جګړه له خپل پلار (عبدالله) سره د مال د وېش پر سر وه، روښان د خپلې میرې او پلار سلوک دېته اړ کړ چې له خپل پلاره د بېلتون غوښتنه وکړي او د کورنۍ په شریک مال کې د خپلې برخې د اخیستو غوښتونکی شي. دې کار دده او پلار تر منځ اوړدې نانډرۍ رامنځته کړې، جرګې او مرکې په کې وشوې، خو بیا یې هم پلار حاضر نه شو چې ده ته خپله برخه ورکړي. یو وخت یې د پلار پر کور اور ولګېد، روښان بیا هم خپل پلار سره مرسته وکړه، تر اوږده ځنډ او بېلا بېلو پلمو وروسته یې روښان ته یو څه مال او یو غلام په برخه کې ورکړل. غلام یې د خپل پلار په ټینګار د موقت وخت لپاره ببرته هغه ته ورکړ، خو هغه غلام سره شخړه وکړه، په پای کې د روښان او پلار تر منځ یې بیا د غلام پر سر شخړه رامنځته شوه، لنډه دا چې د مال د وېش پر سر د روښان او پلار تر منځ اوږده خوا بدي رامنځته شوه، خو کله چې روښان له خپل پلاره جلا شو، اقتصاد یې ډېره وده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ترڅنګ روښان په کوچنیوالي کې له نورو ګڼو ستونزو او ټکرونــو سره مخ شوی چې د هغو ټولو له تفصیل څخه تېرېږو.

## ۴- د پیر روښان د تړلو هڅه:

کله چې پیر روښان فکري بلوغ ته ورسېد، د پیرۍ پړاوونه یې ووهــل او پنځه کلنه څله یې تېره کړه، نو بیا یــې پــه جــار د خــدای تعــالی د توحید چغه پورته کړه، نو ډېر خلک یې د پیغام اورېدو ته راټول شــول، دا مهال ده پر یو شمېر خلکو د شرک تور پورې کړ چې لا یې هم خدای (ج) په اساسي مانا او د وحدانیت پــه مفهــوم نــه دی پېژنــدلی، ده دا خلک مشرکان او منافقان وبلــل، دې کــار ځینــې پیــران، عالمــان او درویشان د روښان دښمنۍ ته وهڅول، (عبدالله) او (یعقــوب) د ښــار ځینې غافل عالمان او جاهل پیران او ملکان سره راټول کړل او هغو ته یې وویل چې بایزید لېونی شوی دی، راځئ چــې هغــه وتــړو، پــه دې کسانو کې دغه کسان شامل وو: ((عبدالله او یعقوب (د پیر روښان پلار او ورور) (ملا ذکریا) له اتو واړو زامنو او یوه لمسي سره، (ملک خواجــه ویس) له شلو تنو سره، (ملک خواجه بن میرو او عثمان) له نهــو تنــو سره، (عثمان بن ممه او علي خان) له پنځو زامنو سره او دغــه راز نــور ګڼ خلک، کله چې د روښان مریدان او ملګري خبر شول نو هغوی هم د روښان ملاتړ ته راودانګل، د دواړو خواو تر منځ مناظره پیل شوه، لــه روښانه ډېرې پوښتنې وشوې، هغه مستدلل ځوابونــه ورکــړل، د پیــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښان منطق او دلیل پر مخالفینو ښه ونه لګېد، خبره تاوتریخوالي ته ووته، د مخالفینو له جملې څخه د روښان پـلار (عبـدالله) او ورور یـې (یعقوب) وویل چې روښان لېونی شـوی دی، د روښـان ورور یعقـوب وویل چې روښان زما ورور دی خو لېونی شوی دی، باید ویې ترم، چـې کله په خود شو بیا به یې ببرته خوشې کړم، خو روښان ورته وویل چې ته د خدای له احکامو او د پیغمبر (ص) له حدیثو ناخبره یې اول بایـد زه تا وتړم، د دواړو خواو تر منځ تاوتریخوالی تورې ایستلو ته ورسـېد، خو په پای کې څو ملکان او مشران د دواړو تر منځ شـول او د جګـړې مخنیوي وشو.

## ۵- د اغاز پور جنګ:

بایزید د خپلې لارې د تلقین لپاره یو وخـت خپـل ټـاټوبی پرېښـود، (تیراه) ته ولاړ او د تیراه د استوګنې په موده کې ډېر اپریدي، ورکـزي، بنګښ او تیراهي دده تابع شول او دده لاره یې غوره کړه.

له تیراه نه پېښور ته لاړ، پدې سیمه کې یې هم ډېر خلک مریدان شول ، د پیرۍ اوازه یې هرې خواته خوره شوه او شهرت یې ډېر شو.

دغه وخت (ملک حبیب الله) ورسره مخالف شو او د پېښور مغلي حاکم (جانس خان) ته یې دده شکایت وکړ، جانس خان څو تنه پوه کسان د بایزید د احوالو د معلومولو لپاره ده ته ولېږل، هغو خلکو چې له بایزیـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خبرې وکړې، بېرته جانس خان ته راغلل او ورته یې وویل چې بایزید یو کامل درویش دی، بیا نو جانس خان ملک حبیب الله راوغوښت او ویې راته. دده بیا هم د زړه سوده ونه شوه، کابل ته ولاړ چې د (میرزا حکیم) وزیرانو ته د پیسو د ورکولو په وسیله د بایزید د مرګ حکم ترلاسه کړي، خو میرزا حکیم بایزید کابل ته وغوښت او په کابل کې میرزا حکیم، (قاضي خان) ورولېږه، تر خبرو، مباحثې او پوښتنو ځوابونو وروسته قاضي خان، میرزا حکیم ته وویل چې بایزید کامل پیر دی.

د کابل په همدې سفر کې میرزا حکیم بایزید ته وویل چې: پښتانه ستا په قدر څه پوهېږي ته په دوی کې څه کوې؟ بایزید ځواب ورکړ: زه په دوی کې پیدا شوی یم او د دوی یم، نو بایده دي چې دوی ته لار وښیم.

بایزید له کابل نه بېرته پېښور ته راغی او له پېښور نه هشنغر ته ولاړ، په هشنغر کې یې ډېر مامنزي مریدان شول.

دغه مهال یوه واقعه داسې پېښه شوه، چې له هندوستانه راغلی یو کاروان دلته لوټ شو، ددې لوټ په مقابل کې مغلي واکمنو پر هغه کلي او خلکو ناتار جوړ کړ، پر تالانګرو سربېره یې د ښځو او ماشومانو پر وژلو هم لاس پورې کړ او پاتې ښځې، نر او ماشومان یې بندیان کړل، له دې ناتار څخه چې بایزید روښان خبر شو، نو یې میرزا حکیم ته ولیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کاروان لوټوونکي څو تنه مجذوبان وو، دوی خپله ســزا وليدلــه، ښځې او ماشومان يې څه ګناه لري هغه بايد  خوشې کړای شي؟

کله چې دا خط د ميرزا حکيم د وزيرانو لاس ته ورغی، نو ميرزا يې دده پر ضد ولمساوه او ميرزا حکيم د پېښور صوبه دار (معصوم خــان) تــه وليکل، چې بايزيد روښان ونيسي، بايزيد چې له دې حکمه خبر شو، نو له (هشنغر) څخه (تهوتې) ته ولاړ، مغلي لښکر هغه ځای ته پسې ورغی، بايزيد او دده پلويان مريدان يې محاصره کړل، نو بايزيد دې تــه اړ شــو چې په نره د مغلي لښکر مقابله وکړي، د بايزيد روښان لومړنی جنــګ په دې ځای کې واقع شو، نو يې په بيا پــردې ځــای د (اغــازپور) نــوم کېښود او کومو روښانيانو چې په دې جنګ کې ګډون درلود هغه يــې (اغاز پوريان) وبلل.

روښان له خپلو پيروانو سره له دې جنګه بريالی راووت بيا تيرا ته ولاړ، څه موده پس د يوسفزو ملک ته ورغی. د اغاز پور جنګ ترڅنــګ پــر روښان باندې د هغه د سفرونو او همدارنګه د اســتوګنې پرمهــال نــور جنګونه هم تحميل شوي چې دلته د هغو ټولو له څېړلو تېرېږو.

بايزيد روښان د حالنامې د روايت مطابق د اغازپور له جنګ نه دوه نيم کاله وروسته وفات شو، د اغاز پور د جنګ تاريخ د خيرالبيان د حيــدر اباد دکن د سالار جنګ د ميوزيم له نسخې (۹۸۳هــ ق) کال راوزي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې حساب به بایزید روښان د (۹۸۵هـ ق) کال په جریان کې وفات شوی وي.

## ج- د روښانیانو جنګونه:

کله چې روښان وفات شــو، نــو دا پــه دې مانــا نــه وه چــې روښــاني غورځنګ ختم شو. ((د بایزید تر مړینې وروسته دده بله کړې ډېوه مړه نه شوه، بلکې دده اولادې او پیروانو دده پر پرانیستلې لار یون وکــړ او دده عرفاني او حربي سنګر یې تر کلونو کلونو پورې تود وساته، بایزیــد روښان په ځوانۍ کې د خپل تره له لور بي بي شمسو سره واده کړی و، چې له دې مایني نه یې پنځه زامن او یوه لور درلوده، د زامنــو نومونــه یې دا دي: (شیخ عمر، خیرالدین، نورالــدین، کمــال الــدین او جــلال الدین،) بایزید روښان بله ماینه هم درلوده او له هغې ښځه یې یــو زوی درلود، چې (دولت) نومېده. د بایزید ټــول زامــن د خپــل پــلار د لارې پیروان او ددې لارې سر سخت پلویان وو، ډېرو یې ددې لارې د تبلیــغ او د روښان په لاس د بلې کړې ډېوې د روښانه ساتلو په لاره کې خپل سرونه هم بایلل. د بایزید تر مړینــې وروســته د روښــانیانو خلافــت د بایزید مشر زوی شیخ عمر ته ورســېد ، چــې دده د خلافــت زمانــه د (۹۸۵-۹۹۹) هـ ق کلونو تر منځ ټاکل کېدی شــي، تــر (شــیخعمــر) وروسته (جلال الدین) ددې ډلې مشر شو، چې د (ډاکټر میرولي خــان مسود) د تحقیق له مخې دده د خلافت دوره (۹۹۹ نه تر ۱۰۱۲ هــــ ق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې اټکل شوې ده، تر جــلال الــدین وروســـته د (شــېخ عمــر) زوی (احداد) د روښانیانو خلیفه شو، چې د خلافت دوره یې له (۱۰۱۲نه تــر ۱۰۳۲هــ ق) کال پورې وه او تــر احــداد وروســـته دده زوی عبــدالقادر خلیفه شو، چې تر (۱۰۴۴هــ ق) کال پورې یې د دې ډلې مشري کوله.

په حالنامه کې راغلي، چې د بایزید روښان کورنۍ څلور پښته د افغانانو پر قبیلو حکومت وکړ، (اویا) کاله د هند د مغلي باچهۍ له لښکرو سره وجنګېدل، چې کله به غالب او کله به مغلوب وو، خــو هېڅکلــه یــې پرې کامل بری نه و موندلی. د بېلګې په توګه د جلال الــدین او (راجــه مان سنګهــ) لومړۍ، دویمه او درېیمه جګړه، د پېښــور لــه صــوبه دار سره د جلال الدین جنګ، له (عبدالمطلب خان) سره د جــلال الــدین جګړه، له جلال الدین څخه د اپریدو او اورکزیو اوښتل، د مغولو له خوا (د وحدت، ولیداد او بي بي کمال خاتون) او ورسره ملګرو بندیانېدل، د مغولو له قیــده د احــداد خلاصــېدل، د جــلال الــدین حضــور تــه د کندهاریانو راتګ، د غزني د کلا نیــول او د جــلال الــدین شــهادت، د احداد خلافت او جګړې، د لښکرخان بخشي او احداد جنګ، له جــلال خان ګګر سره د عبدالقادرخان جنګ او نورې هغه مهمــې پېښــې دي چې د روښانیانو په تاریخ کې خاص ځای لري او د ټولو څېړل یــې ددې لیکنې په وس کې نه دي. د وخت په تېرېدو ســره روښــانیان د خپــل منځي اختلافونو له امله یو له بل نه جلا شول او په پای کې د باچا تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول، (۱۰۲۸هـ ق یا ۱۰۲۹هـ ق) کال شاوخوا رشید خان (الهداد) د جلال الدین زوی د خپلې خور له مېړه او تره زوی (احداد) سره مخالف شو، د روښان پیر ډله دوه ځایه شوه، یو ځای له (احداد) سره په تیرا اود روه په غرو کې له مغلو سره جنګ ته پاتې شوه او بله ډله د (الهداد) په مشرۍ هند ته ولاړه او د جهانګیر بادشاه په ملازمت کې شامله شوه، منصبونه او جاګیرونه يې ترلاسه کړل او د مغلي باچا د پاچاهۍ د ټینګښت لپاره يې د هند په ځمکو کې تورې ووهلې.

د عبدالقادر تر مړینې وروسته د عبدالقادر مور دده له لښکرو سره د خپل ورور (رشید خان) او د مغلي باچا (شاه جهان) په بلنه هند ته ولاړه او دا نهضت هم ورسره پای ته ورسېد.)) د (اویاو کلونو) په ترڅ کې د روښانیانو او مغلو تر منځ ناشمېره جنګونه وشول چې د ټولو څېړنه د بېلابېلو اوږدو لیکنو او ځانګړو اثارو د لیکلو ایجاب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱) د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره، محمد اکبر ګر ګر، د افغانستان د علومو اکاډمی، ۱۳۶۹ ل کال، ۳۳ مخ

(۲) پیر روښان او روښاني انقلاب، سیف الرحمن مسعود، پېښور یونیورسټي بک ایجنسي،۱۳۷۷ ل کال،۴۱ مخ.

(۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ، (لرغونې او منځنۍ دورې)، سرمحقق زلمی هېوادمل، دانش خپروندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ل کال، ۸۸ مخ

(۴) د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځۍ دورې) سر محقق زلمی هېوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ ل کال، ۹۳،۹۵ مخونه

(۵) د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې) سرمحقق زلمی هېوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ل کال، ۱۰۹-۱۱۰ مخونه

(۶) مخزن الاسلام، اخوند درویزه، پښتو اکاډمي، پېښور یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۴۹ م کال، ۱۲۳ مخ.

(۷) مخزن الاسلام، اخوند درویزه، پښتو اکاډمي، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۴۹ م کال، ۱۲۶ مخ.

(۸) ادبي څېړنې، څېړندوی محمد صدیق روهي، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ ل کال، ۱۴۸ مخ.

۹- پیر روښان او روښاني انقلاب، سیف الرحمن مسعود، پېښور یونېورسټي بک ایجنسي، ۱۳۷۷ ل کال، ۶۲-۷۵ مخونه.

(۱۰) پیر روښان او روښاني انقلاب، سیف الرحمن مسعود،پېښور یونېورسټي بک ایجنسي،۱۳۷۷ ل کال،۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د (محمد تقوي ګلیان) لیکنه ده چې ما (یون) له فارسي څخه پښتو ته راژباړلې ده.

# د ژبپوهنې د ښوونځیو لنډیز

## عرب ژبپوهنه:

د عربو تر منځ د ژبې د ګرامر لیکنې پیل د څلورم خلیفه حضرت علي کرم الله وجه د خلافت زمانه ګڼل کېږي، داسې ښکاري چې عربو تر دې وړاندې د ژبې د جوړښت په باب څه ضروري فکر نه و کړی، دا په داسې حال کې و چې عربو د هنر په بېلابېلو برخو، لکه: شعر ویلو، داستان ویلو، ستاینو او په ټولیز ډول په ګړنیو یا فوکلوریکو ادبیاتو کې لوی لاس درلود.

د قران کریم تر نزول پنځوس کاله وروسته، د عربستان پر مرکزي ګړدود باندې مسلط او واکمن کسان ډېر کم شوي وو او نور نو چا د پیغمبر (ص) د زمانې په عربي لهجه خبرې نه کولې. ښکاره خبره ده چې حضرت علي کرم الله وجه د مطرحو شخصیتونو داسې یوه ډله وګومارله چې قران په همغه لومړنۍ بڼه ولولي.

عربي ژبه د سپېڅلي قران ژبه (کلام العرب) وبلل شوه. کلام العرب په کتبي یا لیکنۍ بڼه موجود نه و، ځکه نو د علومو یوه لړۍ رامنځته شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې (علوم العربیه) ګڼل کېدله، په دې کې بیا دوه برخې یا څانګې شاملېدلې:

**علم الایام:** د مهمو تاریخي پېښو او حوادثو علم چې سینه په سینه له یوه پښت څخه بل ته لېږدېده.

**علم الانساب:** هغه علم چې په هغه کې د کلام ویناوال په پام کې نیول کېده؛ که چېرې د هغه نسبت د پیغمبر (ص) د زمانې پېژندل شویو او معتبرو څېرو ته رسېده، نو بیا د هغه کلام دلیل او حجت ګڼل کېده.

د اسلامي ژبپوهنې د اوج نقطه اتمه میلادي پېړۍ وه، چې له دویمې لېږدیزې (هجري) پېړۍ سره سمون خوري.

د عربي ژبپوهنې په ښوونځي کې بیا دوه ښوونځي وو یا دوه لارې وې: یوه (بصره) او بله (کوفه) یا د بصرې ښوونځی او د کوفی ښوونځي. (خلیل) او د هغه شاګرد (سیبویه) د بصرې ښوونځي له ډېرو نامتو څېرووندویانو څخه وو. سیبویه د (الکتاب) په نامه د عربي ژبې د ګرامر په باب یو دقیق او مفصل اثر لیکلی دی. ده په اتمه میلادي پېړۍ کې ژوند کاوه.

سیبویه د لومړي ځل لپاره د عربي ژبې ګرامر ته د یوه سستم په توګه وکتل. د نړۍ له لومړیو او ډېرو نامتو ګرامر لیکونکو څخه بیا د هند

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پاڼي ني) و چې تر میلاد وړاندې په درېیمه یا څلورمه پېړۍ کې یې د (سانسکریت) ژبې ګرامر په ډېرې ځیرتیا سره تدوین کړ.

## طبیعتوال او تړونوال:

په یونان کې د طبیعتوالو او تړونوالو په نامه دوه مهمې ډلې وې. طبیعتوال په دې نظر وو چې ژبه طبیعي ماهیت لري، نو له همدې کبله د لغتونو مانا او منشا د هغو په صورت کې پیدا کولای شو. د طبیعتوالو د نظر پر خلاف د تړونوالو یا قراردیانو نظر دا و چې د لغتونو او د هغو د مانا تر منځ د رابطې پیدا کول، له هغه تړون یا قرار داد څخه سرچینه اخلي چې د انسانانو تر منځ شوی وي.

د یونان نامتو فیلسوف (اپلاتون) طبیعتوال او د هغه شاګرد (ارستو) بیا د هغه پر خلاف تړونوال و یانې د قراردادي نظریې پلوی و.

## نوي ګرامر پوهان:

د نولسمې پېړۍ په وروستیو دوو لسیزو کې نویو ګرامر پوهانو د غږیزو بدلونونو د نظم په باب نوی نظر وړاندې کړ. هغوی په دې نظر وو چې غږیز بدلونونه یو ناڅاپي، اتفاقي یا خپلسري نه دي، بلکې د هر بدلون لپاره کېدی شي یو علت او وضاحت پیدا شي. دې ډلې په عمومي ډول له فلسفي مباحثو څخه ډډه وکړه او د ژبې د منشا په شان مسایل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژبپوهنې له محاسباتو څخه وایستل. د ژبپوهانو دا ډله د هغو د ځوانۍ (متوسط عمر) له امله د نویو ګرامر پوهانو په نامه مشهوره شوه.

د نویو ګرامر پوهانو له مهمو دریځونو څخه یو هم ژبې ته له تاریخي پلوه د هغو کتنه وه. نن ورځ د دوی دا نظریه چې په مشخص زمان او مکان کې ژبني بدلونونه اساساً د یوه نظم او قاعدې تابع دي، منل شوې ده. د دغه ښوونځي زیاتره پلویان المانیان وو. په انګلستان کې (رایت)، په فرانسه کې (انتوان میه)، په امریکا کې (بواس)، (ساییر) او (بلو مفیلد) په دې ښوونځي کې روزل شوي کسان وو.

## جوړښتپالي:

د (۱۸۷۵-۱۹۱۳م) کلونو په بهیر کې (فردینان دو سوسور) چې یو سویسي ژبپوه و،د ژبې علمي ارزونه پیل کړه. سوسور د نوې ژبپوهنې پلار دی. ده په ژنیو کې د ژبپوهنې د تدریس چارې پر مخ وړلې، سوسور په خپله، هېڅکله د ژبپوهنې نوي مفاهیم او اصول تدوین نه کړل، خو پر (۱۹۱۶م) کال یانې دده تر مرګ درې کاله وروسته دده شاګردانو د (عمومي ژبپوهنې درسونه) په نامه دده یو کتاب خپور کړ.

سوسور د نوې ژبپوهنې د یوه بنسټګر په توګه پېژندل کېږي. ده د ژبې د علمي ارزونې او توصیف لپاره څو بنسټیز توپیرونه او مفهومونه راوپېژندل او هغه یې د یوې عمومي نظریې د چوکاټ په بڼه وړاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبې او وينا تر منځ توپيرونه:

ژبه د ضروري او ټولنيزو تړونونو يا قراردادونو ټولګه ده، چې د وينا پــه بڼه څرګندېږي. وينا مادي، فيزيولوژيکه او اروا پوهنيزه پديده ده. ژبــه د هغې ټولنې زېږنده ده چې ويناوال وګړي يې پــه کــې اوســي او پــه طبيعي ډول يې زده کوي، په داسې حال کې چې وينا د فرد هغه عمــل دی چې د ويناوال وګړي په غوښتنه رامنځته کېږي.

سوسور د غږ د بڼې او مانا تر منځ اړيکي د خپل زړه يا خپلې خوښې يو قرارداد بولي، بل مفهوم چې سوسور پرې ټينګــار وکــړ، هغــه د غــږ د ليکنۍ بڼې وړاندې کول دي. غږيزه بڼه اوربېدونکې څپې دي چــې پــر خپل وخت جاري کېږي.

ليکنۍ ځانګړتيا، د ژبې د نښې په توګه، د ليکلو پر مهال پــه ښــه ډول څرګندېږي. سوسور له دوو بېلابېلو ليدلورو د يــوې ژبــې پــر څېړنــې ټينګار وکړ:

الف- په خاص وخت کې د يوې ژبې د موجود نظام څېړنــه چــې دېتــه هممهاله ژبپوهنه وايي.

ب- د زمانې په بهير کې د يوې ژبې د تاريخ او د هغې د بدلونونو څېړنه چې دېته مهاليزه ژبپوهنه وايي.

د سوسور دوه ګوني ليدلوري په دې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وینا غړونه هم د غږیز اغېزو ځانګړتیاوې لري، چې د غوږو په وسیله درک کېږي او هم وېناوال غږي را ټوکوي. په بله وینا د وینا ژبه د اورېدو ژبه ده.

د ژبې پدیده له یوې خوا له غړونو او له بلې خوا له مفاهیمو سره اړیکي لري.

له دې کبله نو د ژبې پدیده مادي- ارواپوهیزه پدیده ده.

د ژبې پدیده هم فردي او هم ټولنیزه ده.

## د جوړښت او شبکې مفهوم:

سوسور په دې نظرو چې ژبه د اړیکو یو جال یا شبکه ده، دی د دې شبکې لپاره د بڼې یا (صورت) اصطلاح کاروي.

## زنځیره یې جوړښت:

سوسور ژبه یوه زنځیره جوړښت ته ورته جوړښت باله، چې کلمې یې تر یوې بلې وړاندې وروسته ادا کېږي. سوسور هغه کړنه چې دی ورته د ژبې د شبکې په توګه قایل دی (دلالت) په نامه یاد وي. د ژبنیو (شبکو) واحدونه له اختیاري نښو نښانو څخه جوړېږي. د (دال او مدلول) له نښو څخه راپیدا کېږي.

(دال) ژبنۍ بڼه یا صورت دی او (مدلول) یې مانیز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر سوسور وروسته جوړښتپالي ښوونځی له یو لړو بدلونونو سره مـخ شو او له هغه څخه درې نور جوړښت پالي ښوونځي راوټوکېدل چې په دې ډول دي.

## ۱- امریکایي جوړښتپالي ښوونځی:

په امریکا کې جوړښتپالي ښوونځی په (۱۹۳۰م) کلونو کــې راوټوکېـد امریکایي جوړښتپالې ژبپوهنه د سوسور د نظریاتو پر بنسټ رامنځتــه شوه.

په امریکایي جوړښتپالنه کې د پوهانو او ژبپوهانو زیاتره پاملرنــه هغــو سره پوټکو ژبو ته وه چې په ډېرې چټکۍ سره د له منځه تلو پــه حــال کې وې. امریکایي ژبپوهنه د خلکو د پېژنــدنې پــه فکــر کــې وه. پــه امریکایي جوړښتپالنه کې د ژبې اسکلېټ اوچوکاټ مهم دی. یــانې دا چې خلک څه وایي، نه د ژبې جوړښت یا دا چې موږ څه فکر کوو همغه خبره سمه ده.

ددې ښوونځي له نامتو پوهانو څخه یو هــم (فــرانس بــواس) (۱۸۵۸-۱۹۴۲م کلونه) دی. بواس یو ولس پوه او ټبر پوه او چې د سره پوټکــو د ژبو څېړنې ته یې ملا وتړله او ددې د ژبو د ګرامر مقولې، له هغې جملې څخه نوم، ضمیر او فعل یې د هندو اروپایي ژبو له مقولــو ســره پرتلــه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الماني الاصله امریکایي ژبپوه او ولــس پــوه (اډوارډســاییر) پــه ولــس پېژندنه کې خپله دوکتورا، د سره پوټکو مطالعې ته پــه لېوالتیــا ســره ترلاسه کړه. ده د سرو پوټکو د ژبو پر څېړنې ســربېره د ژبــې عمــومي څېړنه هم وکړه. (ژبه) دده د کتاب نوم و چې پــر (۱۹۲۱م) کــال خپــور شو.

ساییر د خپلژبیزې نظریې له سر لارو څخه دی. دی په دې نظر و چــې هره ژبه له دې نړۍ څخه زمونږ د اندونو څرګندویه ده.

ساییر فکر او اندیشه د وینا بالقوه منځپانګه ګڼله، پر همــدې بنســټ ساییر ژبه په خپل زړه د وینا د هغو نښو نښانو مجموعه ګڼله چې د یوه فکر یا مانا د ذهني صورت څرګندونه کوي.

(بنیامین لي ورف) د (ساییر) د شاګردانو لــه جملــې څخــه و، چــې د امریکا په (ماسا چوست) ایالت کې دې نړۍ ته ســترګې وغړولــې دی اصلاً کیمیاپوه و، خو د سره پوټکو د ژبو له څېړنو سره یې لېوالتیا لرله. (ورف) په دې نظر و چې د هرې ټولنې ټول وګړي د یوې ژبنۍ دایرې له مخې خپل ځان ته نه ګوري، بلکې د خپل ځانګړي فکر له مخې ځــان سره چلند کوي. ورف د سره پوټکو د ژبو تر څېړنې او مطالعې وروسته اعلان وکړ چې بېلابېلې ټولنې او قومونــه پــه خپــل چاپېریــال کــې د پېښېدونکو واقعیتونو په اړه بېلابېل ژبنی درک لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول موندنې ددې سبب شوې چې د ژبې په باب یوه فرضیه وړاندې شي. دا فرضیه یه حقیقت کې د (سایير) او (ورف) د نظر زېږنــده وه. د سایير او ورف فرضیه چې پر (۱۹۶۰م) کال خپــل اوج تــه ورســېدله، د ژبې او تفکر تر منځ رابطه په ډاګه کوي. د ژبې د نسبیت دې اصل ته په کتو، ژبه د نړۍ شموله کلمو څرګندویه نه ده. د هر انسان تفکر د هغــه له  مورنۍ ژبې څخه اغېز اخلي. هر شخص اړ دی چې نړۍ د خپلې ژبې له دریځې څخه وګوري. انسانان یوازې هغه تجربې راخپلوي چې هغــو ته په خپله ژبه کې مفاهیم ولري او ژبې بیا د خپلــو بېلابېلــو ظــاهري جوړښتونو له مخې د بهرنۍ نړۍ بېلابېل تصویرونه منعکسوي.

د ساري په توګه د انګلیسي ژبې په انډول  په (اسکیمویي) ژبــه کــې د (واورې) د مفهوم لپاره بېلابېلې کلمې شته، په داسې حال کې چې پــه عربي ژبه کې د (شګې یاریګ) لپاره بېلابېلې کلمې موجــودې دي، لــه دې څخه دا نتیجه تر لاسه کېږي چې اسکیمویي او عربي ژبــې خپلــو ویونکو ته د (واورې) او (شګې) د پېژندنې لپــاره بــېلا بېــل امکانــات ورکوي، په داسې حال کې چې انګلیسي ژبي له دې څخه بــې برخــې دي.

تر (سایير) وروسته (لیــو نــارد بلومفیلــد) د امریکــا د ژبپــوهنې لــه مخکښانو څخه و. بلو مفیلد پر (۱۸۸۷م) کال په امریکا کې وزېږېد. دی پر (۱۹۶۵م) کال د (ییل) پوهنتون استاد و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلو مفيلد بايد د امريکا د جوړښتپالنې ښوونځي بنسټګر وګڼل شي. دی په دې نظر و چې د کلمو پر مانا باندې پوهېدل ددې غوښتنه کوي چې سړی بايد پر هغه څه پوه شي چې دا کلمې پرې دلالت کوي.

څرنګه چې د انتزاعي کلمو لپاره دقيقه مانا نه شو وړاندې کولای، نو ځکه خو ښه ده چې مانا پوهنه له ژبپوهنې جلا کړو.

بلو مفليد د ژبې علمي څېړنه يوازې د عينيت پر بنسټ او د شخصي سليقې له دخالت پرته، ممکنه ګڼله، له همدې کبله بلو مفليد په دې نظر و چې د ژبې او د هغې د اړوندو پديدو د علمي څېړنې لپاره دقيقې پوهې ته اړتيا ده. څرنګه چې زموږ اوسنۍ پوهه د ژبې د ځينو برخو په باب ډېره ابتدايي ده، ځکه نو د ژبې د ځينو پديدو په باب د دقيقې او پوره پوهې ترلاسه کولو پورې بايد د هغې د ځينو برخو څېړنه، له هغې جملې څخه مانا پوهنه يوې خوا ته پرېږدو.

بلو مفليد تر ډېره د ژبې له توصيف او سپړنې سره لېوالتيا درلودله. هغه همدارنګه د ژبې او تفکر تر منځ اړيکي نه منل او د ژبې پر نړۍ شموله قواعدو يې باور نه درلود. بلو مفيلد د تجربه پالنې نظريې پلوی و او د عملي کار نظريه يې ژبنيو څېړنو ته داخله کړه. پر همدې بنسټ يې ژبه يو ډول ويناوال چلند وګاڼه. دده موندنو او لارو د شملې پېړۍ د دويمې نيمايي په وروستيو کې پر امريکايي جوړښتپالې ژبپوهنې پراخ اغېز پرېښود. هغه ژبپوهنه د ژبې د منظمې څېړنې او علمي ميتودونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وړاندې کولو له لارې د یوې ځانګړې، دقیقې او خپلواکې پوهې پــه توګه پراخه کړه. بلو مفیلد علمي چلند د ژبپوهنې د توصیف او تعریف اساسي ستن وګڼله او پر همدې بنسټ یې د انګېزې او پوښتنو پــه لــړ کې وینا د انګېزې او پوښتنو ځایناستې کړه.

(کنت لي پایک)، (زلیګ هریس) او (چــارلز ماکــت) نــور هغــه نــامتو امریکایي ژبپوهان وو چې د بلو مفیلد د لارې لارویــان وو او د ژبــې د توصیف په باب یې جوړښتپاله تګلاره وغځوله.

## ۲- کپنهاګ ښوونځی:

کپنهاګ ښوونځي مانیزو ځانګړنو ته زیاته پاملرنه کوله. ددې ښوونځي نامتو عالم او ژبپوه (لویي یلمزلف) دی، ده د ژبې د دقیق توصیف لپاره د قیاس یانې له (ټول یاکل) څخه (جز) ته دورتګ تګلاره غــوره کــړه. یلمزلف د ژبې هر ظاهري جوړښت یوه کړۍ او د هرې کړۍ اجــزاء بیــا یوه برخه یا جوړښت ګڼي. د ژبې داخلي طبقې یوه مقوله او د مقــولې هره برخه د هغې غړی ګڼي. یلمزلف ژبنۍ پوهه په داسې ډول وړانــدې کړه چې د هغې پر بنسټ ژبه د جبري ارتباطي او حساسې پدیدې پــه توګه، چې له واقعیتونو او انتزاعي عناصرو سره سرو کار لري، توصــیف او تعریفوي. دی دا ډول ژبپوهنه چې د بنسټیزو ځانګړنو د توصیف پــر ستن ولاړه وي. د بنسټیزو ځانګړتیاوو ژبپوهنه ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یلمزلــف د تطبیقــي جوړښــتپالنې د ښــوونځي نوښــتګر دی. ده پــر (۱۹۳۱م) کال د کپنهاګ ژبپوهنې د یوې غونــډې یــا ټــولنې بنســټ کېښود.

دا نامتو ژبپوه چې د مانا پوهنې د نظریې د پلار پــه نامــه یــادېږي، پــر (۱۹۹۳م) کال د ((ګلو سماتیک)) په نامه د ژبې او پر هغــې د واکمنــو اړیکو په باب خپله پېچلې نظریه څرګنده کړه. له همدې کبلــه دی پــه ژبپوهنه کې د ګلوسماتیک ښوونځي د بنســټګر پــه توګــه یــادوي. د ژبپوهنې پر خپلواکۍ دده ټینګار ددې سبب شو چــې دی د ژبپــوهنې پر وړاندې له (ګلو سما تیــک) یونــاني اصــطلاح څخــه ګټــه واخلــي. Glosseme یوناني کلمه ده چې د (ژبې) اندول ګڼل کېــږي. یلمزلــف د (چامسکي) په شان داسې یو (اندیال مفکر) و چې پــر عقــل یــې ډېــر ټینګار کاوه، ژبه یې د یوې شبکې په توګه ګڼله او څېړنې یې (لــه کــل څخه جز ته) د قیاس پر بنسټ ودرولــې. د یلمزلــف نظریــې د هغــو د پېچلتیا له امله شنډې پاتې شوې، خو پر ژبپــوهنې یــې خپلــې ژورې اغېزې پرېښودې.

د ګلوسماتیک نظریې چې د بنسټیزو ځانګړنو د څېړنو په نامه یادېږي، دسوسور د نظریو پر دوو اصلونو ولاړې دي او د یلمزلف د ټینګار نچــوړ دی، دا دوه اصله دادي: لومړی دا چې ژبه د ارزښتونو یوه شبکه ده او دویم دا چې ژبه یو شکل دی نه ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(انوسیپرسن) یو نامتو ډنمارکی ژبپوه دی او د غرِ پـوهنې د علـم لـه بنسټګرو څخه دی. ده د ژبپوهنې د تاریخ له نړۍ شموله قواعدو څخه د ګرامر له اسانه کولو سره لېوالتیا لرله او پـه دې نظـر و چـې د ژبـې تحول د هغې په پرمختګ او اسانه کولو کې رامنځته کېږي. (سیپرسن) یو بشپړتیايي لیدلوری درلود. دی د (داروین) د نظریاتو تـر اغېـزې لاندې و او د ژبې له تدریجي پرمختګ سره یې لېوالتیا لرلـه، دی پـه دې نظر و چې دا کار د قاعدې جوړونې او د ګرامر د اسانه کولو له لارې ممکن دی.

## ۳- پراګ ښوونځی:

پر( ۱۹۲۸م) کال په (لاهه) کې د ژبپوهنې لومړنۍ کنګره جـوړه شـوه. پراګ ښوونځی د ژبپـوهنې لـه فعـالو خوځښـتونو څخـه و، چـې د (سوسور) له نظریاتو څخه یې الهام اخیستی و.

ددې ښوونځي نورې مهمې څېرې په دې ډول دي:

(ترویتسکوی)، (یاکویسون) او (ماتسیوس). د دوی زیاتره پاملرنه غـرِ پوهنې ته وه.

(رومان یاکویسون) هغه روسي فیلسوف او ژبپوه و چې دژبپوهنې پـه لویې څانګې کې یې زده کړې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي ژبپوه او ټبر پوه (ترویتسکوی) د غږ پوهنې بنسټګر و. د پـراګ ښوونځي د غږ پوهنې مفاهیم د (غږ پوهنې بنسټونه) تر عنوان لاندې د تریتسکوی په اثر کې تدوین او تشریح شوي دي. نوموړي د غږونـو د تقابل پر رول سربېره د غږونو د توپیروونکو ځانګړتیـاوو مفهـوم هـم بیان کړی دی.

ده د غږونو تر منځ د تقابل نظریه وړاندې کړه او د غږونـو تـر مـنځ د تقابل د بیان لپاره معیار یوازې مانا وګڼل شوه. په دې ډول نو که چېرې غږیز توپیر د مانیز توپیر سبب شي، توپیروونکی عنصر ګڼل کېږي. بـل مفهوم چې د ترویتسکوی په واسطه په پراګ ښوونځي کې بیان شـو، ښباني او بې ښبانه یا څرګند او نا څرګنـد غږونـه وو. سـربېره پـر دې ترویتسکوی د غږونو د شبکې بریدونو او عاطفي نقشونو ته هم پاملرنه وکړه.

د پراګ ښوونځي د ژبې له شبکې څخه خپل لومړنی توصـیف د غـږ د شننې، تجزیې او یو بل څخه د جلا کولو په نظریې څرګند کړ.

## ۴- د نقش پالنې ښوونځی:

د نقش پالنې ښوونځی، تر جوړښتپالې ښوونځي وروسته رامنځته شـو او د پراک ښوونځي د ژبپوهانو په خبرو سره چې پر( ۱۹۲۶ م) کال پیل شوې او تر دویمې نړیوالې جګړې وړاندې مهاله پـورې یـې دوام وکـړ، پیل شو. (اندره مارتینه) او (هالیډي) ددې ښوونځي له غړو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندره مارتینه پر (۱۹۰۸ )کال د فرانسې په سویل کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. دی د پراګ ښوونځي تر اغېزو لاندې راغی، په پیل کې یې ژبې ته له توصیفي لیدلوري کتل، خو ورو ورو یې هڅه وکړه چې پاریس ښوونځی له جوړښتپالي او توصیفي خصلته جلا کړي او ژبې ته د نقش پالنې له لید لوري وګوري. ده خپله نظریه د نقش پالنې په چوکاټ کې تعریف کړه او په پای کې یې نوم د نقش پالنې ښوونځي د بنسټګر په توګه یاد شو.

له دې لیدلوري نو ژبه یو بشري ټولنیز بنسټ دی.

ځکه نو د ژبې اصلي دنده دا ده چې د وګړو تر منځ پیغام ورسوي، مفاهیم ورانتقال کړي او د همدې موخې لپاره ورسره اړیکې ټینګ کړي.

## ۵- د لندن ښوونځی:

په بریتانیا کې ژبپوهنه له غړ پوهنې او غړ شننې سره هممهاله پیل شوه، (فرت) او (هالیډې) د لندن ښوونځي له سترو بنسټګرو څخه دي، دوی دواړو لندن ښوونځي ته ډېره ځلا وروبښله. لندن ښوونځي په دېرشمو او پنځوسمو کلونو کې ډېر پلویان درلودل. هالیډې په لندن ښوونځي کې پر (۱۹۶۸ م) کال د (مقولې) او (میزان) په نامه یوه نظریه مطرح کړه. تر یوې مودې وروسته دا نظریه رد شوه. (هالیډې) د دریو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سطحو، څلورو مقولو او دریو میزانو تر منځ لاندې توپیرونــه پــه ګوتــه کړل:**

## درې سطحې په دې ډول دي:

- **شکل په ګرامر او کلمو کې شامل دی**
- **لومړۍ ماده په غږ او لیک کې شامله ده**
- **د موقعیت سکښت د شکل او سکښت له اړیکو څخــه راپیــدا کېږي.**

## څلور مقولې په دې ډول دي:

- **یوون (واحد) په جمله ، ترکیب، کلمه او څپه کې**
- **جوړښت یا نظم او څنګ په څنګ د یوونونو یا واحدونو ځــای پر ځای کول**
- **طبقه چې په نومیزو، فعلي، حرفي او نورو ډلو کې شاملېږي.**
- **د نظم او ترتیب شبکه د ټړلو طبقو د واحدونو تر مــنځ ځــای ناستې ګڼل کېږي، لکه: شمېره، وجه، مهال، شخص او نور...**

## درې میزانه په دې ډول دي:

**د پرله پسې مراتبو میزان، د ژبنیو واحدونو د ترتیب ښکارندوی دی.**

**د ژبنیو راکړو ورکړو او مقولو ترمنځ د اړیکو څرګندولو میزان، د تحلیل میزان چې د سطحو تر منځ د توپیرونو څرګندونه کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرِ پوهنې په حوزه کې (فرت) د غرېزې غرِ پوهنې چوکاټ مطرح کړ. په غرېز تحليل کې د مقصد ټکی دادی چې کلمې، جملـــې، درې ژبنـــي عناصر دي چې مورِ د هغو د څپييز جوړښت په لټه کې يـــو، دې څپيـــز جوړښت ته غرېز جوړښت وايي. تر (فرت) وړاندې ټولو ژبپوهانو غږونه يوه خطي شبکه ګڼله، خو (فرت) څپه د يوې کلمې ، ترکيب او جملـــې جوړوونکی عنصر وباله.

## لېږدونکې نظريه او د چامسکي انقلاب:

(نوام چامسکي) ژبپوه، رياضي پوه، فيلسوف او په نړيوال سياست کې د نظـــر خاونـــد ســـړی و چـــې نـــن ورځ نړيـــوال شـــهرت لـــري، پـــر (۱۹۲۸ميلادي) کال يې په (فيلادلفيا) ښار کې نړۍ ته سترګې وغړولې.

چامسکي متعقد و چې ژبه يوه زېږنده يا خلاقه پديـــده ده او د ماشـــوم ذهن د يوې سپينې لوحې په شان نه دی، بلکې مخکې تر مخکـــې پـــه کې پلان موجود وي او د ژبې لومړنی جوړښت يې په ذهن کې مېشـــت وي چې جينټيکي او ذاتي بڼه لري. چامسکي تقليـــد ردوي او پـــه دې نظر دی چې د اصلي ژبې زده کړه ذاتي بڼه لري. هغه پـــه دې بـــاور دی کله چې ماشوم د ژبې پر زده کړه پيل کوي، د ژبې د جوړښت د همغـــو ټولنيزو اصولو له مخې چې ذاتي بڼه لري، په ذهـــن کـــې د ځـــانګړو او محدودو قواعدو مجموعه توليدوي. دا قواعد د ماشوم پـــه ذهـــن کـــې دويمه فطري بڼه راخپلوي او د ټولو جملو کشف او پلټنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چامسکی پر (۱۹۵۷ م) کال د (نحوي جوړښتونه) په نامه د یو کتاب په خپرولو سره د ژبپوهنې په علـم کـې یـو بـدلون راوسـت. د نحـوي جوړښتونو د کتاب خپرول په ژبپوهنه کې یو تازه انقلاب و. دې کتـاب (د مولودي لېږد ګرامر) نړیوالو ته معرفي کړ. دا نظریه لکه څنګه چې له نامه څخه یې ښکاري، له دوو متفاوتو، خو مرتبطو اړخونو څخه جـوړه ده. یوانتقالي اړخ او بل ذاتي اړخ دی.

## د مولودي لېږد ګرامر نظریه:

چامسکي ورځ پر ورځ د ژبپوهانو د پاملرنې وړ وګرځېد، دی ادعا کوي چې په دې ژبنۍ نظریه کې یې د پاملرنې وړ موضـوع د ژبنـي ځـواک څېړنه ده. په دې ژبنۍ نظریه کې یې هدف دادی چې په ټوله کې هغـې ټولنیزې ژبې ته پاملرنه وکړي چې په هغې کې ژبه د ځینو عواملو، لکه د حافظې محدودیت او عکسلعملي تېروتنې تـر اغېـز لانـدې نـه وي راغلې.

چامسکي په دې نظر و چې د مولودي لېږد د ګرامـر نظریـه اساسًـا د ژبني ځواک د رمزونو او اسرارو په لټه کې د ژبې له عیني یا څرګندو او ملموسو اړخونو سره سروکار نه لري او یوازې د ژبـې انتزاعـي اړخ تـر څېړنې لاندې نیسي. د ژبې دا نظریه په حقیقت کې د ریاضي په شـان ده چې په محدودو قواعد او عناصر کولای شي ناشمېره جملې جـوړې کړي. د ژبې ګرامر یانې د ژبني ځواک توصیف یا تثبیت او د سمو جملو

(c) ketabton.com: The Digital Library



درک، جوړونه او له ناسمو جملو څخه د هغو د بېلونې او توپیرونې مانــا لري.

چامسکي د هرې جملې لپاره دوه جوړښتونه مني: یو ژور جوړښت چې په واقعیت کې د جملې د اجزاو و منطقي او مانیز اړیکــي ټــاکي او بــل ظاهري جوړښت دی چې د جملې بهرنۍ او عینـــي بنــه ځرګنــدوي او حتمي نه ده چې د جملې له ژور یا بنسټیز جوړښت سره سمون ولري. د جملې ژور جوړښت د لېږدیزو قواعدو په نامه د محدودو قاعــدو لــه لارې په ظاهري جوړښت بدلېږي. لېږدیــز قواعــد د حــذف، تعــویض، زیاتونې او د ژور جوړښت اړیکو د ځای پر ځای کولو له لارې، د ظاهري جوړښت پر اړیکو تبدیلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان فرهنګي میراثونه

## (پرون، نن او سبا)

زموږ په اکثرو سیاسي، فرهنګي او تاریخي غونډو کې دا خبره ډېره اورېدل کېږي، چې افغانستان یو لرغونی هېواد دی؛ پنځه زره کلن تاریخ لري او د بډایه فرهنګ او معنویت څښتن دی. لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي افغانستان تر تاریخ وړاندې او بیا تر هغه راوروسته د بېلابېلو کلتورونو او تمدنونو زانګو بللې ده. استاد حبیبي دا سیمه ((تر تاریخ وړاندې فرهنګ، ویدي فرهنګ، اوستایي فرهنګ، بودایي+ یوناني فرهنګ، کوشاني فرهنګ، ساساني فرهنګ، هفتلي فرهنګ، اسلامي فرهنګ، خراساني فرهنګ)) (۱) پر بېلابېلو برخو وېشلې ده. طبیعي خبره ده چې دې ټولو فرهنګونو بډایه فرهنګي میراثونه درلودل، چې اکثره یې د زمانې ناخوالو له منځه وړي دي، خو امتداد یې په یوه نه یو ډول زموږ په اوسني افغاني فرهنګ کې ځلا مومي. څرنګه چې هره پدیده ژوندۍ وي که ناروحه، طبیعي خبره چې د ژوند درې پړاوونه لري، یوه پدیده څنګه پیدا شوه؟ یانې پرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې څنګه و؟ اوس يا نن په کوم حالت کې ده؟ او د سبا اټکل به يې څه وي؟

د افغانستان فرهنګي ميراثونه هم د ژوند او تاريخي پړاوونو په همدغسې بهير او مسير کې ښېړل کېدی شي او يا لږ تر لږه زه غواړم، خپل فرهنګي ميراثونه، د (پرون) او (نن) په هنداره کې مطالعه کړم د (سبا) ورځې د خونديتابه لپاره يې خپل ذهني ليدلوری او وړانديزونه له نورو سره شريک کړم. خو مخکې تر دې چې د زماني واټن له مخې د خپل هېواد د فرهنګي ميراثونو پر څومره والي او څرنګوالي څرګنده رڼا واچوم، ښه به وي چې لومړی (فرهنګ) او بيا (ميراث) تعريف کړو او بيا په مجموعي ډول د (فرهنګي ميراث) ترکيب ته لږ تم شو.

## فرهنګ څه ته وايي؟:

د ټولنيزو علومو د خصلت له مخې (فرهنګ) يا (کلتور) هم په هغو مفاهيمو کې راځي چې تعريف يې ګران دی يا په بله مانا ګڼ شمېر تعريفونه لري، له همدې کبله د نړۍ ګڼو پوهانو د فرهنګ بېلابېل تعريفونه وړاندې کړي دي، الفريد کروېبر کلايد کلوکنحون ( Alfred Kroeber Clyde Kluckhon) په خپل اثر (فرهنګ) کې د هغه (۱۲۴) تعريفونه وړاندې کړي او د هغو له منځه يې بيا يې ځينو غټو ټکو ته نغوته کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ((په ښکلو هنرونو او انساني چارو کې لوړ فضیلت ته، چې (عالي فرهنګ) یې هم بولي، فرهنګ ویل کېږي.
- د بشر چلند، ټولنیز ژوند، عقایدو، د پوهنې مجموعې او هغه حالت ته چې بشري فکر او یادونه په کې راټــول شــي، هم فرهنګ وایي.
- هغو تمایلاتو، ارزښتونو، هدفونو او ګډو چلنــدونو تــه هم فرهنګ ویل کېږي، چې یوه ټولنه، بنسټ، ډله او ســازمان له یو بل څخه بېلوي.

یو فرهنګپوه (رالف لېنتون) بیا ((فرهنګ د چلندونو هغه ترکیب ګڼي چې د یوې ټاکلې ټولنې د غړو په وسیله له یوه پښت څخه بل تــه انتقالېږي او د هغو ترمنځ مشترک دي)). (۲)

ځینو نورو پوهان د یوې ټولنې ټولې مادي او معنوي شــتمنۍ تــه فرهنګ وایي.

ځینې: ((د یو ملت ژبې، ادبیاتو، علومو، ښوونې او روزنې، لوړو زده کړو، رسنیو او د هنرونو مجموعې ته فرهنګ وایي.))

یو شمېر نور وایي: ((کلتور د انسانانو د ټولو عقایدو پانګه ده.))

ځینې نور بیا په دې اند دي چې: ((فرهنګ د بشري ټــولنې ټولــو هغو مادي او معنوي پانګې، بریاوو او ارزښتونو ته ویــل کېــږي چــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوي وي، لکه ټولنیز اړیکي، هنر، فلسفه، اخلاق، علم، تکنیک او نور...))

## میراث څه ته وایي؟:

په مجموعي ډول هر هغه څه چې له پخوانیو څخه راتلونکو ته رسېږي، هغو ته میراث ویل کېږي.

میراث په واقعیت کې د یو شي پاتې شوني ته وایي، که هغه په فرهنګي ډګر کې وي، که په مادي یا معنوي برخه کې. فرهنګي میراثونه هم له یوه پښت څخه بل ته انتقالېږي او په لږو ډېر بدلون دا لړۍ دوام پیدا کوي.

## فرهنګي میراث څه ته وایي؟:

له پخوانیو زمانو څخه راپاتې ټولو هغو اثارو ته ویل کېږي، چې فرهنګي ارزښتونه ولري، هر تاریخي اثر فرهنګي میراث ګڼل کېږي، خو هر فرهنګي میراث د لرغونو اثارو برخه نه ګڼل کېږي. د فرهنګي میراثونو د سازمان د جوړښت په تګلاره کې فرهنګي میراثونه په دې ډول تعریف شوي دي:

((له پخوا څخه ټول راپاتې اثار چې د انساني ژوند د خط و سیر ښکارندویي کوي او د انسان د عبرت سبب ګرځي، فرهنګي میراثونه ګڼل کېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګي میراثونه پر دوو برخو وېشل کېږي:

مادي فرهنګي میراثونه او معنوي فرهنګي میراثونه یا ملمـوس او ناملموس فرهنګي میراثونه.

## مادي یا ملموس فرهنګي میراثونه:

هغو فرهنګي میراثونو ته ویل کېـږي، چــې ځرګنــد فزیکــي او ملموس شتوالی ولري، لکه: ځلي، منارونه، تاریخي ودانۍ، لرغوني اثار، مجسمې، کتابونه، سندونه، هنري اثار، ماشینونه او نور جوړښتونه چې فکر کېږي، راتلونکي پښت ته ارزښت لري. دا مادي میراثونــه بیــا پــه خپل وار سره پر منقولو او نامنقولو فرهنګي میراثونــو وېشــل کېــږي، منقول همغه دي چې له یوه ځایه بل ځای ته د لېږد وړ وي او نــامنقول یې همغه دي چې له یوه ځایه بل ته نه انتقالېږي.

## معنوي یا ناملموس فرهنګي میراثونه:

دا د یوه فرهنګ نافزیکي اړخونو ته ویل کېږي او تر ډېره بریــده پورې د یوې زمانې په بهیر کې د یوې ټولنې اداب او دودونه پــه خپلــه غېږ کې رانغاړي. یا په بله وینا معنوي میراثونه د فرهنــګ هغــه برخــه ګڼل کېږي، چې سینه په سینه له یوه پښت څخه بل ته رارسېدلې وي. په دې کې ټولنیز ارزښتونه، دودونه، اداب، رواجونه، چلندونه، معنــوي او ښکلا پوهنیز باورونه، هنري بیــان، ژبــه او نــورې انســاني کړنــې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چلندونه شاملېږي. په ټولیز ډول د مادي ارزښتونو په انډول د معنــوي ارزښتونو ساتنه ګرانه ده. معنوي میراثونه یا پــه بلــه وینــا نــاملموس میراثونه د یوې ټولنې د فرهنګ اساسي برخه جوړوي.**

**له ټولو فرهنګونو څخه راپاتې اثار، پر همغو ټولنو د واکمن معنوي فرهنګ او فکر ښکارندویي کوي. په حقیقت کې د بشــر معنویــات، د مادي، فرهنګي او تاریخي اثارو په بڼه ځلېــږي او د نــاملموس میــراث بېلابېل اړخونه جوړوي. فرهنګي میراث د یوې ټولنې فرهنګي حقیقت ګڼل کېږي، معنوي میراثونو ته پاملرنه ځکه مهمــه ده چــې د نــړۍ د فرهنګي یورنګۍ پر وړاندې ودرېږي، د بېلابېلو فرهنګونو د ملاتــړ لــه لارې کولای شو د نــړۍ د یورنګــوالي پــر وړانــدې مقاومــت وکــړو او فرهنګي هویت یې خوندي کړو.**

**د معنوي یا ناملموسو فرهنګــي میراثونــو د خوندیتابــه بېلابېــل اړخونه په دې ډول دي:**

**فولکلور، ګړنی تاریخ، ژبساتنه او ځینې نور**

**د پورتنیو دوو ډولونــو فرهنګــي میراثونــو ترڅنــګ د (طبیعــي میراثونو) یادونه هم کېږي، چې دا هم خــورا ارزښــتمن دي. دا هــم د هرې ټولنې د ملموسو میراثونو برخه ګڼل کېږي، لکه د ښار ځنــډې، د ژوندانه طبیعي چاپېریال، له هغې جملې څخه بــوټي او ځنــاور چــې د ژوندانه بېلابېل ډولونه شمېرل کېږي، په دې ډله کې راځــي، د ونــو او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوټو له مخې هم، ځمکه بېلابېل رنګونه راخپلوي چې دا کار د کورنیو او بهرنیو لیدونکو یا سیلانیانو د لیدو سبب ګرځي او د یوه هېواد یا ټولنې لپاره غوره اقتصادي سرچینه ګڼل کېږي. نه یوازې د ځمکې پر سر طبیعي میراثونه د ساتنې وړ دي، بلکې تر اوبو لاندې میراثونو خوندیتابه ته هم ډېر پام په کار دی. په همدې خاطر په ملګرو ملتونو کې د فرهنګي میراثونو د ساتنې ادارې (یونسکو) د (۱۹۷۲م) کال د پرېکړې له مخې ټول هغه فرهنګي میراثونه چې نړیوال ارزښت لري، باید د خوندیتابه لپاره یې هڅې وشي، چې په هغو کې د ځمکې پرمخ او تر اوبو لاندې ټول اثار شاملېږي. د ملګرو ملتونو دې او نورو ادارو په بېلابېلو وختونو کې د فرهنګي میراثونو د خوندیتابه لپاره په بېلابېلو وختونو کې نړیوالې پرېکړې او وړاندیزونه کړي دي، د بېلګې په توګه، پر (۱۹۳۱م) کال د (اتن منشور)، پر (۱۹۳۵م) کال د (زوریخ تړون) پر (۱۹۵۴م) کال د جګړې پر مهال د فرهنګي میراثونو د خوندیتابه لپاره د (لاهې کنوانسیون)، پر (۱۹۶۴م) کال د (ونیز منشور)، پر (۲۰۰۲م) کال د (بارسولانا منشور) او داسې نورې پرېکړې، قوانین او کنوانسونه چې ټول د تاریخي او فرهنګي میراثونو د ساتنې لپاره په نړیواله کچه ترسره شوي دي.

اوس راځم د خپلو فرهنګي میراثونو، ماضي، حال او راتلونکي او یا د خپلو فرهنګي میراثونو پرون، نن او سبا ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د فرهنګي میراثونو پرون

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، افغانستان د نړۍ په هغو هېوادونو کې شمېر ل کېږي چې بډایه او غني فرهنګ لري. په فرهنګي اثارو کې تاریخي اثار، فرهنګي میراثونه چې ملموس او ناملموس دواړه په کې شامل دي، ټول په دې شمېر کې راځي. دې ټولو اثارو ته د تاریخ په بهیر کې ډېر زیات زیانونه اوښتي دي. له (پرون) څخه زموږ هدف تر (۱۳۸۰) ل کال وړاندې زماني واټن دی. دا زماني واټن له یادې نېټې نیولې بیا تر لسیزو لسیزو زماني واټن په غېږ کې رانغاړي. په دې ټول بهیر کې چې د بېلابېلو عواملو او پېښو له امله زموږ فرهنګي میراثونو ته کوم زیانونه رسېدلي، غواړم په دې لیکنه کې هغو ته نغوته وکړم. طبیعي خبره ده چې په لیکنه کې نه ټول فرهنګي میراثونه او نه هم د هغو جزئیات څېړل کېدی شي، خو هڅه کوو چې پر مهمو فرهنګي میراثونو او هغو ته پر ور اوښتو زیانونو لنډه رڼا واچوم:

## موزیمونه:

د جګړو په کلونو کې د افغانستان موزیم ډېر زیان لیدلی چې دلته ورته نغوته کوو:

**د کابل موزیم:** د کابل موزیم چې وروسته بیا د ملي موزیم په نامه یاد شو، پر (۱۲۹۷ل) کال یې بنسټ ایښودل شوی، لومړی په باغ بالا ماڼۍ او وروسته بیا دارالامان ته انتقال شوی دی. تر هغه وروسته د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د تاریخي اثارو کیندنې وشوې او ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوي اثار يې ملي موزيم ته راوړل شول. ملي موزيم په کابل کې تر تنظيمي جګړو دمخه د نړدې (سل زرو) تاريخي اثارو خاوند شو. دلته به يوازې په يوه جدول کې د ملي موزيم د ځينو مهمو تاريخي اثارو لنډه يادونه وکړم:**

| د فرهنګي دورې نوم | د څېړونکي نوم | د سيمې نوم |
|---|---|---|
| ۵۰ زره کاله وړاندې زمانه د پخوانۍ ډبرې منځنۍ دوره | لويس دوپرې | دادل دره |
| ۳۰ زره کاله وړاندې د پخوانۍ ډبرې پورتنۍ دوره | کارلتون، س، کون | قمره کمر |
| د کوپرک دوره (محلي نوم) له ۲۰ څخه تر ۱۱ زره کاله وړاندې زمانه | لويس دوپرې | اق کپرک |
| له ۱۱ زرو څخه تر ۷ زره کاله وړاندې زمانه د نوې ډبرې دوره | لويس دوپرې | اق کپرک |
| د ۲ زره کاله ق م زمانه د نوې ډبرې دوره | لويس دوپرې | کور دره |
| له ۳ زره څخه تر يو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لويس دوپرې | اق کپرک |
| له ۳ زره څخه تر يو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | D.A.F.A | منديګک |
| له ۳ زره څخه تر يو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | D.A.F.A | ناد علي |
| له ۳ زره څخه تر يو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لويس دوپرې | د موراسي غونډۍ |
| له ۳ زره څخه تر يو زر کاله ق م زمانه د برونز عصر | لويس دوپرې | شمشبر غار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| له ۳ زره څخه تر یو زر ق م زمانه د اوسپنې عصر | لویس دوپرې | اق کپرک |
| له ۶-۴ ق م پېړۍ پورې د هخامنشي دوره | تصادفي | حضوري چمن |
| له ۴-۳ م پېړۍ پورې باختري دوره | D.A.F.A | آی خانم |
| له ۲-۱ م پېړۍ پورې هندو یوناني دوره | تصادفي | میرزکه ګردېز |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان- کوشاني دوره | D.A.F.A | بګرام |
| له ۱-۳ میلادي پېړۍ د یونان- کوشاني دوره | D.A.F.A | سور کوتل |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | تصادفی | شترک او پایتاوه |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | D.A.F.A | چم قلعه |
| له ۱-۳میلادي پېړۍ پورې د یونان کوشاني دوره | D.A.F.A | بامیان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | هډه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | بامیان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | شترک اوپایتاوه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او | D.A.F.A | قول نادر |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| یفتلي دوره | | |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | تصادفی | مرنجان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | تصادفی | سرای خواجه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | د لرغونپوهنې انستیتوت | خم ازګر |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | جاپاني لرغونپوهان | درمان تپه |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | کم داقا |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | کهنه مسجد |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | تپه کلان |
| له ۳-۸ م پېړۍ پورې کوشاني، ساساني او یفتلي دوره | D.A.F.A | فندوقستان |
| له ۸-۹ م پېړۍ پورې | تصادفي | ګردېز |
| د هندوشاهي دوره | تصادفي | تګاب |
| له ۱۵ پېړۍ خخه تراوسه | ISMEO | غزني |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | لښکرګاه |
| د اسلامي دورې اثار | D.A.F.A | غلغلې ښار(۳) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په کابل کې پر(۱۳۷۱ل) کال تنظیمي جنګونه پیل شــول، نو ملي موزیم ته سخت زیانونه واوښتل. موزیم ته د ورپېښــې غمیــزې ټول بیان ددې لیکنې په ججوري که نه ځایېږي. پــه مجمــوعي ډول د موزیم نږدې په سلو کې (۷۰) برخې اثار لوټ، تالان او یا له منځه یــوړل شول.

یو شمېر اثار یې په بهرنیو قاچاق وړونکو وپلورل شول.

## د هډې نامنقول موزیم:

((د جلال اباد د ښار د جنوب ختیز په شپږ کیلو متــرۍ کــې یــو ستر کلی دکوچنیو کوچنیو غونډیو په منځ کې پروت دی. دغه ځای ته هډه وایي.

د اعلیحضرت محمدظاهر شاه د واکمنۍ په زمانــه کــې همدلتــه کیندنې پیل شوې او په نتیجه کې تر ځمکې لاندې یو بیضوي مــوزیم وموندل شو. هغه وخت د دولت له خوا د همــدې ځــای د اوســېدونکو (۱۵۰) تنو پر دې ځای د دې غونډې ګردچاپېره پر کار پیل وکــړ. د درې جریبه ځمکې په ساحه کې د ښار په بڼه مــوزیم وموــندل شــو. دغــه موزیم ته یوه لار راغلې وه او همدا لار له ټولې ودانۍ څخه ګردچــاپېره ګرځېدلې وه. د دروازې خوا کې یو لوی بُت د سلامۍ په حال کې لیدل کېده، تر ټولو مشر بُت چې ګردچاپېره ورڅخه څو بُتان د محافظینو په شکل ولاړ وو، ځای پر ځای شوي وو. یوه فرانسه یي ښځه د کیندونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فني هئیت مشره وه. هغې دغه بت ته د ((ارکــولیس پهلــوان)) نــوم ورکړ. دا موزیم د شپږو کلونو په موده کې سم برابــر شــو، ټــولې (۴۲) کوټې وموندل شوې، حکومت ورته یو ســاتونکی کنــډک واچــاوه. یــو کانتین هم په دروازه کې ورته جوړ شو، چې وروسته به سیلانیان ورتــه راتلل.))

(( تر (۱۳۵۹ل) کــال پــورې هــډه د پخــوا پــه څېــر جــوړه وه، لېږدېدونکي بوتان او نښې یې د کابل په مــوزیم او نالېږدېــدونکي یــې همدغلته په هډې موزیم کې ایښي وو. د پردیو یرغل پــه پایلــه کــې د سیمې استوګن جګړې ته اړ شول، پر (۱۳۵۹لمریز) کال څو راکټــه پــر موزیم راوغورځېدل او د موزیم شاوخوا ونو او بوټو اور واخیست، چــې دولت خبر شو دا ورمړ کولو لپاره یې د اور وژنې څو مــوټره راولېــږل او اور چې دننه په موزیم کې لګېدلی و د اوبو ټانکرې یــې ورتــه مخــامخ کړې او د موزیم یوه برخه پرې خټه شوه. په اور یوازې یو شمېر لرګــي، دروازې او کړکۍ سوې وې او د کچو او چونې نالېږد و بوتانو ته یې تاوان نه و وراړولي وو، خو چې اوبــه ورورســېدې، هــر څــه خټــه شــول او راولوېدل، په دې توګه د بې پروایۍ له امله د موزیم یوه برخــه خــاورې شوه. د (۱۳۷۱ل) کال تر غویي وروسته سیاسي کــړکېچ وغځېــد، نــو وسلوالو ډلو ته د لاسوهنې مهال ګوتو ته ورغی او پر پاتو نښو یــې لــه سره په خپلسرۍ کار پیل کړ او د ګاونډي هېواد سوداګرو لــه کورنیــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلمشرانو سره په غځېدلي لاس خپلې موخې بشپړې او هــر څــه یــې یوړل.)) (۴)

ددې دوو مهمو منقولو او نامنقولو موزیمونــو ترڅنــګ، د هــرات ولایتي موزیم چې پر (۱۳۰۴ ل) کال، د میمنې موزیم چې پــر (۱۳۳۶ل) کال تاسیس شوي وو. د غزني موزیم چې پر (۱۳۴۵ل) کال جوړ شوی، د مزارشریف موزیم چې لرغونی تاریخ لري او نور ولایتي موزیمونه چې په هر یو کې په لسګونو او سلګونو تاریخي میراثونه موجــود وو، اکثــره برخې یې د تنظیمي جګړو او ګډوډیو او همدارنګــه د تــاریخي اثــارو د قاچاق وړونکو له خوا زیانمنې شوې او یا لوټ شوي دي. د هرات موزیم: پر (۱۹۹۴ ) کال د هرات په بالاحصار کې بیا پرانیستل شوی، خو د هغه اثار په دقیق ډول تنظیم شوي نه وو.

د ملي موزیم او ولایتي موزیمونو ترڅنګ یو شمېر نورو موزیمونــو ته هم ډېر زیانونه رسېدلي، د اردو موزیم چې تر ملي مــوزیم وروســته خورا غني موزیم ګڼل کېدل، په بشپړ ډول لوټ شوی او له منځــه وړل شوی دی.

## ملي ګالرۍ:

د (۱۳۶۲ل) کال د ثور پر میاشت افتتاح شوه، په پیل کــې ورتــه (۲۰۰) بېلابېل اثار راوړل شول. وروسته پرې (۵۹۶) اثار هم زیات شول. د تنظیمي جګړو پرمهال د ملي ګالرۍ ودانۍ ته چې پــه اســمایي واټ کې واقع وه او هم د ملي ګالرۍ بېلابېلو اثارو ته ډېر زیانونه واوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نندارتونونه:

د کابل ښار حضوري چمن ته ورڅېرمه (د کابل ننداري) په سـیمه کې د هېواد د لاسي صنايعو، قيمتي ډبرو، غـاليو، تـولنيزې پراختيـا، برېښنا بندونو، مهمو ودانيو (پنځه لس) ننداتونونه جوړ شوي وو. هـر ننداتون ځانته يوه ځانګړې ودانۍ درلوده، په سلګونه ډول ډول اثـار چې تاريخي ارزښت يې درلود، د تنظيمي جګړو پرمهال ټول لوټ، تالان او وسوزول شول.

## ارګ:

((د افغانستان په تاريخي او فرهنګي ميراثونو کې د ارګ مانۍ هم راځي. د ارګ د مانۍ کار د اميرعبدالرحمن له خوا پر (۱۲۹۹هــق) کال چې له (۱۸۸۲م )کال سره سمون لري، پيل شــو. حرمســرای، دلکشـا مانۍ، (۱۲۹۰ هــش) د دلکشا مــانۍ د ســاعت منــار، ګلخــانې مــانۍ، سلامخانې مانۍ، ستوري مانۍ، د ارګ جومات، د ارګ برجونه او ځینې نورې ودانۍ چې تاريخي او فرهنګ ميراثونه ګڼل کېــږي. پــه بېلابېلــو وختونو کې جوړې شوي دي.

ددې ودانيو ځينې يې د (۱۳۵۷ل) کال پــه پېښــو کــې زيـانمنې شوې، خو ژر بېرتته ترميم شوې، د تنظيمي جګړو پر مهال دې ودانيــو ته پوره زيان واوښت، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال که څه هم د زيـانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچه زياته نه شوه، خو د ودانيو په داخل کې ځينې ميناتوري شــوي او هنري برخې يې له يو لړ زيانونو سره مخ شوې.)) (۵)

## د افغانستان مرکزي سيمه:

د هېواد په مرکزي برخو او مرکــزي ولايتونــو کــې زيــات شــمېر تاريخي اثار موجود وو، ځينې له منځه تللي او ځينې زيــانمن شــوي او ځينې اوس هم شته، چې دلته يې په لنډيز سره يادونه کوو:

## باميان:

د لويو مجسمو په ګډون له درېيمې څخه تر اتمې مــيلادي پېــړۍ پورې بودايي مجتمع په همدې سيمه کې جــوړې شــوي، چــې لــويې مجسمې يې د طالبانو د حاکميت پر مهال والوزول شــوې او نــورو وړو مجسمو ته هم سخت زيان واوښت.

## غزني:

له درېيمې ميلادي پېړۍ څخه تر اتمــې مــيلادي پېــړۍ اړونــد د سردار تپې بودايي مجتمع، چې د ايټاليانو له خوا يې پلټنــه شــوې وه، زيات زيانونه زغملي دي.

د سلطان محمود غزنوي (۹۹۸-۱۰۳۰م) مقبرې ته کوم زيــان نــه دی رسېدلی.

په( ۱۲مې) ميلادي پېړۍ پورې اړوند، د غزنويانو د دورې د درېــيم مسعود ماڼۍ چې د فرانسويانو له خوا کيندل شوې وه، لوټ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غزنویانو د عصر منارونه (۱۲مه میلادي پېړۍ) د بېلابېلو پېښــو د اغېز له کبله، زیانمن شوي دي.

د (۱۲) میلادي پېړۍ په وروستیو کې په غور ولایت کې د غوریــانو د عصر منار جام، د طبیعي عوارضــو او د ســیند لــه غــاړې د اوبــو د راپورته کېدو له امله له ګواښ سره مخ دی.

## د تیمور شاه مقبره ۱۷۹۳م:

د تیموریانو په دود جوړه شوې ودانۍ، د تنظیمي جنګونو پرمهــال ډېره زیانمن شوې وه، د ولسمشر کرزي د حاکمیت پر مهال بیا ورغــول شوه.

## بابر بڼ:

په (۱۷مه) میلادي پېړۍ کې د مغولي دورې بابر بڼ زیانمن شــوی: د جګړې په اثر د بابر مقبره (۱۵۳۰ م) مرکزي جومات (۱۶۴۶م) زیانمن شوي، حرم سرای او نورې برخې چې د بمبارۍ په وجه ورانې شوې وې. د بڼ ونې وهل شوي او د سون موادو په توګه ترې کار اخیستل شــوی، د حامدکرزي د حاکمیت په دوره کې دا بڼ یو ځل بیا ورغول شو.

## زوړ ښار:

د (۱۸-۱۹م) پېړۍ یو لړ ودانۍ له ګچي او حکاکي ښکلاوو ســره د خاورو پر ډېرۍ بدلې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي ارشیف ودانۍ:

پر (۱۹۷۳-۱۹۷۸م) کال د ملي ارشیف لپاره ترمیم شوه، د جګړو له کبله یې زیانونه وزغمل، خو بیا یې هم حالت ښه دی.

## بوستان سرای:

پر( ۱۸۹۲ م) کال ودان شوی، د بوستان سرای لازمه څارنه نه ده شوې. یو وخت د ترانسپورټ د ډیپو په توګه ترې ګټه پورته کېدله. پر (۱۹۹۶م) کال د تاریخي ابداتو د ساتنې د ریاست له تفاهم پرته په غلطو مشورو، د ښاروالۍ په واسطه ترمیم شوی دی. د ګچو د کارونې او د لرګیو د باندې برخې ښکلا یې په ښه حالت کې ده، خو ځینې داخلي برخې یې له منځه وړل شوي دي.

## باغ بالا ماڼۍ:

د (۱۸۹۳م) کال اړوند ماڼۍ ده، چې پر (۱۹۶۶م) کال بیا ترمیم شوه، د جګړې له کبله رسېدلی زیان یې ناڅیز و، ترمیم شوې وه، خو یوې تنظیمي ډلې له هغې څخه مېلمستون جوړ کړ، طالبانو هم د خپلې یوې قومندانۍ مرکز کړ. له همدې کبله ورته زیات زیان ور واوښت.

## ستوري ماڼۍ:

د بهرنیو چارو وزارت اړوند پر (۱۹۰۱م) کال جوړه شوه، په (۱۹۱۲-۱۹۱۵ م) کلونو کې نورې زیاتونې په کې وشوې او نورې برخې ور پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړل شوې. پر (۱۹۹۵م) کال یې په سالون کې نوی زیاتون راوستل شو. د تنظیمي جګړو پرمهال ور اوښتي زیانونه یې یو ځل بیا ورغول شول.

## د شاه دوشمشېره جومات:

د( ۱۶مې م) پېړۍ د جومات پر ځای، د هغـه ودانـۍ پـر (۱۹۲۰م) کال جوړه شوې ده، په ښه حالت کې ساتل کېږي. تراوسه ورتـه کـوم څرګند زیانونه نه دي اوښتي.

## د کابل ښندې:

د کابل ښار او شاوخوا سیمو کې هم زیات شمېر تاریخي ابدات موجود وو چې ځینو ته یې سخت زیانونه رسېدلي دي، دلته غواړو پـه لنـډیز سره دا تاریخي ابدات معرفي کړو.

## د چکړیو مینار:

د لومړنیو میلادي پېړیو بودایي مینار د توغندیو د لګېدو له املـه زیانمن شوی و، خو د هغو دلایلو له مخې چې تراوسه څرګند شوي نـه دي، د (۱۹۹۸م) کال په اپریل کې ونړېده.

## ګلدره:

( ۴ مې میلادي) پېړۍ پـورې اړونـد د بـودایي معبـد او سـتوپه مجتمع، په پراخ ډول، د سیمه ییزو قوماندانانو له خوا د اثارو د ترلاسه کولو او غلا کولو لپاره پلټل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چهلستون ماڼۍ:

د (۱۸۸۸م) کال یوه ودانۍ وه چې پر(۱۹۰۵) او ۱۹۵۰م کال په کې نور بدلون راوستل شو. د تنظیمي جګړو له امله د خاورو پر ډېرۍ بدلــه شوې ده.

## د دارالامان ماڼۍ:

پر (۱۹۲۳م) کال د حکومت د مرکــز پــه توګــه وپېژنــدل شــوه، بېلابېلو جګړو هغې ته دروند زیان اړولی دی.

## د تاج بېګ ماڼۍ:

پر (۱۹۲۴م)کال پورې دې اړوند ماڼۍ هم زیات زیان لیدلی دی.

## پغمان ماڼۍ:

دا د اعلیحضرت امان الله خان دوبنــی اســتوګنځی و، چــې پــر (۱۹۲۰م)کال جوړ شوی، د ښکلو ماڼیو، تیاترونو او هوټل پــه ګــډون، دا استوګنځی د تنظیمي جګړو پرمهال په قصدي ډول پر خاورو بدل شو.

## د افغانستان لویدیځ:

د هېواد لویدیزه سیمه هم د ګڼو تاریخي اثارو خاونده وه، دلته په لنډېز سره ورته نغوته کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هرات:

## جامع جومات:

پر (۱۲۰۰م) کال د غوریانو پر وخت جوړ شوی او په (۱۵مه) میلادي پېړۍ کې د تیموریانو په واسطه ترمیم او له (۱۹۴۳م) کال راپه دېخوا یې ښکلا ته نوره پاملرنه هم کېږي. له جګړې څخه رسېدلي زیانونه یې ترمیم شوي او په ښه ډول ساتل کېږي.

## مالان پل:

له (۱۵۰۶م) کال څخه شتوالی لري. جګړو ورته زیان رسولی او د (۱۹۹۴-۱۹۹۶م) کلونو ترمنځ په ناسم ډول ترمیم شوی دی.

## د امام فخر رازي جومات او مزار:

د (۱۳ مې م) پېړۍ اړوند، جګړو هغه ویجاړ کړی او د پانګوالو خلکو له خوا یې د بیا رغونې هڅه وشوه، خو په سم ډول یې جوړ نه کړای شو.

## د مصلی منارونو مجتمع او د ګوهر شاد مقبره:

د (۱۵مې م) پېړۍ د تیموریانو د وخت اړوند د ګوهر شاد مقبره چې د جګړو له کبله د هغې د ګنبدې د کاشۍ زیاتې برخې له منځه تللي دي. هغه ونې چې پر (۱۹۴۰م)کال د ساتونکي دېوال په توګه د جون- سپتمبر د میاشتې د (۱۲۰) ورځني باد په مقابل کې ایښودل شوې وې، له منځه وړل شوي دي. په دې سیمه کې له شپږو موجودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینارونو څخه یو یې د یو توغندي په واسطه له منځه تللی او دوه نــور یې د توغندي له مستقیم لګېدو سره سره ولاړ پاتې دي.

## ګازرګاه:

د تیموریانو په واسطه په ۱۵مې میلادي پېړۍ کــې پــه کاشــیو ښکلی شوی زیارت د ۱۱مــې مــیلادي پېــړۍ ســتر صــوفي، شــاعر او فیلسوف خواجه عبدالله انصــاري تــه ځــانګړی شــوی دی. د هغــه د مجاورانو له خوا ښه ساتل کېږي. د مرمرو له ډېرو څخه جــوړه، د یــوه حیوان مجسمه چې هغه ته په ورننوتونکې دروازه کې ودرول شوې وه. د طالبانو له خوا لرې شوې ده.

## د کرباس حوض:

د هرات ښار د لویدیځ په (غلوار) کلي کې له داخلي ښکلاوو سره په تیموري دورې پورې تړلی دی. د یو ډنمــارکي نــاحکومتي ســازمان ډاکار DACAAR موسسې په واسطه ترمیم شوی دی.

## د محدث زیارت:

د تیموریانو د دورې د (۱۵مې مــیلادي) پېــړۍ اړونــد مدرســه او جومات چې د (۹ مې م) پېړۍ د پوه خواجه عبدالولید پــه ویــاړ جــوړ شوی و، د جګړې له کبله ورته زیات زیان اوښتی دی. د مقبرې پر سر د ګنبدې ترمیم، د خلکو په همکارۍ، د ډاکار موسسې له خوا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ظفر تخت:

د تیموریانو د دورې د (۱۵مې) پېړۍ د تفریح بــڼ و، تــر (۱۹۶۶م) کال پورې د کارېدو وړ و. پر (۱۹۹۴م) کال له یوې مخې له کاره ووت.

## د چهارسوق حوض:

د (۱۷مې م) پېړۍ اړوند د عامه اوبو زېرمه، وچــه شــوې او د لــه منځه تلو په حال کې ده.

## د افغانستان شمال:

د افغانستان په شمال کې هم ګڼ شمېر تــاریخي اثــار موجــود وو چې د بېلابېلو حوادثو له امله ورته سخت زیانونه رسېدلي دي، دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو.

## ای خانم:

د تخار ولایت خواجه غار ته نږدې، تر مــیلاد دمخــه د ۲ـــــــــ۴ پېړیو، یو یوناني ښار دی، چې د فرانسویانو له خوا پلټــل شــوی و. پــه بلدوزرونو د تونلونو د کیندلو له امله هلته په منظم ډول لوټ شو.

## طلا تپه:

شبرغان ته نږدې، پــه لــومړۍ مــیلادي پېــړۍ پــورې اړونــد، د کوشانیانو یوه هدیره، د افغانستان او شوروي لرغونپوهانو ګډو کیندنو شپږ قبرونه رابهر کړل، چې له هغو څخه د سرو زرو شاوخوا (شــل زره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثار لاسته راغلي وو، د دوو ناپلټل شويو قبرونو تالان پر (۱۹۸۰م) كــال پيل شو.

**سور كوتل:** پلخمري ته نږدې دويمې ميلادي پېړۍ پورې اړونــد مذهبي مجتمع، په دې باب معلومات په لاس كې نه شته.

## رباطك:

ده په دويمې ميلادي پېړۍ پورې اړوند، پلخمــري تــه نــږدې يــو سلطنتي معبد، د (۱۹۴۳م) كال تصادفي كشف، د جنګونــو پرمهــال د سيمه ييزو زورواكو په لاس كې و.

## د رستم تخت:

د سمنګانو ولايت (ايبكو) ته نږدې په (۴مــې او ۵ مــې) مــيلادي پېړۍ پورې اړوند بودايي مجتمع او ستوپه ده چې غلا شوې نه ده، خــو زيانونه ورته اوښتي دي.

## بلخ:

د هېواد يو تاريخي ولايت دی، تــاريخي ابــداتو تــه يــې زيانونــه رسېدلي دي، دلته يې په لنډيز سره يادونه كوو.

## زوړ ښار:

د ۱۹۹۵ كال له پېښو پلټنو څخه د ای خانم يوناني ستنو تــه ورتــه ستنې لاسته راغلي، چې د شخصي كورونو د جوړولو لپاره ورڅخه كــار اخيستل شوی دی. ناتاييد شوي راپورونه د زياتو كشفونو خبرې كوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نهو ګنبدو جومات:

ساساني دوره ۹مه میلادي پېړۍ: د ساتنې دېوال یې د نړېدو او د ګچو برخه یې د اوبو د څڅېدو له خطر سره مخ ده او د ماتېدو له کبلــه یې یوه لیندۍ له خطرناک حالت سره مخ شوې ده. نور زیانونه هم ورته متوجه دي.

## د خواجه ابونصر پارسا زیارت:

د تیموریانو د دورې د وروستیو وختونو اړوند، د هغه د ګنبــدې د کاشیو ځینې برخې د توغندیو د لګېدو له امله بې ځایــه شــوې دي. د (۱۹۷۴م) کال ترمیمونه د ناسمې ساتنې له کبله، له خطر سره مخ دي. د هغه داخلي برخه نسبتاً قناعت ښښونکې ده. په جنوبي لــوري کــې د نوي جومات جوړول، د هغه اصل ډېزاین له منځه وړی دی.

## د سید سبحان قلي خان مدرسه:

د (۱۷ مې م) پېړۍ د وروستیو وختونو اړوند مدرسه ده، په جدي ډول د نړېدو په حال کې ده.

## د حضرت علي کرم الله وجهه روضه:

د (۱۵مې م) پېړۍ د تیموري عصر ودانۍ، د عصري کاشیو له نویو ښکلاوو سره له (۱۹۹۴م) کال راپه دېخوا یې ځینې برخې پــه نــا فنــي ډول رغول شوي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مزار په لویدیځ کې تخته پل:

د (۱۹ م) پېړۍ اړوند جومات، باندینۍ برخه یــې پــه نســبتاً ښــه حالت کې ده، خو د وخت په تېرېدو سره یې داخلــي برخــې تــه زیــان اوښتی دی.

## د آقیني حوض:

د (اندخوی) په شمال کې د (۱۶مې م) پېړۍ شاوخوا اړوند، د اوبو د یوې ژورې (۱۶ متره) زېرمې پر سر (۱۶ متري) ګنبــده، لــه بېلابېلــو پېښو سره سره له زیاتو زیانونو سره مخ نه ده.

## د سرپل–امام خورد:

د سلجوقیانو د وخت د یوولسمې میلادي پېړۍ اړونــد، د داخلــي ښکلاوو او غوره ډېرلیکنو لرونکی، ښه ساتل شوی دی، تراوســه ورتــه کوم زیان نه دی اوښتی.

## د افغانستان ختیځ:

د هېواد په ختیز کې هم ګڼ شمېر تاریخي ابدات موجود وو، زیانونه یې زغملي، دلته یې په لنډېز سره یادونه کوو:

## غوچک:

جلال اباد په لویدیځ کې د (۱۶۱۰م) کال اړوند د مغولو د وخت بڼ او د شلمې پېړۍ یوه ماڼۍ پر (۱۹۹۴ م) کال د معــروف پــه نــوم د یــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني نا حکومتي سازمان ( د نړۍ د خوړو او کرنې سازمان) په مرسته ترمیم شوه. له زیانونو سره مخ شوي دي.

## سراج الامارت ماڼۍ او بڼ:

دې ماڼۍ ته د غازي امان الله خان پر ضد د شورش پر مهال درانه زیانونه واړول شول، ماڼۍ وسوزول شوه. تر (۱۳۸۵ ل) کال وروسته یې بیا رغونه پیل شوه، نږدې (۸۰) په سلو کې یې کار بشپړ شو. بڼ ته ډېر زیانونه نه دي ور اوښتي.

## د افغانستان جنوب:

د هېواد په جنوب کې زیات شمېر تاریخي ابدات موجود وو چې جګړو ورته زیانونه اړولي دي. دلته به له دې تاریخي اثارو د ځینو یادونه وکړو:

## د هلمند ناوه:

په بست او لښکري بازار کې د (۱۲مې م) پېړۍ د غزنویانو د وخت ژمنۍ ماڼۍ او بالاحصار، تر جګړې دمخه د بست تشریفاتي لینډۍ ترمیم شوې ده، خو لا هم ګواښونه پوره له منځه نه دي تللي.

## کندهار،د اشبوکان بڼ:

د کندهار په زاړه ښار کې ارامیک او یوناني دوه ژبی یو ډبرلیک چې( ۳ ق م) پېړۍ پورې مربوط دی، په خپل اصلي حالت موجود و. د هغه په باب معلومات په لاس کې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چهل (څلوېښت) زینه:

د (۱۶ مې) میلادي پېړۍ اړوند له ډېرې څخه د څلوېښتو پوړیو جوړه یوه زینه، چې د ظهیرالدین محمد بابر د لاربښوونې له مخې د جوړ شوي ډېرلیک له محوطې سره نښلي، ډېر زیانونه ورته نه دي رسېدلي.

## د میرویس نیکه مقبره (۱۷۱۵م):

پر (۱۹۳۰ م) کال د احمدشاه بابا د مقبرې په شان جوړه شوې ده؛ د باندې د ښې مهندسۍ او په داخل کې د نقاشۍ لرونکې ده، چې شاوخوا یې د کوکران د بڼ په واسط احاطه شوې او ښه ساتل شوې ده.

## د احمد شاه بابا مقبره (۱۷۷۲م):

بهرنۍ برخه یې ډېره استادانه مهندسي او په داخل کې نقاشي لري چې په ښه حالت کې ده او تراوسه ورته کوم زیان نه دی رسېدلی. (۶)

## خرقه شریفه:

په کندهار کې د ډېرو پخوانیو ودانیو له جملې څخه ده، چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) مبارکه خرقه په کې ساتل کېږي. کوم زیان ورته نه دی اوښتی، خو د ۱۳۹۲ل کال په بهیر کې هڅه وشوه چې ددې ودانۍ دروازه د ترمیم په پلمه له دې ځایه وباسي، خو د سیمه ییزو خلکو له خوا یې مخه ونیول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو فرهنګي میراثونو ترڅنګ په هېواد کې نـورو فرهنګـي میراثونو او تاریخي اثارو ته هم زیات زیانونه اوښتي چې د ټولـو څېـړل دلته په دې لیکنه کې ممکن نه دي، خو دلته یوازې ډېر مهمـو او غټـو فرهنګي میراثونو ته اشاره وشوه.

## د فرهنګي میراثونو نن

نن هم زموږ فرهنګي میراثونو ته زیات ګواښونه او زیانونه مخامخ دي، خو په ځینو سیمو کې ددې ګواښونو کچه زیاته او په ځینـو کـې کمه ده. تر (۱۳۵۷ل) کال وړاندې زموږ د هېواد فرهنګي میراثونـو تـه ډېر زیات زیانونه متوجه نه وو او که کوم زیانونه وو، نو اکثرو یې طبیعي بنه لرله. البته د پېړیو په بهیر کې جنګونو او ناتارونو زمـوږ یـو زیـات شمېر فرهنګي میراثونه او اثار له ستوني تېـر کـړي، خـو د خپلسـرو کیندنو او د تاریخي اثارو د لوټ او تالان لـړۍ ډېـره ګرمـه نـه وه، تـر (۱۳۵۷ ل) کال وروسته بیا تـر (۱۳۸۰ل) کـال پـورې لـوټ او تـالان، ړنګونې او ورانونې بېلابېلې بڼې خپلـې کـړې او پـه دې بهیـر کـې د افغانستان، تاریخي اثارو، ابداتو او فرهنګي میراثونو نه جبرانېـدونکي زیانونه واوښتل چې د (پرون) په بحث کې ورته نغوته وشوه. د (نن) لـه زماني واټن څخه زموږ هدف تر (۱۳۸۰ل) کال وروسته بیا تـر دې دمـه (۱۳۹۳ل) کال پورې مهال یا زماني واټن دی. په دې بهیر کې کـه څـه هم زموږ د هېواد په بېلابېلو برخو کې جګړه روانه وه او لا هم روانه ده، خو د جګړې څپې هغومره ګرمې نه وې، چې تر دې دمخه دوو لسـیزو کې ښکارېدلې. په دې وروستیو دیارلسو کلونو کې د نړیوالې ټـولنې د مالي مرستو په برکت، د حکومت بېلابېل بنسټونه له سره ورغول شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا کار ددې سبب شو، چې زموږ یو شمېر فرهنګي میراثونه هــم لــه سره ترمیم او د ویجاړېدو مخه یې ونیول شي. که څه هم په دې تېــرو (۱۳) کلونو کې لا هم د ویجاړۍ لــړۍ او د تــاریخي اثــارو د پټــونې او قاچاق پروسه ودرېدلې نه ده، خو د تېرو نورو دوو لسیزو په شان هم نه ده. یانې دا چې د شپېتمو او اویایمو کلونو په اندول د هېواد فرهنګــي میراثونه په خوندي حالت کې دي. په همدې تېرو څو کلونو کې هېــواد ته په فرهنګي ډګر کې د ګڼو فعالیتونو تر څنګه، زیات شمېر تــاریخي اثار له بهرنیو هېوادونو بېرته هېواد ته راوړل شول او د هېواد یو شــمېر مهم تاریخي اثار بهرنیو هېوادونو ته د ننداريې لپاره یــوړل شــول. پــه لسګونو تاریخي ودانۍ چې افغانستان ته یې د فرهنګــي میراثونــو پــه توګه ارزښت درلود، بیا ورغول شوې او د ړنګېدو مخه یې ونیول شوه، چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

((د هېواد ملي موزیم بیا احیا او بیا ورغول شو، ځینې تاریخي اثار یې چې مات او په تېرو وختونو کې له منځــه تللــي وو، بېرتــه تــرمیم شول. د هېواد یو زیات شمېر لرغوني اثار چې (۴۳۸۲) ټوټې کېږي، لــه ډنمارک هېواد څخه او (۲۱۴) له اسلام اباد څخه راوړل شــول، نــږدې (۱۴۲۳۰) ټوټې اثار ترلاسه شول.))

د غور ولایت د (جام منار) او د بدخشان د (شهیدانو منار) ترمیم شول. د هرات ولایت د څلورو تاریخي څلیو تــرمیم، د بلــخ ولایــت د څلورو تاریخي څلیو رغونه، د سلطان محمود غزنوي د تــاریخي څلــي ترمیم، د تخار ولایت د حضرت واقف د تاریخي څلي ترمیم، د خواجــه ګیان د تاریخي څلي ترمیم، د شېخ سعدالدین انصاري د تاریخي څلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمیم او په ځینو نورو ولایتونو کې د تاریخي ودانیو بیا رغونه د تاریخي میراثونو د بیا رغونې ښې بېلګې دي.

سربېره پر دې ملي موزیم ته د بېلابېلو مراجعو له لارې (۴۵) قلمه نور اثار راوړل شول چې ټول (۵۶۰) اثار کېږي.

ددې ترڅنګ (۹۰۱) تاریخي اثار پاک او صفا شول.

همدارنګه له بېلابېلو سیمو څخه (۳۸۱) اثار ترمیم او ملي مــوزیم ته وسپارل شول.

په غزني ولایت کې اووه تاریخي ابدې ترمیم شوې.

د هرات د اختیارالدین د کلا ترمیم چارې بشپړې شوې.

د اسلامي ثقافت د مرکز په توګه د غزني د اعلانولو پــه مناســبت ګڼ شمېر تاریخي ابدات بیا ترمیم شول.

د امیر شېرعلي خان تاریخي ابده، د وزیرمحمد اکبر خان مقبره او د هرات جامع جومات ترمیم شول.

سربېره پر دې په کابل کې د شېخ سعدالدین انصــاري د تــاریخي ابدې، د سیدجمال الدین افغان د تاریخي ابدې، د امیــر عبــدالرحمن خان د مقبرې، په کابل کې د سردارمحمد جان خان د مسجد، د غزني په ښار کې د باباعلي د جومات، د غزني ښار د شریف خان د مقبرې، په غزني کې علي لالا د مقبرې، په غزني ښار کې د پیر شاطرها د مقبرې، په غزني کې د سیدحسین اغا د مقبرې، په غزني کې د شامیرصــاحب پالیزوان د مقبرې، په غزني کــې د ســلطان ســبکتګین د مقبــرې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواجه محمدلایخوار د مقبرې، په غزني کې د تاج اولیـا د مقبــرې، د حضرت ترک د مقبرې، د ســیداحمد مکــي د زیــارت، د ســیدجلال د زیارت، د شېخ احل د مقبرې، د خواجه بقال د مقبرې، په کابــل کــې د خواجه ګیان د تاریخي ابدې، په غزني کې د ســیدعثمان هجــویري د مقبرې، په غزني کې د بهلول صاحب د زیارت، په غزني کې د حضــرت خواجه ملکیار د زیارت، د شاه‌سکندرولي زیارت، په کندوز کې د امــام صاحب د روضې، د غزني د زاړه ښار د جومات، د غزني ښار د حنبــري جومات، په غزني ښار کې د سیدشا اغا د مقبرې، د سلطان ابــراهیم د مقبرې او مسعود د قصر، ابو ریحان البیروني د قبر، پــه غزنــي کــې د سلطان محمود غزنوي د ټولګې یا مجمع ترمیم، د کابل تیاتر بیا احیا، د ملي ارشیف د الحاقیه ودانۍ ترمیم، هلمند ولایــت د شــهزاده بابــا د زیارت بیا رغول)) (۷)او نور ګڼ شمېر رغــاونیز کارونــه، هغــه مثبــت فعالیتونه وو چې د حامد کرزي د واکمنۍ پــر تېــرو (۱۳) کلونــو کــې ترسره شول.

# د فرهنګي میراثونو سبا

څرنګه چې زموږ فرهنګي میراثونه پرون هم له ګڼو خطرونو ســره مخ وو، نن هم دي، نو سبا هم ددې اټکل شته چې په لږو ډېره کچه بــه دا خطرونه امتداد پیدا کوي . د قصدي او ناڅاپي خطرونو ترڅنــګ د طبیعي پېښو خطرونه او ګواښونه هم طبیعي دي. نو ځکه خو موږ باید مخکې تر مخکې هر ډول خطرونو، اندېښــنو او ګواښــونو تــه متوجــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسو. دا ډول خطرونه هم زموږ معنوي میراثونو ته متوجــه دي او هــم مادي فرهنګي میراثونو ته!

د (سبا) په بحث کې زه غواړم همدغو احتمالي خطرونو او د هغو د مخنیوي پر لارو چارو لنــډ بحــث ولــرم او پــه دې برخــه کــې خپــل وړاندیزونه وړاندې کړم:

## مادي فرهنګي میراثونو ته پېښ ګواښونه

لکه څنګه چې په تېرو وختونو کې زموږ مادي فرهنګي میراثونــو ته زیات زیانونه واوښتل، په ګانده کې هم د نــورو زیــانونو د ور اوښــتو اټکل شته، غواړو دلته په لنډیز سره ځینو خطرونو او د هغو د مخنیوي لارو چارو ته نغوته وکړم:

## جګړه او د جګړې مخنیوی:

د (نن) او (پرون) جګړو نه یوازې زمــوږ زیــات شــمېر فرهنګــي میراثونه له منځه وړي، بلکې د افغاني ټولنې هره برخه یې ځپلــې او د پرمختګ مخه یې نیولې ده. که په هېواد کې له هــرې ممکنــې لارې د جګړې د تداوم مخنیوی وشي، نو طبیعي خبره ده چې هــم فرهنګــي میراثونو ته احتمالي خطرونه له منځه ځي او هم د ټولنې نورې برخــې ښېرازه کېږي، خو دا چې د جګړې بندول یو لــوی سیاســي او پــوځي ځواک او تدبیر ته اړتیا لري او که ټوله جګړه ودرول شــي، نــو دا خــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنځورې او جګړه ځپلې افغاني ټولنې ته د نوش دارو حیثیت لري او که چېرې دا ممکنه نه وي، نو د جګړې د دوام په حالت کې د نړیوالو قوانینو له مخې د ملګرو ملتو هغه اړوند ارګانونه چې د جګړې په حالت کې د فرهنګي میراثونو ساتنه کوي، د هغوی مرسته او ملګرتیا باید را جلب شي، چې د جګړې د بندېدو تر وخته د افغانستان د فرهنګي میراثونو ساتنه وکړي.

## د قاچاق مخنیوی:

د هېواد یو زیات شمېر تاریخي اثار او فرهنګي میراثونه د شخصي ګټې لپاره قاچاقېږي، ګاونډیو او نورو هېوادونو ته وړل کېږي. حکومت او اړوند ارګانونه باید له ټولو ممکنه لارو چارو څخه کار واخلي، چې د تاریخي اثارو د قاچاق مخنیوی وکړي، د تاریخي اثارو بازار، لنډ، تنګ، بند او بې ارزښته کړي. کله چې دې ډول اثارو ته په کورنۍ او بهرنۍ کچه مارکېټ نه وي، څوک یې قاچاق ته زړه نه ښه کوي.

## دوه اړخیز پروتوکول:

له ګاونډیو هېوادونو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره دې داسې دوه اړخیز پروتوکول وشي، چې د هغو له مخې د هر هېواد قاچاق شوي فرهنګي میراثونه بېرته مسترد شي او هم قاچاقوړونکي یوبل ته وسپارل شي، دا کار به ددې سبب شي، چې هم د فرهنګي او تاریخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثارو د قاچاق مارکېټ له منځه لاړ شي او هم قاچاق وړونکــي د خپــل ژوند د خطر او له قانون څخه د وېرې له امله قاچاق ته زړه ښه نه کړي.

## د جزايي قانون سختوالی:

سر له دې چې د هېواد په جزايي قانون کــې د هــر ډول قاچــاق لپاره سزاګانې په ګوته شوي، خو کــه د فرهنګــي میراثونــو د قاچــاق وړونکو لپاره سزاوې نورې هم سختې شي او بیا دا سزاګانې عملي بڼــه خپله کړي، نو دا کار هم ددې سبب ګرځي چې د فرهنګي میراثونو لــه خوندیتابه سره مرسته وکړي.

## عامه پوهاوی:

موږ سره له دې چې بډایــه فرهنګــي میراثونــه لــرو، خــو ددې میراثونو د ارزښت، پایښت او د هغو د پیغامونو په باب ولــس تــه پــوره پوره معلومات نه دي وړاندې شوي، یو شمېر کســان خــو د فرهنګــي میراثونو قاچاق هم عادي سوداګري ګڼي، نو ځکه خو یــې د مشــروع تجارت په شان د خپل روزګار یوه برخه ګرځولې ده. که رسنۍ: دولتــي او نادولتي ټولې د فرهنګي میراثونو، ارزښت، ماهیت او اهمیت ولس ته په ډاګه کړي او همدارنګه سوداګر یا قاچاق جوړونکي د هغو له قانوني عواقبو خبر کړي، کېدی شي ولس او قانوني ســرچینې یــو بــل ســره ملګرتیا وکړي او په ګډه د فرهنګي میراثونو د قاچاق مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپلسرې کیندنې:

خپلسرې او نافني کیندنې، څېړنې او سپړنې بل عامل دی چې زموږ فرهنګي میراثونو ته یې سخت زیان رسولی او رسوي یې، حکومت باید له ټولو لارو او همدارنګه ولس د خپل ملي احساس له امله په هېڅ تاریخي ساحه کې هېڅ ډول ناقانونه او نافني کیندنو ته اجازه ور نه کړي. خپلسرې او نافني کیندنې نه یوازې د غلا او قاچاق کار دی، بلکې د تاریخي اثارو د ترلاسه کولو او غلا کولو لپاره نور ګڼ شمېر اثار هم د دا ډول کیندنو په بهیر کې له منځه ځي.

## معنوي فرهنګي میراثونو ته پېښ ګواښونه

لکه څنګه چې و په پیل کې یادونه وکړه، معنوي یا ناملموس فرهنګي میراثونه د مادي هغو په اندول تر زیات تهدید، ګواښ او خطر لاندې دي. دا خطرونه او ګواښونه په څرګند او ناڅرګند ډول رامخې ته کېږي او زموږ معنوي میراثونه ګواښي. دلته به په لنډیز سره ځینو خطرونو او د هغوی د مخنیوي لارو چارو ته نغوته وکړو:

## د کلتوري یرغل مخنیوی:

دمخه مو هم یادونه وکړه چې معنوي میراثونه د یوې ټولنې ټول ارزښتونه، دودونه، عنعنات، اداب، اروایي جوړښتونه، ژبه او نور ناملموس ارزښتونه رانغاړي. طبیعي خبره ده چې دا ارزښتونه په زور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبر، پوځي يرغل او د نورو فزيکي فشاري وسيلو په واسطه په يوځايي ډول له منځه نه ځي. کلتوري او معنوي ارزښتونه د پرديو د کلتوري يرغل له امله ورو ورو له منځه ځي او دا ډول يرغلونه تر شا خپل وسايل او خپل عوامل لري.

اوس چې زموږ هېواد له بېلابېلو خواوو د نورو د ځواکمن او وسيله ييز کلتور تر يرغل لاندې دی. زموږ معنوي ميراثونو ته يې سخت زيان اړولی او لا يې هم اړوي.

دا يرغل د هغو د رسنيو، اموالو، مادي او معنوي ملاتړ په مرسته ترسره کېږي.

## د دفاعي کلتوري ستراتيژۍ جوړول:

افغانستان د خپل کلتور د ساتنې، پالنې او د بهرنيو د کلتوري يرغل د مخنيوي او د خپلو فرهنگي ميراثونو د خونديتابه لپاره هر اړخيزې کلتوري ستراتيژۍ ته اړتيا لري، په خواشينۍ سره چې په تېرو دوه درې لسيزو کې موږ د داسې يوې پراخې ستراتيژۍ له نشتوالي سره مخ يو. ان خبره تر دې حده هم رسېدلې چې موږ د گاونډيو د کلتوري يرغل د تعريف په باب هم د هغوی د پلويانو له خوا له ستونزو سره مخامخ يو. د يو مشخص مفهوم لپاره بېلابېل تعريفونه او مفاهيم وړاندې کېږي، خو په واقعيت کې يرغل روان دی او زموږ معنوي ميراثونه گواښي. فرهنگي ستراتيژي بايد پردی يرغل، د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګونو ګډ ټکي او د خپل کلتور اصيله او د ساتنې وړ برخه تعريـف کړي او بيا يې د ساتنې او پالنې لپاره وسايل او لارې چـارې پـه ګوتـه کړي.

## رسنيز فعاليتونه:

د نورو د کلتوري يرغل او د خپلو معنوي ارزښـتونو د سـاتنې او پالنې لپاره، د دولتي وسايلو، امکانـاتو او مشخصـو قوانينـو ترڅنـګ رسنيزو فعاليتونو ته هم ډېره اړتيا ده، موږ تر هغه پورې د نورو رسـنيو له لارې د هغوی د کلتوري يرغل مخه نه شو نيولای، چې خپلې رسنۍ ته ورته فعالې او تر هغوی غښتلې نه کړو. رسـنۍ نـه يـوازې د پـردي کلتور مخه نيولای شي، بلکې خپل معنوي ارزښتونه هم په ښـه توګـه ځلولای او نورو ته ورپېژندلای شي.

## د فرهنګي ميراثونو تصويري کول او ډيجيټل کول:

اوس چې تخنيکي وسايل زيات او عصـري شـوي او هـم ارزانـه شوي، په کار ده چې د هېواد د ټولو فرهنګي ميراثونو د تصويري کولـو لپاره هڅه وشي. د ويډيويي او جامدو تصـويرونو پـه بنـه د فرهنګـي ميراثونو خوندي کول به موږ سره مرسته وکړي چې د خپلو فرهنګـي ميراثونو اوسنۍ بڼه لږ تر لږه په تصويري توګه خوندي کـړو. د همـدې مستندو تصويرونو له لارې کولای شو، د هغو د بيا رغـونې لپـاره کـار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو. دا تصویرونه د ناوړه اوطبیعي پېښو له امله د دې اثارو د له منځه تلو په حالت کې هم د هغو د بیا جوړولو لپاره ښه لاسوندونه کېـدلای شي. د فرهنګي اثارو د قاچاق په حالت کې هم له خپلو دې لاسوندونو څخه د ګټې اخیستنې له لارې کولای شو، هغه له قـانوني لارو بېرتـه ترلاسه کړو. د تصویري او ویډیویي ننداره له لارې کولای شو، نه یوازې خپل فرهنګي میراثونه نورو ته معرفي کړو، بلکې د ګټې یوه ښه وسیله هم ترې جوړېدی شي او په لاسته راغلـو پیسـو یـې خپـل فرهنګـي میراثونه رغولای شو.

## د فرهنګي میراثونو د ساتنې لپاره د مرستې صندوق:

که د بسپنې یو صندوق رامنځته شي او هر افغان یا لږ تـر لـږه د فرهنګ هر مینوال په کال کې له دې صندوق سره ډېره کمـه مرسـته هم وکړي، نو زموږ د فرهنګي میراثونو د سـاتنې او پـالنې، رغـونې او ځلونې لپاره به ډېره اغېزمنه وسیله وي.

د پورتنیو لارو چارو ترڅنګ نورې اغېزمنې لارې چارې هم شته، خو اوس پر همدغو څو مهمو ټکو بسنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱ ) پرورشگاه فرهنگ باستانی،پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان فرهنګ تاریخ، ۱۳۹۳ل کال ۶۰-۶۶ مخونه.

(۲) د افغانستان د فرهنګ تاریخ،سرمحقق زلمی هېوادمل، د دکتورا دورې درسي مفردات، ۱۳۹۳ ل کال، ۲۳- ۲۴ مخونه.

(۳)د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه،محمد اسمعیل یون، ۱۳۸۷ل کال، ۵۶-۵۹ مخونه.

(۴) د ننګرهار فرهنګي بهیر ته یوه کتنه،محمد داود وفا، د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ۱۳۷۷ل کال، ۴ مخ.

(۵)د ارګ، نن او پرون،علم ګل سحر، ۱۳۹۱ل کال، کابل چاپ، بېلابېل مخونه.

(۶)د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، نینسي دوپري، ۱۳۸۷ل کال، ۴۰- ۵۷ مخونه.

(۷)د جمهور رئیس کرزي کارنامې،علیشاه مظلومیار، ۱۳۹۳ل کال، ۱۳۳-۱۳۵ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان څرکونه

پښتو لرغوني ادبیات، چې له (۱۳۹هـ ق) څخه پیل او تر نږدې (۱۰۰۰هـ ق) پورې رسېږي، اکثره ادبپوهان دغه دوره لــومړۍ یــا لرغــونې دوره ګڼي او ددې دورې ادبیاتو ته هم لرغوني ادبیــات وایــي. لــه لرغــوني دورې څخه موږ ډېر لیکلي ادبیات نه دي ترلاسه کړي، خــو دا پــه دې مانا نه ده چې دلته د ادبیاتو بېلابېل او ډېر ډولونــه نــه دي رامنځتــه شوي، د زمانې ناخوالو، د لرغوني دورې ادبیاتو یوه بډایه پانګه زموږ له لاسه تروړلې ده. خو بیا هم کوم ادبیات او د هغو بېلابېل ډولونه چې تر اوسه پورې تر لاسه او خوندي شوي، د کمیت په انډول یــې کیفیــت د خورا زیات ارزښت وړ دی. له شکلي پلوه په لرغونې دوره کــې، غــزل، قطعه، ډوله نارې رباعي، مثنوي، قصــیده او د ولســي ادبیــاتو ځینــې فورمونه لیدل کېږي. ځینې کسان منظوم داستان هم یو فــورم ګڼــي، خو حقیقت دادی چې دا داستان کوم فورم نه دی. منظوم داستان هغو اثارو ته ویل کېږي چې د بیان له مخې حکایتي، روایتي یا کیسه ییــزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼه ولري، دا چې دې کیسه ییز بیان کې کومه محتوا بیانېږي او په کوم قالب کې بیا دا محتوا ځایېږي دا نو بیا د لیکوال یا شاعر پــه ظرفیــت پورې اړه لري چې خپل کیسه ییز پیغام په کوم چوکاټ کــې بیــانولای شي. داستان ته په عام ډول په پښتو کې کیسه هم وایي چې موخه یې اکثره همغه منثور داستان دی، داستان کېدی شي، منظوم وي او یا هم کېدی شي منثور وي. منثور داستان یا کیسه، معمولاً پــر لنــډه لنــډه کیسه، لنډه کیسه، منځنۍ کیسه یا اوږده کیسه وېشل کېــږي، چــې هره یوه بیا خپله خپله ځانګړتیا لري، خو منظوم داستانونه بیا په ډېرو فورمونو کې نه ویل کېږي.

قصیده، غزل او ځینې ولسي فورمونه هم په ډېره کمه کچــه د ځینــو پیغامونو او مفاهیمو د داستاني بیان لپاره کار کوي، خو تــر ټولــو چــې معمول او دود دی، هغه مثنوي فورم دی چې هم په کې لنډ حکایتونــه بیانېږي او هم د اوږدو کیسو او پیغــامونو د بیــان وس لــري. د پښــتو منظومو داستانونو لپاره هم تر ډېره حده د مثنوي له فورم څخــه ګټــه پورته شوې ده. مخکې تر دې چې پــه پښــتو لرغونــو ادبیــاتو کــې د داستان او بیا د منظوم داستان څرکونه ولګوو، ښه به وي چې مثنــوي فورم په لنډېز سره تشریح وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه ییز یا مثنوي:

((هغه ډول شعري یا نظمي فورم دی چې هر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري (مقفی) وي، د بیتونو شمېر یې ثابت نــه دی، پــه ټولــو قافیه والو شعري یا نظمي چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لــوی شعري فورم دی. شاعر یا ناظم کولای شي پــه دې فــورم کــې خپــل مقصد تر وروستي بریده بیان کړي، ځکه نــو اکثــره شــاعران د لویــو موضوعګانو د بیان په غــرض دا فــورم انتخــابوي، لکــه (ابــو القاســم فردوسي) چې د (شاهنامې) د لیکلو لپاره دا فورم وټاکه، په مثنوي کې که شاعر په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې تــه تلــلای شي، په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خــو د ټولــو بیتونــو وزن یــې مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي، مانا دا چــې مثنــوي مقفی، مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی. لکه دمخــه چې مو یادونه وکړه، په مثنوي کې کېدی شــي ځینــې بیتونــه ردیــف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي.))[(۱)]

په پښتو ادبیاتو کې هم اکثره داستانونه یا حکایتونه په همــدې فــورم کې راغلي دي، هم په لرغونې دوره کې، هم د پښتو ادب په منځنې یــا کلاسیکه دوره کې او یا هم په معاصره دوره کې، لکه څنګــه چــې مــو دمخه یادونه وکړه په دې فورم کې د اوږدو او پر لــه پســې مفــاهیمو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرکترونو، موادو او راویانو د ځایونې ظرفیت زیات دی. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د حکایت یا داستان ځرکونه او ښېلګې شته او هغه هــم پــه همدغې مثنوي فورم کې راغلي دي.

## حکایت:

د حکایت په باب ویل کېږي چې ((د (محاکــات) لــه کلیمــې څخــه را اخیستل شوی چې دا بیا له یو شي څخه د یو چا د ورته کولو یا مشابه کولو مانا ښندي، له اصطلاحي پلوه ځینې په دې نظر دي چې حکایــت د لنډې کیسې داسې یو ډول دی چې په هغه کې اخلاقي درســونه یــا مسایل نغښتې وي. دا درسونه یا مسایل د حکایت په وروستۍ برخــه کې لوستونکي ته په ډاګه کېږي، د حکایت کرکترونه یــا شخصــیتونه سړي، ځاروي، یا بې روحه شیان وي، کله چې حیوانــات د حکایــت د شخصیت په توګه ځرګندېږي، نو د انسان په شان خبــرې کــوي او لــه خپل ځانه انساني احساسات ځرګندوي، حکایتونه معمولاً پــه داســې ډول لیکل کېږي چې لوستونکي په اسانۍ سره پر هغو پوهېدلای شي. هغه ادبیات چې په حکایاتو کې کارېږي، هغو ته تعلیمــي ادبیــات هــم وایي.

د حکایت ځینې ځانګړنې په دې ډول دي:

د پېښو ځای او وخت یې زیات مشخص نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغراق او تر حده داسې پورته پېښې په کې پېښېږي چې د انسان په وس پوره نه وي.

د داسې شیانو ستاینه په کې کېږي چې په عملي ژوند کې واقع شوي نه وي، عقل یې نه مني چې داسې به واقع کېږي.

ځینې یې داسې سست داستان بولي چې وحدت او انسجام نه لري.

معمولاً د پند، عبرت او نورو اخلاقي مسایلو د بیان لپاره کارېږي.

د ټولو کرکترونو ژبه یې تقریباً یو شان وي او د ټولنیزې ډلبندۍ له مخې یې ژبه توپیر نه کوي.

اتل او اتل ضد کرکترونه یې سپینې او تورې خبرې لري. یانې یا ډېر ښه دي یا ډېر بد.)) (۲)

حکایتونه په پښتو ادبیاتو کې معمولاً په منظوم ډول افاده کېږي، خو دا په دې مانا نه ده چې نثري حکایتونه نه شته، په کلیو او بانډو کې له پخوا زمانو څخه ګڼ‌ني حکایتونه، کیسې یا داستانونه وو، چې خوله په خوله له یوه پښته بل ته لېږدېدلي دي، خو دې ډول داستانونو ته، منظوم دي که منثور د تاریخي نبېې ټاکل اسانه کار نه دی. کیسې یا داستان په پښتو ادبیاتو کې معمولاً د نثر په چوکاټ کې افاده کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې ادبپوهان بیا وایي داستان یا کیسه همغه اثر ته ویل کېږي چې پنځول شوې وي او خیال ولري.

کیسه، اتل یا اتلان، پېښه یا پېښې، زمان او مکان، پیل او پای یا نتیجه لري.

## کیسه:

((کیسه که لنډه وي، لنډه کیسه ورته وایي، که منځنۍ وي، منځنۍ کیسه او که اوږده وي، اوږده کیسه یا داستان ورته وایي)) [۳] خو دا په دې مانا نه ده چې منظوم داستانونه نه شته، په پښتو ادبیاتو کې د منظومو او منثورو داستانو دواړه بېلګې شته، خو موږ دلته ددې داستانونو بېلګې یوازې په پښتو لرغونو ادبیاتو کې لټوو، نه په پښتو ګړنیو ادبیاتو کې او نه هم د پښتو تر لرغونو ادبیاتو وروسته د ادبیاتو په نورو دورو کې. د څېړنې موخه مو یوازې په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان څرک یا شتوالی دی.

په ټولیز ډول کله چې موږ پښتو لرغونو ادبیاتو ته ګورو، نو د کمیت په اندول یې کیفیت د زیاتې پاملرنې وړ دی. د پښتو لرغونو ادبیاتو پوخ کیفیت دا واقعیت په ډاګه کوي چې په دې نږدې نهه سوه کلن بهیر کې به ډېر ادبیات او هنري پنځونې رامنځته شوې وي، خو د زمانې ناخوالو د هغو یوه زیاته برخه له موږه تروږلې ده. کله چې پښتو لرغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو کې د داستان څرک لګوو، نو دلته هم له همدې واقعیت سره مخامخېږو چې کمیت لږ، خو کیفیت یې ډېر او د پام وړ دی. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې موږ لږ تر لږه دوه داسې اثار لرو چې داستاني بڼه لري او دحکایتي یا کیسه ییز بیان لرونکي دي. مخکې تر دې چې موږ په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان یا حکایت دوو لومړنیو بېلګو ته راشو، د (سلیمان ماکو) نثر ته به نغوته وکړو چې نه پوره حکایت دی، نه منظوم داستان، خو ځینې جملې او ترکیبونه یې داستاني یا کیسه ییزې ځانګړنې لري یا په بله وینا جمله یي جوړښت یې داسې دی چې کیسه ییز رنګ لري: ((زه غریب خاورې سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سنه دولس شپږ سوه د هجري تللی وم او دپښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان مونـدل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ..))

((نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شېخ بیټنـي کـې د ده ورور چې سړبن نومېد او پر شېخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامـن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

((نقل کاوه سي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغـل و، شېخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و د شهاب الدین چـې په ډېلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ورښانده، او هم هورې مړ سو...))

(c) ketabton.com: The Digital Library



((... نقل کاوه سي چې بختیار ستر ستانه و، له ده نه څرګند سوي دي، هغه کرامات چې مو وکتل او وویل...)) (۴)

په تذکره الاولیا کې چې د سلیمان ماکو کوم نثر راغلی، که څه هم ډېر زیات نه دی، یانې دکتاب کمې برخې تر لاسه شوي، خو لــه دې څخــه هم د سلیمان ماکو د نثر قوت ښکاري، ماکو چې کــوم شــاعر معرفــي کوي، نو په کیسه ییز بیان یې معرفي کوي، سړی ځان سره یو زمان او مکان ته بیايي اود حقیقي تصویرونو یو منظره په کې ښکاره کېــږي، د تذکره الاولیا د شاعرانو په کلام کې داسې بېلګــې نــه ښــکاري چــې داستاني یا حکایتي بڼه دې ولري، او نه هم د پښتو ادبیاتو په لرغــونې دوره کې نورې داسې بېلګې شته چې داستاني خصوصیات دې ولــري. یوازې دوه بېلګې چې نسبتاً څرګندې دي، یو د زرغونې کاکړې او بــل هم د دوست محمدکاکړ د غرښتنامې حکایت دی.

دلته غواړو دا دواړه حکایتونه یا داستانونه او د هغو ناظمان پــه لنــډیز سره معرفي کړو:

## زرغونه کاکړ او د هغې د بوستان یو حکایت:

د زرغونې کاکړ د پېژندنې لپاره تر ټولو ښه اثر د محمــد هوتــک (پټــه خزانه) ده، محمد هوتک په پټه خزانه کې کاږي: ((زرغونه د مــلا دیــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد کاکړ لور وه، په پنجوایي کې اوسېده او له پلاره یې وکا تحصیل د علومو او د فصاحت احکام یې زده کړل او د فصحاو اشعار یې ولوستل.

زرغونه په حباله د سعدالله خان نــورزي وه، چــې توریــالي زامــن یــې درلودل او ټول د علم او هنر خاوندان وو. ماته هسې نقل وکا زما پــلار: چې زرغونې د شېخ مصلح الــدین ســعدي رحمــة الله علیــه کتــاب د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا او نوم یې و ((بوستان د پښتو)) چې دا کتاب یې په سنه (۹۰۳) هجري قدسي پای ته ورساوه او ټول نکــات عارفانه او نصایح حکیمانه یې په پښتو کړل.

علاوه پر دې زرغونې نور اشــعار او غزلونــه هــم وویــل او پــه زمــره د فصحایې شهرت وکا، هسې چې موزونانو د روزګار به یې اشعار لوســتل او د پښتو په بوستان یې سیر کا او ګلونه د پنــد او نصــیحت بــه یــې ټولول. هسې وایي: چې زرغونه کمالداره ښځه وه، خط یې خوار ښــه و او کاتبانو به یې له حسن خط اقسام د خط زده کول، زمــا پــلار هســې وویل: چې په سنه (۱۱۰۲) هجري ما د زرغــونې پــه خــط ((بوســتان د پښتو)) ولید، چې خپل اشعار یې پخپل ښه خط هسې کښلي وو، چــې ملغلرې یې خط ته عاجزي کا او دغه حکایت له هغه کتابه زمــا د پــلار رحمة الله علیه په یاد و، چې زه یې په خزانه کې کاږم:

((اوربدلي مي قصــه ده　　　　چې لــه شـاتو هـم خـوږه ده
د اختر پــــه ورځ سهـــار　　　　بـایزیـــد چـــې و، رویـــدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حـمامـــه راوتـلـــی پـه کوڅـه کـې تېرېـدلی
ایری خــاورې چا له بامـه راچپــه کړلـــې ناپامــه
مخ او ســر یې سـو کـکړ پـه ایـرو پـه خـاورو خـړ
بایزید په شکر کښو ســو د خپل مخ په پاکېدو سو
چــې زه وړ یــم د بـــل اور چې په اور کې سم نسکور
لــه ایـرو بــه څـه بد وړمه یـا بــه لــړ شــکوه کومــه
هــو: پــوهانو ځان ایرې کړ له لوینې یې ځان پرې کړ
ځوک چې ځان ته ګوري تل خدای ته نسي کړای کتل
لویي تل پــه ګفــتار نــه ده لــوخبره پــه کــار نــه ده
تواضع به دې سـر لـوړ کـا تکبر به دې تل ځوړ کـا ))(۵)

مخکې تر دې چې د زرغونې کاکړ یې پر دې حکایت خبرې وکړو، ښــه به وي چې د محمد هوتک پر پورتني نثر چې د زرغونې کاکړې پېژندنه رانغاړي، لنډ بحث وکړو، دا نثر که څه هــم د یــوې شــاعرې پېژندنــه رانغاړي، خو د نثر په جامه کې دحکایتي اثارو ځینې عناصر هم په کــې تر سترګو کېږي، په حکایت کې کله ځای معلوم وي او کله نه وي، دلته د زرغونې کاکړې په پېژندنه کې د هغې استوګنځي (پنجوایي) ته اشاره کوي، د لومړنیو زده کړو تسلسل یې ښیي چې کیسه ییز رنګ لري، بیا یې د ژوند بل پړاو ته داخلېږي. لیکوال تر هغه وروسته د زرغونې کاکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اثر د تثبیت او بیان لپاره راوي ته ګوته نیسي، راوي هم په حکایت او داستان کې یو مهم عنصر ګڼل کېږي، په دې نثـر کــې راوي خپلــه د لیکوال پلار دی چې پر روایت یې زیات باور کېدلی شي، په دې لیکنــه کې د زرغونې کاکړې پر بوستان سربېره د هغې نور محاسن هم په ډېــر ښه ډول په کیسه ییز کیفیت بیانېږي، کله چې سړی دا نثر لولي، نو د یوې لنډې لنډې کیسې یا داستانګې مینه پرې ماتېږي، چــې مرکــزي کرکتر یې خپله زرغونه کاکړ، وروسته بیا شېخ سعدي رحمه الله علیــه او راوي یې د محمد هوتک پلار دی، یوه مشخصــه زمانــه او مشــخص مکان په غېږ کې نیسي، دا په دې مانا نه ده چې دا لنډه یــا هــم لنــډه لنډه کیسه ده، خو دا ویلای شو چې کیسه ییز عناصــر لــري او د نثــر بیان یې کیسه ییز دی، د یادونې وړ ده چې په پټه خزانه کــې محمــد هوتک کوم شاعران یا لیکوالان معرفي کوي، د هغو د اکثرو د پېژندنې لپاره له کیسه ییز بیان څخه کار اخلي. په خپله د پټې خزانې د لیکلــو انګېزه هم په کیسه ییز ډول بیان شوې، د اثر د لیکلو علت، چاپېریــال په داسې ډول تشریح کوي چې سړی لاس ته‌رلی هغه چاپېریال، دربار او حالاتو ته بیایي، محمد هوتک وایي، د پښتو پاچا شاه حســین هوتــک زه وغوښتلم خپل دربار ته او ماته یې تشویش وکا، او الطاف یې ښکاره کړ چې دا خپله اراده پوره کاندم او د پښتو شاعرانو حال ســره راټــول کاندم ځکه چې زمونږ پادشاه او د ښالم خېلو د زړه سر، شــاه حســین خلد الله ملکه وسلطنة، پخپله هم د ښې وینا خاوند او د پښــتو شــعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوقمن دی، نو ما وغوښته چې ژر تر ژره دا کتـاب وکښـلی شـي او د پښتو د شاعرانو احوال ټول کړسي)). (۶)

محمد هوتک، د بابا هوتک، شېخ ملکیار، شېخ خرښبون، شېخ متـي، جهان پهلوان امیر کروړ سوري، شېخ اسعد سوري، ښکارندوی غوري، ابو هاشم ابن زید السرواني، شېخ تیمن، شېخ بوسـتان بـړیځ، شـېخ رضي لودي او نصر لودي، شېخ عیسی مشوانی او نور چې راپېژني، نـو هم له پخوانیو اثارو ګټه پورته کوي او هم له راویانو نقل کـوي، خـو د پېژندني ټول تسلسل يې یو کیسه ییز بیان لري چې سړی فکـر کـوي یوه کیسه یا حکایت لولي.

اوس راځو د زرغونې کاکړې حکایت ته!

د پښتو ادب خېړونکی؛ سر محقق زلمی هېواد مل په دې نظر دی چې دوه حکایتونه په پښتو ادبیاتو کې د حکایتي اثارو لومړنی بېلګې ګڼـل کېږي، دی وایي: (( په دغو حکایتي اثارو کې تـر ټولـو پخـوانی اثـر د زرغونې پښتو بوستان دی. خو دغه اثر له پارسي څخه پښتو ته ترجمه شوی دی)) سر محقق زلمی هېوادمل زیاتوي: ((په پښتو نظـم شـوی حکایتي اثر د دوست محمد کاکړ (غرغښت نامه) ده، چې پر (۹۲۹ هـــ ق) کال يې په رېوب کې نظم کړې ده)) (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې داستان يا حکايت موضوع هم د نورو حکايتونو په شان اخلاقي او نصيحتي مسايل دي چې انسان بايد ترې د خپلو اخلاقو د لوړواي لپاره پند او عبرت واخلي. د داستان يا حکايت راوي درېيم شخص نــه دی، بلکې په خپله ناظم دی چې د نورو منظومو او نثري حکايتونو په شــان په خپله کيسه کوي، ((اوربدلې مې قصه ده - چې له شاتو هــم خــوږه ده)) دا ډول پيل په اکثرو نورو حکايتونو، نکلونو او داستانونو کې هــم معمول دی. د حکايت يا داستان موضــوع د لــويۍ او تکبــر پــر ضــد راڅرخي، لوی انسانان د تکبر مخالف دي او تواضــع اصــلاً د انســان د شخصيت د لويۍ معيار ګڼي، په دې حکايت کې اصلي موضوع، همــدا د انسان عجز، تواضع او پرهېزګاري ده. حکايتونه يا منظوم داســتانونه چې معمولاً د مثنوي فورم ورته کارول کېږي، دلته هم د مثنوي فــورم کارول شوی، دا مثنوي ټول (۱۲) بيتونه لري او په خورا خوږه ژبه پيــل شوې او په ښه پيغام پای ته رسېدلې ده.

تواضع به دې سر لوړ کا
تــکبر بــه دې تل څوړ کا

د مسرو د څپو شمېر سره يې مساوي دی، يانې هــره مســره يــې (۸) څپې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوست محمد کاکړ او د هغه غربښت نامه:

په پښتنو ليکوالوکې بل شخص چې منظوم حکايت يا داستان ورڅخه پاتې او تر موږه رارسېدلی، هغه دوست محمد کاکړ دی. د پټې خزانـــې مولف محمد هوتک د دوست محمد کاکړ په باب وايي:

((د بابړ خان زوی و، چې د کاکړ بابا د زيارت د پاره په کال (۹۱۲) ســنه هجري هرات ته ولاړ او بيا چې راغی ږوب ته، په کــال (۹۲۹) هـــجري يې يو کتاب په شعر نظم کړ، چې نوم يې دی ((غرغښت نامه)) دا کتاب چې ما وليد، شيرين بيتونه په مثنوي لري او د غرغښت بابا قــدس الله سره الکريم حکايات دي او له رښتينو خلکو يې روايات راجمــع کــړي دي، دغه کتاب زما پلار په توبه کې ميندلی و او زموږ کهــول کـــې مــو کوچنيو او ژنيو ته په کې سبق لوست.

دوست محمد عليه الرحمه په خپل کتاب کښلي دي: چې زما پلار بــابړ خان هم يو کتاب په شعر کښلی و، چې نوم يــې و ((تــذکره غربښــت)) هغه وخت چې بابړ خان وفات شو او زه پر کور نه وم، نـــو هغــه کتــاب ورک شوی و او چا ضايع کړی، زه چې راغلم، د خپل پلار په ماتم هسې ويرجن نسوم، لکه چې کتاب ورک و. مــا خـــو د هغــه کتــاب خبــرې اورېدلې او په وارو وارو ويلې وې او هم مې يو څه له هغو څڅه په يــاد وې، نو ما پر خدای توکل وکړ او هغه قصې او روايات مې بيا پــه شــعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویل، خدای تعالی دې زما د پلار سعي مشکوره کـا، هسې وایـي: کښونکی ددې کتاب عفی الله عنه، چې ما له ((غرغښت نـامې ښځـه دغه حکایت رانقل کړی دی.**

لـه نېـکـانـو روایت دی — هسې توګـه حکایـت دی
نـور محمد کـاکـړ راوي دی — چې یې فـیض ل جـاري دی
د نیکونو له خولې وایـي — چې منښت یـې راتـه ښـایي
چې کـاکـړ نـیکـه زاهـد و — لـوی ښتن لـه تـل عابـد و
تـل تـر تـل بی عبادت کـا — پـر دې لیـار یـې ریاضت کـا
شپې یې روڼې په لمانځـو وې — پـه ژړا و پـه نـارو وې
نه یې خوب، نه یې خـوراک و — عبـادت یـې ژونـد و زواک و
چې به کښوست په لمانځنه — یـا بـه کېوت پـه ستاینه
ورځ یـې ټـولـه پـه قعده وه — شـپه یـې هـم یـوه سـجده وه
تـل یـې سیـر د لاهـوت کـا — پـه یـوه ګولـه یـې قـوت کـا
غـرق بـه تـل پـه ذکر الله و — هـر سـبا او هـر بېګـاه و
یـوه شـپه یـې عـبادت کـا — پـر ګنـاه یـې نـدامت کـا
سترګـې پټې سوې له خوبه — پـه شـپو شـپو یـې و ویښتوبه
هسې خـوب یې ولید ګرانه — چې غرغښت ښـیي ښـهانه
وایـي ای کـاکـړه زویـه — لـه تـا خـوښ یمـه نېکخویـه
ستـا قـدم زمـا پـر لار دی — مـا سـوا کـې دې قـرار دی
شـپـه و ورځ دې ده لـمانځنه — د ښتن عبـادت کړنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولـې پـاته لـه تـا نـــور دي      شـپې او ورځــې دې پـه کـور دي
ځه جـهاد کړه پر تـــا فرض دی      دا هـــم ســتا د غـــاړې قـــرض دی
یـــوه ورځ جـــهاد افضـــــل      تـــر کلـــو کلـــو لمانځـــــل
څــوک چې تل لمنځ و روژه کا      پـــه جهـــاد بـــه یـــې پـــوره کـــا
لمـړی شـرط د دین همـدا دی      بیـــا خـــدمت د خلـــق الله دی
لـه تـا پـاتـــه دواړه دي نـه      ځـــان خبـــر کـــړه ښـــه لـــه دینـــه
تـــوره واخـــلـــه مجاهد شه      د لـــوی خـدای د دیـــن قاصـد شـه
د خدای نور پر جهان خپور کړه      دا خـدمت یـې پـه ځـان پـور کـړه
چې دې بشپړ عــبادت ســي      ځـان دې خـلاص لـه مصیبت سـي
چې له خوبه و ښن کـاکـړ سو      د غـــزا پــــر خــــوا نـــومړ ســـو
زغـره خــول یــې اراسته کړل      د غــــزا غشــــي تېـــره کــــړل
هــرات خـواتـه په تلو تلو سو      د ســـلطان غیـــاث لـــه ملـــو ســـو
و ېـــکـــړه هــــورې جـهادونه      د ســـلطان مـــل شـــو پـــه ملونـــه
څـــو هـــورې تـــر دنیا تېر سو      د غازیـــانو پـــه ټـــول شـــمېر ســـو
چې يې هلته هم وفـات سو      ښـــخ پـــه خـــاورو د هـــرات ســـو
مېړه هسې ژونـدون کانـدي      مـــــري د خدای په رضا باندې))[۷]

د دوست محمد کاکړ په پېژندنه کې هم د محمد هوتـک د بیـان طـرز کیسه ییز دی، کله چې څوک دا نثر لولي لکه چې یـوه کیسـه لـولي، دلته بیا هم راوي معلوم دی، دلتـه بیـا هـم د کیسـي راوي د محمـد هوتک پلار دی، دلته بیا په کیسه کې بله کیسه ده، بل راوي په خپلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد کاکړ دی چې له خپل پلاره حکایت کوي او د هغه ځینې نصایح یې په خپل کتاب (غرغښت نامه) کې راوړي دي.

د غرغښت نامې حکایت هم په مثنوي فورم کې نظم شوی، ټول (۳۳) بیتونه لري او هره مسره یې (۸) څپې لري ددې حکایت محتوا هم دیني او اخلاقي موضوع ده، د (نور محمد کاکړ) چې دلته یو راوي ګڼل کېږي او د خپل پلار د (کاکړ نیکه) د خوب کیسه کوي، چې هغه هم لوی عابد او ذاهد شخصیت و، هغه یوه شپه خوب ولید او زوی ته یې نصیحت وکړ چې جهاد فرض دی، یوه ورځ افضل جهاد تر کلونو کلونو لمونځونو لوړه مرتبه لري.

کله چې کاکړ له خوبه بیدار شو، نو د جهاد پر لوري لاړ، د سلطان غیاث الدین له ملګرو سره یو ځای شو، جهاد یې پیل کړ ډېر جهاد یې وکړ، په غازیانو کې حساب شو او په هرات کې تر دنیا تېر او هملته په هرات کې دفن شو.

حکایت په دې نتیجه پای ته رسي چې:

مېړه هسې ژوندون کاندي
مري دخدای په رضا باندې

دا دوه حکایتونه چې موږ ګورو په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د منظومو داستانونو بېلګې په لاس راکوي، خو دا په دې مانا نه ده چې په لرغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبیاتو کې به نور منظوم داستانونه نه وي لیکل شوي، خـو مـوږ چـې دلته غږېږو، یوازې پر همغو اثارو بحث کوو چې تر موږ رارسېدلي دي، د دې حکایتونو، خوږوالي، ساده والي، رواني او سلاست ته چې ګورو، نـو ددې د دوو لیکوالو په ګډون به نورو هم دې ته ورته اثـار لیکلـي وي. نکل، حکایت او داستان که څه هم بېلابېل کیسه ییز اصطلاحات ګڼل کېږي، خو یو بل سره ډېر زیات مشترکات هم لري، موږ چـې کلـه پـه پښتو لرغونو ادبیاتو کې د داستان د ځرک خبره کـوو، نـو هـدف مـو دادی چې د دغو دربېوارو نومونو یا جوړښتونو ګډ خصوصیات په کې تر سترګو کېږي، هېڅ داسې بېلګه نه لرو چې یادې په بشپړ ډول یو نکل وي، یا دې حکایت او یا دې هم په تـول پـوره داسـتان وي، خـو ددې دریواړو ځانګړتیاوې په کې په ډاګه لیدلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱) د پښتو شعر هنري جوړښت، محمد اسمعیل یون، یــون کلتــوري یون، ۱۳۸۷ ل کال، ۶۰ مخ

(۲)دانشنامه (دایره المعارف) ازاد، ایران، بېلابېل مخونه.

(۳) ادب پوهنه، سید محی الدین هاشمي، د اریک د ګرځنده کتــابونو اداره، پېښور ۱۳۸۱ ل کال، بېلابېل مخونه.

(۴) تذکره الاولیا، سلیمان ماکو، د پوهاند حبیبي شــرحه او تعلیقــات، ۱۳۶۱ ل کال بېلا بېل مخونه.

(۵) پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهې وزارت، ۱۳۴۹ ل کال، ۱۹۲-۱۹۴ مخونه.

(۶)پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهنې وزارت، ۱۳۴۹ ل کال ۶ مخ.

(۷) پټه خزانه، محمد هوتــک، د پــوهنې وزارت، ۱۳۴۹ ل کــال، ۸۸-۹۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کنایه او په کلام کې یې دریځ

د مینې ذکر چې محفل کې د رقیب جرم شو

پـــه اشــــــارو په کنایو باندې بس وخت تېروو

کنایه هغه تعبیر دی چې حقیقي مانا ترې مقصد نه وي، خو حقیقي مانا ته نږدې او ملازمه مانا ترې اخیستل کېږي. یا ((کنایـــه دا ده چـــې متکلم یوه مانا په داسې الفاظو کې راوړي چې د مطلوبې مانـــا د دلیـــل حیثیت ولري))[(۱)] کنایه زموږ په ورځنیو خبرو اترو او ادبي کـــلام دواړو کې کارول کېږي او ښه ډېره کارول کېږي. په واقعیت کې زموږ د ژوند د کلام یوه پاموړ برخه له کنایو څخه ډکه ده، کله چې غواړو خپل پیغـــام په ډېر مستقیم، سپوره او ډېر ځرګند ډول انتقال نه کړو، نو له کنایې او ډېرو کنایو څخه کار اخلو. یا دا چې کله هم د پیغام او پوهاوي مستقیم لېږد ستونزه لري او یا ستونزه پېښوي، نو له کنایو څخه کار اخیســـتل کېږي، کله چې هم مقابل لوری د مفهوم او پیغام په اخیستلو کـــې لـــه ستونزو سره مخ شي او یا هم غواړي له مقابل لوري ســـپینه او ډانـــګ پېیلې خبره واوري، نو پرې غږ کوي: څه راته پـــه کنـــایو کـــې غږېـــږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينه خبره راته وکړه؛ چې پر مقصد پوه شوا يانې پــه دې مانــا چــې کنايې تر ډېره بريده د پيغام د نامستقيم بيان لپاره کارېږي. ددې لپاره چې موضوع له ابهام او کنايو څخه رڼاوي او سپيناوي ته راووځي، ښــه به وي چې کنايه له لغوي او اصطلاحي پلوه وڅېړو، د هغې پــر ډولونــو وغږېږو، له استعارې او د کلام د نامستقيم بيان له نورو توکو ســره يــې توپير وکړو او هم خپل مطلب په څرګندو بېلګو کې واضح کړو:

## کنايه له لغوي پلوه:

له (کنی) څخه رغېدلې چې له ګرامري پلوه يــو (مصــدر) دی، پــه لغت کې د ((پوښلې او پټ)) مانا ورکوي. (کنيت) يا (کنوت) په ډاګــه د يو مطلب نه بيانول دي. په بله مانا ((کنايه په لغت کې پټه خبره کــول يا په داسې اندازه خبره کول دي چې د مدعا څرګنــدتيا پــه کــې نــه وي.))[۲] ځينې نور بيا وايي: ((کنايه په لغت کې د تصريح ضد ده او پټو خبرو ته وايي.))[۳] له لغوي پلوه (کنايه) په عربي، پښتو، دري او ځينــو نورو ختيزو ژبو کې په يوه مانا او نــږدې يــوه بڼــه کــارول کېــږي. پــه انګليسي کې ورته (Quibble) وايي. قاموسونو دا کلمه له لغوي پلــوه د همدې ناڅرګندو خبرو په مانا رااخيستې ده. يانې له لغوي پلوه د خبرو پوښل، د خبرو پټول يا په پرده کې خبرو کولو ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کنایه له اصطلاحي پلوه:

د خبرو کولو هغه ډول دی چې اورېدونکی مستقیماً لــه مانــا ســره مخامخ نه شي، بلکې لومړی یوه مانا او ورپسې د همغه کلام دویمــه او هغه مقصوده مانا ورڅخه ترلاسه شي چې د ویناوال اصلي هدف وي.

یا کنایه همغه خبره ده چې دوه ماناوې؛ یوه لرې او بله نــږدې چــې نږدې مانا یې مقصوده نه ده، خو ویناوال جمله داسې سره ګنډي چــې د اورېدونکي ذهن له نږدې څخه لرې مانا ته وړي.

په بله وینا: کنایه داسې یو ترکیب او یا جملــه ده، چــې د وینــاوال مقصد د هغې ظاهري مانا نه وي، خو هغه قرینه چې موږ له ظاهري مانا (مکنی به) څخه باطني (مکنی عنه) ته متوجه کوي، هغه هم په کې نه وي، یانې دا چې د یوه مطلب یادول او د بل پیــداکول دي؛ د مکنــه او مکنه عنه ترمنځ عمل کنایه ده. ځینې نور ادبپوهان بیا وایي: ((کنایــه داده چې متکلم یوه مانا په داسې لفظونو کې راوړي چې د مطلوبې مانا لپاره یې وضعي مانا د دلیل حیثیت ولري)).[۴]

د بېلګې په توګه: ((احمد ډېر پاک انسان دی))، ظاهراً هــم کېــدی شي چې پاک او ښایسته وي، خو اصلي او مقصوده مانا یې داده چې دا انسان د اخلاقي، ټولنیزو، دیني او نورو مهمو ارزښتونو لرونکــی دی او په فساد ککړ انسان نه دی. ((دا جلۍ پاک لمنې ده.)) ظاهري مانا یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داده چې پاک لباس یې اغوستی، جامې یې پـاکې او سـوتره دي، خـو اصلي او مقصوده مانا یې داده چې دا جلۍ د ښو اخلاقو څښتنه ده؛ په دیني او ټولنیزو اخلاقو سمبال ده. ((پــه ســر یــې خــاورې بــادولې.)) ظاهري مانا یې هم کېدی شي همدا وي، خو اصلي مانا یــې داده چــې غم پرې زور کړی و، فریاد یې کاوه، چغې یې وهلې، یانې پــر ســر یــې خاورې بادولې دا مانا یې د غم او ظلم په مقابل کې د غبرګون ښــودل دي. ((تراوسه یې له خولې نه د شیدو بوی ځي.)) مانا دا چې تراوسه لا کوچنی دی او د (شیدو بوی) یې څرګند ټکی دی.

((پرځمکه یې خوله لګوله.)) ظاهراً هم دا کار ممکن دی، خو اصلي هدف ترې دادی چې یو څوک ډېر سخت وي او یا سخت کارونه کــوي، نو دا اصطلاح یا کنایه ورته کارېږي، یانې هغه دومره سخت ســړی دی چې پرځمکه خوله لګوي.

((ژرنده که د پلار ده هم په وار ده))

((چې نه دې وي له موره ورته مه وایه چې وروره))

دلته مخاطب پوهېږي چې د متکلم مفهوم او مطلب څــه دی، خــو کېدی شي چې درېیم سړی وپوهېږي او یا نه.

یا: ((لاس چې مات شي غاړې ته لوېږي))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته لاس ماتېدل او بیا په څه ذریعه غاړې ته اچول مطلب نــه دی، بلکې مقصد دا دی کوم دوست یا اشنا چې له پښو ولوېږي، بل دوست یا اشنا په ښه ورځې او مرسته ورسره کوي.

یا: ((له یوه لاسه ټک نه خېږي))

له دې متل څخه ظاهري مانا چې ټک ختل دي، نه را اخلو، بلکې له لاس څخه د ټک ختلو مطلب د دواړو لوریو یا دواړو دوســتانو یوځــای کېدل دي.))[۵]

# د کنایې ډولونه

## الف- د جوړښت یا ترکیب له مخې:

د جوړښت یا ترکیب له مخې کنایه پر لاندې برخو وېشل کېږي:

۱- مفرده کنایه: هغه ده چې له یــوې کلمــې یــا ترکیــب څخــه رغېدلې وي لکه: ((دنګ)) یا ((اوږد)) چې د عوامو ترمنځ د ساده، کــم عقل او احمق په نامه یادېږي، یا یې ذهن ته همداشان مانا ورسوي.

۲- مرکبه کنایه: هغه ده چې تر یوې زیاتو کلمو یا له یوې جملــې څخه رغېدلې وي او ددې جملې یوه کلمه په مســتقل ډول کنایــه نــه وي، بلکې ټولې چې سره یوځای شي، کنایه جوړه کړي، لکــه: ((تشــه لاسه ته مې دښمن یې.)) هدف ورڅخه ناچاري، غربت او بېوسي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- د مانا لېږد له مخې:

**۱- نږدې یا قریبه کنایه: هغــه ده چــې ســړی د لازم او ملــزوم ترمنځ پر اړیکي باندې په اسانۍ سره پوه شي. یا له لازم څخه ملزوم ته انتقال یې بې واسطې یا په لږو واسطو وشي.**

**((تاته مې سترګې وې)): مانا دا چې تاته مې امید او هیله ده، چــې غم به مې وخورې.**

چې جلو دې د اختیار ښکلو ته ورکړ
پسې ګرځه او ښ په نته نه یې خلاص

**(اوښه په نته) لازم او (اطاعت) یې ملزوم دی.**

ټوله شپه د یو بې لوزه انتظار کې
د لیمو په سر مې اوښکو بلېدلې

**په پورته بیت کې (اوښکې)، شمع ګڼل شوې دي، چــې د محبــوب لپاره یې (لوز) کنایه راوړل شوې ده، دا چې سړی ژر پرې پوهېږي، نــو قریبه کنایه ده.)) (۶)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- لرې یا بعیده کنایه:** هغه ده چې د (لازم) او (ملزوم) تــرمنځ رابطه په اسانۍ سره معلومه نه شي او ددې دواړو ترمنځ څو رابطې یــا واسطې وي.

لکه لاندې متل:

ښځه له اجاغه غواړه، لور و لندبل ته ورکوه

(اجاغ) په دریېمه او څلورمه واســطه، (درنــې کــورنۍ) تــه وایــي، (لندبل) په دریېمه واسطه د (مړې کورنۍ) لپاره کنایه ده. اجاغ لازم ۱- اور، ۲- پخول، ۳- مېلمانه لرل، ۴- مړه کورنۍ، ملزوم دي.

د هوسۍ په ښکر برات زما مطلب شو

هــوسۍ نــه شمه نــیوی د پښو په دو

د هوسۍ په ښکر برات لیدل، ناممکن کار ته د ګومــارنۍ کنایــه ده، څرنګه چې مانا یې لرې ده، نو ځکه بعیده کنایه ګڼل کېږي.

چې له سترګو یې غړېږي غنم رنګه

جـدایي یـې لکه قـحط د غـلې دی

قحط یو لوی غم دی او په دغه بیت کې د غنم رنګــو جــدایي لکــه قحط ګڼل شوې ده. دا چې سړی پرې په اسانۍ نه پوهېږي، ځکــه یــې بعیده کنایه بولي.))(۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج- د مانیز څرنګوالي له پلوه د کنايې ډولونه:

**۱- د نوم یا موصوف له پلوه:** چې د یوه شي یا څیز څو صــفتونه راوړل شي او هدف ورڅخه په خپله موصوف وي. یا دا چې دا پــه هغــه کې یو نوم راوړل شي او هغه داسې صفت وي چې هغه په بــل نــوم یــا ذات کې کټ مټ موندل کېږي یا دا چې یو صفت یا صفتونه راوړل شي، چې په خپله موصوف ترې مراد وي لکه:

سر و مال به شکرانه کړه کامګار دواړه

کــه روزي يــې شــي د یار آبدار عقیق

له (ابدار عقیق) څخه مراد د یار شونډې دي، دا چــې عقیــق تــک سره وي او د یار شونډې هم سرې وي، چې په کنــایي ډول د صــفت د شریکوالي پر بنسټ له آبدار عقیق څخه د یار شونډې مراد دي.)) (۸)

**۲- د صفت له پلوه:** په متن کې چې کومه کلمه د کنایې په توګه راغلې وي، له هغې څخه هدف صفت وي، نه موصوف یا نوم، لکه حمید بابا چې وایي:

دروېږه لــه دروېږه ګــره نــاکسي ده

د فلک کچکول ته مه نیسه کچکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني بيت کې له کچکول نيولـو څخــه مطلــب ګــدايي ده او ګدايي خپله يو صفت دی، چې د کنايې موخه هم ورڅخه همدا صــفت دی.

**۳- د نسبت له پلوه:** د نسبت کنايه داده چې يو يا څو صــفتونه ياد شي او نسبت يې يو سړي ته وشي او هدف ورڅخــه د هغــه ســړي لپاره امر، نفې يا اثبات وي.

ته چې ماته وايې وايه څوک دې وژني
تــه لــه خپــلو ستــرګو غواړه دا ځواب

په پورتني بيت کې د معشوقې سترګو ته د وژلو نسبت شــوی دی، سترګې معشوقې پورې اړه لري، چې د کنايې په توګه يې مراد ورڅخــه خپله معشوقه ده.

## د- د ځرګندتيا او ناځرګندتيا لــه مخــې د کنــايې ډولونه:

د ځرګندتيا او ناځرګندتيا له مخې کنايه په دوه ډوله ده:

**۱- واضحه يا ځرګنده کنايه:** چې مطلب ترې پــه اســانۍ ســره ځرګند شي. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو وهم د صبر لاپې ستا په مخ کې
څـو غړمـه بېـهوده د شګو پـــړي

یا:

چې حمید له عشقه اړوې ناصحه
بـېهوده د شګـو پـړي سـره غړې

له شګو څخه پړي غښتل مکني عنه. بېهوده، بــې حاصــله او بــې نتیجې کار، مکني دی.

نــن د تــېر ساعت ارمان فایده نه کا
که هزار ځله غاښ کېږدم په ورغوي

غاښ په ورغوي ایښودل له افسوس څخه کنایه ده، یانې غاښ پــه ورغوي ایښودل مکني عنه او افسوس مکني ده.

**۲- پټه، خفي یا ناڅرګنده کنایه:** چې کنایه په څرګند ډول نــه وي افاده شوې، لکه:

نه پټېږي عشق د صبر په پرده کې
د عشاقو طشت لوېدلی دی له بامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طشت له بامه لوېدل د رسوايي لپاره کنايه ده.

## هــ- د اړیکو یا واسطو له پلوه:

**۱- ايماء او اشاره:** هغه ډول کنايه ده چې د لومړۍ او دويمې مانـا ترمنځ يې رابطه څرګنده وي او ډېرې لرې واسطې ته اړتيا وي. يـا ((دا هغې کنايې ته وايي چې واسطې هم په کې لږې وي او پټوالی هم په کې نه وي، طبعاً سړی په اسانۍ پرې پوهېدی شي. لکه:

د نظر په خوی شوې بورې هغه سترګې
چې بربښنا ته ستا د سترګو يې کاته کړه

په پورته بيت کې د (نظر په خوی بورېدل) د ړندو لپاره کنايه ده.))[۹]

**۲- تلويح:** له لغوي پلوه له لرې څخه نورو ته د اشارې مانا لـري او له اصطلاحي پلوه هغه ډول کنايې ته ويل کېږي چې واسطې يې لرې او بعيدې وي. يا دا هغه کنايه ده چې د هغې په حقيقي او مجازي مانــاوو کې ګڼ شمېر واسطې په کارېږي، ياني له صفته تر موصــوفه د رســېدو لپاره، لکه:

په مانۍ يې مړده شوېو کړه عيد وي
پــه خـندا يې جـوهري کـړه ژړا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشالخان وايي چې زما د محبوب په مانې خلک مړه کېږي، ځکه نو د هغه په مانې مرده شویو کره اختر وي، چې ډېر مړي بـه کېـږي او هغوی به يې لمبوي او په خندا يې جوهريانو کره ځکه ژړا وي چې پـه خندا کې مرغلرې تويوي او په نتيجه کې د مرغلرو نرخ رالوېږي.

۳- تعریض: له لغوي پلوه د ځرګندتیا یـا صـراحت مخالفـه مانـا ورکوي، خو په اصطلاح کې همغه کلام دی چې له قيد پرته او پر مطلق ډول وويل شي او د هغه په واسطه بلې مانا ته اشاره وشي. يو څوک په غوږ وهل یانې اشاره یوې خواته کوي، خو اراده يې بلې خواته وي، یـا ((په یوه کلام کې ځینې وختونه موصوف ښېخي نه ذکر کېږي او خبره د خاص پرځای عامه بڼه غوره کوي، په داسې حال کې چـې مـراد تـرې هماغه خاص وي، لکه چې يو څوک خپل دوست ته په طنز کې ووايـي: ((نن سبا دوستان چېرته دي.)) چې ذکر يې عام او مـراد تـرې خـاص دی، یا دا چې رسول الله(ص) به د خپلو اصحابو يو داسې کار او حرکت وليد چې هغه به ښه نه وو، نېغ په نېغه به يې هغه نــه مخاطـب کـاوه، بلکې داسې به يې وفرمايل: ((په خلکو څه شوي چـې داسـې کـوي)) ظاهري ښېلګه يې د خوشال خان په دې بيت کې ده:

هـــــر چېـرته چـې ګرځي لکه سروې سمه ګرځي

هر چېرته چې کېني هغه ځای لکه ګلشن کا. )) (۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- رمز: له لغوي پلوه يو نږدې شخص ته د سترګو او بڼو په واسطه پټه اشاره ده او له اصطلاحي پلوه هغه ډول کنايه ده چې په هغې کـې واسطې ډېرې کمې او د کنايې مانا هم ډېره څرګنده نه وي. يا پـه بلـه مانا له صفته تر موصوفه د رسېدو لپاره واسطې پـه کـې لـږې وي يـا څرګندې نه وي، خو داسې خبر په کې وي چې ذهــن هغــه لــوري تــه ورشي، لکه:

ږيره سپينه شوه ملا غبرګه خوله کنډاس

نــــه وبـاســې د دنـيا لــه چـارو لاس

(حميد مومند)

ږيره سپينېدل، ملا غبرګېدل، خوله کنډاسېدل د بوډاتوب لپـاره د کنايي په توګه راوړل شوي دي.

څرنګه چې پورته مو يادونه وکړه، کنايه خبرې ته پوښ ورکول يا په پرده کې خبرې کولو ته وايي يانې د پيغام مستقيم بيان نه دی، بلکــې نامستقيم دی، دغسې په عامه ګړنۍ او ادبي ژبه کې نـور عناصـر هــم شته چې د کلام د پيغام د نامستقيم لېږد سبب ګرځي او کله کله يــې له کنايې سره توپير ګرانېږي، لکه مجاز او استعاره. په دې خاطر چې له مجاز او استعارې سره د کنايې توپير وشي، نو ښه به وي چې دلته يــې ځينو ټکو ته اشاره وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مجاز او استعارې سره د کنايې توپير:

((مجاز له لغوي پلوه د تجاوز په مانا دی په اصطلاح کې مجاز هغــه دی چې د کلمې له حقيقي مانا څخه تېر شي او کلمه په بله مانا وکاروي. يا دا چې يوه کلمه د څه مناسبت او اړيکي له مخې په دويمه مانا کې چې دا کلمه ورته جوړه شوې او ټاکل شوې نه ده، وکــارول شــي. اســتعاره (استعار مجاز) که چېرې د کلمو د حقيقــي او مجــازي مانــاوو تــرمنځ اړيکي يا مناسبت د تشبه له مخې وي، استعاره (مستعار مجــاز) ورتــه وايي.

استعاره (مستعار مجاز) په ژبه کې د استعمال له مصــدر څخــه ده چې په ژبه کې يوه کلمه د بلې کلمې پرځای پور غوښــتلو تــه وايــي. د بيان په اصطلاح کې که يوه کلمه د څه مشــابهت لــه مخــې د خپلــې حقيقي مانا پرځای په بله مجازي مانا وکارول شي، استعاره ورته وايي.

د مجاز په ټولو ډولونو کې استعاره غوره ډول دی، چــې همــدا ډول مجاز په ادبي ژبه کې ډېر دود لري. که له تشبه څخه د تشبه وييکــی، وجه شبه او مشبه لرې کړل شي، نو تشبه په اســتعاره بــدلېږي، نــو د هرې استعارې بنسټ پر تشبه ولاړ دی او له همدې څخــه راوتلــې ده. تشبه او استعاره د جوړښت له مخې يــو شــی دی. د لويــديځوالو پــه اصطلاح استعاره د تشبه نچوړ دی. يانې تشبه تــر دې کچــې نچــوړ او خلاصه شي، چې يوازې (مشبه به) پاتې شــي، خــو پــه تشــبه کــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشابهت او په استعاره کې د یوشانوالي ادعا ده، شاعر دا نه وایي چې د محبوب زلفې د سنبل غوندې دي، بلکې وایي چې سنبل دي.)) [۱۱]

په مجاز، استعاره او کنایه درې واړو برخو کې ظاهري مانا مقصوده نه ده، خو په مجاز او استعاره کې د قرینې د شتوالي له امله د کلمې یا عبارت د ظاهري مانا کارول جایز نه دي، خو په کنایه کې سره لــه دې چې د شاعر غوښتنه د عبارت باطني مانا ده، خو ظــاهري مانــا هــم د منلو وړ ده.

لکه: ((بیا یې ګلانو ته اوبه ورکړې))، مانا بیا یې اشتباه کــړې ده، دا چې په ظاهري مانا یې ګلانو ته اوبه ورکړي که نه، خو دلته اصلي مانــا همغه ده چې له شخص څخه اشتباه شوې ده.

په پای کې غواړم یادونه وکړم چې پورتني بحث د کنایې په بــاب د یو بشپړ تحلیل، شننې او ارزونې مانا نه ورکوي،خو د کنایې څېړنې تــه لاره اوارولای شي. کنایه د بلاغي علومو د یو مهم عنصر پــه توګــه پــه کلام، په تېره بیا په ادبي کلام کې خورا پیاوړی دریځ لري، کلام ته ډېره خوږلني او ښکلی رنګ ورکوي، له هغې پرته کلام بېلابېل ادبي رنګونه نه اخلي، کنایه د ذهني قوت سبب هم ګرځــي او د ټــولنیزو شــخړو د حل او د مانا د نامستقیم خو خواږه بیان لامل هم کېــږي، نــو پــه دې خاطر په کلام کې د کنایې دریځ خورا مهم ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( په مجاز کې قرینه فکر له حقیقي مانا څخه د مجازي مانا خواتــه راګرځوي او میلان ورکوي، مګر په کنایه کې د لفظونــو حقیقــي مانــا اخیستل کېږي او بیا فکر له لازم څخه ملزوم ته انتقال مومي.

د بېلګې په توګه:

د قبول ګوتې به پوه په لیمه کېږدي

که هجري په دا هنر وایي اعجاز کړم

(ګوتې په لیمه ایښودل) د تسلیم علامه ده. یــانې کــه هجــري دې خبرې ته حاضر شي چې زه په شعر کې معجزه ښکاره کوم، پوهان بــه دا خبره قبوله کړي؟ د تسلیم ګوتې پر لیمه ایښودل مکنه عنه یا لازم، تسلیم یا قبلېدل یې مکنه (ملزوم) دي.

مثال:

عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا

هــر چــې کــار کــا د دښمنو په ورمونه

ورغوی په غاښ پرې کول، مکنه عنه، تاثر او تاسف مکنه، د دښمنو په پند کار کول قرینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مثال:**

دا يې زړه له تا مونډلی نه دی څه دی
رقیبـان چـې دې ومـاته اوربې مرې

اورې مښل مکنه عنه او د مسابقې دعوت یا چلنج ورکول مکنه دي.)) [۱۲]

## اخځونه

(۱ ) بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون ۱۳۸۴ل کال، ۳۶ مخ.

(۲ ) ادب پوهنه، سید محی الدین هاشمي، اریک د ګرځندو کتابتونونو اداره، پېښور ۱۲۸۱ل کال، ۷۴ مخ.

(۳) ادبي فنون (بدیع -بیان)، پوهنمل محمداقا شېرزاد، ۱۳۸۴ ل کال، ۱۲۱ مخ.

[۴] ادبي فنون (بدیع، بیان) پوهنمل محمد اقاشېرزاد، ۱۳۸۴ل کال، ۱۶۱ مخ.

[۵] بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپال،کابل پوهنتون ۱۳۸۴ ل کـال، ۳۶ مخ.

(۶) بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون ۱۳۸۶ل کال، ۳۸ مخ.

(۷) بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپـال، کابـل پوهنتـون ۱۳۸۶ ل کال، ۳۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸ ) د ادبپوهنې ځانګې، سرمحقق سیدمحی الدین هاشـــمي، علومــو اکاډمي، ۱۳۹۳ل کال، ۲۲۶-۲۲۷ مخونه.

(۹) بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون ۱۳۸۴ل کال، ۳۹ مخ.

(۱۰)بیان پوهنه، ډاکتر محمداجان حقپال، کابل پوهنتون ۱۳۸۴ل کال، ۴۰ مخ.

(۱۱) په پښتو منظوم هندي ســبک کــې د مجــاز ډولونــه، پوهنــدوی محمدابراهیم همکار، ۱۳۹۲ ل کال، ۳۶مخ.

(۱۲) ادبي فنون، (بدیع او بیان)، پوهنمل محمــداقا شــېرزاد، ۱۳۸۴ل کال، ۱۶۱-۱۶۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ارسطو د کتاب الشعر موخه، مانا او محتوا

د شعر او شاعرۍ د څرنګوالي په باب د یونان نامتو عالم ارسطو خورا مهم اثر لیکلی دی، ((ارسطو چې تر میلاد وړاندې پر (۳۸۴) کال زېږېدلی او تر میلاد وړاندې پر (۳۲۲) کال مړ شوی[1] د ژوند زیاته برخه یې پر مطالعې او لیکلو تېره شوې ده. ارسطو ګڼ شمېر اثار لیکلي چې د هغو په جمله کې یو هم (بوطیقا) دی. دا اثر په حقیقت کې د ادبپوهنې، په تېره بیا د ادب تیوري اساس ګڼل کېږي، د ادبپوهنې یا ادبپېژندنې په باب په لیکلې بڼه بل دومره سستماتیک اثر چې تر دې وړاندې قدامت دې ولري، نه دی ترلاسه شوی. البته دا په دې مانا نه ده چې تر ارسطو دمخه د ادبیاتو په باب بحثونه او لیکنې نه دي شوي، شوي به وي خو په دومره منظمه، هدفمنه او سستماتیکه بڼه لا بل اثر تر اوسه څرګند شوی نه دی. تر دې وړاندې د داسې یو تیوریک اثر د نشتوالي یو علت شاید دا وي چې تر دې دمخه په زیاته کچه لیکلي اثار هم موجود نه وو او نه بیا کوم نقاد د هغو د ټولو راټولولو او ارزونې لپاره مجال پیدا کاوه. ارسطو د خپل وخت او تر هغه دمخه اکثره اثار مطالعه کړل او بیا یې د شتو اثارو په مټ د ادب تیورۍ یا ادبپوهنې اساسات

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېښودل او (بوطیقا) په نامه یې ځانګړی اثر ولیکه. د ارسطو ددې اثر د ځینو برخو په باب هم لږ و ډېر شکونه شته چې یا به دده خپلــې وي او یا به هم دده د کوم بل هوښیار شاګرد زیاتونه.**

**ددې پورته شکونو او انګېرنو یو علت دادی چې تر اوسه پورې ددې اثر داسې یو بشپړه لومړنۍ نسخه چې هغه دې په اصلي یوناني ژبــه وي، چاته نه ده رسېدلې، دا اثر له یوناني ژبې څخه ســریاني، لــه ســریاني څخه عربي ته ژباړل شوی، انګلیسي، اردو او نورو ژبو ته هم اوسمهال د نړۍ هېڅ داسې معتبره ژبه نه شته چې دا اثر دې په کې نه وي ژباړل شوی.**

**دا چې دا اثر ولې د نړۍ ګڼو ژبو ته وژباړل شو، د پوهانو پــه نظــر ددې علت دا و چې ((د ارسطو ذهن د هرې مسلې زړې تــه رســېده، ده نــه صرف زړې مسلې د خپل ذهن په قالب کې نوې کړي دي، بلکې ډېــرې نوې مسلې او نظریې یې هم په خپله وضع کړي او ایجاد کړي دي.**

**د ارسطو لیک لا تر ننه هم هغه خوند او زور لــري، چــې د ارســطو لــه زمانې نه واخله د دنیا د تنقید په تاریخ کې، په مختلفو دورونو کې تېــر شوي او تر موره رارسېدلي دي)) [۲]**

**د نړۍ نامتو عالمانو دا اثر په خپله ژبه ژباړلی او له هغه یې معنوي پانګه اخیستې ده. په اسلامي نړۍ کې د ارسطو نورو اثارو ډېر شهرت درلود،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو څرنګه چې عربو په شعر کې لوی لاس درلود او څوک یې په دې برخه کې د ځان سیال او جوګه نه ګڼل، نو ځکه یې د شعر په باب د ارسطو نظریاتو ته ډېره اړتیا نه احساسوله، خو د ارسطو نور کتابونه کله چې هم عربي ژبې ته ژباړل شوي، نو په ټوله اسلامي نړۍ کې خواره شوي دي.

په اسلامي نړۍ کې لومړنی سړی چې د ارسطو د علومو قدر یې کړی، (ابو نصر فارابي) دی، چې د دویم معلم په نامه هم یادېږي او دویم شخص (بو علي سینا) دی چې شیح الرییس او درېیم معلم ورته ویل کېږي، دغه راز په اندلس کې (ابن طفیل)، (ابن ماجه)، (ابن مسکویه) او (قاضي ابن رشد) او نور هغه کسان وو چې د ارسطو د کتابونو مطالعه یې کړې او ښه ګټه یې ځنې پورته کړې ده.

حکیم فارابي د ارسطو د اثارو او لیکني طرز په باب یو مستقل اثر لیکلی: (ما ینبغی ان یتقدم الفلسفه): یانې (د فلسفې د زده کړې لپاره تر هغې وړاندې څه زده کول په کار دي).

فارابي چې خپله یو حکیم و، د ارسطو د اثارو د ژورتیا په باب وایي: ((ما د ارسطو (کتاب النفس) سل ځله او (کتاب سماع الطبیعی) څلوېښت ځله مطالعه کړ، نو هله یې په څه رو ګودر پوه شوم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکیم فارابی تر ډېرې څېړنې، سپړنې او څېړنې وروسته د ارسطو اثار ډلبندي کړي دي. هغه وايي: ((د ارسطو اثار ځینې جزیه دي، ځینې یې کلیه دي او ځینې د جزیه او کلیه تر منځ منځویانــه دي.)) یــا وایــي: ځینې کتابونه یې خاص دي او ځینې عام، له ځینو د فلسفې علــم زده کېږي او له ځینو د فلسفې اعمال، له ځینو نه الهیه امور زده کېــږي او له ځینو طبیعه امور ، له ځینو تعلیمیه، ځینې داسې کتابونه دي چې د عامو طبایعو د معیار مطابق دي، ځینې یې د خاصو لپاره خاص دي.)) د لیکنې طرز په باب یې وايي: (( لیکنی طرز یې پــه درې ډولــه دی، پــه خاصو کتابونو کې کلام ډېر لنډ او جامع استعمالوي، په کلیه کتابونو یا په تفاسیرو کې مغلق او غامض او په رسایلو کې مختصر او واضح.)) (۳)

څرنګه چې مونږ دلته د ارسطو پر ټولو اثارو بحث نه کوو او نه دا لیکنــه ددې وس لري، یوازې غواړو دده د شعر د هنر یا( کتاب الشعر) په بــاب بحث وکړو.

لکه څنګه چې دمخه مو وویل د ارسطو اکثره اثار د نړۍ پــر بېلابېلــو ژبو ژباړل شوي، له هغې جملې څخه د شعر په باب د هغه مشــهور اثــر (بوطیقا) دی، دې اثر ته د (شعر هنر) نوم هم ورکړل شوی او د پښتو او عربي ژبو په ګډون په ځینو ژبو کې (کتاب الشعر) ګڼــل شــوی دی. د نورو ژبو پر ژباړو دلته بحث نه کوو، یوازې پښتو ژباړې ته یې راځو، خــو د ژباړې او د یوه اثر د محتوا د انتقال په بــاب د یــو څــو ټکــو یــادول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروري دي: يو دا چې ژباړه په طبيعي ډول سل په سلو کــې د اصــلي متن د ټولې محتوا ښکارندويي نه شي کولای، ضرور به په کې د محتوا يوه برخه سمه او ډېره کره نه را انتقالېږي او يا به يې هم مانــا لــږ پــه مغيره بڼه لېږدي، په تېره بيا دا چې يو اثر له يوې ژبې څخه بلې، بيا له هغې څخه بلې ژبې او بيا لا ان له هغې څخه بلې ژبې ته واړول شــي. د ارسطو ياد اثر هم له لومړنۍ او اصلي ژبې څخه نــه دی ژبــاړل شــوی. اوس چې د پښتو په ګډون په ځينو نورو ژبو کې ددې اثر ژباړه موجوده ده، اکثره له دويمې، درېيمې يا څلورمې ژبې څخــه ژبــاړل شــوې، نــو طبيعي خبره ده چې په دې کې اصطلاحات او مفاهيم داســې راغلــي چې د محتوا ژورتياوې په کې ټولې نه شي څرګندېدلای او لږ تــر لــږه محتوا ته يې هم څه نا څه زيان رسېدلی دی.

اوس راځو د بوطيقا پښتو ژباړې ته!

په پښتو کې د بوطيقا د ژباړو ببلا بېلو روايتونه نه شته، يــوازې د دوو ژباړو او شرحو يادونه شوې ده، د سرمحقق زلمي هېوادمل پــه وينــا: ((بوطيقا مولوي محمد اسراييل د (کتاب الشعر) په نامه او قلندر مومند د (نظميات) په نامه شرحه او ترجمه کړې دی.))[۴]

کتاب الشعر مولوي محمد اسرائيل د پېښور د پښتو اکــاډمۍ د مشــر (مولانا عبدالقادر) په غوښتنه او سپارښتنه ژباړلی دی. ده خپل کار تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۹۵۸م) کال وړاندې بشپړ کړی او بیا د اثر پر یاد کال چاپ شوی دی. د سریزو، شرحو او اصلي متن په ګډون ټول (۹۶) مخه لري.

مولوي محمد اسرائیل د ارسطو (بوطیقا) اثر په ژباړه کې له خورا دقت څخه کار اخیستی دی. په دې ژباړه کې یې ډېر زیار ګاللی او د مولانا عبدالقادر په وینا د اوسپنې نینې یې چیچلې دي. دی وایي: ((مولوي محمد اسرائیل به ددې اثر ترجمه کوله او ما به له عربي، فارسي، انګرېزي او اردو سره پرتله کوله.)) مولانا عبدالقادر زیاتوي: ((ډاکتر مظهر علي خان د پېښور یونېورستي د انګرېزي شعبې صدر دی، موصوف نه صرف د انګرېزي ادب یو ماهر عالم دی، بلکې هغه په فارسي، اردو او ځینو نورو یورپایي ژبو کې ډېر لوی دسترس لري، ډاکټر صاحب خو تر دې حده موږ سره لاس اوکړلو چې په خپله یې د کتاب الشعر د ځینې حصو ترجمه په اردو کې زموږ لپاره وکړه، موږ بیا له دې نه پس عربي او انګرېزي ترجمو څخه هم استفاده وکړه او په اردو ژبه کې د عزیز احمد صاحب د ترجمې او ځینې نورو د اردو ادبیاتو د مضامینو نه مو مدد واخیست، ددې مهم سرته رسولو کې موږ ته د مشهور ایراني عالم پروفیسور صورتګر کتاب هم د ډاکټر میرزا نذیر برلاس په واسطه په لاس راغی او له هغه نه موږ ډېره فایده واخیسته.)) (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې دا اثر له څلورو ژبو: انګلیسي، عربـي، فارســي او اردو څخه په پرتلیز ډول ژباړل شوی او د دې ټولو ژبو له ژباړو سره یې ژباړه کتل شوې او پرتله شوې، خو بیا هم د( کتاب الشعر) پښتو ژباړه چې د مولوي محمد اسرائیل له خوا شوې، له (اردو) ژبې څخه پښتو ته شوې ده.

مولوي محمد اسرائیل هم د مولانا عبدالقادر پــه شــان ددې کتــاب د پښتو ژباړې اړتیا او د هغې اهمیت ته اشاره کړې او د خپلې ژبــاړې پــر معیارونو او کړاوونو یې رڼا اچولې ده. تر کومه حده چــې دده کتــاب د ژباړې له متن څخه ښکاري، رښتیا هم مولوي محمد اسرائیل د خپلې وسې تر وروستي بریده کړاو او زیار ګاللی او مولانــا عبــدالقادر چــې د پښتو ژبې یو اوچت لیکوال، خدمتګار او د پښتو اکــاډمۍ مشــر پــاتې شوی، پر دې ژباړې دهغه بیا کتنه او د نورو ژبو لــه ژبــاړې ســره یــې پرتلنه، ددې ژباړې قوت، کیفیت او اهمیت لا پسې زیات کړی دی.

دې زیار ته په کتو سره ویلای شو چې دا ژباړه د پښتو تــر هغــې بلــې ژباړې او شرحې چې (منظومیات) نومېږي، مفصــله، خــوږه، کــره او د زیات اعتبار څښتنه ده. ان سړی ویلای شي چې تراصلي متن وروسته تر بلې هرې دویمې او درېیمې ژباړې هم غښتلې ځکه ښه برېښي چې په نورو ژباړو کې له څو متنونو او د هغو له پرتلنې څخه ګټه نه ده پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې او یا لږ تر لږه له څلورو مطرحو متنونو څخه ګټه نه ده اخیستل شوې.

دا ژباړه که څه هم له نن (۱۳۹۴ ل کال) څخه نږدې (۵۷) کاله وړاندې ترسره شوې او په پښتو کې کېدی شي دا د (بوطیقا) لومړنۍ ژباړه وي. د ژبني جوړښت او سکښت له مخې ددې ژباړې ژبه ډېره خوږه، پسته، نرمه، روانه او ساده ده او د هغه وخت تر ځینو نورو ژباړو او نا ژباړو متنونو هم ښه روانه ده. نه یوازې ژباړه ډېره خوږه ده، بلکې د ژباړې تر شا چې کوم نیت او ارمان پروت و او ددې ژباړې د ترسره کېدو سبب شو، هغه هم ډېر لوړ، علمي، ملي او عالي و.

البته په ژباړه کې ځای نیم زموږ د ملایي ژباړو، سیمه ییزې لهجې او د ګاونډیو ژبو ځینې اغېزې تر سترګو کېږي، لکه څنګه چې زموږ ځینې اوسنۍ ژباړې هم ځینې دا ډول ستونزې لري، خو په ټولیز ډول د مولوي محمد اسرائیل ژباړه د خپلې زمانې لوړه معیاري ژباړه ګڼل کېدی شي.

نن دواړه مولوي صاحبان په ابدي نړۍ دي، خو څوک چې دا ژباړه لولي، نو هم مولوي محمد اسرائیل او هم مولانا عبدالقادر ته د زړه له تله دعاګانې کوي چې لوستونکي یې په مستقیم ډول د ارسطو له فکري او علمي میراث سره وصل کړي او په تېره بیا ادبپوهانو او ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینوالو ته یې ددې لاره اواره کړې چې د ادبپوهنې د لومړنیو اساساتو په باب معلومات ترلاسه کړي.

مولانا محمد اسرائیل نه یوازې یوه پخه ژباړه کړې، بلکې د ارسطو د شعر فن او یا (کتاب الشعر) یې په دقیق ډول شرح او تحلیل کړی هم دی. د مولانا تحلیل او ارزونه دلته ځکه د ارزښت وړ ده چې ده د ارسطو دا اثر څو څو ځله لوستی دی. کله چې یو څوک پر کوم کتاب بحث کوي، نو کېدی شي یو خل یا دوه ځله یې ولولي او بیا خپله ارزونه پرې پیل کړي، خو کله چې یو څوک یو اثر ژباړي، نو یوه یوه کلمه یې څو څو ځله له ذهنه تېرېږي او تر هغې چې د مانا تل او انطباق ته یې ورداخل نه شي، ژباړه یې هم شونې نه برېښي، نو مولانا محمد اسرائیل چې دا اثر ژباړلی، هره کلمه یې څو څو ځله لوستلې، په ذهن کې یې تحلیل کړې، د هغې مانا ته یې ځان رسولی او بیا یې خپلې ژبې ته را اړولې ده. په خپله ژبه کې یې هم بیا څو څو ځله له نظره تېره کړې، په دې مانا چې له ژباړونکو پرته به هېچا هم د ارسطو دا اثر دومره زیات نه وي مطالعه کړی، په خپله مولانا وایي: ((د حکیم فارابي او شېخ الرییس دې دومره تاکیدونو په ما دومره اثر وشه چې ما د کتاب الشعر کم نه کم پنځوس ځله مطالعه وکړه....))[۶] نو ځکه خو د ده تحلیل خورا ژور برېښي. مولانا محمد اسرائیل د ژباړې له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت او دقت څخه ګټه پورته کړې، لومړی یې ددې اثر د ژباړې اړتیا په ګوته کړې او بیا یې ددې اثر پر ماهیت او اهمیت رڼا اچولې ده.

مولانا وایي: ((سره له دې چې د ادب په فن کـې د ارسـطو نظریـات او هغه هم د یوناني ادب په باره کې او بیـا خـاص د یونـاني ادب د یـوې مخصوصې نوع متعلق دي، خو بیا هم د هغـه د نظریـاتو لویـه حصـه ځنګه چې د هغه له شانه سره ښایي، په ادبیاتو بانـدې پـه مجمـوعي حیثیت صحیح ثابتېږي او دا ویلی کېدی شي چې د هغه د زمـانې نـه یې واخله تر ننني زمانې پورې د شعري تنقید مسله اصولو کـې هـېڅ قسم اهمه اضافه نه ده شوې او راتلونکي وخت کې هم څه امید نشـته چې اوشي، دغه وجه ده، چې د دنیا د هر ملـک شـاعران ښـه او بـد شعرونه هم د ارسطو په تله تلي.)) (۷)

مولانا اسرائیل د ارسطو له نظره د شعر زېږوونکو سرچینو تـه اشـاره کوي او وایي: ((د ارسطو دا عقیده ده، چې د بنیادم هغه فطـري ذوق، چې کوم د شعر موجد او باعث دی، له دوو چینو نـه خړوبېـږي، یـو د تفاخر او لویۍ خیال دی، چې کوم د پلار نیکه د لویۍ او د عظمت د تاثر نتیجه ده، دا د فخریه او رزمیه اشعارو محرک دی، دویـم د بـل عیـب لټولو او نکته چیني کولو ته د بنیادم هغه طبعي میلان دی، چې ترې نه هجو پیداکېږي، رزمیه اشعارو نه غم لړلي منظومات (تراژیدي) وجـود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راځي او د هجويه اشعارو نه خندوونکي اشعار (کاميډي) پيداکېږي، چې د رزميه نه هغه جدا کوي.

د ارسطو عقيده ده، چې د زمانې په حيثيت غمجنوونکي منظومات، په فخريه او هجويه اشعارو فوقيت لري، په دې وجه پــه کــار دي، چــې د هغې په هکله پوره تحقيق سره اوږد بحث وشي، لکه چې هغه په خپل دې کتاب کې هم دغسې کړي دي.)) (۸)

مولانا اسرائيل د شعر په باب د افلاطون او ارسطو د نظرياتو اختلاف او توپير ته هم اشاره کوي.

افلاطون وايي: ((دا دنيا د عالم مثال او نقل دی او شاعري د انسانانو د اعمالو او افعالو نقل کوي، ګويا که شاعري د نقل نقل شه. د هغه په نظر دا د سيوري سيوری دی او له اصل نه ډېر لرې دی.))

ارسطو وايي: شاعري د فطرت نقل نه کوي او نه د فطرت د نقــل کولــو څه ضرورت شته، ارسطو دا مني چې شاعري نقل يا تقليد خو ضروري دی، ولې پر ځای ددې چې دې ته له مصورې ســره مشــابهت ورکــړای شي، هغه وايي چې شاعري له موسيقۍ او رقص سره مشابهت لري.

ارسطو هم شاعرۍ ته نقل وايي، ولې د افلاطون د نقل موازي، هغه نقل خو ورته وايي ولې د نقل نقل نه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله ارسطو د خپل دې کتاب په باب وايي: ((زما مقصد دادی چې د شاعرۍ پر فن بحث وکړو او د هغې مختلف انواع معلوم کړو او پــه دې انواعو کې د هر يو کار او مقصد وټاکو، د شعر صحيح تجزيه او د اشعارو تعداد، د قطعاتو کيفيات او د هغې د اجزاوو په باره کــې خيــال اظهــار کړو.))

ارسطو د شاعرۍ بحث له درېو پوښتنو پيلوي: ((شاعري څنګه نقل يــا تقليد کوي؟ شاعري د څه شيز نقل کوي؟ او ددې نقل طريقــې کــومې دي؟))

ارسطو شاعري په لومړي ګام کې پر دوو برخو (داستاني او ډراماتيکــه) وېشي، د تراژيکو داستانو او تراژيکو ډرامو تر منځ هم توپيرونه په ګوته کوي. داستانونه اوږده او ډرامې لنډې وي. ده د ډرامې لپــاره د زمــان، عمل او مکان وحدت ضروري وباله، چــې وروســته بيــا د (درې ګــوني وحدت) په نامه ياد شو.

ارسطو د تراژيدۍ په باب وايي چې ((دا بايد داسې يو علمي تقليــد وي چې په دقت سره تر سره شوی وي او په خپل ذات کې بايــد کامــل او اکمل وي.))

ارسطو د شاعر د تېروتنو او غلطيو په باب هم ځــانګړی انتقــادي نظــر لري: ((هغه وايي، شاعر په دوه ډوله غلطي کوي، دا غلطــي يــوه خــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي غلطي ده او هغه دا چې یو سړی د شاعرۍ صلاحیت نــه لــري او بیا هم شاعري کوي، دا غلطي د ښښــلو وړ نــه ده، دویــم ډول اتفــاقي غلطي ده، د هغې صورت دادی چــې شــاعر صــلاحیت لــري، خــو د شاعرۍ د هغې برخې د جزئیاتو په بیان کې کله کله غلطي هم کــوي، چې له نورو فنونو سره تعلق لري، دا ډول غلطي د ښښلو وړ ده.))

د ارسطو بوطیقا؛ د شعر هنر یا کتاب الشعر پر یوه سریزه پیل شوی او د همدې سریزې په لومړۍ جمله کې ارسطو د خپل اثر هدف بیــانوي، دی وایي: ((زما د بحث موضوع شاعري او د هغــې مختلــف قســمونه دي)).[٩] ارسطو خپل دا اثر په پنځو برخو کې رالنــډوي: پــه لــومړۍ برخه کې یې همدا سریزه ده چې پر خپل هدف ســربېره د رزمیــه یــا جنګي شاعرۍ (Epic) یادونه کوي، بیا د غم او درد شاعري (Tragedy) بیانوي او بیا د خوشالۍ شاعرۍ (Comedy) ته اشاره کــوي، همــدا پــه حقیقت کې د ارسطو له نظره د شاعرۍ وېــش دی او پــه پــای کــې د نقادانو اعتراضونو ته د ځواب ورکولو اصول تشریح کوي.

ارسطو په شاعرۍ کې د یو کرکتر یا شخصیت د بیان لپاره درې اصــول ټاکلي دي: لکه څنګه چې هغوی دي، تر هغو غوره وښودل شي یــا تــر هغو ډېر ټیټ او یا هم لکه څنګه چې دي همغه شان. ارسطو په دې اثر کې د رزمیې شاعرۍ او تراژیدي، رزمیې او هجوې تر منځ توپیرونه هم په ګوته کړي، د شاعرۍ د بېلابېلو ډولونو لپاره یې د وزن، بحر او اهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګوالی هم په ګوته کړی او د خپلې زمانې او تر هغه وړانـدې زمـانې نظمونه یې له فني پلوه ارزولي دي.

په کوټلې، سپېڅلې او په تول برابرې شاعرۍ کې ارسطو یوازې (هومر) د شاعر د لقب مستحق ګڼي، ځکه چې د ارسطو په نظر دده په نقلونو (پېښنو) کې د ډرامې (حقیقي روح) موجود دی. ارسطو د کومیډې پـه باب وایي چې دا د بدو خصلتونو نقل یا (پېښې) دي.

ارسطو د خپل اثر په درېیمه برخه کې تراژیدي څېړي، ارسـطو وایـي: ((تراژیدي د یو داسې عمل (کردار) نقل او پېښې دي چې هغه اهـم او مکمل وي، یو مناسب عظمت او اوږدوالی ولري او په داسې ښکلې ژبـه لیکل شوې وي، چې خوند کوي، دا ځکه چې د دې په مختلفـو برخـو کې په مختلفو ذریعو سره د وېرې، وحشت او دهشت د بیان لـه املـه اغېز پیدا کېږي او له همدې وجې د پیدا شـویو جـذباتو او هیجانـاتو صحت او اصلاح هم کوي.

دی د تراژیدۍ لپاره شپږ عناصر مهم ګڼي: پېښې، څېرې، ژبه، تاثرات، ارایش یا سینګار او موسیقي.

ارسطو تراژیدي پر څلورو ډولونو: پېچلې، دردونکې، اخلاقـي او سـاده وېشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب الشعر څلورمه برخه د نقادانو اعتراضونو او هغوی ته د ځــواب ورکولو اصولو ته ځانګړې شوې ده.

په دې بحث کې په (شپږو) جلا جلا برخو کې د نقادانو اعتراضــونو تــه ځواب ویل شوی او د نقد پر اصولو بحث شوی دی. ایا شاعر یوه پېښــه لکه څنګه چې وه یا ده همغه شان تصویر کړې، یــا څنګــه چــې ګڼــل کېدی یا بیانېدی شي او یا دا چې څنګه د هغو بیانېــدل پــه کــار دي، همغه شان انځور کړي که نه؟

ژبه یې څنګه کارولې؟ او بله دا چې د شاعرۍ د سمون معیار څــه دی؟ له نورو برخو سره څه توپیر لري.؟

ارسطو په خپل اثر کې د مورخ او شاعر توپیر ته هم صریحه اشاره کړې. وایي د (هیروډت) تصنیف منظوم کېدی شي، خو بیا به هم همغه تاریخ وي، که په نظم وي او که نه وي. د دواړو: (مورخ او شاعر) تر منځ غــټ توپیر دادی چې یو (مورخ) دا بیانوي چې څه پېښ شــول او شــاعر دا بیانوي چې څه پېښېدی شي. په دې وجه شاعري د تــاریخ پــه پرتلــه ډېره فلسفیانه او زیات غوره څیز دی. شاعري له عام څخــه خبرېــدل دي او تاریخ له خاص حقیقت څخه.

ارسطو پېښې هم پر دوه ډولونو وېشي: ساده او پېچلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسطو د خپل اثر په همدې درېیمه برخه کې تراژیدي پر هر اړخیز ډول څېړلې او په (۲۶) بېلابېلو برخو کې یې پرې رڼا اچولې ده.

ددې ترڅنګ پر رزمیه یا جنګي شاعرۍ هم  څانګړې بحث شــوی. دی د جنګي شاعرۍ جوړښت یا شکل هم د غموونکې ډرامــې شــکل تــه ورته بولي، د بحر او د بیان د بڼې له مخې یې هم یو شان بولي. پــه دې کې پیل، منځ او پای په کار دی.

ارسطو جنګي شاعري هم د تراژیدۍ په شان پر څلورو برخــو وېشــي: ساده، پېچلې، اخلاقي او غمــوونکې یــا دردوونکــې، لــه موســیقي او سینګار یا اړایش پرته د هغې هغه  برخې هم هغومره کېدی شي چې د تراژیدۍ دي. خو توپیر یې دا ګڼي چې رزمیه شاعرۍ کې ډېرې پېښــې بیانېدی شي، د نظم ضخامت زیاتېږي، خو تراژیدي ددې وس نه لــري، ټولې هغه پېښې بیان کړي چې په یوه وخت کې تېرې شوې دي، هغــه پر یوه وخت یوازې هغې پېښې بیانولای شي چې د سټیج پر سر ښودل کېدلای شي.

ارسطو په خپل دې اثر کې د شاعرانه ژبې پر استعمال هم ټینګار کوي، د غږ، نوم، فعل او جملې پر تعریف سربېره شاعر ته لارښوونه کوي، چې د ژبې په استعمال کې باید ډېر دقت وکړي او د عروضو پر علم باید یوه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسطو د خپل اثر څلورمه برخه د نقـاداتو اعتراضـونو او هغـوی تـه د ځواب ورکولو اصولو ته ځانګړې کړې، پـه دې برخـه کـې ارسـطو پـر شاعرانو یا شاعرۍ د نیوکو علتونه پر پنځو بنسټونو وېشلي دي: هغوی یوه پېښه یا واقعه ناشونې ګڼي، یا د هغې خلاف قیاس کوي، یـا یـې د اخلاقو خرابوونکې ګڼي، یا متضاده او یا هم د هنر له پلوه غلطه.

د ارسطو په نظر که شاعر دده وړاندیزونه او هغه لارښوونې، چې ده پـه دې اثر کې ورته اشاره کړې، هغه عملي کړي، د نقادانو لـه نیوکـو بـه وژغورل شي.

د کتاب الشعر پنځمه او وروستۍ برخه د تراژیـدۍ او رزمیـه شـاعرۍ پرتلنې ته ځانګړې شوې ده، ارسطو تر خپل تحلیل، اروزنې او پرتلنـې وروسته دې نتیجې ته رسېدلی، چې تراژیدي تر رزمیې شاعرۍ غـوره ده.

دی د لومړي قضاوت،محک او فرضیې په توګه وایي، که چېرې دا ومنل شي چې کوم فن زیات سپېڅلی وي، هغه به تر مقابل لوري غـوره وي. سپېڅلی فن بیا همغه دی چې د هوښیارو کتونکو خوښ شي.

ارسطو تراژیدي تر رزمیه شاعرۍ ځکه غوره بولي چې د رزمیه شاعرۍ ټول عناصر په تراژیدۍ کې خوندي دي، خـو تراژیـدۍ د موسـیقۍ او سینګار په ګډون نورې زیاتونې هم لري چې د تخیـل د لوړتیـا سـبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځي او دا چې پر ستېج ښودل کېږي نو اثر يې نور هم څرګند او صفا کېږي. تراژيدۍ د لوستلو او کتلو پر وخت هم وخت کم نيسي، ځکه چې که يو اثر ډېر وخت واخلي، نو ډېر څه ترې نه حاصلېږي.

په جنګي نقل کې وحدت يا يووالی ډېر کم دی، د يوه رزميه نظم له موادو څخه ډېرې تراژيدۍ ليکل کېدی شي، لنډه دا چې ارسطو د خپلو ګڼو دلايلو له مخې تراژيدۍ تر رزميه شاعرۍ غوره بولي، خو دا په دې مانا نه ده چې هغه دې حکم وکړي، رزميه شاعري دې هېڅ نه وي او يا ورته هېڅ اړتيا نه شته، بلکې د شاعرۍ د دوو ډولونو د پرتلنې په حالت کې تراژيدي تر رزميه شاعرۍ غوره بولي.

د ارسطو د شعر هنر يا کتاب الشعر د پښتو ژباړې په وروستۍ برخه کې د ژباړونکي له خوا د هغو اشخاصو او د هغوی د اثارو يادونه شوې، چې د ارسطو د کتاب په متن کې د هغو نومونه راغلي او يا يې هم د کتابونو بحثونه او ارسطو هم د خپل منطق او استدلال په توګه راوړي دي، دې ته (مختصر حالات) عنوان ورکړل شوی او د کتاب په وروستۍ برخه کې راغلي دي. که څه هم ددې اشخاصو يادونه د کتاب په وروستۍ برخه کې راغلې، خو که څوک يې د کتاب تر اصلي متن دمخه ولولي، نو د ارسطو د کلام د مفاهيمو په درک کې به ورسره ډېره ښه مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارسطو د دې اثر تردې لنډې ارزونې، پېژندنې او شننې وروسته سړی په ټولیز ډول ویلای شي چې د ارسطو دا اثر (کتاب الشعر) د ادبپوهنې په تېره بیا د ادب تیورۍ اساسي، مهم او خورا ګټور کتاب ګڼل کېږي، په حقیقت کې همدا اثر دی چې په عملي او نظري ډول یې د ادب تیوري اساسات ایښي دي، د ادب تیورۍ یو لنډ تعریف دادی چې ((ادب تیوري د ادب د بېلابېلو برخو او مسایلو په هکله د نظریاتو مجموعه ده.)) (۱۰) د ادب تیوري د معاصرو او جامع تعریفونو له جملې څخه یو هم دادی چې: ((ادب تیوري د هنري ادبیاتو ټولنیز رول او ماهیت، ځانګړتیاوې، څرنګوالی او د ودې قانونمندي څېړي او د ادبي موادو او مسایلو د څېړلو او ارزونې لپاره مختلف معیارونه او پرنسیپونه ټاکي، ادب تیوري، ادبي عام مفاهیم او اصطلاحات طرح او تنظیموي او هغو ته د یوه سنجول شوي منظم سیستم بڼه ورکوي، همدا د ادبي تیوري مفاهیم او بنسټونه دي چې د هغو په رڼا کې ادبي افکار له ابهام څخه راوځي.))(۱۱)

د پورتني تعریف له مخې د ارسطو( کتاب الشعر) نه یوازې د ادب تیوري په برخه کې د خپل وخت یو نسبتاً بشپړ اثر ګڼل کېږي، بلکې تر دې دمه پورې دا داسې یو اثر دی چې د ادب تیورۍ په برخه کې د عملي او نظري لارښود اثر په توګه کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسطو داسې يو عالم و چې د خپل وخت او تر هغه دمخه زمانې اکثـره ادبي اثار يې له نظره تېر کړي، ارزولي او شنلي وو او بيـا يـې د همغـو اثارو د ليکنې ډول او محتوا له مخې تيوريک اصول ټاکلي او هغه اثـار يې د همغو اصولو په رڼا کې ارزولي وو.

د ارسطو تر بوطيقا يا کتاب الشعر وروسـته چـې د ادبيـاتو پـه بـاب ادبپوهانو کوم اثار ليکلي، نو يو ځل يې ضرور خپلـه ريښـه د ارسـطو همدې اثر ته رسولې او هغه يې د خپل ځان د الهام اساسـي سـرچينه ګرځولې ده. ارسطو په ډېر دقت سره ادبي اثار ارزولي او ډلبندي کـړي دي. د ارسطو لپاره د ادبي اثارو د ارزونې چاپېريال او بستر هم ښه برابر و، دده په زمانه کې او تر ده وړاندې هم يونـان د زيـاتې ادبـي پـانګې خاوند و، همدا پانګه وه چې ارسطو وارزوله او بيا يـې ورتـه اصـول او ميتودونه په ګوته کړل. طبيعي خبره ده چې که پر هغه وخـت يونـان دومره ادبي پانګه نه لرلای، نو ارسطو به څه شی ارزولـي وای او د څـه شي له مخې به يې ورته اصول ټاکلي وای؟ د ارسطو خپلـه پوهـه او د يونان ادبي پانګه ددې سبب شوه چې ارسطو د بوطيقا مهم اثر وليکی چې تر ننه پورې د ادبپوهنې په برخه کې کار وړ او ګټـې وړ اثـر ګڼـل کېږي. اوس يوه پوښتنه داده چې د ارسطو د بوطيقـا تيوريـک اثـر د ادب تيورۍ د اوسنيو معيارونو له مخې وارزول شي، ښه ده او کـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوسنۍ ادبي تیوري د ارسطو د ادبي تیوري (بوطیقا) له معیارونو سره پرتله شي؟**

**دا خبره خو هېڅ د بحث وړ نه ده، له منطقه لرې او ناممکنات دي چې څوک ووایي د ارسطو بوطیقا دې تر هغه وروسته اثارو څخه متاثر وي!!؟ خو دې بل اړخ کې دا خبره واضح ده چې اوسنۍ ادبي تیوري بیا د ارسطو له دې اثر څخه الهام اخلي او که یو ادبپوه خپله ادبي تیوري او د هغې میتودونه وضح کوي، نو ضرور به یو ځل د ارسطو معیارونه او میتودونه له نظره تېروي. د ادب تیورۍ په برخه کې د ارسطو یاد اثر دومره جامع دی چې د اوسنۍ ادبي تیوري اکثره معیارونه په کې خوندي دي، لکه پورته مو چې یو دوه تعریفونه یاد کړل.**

**په پای کې د یوې ټولیزې نتیجې په توګه ویلای شو چې د ارسطو (بوطیقا) د ادب پوهنې په برخه کې داسې یو تیوریک اثر دی چې تر دوه زریزو زیاتې مودې راهیسې په ادبي مطالعاتو کې مطرح دی او تر څو پورې چې ادب او د ادب په باب بحثونه او تحلیلونه روان وي، دا اثر به په کې مطرح وي او خپل خپل اغېز به لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱) ادب او ادبي کره کتنه، عبــدالمالک همــت، صــحاف نشــراتي موسســه، ۱۳۸۵ل کال، ۲۹۹مخ.
(۲) کتاب الشعر، د مولوي محمد اســرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، ۱۹۵۸م کال، د مولانا  عبدالقادر سریزه، ۴ مخ.
(۳) کتاب الشعر، د مولوي محمد اسرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، (۱۹۵۸م) کال، ۱ مخ.
(۴) ادبي نظریات (د پښتو دکتــورا پروګــرام) ســرمحقق زلمــی هېوادمــل، ۱۳۹۴ل کال، ۸ مخ
(۵) کتاب الشعر، د مولوي محمد اسراییل ژباړه، د مولانا عبــدالقادر ســریزه، پېښور، پښتو اکیډمي، ۱۹۵۸م کال، ۵ مخ.
(۶) کتاب الشعر، د مولوي محمد اســرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، ۱۹۵۸م کال، ۳۰ مخ.
(۷) کتاب الشعر، د مولوي محمد اسرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، ۱۹۵۸م کال، ۱۴ مخ.
(۸) کتاب الشعر، د مولوي محمد اسرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، ۱۹۵۸م کال، ۱۶-۱۷ مخونه.
(۹) کتاب الشعر، د مولوي محمد اســرائیل ژبــاړه، پېښــور، پښــتو اکــاډمی، ۱۹۵۸م کال، د اصل متن لومړی مخ.
(۱۰) د ادبپوهنې ځانګې، سرمحقق محی الدین هاشمي، د افغانستان علومو اکاډمی، ۱۳۹۲ل کال، ۱۶۹ مخ.
(۱۱) ادبي نظریات، (دوکتورا پروګرام)، سرمحقق زلمــی هېوادمــل، ۱۳۹۴ ل کال، ۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شیخ سعدي او رحمان بابا د اخلاقي ایډیالونو پرتلنه

ابومحمد مصلح الدین د عبدالله زوی چې په (شیخ سعدي) مشهور دی او رحمان بابا په دوو یادو ختیزو ژبو (دري) او (پښتو) کې داسې یـاد او نامتو شاعران او عارفان تېر شوي چې دواړه په عوامو او خواصـو کـې زیات منښت، ګرانښت، مقبولیت او محبوبیت لري. ددې عام محبوبیت علتونه کېدی شي ډېر وي، خو لوی اخلاقي، انساني او دیني ارزښتونه، د بیان مستقیم طرز، نېغ په نېغه د پیغـام رسـونه او سـاده ژبـه ددې منښت او ګرانښت د اساسي عواملو په توګه یادولای شو.

دلته نه غواړو د دغو دواړو محبوبو شاعرانو پر شاعرۍ پراخ بحث وکړو، ځکه یوه لیکنه، څو لیکنې او ان څو ځانګړي اثار ددې وس نه لري چې دداسې سترو شاعرانو د پراخې شاعرۍ او د هغو پر ټولـو اړخونـو رڼـا خوره کړي، خو دلته غواړو یوازې او یوازې ددې دوو سترو شـاعرانو او صوفیانو د غتو اخلاقي ایډیالونو پر ورتوالي او د هغو پر پرتلنې لنډه رڼا واچوو، خو مخکې تر دې چې اصلي موضوع ته لاړ شو، غواړو یـو څـو نورو ضروري ټکو ته هم نغوته وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زماني واټن:

د شېخ سعدي او رحمان بابا د ژوند ترمنځ زیات زماني واټـــن موجـــود دی، ((شیخ سعدي پر (۶۰۶) هجري کال د اوسني ایران په (شیراز) کې زېږېدلی او پر (۶۹۱) هجري کال یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.))[(۱)] رحمان بابا بیا د پټې خزانې په حواله (پر (۱۰۴۲هــــق) کـــال د پېښور سیمې په بهادر کلي زېږېدلی))[(۲)] او ((پر (۱۱۲۸هــ ق) کال یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د پېښور په هزارخانۍ هـــدیره کـــې خاورو ته سپارل شوی دی.))[(۳)] په دې ډول نو د شېخ سعدي او رحمـــان بابا د ژوند ترمنځ (۴۳۶) کاله او د مرګ ترمنځ یې (۴۳۷) کلونه زمـــاني واټن موجود دی.

## ګډ ټکي:

د شېخ سعدي او رحمان بابا د کلام ترمنځ زیات مشترک ټکـــي شـــته، محتوا یا منځپانګه ددې مشترکاتو مرکزي ټکي دي. دواړه لویو عارفانو تر هر څه وړاندې خپل فکر د دین (اسلام) پر دایره متمرکز کـــړی دی. اسلام کې بیا دواړو د عرفان او تصوف لاره خپله کړې، نفســـي تذکیـــه، ځان پېژندنه، انسان پېژندنه او خدای پېژندنه، د انساني چلند سمون، د نفسي غوښتنو کنترول او مهـــارول، د دیـــن پـــر اصـــولو پوهېـــدل او ودرېدل د دواړو شاعرانو د کلام ګډ محتوایي ټکي دي. دواړو شـــاعرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شعر کې له ساده او عام فهمې ژبې څخه کار اخیستی، داسې ژبه چې عوام او خواص ټول پرې په اسانۍ سره پوهېدی شي.

## توارد:

سره له دې چې د شېخ سعدي او رحمان بابا د ژوند ترمنځ نږدې (څلورنیمې) پېړۍ زماني واټن دی، خو دا هغه مهال دی چې دري ژبه پر ټولې سیمې خوره وه او ددې ژبې د ادیبانو شهرت عام و. دا خبره له حقیقته لرې نه ده چې رحمان بابا او د هغه هممهالي شاعران به له دري ادب څخه پوره خبر وو او د هغو له مطالعې به یې فیض هم موندلی وي، خو دې کې هم شک نه شته چې توارد او تصادف به هم د دواړو شاعرانو په شعرونو کې د ګډو ټکو د رامنځته کېدو سبب شوی وي. توارد له مخکیني شاعر سره د وروستي شاعر د کلام هغه محتوایي او شکلي ورتوالی دی چې وروستني شاعر له مخنې هغه څخه په شعوري او قصدي ډول څه نه وي را اخیستي، خو په ناشعوري، نالیدلي او نالوستي ډول د دواړو د کلام یو څه برخه سره ورته والی ولري. په بله وینا توارد ((په ژبه کې یو په بل پسې وارېدېدلو ته یا پر یوه وخت داخلېدلو ته وایي. په ادبي اصطلاح کې که یو شاعر پر یوه وخت یو مضمون په یوه شعري قالب کې ویلای وي. پر بل وخت بل شاعر بیا همغه مضمون په همغو کلمو کې بې له دې چې د هغه بل شاعر پر شعر خبر وي، ووایي، توارد ورته وایي. کله داسې وي چې په مضمون کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توارد پېښ شي او كله په كلمو كې. ځينې وخت يو څوک لــه چــا ډېــر متاثره وي، د هغه د كلام په بيا بيا لوستلو ځينې كلمې، اصــطلاحگانې تركيبونه او مضمونونه د هغه په ذهن كې پرېوزي. كله چــې بيــا خپلــه سنجونه كوي د هغو ځيزونو اثرات په كې ليــدل كېــږي.))[۴] لــه شــېخ سعدي څخه د رحمان بابا محتوايي الهام ردېدلای نه شي، خو څرنگــه چې هغه وخت د اثارو چاپ او تكثير د نن په شان عام نه و، نو ځكه خو ويلای شو چې ددې الهام تاثيرات به ډېر مستقيم نه وي، څرنگه چــې دواړه عارفان، صوفيان او شاعران د يوې واحــدې فكــري دايــرې پــه حدودو كې فعال وو، نو ځكه خو يې د اخلاقي اډيــالونو او فضــايلو پــه بيان كې د محتوايي توارد او تصادف خبره هم ردېدلای نه شي.

شيخ سعدي په (اوومه) هجري پېړۍ كې د اسلامي نړۍ په تېــره بيــا د دري ادب يو ستر عرفاني، روحاني او ادبي شخصيت تېر شــوی دی، د دين د اساساتو تل ته وركښته شوی و او د اسلام پــر اكثــرو اركــانو او رموزو پوه و، خدای پالنه، انسان پالنه، ذهني او نفسي تذكيه، د انسان د اخلاقي نظام جوړښت، عرفان، ځان پېژندنه او خدای پېژندنه د شېخ سعدي رحمة الله عليه د كــلام فكــري اساســات جــوړوي، بوســتان، گلستان او په مجموعي ډول د هغه ټول كليات د همــدغو ارزښــتونو د ځلونې انځورگري كوي. رحمان بابا د يولسمې هجري پېړۍ په وروستۍ نيمايي او د دولسمې هجري پېړۍ په لومړيو كې د پښتو ستر شــاعر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی عارف تېر شوی، رحمان بابا بیا د خدای په مینه او د هغه د مخلوق په محبت کې غرق انسان دی، هغه وایي چې: دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې، تصوف، عرفان، د نفس پاکوالی، اخلاقي فضایل، انسانیت او د هغو پالنه د رحمان بابا د کلام محتوایي خواوې دي.

دلته غواړو ددغو دوو سترو عارفانو انساني لارښوونو، اخلاقي ایډیالونو او د دیني نصایحو سپړنې او پرتلنې ته لږ تم شو.

## عدالت:

سعدي د عدالت تامین او پالنه د هر انسان او په تېره بیا د عادل انسان لپاره د تلپاتې یادګار وسیله ګڼي، وایي ظالم او عادل دواړه له نړیه تلونکي دي، خو له یوه څخه د ظلم قاعده پاتې کېږي او له بل څخه نېک نوم.

ظالم برفت و قاعده زشت ازو بماند

عادل برفت و نام نیکو یادگار کرد

د رحمان بابا په کلام کې هم عدالت او د عدالت تامین یو مهم عنصر دی، هغه هم د شیخ سعدي په شان پر عدالت ټینګار کوي او له هر انسانه د انصاف او عدالت غوښتونکی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه انصاف په عدالت به نوشېروان شــې

هــر عمــل بــه د خــپل ځان په ترازو کړې

د سکندر په څېر جهان به درځرګند شي

که سر کــوز پــه ایینه د خــپل زانــو کړې

## هنر:

سعدي هنر، پوهه او کمال د انسان لپاره ستر ثمر ګڼي، دده په نظــر د انسان هنر همغه دی چې هغه خپله ظاهر شي او په خپلــه د هنرمنــد شخصیت تثبیت کړي، نه دا چې هنرمند د هغه یادونه وکړي:

اګر هست مرد از هنر بهره ور

هنر خود بګوید نه صاحب هنر

رحمان بابا هم د سړي جوهر د هغه هنر ګڼي، هنر د ســړیتوب معیــار ګڼي، نه زر او زور:

دنیا دارکه مستغني په سیم و زر دی

هنرمندو څخه ګــنج د خپــل هــنر دی

بــېهوده بـــه زورور و ځــان تــه وایي

د دنیـــا ســـړی کــه هــر څو زورور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شتمني:

**شیخ سعدي مال، متاع او دنیایي شتمني داسې یوه اړخیزه لاره ګڼي چې له هغو سره زیاته مینه او لېوالتیا ددې سبب ګرځي چې څوک ترې بېرته نه شي راوتلای.**

کسی ره سوی ګنج قارون نبرد
و ګر برد ره باز بیرون نبرد

**رحمان بابا هم په دې نظر دی چې تخت و تاج او د دنیا مال چاته نه پاتې کېږي، که یوڅوک پاچا او ستر واکمن هم وي، نو یوه ورځ به یې دا تاج و تخت له خاورو سره برابر شي، نو ښه خبره داده چې انسان نېکي وکړي او د نېکۍ له امله خپل نوم پرېږدي.**

اورنګ زېب چې ارایش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به یې مرګ تاخت و تاراج کا
په جهان کې به یې پاتې ښه بد نوم شي
دی که چارې د کسری که د حجاج کا

**رحمان بابا پر دې بیا ټینګار کوي چې د هېچا شتمني او واک تلپاتې نه دي او اخر له منځه ځي:**

خان سلطان ددې جهان
اخر درومي خوار حیران

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې مل نه يې حامي وي
درد يې دا سې پــه خپل ځان
بــادشاهي يې پــاتې کېږي
زړه يـــې چــوي پـــه ارمــان

## مینه او مینان:

**سعدي هغه کسان چې له چا سره د زړه له تله مینه او محبت ولري او د هغو په مینه کې غرق وي، عیناً لکه مړي ګڼي چې اواز ترې نه خبــږي، ددې شعر یو تعبیر دادی چې څوک د خدای په مینه کې ډوب وي، هغه نه د بل چا خبره اوري او نه چاته غوږ نیسي، هغه یوازې په خپله مینــه کې ډوب وي.**

عاشقان کشتګان معشوقند
بــر نیایــد زکــشتګان اواز

**رحمان بابا هم عشق داسې یو سېلاب ګڼي چې هر څه له مخې پســې وړي او هېڅ بند ورته د ټینګې نه دی:**

هــر چې ژغــوري ســرومال په عاشقۍ کې
هــغه کــړی کــور پــه مخ کې د سېلاب دی
ته چې خوب غواړې په عشق کې راته وایه
کوم چا کړی د زمري په خوله کې خواب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رحمان بابا، ناز، نخرې، ازار او درد د عشق او معشوقې خصلت ګڼي، خو دی په دې نظر دی چې څوک د عشق په لاره ځـي، نـو دا نخـرې بـه زغمي.**

معشوقې همېشه ناز په عاشق کاندي
رحمـان هېڅ له خپله یاره ازار نه دی

**یا هم:**

چې د ستا د عاشقۍ په تېغ شهید شي
د رحـمان غـاړه بـه هـاله شـــي ادا

**رحمان بابا دا دنیا د عشق او مینې زېږنده او عشق بیا د ټولو مخلوقاتو پلار ګڼي:**

دا دنـیا ده خدای له عشقه پیدا کړې
د جـمله وو مـخلوقـاتو پـلار دی دا

**رحمان بابا د عشق په لاره کې د خطرونو د مخنیوي لپاره سپارښـتنه کوي چې مین باید ځان ته یو لارښود وټاکي:**

بې رهبره یون د عشق په لاره ګران دی
دلـته بـویه چې پیدا کاندي رهبر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نېک کارونه:

**سعدي تر هر څه زيات پر ښو اخلاقو، نېک چلند او په يوه لنډه مانا پـر سړيتوب ټينګار کوي، هغه وايي، نه دا نړۍ پاتې کېـږي، نـه د انسـان خوښي او خوشالۍ، خو کوم څه چې انسان ته تلپاتې ژوند ورکوي، هغه د انسان هغه نېکي ده چې تر ده وروسته نور دی په همغه نامه يادوي:**

جـهان نـمانـد و خـرم روان آدمـــی
که باز ماند از او در جهان به نیکي یاد

**رحمان بابا هم دا دنيا او د هغې خوشالۍ يوه ننداره بولي چـې ډېـر ژر تېرېدونکې ده، خو سړی بايد د سبا غم وخوري.**

د دنيا په تماشا چې څوک نازېږي
خـو هم نن يې تماشا ده سبا نه ده

**دی نېک کارونه د نېکو خلکو او بد کارونه د بدو خلکو زېږنده ګڼي:**

نـېکو کـاره نېک افعال شي
بـد کـردار او بد افعال شي
سـرنـوشـت د سـړي ګـوره
يـو عيسی وي بل دجال شـي
چـې نېک بخت وي نيکويي کا
چـې بـد بخت وي بد سګال شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـــال بـه څـه ګـورې رحـمانه
خپل افـعال د سـړي فـال شـي

**مقصود:**

**سعدي د نورو صوفیانو او عارفانو په شان زړه د خپل محبـوب اصـلي خونه او ځای ګڼي او په دې نظر دی چې هر څه (خپل مقصود او مرام) باید په خپل ځان او زړه کې وګورو، که ځان ته متوجه نـه شـو خپـل مقصود په دښتو او بیابان کې نه شو پیداکولای.**

عمرها در پی مـقصود به جان ګردیدم
دوست درخانـه و ماګرد جهان ګردیدم
خود سرا پرده قدرش زمکان بیرون بود
انکه ما در طلبش کون و مکان ګردیدم

**رحمان بابا هم زړه د عبادت او دعا د قبلېدو اساسي ځای ګڼـي او هـر انسان ته وایي، که غواړې خپل مقصود حاصل کړې، د بل انسان زړه مه ازاروه او د هغه د ابادۍ هڅه وکړه.**

د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه
که اباد کا څوک ویران حرم د زړه

**او یا هم:**

کـه دې نیت وي د کعبې د جوړولو
د بیوسه انسان زړه جوړ کړه کعبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه:

لوی عارف او صوفي شېخ سعدي د انسان زړه داسې یو شی ګڼي چې هر ځل چاته نه ورکول کېږي او دا داسې متاع نه ده چې بار بـــار دې د معاملاتو په بازار کې خرڅه شي:

دل به بازار من آورده و بفروخته ای
دل بفروخته مفروش به بازار دګــــر

په دې بیت کې ژمنه، وفا او نوره محتوا شامله ده.

رحمان بابا بیا د عرش او کرسۍ تر مرتبې هم د زړه مرتبه لـــوړه ګڼــي، وايي:

چې یې عرش او کرسي لاندې تر قدم وي
بـــــالا تــــر دې هـسې شـان قـدم د زړه

## غوړه مالي:

غوړه مالي، د پاچاهانو د خوشالۍ لپاره په درباري چلند کــې ناقانونــه افراط او تفریط یوه داسې ناروغي ده چې ټولنه له سختو ستونزو ســره مخامخولای شي، خو ځینې وخت بیا داسې هم وي چې ځینې شاهان د مشاورینو ښه نظر هم اوري او هم یې عملــي کــوي. شــېخ ســعدي دغسې یو حالت ته متوجه دی او وايي افسوس د هغه شخص په حــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حاکم یې ښه خبره اوري، خو دی یې ورته نه کوي، دا حالت د ډېــر افسوس خبره ده:

هر که شاه آن کند که او گوید
حــیف باشد که جز نکو گوید

رحمان بابا بیا غوړه مالي د نوکرانو یوه مجبوري گڼي او وایي:

هـــر چې کاندي نوکري د بادشاهانو
خواه ناخواه به د دربانو منت باروي

## چوپتیا:

حضرت علي کرم الله وجهه ته یوه خبره منسوبه ده چې وایي: ((د هر چا شخصیت د هغه د ژبې تر شا پټ دی.)) رښتیا خبره هم همدا ده تر هغه پورې چې یو څوک خبرې ونه کړي، نو د هغه د پوهې او شخصیت جاج ورڅخه نه شي اخیستل کېدلای او د پوهې کچه یې نه معلومېږي. شېخ سعدي رحمة الله علیه هم همدا پخه خبره د خپل کلام پــه یــوه بیت کې ځای کړې، وایي:

تا مرد سخن نگفته باشد
عیب و هنرش نهفته باشد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حضرت رحمان بابا بیا خاموشي یوه لوړه مرتبه ګڼي، خو دی دا مرتبه په هغه شرط ماتوي چې له خپل یار سره پر خبرو لګیا وي، له دغسې یو حالت پرته رحمان بابا هم خاموشي یوه لوړه مرتبه او مقام ګڼي:**

خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده
زه مې یار سره په سوال او ځواب خوښ یم

## ټولنیز اخلاق:

**د شیخ سعدي په کلام کې پر ټولنیزو اخلاقو هم ډېر ټینګار شوی، خو د ټولنیزو اخلاقو ترڅنګ سیاسي اخلاقو ته هم ډېر پام شوی، د پاچاهانو غرایز او نفسي خواهشات هم تشریح شوي او د درویشانو هم. هغه په یوه حکایت کې وایي، لس درویشان پر یوه ټغر راټولېدی شي او خپله ډوډۍ له یو بل سره نیمولای شي، خو په یوه اقلیم او یوه جغرافیه کې دوه پاپاهان نه شي ځایېدلای. د سعدي دا مثال همدا اوس زموږ په ټولنه کې په ښه ډول د تطبیق وړ دی. سعدي دا د پاچاهانو یوه غریزه ګڼي چې یو ځای لاندې کړي، نو بیا د بل د نیولو هوس لري:**

ده درویش در ګلمی بخسبند
دو پادشاه در اقلیمی نګجند

**او یا هم:**

نیم نانی ګر خورد مرد خدا
بذل درویشان کند نیمی دګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــلک اقلیمی بگـیرد بادشاه
همچنان در بـند اقـلیمی دگر(**۵**)

رحمان بابا بیا په دې نظر دی چې د خانانو او ملنگـانو سـره کلـي نـه کېږي، دی دواړه یو د بل مقابل لوري گڼي:

نـــه شـي د خـانانو مـلنگانو سـره کلي
چېرته عزیزخان چېرته ملنگ عبدالرحمن

رحمان بابا بیا دروېشان تر شاهانو لوړ ځکه گڼي چې د خپـل روحـاني قوت په برکت تر عرشه هم مزل کولای شي او شـاهان لـه دې سـفره عاجز دي:

په یوه ساعت تر عرشه پورې رسي
مـا لیدلی دی رفتار د دروېشانو

## اصلیت:

شیخ سعدي رحمة الله علیه په دې نظر دی چې د یـو شـي فطـرت او طبیعي خواص په اسانۍ سره نه بدلېږي، که هر څـومره یـې روزنـه او پالنه هم وشي. ددې اخلاقي نظر نتیجه داده چې موږ باید د هـر شـي اصل ته مراجعه وکړو او د هغه د اصل پـه مقیـاس هغـه پـه ټـولنیزو معاملاتو کې شامل کړو، د لېوه له بچي څخه د انسان د بچـي د چلنـد هیله هسې خواري ده که څه هم هغه له انسان سره رالوی شـي، خـو وروستۍ نتیجه یې خپل اصل ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقبت گرگ زاده گرد شود
گــرچه با آدمی بزرگ شود

رحمان بابا بیا دې ډول پیغام ته په ښه ډول اشاره کړې، هغه وايي:

نه لېوه په ادمیت اموخته کېږي
نه امید د مروت شي له افلاکا
لــه فلکه د وفا امید باطل دی
کلــه دیو له آدم زاد سره وفا کا

شیخ سعدي وايي، پاچا باید ظلم خپله دنده ونه ګڼي او نه باید د پســه د ساتلو دنده لېوه ته وسپارل شي. د پاچا د ظلم کارونه د خپل ملک د دېوالو د نړولو مانا لري.

نــکند جور پیشــه سلــطان
کــه نبایــد زگــرگ چوپــان
پادشاهی که طرح ظلم افکند
پای دیوار ملک خویش بکند

رحمان بابا بیا وايي چې کم ذات ته باید واک ونه سپارل شي، ځکه چې له هغه څخه د نېکۍ هیله نه شي کېدی.

له کم ذات بې دیانته بې غمازه
طمع مه کړه د نېکۍ د بو قیراط

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خواخوږي:

سعدي که څه هم خپل اخلاقي ایډیالونه د اسلامي عرفـان پـه ګاڼـه سمبال کړي، خو دا اخلاقي ایډیالونه نه یوازې پـه یـاده دایـره کــې د مطالعې و ړدي، بلکې د ټولو ادیانو او افکـارو پـه هنـداره کـې هــم د مطالعې او تائید وړ دي. د سعدي یو شعر چې ډېر مشهور دی او دی په کې د ادم زامن د یوه بدن بېلابېل غړي ګڼـي، د نـړۍ د ټولـو ملتونـو عمومي روحیه تشکیلوي، ځکه خو یې د ملګرو ملتونـو د ودانـۍ پـر دروازه هم لیکلی دی، سعدي رحمة الله علیه وایي:

بنـــی ادم اعضـــای یکدیگرنـــد
کـــه در افـــرینش زیـــک ګوهرنـــد
چـــو عضـــوی بـــه درد اورد روزګـــار
دګـــر عضـــوی هـــا را نمانـــد قـــرار
تـــوکز محنـــت دیګـــران بـــی غمـــی
شـــاید کـــه نامـــت نهنـــد آدمـــی

له پورته کلام څخه د سعدي فکري نړۍ لید خورا ښه څرګندېږي چـې سعدي پر ټول بشر د لوړو اخلاقي پرنسیپونو د تطبیق غوښتونکی دی.

رحمان بابا هم په دې نظر دی چې انسان یـا د ادم زامـن ټـول د یـوه وجود یا یوه صورت مانا لري. په کار ده چې یو بل سره په غم او درد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریک وي، ښه کارونه وکړي او له بدو ډډه وکړي.

کــر د ګلــو وکـــړه چـــې ســـیمه دې ګلـــزار شـــي
اغــزي مــه کــره پــه پښــو کــې بــه دې خــار شــي
ادم ذاد پـــــه معنــــــی واړه یـــــو صـــــورت دی
هـــــر چـــــې بـــــل ازاروي هغـــــه ازار شـــــي
کـــه تـــه نـــه کـــوې نظـــر د چـــا و عیـــب تـــه
هـــر ســـړی بـــه ســـتا د عیبـــو پـــرده دار شـــي
کـــه بـــل بـــد کانـــدي تـــه ښـــه ورســـره وکـــړه
هـــر یـــو نخـــل چـــې مېـــوه لـــري سنګســـار شـــي
هغـــــه زړه بـــــه لـــــه توپانـــــه پـــــه امـــــان وي
چـــې کښـــتۍ غونـــدې د خلکـــو بـــار بـــردار شـــي

## عدل او نېکنامي:

سعدي سخاوت، بخشش، ځوان طبیعي، لورېینه او د بېکسو لاسنیوی د حاکم یوه ځانګړنه ګڼي او وایي چې خزانه چاته نه پاتې کېـږي، خــو نېک نوم پاتې کېږي. سعدي د (قارون) او (نوشــین روان) او د هغــوی عملونه ښه مثال ګڼي.

قارون هــلاک شــد کــه چهــل خانــه ګــنج داشــت
نوشـــین روان نمـــرد کـــه نـــام نکـــو ګذاشـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا وايي:

که په ګنج د شاهي فخر شهريار کا
عاشقان يې د د دلبرو په رخسار کا

خرقه پوشو په خرفه کې دی موندلی
هغه حظ چې په دنيا يې دنيا دار کا

رحمان بابا بيا سخاوت او بخشش د مال د زياتوالي وسيله ګڼي او وايي:

خزانـــــه پـــــه ســـــخاوت ســـــره زيـــــاتېږي
د کـــــوهي اوبـــــه چـــــې وکـــــاږې بســـــيار شـــــي

***

مـــــړول د وږې ګېـــــډې مشـــــکل نـــــه دی
مـــــړول د وږيـــــو ســـــترګو مشـــــکل کـــــار دی

## نظم:

په ټولنه کې د عدالت او نظم د تامين به خاطر سعدي په دې نظـر دی چې حاکم بايد په خپله د عدالت نمونه شي، پر خيانت لاس پـورې نـه کړي، که چېرې په خپله واکمن په ټولنه کې د خيانت مرتکب شي، نـو دا کار ددې سبب ګرځي چې لښکريانو ته پلمه او روحيه ورکړي او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر ځله جنایت وکړي. سعدي په ټولنه کې د نېک واکمـن د حاکمیـت غوښتونکی دی او بیا له هغه څخه د نېکو او ښو خلکو د ګومارنې هیله لري.

اګـــر زبـــاغ رعیـــت ملـــک خوردســـیبی
پراورنـــــد غلامـــــان او درخـــــت از بـــــیخ
بـــه پـــنج بیضـــه کـــه ســـلطان ســـتم روادارد
زننـــد لشـــکریانش هـــزار مـــرغ بـــه بـــیخ

رحمان بابا هم په ټولنه کې د ناکره او بدو خلکو له ګومارنې سره سخت حساسیت ښیي او هغوی له لېوني سپي سره تشبه کوي او وایي چـې دا داسې ناروغي رامنځته کوي چې د ټـولنې نظـم لـه منځـه وړي او درملنه یې ناشونې ده:

رحمان بابا وایي:

ورک شـــه ورک شـــه بـــدکردار او بـــد ســـړی
کـــه دې ورور دی کـــه عزیـــز وي کـــه پـــردی
تـــر هغـــه لا نېکـــو کـــار بېګانـــه ښـــه دی
چـــې بـــدکار شـــي د چـــا زوی او یـــا نمســـی
هغـــه خلـــک همـــه واړه لېـــوني کـــا
چـــې پـــه کلـــي کـــې یـــو ســـپی شـــي لېـــونی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړنـــــي ویلـــــي بویـــــه و هغـــــه تـــــه
چـــې بـــې وجـــې ازار نـــه کانـــدي یـــو شـــی.

د حاکم په باب بیا رحمان بابا وایي:

کـــه پـــه قطـــع د تمـــام جهـــان ملـــک یـــې
چـــې لـــه ځانـــه خبـــر نـــه یـــې لا هلـــک یـــې
که د لمـر پـه څېـر څرګنـد شـې پـه جهـان کـې
څـو پـه زړونـو پسـندیده نـه شـې لا ورک یـې

## پوهه او شتمني:

ځینې خلک په دې نظر دي چې پانګه، دولت او خزانه دا په ډېر علـم، پوهې او ذکاوت نه ترلاسه کېږي، ځینې یې د بخت کار ګڼي او ځینـې یې خدایي ورکړه. سعدي هم شتمني او پانګه د علم کار نه ګڼي. هغـه وایي:

بخـــت و دولـــت بـــه کـــار دانـــی نیســـت
جـــز بـــه تائیـــد اســـمانی نیســـت
افتـــاده اســـت در جهـــان بســـیار
بـــی تمیـــز ارجمنـــد و عاقـــل خـــوار
کیمیـــاګر بـــه غصـــه مـــرده و رنـــج
ابلـــه انـــدر خرابـــه یافتـــه ګـــنج

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا هم د ژوند يو شمېر کارونه او پرمختياوې، شتمن کېدل او نور يوازې په عقل پورې نه تړي، طالع، بخت او نور چانسونه هم په کې دخيل ګڼي، نو ځکه خو وايي:

عقل مه غواړه طالع غواړه رحمانه

عقل من د طالعمنو غلامان دي

دا هم وايي چې:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه

دانا نه کا په دنيا باندې غرض

## عيب:

غيبت، د يوه بل عيب لټول او بل ته يې رسول يوه ناروغي ده چې هم اسلام مردوده کړې او هم انساني ارزښتونو، شېخ سعدي هغه کسان غندي چې د بل انسان عيب لټوي او بيا يې نورو ته انتقالوي:

هر که عيب ديگران پيش تو اورد وشمرد

بی گمان عيب ترا پيش ديگران خواهد برد

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا هم غیبت او د بل عیب لټول یوه ستره ناروغي ګڼـي او پـر هغه انسان غوسه څرګندوي چې د بل عیبونه لټوي او خپل عیبونـه او نیمګړتیاوې پټوي. رحمان بابا دې ډول اشخاصو ته په خطاب کې وایي:

چې مدام د بـل و عیـب و تـه نظـر کـړې
خدای له خپلـه عیبـه ولـې نـاخبر کـړې
کـه دې خپلـه ګنـاه لویـه لکـه غـر وي
په حیلـه حیلـه بـه غـر د مـچ وزر کـړې

دا سپارښتنه هم کوي چې:

که ته نه کـړې پـه بـل چـا بانـدې غـرض
بـل به هـم نـه کـا پـه تـا بانـدې غـرض

## روزنه:

سعدي په ښوونه، روزنه او بدلون کې د یو چا یا یو شي اصل ډېر مهـم ګڼي، هغه وایي ځینې شیان د بدلون وړ دي، خو ځینې چـې د خپـل طبیعت تابع وي، پر هغو باندې خواري کول د وخت ضایع کول دي.

چـــون بـــود اصـــل ګـــوهری قابـــل
تربیـــــــت را در او اثـــــــر باشـــــــد
هـــیچ صـــیقل نکـــو ندانـــد کـــرد
اهنـــــی را کـــــه بـــــد ګهـــــر باشـــــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا وايي:

هــــر چـــې کـــر کـــا د وربشــــو غـــنم غــــواړي
لــــه خـــاطره دې ببېـــرون کـــا دغـــه خيـــال ځـــوک
ســــړيه بويـــه چـــې پـــه نېـــک عمـــل يـــادېږي
نه چـــې نـــاز کـــا د دنيـــا پـــه ملـــک و مـــال ځـــوک

شيخ سعدي وايي:

ســــگ بــــه دريــــای هفـــت گانـــه بشـــوی
کــــه چــــو تـــــر شــــد پليـــد تـــــر باشـــد
خـــــر عيســـــی گـــــرش بـــــه مکـــــه برنـــــد
چــــون بيايـــــد هنــــوز خـــــر باشـــــد

رحمان بابا هم د يو شي اصل مهم ګڼي، هغه پيغام چې شېخ سعدي په خپل کلام کې ځای کړی. رحمان بابا هم تقريباً هغه ته ورته پيغام لري، رحمان بابا د اصليت پيغام په يو بل ډول ځای کړی دی.

شـــاه جهـــان او اورنــــګ زېـــب غونـــدې اشـــراف
صــــدقه شـــه تـــــر منصـــور غونـــدې نـــداف
دا ځلـــــور مذهبــــه واړه ســــره يـــــو دي
مــــا او تـــا پـــه کـــې پيـــدا کـــړ اختـــلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مکــې پــه بزرګــۍ کــې هــېڅ شــک نــه شــته
ولــې خــر بــه حــاجي نــه شــي پــه طــواف

## تدبیر:

شیخ سعدي په دې نظر دی چې د یو ملک د ابادۍ لپاره دا ضروري ده چې هلته باید هغه کسان په کار وګومارل شي چې لـه خدایـه وېـره احساسوي، خطر مخکې تر هغه چې واقع شي، باید رفع شي، کـه یـو ځل زیان او خطر پېښ شو، نو زیان رسوونکي ته که بیا سزا هم ورکړل شي، ګټه نه رسوي، نو ښه داده چې خطر تر پېښېدو وړاندې رفع شي.

خـــدا تـــرس را بـــر رعیـــت ګمـــار
کـــه معمـــار مملکـــت ســـت پرهیزکـــار
ریاســـت بدســـت کســـانی خطاســـت
کـــه از دستشـــان دســـت هـــا برخداســـت
ســـرګرګ بایـــد هـــم اول بریـــد
نـــه چـــون ګوســـفندان مـــردم دریـــد

رحمان بابا هم په دې نظر دی چې هر کار مخکې تر دې چې واقع شي، هغه ته باید تدبیر ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه وايي:**

**چـــې پـــه وخـــت د ځنکـــدن وکـــاږې رېـــره**
**تـــر نـــن ولـــې هســـې ناســـت یـــې بـــې تـــدبیره**
**هـــر ســـړی چـــې ګانـــده غـــم پـــه مـــخ کـــې وینـــي**
**لـــــه هغـــــه غمـــــه لا نـــــن ګرځـــــي دلګیـــــره**
**چـــــې ســـــبا ارمـــــانوې پنـــــد د پیرانـــــو**
**ولـــې نـــن د پیـــر طلـــب نـــه کـــړې بـــې پیـــره**

## سریتوب:

**سعدي خاکساري او تواضع د انسان د لوړتیا عامـل ګڼـي او پـر هغـو ټینګار کوي، وايي:**

**زخـــــاک آفریـــــدن خداونـــــد پـــــاک**
**پـــس ای بنـــده افتـــادګی کـــن چـــو خـــاک**
**حـــــریص و جهانســـــوز و ســـــرکش مبـــــاش**
**زخـــــاک افریدنـــــدت آتـــــش مبـــــاش**
**چـــــون ګـــــردن کشـــــید اتـــــش هوفنـــــاک**
**بـــــه بیچـــــاره ګـــــی تـــــن بنـــــداخت خـــــاک**
**چـــــو ان ســـــرفرازی نمـــــود ایـــــن کمـــــی**
**از آن دیـــــــو کردنـــــــد ازیـــــــن آدمـــــــی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رحمان بابا هم په ژوند کې تواضع، خاکساري په حقیقت کــې د لــويي نښه ګڼي، هغه سرېتوب په مال و دولت، شتمنۍ او نورو مالي امکانــاتو پورې نه تړي هغه په دې نظر دی چې:**

**ادميــــت پــــه مــــال دولــــت نــــه دی رحمانــــه**
**بــت کــه جــوړ کــړې د ســرو زرو انســان نــه دی**

**بل ځای وايي:**

**لــه سړيه غرض واړه سړيتوب دی**
**نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس**

# قناعت:

**سعدي قناعت او ښه چلند د انسان د نېکمرغــۍ بــل عامــل ګڼــي او وايي، څوک چې غواړي د انسانيت لاره خپله کړي هغه بايد لــومړی د نفس له سپي سره مقابله کوي.**

**خــــدا را ندانســــت و طاعــــت نکــــرد**
**کــــه بــــر بخــــت و روزی قناعــــت نکــــرد**
**قناعــــت تــــوانگر کننــــد مــــرد را**
**خبــــرکن حــــريص جهــــانهګرد را**
**ســــکوتی بدســــت آورای بــــی ثبــــات**
**کــــه برســــنګ ګــــردان نرويــــد نبــــات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کســـــی ســـــیرت آدمـــــی ګـــــوش کـــــرد
کـــــه اول ســـــګ نفـــــس خـــــاموش کـــــرد

رحمان بابا هم قناعت د انسان د نېکمرغۍ لـوی عامـل ګڼـي، ان تـر پاچاهیه یې هم پورته ګڼي:

پـــه ښـــه خـــوی لـــه بـــد خواهـــانو بـــې پـــروا یـــم
پـــــه نرمـــــۍ لکـــــه اوبـــــه د اور ســـــزا یـــــم
قناعـــت مـــې تـــر خرقـــې لانـــدې اطلـــس دی
پـــټ د درســـت جهـــان پادشـــاه ظـــاهر ګـــدا یـــم

رحمان بابا قناعت د سعادت سبب ګڼي وایي:

هغـــــو بیامونـــــده ســـــعادت پـــــه دا دنیـــــا
چـــــې یـــــې وکـــــړ قناعـــــت پـــــه دا دنیـــــا
هـــر ژونـــدی چـــې د مـــرده پـــه قبـــر ورشـــي
بـــــس دی دومـــــره نصـــــیحت پـــــه دا دنیـــــا

بل ځای وایي:

د قـــــــانع تـــــر قناعتـــــه صـــــدقه شـــــه
هـــــم دنیـــــا او هـــــم دینـــــار ددې دنیـــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای وایي:

چې کیمیا د قناعت یې په لاس کېوزي

که ګدا وي د قارون په څېر توانګر شي

رحمان بابا دا هم وایي تر څو چې انسان په خپله پر یو شي قناعت ونه کړي، هغه هېڅکله په سیم وزر نه مړېږي.

موږ به نه شي هېڅ سړی بې فناعته

که یې خونه وي په سیم و په زر ډکه[۶]

## وقایه:

په طبابت کې یوه مقوله ده چې وقایه تر معالجې ښه ده، سعدي هم په دې نظر دی، مخکې تر دې چې پېښه واقع شي، باید علاج یې وشي، تر پېښې وروسته تدبیر نیول، کومه ګټه نه لري:

عــــلاج واقعـــــه پـــــیش از وقـــــوع بایـــــد کـــــرد

دریـــغ ســـود نـــدارد چـــو اســـت کـــار از دســـت

بـــه روزګـــــار ســـــلامت ســـــلاح جنـــګ بســـاز

وګـــر نـــه ســـیل چـــو بګرفـــت ســـد شـــاید بســـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا هم دې ته ورته پيغام په خپل کلام کې ځای کړی، هغـه پـه دې نظر دی، مخکې تر دې چې يو عمل ترسره شـي، بايـد فکـر پـرې وشي، که چېرې يو ځل وخت ضايع شو هغـه تېـر سـاعت بېرتـه نـه راګرځي، نو ځکه خو بايد هر کار ته ډېر دقت وشي.

تــــر ورخ تېــــرې اوبــــه بېرتــــه نــــه جـــاروزي
نــــه جــــاروزي تېــــر ســــاعت پــــه بېرتــــه بيــــا
تېــــر ســــاعت پــــه مثــــال مــــړی د لحــــد دی
مــــړ چــــا نــــه دی ژونــــدی کــــړی پــــه ژړا

## دوستي او دښمني:

سعدي د دوستۍ او دښمنۍ لپاره هـم پاخـه معيارونـه ټـاکلي، ددې معيارونو له جملې څخه (اصليت) يو اساسي معيار دی. سعدي پـه دې نظر دی چې د لباس په تغير ماهيت نه بدلېږي او انسان بايد د دښـمن په پېژندنه کې د هغه اصل ته ډېر متوجه وي:

دشــمن اګــر دوســت شــود چنــد بــار
صــاحب عقلــش نشــمارد بــه دوســت
مــار همــان اســت بــه ســيرت کــه هســت
ور چــه بــه صــورت بــدر آيــد زپوســت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا وايي:

لـــه نا اهلو د وفا طمع ومه کړه

ګنده نل به نیشکر نه شي هرګز

بل ځای وايي:

د بـــې دردو همدمي به دې بې درد کا

د نامردو هـــــمدمي بـــه دې نامرد کا

رحمان بابا دغه راز د دوست پر انتخاب ټینګار کوي او وايي:

لــه اغیــار ســره خنــدا څــه پــه کــار نــه ده

لــه اغیــار ســره ســودا څــه پــه کــار نــه ده

بــد لــه بــدو ســره بویــه نېــک لــه نېکـــو

د جفــا پــه ځــای وفــا څــه پــه کــار نــه ده.

د سعدي(رح) ټولو کلیاتو، ګلستان، بوستان، غزلـو، قصـایدو، قطعـو، څلوریزو او نور ټولو کې دومره اخلاقي فضایل بیان شوي چې یـوازې د موضوعګانو تشه یادونه یې د یوې لیکنې له حدودو څخه وځي، پـاتې لا د ټولو څېړنه. د سعدي په کلام کې د شاهانو سیرت ته اشاره شوې، د درویشانو اخلاق بیان شوي، د قناعت په باب د کانې کرښې راغلي، د مجلس نزاکت او چوپ پاتې کېدل او د هغو فضایل بیان شوي، د ځوانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمهال د انسان کرکتر تشریح شوی، د سپین ږیرتوب په حالـت کـې انساني کرکتر ته اشاره شوې، د ښې روزنــې او پــالنې تــدبیر، عشــق، مستۍ او شور، تواضع، پر کم ځیز قناعت، توبې، عافیت او نورو مسایلو په باب ګڼ شمېر نصیحتونه او حکایتونه راغلي او هغه په کیسه ییــز او داستاني ډول په مثالونو کې توضیح شوي دي. موږ د ســعدي د علــم، نصیحت او اخلاقي لارښوونو له دریاب څخه یوازې یو څو مرغلــرو تــه نغوته وکړه او همغه مو د اخلاقي ایډیالونو د یو بل ستر لاروي حضــرت عبدالرحمن بابا له اخلاقي مرغلرو سره پرتله کړې. د رحمــان بابــا پــه کلام کې هم ستر اخلاقي او انساني ایډیالونه بیان شوي دي او د ټولــو یادول دلته شوني نه دي، دا یو اوږد بحث دی او زیاتو لیکنو او ځانګړو اثارو ته اړتیا لري چې د اسلامي نړۍ د دغو دوو سترو ادبي او عرفــاني څېرو د کلام مرغلرې لاپسې وځېږل شي او لاپسې وځلول شــي. خــو موږ یې دلته د بېلګې په توګه یوازې څو برخو ته په لنډیز ســره اشــاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

(۱) اريانا دايره المعارف(پښتو)، څلورم ټوک، د افغانســتان علومــو اکــاډمی، ۱۳۹۰ ل کال، ۴۲۸ مخ.

(۲) پټه خزانه، محمد هوتک، د پوهاند عبدالحی حبيبي سريزه او تعليقــات، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹ل کال، ۹۴ مخ.

(۳) د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې او منځنی دورې، سرمحقق زلمی هېوادمل، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۷۹ل کال، ۱۷۵ مخ.

(۴) د بديع فن او پښتو شاعري، پوهنيار محمد ابــراهيم همکــار، د ميــدان وردگ ولايت مقام، ۱۳۸۸ل کال، ۲۲ مخ.

(۵)کليات سعدي، محمدعلي فروغی، تهران، ۱۳۹۰ل کال، بېلابېل مخونه.

(۶) د رحمان بابا دېوان، د څېړنيار محمد عارف غروال سريزه، پښــتو ټولنــه، کابل، ۱۳۵۶ل کال، بېلابېل مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرتلیزې او تاریخي ژبپوهنې حدود

دا لیکنه د (انتوني ارلاتو) د اثر یوه برخه ده چې ما (یون) له فارسي څخه پښتو ته راژباړلې ده.

ژبپوهنه د علومو یوه څانګه ده، یوازې د انساني ژبې د بېلابېلو خــواوو څېړنه رانغاړي او تر یوه بریده د بشري چلند او فرهنګ له نورو خــواوو سره د هغې متقابل عمل څېړي. ژبپوهنه په ځانګړې توګه (د ژبې لرلو) ته ویل کېږي څکه دا پوهه هڅه کــوي هغــه وســیلې یــا ډاټــا چــې د ارتباطاتو پدیدې یو بل سره نښلوي، راټولې کړي او هغه بېلګې چــې دا پدیدې یې لري، وګوري او د ټاکلو قاعدو له مخې لیــدل شــوی نظــام راوسپړي.

د طبیعي یادښتونو د بېلګو د راوړلو لپاره د (بایل) د قانون له فورمولــو څخه کار اخلو او هغــه عملــي کــوو. (رابــرت بایــل (Robart) (۱۶۲۷–۱۶۹۱م) د انګستان نامتو کیمیاپوه او فزیکپوه و چې د (بایل) د نــامتو قانون د رامنځته کېدو سبب شو.) بایل د ګازو د ځانګړتیا له مخې یــو ساده فورمول رامنځته کړ په دې مانا چې په حجم کې د قوې فشار لــه ثابت خیز سره مساوي دی، ده همدا فورمول رامنځته کړ او د ریاضي د عادي ارقامو له مخې یې دا پدیده په دې ډول بیان کړه:

$$Pxv=C$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ژبپوهنه د کنترول شويو تجربو د ترسره کولو له مخې لــه طبيعــي علومو سره څرګند توپير لري. موږ نه شو کولای يو وګــړی پــه يــوازې توګه په يوه ازمونځي(لابراتوار) کې وازمويو، ان که دا کــار د يــوه لنــډ مهال لپاره هم ترسره کړو، ترلاسه شوې پايله به د منلو وړ باور خپل نه کړي، له ژبنيو عواملو پرته نور عوامل لکه پخــواني اړيکــي، ټــولنيزې نظريې او د تجربې ساحه دا ټول د کار پر نتيجې خپل خپل اغېز لــري. يوازينۍ طريقه چې د هغې له لارې کولای شو د ازموينې پــر ســتونزې بريالي شو دا ده چې يو ډله نوي تولد شوي ماشــومان تجربــه کــړو، د بېلابېلو پراخو ژبنيو اړيکو له لارې د هغوی هر يو تــر دقيقــې څــارنې لاندې ونيسو، خو دا هم بايد له ياده ونه باسو چــې دا ډول تجربــه لــه اخلاقي اصولو او طريقو څخه لرې ده.

د علمي ستونزو له جملې څخه چې ژبپوهان هر وخت ورسره مــخ وي، ځينې يې د هغو ايکالوجستانو په شان دي چې هغوی ورسره د طبيعي نظامونو د څېړنې په لړ کې مخامخېږي او له کنترول شــويو لارو څخــه خپل ټول ځوابونه نــه شــي ترلاســه کــولای. (ايکــالوژي Ecology) د موجوداتو د ژوندود، عاداتو او له چاپېريال سره د هغو د اړيکو په بــاب پوهې ته ويل کېږي، څوک چې دا پوهه لري او هغه څېــړي، هغــه تــه (Ecologist) ايکالوجست وايي). ايکالوجستان د ژبپوهانو په شــان لــه خپلو ازمونځايونو څخه بهر ته ځي، تر خپلې څېړنې لانــدې مــواد پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعي چاپېریال کې څېړي، د خپلو فرضیو بنسټ ږدي، که څه هم دا کار هر څومره د لارپېژندنې (میتودولوژۍ) له نظره نیمګړی وي، خو بیا هم ګټور دی، امتحانوي یې.

ژبپوهنه هم د علومو د نورو څانګو په شان پر څو څنګزنــو یــا فرعــي څانګو وېشل کېږي. ددې څانګو تر ټولو لومړۍ یې ((نظري ژبپوهنــه)) ده چې له ((تطبیقي ریاضي)) او ((تطبیقي منطق)) سره ګډه پوله لري. نظري ژبپونه، په انساني ژبه کــې د موجــودو نظــامونو د بیــان لپــاره ځانګړې بېلګې (Models) او د لاربنوونې ډلبندي مطالعه کوي؛ نظــري ژبپوهنه همدارنګه له هغو توکو او قاعدو سره چې په ټولو ژبو کــې یــو شان دي او نړیواله ژبه (Linguisticuniversals) ګڼل کېږي، هم لېوالتیــا لري.

په عمومي توګه د ژبپوهنې دویمه مهمه څانګه د تشــریحي ژبپــوهنې (clescriptive linguistic) څانګه ده. لکه څنګه چې ددې ډول ژبپوهنې له نامه څخه څرګندېږي، څېړونکي یې هغه څوک دی چــې ځــانګړې ژبې تشریح کوي او توصیفوي یې، که په څرګند ډول ووایو هغــه اړ دی چې د ژبې غږونه، د وینا توکي (parts of speech) او د کلمو نظام چې د جملې د رغښت سبب ګرځي، په پام کې ونیسي، تشریحي ژبپوه باید د خپلې ژبې لپاره ګرامر ولیکي، د ژبې د تشــریح او توصــیف دې بشــپړ ډول ته ګرامر ویل کېږي، دا کار هم شونی دی چــې پــه خپلــه کــاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحه کې له بومي وګړو څخه هم ګټه پورته کړي، دی (ژبپوه) کلمې او جملې سره راټولوي او د ژبې په باب د معلوماتو له ورکوونکي څخه پــه مستقیم ډول پوښتنې کوي، په دې مانا چې دا عبارت طبیعي برېښــي که نه؟

په پای کې باید ووایو چې ډېری پوهان خپل ځان اړ باســي د څــانګیزو اړیکو کار چې ژبپوهنه او یا هم لږ تر لږه د هغې یــوه څانګــه رانغــاړي، ترسره کړي. موږ په وروستیو کلونو کې په زیاته کچــه ددې (ارتبــاطي څیزونو) شاهدان یو. د ساري په توګه که چېرې یو څــوک وغــواړي د ژبې او رواني ښکارندو، لکه د زده کړې او فکر د درک په بــاب پــراخ او زیات وخت کار وکړي (ارواییي ژبپوهنه) ګڼل کېږي. په همدې لړ کــې د ټولنیزې ژبپوهنې ولسي ژبپوهنې او (حسابي ژبپــوهنې) یادونــه هــم کېږي.

کله چې د یوې ژبې یو تشریحي څېړونکی د تاریخ پــه یــوه مشخصــه زمانه کې یوه ژبه لکه څنګه چې ده هغه شان څېړي د هغه کار (همهاله څېړنه) ګڼل کېږي. خو په مقابل کې د زمانې په بېلابېلو پړاوونو کــې د ژبې څېړنه (پر خپل وخت څېړنه) ګڼل کېږي. دا همغه ســاحه ده چــې موږ په دې کتاب کې ورسره سرو کار لرو. ددې څېړنې د پیل نقطه ددې ښکارندویي کوي چې ژبې د زمانې په بهیر کې له ادلون بدلون سره مخ وي. د وینا ژبه له یوه پښت څخه بل ته په تېــره بیــا د پلرنــو او زامنــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ هېڅکله هم يو ډول نه وي، بې شکه چې په وينا کې به دا بدلون ډېر زيات نه وي او په ډېرو برخو کې به محسوس نه وي، خو دې ســره سره د ډېرې اوږدې زمانې او پېړيو پــه تېرېــدو ســره واړه او کــوچني بدلونونه هم ډېر لوی تولیز اغېز ښندي او تر زياته حده تر نظــر لانــدې ژبه خپل ځان ته نوې بڼه خپلوي. په دې ځای کې بيا د پلټنو او څېړنو په لړ کې يوازې د نوي شکل بدلونونه د هغو لــه پخــواني پــړاو ســره د پرتلنې له مخې راڅرګندېږي.

د ساري په توګه لاندې ټوټه له انجيــل (متــا) Mathew ۹: -۲ څخــه د زمانې په بېلابېلو پړاوونو کې انګليسي ته ژباړل شوې ده.

د لسمې پېړۍ زړه انګليسي

Da astah he on scyp, and oferseglode, and com on his ceastre.

Da brohton hig hym Xnne laman, on bedde liegende.

منځنۍ انګليسي (نيندل ۱۵۲۶x ۱)

And he entered into the shippe: and passed over and cam into his awne cite. And lo they brought unto him a man sicke off the palsey lying in his bed.

معاصره انګليسي، انجيل ۱۹۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



So he got into boat and crossed over, and came to his own town.

And now some men brought a paralyzed man lying on a bed.

ځرنګه چې وروستی ګزارش په نننۍ انګرېزي ليکل شوی، نو ځکه يې لوستل مورږ ته ګران نه دي، کېدی شي منځنۍ انګليسي راته څه ناڅه نا اشنا ښکاره شي، خو د شلمې پېړۍ يو لوستونکی کولای شي، هغه ولولي. په مقابل کې بيا له لومړنيو ليکنو څخه دومره لرې او پردي يو، لکه څوک چې يوه نوې ژبه زده کوي، دا هم بايد په همغه ډول زده کړو، خو دې سره سره بيا هم دا درې واړه برخې د يوې واحدې ژبې استازيتوب کوي، له لومړۍ برخې يا ټوټې څخه نيولې تر وروستۍ پورې ټولې انګليسي ژبه ګڼل کېږي چې خلکو په وړکتوب کې هغه په عملي ډول زده کړې او بيا يې له يوه پښت څخه بل ته انتقال کړې ده.

که چېرې مورږ هغې يوې ټوټې ته چې په زړه انګليسي ليکل شوې، يوه سرسري کتنه وکړو، د هغې او اوسنۍ انګليسي ترمنځ زيات اختلافات ليدلای شو، دا اختلافات د هغو بدلونونو ښکارندويي کوي چې انګليسي ژبې د څو زرو کلونو په بهير کې ليدلي دي.

د (D) توري لومړی حالت مورږ ته پردی دی، ځکه چې له ډېرې زمانې راپدېخوا هغه په خپل ليکنې نظام کې نه کاروو. دا توری د زړې انګليسي ژبې په (Thin) کې د (Th) غږ لپاره ساده بڼه ده. لومړنۍ کلمه ارتباطي بڼه لري، بعدي او تر دې وروسته مانا ورکوي. دويمه کلمه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (astigan) فعل ترې جوړ شوی او د پورته تګ مانا ښندي، پــه بشــپړ ډول د ژبې له جوړښت څخه غورځېــدلې ده. دا بــل عبــارت ځکــه د پېژندنې وړ دی چې د (on ship) مانا ورکوي، د (scyp) کلمې لیکدود ته په کتو سره به فرض کړو چې یو وخت به د (skip) په بڼه تلفظ کېــده. د ژبې د بدلون بهیر مورږ ته دا په ډاګه کوي چې د زمانې په یو پــړاو کــې انګلیسي ژبو د (SK) کارونه غورځولې او پرځای یې د (Sh) غږ کــارولی دی. د دویمې ټوټې له لیکدود څخه په ډاګه کېږي چــې دا بــدلون پــه منځنۍ انګلیسي کې رامنځته شــوی دی. د زړې او نــوې انګلیســي د ټوټو ترمنځ د اختلافاتو څرګند ټکي دادي، چې په زړې انګلیسي کــې شخصي نومځري یا ضمیرونه لکه (He) او (She) تر زیاتې کچې د فعــل تابع دي یانې دا چې ضمایر فعل تعقیبــوي. پــه نــوې انګلیســي کــې شخصي فاعلي ضمیرونه تر فعل وړاندې راځــي د ( on bedde licgenda on lying) ټوټې په وروستي عبارت کې د کلمو له نظم څخه دا په ډاګــه کېږي چې مفعولي صفت مخینه یي عبارت پسې ځي. له دې څخــه دا ښکاري چې د نوې انګلیسي نظم د زړې انګلیسي د نظم مخالف لوری تعقیبوي.

هغه موارد مو چې د انګلیسي ژبې د مثالونو په توګه یاد کړل، د ژبــې د بدلون بېلګې ګڼل کېږي، په راتلونکو برخو کــې بــه د ژبــې د بــدلون بېلابېل ډولونه وازمویو، وبه ګورو چې تر نظر لانــدې ژبــه کــې کــومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې لیدل کېدی شي. هغه بــه وکــړو چــې هغــه د ژبنیــو شــکلي لاربښوونو په ترڅ کې څرګندې کړو.

هغه بدلونونه چې ژبې یې د زمانې پــه بهیــر کــې زغمــي، د تــاریخي ژبپوهنې لپاره مواد برابروي. تاریخي ژبپوهنه انساني ژبه یوه پرله پسې او متحوله پدیده ګڼي، خو بیا هم دا پدیده تر نظر لاندې یوه زمانه او یا هم هغې ته نږدې وخت کې د یوې ژبې د ویونکو ترمنځ ګړني ارتباط ته اجازه ورکوي. بدلون د ګړنۍ ژبې د اوښتو راوښتو مانا ورکوي، دا بدلون له داخلي او بهرنیو لاملونو سره مخامخ دی، خــو د ژبنــۍ تــولنې لــه اوسني حالت سره اړخ لګوي.

تاریخي ژبپوهنه د خپل کار په لومړي پړاو کې چې کومه ژبه په پام کې لري د هغې دوه پړاوونه په پام کې نیسي، چې دواړه یې د ژورو ګرامري څېړنو له لارې څېړل کېږي. تر دې وروسته بیا هغه بدلونونه چــې یــوه ژبه یې له یوه پړاوه بل ته زغمي، د یوې ژبې د شکلي لاربښود له مخــې بیانوي. هغه کېدی شي د خپلو کاري موادو په توګه د انګلیسي ژبــې د زاړه او نوي پړاو جوړښت یا ګرامر او یا هــم د فرانســوي ژبــې د زاړه او نوي پړاو ګرامر یا جوړښت سره وڅېړي. اوس کولای شو د بېلګــې پــه توګه دې موادو ته نغوته وکړو:

زړه انګلیسي

↓

نوې انګلیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوې ژبې هر پړاو د یوه تړلي نظام په شان تر یوه نسبي بریده پورې د ژبې د رغــوونکي تــوکي د ګرامــري جوړښــت لــه مخــې توصــیف او تعریفېږي. په دې ځای کې بیا د جملې د رغښت لپاره ددې عناصــرو د پیوستون قوانین موجود دي. له ډېرې زمانې څخه ډېرې زمــانې تــه د تېرېدو پرمهال ددې عناصرو ځینې برخې له منځه ځي او ځینــې یــې پاتې کېږي او نورې برخې ورسره یوځای کېږي. ځینې جوړښــتونه یــا لارښوونې هم له کاره لوېږي، په داسې حــال کــې چــې ځینــې نــوې لارښوونې او برخې پر ژبې زیاتېږي. ځکــه نــو د ژبــې ټــول عناصــر او لارښوونې له بېلابېلو بدلونونو سره مخامخېږي.

په بله وینا تاریخي ژبپوهنه دا په ډاګه کوي چې د زمانې په بهیر کې یو ګرامري جوړښت بل ګرامري جوړښت ته خپل ځای پرېږدي.

په واقعیت کې تاریخي ژبپوهنه د څرګندو ازمېښتونو د پایلو له امله دا په ډاګه کوي چې د ژبې بدلون څه ناڅاپي یا تصادفي خبره نه ده. یانې دا چې ژبني بدلونونه د څرګندو بېلګو په ترڅ کې رامنځته کېږي چــې دا حالت بیا د ښکاره علایمو له مخې بیانېدلای شي. د ټولو ژبپوهنیزو علومو پیداېښت ددې حقیقت څرګندونه کوي چې انساني ژبه د پوهې له پلوه د څېړنې او ځیرنې وړ ده، دا حقیقت د ژبنیو بدلونونو په باب د لومړي ځل لپاره د راټولو شویو معلوماتو پر بنســټ ســنجول شــوی او منل شوی دی. اوس چې مو د تاریخي ژبپوهنې په بــاب لنــډ شــانتې

(c) ketabton.com: The Digital Library




معلومات ترلاسه کړل، ګورو چې زموږ د څېړنې پرتلیزه برخــه چېرتــه رسي؟ د خپلو تېرو کتنو له مخې ویلای شو چې ژبه د زمــانې پــه یــوه اوږده بهیر کې پوره بدلون مومي اوس نو باید دا پوښتنه مطرح کړو چې ایا ټولې ژبې په یو ډول بدلون مومي که نه؟ په داسې حال کــې چــې د جوړښت له پلوه په بېلابېلو او مختلفو ژبــو کــې یــو ډول ســره ورتــه تمایلات او بهیرونه تر سترګو شوي دي، خو بیا هم ښه خبره داده چــې هره ژبه باید د زمانې په اوږدو کې په جلا او ځانګړې توګه وڅېړل شــي او د هغې ژبې له داخلي ودې سره سم تشریح او تفسیر شي. دا خبــره په دې مانا ده هغه ژبه چې په یوه پراخه سیمه کې پــرې خبــرې اتــرې کېږي، ناچاره ده چې له بدلونونو سره مخ شــي. دې ســره ســره کــوم بدلونونه چې په کوم ځای کې راڅرګندېږي، نظر هغو بدلونونو ته چــې بیا په بل ځای کې رامنځته کېږي، توپیر کوي. له دې کبله نو د شواهدو له مخې ویلای شو چې یوه یوازینۍ زړه ژبه په یوه وروستي پړاو کې په څو بڼو راڅرګندېږي.

د خپل مطلب د بیان لپاره باید د یوې فرضیې بنسټ کېږدو. فرض کړو د یوې جغرافیې په یوه ځانګړې ساحه کې د (الف) ژبــې ویــونکي تــر بحث لاندې نیسو، هغه سیمه چې دا خلک پــه کــې ژونــد کــوي، دوو خواوو ته یې سیندونه دي، یوې خواته یې غرونه او څلورمې خواته یــې یو لوی سیند موقعیت لري.


(c) ketabton.com: The Digital Library





د بېلابېلو پېښو، لکه وچکالي، سیاسي بېلتون او ان د یو بل زورواکـــي دولت د یرغل له امله ددې سیمې د دوو مهمو برخو اوســـېدونکي لــه خپل اصلي استوګنځیو څخه وتلو تــه اړ کېــږي، د دوی یــوه برخــه د غرونو شاته پناه وروړي او یوه بله برخه یې له لــوی ســیند څخــه پــه سختۍ سره تېرېږي او د هغه په پورې غاړه کې استوګنه غــوره کــوي. اوس نو درې جغرافیایي سیمې یا ساحې لرو چې (الف) ژبه په کې ویل کېږي.

فرض به کړو چې د وخت په تېرېدو سره ددې سیمو ترمنځ ژبني اړیکي




کم شول، کېدی شي یو ځانګړی کاروان یا هم د نړۍ لیدونکو یوه ډله د


(c) ketabton.com: The Digital Library



يادې جغرافيې له يوې برخې څخه بلې برخې ته سفر وکړي، کله چې يو بل سره مخامخېږي، نو په خپل منځ کې د يوه پراخ ارتباط د ټينګښت توان نه لري، ښه نو بيا په دې وخت کې څه پېښېږي؟ (الف) ژبه په خپل اصلي وطن کې پر يوې لارې او د غرونو شاته پر بلې لارې ځي او د لوی سيند پورې غاړې ته درېيمه لار خپلوي. تر زرو کلونو وروسته هغه خلک چې په دې دريو سيمو کې ژوند کوي، درې بېلابېلې ژبې به ولري.



کبدی شي درې واړه ژبې به اوس په خپل منځ کې ځينې مشترکات ولري، خو دا مشترکات يو بل ته د پوهېدو وړ نه دي، د ژبني بدلون د پديدې يوه څرګنده بېلګه (لاتيني) ژبه او له هغې راوتې نوې (رومي) ژبې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د یوازیني ژبې څرګند تاریخي موارد دي چې په مختلفو جغرافیــایي سیمو کې له بېلابېلو بدلونونو سره مخ شوي دي. څرنګه چې پــه ژبــه کې پوره بدلونونه راغلي دي، داسې یو حالت رامنځته شــوی چــې پــه وروستیو پړاوونو کې د ځانګړو ژبو بڼه غوره کړي.
دا د خوشالۍ خبره ده چې لاتیني ژبه لیکنۍ بڼه لري، د ډېرو مهمــو او ارزښتمنو تاریخي اسنادو څښتنه ده، د (رومي ژبو) د (نیا) په توګه یې پېژندنه څرګنده ده. داسې هم کېږي هغه ژبې چــې خپــل مــنځ کــې خپلولي لري او یا هم یوه له بلې سره ډېرې نږدې دي، د کومې ځانګړې (نیا) له تشخیص پرته وڅېړو. د ساري په توګه، (انګلیسي)، (المــاني)، (ډنمارکي)، (سکندنوي) او څو نورې داسې ژبې دي چې یــوه لــه بلــې سره نږدېوالی لري، خو نه په هغه کچه چې رومي ژبې یې په خپل مــنځ کې لري.
مونږ ته تراوسه پورې داسې کومه ژبه معلومه نــه ده چــې د یــادو ژبــو سرچینه دې وګڼل شي، خو بیا هم دا کار د تاریخي ژبپوهنې د څېړنې پر وړاندې کوم خنډ نه شي ګرځېدلای. ژبپوه د ژبې د شتوالي فرضیې ته رایه ورکوي او له دې لارې دا نږدېوالی توضیح کوي. په معمولي ډول دا ژبه (عمومي ژبه) ګڼي. په دې باب ژبپــوه وایــي: یــوه زمانــه کــې د (عمومي جرمني) په نامه یوه ژبه وه چې د جرمنــي ژبــو (مــور) ګڼــل کېږي، خو په خواشینۍ سره چې له هغې څخه کوم لیکلي اســناد نــه دي پاتې.
د اوسنیو ژبو د پرتلنې له مخې تاریخي ژبپوه هڅه کوي دا معلومه کړي چې کوم عناصر په ټولو ژبو کې یو شان دي. هغه په دې کار کې له هغو علومو ګټه پورته کوي چې د یوې ژبې د بدلون د څرنګوالي د اساساتو په باب یې زده کړې دي. تر کومه ځایه چې ورته شــونې ده د (عمــومي ژبې) د جوړښت د تشریح هڅه کوي، تر دې وروسته بیا هغه بدلونونــه


(c) ketabton.com: The Digital Library



تشریح کوي چې په موجودو ژبو کې رامنځته شوي او د هغوی د تحول ښکارندویي کــوي. د ((طرحــې شــوې عمــومي ژبــې)) د عناصــرو او لارښوونو د پلټنې او توضیح بهیر ته (بیارغونه) ویل کېږي. هغه طریقه چې له هغې لارې دا کار ترسره کېږي، په ټولو حالتونو کې ورته (پرتلیزه طریقه) وایي. په داسې حال کې چې د پرتلنې دا طریقه د یوې ژبې ټول جوړښت او سکښت رانغاړي. ځکه نو دا داسې یوه پراخه طرحه ده چې تاریخي او پرتلیزه ژبپوهنه د هغې په باب بحث کوي. په وروستیو برخو کې د ژبې د تحول د بېلابېلو بدلونونو بهیر، د بیــارغونې ســتونزې او د یوې (نیا) له مخې پر کورنیو باندې د ژبو ډلبنــدي تــر څېړنــې لانــدې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل پوهنتون

ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# د خادم نړۍ لید

## (د دوکتورا دورې پایلیک)

څېړونکی

پوهاند محمد اسمعیل یون

۱۳۹٦ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د خادم نړۍ لید

لـیکـــــوال: محمد اسمعیل یون

خـپرونـدی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز: فیاض حمید

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چــاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چــاپـکـــال: ۱۳۹٦ ل کال/ ۲۰۱۸م

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۸)

لیکوال د خپرونو لړ: (۷۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (د خادم نړی لید) په باب
# د پښتو څانګې نظر

(د خادم نړی لید) د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا (Ph.D) دورې ډیزرټیشن یا پایلیک دی چې په خورا زحمت لیکل شوی دی.

مولینا قیام الدین خادم د پښتو معاصرو ادبیاتو د پنځو ځلانده ستورو له جملې څخه دی، پښتو ژبې، ادب او ټول افغان ولس ته یې نه هېرېدونکې خدمتونه کړي دي.

تر شپېتو زیات علمي، تاریخي، ژبپوهنیز او ادبي اثار لري. څه باندې پنځه لسیزې یې افغان ولس ته فرهنګي خدمت کړی دی. د ده پر ژوند، اثارو ځینې متفرقه لیکنې شوي او یوه رساله هم چاپ شوې، خو تر دې دمه پرې کوم لیکوال لوی او هر اړخیز اثر نه دی لیکلی. په تېره بیا د هغه پر افکارو یا (نړی لید) باندې. د پښتو څانګې استاد ښاغلي محمد اسمعیل یون چې د ډاکټرۍ ډیزرټیشن یې (د خادم نړی لید) څېړلی، نو په ده کې هغه ضرورت تر ډېر حده رفع شوی، چې د خادم د افکارو لپاره د یوې پراخې او هر اړخیزې څېړنې د نشتوالي له امله احساسېده. استاد یون له معتبرو اخځونو او د استاد خادم له خپلو اثارو څخه، چې په حقیقت کې د خادم د فکر په باب اصلي سرچینه ده. ګټه اخیستې، نه یوازې د خادم اثار یې په ترتیب سره پېژندلي، ډلبندي کړي او ښنلي دي، بلکې افکار (نړی لید) یې هم په نهو جلا جلا برخو کې چې ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخې يې پر نورو څنگزنو برخو هم وېشل شوي، په تفصيل سره څېړلي او تحليل کړي دي. پښتو څانگې چې دا اثر له سره تر پايه وکوت، نو موږ ته دا څېړنه او شننه څکه نوې ښکاره شوه چې تر دې دمخه هېڅ چا هم د داسې لوړې علمي پوړۍ لپاره دا ډول اثر نه دی ليکلی، دا په خپل ذات کې د افغانستان او سيمې په کچه د خادم د نړۍ ليد په باب لومړی او جامع اثر دی. نه د چا له اثر سره ټکر خوري او نه تر دې وړاندې کوم دا ډول اثر و چې له هغه سره محتوايي ټکر وخوري او يا هم تکراري بڼه ولري. د استاد خادم له خپلو اثارو او همدارنگه د استاد خادم په باب د نورو ليکوالو له ليکنو او نظرونو څخه چې کومه اړتيا وړ گټه اخيستل شوې، هغو ته هم د کتاب په متن کې د اخځ په ښودلو سره نغوته شوې ده. د نورو ليکوالو نظرونه هم په يوه ځانگړي څپرکي کې تشريح شوي دي.

لنډه دا چې دا اثر د (Ph.D) د ډېزرټېشن له ټاکلو مفرداتو سره سم، ليکل شوی، بشپړ شوی دی او په افغانستان او نوره نړۍ کې د استاد خادم په باب د دوکتورا د دورې لومړنی اثر دی. د کوم ارتحال، سرقت او بېځايه تکراري مسايلو څرک په کې نه شته، پښتو څانگه د اثر نويوالی، اړتيا، نوښت او هر اړخيزوالی تائيدوي او استاد يون ته د لازياتو برياوو هيله کوي.

په درناوي

د پښتو څانگې امر

پوهندوی بخت مير وزيری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لاربنود گزارش

## د اثر پېژندنه:

- د اثر نوم: د خادم نړۍ لید
- بشپړوونکی: پوهاند محمد اسمعیل یون
- د بشپړولو هدف: د دوکتورا د تحصیلي دورې د ډیزرټېشن (Dissertation) لپاره
- د بشپړولو کال: ۱۳۹۶ هـ ش
- مخونه: ٦۳۰ (شاوخوا)
- لاربنود: سرمحقق زلمی هېوادمل

## د اثر جوړښت:

د خادم نړۍ لید یوه سریزه او شپږ اساسي مرکزي برخې لري. سریزه یې د دغسې علمي اثارو له شرایطو سره برابره لیکل شوې او ټول هغه مسایل په کې څېړل شوي چې د څېړنې د معاصرو روشونو مطابق باید د علمي- تحقیقي اثارو په سریزو کې وڅېړل شي.

د اثر اساسي برخې هره یوه خپل مطرح کړي موضوعات تر بېلابېلو اصلي او فرعي عناوینو لاندې مفصل څېړي. د ډیزرټېشن په وروستیو برخو کې یې له څېړل شویو موضوعاتو منطقي او د څېړنې له اصولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتضا سره سم نتایج راایستلي دي او په پای کې یې د هغو مأخذو فهرست راوړی دی چې د اثر په بشپړتابه کې ترې استفاده شوې ده.

## د اثر موضوع او د موضوع مبرمیت:

زموږ د معاصرو ادبي څېړنو د بهیر له مطالعې څرګندېږي چې زموږ زیاترو څېړونکیو په دغه راز څېړنو کې د شاعر او لیکوال پر شرح حال او د اثارو پر هر اړخیزه معرفۍ ډېره تکیه کوله او د شاعر د اثارو فکري او تنویري اړخونو ته ډېر لږ تم کېدل. خو که چېرې موږ په خپل فرهنګي بهیر کې د فکر د تولید او د بېلابېلو فکري لیدلوریو د پیدایښت او پایښت مسیر څېړو، نو اړ کېږو چې د څېړنو نویو تمایلاتو ته په پاملرنه او د اوسني دوران له غوښتنو سره سم، د ټولو هغو پخوانیو او اوسنیو لیکوالو او شاعرانو چې یې له لیکنو او پنځونو د یو فکري مسیر د تبارز څرک لګي- اثار له دې جهته وڅېړو. د ځان او چاپېره جهان په باب یې پر مفکورو، نظریو او تصوراتو پوه شو.

په ادبیاتو کې نړۍ لید یا جهان بیني د ادبي تیورۍ په مباحثو کې مطالعه کېږي او د دې ځانګې پوهان عقیده لري چې جهان بیني ادبي اثارو ته لوری ورکوي. د لیکوال او شاعر په نړۍ لید کې د هغه فلسفي، اجتماعي، سیاسي، اخلاقي، ایستیتیک، مذهبي، علمي او نور عقاید شاملېږي او د دغو عقایدو او تصوراتو مجموعه د شاعر او لیکوال جهان بیني جوړوي.

د خادم نړۍ لید چې د لوړو مفکورو، مفاهیمو، تصوراتو او نظریاتو پر بنسټونو د ده د اثارو له تحلیل او تجزیې بشپړ شوی دی، د دې ساحې د څېړنو یوه بشپړوونکې کړۍ ګڼل کېدای شي او پخوا تر دې په دې برخه کې د دغو مشخصاتو درلودونکی اثر په پښتو نه دی لیکل شوی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله برخه کې یې د یو نوي اثر  په توګه لیکل ضرور و او پوهاند یون دا ضرورت رفع کړ.

## د څېړنې میتود:

ما چې دا ډېزرټېشن له پیله تر پایه لوستی او د لوست پر مهال مې ښاغلي څېړونکي ته خپلې مشورې هم ورکړې دي. د څېړنې ډول یې کتابخانه یي دی، خو کله د ساحې له موادو هم استفاده کوي او د څېړنې روش یې تشریحي چې د انتقاد مالګه هم لري. البته دا میتود داسې تشریحي هم نه دی چې د خالص تحقیق له عنعني دود سره سم د موادو د ټولولو له لیارې د ادبي  پدیدو تشریح وکاندي، بلکې د عملي تحقیق د یو محقق په توګه یې تشریحات پر یوه نتیجه مبني کېږي او اثر یې په معاصرو علمي تحقیقاتو کې خپل ځای تثبیتوي.

## مآخذ:

د دې ډېزرټېشن په څېړنو کې چې له کومو مأخدونو استفاده شوې ده، زیاتره د منبع پوهنې د معیارونو پر بنا په لومړي لاس منابعو کې حسابېږي، مانا د مرحوم استاد قیام الدین خادم خپل اثار. ښاغلي څېړونکي خپل تحلیلونه او تفسیرونه او د خادم فکري مسیرونه د ده د خپلو اثارو پر بنسټ تهیه او تعیین کړي دي، خو کله کله یې د څېړنې د بشپړتابه په مراتبو کې له دویم لاس موادو او د نورو پوهانو له څېړنو هم جایزه استفاده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکنې روش:

پوهاند محمد اسمعیل یون په لسګونو منظوم او منثور آثار لري چې پر بېلابېلو موضوعاتو لیکل شوي دي، تحقیقي او تدریسي آثار هم په کې شامل دي. د ده د لیکنې سبک څرګند، روښانه او روان دی او د هرې موضوع او هر صنف اثار یې د هماغې موضوع او صنف د بیان ژبنیو خصایصو ته په پاملرنه لیکلي دي.

د علمي څېړنو د بیان شیوه او د تحقیقي اثر لیکنۍ ژبه ځانته خپل خصوصیات، قواعد او ضوابط لري چې میتود پوهان یې د علمي اثارو په لیکلو کې پر تطبیق تاکید کوي. د خادم نړۍ لید ژبه او د لیکنې روش هغه ځانګړنې لري چې میتود پوهانو د دغسې اثارو د بیان لپاره وضع کړې دي.

## د اثر د استفادې موارد:

د خادم نړۍ لید، نومي اثر له مطالعې ما ته څرګندېږي چې له دې اثره د پښتو د معاصرو ادبیاتو مطالعین او په اوسني دوران کې د فکري جریانونو پلټونکي ښه استفاده کولای شي. زموږ د فرهنګي او ادبي تاریخ د مورخانو، د دې ځانګو د استادانو، محصلانو، عامو لوستونکیو او د خادم د شعر، نثر، هنر او فکر د هواخواهانو د استفادې او مطالعې لپاره کافي موارد په کې موندلای شو او زما په پوهه له دې اثره د استفادې موارد په کافي اندازه محسوس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نتیجه او پېشنهاد:

د دې لنډې ارزیابي په نتیجه کې ویلای شم چې:

پوهاند محمد اسمعیل یون د دې تحصیلي دورې درسونه، کنفرانسونه، جامع ازموینه او نور وجایب په بشپړ ډول له اکاډمیکو معیارونو سره برابر سر ته رسولي دي او د دې تحصیلي دورې په پای کې یې (د خادم نړۍ لید) غونډې مفصل او جامع اثر هم لیکلی دی چې څېړنه یې د اوس لپاره په کمي او کیفي لحاظ بشپړه ده او د (Ph.D) د تحصیلي دورې د یو تمام عیار ډېزرټېشن (Dissertation) ټول شرایط یې پوره کړي او د دې تحصیلي درجې (دوکتورۍ) د حاصلولو لپاره زما په پوهه کافي دی.

د دغو ټولو عملي او تحقیقي کارونو د موفقانه انجام په پای کې زه اوس په ډاډه زړه پېشنهاد کولای شم چې د کابل پوهنتون مربوطې څانګې دې دا اثر د علمي دفاع مجالسو ته وړاندې کړي.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خادم نړۍ لید او زما نظر

ښاغلي پوهاند محمد اسماعیل یون د خپل (Ph.D) تېزس د (قیام الدین خادم نړۍ لید) تر سرلیک لاندې په شپږو برخو کې اوډلی او تنظیم کړی دی، دا باید و ویل شي چې نړیوال معیار یې په پام کې نیولی دی، نیولیک، پیلیزه، لنډیز او ورپسې د تېزس اصلي برخه یې په یوه مبسوطه سریزه پیل کړې ده چې د مسألې طرحه، د څېړنې موخه، د څېړنې میتود، د څېړنې مراحل، د څېړنې مخینه، د څېړنې ارزښت، د څېړنې لاس ته راوړنې، د څېړنې پوښتنې... دا ټول یې پکې رانغاړلي دي. په همدې ترتیب یې د تېزس لومړۍ برخه د خادم پېژندنې ته وقف کړې او ژور بحث یې پرې کړی دی: زوکړه، زدکړه، لیکوالي، دندې، اثار،سیاسي فکر او هڅې، کورني او بهرني سفرونه، کورنی او ټولنیز ژوند، د ژوند وروستي کلونه، بند او مړینه، یادونه او نمانځنه او د ژوند پېښو لنډیز دا ټول یٍې په فرعي سرلیکونو بېل کړي او یو له بل سره یې د زنځیر د کړیو په څېر نښلولي دي چې څېړونکي د استاد خادم د ژوند په اړه په اسانۍ سره بشپړ معلومات تر لاسه کولی شي، د تېزس په دویمه برخه کې یې د استاد خادم منظوم او منثور اثار څېړلي دي او پر نوښتونو او ارزښتونو یې هم په زړه پورې بحث کړی دی، د معاصر ادب تاریخ په لومړيٍ پړاو کې یې د استاد خادم د اثارو مقام ټاکلی او په دویم پړاو کې یې د استاد خادم پر افکارو باندې د اغېزو، تقلید او تولید په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له کومو کورنیو او بهرنیو شخصیتونو څخه متاثر شوی ، تفصیلي بحث کړی دی.

ښاغلي یون د خپل تېزس په درېیمه برخه کې ( د خادم نړۍ لید) تر سرلیک لاندې چې دا یې د تېزس اصلي برخه ده پر لاندې فرعي سرلیکونو وېشلی:

ملتپالنه، دین پالنه، ټولنپالنه، سمونپالنه، کره کتنه، ښار پالنه،د فلسفي افکارو پالنه،د سیمې او نړۍ په باب انګېرنې، ژبپالنه او نور افکار یې لکه څنګه چې په کار وو، هغسې یې سپړلي او تشریح کړي دي.

د تېزس په څلورمه برخه کې یې ( خادم د نورو لیکوالو له نظره) تر سرلیک لاندې د کورنیو او بهرنیو لیکوالو له نظره چې هغوی خادم څنګه ارزولی دی، د هغوی لیکنې او یا هم د ځینو لیکنو اړوندې برخې یې راوړې دي.

د دې تېزس په پینځمه برخه کې (د خادم د خدمتونوارزونه) تر سرلیک لاندې فرهنګي فعالیتونه او ټولنیز فعالیتونه یې په فرعي سرلیکونو وېشلي او بحث یې پرې کړی دی او د استاد خادم هڅه او هاند یې په دې برخه کې ستایلی دی، ددې لپاره چې د استاد خادم حق یې ور ادا کړی وي.

د تېزس په وروستۍ (شپږمه ) برخه کې یې د وروستۍ یادونې تر سرلیک لاندې پایله، پایلیزه، مناقشه، او ماخذونه له نړیوال معیار سره سم کارولي او تنظیم کړي دي چې هېڅوک ترې سترګې نه شي پټولی.

د پورته ټکیو په پام کې نیولو سره خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د پوهاند محمد اسماعیل یون ټاپیک ډېر ښه او مناسب دی، علمي او څېړنیز اهمیت او ارزښت یې په زړه پورې او غوره دی.

۲. د تېزس د جوړښت په اړه یې باید و ویل شي چې سرلیکونه یې ډېر ښه ټاکلي او سر تر پایه یې تسلسل په پام کې نیولی چې تېزس ته یې خوند، رنګ او ښکلا وربښلې ده.

۳. د تېزس مواد یې ارزښتمن او د اهمیت وړ دي، ښه ترتیب، تنظیم او اوډون لري، نو څنګه چې دا یوه ډېره پراخه موضوع ده، ښاغلي لیکوال کولی شول د استاد قیام الدین خادم د ادبي او سیاسي ژوند پر یوه برخه باندې یې خپل (PhD) اثر بشپړ کړی وای، خو د ده ځوان همت په دې بسنه و نه کړه او دغه درانه پېټي ته یې اوږې ورکړې چې دا دی اوس یې بشپړ کړی او ستاسې مخې ته پروت دی، دا هم باید وویل شي چې پر دې موضوع باندې تر دې لازیات کار هم کېدی شي. خو په فعلي شرایطو کې دغه څېړنه په بشپړ ډول د دوکتورا لپاره کفایت کوي.

۴. درانه لیکوال پر خپله راټوله شوې ډېټا خورا ډېر زیار او زحمت وېستلی، تعبیر او تفسیر یې ډېر ښه او په زړه پورې دی.

۵. ښاغلي یون د خپل تېزس په بشپړولو کې له نویو او پخوانیو معتبرو او مستندو مدارکو او منابعو څخه کار اخیستی چې دغه تېزس ته یې لوړه درجه وربښلې، دا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د معتبر او مستند ماخذ او سرچینې حیثیت ولري

۶. تر کومه پورې چې د ژبې مساله ده، په دې اړه باید ووایم چې ژبه یې پسته، خوږه، سلیسه او روانه ده ، غوټې او الهام نه لري، څکه چې په لوستلو یې لوستونکی خپل مطلب په ډېرې اسانۍ سره تر لاسه کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او بیا لوستلو ته یې اړتیا نه پېښېږي او دا هنر په لږو خلکو کې لیدل کېږي او دا ددې تېزس له غوره ځانګړنو څخه ده.

د پورته شپږو مادو پر بنسټ باور لرم چې دا به د لوړې درجې له تېزسونو څخه وي، نو ځکه زه ورته د قدر په سترګه ګورم او د لیکوال زیار او زحمت ستایم دا ځکه چې دومره هڅه او هاند یې کړی دی چې هېڅوک ترې سترګې نه شي پټولی، نو پر دې اساس د پوهنتون له چارواکو او د خپرونو له آمریت څخه هیله من یم چې دغه تېزس د چاپ په زیور متحلي کړي ترڅو ګټه یې عامه شي او د پښتو ادب مینه وال د ادب په ګلبڼ کې یو بل خوشبویه ګل هم ووینې او خپله تنده پرې ماته کړي، په پای کې له لوی خدای څخه نو موړي لیکوال ته د زړه له کومي مبارکي وایم، او په راتلونکي کې له لوی خدای څخه ورته تر دې د لازیاتو بریاوو هیله لرم.

په درناوي

پوهنوال ډاکټر محمداجان حقپال

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خادم نړۍ لید

## (تقريظ)

### لومړی- دموضوع نوښت :

**دخادم نړۍ لید ( khadim's Idea or worldview )اثر د ښاغلی یون هغه علمي څېړنه (Research) ده چې دیوه تنظیم شوي علمي میتود (scientific method) پربنسټ ترتیب او په شپږو لویوبرخوکې په تحلیلی توګه تشریح او څېړل شوې ده . په لومړۍ برخه کې څېړونکي (دخادم پیژندنه) چې په هغې کې لس واړه سرلیکونه راغلي، ټول په یوه علماً تنظیم شوي لړ کې راوړل شوي دي، لکه (زوکړه ، زده کړه، لیکوالي، دندې، آثار، سیاسي فکر، کورني او بهرني سفرونه، کورني او ټولنیز ژوند، د ژوند وروستي کلونه، یادونه او نمانځنې) . په دویمه برخه کې هم ښاغلي یون هڅه کړې چې دنومیالی لیکوال قیام الدین خادم پرآثارو ، دهغو پرارزښت او پر مفکوروي بهیر باندې رڼا واچوي ، هغه چې ددغه نومیالي افغان تحلیلګراو نوښتګر لیکوال په آثارو کې انعکاس شوي او د ده د اند و ژوند فکري او علمي تومنه جوړوي . په درېیمه برخه کې د تیزس آره موخه یا موضوع ( دخادم نړۍ لید) تحلیل شوی چې دهغې په ترڅ کې تر یو شمیر اصلي سرلیکونو لکه (ملتپالنه، دین پالنه، ټولنپالنه، سمون پالنه، کره کتنه، ښارپالنه ژبپالنه) وروسته په وړو څنګځنو سرلیکونو کې یې خپل تحلیل ته دوام ورکړی دی. په څلورمه برخه کې خادم د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ليکوالو له نظره چې په هغو کې کورني او بهرني ليکوال راځي، په گوته شوي دي. په پنځمه برخه کې د خادم د خدمتونو ارزونه هم په وړو ځانگړو سرليکونو کې په تشريحي او تحليلي توگه وړاندې شوې ده . په شپږمه برخه کې وروستی يادونې راغلې چې دهغو په ترڅ کې بيا هم د قيام الدين خادم پر آثارو، افکارو او د هغو پر ډولونو باندې تبصرې شوي او پر همدغه سرليک سره يې خپل ريسرچ پر يوه لنډيز، پايله او اخځونو باندې پای ته رسولی دی.

دغه ترتيب په خپل ذات کې لوستونکي او کره کتونکي ته دا علمي ټکي ورپه گوته کوي چې يون د خپل علمي ريسرچ لپاره پريوه نوې، ناسپړلې او تراوسه د يوه علمي تحليل او ميتودولوژۍ په رڼاکې ناڅېړل شوې موضوع ته متې رانغښتي او هغه يې په پښتو معاصر ادب کې د يوې علمي اړتيا او نوښت په توگه بشپړه کړې ده .

## دويم د تيسس علمي ارزښت( Scientific Importance ):

پښتو ادب څېړنه او ادبي مطالعات د هرې ورځې په تېرېدو او د نويو عصري شونتياوو (امکاناتو ) د ودې په رامنځ ته کېدو سره پر نويو تگلورو او ابعادو ور مخه کوي، دا خبره په علمي لحاظ دوه اړخه لري، يو دا چې علمي څېړنې له ذهني بنديزونو ځان د عيني قضاوتونو ډگر ته ورباسي، په دې مانا چې د ادبي پديدو پر وړاندې له علمي چلند او منطقي تحليل څخه کاراخيستل کېږي، د علمي څېړنو د ساحې کارپوهان د علمي وړتياوو او اړتياوو تر څنگ له نويو نوښتونو څخه په پراخ نظرۍ سره د ننگې او ځارنې دومداره بهير ځاري چې په ترڅ کې يې ايجاديات او کشفيات د ټولنيز ژوند په عملي بسياينه کې درېږي . همدا ده چې د ادب او ادبي څېړنو په برخه کې هم څېړونکي يوازې د زېرمه کولو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایجاد پر پوله باندې ځان نه دروي ، بلکې د دغه ادب پر پېژندنه ، تحلیل او حقانیت باندې نورهم باوري کوي اوهغه نظرته عملي بڼه ورکوي لکه چې نومیالی خوشال خټک پر باوري و او سوونه کاله دمخه یې ویلي وو چې: ( د خوشال قدر که اوس په هېچا نشته-پس له مرګه به یې یاد کا ډیرعالم). خو اوس د خوشال هغه عصر نه دی او نه به په نږدې راتلونکې کې هغه حالت وګورو ځکه چې اوسني پښتون کول، پوهه ترلاسه کوي، تجربې کوي او تر ټولو مهمه دا چې د ځان او نورو هغو د پېژندني شعور ورسره دی، ځکه خو په خپلو ادبیاتو کې په ارزښتونو پسې څېړنې او هڅې کوي ، هغه راسپړي، پر هغو ځان پوهوي او په پای کې یې نورو ته ورپېژني. له همدغه لیده ویلای شو چې یون پر یوه نوې هڅه پسې خوځېدلی، هغه یې د پښتوژبې د معاصر لیکوال او شاعر قیام الدین خادم په افکارو او آثارو کې موندلې، د هغې ارزښت یې موندلی او بیا یې د خپل دغه تیسس په ترڅ کې له یوې خوا تشریح او تحلیل کړی او له بلې خوا یي په علمي او انتقادي توګه ارزولی هم دی.

دریېم: د دغه تیسس د لیکنې علمي میتود (Scientific Method) :

یوه علمي موضوع ، تر هغه وخته چې د یوه علمي میتود په واسطه یې لارښوونه او ارزونه و نه شي ، په یوه مثبته پایله باندې کله هم پای ته نه شي رسېدای ، علمي تحقیق مانا دحقیقت پېژندل اومعرفت دی ، دغه معرفت او وروستي حل ته د رسېدو وسیله په څېړنیز بهیرکې علمي میتود دی. په یوه انګریزي ډکشنري کې د علمي میتود په اړه راغلي چې :

" A method of research in which a problem is identified, relevant data are gathered, a hypothesis

(c) ketabton.com: The Digital Library



**formulated from these data, and the hypothesis is empirically tested"**

**http://www.dictionary.com/browse/scientific-method**

**په دغه پورتنی لنډه څرګندونه کې لومړی خبره د ستونزې او موضوع پېژندنه ده ، تر هغه وروسته د اړوندو دېټاګانو او معلوماتو راټولول دي، تر هغه وروسته د دغو معلوماتو پر اساس فرضیې او د هغو چوکاټ بندي رامنځ ته کېږي څوچې دیوې دقیقې مشاهدې او کتنې په ترڅ کې پریوه پایله باندې پای ته رسېږي . د یون تیسس په خپل ذات کې یوعلمي ریسرچ دی ، یوه علمي هڅه ده چې د یوه منظم علمي میتود او تګلارې په ترڅ کې یې لارښوونه او غځېدلې ده ، داسې چې ارزیابي یې پر یوه مثبته پایله باندې پای ته رسېدلې ، د بېلګې په توګه یون دخادم د نړلید د سمې تشریح لپاره داسې معلوماتو ته ورمخه کړې چې هغه کومه تیاره نمړی نه ده ، بلکې پر هغو پسې یې بېلابېلو سرچینو ، آثارو او اسنادو ته رجوع کړې، هغه یې لیدلي ، هغه یې لوستي او د هغو پر بنسټ یې د خپل تحلیل پایه اعلام کړې چې وایې خادم ، دیوه مترقي intellectual) ( سمون پالي ( Reformist) او یوه دقیق ملت پالي ( Nationalist) په توګه د یوه خپلواک نظر او لید په رڼا کې په عملي او نظري توګه له ټولنیزو هلو ځلو سره ایجادیاتو ته هم ورمخه شوی او په دغه ترڅ کې د یو فعال او پېژندل شوي او ژمن لیکوال رسالت په خپل عصرکې په عقلاني او شعوري توګه له یوې خوا درک کړی او له بلې خوا یې تر سره کړی دی. مانا داچې یون هڅه کړې چې د خپل تیسس د بشپړتیا پر لامل د علمي میتودولوژی، هغه چې ړ داکتری د یوه تحقیقي تیسس لپاره په علمي او اکاډیمیکو موسسو کې اړین دي له پرنسیپونو څخه کار واخلي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم- ددغه تیسس اړتیا:

زموږ په ادبی بهیرکې د ژوندلیکونو لیکل یو لرغونی دود دی ، چې د اوږدې مودې لپاره یې په شرقي ادبپوهنه کې دپیاوړو لیکوالو او پوهانو پاملرنه پرخپله خوا ور اړولې ده او په دغه ادبي برخه کې یې ځانونه آزمویلي او یو شمیر آثار یې چې نن سبا ان تر نړیوال شهرت پورې رسېدلي لیکلي دي، خو دا باید ووایو چې د هغو دغه هڅه په خپل وخت کې د ستاینې او یادونې وړ ده ، خو نن سبا چې لیکوالو دغه ټکي ته مخه وراړولې له هغوسره یې لوی توپیر دا دی چې نننی پوهان او څېړونکي په اوسني عصر کې ددغه ادبي ډول څېړنیزو او انتقادي ابعادو ته د علمي لید او زوایې له دریځه ګوري ، دوی په دغه برخه کې په دې نظر هم دي چې ادبي ژوند لیکنه اوس د پخوا په انډول پېچلې شوې، په دې مانا چې پخوانیو پوهانو دغه ژانر ته یوازې له ادبي ( یوازې له املایي او انشایي) پلوه پاملرنه کوله،خو اوسني ژوند لیک لیکنه دیوې ځانګړې علمي څیړنې او میتودلوژۍ د لارښونې او څارنې علمي میتود وړاندې کوي دا ځکه چې ددغې ډلې یو شمېر پوهان په دغه څېړنېزه برخه کې پر دي باوري دي چې : « ازآنجایکه خاطره نویسی و سفرنامه نویسی وزندگی نویسی ادبی و با بیان احساسات وعواطف همراه است می توان آنها را جزو ادب غنایی محسوب داشت » ( سیروس شمیسا ، انواع ادبی ص ۲٦۰ ) یون دخادم نړۍ لید کې د یاد شوي تیوریکي ټکي پراهمیت باندې پوه شوی ځکه یې په خپل تیسس کې د دغه دوه بعدي شخصیت پر ( هنري او علمي) اړخونو باندې تکیه کړې او هغه یې د هغو ټکو له مخې چې پر دغه شخصیت یې تحقیق کړی، د یوې علمي اړتیا په توګه په خپل تحقیق کې پرته له دې چې کوم ځاني منفي غرض د موقتي ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربنسټ په کې مطرح وي دده په نظر د یوې ملي او ادبي اړتیا په توګه بشپړکړی دی .

ددغو یادو شویو ټکو په پام کې نیولو سره ښاغلي یون په خپله څېړنه کې د لیکنې ټولې املایي او انشایي ځانګړتیاوې ، لکه د څپرکو تنظیم او ترتیب ، په سمه توګه د اخځونو لیکنه او نور توکونه په ښه توګه ترتیب او تنظیم کړي دي ، دلیکنې ژبه یې روښانه او د تقلید څرک په کې نه لیدل کېږي . له موضوعي پلوه یې هم تحقیق پریوه منظم سستماتیک تګلوري باندې لارښوونه شوې ، همدا ده چې د انتقاد لپاره څه په کې نه ترسترګو کېږي.

زما په نظر په پښتو معاصرادب کې د یون دغه تحقیقی هڅه یوه نوې هڅه ده ، داسې چې په دغه کیفیت سره بل چا تر اوسه پورې په دغه برخه کې په دومره تفصیل سره څه نه وو لیکلي ، له همدې امله زه د ده دغه علمي تحقیق مثبت ارزوم او د دوکتورا درجې لپاره یې مستحق او وړ بولم .

په درناوي

پروفیسور دوکتور عبدالخالق رشید

د نهرو پوهنتون د پښتو څانګې استاد

د ۲۰۱۸م کال د فبروري دویمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ارزوونکي نظر

**د کابل پوهنتون د دوکتورا پروګرام علمي بورډ مشرتابه ته!**

**په درنښت لیکم:**

**د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو ژبې او ادب څانګې د (Ph.D) سکالر ښاغلي محمد اسمعیل یون د دوکتورا لوړې زده کړې دورې پایلیک (تېزس) چې (د خادم نړۍ لید) سرلیک لاندې یې لیکلی او د (۲۹/۹/۱۳۹٦) نېټې (٦۱۴)ګڼه رسمي لیک په ملتیا مو د اروزنې لپاره رااستولی و، تر هر اړخیزې کتنې وروسته یې په اړه خپل ارزوونکی نظر په لاندې ټکو کې وړاندې کوم:**

**۱) موضوع د څېړنې لپاره ښه مناسبه، علمي او تحقیقي ارزښت یې په هر لحاظ جوت او هغه دا چې: اروابناد استاد قیام الدین خادم (۱۳۲۵هـق – ۱۳۵۸ل) چې زموږ د معاصر پېر نومیالی علمي – فرهنګي، ملي، سیاسي او ټولنیز مفکر شخصیت، چې نږدې شپږ لسیزې یې د پوهې، فرهنګ، ملي او ټولنیزو چوپړونو په ډګر کې ارزښتناکې ادبي او علمي هڅې او هلې ځلې کړې دي.**

**د پیاوړي عالم او معلم په توګه په مدرسو، ښوونځیو او د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي استاد، نوماند شاعر، لیکوال، څېړونکی او کره کتونکی و، د نظم او نثر پر لسګونو ځانګړو چاپ او ناچاپ اثارو سربېره یې په چاپي خپرونو کې په سلګونو علمي، ادبي، سیاسي او نورو ټولنیزو مسایلو پورې اړوندې څېړنیزې او معلوماتي تحلیلي لیکنې او کره کتنې دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره ښه زباتوي. تکړه ژورنالست و، د زېري اونيزې، طلوع افغان، اصلاح، افغان ولس او کابل مجلې مسوول مدير او چلوونکي په توګه يې کلونه کلونه خپرنيز او مطبوعاتي خدمتونه او نورې علمي فرهنګي چارې د دې لامل شوي چې زموږ د معاصر ادب او فرهنګ په ځلاندو ستورو کې شمېر او پر هسک وځلېږي. د دغسې علمي، ملي او ټولنيز مفکر شخصيت پر ژوند، اثارو څېړنه او سپړنه مهمه څه چې يوه ستره علمي، فرهنګي اړتيا وه، چې بايد د يوې اکاډميکې څېړنې له لارې ترسره شوې وای. د کابل پوهنتون د دوکتورا علمي بورډ دا کړنه، چې دغه موضوع يې ښاغلي يون صاحب ته سپارلې ده، د ستاينې وړ بولم، هغوی د موضوع څېړنيز حق ډېر ښه ترسره کړی او دا دی دغه چار يې په برياليتوب سره د دفاع تر پوړه رارسولې ده.

۲) د څېړنې اوډنه، ترتيب او تنظيم يې سم دی، داسې چې اړونده موضوع يې په شپږو لويو برخو (څپرکو) کې څېړلې او سپړلې ده: په لومړۍ برخه کې د (خادم څوک و؟) تر سرليک لاندې د هغه پر قوم، قبيله، زوکړه، زده کړو، ليکوالۍ، دندې، اثار، سياسي، فکر، ژوند او هڅې، کورني او بهرني سفرونه، کورني او ټولنيز ژوند، د ژوند وروستي کلونه، بند او مړينې لنډه، خو هر اړخيزه رڼا اچوي او دغسې د استاد خادم د شخصي او علمي، فرهنګي ژوند نقشه د لوستونکو مخې ته ږدي.

دويمه برخه (خادم څه کړي؟) تر سرليک لاندې د استاد منظوم او منثور اثار بېل بېل راپېژني، پر غوره نوښتونو او معنوي ارزښتونو يې هر اړخيزې شننې کوي. درېيمه برخه د استاد خادم نړۍ ليد ته ځانګړې شوې چې په کې د هغه دينپالنې، ملتپالنې، ټولنپالنې او سمونپالنې په اړه د استاد علمي، ديني، ملي، سياسي، ټولنيزو، فلسفي اثارو او افکارو شننې او تحليل شوی او په پای کې يې پر ادبي نظريو او کره کتنو هم تحليلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحثونه شوي دي. په څلورمه برخه کې څېړونکي د نورو هممهالو کورنیو او بهرنیو لیکوالو نظریات راخیستي چې ورڅخه د استاد خادم علمي-فرهنگي شخصیت او زموږ د هېواد په معاصره علمي - فرهنگي وده او پرمختیا کې د هغوی ونډه او دریځ جوتېږي. په پنځمه برخه کې د یوې هر اړخیزې کره کتنې په ترڅ کې د استاد د ټولو فرهنگي، ملي او ټولنیزو خدمتونو ارزونه شوې او په وروستۍ برخه کې د وروستیو یادونو او بشپړونو تر سرلیکونو لاندې د ټولې څېړنې پایلې په ډېر لنډیز خو هر اړخیز ډول وړاندې شوي دي، چې دغسې د څېړنې هره برخه له اکاډمیک ارزښت او اهمیت څخه برخمنه او پر معیار برابره ده.

۳) څېړونکی خپله څېړنه له علمي میتودونو او معیارونو سره سمه بشپړه کړې، په لیکنه کې لفظي او معنوي پېچلتیا نه لیدل کېږي، ژبه یې خوږه او روانه او په لیک کې د لیکنښو بشپړ رعایت شوی، چې له دې اړخه یې څېړنه معیاري ارزوم.

۴) په څېړنه کې له زیاتو باوري اخځلیکونو او سرچینو څخه گټه اخیستل شوې، څېړونکي منابع په متن کې د مخ گڼو او اثر په شمېرنه په نښه کړي او بیا یې هغه د ټولې څېړنې په پای کې د مأخذ ښوونې له علمي او اکاډمیکو معیارونو سره سم په ترتیب سره راوړي دي. دا برخه یې هم پوره ده.

۵) د موضوع د څېړنې ضرورت او اړتیا یې څرگنده ده، د موضوع اړوند مطالب او مفاهیم یې په سمه توگه ټول کړي، څېړلي او سپړلي او په منطقي ډول یې داسې اوډلي چې لوستونکی د لوستو پر مهال هر څه په اسانه ترلاسه کولی شي. زه یې له دې اړخه پوره او کره ارزوم او د موضوع څېړنیز حق ترسره شوی گڼم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پورته یادونو ته په پاملرنه زه دا څېړنيز ا ثر مثبت ارزوم، ښاغلي پوهاند محمد اسمعیل یون د دې څېړنې په ترسره کولو د دوکتورا (Ph.D) لوړ علمي سند د ترلاسه کولو وړ ګڼم، څېړونکي ته د نورو بریالیتوبونو هیله او د کابل پوهنتون د دوکتورا علمي بورډ نه په دې ارزوونکي نظر کې سپارښتنه کوم چې د دې څېړنيز اثر د خپراوي لپاره لازم امکانات برابر کړي، چې ګټه يې عامه شي.

په درنښت

سرمحقق دوکتور سید محی الدین هاشمي

د علومو اکاډمي- د ژبو او ادبیاتو مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

استاد قيام الدين خادم د هېواد ستر او ځيرمن ليكوال، شاعر او څېړونكی و. ده د خپل ژوند څه باندې (۵۰) كلونه د هېواد، ژبې، ادب او فرهنګ د خدمت لپاره وقف كړل، په دې بهير كې استاد قيام الدين خادم تر (٦٠) عنوانو پورې بېلابېل ځانګړي او مستقل اثار وليكل. په دې اثارو كې علمي، څېړنيز، ادبي او تاريخي اثار شامل دي. استاد خادم له نورو ژبو هم ژباړې كړي او د شعرونو بېلابېلې ټولګې يې هم چاپ شوي دي. استاد خادم د یوه ځانګړي فلسفي ليد او فكر خاوند و، په ملي، سياسي او ادبي مسايلو كې يې هم ځانګړی ليد او ژور نظر درلود. د خادم نظر یو مستقيم ليد لوری درلود او له ډېرو پيغامونو ډک و، د استاد خادم هره ليكنه په مثبتو پيغامونو سینګار وه، دده د كلام بېلابېلې بېلګې زموږ د نن او سبا لپاره ډېر نور پيغامونه لري، خو لكه څنګه چې پكار ده زموږ تېر او اوسني پښت د خپل خادم د پيغامونو ژورو تلو ته لاره نه ده موندلې. ما په دې خاطر چې د هېواد اوسني او راتلونكي نسل ته د خپل یو لوی مفكر او خادم پيغامونه ورسوم، وپتېيله چې د استاد خادم د فكر، نظر او نړۍ‌ليد په هكله یو ځانګړی اثر وليكم او همدا موضوع د ډوكتورا د (ډيزرټيشن) لپاره وټاكم، ما دې موضوع ته د (خادم نړۍ‌ليد) نوم وركړ، دا موضوع په شپږو برخو كې بيان شوې ده، په لومړۍ برخه كې سریزه ده او ددغه اثر د ليكلو انګېزه او اړتيا او د استاد خادم پېژندنه ده، په دویمه برخه كې خادم څه كړي؟ دده منظوم او منثور اثار معرفي شوي او پر هغو بحث شوی دی. په درېيمه برخه كې د خادم نړۍ‌ليد او فكري خوا څېړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې، چې په هغې کې ملتپالنه، دینپالنه، ټولنپالنه، سمونپالنه، کره کتنه، ښارپالنه او ژبپالنه د خادم له نظره څېړل شوي او هغه کارونه چې ده په دې برخه کې کړي دي، دا ټول په کې ارزول شوي دي. په څلورمه برخه کې خادم د هېواد د نورو نامتو لیکوالو، لکه: پوهاند علامه عبدالحی حبیبي، استاد عبدالروف بېنوا، کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي، سر محقق عبدالله بختانی خدمتگار، عبدالرحمن پژواک، حبیب الله رفیع او نورو له نظره د استاد قیام الدین خادم فکر او نظر شنل شوی دی.

په پنځمه برخه کې د استاد قیام الدین خادم د خدمتونو ارزونه شوې؛ په فرهنگي برخه، ټولنیزه برخه، دیني برخه او نورو کې چې استاد قیام الدین خادم کوم خدمتونه کړي، د هغو یادونه او ارزونه شوې او په شپږمه یا وروستۍ برخه کې د دې اثر نتیجه یا پایله راغلې او د اخځونو یادونه شوې ده.

## ۱- ددغه اثر د لیکلو انگېزه او اړتیا:

ځینو سره کېدی شي دا پوښتنه راپیدا شي چې د استاد خادم په باب خو ځینو نورو لیکوالو او څېړونکو هم لیکنې کړي، نو د دې ځانگړي اثر د لیکو اړتیا او انگېزه څه وه؟ په دې برخه کې باید ووایو: د دغه اثر د لیکلو ضرورت دا دی چې استاد خادم د افغانستان یو لوی لیکوال او خدمتگار تېر شوی ، پر هر افغان لیکوال د استاد دا یو حق دی چې دده اثار، شخصیت او فکري لید نوي نسل ته وروپېژني او هغوی ورسره اشنا کړي. د استاد خادم ژوند نوي نسل ته دا پیغام ورکوي، چې څنگه خپل فکري ژوند د صفر له نقطې څخه پیل او د بریالیتوب لوړو پړاوونو ته یې ورسوي. د استاد خادم د ژوند په تشریح کې ډېر پیغامونه پراته دي، ولس ته دده د هر پیغام رسول په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم که څه هم د هېواد او سیمې یو لوی لیکوال تېر شوی، خو لا هم دده د اثارو یوه ډېره درنه برخه ناخپره شوې پاتې او نورو ډول ډول څېړنو ته اړتیا لري. ددغه اثر یو هدف همدا دی چې د استاد د فکر بېلابېلې خواوې وڅېړل شي او ډېره خوږه او پیغامیزه برخه یې اوسني او راتلونکي نسل ته انتقال شي.**

**زموږ په نظر استاد خادم زموږ د ټولنې ذهني معمار دی، ده په نظم او نثر دواړو کې داسې افکار وړاندې کړي، چې د هغو په لوستنې او بیا بیا کتنې ددې ټولنې له هر وګړي څخه د خپلې ټولنې یو معمار او خدمتګار جوړېدی شي. د خادم نړۍ‌لید په حقیقت کې د ټولنې د خدمت وسیله ده، هر څوک چې د خپل هېواد او ټولنې د خدمت نیت لري، د خادم د نړۍ‌لید مطالعه ورته ضروري ده.**

**په ماته کښتۍ ناست یم، توپانونه مې په مخکې**
**پر دې لاره یې بیا یم که وم وم که نه وم نه وم**
**د ناز په خوب ویدې غونچې ورو ورو راویښومه**
**خادم باد د سبا یم که وم وم که نه وم نه وم.**

**دا د خادم نړۍ‌لید دی؛ دا پورتني بیتونه د خادم د شاعرۍ او فکر د دریاب یو څاڅکی دی. په همدې دوو بیتونو کې هم موږ ته د استاد خادم فکري نړۍ‌لید او په ټولنه کې له ناوړه حالت څخه د راوتلو لپاره د ده د پخې ارادې څرک لګي. خادم په دې نظر دی چې که امکانات کم هم وي، کښتۍ ماته هم وي، خو چې اراده او عزم قوي وي، هدف ته رسېدل ممکنوي.**

**د سختو لارو لنډول، سربښندنې ته اړتیا لري، سربښندنه، قرباني، عزم او اراده ددې شعر پیغام دی، ویدې غونچې یا د ویده نسل راویښول، هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په ډېر مهارت او ځیرتیا سره، لکه د سهار باد چې گلونه غوړوي، له تشدد او افراط پرته د مبارزې لاره چاره او پیغام راکوي، موږ په دې اثر کې د خادم د نړۍلید دغسې پیغامونه راسپړو، نو ځکه مو دې اثر ته (دخادم نړۍ لید) نوم ورکړی دی.

## ۲- د خادم په باب د څېړنو شالید:

د استاد قیام الدین خادم په باب، هم دده د ژوند پر مهال او هم دده تر ژوند وروسته گڼ شمېر لیکنې او ځینې مستقل اثار چاپ شوي دي. دې ډول لیکنو او نظرونو ته مو (خادم د کورنیو او بهرنیو پوهانو له نظره) په بحث کې نسبتاً په تفصیل سره نغوته کړې او یا مو هم د هغو پوهانو نظرونه راوړي، چې د استاد خادم د فکر او د هغه د اثارو په باب یې په بېلابېلو وختونو کې لیکلي، خو پر یادو نظرونو او متفرقه لیکنو سربېره د خادم پر ژوند، اثارو او افکارو یو شمېر مستقل اثار هم لیکل شوي، چې دلته یې په لنډېز سره یادونه کوو. په دې اثارو کې د لېسانس او ماسټرۍ دورې پایلیکونه او یو شمېر مستقل اثار هم شامل دي:

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانگې او همدارنگه د هېواد د یو شمېر نورو پوهنځیو د پښتو څانگې فارغانو د استاد خادم د ژوند، افکارو او یا هم مستقلو اثارو په باب خپل یو شمېر مونوگرافونه لیکلي دي، دا مونوگرافونه اکثره د استاد د ژوند او اثارو پر پېژندنې راڅرخي، ځینې یې داستاد د اثارو پر فکري او هنري برخې لیکل شوي او ځینې یې یو یا څو اثارو ته ځانگړي شوي دي. دا پایلیکونه د څېړنې او ارزونې ابتدایي او ساده بڼې دي، څومره چې د استاد حق دی، هغه ټولې خواوې په ژوره توگه نه افاده کوي. پر مونوگرافونو سربېره پر (۱۳۸۷ل) کال (مېرمن هوسا نوري یوسفزۍ) د استاد خادم پر اثارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي خدمتونو د خپلې ماسترۍ دورې تېزس لیکلی دی. دې اثر ته یې (د پښتو ادب په پرمختیایي بهیر کې د استاد قیام الدین خادم ونډه) نوم ورکړی دی. د ماسترۍ دورې بل تېزس ښاغلي (مطیع الله روهیال) لیکلی دی. روهیال (د پښتنو ننني لیکوال) پر اثر باندې د خپلې ماسترۍ دورې تېزس لیکلی دی. (د پښتو ننني لیکوال) لومړۍ او دویمه برخه د استاد خادم له خوا لیکل شوې او پر (۱۳۱۷-۱۳۱۸ل) کال په کابل کلنۍ کې خپره شوې ده. د همدې دویمې برخې په پای کې د استاد خادم پېژندنه راغلې چې د (سید قام رښتیا) له خوا لیکل شوې ده.

(د پښتو ننني لیکوال) درېیمه برخه بیا استاد رښتین لیکلې، چې پر (۱۳۱۹ل) کال په کابل کلنۍ کې خپره شوې ده. روهیال د خپلې ماسترۍ دورې تېزس کې (د پښتو ننني لیکوال) اثر څېړلی او پر (۱۳۹٦ل) کال یې د خپل تېزس دفاع کړې ده. دغه راز د کونړ پوهنتون استاد (پوهنیار احمد الله عزیز) د (پوهنملۍ) علمي رتبې لپاره خپل تېزس د استاد خادم ژوند او اثارو ته وقف کړی دی. (د پښتو معاصرو ادبیاتو په پرمختګ کې داستاد خادم ونډه) په نوم یې خپله موضوع ثبت کړې ده.

د لېسانس او ماسترۍ دورې د پایلیکونو ترڅنګ د استاد خادم پر افکارو، اثارو او ژوند مستقل اثار هم لیکل شوي او ځینې داسې اوږدې تحلیلي لیکنې هم شوي. چې هغه هم د مستقلو اثارو بڼه خپلوي او همغه معیار ، کمیت او کیفیت ته رسي، چې یو مستقل اثر یې لري. دلته یې د ځینو یادونه کوم: د پښتو ادبیاتو نامتو څېړونکي ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) د استاد خادم له خوا پر یوه ژباړل شوي اثر (مکارم الاخلاق) یو تفصیلي لیکنه کړې ده. دا لیکنه هم (مکارم الاخلاق) نومېږي. دا لیکنه پر (۱۳٦۰ل) کال چاپ شوې ده. په دې لیکنه کې نه یوازې (مکارم الاخلاق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفي شوی، بلکې د استاد خادم پر ژوند، اثارو او افکارو هم اوږد بحث شوی، د ښاغلي سرمحقق هېوادمل دا لیکنه د عادي لیکنو تر کمیت او کیفیته پورته ده او د یوه مستقل کتابګوټي بڼه لري. دا لیکنه د کمپیوټر د اوسني کمپوز له مخې په کتابي کچه نږدې څلوېښت مخه رانغاړي او د استاد خادم په باب د لومړنیو هر اړخیزه لیکنو له جملې څخه ده.

استاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار هم د استاد خادم په باب (د ملي ادب او ژورنالیزم خادم) په نامه یو هر اړخیز ځانګړی اثر لیکلی دی. دا اثر درې ځله چاپ شوی دی. لومړی ځل پر (۱۳٦۸ل)کال د افغانستان د ژورنالېستانو ټولنې، دویم ځل پر (۱۳۸٦ل) کال د افغانستان د قلم ټولنې او ګویټې انستیتیوت او درېیم ځل پر (۱۳۸۷ل) کال د خادم صیب د کورنۍ له خوا په کابل کې د زر زر ټوکونو په شمېر په (۱۵۴) مخونو کې خپور شوی و. د استاد بختاني دا اثر ځکه خورا مهم دی چې دی له استاد خادم سره تقریباً هممهاله لیکوال و، ډېر وخت له هغه سره له نږدې پاتې شوی او د هغه له اثارو او افکارو خورا ښه خبر و.

ددې ترڅنګ ښاغلي (لال پاچا ازمون) د استاد خادم منظوم کلیات راټول کړي او د (خادم باد سبا یم) په نامه یې په یوه ټوک کې چاپ کړي دي. په دې کلیاتو کې د استاد خادم اکثره هغه منظوم اثار، چې زیاتره یې ترې دې دمخه چاپ شوي وو او د کتاب د چاپ تر وخته د راټولونکي لاس ته ورغلي دي، خوندي شوي دي. دا اثر پر (۱۳۹۱ل) کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

له دې اثر سره په (۴۴) مخونو کې د راټولوونکي یوه تحلیلي او معلوماتي سریزه هم مل ده چې د استاد خادم پر ژوند او اثارو رڼا اچوي او ددې ترڅنګ د استاد خادم د اثارو او فکر په باب د یو شمېر نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالو لیکنې هم په کې خوندي شوي دي. تر تحلیلي لیکنو وروسته د منظومو کلیاتو اساسي برخه پیلېږي. دا اثر ټول (٦٣٣) مخونه لري.

ددې ترځنګ ښاغلي (لال پاچا ازمون) د استاد خادم هغه منثور اثار هم راټول کړي، چې تر (١٣٩۴ل) کال پورې یې ده ته راټولونه ممکنه وه. په دې اثر کې چې (رڼه چینه) نومېږي او د استاد خادم د نثري لیکنو ټولګه ده، د استاد هغه نثري لیکنې خوندي شوي، چې یا د مستقلو اثارو په توګه چاپ شوي او یا هم په متفرقه ډول تر دې وړاندې چاپ شوې وې، دا اثر په دوو ټوکو کې پر (١٣٩٦ل) کال د افغانستان علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی. دواړه ټوکه ټول (١٢٨٨) مخونه لري. ددغه اثر په پیل کې د استاد خادم د نثر په باب د ښاغلي (ازمون) یوه تحلیلي سریزه هم راغلې ده. دا دواړه راټولونې که څه هم د استاد خادم اثار دي، خو پر دې دواړو کلیاتو راغلې سریزې په خپله د خاص ارزښت وړ دي او د استاد خادم په اړه لوستونکو ته ښه معلوماتي مواد وړاندې کوي، نو که له کلیاتو پرته په ځانګړي ډول هم چاپ شي، د مستقلو څېړنیزو کتابګوټو ښه خپلولای شي.

پر یادو اثارو سربېره د استاد عبدالروف بېنوا په (اوسني لیکوال)، د استاد پوهاند عبدالحی حبیبي (پښتانه شعراء لومړي ټوک) او (د پښتو ادب تاریخ)، د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار (پښتانه شعراء پنځم ټوک)، د کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي (د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره)، (پښتو هنري نثر) او یو شمېر نورو اثارو کې هم د استاد خادم پر ژوند، اثارو او افکارو بحث شوی او ګټور مالومات وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بهرنیو پوهانو له جملې څخه شوروي ادبپوه (گ.ف گیرس) د استاد خادم د لیکوالۍ (هنري نثر) په باب یوه تفصیلي لیکنه کړې ده او همدارنگه ځینو نورو بهرنیو لیکوالو.

ددې ترڅنگ د استاد خادم پر ژوند او اثارو یو شمېر سیمینارونه او علمي پروگرامونه هم جوړ شوي، ځینې یادغونډې یې شوي، ځینې ځایونه او روزنیز مرکزونه هم د هغه په نامه نومول شوي، چې د استاد خادم (یادونه او نمانځنه) بحث کې به ورته نغوته وشي.

لکه څنگه چې دمخه مې یادونه وکړه، د استاد خادم په باب گڼ شمېر متفرقه لیکنې شوي او دا لړۍ اوس هم روانه ده، د هغو ټولو یادول دلته ضرور نه بولم، خو اټکلیز شمېر یې تر (۱۰۰) متفرقه لیکنو اوړي، ددغه اثر د لیکنې او بشپړاوي لپاره د استاد پر چاپي او ناچاپو اثارو سربېره له یادو پورتنیو اثارو او متفرقه لیکنو څخه هم گټه پورته شوې ده. د دې اثارو تر کتنې، ارزونې، شننې او سپړنې وروسته موږ ته د استاد خادم نړۍلید په ښه ډول څرگندېږي.

## ۳- ددغه اثر ارزښتونه او ترجیحات:

لکه څنگه چې مو پورته یادونه وکړه؛ د خادم صیب د فکر او ژوند په باب هم متفرقه لیکنې شوي، هم پرې لعمي غونډې او سیمینارونه جوړ شوي، هم پرې د لیسانس، ماسټرۍ دورې تېزسونه لیکل شوي او هم پرې مستقل اثار، نو کېدی شي پوښتنه پیدا شي چې بیا ددغه اثر لیکلو ته څه اړتیا وه او ترجیحات یې څه وو؟ دې پوښتنې ته مې د سریزې په پیل کې هم نغوته وکړه؛ خادم صیب د افغانستان یو داسې لوی لیکوال او عالم دی چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې یې ژوره معنوي پانگه او زېرمه موږ ته پرې ایښې، ددې افکارو څېړنه، شننه، ارزونه او نورو ته یې روښانونه د لا زیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنو او مستقلو اثارو د ټوکېدو غوښتنه کوي. ان دا چې د خادم صیب ځانګړي اثار، یو شمېرځانګړې لیکنې او د هغه له خوا د ژوند د بېلابېلو مسایلو ارزونه او تحلیل، هر یو یې د یوه ځانګړي اثر د لیکلو ایجاب کوي، نو د ټولې لیکوالۍ لپاره یې خو د یوه ځانګړې اثر او اثارو لیکل خورا ضروري دي. په دې برخه کې بله خبره دا هم وه چې د خادم صیب پر ژوند او فکر د لیسانس او ماسټرۍ دورې پایلیکونه او تېزسونه لیکل شوي، خو د دوکتورا (PhD) دورې دا لومړی تېزس دی چې د خادم صیب ژوند او په تېره بیا د افکارو تحلیل او ارزونې ته ځانګړی کېږي. د خادم صیب د افکارو سپړنې او شننې، نه یوازې ددغه اثر د ایجاب غوښتنه کوله، بلکې که موږ غواړو خپل یو ربښتینی خدمتګار او د هغه د فکر ژورتیاوې خپلو خلکو ته په ښه ډول وروپېژنو، د نورو دا ډول اثارو د لیکلو اړتیا هم احساسېږي. په دې اثر کې اصلي موخه داده چې (د خادم نړۍ لید) خلکو ته وروپېژندل شي او له همدې تفکره په ګټې اخیستنې، موږ خپل ځوان قشر، د هېواد فرهنګي او ټولنیزې غوړونې ته وهڅوو. زه د لوی خدای(ج) له درباره هیله لرم، ما ته ددې توفیق راکړي چې هم د استاد خادم د خدمتونو حق ادا کړم او هم دده د افکارو د ځلونې له لارې خپل هېواد ته د استاد خادم په شان د خدمت جوګه شم.

## ۴- ددغه اثر لیکنې میتودولوژي او د اخځونو ارزونه:

د هر ادبي، تحلیلي او څېړنیز اثر لیکنه خپله میتودولوژي لري. (د خادم نړۍ لید) اثر په لیکنه او بشپړاوي کې هم له ځانګړې میتودولوژۍ څخه کار اخیستل شوی دی. په دې میتودولوژۍ کې له کتابي، لیکني یا کتابتوني څېړنې او پلټنې څخه هم کار اخیستل شوی؛ نږدې ټول هغه اثار پلټل شوي او مطالعه شوي چې د استاد خادم په باب تر دې دمه لیکل شوي او د چاپي بڼې پیدا کېدل یې شوي وو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحوي څېړنيز میتود څخه هم کار اخیستل شوی؛ د خادم د زېږېدنې د ځای او محل لیدنه کتنه شوې او له بېلابېلو مخورو اشخاصو سره د استاد خادم پر ژوند، فکر او نړۍ لید خبرې شوې دي. د کورنۍ له غړو سره یې هم اړیکي نیول شوي. د ناچاپو اثارو په باب یې له هغوی څخه ځینې معلومات او نور اړوند مواد ترلاسه شوي او د دې ترڅنګ له یو شمېر هغو لیکوالو سره هم اړیکي نیول شوي چې د خادم صیب د فکر په باب یې معلومات درلودل. د هغو له جملې څخه ځینو یې په لیکلې بڼه خپل نظرونه وړاندې کړي دي. یانې د څېړنې او شننې لپاره له څلورو بېلابېلو برخو، لکه: د خادم صیب خپل او د هغه په باب د نورو لیکوالو له خوا لیکل شوي چاپي اثارو، ساحوي څېړنې، د کور له غړو سره د تماس او له هغو څخه د ناچاپه اثارو او نورو اړوندو لیکنیو موادو په باب د معلوماتو د ترلاسه کولو له دغو څلورو سرچینو څخه ګټه پورته شوې ده. د چاپي اخځونو په برخه کې باید وویل شي چې په دې کې دوه ډوله اثار موجود دي: یو د خادم صیب خپل اثار دي چې د ده د فکر او نظر د څرګندونې اصلي سرچینه ده او دویم د خادم صیب د فکر او اثارو په باب د نورو لیکوالو له خوا لیکل شوي اثار دي. دا دویمه کټګورۍ اثار چې ما وکتل، اکثره یې د خادم صیب پر ژوندلیک، د اثارو پر لنډې دودیزې پېژندنې او ژوند پېښو راڅرخي، یا هم له شکلي پلوه د خادم صیب د اثارو پېژندنه رانغاړي، ډېر کم داسې اثار وو چې د خادم صیب فکر او پیغام یې له هر پلوه په بنه ډول توضیح کړی او شنلی وي، یا یې د هغه د پیغامونو پر بنسټ نور پیغامونه پنځولي وي، په دې مانا چې په خپله د استاد خادم پېژندنه شوې، خو د افکارو، پیغامونو او نظریاتو برخه یې تر ډېره حده ناسپړلې پاتې ده. په دې خاطر د داسې یو اثر د لیکلو ضرورت محسوسېده چې هغه تر ډېره بریده د خادم پر فکری نړۍ لید راوڅرخي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه فکر او پیغام خلکو ته وروپېژني. لکه څنګه چې خادم صیب په خپله یو ژور عالم و، فلسفي، اصلاحي، او سمونپالی فکر یې درلود او د هر شي د مانا او مفهوم د پلټنې په فکر کې و، نو دغسې یو کار په کار و چې د ده د فکر د شننې لپاره هم باید فکر وشي؛ خادم چې د ژوند د کومو رازونو او رمزونو د سپړلو په لټه کې و، نو موږ هم باید د همغو رمزونو پر راز پوه شو. په دې اثر کې هڅه شوې چې همدغه رازونه وپلټل شي او همدغه پیغامونه ولس ته څرګند شي. خدای (ج) دې وکړي چې زه په خپله دې څېړنه کې دې هدف ته رسېدلی یم.

ددغه اثر د لیکني متن په برخه کې یوه یادونه ضروري بولم او هغه دا چې په دې اثر کې له کومو اخځونو ګټه پورته شوې، کوښښ شوی چې متن کټ مټ راولېږدول شي، خو په ځینو برخو کې چې چاپي، املایي او انشایي تېروتنې وې، هلته په ډېر احتیاط سره هغه تېروتنې اصلاح شوي او بیا متن راانتقال شوی دی. په خپله د استاد خادم منظوم او منثور متون چې انتقال شوي ، که له اوسنۍ املا او انشا سره د هغو ځینې برخې سمې هم نه دي، نو د متن تاریخي اصالت ته په پام سره هغه په همغه بڼه راوړل شوي، چې د ده په خپلو اثارو کې وې، هیله ده درانه لوستونکي دې ټکي ته هم پر خپل ځای پاملرنه وکړي.

دلته غواړم له خپل لاربنود استاد (سرمحقق زلمي هېوادمل) څخه هم ډېره ډېره مننه وکړم چې هم یې ما سره ددې موضوع (د خادم نړۍ لید) په انتخاب کې مرسته وکړه؛ هم یې دا موضوع تائید کړه، هم یې د هغې د څېړنې لپاره مفردات ترتیب کړل او هم یې د اثارو په نښه کولو او پیدا کولو کې راسره مرسته وکړه. له بل لاربنود استاد ښاغلي پوهنوال ډاکټر محمداجان حقپال څخه هم ډېره مننه کوم چې ما سره یې د دې اثر په بشپړاوي او بیا کتنه کې خپله مرسته ونه سپموله، دغه راز له ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد دوکتور عبدالخالق رشید او دوکتور سرمحقق سید محی الدین هاشمي او نورو قدرمنو استادانو څخه چې هر یو په خپل وار سره په دې برخه کې خپلې لارښوونې او مشورې له ما څخه ونه سپمولې او په دې کار کې ما سره مرستندویان شول، له ټولو څخه مننه کوم. ددې ترڅنګ له ښاغلو (ضیاء الرحمن، فیاض حمید، ایمل افغان او...) څخه هم ډېره مننه کوم چې ما سره یې ددغه اثر په کمپوز، ډیزاین او د اثارو په راټولونه کې مرسته او ملګرتیا وکړه.

په درنښت

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

# خادم څوک و؟

# (د خادم پېژندنه)

د شلمې پېړۍ د پیل په تېره بیا (۱۹۱۹ – ۱۹۷۸م) کلونه د پښتو ادبیاتو د ودې طلایي کلونه دي، د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې افغانستان خپله خپلواکي بېرته ترلاسه کړه او دا کار ددې سبب شو چې افغانستان کې ملي حکومتونه رامنځته شي. له (سقاوي اړودوړ) پرته بیا د شورویانو تر یرغل پورې اکثرو واکمنو تر ډېره بریده ملي روحیه پالله. د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ارامې واکمنۍ د ادبیاتو د ودې لپاره ارامه فضا برابره کړه. له پښتو ادبیاتو او ادیبانو څخه د حکومت ملاتړ د هغو په هڅونه او د ادبي اثارو په پنځونه کې مهم نقش درلود. دا مهال ګڼ شمېر ادبي-علمي مرکزونه رامنځته شول او د لیکوالو د سیستماتیکې ودې لپاره زمینه برابره شوه. چاپي صنعت وده وکړه او د چاپي رسنیو د ودې لپاره ښه زمینه برابره شوه. په مشرقي کې (اتحاد مشرقي)، په خوست کې (افغان) جریده، په کندهار کې (طلوع افغان ) جریده او (کندهار ادبي انجمن)، وروسته بیا په کابل کې (ادبي انجمن) او (کابل مجله) او تر دې وروسته بیا (پښتو ټولنه) او نور ګڼ شمېر علمي او خپرنیز مرکزونه رامنځته شول. دې بهیر نه یوازې په افغانستان کې د پښتو ادبیاتو پر ودې مثبت اغېز وکړ، بلکې په کوزه پښتونخوا کې یې هم د لیکوالو پر کار او هڅونې مثبت تاثیر وکړ، د همدغو علمي او ادبي غورځنګونو په برکت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان او نورو ټولو پښتون مېشتو سیمو کې ګڼ شمېر لیکوال راوټوکېدل او د پښتو ادبیاتو د پرمختګ او ځلا لپاره ښه زمینه برابره شوه. د همدې پېړۍ تر پیل لږ دمخه او د همدې پېړۍ په بهیر کې په سلګونو لوی او کارنده لیکوال راوټوکېدل، د هغوی اثار چاپ شول او د پښتو ژبې او ادب په غوړېدا کې یې مهم نقش ولوباوه. په همدې زماني واټن کې په پښتو کې د ((عبدالباري اشنا، اجمل خټک، نظر محمد اڅک، عبدالخالق اخلاص، محمد شاه ارشاد، عبدالله جان اسیر، ابو سعید فضل احمد افغان، محمد ظاهر افق، شوکت الله اکبر، عبدالاکبر اکبر، ګل پاچا الفت، محمد رحیم الهام، حفیظ الله امین، غلام سخي انتظار، انوار الدین انوار، ایاز داودزی، محمد اعظم ایازی، محمد نادر ایوبي، محمد علم بڅرکی، عبدالله بختانی، عبدالغفار بریال، نادر خان بزمي، سیده بشري بېګم، محمد عمر خان بلبل افغان، عبدالغفران بېکس، محمد اکبر بېنوم، سید محمد طاهر بینا، سید محمد بیدار، عبدالرازق پالوال، محمد اکبر پامیر، عبدالقدوس پرهېز، عبدالرحمن پژواک، محمد عثمان پښتون، نېک محمد پکتیانی، جان محمد پکتا، نور محمد تره کی، حبیب الله تږی، محمد ابراهیم ثابت، غلام رحمن الله جرار، غلام جېلاني جلالي، عبدالطیف جلالي، جمعه ګل، شهزاد خان جوهر، رحیم خان جوهر، نور محمد ځیګر، عبدالحی حبیبي، محمد رفیق حبیبي، مولانا محمد شریف حبیبي، حداد، پروانه حریق، سید حسن خان حسن، عبدالرازق حکمت، ضابط خان حلیم، امیر حمزه شینواری، مېرمن حمیده، ملا عبدالمنان حیرت، قیام الدین خادم، محمد اکبر خادم، مصري خان خاطر، عبدالاحد خالېز، عبدالغفور خروټی، خسرو، عبدالخالق خلیق، محمد ابراهیم خواخوږی، محمد امین خان خوګیانی، عبدالجلیل خوښمن، محمد شاه خیال، سید عظیم شاه خیال بخاري، غلام غوث خیبري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالهادي داوي، عبدالمنان دردمند، دوست شینواری، رشید علي دهقان، راحت الله راحت، قمر الزمان راهي، محمد صدیق رازقي نړیوال، محمد طاهر رحیمي، سید رسول رسا، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، محمد خالد روښان، محمد رضا رضا، میرزا حسن رضا، حبیب الله رفیع، تکریم الحق روغ لېونی، محمد صدیق روهي، عصمت الله روحاني، غلام حضرت روغمن، محمد عارف رهین، محمد حسن ریدي، سید جعفر حسین شاه رښتونی، عبدالهادي ریشا، محمد اسماعیل زاهل، غلام محی الدین زرملوال، محمد ولي زلمی، امین الله زمریالی، پاینده محمد زهیر، خواجه محمد زهیر، عبدالرزاق زهیر، تاج محمد زېب، زیتون بانو، مجاور احمد زیار، غلام دستګیر ړنګ، محمد دین ژواک، سمیع الله ژوند، غلام حسن ساپی، محمد حسن ساپی، امیر محمد ساغر، فضل الرحیم ساقي، مېرمن سایره، محمد صفدر سالارزی، سراج الدین سعید، سیف الرحمن سلیم، محمد سلام سلیم، محمد ارسلان سلیمي، سید فاروق شاه سمایلزی، سمندر خان سمندر، حکیم محمد اسلم سنجري، حسن خان سوز، سهارګل سهار، عمل خان سیاح، محمد غازي سیال، میراجان سیال، سید حسین سید، امان الله سېلاب، محمد عمر خان سیماب، عزیز الرحمن سیفي، زیارت شاه شاکر، محمد نبي شاکر، میا احمد شاه، عبدالرحمن شباب، سعد الدین شپون، محمد اسلم خان شرر، محمد شریف شریف، محمد موسی شفیق، مبارک سلطانه شمیم، فضل الحق شیدا، عبدالحکیم شیدا، شېر محمد خان، محمد ایوب صابر، مولوي صالح محمد، هاشم خان صبدر، صوفي عبدالحمید خان، محمد علي طالب لوګری، محمد حسین طالب، غلام سرور طاهر، ولي محمد طوفان، محمد احسان زهیر، عبدالعلي اخونزاده، مولانا عبدالقادر، عبدالله نورزی، محمد ګل عتیقي، سید عبدالقیوم عسکر، عطاء الله عطاء، محمد ابراهیم عطایي، عمر دین عمر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



امان الله عندليب، فضل احمد غازي، مير رحمان غازي، لعل محمد غريب، ميا غلام صديق، عبدالله غمخور، خان عبدالغني خان، عبدالمالک فدا، عبدالرزاق فراهي، غلام حضرت فقيد، محمد جان فناء، عبدالاحد اخوند، عطاء الله خان، محمد رفيق قانع، محمد طاهر قانت، عبدالروف قتيل، قلندر مومند، سيد محمود کارگر، محمد حسن کاکړ، اغا محمد کرزی، برهان الدين کشککي، برکت الله کمين، سيد احمد گلزار، سلېمان لايق، محمد گل للمه، داود خان لېوال، ماسټر عبدالکريم، محمد اغا متين، سيد شمس الدين مجروح، محمد موسی محتاج، عبدالکريم محب، محمد ايوب خان اڅکزی، ولي محمد مخلص، عبدالروف مخلص، عبدالعلي مستغني، مېرمن مستوره شال، محمد رسول مسلم، محمد اکبر معتمد شينواری، عبدالله مسيزی، عزيز الرحمن ممنون، عبدالمنان ملگری، عبدالطيف منتبار، محمد گل خان مومند، سيد مراد مين، سيد يوسف مېړنی، جنت گل نثاري، عبدالقدوس نجيب، عبدالحميد حنيف، احمد جان نشتر، نصر الله نصر، محمد نعيم جان، فاتح الملک ننگ يوسفزی، محمد گلاب ننگرهاری، عبدالرحيم ننگيالی، محمد گل نوري، محمد نسيم نوري، محمد انور نوميالی، عبدالخالق واسعي، محمد شفيق وجدان، فضل محمد وکيل، محمد يوسف ويران، محمد ويس کاکړ، عبدالصمد ويسا، عبدالرحيم هاتف، ظهور الله همدرد، نبي هوتک، سيد احسان هېر ، زلمی هېوادمل، عبدالباري جهاني، محمد صديق پسرلی))(۲:نيوليک) او گڼ شمېر نور لوی ليکوال راوټوکېدل.د پښتو ادب اسمان له ادبي ستورو ډک شو، همدا مهال و چې د پنځو لويو ادبي ستورو اصطلاح هم راوټوکېدله؛ استاد حبيبي، استاد رښتين، استاد بېنوا، استاد الفت او استاد خادم پنځه لوی ادبي ستوري وگڼل شول. دا هغه لوی ادبي ليکوال وو چې په رښتيا يې هم په معاصره ادبي دوره کې پښتو ادب ته ډېر زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمتونه وکړل، د نويو ادبياتو اساسات يې کېښودل او بيا په سلګونو نورو ليکوالو د دوی لاره تعقيب او پښتو ادبياتو ته يې د پرمختګ لاره اواره کړه. دلته غواړم د پښتو ادبياتو د همدغو لويو ادبي ستږو له جملې څخه خپلې موضوع ته راوګرځم او د (استاد قيام الدين خادم) پېژندنې ته تم شم.

د خادم صيب د ژوند په باب بېلابېلو ليکوالو ليکنې کړي او د استاد خادم پېژندنه يې کړې ده، سرمحقق زلمي هېوادمل يې پر ژوند او اثارو يوه اوږده او هر اړخيزه څېړنه کړې، استاد عبدالله بختاني خدمتګار پرې يو مستقل اثر ليکلی، ښاغلي لال پاچا ازمون هم پرې په (خادم باد سبا يم) کې يوه اوږده معلوماتي ليکنه کړې، استاد بېنوا بيا تر دې ټولو دمخه په اوسني ليکوال کې د استاد خادم په خپل قلم د هغه د ژوند په باب هر اړخيزه معلوماتي ليکنه چاپ کړې او خپله خادم صيب هم په نظم او نثر دواړو کې خپل ژوند تشريح کړی دی، نو ځکه خو د اکثرو ليکوالو د پېژندنې اساسي مواد همدا دي چې خادم صيب په خپل قلم او خپله ژبه په نثر او نظم کې بيان کړي دي. پر دې اساس نو موږ دده د لومړنۍ پېژندنې لپاره همدا مواد تر ټولو کره او اساسي ګڼو او پر همدې بسنه کوو. دغه راز به د نورو بېلابېلو ليکوالو له هغو نظرونو څخه هم ګټه پورته کړو چې نظرونه يې يو بل سره توپير لري او يا هم د (استاد قيام الدين خادم) ژوند او پېژندنې ته يې له بېلابېلو لوريو کتنه کړې او ځينې تياره ګوټونه يې روښانه کړي دي.

## ۱- زوکړه:

د استاد قيام الدين خادم د پېژندنې لپاره تر ټولو ښه او لومړی لاس اخځ د هغه خپلې ليکنې دي او خپل کلام دی، هغه د ځان پېژندنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باب وايي: ((زه تخميناً پر (۱۳۲۵هـ ق) کال په کامه کې زېږېدلی يم، زما د پلار نوم (ملا حسام الدين) او د نيکه نوم مې (ملا علي گل اخونزاده) دی چې د خپل وخت جيد عالم و، زما د پلار پلار او دا رنگه زموږ وړاندې سلسله ټول د خپل وخت د مروجه تعليم پر اساس تعليميافته او عالمان وو. زموږ په سلسله کې ناخوانه سړی نه دی تېر شوی. موږ د پلار له خوا د کوز کونړ د (شگې) له اخونزاده گانو څخه يو. د شگې خلک په قام زاخېل دي، چې د مومندو د پښتنو يو قام دی. مگر ما له خپل پلار څخه مکرر دا اورېدلي دي، چې زموږ وړاندې نيکه د (څوکنو ميا عمر صاحب) دی، دغه وجه ده چې زما له نامه سره په اخبارونو کې کله د (کاموي) او کله (زاخېلي) او کله (مياعمرزي) ليکلی شوی دی. ولې زما خپل تخلص**



(د خادم صيب لومړنی استوگنځی، د کامې زرشوی کلي يوه څنډه)

**(خادم) دی. کله کله مې له خپل نامه سره (سيلانی) هم ليکلی دی ځکه چې زما مورنی نيکه (سيدعبدالرحمن سيلانی) نومېده چې فقير صاحب يې بولي.))( ۲: ۳۹۲) .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لمریز کال په حساب استاد خادم پر (۱۲۸٦ل) کال زیږېدلی دی چې له (۱۹۰۷م) کال سره سمون خوري. استاد خادم خپله لنډه پېژندنه د یو لنډ نظم په بڼه هم بیان کړې ده. دا نظم (تعارف) نومېږي.**

**استاد خادم په دې نظم کې یو ځل بیا یادونه کړې چې  د پلار د پلار  له خوا د (میاعمر) لمسی او د پلار د مور له خوا بیا د (اخوند بابا) زوی دی. د پلار له طرفه یې د مور نصب (فقیر صاحب) ته رسي او د مور له موره (نیا) څخه یې ریښه (خواجه احرار) سره پیوندېږي.**

**ددې ترڅنګ دی بیا په دې نظم کې د خپلو نیکونو مراقد هم ښیي او وایي چې؛ (میا عمر صاحب) بیا په څمکنیو کې خښ دی او (فقیر صاحب) بیا د کامې ولسوالۍ په (خښیو) کې، ددې ترڅنګ د (اخوند بابا) او (خواجه احرار) یادونه هم کوي چې یو په کونړ او بل په هرات کې تدفین شوي دي. د (فقیر صاحب) یادونه کوي چې د (عبدالرحمن سیلاني) په نامه یادېږي او دده یو زوی (صاحب زاده مراد علي) نومېږي. استاد خادم یو ځل بیا د میا عمر یادونه کوي چې په ټولو پښتنو کې منلی و او زوی یا ځایناستی (خلیفه) یې (محمدي صاحب زاده) نومېده چې لوی شاعر و. خادم صیب یادونه کوي چې پښتو پالنه له مور و پلاره ورته په میراث پاتې ده او پلار و نیکه یې د پښتو پالنې د ډګر مخکښان و، نو ځکه دی هم له پښتو څخه هېڅ منکر نه شي منلای. خادم صیب د (خادم) پر تخلص سربېره ددې یادونه هم کوي چې په لیکنو کې یې کله کله ځان په (سیلاني)، کله (احراري) او کله هم په (میاعمرزي) نومولی دی. څرنګه چې پلار یې د ښېوې په شګه کې (خاړپوخي) کړي او هلته (زاخېل) ټبر اوسېده، نو ځکه خو ده کله کله ځان د (زاخېلي) په نامه هم یاد کړی دی. څرنګه چې د خادم صیب کورنۍ یوه علمي او مذهبي کورنۍ وه او دی هم د علم په همدې زانګو کې زنګېدلی، نو ځکه خو له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیله بیا تر دې دمه، دی هم پر همدې علمي لاره تللی دی. په دې ډول خادم صیب د (تعارف) په نامه شعر کې خپل ځان په ترتیب سره په ډېر ښه ډول معرفي کړی دی. ښه به وي چې د لا وضاحت په خاطر د خادم صیب دا نظم هم لوستونکو ته وړاندې کړو:**

## تعارف

(۱)

د پلار د پلار لخوا لمسی د میا عمر یمه زه
د پلار د مور نه د آخوند بابا پسر یمه زه
مور مې له پلاره د فقیر صاحب نصب ته رسي
د مور له موره د خواجه احرار ځیګر یمه زه

(۲)

د میا عمر صاحب زیارت په څمکنیو کې دی
فقیر صاحب د کامې بره خوا ښنیو کې دی
آخوند بابا دی په کونړ، خواجه احرار په هرات
خادم د دغه صاحبانو په لمسیو کې دی

(۳)

فقیر صاحب، عبدالرحمان سپلاني یاد ېږي
د ده فرزند صاحبزاده مُراد علي نومېږي
په پښتنو کې میا عمر دی په رښتیا منلی
د ده فرزند او خلیفه محمدي یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

محمدي صاحبزاده و لوی شاعر د پښتو
مُراد علي صاحبزاده و مفسر د پښتو
د پلار و موره میراثه را له پښتو پاتې ده
خادم به و نه مني هېڅکله منکر د پښتو

(۵)

یمه خادم کله مې ځانته سپلاني وییلی
کله مې ځان په احراري، میا عمرزي ښوولی
پلار مې د شګې په زاخېلو کې خاړپوڅې کړي
پدې لحاظ مې کله ځان په زاخېلي بللی
د علم و فقر په ځانګو کې زېږېدلی یمه
له ابتداء نه پدې لاره باندې تللی یمه.

(۲۹: ۳-۴)

د استاد خادم دا نظم که څه هم په ساده الفاظو کې اوډل شوی او له شعري تلازماتو څخه یې په کې ډېر کار نه دی اخیستی، خو ده په کې خپل ځان په ښه ډول معرفي کړی دی. په دې ډول نظمونو کې د استعارو، کنایو او ډول ډول تشبیهاتو راوړل ځکه اسانه نه دي چې موضوع سپینه ده او باید په مستقیم ډول بیان شي. د (تعارف) په نامه د استاد دا نظم ډېر لنډ، ساده، بې تکلفه او ټولو ته د پوهېدلو وړ دی او د ده د پېژندنې ښه انځورګري کوي. که څوک د خادم صیب د ژوند تفصیلي اړخونو ته داخل هم نه شي، نو دا یو نظم هم ددې جوګه دی چې د لوستونکي ذهن ته د استاد خادم د پېژندنې لومړنی انځور وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- زده کړه:

څرنګه چې قیام الدین خادم په یوه دیني او علمي کورنۍ کې زېږېدلی دی، نو طبیعي خبره ده چې د زده کړې لومړنی چاپېریال یې هم د ده خپله کورنۍ ګڼل کېږي. خادم خپلې لومړنۍ دیني زده کړې له خپل پلاره پیل کړې، لومړی یې (بغدادي قاعده) او بیا یې ورپسې د (قران کریم) زده کړه له خپل پلاره پیل کړه او بیا یې ورپسې په ترتیب سره د خپل وخت نور دودیز، په تېره بیا دیني علوم تعقیب او په هغو پسې سفرونه پیل کړل. خپله استاد خادم په دې باب وایي: (( د ورکوټوالي څخه زما والد زما او زما د نورو وروڼو په خواندګۍ کې کوښښ کاوه. د قران شریف او ځینې د نظم کتابونه ما د خپل والد څخه ولوستل، زما د خط سره ډېر شوق و. ما د خپل ځانه سره قلمونه، کاغذونه او قسم قسم رنګونه ګرزول او تمامه ورځ به اخته وم.

کوم وخت به چې راسره قلم او کاغذ نه و، نو په ډکو باندې به مې په دېوالونو خط کاوه او پښتو، فارسي یا عربي عبارتونه به مې لیکل، دا و چې په لږه زمانه کې زما پوره املا او خوشخطي زده شوه.

زما پلار چې زما خط ته ملتفت شو، نو زه د ډېر تحسین او افرین مورد وګرځېدم. زما پلار به د خوش طبعۍ په ډول کله کله د اشنایانو په مخکې ویل: ((د افلاطون زوی دی. هر څه یې له ځانه یاد دي.))

د خط په زده کړه همدغسې بې استاده په خپل شوق لګیا وم. کوم وخت چې مې په ګلستان او بوستان او نورو پاړسي کتابو شروع وکړه، نو څو میاشتې مې له استاذ څخه هم خط وکړ. زما د خط د استاد نوم ملا خلیل و، ما دده فقط یوه سرنامه پخه کړې ده، چې هغه تراوسه ما ساتلې ده. ټولټال به دا سرنامه پنځه کرښې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مهربان استاد به تل زما د طبیعت ستاینه کوله او ویل به یې دده په وچولي کې منطق ځلېږي.

تر دې وروسته ما د فقې متون د (کنزه) پورې وویل. ما د خپل پلار د خولې نه اورېدلي وو، چې مور ته به یې ویل چې ((زه په تاسو صرف او نحو اول وایم، بیا د علومو اصلاحات درښیم، تاسو نور په خپله ملایان کېږئ.))



(بوډیالۍ کلی) خادم صیب خپلې لومړنۍ دیني زده کړې په همدې کلي کې ترسره

زما د والدې مقوله ده، دې به ویل: ((ستاسو تنسته او بوده ورېښم دي، تاسو ته لږ اشارت کافي دی.)) (۲: ۲۹۱)

استاد خادم تر دې وروسته هڅه کړې چې نورو زده کړو پسې له کوره بهر ووځي. دی لیکي: ((زه د خپل پلار په تېره وینا چې اوس دده د مرحمت سیورې زموږ د سر نه پورته شوی و، د خپل یو بل استاد په معرفت د کونړ (بوډیالۍ) ته د (صرف میر) د یادولو لپاره لاړم. ما په اول سبق کې د (نصري گردان صغیر) ټول واخیست او دغه استاذ مې اریان پاتې شو. نورو شاگردانو ته یې وویل او یوه هنگامه پورته شوه پس له څو ورځو څخه ټول همدرسان د ما نه مخالفه شول. زما به دې خبرې ته چندان پام نه و، ځکه چې زما مطالعه او ملاحظه لا تر دې حده نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدلې چې د نفس مقابله او موازنه د خارج او نورو اشخاصو سره وکړم. په اخره کې د ملګرو رقابت د حسد درجې ته ورسېد. ځکه چې زه خبر نه وم او د خپلو ډېرو همدرسانو څخه تېر شوی وم. دلته ما په یوه میاشت کې (۱۸) بابه صرف میر یاد کړو او بیا کاله ته راغلم.

په کور کې مې د صرف او نحوې کتابونه وویل، بل هغه وخت چې ما (صرف میر) شروع کړی و، (کافیې) ته رسېدلی وم او د (منیې) پورې (هدایت النحو) او څه (شرح ماته عامل) سره د نظم مې په یاد کړي وو. په څه موده کې ما ((کافیه)) وویله او یاده مې کړه. وروسته مې ((شرح ملا)) شروع کړو. د (مرفوعاتو) پورې ((شرح جامي)) په عبارت سره زما یاد شو. اوس نو زه کامې نه علاوه د (لړه موړې، کنډي باغ، اګام، ارغچ، کیلغو، کابل، پېښور) او داسې نورو ځایونو په درسونو ګرزېدلی وم او د صرف او نحوې د کافي معلوماتو په واسطه مې په درسونو کې ښایسته شهرت حاصل کړی و او په دې اورېدو سره چې ((فلانی ښه پوهېږي)) په ما کې یو مخصوص د بې پروایي حس هم پیداشوی و... ددې مرحلې نه وروسته ما د منطق په رسالو لاس پورې کړو:

(ایساغوجي) مې یاده کړه او د (حصارک) او (سرشاهي) په درسونو د ګرځېدلو نه پس لاړم (پېښور) ته او متعاقباً ورپسې د (مکهړ) مدرسې ته او بیا (ډیلي) او (لودهیانې) ته لاړم. څو چې د خپل صحت په خرابۍ پوه شوم، نو بیا راغلم کابل ته. ددې وخته پورې ما صرف، نحو، منطق، حکمت، کلام، فقه، تفسیر، حدیث، مناظر، اصول فقه، طب او نور مروجه علوم لوستي وو. کافیه، ایساغوجي او هدایة الحکمت د ډېرو کالو پورې زما د الحمد په شان یاد وو..)) (۲: ۲۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم تر سپین ږیرتوبه له زده کړې او لوسته لاس وانخیست. د زده کړې، شعور او تفکر پایلو دی د استادۍ درجې ته ورساوه. ده نه یوازې د نورو کتابونه ولوستل، بلکې نورو ته یې خپل کتابونه هم وړاندې کړل.**

**استاد خادم ته د اوسني وخت د عصري علومو لړۍ او پوړۍ برابرې نه وې او نه هم هغه وخت له روزنځي، ښوونځي څخه تر پوهنځي او پوهنتونه د زده کړو منظمې او سستماتیکې لړۍ او پوړۍ موجودې وې، خو کوم دودیز علوم، په تېره بیا دیني زده کړې او نور علوم چې هغه وخت یې د زده کړې چانس او امکان و، استاد خادم اکثرو هغو ته ځان ورسولی دی. هغه که لرې وو که نږدې، سخت وو که اسانه، خو ده شپه او ورځ پرځان یوه کړې او د خپل وخت اکثره علوم یې په ښه ډول زده کړي وو، نه یوازې چې خپله یې زده کړي وو، بلکې نورو ته یې هم ورزده کړي دي.**

**په دې ډول د استاد خادم د ژوند ډېره برخه پر زده کړه، ښوونه او نورو ته پر تعلیم تېره شوې ده؛ د متعلم او معلم (زده کوونکي او ښوونکي) دواړه مرحلې یې تېرې کړې دي. خادم یو وخت په خپل کور کې زده‌کوونکی و، بیا تر کوره بهر په مسجد او مدرسه کې او بیا له خپلې پلرنۍ سیمې لرې سیمو ته یې په علم پسې سفر کړی او کله چې یې د علمي سفر توښه او ثمر ترلاسه کړي، هغه یې بیا بېرته په خپل کلي ولس او سیمه کې پر نورو خلکو وېشلي دي. د استاد خادم په شان ډېر کم اشخاص پیداکېږي چې له ماشومتوبه تر بوډاتوبه ټول عمر یې په روزنیز، ښوونیز، علمي او تدریسي بهیر کې تېر شوی وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- لیکوالي:

لکه څنګه چې مو د هغه په پېژندنه کې مو ولوستل؛ خادم له کوچنیتوبه یو ځیرک، هوښیار، متشبث، متجسس، هڅاند او ژورلیدی انسان و، نو طبیعي خبره ده چې له داسې انسان څخه په پای کې د یوه لوی عظیم انسان، لیکوال او پوهاند د جوړېدو هیله کېدی شي، خادم له کوچنیتوبه له قلم، لیک او لیکوالۍ سره روږدی و، دا چې ده لومړی لیکوالي څه وخت؟ څنګه؟ او چېرته پیل کړه؟ دی په خپله وایي:

((اول- وار- زه په ۱۳۰۴ هـ ش کې په کامه کې د ابتدایې مکتب معلم مقرر شوم او بیا لږ وروسته لاړم هندوستان ته، بیا په جلال اباد کې معلم مقرر شوم، په دې موده کې زه سخت پرېشان وم او د پرېشانۍ اسباب مې ناجوړتیا، د تحصیل پرېښودل او د حیات په کارزار کې داخلېدل وو. په دې وخت کې زه د ژوندانه د یو سخت انقلاب په چپو کې روان وم. راغلم د لواړګي په یو کلي کې مې اویا تنو هلکانو ته لیک لوست زده کاوه. زه موفق شوم چې په درې میاشتو کې هلکان خوانندہ او په شپږو میاشتو کې یې خواننده او نویسنده کړم. زه تقریباً دوه نیم کاله په لواړګي کې وم. همدلته زما د شاعرۍ، نویسنده ګۍ او ادبیاتو مرموز ذوق انکشاف پیدا کړ. همدلته وم چې کوزده مې وکړه او له همدې ځایه د ۱۳۱۲ په اخره کې د کندهار د پښتو ادبي انجمن په عضویت مقرر شوم او لاړم. د تعلیم په ضمن کې ما اردو ژبه زده کړې وه. لیک مې هم په کې کولای شو، تعلیم مې عربي کې و او په عربي مې ښه څه لیکلی شول.

پښتو مې خپله ژبه وه او له اوله څخه بې د چا د ښودنې ځنې ما د پښتو په لیک شروع کړې وه. څه ناڅه په انګریزۍ هم پوهېدم، نو ګویا ما ته د نویسندګۍ زمینه تیاره وه. د شاعرۍ ذوق په ما کې له وړوکیني څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. د ورکوټوالي څخه په ما کې د یو نامعلوم تحیر، تجسس او لټون ماده پرته وه.

زما یاد دي چې زه وړوکی وم او چېرته لرې د خپلوانو په یو کور کې اوسېدم، هلته یوه ښځه وه چې به تل زه په دې خبره رټلم چې: ((ته – څومره ډېرې پوښتنې کوې؟)) زه اوس پوهېږم چې دا زما د فطرت تقاضا وه، بروز کول یې غوښتل.

حاصل دا چې په تمام عمر کې زما دا خاصیت و چې هر شي ته به مې په یوه بېله نګاه کتل، تخمونه به مې کرل او زر زر به مې راسپړل چې وګورم دا څنګه جوړ شوي دي؟ ټوپک سپړلو او لیدلو ته به لېواله وم چې وګورم ډز څنګه کېږي؟ کارتوس څنګه لوېږي؟ کوټکه څنګه ښکته پورته کېږي؟ او داسې نور... د ګاډي ټېسن ته به چې لاړم خلکو به نور څه کول. ما نه به ملګري لاړل، مګر زه به د انجن په تماشه نه مړېدم، ولاړ به وم، کتل به مې چې یوه پرزه په بلې څه تعلق لري؟ څنګه حرکت کوي؟ او څه رنګ دا دروند بار کش کوي؟ دغسې به زه کایناتو او د هغې نظام ته هم ملتفت کېدم. د حیات شاوخوا او د اجتماع ادارې ته هغه وخت زما فکر پیدا شو چې د اخبارونو سره اشنا شوم. دغه وخت د قومیت، ملیت او په اخره کې د انسانیت معناګانو ته ملتفت شوم او هغه حیرت او تحیر چې په ما کې طبیعي پروت و، اوس ورسره درد او خوږ هم ملګری شو. (دا درد مجمل و او زه یې په تفسیر قادر نه وم، خو هغه وخت چې ما د (اقبال) اثار ولوستل، زما د زړه د مبهم درد ترجماني یې راته څه وکړه. زما لومړنی نظم چې په (اتحاد مشرقي) کې نشر شوی دی، (شه بیدار پښتونه!) نومېږي، زما ړومبی نثر چې هغه هم په اتحاد مشرقي کې نشر شوی دی، له اردو څخه یوه ترجمه ده چې د کار او صحت په متعلق ده...))

(۲: ۲۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و د خادم صیب د لیکوالۍ د پیل سریزه. خادم صیب د خپلې لیکوالۍ له پیله بیا د خپل ژوند تر پایه له دې مسلک سره ملګری پاتې شو او د خپل عمر تر وروستني بریده یې دا مسلک وپاله. خادم صیب نږدې پنځوس کاله په منظم او متواتر ډول لیکوالي وکړه او په دې بهیر کې یې په لسګونو علمي، څېړنیز او ادبي اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کړل چې دده د اثارو په بحث کې به پرې تفصیلي بحث وشي.

## ۴- دندې:

د استاد خادم د رسمي او نارسمي دندو په باب خپله استاد خادم او ځینو نورو لیکوالو پوره څرګندونې کړې دي. ښاغلي لال پاچا ازمون چې د استاد خادم منظوم کلیات یې راټول او چاپ کړي دي، په دې اثر کې یې د استاد خادم پر نورې پېژندګلوۍ سربېره د هغه دندې هم معرفي کړې دي. د هغه په وینا:

((استاد خادم د خپل ژوند په بهیر کې هیله لرله چې د دودیزو علومو یو کتاب هم ترې نالوستی پاتې نه شي. زده کړه وکړي، خو د ژوند تنګلاسیو او بې وسیو دده د ارمانونو مخه ونیوله او دی یې د خپلو هیلو بریا ته پرې نښود. دی په خپله وایي: ((ما پنځلس کاله سفر وکړ. زیات د طبیعت د ناسازۍ او لږ د دې جهته چې زما تحصیل تر یوه حده ورسېد، نو زه لا تراوسه بې رېږې او هلک وم چې د تدریس مقام ماته په لاس نه شو راتللی، نو ناعلاجه مې په نوکرۍ شروع وکړه او په جلال آباد کې د ابتدایي مکتب معلم شوم. څو موده پس ورپسې د رشدیې تعلیمونه هم راکړی شو، مګر په دې وختو کې زه ناسازه وم.))

خو په یو بل ځای کې لیکي چې: ((اول وار زه په ۱۳۰۴ش کې په کامه کې د ابتدایي مکتب معلم مقرر شوم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر د ده د دندې لومړنی بنسټ همدا د ښوونې سپېڅلې دنده وه او له ځرګندونو یې داسې ښکاري چې لومړی ځل په خپل پلرني ټاټوبي (کامه) کې پر ښوونه بوختېږي. یو څه مهال یې رنځ د هندوستان پر طبیبانو ګرځوي. له هغه ځایه چې راستنېږي، نو بیا په جلال اباد کې ښوونکی ټاکل کېږي.

داسې پوه شخصیتونه غواړي چې د ژوند تر پایه زده کړه وکړي. خو د مهال د تنګلاسۍ او بې وسۍ له لاسه یې د زړه هیله نه خړوبېږي. خادم صاحب چې هم د زمانې تنګلاسي او بې وسي زده کړې ته نه پرېږدي، نو لاس کاروبار ته اچوي. پرېشانۍ او د زمانې د ناخوالو رنځورتیا دی دې فکر ته هم نه پرېږدي چې په کاروبار کې کومه لاره ونیسي: ((... زه د ژوندانه د یو سخت انقلاب په چپو کې روان وم. ما د ځان لپاره کوم مسلک نه و خوښ کړی چې په هغې مشغول شوی وای. د تعلیم له دایرې راوتلی وم یا په بل عبارت د خپلې یوې خوږې او د زړه پورې معشوقې نه په ناچارۍ بېل شوی وم، په تیاره شپه کې روان وم. لاره رانه ورکه وه او نه پوهېدم چې چېرته لاړ شم؟

خیر کوم وخت چې اعلیحضرت نادرشاه شهید په خپل جلوس د پښتنو تاج ته زینت ورکړ، نو زه د معالجې په نیت پېښور ته لاړم. په هغه حوزه کې د کوهاټه پورې وګرځېدم او بیا راغلم د لواړګي په یو کلي کې مې اویا تنو هلکانو ته لیک و لوست زده کاوه. زه موفق شوم چې په درې میاشتو کې هلک خواننده او شپږو میاشتو کې یې خواننده او نویسنده کړم... زه تقریباً دوه نیم کاله په لواړګي کې وم. همدلته زما د شاعرۍ، نویسندګۍ او ادبیاتو مرموز ذوق انکشاف پیداکړ. همدلته وم چې کوزده مې وکړه او له همدې ځایه د ۱۳۱۲ په اخره کې د کندهار د پښتو ادبي انجمن په عضویت مقرر شوم او لاړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صاحب د خپل هڅاند ذهن، پوهې او فکر له برکته د لواړگي تر جوماته پاتې نه شو. پر (۲۴/۱۱/۱۳۱۱) نېټه کندهار ته ځي او هلته پر (۱۳۱۲ل) کال د کندهار په ادبي انجمن کې مقررېږي. کله چې دغه انجمن پر (۲۵/۵/۱۳۱۴) نېټه کابل ته راکډه کېږي، تر یو مهاله د پوهنې په وزارت پورې تړل کېږي او تر هغه وروسته پر (۱۳۱۵ل) کال، کابل انجمن د پښتو پر انجمن گډېږي او بیا وروسته پر (۱۳۱٦ل) کال (پښتو ټولنه) رامنځته کېږي، ددې ټولنې خپرونه (زېری) د درې میاشتو لپاره ده ته سپارله کېږي. پر (۱۳۱۸ل) کال په همدې ټولنه کې د تالیف او ژباړې څانگې مشر ټاکل کېږي. د خادم وړتیا ورو ورو دی خپل مقام ته رسوي. د (۱۳۲۰ل) کال د زمري پر لومړۍ نېټه د پښتو ټولنې عمومي مرستیال ټاکل کېږي. پر (۱۳۲۱ل) د اتحاد مشرقي مدیر او پر (۱۳۲۴ل) د دایرة‌المعارف د ژباړې مدیر په توگه دنده پرمخ بیایي. خو پر (۱۳۲۵ل) له مطبوعاتي بهیره د تعاوني ډیپو د پلټنو مدیریت ته کډه وړي او هلته د یادې څانگې د لوی مدیر په توگه گومارل کېږي. له دغه ځایه یې بیا سر په هرات لگي. خو پر (۱۳۲۹ل)کال بېرته خپل مسلک ته راځي او د کندهار د (طلوع افغان) د مدیر په توگه گومارل کېږي. شاوخوا یو کال دغلته دنده ترسره کوي. پر (۱۳۳۰ل) کال د (کابل) مجلې چلوونکی ټاکل کېږي. یو کال دغه دنده پرمخ بیایي، خو بیا پر (۱۳۳۱ل) کال له مطبوعاتي بهیره د سروبي برېښنا فابریکې کوپراتیف مدیریت ته کډه وړي او د مدیر په توگه گومارل کېږي. تر یو کلن مدیریته وروسته پر (۱۳۳۲ل) کال د (اصلاح) ورځپاڼې د مدیر په توگه راځي. تر دغې دندې وروسته څو کاله د کورسونو مدیر (د پښتو تدریساتو مدیریت) او د (زېري) چلوونکی پاتې کېږي. پر (۱۳۳۵ل) کال چې پښتو ټولنه له مدیریته ریاست ته لوړېږي، استاد الفت یې د مشر په توگه گومارل کېږي. د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تدریساتو لوی مدیریت د زېري له جریدې سره پښتو ټولنې پورې تړل کېږي. دا مهال د پښتو ټولنې غړیو ته د علمي درجو لایحه منظورېږي، نو کره او پاخه لیکوال ورته رامخه کوي. دا مهال استاد خادم د پښتو ټولنې غړی ټاکل کېږي، د علمي درجو پر بنسټ دی او استاد الفت د (څېړنوال) په علمي درجو ومنل شول. پر (۱۳۴۱ل) کال چې په پښتو ټولنه کې ادلون بدلون راغی، نو استاد خادم ته دندې خوند نه ورکاوه. کرار پر کور کېناست. یو کال یې په کور کې له ماموریته وزګار وخت پر لیکنو تېر کړ. خو د (۱۳۴۲ل) کال په لومړیو میاشتو کې د رییس په بست کې د (هېواد) ورځپاڼې د مسوول مدیر په توګه وټاکل شو. تر (۱۳۴۴ل) کاله پورې ددې ورځپاڼې مشر و. پر (۱۳۴۴ل) کال د مشرانو جرګې لپاره د انتصابي سناتور په توګه د ملت خدمت ته ټاکل کېږي، چې ددې دورې تر پای ته رسېدو وروسته یې بیا بله رسمي دنده وانه خیسته. استاد بختاني خدمتګار لیکي چې: ((استاد سره له پخوا نه دا شوق و چې د ملي شورا غړی (وکیل) دې شي. د ولسي جرګې د وکالت د اتمې دورې لپاره یې ځان په کامه کې کاندید کړی و. مګر د بې علمۍ د عمومیت، د حاکمه طبقاتو د زیاتو مداخلو او په انتخاباتو کې د زیاتو پیسو د لګولو په وجه، خلکو ونه شوای کولای چې خپل خادمان انتخاب کړي. استاد خپله ناکامي ولیده ( د زړه درد) یې داسې څرګند کړ:**

د پښتون په غلامۍ مې زړه خوږېږي
د خپل قام په بدنامۍ مې زړه خوږېږي
غیرتي پښتون غلام د بل غلام دی
د فلک په بې راسۍ مې زړه خوږېږي
یار د یار جېبو ته ګوري دی سلګۍ کا
ددې مینې په خامۍ مې زړه خوږېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه د ځــان او نــه د قــام شـــولې خادمـــه
ستا پــه داسې ناکــامۍ مــې زړه خـوږېږي.

یو بل ځل یې بیا وغوښتل چې ځان کاندید کړي. مګر د بریالیتوب لپاره یې رو ګودر ونه لید او پاته شو...)) [۱۲: ۱۲-۱٦]

پر یادو دندو سربېره استاد خادم د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د استاد په توګه دنده هم ترسره کړې ده او هلته یې د هېواد سلګونه اولادونه په ښه ډول روزلي دي. دغه راز لکه څنګه چې یادونه وشوه استاد خادم د مشرانو جرګې د انتصابي سناتور په توګه هم خپله ملي دنده، مسولیت او رسالت په ښه ډول ترسره کړی دی.

## ۵- اثار:

استاد خادم دوه اویا (۷۲) کاله په دې دنیا کې تېر کړل، ژوند یې که له یوې خوا له ستړیاوو او کړاوونو ډک و، نو لاسته راوړنې او بریاوې یې هم کمې نه وې، په تېره بیا په ادبي او علمي ډګر کې. استاد خادم نږدې (۵۰) کاله په متواتر او منظم ډول لیکوالي وکړه او ټولنې ته یې تلپاتې اثار وړاندې کړل.

استاد خادم په دې نیمه پېړۍ کې په لسګونو، علمي، ادبي او تاریخي اثار ولیکل، چې مجموعي شمېر یې د خادم صیب د لور (ډاکترې ثریا خادم) په وینا تر (۷۰) بېلابېلو عنوانونو اوړي. (نبوغ او عبقریت، د ډاکترې ثریا خادم یادونه او مننه). دی د همدې اثارو له کبله په ټولنه کې د یوه څېړونکي، شاعر، کره کتونکي، ژورنالېست، عالم او استاد په توګه مطرح شو. د استاد د اثارو یوه برخه دده د ژوند پرمهال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني یې تر ژوندون وروسته چاپ شول، ځیني یې لا اوس هم ناچاپ پاتې او یو شمېر یې ان له منځه تللي دي.

د استاد په اثارو کې منظوم او منثور دواړه شامل دي چې د هرې برخې څېړنه یې جلا بحث ته اړتیا لري.

موږ به ددې اثر په درېیمه برخه کې هغه په تفصیلي ډول وڅېړو، خو دلته یې یوازې نومونه اخلو:

((معلم د پښتو، پښتو کلی: ۱-۴ ټوکونه، د کوچنیانو اخلاقي پالنه، نوی ژوندون، پښتونولي، بایزید روښان، د شریف سرگذشت، د مرغلرو امېل، څاروان، خیالي دنیا، نبوغ او عبقریت، نوې رڼا، د پښتو نثر لیکوال، د پښتو د تاریخ یوه زړه پاڼه، د خوشال او رحمان موازنه، مکارم‌الاخلاق، پښتانه شعرا، پارسیان څوک وو؟، په تذکرة الاولیا تبصره، کوشانیان څوک وو؟، د بابا نصیحت، سید کمال او ببوجانه، د پښتو پټۍ، لوی اصحابان، نشنلیزم او انټر نشنلیزم، افغاني حکومت، د پښتو نثر تاریخي تطورات او دنثر لیکونکو تذکره، معیاري پښتو، لرغوني پښتانه قومونه، پښتو قرائت د دویم ټولگي لپاره، پښتو قرائت د درېیم ټولگي لپاره، د پښتونخوا قیصې، مکالمات، غریزه حب خیر، سورگل، کانفرانسونه، کره پښتو، پښتو زده کړه، نصوص الحکم، د پښتو شاعري، پښتو په عربي لیکدود، پښتني پور، پېړۍ او پښتانه، د پښتنو قامولي، غوره سندرې، د پښتو مشاعرې، اینده پښتنو ته، د تنقید حق، ساتلې خزانې، د پښتو ولسي ادب، د ادبي نثرونو مجموعه، د داستانونو مجموعه، مجلسي شاعران)) (محمد اسمعیل یون، د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، یون کلتوري یون، ۱۳۸۸ل کال، ۴۰-۴۲مخونه)، د خوشال دستارنامې ته یوه کتنه، د پټې خزانې په باب توضیحات، شعر و ادب، د پښتون سټه او څانگې، اسماني غږ، د سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنو ټولګه، د علمي لیکنو ټولګه، د ژورنالیستیکو لیکنو ټولګه، د دري لیکنو ټولګه، پښتو موسیقي، )) او نور...

پر یادو کتابونو سربېره دانش کتابتون، د استاد خادم منظوم کلیات (خادم باد سبا یم) او علومو اکاډمۍ منثور کلیات (رڼه چینه) چې د یادو منظومو او منثور اثارو یوه درنه برخه په کې خوندي شوې، هم چاپ کړي. په دې ډول هغه کمی چې د استاد خادم د چاپي اثارو د کموالي له امله احساسېده، تر یوه حده رفع شوی دی.

څرنګه چې د استاد د اثارو پېژندنې ته مو په بله برخه کې ځانګړی ځای ورکړی، نو ځکه  د تکرار د مخنیوي په خاطر دلته د هغو له سپړنې او یادونې تېرېږو او اوس یې پر سیاسي فکر او هڅو هم لنډه رڼا اچوو:

## ٦- سیاسي فکر، ژوند او هڅې:

ځینې کسان انسان یو سیاسي موجود ګڼي، وایي سیاست له ټولنیز چاپېریال څخه الهام اخلي، هر څه چې په ټولنه کې وي، په سیاست کې څرګندېږي، ټولنیز ژوند او سیاست دواړه بیا پر هنر هم مستقیم تاثیر لري. پښتانه لیکوال چې اکثره په جبري سیاست کې راګیر شوي، همدا ټولنیز تصویر یې په کلام کې څرګندېږي. استاد خادم هم د ټولنې د یوه حساس لیکوال په توګه په جبري او اختیاري ډول سیاست ته داخل شوی. خادم پر ټولنیزو ناخوالو نیوکه کوي او دا د سمون یوه لاره ګڼي، استاد که له یوې خوا پر نورو نیوکه خپل حق ګڼي. پر ځان هم د نورو نیوکه د هغوی حق ګڼي. هغه په دې باب وایي: (( په ژوندانه کې هېڅوک له انتقاده نه دي خلاص، هغه انتقادونه چې په ما یې خلک کوي دادي:

وایي: ((نه منونکی سړی دی)) دا انتقاد به په ما باندې زما والدې هم هر وخت کاوه مګر زما جواب به دا و چې: ((که زه منونکی وای خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به هم د نورو خلکو غوندې وای. په ورکوټوالي کې به مې د مور سره تل په دې جنگ و. دې به ویل: (( خلک داسې کوي او ته داسې)) ما به ویل چې ((خلک راته مه یادوه خلک خو هر څه کوي.)) استاد محمد صدیق روهي هم په خپله یوه لیکنه کې د ټولنې د سمون او همدارنگه د استاد خادم دیوه ټولنیز اندود په توگه پورتنیو انتقادونو ته اشاره کړې ده. دغه راز د استاد عبدالروف بېنوا هم دې ډول نیوکو ته نغوته کړې ده.

ښاغلی لال پاچا ازمون چې د استاد خادم د سیاسي ژوند په باب یې یوه تحلیلي لیکنه کړې او په (خادم باد سبا یم) اثر کې یې چاپ کړې ده، د خلکو د نیوکو په باب د استاد خادم د پورتني ځواب په باب وایي:

[د استاد خادم ځواب په دې برخه کې یو منطق لري او هغه دا چې دی په خپله د یو فکر څښتن دی، د فکر څښتنان هڅه کوي چې خپله خبره وکړي، خپل منطق ووايي، د نورو خبرې که هم کوي، نو هغه لومړی له ځانه سره تحلیلوي، هضموي یې، د یو فکر په پایله کې یې له منطقي تسلسل او خپل نظر سره د وړاندې کولو هڅه کوي. یوازې حوالې نه ورکوي. داسې انسانان غواړي چې له خپله ځانه وړتیا وښیي.

استاد خادم یو بل ځای کې بیا خپل اصولي او منطقي دریځ، چې په هغه کې د ده علمي او عملي شخصیت څرگندېږي، داسې په گوته کوي: (( وایي ډېر بحث کوي او نه قانع کېږي. مگر ما مخکې ویلي دي چې په ورکوټوالي کې به هم زه خپلو خپلوانو په دې ترټلم چې: (څومره ډېرې پوښتنې کوې.) دا خبره زه نه شم فیصله کولای چې دا د خلکو قصور دی او که زما عیب؟

استادان به هم زما پوښتنو ته اریان وو. زه په خپله هم پر دې قانع یم چې بحث مې خوښ دی، مگر په اساسي او اصولي خبرو، نه مطلق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحث. دغه وجه ده چې په عادي مجالسو کې زه اکثره غلی پاتې کېږم او خلک وايي ډېر ښه او ساکت سړی دی. زه د خلکو نه په دې شاکي یم چې ماته هېڅکله د پوره بحث موقع نه ده راکړی شوې چې ما في الضمیر ښه واضح ووایم او هغه چې وروسته یې صداقت ښکاره کېږي، دوی پرې پوه کړم.))**

**هوښیار او د منطق خاوندان هڅه کوي چې پر یو څه ځان ښه پوه کړي. په پټو سترگو او کڼو غوږونو یو څه ژر نه مني. ځان پرې قانع کوي او بیا یې منل هم له خپل تحلیل او نظر سره وړاندې کوي. استاد خادم چې د فلسفي او منطقي نظرونو څښتن دی، نو د منطق پر خاوندانو د خپلې کمزورې او نامنطقه خبرې منل ناشونې خبره ده. استاد غواړي چې په بار بار پوښتنو یوه موضوع ځانته ښه څرگنده کړي. دغه څرگندتیا او په بار بار پوښتنې په ورته وخت کې دده د نظر او فکر څرگندونه هم کوي. دی په هغو مجلسونو کې چې هلته د فکر او نظر څرگندونه نه کېږي، غلی پاتې کېږي، خو په هغو مجلسونو کې چې پر منطق او فکر ولاړ دي، په هغوی کې دی د خپل نظر او فکر څرگندونه غواړي.**

**لکه څنگه چې استاد خادم په غونډو او مجلسونو کې د منطقي خبرو، فکر او نظر څرگندولو پلوی دی، همداسې دی غواړي چې هر انسان باید خپل نظر او فکر پرته له کوم خنډوځنډه څرگند کړي. دا د هر انسان یو طبیعي حق بولي. ((وایي سرشوخه دی)) مگر دوستان مې وایي، ادبي شجاعت لري. په ورکوټوالي کې راته خلکو ویل چې: ((کلان کاری دی.)) ولې په ازادۍ خو زه په خپله هم قایل یم او دا ځکه چې (د طمعې بار زما په ورمېږ نه شته.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی خلک هېڅکله هم پر خپلو اورمېږونو دطمعې بار نه وړي. د داسې فکر څښتنانو ژوند پر واقعیت او حقیقت ولاړ وي. دوی د جرئت ، پر خپل نفس د حاکمیت او مېړانې څښتنان وي او د ژوند گانه هم اخلاقي جرئت گڼي. د استاد خادم جرئت له استغنی زېږېدلی. پر لېمو کوزگوري بانه او مړاوې وریځې نه مني. دی پر خپلې استغنی لېمو ته د غرور درس ورکوي او بانه لکه پښتانه گرځوي. د وېرې او ډار ساړه یې هم په زړه نه ننه وځي. نېغه خبره کوي: که وم وم که نه وم نه وم. د داسې نظریې انسان چې هغه د ژوند شمله د تمې پښو ته ټیټه نه کړي، د هغوی ژوند له حقیقت سره وي او همداسې زېږې او نرې خبرې کوي.

داسې شخصیتونه چې د ژوند او شخصیت بنسټ یې پر استغنی، اخلاقي جرئت، منطق، فکر او نظر ولاړ وي، طبیعي خبره ده چې هغوی د یوې سیاسي ایډیالوژۍ او ټولنیزو اخلاقو خاوندان وي. د هغوی فکر د ځان د راڅرگندولو لپاره یو لوری نیسي. استاد خادم پر همدې بنسټ د خپل نظر څرگندولو لپاره څو نور ملگري پیداکوي، له هغوی سره په گډه د (افغان ملت) بنسټ ږدي. قلمي مبارزه پیلوي. د افغان ملت په جریده کې لیکنې خپروي، خو ((کله چې په دې ډله کې انشعاب راغی، یو شمېر کسان ترې بېل شول او د (ملت) په نامه یې بله جریده وایستله، استاد خادم هم خواشینی شو، ډله یې پرې ښودله او د خپلو افکارو، نظریاتو او اثارو د خپرولو لپاره یې پر (۱۳۴۸ل) کال د (افغان ولس) په نامه خپله جریده راوایستله. ددې جریدې د امتیاز خاوند او چلوونکی په خپله استاد و. هغه غوښتل چې ددې جریدې په شاوخوا کې یوه ملي ډله جوړه کړي، خو ونه شو.))

استاد دغه جریده هم د مالي کمزورۍ او د حکومت د فشار له امله تر (یوولسو) گڼو زیاته خپره نه شوه کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد د ویښ زلمیانو په ټولنیز حرکت کې چې زیاتره په کې فرهنګیان وو، د یو موسس او ولایتي مسوول په توګه پاتې شوی دی.]

(۱۲: ۳۲-۳۷)

د ویښ زلمیانو د غورځنګ په باب ښاغلي محمد عالم بځرکي یو کتاب لیکلی ، د دې کتاب نوم دی: (ویښ ځلمیان د افغانستان یو سیاسي تحریک). په دې اثر کې راغلي دي:

[د(۱۳۲۷ل) کال د جوزا میاشتی پر اوومه نېټه د ویښو ځلمیانو د تدارک کمېسیون د لارښوونې له مخې د کندهار، ننګرهار او کابل یو شمېر ادبي او عرفاني ملګرو، لکه: عبدالرؤف بېنوا، فیض محمد انګار، نورمحمد تره کي، قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین، ګل پاچا الفت، نیک محمد پکتیاني، محمد ارسلان سلیمي، عبدالقدوس پرهېز، ابو الحسن هزاره، پاینده محمد روهیلي، محمد ولي ځلمي، عطا محمد شېرزي، محمد طاهر تائب او ځینو نورو لیکوالانو او روښنفکرانو د موسسې کنګرې غړو ته، چې شمېر یې (دوه ویشتو) تنو ته رسېده، د دارالامان په افشارو کې د عبدالمجید زابلي د نوي تعمیر په یوه سالون کې د ماسپښین پر دوو بجو د ویښو ځلمیانو د ګوند جوړولو لپاره د بېلابېلو ولایتونو د استازو طرحې وړاندی شوې، چې یوه یې د عبدالروف بېنوا او نور محمد تره کي، بله یې د قیام الدین خادم او درېیمه یې د صدیق الله رښتین وه. لومړی یې مترقي او عصري، دویمې یې ملي او وطني، درېیمې یې مذهبي او کلتوری رنګ درلود. تر زیات بحث وروسته د ټولو طرحو د مهمو مادو په ګډون پر دغو لاندې ټکو دټولو موافقه راغله : د اسلام، مشروطه شاهي نظام او د پاچا د مقام درناوی، د دولت د دروګونو قواوو، لکه: اجرائیې، مقننې، قضایې تر منځ تفکیک او بېلوالی ، د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو او صلاحیتونو تاکل، د ازادو انتخاباتو پر اساس د رابلل شوې لویې جرگې له لارې د وخت  له غوښتنو سره سم په اساسي قانون کې تعدیلات او تغیرات راوستل ، داساسي قانون پلي کول، د علم او معارف خپرېدل او پراختیا، د مطبوعاتو، دفکر او بیان د آزادۍ تضمینول، د هر ډول نژادي، ژبني او سیمه ییز تعصب او لوړتیا غوښتنومخه نیول، د قانون په واسطه د افرادو د طبیعی او ټولنیزو حقوقو تامینول، د ظلم، رشوت، پټې سوداگرۍ (قاچاق) او بی عدالتیو پر وړاندې مبارزه کول، په ټولنیز ژوندکې له افراط او تفریط څخه ډډه کول، د تخنیک اوصنعت رواجول، په هېواد کې د هر چا لپاره د کار او تعلیم د زمیني برابرول، د کارگرو او بزگرو حقوق، اقتصادي او زراعتي اصلاحاتو ته پاملرنه، له موهوماتو او مزخرفاتو سره مجادله کول، د ملي ژبې (پښتو) او پښتونستان د ملی خپلواکۍ پرننگه درېدل، د بشر د حقوقو د اعلامیې او نړیوالې سولې او سلم غوښتل او په عملي ډول یې تطبیقول او ځینې نور مهم مسایل د ددې غورځنگ اساسي هدفونه وو. بځرکي صاحب په پورته یادشوي کتاب کې لیکلي چي دویښ ځلمیانو د غورځنگ لومړی مرام پر (۱۳۲۷) او دویم یي پر (۱۳۲۸ل) کال دزمري میاشتي پر (۲۷) نېټه تصویب شوی دی . (( ویښ ځلمیان دافغانستان یو سیاسي تحریک)) د محمد عالم بځرکي له دې اثر څخه دخادم صاحب او د پښتو ادب د نورو ستورو د سیاسي فعالیت په باب نور معلومات هم تر لاسه کېدلای شي . اروابناد خادم دحقیقت له څرگندولو سره مینه لرله، تل یې هر څه په ډاگه ویل. خادم صاحب په زیات شمیر ادبي او علمي محافلو کې برخه اخیستې ده او کله کله د دولت د اړونده ارگانونو له خوا په ستاینلیکونو او ډالیو سره هم نازول شوی او ستاینه یې هم شوې ده. مرحوم خادم دفلسفي اند او علمي شخصیت ښتن و،هغه په رښتیني له خپل ولس سره مینه درلوده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره خوښۍ یې د هغه خدمت کاوه. هغه د هر ډول مشکلاتو او سختیو په مقابل کښې د مقاومت، صبر او حوصلې لاربښوونه کوله. استاد خادم نه یوازې د پښتو معاصرو ادبیاتو له هغو پنځو ستوروڅخه و، چې پښتو ادب او کلتور یې ځلولی، بلکې دی داسې یو ویښ ځلمی هم و چې په ډېر جرئت او احساس یې دپښتو ادب او هېواد چوپړ کړی دی.

د استاد سیاسي مبارزې له ادبي مبارزې رنګ اخیستی و. د ادب له لارې یې سیاست ته مخه کړه. سیاست یې د ملي یووالي، خپلواکۍ، د پوهې دودولو، د ولس د ذهني او فکري کچې د لوړاوي، پرمختګ او قوم ته د رښتینی خدمت کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه کاراوه. سیاست یې چل او فرېب، نه ګاڼه او نه یې هم د مادیاتو د ترلاسه کولو وسیله ګڼله. دده په فکر سیاستوال باید د ټولنې د پرمختګ، سرلوړۍ او سوکالۍ په فکر کې وي.

کله چې موږ د (استاد خادم) ژوند ته په ټولیز ډول کتنه کوو، نو په لومړي ګام کې دی تر هر څه وړاندې موږ ته د یوه لیکوال او شاعر په توګه انځورېږي، په داسې حال کې که په ځیرتیا سره ورته وګورو، نو د خادم صیب په ژوند، عمل او فکر کې چې کوم څه تر ټولو زیات مطرح دي، هغه دده سیاسي فکر او عمل دی. دده سیاسي فکر تر هر څه لومړی دده په کورني او ټولنیز چاپېریال کې څرګند شو، د روزګار سرګردانیو او تنګلاسیو د هغه سیاسي فکر لا پسې پوخ کړ، کله چې یې پر شعر او شاعرۍ پیل وکړ، نو لومړی شعر یې هم د سیاسي انګېزې له مخې وپنځوه.

(شه بیدار پښتونه!) دده لومړنی نظم دی چې په (اتحاد شرقي) کې خپور شوی. دا د استاد خادم د سیاسي او فکري بلوغ لومړي پړاوونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده د فکر لومړی پرمختیایي پړاو هم له سیاسي فکره پیل شو، خو له یو ملي سیاسي فکر څخه، د ولسي جرګې ټاکنو ته د ځان نوماندول یې یوه بله عملي سیاسي پروسه وه. د مشرانو جرګې انتصابي غړیتوب هم د دې لړۍ یوه بله کړۍ وه، د ژوند په وروستیو کې د سیاسیونو له خوا قصداً او یا سهواً دده بندي کول بل سیاسي عمل و. د وخت چارواکو د ده دسیاسي افکارو او سیاسي حرکتونو له امله له ده څخه وېره لرله، نو ځکه خو یې دی د زندان تورو تیارو ته وردننه کړ. لنډه دا چې استاد خادم له کوچنیتوبه د یوه متحرک سیاسي انسان په توګه، سیاسي هڅې پیل کړي او دا هڅې یې بیا د ژوند تر پایه په فکر او عمل دواړو کې پاللې دي.

## ۷- کورني او بهرني سفرونه:

انسان یو ګرځنده موجود دی، د ژوند په اوږدو کې په جبري او اختیاري ډول سفرونو ته اړ کېږي. استاد خادم هم د خپل ژوند په اوږدو کې له دې ډول سفرونو سره مخ شوی دی.

خادم په کوچنیتوب او د ژوند په نورو پړاوونو کې د زده کړو لپاره له کوره لرې لرې (بوډیالۍ) او له هغه ځایه یې د ننګرهار ځینو نورو سیمو؛ (لږه موړې، کنډي باغ، اګام، حصارک، سر شاهي، ارغچ، کیلغو، کابل، لواړګي، پېښور، مکهډ، ډیلي، او لودیاني) ته سفرونه کړي دي.

د رسمي او نا رسمي دندو لپاره هم سفرونو ته اړ شوی دی، له (کامې) څخه د ننګرهار بېلابېلو سیمو، لواړګي، کندهار، کابل، هرات او ځینو نورو سیمو ته یې د رسمي دندې د سرته رسولو لپاره سفرونه کړي او وروسته یې بیا د ژوند زیاته برخه ان تر مړینې پورې د خپل ژوند ټول سفر په کابل کې بشپړ کړی دی. کابل کې د استوګنې پر مهال یې، پاکستان، هند، د پخواني شوروي جمهوریتونو؛ ترکمنستان، ازبکستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیې ته هم سفرونه کړي دي. چین هېواد ته یې هم رسمي سفر کړی او دغه راز ځینو نورو هېوادونو ته. له هېواده بهر د استاد خادم سفرونه په رسمي بڼه وو او یو لړ کلتوري او علمي سفرونه ګڼل کېدل. ده په دې سفرونو کې په ښه ډول د خپل هېواد استازولي کړې او د خپل هېواد یو رښتینی او واقعي تصویر یې د هغو هېوادونو علمي او کلتوري ټولنو او



(استاد خادم په عشق اباد کې د ترکمنستان له نامتو لیکوال کربابایوف سره، ۱۳۴۴ل کال، لړم)

موثرو شخصیتونو ته وړاندې کړی دی. د خادم صیب علمي استدلال او د منطق د جاذبې قوه د کورنیو او بهرنیو لیکوالو د پام وړ ګرځېدلې او له هغې څخه اغېزمن شوي دي.

## ۸- کورنی او ټولنیز ژوند:

سره له دې چې استاد قیام الدین خادم اساساً په یوه دیني او مذهبي کورنۍ کې زېږېدلی او رالوی شوی و او د دې ترڅنګ یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني ټولنې د کلیوالي چاپېریال په سختو کلتوري چوکاټونو او بندېزونو کې ژوند کړی و، خو دې سره سره بیا هم ده، د فردي خپلواکۍ، فکري ازادۍ او په ټولنه کې د نجونو پر تعلیم ټینګار کاوه. خادم صیب (نهه) اولادونه درلودل: (روښان خادم، یما خادم، همایون خادم او بشیر خادم یې زامن وو، تورپېکۍ خادم، ثریا خادم، زهرا خادم، مکۍ خادم او زېبا خادم یې لوڼې دي).

ده پر خپلو ټولو اولادونو د خپل وخت مروجه علوم زده کړل، په تېره بیا پر خپلو لوڼو. پر ټولنه باندې د حاکم اغزن چاپېریال خیال یې ونه ساته. کله چې په راډیو افغانستان کې د پښتو ویندویۍ لپاره ویندویانې نه وې او چا نطاقۍ ته زړه نه ښه کاوه، نو ده یې خپلې لوڼې وهڅولې چې د ویاندویۍ چارو ته زړه ښه کړي او دا کار هغه مهال د ټولنې له عام اغزن چاپېریال سره په ټکرکې و. خو خادم صیب دا لاره خلاصه کړه. خادم لکه څنګه چې د یوه پلار له شان سره مناسب ښکاري، خپل اولادونه یې په مینه وروزل، په ټولنیز ژوندانه کې د هغه د ژبې د صراحت او مستقیم بیان له امله یو شمېر اشخاص له هغه څخه ډېر خوښ نه وو او ځینو یې نبوغ او لیاقت سره هم خپل حسد درلود، خو خادم صیب هم کورني او هم خپل ټولنیز ملي مسولیتونه په ښه ډول ترسره کړل.

## ۹- د ژوند وروستي کلونه، بند او مړینه:

[استاد خادم وروستي کلونه له فکر، خیال او لیک سره په بوختیا تېر کړل. له هغه مهاله چې ده رسمي دنده پرېښې، نو بیا یې هم وخت وزګار نه دی پرېښی. د وخت پر اوړو یې د ژوند داسې بارونه وړي چې نن یې موږ له معنوي فیضه برخمن یو. ده په تېر عمر دومره ثمر راپرېښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې نن زموږ د مانا ماڼۍ پرې رنګینه او شتمنه ده. لوی خلک تر هغه مهاله چې سترګې یې د ژوند په ځولۍ کې غړولې وي. د قام او ملت د سرلوړۍ لپاره کار کوي. د ژوند هره شېبه یو ښه فرصت ګڼي. په هر سهار کې د سترګو په پرانیسته نوی زیږي، نوی ژوند مومي او نوی فکر کوي. استاد خادم پر همدې بنسټ ځان بوخت کړی. د ژوند د نهیلیو وره ته یې په نوي فکر ځواب ویلی، بېرته ماشوم شوی، له خیال سره یې ځان بوخت کړی او پر پستو وږمو یې د ناز په خوب ویدې غونچې راویښې کړي. ځکه خو دا بیت یې د ژوند پر وره ولیکه:**

**د نـــاز په خوب ویدې غونچې ورو ورو راویښومه**
**خـادم بـــاد د سبا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نه وم**

**استاد بختاني د ده د ژوند وروستیو کلونو یو انځور کاږي، چې په هغه کې ددغه لوی انسان او د ملت خادم څېره له ورایه ځلېږي: ((پر استاد خادم باندې ورې تبې راتلې او شلېدلې، مګر لویه تبه یې د ژوند ترپایه پورې ونه شلېدله. هغه د پښتنو د یووالي، ترقۍ او انکشاف غم و، چې دده په زړه کې یې ځای نیولی و.**

**هغه د ژوند وروستي کلونه بې کاره او ظاهراً ارام تېرول، مګر چا چې ورسره ناسته ولاړه درلوده او زړه ته یې غوږ نږدې کړی و، په هر نفس کې یې د پښتون پښتون اواز، د پښتو پښتو ښکالو، د پښتونولۍ فریاد او د افغان افغان آه و فغان اورېده. په دې کلونو کې به هغه د پښتنو د اصل نسب، تاریخ، روایاتو او عنعنو په باره کې فکر، مطالعه او لیکنه کوله. له ورځنیو سیاسیاتو نه ګوښې د ملي فرهنګي سیاست پر بنیادونو یې فکر او کار کاوه. په ځینو ادبي تحقیقي سیمینارونو کې یې برخه اخیستله. مقالې به یې لیکلې او اورولې. د خپل فکر او طرز اړم و. ده د بایزید روښان په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بین المللي سیمینار کې د روښانیانو مبارزې شرح کړې. د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د تاسیس په بین المللي سیمینار کې یې د پښتو د چاپ شویو اثارو په سیمینار کې د متلونو په رڼا کې د پښتنو حیاتي فلسفه څرگنده کړه او داسې نور.

دی به کله روغ او کله ناروغ و، کله به په کور و کله په صحرا، کله به په کابل یا ننگرهار کې و او کله به یې پېښور ته هم سر ښکاره کاوه. مگر په هر حال کې به د افغاني ثقافت غم ورسره و او له دې خدمته نه وزگارېده.)) (۲۹: ۸۲-۸۳)



(د کامې په زرشوی کلي کې د خادم صیب مزار)

استاد د خپل ژوند په بهیر کې د زندان تورې تمبې هم لیدلي دي. د (۱۳۵۷ل) کال په لومړۍ نیمایي کې دی هم د زندان تورو خونو ته ننوېستل شو او ډېرې سختې پرې تحمیل شوې، خو استاد د خپل منطق او پوهې پر بنسټ داسې څوک نه لیده چې له ده څخه دې تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. سخته یې پرځان منلې وه، خو د هغو کسانو چې تر ده یې علمي سویه ټیټه وه، پوښتنو ته لیکلی او شفاهي ځواب نه وایه. دده په خوله دغه یوه نره خبره وه: ((زه ددې وطن لیکوال او د خلکو خادم یم. زه هر چاته تحقیق نه شم ورکولی. بالاخره دا خبرې پاس ورسېدې. تر شل پنځه ویشت ورځو بند نه وروسته خوشې شو.))

خو د بند په موده کې استاد ته د زیاتو شکنجو له امله د هغه لاسونه او پښې فلج شوي وو.

د مانا دغه غر، پر پښتنو باندې د الله(ج) دغه لویه لورېینه تر (۷۲)کلن ژوندانه وروسته د (۱۳۵۸ل) کال د وږي پر پنځمه نېټه د دوشنبې پر ورځ چې د (۱۳۹۹هـ ق) د شوال المکرم له پنځمې او د (۱۹۷۹م) د اګست له (۲۱)مې سره سمون خوري، راونړېد او په علي اباد روغتون کې یې د ابدي ژوند جام پر سر راواړاوه.

دغه لویه هستي د همغې ورځې پر سبا په خپلې پلرنۍ هدیره (زرشوی- کامه) کې خاورو ته وسپارل شوه. پر ګور یې قلموال او د سیمې ولسي خلک راټول شول. مړینه یې د یو فقیر انسان په شان وه.]

(۴۱-۱۲:۳۸)

## ۱۰- یادونه او نمانځنه:

استاد قیام الدین خادم د افغانستان یو لوی عالم، لیکوال، شاعر او د فلسفي فکر خاوند شخصیت و، دده د خپل لیاقت او استحقاق په اندول نه د ژوند او نه د ده تر ژوند وروسته چا د ده یادونه او نمانځنه کړې ده، البته څه یادونې او نمانځنې شوي، خو نه هغومره چې د ده له شان سره مناسبې وای. ده د خپل ژوند پر مهال د خپل لیاقت په زور څو ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library



جایزې اخیستي، د وزیر محمد گل خان مومند له خوا ورته په یوه مسابقه کې یوه جایزه ورکړل شوه، پر (۱۳۴٦ل) کال استاد خادم د استقلال جایزه واخیسته، دا جایزه ده ته (د شریف سرگذشت) دا اثر د ژباړې له امله ورکړی شوې ده.

دغه راز څو نورې جایزې چې د ده آثارو په بېلابېلو وختونو کې گټلې دي. خو دا ټولې ویاړنې او ستاینې د ده د لیاقت او کفایت په اندول کمې وې، کله چې خادم صیب له دې نړۍ څخه وکوچېد، بیا هم د هغه له شان او استحقاق سره سم د هغه یادونه و نمانځنه، نه ده شوې. استاد بختاني خدمتگار چې د خادم صیب له ډېرو نږدې مینوالو او لېوالو څخه دی، په دې باب په یوه ځانگړې لیکنه کې خپله خواشیني څرگنده کړې ده: ((څومره چې یې حق دی او څومره چې ښایي، هومره د استاد خادم یادونه او نمانځنه چا نه ده کړې. په ډېره محدوده توگه یې دا لاندې یادونې او نمانځنې شوې دي:

۱- پر (۱۳٦۰ل) کال د (امیر علي شیر نوایي) د ژوندانه او اثارو د څېړلو لسیزه پیل شوه. په دې مناسبت د علومو اکاډمۍ له خوا د اوو پښتو مقالو یوه مجموعه هم خپره شوه. د یوې مقالې عنوان (مکارم الاخلاق) دی. ددې مقالې په لومړي سر کې د (خواند میر، مکارم الاخلاق) معرفي شوی دی چې هغه د (میر علي شیرنوایي) د اخلاقو په باره کې یو کتاب دی. بیا د (مکارم الاخلاق) له نوم څخه په استفادې سره پښتو (مکارم الاخلاق) چې د استاد خادم ترجمه ده، ښودل شوی او بیا په خپله د استاد خادم لنډه بیوگرافي او بیبلیو گرافي ښودل شوې ده. په دې مقاله کې د استاد خادم د ژوندانه په باره کې گټور معلومات وړاندې شوي دي. دې مقالې سره د هغه لیکوال (ښاغلي زلمي هېوادمل)، خپل نوم نه دی چاپ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په همدې کال کې زه د ((هېواد)) ورځپاڼې چلوونکی وم، د استاد خادم د دویم تلین پر ورځ، د (۱۳٦۰ل) کال د سنبلې پر پنځمه په (هېواد) ورځپاڼه کې مې ددې ورځپاڼې د یو پخواني حقدار مسول مدیر (استاد خادم) په باره کې یو لړ مطالب خپاره کړل. په دې کې د (یاد استاد گرامي) او (د استاد خادم د شوروي پوهانو په نظر کې) د سرمحقق معتمد شینواري څېړنه، (زموږ خادم) د نصرالله حافظ شعر، د استاد خادم شپږ پارچې شعرونه او نثرونه او داستان، د نوموړي استاد (افغاني ترانه) د هغه په خپل خط او عکسونه چاپ شول. زه په دې کار اوس ویاړم او ورسره د هغو ملگرو په درک تاسف کوم چې په تعصب او تنگ نظرۍ یې زه په دې کار ورټلم.

۳- پر (۱۳٦۵ل) کال د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنگي چارو د ریاست له خوا د استاد خادم نمانځنې لپاره یو ادبي محفل جوړ شو، په هغه کې ما وینا وکړه، مشاعره وشوه او د استاد خادم شعرونه هم واورول شول. زما وینا بیا د (استاد قیام الدین خادم) تر عنوان لاندې د نوموړي وزارت د (ملیت های برادر) په مجله کې، د استاد خادم له پورتریت سره چاپ شوه.

۴- زه د ژورنالېستانو له اتحادیې څخه مننه کوم چې د ژورنالېستانو د معرفۍ په لړ کې یې د استاد خادم د پېژندنې کار ماته سپارلی دی. ما د وخت او وسایلو له محدودیت سره دا لیکنه وکړه. زه اعتراف کوم چې زما دا کار ډېر مختصر، محدود او نیمگړی دی. د استاد خادم حق تر دې زیات او کارونه یې ډېر دي چې پراخې اکاډمیکې څېړنې غواړي. د هغه چاپي نایاب او ناچاپ اثار هم باید ولټول شي، وټاکل شي او وڅېړل شي او د چاپ او نشر ډگر ته راووځي.)) (۲۹: ۹۰-۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خدمتګار خپله پورتنۍ ګیله او اندېښنه تر (۱۳٦۸ل) کال وړاندې کړې وه. تر هغه وروسته بیا پر (۱۳٦۸ل) کال د افغانستان د ژورنالیستانو ټولنې د استاد خادم د لسم تلین په درناوي د سرمحقق عبدالله بختاني له خوا د استاد خادم په باب لیکل شوی اثر (د ملي ادب او ژورنالیزم خادم) اثر هم چاپ کړ او دا اثر بیا پر (۱۳٦۸) او (۱۳۸۷ل) کال دویم او درېیم ځل هم چاپ شو.

په اوبایمو کلونو کې په کابل کې سخت جنګونه پیل شول، د ټول هېواد حالات کړکېچن شول، دا مهال په کابل کې د فرهنګي غونډو او سیمینارونو جوړول ناشوني شول، خو پر (۱۳۷۳ل) کال په جلال اباد ښار کې د (ننګرهار فرهنګي ټولنې) له خوا د استاد خادم پر ژوند او اثارو یو ورځنی علمي سیمینار جوړ شو، چې د سیمې بېلابېلو لیکوالو په کې د استاد خادم پر ژوند اواثارو خبرې وکړې او خپلې لیکلې مقالې یې واورولې. دغه راز بیا هم، په همدې جلال اباد ښار کې پر (۱۳۸۸ل) کال (د ننګرهار ولایت د مقام په مرسته د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو د خپلواکې ټولنې) له خوا د استاد خادم د (۳۰م) تلین په مناسبت یو علمي سیمینار جوړ شو، چې په هغه کې د ختیزې سیمې پر لیکوالو سربېره له کابل او د هېواد له نورو سیمو څخه ګڼو لیکوالو ګډون کړی و او داستاد خادم پر ژوند او اثارو یې خپلې لیکنې او ویناوې واورولې. تر هغه وروسته بیا پر (۲۰۱۴م) کال په اکتوبر کې د (ښنۍ کلتوري ټولنې) له خوا د کابل په (میتودیک) دفتر کې د استاد خادم د (۳۴) تلین په یاد علمي غونډه جوړه شوه. په غونډه کې زیات شمېر لیکوالو ګډون کړی و. په دې غونډه کې د عبدالوکیل اټک، غني هاشمي، استاد حبیب الله رفیع، محمد حسن ولسمل، ډاکټر فیض محمد ځلاند او محمد حلیم فدایي له خوا د استاد خادم پر ژوند او اثارو مقالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولوستل شوې او همدارنګه د استاد دوه اثار (خیالي دنیا) او (نبوغ او عبقریت) چې نوي چاپ شوي وو. د غونډې پر برخوالو وویشل شو. دغه راز تر دې وروسته د (خادم بابا) په نوم په کامه کې یو کتابتون هم پرانیستل شو او د زاخېلو یو اړوند کلی هم د قیام الدین خادم په نامه ونومول شول. تر دې وروسته د کابل ښار په احمد شاه بابا مېنه کې یوه لېسه هم د استاد قیام الدین خادم په نامه ونومول شوه. د دې ترڅنګ په کابل ښار کې د کابل مېشتو کاموالو ځوانو لیکوالو له خوا د (خادم) په نامه یوه مجله هم څو ګڼې چاپ شوه، خو وروسته دا مجله هم بنده شوه. تر دې یادونو وروسته پر (۲۰۱۷م) کال کې د اطرېش د ویانا په ښار کې د مېشتو افغانانو له خوا د خادم صیب په یاد یو علمي سیمینار جوړ شوی و، په سیمینار کې افغان لیکوالو د خادم د ژوند او اثارو په باب رڼا واچوله. د دې سیمینار هدف دا و چې بهر مېشتي افغان ځوانان د استاد خادم له افکارو او اثارو سره اشنا شي. په سیمینار کې د استاد خادم ځینې نوي چاپ شوي اثار هم ځوانانو ته ورکړل شول. د (۱۳۹٦ل) کال په (لیندۍ) کې د ننګرهار د بحراباد څمڅو له پاسه غونډیو کې د ښوونکو لپاره د یو ځانګړي ښارګوټي د بنسټ ډبره کېښودل شوه، په دې مراسمو کې د ښار جوړونې وزیر (سید سعادت منصور نادري) او د مشرانو جرګې رییس (فضل هادي مسلمیار) هم ګډون کړی و، دا ښارګوټی د (مولانا قیام الدین خادم) په نامه ونومول شو.

## ۱۱- د ژوند پېښو لنډیز:

د خادم صیب د ژوند پر بېلابېلو اړخونو مو پورته په نسبتاً تفصیلي ډول رڼا واچوله، څرنګه چې دا پېژندنه کرونولوژیکه نه وه او لوستونکي ته به سخته وي چې ګام پر ګام د استاد ژوند تعقیب کړي، نو ځکه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته لازمه بولو چې همدا پېژندنه څه نا څه په مسلسل یا کرونولوژیکه بڼه بیان کړو، په دې ډول به لوستونکي وکولای شي، د استاد خادم ژوند گام پر گام تعقیب کړي. سرمحقق زلمي هېوادمل د خادم صیب ژوند ته یوه کتنه کړې او هغه یې تقریباً په مسلسل او کرونولوژیک ډول په لنډیز سره بیان کړې ده. استاد هېوادمل پر (۱۳۶۰ل) کال په یوه لیکنه کې لیکلي:

((له نن نه شپږ اویا کاله دمخه (۱۳۲۵هـ ق) کا ل د ننگرهار د کامې د پښتنو په یوه علمي کورنۍ کې یوه ماشوم دنیا ته سترگې پرانیستې، دغه ماشوم خو اول د ملا حسام الدین کور رڼا کړ، مگر چې لوی شو، ځوان شو، علوم یې زده کړل او خپلې مورنۍ ژبې ته متوجه شو او د خدمت لېچې یې ورته راونغښتې، نو یې په دغو لیارو کې دومره مثبت گامونه اوچت کړل، چې د هاند و هڅو شغلو یې د پښتني تاریخ، ادب او کلتور ډېرې ناروڼې خواوې روښانه کړې، ملي او فکري هڅې یې هم د افغانانو په بیدارۍ کې بې برخې نه وې، وطني او ملي ترانو یې ډېرو پښتنو او افغانانو ته د وطنپالنې درسونه ورکړل.

د دغه نوي زوکړي ماشوم نوم پلار، قیام الدین کېښود، قیام الدین لا کوچنی ماشوم و، چې د ده کورنۍ او د کلي مالت خلکو په ده کې یو فطري استعداد لیده او دا به یې ویل چې له ده څخه به یو شخصیت جوړېږي.

پلار (ملا حسام الدین) دی، په کوچنیوالي کې د قران عظیم الشان لوستو ته کېناوه، دیني ابتدایي علوم یې پرې زده کړل، د پارسي او پښتو د نظم کتابونه او د عربي د صرف و نحو ځینې مسایل یې په کامه کې ولوستل، د لوړو متداولو زده کړو لپاره یې پر کامې سربېره بوډیالۍ، لره موړې، کنډي باغ، اگام، حصارک، سرشاهي، ارغچ، کیلغو، کابل، پېښور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکهړ، ډهلي، اولودهياني ته سفرونه وکړل. د دغو ځايونو په جوماتونو، مدرسو او درس ځايونو کې يې صرف، نحو، منطق، حکمت، کلام، فقه، تفسير، حديث، مناظره، اصول فقه، طب او نور مروجه علوم ولوستل، پنځلس کاله يې د اوږدو او لنډو سفرونو پرديسۍ او مزلونو ستړياوې وګاللې، د وخت په مروجو علومو کې يې مطالعه وکړه. عربي، اردو او فارسي ژبې يې زده کړې او پر خپلې مورنۍ ژبې سربېره په دغو دروسرو ژبو کې د مطالعې، تکلم او تدريس جوګه شو، کله چې بېرته وطن ته راستون شو، په جلال اباد کې يې د ابتدايي ښوونځي دمعلمۍ وظيفه غوره کړه.

دی لومړی ځل پر (۱۳۰۴ل) کال په کامه کې د ابتدايي ښوونځي د ښوونکي په توګه مقرر شو، خو دغه وظيفه يې پرېښوده، د علومو د زده کړې لپاره هندوستان ولاړ او دهندوستان تر سفره تر بېرته راستنېدو وروسته د جلال اباد د يوه لومړني ښوونځي ښوونکی شو.

پر (۱۳۱۲ل) کال د کندهار د ادبي انجمن غړی شو، په کندهار کې يې استوګنه غوره کړه، د استوګنې په دغه موده کې يې د کندهار له پښتنو ورونو څخه ډېره ښه خاطره درلوده، کابل ته د کندهار د ادبي انجمن له لېږد سره دی هم کابل ته راغی او په کابل کې د دغه انجمن غړی و.

کله چې د کندهار ادبي انجمن په پښتو ټولنه بدل شو، نو دی هم هماغې موسسې ته ولاړ او درې مياشتې يې د زېري جريده هم وچلوله. پر (۱۳۱۸ل) کال د پښتو ټولنې د تاليف او ترجمې مدير شو. پر (۱۳۲۰ل) کال د پښتو ټولنې مرستيال شو. پر (۱۳۲۱ل) کال د (اتحاد مشرقي) د اخبار مدير شو. او پر (۱۳۲۴ل) کال د دايرة المعارف د ترجمې مدير و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر (۱۳۲۵ل) کال د تعاوني ډیپو د پلټنې لوی مدیر و، پر (۱۳۲۹ل) کال د کندهار د طلوع افغان مدیر و. پر (۱۳۳۰ل) کال بېرته پښتو ټولنې ته راغی او د کابل مجلې د چلولو چارې هم وروسپارل شوې. پر (۱۳۳۱ل) کال په سروبي کې د کوپراتیف مدیر و او پر (۱۳۳۲ل) کال د اصلاح ورځپاڼې مسول چلوونکی و، بیا د پښتو تدریساتو مدیر و، وروسته د پښتو ټولنې غړی شو. د (۱۳۴۲-۱۳۴۳ل) کلونو په حدود و کې د هېواد د ورځپاڼې چلوونکی و، ورپسې د مشرانو جرگې غړی شو، د ژوند وروستي کلونه یې په کور کې تېر کړل او د (۱۳۵۸ل) کال د سنبلې پر پنځمه نېټه وفات شو.

د ژوند او رسمي کارونو په دغه ټوله موده کې ده د مختلفو علومو مطالعه کړې، لیکنې یې کړي، کتابونه یې لیکلي، تدریس یې کړی، د خلکو د ویښولو لپاره یې ترانې ویلي او په افغانانو کې یې د وطنپالنې دحس د روزلو لپاره د قلم او خپرونو له لیارې او هم په عملي توگه مبارزه کړې ده. د دغو ټولو هڅو په نتیجه کې ده په لسگونو کتابونه او په سلگونو مقالې لیکلې دي، په سلگونو ادبي پارچې یې ایجاد کړي، شعرونه یې ویلي او ډېر شاگردان یې روزلي دي، او الحق چې موږ باید دی استاد وبولو او دده د علمي او ادبي مقام نمانځنه وکړو.)) (۳۹: ۴۰- ۴۴)

دا و د استاد خادم ژوند ته یوه کتنه چې هره برخه یې په ډېر لنډیز سره بیان شوه، البته کېدی شي، د استاد د ژوند پر دې هرې برخې یو ځانگړی اثر ولیکل شي او هغه له هر پلوه تحلیل او وشنل شي، خو موږ هرې برخې ته په لنډیز سره نغوته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

# خادم څه کړي ؟

# (د خادم اثار )

کله چې موږ دا پوښتنه مطرح کوو: (خادم څه کړي؟) نو تر ټولو اسانه ځواب یې د هغه په اثارو کې پیدا کولای شو. کله چې موږ د استاد خادم ټول لیکل شوي اثار له نظره تېر کړو، نو هلته موږ ته پته لګي چې استاد مولانا قیام الدین خادم څومره ستر کارونه کړي دي. خپله د استاد خادم اثار د (څه کړي؟) پوښتنې ته ښه ځواب ویلای شي. موږ د دې اثر په نورو برخو کې غواړو د استاد خادم اثار د فکري، هنري او نورو محتوایي اړخونو له پلوه وڅېړو، خو مخکې تر هغې ددې اثر په دویمه برخه کې غواړو د استاد خادم ټول اثار له شکلي پلوه یانې دا چې (منظوم) دي که (منثور)، په هغو کې پر کومو برخو وېشل کېږي؟ او تر هغه وروسته به یې د اثارو پر نوښتګرو خواوو، اغېزو او نورو اړخونو بحث وکړو. یانې په لاندې ډول غواړو د استاد اثار دروپېژنو او بحث پرې وکړو:

الف - د استاد خادم منظوم اثار

ب - د استاد خادم منثور اثار

ج- د استاد خادم د اثارو نوښتونه او ارزښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف - د استاد خادم منظوم اثار:

د استاد خادم لومړنی نظم (شه بيدار پښتونه!)نومېږي چې د ده په خپله وينا په (اتحاد مشرقي) کې خپور شوی دی.البته دا په دې مانا نه ده چې دا د استاد خادم لومړنی نظم دی، بلکې دا لومړنی چاپي نظم دی. دا نظم پر (۱۳۱۵ل) کال چاپ شوی، خادم لا تر دې څو کاله دمخه شاعري کړې ده، خو دا يې لومړنی چاپي نظم ګڼل کېدی شی.خو داسې فکر هم کېږي چې د خادم صيب لومړني شعرونه يا نظمونه تر دې دمخه چاپ شوي وي. ددې فکر علت دا دی چې خادم تر يادې نېټې دمخه په کندهار کې د ادبي انجمن د غړي په توګه مقرر شوی و، غالباً چې د پښتو انجمن مجلې (پښتو) او همدارنګه په (طلوع افغان) کې به يې شعرونه خپاره شوي وي، خو په اکثرو اخځونو کې ياد نظم د استاد خادم د لومړني چاپي نظم په توګه ياد شوی دی. ښه به وي چې د استاد خادم دا نظم د ده د لومړيو نظمونو د بېلګې په توګه راوړو. ده دا نظم د (۱۳۱۵ل) کال د روژې مياشتې پر (١٦)مه نېټه په (لواړګي) کې ليکلی دی.

### شه بيدار پښتونه!

نــن د غفلــت د خوبــه پاڅــه شــه بيــدار پښــتونه
د ترقـــۍ پـــه لار روان شـــه مـــه کـــړه وار پښـــتونه
مــلا دې بســته کــړه پــه عمــل او پــه تقــوی مضــبوطه
علــم وســله درســره واخلــه پــه تلــوار پښـــتونه
پـــه هغـــه ســـم ســـرک د شـــرع د نبـــي (ص) چلېـــږه
تـــه چـــې روان يـــې د غـــه نـــه ده د يـــن لار پښـــتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــه جامــد کېـــږه چــې دا نـــه ده فرمـــوده د اســـلام
مــه عــادي کېږه چې داخـل نـه شـې پـه نـار پښـتونه
پرېـــږده نفـــاق توبـــه د ظلـــم د نـــارو وباســـه
د مســلمان پـه مــخ کـې مـه اچـوه انکـار پښـتونه
د خپـل راحـت لـه پـاره وړې پـه بـل غریـب بارونـه
د نــورو غــم دې ولــې نـه کـړ پـه ځـان بـار پښـتونه
زړه او روح دواړه کـــړه قربـــان د ســـر و مالـــه ســـره
پـــه محبـــت د جامعـــه کـــې پـــه ســـل وار پښـــتونه
کـــه تـــه خـــالي یـــې د دې ټولـــو جـــذباتو ځنـــې
مسـلم دې نـه بـولي هغـه نبـي (ص) رويـدار پښـتونه
چـــین و جاپـــان، یـــورپ، امریکـــه و افریقـــه تمـــام
واړه عـــالم در پـــورې خانـــدي پـــه بـــار بـــار پښـــتونه.

**پر (اتحاد مشرقي) سربېره د هېواد په يو شمېر نورو خپرونو: (طلوع افغان، زېري، انيس، هېواد، اصلاح، ننگرهار مجله، کابل مجله، کابل کالنۍ) او نورو کې هم د استاد نظمونه خپرېدل. دده دغه نظمونه په ځانگړو ټولگو کې هم خپاره شوي دي او په متفرق ډول هم. دلته غواړو لومړی د استاد خادم مستقل منظوم اثار دروپېژنو.**

**۱- د مرغلرو امېل: د استاد خادم لومړی شعري ټولگه ده چې پر (۱۳۳۲ل) کال د اصلاح ورځپاڼې له خوا بشپړه خپره شوه. تر دې وړاندې دغه ټولگه تر شپېتو مخونو پورې په (طلوع افغان) چاپخونه کې خپره شوې وه. استاد بختاني خدمتگار ددې شعري ټولگې په باب وايي: [دا د استاد خادم د شعرونو لومړی مجموعه ده چې نيمه يې (تر ۶۰ مخ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې) د کندهار د طلوع افغان په مطبعه کې چاپ شوې وه او نیمه یې پاتې وه. په دې کې استاد خادم په خپله هورې دورې شو. مګر کله چې استاد د اصلاح ورځپاڼې مدیر شو، بیا یې نو غم وخوړ. چاپ شوې پاڼې یې له کندهاره وغوښتلې او پاتې برخه یې د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ کړه.




په دې مجموعه کې د استاد خادم (سل پارچې) شعرونه راغلي دي. استاد په مقدمه کې لیکي: ((د مرغلرو امېل رومبی نظم پر (۱۳۰۹ هـ ش) کال لیکل شوی او دې سلسلې تر (۱۳۳۱هـ) کال پورې دوام کړی دی، نو په دغه شان سره په شلو کالو کې دا کتاب لیکل شوی او ترتیب شوی دی. هر نظم په یو خاص وخت کې د مخصوصو احساساتو او ماحول تر تاثیر لاندې تسوید شوی دی او شاید چې د دغو عواملو اغېزه په کې معلومه وي. دا نظمونه اکثره په خپلو وختونو کې د لرې او برې پښتونخواه په جرایدو کې خپاره شوي دي. بیا په زحمت سره مسودې یې راټولې شوي او ساتل شوي دي چې څو چاپ ته یې نوبت رسېدلی دی، په دې لار کې به ډېر نظمونه داسې هم وي چې زما هېر شوي او پاته شوي دي.

دا شل کاله چې د مرغلرو امېل په کې لیکل شوی دی، د پښتونخوا (افغان او افغانستان) د تحول، بلکې د ایشیا د انقلاب ورځې دي. په دې ورځو کې افغان قوم د تاریخ یو مهم پله څخه تېرېږي او په یو سخت اندروني اضطراب اخته معلومېږي. په شل میلیونه افغانانو کې د طوفاني سمندر په شان تموجات شته، مګر د سېلاب غوندې یې مخه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم د یو پرېشانه شاعر په شان له ننگرهاره پاڅېږي، د غم جان، غم افغان او غم جهان د کیفیاتو سره د عشق د مرموزو متروکو لاندې د ښکته او پورته پښتیانا (پښتونخوا) په سیمو گرځي او قدرت په دغه شان سره د مرغلرو امېل پوره کوي. سره ددې چې په دې حالاتو کې څه لیکل، څه ویل، څه نشرول او څه تالیفول دومره مشکل کار و چې تصور یې د همدغه وخت سړي کولی شي...))

له پورته لیکنو نه د استاد خادم د شعر هدف او غایه، د هغه محتوا او مضمون او په عین حال کې هم یې شخصي اندروني احساس او هم یې له محیط او چاپېریال او له سیمې او جهان سره ارتباط ځرگندېږي. هو! ددې شعري مجموعې اهدا هم په لنډو الفاظو کې دا خبره رابرسېره کوي او هغه داسې ده:

هغه زلمي ته یې اهدا کوم

چې (د ادب د حیات لپاره) مبدا باندې عقیده او باور لري.

چې (شاعر د بیتونو سازوونکی نه د قومونو جوړوونکی دی)

خادم

د استاد خادم د شعر هم، دغه پیغام دی او شاعرانو ته د هغه د زړه اواز هم. لکه څنگه چې دمخه مو وویل، دې شعري ټولگې د چاپ یو کړلېچن بهیر تېر کړی، نو استاد خادم د مجموعې د چاپ په سریزه کې لیکي:

((د مرغلرو امېل یو کال په پښتو ټولنه کې تېر کړی او چاپ ته ونه رسېد او دوه کاله په کندهار کې پروت و، ځکه هغه وخت چې زه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**طلوع افغانه موقوف شوم، نو دا کتاب هلته د اعانو په پیسو نیم چاپ شوی پاتې و.] (۲۹: ۵۱-۵۳)**

**په دې ټولګه کې د استاد خادم د (شلو کلونو) نظمونه ځای شوي دي. دغه ټولګه (۱۱۹) مخونه لري. څرنګه چې دغه کتاب ډېر پخوا چاپ شوی و، نو لوستونکو ته یې پیدا کول اسانه کار نه و، خو پر (۱۳۹۱ل) کال، ښاغلي لال پاچا ازمون په (خادم باد سبا یم) منظومو کلیاتو کې یو ځل بیا چاپ کړ.**

**د مرغلرو امېل رښتیا هم له مرغلرو ډک دی، ټولنیز، اخلاقي، ملي، دیني او ډول ډول مفاهیم په کې بیان شوي دي. د نن او سبا دواړو فکر په کې دی. استاد خادم په دې نظر دی چې انسان باید د ژوندون له هرې شېبې څخه ګټه پورته کړي، فرصت له لاسه ورنه کړي او د سبا فکر هم وکړي. دی وایي:**

((ښه تو ښه درسره واخله نن دې وار دی
هر انسان ته د سبا فکر په کار دی
نه فرصت وي نه مهلت وي صبح شام
نه ښکاري مونږ دلی هره ورځې ښکار دی.))
(۱۳: ۱۹)


**((د مرغلرو امېل)) د شاعر په دې مقطع پای ته رسېږي.**

د ابدارو مرغلرو ښه امېل شو لو تیار
دا خدمت د خیر په لار کې که افغان ته شي په کار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- ځاروان:** د استاد خادم د شعرونو یا نظمونو دویمه ټولګه ده چې پر (۱۳۴۶ل) کال خپره شوه. په دې ټولګه کې یو شمېر داسې نظمونه هم ځای شوي دي چې هغه د مرغلرو امېل کې هم خپاره شوي دي استاد بختاني خدمتګار ددې اثر د پېژندنې په برخه کې وايي: [په (۱۳۴۶ل) کال کې د استاد خادم د شعرونو نوې ګېډۍ یا دوهمه مجموعه له چاپه ووتله. ددې مجموعې لږ شمېر شعرونه (د مرغلرو امېل) کې هم چاپ




شوي وو او زیات تعداد يې هغه وو چې د لومړۍ مجموعې تر چاپ وروسته ویل شوي یا لیکل شوي وو. د استاد خادم د شعرونو دغه نوې مجموعه (ځاروان) نومېږي. ما ددې مجموعې د شعرونو په استناد له نن نه پوره شل کاله دمخه د استاد خادم په شاعرۍ یو څه لیکلي دي. زما لیکنه د ځاروان په سر کې چاپ شوې ده. زه اوس هم په خپلو خبرو ولاړ یم او ځینې برخې به یې د طباعتي غلطیو تر سمون وروسته دلته بیا ولیکم او داسې: که موږ د سرعت او حرکت په دغه عصر کې د خپل هېواد تحولات او د هغه د تحول او ترقۍ عوامل او د هېواد او ولس د فکر، عمل او موقعیت مبهم خصوصیات تر نظر لاندې ولرو او بیا په دې هم اعتراف وکړو چې شعر د محیط هنداره ده، نو د خادم صاحب د مختلفو دورو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونو په اشعارو کې دا خبره څرګندېږي چې هره پارچه یې د خپل وخت د جریاناتو او رجحاناتو نمایندګي کوي.

خادم صیب د هر وخت او زمان د ضرورت او د شرایطو او ظروفو په مساعدت د خپل تشخیص او قضاوت له مخه یو څه ویلي دي او کوښښ یې کړی دی چې کله کله ځینې نقادان چې د خادم صاحب د عمر ټول شعرونه به یوه ورځ کې لولي، نو د ټولو ترمتضادو تاثیراتو لاندې وایي چې د خادم صاحب په فکر یا وینا کې تضاد موجود دی. که مونږ دغه انتقاد ونه منو او یا یې ومنو او دمحیط تر تاثیر لاندې خادم صاحب مجبور وبولو او ترې تېر شوو، بیا نو د ده په شعر کې د افغان ولس د یووالي او پرمختګ او بیدارۍ یوه ډېره عمیقه مفکوره پرته ده چې کله په یو رنګ او کله په بل رنګ ځان ښیي. سربېره پر ملي اشعارو د ده یو څه غزلیات هم شته چې د هغو په عمق کې یو راز درد موجود دی چې د کلاسیک هنر په ژبه یې په ډېر مهارت ادا کوي. تر دې حده چې کله کله یې کنایې لا د صراحت نه زیات بلاغت پیدا کوي.

د خادم صاحب اکثر شعرونه سلیس، ساده او خواږه دي او د پښتو ژبې محاورات او اصطلاحات یې په ښه شان په کې ځای کړي دي.

خادم صاحب په خپل سبک او اهنګ کې هم د پښتو د لرغونو تحریري او هم د عنعنوي شفاهي ادبیاتو او ولسي فولکلور له منابعو نه ډېره زیاته استفاده کړې ده او معاصر مسایل یې په ډېر قدرت د ولس په ژبه بیان کړیدي.

د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پیروۍ یوه عصري نمونه ده چې ددې عصر یو ځانله ممتاز سبک یې بللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شک نشته چې خادم صاحب د پراخې مطالعې خاوند دی، نو ځکه یې د شعر معنوي خوا بډایه ده. دی وایي:**

چـې روان تــر اوبــو نــه وي او ژور هــم لــه دریابــه
نــه پــوهېږم ځلــه وایــې دا شــعرونه خوشــې خوشــې

**نو ځکه یې په خوشې خوشې خبرو خوشې خوشې خبرې نه دي لیکلي، بلکې د قوم د ویښولو، پوهولو او لوړوالي لپاره یې سندرې ویلې دي...))**

**هو! یوه بله تخنیکي معلوماتي خبره دلته زیاتوم، هغه دا چې د مرغلرو امېل په ځینو شعرونو کې چې چېرته د (ویښ زلمیانو) عبارت راغلی له هغه څخه د وخت مجبوریت له مخه (ویښ) کلمه غورځېدلې او بیا په (ځاروان) کې ببرته په ځای شوې ده، ځکه چې په دغه وخت کې سیاسي فضاء بدله شوې غوندې وه.] (۲۹: ۷۳-۷۷)**

**د استاد قیام الدین خادم منظوم کلیات (خادم باد سبا یم) کې د چاپ پر مهال هڅه شوې چې په دې ټولګه کې راغلي تکراري شعرونه ترې وایستل شي او نا تکراري یې په کلیاتو کې چاپ شي.**

**ځاروان شعري ټولګه (لویې پښتونخوا ادې ته!) ډالۍ شوې ده.**

**په دې شعري ټولګه کې د مانا او محتوا له پلوه هر ډول شعرونه یا نظمونه راغلي دي. اخلاقي، ټولنیز، ملي او دیني بېلابېلې محتواوې په کې رانغاړل شوي دي.**

**دلته به یې یو څو بیتونه د بېلګې په توګه راوړو: د ژوند د قافلې یو لار ورکي ته په خطاب کې وایي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library




ستـــرګې مښـــې او اوتـــر ګـــورې هـــر چـــا تـــه
لاره دا ده مـــــه ځـــــه بلـــــې خـــــوا تـــــه
ولـــــې دغســـــې تـــــرور او وار خطـــــا يـــــې
او بـــه شـــته دي تـــه تـــيمم کـــړې بـــې ثباتـــه
خپـــل يـــاران دې کـــړه خبـــر بـــې غمـــه دړومـــه
مـــه وېرېـــږه دا هنـــر نـــو لـــه ســـبا تـــه.

**دی خپل فکر، ثمر او کار د خلکو د سوکالۍ لپاره کاروي، وايي:**

ځـــانګې نـــه رامـــاتوم چـــې مېـــوه وخـــورم
چـــې مېـــوه نثـــار وي هغـــه شاخســـار يـــم
مـــاڼو نـــه يـــم چـــې د بـــل پـــه اوږو ســـپور ځـــي
د کښـــتۍ غونـــدې د خلکـــو بـــاربردار يـــم.
(۱۱:۲۸)

**او همدارنګه د ګڼو ټولنيزو او اخلاقي مسايلو په باب نور نظمونه.**




**۳- بلکا:** دا د استاد خادم د نظمونو بله ټولګه ده چې پر (۱۳۸۰ل) کال د (خادم ډاينسټي) له خوا په لومړي ځل خپره شوې ده. په دې ټولګه کې زياتره غزلې، ملي سندرې، څلوريزې او قطعې ځای شوي دي. دغه ټولګه (۲۲۱) مخونه لري. ټول شعرونه او نظمونه يې (۱٦۵) ټوټو ته رسېږي. د کتاب اهدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په خپله استاد خادم داسې کړې ده:**

هغــــــه پښــــــتون زلمـــــي تـــــه چـــــې
د افغـــــان ولـــــس د نجـــــات لار لټـــــوي !

***

زړه پـــــرې روښـــــانه کـــــړه بلکـــــا واخلـــــه
تـــــورې تیـــــارې لـــــره رڼـــــا واخلـــــه
(خادم)

**د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز مسؤل قتیل خوږیاڼي (د ارواښاد استاد خادم بلکا) تر سرلیک لاندې خپلې خبرې داسې پیل کړې:**

**((...د ملغلرو امېل او ځاروان د استاد د کلاسیکو اشعارو هغه دوه ټولګې دي، چې دده په ژوند چاپ شوي او دا بلکا دده د اشعارو درېیمه مجموعه ده چې دده د نیکو فرزندانو له خوا (صدقه جاریه) حکم لري، چاپېږي.**

**ارواښاد خادم (د قام سره مینه) تر سرلیک لاندې شعر کې وایي:**

بـــې تـــاثیره چـــې تـــرې څـــوک خلاصـــېدای نـــه شـــي
یـــــوه ژبـــــه بـــــل مکتـــــب، بـــــل ســـــینما ده
کـــــه پـــــردي وي پـــــه پـــــردي رنـــــګ کـــــې راغلـــــي
دا څیزونـــــه د یـــــوه قـــــوم پـــــه ســـــربلا ده
خپـــــل لبـــــاس او خپـــــل اســـــاس درتـــــه پکـــــار دی
کـــــه دې مینـــــه د خپـــــل قـــــام ســـــره رښـــــتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ماشیني سړی) تر سرلیک لاندې په یو شعر کې وایي:

له حجرې جماته لرې له دېرې نه خبر نه دی
ښه زلمی دی، خو افسوس دی چې زموږ له ټبر نه دی
مغربي فېشن کې طاق دی، عجیبه شانې ګرځېږي
د خبرو سره خوځي ته به وایې چې ګډېږي
دی زموږ د اکا زوی دی، خو پردیو سره لوی دی
چې د چا سره لوی شوی، د هغو په خوی او بوی دی
چې د قام وطن خبرې ورته وکړې خفه کېږي
خلک دده او دی د خلکو په خبرو نه پوهېږي
ماشیني غوندې سړی دی د دفتر د چلېدو دی
نور امېد تر ښه ونه کړې چې د غرونو د ختو دی.

په خپل یو بل شعر کې د پښتنو د مشر په اړه داسې وایي:

خلک مشري کوي عزت غواړي
زموږ چې مشر شي دولت غواړي
ای چې سودا ده د مشرۍ درسره
قام دې له تا ځنې خدمت غواړي.

ددې کتاب په سریزه کې استاد خادم د شعر په ټولو ډولونو، په ځانګړي ډول د پښتو پر خاصو فورمونو رڼا اچولې ده.

ارواښاد استاد خادم ددې کتاب په اړه لیکي:

((په بلکا کې که څه هم د پخوانیو دوه مجموعو ځینې نظمونه راغلي دي، خو ډېر یې نوي دي)) بل ځای بیا لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((رښتیا دا ده دا کار ښه و که بد، ما کړی نه دی، په ما شوی دی، بلکا نوی جهان دی، ډېر تازه او د پسرلي په ګلانو مالامال، ددې خوب نه د ویښتیا تعبیر کېدای شي او ددې خیال نه د یوه حقیقت تصویر لاس ته راتلی شي، دلته ښکلا او ظرافت د بداعت او قوت او تاریخ د حال او دواړو د مستقبل سره د شعر په طلسمي رسۍ تړل شوي دي.

زه پوه شوی یم چې ما دا څلوېښت کاله مزل خوشې نه دی کړی، قدرت خپل کار کوي، د چا ژبه د چا قلم، د چا لاس او د چا توره ورته بهانه.

تر دې وروسته به ګورو چې د خپل (نوي ادب) په تکل کې تر څه حده، بریالیتوب زموږ په نصیب کېدای شي.)) (۲۰: ۱۹)

**۴- نصوص الحکم:** دغه اثر د ارواښاد استاد قیام الدین خادم د رباعیاتو او قطعاتو یوه ټولګه ده، ځینې نیمګړې غزلې او بیتونه هم په کې شته. دغه اثر لومړی ځل پر (۱۳۷۹ل) کال د (خادم ډاینسټي) له خوا په (۲٦٦) مخونو کې چاپ شوی دی، پر دې کتاب ښاغلي حبیب الله رفیع یوه علمي او هر اړخیزه سریزه کښلې ده، د کتاب اخر مخ د استاد خادم په لنډه پېژندنه او یو ښکلي انځور سره ښکلی شوی دی، په دې اثر کې د استاد خادم (۵۳۲) قطعات او څلوریزې راغلي دي.

استاد حبیب الله رفیع ددې کتاب په رڼا کې د استاد خادم د فکر ځینې اړخونه داسې بیانوي:

[استاد لومړی د فرد په جوړښت کې څلور شیزونه ضروري ګڼي:

زور او قــــوت دی پـــــه څلـــــور شیـــــزه
درتـــــه یـــــې وایـــــم زمـــــا عزیـــــزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صــــحت دولـــت او علـــم شـــــهرت دی
ښــــه یــــې پــــه یـــاد کـــړه اهـــل تمیـــزه

**یو بل ځای د ټولنپالنې په اړه لیکي او پښتون د ژوند نوې لار ته سیده کوي:**

خـــــــادم ایســـــــتلې ده نـــــوې لار
نـــوي ژونـــدون تـــه ســـمه هـــواره
ټولنپالنـــــه نـــــوې رڼـــــا ده
پاڅـــه روان شـــه بـــې خـــوف وډاره

**یو بل ځای د ملي فکر تلقین کوي، خلک وحدت ته رابولي او تشتت غندي:**

تـــل یـــې د قـــوم بیـــرغ اوچـــت کـــړ
دا یـــو افغـــان و، چـــې یـــې همـــت کـــړ
نـــن دا څـــه ټکـــه شـــوله راښـــکته
چـې هـر یـو کلـي خپـل ځـان ملـت کـړ.

**استاد د ملي وحدت د ټینګښت لپاره په واحد ملي کلتور او واحده ملي ژبه ټینګار کوي او دا د یو ملت په وحدت کې د بنسټ ډبرې ګڼې او ورانکاري غندي:**

هــــر یــــو لګیـــا دی پــــه ورانولــــو
د لـــــوی افغــــان پــــه راپرزولــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دود دستور او دین پاتې نه شو
کار یې مشکل شو د جوړولو.

**خادم صاحب په خپلو نظریاتو کې پښتو ژبې ته خاص ارزښت ورکوي او پښتنو ته د هغې د پاللو او ساتلو توصیه کوي:**

پښتو مو ژبه پښتو مو سا ده
افغانه پوه شه دا مدعا ده
چې چا نه لاړه هغوی خو مړه شول
اوس مو، دې پاتې قام ته سودا ده.

**بل ځای بیا داسې وایي:**

ملت په ژبه باندې جوړېږي
دا کار بې ژبې بېخي نه کېږي
ټوله دنیا ده په دې خبره
پښتون لا اوس هم پرې نه پوهېږي
(۳۲:۱۷)

**۵- د بابا نصیحت: د خادم صیب په ناچاپو اثارو کې (د بابا نصیحت) په نامه د یوه ځانګړي اثر یادونه شوې ده، دا یادونه استاد بختاني په (پښتانه شعراء پنځم ټوک) کې کړې ده.**

**په (اوسني لیکوال) کې بیا د استاد خادم په پېژندنه کې چې زیاتره برخه یې د هغه په خپل قلم لیکل شوې، د دې منظومې یادونه نه ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوې، خو د (اوسني لیکوال) په یو ځایي چاپ کې چې د (مطیع الله روهیال) له خوا درې واړه ټوکونه سره په یوه ټوک کې اوډل شوي او تدوین شوي، په لمن کې د مدون له خوا د دې منظومې یادونه شوې او اخځ یې هم د پښتانه شعراء همغه پنځم ټوک ښودل شوی دی. (د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود) کې هم همدا یادونه شوې ده. یانې اکثرو تذکرو دا د خادم صیب په ناچاپه منظومو اثارو کې یو خپلواک اثر ګڼلی دی، خو په (خادم باد سبا یم) منظومو کلیاتو کې د (بابا نصیحت) په نامه یو نظم خوندي شوی دی. دا نظم ټول شپږ نوي (۹٦) مسرې یا اته څلوېښت (۴۸) بیتونه لري. دا نظم په مثنوي فورم کې لیکل شوی او په دې نظم کې د (لمسي او بابا) د زړه خواله انځور شوې ده. نظم داسې پیلېږي:**

بابا تــه ورغلــم ســحر کــې پــه ژړا ومــه زه
لــه اند یښــنو او لــه غمونــو پــه ســودا ومــه زه
مال په ژوندو کې چېرته یو ځای د ګیلې نه شته
ســپېڅلی زړه لټــوم هلــې او دلــې نــه شـــته.

**او په دې بیتونو سر ته رسېږي:**

زړونه یو کېږي د پښتو په تکلیفونو سره
شیطانان تښتي د قران په ایاتونو سره
له بلهیکا نه لوی پښتون لره پیغام مې دی
بابا ویل په پښتونخوا باندې سلام مې دی.
(۱۲: ۵۸٦-۵۹۰)

**دا نظم د (۱۳۳۵ل) کال د غبرګولي پر (۲۸)مه نېټه لیکل شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه فکر کوم کومو تذکرو کې چې د دې نظم یا منظومې یادونه شوې، غالباً چې د (بابا نصیحت) په نامه به همدا مثنوي (منظومه) وي. استاد هېوادمل بیا ددې نظم په باب وایي: ((د ده یو اوږد نظم د بابا نصیحت په نامه (٦مخه) د پښتو ټولنې د زېري جریدې پر (١٣٣٥ل) کال په مستقل ډول خپور کړی دی.)) ښاغلی حبیب الله رفیع د دغه نظم په باب وایي: ((د پښتونولی په باب د استاد خادم یو اوږد نظم دی چې د موضوع د اهمیت له کبله په کابل مجله او زېري سربېره په ځانګړې توګه خپور شوی دی.)) (٣١: ٥٦٥)

**٦- د شعرونو درېیمه مجموعه:** به پښتانه شعرا پنځم ټوک کې استاد بختاني (د شعرونودرېیمه مجموعه) په نامه یو اثر د خادم صیب په ناچاپه اثارو کې شمېرلی دی. څرنګه چې یاد اثر پر (١٣٦٧ل) کال چاپ شوی، نو تر هغه وروسته خو د خادم نور اثار هم چاپ شوي دي، غالباً چې د شعرونو دا ټولګه به غالباً همدا (بلکا) وي، چې مخکې ورته اشاره وشوه، څکه چې د (مرغلرو امېل) او یا (څاروان)، دواړو ټولګو یادونه یې کړې، خو د (بلکا) یادونه نه ده راغلې او (نصوص الحکم) هم هغه وخت به ناچاپو اثارو کې یاد شوی دی.

**٧- اینده پښتنو ته!:** (اینده پښتنو ته!) ته هم به ځینو تذکرو کې د استاد خادم یو مستقل ناچاپ اثر معرفي شوی دی، خو وروستی ځل چې بختاني صیب د استاد خادم پر ژوند او اثارو کوم اثر لیکلی، د خادم صیب د یوه مستقل اثر په توګه د دې اثر یادونه نه ده شوې، خو د خادم صیب په منظومو کلیاتو (خادم باد سبا یم) کې (اینده پښتنو ته پیغام) تر نامه لاندې یوه مثنوي یا منظومه موجوده ده، دا مثنوي (١٧٠) مصرې یا (٨٥) بیتونه لري. ددې مثنوي د سر څو بیتونه دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای اینده پښتنو – ای فهمیده پښتنو
تا سو بم وپېژنئ – که به مو نه پېژنئ
چې مونږه څه کړي دي – بد که مو ښه کړي دي

او د پای بیتونه یې په دې ډول دي:

د استعمار علاج – د استثمار علاج
فقط دا کار دی بس – دا مې اظهار دی بس
نور دی سلام زما – دا دی پیغام زما.
(۱۲: ۲۰۰-۲۱۳)

خادم صیب دا نظم د (۱۳۴۴ل) کال د لېندۍ پر (۱۹)مه نېټه په (کونځوا) روغتون کې لیکلی دی. (پښتانه شعراء) پنځم ټوک او ځینو نورو اثارو کې چې (اینده پښتنو ته) نظم د یو مستقل اثر په توګه معرفي شوی، په زیات گومان یې هدف همدغه منظومه یا مثنوي ده چې ما یې پورته یادونه وکړه.


**۸- نوې پوهېتابه:** د (نوې پوهېتابه) په نامه هم د استاد خادم په کلام کې څو ځایه د یوې شعري ټولګې یادونه شوې او پر همغه بنسټ یو شمېر نورو لیکوالو هم د دې اثر یادونه کړې ده، خو په دې نامه تر دې دمه کوم مستقل اثر چاپ شوی نه دی. غالباً چې د دې ټولګې شعرونه تر دې وروسته په نورو شعري ټولګو کې خوندي شوي وي.

**۹- خادم باد سبا یم:** دا د استاد خادم منظوم کلیات دي چې ښاغلي لال پاچا ازمون راټول کړي او پر (۱۳۹۱ل) کال د دانش خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې کلیاتو کې پورتنۍ څلور واړه ټولګې یو ځل بیا چاپ شوي دي او هغه اړتیا چې لوستونکو ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثارو مطالعې ته لرله، کېدی شي ددې کلياتو په ترلاسه کولو سره تر یوه حده پوره شي. دغه راز په دې کلياتو کې د استاد خادم پر ځانګړو شعري ټولګو سربېره د هغه یو شمېر نور متفرقه شعرونه یا نظمونه هم خوندي شوي دي. دا کلیات د سریزو او یادښتونو په ګډون ټول (٦٣٣) مخونه لري. دلته به له دې اثر څخه د خادم صیب یو غزل چې (ستایمه) نومېږي، د بېلګې په توګه راوړو. دا غزل استاد خادم د (١٣٥٣ل) کال د لیندۍ پر (٢٨)مه نېټه لیکلی دی:




## ستا یمه

یــو ځــل راتــه ووایــه چــې ســتا یمــه
زه دې پـــه دې تمـــه بانـــدې پایمـــه
دا دنیـــا لـــه مینـــې جـــوړه شـــوې ده
دا خـــو یـــو زه نـــه یـــم چـــې دا وایمـــه
مینـــه خـــو ګنـــاه نـــه ده چـــې پټـــه شـــي
وایـــم چـــې مـــین یـــم او پـــه تـــا یمـــه
زړه کـي مـې يـو عشـق د وطـن ځـای شـولو
تــا هــم د وطــن پــه مینــه ســتا یمــه
تــه د پښــتونخوا د جنــت حــوره یــې
زه یـــو فـــدا کـــار د پښـــتونخوا یمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای خادمــــه ســــتا دا پاکــــه مینــــه مــــې
خوښــه شــوه دا ســـتا یمــه او ســـتا یمــه.
(۲۰۱:۱۲)

که چېرې دا منظوم کلیات له نظره تېر کړو، نو د استاد خادم اکثره نظمونه دلته موندلای شو.

## ب- د استاد خادم منثور اثار:

استاد خادم پر نظم لیکنې سربېره، زموږ په ټولنه کې د (استاد نثر لیکونکي) په توګه هم پېژندل شوی دی. که څه هم نظم یې تر نثره یو څه مشر ښکاري، خو نثر یې هم له نظم سره پر یو مهال په یوه اخبار (اتحاد مشرقي) کې خپور شوی دی. دده لومړنی نثر له اردو ژبې څخه یوه ژباړه ده، چې په همدې (اتحاد مشرقي) کې خپور شوی دی. ده د هنري او ادبي ټوټو په چوکاټ کې هم نثرونه لیکلي چې دا دده او دده د زمانې یوه ځانګړې لاسته راوړنه ده. پر دې سربېره یې څېړنیزې، فلسفي، ټولنیزې، تاریخي، سیاسي او تحلیلي لیکنې او کره کتنې هم کړې دي چې هغه هم په نثر کې یو ځانګړی مقام لري. د تذکره لیکنې، تاریخي پېښو او متن پېژندنې په برخه کې هم د ستاینې وړ اثار لري. دلته یې په ترتیب او لنډېز سره درپېژنو:

## الف- ټولنیزې، تاریخي او فلسفي لیکنې:


د استاد خادم د نثري اثارو یوه زیاته برخه د ټولنیزو، تاریخي، فلسفي او سیاسي مسایلو او د هغو تحلیل ته وقف شوې ده، په دې اثارو کې د ژوند بېلابېلو خواوو ته نغوته شوې، انتقادي، اصلاحي، تعمیري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې ډېرې برخې په کې رانغاړل شوې او څېړل شوې دي، دلته غواړو دې ډول بېلابېلو اثارو ته په لنډېز سره نغوته وکړو:

**۱- پښتونولي**:دا د استاد خادم هغه څېړنیزه رساله ده چې لومړی ځل پر (۱۳۱٦ل) کال په (کابل کالنۍ) کې خپره شوه. وروسته په جېبي کچه د پښتو ټولنې له خوا پر (۱۳۳۱ل) کال په ځانگړي ډول خپره شوه. په دې رساله کې استاد خادم د پښتنو پر اخلاقو، کرکټر، عادتونو، دودونو، نرخونو او همدا راز پر حقوقي او جزایي تعاملاتو باندې رڼا اچولې ده. دا د پښتنو د فرهنگ مهمه موضوع ده چې هم د کلتور پوهنې او هم د ټولنپوهنې له نظره زیات ارزښت لري.




پوهاند صدیق الله رښتین پر دې اثر یوه سریزه کښلې ده، چې په یوه برخه کې یې راغلي دي: ((پښتو او پښتونولي د دوی د دردونو، عادتونو او رواجونو لویه نامه ده، نو په دې لحاظ د پښتونولۍ په رڼه هنداره کې ددې قوم د روحیاتو سپېڅلي مخونه په ښه شان ځلېږي او د دوی د روحیاتو ښکلي اړخونه په کې برېښي.))

(۱۰: ۱)

بیا د ښاغلي مؤلف له خوا د پښتونولۍ تر سرلیک لاندې (مخکینۍ خبرې) راغلي چې د دې موضوع د لیکلو موخه او هدف داسې بیانوي: ((ددې موضوع لیکل... د قومي روح د استحکام او ټینگوالي لپاره فایده لري او دا د شکه وتلې خبره ده چې قومي روح چې هر څومره زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوخوالی، اشاعت او نفوذ وومي هماغومره قومي اتحاد او اتفاق قوت ومومي او نزاع او جګړه کمېږي.)) (۱۰: ۹).

دا اثر په ټولیز ډول (۲۰۴) مخونه، (۵۵) سرلیکونه او دوه بابه لري، چې لومړی باب يې د اخلاقو او عادتونو او دویم باب يې د پښتنو د حقوقي او جزايي تعاملاتو په باب بحث کوي.

په دې ارزښتمن اثر کې ټول هغه موضوعات شامل دي، چې د پښتنو د قومي روح، تاریخي عظمت او ملي روایاتو بنسټ ګڼل کېږي او استاد غواړي دا څرګنده کړي چې (لارښوونکی یا نمونه پښتون) باید څنګه وي.؟

نو ځکه خو د پښتونولۍ حدود او مقررات ټاکي.

اوس به له دې اثر څخه د بېلګې په ډول هغه، لنډې لیکنې راواخلو، چې د پښتنو د روحیاتو او نفسیاتو د ځینو اړخونو انځورنه کوي:

اروانباد خادم د (توره) تر سرلیک لاندې مضمون کې د تورې لفظ د وسلې په معنا نه کاروي، بلکې مراد يې ددې لفظ له اطلاق څخه زړورتیا، شجاعت او بهادري ده، د تورې د اهمیت په اړه داسې اشاره کوي: ((پښتانه عموماً تورې ته ډېر اهمیت ورکوي او دا په دوی کې یوه منلې عنعنه ده، چې پښتون باید ضرور توریالی، شمشېر زن او بهادر اوسي، د میدان نه به هېڅکله مخ نه اړوي او نه به شا ګرځوي او ضرور به میدان ګټي یا به مري.)) (۱۰: ۱۴)

پښتانه په خپل عهد او قول باندې تر مرګه ټینګ ولاړ وي، پښتون ځان وژني، خو له خپل قول څخه نه تېرېږي، مؤلف د خپلې ادعا د تائید لپاره د څو نومیالیو شاعرانو شعرونه د بېلګې په ډول راوړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوشال وایي:**


که یې سر له تنه درومي نور به نه شي
د خوشال چې د خپل یار سره میثاق دی.

**حمید وایي:**

قول بول په ژوندون نه شي بدلولی
ځکه ځان په قول وژني پښتانه.

**یا دا چې:**

ځان به مړ د عشق په ځېل کړمه ناصحه
وابه نه وړم زه حمید هسې پښتون یم.
(۱۰: ۵۸)




**۲- نبوغ او عبقریت:** دا د استاد خادم یو تحلیلي فلسفي اثر دی چې پر (۱۳۴۰ل) کال د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

دا کتاب (د استاد خادم د اثارو د چاپ علمي بورډ) له خوا پر (۱۳۹۴ ل) کال پر سریزو او یادونو سربېره په (۱۲۰) مخونو کې د (یو زر) ټوکونو په شمېر یو ځل بیا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې د استاد خادم د نبوغ او عبقریت کتاب له چاپه راووت، دمحترم استاد عبدالله بختاني په قول: ((استاد خادم دغه کتاب (نبوغ او عبقریت) د هغه وخت د لیکوالو تر منځ (معرکة الارا) و، ډېرو لیکوالو ورباندې مثبت تقریظونه لیکلي او چاپ کړي دي او ځینو ورباندې اعتراضونه هم کړي دي.)) (۲۸: ۲)**

**د بېلګې په ډول مرحوم استاد جلالي داسې لیکلي وو: ((نبوغ او عبقریت د یوه ښکلي کتاب نوم دی، دا کتاب که څه هم د حجم په لحاظ وړوکی بریښي اما د موضوع په باب خورا ستر او مهم اهمیت ورته ټاکلی شو، ما په خپل نیمګړي ژوند کې دې موضوع ته راجع ډېر مضمونونه لوستي او لیکلي مې هم دي، سربېره پردې مې د نړۍ د سترو پوهانو نسبتاً زیاتې مقالې ترجمه کړي دي، مګر تر اوسه پورې ماته د کتاب په ډول په دې باره کې کوم اثر په نظر نه دی راغلی، چې یوازې په دې موضوع مشتمل وي.**

**رښتیا خبره دا ده چې ښاغلي مولانا خادم د نبوغ او عبقریت د کراړې فلسفې موضوع ښه تعقیب کړې او د قدر وړ زحمت یې په کې ګاللی دی، زما په عقیده دا رساله د پښتو د نوي ادبي نهضت لومړی اثر دی، چې تر اوسه د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی او د لوست ډګر ته راوتلی دی، ځکه دا کتاب د علمي اسلوب په بنسټ سم لیکلی شوی دی...)) (۱۵: هـ)**

**ښاغلی عبدالحکیم هلالي بیا د استاد خادم هغه نظر ردوي چې وایي: ((استعدادونه په فطري ډول اختلاف سره لري، سل نفره طالبان په یوه صنف کې درس وایي استاد، کتاب، د هستوګنې ځای او نورو تعلیمي معیارونو کې هېڅ فرق نه شته، خو بیا هم څوک ناکام شي، څوک کامیاب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څوک اعلى درجه اخلي، نو که د استعدادونو فرق نه دی، نور څه شی دی؟)) (۱۵: ۱۵)

ددې نظر په باب ښاغلی هلالي داسې نظر لري: ((مگر دا خبره حقیقت نه لري، ځکه استعدادونه په فطري ډول مساوي دي او شرایط مختلف دي، چې موږ نه شو کولای حتی د دوو تنو لپاره عین شرایط برابر کړو... حتی په یوه صنف کې چې استاد شاگردانو ته درس ورکوي د ټولو علمي سویه، د کورني ژوند او ماحول پخوانۍ تجربې، د فکر تمرکز، ذوق، خارجي منبهات، د تأثراتو اندازه، غم او خوشالي او نور شرایط یو تر بله فرق لري.)) (۴۱: ۵۰)

وروسته بیا کره کتونکی د نابغه او عادي شخص د دماغ د حجراتو د یووالي په اړه د ځینو سرچینو په استناد لیکي: ((د فزیولوجۍ له مخې دا خبره ثابته شوې ده، چې ټول بشري دماغ له ځینو مخصوصو حجراتو څخه ترکیب شوي دي، هغو ته (نورون) وایي. دغه حجرات د کیمیاوي جوړښت او ترکیب له حیثه یو له بله توپیر نه لري، د یوه نابغه دماغ او د یوه عادي شخص دماغ د ساختمان له مخې یو شان دی او دا دواړه دماغه کولای شي چې خارجي منبهات په یو شان ثبت کړي (البته مرضي حالات مستثنی دي) مگر د یوه عادي شخص او د یوه نابغه ترمنځ چې کوم توپیر شته هغه په شرایطو پورې اړه لري.)) (۴۱: ۴۹)

کله چې سړی د استاد خادم دغه کتاب (نبوغ او عبقریت) ولولي، نو ورته څرگندېږي چې استاد دا کتاب په دې منظور لیکلی چې که چېرې د یوې ټولنې په افرادو کې د نبوغ الهي عطیه څرگنده شوه، باید ضایع نه شي، خپل کمال ته ورسېږي او که کومه ټولنه د (خدای) په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډول ښښنو، ناشکري کوي، نو په پای کې به په قحط الرجال اخته شي، پایله یې بیا ذلت، حقارت، مریي توب، انحطاط او سپکاوی دی. ۴۸: ۴٦)**

**د استاد قیام الدین خادم نوموړی کتاب یو مغتنم فلسفي اثر دی، چې دده په وینا: ((د منلو نه منلو او تردید په درې واړو صورتونو کې د ګټې وړ دی.))**

**د ځینو لیکوالو په نظر: په رښتیا هم دې اثر ډېر درانه لیکوالان دې ته وهڅول، چې موضوع ته یو څه پاملرنه وکړي، د خپل فکر نیلي وځغلوي او لږ تر لږه یو څو کرښې د چاپ ډګر ته راوباسي، باید یادونه وکړو، چې استاد خادم د لومړي ځل لپاره دغسې هڅې وتخنولې او په حرکت یې راوستلې، دا چې دا کار به تر کومه ځایه بریالی وي، دا موضوع په بېلو بېلو استعدادونو پورې اړه لري او کنه نو د یوې خبرې سپیناوی او هغه هم په فلسفي ډګر کې یوه کړکېچنه موضوع ده او هېڅکله د یوه مشخص فورمول په چوکاټ کې نه راځي.**

**له دې مهم فلسفي کتاب سره د زیاتې اشنایۍ په خاطر به ښه وي چې یو نثر (نبوغ څه شی دی؟) یې د بېلګې په توګه راوړو:**

**((نبوغ یوه عربي کلمه ده، دعربو په ادبیاتو کې نابغه، عبقري او داهي تقریباً د یوې معنا لپاره استعمالېږي. کوم وخت چې سړی عربي قاموسونو ته مراجعه وکاندي، نو دغسې لغوي شرحې په کې مېندی شي: په المنجد کې لیکي (نبغ، ینبغ، نبوغاً) الشئ: خرج و ظهر الماء: نبغ الرجل: قال الشعر و آجاده فی العلم و غیره: آجاد. نبغه القوم: خیارهم (النابغه) – ج. نوابغ: المجید الفصیح: (الرجل العظیم الشان)، دا خو د نبوغ په باب لیکنه وه. د عبقري په باب لیکي: (عبقره، عبقرة) السراب: تلأ لأ (عبقر): موضع کانت العرب تزعم أنه کثیر الجن. (العبقري) نسبة الی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



العبقر. السید. (الذی لیس فوقه شئ. کل ما یتعجب من کماله و قوته و حذقه). د دهاء په باب وایي: الدهاء: جودة الرای والحذق.الداهی: العاقل. ج- (ادهیاء)، نو په دې ټولو لغوي شرحو او بیانونو کې د نابغه، عبقري او داهي په معنی کې یو شی مشترک دی چې هغه لویي، د شان عظمت، دعقل کمال او فوق العاده ګي ده، نو که موږ وغواړو چې په پښتو لغت سره د نبوغ څخه تعبیر کړو، نو وبه وایو: (وتلی او اتل سړی دی)، نابغه یعنې وتلی، اتل او عظیم الشان شخص. دا خو لغوي څېړنه ده، په متعارفو ادبي اطلاقاتو کې د نبوغ داسې تعریف شوی دی: (هو تملک القوة لادراک النتیجة السامیه) په المنجد کې یې لیکلي دي چې (سما-یسمو-سموا) علاو ارتفع. (السامی والسامیه: اسم فاعل) نو د نبوغ تعریف داسې شو چې نبوغ د یوې لوړې او عالي نتیجې د حصول لپاره د قوت لرل دي. یعنې نوابغ هغه کسان دي چې د لویو کارونو د کولو لپاره د لوی قوت خاوندان وي او د خارق العاده کارو لپاره صلاحیت لري.

نو د پورته څېړنیو څخه چې کوم شی زموږ لاس ته راتلای شي هغه دا دی چې انساني شخصیتونه او د اشخاصو قوتونه او صلاحیتونه قدرتاً او خلقتاً متفاوت دي. دا تفاوتونه په کم او کیف دواړو کې دي. مثلاً عسکریت او شجاعت بېل صلاحیت دی. شعر، نویسنده ګي او د لیکلو طاقت بېل شی دی. د بیان، ناطقې او خطابت قوه علیحده ده. عقل، سنجش او قرار ورکول ځان ته صلاحیت دی. حافظه بېل شی دی. ادراکه قوه بېله ده. نو په دغه شان سره که موږ د انسان د پېژنګلوۍ مقام ته راشو، نو راته معلومېږي چې دلته د خوردي او من نه هم ډېر تفاوت وجود لري. موږ وینو چې د یوې مدرسې په یو صنف کې سل نفره طالبان درس وایي، استاد، کتاب، د هستوګنې په ځای او نورو تعلیمي معیارونو کې هېڅ فرق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي، خو بیا هم څوک ناکام شي، څوک کامیاب او څوک اعلی درجه. ښه نو که دا د استعدادونو او صلاحیتونو فرق ن نه وي، نور نو څه دي؟))

(۱۵: ۵-۶)

**۳- لرغوني پښتانه قومونه:** دا د استادخادم یو څېړنیز کتاب دی، چې د پښتنو د نسب سلسله یې د خپل تحلیل او مطالعې پر بنسټ وړاندې کړې ده. دغه کتاب پر (۱۳۵۲ل) کال لیکلی شوی او پر (۱۳۵٦ل) کال په پېښور کې خپور شوی دی.

دغه اثر دویم ځل پر (۲۰۰۸م) کال په ننگرهار کې هم چاپ شوی دی.

استاد خادم دغه اثر (شېخ کټه) ته ډالۍ کړی دی د دې ډالۍ یو علت شاید دا وي چې شېخ کټه رحمة علیه هم د (لرغوني پښتانه) په نامه یو تاریخي اثر لیکلی دی او په هغه کې یې پخواني نومیالي پښتانه معرفي کړي دي. ((شېخ کټه متیزی، د شېخ یوسف زوی اود شېخ ملي لمسی و، د (۷۵۰هـ ق) حدودو کې یې ژوند کړی او د لرغوني پښتانه په نامه یې یو مهم کتاب لیکلی دی، چې پټې خزانې ترې زیات اقتباسات کړي دي.))

(۴۹: ٦۲۰-٦۲۱).

یادکتاب د مضامینو ترنیولیک وروسته په حمدیه کلام داسې پیلېږي:

نمانځنـــــــه د هغـــــــه چـــــا ده
چـــې پـــه لاس کـــې یـــې دنیـــا ده
هغـــه چـــې د هـــــر چـــا رب دی
او د ژونـــــــدون ســـــــبب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا د استاد له خوا د سر په خبرو کې د پښتنو په اړه داسې راغلي دي: ((پښتانه لومړی مغروره وو او اوس مجبور دي، په دغه وجه له ځانه بېځانه او له خپل خیر و شره پاتې شوي دي، له دوی ځان ورک دی، نو ځکه ټول په تشخصي عزم او قدام خاوند په ازادۍ مین او زړور دي، نن سبا ډېر ستومانه او خاورې په سر دي، دومره راټیټ شوي دي، چې ناهیلۍ په سر اخیستي او په ځان کې یې شک پیدا شوی دی، علاج یې زمونږ په فکر د خپل تاریخ او جهان پېژندنه او د ملي شعور په طریقه د خطراتو مخنیوی او د ځان ژغورنه ده، دا کار په بې علمه سیاست او بې پوهې ضدیت او نورو ته د تسلیم په مطلق صورت نه کېږي.)) (۱۴: ۷)**

**استاد په خپل پورتني نظر پښتانه دې ته هڅولي، چې د خپل تاریخ په اړه معلومات ترلاسه کړي او د ملي شعور په وسیله د خطرونو مخنیوی وکړي، ځکه د خپل تاریخي هویت په درک سره هره ټولنه کولای شي خپل تېر تاریخي برم بېرته راژوندی کړي، استاد ددې تاریخي اثر زیاته برخه د پښتنو لوی قام ته چې دوه زره کاله تاریخي قدامت لري او سهاک یې بولي، وقف کړې ده.**

**دغه کتاب پر دوو برخو وېشل شوی، د کتاب په وروستۍ برخه کې د (حاصل او نتیجه) تر سرلیک لاندې استاد له خپلو څېړنو او پلټنو څخه داسې پایله لاسته راوړې ده.: ((د غور لوړه سطحه د پامیر هندوکش او د سلېمان غره علاقه د دغو غرونو درې لمنې، شمال او جنوب، شرق او غرب، له امو څخه تر جېلمه د پښتنو تاریخي ځمکه ده په دې سیمه کې د (پخت، پکت، کاسي، سهاک، سیتي، اسکامي، پارتي، یوچي، تخار، کوشاني، یفتلي، پهلویان، برمکیان، غوریان، سوریان، لودیان، غلجیان، ابدالیان، هوتکیان، بارکزیان، سدوزیان، محمدزیان) او نور... او هغه څوک چې د پښتون، افغان او پټان په نامه یادېږي، دوی د ټولو قومونو،**


(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیلو او عشیرو سره د یو اصل، یو قوم او ټبر ښاخونه او څانګې دي، چې خپلې ژبې، لهجې، مذاهب، ادیان، قوانین، عادات، کلچر، تهذیب او تمدن لري...)) (۱۴: ۱۰۲)

دا کتاب د پښتنو د تاریخي او ملي عظمت د روښانولو لپاره یو مهم اثر دی او د ځوانو څېړونکو لپاره ښه لارښود ګڼل کېږي.

۴- **بایزید روښان:** دا د بایزید روښان په باب یو مهم اثر دی چې د هغه ژوند او کارنامې راسپړي. تر دې لیکنې وړاندې موږ په پښتو ادبیاتو کې داسې کومه تذکره نه ده لیدلې چې هغه دې د یو شخص د




ژوند او کارنامو په باب خپره شوې وي. دغه رساله پر (۱۳۳۲ل) کال شاوخوا خپره شوې ده، خو استاد پر (۱۳۲۳ل) کال لیکلې ده. دا نو داسې زمانه ده چې بایزید په داسې بشپړه توګه چې د هغه ژوند او کارنامې خلکو ته وړاندې شوي وي، نه دی پېژندل شوی. تر دې وړاندې بایزید په سیمه کې د (پیر تاریک) په نوم شهرت لاره. استاد بختاني خدمتګار ددې کتاب په باب وایي: ((مولوي محمد امین خوګیاڼي به ویل چې ما تر خادم صاحب دمخه پر بایزید روښان باندې کار کړی دی او یوه رساله مې لیکلې ده، دا د هغه د خولې خبره ده، خو دغه رساله په خطي یا چاپي بڼه ما (خدمتګار) نه ده لیدلې، په دې موضوع کې د استاد خادم بایزید روښان، لومړنی کتاب دی چې پر (۱۳۳۲ل) کال د پښتو ټولنې له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ شوی دی. پر کتاب د چاپ تاریخ نشته، مګر (د شریف سرګذشت) د چاپ نېټه (۱۳۳۲ل) کال د (جوزا) میاشت ښودل شوې ده او بیا د همدې کتاب په وروستۍ پښتۍ کې د استاد خادم د چاپ شوو کتابونو فهرست چاپ شوی دی. هلته دا کتاب داسې ښودل شوی دی:

((بایزید روښان (نږدې دی چې طبع شي) سوانح او مشاهیره)) نو ضرور همدغه کال (۱۳۳۲ل) کال کې چاپ شوی دی.

د استاد خادم د بایزید روښان د چاپي کتاب وروستۍ کرښه داسې ده:

((کابل- ۱٦ دلوه ۱۳۲۳ قیام الدین خادم)).

له دې کرښې څخه دا جوتېږي چې ددې کتاب د لیکلو کار استاد خادم د هغه تر چاپ یوولس کاله دمخه پر (۱۳۲۳ل) کال پای ته رسولی دی. هغه مهال لا د روښان او روښانیانو پر حالاتو څوک نه پوهېدل. د (حالنامې) حال نه و معلوم، (خیرالبیان) د کوم افغاني پوه له نظره نه و تېر شوی او ختیځپوهانو لا پوره او سم نه و لوستی، (د علم رساله) لا د جهل په دوړو کې پټه وه، د روښان او روښاني شاعرانو اثار نه وو چاپ شوي او پیر روښان لا په (پیر تاریک) یا (تاریک پیر) مشهور و.

استاد خادم د روښان پیر د مخالف اخوند درویزه د منفي لیکنو، د ځینو ختیځپوهانو د لنډو او مبهمو معلوماتو، د تاریخ د ځینو محدودو کتابونو د محدودو لیکنو او د ځینو روښاني شاعرانو د خطي نسخو له شعرونو څخه په خپل استخراج، پرتلنه او استناد دا کتاب ترتیب کړی دی، چې ضرور به له تاریخي تېروتنو څخه خالي نه وي او اوس بشپړونې ته اړتیا لري، خو تر ډېره حده پورې خصوصاً د کتاب د چاپ پر وخت ګټوره، نوې او نوښتګره هڅه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې چې روښان (تاریک) بلل کېده او د څلورو پېړیو د پرله پسې تبلیغاتو په نتیجه کې د چاپېریال عام ذهنیت په پوره ډول د هغه په مخالف سمت کې و، د داسې کتاب لیکل او خپرول د لیکوال په علمي شهامت او اخلاقي شجاعت دلالت کوي.))

د استاد خادم دا اثر ټولټال (۴۳) سرلیکونه او (۱٦٤) مخونه لري .

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه د کتاب د چاپ کال نه دی ښودل شوی، د لومړۍ پښتۍ په دننه خوا لیکل شوي: ((دې کتاب په (۱۳۲۳ل) (۱۹۴۴م) کال کې د اقتصاد جایزه اخیستې ده)) د اثر په څلورو لومړیو مخونو کې نیولیک راغلی دی، وروسته د ښاغلي مولف عکس، بیا د پښتو ټولنې د خپرونو په لړ کې (۱۰۵) نمبر ښودل شوی، وروسته د پوهاند صدیق الله رښتین له خوا یو لنډ تقریظ کښل شوی، چې د بایزید روښان مقام او شخصیت یې په ډېر لنډ ډول ستایلی او لوستونکي یې ددې ارزښتمن اثر لوستلو ته هڅولي دي.

بیا د ښاغلي مولف له خوا (لومړنۍ خبرې) شوي، په دې لومړنیو خبرو کې د دې اثر د تحقیق علت داسې ښودل شوی: ((یوه له دغو مسئلو څخه چې تحقیق یې غوښت د (بایزید روښان) او د ده د عصر او محیط د واقعاتو او حوادثو پلټنه او د دغو اصل او منشاء پیدا کول وو، چې په دې باب کې مختلف افکار او رنګارنګ نظریې په روایتي او کم و بېش ادبي ډول موجودې او د خلکو په منځ کې متداولې وې، اما په دې باب کې څومره چې د موضوع، وخت او مراجع په لاس راتلل او زما ناڅیزه قلم د جولان تقاضا وه، د پښتنو وروڼو او د علم او تحقیق د شایقینو څخه مې خپل زیار دریغ نه کړ...)) (۱۹: ۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب د په ځینو برخو کې د دولت لواڼي او میرزاخان انصاري له دېوانونو څخه د روښان په اړه ځینې بیتونه اواشعار راغلي دي، دا کار په دې خاطر شوی چې د (روښان) په اړه د نوموړو شاعرانو نظریات څرګند شي. د دې اشعارو په لوستلو سره د دولت لواڼي او میرزاخان انصاري علمي، ادبي، اخلاقي او مسلکي مقام ښه څرګندېږي او په دیني او مذهبي حیثیت هم دا دواړه شاعران پاخه مسلمانان او پاک سنیان ثابتېږي. د دوی په اقوالو کې له دین، قران، مذهب او اخلاقو څخه پرته بل څه نشته. څرنګه چې د دوی مقام څرګند شو، د نوموړو په دېوانونو کې چې په زرګونو ابیات موجود دي، د روښان او د ده د کورنۍ په باب کوم بد لفظ یا له ادبه وتلې خبره سړی کتلی نه شي، د کفر او الحاد حکمونه خو لا څه کوې، بلکې غوره شوو ادبیاتو کې (روښان) ته د نوموړو شاعرانو اخلاص او ارادت له ورایه معلومېږي.))

د یادونې وړ برېښي چې استاد خادم د بایزید روښان تحقیقي اثر په داسې وخت کې لیکلی و، چې د استاد بختاني په قول: ((په هغه وخت کې لا د روښان او روښانیانو حالات دومره نه وو روښانه شوي، د حال نامې حال نه و معلوم، خیر البیان لا د کوم افغاني پوه له نظره نه و تېر شوی. په هغه وخت کې د داسې  کتاب لیکل او خپرول د لیکوال په علمي شهامت او اخلاقي شجاعت دلالت کوي.)) (۲۸:  ۴۲)

هر لیکوال ته په کار دي چې علمي شهامت او اخلاقي شهامت ولري، له نېکه مرغه  دا بارز خصوصیات د استاد خادم په خټه کې اخښل شوي دي، نو ځکه خو هره موضوع د علم په معیار او بنسټ څېړي، نه پر ټولنه د واکمن چاپېریال په ګټه او غوښتنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤلف په پایله کې په لنډ ډول د روښان دتحریک بنیاد په (۱۱۰) مادو کې څېړي او بیا د روښان په باب لیکي:

((د ده په سر کې د پښتنو د لاسه تللي برم او د هغه د بېرته اعاده کولو، د مغولو د تخت اړولو او د پښتنو د ملي حکومت د جوړولو نقشه پرته وه، ده غوښتل دغه قوم چې پرته د وینې له رنګ نه بل هېڅ رنګ نه قبلوي، متحد کاندي او کار ترې واخلي، د مغولو حکومت چې کوم وخت دده په پلان پوه شو، نو په خپل ټول زور او قوت سره یې د پښتنو دغه لوی سیاسي مشر په خپل هدف کې ناکام کړ او د ده اولاده یې هم په ارامه پرېنښوده.))

د پایلې په وروستۍ برخه کې ښاغلی مؤلف خپل تأسف داسې څرګندوي:

((په دې ناکامۍ کې پښتنو هم برخه واخیسته او خپله پښه یې په خپله په تسکوره ووهله، اه! که ویشتلی یم، خو بیا په خپل ټوپک یم.))

(۱۹: ۱٦۴)

**۵- نوې رڼا:** نوې رڼا د استاد خادم د (سلو) خورو ورو څېړنیزو او تحلیلي لیکنو ټولګه ده چې پر (۱۳۴۳ل) کال د هېواد ورځپاڼې له خوا خپره شوه. دغه لیکنې لومړی د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې خورې ورې خپرې شوې دي. وروسته استاد راټولې کړې او بیا یې کتابي بڼه ورکړه. په دې ټولګه کې په لوړ ادبي ذوق او هنري ګاڼه پسولل شوې یو شمېر داسې لیکنې هم ځای شوې دي چې هغه منثور شعر ګڼل کېدی شي. استاد بختانی بیا ددې کتاب په باب لږ شان تفصیلي معلومات ورکوي، هغه وایي: ((دا د استاد خادم د اجتماعي، سیاسي، ادبي، سلو مقالو یوه مجموعه ده، چې دا مقالې د کتاب د چاپ له وخته په تېرو څلوېښتو کلونو کې په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د هېواد په خپرونو، زیاتره په اتحاد مشرقي، طلوع افغان، زېري، کابل، اصلاح او هېواد) کې خپرې شوي او ژورنالېستیک ارزښت یې زیات دی. په دې کتاب کې خو د لیکوال یو هدف دا هم و چې د پښتو د عادي نثر نمونه وړاندې کړي او رښتیا هم چې ډېره ښه او غوره نمونه یې وړاندې کړې ده، چې د هېواد ژورنالېستانو لپاره د مشق او تقلید وړ ده. د ټولنیزې مفاهمې د وسایلو ژبه باید دغسې ساده، روانه، خوږه او ښکلې وي چې که موضوع مبهمه او مغلقه هم وي د سواد د متوسطې سویې خاوند وریاندې ژر پوه شي.

د کتاب په سر کې مقالې سل ښودل شوې دي، خو په فهرست کې (۱۰۵) عنوانه درج دي. دا دواړه صحیح دي.

په دې ډول:

په اجتماع کې خپلچاري، په اجتماع کې ساده وګړي، په ټولنه کې سودا ګران، نېکان او محسنان تر څلورو عنوانونو لاندې لیکنې په حقیقت کې د یوې مقالې څلور برخې دي. (د کتاب له ۲۲٦ څخه تر ۲۴۲مخه پورې).

- (پښتون د ملت نوم دی، د قام نوم نه دی)، تر عنوان لاندې مقاله د استاد الفت لیکنه ده، داسې ښکاري چې دا مقاله د مولف خوښه شوې ده او هغه یې راخیستې ده، په اخره کې یې تخلص (الفت) هم راوړی دی. (له ۳۸۹ څخه تر ۳۹۳ مخه پورې)

- ایا د وطن مینه غریزي ده؟ تر عنوان لاندې مقاله چې د مکالمې یا څو کسیز ډیالوګ شکل لري، ما (بختاني) لیکلې ده او د زېري په جریده کې مې خپره کړې ده. دا لیکنه هم د استاد خوښه شوې ده، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په خپل کتاب کې راخيستې ده او په پای کې يې ورته ليکلي دي: (زېرى)، (۳۹۴ څخه ۴۰۴ مخه پورې).

په دې صورت په خپله د استاد په قلم (سل مقالې) پاتې کېږي او د کتاب د سر دا عبارت: (د قيام الدين خادم سل مقالې) سم دی.

لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکړه دا کتاب د هېواد ورځپاڼې له خوا پر (۱۳۴۳ل) کال په (۵۲۴) مخونو کې خپور شوی دی او وروسته بيا د خادم صيب د کورنۍ له خوا پر (۱۳۸۴م)کال يو ځل بيا په (٦۳۰) مخونو کې خپور شوی دی.

ددې کتاب په اړه ښاغلي (اسد الله غضنفر) يوه اوږده تحليلي ليکنه کړې چې د استاد خادم په باب دکورنيو ليکوالو په نظرونو کې په بشپړ ډول راغلې ده.

**٦- افغاني موسيقي:** استاد خادم د افغاني موسيقي په باب يو ځانګړی اثر هم ليکلی و، د دې اثر څرک د ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل له هغې ليکنې څخه لګي چې د استاد خادم له خوا پر يوه ژباړل شوی علمي اثر (مکارم الاخلاق) يې ليکلې ده، استاد هېوادمل په دې ليکنه کې يادونه کوي چې: ((استاد خادم د افغاني موسيقي په باب هم يو مستقل اثر کښلی دی، چې متأسفانه تر اوسه چاپ نه دی. په دې رساله کې استاد د افغاني موسيقۍ په باب خبرې کړي او په افغاني موسيقۍ کې يې د ځينو سيمو د موسيقۍ د اصالت په باب په زړه پورې نظريې وړاندې کړې دي.)) سرمحقق زلمی هېوادمل زياتوي: ((د استاد دغه اثر ښاغلي محترم رفيع او ما ليدلی و، په خپله دوی موږ ته راوښود او د محتوياتو په باب يې خبرې راسره وکړې.)) (۴۴: ۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د (افغاني موسیقي) ځانګړی کتاب تر اوسه زموږ لاس ته نه دی راغلی، خو د (ملي موسیقي) او (زموږ کومه موسیقي ملي رنګ لري؟) تر سرلیکونو دوه ځانګړې لیکنې په (رڼه چینه) کې خوندي شوي دي، چې دا دواړه لیکنې زموږ د ملي موسیقي ځرنګوالی په ګوته کوي.

(۲۴: ۱۱۵۲-۱۱۵۴)

**۷- شلمه پېړۍ او پښتانه:** په دې نامه هم د استاد خادم یه ناچاپو اثارو کې د یوه اثر یادونه راغلې ده. دا یادونه هم په پښتانه شعراء پنځم ټوک کې شوې ده او ځینو نورو اثارو کې هم د همغه بنسټ له مخې یو ځل بیا تکرار شوې ده. د دې کتاب د محتویاتو په باب تر دې دمه نور معلومات په لاس کې نه شته، چې څو مخه و او تر کومو سرلیکونو لاندې په کې لیکنې راغلې دي. دا چې د دې اثر خطي نسخه به اوس چېرته وي، په دې باب هم کره معلومات په لاس کې نه شته.

**۸- پښتني پور:** پښتني پور هم د پښتانه شعراء په پنځم ټوک کې د یوه ناچاپ مستقل اثر په توګه یاد شوی، خو د یاد کتاب مولف بیا د دې اثر په باب بیا نور معلومات نه ورکوي. تر هغه وروسته چې استاد بختاني خدمتګار (د ملی ادب او ژورنالېزم خدمتګار) په نامه د استاد خادم د ژوند او اثارو په باب بل ځانګړی اثر ولیکه او لومړی ځل یې پر (۱۳٦۸ ل) کال د استاد خادم د لسم تلین په مناسبت چاپ کړ، بیا هم د دې اثر شرح نه ده راغلې، نو ځکه خو دا معلومه نه شوه چې دا یو مستقل اثر دی او یا هم کومه لنډه یا اوږده لیکنه چې د خپل وخت په کومه خپرونه کې چاپ شوې ده. د لیکنې له عنوان څخه ښکاري چې د پښتني کلتور د یوه دود (غچ) په باب به لیکل شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹- د پښتنو قامولي:** په دې نامه هم د استاد خادم په ناچاپه اثارو کې د یوه ځانګړي اثر نوم راغلی دی، دا یادونه په پښتانه شعرا پنځم ټوک کې هم شوې او بیا چې ښاغلي مطیع الله روهیال د استاد بېنوا د (اوسني لیکوال) درې واړه ټوکونه سره یو ځای چاپ کړل، هلته هم د استاد خادم د پېژندنې په برخه کې په لمن کې د استاد خادم د ناچاپه اثارو په توګه ددې اثر نوم راغلی دی، خو نوره زیاته شرح یې نه ده ورکړې. په (رڼه چینه) دواړو ټوکو کې چې د استاد خادم د اکثرو نثرونو ټولګه ده، په هغه کې هم د (پښتنو قامولي) په نامه نه د کوم ځانګړي اثر او نه هم د کومې لیکنې متن راغلی دی. البته دې ته ورته نورې ډېرې زیاتې لیکنې په کې خوندي شوې دي.

**۱۰- غوره سندرې:** غوره سندرې هم په بېلابېلو تذکرو او د خادم صیب په پېژندنه کې د یوه ځانګړي ناچاپ اثر په توګه یاد شوی دی، خو په دې اړه نور معلومات نه دي ورکړل شوي. (رڼه چینه) او (خادم باد سبا یم) کې په دې نامه د کوم ځانګړي اثر یادونه نه ده شوې. تر دې دمه مور غوڅ حکم نه شو کولای چې (افغاني موسیقي) او (غوره سندرې) به یو اثر وي، یا بېلابېل او یو بل سره به څومره ارتباط لري؟ کېدی شي (غوره سندرې) د یو شمېر غوره سندرو ځانګړې ټولګه وي. (افغاني موسیقي) یو جلا اثر دی چې مخکې مو ورته یادونه وکړه.۰ خو په ادبي تذکرو کې دا دواړه بېلابېل اثار ګڼل شوي چې تر دې دمه لا چاپ شوي نه دي.

**۱۱- د پښتو مشاعرې:** په (پښتانه شعراً) پنځم ټوک کې په دې نامه د یوه ناچاب اثر یادونه شوې ده او تر هغه وروسته نورو چاپ شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکرو کې یې هم یوازې یادونه راغلې ده، نه دا چې دا اثر یې تشریح کړی وي.

په (رڼه چینه) او (خادم باد سبا یم) کې هم په دې باب په مشخص ډول څه یادونه نه ده راغلې، خو په (رڼه چینه) کې د شعر او شاعرۍ په باب نور ګڼ مسایل راغلي دي، لکه: (د شعر او شاعرۍ په باب سوال او ځواب، د پښتو شاعرۍ معیار، د رحمان بابا مشاعره) او ځینې نورې لیکنې راغلي، خو تر پورته عنوان لاندې د یوه مستقل اثر یادونه نه ده شوې او نه کوم متن راوړل شوی دی.

البته په (خادم باد سبا یم) کې د خادم صیب او ځینو نورو شاعرانو تر منځ د یو دریو مشاعرو یادونه راغلې او د هغو اړوند شعرونه یا نظمونه هم ورسره چاپ شوي دي. ددې احتمال هم شته چې (د پښتو مشاعرې) تر عنوان لاندې اثر کې استاد خادم د یو شمېر ترسره شویو مشاعرو شعرونه خوندي کړي وي.

**۱۲- د تنقید حق:** د تنقید حق هم د استاد خادم په ناچاپه مستقلو اثارو کې ګڼل شوی، لومړی ځل چې دا اثر پر (۱۳٦۷ل) کال په (پښتانه شعرا پنځم ټوک) کې د ناچاپ اثر په توګه یاد شوی، تر هغه وروسته چې نورو تذکره لیکونکو یا څېړونکو له دې اخځ څخه ګټه اخیستې، هغوی ټولو دا په همغه شان راوړی چې په لومړي اخځ کې ښودل شوی دی، خو په یوه څېړنیز اثر کې هم ددې اثر په باب معلومات نه دي راغلي چې د دې اثر کمیت او څرنګوالی تشریح کړي.

**۱۳- ساتلې خزانه:** ساتلې خزانه هم د پورتنیو یادو اثارو په توګه یو بل ځانګړی اثر ښودل شوی دی. دا یې هم د استاد ناچاپ ځانګړی اثر ګڼلی دی، خو هېڅ تذکرې تشریح نه ده ورکړې، چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کومه ادبي تذکره ده، د پخوانیو شاعرانو د شعرونو غورچاڼ دی او که د پښتنو د تاریخ په باب ځانګړی اثر دی او یا هم کومه لیکنه ده. ادبي تذکرو یوازې د استاد خادم د ناچاپه اثارو په نوملړ کې راوړې ده.**

**۱۴- د پښتو ولسي ادب:** **د پښتو ولسي ادب هم د استاد خادم په ځانګړو ناچاپه اثارو کې شمېر شوی اثر ګڼل شوی، البته دې کې هېڅ شک نه شته چې خادم صیب د ولسي ادب په باب ګڼ شمېر متفرقه لیکنې پر خپل وخت په رسنیو کې خپرې کړې دي، کېدی شي دا د همغو لیکنو یوه ټولګه وي، خو تر دې وخته د کوم ځانګړي اثر په توګه چاپ شوې نه ده او یوازې د ناچاپه اثارو په نوملړ کې یې یادونه راغلې ده.**

**۱۵- افغاني حکومت:** **د (افغاني حکومت) تر نامه لاندې د (پښتانه شعرا) په پنځم ټوک کې د دې اثر یادونه راغلې او دا یې د خادم صیب یو ځانګړی چاپي اثر ګڼلی دی. د خادم صیب د اثارو د پلټنې په بهیر کې یاد اثر ما ته تر ګوتو نه شو او نه هم د هغه په منثورو کلیاتو (رڼه چینه) کې په دې نامه د کوم ځانګړي اثر یا لیکنې متن موجود دی. په (رڼه چینه) دواړو ټوکونو کې د خادم صیب اکثره چاپي لیکنې په تېره بیا مستقل چاپي اثار خوندي شوي دي، خو تر پورته عنوان لاندې د کوم ځانګړي اثر یادونه په کې نه ده راغلې.**

**۱٦- ملیت او بین الملیت:** **د (پښتانه شعراء) پنځم ټوک کې نیشنلیزم او انټرنیشنلیزم (ملیت او بین الملیت) په نامه د یوه ځانګړي چاپي اثر یادونه راغلې او پورته عنوان یو چاپي اثر ګڼل شوی دی، ما ته خو تر دې دمه د یو خپلواک اثر په توګه د دې اثر چاپي نسخه تر سترګو نه شوه، البته په دې نامه د استاد یوه ځانګړې لیکنه شته چې په (رڼه چینه) دویم ټوک کې په (۹۰۳-۹۰۵) مخونو کې چاپ شوې ده، دا لیکنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دري ژبه ده او تر دې دمخه په اصلاح ورځپاڼه کې چاپ شوې وه. څرنګه چې خادم صیب پر ملت، ملیت، قومیت او نورو ملي مسایلو ډېرې زیاتې لیکنې کړي دي، نو د دې احتمال شته چې دا لیکنې یې تر پورته عنوان لاندې سره اوډلې وي، خو مخکې تر دې چې د یوه ځانګړي اثر په توګه چاپ شي، په متفرق ډول خپرې شوې دي.

**۱۷- کوشانیان څوک وو؟:** استاد بختاني (کوشانیان څوک وو؟) اثر د استاد خادم د چاپي اثارو په لړ کې (۲۱)شمېره اثر ګڼلی، چې چاپ شوی دی، خو نور تفصیل یې نه دی ورکړی. البته په همدې نامه یوه ځانګړې لیکنه په (رڼه چینه) دویم ټوک کې چاپ شوې ده. (۲۳: ۴۶۳ – ۴۶۹)، خو د یوه مستقل کتاب په بڼه ما ته تر اوسه په لاس نه دی راغلی، په (رڼه چینه) کې هم دا لیکنه (د لرغوني پښتانه قومونه) څخه رااخیستل شوې ده.

**۱۸ - پارتیان څوک وو؟:** دا هم په پښتانه شعراء پنځم ټوک کې د استاد خادم یو ځانګړی اثر ګنل شوی دی او د چاپي اثارو د لېست په لړ کې (۲۰)مه شمېره ورکړل شوې ده، خو په دې برخه کې نور توضیحات نه دي ورکړل شوي، کېدی شي دا هم د استاد خادم کومه ځانګړې لیکنه وي، چې استاد بختاني هغه د چاپي اثارو په لړ کې د یوه ځانګړي اثر په توګه ګڼلې ده.

**۱۹- د خوشال او رحمان موازنه:** په دې نامه د استاد خادم د یوه ځانګړي اثر یادونه شوې ده، خو تر اوسه پورې لا د ځانګړي اثر په توګه چاپ شوی نه دی. ځینې نور څېړونکي بیا په دې نظر دي چې استاد خادم د خوشال خان خټک او رحمان بابا د افکارو په باب یوه تفصیلي لیکنه کړې، په دې لیکنه کې یې د پښتو ادب دا دوه ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شخصيتونه او د هغو افکار پرتله کړي دي. خادم صيب په دې نظر دی چې ((خوشال په ټولو معانيو سره شاعر دی، ولې رحمان د شاعر نه پورته مقام لري)) نو کومو تذکرو چې ((د خوشال او رحمان موازنه)) يو مستقل اثر بللی، غالباً موخه به يې د خادم صيب هغه تفصيلي ليکنه وي، چې استاد په همدې نامه ليکلې وه او يوه علمي سيمينار کې يې اورولې هم وه.**

**سرمحقق زلمی هېوادمل بيا د دغه اثر په باب وايي: ((دا د هغې رسالې نوم دی چې ده د خوشحال خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰هـ ق) د مړينې د (۲۸٦) تلين په بين المللي سيمينار کې اورولې ده او د ليکلو تاريخ يې ښايي پخوانی وي، ځکه د استاد د اثارو کوم لېست چې په اوسني ليکوال کې چاپ شوی دی، هورې هم د دې رسالې يادونه شته)) (۴۲: ۴۵)**

**۲۰ - د پښتو د تاريخ يوه زړهپاڼه: (د پښتو د تاريخ يوه زړه پاڼه) په نامه د استاد خادم د يوه ځانګړي ناچاپ اثر يادونه شوې، دا هم په همغو چاپي تذکرو کې راغلې چې دمخه مو يادونه وکړه. د دې ځانګړي اثر يا ليکنې د څرنګوالي په باب نور زيات څه نه دي ويل شوي.**

**۲۱ - نوې لار: استاد سر محقق زلمي هېوادمل په خپله هغه ليکنه کې چې د استاد خادم (مکارم الاخلاق) پر ژباړل شوي اثر يې کړې او په هغې کې يې د استاد خادم پر ژوند او اثارو هم تفصيلي رڼا اچولې ده، د همدې ليکنې په پای کې د (نوې لار) اثر يادونه کوي، خو نور توضيحات يې نه دي ورکړي چې دا (نوې لار) کوم بېل ځانګړی اثر دی او که همغه (نوې رڼا) ده، چې د خادم صيب د هنري، نيمه هنري، څېړنيزو او تحليلي ليکنو يوه ټولګه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲ - نوی ادب، شعر و ادب:** په ځینو تذکرو کې (نوی ادب) هم د خادم صیب یو ځانګړی اثر بلل شوی، خو په دې باب یې نور توضیحات نه دي ورکړي چې دا څه ډول اثر دی. البته د نوي ادب، شعر او شاعرۍ او په ټوله کې د ادبیاتو په باب استاد خادم بېلابېلې لیکنې کړي چې ځینې یې په ځانګړو اثارو او ځینې یې هم په بېلابېلو خپرونو کې خپرې شوې دي. په (رڼه چینه) منثورو کلیاتو کې هم دا ډول لیکنې راغلې دي، کېدی شي د همغو لیکنو ټولګې ته یې (نوی ادب) نوم غوره کړی وي، خو لا تر دې دمه د ځانګړي او مستقل اثر په توګه چاپ شوی نه دی. دغه راز د ((شعر و ادب)) په نامه د لیکنو یوه بله ځانګړې مجموعه چاپ شوې ده، سرمحقق زلمی هېوادمل له دغې مجموعې سره د استاد خادم د لیکنو د ارتباط په باب وایي: ((په (شعر و ادب) نومې مجموعه کې د استاد خادم دغه لاندې لیکنې: (د شعر غرض او غایه، ادب او حیات، د شعر او شاعرۍ په باب) او د ادبیاتو او شعر په باب په عمومیاتو خبرې لري.)) (شعر او ادب) مجموعه عبدالله بختاني راټوله کړې او پر (۱۳۳۳ل) کال پښتو ټولنې چاپ کړې ده.

**۲۳- علمي پښتونولي:** علمي پښتونولي هم د خادم صیب یو اثر ګڼل شوی او هېوادمل صیب یې په پر (مکارم الاخلاق) باندې په خپله لیکنه کې یادونه کړې، د دې اثر په باب په نورو ځایونو کې مشخص معلومات نه شته چې د اثر څرنګوالی او څومره والی په ګوته کړي.

**۲۴-غریزه حب خیر:** په دې نامه د استاد خادم په ناچاپه اثارو کې د یوه اثر نوم راغلی دی. تر (پښتانه شعراء) پنځم ټوک وروسته په نورو ادبي تذکرو کې هم د دې اثر یادونه شوې، خو یوازې نوم یې یاد شوی دی، نور یې هېڅ پر څرنګوالي او څومره والي بحث نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵- اسماني غړ:** د استاد قدرمنې لور (ډاکټرې ثريا خادم)د (اسماني غړ)په نامه د استاد د يوه ځانګړي اثر يادونه کړې ده. دې د (نبوغ او عبقريت) اثر د دويم چاپ په پيل کې په (يادونه او مننه) کې ويلي دي: ((په نږدې راتلونکي کې به (اسماني غږ) او (د مرغلرو امېل) کتابونه چې د چاپ چارې يې روانې دي، ستاسو مطالعې ته وړاندې شي.)) (نبوغ او عبقريت، يادونه او مننه مخ) . په (رڼه چينه) لومړي ټوک کې هم د (اسماني غږ) په نامه يو نثر شته چې د ياد کتاب په (۱۵۴-۱۵۵) مخونو کې چاپ شوی دی. (۲۳: ۱۵۴-۱۵۵) استاد خادم دا ليکنه په (کهي) کلي کې د (۱۳۳۷ل) کال د غبرګولي مياشتې پر (۲۳)مه نېټه کړې ده.

**۲٦- د پښتون د ستې ځانګې:** پر (۱۳٦۷ل) کال چې (پښتانه شعرا پنځم ټوک) چاپ شو او د استاد خادم د اکثرو چاپي او ناچاپه اثارو نوملړ يې خپور کړ، نو د (پښتون د ستې ځانګې) په نامه په چاپي او ناچاپه اثارو کې د کوم اثر يادونه نه ده شوې، خو پر (۱۳۹۴ل) کال د (نبوغ او عبقريت د بيا چاپ پر مهال د ډاکټرې ثريا خادم د يادونې له مخې (د پښتون د ستې ځانګې) اثر چاپ شوی دی، خو زما له هڅو سره سره د دې ليکنې تر مهاله ما د دې اثر چاپي بڼه ترلاسه نه کړای شوه.

**۲۷- لرغوني افغانان:** که څه هم په بېلابېلو ادبي تذکرو کې د (لرغوني افغانان) په نامه د استاد خادم د کوم ځانګړي اثر يادونه نه ده راغلې، خو ښاغلي لطيف ياد د استاد خادم دژوند او اثارو په باب په يوه ځانګړې ليکنه کې دا (لرغوني افغانان) د استاد خادم يو ځانګړی ناچاپه اثر ګڼلی دی. (لرغوني پښتانه قومونه) په نوم چې مو د مخه د کوم اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه وکړه، کېدی شي (لرغوني افغان) او لرغوني پښتانه قومونه) یو اثر وي.

**۲۸ - د پښتونولۍ ادب:** (د پښتونولۍ ادب) په نامه په نورو ادبي تذکرو کې د کوم ځانګړي اثر یادونه نه ده راغلې، خو ښاغلي لطیف یاد ورته په خپله یوه ځانګړې لیکنه کې نغوته کړې ده. څرنګه چې استاد خادم د پښتو او پښتونولۍاو دېته نورو موضوعاګانو په باب ګڼ شمېر لیکنې کړي دي، د (پښتونولۍ روح) په نامه هم استاد خادم یوه ځانګړې لیکنه لري چې په (رڼه چینه) کې هم خپره شوې ده، خو د (پښتونولۍ ادب) په نامه لیکنی متن او یا هم د هغې د څرنګوالي په باب معلومات مې ترې دې دمه ترلاسه نه کړای شول.

**۲۹- لوی سهاک:** ښاغلي لطیف یاد د یوه ځانګړي اثر په توګه د (لوی سهاک) په نامه د یوه ناچاپه ځانګړي اثر یادونه کړې ، خو نورو ځایونو کې د یوه ځانګړي اثر په توګه د دې اثر یادونه نه ده شوې.

**۳۰ - ټولنپال افغان مونوفیسټ:** ښاغلي لطیف یاد د ټولنپال افغان مونوفیسټ په نامه د استاد خادم په اثارو کې د یوه چاپي اثر یادونه کړې ده. په نورو تذکرو کې د دې ځانګړي او یا هم چاپي اثر یادونه نه ده راغلې، خو خادم صیب همدې ته په ورته مفهوم ډېرې لیکنې کړي دي. له هغې جملې څخه یې یوه په (رڼه چینه، دویم ټوک) کې چاپ شوې ده. که د خادم صیب دا ډول لیکنې سره راټولې شي، نو حجم یې تر یوه ځانګړي اثر هم پورته کېږي.

د یادونې وړ ده چې د (ټولنپال افغان مونوفیسټ) په نامه د (افغان ملت) جریدې په لومړۍ ګڼه کې هم ځینې مطالب خپاره شوي دي. سرمحقق

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمی هېوادمل هم د استاد خادم له خولې د دې اثر د شتوالي تائید کوي.

**۳۱ - کنفرانسونه:** په بېلابېلو ادبي تذکرو کې د استاد خادم د پېژندنې په برخه کې (کنفرانسونه) د استاد خادم یو ناچاپ اثر ګڼل شوی دی، په دې اثر کې د خادم صیب هغه ویناوې او لیکنې شاملې دي چې ده د ملي شورا مشرانو جرګې ته کړي او یا هم په نورو علمي، ټولنیزو او سیاسي غونډو کې یې اورولې دي. د دې ډلبندۍ ځینې لیکنې په متفرق ډول د هېواد په چاپي خپرونو کې خپرې شوې دي، خو د ځانګړي اثر په توګه لا تر دې دمه چاپ شوې نه دي.

## ب- ادبي تذکرې او تاریخ لیکنه:

پر پورتنیو یادو نثري اثارو سربېره چې زیاتره ټولنیز مسایل په کې بیان شوي دي، استاد خادم په تذکره لیکنې کې هم لوی لاس درلود.

خادم صیب یو له هغو لومړنیو لیکوالو څخه دی، چې په پښتو کې یې د تذکره لیکنې لپاره اساسي هلې ځلې کړي دي. دده او له ده سره د نورو ملګرو لیکوالو د زیار او کار له برکته د پښتنو لیکوالو د پېژندنې په باب د (تذکرة الشعرا) او (پښتانه شعرا) لړۍ توده شوه. ده نه یوازې دا چې په دې برخه کې پښتانه نثر لیکونکي او ناظمان راپېژندلي، بلکې د تذکره لیکوال لپاره یې د تذکره لیکنې یوه تیوري او عملي بېلګه هم وړاندې کړې ده. دده په قلم لیکل شوې تذکرې دادي:

**۱- د پښتو نني لیکوال:** دا د هغې زمانې د شاوخوا لیکوالو یوه تذکره ده، چې خادم صیب په کې ژوند کاوه، په دې تذکره کې د هر شاعر او لیکوال لنډه پېژندنه راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه تذکره د کابل کالنۍ د (۱۳۱۷-۱۳۱۸ل) کال ګڼو کې خپره شوې ده. په دې تذکره کې استاد په خپل خواږه قلم د لیکوالو پېژندنه او د هغوی د اثارو بېلګې وړاندې کړې دي. استاد بختانی په دې باب وايي: ((هو! خادم صیب د هغه وخت د نورو لیکوالو بیوګرافۍ لیکلې وې، خو د کابل کالنۍ مسول مدیر (سید قاسم رښتیا) بیا د نوموړي لیکوال (قیام الدین خادم) بیوګرافي لیکلې ده او د هغه د کار په پای کې یې خپره کړې ده. زه فکر کوم چې دا د استاد خادم په شمول د پښتو د معاصرو لیکوالو لومړنۍ تذکره ده چې ابتکار یې استاد خادم ته راجع کېږي.))

( ۲۹: ۳۲)

( د پښتو نني لیکوال) د تذکرې د چاپي قدامت له مخې د پښتو د لومړنیو چاپي تذکرو له جملې څخه ده. دلته د دې خبرې یادول هم په کار دي، کوم لیکوال چې په دې تذکره کې له استاد خادم څخه پاتې شوي و، وروسته ورپسې استاد رښتین معرفي کړل او په همدې نامه یې پر (۱۳۱۹ل)کال په (کابل کالنۍ) کې چاپ کړل.

## ۲- د پښتو نثر تاریخي تطورات او د نثر لیکونکو تذکره:

((دا د پښتو نثر یوه تاریخي پلټنه ده چې په هغې کې د پښتو د پخوانو نثر لیکونو پېژندنه هم شوې ده، د استاد خادم دغه رساله د کابل کالنۍ د (۱۳۱۹ل) او (۱۳۲۰ل) کال په ګڼو کې خپره شوې ده.

په همدې زمانه کې د پښتو ټولنې له خوا، د پښتو شاعرانو د تذکرې لیکلو کار هم روان و، (تذکرة الشعرأ) او د (پښتانه شعرا) لړۍ د همغه کار نتیجه او ادامه ده. ځینې څېړونکي وايي: ((داسې معلومېږي هغه وخت داسې فکر و چې د شاعرانو او ناظمانو د تذکرو بېله لړۍ وي او د نثر لیکونکو بېله، ځکه نو دغه د نثر برخه استاد خادم ته رسېدلې وه. کاشکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هماغه پیل نه د نظم او نثر د لیکوالو د تذکرې لیکلو ګډه سلسله پیل شوې وای، ځکه چې د پښتو ادب او لیکوالۍ په دواړو خواوو کې زیات کار شوی دی او زموږ د پوهانو، شاعرانو، لیکوالو د فکر او هنر مرغلرې په دواړو لړیو کې پېيل شوې دي. که ددې دواړو خواوو تذکرې سره یو ځای وای، نو د ادب تاریخ د لیکوالو لپاره به کار اسان شوی وای.)) د استاد خادم له خوا لیکل شوې تذکره هم د لومړنیو چاپي تذکرو له جملې څخه ګڼل کېږي.

**۳- پښتانه شعرأ:** که څه هم دغه لړۍ تر پنځم ټوکه پورې خپره شوې، شپږم او اووم ټوک یې هم د استاد بختاني په زیار ترتیب شوی دی. استاد خادم د دغې لړۍ په لومړۍ کړۍ کې چې د استاد حبیبي په زیار او دویمه کړۍ کې چې د استاد رښتین په زیار په ترتیب سره پر (۱۳۲۰ل) او (۱۳۲۱ل) کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې، خپله ونډه اخیستې ده. په لومړي ټوک کې مدون لیکلي چې: ((ښاغلی قیام الدین خادم، چې تر ټولو لومړی حق لري او د کتاب ډېرې برخې یې لیکلي او په پلټنو کې یې زیار کښلی دی.)) د دویم ټوک مدون بیا استاد خادم په مرستندویانو کې راوستی دی. د پښتانه شعرا په دویم ټوک کې (میانعیم، عبدالنبي، مراد علي، نورالدین، نعمت الله، ملا مقصود، نوروز، غلام محمد او میر احمد شاه) د استاد خادم په قلم معرفي شوي دي.

**۴- مجلسي شاعران:** دا کتاب هم یوه تذکره ګڼل شوې ده، دا اثر د استاد خادم د ژوند پر مهال هغه په خپلو ناچاپو اثارو کې ګڼلی او تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې چاپ شوی نه دی، په غالب ګومان په دې کې به پښتو ولسي شاعران معرفي شوي وي، خو څرنګه چې اوس ددې اثر کومه نسخه زموږ په واک کې نه شته، نو ځکه ډېر بحث پرې نه شو کولای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څومره او د کومو سیمو شاعران به په کې معرفي شوي وي.د یادونې وړ ده چې په همدې نامه (دردمند) صیب هم یو اثر لیکلی او په متفرق ډول یې کابل مجله کې چاپ کړی دی.

**۵- روهي ګلونه:** روهي ګلونه که څه هم بشپړه تذکره نه ده، خو د تذکره لیکنې یو څه تومنه لري او هغه دا چې په دې ټولګه کې استاد په خپل عالي ذوق له (بېټ نیکه) رانیولې ان د للمې تر (ملا احمد ګله) د (پنځوسو شاعرانو) د شعرونو بېلګې غوره کړي او راټولې کړې دي. دغه اثر پر (۱۳۲٦ل) کال خپور شوی دی.

دا اثر د پښتو د پنځوسو تنو شاعرانو د شعرونو انتخابي مجموعه ده چې خادم صاحب د پښتو شعر له دومره پراخې او بډایې ذخیرې څخه ضرور د ډېرې مودې په ترڅ کې انتخاب او د موضوع له مخه په شپږو بابونو کې ترتیب او تدوین کړې ده. هر باب یې څو فصلونه او هر څپرکی یې ځانله عنوانونه لري. د استاد خادم خبره: ((څومره چې دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده او د ادب او شعر د نزاکتونو او شهکاریو څخه ډکه ده، هغومره د ژوند او زندګۍ د اسرارو خزانه هم ده.)) استاد ددې ارزښتمن اثر متن پر (۱۳۲۵ل) کال بشپړ کړی او پر (۱۳۲٦ل) کال چاپ او خپور شوی دی.

استاد عبدالروف بېنوا ددې کتاب په باب وایي:

((دا ښکلي ګلونه چې د ښاغلي خادم په زیار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي، دا هغه ګلونه دي چې د پښتو د پخوانیو شاعرانو د زړه په وینو روزلی شوي دي.

خنګه چې تر اوسه پورې د پښتو ژبې په ادبیاتو کې داسې یو جامع منتخبات نه وو او ښاغلی خادم چې د پښتو یو پیاوړی ادیب دی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار گوتې پورې کړي او بريالی شوی دی، نو پښتو ټولنه دا خپله وظیفه گڼي چې ددې فاضل د ستایلو وړ خدمت وستايي او په دې انتخاب ده ته تبریک ووايي او هم په دې گلونو سره د هغو پردیسانو روح ښاد او یاد کړي چې دوی به د خواږه وطن په بېلتون کې ویل:

قاصدان لـــه روهـــه نـــه راځـــي مـــدت شـــو
ســـلام بـــاد رارســـوي منـــت يـــې تـــم دی

او له خدایه غواړي چې داسې ډېر اثار پښتنو ته وړاندې کړي.))
(۲۹: ۳۹-۴۱)

**٦- په تذکرة الاولیا تبصره:** استاد بختاني د استاد خادم د اثارو دپېژندنې په لړ کې (په تذکرة اولیا تبصره) د هغه په چاپي اثارو کې يو اثر گڼلی، خو نور تفصیلات يې نه دي ورکړي.

## ج- ژباړه:

استاد خادم په پښتو ادبي نثر لیکوالو کې يو له هغو معاصرو او لومړنیو لیکوالو څخه گڼلی شو چې منثوره ژباړه يې کړې ده. استاد پر پښتو او دري سربېره په اردو او عربي ژبو دومره برلاسی و چې کره ژباړه يې ترې کوله. اردو يې په هندوستان کې د پاتې کېدو پر مهال او عربي يې د ديني کتابونو له لیک لوست څخه زده کړې وه. انگلیسي ژبه يې هم تر هغه حده زده وه چې علمي گټه يې ورڅخه پورته کولای شوه. استاد خادم د ژباړې په برخه کې يو لړ اثار راپرېښي چې څه يې په کتابي بڼه خپاره شوي، ځينې په متفرقه ډول د خپل وخت په چاپي رسنيو کې او څه يې هم خواره واره دي او تر اوسه لا چاپ شوي هم نه دي.

**۱- د کوچنیانو اخلاقي پالنه:** استاد خادم دغه رساله چې اصلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



(هر برت سپنسر) په انگرېزي ژبه لیکلې وه، له اردو څخه پښتو ته راژباړلې ده. د کتاب په باب یې خپل تحلیل او څرگندونې هم ځای پر ځای لیکلي. دغه ژباړه پر (۱۳۱٦ل) کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده. دا هم د پښتو ټولنې د چاپ په لړۍ کې لومړنی اثر دی او هم د استاد خادم د چاپ شویو کتابونو لومړی نمبر اثر دی. تر دې وروسته بیا هم پښتو ټولنې او هم خپله خادم صیب گڼ شمېر اثار ټولنې ته وړاندې کړل.

**۲- اصحاب کرام:**دغه ژباړه پر (۱۳۱۴ل) کال بشپړه شوې او بیا پر (۱۳۵۰ل)کال پېښور کې د (لوی اصحابان) په نوم خپره شوه. ددې کتاب خطي نسخه د استاد بختاني په وینا په دوو ټوکونو کې د افغانستان په ملي ارشیف کې تر (٦۲) او (٦۵) نومرو لاندې خوندي ده. دا د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) د لویو اصحابانو سیرت او تاریخ دی استاد خادم په ډېر دقت او علمي صلاحیت په خوږه او روانه پښتو ترجمه کړی دی. دا کتاب دومره مهم دی چې زموږ ځینو عالمانو یې د اسلامي تحقیقاتو د مرکز له خوا د هغه د اکاډمیک متن د بیا بیا چاپ غوښتنه کړې ده.

**۳- د شریف سرگذشت:**د شریف سرگذشت هغه ناول دی چې (نیاز فتحپوري) په اردو ژبه لیکلی. استاد خادم دغه ناول په روان او سلیس نثر پښتو ته راژباړلی، چې د ژباړې رنگ پرې نه ښکاري. دغه ناول پر (۱۳۳۲ل) کال د (اصلاح ورځپاڼې) له خوا خپور شوی دی. ددې اثر په باب ویل کېږي چې پر (۱۹۴٦م) کال یې د (استقلال) جایزه واخیسته، دغه راز دغه ژباړه پر (۱۹۴۷-۱۹۴۸م) کلونو کې د کندهار په (طلوع افغان) کې خپره شوه، تر دې وروسته په اصلاح کې او بیا پر (۱۹۵۳م) کال د یوه مستقل اثر په توگه خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- د افغانستان پخوانی تاریخ:** د سرمحقق زلمي هېوادمل په وینا: ((د افغانستان د پخواني تاريخ د لومړي ټوک یوه برخه هم استاد خادم ژباړلې ده. دا ژباړه له دري څخه پښتو ته شوې ده او بیا د نورو برخو له ژباړې سره یو ځای پر (۱۳۳۴ل) کال د تاریخ انجمن له خوا چاپ شوې ده.)) (۴۴: ۵۵)

**۵- اریانا دایرة المعارف:** استاد خادم د اریانا دایرة المعارف ځینې برخې هم پښتو ته ژباړلې دي، دا ژباړه له دري څخه پښتو ته شوې ده، د دایرة المعارف دا برخه پر (۱۳۵۵ل) کال (د اریانا دایرة المعارف ټولنې) له خوا چاپ شوې ده.

**٦- مکارم الاخلاق:** دغه کتاب په عربي ژبه د (الشیخ عبدالقادر المغربي) له خوا د (الاخلاق والواجبات) په نوم لیکل شوی دی. استاد دغه کتاب په ډېره روانه ژبه په پښتو نثر د (مکارم الاخلاق) په نوم راژباړلی دی. استاد د دغه کتاب ژباړه پر (۱۳۱۸ل) کال د میزان پر (۱۳)مه بشپړه کړې ده. خو یاد اثر پر (۱۳۴۳ل) کال د هېواد ورځپاڼې ادارې له خوا خپور شوی دی. دغه کتاب په دویم ځل په پېښور کې یونیورسټي بک ایجنسۍ هم خپور کړی دی. د (مکارم الاخلاق) د ژباړې د څرنګوالي او د اثر د محتویاتو په باب ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل یوه بشپړه تحلیلي او څېړنیزه لیکنه کړې او د (امیرعلیشېر نوایي) په یاد د چاپ شویو مقالو په ټولګه کې چاپ شوې ده. په دې لیکنه کې نه یوازې د (مکارم الاخلاق) پر محتویاتو او ژباړې بحث شوی، بلکې د استاد خادم پر ژوند، اثارو او په تېره بیا د هغه د اثارو پر محتوایي وېش هم تفصیلي بحث شوی دی. د دې لپاره چې د مکارم الخلاق پر ټوله محتوا ښه خبر شو، نو ښه به وي چې ددې مقالې ځینې برخې دلته راانتقال کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمحقق زلمی هېوادمل د خپلې لیکنې په دوام هغې پوښتنې ته ځواب وايي او په دې باب رڼا اچوي چې موږ به خپله ژبه (پښتو) کې هم په دې باب کوم کتاب لرو که نه؟ سرمحقق زلمی هېوادمل په دې باب وايي:

[له نېکه مرغه په دې نامه په پښتو کې هم یو کتاب شته، چې د خواندمیر د مکارم الاخلاق ترجمه نه، بلکې محتویات یې هم د خواندمیر له مکارم الاخلاقه توپیر لري!

پښتو مکارم الاخلاق د الشیخ عبدالقادر مغربي د ((الاخلاق والواجبات)) پښتو ترجمه ده، چې مترجم دغې موضوع ته په خپله سریزه کې داسې اشاره کړې ده: ((دغه کتاب چې پورته مو ورته اشارت وکړ، په عربي ژبه د (اخلاق و الواجبات)) په نامه لیکل شوی دی، چې زه یې دې پښتو ترجمې ته مکارم الاخلاق وایم، مترجم به خپله څلور مخیزه سریزه کې چې د مکارم الاخلاق د ترجمې په پیل کې یې چاپ کړې، د دې ترجمې اصلي هدف داسې بیانوي: ((له ډېرې مودې څخه زما په زړه کې دا خبره گرځېده، چې د پښتنو د استفادې د پاره په پښتو ژبه څه داسې کتابونه ولیکل شي، چې د قران او حدیث په رڼا کې د اخلاقو فردي، عایلوي، اجتماعي او مدني موضوعگانې په کې د زمانې د تغیراتو او د مدنیت د تطوراتو سره سم، د نن ورځې په اصطلاح او اسانه ژبه ښودل شوي وي او د حکمت ښکلا په کې هم موجوده وي.))

په پښتو مکارم الاخلاق کې دغه لاندې موضوعات راغلي دي:

د ((مکارم الاخلاق)) تر لوی سرلیک لاندې: پر عمومیاتو سربېره، د اخلاقو موقعیت، اخلاق او ایمان، اخلاق او عبادات، دنیا او اخرت، خیر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واجب، تر کوچنیو عناوینو لاندې پر همدغو لوړو موضوعاتو بحث شوی دی.**

**پر دغو مقدماتي خبرو پسې د کتاب لومړی باب د ((شخصي واجبات)) تر سرلیک لاندې پیل کېږي او په دې باب کې دغه لاندې موضوعات څېړل شوي دي: جوړتیا او دارو، نظافت او طهارت، علم او عقل، صبر او شجاعت، غضب او اعتدال، رښتیا او دروغ، حیا او د سترګونو، امید او نامیندګي، سعیه او عمل، کرنه او رغونه، کسب او تجارت، اقتصاد او اسراف.**

**په دوهم باب کې د ((کورني واجبات)) تر سرلیک لاندې پر دغه لاندې موضوعاتو خبرې کېږي:**

**کور او کهول، د ښځې کړنه او پرېښونه، نمسي او کړوسي، مور و پلار، ښځې او پلار مړي.**

**لوړ یاد شوي موضوعات د کتاب په لومړي جلد کې راغلي، په دوهم جلد کې د اجتماعي واجبات تر لوی سرلیک لاندې پر دغو لاندې موضوعاتو بحث شوی دی:**

**ګډوالی او بېلوالی، مرسته او محبت، زړه سوی او مهربانی، په حیواناتو باندې رحم، خیرات او زکوة، امانت او عهد، حق ویل، عدل او ظلم، کینه او حسد، غیبت او چغلي، نفاق یا ریا، مدني واجبات، حکومت او وطن، اطاعت او منښت، حرب او دفاع، دوهم جلد همدلته پای ته رسي او بیا د کتاب ((خاتمه)) ده، چې د (قران بحثونه) تر لوی سرلیک لاندې یې پر دغو موضوعاتو مطالب بیان کړي دي:**

**د ایتونو او سورتونو ترتیب، د قران یادول او لیکل، د قران تعلیم او ښودنه، د قران اول وارغونډول، د قران دویم ځل غونډول، قران ته په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتداء کې د مسلمانانو توجه، په ابتداء کې د قران په لوستلو کې اختلافات، بسوالی، د عثمان په یوه لهجه، قران د څه د پاره راغلی دی؟ د قران اساسي تعلیمونه، د قران اعجاز، د قران محکمات او متشابهات، د قران تفسیر او تا ویل، د موول او متشابه لړوالی او ډېروالی، ناسخ او منسوخ په قران کې، د قران علوم، په قران باندې تفسیر لیکل، ړومبنی سړی چې تفسیر یې ولیکلو او په دې کې د سلفو طریقه، په منځنیو پېړیو کې د تفسیر حالت، په وروستیو پېړیو کې د تفسیر حال، د حدیثو بحث، د حدیثو علمونه، د حدیثو لیکل او غونډول، د حدیثو غونډولو او تصیح ته اهتمام، د حدیثو مشهور علماء او کتابونه، په لومړي عصر کې د خپل پیغمبر د حدیثو یادولو ته د مسلمانانو د توجه نمونه، په منځینو پېړیو کې د حدیثو علم، د حدیثو علم، په وروستنیو پېړیو کې، د حدیثو پرېښودنه ډېره زمانه کېدی شي.

د مکارم الاخلاق پښتو ترجمه د (۱۳۱۸ل) کال د میزان پر (۱۳مه) نېټه بشپړه شوې او مترجم پرې سریزه د همدغه کال د همدې میاشتې پر (۲۷)مه نېټه کښلې ده.

دغه ترجمه شوی متن لومړی ځل په کابل کې په (۱۳۴۳ل) کال (۳۱٦مخه) د هېواد د نشراتي موسسې له خوا چاپ شوی دی او دویم ځل (۳۰۳مخه) د یونیورستي بک ایجنسي له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی، چې وروستی چاپ یې د چاپ کال نه لري. د مکارم الاخلاق د پښتو ترجمې د معرفۍ په ترڅ کې دا ښکاره نه شوه، چې دغه ترجمه چا کړې ده؟

د مکارم الاخلاق مترجم د پښتو لوی خدمتګار او په پښتو او پښتونولی مین لیکوال او شاعر اروانباد استاد قیام الدین خادم دی]. (۴۲: ۳۵- ۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- یو مسلمان او ټوله اروپا:** دا اثر هم د استاد خادم له خوا یو ژباړل شوی ډرام ګڼل شوی دی، خو زموږ لیکوالو ددې ډرام په باب ډېر معلومات نه دي وړاندې کړي، چې لومړی ځل چېرته او څه وخت چاپ شوی دی.

**۸- د مور مینه:** دا د استاد خادم له خوا یو ژباړل شوی اثر دی، په دې اثر کې چې (د مور زړه، روسیې سجیه، دا عصر د ملیتونو دی، د دنیا ټول انقلابونه کلتوري دي) موضوعګانې هم راغلې دي. (۲۳: ۱۵۹)

په خپله استاد خادم هم په دې هکله نظر ورکړی، هغه وايي: ((دا قصه (م.ګورکي) لیکلې ده، ګورکي دروسي ادبیاتو د اسمان ځلاند ستوری دی، چې شرق او غرب یې پېژني، د ډېر تعریف محتاج نه دی، د ګورکي اثار هم ښکلي دي، دا کیسه هم شعر دی او هم حقیقت او هم خورا لوړ پند او عبرت.

د دې قصې د ترجمې په وخت کې ما د قضیې په ترتیب کې لږ شانې تغییر کړی دی؛ مګر د ګورکي د نوم او ضمیر احترام هېڅوک دېته نه پرېږدي چې د هغه په اسلوب کې ګوتې ووهلی شي.)) (۲۳: ۱٦۱)

(د مور مینه) له ځینو نورو لیکنو سره یو ځل پخوا چاپ شوې وه او دویم ځل د خادم صیب دمنثورو کلیاتو (رڼه چینه، لومړي ټوک) کې د (ژباړې) تر ډلبندۍ لاندې له (۱٦۲)څخه تر (۱٦۸)مخونو پورې یو ځل بیا چاپ شوې ده.

**۹- د ریګویدا سرودونه:** (د ریګویدا سرودونه)هم د استاد خادم یو ځانګړی اثر ګڼل شوی. که څه هم په زیاترو ادبي تذکرو کې داستاد خادم د دې اثر یادونه نه ده شوې، خو ښاغلي لطیف یاد چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستاد خادم پر ژوند او اثارو کومه لیکنه کړې او هغه یې د انټرنېټ په ځپو خپره کړې، د استادناچاپه اثارو په لړ کې یې ددې اثر یادونه هم کړې، خو نور تفصیلات یې نه دي ورکړي.په (رڼه چینه) کې بیا د یو ویدي سرود ژباړه خوندي شوې، دا ژباړه (ای ځمکې) نومېږي او په (۱۸۲)مخ کې چاپ شوې ده.

## هـ - هنري نثر لیکنه:

د استاد او دده د هممهالو لیکوالو یو لوی نوښت دا دی چې دوی په پښتو کې د یو ډول داسې هنري نثري ټوټو ور پرانیست چې ژور فکر یې په عالي ذوق او لوړ خیال وړاندې کاوه. ځینې لیکوال وایي: ((د دوی دغه نثري ټوټې چې د شعر په کچه هنري قوت لري، شعر ګڼلی شو. له دغو نثرونو څخه د نثر لیکنې هنر زده کېږي. دغه نثرونه د تلپاتې خوند ځواک لري. په هر ځل لوستو او اورېدو نوی کېږي، لامل یې دادی چې د دغو نثرونو الفاظ پر یو داسې اهنګین مزي اوډل شوي دي چې یو ډول ځانګړې موسیقي لري. ژبه پرې ښه چلېږي. د ویلو پر مهال کوم ژبنی درونوالی نه لري، چې لوستونکی ستړی کړي. مانا یې په داسې کلمو او جملو کې رانغاړلې چې سندریز شور یې د زړه رګونه په ترنګولو راولي او سړی یې په خوند نه مړېږي.))(۱۲: ۳۱-۳۲) دلته غواړو د استاد خادم دې ډول اثارو ته هم نغوته وکړو:


**۱- نوی ژوندون:** دا د استاد خادم د لنډو ادبي نثرونو مجموعه ده چې د استاد پوهاند حبیبي له لیکنې سره سم ((مضامین یې ډېر عصري او حیاتي او افکار یې د جدیدې تربیې له اساس سره سم دي.)) ددې مجموعې پر ځینو نثرونو باندې د (رابندرانات ټاګور) او (علامه اقبال) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنر او فکر اغېز لیدل کېږي. د استاد خادم دغه مجموعه پر (۱۳۲۰ل) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوه چې هغه وخت او اوس هم د پښتو ادب مینانو ته ښه تحفه وه او ده. په خپله استاد خادم ددې ټولګې په باب وایي: ((نوی ژوندون زما د ډېرو مودو د فکري او قلمي زیار نتیجه او د منثورو اشعارو، ادبي نثرونو او عصري مضامینو مجموعه ده، د خپل ننګیالي قام حضور ته یې وړاندې کوم. له ښتنه غواړم چې زما دا زحمت زما د قام د حساسو افرادو او ادبي ذوق والاوو په مینه د ملیت (پښتو او پښتونوالي) ته مفید زیار وبلل شي.)) (قیام الدین خادم، نوی ژوندون، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ ل کال.) د نوي ژوندون ټول نثرونه په (رڼه چینه ۱ ټوک) کې یو ځل بیا هم چاپ شوي دي

**۲- خیالي دنیا:** دا د استاد خادم د هنري نثر یا ادبي ټوټو یوه مجموعه ده چې ده ((منثور اشعار)) بللي دي. که سړی ورته ښه ځیر شي په دې ټوټو کې له زیات شعریت سره مخ کېږي. د الفاظو ښکلا، د معنا ژوروالی، ښکلي تصویرونه، د ژبې خوږوالی او فصاحت د دغو ټوټو هغه خصوصیتونه دي چې هغه د ښو شعرونو په قطار کې دروي. دا د استاد خادم د دغسې شعرونو دویمه چاپي مجموعه ده، د ځینو لیکوالو په نظر: تر منظوم شعره ددې لیکنو یو شی کم دی چې هغه ریتم او اهنګ دی، هغه عروض دي. په نورو ژبو کې د (نوي شعر) یا (ازاد نظم) استازو لا عروضي قیدونه نه دي مات کړي، خو دلته دا قید هم مات شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد خادم په (خيالي دنيا)، د استاد الفت په (غوره نثرونو) او د خدمتګار په (مرغلرو) کې داسې ټوټې شته چې تر ډېرو منظومو شعرونو زيات شعريت لري. بېځايه نه ده چې خيالي دنيا، منثور اشعار بلل شوي دي.

خيالي دنيا د استاد خادم د (٥٦) ادبي پارچو يا منثورو شعرونو مجموعه ده چې پر (١٣٣٩ل) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده او پر (١٣٩۴) له کال، يو ځل بيا د خادم صيب د کورنۍ له خوا خپره شوې ده.

## و- کيسه ليکنه:

استاد په خپل ادبي ژوند کې يو شمېر ولسي کيسې، ټوکې او ډرامې هم ليکلي چې د هېواد په خپرونو کې خورې ورې چاپ شوي، ځينې يې په کتابونو کې هم راغلي دي او ځينې يې لا ناچاپه پاتې دي، دلته يې يادونه کوو:

۱- **سورګل:** دا د استاد خادم له خوا ليکل شوی يو ډرام دی، چې دده د ژوند تر وروستيو کلونو پورې چاپ نه شو، استاد هم په خپلو ناچاپو اثارو کې ياد کړی دی. دا چې ددې ډرام خطي نسخه به اوس چېرته او چا سره وي، په دې باب معلومات نه شته او تر (١٣٩٦ ل) کال پورې لا ورته د چاپ زمينه نه ده برابره شوې.

۲- **ادبي قصې:** دا هم د استاد د کيسو يوه ټولګه ګڼل شوی، چې په مستقل ډول لا خپره شوې نه ده. د استاد خادم په ناچاپو اثارو کې يې يادونه شوې ده. د خادم صيب په ناچاپه اثارو کې (د داستانو مجموعه) په نامه هم د يوه ځانګړي اثر يادونه شوې ده، غالباً چې دا دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یوه واحده ټولګه وي. د استاد ځینې کیسې خورې ورې خپرې شوې هم دي.

**۳- سید کمال او بابو جانه:** (سید کمال او بابو جانه) د استاد خادم په منثورو ناچاپه اثارو کې یو مستقل اثر ګڼل شوی دی. خو حقیقت دا دی چې دایوه لنډې کیسې ته ورته یو اثر دی چې پخوا چاپ شوی او په (رڼه چینه) لومړي ټوک کې یو ځل بیا چاپ شوی دی. د سید کمال او ببوجانې کیسه د دوو ولسي مینانو په کرکترونو کې راغلې، د کیسې انجام تراژیک دی او د دواړو په مرګ تمامېږي. کیسه د یوې ربښتینې ولسي کیسې پر اساس لیکل شوی، خو ځینې برخې یې مبالغه ییز او افسانوي رنګ لري.

**۴- د داستانونو مجموعه:** (د داستانونو مجموعه) هم د استاد په ناچاپه اثارو کې یو ځانګړی اثر ګڼل شوی، پښتانه شعرا پنځم ټوک اوځینې نورې تذکرې یې یادونه کوي، خو لکه څنګه چې مو ورته دمخه اشاره وکړه، کېدی شي دا او (ادبي قیصې) یو اثر وي.

**۵- د پښتونخوا کیسې:** (د پښتونخوا کیسې) هم په بېلابېلو تذکرو کې چې پورته مو ورته نغوته وکړه، د استاد خادم یو مستقل ناچاپه اثر ګڼل شوی دی، د دې اثر دځرنګوالي په باب څېړونکو څه نه دي ویلي او تر (۱۳۹۶ل) کال پورې چاپ شوی هم نه دی.

**٦- علمي سفرونه او یونلیک:** (په رڼه چینه لومړي ټوک) کې د استاد خادم د یونلیک او علمي یادښتونو یادونه هم شوې ده. ((د استاد علمي سفر یادښتونه او یوه سفرنامه)) تر عنوان لاندې راغلي دي: ((په دې ټولګه کې د هېواد جنوبي برخو ته د استاد یو علمي سفر او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفر پایله کې جغرافیوي او ژبني بحثونه د لوستو دي، همدارنګه یې یو سفري ګزارش هم زیات شوی دی او هغه مورږ ته د هندوستان د روغتون او ډاکټرانو وضعیت رابښيي، استاد دلته دیوه ناروغ، ډاکټر او روغتون حالات په رښتینې ژبه وړاندې کوي، خپلو خبرو ته سپېروني نه ورکوي، چې څه یې لیدلي، پرې تېر شوي او خوړلي یا څښلي، هغه یې کټ مټ رانقل کړي دي.)) (۲۳:غ).

په داستاني یا کیسه ییزه برخه کې کېدی شي استاد خادم یو شمېر نورې کیسې هم لیکلې وي او یادو اثارو کې هم کېدی شي، ځینې اثار یې یو بل سره ننوتي وي، خو مورږ یې د وضاحت لپاره دټولو یادونه ضروري وبلله.

## ز - درسي کتاب لیکنه:

استاد خادم پر هنري او تحلیلي نثر سربېره یو لړ ژبنۍ څېړنې او تحلیلي لیکنې هم کړې دي. دی په لومړي ځل هم پر یوې ژبنۍ موضوع د ښې لیکنې له امله ویاړل شوی او نمانځل شوی هم دی. پخپله وایي: ((زه، زما او څوک، چا)) مساله د محمد ګل خان وزیر صاحب داخله له خوا په مسابقې کې کېښودل شوه چې ددې کلمو تفریق د ګرامر په لحاظ هر څوک وکړي او د استعمال ځایونه یې وښیي، هغه به انعام وړي. په دې مسابقه کې ډېر پښتانه ادبا شامل شوه. مګر په اخره کې هغه څه چې ما لیکلي وو، قبول شول او یو اومېګا ساعت او پارکر قلم د وزیر صاحب له خوا ما ته په نمانځنه کې راکړی شول.))

استاد خادم په ژبنۍ برخه کې هم ډېرې څېړنې او لیکنې کړې دي، ځینې لیکنې یې په متفرق ډول خپرې شوې دي او د لیکدود په باب یې یو اثر په خپلواک ډول هم خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم کلونه کلونه د یوه استاد په توګه پاتې شوی او یو مهال د پښتو کورسونوو مدیر هم و او د کابل پوهنتون د استاد په توګه یې هم دنده ترسره کړې ده، نو د استادۍ او ښوونې په بهیر کې یې هم په مستقل ډول او هم یې له نورو سره د یو شمېر ښوونیزو اثارو په رامنځته کېدو کې ونډه اخیستې ده، چې دلته یې دې ډول اثارو ته نغوته کوو:

**۱: پښتو پتېۍ:** دغه کتاب د لیکل دود په باب د استاد خپل تحلیل دی چې په پېښور کې خپور شوی دی. استاد خادم د پښتو لیکدود په باب ځانګړی نظر درلود او اوسنی پښتو لیکدود یې د پښتو غږونو د پوره افادې لپاره کافي نه ګاڼه، نو ځکه یې دغه اثر ولیکه.

**۲- پښتو په عربي لیکدود:** به دې نامه هم د استاد خادم به ناچاپ اثارو کې یو اثر موجود دی، چې تر اوسه لا چاپ شوی نه دی، لکه څنګه چې په (پښتو پتېۍ) اثر کې مو یادونه وکړه چې استاد خادم عربي لیکدود د پښتو ژبې د غږیز جوړښت دافادې لپاره سم نه ګاڼه، نو ځکه یې په (پښتو پتېۍ) اثر کې د هغې د نیمګړتیا یادونه کړې، دغه اثر چې (پښتو په عربي لیکدود)، نومېږي، په غالب ګومان به دا دواړه یو اثر وي، ځکه چې دواړه یوه موضوع تعقیبوي.

**۳- پښتو نحوه:** دا هم یو ژبنی اثر دی چې د پښتو ګرامر نحوي برخه رانغاړي، دا اثر هم د استاد خادم په ناچاپو اثارو کې ګڼل شوی او د استاد بختاني په وینا دغه کتاب ده لیدلی و، خو تر دا مهاله لا خپور شوی نه دی.

**۴: معلم پښتو:** دا کتاب په کندهار کې خپور شوی دی، چې د پښتو زده کوونکو لپاره یو تدریسي اثر دی. پر هغه وخت چې دا کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپېده، پښتو تدريسي کتابونه د ګوتو په شمار وو، په تېره بيا د پښتو د زده کړو په باب تدريسي اثار، نو پر دې مهال چې هر چا هر څه ليکلي، د خپل وخت د اړتيا له مخې د زيات ارزښت وړ ګڼل کېږي. په دې اثر کې له استاد خادم سره د پښتو انجمن ځينو نورو غړو هم برخه اخيستې ده.

**۵- پښتو کلي اول جز:** دا هم د پښتو زده کوونکو لپاره يو درسي اثر دی. دا کتاب او نورې پاتې برخې يې د هغو زده کوونکو لپاره ليکل کېدې چې نوې يې پښتو زده کوله، يانې يو ابتدايي تدريسي اثر ګڼل کېدی شي.

**٦- پښتو کلي دويم جز:** دا هم د همدې لړۍ يوه بله کړۍ ده. يانې د ژبې لومړنی تدريسي کتاب دی.

**۷- پښتو کلي درېيم جز:** درېيم جز يې د همدې لړۍ يوه بله برخه ده. دا لړۍ په ترتيب سره ليکل شوې ده.

**۸- پښتو کلي څلورم جز:** (استاد خادم وايي په دې کتاب کې يې له خپلو ملګرو سره پوره برخه اخيستې ده). د پورته لړۍ بله کړۍ ده.

د پښتو کلي د دې ټولو برخو په باب بايد وويل شي چې دا اثار ټول تدريسي او تعليمي بڼه لري. د خپل وخت د اړتيا پر بنسټ ليکل شوي وو. البته يو شمېر ليکوال او کره کتونکي د دې اثارو په باب وايي چې دا اثار په پوره او کره ډول له تدريسي اصولو سره سم نه دي ليکل شوي او يو لړ نيمګړتياوې په کې احساسېږي، دا خبره به تر يوه حده سمه وي، خو که د هغه وخت امکانات او اړتياوې په پام کې ونيول شي، نو بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دا یو خورا غنیمت کار دی. خو که موږ یې د اوسمهال له تدریسي اصولو سره ارزوو، طبیعي خبره ده چې په دې تول پوره نه خېږي.

**۹- کره پښتو:** کره پښتو لکه څنګه چې له نامه څخه یې ښکاري، د پښتو ژبې د معیاري کولو په برخه کې لیکل شوی اثر دی، بېلابېلو تذکره لیکوالو دغه اثر د استاد خادم په ناچاپه اثارو کې د دغه اثر نوم هم یاد کړی دی. دا اثر هم تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې چاپ شوی نه دی. البته د کره پښتو او پښتو لیکنې سمون په برخه کې د استاد بېلابېلې لیکنې د خپل وخت په چاپي رسنیو کې خپرې شوې دي، چې د هغو ځینې برخې یې په (رڼه چینه) کې یو ځل بیا خوندي او چاپ شوې دي.

**۱۰- پښتو قرائت د دویم ټولګي لپاره:** دا یو تدریسي اثر دی چې د وخت د پوهنې وزارت په تعلیمي نصاب کې شامل و او څو ځله د یاد وزارت له خوا چاپ شوی دی.

**۱۱- پښتو قرائت د درېیم ټولګي لپاره:**پښتو قرایت د درېیم ټولګي لپاره هم یو تدریسي اثر دی او د همغې لړۍ یوه بله کړۍ ده چې پورته مو یادونه وکړه.

**۱۲- پښتو قرائت د څلورم ټولګي لپاره:** دا اثر هم یو تدریسي اثر دی او د ښوونځیو څلورمو ټولګیو لپاره لیکل شوی دی، د یادونې وړ بولم هغه وخت چې زه (یون) د سردار محمد داودخان په جمهوریت کې د لومړني ښوونځي زده کوونکی وم، دا کتابونه مې لوستي وو، له هغه وخته دا دی څه باندې څلوېښت کاله تېر شوي، خو تر اوسه پورې د هغو کتابونو ځینې خوږې کیسې او پندونه زما په حافظه کې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳- پښتو زده کړه :** (پښتو زده کړه) هم د هغو اثارو په ډله کې شامل دی چې د استاد خادم ناچاپ اثار ګڼل شوي دي. په (پښتانه شعرا پنځم ټوک) او نورو تذکرو کې دا اثر په ناچاپو اثارو کې شمېرل شوی دی، د اثر له عنوان څخه ښکاري چې دا هم د پښتو ژبې د زده کړې په باب لیکل شوی او تدریسي بڼه لري.

**۱۴- معیاري پښتو:** د (معیاري پښتو) په نامه اثر د استاد خادم یو ناچاپ اثر ګڼل شوی دی او تر (۱۳٦۷ل) کال وروسته په یو شمېر نورو چاپ شویو تذکرو کې د (پښتانه شعرا پنځم ټوک) په استناد دا اثر د استاد خادم یو ناچاپ اثر ګنل شوی دی. که څه هم تر (۱۳۹٦ل) کال پورې په دې نامه کوم ځانګړی اثر نه دی چاپ شوی، خو په (رڼه چینه) اثر کې د استاد خادم ګڼ شمېر داسې لیکنې شته چې همدې موضوع ته ځانګړې شوې او که ټولې سره راټولې شي نو د یوه ځانګړي اثر بڼه خپلولای شي.

**۱۵- مکالمات:** په بېلابېلو ادبي تذکرو کې د (مکالمات) په نامه د استاد خادم د یوه ناچاپ اثر یادونه شوې ده، د دې اثر په باب زموږ څېړونکو نور معلومات نه دي ورکړي. څرنګه چې مکالمات یا خبرې اترې یو ژبنی بحث دی، نو ځکه ما دلته د استاد د ژبنیو اثارو په ډلبندۍ کې شامل کړ.

## ح- متفرقه اثار:

د استاد خادم یو شمېر نور اثار یا متفرفه لیکنې هم شته چې به مستقلو چاپي او ناچاپي اثارو کې یې ځانګړې یادونه نه ده راغلې، په تېره بیا د ده نثري لیکنې. دا لیکنې اکثره سیاسي، ټولنیزه، ژورنالیستیکه او دیني محتوا لري چې پر بېلابېلو وختونو یانې هغو وختونو کې چې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم د (هېواد، اصلاح، طلوع افغان او اتحاد مشرقي) خپرونو مسول مدير و، خپرې شوې دي. استاد بختاني دې ډول ليکنو ته تقريباً همغه نومونه ورکړې دي چې دا ليکنې په کې خپرې شوې دي. د ساري په توگه په (طلوع افغان، افغان ولس، اتحاد مشرقي) او نورو خپرونو کې خپرې شوې ليکنې يې د همدغو خپرونو په نومونو يادې کړي دي. ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل بيا د استاد خادم اثار او ليکنې له محتوايي پلوه ډلبندي کړي دي. ښاغلي لال پاچا ازمون بيا په همدې خپرونو کې چاپ شوې ليکنې له محتوايي پلوه سره وېشلي او په (رڼه چينه) کې يې خوندي کړي دي. زما په نظر د خادم صيب د نورو اثارو محتوايي وېش ته په پام سره تر ډېره حده دا دويم محتوايي وېش منطقي برېښي، که څه هم ددې هرې برخې ليکنې د يوه ځانگړي اثر د کميت تر حدودو وځي، خو ښه به وي چې هره برخه يې لږ تر لږه د يوه مشخص اثر په چوکاټ کې راشي او د يوه ځانگړي اثر بڼه ورکړای شي. دلته غواړو دا ډله اثار هم په لنډېز سره دروپېژنو:

## ۱- سياستپوهنه او ټولنپوهنه:

دا ليکنې د استاد خادم د ژوندانه په اوږدو کې په بېلابېلو وختونو کې، د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې چاپ شوي دي. د لاسته راغلو ليکنو شمېر يې تر (۵۰) عنوانو رسېږي، کېدی شي واقعي شمېر يې تر دې هم زيات وي. د دې ليکنو يوه برخه د خادم صيب په بېلابېلو مستقلو اثارو کې هم چاپ شوې ده او نورې يې په بېلابېلو مهالنيو خپرونو کې خپرې شوې دي او تر هغه وروسته بيا په (رڼه چينه) کې يو ځل بيا چاپ شوې دي: په دې ډلبندۍ کې دغه لاندې ليکنې شاملې دي:

- د ټولې نړۍ حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ایا د جنگ مخنیوی ممکن دی؟
- د کمال اتاتورک یو تقریر
- دیموکراسي څه شی دی؟
- د ملیت حس
- د ملیت علمي تشریح
- افغان ملیت او پښتنې ښځې
- ملت او حکومت
- زموږ استقلال
- دا عصر د ملیتونو دی
- حزبي حکومت که بې طرفه
- په ولسي جرگه کې وینا
- په نولسمه پېړۍ کې د استعمار رول په منځني شرق کې
- د مهاتما گاندي د لویۍ سببونه
- د افغان ولس لنډ مرام
- وطن ونمانځو که خارج؟
- ملک حقیقي نهضت غواړي
- ملي منافقان
- نشنلېزم او فاشېزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افغان ملت او اینده دنیا
- خپلې عقیدې پټې وساتو که ښکاره یې کړو؟
- ناسیونال دیموکرات سوسیالېزم
- حزب او جمعیت
- حزب د څه لپاره جوړېږي؟
- صالح ملي حکومت څه دی دی؟
- ملت، دولت او حکومت
- وران ویجاړ حال به څنګه سم شي؟
- د لیډر حکومت
- حزب حکومت جوړوي که حکومت حزب؟
- مهم سوالونه او لنډ ځوابونه
- نور خلک زموږ په مملکت کې څه کارونه کوي؟

ددې لپاره چې ددې ډول لیکنو له څرنګوالي سره اشنا شو نو یوه لیکنه به یې د بېلګې په توګه راوړو:

## نشنلېزم او فاشېزم او په دې باب د اشتباهاتو رفعه

((نشنلېزم یعنې ملیت او ملت پرستي، دا هغه مسلک دی چې نن په ټوله دنیا حاوي دی، د ملیت معنا د فردي سوداګانو، عایلوي ګټو، خانداني امتیازاتو، قبیلوي تعصباتو څخه تېرېدل او کوم خلک چې تاریخ سره یوکړي وي، د هغوی د مشترکې ګټې ، ترقی، خوشالی، اتحاد او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماهنگۍ لپاره سعې او کوشش کول او د هغوی کلچر او عنعناتو په اصولو حکومت جوړول دي. یعنې فرد په دیموکراتیک ډول په جامعه کې مزج کول او د جامعې د رجحان تابع کول او بیا د ملي حکومت په ذریعه د ملت ټول عناصر تقویه کول، منکشف کول او په پښو درول او په دغه شان سره د نورو قومونو په مقابل کې خپل ملي، اجتماعي، سیاسي، کلتوري، اقتصادي، هنري استقلال او جامعې ته د پرمختګ وسایل تهیه کول، ظلم زور، جهالت، انفرادیت، چټي تعصبات او خارج پرستۍ مخه نیول، ملت پرستي یعنې نشنلېزم:

د خپل قام او ملت، د خپل وطن او خاورې، د خپل تاریخ او عنعناتو، د خپلې جامعې د فرهنګ او ګټو، د خپل مملکت او د ټولنې سعادت، نېکبختي او خوشالي غوښتل دي. یو نشنلست غواړي چې خپل ځان د خپل ملت عالي نمونه وښیي، دی غواړي چې دده وطن دې موړ، پټ، په عزت، بډای او د سیالانو سره سم وي، دی غواړي چې دده ملت دې معناً او مادتاً هغسې اندازې ته ورسېږي چې دده لپاره د فخر وړ وي، ابرو، عزت، شهامت او کرامت، د یوه نشنلېست په نظر کې وي، دده ارزو دا وي چې قوم او وطن دې یې سر لوړی وي، نشنلېست اول خپل ځان او خپلې جامعې ته ګوري، بیا نور جهان ته، د نورو د خوشالۍ لپاره خپل ملت ځملول، تباه کول کفر ګڼي، دی د قوم او وطن خدمت کوي، نه چې ورنه ګټه کوي.

تاسو کولای شئ چې د دنیا ټول نني دولتونه وګورئ، غور په کې وکړئ؛ نو درمعلومه به شي چې ټول د نشنلېستۍ صبغه لري، جنګ کوي، که صلح، مرسته ورکوي، که هئیاتونه لېږي، متعلمین قبلوي او که مېلمانه، کتابونه لېږي، که اخبارونه، رقاصان لېږي، سندرغاړي، مدعا یې خپل ملي شان او خپل ملي نفوذ قایمول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یعنې د خپل وطن ګټه يې د  خپل ملت ګټه يې د بل د فايدې نه مقدمه په نظر کې وي. تاسو به هېڅ داسې ملت ونه ګورئ چې د خپلې ژبې نه يې پردۍ خوښه وي،هېڅ قوم نه شئ پيدا کولای چې د خپل ځان مادي يا معنوي تاوان ددې لپاره ومني چې بل ملت خوشاله شي؛ نو معلومه شوه چې دنيا ټوله د نشنلېزم دنيا ده، په ځان اتکا کول، په ځان اعتماد کول، ځان ته په درنه سترګه کتل  او خپله مستقله لاره او مستقل ملي هويت او ملي منافع ساتل ددې عصر له واجباتو څخه دي.**

**هو دا انټرنېشنل ايزم يعنې بين المليت نوم په دنيا کې شته، خو عمر يې ډېر لېږې دی، لکه د خوب دنيا.**

**هو له ځان سره د جهان فکر ساتل بله مسئله ده، چې په نشنلېزم اړه لري، که ملي تمرکز ددې لپاره وي چې زه ابرومند، ساهو او د سيالانو په شان ژوند وکړم، د چا غلام، محکوم او د استثمار لاندې نه اوسم، د خلکو او قومونو سره مساوي او په سياليانو کې سيال اوسم دا معقوله نظريه ده او که مدعا دا وي چې  زه متمزکر، قوي او زورور شم؛ نو کمزوري به خورم، حکمراني به پرې کوم او د بادار په حيثيت به ژوند کوم، نو دلته نشنلېزم فاشېزم ته رانږدې کېږي، دلته مسايل بايد داسې تشخيص شي چې قوت د څه لپاره؟ قوت ددې لپاره چې يو قوم، يوه جامعه او يوه ټولنه ابرومنده وي، له ذلت، حقارت او غلامۍ څخه خلاصه وي، که ددې لپاره چې د تجاوز، تېري، تعدي او استعمار لاس نورو ته اوږد کړي، که مدعا اوله وي، نو نشنلېزم او که دويمه وي، نو امپرياليېزم او فاشېزم دی، خو د امپرياليزم او فاشېزم فرق دومره دی چې که څه امپرياليېزم دواړه د ځان تفوق او د نورو استبداد او استثمار غواړي، خو امپرياليېزم د قوت په ټولو وسايلو تشبث کوي، مګر په مليتاريزم او عسکري زور زياته اتکا کوي، نورو قوتونو ته په دويمه درجه قايلېږي. البته د يوه ملت د ژبې، عنعناتو، ملي قدرت او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو پښو درېدل غوښتل او دا چې دا ملت دې وپېژني او ځان ته دې په درانه نظر وګوري، د خاورې او ملیت د دښمنانو له دسایسو دې ځان خلاص کړي، که څوک دې ته فاشېزم وایي؛ نو دا یا جهل دی، یا د امپریالیستانو د دسایسو پر مخ بیول. هېڅ د غرض خاوند نه غواړي چې دده نښه کړی ښکار دې، هوښیار یا دومره د قوت خاوند شي چې دده څخه دې والوځي، یا دې پر ده حمله وکړي. امپریالېزم او استعمار ځانته منطق او فلسفه لري چې اکثره په مغالطه بنا وي، دوی همېشه خلک خطا باسي او په غلطفهمۍ کې یې اچوي، که د کوم مخ پر انکشاف ملیت مقومات تقویه کول وغواړي، پنځه سره انجړې ورته راپه مخه کوي، مثلاً وایي، د ملت ژبه عامول تبعیض دی، ملي بڼه غوره کول نه مني او وایي، کومه بڼه؟ که دعنعناتو بحث دایر شي، دی وایي، دا قهقراییط دي.

که د ډیموکراسۍ موضوع راشي، وایي دا خو وخت راشي، که د حزب مسله دایره شي، وایي خلک بې سره کېږي، که د انتخاباتو مسله راشي، وایي چې په کمپاین کې پیسې ورکول جواز لري، که د رشوت صحبت دایر شي، وایي رشوت خو هر څوک خوري، که دې ویل چې مملکت په خپلو پښو درېدل ضرور دي، وایي واړه مملکتونه په خپلو پښو نه شي درېدای، مدعا داده چې ملیت یوجایز دنیایي حق دی، ملیت د فاشېزم سره ملتبث کول، استعماري چال دی، موسولیني د فاشېزم موسس په خپل یوتقریر کې وایي، د ټولو نه مهمه خبره دا ده چې که د وخت د سیاسي مصلحتونو څخه نظر واړوو، نو فاشېزم چې څومره د انسانیت مستقبل او دهغه پرمختګ په نظر کې نیسي، نو دغومره نه د عام ایمن فایده په فکر کې لري او نه په هغه باندې یقین، نو خبره داده چې فاشېزم دامن پرستۍ مذهب سبب رد کوي، ځکه دا د سعې د ترک کولو مسلک دی او د قربانۍ او ایثار په مقابله کې د ډار مظاهره، دا خو جنګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې انساني قوت لوړو مدارجو ته رسولای شي، نو په قومونو کې چې دا صلاحیت وي، نو په دغو د شرافت مهر لګوي، پاتې نور ټول تجارب بدل او قایم مقام دي، چې د دغو په واسطه انسان هېڅکله دې ځای ته نه رسېږي چې عظیم الشانه فیصله وکړي چې هغه د مرګ او ژوند فیصله ده، نو ځکه کوم مسلک چې د امن په دې مضره نظریه بنا وي، نو هغه د فاشېزم مخالف دی.

مسولیني وایي: (تاریخ ښیي چې کوم وخت د یوه محرک په واسطه قومي جذبه ویښه شي، محرک جذباتي وي، که خیالي وي او که عملي؛ نو بیا په مقابل کې ټول موانع لېرې کېږي او الوځي.) مسولیني وایي: (فاشېست ژوند په نظر کې نیسي او له ژوند سره مینه لري، دا د ځان وژلو نوم نه دی، ژوند یوه فریضه ده، یو کشمکش دی او یوه فتح، د ځان لپاره هم ژوند کول په کار دی، خو ډېر د نورو لپاره، هغه نور چې وروسته راځي.) (مجله جامعیه ملیه دهلي) دا وو د مسولیني خپل عبارت، اوس نو زه د خپلو منورینو او ځوانانو څخه خواهش کوم چې د هر چا د خولې پروپاګند دې نه خپروي، خپلې پښې دې نه وهي، ملیت یوه ډېره شریفه پاکه نظریه او مسلک دی، په ملیت کې نجات دی، په ملیت کې ترقي ده او په ملیت کې شرافت، د ملیت په برکت موږ د ټولو بلاوو خولې بندولای شو، دا بلاوې رشوت خواره دي، که معرضین، پول پرستان، مستعمره‌چیان او استثمار کوونکي خارجي وي که داخلي. تاریخ ثابته کړې ده چې شریف پښتانه تل د نورو ورونو خدمتګاران وو او د نورو له اوږو یې پېټي اخیستي دي، خلک د افغان د تاریخي عظمت څخه ډارېږي، انې بهانې راته جوړېږي او نه مو پرېږدي، خو دا زنځیرونه ماتول غواړي.))

(۲۴: ٦٦٥-٦٦٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لیکنو کې دې ته ورته نورې مهمې لیکنې هم راغلي دي، چې هره یوه یې خپل خپل ارزښت لري.

## ۲- علمي څېړنه او شننه :

په دې برخه کې هم د استاد خادم یو زیات شمېر داسې متفرقه لیکنې شته چې په مستقلو اثارو کې نه دي راغلي او یا یې یوه برخه راغلې ده، دا لیکنې که ټولې محاسبه کړو، د یوه ځانګړي اثر تر کمیته هم پورته کېږي، هغه لیکنې چې په (رڼه چینه) کې راټولې شوي او د (بېلابېلو لیکنو) تر سرلیک لاندې ډلبندي شوي، ما ورته (علمي، څېړنه او شننه) نوم غوره وباله، په دې برخه کې دغه لاندې لیکنې شاملې دي:

- د ارتقا حس
- د انسان ضرورت او ترتیب یې
- د ازدواج د عمر په باب د علم ځواب
- حیات او مهات
- د نوو اکتشافاتو په رڼا کې قدیم حقیقت
- د نبوغ اساسي لارې
- اتفاق او اختلاف
- دیانت او روحانیت
- انسانیت او حیوانیت
- انسان او فاضل ملکات

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هندوستان د مليت بنياد
- علما او نوابغ
- وطن مور
- ژوند څه شی دی؟
- اختراعات څنگه وشول؟
- علم او عقل
- زمونږ د تگ لار
- ذهنيت او علميت
- سعادت په څه کې دی؟
- استعداد
- د زړښت او ځوانۍ په باب

ددې ليکنو له جملې څخه به د (علما او نوابغ) په نامه يوه لنډه ليکنه چې په (زېري) جريده کې خپره شوې ده، د بېلگې په توگه راوړو:

علميا او نوابغ

((شوپنهاور مشهور فيلسوف د مطالعې او تفکر په باب وايي:

څنگه چې ډېره مطالعه، فکر وسعت او ودې ته نه پرېږدي، ډېر ليکل او ډېر لوستل هم د حقايقو د معرفت مخه نيسي. د دنيا ډېره لويه کتابخانه چې بې نظمه او بې ترتيبه وي هغه ارزښت نه لري، لکه چې يوه کوچنۍ منظمه کتابخانه يې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه راز ډېره زیاته پوهه  چې په ذهن او دماغ کې ښه هضم شوې نه وي، له هغو لږو معلوماتو څخه لږ قیمت لري چې په جزیاتو کې یې ډېر غور او دقت شوی وي.

په حقایقو باندې سړی هغه وخت پوهېدلی شي چې د علیت په قانون پوه شي او په جزیاتو کې یې مطالعه ولري.

څنګه چې انسان مطالعې ته ضرورت لري، تفکر ته یې هم لري، مطالعه او تفکر د انسان په ذهن کې دوه متضاد تاثیرونه لري چې که یو زیات شي، هغه بل کمېږي.

مطالعه د سړي ذهن د هغو افکارو او عقایدو تر تاثیر لاندې راولي چې ممکنه ده د انسان له ذاتي احتیاجاتو سره مخالفت ولري. ازاد تفکر یعنې د هغه طبیعي سیر او حرکت تعقیب چې محتط او ضروري مسایل یې د انسان په ذهن کې پیدا کوي، د مطالعې په شان څه خاص شی ذهن ته نه سپاري، بلکې د فکر کولو تومنه ذهن ته سپاري، همدغه سبب دی چې ډېره زیاته مطالعه د شخصي فکر د پرورش مخه نیسي او سړی څه قدر سطحي او ناپوه کوي.

علما او پوهان هماغه کسان دي چې ډېر کتابونه یې لوستي وي، مګر نوابغ او د فکر خاوندان چې د انساني مدنیت لارښودونکي دي او د بشریت قافله د ترقۍ خوا ته بیایي، هغه کسان دي چې د جهان په کتاب کې یې غور کړی دی او د نورو په خبرو کې یې خپل فکر نه دی بایللی.)) (۲۴: ۷۱۱)

## ۳- ژورنالیستیکي لیکنې:

په دې لیکنو کې د استاد خادم هغه لیکنې شاملې دي چې د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په بېلابېلو خپرونو کې، لکه: (هېواد، اصلاح، زېري، افغان ولس، افغان ملت) او نورو کې د سرلیکنو، خبري لیکنو او ځینو ژورنالیستیکي تحلیلي لیکنو په بڼه پر خپل وخت خپرې شوې دي. په دې لیکنو کې دا لاندې لیکنې شاملې دي:**

- **افغان ملت جریده، مسلکي جریده ده**
- **د افغان ملت د لارې په باب یو څه توضیحات**
- **د ولایاتو د مملکت وېش: د راتلونکو اصلاحاتو لپاره لویه لار**
- **د قره قولیو ټیکس معاف کېږي**
- **د ژورنالېستانو سره مرسته په کار ده**
- **کلیو او دیهاتو ته د ډاګ انتظام**
- **د مشاعرې افتتاحیه وینا په کابل کې د پسرلنۍ پښتو مشاعره**
- **د پښتونستان په خاوره کې د دښمن د مداخلاتي رویې په ضد د ملي جرګو فیصلې**
- **د هېواد په شمال کې د قره قولیو د درېو نورو کوپراتیفونو تاسیس**
- **شوروي اتحاد ته د همایوني اعلیحضرت او علیا حضرتې معظمې ملکې سفر**
- **لبنیات او کابل**
- **هېڅ ډول زور او فشار د پښتونستان خلک د خپل ملي مرام څخه اړولی نه شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ولاياتو د پوهنې مديرانو ته د ښاغلي صدراعظم لارښوونې
- د خلکو د روغيتا او تندرستۍ او د ښار تنظيف د روغتيا د مقديانو او د ښاروالۍ جدي څارنه غواړي
- په شوروي اتحاد کې د افغانستان د گران پاچا اعليحضرت او ملکې تاوده هرکلي
- د مطبوعاتو د نوي قانون په رڼا کې، د راډيو، اصلاح، او انيس په خپرونو کې نوی تحول
- په مملکت کې د يو قوي پارلمان د منځ ته راتلو د پاره د وکيلانو په انتخاب کې د زيات قدر څخه کار واخلئ!
- د ټول افغانستان د صحيه چارو موظفينو لوی کانفرنس
- د دنيا اميدونه
- د لوی خدای په نامه
- د نومونو ايښودلو جرگه
- د بشر په حقوقو، قانون او عدالت پورې استهزا
- زموږ جامعه
- د مېرمنې او خاوند گډ گوزران
- مطبوعات څه خدمت کوي؟
- زموږ اينده نسل
- د مطبوعاتو ځان ځاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خیر او نیکي
- ناحق دعوې او خلک ازارول
- د کراچۍ د دومینیون کابینه ماته شوه
- د خپلواکۍ حق
- اجمل ختټک ولې بندي شو؟
- حکومت او ملت
- د کراچۍ عمال پر پښتونستان څه لوبې وکړې؟
- وېره، شرم او علاج یې
- د کراچۍ پروپاګندي لهجه
- میلریا یا موسمي تبې
- د میلریا اهمیت او علاج یې
- د اخلاقو موقعیت
- د اختر په ورځ د افغانستان د ګران پاچا وینا
- د کامیابۍ لیاره
- اخلاق او ایمان
- پښتونستان
- د غازي والا حضرت شفقت امېزه سلوک
- د خدای بنده المتوکل علی الله خلد الله ملکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د عمومي پور د ترويج لايحه
- د محكوم پښتونستان جمعيت العلماء مولانا سيد گل بادشاه
- مونږ څوک یو؟
- ریشخور یاغازي اباد؟
- د مصر وضعيت وخيم دی
- د بلوچستان د وطن حزب مشر عبدالصمد خان له بند نه شفاخانې ته یوړل شو
- د خلكو نمانځه
- د چا غیبت مه کوئ
- د پونده وو د تعليم انتظام
- د كوريا جگړه درې كاله وروسته خاتمه ومونده له - د كوريا متاركه لاس ليكه شوه
- د اصلاح ورځپانې د ۲۵م كال په مناسبت
- د اصلاح ورځپاڼې ۲۵م كال
- تنظيم اواطاعت
- تلافي كول او عفوه غوښتل
- د پښتونستان لوی زعیمان د پاکستان په جېل کې د (بلوچستان) د زعیم، خان عبدالصمد حالت
- د نادر پښتون د جادې د دويمې برخې كار

(c) ketabton.com: The Digital Library




- د لوی اختر ورځ
- حريت او ازادي
- افغانستان او پښتونستان
- زړه سوی او مهرباني
- رحم او عاطفه
- په محکوم پښتونستان کې د پښتنو په مشرانو ظلم
- په شمالي افرېقا کې د ازادۍ تحريک
- د سردار محمد داود خان صدراعظم سياست
- عهد او امانت
- د افغاني سرې مياشتې د مراسمو ورځې
- مستر عبدالقيوم د خان عبدالغفار خان په خلاصون کې ځان ته ضرر ويني
- غندينه او بده ستاينه
- چغلي او خبرې وړل
- دوه تاريخي ورځې سر په سر د ميزان ۲۲م او ۲۳م
- زموږ د اخلاقو سلسله
- بين المللي منشور دې بايد ترميم شي
- د پاکستان د دومينيو يو بل ظالمانه اقدام
- د يهودو عسکري تعرض په عربي کليو تصديق شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پاکستان د حکومت قادیانت پروري
- ولسي جامې
- د پښتونستان مجاهد
- تیاره دنیا
- افغاني ثقافت
- له عاشق شاه پاچا سره د یو اخباري نماینده مصاحبه
- په هېواد کې د ملکي هوایي سرویس پرانیستل
- د بریتانوي ګیانا زعیم ډاکتر جګن
- د تنګي غارو د سرک په باب نوی تصمیم
- د هندوستان دجمهوریت جشن
- د افغانستان د مالیې د وزیر او د اتحاد شوروي د لوی سفیر په منځ کې یوه موافقه
- ښاغلی صدراعظم د خپل حکومت اقتصادي سیاست توضیح کړ
- د کابل د ښاروالۍ د (۱۳۳۳)کال پروګرام
- په تېر کال کې موږ څه وکړه؟
- نوی کال او نوي پلانونه
- ونې او نیالګي
- د شرقي بنګال انتخاباتو کې د مسلم لیګ ناکامي
- فساد مه کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- صحت اوتندرستي
- د ښاغلي صدر اعظم گرمه پذیرایي په جنوبي کې
- زمونږ قلمي همکارانو ته
- له طلوع افغانه څه غواړئ؟
- د پاکستان واکداران وارخطا دي
- دنیا څنگه ترقي کړې ده؟
- د قندهار د ښاروالۍ انتخابات
- د بلدیې انتخابات شروع کېږي
- پروگرام او دستور العمل
- د ډېموکراسۍ تحکیم او ټینگول
- د ښار په لوی مجلس کې د ښاغلي نایب الحکومه بیانیه د ۵۰ ورځو د کار راپور
- په محکوم پښتونستان کې اغتشاش
- طلوع افغان د چا دی؟
- د ملي وروړگلوۍ ټینگار
- د اجتماعي سمون لیاره
- ډېموکراسي څه شی دی؟
- د پښتونستان گرانو لیډرانو ستاسو وظیفه خورا درنه ده
- د پښتونستان د هیئت پذیرایي په قندهار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د قومي ترقۍ اساس د فکر و بیان ازادي ده
- ازادي څه معنا؟
- اجتماعي حقوق
- ملت او ملي یووالی
- د ننګرهار ادبي کلوب
- ځوانانو! تاسو ته وایم
- انګار راووت
- تېر مطبوعاتي کال
- په مملکت کې اصلاحي فعالیت
- محتکرین او متقلبین
- نوی کال او نوی کار
- د پاکستان د ازادۍ ورځ
- په ۲۹ ولایتونو د مملکت وېش
- شاګردانو ته د پوهنې د ښاغلي وزیر ګټور پیغام او غټې ټکي یې
- بلاکونه او بې طرفه هېوادونه
- د یوې ډلګۍ داړه مارو نیول
- ددې وخت مهم مرضونه او علاج یې
- معاشونه په کافي اندازه زیات شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د نجونو د تعلیماتو په لړ کې د کامې خلک د نجونو ښوونځی غواړي
- د هېواد شپاړسم نشراتي کال
- د کامې د ولسوالۍ په باب نظریه
- د بلوچستان په یو کلي د پاکستان د الوتکو بمباري
- ملي موسيقي
- زموږ کومه موسيقي ملي رنګ لري
- زموږ تر ټولو غټ احتیاج دخوراکي موادو زیاتول دي
- په ډېموکراسۍ کې د عقیدې ازادي
- ډېموکراسي او د عقایدو ازادي
- د جلال اباد ښار بې اصوله دی
- د مامورینو لپاره د شپې لېسه
- د امام ابو حنیفه مدرسه پرانستل شوه
- د وړو او غوړو نرخ پاملرنه غواړي
- د ښاغلي خروسچف د زیږیدنې ۷۰م کال او په دغه مناسبت مراسم
- د هېواد لوی ښارونه به علمي مرکزونه شي
- یو تشویشناک خبر:
- د زراعتي کانګرس نتیجې چې تر اوسه لاس ته راغلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library




- د زراعتي کانگرس بحثونه او نتايج
- خارجي پورونه او قراردادونه بايد څنگه وي؟
- د جلال اباد د ښاروالۍ انتخابات
- په کابل کې د اقبال د يادگيرنې وينا:
- د اقبال د شاعرۍ محرکات
- د اقبال د شاعرۍ غټ عناوين
- د اقبالۍ د خودۍ د فلسفې مبدا
- د افغانستان او شوروي اتحاد همکاري په نوره هم ټينگه شي
- د زاړه ښار عفونتونه به تر څو پاتې وي؟
- پوهنه او کړنه
- ډيموکراسي او د خلکو روزنه
- د ډېموکراسۍ معيار
- د ښار په احاطه کې خشت مالي
- هغه خبرې چې لا حل شوې نه دي
- د دې وخت لوی قوت ملت دی
- د وطن د پاره لوی خدمت
- فرانسې ناجي او مجدد صدر دوگول د اعليحضرتينو کوربه
- د ښه وکيل افکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په ډیموکراسۍ کې ګوزاره او اغماض
- په انتخاباتو کې د رایو برخه
- په انتخاباتو کې د اخبارونو برخه
- په سیاسي مبارزو کې تقوا
- د یوه والي نېکه اراده: د اخلاقي جرأت غټه نمونه
- د جلال اباد ښاروال انتخاب، د ښاریانو په مخکې دده تعهد
- د خلکو اراء افکار او جراید
- له انتخاباتو سره د خلکو دلچسپي
- موږ ښه خلک څنګه پېژندی شو؟
- فرانسه به له افغانستان سره په بېلو بېلو ساحو کې مرسته وکړي
- د شورا لپاره څرنګه وکیل انتخاب کړو؟
- معظم ټولواک د فرانسې کوښښونه د مخ په انکشاف روانو هېوادو ترقۍ کې وسایل
- د مختصرو پروژو له جملې څخه
- چاته رایې ورکړو؟
- له ژورنالیستانو سره مرسته په کار ده
- بلوڅ شاعر نصیر خان دې پرېښودل شي؟
- د پښتو په باب د کمېشن مذاکرې
- د انتخاباتو فلم جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ملگرو ملتونو موسسه
- د بندیانو د حال پوښتنه او وارسي
- د پښتو له خبرونو څخه د خلکو شکایات باید رفع شي
- عصري ښارونه او ارزانه کورونه
- ښځې په انتخاباتو کې
- د پلان د وزیر ښاغلي عبدالله یفتلي بیانات، په مملکت کې د پلانېنگ وضعه
- امریکا د ازادۍ ورځ
- سیمه ییز انکشافي پلانونه
- کابل د څلورو بین المللي لارو په منځ کې
- د ننگرهار د کانال یوه برخه ځمکه به مستحقینو ته ورکړل شي
- د اقتصادي بحران د حل په باب د ښاغلي زابلي مفکوره
- د اسلام پیغمبر او قران
- صحت او نظافت
- د عراق او فرانسې ملي ورځ
- د افغانستان انکشافي پلانونه او د دوستو مملکتونو مرسته
- زموږ د ملک طبیعي امکانات
- د عربي متحده جمهوریت د جوړېدو دیارلسم تلین

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په مملکت کې د معارف پوره تعمیم له لارې، ناپوهۍ، لوږې او ناروغۍ پر ضد مجادله کېدی شي
- د انتخاباتو قانون نشر شو
- د مشاعرې افتتاحیه وینا: په کابل کې پسرلنۍ پښتو مشاعره
- په انتخاباتو کې تهدید او تطمیع
- د مملکت په کارونو کې په ځان اعتماد په کار دی تعصب د ملي وحدت دښمن دی
- موټرونه او ورکشاپونه
- کابل د خوشبویۍ په دریا کې لامبو وهي
- له ښاریانو نه ضرر رفع کول د ښاروالۍ وظیفه ده
- قانوني انتخابات
- د استقلال د استرداد یادګیرنه
- آیا جنګ د دنیا فیصله کولی شي؟
- د فرانسې ناجي د ډیموکراسۍ بله مرحله
- یوه خوږه خاطره میر نصیر خان او احمد شاه بابا
- د هنري ننداري موسسه پرانیستل شوه
- د ایران د شاهنشاه د جلوس پنځه ویشتم کال
- تورې به لالا وهي مړی به عبدالله وهي
- ښځې او سیاست

(c) ketabton.com: The Digital Library




- په سیاسي میدان کې دروغ ویل
- د دارالبیضا کانفرانس
- محتکرین او متقلبین
- د ازادۍ د لاس ته راوړو لپاره د پښتونستان د خلکو مجاهده
- ګډه اعلامیه
- په سوات کې مو څه ولیدل
- د ټول افغانستان د صحیه چارو موظفینو لوی کانفرنس
- په انتخاباتو کې ګډون وکړئ
- فداکاري او امانت داري
- پښتونستان ملي ورځ
- امریکا ته د معظم ټولواک او معظمې ملکې د ښه نیت مسافرت
- سور صلیب او سره میاشت
- استقلال او ملي ارتقاء
- د ملاریا سره د مجادلې اهمیت
- اساسي قانون ته انتظار
- د واشنګټن په سیمه کې دهمایونی اعلیحضرت د مسافرت خاتمه
- د ملي شورا دتاسیس تقریب
- د سرې میاشتې هفته

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د افکارو تنویر**
- **متقابل احترام**
- **اصلاحي تحولات**
- **افغاني شهامت**
- **د کلیو دانکشاف نهضت**
- **دکابل د ښار تنظیمات**
- **د مامورینو حاضري)) (۲۴: نیولیک)**

**دا لیکنې که څه هم د ژورنالیستیکو لیکنو په ډلبندۍ کې راغلي دي، خو په دې کې یو شمېر داسې لیکنې هم شته چې فرهنګي، تحلیلي، ټولنیز، ادبي او سیاسي وزن او کیفیت یې تر ژورنالیستیکو لیکنو زیات دی، خو څرنګه چې دا لیکنې د مناسبتي ورځو پر وخت په بېلابېلو خپرونو کې خپرې شوي، نو ځکه په دې ډلبندۍ کې راوړل شوي دي. که دا لیکنې بیا هم د محتوایي څرنګوالي له خوا ډلبندي کړو، نو بیا به هم پر ټولنیزو، سیاسي، علمي، ادبي او نورو ډول ډول لیکنو ووېشل شي.**

**دلته به ددې لیکنو له جملې څخه یوه لیکنه د بېلګې په توګه راوړو دا لیکنه د نادر پښتون واټ په باب لیکل شوې او د خپل وخت د ژورنالېزم او خبر جوړونې څرنګوالی ورڅخه په ښه ډول څرګندېږي:**

## د نادر پښتون د جادې د دویمې برخې کار

**((د جادې د پاره مونږ د (واټ) کلمه منلې او ایښې ده، نو ګویا د (نادر پښتون واټ) دویمه برخه کار، دا څلورمه ورځ ده چې د ښاروالۍ له خوا شروع شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نادر پښتون واټ دویمه برخه د پخوانی (پل خشتي) څخه چې اوس یې (د نادر پښتون پل) پورې شروع کېږي او د پخواني نغاره خانې حد ته چې اوس یې (د پښتونستان واټ) بولي، ور وځي.

د نادر پښتون (رح) د واټ د دویمې برخې د کار مسئله له څه مودې څخه د ښاروالۍ د ریاست په نظر کې وه، ترتیبات یې ورته نیول، نقشه یې جوړوله، ځمکې یې پیمایش کولې، قیمتونه یې تعقیبول، خلک یې راضي کړل، د نوي فوري ودانۍ فکر یې سنجاوه. د اپارتمانو د جوړولو او د خرڅولو زمینه یې تهیه کوله چې دا ټول ترتیبات یې ونیول، د کورونو خاوندانو ته یې اعلان وکړ چې که خپله تعمیري مساله ځوک په معینو ورځو کې وړی شي، یو دې سي، که نه نو په ټاکلې نېټه تخریب شروع کېږي.

هماغه و چې په ټاکلي تاریخ کار شروع شو، په دې څلورو ورځو کې دومره کار شوی دی چې سړی اوس د سیند په غاړه ودرېږي، د بانک ماڼۍ او د پښتونستان واټ په نظر راځي، یعنې د نقشې په منځ کې کورونه ونړول شوه، دلته د ورځې یو عالم هجوم، فعالیت کار او غلغله لیدل کېږي. ښاغلي رییس او د ښاروالۍ نور غټ مامورین د ورځې له ابتداء تر نمر پرېواته پورې ولاړ وي، کار کوي، د ډول او سورنو غږونه راځي او دوړې او ګردونه پورته کېږي.

مولانای بلخي ښه ویلي دي ((هره زړه بنا چې نوې ودانوئ، نو وړومبی یې د بیخ او بنسټ څخه ورانوئ)) په دغه شان سره د هر زوړ عمارت نوی تعمیر څه لږ و ډېر تخریب په ضمن کې لري. لېکن نتیجې ته کتل او اساسي فکر په کار دی چې فایده څومره ده او ضرر څومره؟ یو بدن چې مرض شي او خرابي پیدا کاندي، اکثره اپرېشن غواړي، مګر دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم یو همت او یو عزم غواړي چې سړی اپرېشن ته تن کېږدي، نو خدای یې صحت په نصیب کاندي.**

**زموږ وطن ډېرو اصلاحاتو ته اړ دی، دا اصلاحات عزم، اراده او فداکاري او قیمت غواړي، گورئ دغه کارونه چې وشول او کېږي، له ډېر پخوا څخه د حکومت خوښ وو، غوښتل یې چې وشي، مگر سړی په کار و د کابل په اینده تاریخ کې به د ((فرهاد)) نوم یادوي.**

**ده د خلکو خبرو ته ونه کتل او اصل کار یې په نظر کې ونیوه، هغه کار چې افغانستان ته په کې فایده ده او ابرو یې په ځای کېږي. دی پوهېږي چې ددې وخت خبرې له وخت سره تېرېږي، مگر کار او اثار پاته کېږي. یوه ورځ ده په یو صحبت کې وویل:**

**((په جرمني کې یو متل دی چې لوی کارونه کوې نو وړو خبرو پسې مه گرځه)). یعنې لویه غایه او لوی هدف باید په نظر کې ونیول شي.**

**هو، بد او وران کاري خلک چې یوازې په ځان یې نظر وي او کوم عالي نصب العین نه لري، په هره جامعه، هره ټولنه او هره طبقه کې وي.**

**دا بدبختان ځان هم شرموي او لوی خلک هم، د دوی علامې دا دي چې نهایت نرم، خوښ گفتاره، خنده رویه، بلې صاحب گویان وي او خورا مطبع ځان ښکاره کوي. د لوی سړي په مخ کې په ناحقه تروري تروري منډې وهي، د خبرو سره فوراً پاڅېږي او په ملاقاتونو کې د لویو خلکو لاسونه ښکلوي. د یو او بل خبرې ورته راوړي، د لویانو په کورونو طواف کوي، په زېردستانو همېشه (برو او بزن) کوي چې لوی سړی ووایي خورا فعال سړی دی. مگر په حقیقت کې هغه کارونه کوي (چې له شرمه یې هېڅ غل او کاسیر نه کا) لویه علامه یې داده چې د وطن او مال مقابله راشي، مال اخلي او د وجدان په ځای ورباندې د وجدان زیات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکمیت لري او د حضرت پیغامبر (ص) د وینا له قراره چې (د دنیا محبت دټولو گناهونو سر دی).

د دوی د دنیا د شدید محبت له کله په هېڅ گناه او رزالت ډېل نه وي، ای خدایه! زموږ فداکار او نیکو کار مشران د دغو شیاطینو له افسونه خلاص کړه.

مونږ ټینگ یقین لرو چې زمونږ په وطن کې اوس ډېر ښه خلک او دښو نیتونو خاوندان شته، مگر د استفاده جویانو او شخصي سیاستمدارانو چالونه دومره عمیق او د دوی دامونه دومره همرنگه زمین دي چې هر قسم زیرکه مرغه هم ورنه ځان نه شي بچ کولی. دا خلک که په نرمۍ ونه شي، نو د گرمۍ چل هم ورځي. فوراً اسباب جوړوي، پروپاگند کوي، غال مغال سازوي او د یو نېک سړي پلان ناکام کوي. دا خلک د وطن لافې ډېرې وهي، مگر همېشه ((د سپږې د پاره پوستین اور ته اچوي))، مونږ پوهېږو چې لوی خلک هم د دوی څخه جگر خون دي، خو څه ویلی نه شي چې په هر وطن کې دا خلک ډېر وي، په هغه وطن کې کار کوي، خورا مشکل دي.

ای پروردگاره! زموږ د وطن نېکو کسانو مل شې چې ستا د پرېوتو او ضعیفو بندگانو خدمت وکړي.)) (۲۴: ۹۳۲-۹۳۳)

## ۴- دري لیکنې:

استاد قیام الدین خادم نه یوازې د پښتو نومیالی لیکوال و، بلکې په دري ژبه یې هم ښې لیکنې کولې او گڼ شمېر دري لیکنې یې هم د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې خپرې شوې دي. استاد په دري ژبه نظم او نثر دواړه لیکلي دي. که د ټولو دري نثرونو یا لیکنو ټولگه یې په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانګړي اثر کې چاپ شي، یو لوی اثر ترې جوړېږي. د ده دري لیکنې چې له بېلابېلو خپرونو راټولې شوي او په (رڼه چینه) کې خپرې شوې دي، دا دي:**

- **ایا افلاس سبب ارتشا است؟**
- **فرانسه و هند چین**
- **هدف اصلاحات اداری ما**
- **در اطراف بیانات خواجه شهاب الدین**
- **لذت توفیق در وظیفه**
- **تاسیس موسسه خدمات سیاسي؛ اقدام نیک حکومت**
- **وضعیت ارتزاقی مملکت**
- **وزارت مالیه بکار های اساسی دست زده است**
- **مطالبه پشتونستان بر روی حقایق روشن اتکاء دارد**
- **مجموعه چار کتاب نایاب**
- **نقاط مهم سیاست اقتصادی**
- **مبینات شرح منبهات**
- **انتقاد و نصیحت**
- **قابل توجه وزارت مالیه**
- **ایا تفتیش هم تفتیش دارد؟**
- **افغانستان امروز و سیاحین ما**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سرک گلبهار و سروبی
- توجه بداد خواهی مردم
- حقوق بشر و دنیای کنونی
- حقیقت پښتونستان قابل توجه دنیای حق پسند
- اهمیت موضوع پشتونستان توجه ښاغلی نکسن راجلب نمود
- سالگرهٔ جلوس اعلیحضرت شاه
- ایا محصولات گمرکي بر اموال وارداتی اضافه گردیده است؟
- فوت شخصیت بزرگ افغانستان بعد از محمد نادر شاه کبیر
- در اطراف مقاله مصونیت و کلاء
- روز عاشورا
- علت کشیدگی اوضاع در مراکش
- سالگره تاسیس شورای ملی
- شخصیت والا حضرت سپه سالار غازي شاه محمود خان و خدمات شان
- استفسارات هیئت مطبوعات
- گزارشات مراسم شاندار
- پروپاگند ناحق پاکستان
- پادشاه ادب پرور ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نطق شاغلی مالنکوف و تبصره های دنیا بران
- پلانهای اصلاحی در افغانستان و پیشرفت ان
- مرستون یعنی چه؟
- طومار محبت
- مصر جهت تمامیت خاک خود می کوشد
- برادری و برابری
- هدایت تعمیر ((نوی ښار)) در لغمان
- به جرائد معاصر وطن
- سعادت نسل اینده بشر یا تربیه صحیح اطفال
- مصؤنیت و کلا
- اختتام جنگ کوریا
- مسله هند چین
- مصر و کانال سویز
- راه ها، معابر و سرک ها
- زندگانی به اسایش مولود کار است
- حس قدردانی
- حق ازادی
- طبع مجدد قران کریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ایا وضعیت مصر راجع به کانالسویز جدی تر شده است؟
- ملت پاکستان در اتش مظالم میسوزد، همدردی سایر مسلمانان با مسلمین پاکستان
- پنجاه، سال بعد
- مادر وطن
- ملیت و بین المللیت
- تفقد حکومت مهربان ما بر حال رعیت
- جلسات شورای ملی اغاز خواهد شد
- مفکوره اقتصادی علیحضرت معظم همایونی
- قیام عمومی مسلمانان علیه قادیانیت پروری پاکستان در ایالت پښتونستان
- درام یتیم بی حامی
- انکشاف زراعتی در مملکت ما
- اعلیحضرت معظم همایونی ورود مسعود پادشاه محبوب ما به مرکز
- انصاف در وزن و ترازو
- بزرگترین نعمت های خداوندی
- فتنه قادیانیزم
- روشنی امید در افق سیاسی جهان
- به نویسندگان محترم این روزنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او یو شمېر نورې لیکنې...**

**دلته به یې د دري لیکنو له جملې څخه یوه لیکنه د بېلګې په توګه راوړو، دا لیکنه (مصونیت وکلا) نومېږي او په (اصلاح) ورځپاڼه کې چاپ شوې ده:**

## مصونیت وکلا

**((چندی میشود گپ عجیب و غریبی اتفاقاً به میدان آمد ((مصؤنیت وکلا)) هیچکس گفته نمیتواند که این گپ چطور آمد، کی اورد و چگونه نشر شد؟ هر کس میگوید: ((وکلاء مصؤنند))، بتصویب رسیده است؟ و اگر بگویند که از مسلمات دنیا است حاجت ندارد که نوشته و تصویب شود.**

**پس ایا از تمام مسلمات دنیا فقط ((مصؤنیت وکلاء)) رابصورت عنعنه قبول میکنند. حقیقت این است که یک قانون تا وقتی مورد استناد شده نمیتواند که مراحل خود راطی نکند و صورت عبارت صریحی بخود نگیرد.**

**تعاملائیکه بعضیها نام آنرا میگیرد مخصوص قطعی شده نمیتواند.**

**میگویند شخصی تیمم رایاد گرفته بود، او در هر جا و هر وقت از ان کار میگرفت و فرقی بین با محل و بی محل بودن ان نمیگذاشت، اخیراً شخص مذکور گفت: ((تیمم نبود گنج خدا بود، اموخته شدم اسوده شدم)).**

**ایا ((مصؤنیت وکلاء)) راه هم میخواهند باینصورت استعمال کنند؟**

**این مصؤنیتکه بگوش مردم در حق وکلاء رسیده است، این مصؤنیت چه معنی دارد؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا این مصؤنیت باین اندازه مطلق است که وکیل شوری هر چه بکند و یا هېچ نکند؟ اگر چنین مطلق باشد ایا این اطلاق در مرحله اول قابل صلاح و ترمیم نیست؟

بس کسانیکه چراغ راگرفته تمام روز به شوق اینکه در مملکت اصلاح کنند بالای هر کس و هر مقام گپ و سخن میزنند چرا در رفع و اصلاح این نقیصه بزرگ نمی کوشند؟ اگر وکیل شوری بطوری مصؤن باشد که هیچ مسؤلیتی از هیچ جا باو راجع نباشد، پس وکالت صورت یک تجارت رابخود قبول نخواهد کرد؟ درین حالت مضیقه اقتصادی ایا کسی خواهد بود که این حساب رانداند که از جمله سه ساله معاش و امتیازات شوری ده یا پانزده هزار انرا بصورت پیشکی صرف کند و خود را وکیل مصؤن شورای ملی بتراشد که تابستان از هوای صاف کابل واب پغمان استفاده کند و زمستان ٦ ماه بدون دغدغه درخانه بامور شخصی و احیاناً ملاقتها مصروف شود؟ خوب، وقتی وکالت شورای ملی این صورت رابخود اتخاذ نماید، عاقبت افغان و افغانستان درین دنیای پرشر و شور که ما محتاج کار و بصیرت اضافه ترهستیم چه خواهد شد؟

آیا زمان و وقت در حیات وممات ملل و اقوام قیمتی ندارد؟

در همین بازیها و ساعت تیریها فرصت بصورتی از دست ما نخواهد رفت که باز پشیمانی هیچ سودی نخواهد داشت؟

ایا نمیتوانند تحدید مصؤنیت وکلاء رابجراید توضیح دهند؟ و ایا کسانیکه عمداً نمیخواهند در شوری کاری شود بس ایا مصؤنیت انها مانع است که نامهای شان به جراید نشر شود؟ و ایا یک وکیل مصؤن نمیتواند نام یک وکیل مصؤن دیگری راکه کشتی یک ملت رابه طوفان می کشاند، در اخبار نشر کند؟ و اگر وکلاء با هم متفق باشند و هیچ یک پرده را از

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمال دیگری بالا نمیکنند پس این وکلا حق اعتراض و انتقاد را هم بالای اراکین حکومت که تا یک اندازه کار می کنند، خواهند داشت؟

ایا وکلاء به حضور ملت مسؤلیت ندارند؟ و جرائد که نماینده احساسات حکومت و ملت اند نمیتواند از وکلاء بحث کند؟ وکلاء چرا باید این ملت را بی زبان تصور کنند کسانیکه می تواند بالای انهائیکه حقیقتاً مورد فعالیت و کار در مملکت شده و حق خود راباثبات رسانیده اند انتقاد کنند. پس چگونه خوف مصؤنیت وکلاء از جرات انتقاد شان بالای شوری خواهد کاست؟ متیقن است که در مملکت کسانی موجود اند که حق احترام مقام بادشاه و مملکت و قوم را از حقوق اشخاص بلند تر میدانند و برخود واجب میداند که ازین حقوق در مقابل هر گونه مشکلات دفاع کنند. ما ایمان داریم که در دنیا هیچ کار و عمل بدون پاداش موجود نیست وکالت شوری که یکی از وظایف مهم و کار های بس ضروری است چگونه بی مسؤلیت خواهد بود؟ وکلای منور شوری و مخصوصاً اصحاب قلم اولتر با صلاح شوری ملتفت شوند و برسوخ مصؤنیت خویش مصؤنیت دیگران را اصلاح کنند محبت حق و حقیقت باید در نزد اهل علم و قلم از همه چیز ها مقدم باشد چون وطن ناموس مشترکی است و زندگی بذات خود مسؤلیت است بنا بران از مسؤلیت این نوشته خویش شانه راخالی نه کرده نام خود را مخفف و با مرموز نوشته کرده نمی گذاریم و واضح ام خویش باید نوشته کنیم.)) (۲۴: ۸۸۱-۸۸۲)

پر منثورو دري لیکنو سربېره استاد خادم یو شمېر دري شعرونه یا نظمونه هم لیکلي دي. هغه دري نظمونه دي چې د ده په منظومو کلیاتو کې راغلي دي، دا نظمونه تر دې پخوا په متفرق ډول او ځینې یې له نورو پښتو شعرونو سره یو ځای چاپ شوي دي. دلته یې یو دري شعر یا نظم د بېلگې په توگه راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بهر ما روح و روان

ملتـــی دیـــدی کـــه جـــای مـــا بمـــن پیچیـــده انـــد
بـــی خبـــر از حـــزر جـــان انـــدر بـــدن پیچیـــده انـــد
یوسف گم گشته را در طلب کس نیست نیست
مصـــریان انـــدر هـــوای پیـــراهن پیچیـــده انـــد
رمـــز عمـــق زنـــدگی چیـــز و فقیـــه و محتســـب
مـــن نمیـــدانم چـــرا انـــدر ســـخن پیچیـــده انـــد
قصـــه شـــیرین فرهـــاد نـــوین اغـــاز شـــد
بـــی جهـــت مـــردم چـــرا در کـــوهکن پیچیـــده انـــد
کشـــور مـــا پـــر ز اهـــو نافـــه و مشـــک و غـــزال
شـــاعران بیهـــوده بـــر مشـــک ختـــن پیچیـــده انـــد
شـــاه مـــا ســـرو روان بهـــر مـــا روح و روان
خلـــق بـــر دورش چـــو شـــاخ نســـترن پیچیـــده انـــد.
(۱۲: ۲۳۳)

کله چې موږ د استاد خادم داسې متون (نثر او نظم) مطالعه کوو، نو هغه راته په دري کې هم د ښه قلم خاوند ښکاري، دري لیکوالي یې هم د خپل وخت له نورو هغو لیکوالو سره چې دا مهال یې لیکوالي کوله، د انډول وړ برېښي، په تېره بیا د دري ژبې د منځنۍ کچې له لیکوالو سره. دا و د استاد خادم د منظومو او منثورو اثارو لنډه پېژندنه. پر تېرو یادو اثارو سربېره ځینو لیکوالو د استاد خادم په پېژندنه کې دهغه ځینو نورو چاپي اثارو ته هم نغوته کړې ده. خو د استاد خادم اثارو ته په کتنې سره دایادونه دقیقه نه وه، دا ډول پېژندنې له یو بل څخه په مسلسل ډول کاپي شوي او د بیا بیا خپراوي پر مهال ځینو کې تېروتنې هم شوي، ان د ثابتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپي اثارو دپېژندنې په برخه کې هم ورځخه تېروتنې شوې دي. ځینو یې ځانګړې لیکنې هم د مستقلو اثارو په توګه پېژندلي، ځینو بیاچاپي اثار په ناچاپي اثارو کې شمېرلي، ما دا ټول سره پرتله کړل او له هغو څخه مې په خپل نظر سمه نتیجه راوویستله چې تاسومخکې ولوستله. دا د استاد خادم د اثارو شکلي ډلبندي او پېژندنه وه. البته پر محتوایي برخو به یې په نورو بحثونو کې هم رڼا واچول شي.

د استاد خادم د اثارو تر دې پېژندنې وروسته اوس راځو د استاد خادم د نظم او نثر نوښتګرو خواوو ته، دلته غواړو لومړی پر نظم او بیا پر نثر باندې بحث وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد خادم د اثارو نوښتونه او ارزښتونه

په پښتو ادبياتو کې تر (روښانتيايي) پړاو وروسته (ويښتيايي) پړاو پيلېږي. په (روښانتيايي) پړاو کې د کلاسيکې دورې د ادبياتو تاثيرات څه نا څه محسوس وو، خو په (ويښتيايي) پړاو کې بيا دا تاثيرات بېخي کم شول او ځای يې نويو مفاهيمو ونيو. استاد خادم د پښتو ادبياتو په (ويښتيايي) پړاو کې يوه مطرحه څېره ده. ده سره له دې چې د کلاسيکو ادبياتو پوره مطالعه لرله، خو ددې پړاو شاعرانو او ليکوالو پوره هڅه وکړه چې د نظم او نثر په دواړو برخو کې نوې پنځونې وکړي، په تېره بيا دا چې د مانا او محتوا له پلوه نوښت رامنځته کړي. دوی پر دې بريالي شول چې د خپلې زمانې او خپل چاپېريال غوښتنې، انگېرنې، اړتياوې او د خپل ژوند تصوير په ښه ډول په ادبياتو کې انځور کړي. له مانيز پلوه د استاد خادم کلام د ژوند بېلابېل اړخونه رانغاړي؛ فلسفي، سياسي، ټولنيز، انتقادي، اصلاحي، ملي، کلتوري، ژبني او نور ډول ډول مفاهيم يې په خپل کلام کې افاده کړي او تشريح کړي دي.

دا مسايل تر دې دمخه په (روښانتيايي) پړاو کې دومره مطرح نه وو او که وو هم کم وو. که هغه پړاو بيا له (ويښتيايي) پړاو سره د څومره والي او څرنگوالي دواړو اړخونو له پلوه، پرتله کړو، نو د ويښتيايي پړاو تله پرې ډېره درنه خېږي. دلته غواړم په دې برخه کې لومړی د استاد خادم دمنظوم کلام پر ځانگړنو، نوښتونو او ارزښتونو تبصره ولرم او بيا تر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته منثور کلام ته راځم، خو په دې دواړو برخو کې غواړم د محتوا په اندول پر شکل زياته تبصره ولرم او دا ځکه چې پر محتوا باندې يې موږ په نورو ځايونو کې هم بحث لرلی او په نورو برخو کې به هم پرې بحث ولرو.

## الف- د منظومو اثارو نوښتونه او ارزښتونه:

د استاد خادم اثار ځينې داسې مشخصات لري چې د پښتو معاصرې ادبي دورې د نورو پړاوونو له اثارو او همدارنگه د خپلې زمانې د ادبي اثارو له ځانگړنو سره توپير لري، همدا ځانگړنې په حقيقت کې د ليکوال فردي تشخص څرگندوي او دی له نورو ليکوالو توپيروي. دا ځانگړنې په شکلي او محتوايي دواړو برخو کې محسوسې دي. دلته غواړم لومړی په نظم کې دې ډول ځانگړنو ته نغوته وکړم.

**۱- د ملي نظم فورمونه:** کوم شعري يا نظمي فورمونه چې د خادم صيب د زمانې تر مهاله دود وو او اکثرو پښتنو شاعرانو هغه کارول، خادم صيب هم د خپل منظوم کلام لپاره له همغو فورمونو څخه گټه پورته کوله، خو د خادم صيب د ژوند او زمانې ضرورتونه دومره زيات او ډول ډول وو، چې فکر او خيال يې نورو منظومو فورمونو ته هم اړتيا لرله. د ښاغلي (عبدالهادي هدايت) په نظر، استاد خادم دا اړتيا محسوس کړه، نو ځکه خو يې خپلې شعري ټولگې (بلکا) په سريزه کې وليکل: ((د پښتو په شاعرۍ کې دغه موجوده کلاسيک فورم چې ښه په عروج کې دی، د ښکارندوی، ميرزا خان انصاري، خوشال او رحمان بابا نه راپاتې دی. مگر دغه کلاسيک فورم علاوه پر دې چې په پښتو کې مستعار او مهاجر دی او د اسلامي عصر له ابتدا څخه د ايران او عربو له خوا راگډ شوی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتانه ولس د ټولو افکارو، عقایدو، احساساتو ترجمان نه شي کېدای. ځکه چې ډېر تنګ، ګنډلی او محدود دی.**

**تر دغو اقسامو څخه پرته یو بل قسم شعر هم شته چې ډېر لرغونی شکل لري. په دې شکل او فورم باندې د قدیم، باختر ادبیات،لکه ویدونه، ژند، اوستا، هخامنشي اثار، ساساني کتیبې، د لویکانو د عصر ځینې اثار چې کشف شوي دي. دا شکل د حضرت بایزید روښان خیرالبیان پورې رارسېدلی دی.**

**اوس مو زړه ته دا راځي چې پښتو بېرته خپل اصل ته وروګرځاوه او په مقفی نثر یا سپین شعر یې ولیکو. د دې کار تمهید ډېر پخوا ایښودل شوی دی او د مرغلرو امېل څخه د پښتو د شعر په کلاسیک فورم کې د توسعې پیدا کولو لاره پیدا شوې ده. په (څاروان) کې دغه رنګ نور هم ټینګ شو. په (بلکا) کې دې کار بله بڼه غوره کړه، چې هغه باید د پښتو د شعر د پاره د کلاسیک قیودو څخه د خلاصون دوره وبولو. تر (بلکا) وروسته خادم صاحب په دغه نوي قسم شعر چې ډېر دی، لاس پورې کړی دی. نمونې یې د خادم صاحب په خپله جریده (افغان ولس) کې موندل کېږي او په یوه نوې مجموعه کې د (نوې پوهېتانه) په نامه راټولېږي.)) هدایت صیب په خپله لیکنه کې دې مسلې ته اشاره کړې او د خادم صیب د نظم یو څو نمونې یې هم وړاندې کړي، چې دلته یې ډېر لنډیز ته نغوته کوو. (دا ځکه چې پښتون یم) د نظم یو بند به دلته د بېلګې په توګه وړاندې کړو)) (۱۲: ۶۰-۶۱)**

## دا ځکه چې پښتون یم

**چوکۍ مېز دې د بل وي — ما له توره دې وسپاره**

**دا ځکه چې پښتون یم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټې ټوټې مې تن دی		تیار راله کفن دی
هېڅوک پر ما نه ژاړي		پردی رانه وطن دی
زګېروي هم نه وباسم		نه خبر یم له اسراره
دا ځکه چې پښتون یم

وګورئ! د خادم صیب دا نظم چې ده پر (۱۳۱۸ل) کال ویلی دی.

په دې نظم کې استاد خادم د پښتو پر کلتوري شاته پاتې والي، تنګنظریو او ټولنیزو ستونزو سخت انتقاد کوي.

(د شاعر زړه) د استاد خادم بل نظم دی چې دا هم د ولسي یا ملي نظم په وزن ویل شوی دی، ده دا نظم د (۱۳۴٦ل) کال د زمري پر (۸)مه نېټه لیکلی دی. خادم صیب د (شاعر زړه) په باب وایي:

ډک لـــه ارانونـــو دی		نـــه پـــوهېږم څـــه غـــواړي
راز د اســمانـــونو دی		نـــه پـــوهېږم څـــه غـــواړي
سود یې په پیسو نه شي		کــار یـــې پـــه ټنګـــو نـــه شـــي
تېر لـه دې غمـــونو دی		نــــه پـــوهېږم څـــه غـــواړي

دا نظم همداسې امتداد پیدا کوي، هدایت صیب د خادم صیب په حواله دا په ولسي نظمونو کې حساب کړی دی او هدف یې دا دی چې دا یې له کلاسیکو فورمونو څخه جلا په نوې ولسي بڼه یې ویلی دی.

سره له دې چې (خادم باد سبا یم) کلیاتو کې دا پورتنی نظم د (غزل) په برخه کې ډلبندي شوی، یانې د فورم له مخې غزل ګڼل شوی، خو پر دې (نظم) نه د فورم او نه هم د محتوا له پلوه د (غزل) فورم د تطبیق وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا نظم د شاعر د فکر او زړه د ارمانونو انځور کاږي او ټولنې ته د شاعر ایډیال وړاندې کوي.**

**(ای د دې جهان خاونده) نظم یې هم په همدې ولسي نظمونو کې ګڼلی دی.**

لــــوی عـــذاب و دې نــــړۍ تــــه
اســــــتعمار دی اســــــتعمار دی
چـــې نــړۍ نـــن پـــه کـــې ســـوزي
دغــــه اور دی دغــــه نــــار دی
لـــــه تبـــــري د اســــــتعماره
زور زیـــاتی دی پـــه جهـــان کـــې
اســــتعمار شــــکېدلی کــــټ دی
ترمیمېـــــږي انګلســــــتان کـــــې

**دا د اوږده نظم یوه برخه ده، نورې برخې هم همداسې امتداد پیدا کوي. خادم صیب په دې نظم کې د ښکېلاک انځور کاږي او هغه ټولنې ته یو اور او غضب ګڼي. دی انګستان د دې مفکورې روزنځای او پالنځی ګڼي او له هغه څخه سر ټکوي.**

**دغه راز (افغان ولس) نظم هم همغه ډول نظم ګڼل شوی چې د خادم صیب او هدایت صیب په نظر له کلاسیکو دودیزو فورمونو څخه یې لاره جلا ده.**

## افغان ولس

**مونږ افغانان او مسلمان یو**      **په خپله سمه لار روان یو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تمه لرو نه ډار عقیده لرو په کار او په زیار

له حرص او بېکارۍ یو بېزار

تر شا مو لوی تاریخ او تر مخ مو لوی جهان دی

دا مو له نعمتونو ډک کوهستان دی

لرغونی مو دی ثقافت او ټینګ مو دی اقتصاد

نشته داسې بنیاد

دا جهان به کړو اباد په خپل کوشش او جهاد.

(نوې پوهېتانه)

دا نظم هم همداسې پسې غځېږي او نورې برخې هم لري. پر دې نظم کې پر خپل ملت او تاریخ ویاړي. شاعر په دې نظم کې له دیني او اخلاقي جرئت ښه کار اخیستی، پر ټولنه باندې د واکمن مذهبي جریان د مدعیانو ناخبري یې انځور کړې، پر هغو یې پر ظریفانه او کنایي ډول نیوکه کړې چې (واوا) په دې مسلمانۍ چې له اسلامه خبر نه دي، خو د اسلام پر منصب او مسند ناست دي.

دا نظم پر خپل وخت یو محتوایي نوښت او اخلاقي جرئت ګڼل کېږي، ځکه چې هغه وخت د داسې مسایلو مطرح کول او د سمون لپاره یې هڅه اسان کار نه و.

د هدایت صیب په نظر: ((په دغو ټولو نمونو کې ښکارېږي، چې له کلاسیکي قیودو ښه د پښتو د شعر د ازادۍ کوشش شوی دی. دا زیار په اخره کې پوره کامیاب ګڼل کېږي.)) (۱۲: ٦۱-٦٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خادم صیب لومړنۍ هڅې بریالۍ شوې او دا بېلګې نورې هم پسې زیاتې او تر پخوانیو هغو یو څه پخې شوې. په ولسي فورم کې د دې ډول نظمونو یوه دوه درې نورې بېلګې به هم راوړو، دا یوه بېلګه یې (واوا مسلماني) نومېږي، چې پر (۱۳۲۰ل) کال لیکل شوی دی:

## واوا مسلماني!

بلبل د ګل د پاسه کړله داسې خوشخواني

واوا مسلماني!

***

د ږیرې د وېښتو په دام کې نیسي برالا

طایر د بیت الله!

دانې ورته تسبیح کاندي ځان نه ګڼي جاني

واوا مسلماني!

***

په سر د مظلومانو به پښې ږدي چې اوچت شي

خاوند د منزلت شي

په دې منبر به کېني، کړي به وعظ قراني

واوا مسلماني!

***

ځي تل به یې د ږیرې د تیرې لاندې کاروان

کچرې او اوښان!

غریب چې په لاس ورشي پې ښکاره کا ښه ځواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوا مسلماني!

***

مرام د حکومت به وي يو څه دی به بل څه کا

مقصد به د خپل زړه کا

په سل قسمه نيرنگه به ساتي خپله خاني

واوا مسلماني

***

قانون او عدالت او وظيفې پورې به خاندي

عمل دغسې کاندي

مقصد يې وي په ژوند کې خپل هوس او کامراني

واوا مسلماني

***

تعبير به دملت او حکومت منځ کې غلط کا

پاشانه جمعيت کا

دوستان سره دښمن کا چې وي دا ترجماني

وا وا مسلماني

***

شيشه به د آمالو د مسلم وهي په ځمکه

نه دار لري نه کرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راضي به په فساد وي، خوند به اخلي په وراني

واوا مسلماني

***

د شل کالو خرمن به دې په يو تيلي ايره کا

ستا مېنه به سپېره کا

مغرور به وي لا دی چې ومې کړه مهرباني

واوا مسلماني

***

وجدان يې د جودان په نغوته درومي په هر لوري

ژورې لوړې گوري

قرآن چې په کې بود شي، وي هماغه قرآني

واوا مسلماني

***

له وينو د مظلوم ځخه به جوړه کا غازه

خپل مخ لره تازه

په دې باندې به ځان کاندي عالم ته نوراني

واوا مسلماني

***

دښمن دنوي علم او رڼا وي په يقين

خپل وهم گڼي دين

(c) ketabton.com: The Digital Library



گمان کوي چې دا ده هغه وحې اسماني

واوا مسلماني

***

لا دا زاړه ماغزه به دعوه کاندي چې عالم یم

د قوم زه ((خادم)) یم

ولاړ وي په نمانځنه کا د غویو پاده واني

واوا مسلماني

***

نغمې د بلبلانو به نه اوري په سبا

له مکر و له ریا

ضرر به مسلمان ته ګڼي چاره ایماني

واوا مسلماني

***

په دې باغچې کې ګرځي هسې شان زاغ و زغن

چې وران کاندي چمن

د دوی له ډاره نه شي کړای بلبل نغمه خواني

واوا مسلماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صیب په دې نظم کې پر ټولنې باندې د ناسم ذهنیت پر حاکمیت او له مذهب څخه پر ناسمو تعبیرونو انتقاد کوي او د هغوی د سمون غوښتونکی دی.

هغه وخت په دې ټولنه کې د داسې فکر، تبلیغ او ترویج او په ټوله کې د ټولنې دسمون لپاره هر ډول فکري هڅه له سختو غبرگونونو سره مخامخېدله، خو خادم صیب دا نوښت او جرئت وکړ چې پښتو نظم یې د ملتپالنې او سمونپالنې لپاره د یوې اغېزمنې وسیلې په توگه وکاروه. په دې برخه کې یې بیا ولسي فورمونه هم په ښه ډول وکارول، د پورتنی نظم د محتوا لپاره هم ولسي فورم په کار و، په نورو فورمونو کې د دې ډول محتوا ځایول هم اسانه کار نه و، دې بل نظم ته به هم تم شو.

## د تربگنۍ لعنت

تا ورکړمه د خدای او د رسول په دښمنۍ

ارمان دی تربگنۍ

اخته دې په بلا کړم له خپلو دې جلا کړم

د کوره وتی نه شم بې کارتوس او جرمنۍ

ارمان دی تربگنۍ

چنډال شومه له مال دا گوره بد مې حال

عالم راپورې کاندي مسخرې او خندنۍ

ارمان دی تربگنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان راله تورتم دی                    خوراک راباندې غم دی

دا وکړلې په ما د شیطانانو شیطانۍ

ارمان دی بربگنۍ

د ورور سره دښمن یم                    دښمن ته لکه زن یم

هندو او نصاری ته وایم جار و قربانۍ

ارمان دی تربگنۍ

قاتل شومه خونکار شوم        له ملک نه هم  فرار شوم

له دین دنیا یې خلاص کړم حماقت او نادانۍ

ارمان دی تربگنۍ

ما ویلې چې غیرت دی                    غیرت نه و لعنت دی

په تېر عمر افسوس کومه ډېرې غمگینۍ

ارمان دی تربگنۍ

(۱۲:  ۴۶۵-۴٦٦)

پورتنی نظم په ولسي فورم کې ویل شوی، د افغاني په تېره بیا د پښتني ټولنې یو لوی ټولنیز رنځ ته یې په انتقادي نظر کتلي او هغه یې په راښه ډول انځور کړی دی. څرنگه چې (تربگنۍ) د پښتني ټولنې یوه خاصه اړوند موضوع ده او یو ټولنیز رنځ گڼل کېږي، نو ددې رنځ د بیان او افادې لپاره رښتیا هم له ولسي نظمونو پرته بل فورم دغسې جوت او پوره کار نه شي ورکولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صیب چې د کلاسیکو فورمونو ترڅنګ پر خاصو پښتو ولسي فورمونو ټینګار کاوه، یو اساسي علت یې دا و چې دلته د پیغام د افادې لپاره ساحه پراخه ده.

نو ځکه خو یې د پښتو کلاسیکې شاعرۍ پر نظمي فورمونو سربېره د پښتو په ځانګړو ملي اوازونو یا ملي نظمي فورمونو کې هم شعرونه وویل، په دې فورمونو کې د چاربیتې فورم هم شامل دی، چاربیته بیا د پښتو له خاصو شعري فورمونو څخه یو ځانګړی فورم.

((چاربیته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند یې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زیاتره چاربیتې په ملي موسیقۍ کې ځانته په زړه پورې اهنګونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربیتې بلل کېږي، چې بندونه یې یا له څلور بیتو او یا تر څلورو مسرو څخه بېخي کم نه دي. په چاربیته کې همېشه یوه اوږده موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصیدې او مثنوي په شان) افاده کېږي.

چاربیته د فورم له مخې په عمومي ډول پر دوو لویو برخو وېشل کېږي:

۱- ساده چاربیته

۲- زنځیري چاربیته

دغه دوه ډوله چاربیتې بیا په خپل وار سره د مسرو د شمېر د برابروالي اوږدوالي او لنډوالي له مخې پر ډېرو نورو ډولو وېشل کېږي؛ لکه: د څلورو، پینځو، شپږو، اتو، نهو او لسو مساوي، لنډو یا اوږدو مسرو زنځیري چاربیته.

له مانیز پلوه چاربیته پر عشقي، تاریخي، رزمي او نورو برخو وېشل کېږي. د ساده چاربیتې یوه بېلګه، دا چاربیته د نوښار د محمد دین ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مطلع:**

څوک به پیدا نه شي د فرهاد او شیرینۍ په شان
یوځای به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

**بند:**

یوځای به څوک نه شي لکه و عـاشق فـرهـاد
تــل بــه یــې کـولـو پــه اشنا پسې فریاد
وه یې کړه خواري ځکه حاصل یې شـه مـراد
کړې به یې خبرې د طوطا د ښارونۍ په شان

**او همداسې نور بندونه...**

(۳۳:۳۰)

**په دې ډول ساده چاربیته کې له ځینې استثنایي حالت پرته، د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د هر بند وروستۍ مسره په قافیه کې د مطلعې له مسرو سره یو شان وي.**

**د پښتو ولسي شاعرۍ په باب ډېر ځله دا څرګندونه کېږي، چې په دې فورمونو کې ویل شوي شعرونه اکثره د نالوستو شاعرانو زېږنده دي. دا خبره مطلقه نه ده، په همدې فورمونو کې له پخوا دیوان لرونکو شاعرانو او په اوسني دوران کې  د هېواد ځینو نومیالیو لوستو شاعرانو هم شاعري کړې ده، له هغې جملې نه د همدې چاربیتې په فورم کې په ساده چاربیته کې له پورتني ډول پرته نور ډولونه هم راتلای شي. دلته به د جرار صیب د ساده چاربیتې د یو بل ډول د یوې بېلګې یوه برخه راوړو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستر ګو مخ مې وسو یاره ستا د مخ په نور
تک تور لکه ماغوت
تاو کړی په ماغوت کې خپل اشنا ته وړم ضرور
د سرو او ښکو یاقوت
که وایم ستا په مخ مې دا جوړه کسي وریته دي
تاثیر به د لمبې وي
وښته د مخ له تاوه تار په تار سره پراته دي
دا تاو به د شغلې وي
حبشو ته حیران یم په فرنګ یې ورخاته دي
دا زور به د حملې وي
سپین مخ دې معرکه شو امتحان به کړي ضرور
معلوم به شي مزبوت

(۲۷: ۵۹-۶۱)

**په دې ډول فورم کې د سر لومړی او درېیمه مسره د څپو د شمېر له مخې په خپل منځ کې سره برابرې دي او یو شان قافیه تعقیبوي. دویمه او څلورمه مسره بیا په خپل منځ کې د یو شان قافیې لرونکې او د څپو د شمېر له مخې سره برابرې وي، د هر بند لویې مسرې په خپل منځ کې دڅپو د شمېر له مخې سره برابرې او په خپل منځ کې یو شان قافیه تعقیبوي او وړې مسرې یې په خپل منځ کې، خو د هر بند د پای لویه او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړه مسره بیا د مطلعې د لویې او وړې مسرې د قافیې او شکلي جوړښت تابع ده. په ټولیز ډول ټولې لویې مسرې له لویو او وړې مسرې له وړو سره د څپو د شمېر له مخې برابرې وي.**

**زنځیري چاربیته:** **زنځیري چاربیتې ته اته مسریزه چاربیته هم وایي، په دې باب یو لیکوال وایي:**

**((هغه چاربیتې چې اته مسرې لري هغې ته عوامي چاربیته ویلی شو، ځکه چې د عامو شاعرانو په اصطلاح کې چاربیته وایي همدې ته چې څلور بیته او اته مسرې وي، په دې ډول چاربیتو کې د سر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه نه وي، بلکې اوله یې په یوه قافیه وي او دویمه یې په بله. او بیا د هر بند په پای کې چې کوم بیت راځي د هغه بیت د دواړو مسرو قافیه د مطلعې د دواړو مسرو له قافیې سره یوشان وي. عبدالحلیم اثر هم همدا راز د ۸ مسرو چاربیته پر درې ډولونو باندې وېشي:**

**۱- یو قسم هغه ده، چې د هر بند اول درې بیتونه یانې شپږ مسرې یې په خپل کور کې سره په یوه قافیه وي او وروستی بیت د چاربیتې له مطلعې سره موافق وي. ددې بېلګه داده:**

**مطلع:**

شاګرده اول نص د الهی پروردګار دی
استاده بل حدیث د محمد نبي حضرت دی

**بند:**

شاګرده په جهان کې جبرائیل نومی ملک دی
استاده خاص مقام د ده اووم اسمان فلک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاگرده ټول وجود يې د زنځير حديده کلک دی
استاده سر تر پايه په وزرو باندې چک دی
شاگرده د رحمت په رب کې ډوب لکه سمک دی
استاده ما په دې خبره هم ويستلی شک دی
بې حده ښايسته د نور په شان شعله انگار دی
د باد په شان ته گرځې په هوا باندې اوچت دی))
(۴۶:۸۱)

په پورتني فورم کې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی. د سر لومړی بيت يا مطلع په خپل منځ کې د قافيې اختلاف لري. دواړو مسرو کې قافيه حتمي او رديف اختياري دی. د هر بند شپږ مسرې په خپل منځ کې يوه قافيه تعقيبوي؛ اومه او اتمه مسره يې په قافيه کې د مطلعې د لومړۍ او دويمې مسرې تابع ده.

## ۲- د اته مسريزې چاربيتې دويم ډول:

په دې ډول چاربيته کې د سر يو بيت، چې د مطلعې په توگه راځي. لومړۍ مسره يې ځانته قافيه لري، د دويمې مسرې په منځ کې يې يوه قافيه راځي، چې د لومړۍ مسرې له قافيې سره سمون خوري، خو د دويمې مسرې وروستۍ قافيه ځانته جلا او د لومړۍ مسرې له قافيې سره سمون نه لري. د هر بند لومړۍ، درېيمه، پينځمه مسره، په خپل منځ کې هم قافيه وي او هم د دويمې، څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافيې هم د نوموړو مسرو د قافيو بڼه تعقيبوي، خو د دويمې، څلورمې او شپږمې مسرې په پای کې نورې قافيې راځي، چې دا بيا د نومووړو مسرو خپلمنځې قافيې گډل کېږي، د بند اوم او اتم بيت د مطلعې د شکلي سکښت تابع وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د اته مسریزې زنځیري چاربیتې بل ډول دادی، چې ټوله مقفی وي او هر بیت او هره مسره یې په خپل منځ کې قافیې لري.

په دې ډول چاربیته کې له ځینو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. په مطلع کې د لومړي او دویم بیت د لومړیو مسرو قافیې سره یوشان وي او د دویمو مسرو قافیې په خپل منځ کې یو شان وي. د هر بند د درېو بیتونو د درېو لومړیو مسرو قافیه یو شان او درېو نورو مسرو قافیه بل شان وي، خو د څلورم بیت رغښت او بڼه د مطلع د بیت تابع وي.

په دې ډول چاربیتې کې د سر لومړی بیت یا مطلع په لومړۍ مسره کې یو شان دوه قافیې موجودې وي. د دویمې مسرې تر نیمایي پورې بیا یو شان دوه قافیې چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره یوشان وي، راځي او د مسرې په پای کې اهنګینه کلمه راځي چې له دې قافیو سره په جوړښت کې توپیر لري.

د هر بند لومړۍ مسره ځانته یو شان دوه قافیه لري او د دویمې مسرې په پای کې یوه ځانګړې قافیه؛ درېیمه مسره له لومړۍ مسرې سره په قافیه کې یو شان وي څلورمه د دویمې په شان وي، پینځمه د لومړۍ او شپږمه د دویمې په شان وي او هم د څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافیې د بند د لومړۍ مسرې د قافیې تابع وي، اوومه مسره د لومړي بیت یا مطلع د لومړۍ مسرې په شان وي او اتمې مسرې د منځ قافیې د مطلعې د لومړۍ مسرې د قافیو تابع وي او پاتې برخه یې د مطلعې د دویمې مسرې پاتې برخه وي؛ د مطلعې د دویمې مسرې تکرار وي.

د خادم صیب په منظوم کلام کې (د ملک محمد عمر خان شهادت) په نامه یو نظم موجود دی. دا نظم استاد خادم د (۱۳۱۲ل) کال د (تلې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتې پر (۱۱)مه نېټه لیکلی دی.

زموږ ځینو ادبپوهانو دا نظم پښتو چاربیته ګڼلې ده. که څه هم موږ په پښتو کې د ځینو معمولو چاربیتو هغه ځانګړنې چې موږ پورته ورته اشاره وکړه سل په سلو کې د چاربیتې په توګه پر دې نظم نه تطبیقېږي خو بیا هم د نورو فورمونو په انډول چاربیتې ته ډېره نږدې ده. د محتوا او تاریخي پېښو د بیان له پلوه د چاربیتې فورم خپلوي؛ که چېرې له مطلع پرته هر بند یې څلور څلور مسرې درلودې، نو بیا یې په پوره ډول د هغې چاربیتې بڼه خپلولای شوه، چې موږ د چاربیتې په پیل کې معرفي کړه، خو دلته ددې نظم هر بند د څلورو مسرو پر ځای درې مسرې لري، خو دې سره سره د بل هر فورم په انډول چاربیتي ته نږدې ده.

## د ملک محمد عمر خان شهادت

د ډېره غمه مې د خولې آه و ارمان درومي
چې عمر خان غازي په کوچ له دې جهان درومي

***

زړه مې خفه و بې سببه چې خبر ولګېد
نن سخي ځوان له دې جهانه په سفر ولګېد
په استقبال یې د جنت حوري غلمان درومي

***

په دې فاني دنیا کې هېڅ بشر بقا نه لري
بې د الله(ج) نه چې باقي دی او فنا نه لري
ذایق الموت دی په زمین که په اسمان درومي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سترګو نم، په زړه مې غم په خوله خندان یمه زه
د فراقتــه د اشـــنا پـــه شـــور فغـــان یمـــه زه
شـومه خورسند چې یـار پـه لـوري د جانـان درومـي

***

تــا د اســـلام پـــه ګټـــه تـــوره رااوچتـــه کړلـــه
د ځــوانمردۍ لویـــه قـــوه دې هزیمتـــه کړلـــه
د تــورې غــرږ دې مشــهور پــه ټــول افغــان درومــي

***

دنیـا کـې خـان وې، اخـرت کـې شـوې سـردار صـاحبه
د شــهیدانو پــه ټــولګي کــې شــوې نامــدار صـاحبه
د داســې حـــال مومنـــان واړه پـــه ارمـــان درومـــي

***

پـــه فاتحـــه کـــې دې تبریـــک او تهنیـــت وایمـــه
پـــه ټـــول مومنـــدو عزیزانـــو دې رحمـــت وایمـــه
ستاسـو غیـرت وو چـې ناکامـه انګریـزان درومـي

***

څوک په غیرت د خپل مذهب په ډېر اخلاص وتلي
د خپلــه ســر و مــا لــه تېــر دي بــې وســواس وتلــي
((خادمـــه)) ګـــوره زوړنـــد ســـر منافقـــان درومـــي.

**خو د (مومندو غزا) په نامه د خادم صیب یو نظم هم شته چې هغه د چاربیتې له هغو ځانګړنو سره چې موږ ورته پورته نغوته وکړه، تر ډېره حده سمون خوري. دې چاربیتې ته به هم تم شو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مومندو غزا

پرنګــــی راغـــی پـــه کنـــډو کـــوي جنګونـــه
مخـــې تـــه یـــې درومـــي د ســـرحد واړه فوجونـــه
نـــن د اســـلام ختلـــی نمـــر، قریـــب دې لـــوېږي
د زړونـــو شـــمع پـــه ســـلګیو ده مـــړه کېـــږي
دښـــمنان شـــاوخوا زمـــوږ نـــه خوشـــحالېږي
طمـــع یـــې کېـــږي د اســـلام پـــه وطنونـــه

***

مومنـــه ویښ شـــه تـــه اعلـــی یـــې پـــه جهـــان کـــې
سیاســـت وګـــوره پـــه حـــدیث و قـــران کـــې
بیـــرغ د فـــتح دې ښـــکارېږي پـــه اســـمان کـــې
روګـــردان مـــه شـــه د قـــران لـــه ایتونـــه

***

دا ټـــولې وریځـــې چـــې ژړېـــږي مســـلمان دي
کـــه وزیـــری کـــه اپریـــدی دی، ټـــول افغـــان دي
پـــه ملېـــزو او ســـلارزو کـــې نـــن ســـوران دي
چـــې ورتـــه ګـــورم زړه مـــې ســـوځي پـــه اورونـــه

***

هغـــه حشـــر دی چـــې جـــوړ شـــوی پـــه افغـــان
پرنګـــی راغـــی پـــه کنـــډو شـــو راعیـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــزا تــه درومــي چــې هــر څــوک وي مســلمان
ګــوره خــاپښ بانــدې ښــکاربړي بیرغونــه

***

حــاجي صــاحب پــه دې ضــعیف صــورت بهــر شــو
ماشــین یــې واخیســتو پــه ســر کــې د لښــکر شــو
د ماسل خان (ماصل خان) او د بازو وان ټبر خبر شو
صــد افــرین شــه د غازیــانو پــه صــبرونه

***

د کوډاخېلــو (کــوډي) نــه راضــي یــم
پــه خپــل ځــان شــو را ولاړ پــه یــوه چغــه پــه یــوه ان
خــوازي پــه ســر و مــال اړ نــه دي پــه هــېڅ شــان
د خپلــو ورونــو ســره یــې وکــړه کومکونــه

***

مجاهــدین مهــاجرین پــه ډېــر اخــلاص
شــولو حاضــر پــه ډېــره مینــه پــه وســواس
غیــرت یــې کــړی دی، پــه دیــن د خیرالنــاس
د پــاک الله (ج) نــه دې، پــه دوی وي رحمتونــه

***

بیــا د لالپــورې غازیــان راغلــه پــه حشــمت
پــه وســله پــوره قریــب دوه ســوه وو لا زیــات
ډېــر پــه اخــلاص پــه دلســوزۍ کــوي خــدمت
هــېڅ نــه وېرېــږي، د کــافر لــه جهازونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حليمـــزو ځوانـــان د شـــپې وژنـــي كـــافر
دوی پــه دوســتۍ کــې دښــمني كــړه وړظــاهر
هــره ډاکــه کــې ســل دوه ســوه وي حاضــر
كــافران مــري پــه هــره شــپه بانــدې زرګونــه

***

لــه هــر طــرف ځنــې راجمــع شــوه غازيــان
ورتــه راځــي لــه خپلــه لاســه پتنګــان
د چــار يــار نــارې اوچتــې پــه اســمان
اوري كــافر، شــوه ورنــه پــاتې تدبيرونــه

***

افســوس دی څــه شــوې بهــادره پهلوانــه
د چكنــور مــلا صــاحبه ماســل خانــه
نــن د مــردۍ ورځ ده حاضــر شــه پــه مېرانــه
ستاســو د قبــر نــه مــو كېــږي اميدونــه

***

ظــالم تــه ګــوره تــوپ، ټانــک لــري بــې شــان
فــوج يــې پــه ځمكــه، جهــاز يــې درومــي پــه اسمان
كــه خــدای (ج) كــوي قــوت هــم ډېــر دی د افغــان
پــه خپــل وطــن بانــدې تېرېــږي لــه ســرونه

***

پــه ټــول اســلام كــې نــن عجيبــه غلغلــه ده
هــر چــا اخيســتې د كــافر پســې وســله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کـــافر لاړ شـــي دغـــه چـــاره ورتـــه ښـــه ده
ګونـــــدې راځـــــي د پښـــــتنو واړه قومونـــــه

***

پـــه داســـې شـــان جنګونـــه وشـــوه پـــه ډېـــر وار
کـــافر پـــه هـــره ورځ مـــړه کېـــږي بـــې شـــمار
د شـــهادت جامونـــه ثکـــل شـــي پـــه هـــر وار
ځوانـــان داخـــل شـــوه د جنـــت پـــه محلونـــه

***

پـــه سـفر لاړ د کوداخېلـو (کودیخېلـو ) عمـر خـان
ورســـره نـــور هســـې زلمـــي او ښـــه ځوانـــان
زه بـــه دعـــا ورتـــه کومـــه پـــه هـــر آن
واړه مغفـــــور دي هســـــې وايـــــي کتابونـــــه

***

پـــه شـــهيدانو مـــې تبريـــک د شـــهادت دی
پـــه ټـــول غازيـــانو مبـــارک فـــتح نصـــرت دی
نـــن کـــافر واړه پـــه خپـــل کـــار کـــې خجالـــت دی
بيـــا د پښـــتون نامـــه بـــه نـــه اخلـــي پـــه کلونـــه

***

د (خـادم) ښـه دی دا بيـان چـې اوس اظهـار شـي
پـــه اشـــتهار د مجاهـــد کـــې انتشـــار شـــي
اميـد مـې دا دی چـې پښـتون تـه بـه پـه کـار شـي
چـــې مســـلمان وي پـــرې بـــه وباســـي شـــکرونه.
(۱۲: ۴۷۹-۴۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صیب دا چاربیته (د مومندو غزا) د (۱۳۱۲ل) کال د تلې پر (۱۵)مه نېټه لیکلې ده.

د چاربیتې ترخنگ د خادم صیب په منظوم کلام کې گڼ شمېر نور دا ډول نظمونه هم شته چې د پښتو په نورو ملي اوازونو کې ویلي شوي او له عربي څخه پښتو ته له راغلو مروجو نظمي چوکاټونو څخه لرې دي.

لکه: (واړه افغانان یو) نظم

## واړه افغانان یو

واړه افغانان یو - ټول مسلمانان یو

گران هېواد زموږ لکه، گل افغانستان دی

جگ له کل جهان دی

ښه ښایسته فضا لري - د جنت هوا لري

ډک له نعمتونو دی - حسن او ښکلا لري

څومره چې وطن ښایسته، هومره یې انسان دی

جگ له کل جهان دی.

دا بل نظم به هم وگورو چې خادم صیب د (۱۳۴۳ل) کال د سلواغې پر (۱۴)مه نېټه په جلال اباد کې لیکلی دی:

## دا یوه ارزو لرو

واړه پښتانه یو، یو مرام د پښتنو لرو

دا یوه ارزو لرو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې پښتونخوا ته زړه کې مینه د پښتو لرو
دا یوه ارزو لرو!
څوک چې دلته اوسي واړه وروڼه دي یو قام دی
یو شان یې مرام دی
څو د خپل هدف پر لوري تل هڅه د تلو لرو
دا یوه ارزو لرو!
یون د اباسین او د امو څوک څنډولی شي؟
دا کله کېدلی شي؟
ټینګه اراده لکه د تېرو مېړنو لرو
دا یوه ارزو لرو!
دا د هر ملت ده وظیفه او دا یې کار دی
څه په دې کې ډار دی
مونږ ویښ شوی قام یو مرامونه د ژوندو لرو
دا یوه ارزو لرو!
لوړ دې وي بیرغ او ډېر دې عمر د باچا وي
مخکې دې رڼا وي
کلک د پښتونخوا سره پیمان د ویښ زلمو لرو
دا یوه ارزو لرو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز د (پښتانیا ادېٖ، جام د نوي ژوند، سپین غر، ښاغلی لېونتوب، اعلیحضرت محمد نادر شاه، انګرېزه توبه، د استعمار زمزمه، د جرار جواب، ننګرهار، د کابل واوره، استقلال، د تورې برېښ، سید جمال الدین افغان ته، د ښکلاوو جهان، سینما ده سینما ده، مستقل افغان ته، ای ددې جهان خاونده) او ګڼ شمېر نور داسې نظمونه شته چې هغه هم په ملي اوازونو کې ویل شوي دي، پر ځینو یې د چاربیتو قانون هم تطبیقېږي، خو اکثره یې داسې دي چې د وزن له پلوه ملي اوزانو کې ویل شوي، خو د پښتو د ولسي ادب مشخص فورمونه پرې سل په سلو کې د تطبیق وړ نه دي، یوه برخه یې د یوه فورم یوه برخه رانغاړي، بیا بله برخه یې له هغه څخه وځي، خو د ولسي اوازانو له چوکاټ څخه نه وځي.

خادم صیب په پښتو معاصره شاعرۍ په تېره بیا په ویښتیایي پړاو کې هغه شاعر دی چې په لیکنۍ او ګړنۍ شاعرۍ یا ولسي نظمي فورمونو او همدارنګه له عربي ژبې څخه په راغلیو نظمي فورمونو دواړو کې یې شعرونه یا نظمونه ویلي دي. د دې پړاو او نورو شاعرانو په کلام کې بیا ولسي فورمونه د هغو نورو په انډول کم دي او ځینو لا بېخي په هغو فورمونو کې شعرونه نه دي ویلي، ان د پښتو ادب په پنځو ستورو کې څلورو نورو هم د خادم صیب په انډول کمه ولسي شاعري کړې ده. د هغوی اکثره نظمونه په غزل، څلوریزو او نورو هغو فورمونو کې ویل شوي چې اکثره یې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلی دي. نو په دې ډول ویلای شو؛ که د (پښتو ادب روښانتیایي) پړاو د کلاسیکې او معاصرې دورې تر منځ د وصل یوه کړۍ ګڼل کېدی شي، نو خادم صیب هم د ګړنۍ او لیکنۍ یا ولسي او لیکنۍ شاعرۍ د وصل کړۍ ګڼلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګډ شعري فورمونه:** پښتو ادبیاتو ته له عربي ژبې څخه ګڼ شمېر نظمي فورمونه راغي دي، لکه غزل، قصیده، رباعي، مخمس، مسدس، ترکیب بند، ترجیع بند، معشر، مسبع او نور. له دې جملې څخه بیا (غزل، قصیده، قطعه، مثنوي، رباعي) او ځینې نور له پښتني چاپېریال سره داسې اوبدل شوي چې فکر نه کېږي، له بلې ژبې دې راغلي وي، په تېره بیا غزل، قطعه او رباعي، په دې کې بیا هم غزل. خادم صیب په دې فورمونو کې هم زیاته شاعري کړې ده.

لکه څنګه چې دمخه مو اشاره وکړه د خادم صیب د شاعرۍ یوه برخه په ولسي فورمونو کې ځای شوې ده، نوره ډېره برخه یې بیا همغه نظمي فورمونه دي چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي، دلته غواړو، دې ډول فورمونو ته هم په لنډیز سره نغوته وکړو:

**۱- قطعه:** ((قطعه په هغو فورمونو کې راځي چې له عربي ژبې څخه راغلي او په پښتو شاعرۍ کې باب شوي دي. قطعه لکه د څلوریزې (رباعي) په شان څلور مسرې لري، خو له رباعي څخه یې توپیر دا دی چې په رباعي کې لومړی بیت مقفي وي، یانې دواړه مسرې یې سره قافیه لري، یانې یو شان قافیه تعقیبوي او د دویم بیت دویمه مسره ورسره همقافیه وي، خو په قطعه کې د لومړي بیت لومړۍ او د دویم بیت لومړۍ مسرې له قافیې څخه ازادې وي او د دواړو بیتونو دویمې مسرې په خپل منځ کې یو شان قافیه جوړوي. قطعه هم د ظاهري شکل له پلوه په دوه ډوله ده، یو هغه ډول قطعه ده چې تر قافیې وروسته ردیف لري او بله یې هغه ډول ده چې تر قافیې وروسته ردیف نه لري. په قطعه کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. (۵۰: ۴۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد خادم په منظوم کلام کې یو شمېر قطعې شته او په قطعو کې هم د هغه دواړه بېلګې موجودې دي. دلته به یې یو څو قطعې د بېلګې په توګه راوړو.

## د نړۍ دود او دستور

پــــه خولــــه د قـــام اکثریــــت یـــادوي
خـــو د خپـــل قـــام ژبـــه کلتـــور نـــه منـــي
زمـــوږ لیـــډر ټـــولې نـــړۍ تـــه ګـــوري
خـــو د نـــړۍ دود و دســـتور نـــه منـــي.

## د خلکو مینه

چـــې د بـــل د غـــم پـــه اوښـــکو تـــازه نـــه وي
داســـې ســـترګې دې بینامـــه وای ړنـــدې وای
نـــا خبـــر چـــې د تـــودو اوښـــکو لـــه خونـــد وي
ددې خلکـــو خـــولې د مـــرګ پـــه ســـوک کـــږې وای.

## صنعت او تجارت

پـــه صـــنعتي دنیـــا کـــې زیاتـــه نـــه ده
کـــه تصـــنع پـــه کـــې څـــه زیاتـــه شـــي هـــم
تـــاجر لـــه ښـــایي چـــې دی ګټـــه وکـــا
کـــه د رښـــتیا خونـــه میراتـــه شـــي هـــم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټولنیز اعلان

چــــې وطــــن ژبـــه، ملـــت د رخخـــه لاړ شــــي
نـــو بـــه څـــه شـــی د رتـــه پـــاتې شـــي افغانـــه
خلـــک پـــه ژبـــه راټـــولېږي پـــه وطـــن کـــې
بیـــا پـــه دوی شـــي د ملـــت خونـــه ودانـــه.

## تور دېو

د تـــور دېـــو پـــه لاس یـــې ورکـــړه پښـــتو ژبـــه
ورتـــه وګـــورئ پـــه څـــه د بـــاب کـــې ښـــوري
د پښـــتو پـــه ټالونـــه یـــې ځـــان غـــټ کـــړ
بـــې غیرتـــه قـــام لا اوس هـــم ورتـــه ګـــوري.

د خادم صیب په منظوم کلام کې د ردیفوالو قطعو په انډول نارديفوالې هغه کمې دي او په ټولیز ډول بیا د څلوریزو په انډول د قطعو شمېر کم دی. خو د څلوریزو شمېر یې سوونو ته رسېږي. خادم صیب د قطعو په جوړونه کې هڅه کړې د څلوریزو له وزن څخه ګټه پورته کړي، دا په داسې حال کې ده چې د څلوریزو لپاره وزن او د څپو شمېر تقریباً قید دی، نو ځکه خو کله چې د استاد خادم قطعې لولو، نو له یو لړ وزني ځنډ و خنډ سره مخامخېږو. مجبور یو هره قطعه څو څو ځله ولولو چې اصلي وزن یې پیدا کړو. یو زیات شمېر شاعرانو او ناظمانو سره داسې یو تصور دی چې ګنې دا دواړه فورمونه سره نږدې جوړښت لري او د مسرو د شمېر له مخې هم سره مساوي دي، نو څپییز خجیز جوړښت به یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو شان وي، په داسې حال کې چې د ځپيز خجيز او اهنگيز جوړښت له مخې دا دواړه شعري فورمونه سره توپير لري. خادم صيب هم هڅه کړې چې يو شمېر قطعې د څلوريزو له وزن سره برابرې کړي، نو ځکه خو دی هم له مشکل سره مخ شوی او لوستونکي ته يې قطعې هغه شان خوند نه ورکوي، لکه د ده څلوريزې چې روانې، خوږې او په خپل اصلي وزن کې دي.**

**د استاد خادم هغه قطعې چې سړی په کې د وزني ستړيا احساس کوي، لکه (دود او دستور) چې مخکې مو د بېلگې په توگه راوړه او دغه راز دغه لاندې يو څو نورې قطعې:**

## فرعون ته خطاب

عدالت ورته ښکاربږي، ستا ظلمونو ته چې ځير شي
ای فرعونه ناموره ! دا مخلوق درپسې ژاړي
تا خدايي په خلکو کړله، خو د دوی روزي رسان وې
دا خدايان هم خدايي کاندي هم روزي له نورو غواړي.

## د غيرت چغه

زه دې مين شوم د غيرت په چغه
نه وم خبر د حقيقته ځنې
چې څوک پښتو او پښتانه نه مني
نو څه يې هيله کړې له ملته ځنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او يا دا هم بله قطعه:**

کــــه پښــــتو پښــــتون مــــو پرېښــــودو ځوځـــــا ده
پـــــه قیمامــــت بـــــه زمـــــا لاس ستاســـو ګرېــــوان وي
مــــونږ تـــــه پــــاتې لـــــه نیکونـــــو نـــــه جهــــاد دی
تـــــل قومونــــــه پـــــــه جهـــــاد بانـــــدې ودان وي.

**د خادم صيب په (قطعو) کې بېلابېل، ټولنيز، ملي، ديني، اخلاقي، انتقادي، اصلاحي، علمي، فلسفي، سياسي او د ژوندانه د ډګر ګڼ شمېر نور مسايل بيان شوي دي. چې وروسته به يې په محتوايي برخه کې پرې بيا هم بحث وشي. په دې فورم کې د شکل له مخې کوم نوښت ممکن نه و، ځکه چې فورم ثابت او مقيد دی، خو د محتوا له پلوه استاد خادم په دې بريالی شوی چې دا فورم د بېلابېلو مسايلو د بيان او انځورونې جوګه کړي.**

**۲- څلوريزه يا رباعي:** **((رباعي هم هغه ډول شعري فورم دی چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی، دا فورم څلور مسرې لري، له ځينو استثنايي حالاتو پرته چې په هغې کې کېدی شي، د درېيمې مسرې يوه څپه د قافيه والو مسرو تر څپو کمه يا زياته شي، په ټوليز ډول د ټولو څلور واړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د رباعي لومړی بيت مقفي وي، درېيمه مسره يې قافيه نه لري او د څلورمې مسرې قافيه يې د مطلعې قافيه تعقيبوي. د غزل په شان په څلوريزه کې هم رديف اختياري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې رديف راوړل شو، څلورمه مسره کې به ضرور بيا هماغه رديف تکرارېږي.**

**په پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر رباعي ويل شوي، خو لس څپيزې څلوريزې په کې زياتې دي. دا رباعي اکثره په تول تللې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه رباعي چې لس څپيزې دي، هره مسره يې د اهنگ له مخې تقريباً پر دوو برخو وېش کېږي، پنځه څپې يې يوه خوا او پنځه يې بله خوا په تول تللې وي.

د لوی خان (خوشال بابا) هغه رباعيات چې د يوه ځانګړي کتاب په بڼه د (خوشال رباعيات) په نوم د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي او شمېر يې تقريباً (۱۵۰۰) رباعياتو ته رسېږي، تقريباً په سلو کې (۸۵) څلوريزې يې لس څپيزې دي. پر اوس وخت د څلوريزو بل پښپړ کتاب چې زموږ په لاس کې دی، هغه د (پسته اور) په نوم د هېواد د نوميالي شاعر محمد صديق پسرلي د څلوريزو مجموعه ده. به دې اثر کې څه کم (يو زر) څلوريزې راغلي چې ټولې يې لس څپيزې دي. د استاد قيام‌الدين خادم اکثره څلوريزې هم لس څپيزې دي. يوه بله خبره چې د رباعي يا څلوريزو په باب د يادولو وړ ده، هغه دا ده چې عام ولس او په ځانګړي ډول ځينې سندرغاړي رباعي هغه ډول شعر يا نظم ته وايي چې معمولاً د پند، نصيحت او اخلاقي مسايلو په باب ويل شوي وي او په موسيقۍ کې يې سندرغاړي تر غزل او يا کومې بلې سندرې دمخه وايي او په همدې موقع کې د اورېدونکو د ذهن پاملرنه ځانته راجلبوي. دلته يوه تېروتنه رامنځته کېږي: هغه دا چې اکثره سندرغاړي  تر غزل او يا کومې بلې سندرې دمخه کوم شعر لولي، هغه اکثره د مانا د انتخاب له مخې وي، نه د فورم له مخې. څرنګه چې په رباعي کې هم ډېر زيات اخلاقي، ديني او نور مسايل راځي، نو دوی اکثره هغو شعرونو ته چې دا موضوعات په کې بيان شوي وي، رباعي وايي. سره له دې چې که د فورم له مخې هغه غزل هم وي. (د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۴۰مخ)

څلوريزه دوه بڼې لري، رديفواله او بې رديفه، د خادم صيب په څلوريزو کې دواړه ډوله څلوريزې ليدل کېږي. د اهنگ له پلوه هم اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدا لس ځپېزې څلوريزې دي. د خادم صيب د منظوم کليات (خادم باد سبا يم) په ډلبندۍ کې ځينې څلوريزې له قطعو او ځينې قطعې له څلوريزو سره ډلبندي شوي دي.**

**دلته به د خادم صيب يو څو څلوريزې د بېلګې په توګه راوړو:**

## ګډوډ ملت

ملـــت يـــو کبـــړي، چـــې يـــو کلتـــور شـــي
پـــه ګـــډوډۍ کـــې خلـــک مجبـــور شـــي
کـــه ملـــت واړه يـــو وجـــود نـــه شـــي
لمســـه د نـــورو پـــه کـــې ضـــرور شـــي.

## د خدای غضب

د خلکـــــو قهـــــر، د خـــــدای غضـــــب دی
ځمکـــــه د خـــــدای ده، مخلـــــوق د رب دی
څـــوک چـــې د خلکـــو دښـــمني اخلـــي
د پرزېـــــدلو، همـــــدا ســـــبب دی

## شيطاني تمدن

پنــــاه پــــه خــــدای ده، لــــه شــــيطانانو
لــــه ابليســــيانو، لــــه مکــــارانو
لا چـــــې واکـــــداره، د تمـــــدن شـــــي
تېښـــــته او ډار دی، لـــــه مفســـــدانو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپېڅلی قوم

له سپین تما نه، ترن زمانه
په منځ د ځمکې، تېت له اسمانه
محمدي او، احدي نه شته
سپېڅلی قوم، بې له افغانه.

او همداسې نورې ډېرې څلوریزې چې له بېلابېلو مفاهیمو ډکې دي. یانې په دې مانا چې د خادم صیب په څلوریزو کې اخلاقي مسایل بیان شوي دي، فلسفي مسایل په کې راغلي دي، ټولنیز، انتقادي، اصلاحي او د ژوند د اکثرو برخو مسایل په کې افاده او انځور شوي دي.

**۳- غزل:** ((په پښتو شاعرۍ کې غزل هم یو له هغو شعري چوکاټونو څخه دی، چې ډېر عام مقبولیت لري. د پښتو اکثرو شاعرانو په غزل فورم کې زیات قلم چلولی دی. په همدې وجه خو غزل په پښتو کې د ځینو نورو شعري فورمونو په اندول زیات ظرافت او لطافت ته رسېدلی دی. د غزل ښکلا او ظرافت په دې نور هم زیات شول، چې دې فورم ته د پښتنې چاپېریال زیاتې انځورنې وردننه شوې، ځوانو پښتنو شاعرانو ته هم غزل داسې یو فورم دی، چې د دوی قلم په کې ښه ازمېښت کولای شي. اکثره ځوان شاعران په همدې فورم کې خپل وزن ښه پوخ کړي، پر قافیې، ردیف، څپو او د نظم پر ځینو نورو توکو ځان واکمن کړي، نو بیا نورو شعري فورمونو ته مخه کړي. پخوا به په غزل فورم کې هغه مسایل راتلل، چې په ټولیز ډول یې غنایي او عشقي مسایل په خپله غېږه کې رانغاړل، وروسته بیا د غزل ځولۍ د ژوند له نورو رنگارنگ گلونو ډکه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوس غزل تر دې بریده رسېدلی چې په یوه مسره کې یې ناخوالې او په بله کې یې د ژوند د خوږو رنګارنګي بیانېدی شي.

په پښتو کې لومړنی شاعر چې دې شعري فورم ته یې پښتني شال ور په سر کړ، هغه لوی خان (خوشال بابا) و، چې د غزل په یوه مسره کې یې (توره) او بله کې (زلفې) وځلولې:

تـــوره چـــې تـېرېـــږي خـــو ګـــوزار لـــره کـــه نـــه
زلفـــې چـــې ولـ ولـ شـــي خـــو خپـــل یـــار لـــره کنـــه

د غزل د دومره عام مقبولیت او زیات استعمال یوه وجه شاید همدا وي، چې د یو مانیز پیوستون اوتسلسل ترڅنګ د غزل هر بیت په اصطلاح ځانته پاچا دی او په ځانګړي او خپلواک ډول ډېر دروند مانیز بار پورته کولای شي.

غزل لکه چې له نامه څخه یې ښکاري عربي کلمه ده او له همدې ژبې څخه پښتو ته دا فورم راغلی دی. له مانیز پلوه نورو هغو شعرونو ته، چې غزلیز، عشقي یا غنایي مانیز بار لېږدوي، هم غزل ویل کېدی شي، خو د فورم له پلوه بیا غزل ځانګړې بڼه او شکل لري.

غزل معمولاً هغه شعري چوکاټ ته وایي، چې مطلع ولري، یانې د سربیت یې اکثراً مقفی وي او د بل هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي، د بیتونو شمېر یې له (۵-۱۵) بیتونو پورې وي. د څپو شمېر یې معمولاً سره برابر وي. په ځینو خاصو غزلو کې کېدی شي د غزل هغه مسرې چې قافیه نه لري، یوه څپه تر قافیه والو مسرو څخه زیاتې شي. په پښتو کې له (۷) څپیز څخه نیولې بیا تر (۱۵) څپیزو پورې غزلونه شته. قافیه په غزل کې اساسي توک دی، خو ردیف اختیاري دی. (۱۹:۴۹-۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خادم صیب په منظوم کلام کې د غزل فورم برخه خورا درنه ده، لکه د بل هر پښتون شاعر په شان خادم صیب هم په همدې فورم کې زياته شاعري کړې ده. اکثره پښتانه شاعران په همدې فورم کې خپل وزن، فکر او استعداد وازمويي بيا د شاعرۍ نورو ډولونو ته مخه کړي. په همدې خاطر خو خادم صیب ته یوه خبره منسوبه هم ده او هغه دا چې خادم صیب وايي: ((پښتانه شاعري په غزل شروع کوي)) دده یو لومړنی شعر یا نظم چې په (اتحاد مشرقي) کې خپور شو (شه بیدار پښتونه!) هغه هم د غزل فورم کې دی، خو پیغام او محتوا یې ملي رنګ لري. خادم صیب د غزل فورم  د غزل له محتوا سره په همغږي او مساویانه ډول نه دی کارولی. یانې په دودیزه مانا عشقي او غنایي مسایل یې په کې نه دي بیان کړي او که بیان کړي یې هم دي، نو ډېر کم دي. ده د غزل فورم، د ملي، ټولنیزو، دیني او اخلاقي پیغامونو د انتقال د یوې وسیلې په توګه کارولی، یانې دا چوکاټ یې د خپلې غایې لپاره کارولی دی. ډېرې کمې داسې غزلې به پیدا کړو چې د فورم او محتوا دواړو له نظره د غزل اطلاق پرې وشي. خادم صیب کې ملي ولوله او جذبه ډېره پیاوړې وه، نو ځکه خو یې دا فورم هم د خپل ملي هدف لپاره کارولی دی. دلته به یې یو غزل د بېلګې په توګه راوړو چې د ده د نورو غزلو په انډول یې د محتوا له مخې هم غزلیزه برخه یو څه جوته ده:**

**استاد دا غزل د (۱۳۴۰ل) کال د جدي پر (۷)مه نېټه په جلال اباد کې لیکلی دی.**

خوله مې ترخه ده زه په نورو خوږو څه پوهېږم
په غم کې ډوب یم، د ساحل په مزو څه پوهېږم
چې رقیبانو سره وخاندې په مینه هوس
بیا راته وګوري په داسې کتو څه پوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که راته سر په سپینه خوله د غمازانو کړي فاش
سر درکولی شم په نورو قصو څه پوهېږم
خو راته ووایه چې یار یم نو لا ډارد څه دی
د شونډو لاندې دې په (نه) او په (هو) څه پوهېږم
له دغه سم پښتونه څه شي په غمزو غواړې ته
چې سم نه وایې په وینا د پښو څه پوهېږم
لکه د غشي سم په نښه لګېدلی شمه
په مدعا دی پټ د وروځو کږو څه پوهېږم
لکه بلبل سوری په خار د ګل په مینه کې یم
په زخمي زړه خادمه، بې له ګلو څه پوهېږم

**۴- بوللـه (قصیده):** ((قصیدې ته په پښتو کې (بولله) وایي. خپله قصیده عربي کلمه ده. په لغت کې (قصد کړای شوي) ته وایي. په عربي اصطلاح کې هغه شعر و چې د بیتونو شمېر به یې تر (١٦) یا (١٧) کم نه و او دا نوم د قصد له مصدره جوړ شو، چې معنا یې استقامت او اتصال، سموالی، برابري او سوچه توب وو.(٦: ١).

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بیت یې مقفی وي. د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي. قصیده په شکل او جوړښت کې له غزل سره چندان توپیر نه لري، توپیر یې دادی، چې د غزل د بیتونو شمېر له (پنځو څخه تر پنځه لسو) پورې وي او د قصیدې بیا له (شپاړسو څخه تر دوو سوو) یا تر دې هم زیاتو بیتونو پورې دی. پخوانۍ قصیدې له مانیز پلوه هره یوه اکثره پر دریو برخو وېشل شوې دي:

د قصیدې لومړۍ برخې ته تغزل یا تشبیب وایي چې په هغې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر تر اصلي موضوع دمخه د طبیعت ستاینه کوي. د قصیدې دویمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه تر تغزل یا تشبیب وروسته پیلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ستاینه کوي. د قصیدې درېیمه برخه دعائیه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له دربار نه د ښېنې او هوساینې غوښتنه کوي.

په اوسنیو قصیدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نه نیول کېږي. د غزل او ځینو نورو شعري فورمونو په شان، په قصیده کې هم ردیف اختیاري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نو په نورو دویمو مسرو کې یې راوړل حتمي کېږي. قصیدې دوه شکلونه لري، یو هغه ډول دی، چې ردیف نه لري او بل هغه ډول دی، چې ردیف ولري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصیده په همغه شکل کې راځي چې ردیف نه لري. د خادم صیب په منظوم کلام کې هم ځینې داسې نظمونه شته چې هغه د (قصیدې) په نامه د هغه په اثارو کې چاپ شوي دي. سره له دې چې د قصیدې له معمول تعریف سره سم د هغې ټول خصوصیات نه پوره کوي. (د خلکو خدمتگار) په نامه د خادم صیب یو نظم هم د (قصیدې) په ډلبندۍ کې راغلی، ده دا نظم (۱۳۴۰ل) کال د جدي پر (۲٦مه) نېټه د کابل ښار په (خادم مېنه) کې لیکلی دی. که څه هم یاد نظم د قصیدې د معمول تعریف ټولې ځانگړنې نه رانغاړي، خو د غزل فورم له قید شویو حدودو څخه هم وځي، یانې د بیتونو شمېر یې تر (۱۵) پورته کېږي، نو په دې ډول د بیتونو د کمیت له پلوه د قصیدې فورم ته ورداخلېږي.

دا نظم که څه هم د محتوا له مخې ځواکمن نظم گڼل کېږي، هنري ښکلا یې هم د ده د نورو نظمونو په اندول قوي ده، خو د قصیدې ټول خصوصیات په کې پوره نه ښکاري او یوازې د بیتونو د کمیت له مخې ورته قصیده ویلای شو.

# د خلکو خدمتګار

زه څه ووایم چې څه او د څه کار یم
خو د تللي قافلې د پښو غبار یم
د فطرت باغوان کرلی یم په خپله
په دامان کې غوړېدلی لاله زار یم
څانګې نه راماتوم چې خپله مېوه وخورم
چې مېوې نثاروي هغه شاخسار یم
ګلان اخلمه د ګلو په بدل کې
سوداګر نه یم د ګلو خریدار یم
ماښو نه یم چې د بل په اوږو سپور ځي
د کښتۍ غوندې د خلکو باربردار یم
زهیر نه یمه چې څوک رانه ازار شي
څه که خپله زه له خپلو نه ازار یم
عشق او مینې په یو هسې ځای قایم کړم
خوښ پتنګ او سمندر غوندې په نار یم
د سرو شونډو او سور مخ له ډېرې مینې
منت باره د ګلشن او د انګار یم
چې له ښکلو ځنې طمعه د وفا کا
ساده لوحه روهیلې د ننګرهار یم
بې له عشقه مې څه عیب او څه ګناه ده
معترف په دغه تور د توره دار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په لار د عشق کې وژارم و چا ته
په رښتیا به دروغجن په دې اقراریم
د خودۍ او خود دارۍ له برکته
په ګومان د ډېرو خلکو دنیا داریم
توپانونو او جنګونو ته د هر چا
چې سر نه ښکته کوي، هغه کهساریم
مخ مینځی د ګلو کړم په شان د پرخې
ساتندویه د خپل بوټي لکه خاریم
ازاده یم له همه وارو قیدونو
بې له دې چې یم سړی او سړی چاریم
که څوک مینه مرض بولي، نو بېشکه
زه د مینې په مرض باندې بیماریم
زړه مې پټه خزانه ده د لعلونو
پروت په خپله خزانه، لکه ښاماریم
یا مهتاب یم یا افتاب تندر نیولی
یا چې ځان ته سوزي شمعه د مزاریم
کاروانونه قافلې لاړې په مخکې
په ایرو کې ترېنه پاتې سور انګاریم
چې د تللي کاروان پل ګوري په شپه کې
و هغو ته لکه سترګه د سهاریم
چې معراج د سړیتوب ته ځان زینه کا
زه خادم د هغو خلکو خدمتګاریم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورتنی نظم د ښکلا او محتوا له مخې په اوچتو نظمونو کې راځي، د بیتونو د کمیت له پلوه د قصیدې چوکاټ ته ورداخلېږي، خو د قصیدې د پخوانیو معمولو تعریفونو ټولې ځانگړنې نه رانغاړي. د خادم صیب په منظوم کلام کې دا ډول نور نظمونه هم شته چې د کمیت له پلوه د قصیدې بڼه خپلوي.

**۵- دوه یزه (مثنوي):** ((دوه یزه (مثنوي) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بیت یې په خپل منځ کې گډه قافیه لري (مقفی وي)، د بیتونو شمېر یې ثابت نه دی. په ټولو قافیه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بریده بیان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لویو موضوعگانو د بیان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د لیکلو لپاره دا فورم وټاکه. په مثنوي کې که شاعر په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو د ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی، مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی.)) (د پښتو شعر هندسي جوړښت، ۵۹-۶۰ مخونه)

د خادم صیب په منظوم کلام کې په مثنوي فورم کې هم یو شمېر نظمونه ویل شوي، چې دلته یې یوه مثنوي د بېلگې په توگه راوړو. دا مثنوي (بې اتفاقي) نومېږي، لوړ اخلاقي او ملي پیغام لري او استاد خادم د (۱۳۱۴ل) کال د لړم پر (۱۱)مه نېټه لیکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې اتفاقي

يـــوه ورځ چېرتـــه پـــه لاره تېرېـــدم زه
ناڅـــاپي د ونـــې لانـــدې ودرېـــدم زه
دوه مرغـۍ شـوې پـاس پـه ونـه کـې پـه جنـګ
دواړه غونـډې کلولـه شـوې پـه دا درنـګ
د غونډ ســکې غونـدې لانـدې ولوېـدلې
پيشــو ټــوپ کـړو دواړه يـې غبرګـې ونيـولې
چـغ و پـغ شـور و فريـاد يـې وکـړ ډېـر
مګـر څـه کېـده چـې وخـت و ځنـې تېـر
نفـاق دواړه د بـلا پـه خولـه کـې ورکـړې
غلـيم دواړه ربـز مرېـز زېـر و زبـر کـړې
د خـلاف ونـه ګـل نـه نيسـي سـرداره
نـه بـه وشکـې مېـوه تـرې مـزه داره
اغـزی نيسـي چـې پـرې نـه وي تـرنجبين
نـېش لـري هغـه چـې نـه لـري ګبـين
ده قــران پــه مــذمت ســره ســتايلې
لــوی ښبــتن ورتــه خبيشــه ده ويلــې
راشــه مــه کــوه د چــا ســره جفــا
دوبــاره دې راتلــه نــه شــته پــه دنيــا
((کـر د ګلـو کـړه چـې سـيمه دې ګلـزار شـي
اغـزي مـه کـره چـې پښـو کـې بـه دې خـار شـي))

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک کاندي اختلاف له خپله وروره
له تربوره به پامال شي له ضروره
که تربور چا سره نه وي ملا تړلی
له پردي به وي سرماتی غابښ وتلی
قام ټبر که سره نه وي زړه ودان
نو فرصت ګڼي هغه وخت د ښمنان
که اخته شي سره خپلو کې ملت
نو ضرور به ځني درومي حریت
که څوک غواړي چې د ورور مړی په خوله کا
نو دښمن ته به بېشکه ګټه وکا
فرض کړه دا چې همېشه دښمن تیار دی
د فرصت و د موقع په انتظار دی.

دې نظم ته چې ګورو د شکل او محتوا له پلوه د مثنوي ټولې ځانګړنې پوره کوي. دا نظم د ښوونځو له تعلیمي نصاب سره سم د (پښتو قرائت) په مضمون کې ځای شوی و. زده کوونکو له دې مثنوي څخه خورا اخلاقي پند اخیستی او د هغو د معنوي او اخلاقي روزنې سبب شوې ده.

د خادم صیب د منظوم کلام په مثنوي فورم کې نور داسې نظمونه هم ویل شوي دي.

ددې بحث په پای کې د نتیجې په توګه ویلای شو چې خادم صیب د پښتو شاعرۍ په دواړو فورمونو ګړني او لیکنې،ولسي او دېواني یا هم په ملي فورمونو او له عربي څخه په راغلو نظمي فورمونو دواړو کې شاعري کړې ده. که څه هم د شکل له پلوه په فورمونو کې څه نوښت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی راغلی، يانې کوم نوی نظمي فورم نه دی رامنځته شوی، خو د محتوا له پلوه دا فورمونه له بېلابېلو په تېره بيا د ملتپالنې او ژبپالنې له پيغامونو ډک دي. شاعر تر خپل وروستي بريده فورم د محتوا د خدمت لپاره کارولی دی. د مانا بار يې ډېر دروند دی. د مانا او فورم دواړو تله برابره نه ده. محتوايي نوښتونه په کې ډېر دي، خو فورمونه پر خپل ځای پاتې دي. پر ملي پيغامونو سربېره په دې نظمي فورمونو کې زيات شمېر، ټولنيز، سياسي، اخلاقي، ديني، فلسفي او نور ډول ډول پيغامونه هم ځای شوي دي.

## ب- د منثورو اثارو نوښتونه او ارزښتونه:

د استاد خادم د منظومو اثارو ځينو ځانگړنو او معنوي ارزښتونو ته مو نغوته وکړه، ده تر خپله وسه دهغې زمانې دشرايطو په حدودو کې په نظم کې خپل خپل مانيز نوښتونه لرل. ده په پښتو کې د نظم مروج فورمونه د ملي افکارو د ځلونې لپاره په ښه ډول کارولي. د ده د خپلې زمانې د ليکوالو او شاعرانو په ډله کې دهېچا په اثارو کې هم د ملي فکر دومره تودوخه په دومره کچه او ولوله نه ليدل کېږي، لکه دخادم صيب په اثارو کې چې دا جذبه، ولوله او تودوخه محسوس ده. د استاد خادم د نثر په برخه کې هم گڼو پوهانو خپل نظرونه څرگند کړي دي. دی يې د پښتو د معاصرو نثر ليکونکو له مطرحو څېرو او مخکښانو څخه گڼلی دی. د روښانيانو او اخوند درويزه او د دوی د کورنيو د غړو ليکوالو نظمونه او نثرونه زياتره د مذهبي افکارو انځوروونکي وو، دواړو مشرانو او د هغو پلويانو مسجع نثر هم په پراخه کچه دود کړ، د روښاني غورځنگ په پيل کې پر مسجع نثر تمرکز زيات و، وروسته وروسته يې روان نثرونه هم وليکل او تر هغو وروسته بيا خوشال او د هغه د کورنۍ غړو يو ځل بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو نثر د ژبې له عام ګرامري جوړښت سره برابر کړ. (دستار نامه) او نور پښتو منثور اثار ولیکل شول. د پښتو معاصرې ادبي دورې په لومړي پړاو کې بیاهم پښتو نثر خپل اصلي مسیر ته و نه لوېد، خو د همدې دورې دویم پړاو کې پښتو (پنځو ادبي ستورو) او نورو لیکوالو تر یوه اوږد زماني واټن وروسته یو ځل بیا پښتو ژبه د هغې له ګړني جوړښت سره سمه د نثر لیکنې کالب ته ورداخله کړه. خادم صیب په دې مسیر او بهیر کې خپل رول ولوباوه. ده ګڼ شمېر منثور اثار ولیکل چې موږ په خپل ځای کې ورته اشاره کړې ده.

په دې اثارو کې، ژورنالیستیک، ساده، هنري او یو څه مسجع نثرونه شامل دي، خو ډېر کار، ساده او هنري نثرونو ته شوی دی. پښتو ادبپوهانو د خادم صیب نثرونه له لفظي ښکلا، کلتوري ارزښتونو، ژور تحلیل، ګټورو پیغامونو، ملي افکارو او نورو ښکلاوو ډک ګڼلي دي. له شکلي پلوه دا نثرونه اکثره په روانه ګړنۍ ژبه لیکل شوي دي، خو یو څو نثرونه په کې داسې هم شته چې ځینو برخو کې یې له سجعې څخه هم کار اخیستی دی. دلته به یې یو څو داسې نثرونه د بېلګې په توګه راوړو، دغه لنډ نثر یې د (۱۳۵۰ل) کال د تلې پر (۱۲)مه نېټه لیکلی دی، په دې نثر کې یې د سجعې له کارونې کار اخیستی دی:

هغه چې تر ټولو لوی دی!

هغه زموږ خلوی دی!

دلته دی په کایناتو کې یو وړوکی جهان!

دا دی کور د انسان!

هر څوک یادېږي په خپل توکم او تون!

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته وايي پښتون!
زموږ ژبه ده پښتو يا افغاني!
دا يوه واقعه ده اسماني!
د پښتو روزل په موږ دی فرض د ژوندون!
بله په کې نه کا چې څوک وي پښتون!) (۲۳: ۳٦)

دا نثر د روښانیانو دورې په تېره بیا د پیر روښان د خیرالبیان نثر ته د سجعې د کارونې له پلوه یو څه ورته دی. دا بل نثر یې هم وګورئ!

نمانځنه د هغه چا ده!
چې په لاس کې یې دنیا ده!
هغه چې د هر چا رب دی او د ژوندون سبب!
موږ ته یې رالیږلی نور او هدایت!
یاد یې کړو په افغان ملت!
بخدي یې وستایله په سپین تمان!
او پښتیانا یې رڼا کړه په سراج الدین روښان!
په اوستا یې وروزله اریانا!
او په خیر البیان یې راټوله کړه پښتونخوا!
ملي ته یې ورکړ دفتر!
چې غرب ترې زده کړ د ژوند هنر!
راویې ښوده و موږ ته دپښتون مسلمان لار!
رازده یې کړ د پښتو او خدمت شعار!
چې و ترټو هر ډول ظلم او استعمار!
او بیا بل کړو د مینې نور او نار!)) (۲۳: ۴۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې نور نثرونه یې بیا داسې دي چې مسجع نه دي، خو لیکنۍ بڼه یې د ازاد شعر لیکلی شکل غوره کوي، یو ډول مخصوص وزن او اهنگ هم لري، خو نه هغه وزن او اهنگ چې په ازاد شعر کې کارېږي. پښتو ازاد شعر که څه هم د قافیې، ردیف او مقیدو څپو له قید څخه ازاد دی، خو دڅپییز خجیز جوړښت له مخې پرې همغه قانون د تطبیق وړ دی چې پر نورو ټولو مقیدو فورمونو باندې د تطبیق وړ دی. په دې مانا چې پښتو ازاد نظم کې هم د فشار قاعده همغه ده چې پر نورو ټولو نظمونو تطبیقېږي، یانې د نظم هره درېیمه څپه بایدخجنه راشي. د خادم صیب دا ډول نثرونه نیمه وزن او اهنگ لري او لیکنۍ بڼه یې د ازاد نظم شکل غوره کوي، خو له ازاد نظم سره یې توپیر دا دی چې دلته پر څپو باندې د خج مسئله مطرح نه ده. یانې کوم مقید منظم یا تللی وزن نه تقیبوي، لکه:

## ما کره مه راځه!

ما د خواږه ژوند ورځې او شپې دده په یاد تېرولې!

د حیات ستغ او سپور مې دده په تصور زغمل!

ټولې ناوړه او ناخوالې مې په سر اخیستې!

ما ویل داسې یوه ورځ به راشي، زه به دې وګورم.

لیدلي، اورېدلي، لوستلي او درک کړي به ټول ورته ووایم!

ما ویل ده به ماته غوږ نیولی وي او زه به ورته د زړه ټولې غوټې وسپړم!

راز و نیاز به ورسره وکړم

هو، دغه ورځ راغله، خو ده ما ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ما کره مه راځه))

ما سره ارزوګانې وې،

ما سره ارمانونه وو،

ما سره د کلونو کلونو سودا وه!

زما په ژبه ترانې او زما په رباب کې نغمې وې!

ما ویل دا به د ده په حضور عرض کړم!

زما په ځولۍ کې ګلان وو، زما په لاسونو کې هار و، دا ما د ده په یاد جوړ کړي وو.

خو چې زه ورغلم ده ویل:

((ما کره مه راځه))

زما خبرې، زما ارزوګانې، زما ارمانونه ټول پاته شوه!

اسرار، ونه ویل شول!

رازونه پټ پاته شول!

زما د امالو ښیښه په تېزه ولګېده!

زما زړه د پاچ ټیکری و چې دګل په بوټي غوړېدلی و، کوم وخت مې چې راغونډاوه، په اغزو کې تار تار شو او په لاس رانغی!

زما په سترګو کې اوښکې وچې شوې!

کوم وخت چې ده وویل:

((ما کره مه راځه))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ما ته د پوښتنې فرصت رانه کړ!

ده زه ملامته کړم!

یو تر بله پوه نشو!

نه پوهېږم چا لمسولی و!

چا بد پوه کړی و!

یا زه په ادابو پوه نه شوم!

لاسونه مې یې ښکل نه کړل!

ما ویل زړه په زړه اینه ده!

ما ویل ما سره اخلاص دی، تصنع څه په کار؟!

خو زما ستونی بند شو،

هغه وخت چې ده ویل:

((ما کره مه راځه)).

(۲۳: ۵۴-۵۵)

دا نثر نه یوازې د لیکنۍ بڼې له مخې نوی شکل لري او تر دې دمخه په پښتو ادب کې په دې بڼه څه خاص او ډېر نثرونه نه دي لیدل شوي، بلکې د ښکلا او محتوا له نظره هم دا نثر خپل ځانګړی نوښت لري، د نثر خوږه ژبه، خیال او کیسه ییز بیان لوستونکی تر پایه ځان سره بیایي.

یا هم د (هوښیار ماشوم) نثر چې دا هم د ازاد شعر لیکنۍ بڼه خپلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هوښیار ماشوم

ادې جانې ولې ژاړې؟

هان، ادې جانې ولې ژاړې؟

بابا مې درسره جنګ کړی دی؟

وې وهلې و هان؟

نو ولې یې وهلې؟

هان، ادې جانې، په څه شي یې ووهلې؟

ادې جانې بابا مې نو ولې تا سره جنګ کوي؟

هان، ادې جانې بابا مې نو ولې تا سره جنګ کوي؟

هان، ادې جانې بیا دې، بیا دې په سبو کې مالګه ډېره اچولې وه؟

خیر دی، ښه ادې جانې!

ته مه خپه کېږه!

ودرېږه چې بابا مې راشي، زه به یې هم ووهم!

ښه، ادې جانې مه خپه کېږه!

ته نوره مه ژاړه کنه!

ته مه خپه کېږه! چې بابا مې راشي، ښه، زه به ورته قار وکم، ښه!

پرون یې وهلې وې؟

دا پېره مې چې بابا جنګ کوي، زه به هم ورسره جنګ وکم ښه ادې جانې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې رشيد وهي، نو زه يې هم وهم!

چې بابا مې وهلې، ته يې هم وهه!

ادې جانې بابا مې زورور دی هان؟

ته يې نه شې وهلی؟

ته ښځه يې؟

هغه زورور دی؟

څنگه زورور دی هان؟

بل څوک نو ولې نه وهي؟

ادې جانې زورور خو حاکم دی کنه!

هغه څه و؟

هغه څه و، هغه حاکم چې راغلی و، هغه سړی يې چې ووهلو!

ودرېږه ښه!

زه به ورته ووايم چې بابا مې هره ورځ تا وهي!

ادې جانې مه ژاړه زه خپه کېږم!!!)) (۲۳: ٦۳-٦۴)

دا نثر خورا ښکلي تصويرونه او هنري ښکلا لري، د افغاني ټولنې د منفي کلتور يو ربښتينی، يو ژوندی او دردوونکی انځور کاږي، هر څوک چې يې په ژور نظر ولولي، نو د خپل کورني چاپېريال يو تصوير به يې ذهن کې تداعي شي. د مور تصوير په دې نثر کې په داسې هنري ژبه بيان شوی چې د سړي سترگو ته اوښکې راولي، د شاعر او هنرمند قوت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوښت او هنري جوهر همدلته معلومېږي، چې د لوستونکي عواطف راپاروي.

د هنري نثرونو په لړ کې د خادم صیب په نثرونو کې نوی والی، خوږلني او فکري نوښتونه خورا زیات دي. دا نثرونه د خپل وخت معیاري نثرونه ګڼل کېدل، چې د ده د زمانې په لیکوالو کې له استاد الفت، استاد رښتین او استاد بېنوا پرته د نورو لیکوالو په اثارو کې دومره ښکلا، فکري پانګه او پیغامیزه برخه په دومره قوت سره نه لیدل کېږي. دا په خپله زمانه کې د لیکوال یو ډېر غټ قوت او نوښت و چې فکر او هنر یې دواړه سره موازي روان کړي دي. فکر یې هم یو مسیر او پیغام لري، له لوستونکي څخه لاره نه ورکوي، لاره ورښیي. ده چې هره موضوع ټاکلې، هغه یې په ډېر لنډیز سره په منسجمو کلمو کې افاده کړې ده. دی (د ژوندانه درې خوا) نثر کې د (علم، شعر او سیاست) تعریف کوي، د درېواړو پولې او برید ټاکي او عملاً چې له هغو څخه کوم کار اخیستل کېږي، هغه مشخصوي. که څه هم د دې درېواړو موضوعګانو په باب نورو پوهانو هم خپل خپل نظرونه څرګند کړي، خو اکثره یې په جلا جلا تعریفونو کې راغلي دي، ډېرو کمو یې یو بل سره ګډه رابطه ښنلې او پر یو بل یې اغېز تشریح کړی دی. خادم صیب په خپل موجز کلام کې د دې نوښت کړی دی او دا درې موضوعګانې یې یوه له بلې سره په رابطه کې څېړلي دي:

## د ژوندانه درې خوا

(علم، شعر، سیاست)

((علم: اکتشاف! شعر: احساس! او سیاست: کول دي!

عالم فکر کوي. شاعر خبرې کوي او سیاست عملاً کار کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عالم ګوري، شاعر خاندي او ژاړي او سیاستدان لوبې کوي!**

**علم د مغز، شعر د زړه او سیاست د ګېډې او غړیو پورې تعلق لري!**

**عالم قوانین، شاعر ملل (ملتونه) او سیاست دان ډلې جوړوي!**

**عالم تخم پیدا کوي، شاعر یې کري او خړوبوي او سیاست دان یې رېبي او حاصل یې اخلي!**

**زنده ګي یو سرسبزه او ښېرازه ونه ده. علم یې بېخ، شعر یې تنه او سیاست یې مېوه ده!)) (۲۳: ۷۴)**

**((د ژوندانه طلسم)) نثر یې هم له قوي محتوا ډک دی. د ژوندانه بېلابېل فصلونه تشریح کوي، د نسلونو تر منځ د طبیعي تضاد او توپیر ماهیت بیانوي.**

## د ژوندانه طلسم

**((بس! همدا و ژوندون؟**

**زوړ سړی د ژوندانه په غاړه ناست د خپلو ارزوګانو بېړۍ یې تلونکې لیده، سوړ اسویلی یې وایست او دا خبره د ده د زړه له عمق نه داسې راووته، لکه په اوبو کې چې یو شی ډوب شي او د اوبو په سر یې څو بربړۍ څرګندې شي! د ماښام وخت دی او دلته د ژوندانه ماښام دی!**

**په اسمان باندې د لړو ورځو سپوږمۍ، خپله ښایستوکې رڼا خپره کړېده، مرغۍ، په هله هله خپلو جالو او د شپې ځایونو ته ځان رسوي؛ لمر لوېدلی دی! دغه دی دا تنکۍ سپوږمۍ چې د تیارو په لوړنیو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړسکو باندې لړه شانې پازه غورځولو لپاره دنیا ته راغلې ده، پرې به ووځي او په هر شي به تورتم شي!

د زاړه په زړه کې هم د یو لطیف احساس ځلک تر څه وخته وځلېد، د ده د ښکلي زلمیتوب ورځې تېرې دي، اوس به دا زوړوالی او د هغه احساس هم تېر شي او د ده روح به د خپلې وروستۍ استوګنې د ځای و خوا ته وزرونه خپاره کړي، وا به لوزي! له ځان سره یې وویل: ای ژوندونه! ته همدا وې؟ ((ده بیا سر وخوزاوه ویې ویل ته ټوکه یې او که نه! لېکن ځواني خو ارو مرو ټوکه ده!))

دا یې وویل زوړ سړی غلی شو، نور یې د خولې نه وانورېده شول، دی هغه اوبو ته په ځیر شو چې د ببړۍ په ډډو لګېدې؛ د ده رباب، د ده هغه خوشالي، ملګري چې درست عمر، هر ماښام به د ده د ارمانو سره په یو غږ غږېدو د ده له لاسه ولوېد!

ببړۍ، په تلو کې ده، زوړ خوار خفه! او غمجن دی، لیکن ببړۍ والا خوشال او په خندا دی!

دا صورتونه څوک دي؟ زوړ ولې خفه دی؟ ښه نو! دی د دوی د جلاکېدو په خیال غړند دی؟ نه! دی غواړي چې که خدای وکړي، زر تر زره د ده د سترګو نه پټ شي او د دوی یاد هم د ده د پاتې ژوندانه څخه د غلط توري غوندې لرې شي! ځکه چې دا هغه زړه غلوونکي شیان دي چې د زلمیتوب د نشې په ورځو کې هر وخت د ده د زړه نه چاپېره وو؛ د ده په زړه یې پرده غوړولې وه، ده دا ګومان کاوه چې زما سترګې د حقیقت تصویر ویني، څه چې وینم هغه هماغسې دي هم! ده د دنیا په رنګونو کې خپل زړه رنګ کړو او له دغه رنګ ورکولو څخه یې د ژوند په ښایست سره تعبیر وکاوه؛ دنیا د خوشالیو یوه سلسله جوړه کړه: لومړی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایست سبا خپل جعلي نور خپور کړ، بیا رڼا شوه، نو د عشرت وریځ په فضا کې خپله چترۍ، وغوړوله، وریځ ورکه شوه، بیا نو د مستۍ رنګ د سرې زرغونې په شان په اسمان خپل ټال واچاوه؛ د ژوند ورځ په دغه ډول تېره شوه؛ اسمان شین شو، چې ویې لیده ماښام نږدې دی، نو ورځرګنده شوه چې دغه زړه غلوونکي شیونه په اصل کې د ځوانۍ تېر ایستنې وې چې وو یو څه او ښکارېدل بل څه! کله د زړه د مجلس رنګ ورونق په دوی سره و، طاقت، قوت، بډایي، عشرت خودي، ازادي، ترقي، ښایست، مینه، علم او باور د دې ټولو پټ ښکاره شول!

حیات زړه څه فرض کړی و او څه یې ومیند؛ لیکن یو قوي روح ته د حقیقت په لیدو کله ضعف پیدا کېږي؟

ژوندون بې شکه یو طلسم دی چې ماتېږي، خو د یو زړور انسان لپاره څنګه ښکلی دی، دا طلسم او څنګه خوندور دي دا ماتېده!؟

خبرېده د هوښیار زړه لپاره لوی تسل دی او حقیقي ژوند لپاره مرګ هډو څه مرګ نه دی!!!)) (۲۳: ۷٦-۷۷)

د استاد هنري نثرونه اکثره همدومره ښکلا او ځلا لري. د (نوی ژوندون) او (خیالي دنیا) اکثره نثرونه همدا قوت لري. (نوې رڼا) کې هم یو شمېر هنري نثرونه خوندي دي او همدا راز په یو شمېر نورو ټولګو او متفرقه لیکنو کې د هنر قوي جوهر جوت دی.

په مجموعي ډول که موږ د استاد خادم په نظم او نثر کې د نوښتونو او ارزښتونو خبره کوو، نو د نظم په برخه کې ویلای شو چې ده تر خپلې زمانې وړاندې ان تر روښانیانو پورې پر دودیزو نظمي فورمونو سربېره یو شمېر ولسي نظمي فورمونه هم وکارول، دا کار د ده د پراخو افکارو د بیان لپاره یو ضرورت و، ده په ولسي کالبونو کې هم ډېر نظمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکل او هم ځینې شعرونه، د دې نظمونو پیغامیزه برخه بیا ډېره بډایه او له رنګارنګ مفاهیمو ډکه ده، زیات فکر یې پر ملتپالنې، ژبپالنې او پرمختګ، د خلکو پر سوکالۍ او هوساینې راڅرخي. په نثري برخه کې هم استاد خادم هم له شکلي پلوه او هم له هنري او محتوايي پلوه ځینې نوښتونه وکړل، هم یې مسجع نثر، چې تر روښانیانو او د خوشال خان تر کورنۍ راوروسته ډېر نه کارېده، یو ځل بیا وکاروه، نیمه اهنګین نثر یې هم رامنځته کړ چې له شکلي پلوه یې د ازاد شعر لیکنۍ بڼه خپلوله او د هنري جوهر له پلوه داسې نثرونه رامنځته شول چې ځینو یې له شعر سره سیالي کوله؛ خیال، فکر، عاطفه او ژبنی بیان یې دومره قوي و چې چا هم لوستل، نو د شعر تنده او مینه یې پرې ماتېدله، په همدې خاطر د استاد خادم دې ډول نثرونو ته ځینو ادبپوهانو د (منثور شعر) اصطلاح هم کارولې ده. یانې یوازې په مقید وزن، قافیه او ردیف کې تر منظوم کلامه کم وو، نوره هنري او تخیلي بڼکلا یې د شعر کچې ته رسېدله، نو ځکه خو په وروستۍ جمله کې د یو ټولیز نظر په توګه ویلای شو چې استاد خادم په نثر کې د شکل او محتوا دواړو له پلوه نوښتونه کړي او نثرونه، په تېره بیا هنري نثرونه یې له زیاتې ښکلا ډک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ویښتیایي پړاو کې
# د استاد خادم د اثارو مقام

د پښتو معاصرو ادبیاتو د پیل او د هغو د بېلابېلو پړاوونو په باب د پښتو ادبپوهانو ترمنځ د نظر اختلاف شته. ځینو دا دوره د امیر شېرعلي خان د دویم ځل پاچاهۍ او په افغانستان کې د چاپي خپرونو له پیل سره تړلې، ځینو نورو بیا د امیر حبیب الله خا د پاچاهۍ تر نیمایي وروسته د (سراج الاخبار) له دویم ځل چاپ یا بیا خپرېدو سره تړلې ده. همدا مهال و چې پښتو شاعرۍ او په ټوله کې په ادبیاتو کې فکري، محتوایي او شکلي تحولات محسوس شول. لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو نوي شعر پیل له همدې زمانې او لږ نور هم په مشخصه توګه د استقلال تر ګټلو وروسته زمانې پورې تړلی بولي او په دې باب وایي:

((په افغانستان کې د استقلال له غورځنګه سره د ژوندانه نوی تحول په ښه توګه لیدل کېږي، ددې نوي حرکت تاداو تقریباً یو قرن پخوا د مرحوم امیر شېرعلي خان له زمانې څخه د ستر سیاسي مفکر سیدجمال الدین افغان په ظهور او په بالاحصار کې د نوي مکتب په تاسیس او د شمس النهار د تنکیو پلوشو په خپرېدنګ ایښودل شوی و، خو دویم جنګ او د استعمار هولناکو څپو دا ملي حرکت له فکري خوا څخه پرځای ودراوه او زموږ ملت له استعمار سره په خونینه مبارزه لاس پورې کړ او تقریباً نیم قرن وروسته چې کامل سیاسي استقلال بیا مونده شو، نو هغه فکري تجلاوې بیا زموږ د وطن پر کوډغلو چې له استعمار سره په اول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم جنګ کې بالکل ورانې شوې وې، بیا وځلېدې. موږ استقلال وګاټه، خو پنځوس کاله له فکري پرورښته او له نوي پېشرفته څخه تر شا پاتې شو. په اول او دویم جنګ کې زموږ ملت دا ثابته کړه چې موږ دا وطن ساتلای شو او د خپل ملي موجودیت لپاره د دنیا له قویترین او غښتلي سازمانه سره هم ډغرې وهلای شو او په هر حال کې خپل مرکزیت خوندي کوو.

مګر یو قوم چې د خپلې خاورې او خپل ملي موجودیت په دفاع کې یو قرن توره په لاس پر ډګر ولاړ وي او په سرو وینو کې رغړي، هغه خو د فکر او ادب او علم او پوهنې، روزنې ته ابداً فرصت نه مومي.

په پښتو ادب کې د شعر په شکل، نوي افکار او نوي محتویات په زاړه فورم او ډول، موږ لومړی پلا په سراج الاخبار کې وینو، چې (عبدالعلي مستغني او غلام محی الدین افغان او پرېشان او مولوي صالح محمد او ملا محمد افغاني نویس) ځینې اشعار نشر کړي دي، په دغو ادبي ټوټو کې د وطن خواهۍ نوی احساس، د افغانیت او ملیت نوی فکر او د عصري تجدد نوی حرکت ښکاري او دغه افکار  وو چې د استقلال د نهضت لپاره یې ډېره ښه زمینه برابره کړه.)) استاد حبیبي په خپله لیکنه کې تر استقلال وروسته پړاو څېړي، تر هغه وروسته بیا د غازي محمد نادرخان د دورې په باب وایي: ((د اعلیحضرت محمد نادر شاه غازي تر دورې وروسته چې د پښتو ادب کوم انکشاف او پرمختګ موندلی دی، دا تنکی نهال یې ښه روزلی دی. پخوانی انجمن ادبي او اوسنۍ پښتو ټولنه د پښتو شعر او ادب روزنتون شو او په هغه دوره کې موږ، لکه: (امین الله زمریالی، غلام جیلاني جلالي، قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین، عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، عبدالشکور رشاد او محمد ارسلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سليمي) غوندې شاعران لرو، چې په فکري لحاظ خو بالکل نوي دي، اما د فورم له پلوه د دوی په ځينو اثارو کې د نوي توب څرکونه وينو.))

(۷: ۲۵۴- ۲۵٦)

استاد حبيبي په خپل دې علمي او ادبي تحليل کې د پښتو د معاصر شعر د لومړي پړاو او همدارنگه د ويښتيايي پړاو يو عمومي تصوير او وېش وړاندې کوي. د ده په تعقيب بيا د هېواد يو بل ادبپوه (کانديد اکاډمېسن محمد صديق روهي) د پښتو معاصره ادبي دوره له هر پلوه څېړلې او لوستونکو ته يې د دې دورې د بېلابېلو پړاوونو په باب يو نسبتاً پراخ نظر وړاندې کړی دی. استاد روهي هم د دې دورې د پيل په باب تقريباً له استاد حبيبي سره ورته نظر لري، خو د دې دورې د همدې پړاوونو د وېش په باب يې نظر يو څه مشرح دی.

استاد روهي بيا د پښتو ادب تاريخ معاصره دوره پر دريو پړاوونو (روښانتيا پړاو، ويښتيا پړاو او د اوښتون پړاو) وېشلې ده. استاد روهي د روښانتيا پړاو او د هغې د تاريخي پس منظر په باب وايي:

[د شلمې پېړۍ په رابرېدلو سره په افغانستان کې د معاصر ادب د پيلېدو لپاره عيني او ذهني شرايط برابر شوي وو. په همدې وخت کې د کلتور مادي توکونه، لکه فابريکې (د وړيو اوبدلو، بوټ جوړولو او د برېښنا د توليد چار ځايونه)؛ مطبعه، روغتون، عصري لوازم (لکه موټر، ټلېفون، فوټوگرافي او نور)، د کار وسيلې (لکه سړکونه، د فابريکو ودانۍ، پلونه، ويالې، د اوبو رسولو نلونه او نور) د عصري ژوند د ښکارندوی (مظهر) په توگه تر سترگو کېږي. په عنعنوي ژوند کې د بدلون په راتللو سره نوې مفکورې هم پيداکېږي او د معنوي فرهنگ په بڼ کې نوي گلبوټې تېغونه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د فرهنګي ژوند په لوړتیا کې یو بل عمده عامل د امیر حبیب الله په دوره کې د هغو فراریانو راستنېدل وو چې د امیر عبدالرحمن له خوا تبعید شوي وو. هغوی هېواد ته له راستنېدو وروسته د اذهانو په روښانولو کې ستره ونډه واخیسته او د معاصرو ادبیاتو په بنسټ ایښودلو کې یې مهم نقش درلود. د دغو کسانو په ډله کې د محمود طرزي او غلام محی الدین افغان نومونه په خاصه توګه د یادونې وړ دي. همدارنګه د عصري پوهنو د تدریس لپاره له هند څخه ځینې استادان راغوښتل شوي وو چې د نویو مفکورو په ترویج کې یې ډېر خدمت کړی دی.

د فرهنګ په ساحه کې دوه مهم کارونه ترسره شول. لومړی دا چې په کابل کې د حبیبیې ښوونځی او د حربیې ښوونځی او د سراج الاخبار د جریدې اداره د سیاسي فعالیتونو په مرکزونو بدل شول.

په همدې وخت کې د میر غلام محمد غبار په قول: ((په کابل کې د بهرنیو هېوادونو جریدې لاس په لاس ګرځېدې او د روښانفکرانو قشر چې په لومړي سر کې یې د ملي بورژوازي او لیبرال ملاکانو نماینده ګي کوله وروسته یې د پاچا د بې سرحده واک د محدودولو او د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو او د اساسي قانون د جوړولو لپاره په مبارزه لاس پورې کړ.)) (۳۷: ۷۱٦)

د تجدد او روښانتیا دوران ادبیات د ملي ارمانونو د عرادې په توګه د فرهنګ پرمخ بیولو ته وقف شوي وو. په دې کې شک نه شته چې د معاصر ادب ترڅنګ، کلاسیک ادب او فوکلوري ادب دواړه په خپل قوت پاتې وو، خو معاصر ادب د محتوا او پیغام درلودلو له کبله نور ادبي جریانونه له خپل عنعنه یي اهمیت څخه وغورځول. معاصر ادب د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعهد او رسالتمن ادب په توګه د ټولنې په خدمت کې په کار واچول شو. په هېواد کې د مزمن فقر، بېسوادۍ، اداري فساد، اختناق او ټولنيزې بېعدالتۍ عموميت ټول هېواد پالونکي، ازادي خوښوونکي روښانفکران دې ته وهڅول چې د منځنيو پېړيو د عطالت او رکود د منځه وړلو لپاره سخته مبارزه پيل کړي. ادبيات د يوه معنوي مشال په توګه د خلکو د ذهنونو د روښانولو لپاره استخدام کړي او ولس د غفلت، بې خبرۍ،ړانده تقليد او بې تفاوتۍ له درانه خوبه راويښ کړي. ددغه وخت يو شمېر نامتو شاعرانو او ليکوالو د ادبي تخليقاتو له لارې د خان خانۍ، استعمار، ځانځانۍ او استبداد پرضد ګړندۍ مبارزه کوله او ځينو يې د خپلو لوړو ارمانونو د پوره کولو په لاره کې د قربانۍ ميدان ته هم ورودانګل او د شهادت جامونه يې وڅښل.

د سراج الاخبار د جريدې په خپرېدلو سره پښتو ژبې او ادبياتو ته هم د انکشاف زمينه برابرېږي. په همدې وخت کې ((په لره او بره پښتونخوا کې ډېر داسې ځوانان موجود وو چې د نويو علمونو او اروپايي ادب مطالعه يې کړې وه، نوي ادبي ژانرونه او فورمونه يې پېژندلي وو، د خپل خيال د اظهار لپاره يې نوې لارې په نښه کړې وې او د پښتو د لرغوني ادب پر پاخه بنسټ يې د پښتو د نننى ادب ماڼۍ پيل کړه.)) (۴۳:۵۷).

که څه هم انګرېزي استعمار پر (۱۸۹۳م) کال د ډيورنډ په تحميلي کرښې سره د افغانستان د خاورې يوه برخه له اصلي پيکر څخه بېله کړه، خو ويې نه شو کولای چې د پښتنو د ګډو ارمانونو، ګډو ارزښتونو او ګډو وياړونو ترمنځ د بېلتانه کرښه راوباسي. د هنري فرهنګ په ډګر کې دلته او هلته په يوه وخت کې حرکت پيل شو. ددغه حرکت مخکښان د ټولنې روښانکفران وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د (سراج الاخبار افغانستان) جریده د مولوي عبدالروف کندهاري له خوا د (۱۹۰٦م کال د جنورۍ په یوولسمه نېټه) له چاپ څخه راووتله، خو د همدغې لومړۍ ګڼې له خپرېدلو وروسته جریده بنده شوه او دویم ځل لپاره د(سراج الاخبار افغانیه) په نامه پر (۱۹۱۱م) کال د محمود طرزي په مدیریت او مشرۍ خپره شوه. په همدې وختونو کې په لره پښتونخوا کې هم د پښتو د معاصر ادب د پراختیا په لاره کې ګامونه پورته شوي وو. پر (۱۹۱۰م) کال د (افغان) جریدې په خپرېدلو سره په پښتو ادب کې نوي ژانرونه باب شول او د (راحت زاخېلي، فضل محمود مخفي، عبدالاکبر خان اکبر، عبدالمالک فدا) غوندې نامتو شاعران او لیکوال ددغه نهضت سرلاري وو.

محمود طرزي او عبدالرحمن لودین په (سراج الاخبار افغانیه) کې د پښتو نظمونو او مقالو خپرولو ته په اګاهانه توګه پاملرنه اړولې وه. د پښتو لومړی شعر چې په نوموړې جریده کې خپور شو د مولوي صالح محمد کندهاري شعر دی:

دا څـــــــه عجـــــــــب دوران دی
چـــــې راغلـــــی پـــــر افغـــــان دی
رنګارنګـــــــــه ترقـــــــــــي ده
څـــــه عجـــــب محبـــــوب عنـــــوان دی

***

دا لـــــه کومـــــه شـــــو پـــــه مـــــوږ کـــــې
چـــــې ظـــــاهر او نمايـــــان دی
دا خـــــو عصـــــر د ســـــراج دی
چـــــې افغـــــان تـــــول پـــــرې روښـــــان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

تـــه ســـــراج الاخبـــــار تــــه ګـــوره
چــې د ملــک پــه تــن کــې ځــان دی
اوس بیـــا نـــور علـــي نـــور شـــو
پــــه پښتـــو چـــې دی ګویـــان دی.

په دغه شعر کې د نوي دوران د پیلېدو زېری ورکړ شوی دی. له روښانتیا سره سراج او د ((نورعلي نور)) ارتباط مضمون ته ادبي رنګ هم ورکړی دی. که په دغه شعر کې د سراج عصر ستایل شوی دی، وجه یې داده چې د هېواد ترقۍ ته یې پاملرنه کړې ده.

د روښانتیا پړاو کې د پښتو د معاصر ادب سرلاري دغه کسان دي: مولوي صالح محمد کندهاري، غلام محی الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني او عبدالهادي داوي. د سراج الاخبار د نورو قلمي همکارانو په ډله کې چې په پښتو یې شعرونه ویلي دي. د سیدمحسن کندهاري، عبدالسلام کامه ییي، ملا عبدالباقي کندهاری، عبدالرسول محمدزاییي، میرزا عبدالرحیم رحیمي او ملا محمد خان عرض بیګي (افغانی نویس) نومونه د یادونې وړ دي. محمود طرزي په دې دوران کې د پښتو د عامېدلو او ودې لپاره کار کړی، خو دا کار یې په دري ژبه دی. عبدالرحمن لودین که څه هم پښتو ژبې ته ډېر خدمت کړی دی، خو د پښتو شعر یا داستان کومه نمونه یې لاس ته نه ده راغلې.] (۳۲: ۵۱-۵۶)

استاد روهي بیا د پښتو د معاصرو ادبیاتو دا پړاو چې دی یې (روښانتیا) پړاو بولي، ځانګړنې پر دې ډول په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[د شلمې پېړۍ په پیل کې د افغانستان په ادبیاتو کې موډرنیزیشن په پراخه اندازه منعکس شوی دی. د هغه وخت ادبي نوښتگرو په شعوري توگه هڅه کوله چې له ادبیاتو څخه د ملي او دموکراتیکو هدفونو د تحقق لپاره د یوې اغېزناکې وسیلې په توگه کار واخلي. ددې وخت د ادبیاتو سوژه، هېوادپالنه، خپلواکي غوښتنه، د اختناق او فساد رټنه، د فاناتیزم (تعصب) او ارتجاع غندنه، د مثبتو علومو او ټکنالوژۍ او نوي فرهنگ خپرونه، د ملي وحدت ټینگونه، د عصري ژوند له غوښتنو سره د دودونو او انگېرنو سمونه، دمطلقیت او سټاټسکو (اوسني حالت ساتنې) پرضد د خلکو پارونه، د انگرېزي استعمار په مقابل کې د ختیځ په تېره د مسلمانو ملتونو پاڅونه او داسې نور ملي، اسلامي او بشري ارزښتونه او ارمانونه دي. پر دې اساس ددغه پړاو په ادبیاتو کې د پیغام او تعهد برخه ډېره پیاوړې ده او پر مضمون باندې د زیات ټینگار له امله ادبي فورم ته لازمه پاملرنه نه ده شوې. له ځینو لیکنو څخه څرگندېږي چې د روښانتیا پړاو د ادب مخکښانو په قصدي او عمدي توگه د کلاسیک ادب د بدیعي صنایعو د عنعنې له پیروۍ څخه ډډه کړې ده.

د مثال په توگه محمود طرزي په خپله مقاله (حسب حال مابین شعر طرز جدید و شعر طرز عتیق) کې د کلاسیک ادب پر تشبیهاتو باندې داسې ملنډې وهلې دي: (( در این عصر قد دراز سر و عرعر مانندی راکه ده پانزده برابر قامت طبیعي بشر باشد و ان سرود و لیمو یا دو انار بار اورده باشد و مار های سیاه پر زهر از دو طرف ان اویخته باشد... هیچ کس نمی پسندد.)) (۳٦: ۹۷۴). د پښتو د معاصر ادب د لومړي پړاو اکثر شعرونه هېواد پالنې ته وقف شوي دي او په اصطلاح ((وطنیه)) شعرونه دي، خو د فورم او بدیعي ځانگړتیاوو له پلوه په هغو کې نیمگړتیاوې لیدل کېږي. داسې ښکاري چې د مضمون په نوي کېدو سره د نوي هنري شکل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایجادولو لپاره هلې ځلې روانې وې. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، ددې پړاو مخکښانو له عنعنه يي ادب څخه په لرې کېدو سره هڅه کوله چې د نوي ادب د بنسټ تیږه په خالي فضا کې کېږدي چې په نتیجه کې يې د محتوا او شکل یووالی او تناسب زیانمن شو.

په اماني عصر کې د پښتو معاصر ادب، د انتظار پر خلاف، مخ په ځوړه روان شو. ددغې دورې ډېر شعرونه په لاس کې نه شته او یوه دوې بېلگې يې چې لاس ته راغلې دي د عادي نظم سطحې ته هم نه رسېږي. د تعجب خبره ده چې ځینو ادبپوهانو دغو شعرونو(!) ته د نوي او ابتکاري شعر په نظر کتلي دي. داده لومړۍ بېلگه:

امیر امان الله خان

چې غازي دی بې مثال

و ملت د افغان

وبښل استقلال

قانون و ائین جوړ کړ له دوی د دین

لپاره د مسلمان

د نوي او ابتکاري شعر لپاره تر هر څه دمخه د ژبې سموالی حتمي دی؛ که ژبه له گرامري قواعدو سره سمون ونه لري، لکه ((و ملت د افغان وبښل استقلال)) یا ((قانون و ائین جوړ کړ له دوی د دین)) نو دغسې شعر(؟) اصلاً شعر نه گڼل کېږي. ابتکاري خو يې لا پرځای پرېږده.

په پورتني شعر(!) کې له وزن څخه بې خبري او سکتې په ((نوي شعر)) تعبیر شوي دي، د شاعر احساس د قدر وړ دی، خو له بده مرغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د نظم ژبه سمه ده، نه وزن لري، نه تصویر لري، نه تشبیهات یا نور شعري تلازمات او نه کومه نوې مفکوره.

اوس د همدغه وخت د شعر(!) یوه بله نمونه چې لاس ته راغلې ده،وګورئ:

شاه غازي امیر امان الله خان

عادل، عاقل، عامل، کامل

ملک محکم او قوي دی افغانستان

متین، رصین، حصین، سنګین

دغه بېلګه چې له پورتنۍ بېلګې څخه کوم امتیاز لري هغه دادی چې ژبه یې څه سمه ښکاري.

ددغې پورتنۍ یادونې لومړی مقصد دادی چې په اماني عصر کې د معاصر ادب د پیلامې لپاره، لکه ځینو چې ادعا کړې ده، قناعت بښونکی دلیل نه شته او دغه عصر له سراجي عصر څخه په ادبي لحاظ وروسته پاتې کېږي. دویم مقصد دادی چې د شعر او ادب وده او ترقي په میخانیکي ډول ټولنیزې ترقۍ سره اړه نه لري. کېدی شي چې د هوسا او بسیا ټولنې د شرایطو پرځای په بحراني حالاتو کې ښه شاعران او لیکوال پیداشي.] (۳۲: ۵۶-۵۹).

استاد روهي وایي: ((مولوي صالح محمد هوتک، غلام محی الدین افغان، عبدالعلي مستغني، عبدالهادي داوي، عبدالواسع کندهاری او ملا عبدالباقي کاکړ) ددې پړاو نامتو لیکوال او شاعران دي.

استاد روهي بیا د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې د دویم پړاو چې دی یې د ((ویښتیا)) یا ویښتیایي پړاو بولي، په باب وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**[د امیر امان الله خان ټولنیز، اقتصادي او فرهنگي اصلاحات چې د ترقۍ غوښتونکو روشنفکرانو ارمانونه یې تمثیلول د روحانیونو، ملایانو، خانانو او محافظه کاره سردارانو له مخالفت سره مخامخ شول. که څه هم په وروستیو وختو کې امیر امان الله خان څو گامه په شا ولاړ او پر خپلو ریفورمونو یې نوې کتنه وکړه، خو پاچا په عامه ذهنیت کې وهل شوی و او د ده پرضد فعالیتونه پیل شول. د(۱۹۲۹م) کال د جنوري (۱۳۰۷ل جدي)په میاشت کې حبیب الله نومی (چې د سقاو زوی په نامه شهرت لري) پاچهۍ ته ورسېد. د اکثرو تاریخپوهانو په نظر د امیر امان الله خان د ناکامۍ او زوال یو عمده علت د انگرېزانو تبلیغات او تخریبي فعالیتونه وو چې نه یې غوښتل په هند کې د ازادۍ غوښتونکو لپاره پیاوړې پشتوانه او تکیه گاه جوړه شي. انگرېزانو له شوروي اتحاد سره د اماني دولت د ښو مناسباتو ټینگول هم په خپله گټه نه بلل. سره له دې د اماني رژیم د زوال اساسي علت دا و، چې په افغاني ټولنه کې د نفوذ خاوندان د ریفورمونو مخالف وو او افغاني ټولنه د سایکالوجۍ له مخې د اصلاحاتو منلو ته چا نه وه اماده کړې.**

**د سقاو زوی یو بې سواده لار وهونکی و. د سیاست او ادارې له پلوه د پاچهۍ د کارونو لپاره جوړ نه و. د غبار په قول، دمملکت اداره خو پرېږده د یوه کلي له ادارې څخه هم عاجز و. (۳۷: ۸۲٦) دده د خپلې پاچهۍ په لومړۍ ورځ اعلان وکړ چې زه به په راتلونکې کې د بیت المال پیسې په تعمیرونو او مدرسو باندې ضایع نه کړم او هماغه و چې د معارف (ښوونې او روزنې) وزارت یې لغوه کړ او د ښوونځیو دروازې یې وتړلې. ده د څو اویا تنو ملایانو په لاسلیک سره د امان الله خان د تکفیر فتوا صادره کړه. د تکفیر ځینې دلایل یې دا وو چې امان الله خان د پگړۍ پرځای خولۍ رواج کړه؛ د ږیرې خریلو او دریشي اغوستلو رواج یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهڅاوه؛ د ښځو ښوونځي یې پرانیستل، قمري سنه یې په شمسي واړوله او داسې نور.

د (۱۹۲۹م) کال د اکتوبر پر (۱۰)مه (د ۱۳۰۸ش کال د میزان ۲۳مه) نېټه د کورني اړودوړ په پای کې محمد نادرشاه پاچهی ته ورسېد. محمد نادرشاه د تدریجي اصلاحاتو پلوی و او کوښښ یې وکړ چې له تېرو تجربو څخه په استفادې سره داسې زمینه برابره کړي چې په ارامۍ سره حکومت وکړي. دده لومړی کار دا و چې راډیکال مخالفان له صحنې څخه لرې کړي او د طبقاتي یا صنفي اتحاد له لارې د سوداګرانو، متنفذو روحانیونو، دیني علماوو او اعتدال خوښوونکو روشنفکرانو ملاتړ ترلاسه کړي. د همدغه داخلي سیاست په ادامه کې یې خارجي سیاست هم داسې عیار کړ چې د پردیو د لاسوهنې لپاره بهانه برابره نه کړي، د بېطرفۍ او له ټولو هېوادو سره د برابرۍ، د مناسباتو د ټینګولو تګلارې ته یې د (۱۹۳۱م) کال په اساسي قانون کې قانوني جنبه ورکړه.

محمد نادرشاه ددغه فارمول پر اساس چې ((سره ټول یې کړه، کنټرول یې کړه)) خپل احتمالي پلویان په بېلابېلو ګروپونو کې تنظیم کړل. سوداګران یې دې ته وهڅول چې شرکتونه جوړ کړي او د فابریکو په جوړولو کې ونډه واخلي. د شلمې پېړۍ په دېرشمو کلونو کې پنځلس لوی شرکتونه تاسیس شول. پر (۱۹۳۲م) (بانک ملي افغان) پرانیستل شو چې په هغه کې په سلو کې (۹۴) پانګې په ملي سوداګرو پورې اړه درلوده. د روحانیونو او دیني علماوو د رضایت د جلبولو لپاره یې یو لړ اقدامات ترسره کړل. د ازادو دیني مدرسو جوړولو ته یې اجازه ورکړه، شرعي محکمو ته یې په کافي اندازه ازادي ورکړه، پر خپلو دولتي قوانینو باندې یې د شرعي مهر لګولو لپاره (جمعیت العلماء) تاسیس کړ؛ یو شمېر دیني عالمان په ښوونځیو کې په تدریس لګیا شول. د رسوخ خاوندان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه روحاني شخصیتونه، ستر ملاکان او د سوداګرو د طبقې نماینده ګان یې د ملي شورا او اعیانو مجلس ته جذب کړل. اعتدال خوښوونکي روښانفکران او د (جوانان افغان) د ډلې پاتې کسان یې په ادبي او فرهنګي موسسو کې مقرر کړل؛ په کابل، کندهار او هرات کې ادبي انجمنونه جوړل شو. پر (۱۳۱۱ هـ. ش) (په کندهار کې) د پښتو انجمن په جوړېدو سره د (پښتو) مجلې په خپرېدو پیل وکړ.

پر (۱۹۳۳م) کال (د ۱۳۱۲ش د عقرب ۱٦) چې محمد ظاهر شاه د پاچهۍ پر تخت کېناست په عمده توګه یې د خپل پلار تګلاره تعقیب کړه. د ظاهرشاه د سلطنت په دوره کې ځینو نړیوالو پېښو پر افغاني فرهنګ په تېره پښتو ادبیاتو باندې خپل سیوری واچاوه چې هغه عبارت دی: د المان له نیشنلیزم، د هند د نیمې وچې وېش او د ګاونډي هېواد؛ شوروي اتحاد د کمونیستي ایډیالوژۍ له تبلیغ څخه. د جرمني فاشیستي افکارو په ټولو هېوادونو کې د افراطي یا معتدل نیشنلیزم د رامنځته کېدو امکانات برابر کړل. په افغانستان کې یو معتدل نیشنلیزم منځته راغی، چې عمده مضمون یې ملت پالنه، د تاریخي مواریثو او عنعنو درناوی، حماسي ادب، پرځان وېسا او ملي غرور و.

د هند د نیمې وچې د وېش په وخت کې داسې مفکوره پیاوړې شوه، چې د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په واسطه له افغانستان نه بېله شوې برخه دې بېرته له خپل پلرني هېواد سره یوځای شي. هغه ریفرنډم چې د هند په نیمه وچه کې د انګرېزانو له خوا ترسره شو د افغانانو لپاره د منلو وړ نه و.

د ظاهرشاه د سلطنت په دویمه لسیزه کې پښتو ادب له یوې خوا د پښتو ژبې د تعمیم او پیاوړتیا له جریان سره او له بلې خوا په هېواد کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموکراسۍ او ریفورم غوښتنې له نهضت سره په ملګرتیا کې ډېر ژر نوي پړاو ته داخل شو، چې موږ یې د (ویښتیا پړاو) بولو.

د ویښتیا پړاو تر زیاتې اندازې د ویښ ځلمیانو له سیاسي غورځنګ سره اړه لري. د پښتو ژبې تقریباً ټول نامتو لیکوال او شاعران د ویښ ځلمیانو له سیاسي غورځنګ سره اړه لري. د پښتو ژبې تقریباً ټول نامتو لیکوال او شاعران د ویښ ځلمیانو په سیاسي سازمان کې شامل وو او له همدې لامله د ویښتیا د دورې اکثر شعرونه او لیکنې اجتماعي-سیاسي رنګ لري. د ویښ ځلمیانو په مرامنامه کې د (پښتو ژبې له ترقي ورکول) فقره هم شامله ده. که څه هم د ویښ ځلمیانو له ګوند نه وروسته ځینې نور سیاسي سازمانونه هم جوړ شول چې د (وطن) او (ندای خلق) په نامه نشراتي ارګانونه یې درلودل او سربېره پر دې ځینې نورې جریدې هم د ځینو سیاسي سازمانونو له خوا خپرېدې، خو په عامه ذهنیت کې د ویښ ځلمیانو نوم نقش شوی و او هر تحول غوښتونکی شخص به یې ویښ ځلمی باله. په واقعیت کې د سیاسي سازمانونو مرامنامې یو بل ته ورته وې، یوازې د تاکید ټکی د هغوی د تشخیص نښه ده. د مثال په توګه، د (وطن) ګوند پر اقتصادي اصلاحاتو ټینګار کاوه، ویښ ځلمیانو ملي مفکورو او د (ندای خلق) چلوونکو سیاسي تحول ته زیاته پاملرنه درلوده.))

ښاغلی سرمحقق زلمی هېوادمل هم د ویښتابه پړاو په باب همدې ته ورته نظر لري. هغه وایي: ((د ادبپوهانو د دوره بندۍ له مخې په افغانستان کې د پښتو ادبیاتو ورشو او ودې له مخې دویم پړاو یې د ادبي اثارو خصوصیاتو ته په پاملرنه د ویښتیا پړاو نومولی او د پیل ترښت یې ورته د ویښ زلمیانو له ملي او مترقي غورځنګ سره کړی دی.)) سرمحقق زلمی هېوادمل زیاتوي: ((د پښتو نثر د پرمختیایي مسیر په مطالعو کې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پړاو د اروابناد محمد هاشم خان له استعفی (د ۱۳۲۵هـ ش کال د جوزا ۲۵مه) او د اروابناد سپه سالار شاه محمود خان غازي د صدارت له پيله شروع کېږي.)) (۴۵: ۷۸۳-۷۸۴)**

**استاد روهي ددې پړاو د محتوايي څرنګوالي په باب وايي: ((د ويښتيا د پړاو ادبي ميتود انتقادي رياليزم و چې په عمده توګه د اداري فساد، بيروکراتيزم، اختناق، اتوکراسي، ارتجاع، ظلم او استثمار (په تېره د خانانو او ملاکانو له خوا د بزګرانو د استثمار) پرضد مبارزه په کې منعکسه شوې ده. همدارنګه ددغې دورې په ادبياتو کې د پښتنو او بلوڅو دملي ازادۍ بښونکي نهضت، د ښځو د دموکراتيکو حقوقو، ټولنيزو سياسي ريفورمونو، د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره مبارزه د يادونې وړ ده. د ويښتيا دورې په ادبياتو کې کله کله د سوسيالستي رياليزم بېلګې هم ليدل کېږي، خو دغه وخت مسلط ادبي ميتود انتقادي رياليزم دی چې د شعر، لنډې کيسې، ادبي ټوټو، ډرامې، طنز او ادبي مقالو په بېلابېلو ژانرونو کې يې ځان ښودلی دی.**

**د ويښتيا په ادبياتو کې د فورم له پلوه د روښانتيا د دورې په نسبت ډېر ښه والی راغلی دی. خو سره له دې پيغام او ايډيا ته د بديعې مختصاتو په نسبت زياته پاملرنه شوې ده، مفکورې زياتره نېغ په نېغه بيانېږي او له ادب څخه د تبليغاتو د وسيلې په توګه کار اخيستل کېږي.**

**په دغه وخت کې فورماليزم او (هنر د هنر لپاره) مفکوره وغندل شوه. دا ټکی په اسانۍ سره د پوهېدو وړ دی ځکه چې افغاني ټولنه په اقتصادي او فرهنګي لحاظ دومره ېرته پاتې شوې وه، چې نړه هنر، فورماليزم او فيشني ادب د زغملو وړ نه و. په عمومي توګه ويلای شو چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو معاصر ادب له ریالیزم پېچلی تکنیک نه لري، ساده دی او له بلې خوا د خپل ماهیت له مخې د تبلیغاتو لپاره ښه کار ورکوي.))

(۳۲: ۸۲-۸۸)

استاد روهي د خپلې لیکنې په بهیر کې د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې د ویښتیایي پړاو د نامتو لیکوالو او شاعرانو په باب وايي:

((د ویښتیا دورې په ادبیاتو کې عام تمایل داسې دی چې ادبي څېړونکي هم د لیکوالو په ډله کې حسابېږي او له همدې امله، کله چې ادبي څېړې معرفي کېږي، نو د هغو پر نومونو باندې سترګې پټول یو ډول بې انصافي ښکاري. ددغه تمایل د رامنځته کېدو یو علت دادی چې د ځینو روښانفکرانو په نظر کیسه لیکل یا شعر جوړول د څېړنې په نسبت ساده او ارزانه ښکاري، په تېره بیا چې د پښتو یو زیات شمېر شعرونه او کیسې د ابتذال په سطح کې واقع شوي دي. له بلې خوا په عنعنه یي لحاظ (ادبیات) د بدیعي ادب او همدارنګه د ادبپوهنې په مفهوم استعمالېږي، نو ځکه د بدیعي اثر هستوونکي او ادبي څېړونکي په هماغه یوه ساحه کې په کار بوخت دي.

پخوا له دې چې د ویښتیا دورې نامتو لیکوال او شاعران معرفي کړو، ښایي یادونه وکړو، چې د ویښتیا د پړاو ځینې لیکوال او شاعران د اوښتون په پړاو کې لا زیات فعال شول او زیات اثار یې په وروستني پړاو کې چاپ شول. له دې کبله باید په یاد ولرو چې د شاعر ژوند کله کله له پړاوونو سره سر نه خوري.

**۱- شاعران: الف)** ددغه پړاو نامتو شاعران دادي: ګل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا، سلیمان لایق، عبدالباري جهاني، بهاءالدین مجروح،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد صدیق پسرلی، سعدالدین شپون، قیام الدین خادم، برکت الله کمین، نصرالله حافظ، عبدالله بختانی، مجاور احمد زیار، عبدالروف قتیل، کبرا مظهري، حبیب الله زړه سواند، عبدالله غمخور او سېلاب ساپی.

ب) هغه شاعران چې د اشعارو کمیت یې لږ او کیفیت یې زیات دی: عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، محمد موسی شفیق، عبدالرحمن پژواک، حبیب الله تږی، محمد جان فنا او طالب کندهاری.

ج) له متوسط نه پورته شاعران: ولي محمد مخلص، عبدالخالق اخلاص، سید حسن حسن، شمس الدین مجروح، دوست شینواری، محمد عثمان نژند، مستوره شال، عبدالقدوس پرهېز، غلام رحمن جرار، عبدالمنان دردمند، حبیب الله رفیع، محمد عارف غروال، محمد ارسلان سلیمي، غلام جیلاني جلالي، محمدشاه ارشاد، محمد صدیق رازقي نړیوال، محمد دین ژواک، عبدالرزاق فراهي،غلام دستگیر ړنگ، محمد ابراهیم عطایي، محمد رحیم الهام، عبدالکریم محب، محمد طاهر بینا، عزیزالرحمن ممنون، عبدالمنان ملگری او امین الله زمریالی.

د) نور شاعران: محمد عمر بلبل افغان، محمد عثمان پښتون، نېک محمد پکتیانی، محمد رفیق حبیبي، مېرمن حمیده، محمد ابراهیم خواخوږی، خالد روښان،غلام محی الدین زرمتی، سمسور ساپی، غلام حضرت روغمن، محمد اکبر پامیر، پاینده محمد زهیر، خواجه محمد زهیر، محمد حسن ضمیر ساپی، محمد سلام سلیم، سید حسین سید، محمد گل عتیقي، عطاالله خان عطا، عبدالله نورزی، لعل محمد غریب، غلام حضرت فقید، قاضي عبدالصمد اخوند، محمد رفیق قانع، سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود کارگر، برهان الدین کشککی، سیداحمد گلزار، محمد گل للمه، داودشاه لېوال، محمد صفدر سالارزی، نورالله ولسپال، محمد طاهر رحیمي، محمد طاهر بینا، محمد عارف رهین، عبدالروف مخلص، سید مراد مین، محمد رسول مسلم، عبدالله مسیزی، محمد اکبر معتمد، عبداللطیف منت بار، یوسف مېړنی، جنت گل نثاري، عبدالقدوس نجیب، عبدالحمید نحیف، نعیم جان، نظر محمد اځک، محمد گلاب ننگرهاری، عبدالرحیم ننگیالی، محمد گل نوري، محمد گل مومند، محمد نسیم نوري، عبدالخالق واسعي، فضل محمد وکیل، محمد یوسف ویران، محمد ویس کاکړ، ظهورالله همدرد، غلام نبي هوتک، احسان الله هېر، حاجي الهداد،غلام سخي انتظار، انوارالدین انوار، عبدالغفار بریالی، عبدالرزاق پالوال، جان محمد پکتا، عبدالقادر تېر، جمعه گل، رحیم جان جوهر، پروانه حریق، ملا عبدالمنان حیرت، عبدالاحد خالېز، عبدالجلیل خوښمن، سلیمي کندهاری، سهارگل سهار، محمد نبي شاکر، عبدالحکیم شیدا، سید عبدالقیوم عسکر، محمد ظاهر قانت او په لسگونو نور شاعران چې په اوسني لیکوال (درې ټوکه)؛ (اوسني شاعران) نومي کتاب او د (دا لیکوال او دا څېړې) کتاب کې معرفي شوي دي.

دا باید وویل شي چې د پورتنیو شاعرانو ټول اثار نه دي، کتل شوي کېدی شي چې ځینې یې په لومړۍ یا دویمه کټګورۍ کې شامل شي.

**۲- اوپرا جوړوونکي:** په پښتو ژبه کې عبدالرحمن پژواک او محمد اکبر پامیر اوپرایي شعرونه ویلي دي.

**۳- کیسه لیکونکي:** سعدالدین شپون، موسی شفیق، نورمحمد تره کی، استاد حبیبي، غوث خیبری، احسان الله هېر، کبرا مظهري، قتیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوړیانۍ، یوسف ساپی، سلیمان لایق، عبدالله بختانی، گل محمد نورزی، محمد دین ژواک، حبیب الله تږی او نور.**

**۴- ناول لیکونکي: محمد رفیق قانع، برهان الدین کشککی، غوث خیبری، کبرا مظهري او ابراهیم عطایي.**

**پوهاند رښتین د محمد رفیق قانع (دوه سره مین ورونه) او د برهان الدین کشککی (پټه مینه) ډرامې گڼلې دي اما د حبیب الله رفیع په قول دغه اثار د ناول په کتار کې درېږي. د برهان الدین کشککي یو اثر (په پټه د پټو پلټنې) چې ما کتلی دی هغه یو پولیسي ناول دی. همدارنگه د استاد حبیبي د (تورپېکۍ) کیسه ځینو لیکوالو ډرامه بللې ده، په داسې حال کې چې نوموړې کیسه ډرامې ته ورته ده، کیدی شي چې ډرامه وزمه کیسه یې وبولو.**

**۵- ادبي څېړونکي: عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، غلام جیلاني جلالي، گل پاچا الفت، سعدالدین شپون، حبیب الله تږی (نیازی)، عبدالروف بېنوا، محمد رحیم الهام، قیام الدین خادم، دوست شینواری، ابراهیم عطایي، امین الله زمریالی، عبدالله بختانی، حبیب الله رفیع، مجاوراحمد زیار، معصومه عصمتي، معتمد شینواری، زلمی هېوادمل، مفتاح الدین ساپی، جاج پښتونزوی، زېورالدین زېور او نور.**

**٦- ژبپوهان: محمد گل مومند، محمد اعظم ایازي، عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، قیام الدین خادم او محمد شېرگل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو ژبپوهانو عصري ژبپوهنه په بهرنیو هېوادو کې لوستې او اثار یې لیکلي دي.

حبیب الله تړی (نیازی)، محمد رحیم الهام، مجاور احمد زیار، عبدالحکیم هلالي، دولت محمد لودین او سیدالشاه پولاد.

**۷- هنري نثري او ادبي ټوټې:** الفت، بېنوا، محمد جان فنا، ژواک، بختانی، زیار او نور.

**۸- د ادبي طنز لیکونکي:** الفت، شپون، بېنوا، عبدالاحد وحید او نور.

**۹- فوکلوریستان:** محمد گل نوري، ابراهیم عطایي، حبیب الله رفیع، علي محمد منگل، محمد عارف غروال، عبدالکریم پتنگ، حبیب الله جاج اونور.] (۳۲: ۸۸-۹۳)

د پښتوادبیاتو د معاصرې دورې د لومړي (روښانتیایي پړاو او دویم (وېښتیایي) پړاو له دومره تفصیلي بیان څخه مو هدف دا و چې د دې پړاوونو څرنگوالی اوڅومره والی تشریح او توضیح شي او په دې کې بیا د استاد قیام الدین خادم دریځ او مقام هم څرگند شي.

استاد روهي بیا ددې پړاو د یوه استازي لیکوال په توگه د استاد قیام الدین خادم یادونه کوي، هغه د دې پړاو او د ادبیاتو په ټولو ډولونو او په هغو پورې په اړوندو علومو کې شریک گڼي او د دې برخې یو ښه استازی. استاد روهي، استاد قیام الدین خادم، ددې پړاو د یوه لیکوال، شاعر، څېړونکي او ژبپوه په توگه معرفي کوي او د هغه دریځ پیاوړی گڼي، ښاغلی سرمحقق زلمی هېوادمل هم په ویښتیایي پړاو کې د استاد خادم یادونه کوي او هغه هم په ژباړه او په هنري نثر لیکنه کې د دې پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو مخکښ لیکوال ګڼي. استاد روهي بیا د هغه په باب په ځانګړي بحث کې وایي:**

**((کله چې د ویښ ځلمیانو د وخت په ادبیاتو باندې بحث کېږي، نو د لومړي ځل لپاره د حبیبي، الفت، بېنوا، خادم، رښتین او رشاد نوومونه په ذهن کې تداعي کېږي، ځکه چې دوی د پښتو د معیاري ژبې او لیکدود (املاء) او د ادبي سبک په پالنه کې ډېر ستر خدمتونه ترسره کړي او زیات شاګردان یې روزلي دي. لوی استاد حبیبي او فاضل استاد رشاد دواړه د ادبي او تاریخي څېړنو سرلاري او په خپله ساحه کې د تبحر په لحاظ بې ساري دي. محترم استاد پوهاند رښتین هم په ګرامر او ادبي تاریخ کې لوی لاس لري. الفت، بېنوا او خادم که څه هم ادبي څېړنې ترسره کړي دي، خو هغوی زیاتره د ویښتیا د دورې د نامتو شاعرانو په توګه شهرت لري.**

**که موږ په ادبي تاریخ کې د پوهاند رښتین او پوهاند رشاد نه مخکې د جهاني یادونه کوو، دلیل یې دادی چې په ادبیاتو کې هنر او بداعت له علم او تحقیق نه مخکې راځي. که څوک د ادبي څېړنو تاریخ لیکي هلته ښایي د ځینو نامتو شاعرانو او کیسه لیکونکو هېڅ یادونه ونه شي.))**

**استاد روهي تر دغې لنډې یادونې وروسته د استاد قیام الدین خادم پر ژوند لیک رڼا اچوي او وایي:**

**[قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی او د ملا علي ګل اخونزاده لسمی دی. د (اوسني لیکوال) مولف لیکي چې: (( ښاغلی قیام الدین خادم په اوسنیو پښتنو لیکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري او د افغاني پوهانو او ادیبانو په لومړۍ ډله کې درېږي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صاحب د پښتو، پښتونولۍ او د هېواد له ترقۍ سره ډېره مینه درلوده، د ښو احساساتو خاوند و او د لهجې صراحت یې درلود.

استاد خادم په (اوسني لیکوال) کې خپل ژوند لیک خپور کړی دی، په یوه برخه کې یې د (زما په حیات انتقادات) ترسرلیک لاندې داسې لیکلي دي: په ژوندانه کې هېڅوک له انتقاده نه دي خلاص هغه انتقادونه چې په ما یې خلک کوي دادی:

۱- وایي نه منونکی سړی دی. دا انتقاد په ما باندې زما والدې هم هر وخت کاوه، مګر زما جواب به دا و چې (که زه منونکی وای خو زه به هم د نورو خلکو غوندې وای.) په ورکوټوالي به مې د مور سره تل په دې جنګ و، دې به ویل: (خلک داسې کوي او ته داسې.) ما به ویل چې: (خلک راته مه یادوه خلک خو هر څه کوي!!!)

۲- وایي ډېر بحث کوي او نه قانع کېږي.... دا خبره نه شم فیصله کولای چې دا د خلکو قصور دی او که زما عیب؟ استادان به هم زما پوښتنو ته اریان وو، زه په خپله هم په دې قانع یم چې بحث مې خوښ دی، مګر په اساسي او اصولي خبرو. نه مطلق بحث...

۳- وایي ((سر شوخه دی)) مګر دوستان مې وایي ادبي شجاعت لري. په ورکوټوالي کې راته خلکو ویل چې ((کلان کار دی)) ولې په ازادۍ خو زه په خپله هم قایل یم او دا ځکه چې د طمعې بار زما په ورمېږ نه شته.

۴- هو، په دې یو ګناه زه په خپله هم قانع یم چې هغه حقیقت مینه باید وبولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلک په امورو کې د نورو نورو ملاحظاتو مراعات کوي، مگر زه په حقیقت او واقعیت پښې نه شم ایښودلای، ما خپل دغه عادت په هغه نظم کې چې (د شاعر مسلک) یې نوم دی تصویر کړی دی.**

**زه دا ټولې خبرې اورم مگر د ځان سره وایم: ((ډېرې خولې ډېرې خبرې)).**

**دا پورته لیکنه د خادم صیب د نثر نمونه هم کېدای شي. دده په نثر کې ایجاز لیدل کېږي او د ځینو لیکوالو په شان د حق الزحمې لپاره خبره نه اوږدوي، بلکې نېغ په نېغه خپل مطلب بیانوي.))**

**استاد روهي بیا په خپله لیکنه کې داستاد خادم د اثارو یادونه هم کوي او (د شاعر مسلک) په نامه د هغه یو شعر دهغه د شاعرۍ د بېلگې په توگه راوړي. په دې شعر کې د خادم صیب د عمومي تفکر یو ټولیز جاج لیدل کېږي، شاعر په دې شعر کې د حقیقت د بیان لپاره پر خپل عزم ټینگار کوي، د حق له پاللو بل څه نه غواړي. دازادې مفکورې خاوند دی، د انسان بندگي نه مني، چاپلوسي او که څوک یې دمقام سپکه وکړي، نو دی یې دښمنۍ ته تیار دی. همداسې د دې شعر پیغامونه په بل پسې امتداد پیدا کوي. ښه به وي چې دلته دې شعر ته لږ تم شو.**

## د شاعر مسلک

صحیح لاره به ښایم که وم وم که نه وم نه وم
رښتیا رښتیا به وایم که وم وم که نه وم نه وم
د حق د پیروی نه مې بل څه په زړه کې نشته
چې څه یمه همدا یم که وم وم که نه وم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد یــــم زېږېــــدلې بنــــدګي کـــولی نشـــم
بنــده د خپــل مــولا یــم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
په بده و خوشامندو مې څوک خوښ نه دی چې غټ شم
کــه غــټ یـم خوهمـدا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
چې څـوک غـواړي څـه سـپکه مـې د قـام د څـه جهتـه
دښـــمن د هغـــه چـــا یـــم کـــه وم وم کـــه نـــه وم نـــه وم
پـه ماتـه کښـتی ناسـت یـم طوفانونـه مـی پـه مـخ کـې
پــه دغــه لار یــې بیــا یم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
خدمت د خپلې خاورې ، قـام، وطـن زمـا مسـلک دی
پــه دې مینــه بــه پــا یــم کــه وم وم کــه نــه وم نــه وم
پـه ټینـګ عهـد و پیمـان چـې مـې بیعـت ورسـره کـړی
دده پـــه تـــولا یـــم کـــه وم وم کـــه نـــه وم نـــه وم
لـــرم ښـــکلي تخمونـــه چـــې ګلـــزار شـــي پښـــتنو تـــه
پـــه دغـــه تمنـــا یـــم کـــه وم وم کـــه نـــه وم نـــه وم
د نـاز پـه خـوب ویـدې غـونچې بـه ورو ورو ویښـومه
خـــادم بـــاد د ســـبا یم کـــه وم وم کـــه نـــه وم نـــه وم.

استاد خادم که څه هم د روښانتیایي پړاو د وروستۍ برخې او د ویښتیایي پړاو په اساسي لیکوالو او شاعرانو کې حسابېږي، خو ددې دورې تاثیرات بل پړاو ته هم انتقالېږي. د استاد خادم افکار او اثار د دې بل پړاو پر لیکوالو او اثارو خپل خپل اغېز ښندي او دا تاثیرات ان تر ننه محسوس دي. زه چې دا اثر لیکم، دا په خپله د پښتو ادب پر اوسني بهیر د استاد خادم د فکر، هنر او کار اغېز څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد روهي د معاصرو ادبیاتو درېیم پړاو د (اوښتون پړاو) بولي ځینې نور لیکوال بیا دې ته (اوښتیایي) پړاو هم وایي. استاد روهي په خپله لیکنه کې ددې پړاو نامتو لیکوال هم معرفي کړي دي.

(۳۲: ۱۵۴-۱۵۹)

ددې تفصیلي لیکنې په سر کې موږ د یو شمېر لیکوالو او شاعرانو نومونه واخیستل،چې هغوی په روښښانتیایي پړاو پورې اړه درلوده،خو پر ویښتیایي پړاو یې خپل خپل تاثیرات درلودل. دغه راز د ویښتیایي پړاو د لیکوالو تاثیرات بیا اوښتیایي پړاو ته راورسېدل، له هغې جملې څخه د دې پړاو د یوه استازي لیکوال استاد قیام الدین خادم افکار پسې وغځېدل.

استاد خادم نه یوازې د ویښتیایي پړاو د یوه مهم لیکوال او شاعر په توګه مطرح و، بلکې تاثیرات یې د اوښتیایي پړاو پر لیکوالو او شاعرانو هم څرګند وو. دده یو زیات شمېر اثار همدې اوښتیایي پړاو کې چاپ شوي او تر ننه پورې یې تاثیرات روان دي. په تېره بیا دا چې په همدې اوښتیا یي پړاو کې له ملي ارزښتونو، ملتپالنې افغانیت او پښتو ژبې سره ډېر زیات ناوړه چلندونه ترسره شول، نو دا مهال د خادم صیب د اثارو د محتوا ارزښت، لرلید او اهمیت لاپسې په ډاګه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولس په ویښتابه کې
# د استاد خادم د مفکورو اغېزه

شاعر یا لیکوال خپله یو ویښ موجود دی، په ټولنه کې تر ټولو زیات حساس او دراک انسان دی، خپله هم تر ټولو لومړی وېښېږي او هڅه کوي چې نور هم له درانه خوبه راویښ کړي. د خادم صیب د (شاعر مسلک شعر) زموږ ددې ادعا ښه ثبوت دی:

د ناز په خوب ویدې غونچې به ورو ورو ویښومه
خادم باد د سبا یم، که وم وم، که نه وم، نه وم

لکه څنګه چې مو د خادم صیب په پېژندنه او همدارنګه په یو بل ځانګړي بحث کې یادونه کړې چې خادم صیب د ویښتیایي پړاو یو شاعر او لیکوال دی، دی هم د یو چا له خوا راویښ شوی او پالل شوی، نو ده هم نور څوک راویښ کړي او خوځولي دي.

خادم صیب لا هغه وخت د نوي نسل پر ویښتابه لاس پورې کړ چې په لواړګي کې یې په یوه دیني مدرسه کې پر تدریس لاس پورې کړ، دی خپله لیکي چې ما په درېو میاشتو کې زده کوونکي خواننده او په شپږو میاشتو کې ((خواننده او نویسنده)) کړل. د ښوونې او تدریس په بهیر کې یې فکر د ولس د نوي نسل په روزنه کې اغېزناک رول ولوباوه، پر ټولنه باندې د ده د فکر تاثیرات هغه وخت لا پسې زیات شول چې دی رسنیز ډګر ته داخل شو. په (طلوع افغان، زېري، هېواد، اصلاح، اتحاد مشرقي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نورو خپرنیزو، څېړنیزو او علمي مرکزونو کې د استاد خادم دندو او مسولیتونو هغه د دې جوګه کړ چې خپل افکار او نظریات خلکو ته ورسوي. هغه وخت د چاپي رسنیو لپاره د موثریت ښه زمینه برابره وه. غږیزې رسني کمې وې او لیدنۍ رسنۍ (ټلوېزیونونه) ښخي رامنځته شوي نه وو، نو ځکه خو چاپي رسنیو د خلکو پر ذهنیت ډېر زیات تاثیر درلود، په ټول هېواد کې امن او سولې هم د رسنیو له لارې خلکو ته د لیکوالو د پیغامونو رسول اسانه کړي وو. یوې ارامې ذهني فضاء په خلکو کې د مطالعې شوق زیات کړی و. خادم صیب د خپل وخت تر ټولو معتبرو رسنیو کې د مسول چلوونکي په توګه کار کړی دی.

دا رسنۍ د هېواد ګوټ ګوټ ته رسېدلې او د خلکو د ذهنیت په روښانتیا کې یې خپله اغېزه ښندله، خادم صیب په مهالنیو خپرونو کې نه یوازې د خپلو شعرونو او متفرقه لیکنو له لارې د خلکو د اذهانو په روښانتیا کې خپله ونډه لرله، بلکې د خپلو مستقلو، علمي، ادبي او ټولنیزو اثارو له لارې یې  هم د خلکو پر فکر او ذهن خپل اغېز درلود. هغه  په ټولنه کې د سالمو اخلاقو د تبلیغ او ترویج په خاطر د (مکارم الاخلاق) مهم اثر وژباړه، دا اثر د دیني او اخلاقي روزنې لپاره مهم اثر دی.

په دې کې د اخلاقو موقعیت، اخلاق او ایمان، اخلاق او عبادات، دنیا او اخرت، خیر او واجب، جوړتیا او دارو، نظافت او طهارت، علم او عقل، صبر او شجاعت، غضب او اعتدال، رښتیا او دروغ، سجیه او عمل، کرنه او رغونه، اقتصاد او اسراف او ګڼ شمېر نور مسایل څېړل شوي دي.

ده د پښتو د ادبي تاریخ په باب اثار ولیکل او دې اثارو د پښتو ژبې له ادبیاتو او تاریخ سره د هېواد ځوان نسل اشنا کړ،  تر دې دمه د ادب تاریخ په باب ډېر کم اثار لیکل شوي وو، څرنګه چې دا اثر د لومړنیو اثارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جملې څخه وو، نو ځکه خو یې پر لوستونکو او ځوانو لیکوالو خپل خپل تاثیرات درلودل. نه یوازې د پښتو ادبیاتو د تاریخ په باب یې ګټور اثار ولیکل، بلکې د دې ترڅنګ یې د ادب او په تېره بیا د پښتو ادب په باب هم تفصیلي او تحلیلي لیکنې او اثارو رامنځته کړل چې دې اثارو هم د ادبیاتو د بېلابېلو خواوو په پېژندنه او اروزنه کې خپل خپل نقش درلود او ځوان نسل یې د خپلو ادبیاتو له بېلابېلو خواوو سره اشنا کړ.

استاد خادم دینپوهنه او اسلامپوهنه کې هم ګڼ شمېر اثار ولیکل او په دې ډول یې د دین له اصلي ماهیت سره خلک اشنا کړل، روزنیز یا تدریسي اثار یې هم ولیکل، دپښتو ژبې تدریسي اثار یې په ښوونځیو کې د نصاب یوه برخه شول او له دې لارې د میلیونونو زده کوونکو ذهن ته ورسېدل.

ما خپله شخصاً (۴۰) کاله دمخه د استاد خادم تعلیلي تدریسي اثار (د پښتو قرائت) په دویم، درېیم او څلورمو ټولګیو کې لوستی و او څلوېښت کاله وروسته یې هم زما پر ذهن خپل مثبت، ملي او روزنیز اغېز پاتې دی. ان تر دې چې اوس یې زه د استاد خادم پر ژوند او بیا د افکارو پر نړۍ لید باندې د دوکتورا (PhD) دې اثر لیکلو ته وهڅولم.

اصلاحي او فلسفي اثارو یې د خلکو د ذهني کچې په اوچتیا کې خپل رول ولوباوه ژورنالیستیکي لیکنو یې وخت پر وخت خلکو ته مثبت پیغامونه او الهامونه ورسول، هېوادوال یې د هېواد له ورځنیو حالاتو باخبره وساتل، د ځوانو لیکوالو روزنې او پالنې ته یې لاره اواره کړه، د ویښ زلمیانو د غورځنګ په جوړښت کې د ده له خوا لیکل شوې طرحې محوري رول ادا کړ، د دې علت دا  و چې د ده طرحه پر ملي احساساتو او اساساتو ولاړه وه. د ولس او حکومت ترمنځ یې د ارتباطي پله حیثیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم غوره کړی و. انتقادي افکارو او اثارو یې د ولس پر ذهنیت مثبت تاثیر وکړ، په خلکو کې یې ملي مفکوره تزریق کړه، هېڅ لیکوال به د ملي تفکر او ملي ایډیالوژۍ تبلیغ ته دومره وخت نه وي ورکړی، لکه استاد خادم چې ورته ځومره پاملرنه کړې وه.

د پښتونستان داعیه د ده د ملي تفکر یوه اساسي برخه وه، پر پښتون ولس حاکم اغزن چاپېریال او تنګظري، له علم څخه لرېوالی یې په کلکو ټکو وغانده، ده د پیغام د مستقیم بیان لپاره اخلاقي جرئت درلود او د روهي صیب په وینا یې انتقادي ریالېزم په اثارو کې څرګند و، ژبه یې له تکلف او تصنع څخه پاکه وه، نو ځکه خو یې عوامو او خواصو دواړو د ده له افکارو او اثارو ګټه پورته کولای شوه، لنډه دا چې د استاد خادم څه په وس کې وو، هغه یې له خپل ولسه ونه سپمول او د هغو د ذهنونو په روښانتیا کې یې اساسي نقش ولوبوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خادم په اثارو کې
# فکري تاثر، تقلید او تولید

کله چې موږ دیوه لیکوال اثار مطالعه کوو؛ د هغه فکري او محتوایي تولید څېړو، نو هېڅکله هم دا حکم نه شو کولای چې ووایو، د دې لیکوال ټول فکري یا هنري تولید خپل دی او یا یې هم ټول په مطلق ډول له نورو رااخیستی دی. څرنګه چې په طبیعت کې هېڅ شی په مطلق ډول خالص نه دی او هر شی د یوه بل شي له امتزاجه رغېدلی، دغسې انسان هم دیوه ټولنیز موجود په توګه په خپله هم له ټولنې تاثر اخلي او هم پر نورو خپل اغېز مني. په انسانانو کې بیا لیکوال او شاعران د ټولنې یو داسې ځانګړی قشر دی چې پوټکی یې ډېر نازک دی، دا قشر ډېر حساس دی او د یو شي پر وړاندې ډېر ژر حساسیت ښیي، دوی دا غبرګون د خپلو اثارو په وسیله څرګندوي. کله کله دا غبرګون داسې وي چې د شاعر او یا لیکوال د خپل فکر زېږدنده وي او کله کله یې د بل چا له فکر څخه د اغېزمنۍ له کبله د مستقیم او نا مستقیم اغېز په وسیله ترسره کوي. که چا د خپل فکر ترڅنګ له بل څخه هم اغېز اخیستی وي، د هغه فکر او خپل خیال یې هم ورسره ملګری کړی وي او په ډېر لطیف او راښه ډول د خپل پیغام په وسیله دا غبرګون څرګندوي، نو دا د قوي لیکوالو یوه ځانګړنه ده. په دې خاطر مشهور انګرېز لیکوال (فرانیسس بېکن) شاعران پر درېو ګټګوریو وېشلي دي: ((ځینې د مېږیانو په شان ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت داني راټولوي، ځيني د غڼو(عنکبوت) په څېر هر څه له ګېډې را وباسي او ځينې نور د مچيو په شان د ګلانو شيره راغونډوي او په شاتو يې بدلوي.))

(۴۲: ۱۳)

د استاد قيام الدين خادم په باب هم د (فرانيسس بيکن) دا وروستۍ خبره تر ډېره حده د تطبيق وړ ده. خادم صيب له کوچنيتوبه تر بوډاتوبه ټول عمر له قلم، کتاب او مطالعې سره تېر کړ، هغه د خپل وخت اکثره مروجه علوم زده کړل، د سيمې درې غټې علمي ژبې: عربي، اردو او دري يې زده کړې او پښتو خو يې خپله مورنۍ ژبه وه، نو ده ته د مطالعې يوه پراخه ساحه او د اخځ مهمې سرچينې ممکنې شوې، دی لکه د شاتو د مچيو په شان پر رنګارنګ ښونو وګرځېد، خپل فکر او خيال يې ښه پوخ کړ او د خپل فکر ثمر يې ټولنې ته وړاندې کړ. که خادم صيب تر ليکوالۍ دمخه پر يادو ژبو نه پوهېدلای او له انګليسي څخه يې هم تر يوه حده ګټه نه شوای پورته کولای، نو پوره باور دی چې داسې اثار يې نه شو پنځولای او نه يې د فکر او مطالعې ساحه دومره پراخېدلای شوه. دده په اثارو کې يوه پاموړ برخه د ژباړې هم ده، چې ده له عربي، فارسي او اردو څخه پښتو ته ترسره کړې ده. دا چې د خپلو تخليقي اثارو په پنځونه کې يې د نورو ژبو له محتوايي پانګې څخه څومره ګټه پورته کړې، د ده د اثارو له قوت او ظرفيت څخه په ښه ډول څرګندېږي. د خادم صيب له اثارو څخه په ډاګه جوتېږي، چې د سيمې او نړۍ د يو شمېر مطرحو ليکوالو، مفکرينو او مبارزينو له افکارو او اثارو څخه متاثر شوی دی. دی خپله وايي چې ما د علامه اقبال له اثارو څخه اغېز منلی دی. استاد ښېنوا هم دې ټکي ته اشاره کوي، هغه وايي: ((د استاد خادم فلسفي افکارو کله د علامه اقبال د افکارو رنګ اخيستی دی او کله هم د رابندرنات ټاګور، معنوي فلسفې ته ورته والی لري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په مجموعي ډول چې استاد خادم له کوم فکري او معنوي چاپيريال او د موثرو اشخاصو له افکارو څخه تاثر اخيستی هغه پر درېو کټګوريو وېشلای شو:**

**الف- خادم او خپله ټولنه**

**ب- کورني ليکوال او موثر شخصيتونه**

**ج- نړيوال ليکوال او مهم شخصيتونه**

**لومړی خپله ټولنه او پر هغې حاکم چاپېريال دی چې د ده د اثارو او افکارو د پنځونې اصلي سرچينه ده، دويم کورني شاعران، ليکوال او موثر شخصيتونه دي چې په يو نه يو ډول يې د ده پر افکارو او اثارو تاثير کړی. درېيم نړيوال ليکوال او مهم سياسي او ټولنيز شخصيتونه دي چې استاد خادم د هغوی له افکارو، اثارو په مستقيم او نا مستقيم ډول الهام اخيستی او د ده د اثارو د پنځونې او يا هم هغو ته د ليدلورو او تګلورو د ورکولو سبب شوي دي.**

**دلته غواړو دغه درې واړه برخې په ترتيب سره وڅېړو؟ کومو برخو دده د اثارو له فکري توليد سره مرسته کړې، کومو پر ده اغېز کړی، د نورو له افکارو څخه خپله خادم څه ډول ګټه پورته کړې ده او ولې يې هغو ته په خپلو اثارو کې نغوته کړې او يا يې ورته خپل ځېړنيز اثار وقف کړي دي.**

## الف- خادم او خپله ټولنه:

**د بل هر ليکوال په شان د خادم صيب د اثارو د پنځونې او فکري توليد لپاره تر ټولو لومړۍ او مهمه سرچينه خپله ټولنه ده. شاعر هم داسې دی، لکه کب. کب چې له اوبو لرې شي، نو ژوند يې ناممکن شي. شاعر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لیکوال هم چې کله له خپلې ټولنې لرې شي، نو نه یې شخصیت جوړېدی شي او نه هم لیکوالي کولای شي.

شاعر باید خپل مخاطب ولري، شاعر له ټولنې یو څه اخلي، څه ترې زده کوي او څه بېرته ورته زده کوي. شاعر د ټولنې ناخوالې، تجربې، اندونه او پندونه ټول سره راټولوي، هغه له خپل خیال او فکر سره وصلوي، له ذهني فلتره یې تېروي او بیا یو صیقل شوی نتیجه او یوه ثمره خپل ولس ته وړاندې کوي، نو د خادم صیب تر ټولو لومړۍ روزنیزه مدرسه د هغه خپله ټولنه ده. د دغه فکري تولید او روزنیزې مدرسې لومړني پړاوونه او درسونه د ده له خپلې کورنۍ څخه پیلېږي. که خادم صیب په یوه علمي او دینپاله کورنۍ کې نه وای زېږېدلی، نو طبیعي خبره ده چې قیام الدین خادم به اوسنی خادم نه و. پلار یې په کوچنیتوب کې د قران کریم زده کړو ته کېناوه، دیني علوم او لومړنۍ زده کړې یې پرې وکړې، همدا هڅې د ده د روښانه راتلونکي، فکري بلوغ او فکر تولید لپاره لومړني اساسات شول، تر دې زده کړو وروسته یې چې د پښتو او دري ژبو د نظم کتابونه ولوستل، نو ذهن یې نور هم پسې وغوړېد، کله چې له خپلې کورنۍ او خپل کلي لرې لرې،(بوډیالۍ، لړه مورې، کنډې باغ، اگام، حصارک، سرشاهي، ارغچ، کلیغو، کابل، پېښور، مکهد، ډهلي، لودیانې) او نورو سیمو ته یې په علم او نورو زده کړو پسې سفرونه وکړل، نو د ذهن او فکر ساحه یې نوره هم پراخه شوه، د خادم په ذهن کې پټ استعداد ورو ورو په راڅرگندېدو شو. په دې سیمو کې ده د وخت اکثره مروجه علوم لکه صرف، نحو، منطق، حکمت، فقه، تفسیر، حدیث، مناظره، اصول، طب او نور علوم ولوستل، نو فکري پانگه یې نوره هم پسې زیاته شوه، دې سفرونو کې ده ډېرې ستړیاوې او د روزگار ډېرې ناخوالې ولیدلې، د روزگار نوې تجربې او نوي عبرتونه یې ترلاسه کړل، د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړلېچن مسیر ورته څرګند شو. دا سفرونه که له یوې خوا ده ته سترې کوونکي وو، نو له بلې خوا يې دی د دې جوګه کړ چې پارسي، اردو او عربي ژبې زده کړي او وروسته د خپل فکري تولید لپاره له دې سرچینو څخه د اساسي وسیلو په توګه کار واخلي، کله چې د علم له سفره راستنېږي، نو بیا په خپل کلي ولس کې ورته د عملي ژوندانه عملي دنده ورپه غاړه کېږي.

د معلمۍ یا ښوونکي دنده اخلي، دا نو هغه مرحله ده چې ده تر دې دمه څه په خپل ذهن کې راټول کړي وو، باید چې بل ته يې انتقال کړي، د فکري تولید او فکري وېش لړۍ پیلېږي، د روزګار ستونزو دی یو ځل بیا سفر ته اړ باسي، بیا د علم په لټې پسې هندوستان ته ځي، تر دې زده کړو وروسته بیا ښوونکی شو، تر دې دمه يې زده کړې او نورو ته د زده کړې څو تجربې پسې غبرګې کړې، تر ښوونې او نورو ته تر زده کړې وروسته بیا ورته په کندهار کې د دندې زمینه برابرېږي، د کندهار د ادبي انجمن په غړیتوب سره يې منظم ادبي کاروان پیلېږي، البته تر دې دمخه يې د تدریس او لیکوالۍ تجربه په لواړګي او نورو سیمو کې هم ترسره کړې وه، هم يې خپله لیکوالي او شاعري پیل کړې وه او هم يې نورو ته ور زده کړې وه. تر هغه وروسته د یوه بل ادبي خدمت لپاره وګومارل شو؛ د زېري جریدې مسول شو، دا نو داسې یو مهال و چې خادم صیب مجبور و، هم خپله لیکنې وکړي او هم يې له نورو لیکوالو راټولې کړي، ایډېټ يې او جریدو کې يې چاپ کړي. د عملي او نظري لیکوالۍ او د هغې د پخولو لپاره ډېره ښه زمینه او تجربه ورته مساعده شوې وه. یو ګام نور هم اوچت شو، د پښتو ټولنې د تالیف او ترجمې د مدیر په توګه يې مسولیت او کار نور هم زیات شو، استاد خادم دلته لا پسې مجبور شو چې پر خپل ذوق سربېره د رسمي مکلفیت له مخې هم د اثارو په پنځونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه لاس پورې کړي، خادم صیب ته دا ځای د فکري تولید لپاره مناسب چاپېریال شو او یو شمېر مهم اثار یې همدلته ولیکل او ځینې یې وروسته بیا خپاره کړل.**

**د پښتو ټولنې د مرستیال په توګه یې دندې، کاري مسولیت نور هم پسې لوړ کړ او فرهنګي کار ته یې ورته لا پسې زمینه برابره کړه، پر (۱۳۲۱ل) کال د (اتحاد مشرقي) مدیر شو، نو نه یوازې خپل اشعار او نثرونه یې په دې جریده کې خپاره کړل، بلکې د نورو لیکوالو او ځوانو شاعرانو د اثارو خپراوي ته یې هم لاره اواره کړه، دا همغه جریده وه چې د ده لومړنی نظم یې خپور کړی و، طبیعي خبره ده چې په یوه خپرونه کې د کوم شاعر لومړی شعر خپور شوی وي، هغه یې د تلپاتې خاطرې په توګه په ذهن کې پاتې کېږي، د خادم صیب لومړی نظم په همدې جریده کې خپور شوی او بیا داسې وخت راورسېد چې دی خپله د همدې جریدې مسول مدیر شو او د نورو لیکوالو د اثارو خپرولو مسولیت ورپه غاړه شو. تر هغه وروسته په (دایرة المعارف) کې پر دنده وګومارل شو. دلته د ده علمي مسولیت او صلاحیت نور هم پسې زیات شو، دلته یې هم مهم فرهنګي کارونه ترسره کړل، د دایرة المعارف ځینې برخې یې هم پښتو ته وژباړلې، تر دې وروسته یو لړ نور اداري مسولیتونه ورپه غاړه شول، چې هغو هم د ده د فکري او ټولنیز بلوغ په لوړتیا کې خپل نقش ولوباوه. کله چې تر دې وروسته پر (۱۳۲۵ل) کال یو ځل بیا کندهار ته لاړ او هلته د (طلوع افغان) جریدې مسول مدیر شو، نو دا مهال یې هلته د موجوده چاپي وسایلو له لارې یو شمېر اثارو ته د چاپ زمینه برابره کړه. تر دې وروسته چې د کابل مجلې مسول مدیر شو، نو دې مجله کې یې هم خپلې ګڼ شمېر لیکنې چاپ کړې او د نورو لیکوالو اثارو د چاپ لپاره یې هم کارنده هڅه، هاند او کوښښونه وکړل. یو ځل بیا یې په نورو سیمو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له اداري مسولیت څخه نوې تجربې ترلاسه کړې. په (اصلاح) ورځپاڼه کې یې د مدیر په توګه لیکنې او تجربې لاپسې پخې شوې او هغه تجربې یې چې په (اتحاد مشرقي، طلوع افغان، زېري جریدې، کابل مجلې) او (پښتو ټولنه) کې ترلاسه کړې وې، یو ځل بیا یې د پخو تولیدي وسایلو په توګه وکارولې. اصلاح ورځپاڼه کې یې په سلګونو لیکنې خپرې کړې چې هم یې ژورنالیستیکه بڼه درلوده او د ځینو یې هنري جوهر هم ډېر پیاوړی و، د پښتو تدریساتو د غړي په توګه دده هغه تدریسي تجربه چې د ځوانۍ په پیل کې یې ترلاسه کړې وه، لاپسې پخه کړه. د پښتو ټولنې غړیتوب او بیا وروسته هلته د علمي رتبې ترلاسه کولو د استاد خادم فکري بلوغ نور هم پسې زیات کړ، تر دې وروسته یې د هېواد د ورځپاڼې د مدیر په توګه یو ځل بیا له ژورنالېستیکو کارونو سره مخ شو. د دې فرهنګي تجربو او کارونو ترڅنګ استاد خادم سیاسي فعالیتونو سره هم خاصه مینه لرله، یو ځل د ولسي جرګې لپاره په ټاکنو کې د هغه وخت د ناسمو سیاسي او ټولنیزو شرایطو له امله بریالیتوب ته پرېښودل شو، خو وروسته بیا د مشرانو جرګې انتصابي سناتور په توګه ورته زمینه برابره شوه. استاد پردې مهال ګڼ شمېر سیاسي او ټولنیزې لیکنې ټولنې ته وړاندې کړې، دا هم د ده د فکري تولید یوه خاصه دوره ګڼل کېدی شي. تر هغه وروسته کله چې پر کور کېناست بیا یې هم له لیک، فکر او تولیده لاس وانخیست، هر وخت به پر لیکنو مصروف و، ان کله چې په زندان کې و، هم یې خپلې لیکوالۍ ته دوام ورکړ، تر هغه پورې چې د بلې نړۍ سفر یې پیلوه، استاد له قلم او کتاب سره ملګری پاتې شو. ډېر کم لیکوالان داسې پاتې کېږي چې د ټولنې او روزګار له ناخوالو سره سره یې په دومره منظم او سستماتیک ډول له علمي، کلتوري، روزنیزو، ښوونیزو او څېړنیزو موسسو سره کار کړی وي او په منظمه توګه یې خپل اثار لیکلي وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې لیکنې د دې تفصیلي اړخ له بیان څخه زموږ هدف دا و، له هغې ورځې چې استاد خادم قلم په گوتو کې نیولی، بیا تر هغې ورځې پورې چې گوتو یې کار کاوه، ده قلم له گوتو نه دی لرې کړی او په دې ټول عمر کې یې گڼ شمېر اثار پنځولي چې شمېر یې تر (٦٠) عنوانو بېلابېلو اوړي.

د دې برخې د نتیجې په توگه ویلای شو چې د خادم صیب د اثارو د پنځونې او فکري تولید لپاره تر ټولو لومړی، مهمه، هر اړخیزه او بڼایه سرچینه خپله همغه ټولنه وه چې خادم صیب په کې خاپوړې کړې وې او بیا یې تر وروستۍ سلگۍ پورې همدلته په کې ژوند وکړ، له کوره تر گوره په خپله ټولنه کې پاتې شو او د ژوند (۷۲) کلونه یې په کې سترې خو هدفمن سفر ترسره کړ. څرنگه چې انسان یو ټولنیز موجود دی، نو طبیعي خبره ده چې دی خپله هم له نورو تاثر اخلي او پر نورو هم خپل اغېز ښندي، خادم صیب هم له دې حالته مستثنی نه دی، له نورو یې هم فکري تاثر زغملی او نورو ته یې هم خپل فکر، هنر او پیغام انتقال کړی دی. پر خپله ټولنه سربېره، سیمه او نړۍ کې نور حالات، موثر اشخاص او داسې جریانونه او فکري بهیرونه هم شته چې د ټولنې پر بل هر مطرح شخص په تېره بیا پر لیکوال او شاعر خپل متقابل اغېز کوي.

## ب- کورني لیکوال او مهم شخصیتونه:

استاد قیام الدین خادم سره په ټولنیز، سیاسی، اداري او کاري چاپېریال کې داسې موثر او فکري اشخاص، لیکوال، شاعران او مهم شخصیتونه وو چې د ټولنیزې راشې درشې له امله یې پر استاد خادم خپلې فکري او ادبي اغېزې پرې ایښې وې او یا هم استاد خادم پر هغو خپل تاثیر ښندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول تاثیرات خپله د همغو لیکوالو په هغو اثارو او لیکنو کې هم څرګندیږي چې هغوی د استاد خادم د فکر او هنر په باب لیکلي دي او خپله د استاد خادم په اثارو کې هم د دې ځرک شته چې ده د نورو کورنیو لیکوالو او مهمو اشخاصو په باب لیکلي دي. له دې اشخاصو څخه استاد خادم له فکري پلوه په مستقیم او نا مستقیم ډول اغېزمن شوی، نو ځکه یې په خپل نظم او نثر کې د هغوی یادونه کړې ده. که هغوی پر ده خپل خپل اغېز نه لرلی، نو طبیعي خبره ده چې د ده اثارو ته یې لاره نه کوله او خادم صیب ته یې د یادونې اړتیا نه پیدا کېدله په ځینو برخو کې استاد خادم ددې لیکوالو د اثارو له شکلي او په ځینو برخو کې له معنوي بڼې څخه اغېزمن شوی دی. د ساري په توګه که پیر روښان خیرالبیان په مسجع نثر نه وای لیکلی، نو کېدی شي خادم صیب مسجع نثر نه وای لیکلی، نو ځکه ویلای شو چې خادم صیب له مهمو کورنیو لیکوالو او شخصیتونو څخه تاثر اخیستی، ان په ځینو برخو کې د یو څه تقلید او څرګند پلویتوب څرکونه هم په کې لیدل کېږي. هغو لیکوالو چې د خادم صیب په باب خپل نظر څرګند کړی، هغو ته موږ په بله برخه کې ځای ورکړی، خو دلته غواړو د هغو لیکوالو، شاعرانو او مهمو شخصیتونو یادونه وکړو چې د خادم صیب پر فکر یې تاثیر پرې ایښی او دغه تاثیر خادم صیب په خپل کلام کې یاد کړی دی.

استاد قیام الدین خادم ددغه راز خپلمنځي تاثیراتو په باب وایي:

((د اسد په ۲۸-۱۳۴۵ل کال د خوشحال خان د سیمینار په جریان کې ما د ساعت تېري د پاره یوه رباعي ولیکله او په پټه خوله مې نږدې ناستو ملګرو ته وړاندې کړه، هر یوه پرې یوه یوه رباعي زیاته کړه او مختصره مشاعره ترې جوړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)

په کوم يو قام کې چې بې قدري شي
اکثره خلک يې چور لېوني شي
د چالاکانو ښه قدر کېږي
ځان ته حيران يې هوښيار سړي شي.
(خادم)

(۲)

په کوم يو قام کې چې بې قدري وي
عزيز له خپلو ورته پردي وي
هغه ځان هېڅ وخت نشي ساتلای
چې ځان سره يې تل دښمني وي.
(الفت)

(۳)

نوای خادمه هوښيار بږه
چې هوښياري دې دلته خواري ده
چې ته هر څونې نادان ښکاره شې
هومره په برخه ستا باداري ده.
(حبيبي)

(۴)

په کوم يو قام کې چې ځان ځاني شي!
د جمعيت يې پرېشاني شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــړون یـــې لاړ شـــي، ژونـــدون یـــې شـــل شـــي
نـــه وړانـــدې تـــګ شـــي، نـــه روانـــي شـــي.
(حمزه شینواری)

(۵)

چـــې پـــه ولـــس کـــې بـــې هنـــري وي
د هنرمنـــــــدو بـــــــه بېقـــــــدري وي
د هنـــــر پوهــــه پـــــه هنـــــر کېـــــږي
د درو قـــــــدر پـــــــه جـــــــوهري وي.
(حمزه شینواری)

(۶)

چـــې را پـــه یـــاد مـــې خوشـــحال خـــاني شـــي
ټـــول ارمانونـــه مـــې لېـــوني شـــي
د تـــش خبـــرو بـــه څـــه پښـــتو وي
کاشـــکې خویونـــه مـــو پښـــتني شـــي.
(سېلاب ساپی)

(۷)

راشـــه مـــه ګرځـــه خادمـــه پـــه ویجـــاړه
چـــې څـــه شـــته پـــه دنیـــا هغـــه ورنـــه غـــواړه
کـــه خنـــدا کـــړې ټولـــه ورځ درســـره خانـــدم
کـــه نـــه ژاړې، ګـــوټ کـــې کېنـــه ژاړه ژاړه.
(میا سید رسول رسا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورتنۍ ګډه مشاعره که څه هم فی البدیحه وه، خو زموږ د نومیالیو شاعرانو او لیکوال شعري قریحه او قوت ورڅخه له ورایه څرګندېږي، په تېره بیا مانیز قوت چې په ډېر لنډ او تنګ وخت کې یې خپل فطري او خدایي استعداد په څه ډول الفاظو کې څرګند کړی دی.**

**خادم صیب دغه راز د (طبع ازمایي) په نامه د یوې بلې مشاعرې یادونه هم کوي، هغه وایي: ((یو وخت زه د سیال ورور نه لږ ماښیجن وم، ما ورته دا لاندې رباعي ولیکله، سیال صاحب په جواب کې راته ورپسې رباعي راولېږله، په دې باندې نورو ملګرو مشاعره جوړه کړه او د طبع ازمایۍ رنګینه پاڼه جوړه شوه.))**

سیال ته

دوستان هغه وي چې لار پرانیزي دوستانو لره
د خوشبینۍ فضا پیدا کاندي یارانو لره
د خادمانو کار خدمت دی په رښتیا او صدق
د حقیقت پتهول نه ښایي سیالانو لره.

کامه: ۴د دلوې، ۱۳۲۸ کال، (خادم)

خادم ته

دوستان هغه وي چې باور لري دوستانو باندې
تل ښه ګمان کړي ازموده خپلو یارانو باندې
سیالان خو هغه کړي چې ښایي له سیالانو سره
د ښو نظر یې وي د قام په خادمانو باندې

جلال اباد، دلوه، ۱۰، ۱۳۲۸ل کال، (سیال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سیال، خادم ته

د سیالۍ تېنګ امید کاوه شي له سیالانو څنې
خلک خدمت غواړي له خپلو خادمانو څنې
چې د دوستۍ عهد و پیمان باندې وفا کوي څوک
دغسې سیال غواړم خادمه له زلمیانو څنې.
۱۳ د دلوې، ۱۳۲۸کال، (بختانی)

دردمند وایي:

راشه ملګری په رښتیا شه له دوستانو سره
شخصي اغراض مناسب نه دي له سیالانو سره
زلمو میندلې ترقي ده د وطن په مینه
طواف د شمعې چې کوي له پتنګانو سره
قام او وطن ته چې خدمت د زړه په وینو کوي
وکړئ ګډون درومئ په لار له خادمانو سره.

وحدت وایي:

د زړه آرزو مې کړه اعلام له شاعرانو سره
تېنګ په وفا یم همېشه له صادقانو سره
ناري وهمه د وحدت قامي لوړتیا لټوم
زه یم ملګری له دردمندو خادمانو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشک وایي:

مینـــې ملګـــرې کـــړم لـــه پـــاکو مینـــانو ســـره
طــواف د شــمعې تــه ورځــم لــه پتنګــانو ســره
چې نیم بسمل یې په تو پونو سلامۍ ته دروميي
روح د اشـک دروميي مجلس تـه لـه يـارانو سـره.

باور وايي:

اصــلاحي فکــر چــې پيــدا شــي لــه زلميــانو ســره
دوستي اعلان کړي په محفل کې له پوهانو سره
لــوی او واړه د حــق ملګــري وي ذکرونــه کــوي
بــاور طــواف تــه وي روان لــه اشــنايانو ســره.

طاهر ساپی وايي:

نــه يــم شــاعر چــې وکــم بحــث لــه اديبــانو ســره
خـــو وايـــم دا پوهـــه لازم ده لـــه ځوانـــانو ســـره
پښتونســـتان د هـــر پښـــتون د پښـــتو ننبـــه بـــولم
دا زه ســـاپی يمـــه ملګـــری لـــه زلميـــانو ســـره.

دې مشاعرې ته چې لږ ځير شو، نو موضوع په ښه ډول تعقيب شوې، د موضوع وحدت د شاعرانو تر منځ صميميت او يو بل ته درناوی له ورايه په کې ځلېږي. موضوع له يوې شخصي خوابدۍ څخه پيل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا تر پایله ملي رنگ خپلوي او پر ملي ارمان پای ته رسېږي. د شاعرانو خپلمنځي مشاعرې او تاثیراتو ته وروسته راځم، خو خپلې اصلي موضوع ته راگرځم؛ هغه شخصیتونه، لیکوال او شاعران درپېژنو چې د خادم ذهن یې ترې په یو نه یو ډول اغېزمن شوی او د همدغې اغېزمنی له کبله یې ده په خپل منظوم او منثور کلام کې یادونه کړې ده. د لا وضاحت په خاطر یادونه او ټینگار کوم چې دا لاندې یادېدونکي شخصیتونه ځکه راوړم، چې د همدې شخصیتونو افکارو د استاد خادم پر افکارو اغېز کړی او هغه یې د دوی پر شخصیت او افکارو منثورو او منظومو لیکنو ته اړ کړی او هڅولی دی:

## ۱- سلطان شهاب الدین غوري: سلطان شهاب الدین غوري



د غوریانو د سلسلې یو وتلی او نامتو واکمن تېر شوی. ده د هند په نیمه وچه کې د اسلام مبین دین وځلاوه و او ځو واره یې هند ته لښکر کشي وکړه. شهاب الدین غوري، د مېړانې، غیرت او شجاعت سمبول و، ده (۳۲) کاله حکومت وکړ او تر ده وروسته نسلونه دده پر کارنامو وویاړېدل. د دې عظیم الشان پاچا د اتلولۍ او سیرت په باب استاد خادم یوه لیکنه کړې چې د تاریخ یو باب دی او هم له دې شخصیته د استاد خادم تاثر څرگندوي، دا لیکنه په دې ډول ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شهاب الدين غوري سيرت

وايي چې سلطان شهاب الدين غوري ۳۲ کاله حکومت کړی دی او دا ټول عمر يې په غزا، جهاد او د اسلام د نشر او اشاعت په لاره کې تېر شوی دی.يو ځل په ۵۸۷ هـ کې سلطان دهند لور ته د غزا په نيت لاړ.

د لاهور نه کوز بټهنډه نومي کلا يې په څو ورځو کې فتح کړه، د هغه ځای نايب الحکومه يې خپل يو افسر چې ضياء الدين نومېده، مقرر کړ او خپله بېرته د غزني په خوا راستون شو. په دې وخت کې ورته خبر راغی چې د ډيلي راجاري پتورا او داجمير راجا کهانډې رای د دوه لکه فوځ سره جنګ ته راغلل، سلطان د وطن د تګ عزم فسخ کړ او بېرته وروګرځېد. د تانيسر په څمکه د سر سوتي سيند په غاړه دواړه فوځونه مخامخ شول. د وطن د خلکو تعداد زيات و، دسلطان دواړه خواوې فوځ چې پښتانه او ترک تاجک په کې وو، په جنګ کې وارخطا شول او ماتې يې وکړه. سلطان ته چا وويل چې اعليحضرت لښکر وتښتېد، په سلطان دا خبره ډېره بده ولګېده او په خپله دجنګ ميدان ته ورګډ شو. په سلطان له هرې خوا حملې شروع شوې. د ډيلي راجاګهانډې رای چې د متقابل ټولو متحده لښکرو سپه سالار هم و، کوم وخت يې چې نظر په سلطان ولګېد، هاتي يې ورپسې وروځغلاوه. د دواړو بادشاهانو په منځ کې لاس په لاس جنګ ونښت. د سلطان سره نېزه او د راجا سره توره وه، مخامخ يې يو پر بل ګذارونه وکړل. دسلطان د نېزې په وار د راجا مخامخ دوه غاښونه ووتل او نېزه يې تالو ته ورسېده، همدارنګه د راجا دتورې په جوابي ګذار د سلطان مټ زخمي او بې کاره شو.نيږدې و چې له اسه ولوېږي، په دې وخت کې يو غلجي زلمي ورټوپ کړل او سلطان پسې په اس سپور شو، سلطان يې ټينګ کړ او اس له يې داسې پونده ورکړه چې تا به ويل سيلۍ ده او په تېزۍ يې شل ميله لرې تښتيدلي فوځ ته زخمي بادشاه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورسولو، دلته دوی غزني ته په ماتې راغلل او هلته دسلطان نایب الحکومه چې د مقاومت تاب یې نه درلود تسلیم شو.**

**دې واقعې د سلطان د غیرت اور داسې تازه کړو چې دا و چې جنگ نه تښتېدلي منصبداران، جرنیلان او سپه سالار یې راغونډ کړل، مخونه یې ورباندې تور کړل، د هډوکو امېلونه یې ور په غاړه کړل او په خرو یې چپه سپاره کړل. د اوربشو توبرې یې ور په غاړه کړې او په بازار کې یې وگرځول. دا حکم یې هم کړی و چې که هر افسر د خره غوندې په توبره کې خوله دننه نه کړي او وربشې ونه خوري، سر یې غوڅ کړئ، په دغه شان سلطان عملاً وروښوده چې دپښتونولۍ نه څوک انحراف وکړي،سزایې څه ده؟**

**د دېنه پس په دویم کال کې ناڅاپه سلطان له غزني نه روان شو، یو نیم لک پښتانه، ترک او تاجک لښکر ور سره و، دا لښکر چې پېښور ته ورسېد، نو دلته دېره شو، هېڅوک نه پوهېدل چې سلطان څه اراده لري او دوی چېرته ځي،اخر یو زړور سپاهي زړه کلک کړ، سلطان ته راغی ویل یې اعلیحضرت ستاسو اراده ده؟ او د دې لښکر مقصد څه دی؟ سلطان په موثره لهجه ورته وویل: ((ستا یاد دي چې په تېره غزا کې زما قوم اوملگرو زه یوازې په میدان پرېښودم او زموږ جنډه نسکوره او دښمن غالب شو. زموږ شان ډېر ټیټ شو او موږ د خلکو په نظر کې سپک ښکاره شوو. ده ویل زما د وجود زخم جوړ شوی دی، د زړه زخم مې نه دی جوړ شوی. بیا یې وویل، رانېږدې شه، گوره، دا هماغه کمیس دی چې په تېر جنگ کې مې اغوستی و، تر اوسه مې نه دی بدل کړی. ده ویل ما له هغه وخته راهیسې ښه خوراک نه دی خوړلی. په بستر نه یم ویده شوی، ما به تاسو سره په خندا خبرې کړې وي، خو په زړه کې مې تل ژړلي دي)). وایي چې سلطان په دغه موده کې د هر قسم عیش او خوشحالۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه لاس اخیستی و، تر دې چې کور تېر ته هم نه تللو، ده قسم خوړلی و چې څو د دین او ملت ناموس په ځای نه کړم عیش او ارام به ونه کړم.**

**چې د سلطان خبرې خلاصې شوې، سپین ږیری سپاهي ور وړاندې شو او په لمدو سترګو یې د ده لاسونه ښکل کړل، ویل یې ښښکه چې تاسو د دین او قوم د غیرت حق په ځای کړی دی او عرض یې وکړو چې دا جرنیلان اوسپه سالاران ډېر سپک شوو، ډېر وشرمېدل، نور یې وبښئ او موقع ورکړئ چې د بدنامۍ داغ په خپله ووینځي! بادشاه دا مشوره قبوله کړه چې ملتان ته ورسېد، نو ټول جرنیلان او سپه سالار یې دربار ته حاضر کړل او دا یې ورته وفرمایل: (( مسلمانانو وروڼو! تاسو د جنګ له میدانه وتښتېدئ او زه مو یوازې پرېښودم،ستاسو تېښتې د اسلام په لمن او د پښتون په جامه تور داغ ولګاوه. زه،قوم او دین مو وشرمولو، اوس زه تاسو ښښم، تاسو له خدایه ښښنه وغواړئ.خدای به هلته تاسو وبښي  چې د ایثار او فداکارۍ له مخې په غیرت اوایمانداری سره خپل ناموس په ځای او خپله وظیفه اجرا  کړئ!)) سلطان د لښکر سره لاهور ته ورسېد، رای پتور ته یې ولیکل: ((اسلام ته اطاعت وکړه!)). هغه سخت او مغرورانه ځواب ورکړ او بیا په هماغه ځای د سرسوتي سیند په غاړه د جنګ صفونه جوړ شول. سلطان خپل لښکر ته امر وکړ  چې بې زما له حکمه قدم وانخلئ او خپل لښکر یې په څلورو برخو ووېشلو، شپه په ناکرارۍ تېره شوه، سبا چې لمر پلوشو د نیاز غغراني  کړه، نو یو نیم لک پښتون د درې لکه مقابل خلکو سره نېزه په نېزه او توره په توره مخامخ شول. وایي چې په دې جنګ کې اوه نیم شلې راجګان، سپه سالار  ګهانډې راو، چواندارای او نور ډېر بېشماره خلک څه مړه شول اونور وتښتېدل. په اخره کې سلطان اجمیر فتح کړ، هانسیو سامانه، کهرام، بنارس، قنوج، وار په وار فتح شو. بهار او بنګال ته لار بېرته شوه. سلطان د هندوستان د انتظام لپاره خپل غلام قطب الدین ایبک پرېښود او په خپله غزني ته ولاړ، سلطان په اخري ځل پر ۶۰۲ هـ کال چې (۱۲۷۵ع) سره برابر دی، بیا هندوستان ته ولاړ، له جنګونو وروسته چې وطن ته تلو، په هسیاک نومي ځای کې د کهکړ نومي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قبیلې هندوانو د شپې په فوځ حمله وکړه او سلطان شهید شو. دا واقعه د برات د میاشتې په درېیمه (٦٠۴هـ) کال کې وشوه، د حکومت موده یې (۳۲) کاله ده. د ده وزیر اعظم خواجه موید الملک د ده پور له خلکو واخیست اوجنازه یې غزني ته راوړه.)) (۲۳: ۴۷۴-۴۷۵)**

**د استاد خادم له پورته لیکنې څخه موږ ته دا خبره جوتېږي چې د سلطان شهاب الدین غوري شخصیت، غیرت او استقامت پر استاد خادم تاثیر کړی او هغه بیا تر همدغه تاثیر لاندې دغه لیکنه کړې ده.**

**۲- بیتې نیکه: بیټ نیکه د پښتنو له سترو نیکونو څخه دی چې د کسي غرو په لمنو کې به اوسېده. بیټ نیکه د لوی خدای (ج) له درباره د خپل کور کهول او پښتنو د زیاتون هیله وکړه او خدای پاک یې دا هیله پوره کړه. بیټ نیکه وویل:**

لویـه خدایـه لویـه خدایـــه - ستا پـه مینـه پـه هـر ځایـه
غـــر ولاړ دی درنـــاوي کـــې - تـولـــه ژوي پـــه زاري کـــې
دلــته دي د غـرو لـــمنـــــې - زموږ کېږدۍ دي په کې پلنې
دا وګـــړي ډېـــر کـــړې خدایـه - لویـــه خدایـــه لویـــه خدایـــه

***

دلته لــږ زمـــــــوږ او بـــــل - ووړ کورګی دی ووړ بورجل دی
مېنـه کـې ستـا مـوږ مېشــته یـو – بـل د چـا پـه ملـه تلـه نـه یـو
هســک او مځکـه نغښـتـه سـتا ده –د مـــــړو وده لـــــه تــــا ده
دا پالنـــه ســتا ده خدایـــــــــه- لویـــه خدایـــه لویـــه خدایـــه
(۳۹:۲۴)

**د بیټ نیکه دا منظوم کلام د هر پښتون شاعر په ژبه خور دی او خپل نیکه لپاره د دعا لاسونه لپه کوي. خادم صیب د یوه ژور او مفکر څېړونکي په توګه د خپل نیکه د ژوندوني او دایمي استوګنځي په لټه کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او په خپله یوه لیکنه کې یې ورته اشاره کړې ده. دا لیکنه (د بېټ نیکه مزار) نومېږي چې دا دی دلته یې وړاندې کوو:

## د بیټ نیکه مزار

((بیټ بابا د پښتنو مخکنی نیکه دی، چې تقریباً زر کاله دمخه یې ژوند کاوه او د ځینو کتابونو او روایتونو څخه هم رامعلومېږي چې د کسي یعنې د سلېمان په غره کې به اوسېده. لکه چې د پښتانه شعرا په لومړي جلد کې د ده په باب معلومات شته: اغلباً دا گومان کاوه شي چې د بیټ بابا قبر به هم هلته د کسي یا قیس په غره کې چېرته وي،



لېکن اوس یوه خبره واضحه لاسته راغله چې د بیټ نیکه قبر په (تور غر) کې دی.

تورغر هغه غر دی چې چیشنکي او جگدلي د حدودو څخه راجلا شوی دی او ښکته یې پر درونټه سر لگېدلی دی او په دغه شان سره یې لغمان د حصارک، خوگیاڼو او سره رود څخه بېل کړی دی. دا غر ښایسته لوړ غر دی او ځای په ځای په کې ابادۍ دي چې اکثره پښتانه او کوچې قبایل په کې اوسي او خورا خوش هوا او معمور غر یادېږي.

دلته په دغه غره کې تقریباً سرخ پل ته مخامخ یو زیارت دی چې د بېټ بابا زیارت یې بولي. وایي چې دا ډېر پخوانی زیارت دی، د دې خبرې دلیل چې دا بیټ هماغه بیټ دی، دا دی چې شاوخوا خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجاوران يې پښتانه دي او مياګان يې بولي. دا خلک يې زيارت ته په ډېر احترام ګوري.

نو دا بيټ په اصل کې هماغه بيټ دی چې د (سړبن او غرغښت) ورور دی او په پښتو کې چې (بېټنی) يادېږي، دا خلک ده ته منسوبوي او دا هم ثابته شوه چې زر کاله دمخه لا دلته هم پښتانه اباد وو.)) (۲۳: ۳۴۲)

**۳- شېرشاه سوري:** شېر شاه سوري د پښتنو د تاريخ او اسلامي نړۍ يو نوميالی اتل دی. ده پنځه کاله پر هندوستان حکومت وکړ، خو څلور سوه کاله يې پر هند خپل تاثيرات پرېښودل. دی يو عادل، مدبر، پرمخيال، باعفته او باعزته مشر و. د پښتنو يووالی يې ټينګ کړ او په هند کې يې د پښتنو تېر برم يو ځل بيا راتازه کړ. د شېر شاه سوري اخلاقي کيسې دومره زياتې او خوږې دي



چې ان د افسانوي اخلاقي کيسو حد ته رسېدلي دي. استاد خادم چې په خپله هم د شېرشاه سوري له اخلاقي ايډياله متاثر دی، په يوه ليکنه کې يې (د شېر شاه سوري اخلاق) څېړلي دي. دا دی دلته يې همدا ليکنه وړاندې کوو:

## د شېرشاه سوري اخلاق

((د شېر شاه اصل نوم فريد خان و، ده په ۱۴۵۰ع کال د خپل پلار نيکه په جاګير سهسرام کې سترګې وغړولې، د پلار نو م يې حسن خان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن خان ډېرې اصیلې او وینځې ښځې لرلې، خو فرید او نظام د یوې پښتنې مور څخه زیږېدلي وو.

د شېر شاه نیکه ابراهیم خان سوري نومېده، سوري او غوري کورنۍ تقریباً سره یو شی دي. د غوریانو د عروج په وخت کې د غور د پښتني کهول ډېر مشهور خلک د افغانستان له غزنۍ ځمکې څخه راغلي، د اباسیند نه پورې رااوړي، آن تر بنګاله مېشت وو. ابراهیم خان په پېښور کې اوسېدو، خو چې د غوریانو د بخت لمر پرېوت، نو ابراهیم خان سوري له پېښور نه هند ته لاړ او هلته د سلطان بهلول لودي سره نوکر شو. په لږه موده کې یې د بادشاه باور د ځان په باب پیدا کړو، نو بادشاه د ده د ښو خدمتونو په صله کې ده ته سهسرام، باندہ، حاجي پور او خاص پور، پرګنې په جاګیر کې ورکړې.

دا هغه وخت و چې د هندوستان د سیاست د سطرنج په تخته په کشمیر کې سلطان زین العابدین، ملتان کې سلطان یوسف، مالوه کې علاوالدین، چونپور کې سلطان ابراهیم، د سلطنت لوبې کولې او سلطان بهلول لودي په ټولو کې اوچت و، خو له بده مرغه په دغه پښتنو بادشاهانو کې اختلاف و او باالاخره دا اختلاف په نفاق بدل شو او کورنۍ دښمني دې حد ته ورسېده چې له دغه مینځه یو نفر پښتون چې یوسف خېل یې باله او په خان خانان ملقب و، کابل ته په بابر پسې ولاړ او مغول بابر بادشاه ته یې په سلطان ابراهیم لودي باندې د یرغل کولو لارې چارې ور وښودې او ترغیب یې ورکړ، چې څو د دغه کورنۍ د نفاق او ملي خیانت په نتیجه کې د سلطان بهلول لودي نمسی او دسلطان سکندر لودي زوی، سلطان ابراهیم لودي د پاني پت په میدان کې په ډېره ځوانمردۍ او مېړانه د مغلو سره په جنګ کې په شهادت ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به بېرته د فرید خان یعنې شېرشاه د کوچنیتوب حال ته وروگرځو. شېرشاه کې له کوچنیوالي څخه د لويې نښې څرگندې وې، نو ځکه د میرې بدې راتلو. په دغه سبب له پلاره مرور شو او د جونپور حاکم جلال خان ته ورغی. هلته یې د نوکرۍ سره له قاضي شهاب الدین څخه کافیه، د فقې کتابونه، تاریخ او فلسفه ولوستل، څه موده پس د ده پلار جونپور ته راغی او جلال خان دغه پلار او زوی سره پخلا کړل او فرید خپل جاگیر ته راغی او د ځمکو ډېر ښه انتظام یې وکړ. خلکو به د ده صفتونه کول او په میرې یې بد لگېدل چې څو بیا د ده اوقات ترخه شول او د خپل سکه ورور نظام سره د سلطان سکندر لودي یو حاکم دولت خان له بهار ته ورغی.

د حسن خان د مرگ نه وروسته د همدغه دولت خان په واسطه د فرید خان دپلار جایداد د ده په نامه شو. کوم وخت چې سلطان ابراهیم لودي د بابر له پلوه په پاني پت کې ووژل شو او هر ځای مغولي حاکمان مقرر شول، نو فرید خان کله د بهار د حاکم سلطان محمد او کله د مانکور د حاکم سلطان جنید برلاس سره نوکر و. یو وخت چې د ښکار په موقع یو زمري په سلطان محمد حمله وکړه او ده هغه په توره دوه نیمه کړ، نو سلطان محمد ورته شیرخان لقب ورکړ او بیا وروسته د برلاس په ذریعه د بابر شاه ملاقات ته ورسېد او بابر دی په شاهي فوځ کې داخل کړ. بابر سره یې ښه خدمت کاوه خو اخر په منځ کې بدگوماني پیدا شوه. وایي چې شېر خان کوم وخت ویلي وو: ((ای پښتنو که بخت ما سره یاري وکړي، نو لږه موده کې به مغول له هنده وشړم، ځکه چې په توره کې پښتانه له مغولو ډېر مېړني دي. پښتانه بې اتفاقۍ برباد کړي دي. ما مغول لیدلي دي چې په جنگ کې د ټینگېدو نه دي، دوی په مزو او چړچو کې ډوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ټول کارونه وزیران او امیران کوي، وزیران د امیرانو نه او امیران د سپایانو نه او سپایان د عام ولس نه رشوت اخلي.))

شېر شاه ویلي وو ژر به واورئ چې ((ما پښتانه راغونډ او په اتفاق کړي دي او سلطنت مې له مغولو اخیستی دی.))

شېر خان ولاړ او څه موده پس د بهار حاکم سلطان محمد سره نوکر شو چې سلطان محمد وفات شو، نو زوی یې چې جلال خان نومېده او پلار یې د شېرخان په تربیت کې ورکړی و او دی لا وړوکی و چې د پلار پر ځای کېناست، نو د حکومت کاروبار به ټول شېر خان کاوه.

د بنګال د بادشاه سلطان محمود یو حاکم چې په جیپور کې و او مخدوم عالم یې باله، د ده سره د شېر خان اشنایي پیدا شوه، په دې باندې سلطان محمود د بنګال بادشاه ته قهر ورغی او خپل بل یو حاکم دمونګیر حکمران قطب خان ته یې امر وکړ چې شېر خان او مخدوم عالم دواړه لاس تړلي ما ته راوله، شېر خان ډېره سعیه او زاري وکړه چې جنګ واقع نه شي او پښتانه او بنګالیان تباه نه شي، خو ونه شوه اخر جنګ وشو قطب خان په کې مړ شو او د شېر خان په لاس د غنیمت ډېر مال ورغی. د دېنه وروسته سلطان محمود د بنګال بادشاه خپل زوی جنګ ته راولېږه چې هغه هم په کې مړ شو.

د چنارګر بادشاهي د سلطان سکندر لودي دکورنۍ دیو شاهزاده سره وه، چې نوم یې تاج خان و. تاج خان د کورنۍ په یوه اله ګوله کې مړ شو. د تاج خان د ښځې لاډو بي بي ورور امیر احمد خان شېر خان ته وویل چې چنارګر واخله او دا کار وشو. له دې نه پس د چتوړ بادشاه سلطان محمود لودي د لوانیانو په لمسونه په شېر خان پسې د لښکر تیاری وکړ، خو چې د بهار پښتانه د شېر خان سره ملګري شول، نو شېر خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په سلا د سلطان محمود لودي اطاعت ته غاړه کېښوده. په دغه وخت کې د سلطان محمود لودي او همايون په منځ کې جنګ وشو. سلطان محمود ماتې ورکړه، بيا همايون په شېرخان پسې خپل سپه سالار هندوبيګ ته ولېږه چې چنارګړ جنګ ته ولاړ او دغه ځمکه يې له شېرخانه ونيوه. اوس نو د شيرخان او همايون په منځ کې مخامخ زور ازمايي شروع شوه.

لومړى خو د شېر خان مطلب دا و چې د پښتنو او مغولو لاسونه يو د بل په وينو سره نه شي، خو چې دا کار نه کېدو، نو شېر خان پښتانه ميدان ته راوايستل، شېر خان ۱۴۲۵ع کې د بنارس ښار واخيست، همايون د ډېرې پرېشانۍ په حال کې اګرې ته ولاړ، په دغه وخت کې د همايون له خوا د منګير په ښار ملي خاين يوسف خېل خان خانان چې بابر پسې کابل ته تللى و، ګورنر مقرر و. د شېر خان جرنيل خواص خان يوسف خېل خاين لاس تړلى، د شېر خان حضور ته حاضر کړ. شېر خان په هره خوا پښتانه جرنيلان مقرر کړل. مثلاً هيب خان نيازى او ده ته، جلال خان لکهنو ته، قطب خان چونپور ته، نصيب خان مانګهور او حاجي خان قنوج ته ولاړل. دغه ټول جرنيلان د فتحې د نغارو سره شېر خان ته راستانه شول، د رهتاس په جګړه کې د همايون او شېر خان سخته مقابله وشوه، همايون فاحش شکست وخوړ، مغول داسې وتښتېدل لکه ماشې د باد نه. اسونه، پيلان د جنګ سامان هر څه يې په ځاى پرېښودل. تر دې چې د همايون ښځې هم په ميدان پاتې شوې. د شېر شاه چې په شاهي حرم سترګې ولګېدې، فوراً له اسه راکوز شو، هغوى ته يې ډاډ ورکړ، بيا يې دوه رکعته نفل وکړل او په حمد او ثنا کې يې سر په سجده کېښود او ويې ويل: ((اى خدايا! قوت او لويي تا لره ښايي. ته بې زواله بادشاه يې، تا زما عاجز سر جګ کړو. فتح دې زما په نصيب کړه، د همايون بادشاه لښکر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مال او عیال دې ما ته په لاس راکړل. خیر ستا په لاس کې دی او ته په هر څه قادر یې)) بیا یې حکم وکړو چې د مغولو کوچنیان او ښځې په احترام بېرته ور ورسوئ، نو همدغسې یې وکړه او خپل زوړ جرنیل: حسین نامي په معرفت یې حرمسرای په ښه صورت همایون ته ورسولو. تر دغه وخته شېر خان ځان بادشاه نه ګڼلو دغه فتحې نه وروسته یوه ورځ مسند عالي عیسی خان ټول جرنیلان راغونډ کړل او د شېر خان په حضور یې داسې عرض وکړ: ((ای زموږ مشره، موږ پوهېږو چې ستاسو نیت د بادشاهۍ نه دی، خو بادشاهي د خدای لوی نعمت دی او ستاسو په شخصیت کې د بادشاهۍ ټول صفتونه موجود دي، بې اتفاقه او تار په تار پښتانه ستاسو په برکت یوه لړۍ شوي دي.

دښمني او تربګني لرې شوې ده، اوس ټول پښتانه یو شوي دي په اتفاق کې لوی برکت دی، د سلطان ابراهیم د وخت د اختلاف او نفاق پېغوورونه چې هر چا به پښتانه بد ګڼل او هر ځای ته به چې پښتانه ورتلل، خلکو به ورته ویل تاسو هغه خلک یئ چې خپل حکومت مو برباد کړی، اوس موږ بربادوئ، دا خبره له منځه ولاړه، اوس خلک پښتنو ته په درنه سترګه ګوري او دا ټول ستاسو په سعې او کوښښ وشول، اوس بسم‌الله کړئ او د بادشاهۍ بار په خپلو اوږو واخلئ! کوم قام چې بادشاه نه لري، نوم نښان نه لري، دا پښتانه چې تاسو بیداره کړي دي، په ټینګه به ستاسوملاتړ وکړي!)) د دې تقریر نه وروسته عظیم خان شروانی پورته شو او دا یې وویل: ((زموږ مشره! مغولو خپل ځان ډېر اوچت ګڼلو، پښتانه یې هېڅ سړي نه ګڼل، د دوی سترګې له پښتنو څخه نه سوې، تاسو د مغولو د سر نه دغه نشه کوزه کړه. په هر جنګ کې مغولو ماتې وکړه اوس دوی د جنګ توفیق نه لري. ملک د خدای دی، چې هر چا ته یې چې خوښه شي، ورکوي یې، پښتانه به ستاسو د تخت نه ځانونه قربان کړي! د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردارانو په ډېر اصرار شېرخان بادشاهي قبوله کړه او د شیر شاه لقب یې ځان ته غوره کړو، د عاشوری په لسم تاریخ د هجرت په (۹۴۷) کال د شېرشاه او همایون اخري لویه نښته وشوه. قنوج په ځمکه د گنگا په غاړه شېرشاه خپل لښکر داسې برابر کړو چې د لښکر په مخکې په خپله شیر شاه ولاړ و چې هیبت خان نیازی، عیسی خان شرواني، قطب خان لودي، حاجي خان جلواني، بلند خان، بجان خان او سرمست خان ورسره وو، ښۍ خوا ته یې شهزاده جلال خان، تاج خان، سلېمان خان، قطب خان، حسین خان او نور سرداران د امر منتظر وو، په دې وخت کې شېرشاه د فوځ په مخکې داسې وینا وکړه: ((زما ورونو! ما په ډېر کوشش تاسو راغونډ کړي یئ او ستاسو سرلوړی مې مطلب دی. نن ورځ ستاسو دازمېښت ده، نن ورځ که هر څوک په میدان کې بر شو، د هغه مرتبه به لوړه شي. داسې کوشش وکړئ چې د جنگ په میدان کې ټول پښتانه یو ځای او یو اواز اوسي. د پښتنو په لښکر کې که اتفاق وي، نو په توره کې هېڅوک د دوی مخه نه شي نیولای. زه تاسو عزیزانو ته دا خواست کوم چې کینه، حسد او اختلاف پرېږدئ. د سلطان ابراهیم په وخت کې هم د کور دښمنۍ او اختلاف پښتانه تباه کړل. تاسو ښه سزا ومونده.

عزیزانو! ما اراده کړې ده چې یا به د دې جنگ له میدانه د فتحې او نصرت بیرغ په لاس وځم او یا به زما سر د دښمن د اسونو د پښو لاندې شي. مرگ یو ځل دی، نو په کار دي چې په مېړانه او نېک نوم مړه شوو!

ای عزیزانو! وېره ونه کړئ، د جنگ میدان ته داسې لاړ شئ، لکه زمري، دیو سپاهي د پاره د دېنه بل لوی شرم نشته چې د هغه سالار مړ شي او سپاهي ژوندي راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په دې جنګ کې قدم کلک کړئ، نو هندوستان ستاسو دی. زه زوړ یم او په ډېر کوشش ماپښتانه راغونډ کړي دي، خدای مه کړه که په دې جنګ کې تاسو شکست وکړ، لښکر تار په تار شو، نو بیا راغونډېدل ناممکن دي.

هغه پاڼې چې له څانګې پرېوزي، هغه بیا څانګې سره یو ځای کېدای نه شي، جنګ و نښت او داسې سخت و چې اسمان او ځمکه ولړزېدل او د همایون فوځ د پښتنو له لاسه د مېږو او ملخو په شان بدل شو. پښتنو مغول په مخه کړل او همایون ساه نیولې اګرې ته ورسېد. همایون ځان په مرګ ونیو اوځومره قوت یې چې لرلو پر له پسې یې میدان ته راوست او پرله پسې یې شکستونه وکړل. د جوسه میدان کې همایون مات شو او سیند ته پرېوت. که سقه نظام راویستلی نه وای،نو ګنګا به وړی و.

شیر شاه پنځلس کاله په امیرۍ کې او پنځه کاله  یې د هند په بادشاهۍ کې تېر کړل او دنیا ته یې وښوده چې پښتانه څنګه حکومت کوي!

په اخره کې چې په یوه کلا جنګ و، د اور پیپان به یې کلا ته غورځول، یو پیپ ښرته راغی او لاندې نورو پیپانو اور واخیست او په دې منځ کې اعلیحضرت شېرشاه، شېخ جلیل، شېخ نظام او دریاخان سرواڼی په اور کې جلبل شول. په دغه حال کې چې سوی سکور و، نو هم اخري وصیت یې دا و چې ګورئ کلا پاتې نه شي، فتحه یې کړئ، هماغه و چې د ماښام نه مخکې ورته دفتحې زېری راغی او شېر شاه د ربع الاول په 12  تاریخ ۹۵۲ هـ کال د یکشنبې پر ورځ وفات شو. شېر شاه پنځه کاله حکومت وکړ، خو داسې حکومت چې نظیر یې د هند په تاریخ کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده موضوعه قوانین او اصول د مغولو، انګرېزانو او نورو لپاره دلارې مشال وو او دي.

د ده عمراني او مدني اصلاحات په تواریخو کې کتل په کار دي.))

(۲۳: ۴۷۰-۴۷۳)

استاد خادم د شېر شاه سوري له دغسې سترو اخلاقي ایډیالونو تر اغېز لاندې راغلی و، نو ځکه یې پورتنۍ لیکنه پرې کړې ده.

**۴- شېخ ملي:** شېخ ملي د پښتنو یو بل مشهور نیکه د پوهې او تدبیر خاوند شخص تېر شوی دی. ده د لومړي ځل لپاره د زمانې او جغرافیې د حالاتو په پام کې نیولو سره د پښتنو د خپلمنځي شخړو د حل لپاره د پښتنو تر منځ پر سرې سر د ځمکو وېش مسله مطرح کړه، ددې کار لپاره یې قوانین وضع کړل، هر دولس کاله وروسته به د ولس پر هر تېر ځمکه وېشل کېدله. ده دا قوانین په خپل یو کتاب کې چې د (شېخ ملي دفتر) په نامه مشهور شو، ځای پر ځای کړل، نږدې اووه پښته د ده دا قوانین وچلېدل. د شېخ ملي په باب په پښتو تاریخونو کې ډېر زیات معلومات نه دي راغلي، استاد خادم دې نیمګړتیا ته متوجه شوی او د شېخ ملي د نظر او فکر د روښانولو په خاطر یې پر هغه یوه ښه څېړنیزه او تحلیلي لیکنه کړې. دا لیکنه په افغانستان کې د شېخ ملي په باب له لومړنیو تاریخي او تحلیلي لیکنو څخه ده، نو ځکه خو غواړو د هغې متن دلته کټ مټ راانتقال کړو:

## شېخ ملي

((شېخ ملي د پښتنو په تاریخ کې یو مشهور سړی دی، د پښتو د ادبیاتو تاریخ، د پښتنو د مهاجرتونو تاریخ، د مشاهیرو او نوابغو تاریخ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



باالاخره اجتماعي او د دنیا د اقتصادي سستمونو فلسفه، د پښتون قام دغه لوی مفکر او د لوړ عقل خاوند روحاني شخص نه شي هېرولای. شېخ ملي د پښتانه قام د نوي نهضت او نوي حرکت د لارښوونکو لپاره د غور او دقت ټکی دی. د دې وخت په څېړنو او تالیفاتو کې د ډېرو خواوو څخه شېخ ملي یادګیرنې او نوم اخیستلو ته اړتیا پېښېږي او ډېر هم یاد شوی دی. مګر تر اوسه لا د دغه مشهور او نامتو سړي، په باب کافي او پوره معلومات لاس ته نه دي راغلي، خو د امید خبره دا ده چې د شېخ ملي په باب هره ورځ زموږ د معلوماتو دایره ارتېږي.

پخوا موږ سره د شېخ ملي په باب د خوشحال خان د دېوان د یو بیت او د زړو تاریخونو د کوم مختصر ذکر او د قومي روایاتو څخه پرته چې هغه هم خورا مجمل وو، نور څه په لاس کې نه وو، خو اوس چې پښتانه لیکوال د خپل پښتني ثقافت د تازه کولو او رابرسېره کولو خوا ته متوجه شوي دي، نو په هره خوا کې ګوتې وهي او د کار خبرې پیدا کوي. لس، شل کاله مخکې د پښتانه قام په ځینو ولسونو او سیمو کې څه عجیب او غریب رواجونه او قوانین موجود وو، دغه عجایب خو څه د نوي تمدن او تهذیب د راتګ او رواج او څه د پښتنو په ایالاتو د پردو او اجنبي وګړو د سلطې په واسطه له مینځه تللي او څه لا اوس هم په ځینو ځایونو کې موجود دي.  یو له دغو ځانته او علیحده رواجونو څخه د ځمکو د وېش دود و چې په سوات، بونیر، باجوړ او د پښتنو په ځینو نورو ایالاتو کې یې رسوخ درلود. د دې قانون په مطابق به هر دولس کاله پس د یو اولس ټولې ځمکې د خلکو له لاسه ایستل کېدې او مشترکې به شوې او بیا به د نوي وېش او تقسیم په اساس په ټپو، کورونو او افرادو توزیع کېدلې. د یوې حوزې او ساحې د ځمکې مالک فقط هماغه قوم و چې دغلته به اوسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا فرادو او کورنیو او ټپو مالکیت او د استفادې حق موقتي او د څه وخت لپاره و، مدعا دا چې فرد د ځمکې مطلق مالک نه و، بلکې موقتي او مشروط مالک و، البته قوم او ولس د خپلې سیمې مطلق مالک ګڼل کېده. دا قسم وېش به دولس، دولس کاله پس یو ځل کېده. په دې اساس نه څوک بې ځمکې پاتې کېدی شو او نه د ډېرې ځمکې خاوند کېدی شو. د ځمکې د خرڅانه او پیرودلو حق هم هېچا ته حاصل نه و او لکه چې ځمکه په وراثت هم نقل کېدی شوه، نو هېڅ ضرورت هم نه و چې یو سړی بل یو په ځمکه او پوله پټې ووژني. یوه له عجایبو څخه دا هم ده چې دغو ولسونو له هغه وخته څخه چې په افغانستان او هند کې د پښتنو حکومتونه کمزوري شول او سقوط یې وکړ، خپل مرکزي حکومت نه درلود.**

**مګر له بلې خوا یې عجیبه قسم لا مرکزي حکومت درلود.چې ډېر قوي او نافذ الکلمه و. یعنې ((د موقتي شورى حکومت)) دا داسې و چې د وړو وړو حوزو خبرې او داخلي حوادث، خو به د هماغه ځای د محلي جرګو مشرانو فیصله کولې، خو چې غټه اولسي قضیه به پېښه شوه، د ټول قوم مشران به راغونډېدل او په جرګه به یې فیصله کوله، بیا نو د تصویب اجرا هر فرد خپله لومړنۍ فریضه ګڼله.**

**جزاګانو او تعذیراتو هم عجیب شکل درلود. مثلاً: په غټو ګناګانو کې چې قتل او مېړوښې ښځې تښتول او یا بې ناموسي او داسې نور وو. که به مجرم په لاس راغی او د قوم جزا ته به یې غاړه کېښوده، نو د قوم په روایاتو او د جرګې د فیصلې په اساس به سزا ورکول کېده او که وبه تښتېد، نو د هغه جزا دا وه چې د قام د جملې څخه به ووت. له وېشه به یې پچه وغورځول شوه او که تښتېدونکی به داسې مجرم و چې باید وژل شوی وای، نو جرګې به پرې د (کشنده) حکم کاوه، یعنې دا که چا مړ کړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنه يې نشته. خلاصه دا ده چې د دنيا ددې عجيب او ساوو قوم په منځ کې د دقت او ملاحظې ډېر څه وو او ډېر څه لا شته.**

**دا به ډېر لوی ظلم وي، که د دغسې تاريخي او قوي ثقافتونو خاوندانو قومونو پسې د شاړ، وحشي، قاتل او غارتگر يا بد اخلاقه په عبارتونو پروپاگند وشي، مگر افسوس چې د دغه قوم پسې د دوی قوي دښمنانو په ټوله دنيا کې دغسې پروپاگند کړی دی او دنيا يې خطا ايستې ده.**

**زما څېړنه په شېخ ملي بابا ده. شېخ ملي د خپل وخت ليډر، مفکر او ليکوال و. د ځمکو دغه قسم روايتي وېش چې تر اوسه هم لا د باجوړ په سيمه کې شته، د شېخ ملي د فکر نتيجه ده. شېخ ملي په دې باب يو کتاب هم ليکلی دی چې دغه قسم وېش ته يې قانوني شکل ورکړی دی، دا کتاب د شېخ ملي دفتر نومېږي، دکتاب د نامه په اساس اکثره پښتانه اوس هم ((پټې)) او د کروندې ځمکې ته ((دوتر)) وايي لکه طلا ته چې اوس هم ټول پښتانه ((اشرفۍ)) وايي او دا د شاه اشرف هوتک پاچا نامه ته منسوبه ده**

**يو وخت چې ما د دغو قومونو د ځمکو د دغسې وېش قصه واورېده، سخت په حيرت او تفکر کې ولوېدم، ما ويل په دې صورت خو به د ځمکې سره هېڅوک علاقه نه ساتي، وداني به نه کوي. کورونه به نه جوړوي او په عايداتو او محصولاتو کې به ډېر تاوان او نقص پېښېږي! مگر پنځه شپږ کاله مخکې چې ما ته د باجوړ د سفر موقع په لاس راغله او په چمرکنډ، ناوگۍ، چارمنگ، کوټگۍ، خلوزو او مروره باندې تېر شوم، ما ته معلومه شوه چې دغه خلک د پښتنو د ډېرو قومونو څخه ودان، ماړه، روغ رمټ، خوشحاله، ازاده او مست وو. ما هغه ښځې وليدې چې نارينه و سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې يو ځای کارونه کول، دوی به د غاړې نه د لمنو پورې په سپینو روپيو کې پټې وې او د هر سړي په غاړه به اصیل ټوپک او تمانچه وه، نو حیرت مې لا پسې زيات شو.

ما واورېدل چې دا خلک د تقسیم په وخت کې خپلې ودانې ځمکې کورونه، باغونه او جايدادونه په ډېر خوشحالۍ پرېږدي او یو تر بله يې تبدیلوي.

او راشئ د حضرت شېخ ملي (رح) په باب لږ زيات معلومات چې په دوران مجله کې د ښاغلي نصرالله خان نصر په قلم خپاره شوي دي ولولئ، د شېخ ملي اصل نوم ((ادم)) دی. د پلار نوم يې يوسف او په قام يوسفزی دی، د پښتنو د ملاتړ له برکته چې سلطان محمود غزنوي ((کال ۴۱۵هـ څخه تر ۴۹۰هـ)) له هندوستان نه څومره ځمکې ونیولې، په دغو ځمکو کې دلازاک قوم ودان شو. کوم وخت چې د ترکو او پښتنو خپلو کې زړونه بد شول او گذاره سخته شوه، د پښتنو يو څو قومونو له افغانستان نه د سرحد د صوبې لور ته هجرت وکړ، د ارغستان د سیمې د غوړې مرغې يوسفزي چې د ننگرهار په لار د سرحد صوبې ته په کډه راتله د شېخ ملي نیکونه هم ورسره وو، پېښور ته چې راورسېدل، دلازاکو يې درناوی وکړ او په پېښور کې يې ځای ورکړ، خو کوم وخت چې د پښتنو او ترکانو ((مغولو)) اختلاف ډېر زيات شو او يو د بل غوښو ته کېناستل، دلازاکو د مغولو پره وکړه، مگر هغه وخت چې د يوسفزو کومک ته نور پښتانه قومونه راورسېدل.

نو اول يې د لازاکو سره دحساب سپیناوی وغوښت، دغه وخت دلازاکو او نورو قومونو په منځ کې ډېر خونړي جنگونه واقع شول چې همدغه د دښمنانو مدعا وه، په اخر کې د لازاکو میدان بایلود او بری د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسفزو په برخه شو. ملک یوسفزو واخیست او د سوات پورې ځمکه د یوسفزو لاس ته ورغله، څو موده وروسته بیا دوی هم یو بل ته بدنیته شول او په ځمکو یې جنګونه راواخیستل، په دغه وخت کې د شېخ ملي او شېخ احمد به برکت چې د پښتنو سیاسي او روحاني مشران وو او په پوهه، هوښیارۍ او د تورې او قلم په لرلو یې شهرت درلود، په پښتنو کې بیا اتفاق پیدا شو، شېخ ملي د پېښور نه د سوات پورې ملک په مندړو، لغمانو، ننګرهارو، اکوزو، عیسی زیو، خلیلو، مومندو، ګګیاڼو، محمدزو او یوسفزو باندې د سر د شمېر په لحاظ ووېشه. دغه وېش د شېخ ملي وېش په نامه شهرت وموند. د وېش په وخت کې د خټکو قام په وزیرستان کې ودان و. د پېښور نه اټک (اباسیند) پورې علاقه د خلیلو برخه شوه. د وېش نه وروسته شېخ ملي په یوه لویه جرګه کې وویل چې: ((دا ځمکه د خدای تعالی ده، موږه د هغه مخلوق یو، موږ ته په کار دي چې د خاوند د رضا سره سم په دې ځمکه واوسېږو. د دې ځمکې مثال داسې دی، لکه یوسرای چې یو ترې ځي او بل ورته راځي))

شېخ ملي د ځمکې د وېش لپاره قوانین کېښودل او لارې یې و ایستې، دا قوانین یې د کتاب په صورت وکښل چې د شېخ ملي دفتر یې بولي، لکه چې خوشحال خان وایي:

پـه سـوات کـې دي دوه څیـزه یـو جلـي دی بـل خفـي
یــو مخــزن د دروېــزه دی بــل دفتــر د شــېخ ملــي

اخون دروېزه د شېخ ملي د وېش په باب داسې لیکلي دي:

یوسفزو چې سوات مملکت ونیو، شېخ ملي دا مصلحت ولید چې د ټول ولس واړه، لوی، نر، ښځې حساب کاندي او سوات ورباندې تقسیم کړي. اکوزي د یوسفزو سره شپږ زره شول، مندړ دولس زره شول، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ننگرهاري، لغماني او کابلي چې دوی سره وو، ورسره يې حساب کړل، د شېخ ملي د دفتر د قوانینو یو څو مثالونه دا دي:**

**۱- ټول قومونه به دولس کاله پس خپلو کې د پچې په ذريعه ځمکې وېشي، یعنې د کوم قوم پچه چې د کومې ځمکې راووته، هغه قوم به په گډه هغه ځمکې ته د دولس کالو لپاره ځي.**

**۲- که چېرې د دوه قومونو مینځ کې غر وي، دهغه غر باراني اوبه چې کوم قوم پلو بهېږي، هغه ځمکه به هم د هغه قوم تصور کېږي.**

**تبصره: د ځمکو د گروپونو د جوړولو لپاره به خیال کېږي چې ودانې، شاړې، آوي، باراني، سمې او غریزې منطقې په عدالت سره برابرې کړی شي او بیابه وروسته د قومونو د سر شمېر په حساب ورباندې پچه اچول شي.**

**شیخ ملي هم په هماغه وخت کې دا خیال ساتلی و. دغه وېش هغه وخت پښتنو ډېر خوښ کړ، نوې روح يې په کې پیدا کړ، د وېش قوانینو ته به يې په درانه نظر کتل. د وېش د قوانینو خلاف کار به يې لویه گناه گڼله.**

**کوم وخت چې د پښتنو ملک ته دانگرېزانو حکومت راغی، د شېخ ملي د ځمکو د وېش څه مواد په خپله د انگرېزانو حقوقیونو او قانون پوهانو منل او حتی په بین المللي مسایلو کې ورته په اهمیت قایل شول، خپله ډیورنډ د غرونو په وېش کې د شېخ ملي د (ابرېزی) ماده قانون وگاڼه او دغه شان يې چې څنگه خوښه وه، خپل منحوس خط يې د پښتونخوا په منځ کې کش کړ. د شېخ ملي وېش په پښتنو کې ډېره موده دوام وکړ، په ۱۸۳۹ع کال کې چې انگرېزان د سرحد صوبې ته راغلل د سرحد په صوبه کې لا هماغسې ډېرو پښتنو د شېخ ملي د دفتر په اساس د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې فیصلې کولې، د ۱۸۷۰ع په سرشته کې د قبایلي ایجنسیو څخه علاوه نورې څومره ځمکې چې چا سره وې، حکومت د هماغو په نامه ثبتې کړې. په ۱۹۲٦ع کې چې پرنګیانو علیجاه عبدالودود، ګل شهزاده د سوات والي ومنلو، د ده د حکومت په دره کې د شېخ ملي د وېش رواج دوام درلود چې څو ده د وېش قانون منسوخ کړ. هغه وخت کې چې چا کومه ځمکه خوړله، هماغه پسې یې ولیکله، د مالاکنډ ایجنسۍ د ((تاڼې)) علاقې اوسېدونکي د ځمکو په باب د پخوا زمانې د وېش په ډېرو قوانینو عمل کوي.

دغه رنګ د هزارې ضلعې د وېشان (دڼکرې علاقه) سواتیانو د خپلو پخوانو مشرانو یاد تر اوسه پورې تازه ساتلی دی. دوی هم هغسې د شېخ ملي د زمانې په شان د ځمکو وېش کوي. نن سبا د دوی د وېش لار په لاندې ډول ده.

دولس کاله پس د(وېشان) علاقې اوسېدونکي په مقرره ورځ باندې ټول راغونډېږي، د ټولو ټبرونو د مشرانو نومونه په بېله بېله پاڼه ولیکي، بیا دا ټولې پاڼې دیو ماشوم (کوچني) په ځولۍ کې واچوي، د یوې ونې لاندې یې کېنوي.

مشران ورته ګرد چاپېره کېني، اول یو کس د ځمکې دیوې برخې نوم واخلي، ورپسې ماشوم د ځولۍ نه یوه د کاغذ پاڼه راوباسي، په پاڼه کې چې د چا نوم راوخېژي، هغه ځمکه د دولس کالو لپاره د دغه قوم شي. منشي د هغه قوم نوم په کتاب کې ولیکي، ځمکه ښه وي او که بده په خوشحالۍ یې قبلوي. دغه ځمکه بیا د قوم د مشر له خوا د کورنیو د افرادو په سر وېشل کېږي. ښځې او نر مساوي برخه اخلي کومه ښځه چې د قام نه د باندې واده شوې وي، د هغې برخه وسوزي د کورنیو له برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه علاوه د معنوي خدماتو په عوض کې هم وګړو ته برخې ورکول کېږي. په پېښور کې اوس هم ټول مساجد برخې لري. دغو برخو ته (سیرۍ) وایي. د (وېشان) وګړي د وېش ورځو ته که د دنیا په هر ګوټ کې وي ځان رارسوي.

د وېش نه پس هر چا ته چې هره برخه ورسي، په خندا خوشحالۍ جرګه خپره شي. خلک د خوشحالۍ هوایي ډزې وکړي او هر څوک خپلو خپلو ځایونو ته لاړ شي.

د سرحد د صوبې په ځمکه چې د پرنګیانو قبضه ټینګه شوه، نو د هرې ژبې د علمي او ادبي اثارو قلمي نسخې یې راغونډې کړې، په دې اثارو کې د شېخ ملي دفتر د پښتو ژبې مشهور مستشرق میجر راورټي ته په لاس ورغی. ډېر زیات پرې خوشاله او کتاب یې د بریټش موزیم کتابخانې ته وسپاره، چې هلته اوس هم خوندي دي.

په ۱۴۵۵ع کال کې چې راورټي د پښتو ګرامر ولیکه، د دغه کتاب په مقدمه کې یې د شېخ د دفتر تاریخ (۱۴۱۷ع) لیکلی دی، ښایي چې دغه تاریخ دا ستنساخ نېټه وي، نه د تصنیف. اخون درویزه وایي کوم وخت چې ښاغلي شېخ ملي د مرګ په دروازه پښه کېښوده، نو عقیدتمندان یې ورته راغلل، ده هغو ته وویل: ((ما په خپل عمر کې دولس خدمته خاص د خدای لپاره کړي دي. په ټول عمر کې مې یو درهم یاد دی چې لاسته راغلی و. لېکن هغه مې په څه تمه او لالچ نه و اخیستی. که چېرې زه رښتینی یم، نو زه له خدایه هیله کوم چې زما د وېش په دود باندې به زما ولس تر اوو پښتو پورې عمل کوي. اوس معلومه شوه چې شېخ ملي رښتینی و، تاریخ ثابته کړه چې د اوو پښتو څخه زیات د ده په قانون عمل وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېښور په تاریخ کې د شېخ ملي د اولاد شجرې چاپ شوې دي، لیکن ماخذ نه لري. ځینې تاریخ پوهان وایي چې ملیزي قوم د ده اولاد دی، خو د تیرا شېخ ملخیل قوم دعوی لري چې شېخ ملي د دوی نیکه دی. په تیرا کې د شېخ ملي په نامه زیارت هم شته چې متولیان یې همدغه خلک دي. دتیرا اپریدي چې د شېخ ملي په نامه منښته وکړي، نو دغو خلکو ته یې ورکوي، نن په دغه کې ملک نیاز محمد مشر او سپین ږیری دی، له بلې خوا د پېښور خلک وایي چې د شېخ ملي بابا زیارت په هشنغر کې د بولي بابا د ځنګله هدیره کې دی، د یوسفزو خلک دا عقیده لري چې د شېخ ملي بابا قبر په مردان کې دی او په ملي بابا مشهور دی، دغه شان په نورو علاقو کې هم د شېخ ملي د ناستې ځایونه دي چې وروسته پرې قبرونه جوړ شوي دي. نصر ملګری په اخره کې وایي ((د تیرا زیارت یې راته اصلي ښکاري!))] (۲۳: ۳۶۲-۳۶۶)

د شېخ ملی د ژوند او فکر دا داستان خورا خوندور دی، هر څوک یې چې ولولي، جذبوي یې. پر خادم صیب هم د شېخ ملي افکارو خپل تاثیر کړی و، نو ځکه یې پورتنی لیکنه له هغه سره د خپلې لېوالتیا له مخې کړې ده.



## ۵- خوشال خان خټک: لوی

خان؛ خوشال خان خټک د پښتو ادب پلار ګڼل کېږي، خوشال خان چې پر (۱۰۱۲هـ ق) کال زېږېدلی او پر (۱۱۰۰هـ ق) کال وفات شوی، ټول ژوند یې له مبارزو او کارنامو ډک دی. خوشال د خپل ژوند په اوږدو کې تر (۲۵۰) زیات بېلابېل اثار لیکلي، خو اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د زمانې ناخوالو له منځه وړي او يا هم تر دې دمه تر موږ نه دي رارسېدلي، خوشال خان شاعر و، ليکوال و، فلسفي و، فقهي و، جنرال و، مشر و، طبيب و، صوفي و، ښکاري و، سياستوال و، سياستپوه و، لنډه دا چې هر څه و، تر خوشال وروسته اکثره پښتانه شاعران په مستقيم او نا مستقيم ډول د بابا له پراخو افکارو الهام اخيستی دی. خادم صيب هم په دې ډلې ليکوالو کې دی، دا چې دی خپله وايي: ما له خوشال خانه څه زده کړي، نو ښه به وي چې همدا ليکنه يې ولولو:

## ما له خوشحال خانه څه زده کړه؟

((د ښاغلي عارف عثمانوف ځواب:

د زېري د جريدې په پرلپسې (۹۴۷مه) گڼه کې زما دوست او ملگري ښاغلي عثمانوف د (د محترمو افغاني منورينو ته يو سوال) د عنوان لاندې د شلو کسو افغاني ليکوالو په نامه يوه اقتراح خپره کړې او ځواب يې غوښتی دی، پوښتنه دا ده: (د لوی شاعر، اديب او عالم خوشحال خټک د افکارو له کومې خوا څخه تاسو متاثر شوي يئ، يا په بل عبارت، د خوشال د افکارو کومې خواوې ستاسو ډېرې خوښې دي؟)

يو خلف چې د صلف د افکارو د کومې ډډې څخه ډېر متاثر شوی وي او دغه ډډه يې تر نورو زياته خوښه وي؛ نو معنا يې دا ده چې د دغې ډډې تعقيب به يې کړی وي او پر دغه لاره به تللی وي؛ نو ځکه د ښاغلي عارف عثمانوف پوښتنه مې په خپل باب کې داسې واړوله: (ما له خوشحال خانه څه زده کړه؟) او دغه سوال مې بې ځواب نه شو پرېښوداي، ځکه عارف عثمانوف پر ما دوه حقه لري، په دغو کې يو شخص دی او بل ملي شخص، حق يې پر ما دا دی چې کوم وخت ده د کابل د پوهنتون د ادبياتو په فاکولته کې پښتو زده کوله؛ نو هغه وخت يې زما سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږه پېژندګلوي لرله، خو چې کوم وخت زه د مسکو په سنترالي ناروغتون کې پنځوس ورځې کټ لوزوی وم، دی او د ده استاد نیکوالی دورینکوف چې هغه هم زما خوږ دوست دی، دوی ما سره خورا ډېر کمک او مرسته کړې ده، چې زه یې نه شم هېرولای. دویم حق چې ملي دی او زه ورته په هېڅ شان سترګې نه شم پټولای، هغه د دوی د پښتو ژبې له لارې افغاني ثقافت ته خدمت دی. درېیم سبب چې ما ځواب ته لمسوي هغه دا دی چې لیکوالي زما مسلک دی او هر څوک چې د اخبار په خوله له ما کومه پوښتنه کوي؛ نو ګویا ما خپل په زړه پورې مسلک ته ترغیبوي او خوشالوي مې، مخکې تر دې چې زه د دې سوال ځواب ولیکم چې ما له خوشحال خانه څه زده کړي دي، بده به نه وي که زه دلته په لنډ ډول دا یادګیرنه وکړم چې زه د پښتو د لیکوالۍ پر خوا څنګه وګرځېدم او زما لارښوونکی څوک و؟ نیمه پېړۍ مخکې چې ما سترګې غړولې وې او په ښه او بد پوهېدم: نو مې لیدل چې د پښتنو په دې لویه دنیا یعنې لویه پښتونخوا کې چې مور یې اوس پښتیانا هم بللی شو، د پښتونولۍ یو خوږ ژوند او ژوک موجود و، یعنې هر څه په پښتو وو خو خپله پښتو نه وه، د دې خبرې معنا دا ده چې دلته د هرې خوا یعنې رسمونه، رواجونه، پرېکړې، او فیصلې؛ جرګې او مرکې؛ قیصې او افسانې؛ ادب او موسیقي؛ ګډا او نڅا؛ دیانت او نمانځنه؛ کالي او استوګنه؛ خبرې او شاعري؛ حجرې او دېرې؛ صنعت او رغونه ... لنډه دا چې ټول ژوند د پښتو د کلچر د تاثیر لاندې و، یو ډېر ښاغلی او ښکلی قومیت او ملیت موجود و، خو شعوري نه و، یعنې دا چې پښتو د پښتنو لپاره د زده کړې، ژبه وه، خو په شفاهي ډول، نه د لیک په صورت. په پښتنو کې علم او لیک و، خو په پښتو نه و، په نورو ژبو و، دا کمی یوازې زموږ په عصر کې نه و. سوریان، غوریان، لودیان او ابدالیان هم د دې کمي په پوره کولو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو بريالي شوي، دوی به په کورونو او ولس کې پښتو ويله، خو چې د دفتر او کتاب خبره به راغله، نو دا ځای به نورو ژبو نيولای و، ښه نو زما پښتو ته څنگه پام شو؟

څوک يې مني او که نه، خو ما پښتو ليکنه له ځانه زده کړې، زما د ليک، لوست او علم سره ډېر شوق و، ما به مور و پلار، ماماگانو او نورو استادانو څخه سبق وايه او هغه به مې ليکه، په ډکو به مې په ښويو دېوالونو او په رنگونو به مې د پلار د کتابونو په وقايو مشقونه کول.

يوه ورځ زما پلار وليدل ما ته يې وويل: تا خو زما ټول کتابونه خراب کړل، دا ته څه کوې؟ بيا يې راته يو څه پټۍ وليکلې او تخته يې په لاس راکړه، چې لږ الف و ب مې زده کړه، نو خپلې جملې به مې ليکلې، يوه ورځ مې يو ماما زما پلار ته راغی او هغه زما خط وليد او ما ته يې وويل: ((هلکه دا تا کړی دی؟)) ما ويل: هو. ده وويل: اوهو دا خو ډېر ښه خط دی. تر دې وروسته به زما صفتونه کېدل، په ۱۳۱۰ هـ ش کې ما د خيبر په مرکز لواړگي کې يو ازاد مکتب جوړ کړ چې څلوېښت کسه هلکان او نجونې شاگردان په کې داخل وو، دغو ته مې پښتو اردو او فارسي ليک او لوست ښوده، تر ده وخته ما پښتو ليکله، خو چې څه به مې ويل هغه به مې ليکل، معيار راسره نه و، په ۱۳۱۲ هـ ش کې زه د قندهار پښتو ادبي انجمن کې مقرر شوم، دغلته ما وليدل چې هر څوک بېله بېله پښتو ليکي، نو زه د معيار پيدا کولو فکر کې ولوېدم، زما زړه کې به راتلل چې په پښتو بايد پښتانه راغونډ شي، نو ما د احمد شاه بابا، پير محمد کاکړ، رحمان بابا او خوشحال خان قلمي دېوانونه وکتل چې ټول په يو ډول ليکدود او يو قسم پښتو ليکل شوي وو، بس نو دغه وخت ما معيار پيدا کړو، تر دې وروسته به زما او زما د قندهاريانو ملگرو تر منځ د پښتو په ادبي او خطي معيار باندې تل تاوده بحثونه کېدل، په ۱۳۱۴ل چې مو ږ کابل ته راغلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته مو پښتو ټولنه تاسیس کړه، نو د پښتو د لیکدود او ادب په باب مو جرګې شروع کړې او د پښتو ادبي معیار تر یوه حده ټینګ شو، په دغه وخت کې د ښاغلي محمد ګل خان مومند د پښتو مبارزه هم په ننګرهار، قندهار، فراه او کابل کې جاري وه، خو غریب په یو سر لګیا و، د پښتو ټولنې تاسیس نه وروسته موږ ته لږ شانې د پښتو په باب د کوم اثر د مطالعه کولو فرصت په لاس راغی، تر دې دمخه مو د رحمان بابا، خوشحال خان دېوانونه، رشید البیان، د امیر حمزه او ګل اندامې قصې او نور کتابونه لیدلي او اورېدلي وو، خو پښتو چا څه کوله، د دېرشو کلو وړاندې خبره ده، په کابل کې یو ځل د مرحوم سید حسین خان په کور کې، زه، حبیبي، مجروح، الفت، عبدالله افغاني نویس، خوګیاڼي، منشي میرغلام او دغسې نور ډېر کسان راغونډ وو. سید حسین خان او سراج الدین سعید هم حاضر وو، په دې موضوع مناظره شروع شوه چې رحمان بابا لوی شاعر و، که خوشال، د خوشال طرفداران ډېر وو، خو زه او څو کسه نور د رحمان طرفداران وو، موږ په خالص شعري لحاظ رحمان پورته ګڼه، د دغې مناظرې په ملاحظه لږ وروسته (د خوشحال او رحمان موازنه) ما کابل راډیو ته یو مضمون هم ولیکه چې نتیجه یې دا وه: (خوشال په ټوله معنا شاعر دی، خو رحمان د شاعر نه پورته مقام لري). همدغه موضوع د خوشحال په سیمینار کې بیا ما وڅېړله او تر یوه حده تکمیل شوه، موږ لا په همدغو کلونو کې په پښتو او پښتونولۍ ادبي او ثقافتي بحثونه کول چې د پښتونستان مسله منځ ته راولوېده، دلته زموږ توجه دې خوا ته شوه چې افغان ملت باید په کومو اساساتو ودرول شي، دلته د خوشال خان دېوان لوی قیمت پیدا کړ، د پښتنو د کلچر مناظرې خو لا اوس هم تمامې نه دي، چې د پښتنو دنیا دا خبره مني چې د پښتون ملیت لپاره د خوشحال خان شاعري داسې مثال لري، لکه، شیکسپیر، ګویتې، پوشکین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډينټې او فردوسي، د خپلو ملتونو لپاره، نو ما د خوشحال نه دا زده کړي دي:

۱- ټول افغان ته د واحد ملت په نظر کتل.

۲- پښتو ته د ټول ملت د ژبې په نظر کتل.

۳- ليکوال بايد يوازې د خبرو نه، بلکې د عمل مرد هم وي.

۴- پښتون بايد پښتونولي د يوه مسلک په حيث وپېژني.

۵- د پښتو ادب بايد د پښتون پېژندلو او جهان بينۍ په اساس ودرېږي.

٦- د پښتو ادب بايد د پښتنو معايب اصلاح کړي او محاسن يې ټينګ کاندي.


۷- پښتون شاعر بايد باز، زمرى او عقاب زيات وستايي، نه بلبل او قمري (لکه چې ما د خوشحال او رحمان موازنه) کې دا خبره څېړلې ده چې خوشحال يو زبردست قوي شاعر دی، د ده شاعري د يوه واحد ملت د جوړولو د هدف لپاره جدوجهد دی، څومره چې خوشحال پښتون قوم پېژني، بل يې هېڅوک دومره نه پېژني، د ده په شاعرۍ کې د پښتونولۍ يوه ښکلې دنيا تياره موجوده ده، مبصرين وايي، د خوشحال دغه کوشش نتيجه هم ورکړه داسې چې زموږ بهادر نيکه ميرويس خان د خوشحال خان په ايډيال حکومت تاسيس کړ او وروسته بيا په همدغه اساس احمدشاه بابا د افغان نشنلېزم يو تعمير ودراوه، مګر تاسف دی چې د دنيا د حوادثو په مقابلو کې موږ دغه ملي اساسات ونه شو ساتلی. عمر له موږه د تاريخ تکرار غواړي، خوشال د پښتو په باب لوی ابتکار کړی دی، ده معياري ژبه جوړه کړې ده، لغات يې د هر ځای استعمال کړي دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتو د نظم او نثر، لیکدود او لیکنې تهداونه یې پاخه کړي دي، د ده ژبه یوازې د خټکو ژبه نه ده، بلکې د پښتون قوم ژبه ده، د خوشحال خان څخه موږ دغه دستورونه زده کړي دي، چې پورته ورته په اجمال اشاره وشوه.)) (۲۳: ۳۲۸-۳۳۰)**

**٦- رحمان بابا:** **رحمان بابا د پښتو ژبې او سیمې یو ستر شاعر تېر شوی، هېڅ پښتون شاعر به د پښتنو د عوامو او خواصو پر ذهنیت دومره تاثیر ونه لري، لکه رحمان بابا یې چې لري. د ده خوږ کلام د هر پښتون ذهن ته ورداخل شوی دی. دی خپله هم وایي: ((زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیر یم)) هر پښتون شاعر له رحمان بابا سره مینه لري او د هغه له شاعرۍ څخه یې په یو نه یو ډول الهام اخیستی دی. استاد خادم هم د**



**رحمان بابا له مینوالو څخه دی. نه یوازې دا چې رحمان بابا ته یې ځانگړي نظمونه لیکلي، بلکې پر هغه یې څېړنیزې لیکنې هم کړي. ((د رحمان او خوشال موازنه)) د استاد خادم د مشهورو تحلیلي لیکنو له جملې څخه ده. دلته به یې دې نظم ته تم شو چې ده د رحمان بابا په یاد لیکی دی.**

((یو نظر ته په احوال د جهان وکړه
بیا د قام د ناجوړیو درمان وکړه
هلته پاخه چې فرصت درنه تېرېږي
تجسس په لار د تللي کاروان وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــه ختـــل غـــواړې معـــراج د ترقـــۍ تـــه
پـــه ملـــت کـــې دې تعمـــيم د عرفـــان وکـــړه
کـــه فلـــک دې ګلشـــن ډاک بـــه پـــه پيـــرۍ کـــړ
پـــه دې ډاک د خپلـــو اوښـــکو بـــاران وکـــړه
قلـــم واخلـــه تـــوره کېـــږدئ لـــه لاســـه
تـــګ پـــه لاره د مېـــړه خوشـــحال خـــان وکـــړه
کـــه ملنـــګ يـــې نـــور دې نـــه کېـــږي لـــه وســـې
د پښـــتو خـــدمت پـــه شـــان د رحمـــان وکـــړه
ملنـــګ نـــه دی عـــالمګير د خپـــل ادب دی
پـــه دوه لاســـه يـــې تعظـــيم د داســـتان وکـــړه
بـــاغ و بـــڼ د ملـــي ژبـــې نـــن غـــوړېږي
د خـــدمت نظـــر پـــه دې ګلســـتان وکـــړه
بـــه ميـــدان د حـــب د قـــوم کـــې ظـــاهر شـــه
پـــه ســـر لـــوبې لکـــه فخـــر افغـــان وکـــړه
د ملـــي ادب ژونـــدون د قـــام ژونـــدون دی
ای (خادمـــه!) دا پـــه زوره اعـــلان وکـــړه.))
(۱۲: ۱۱۸)

خادم صيب دا نظم د (۱۳۱۷ل) کال د سلواغې مياشت کې ليکلی دی. په نظم کې يې د رحمان بابا تر څنګ د نورو شاعرانو او د پښتنو د سيخو ستړو يادونه هم کړې ده. له دې نظم څخه د خادم نړۍ ليد يو ځل بيا په ډاګه کېږي چې دی دغه ډول فکر لري او پښتون قام کومې لارې ته سيخوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم، رحمان بابا ته د ځانګړي عقیدت ترڅنګ چې په منظوم کلام کې وړاندې شوی، پر رحمان بابا نورې لیکنې هم کړې، هغه د خوشال او رحمان موازنه هم کړې ده، خادم صیب وايي: ((خوشال په ټولو معانیو سره شاعر دی او رحمان بابا د شاعر نه پورته مقام لري.)) خادم صیب د رحمان بابا په یاد په یوه مشاعره کې یوه لیکنه هم کړې، لیکنه لنډه خو ډېره ارزښتمنه ده. دا مشاعره د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې جوړه شوې وه او خادم صیب د مشاعرې تر پیل دمخه دا لیکنه اورولې وه. دا لیکنه د (رحمان بابا مشاعره) نومېږي. خادم صیب په دې لیکنه کې د رحمان بابا پر ادبي شخصیت او د مشاعرې پر ضرورت رڼا اچولې ده:

## د رحمان بابا مشاعره

((د نړۍ ټول ملتونه منلي شخصیتونه لري او هم دغسې پښتونخوا هم لوړ او منل شوي سړي خپلې غېږ کې پالللي او لوی کړي دي. په دغو سړو او اشخاصو کې رحمان بابا یو داسې ادبي او عرفاني ځای نیولی دی چې ډېر اوچت دی او د هر افغان سر ورته په درناوي ښکته کېږي.

رحمان بابا د خپل جګ استعداد، مشتعل طبیعت، قلبي مراقبو او افاقي مشاهدو لحاظ د انساني حیات هغه رموز او اسرار پېژندلي وو چې له ده څخه یې کوږ دستار تړلی قلندر جوړ کړی و. دی عارف و، دی عاشق و، دی انسان و او د انسان په درد دردمن و، د ده کلام دومره خوږ کړی دی، لکه انګبین، دومره یې مستانه کړی دی، چې په شعر یې د پښتونخوا د باګرام ترکې هم نغمې وايي، هم رقص کا او هم خاندي او د هر بیت مصره یې دومره خوشبویه ده، لکه د خوبانو زلفې.

د رحمان بابا دشعر زور دومره دی چې یوه مصرع یې پوره ملت پاڅوي. خارجي استعمار له ملکه باسي او شاهان په تخت کښنوي، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل دی چې لویې پښتونخوا د خپل شعور او ویښتوب په جال کې د یو موکد سنت په حیث دا خبره په ځان ګڼلې ده چې په هر پسرلي کې به ځای په ځای د رحمان بابا په نامه مشاعرې کوي.

د رحمان بابا د مشاعرې دا معنی نه ده چې ټول شعرونه به د رحمان بابا فضایلو ته راجع وي، مګر مدعا یې دا ده چې دغه اشعار باید تبرکاً د ده لوی نامه ته انتساب ومومي او په ادبي، ملي، انتباهي او عالي مضامینو مشتمل وي، چې څو د رحمان بابا د لوړ روحانیت په برکت د پښتو ژبه خپل ملي مرام او هدف ته ورسېږي.

په تېرو کالونوکې د هر حمل په میاشت په پښتونخوا کې درنې درنې مشاعرې شوې دي، چې د پښتنو زړونه یې د ګلانو په شان تازه کړي دي. دغه اشعار په اکثرو ځایونو کې د مشاعرې په وخت کې په لاوډ سپیکرونو کې خپاره شوي او په کتابي صورتونو چاپ شوي دي چې ذوقمندانو ترې ډېره استفاده کړې او دپښتو په ادب کې لویه اضافه ګڼل شوې ده.

رښتیا چې د یوه قام د ژبې اوادب د روزلو او وده ورکولو دپاره دغسې لویې او قومي مشاعرې خورا سمه لار او لویه وسیله ده.

په عربو کې د اسلام نه مخکې همدغسې مشاعرې وې چې معلقې یې منځ ته راوستلې او عربي ژبه او ادب یې هغه مقام ته ورساوه چې داسماني وحې د نازلېدو استعداد په کې پیدا شو، په تېرو پنځه ویشتو کالو کې چې ډېر لږ عمر او د یوې پېړۍ څلورمه برخه ده، د پښتو ادب له هغه ګړنګونو څخه تېر شوی دی چې ولوېږي یا وغورځول شي، اوس دا د پښتنو د همت او غیرت ذمه واري ده چې په ټول قوت سره د پښتو بیرغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسک کړي، نو په پښتو کې بیا دومره صلاحیت شته چې د پښتونخوا خاوره د اسمان د ستورو مقام ته ورسوي.)) (۲۳: ۱۵۸-۱۵۹)

**۷- احمد شاه بابا:** لوی احمد شاه بابا د معاصر افغانستان بنسټګر او د نړۍ له لویو امپراتورانو څخه دی.



ده نه یوازې متفرق افغانستان سره راټول کړ، د یو قومي مرکزي حکومت بنسټ یې کېښود، بلکې د افغانستان حدود یې خپلو طبیعي پولو ته هم ورسول، ددې تر څنګ یې د افغانستان امپراتوري تر ډیلي، سمرقند او اصفهان پورې هم ورسوله. احمد شاه بابا دلوړو اسلامي او افغاني اخلاقو خاوند و، یو ډېر حیاناک او عزتمن سړی و. احمد شاه بابا نه یوازې یو ملي مشر او سر لښکر و، بلکې د پښتو ژبې ښه شاعر هم و. په پښتو ژبه ترې د شعرونو دېوان هم پاتې دی. د احمد شاه بابا نظریات، افکار او فتوحات نه یوازې د کورنیو لیکوالو د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي، بلکې پر بهرنیو لیکوالو یې هم خپل خپل تاثیرات پرې ایښي دي. (ډاکټر ګنډا سنګهـ) یو سک هندی دی چې پر احمد شاه بابا یې د خپلې (PhD) تېزس لیکلی او د هغه د اخلاقو او ټولنیز شخصیت ستاینه یې کړې ده. استاد خادم هم د احمد شاه بابا له افکارو او اخلاقو متاثر دی او پر هغه یې یو شمېر لیکنې کړې دي. ده د احمد شاه بابا پښتونولي ستایلې او په دې باب یې یوه لیکنه کړې ده. دا دی دلته دا لیکنه د احمد شاه بابا په باب د خادم صیب د ذهنیت د یوه تصویر په توګه وړاندې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د احمد شاه بابا پښتونولي

((کوم وخت چې نادر شاه افشار په مشهد کې په خپله د ایرانیانو له لاسه په قتل ورسېد، نو احمد شاه بابا په فوځ کې لوی جرنیل و. د نادرشاه د وژلو په وخت کې پرته له احمدخانه نور نهه تنه پښتانه سرداران هم د نادر شاه په عسکرو کې په ایران کې موجود وو.

یو له دغو نهو تنو څخه حاجي جمال خان د پاینده خان پلار او د وزیر فتح خان او د امیر دوست محمد خان نیکه او د مشهور مجاهد او وطن پرست غازي اکبر خان ورینکه و، فیریر فرانسوي د پښتنو د تاریخ په (٦٨)مخ کې لیکي چې دغو سردارانو ته تجربې ثابته کړې وه چې د پښتنو د محکومیت او غلامۍ اصلي سبب د دوی بې اتفاقي، اغراض او کورنۍ جګړې دي، نه د رقیب قومونو زور او قوت!

په دې وجه دغو سردارانو د نادرشاه له مرګه پس یوه جرګه وکړه او په هغې کې یې په قران قسم وکړ، موږ به پس له دېنه په مینه محبت او اتفاق یو تر بله ژوند کوو.

دوی دغه جرګه د یوې میاشتې لپاره خپره کړه او ویې ویل چې په دغه موده کې باید موږ په فکر سره د پښتنو د رواجونو او روایاتو سره سم څه اصول پیدا کړو چې د پښتني حکومت بنیاد او اساس وي. د پښتنو سردارانو د دې جرګې یو محرک هغه حمله هم بلل کېده چې ایرانیانو د نادر شاه له مرګه پس په دغو پښتنو باندې کړې وه او په دغه حمله کې ډېر پښتانه د ایرانیانو له لاسه مړه شوي وو، څه موده پس بیا پښتنو سردارانو یوه بله جرګه وکړه په دې جرګه کې په قطعي طور پرېکړه وشوه چې پښتانه باید نور د هېچا غلامۍ ته غاړه کښې نږدي. دوی تصمیم ونیو چې باید د پښتنو په منځ کې د ورورولۍ، اتفاق او تنظیم اساسونه تقویه کاندي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وخت کې د دغو پښتنو په مغزو کې د پښتانه قوم تاریخي عظمت او د خپلواکۍ جذباتو چپې وهلې او د پښتون قوم د جاه و جلال او شان و شوکت خوبونه به یې لیدل.

تر دې وروسته دغه سرداران او نور پښتانه کندهار ته راغلل، په کندهار کې بیا دغو مشرانو یوه جرگه وکړه او په دې جرگه کې یې په اتفاق نور محمد خان علي زی د فوځ له سپه سالارۍ موقوف کړ، ځکه چې دی د نادر افشار له لاسه ناست و. ددې نه پس دغو مشرانو د کندهار د ټولې علاقې یوه لویه جرگه راغونډه کړه چې په هغې کې د ابدالیانو، غلجو، بلوڅو، هزاره و مشران شامل وو.

دوی په اتفاق سره دا خبره فیصله کړه چې د ایران سره تعلق پرېکول په کار دي چې ایرانیان او پښتانه بېل بېل خواص لري او یو پر بل حکومت نه شي کولای او دا یې لازمه وبلله چې دا جرگه دې خپل بادشاه غوره کړي چې هغه د خپل ملک او ملت د انتظام واگې په لاس کې واخلي. وایي چې پرله پسې اته جرگې وشوې، مگر هر کله چې له هرې خوا قوي سړی کاندید شوی و او ډېر طرفداران یې لرل فیصله کول ډېر گران کار و. په دغو کاندیدانو کې ذکر شوی حاجي جمال الدین خان د محمد زو سردار او مشر موجود و.

وایي چې په دغو جرگو کې یو پښتون ملنگ چې ((صابر شاه)) نومېده هم شامل و، په اخره کې صابر شاه را پاڅېد ویې ویل: ((پښتنو! د خدای لپاره دا جرگې خپرې کړئ، دا څه شور او غوغا مو جوړه کړې ده؟ خدای تعالی په تاسو کې احمد خان یو لوی او دروند سړی پیدا کړی دی، هغه په ټولو پښتنو کې په هر څه ښه دی او قابل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که تاسو خدایي کار نه منئ، نو د خدای تعالی قهر به درباندې نازل شي!)) دا یې وویل او د اوربشو یوه کوده یې راوشوکوله او د احمدخان په پګړۍ کې یې وټومبله.

ویل یې خدای دې دا ستا تاج کړي، تر دې وروسته حاجي جمال‌خان او نورو ټولو سردارانو تقریرونه وکړل او د احمد خان په لاس یې بیعت وکړ. احمد خان د ټولو قومونو په مخکې په بېغرضۍ د حکومت کولو او د ټول قوم مشترک مفاد لټولو لپاره عهد او لوړه وکړه، په ۱۷۴۷ع کال په یو مسجد کې د احمد خان باقاعده تاجپوشي وشوه او د بادشاه لقب ورکړ شو. په دغه وخت کې د احمد شاه بابا عمر ۲۳ کاله و، مګر په رښتیا، ایمانداري، تقوی، نېکۍ په قومي جرګو کې په درنه وضعه، په مشوره کې د رایې په پخوالۍ، د قوم د اخلاقو څخه په واقعیت هر چا پېژندلی و، نو ځکه یې په ټولو پښتنو مخصوصاً په ابدالیانو کې ډېر رسوخ درلود.

احمد شاه بابا پنځه ویشت کاله حکومت وکړ، هغه حکومت چې له نشته، ده شته کړی و، دده د وفات پر وخت یې د شمالي له خوا سرحد د امو دریاب و، د کافرستان د غرونو پورې رسېدلی و او د لمر خاته پلو ته یې تبت کوهستان، ستلج او اباسیند حد و، جنوب ته یې د عمان خلیج و او غرب یې خراسان، ایران او کرمان ته لګېدلی و. دده د حکومت دوره د پښتنو او نورو خلکو لپاره د سعادت، خوښۍ، ودانۍ، امن او عدالت زمانه وه. په احمد شاه بابا باندې د ځینو خلکو اعتراض دا دی چې ده ملکونه ونیول او ویې نه شو ساتلای. مګر اصل خبره دا ده چې احمد شاه د خپل پښتني خوی پر بنا د جهانګیرۍ وږی نه و. په حکومت کې د هغه مقصد استعمار نه و، بلکه د امن او عدالت، مساوات او د خدمت په اراده ده دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړاوونه په سر اخیستي وو او شک نشته چې دی د پښتون ملت باني او سم خادم و! او دا کار د ده د عشق درجې ته رسېدلی و.

په دې ځای کې موږ نه غواړو چې د احمد شاه بابا په جنګونو، فتوحاتو او مبارزو څخه بحث وکړو، بلکې زموږ په مخکې یو سوال پروت دی د هغه جواب لټوو.

هغه سوال دا دی چې د احمد شاه بابا د دې ټولو حیرانوونکو کامیابیو علة العلل څه شی و؟ دې کې شک نشته چې احمد شاه فوق العاده شخصیت، نبوغ او لیاقت درلود.

مګر همدومره خبره د سوال جواب نه شي کېدای!

د سایل په زړه کې دا خدښه پاتې کېږي چې اخر دغه لوی انسان کومه لیاره غوره کړه چې دغې کامیابۍ ته ور باندې ورسېد؟ ځکه چې د لویو خلکو اصول او مقررات د ډېرو زمانو پورې د استفادې وړ وي. بله دا ده چې تاریخ یو تکرر خیز دی. که هغسې اسباب، علل، شرایط، اصول او مقررات بیا تکرار شي، ممکنه ده چې نتیجه ورکړي.

مخصوصاً د پښتنو د موجوده مشکلاتو په وخت کې د احمد شاه بابا د کامیابو اصولو په فلسفه غور کول، د هر مفکر پښتون او افغان وظیفه ده. اوس د تاریخ له پاڼو دغه جواب غواړو! پښتون لیډر قاضي عطاء الله خان مرحوم په خپل کتاب د پښتنو په تاریخ کې لیکي چې کوم وخت احمدشاه درانی په تخت کېناست، نو د ده  په مخ کې دوه لوی کارونه پراته وو. یو د پښتنو خپرې او تیت و پرک څانګې، د یو ملیت او قامولۍ په دایره کې راغونډول او بل هغو کې د مشترک قومیت جذبات تازه کول او ټینګول، بل د یو قوي او کلک حکومت تهداو ایښودل. هر کله چې احمد شاه بابا د پښتنو د خوی خصلت او د هغوی د رواجونو او عاداتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ښه واقف و او خدای تعالی ورته روڼ دماغ او صاف ضمیر ورکړی و، نو هغه د خپل حکومت لپاره یوه داسې طریقه غوره کړه چې هم فطري وه او هم د پښتنو په زرګونوکالو روایاتو برابره. داسې چې ده د ټولو پښتنو قومونو سرداران او مشران ځان سره د حکومت په ټولو معاملو کې شریک او شامل کړل. هغه ته دا معلومه وه چې څو پورې د پښتنو هر قام او هره قبیله د ازادۍ او خپل حکومت خوند وانه خلي او څو پورې چې زه دوی ته د حکومت په هره شعبه کې برخه ورنه کړم، تر هغې په دوی کې د قامولۍ جذبه او د قومي ژوندون احساس ټینګول مشکل کار دی، نو احمد شاه بابا د پښتنو د قومونو کورنۍ چارې لکه د مشرانو مقررول، داخلي امن، فیصلې کول، ماتې ګوډې د خپلو پښتني اصولو د شرایطو لاندې په جرګو سمول او داسې نور کارونه خپله قومونو ته ورپرېښودل او په لویو لویو خبرو کې لکه د نورو قومونو سره جنګ یا صلحه کول یا په ټول ملک کې د یو خاص نظام یا قانون جاري کول، یا په خلکو باندې غیر معمولي محصول یا مالیه لګول او په دغسې خبرو کې به یې د قومونو دمشرانو او سردارانو سره مشوره کوله او صلا به یې ورنه اخیسته. بیا به یې اقدام کاوه. احمد شاه بابا د پښتنو هر قوم ته په قومي اصولو د شاهي فوځ لپاره د لښکرو ورکولو تعداد معلوم کړی و، د احمد شاه بابا لوی قابلیت دا و چې هغه خپل هر کار ته قومي رنګ ورکاوه.

هغه ځان ته ((پښتون بادشاه)) وایه. ده به ویل زه پښتني قومیت او حکومت ټینګوم او د پښتنو د خیالاتو او د پښتو او پښتونولۍ د تهذیب او روایاتو په بنیاد حکومت غواړم. احمد شاه بابا به چې له پښتنو څخه هره غوښتنه او تقاضا کوله، نو د پښتو او پښتونولۍ له مخې به وه ((هغه به ویل پښتنو وروڼو! د پښتو په روی ما سره دا کومک وکړئ!)) یا به یې ویل: ((پښتنو عزیزانو د پښتو د سرلوړۍ لپاره راولاړ شئ دا کار وکړئ!))

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه بابا به هېڅکله کوم داسې کار ته لاس نه اچولو چې د ټول قام مشترکه فایده او ګټه به په کې منظور نه وه.

د پورته اصولو په بنا هغه دپښتنو د لویو قومونو څخه نهو تنو مشرانو ته وزارت جوړ کړ او په ټولو معاملو کې به یې د دغه جرګې په فیصله عمل کاوه. د ټول قوم او سردارانو ژبه په جرګو کې او بهر له جرګو څخه پښتو وه.

فیصلې به د پښتو په رواج او قانون کېدې. هېڅ کار به د قام د مشرانو د منظورۍ نه بغیر نه کېده. رښتیا خبره دا ده چې لوی احمدشاه د لوی افغانستان لوی بادشاه نه، بلکې مهربان پلار و، ځکه نو خلکو ورته (بابا) لقب ورکړو، په پښتني تهذیب کې د دېنه بل لوی او معنی دار لقب نشته. دا نه وه چې ګوندې احمد شاه بابا یوازې د پښتو مشر، محبوب، بادشاه او پلار و، بلکې د افغانستان نورو قومونو هم ده ته د همدغه احترام په نظر کتل، ځکه چې احمد شاه بابا د حکومت کولو لپاره یو څه اصول لرل، دا اصول اګر چې پښتني وو، لېکن د حکومت فواید او ښېګڼې د کوم خاص قوم او خاص ټبر له پاره مخصوص نه وې، بلکه ټول مملکت په کې مساوي و.

پښتني اصول د نظم او انتظام، د حکومت د تحکیم، د خلکو د خوشالۍ، ازادۍ او مساواتو ساتلو او په یوه نقطه راغونډولو لپاره منل شوي وو. د دغو لوړو او عالي اصولو په بنا خلکو احمد شاه بابا یو بادشاه نه، بلکې یو ولي او د برخې خاوند ګڼلو، کوم وخت چې احمد شاه بابا په تخت کېناست، نو دستي یې د قامونو ((لویه جرګه)) راوبلله. دې جرګې ته یې په خپل سلطنت کې د هغو ټولو علاقو د شاملولو تجویز وړاندې کړو چې هلته پښتانه اوسېدل. په دغو علاقو کې غزنی، کابل، پېښور، هرات او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو ځينې نور غربي ولايات شامل وو، چې د ايران په لاس کې وو. جرګې فيصله وکړه چې دا علاقې دې ازادې کړی شي. ولې عجالتاً د کابل، غزني او پېښور د ازادۍ لپاره اقدام لازم وبلل شو.

د کابل ګورنر يو سړی و چې ناصر خان نومېدو، دی د مغولو له خوا مقرر شوی و، خو کوم وخت چې نادر شاه دی مات کړو، نو بېرته يې له خپلې خوا په همدغو علاقو مقرر کړو، احمد شاه بابا، ناصر خان ته وليکل چې دغه علاقې د پښتنو دي. دا خوشې کړه، ناصر خان انکار وکړ. دا وخت د کابل په بالاحصار کې ۱۲زره قزلباش پراته وو، چې نادر شاه د ځان سره راوستي وو. دا خلک ناصر خان د جنګ لپاره تيار کړل. له بلې خوا يې کوشش شروع کړ چې هزاره او اوزبک په فوځ کې ونيسي، مګر ((هزاره او اوزبکو د احمد شاه سره د جنګ کولو نه انکار وکړ)) او ناصرخان ته يې چور پرېکړی جواب ورکړ. تر دې وروسته ناصر خان د يوې معمولي مقابلې نه وروسته ميدان پرېښود او وتښتېد. په دغه شان سره د قومي او ملي قوت او اتفاق په مقابل کې هېڅا د مقاومت تاب نه درلود. ناصر خان له اټکه پورېوت او ټول پښتني هېواد د احمد شاه د بيرغ لاندې د عزيزولۍ په رنګ کې متحد او متفق شو.

د احمد شاه بابا په لاس دراني، غلجي، يوسفزي، د اشنغر محمدزي او مومندو نه راواخله تر سيستان او کاکړو پورې ټول پښتانه يو قام او يو ملت شو. ايلفنسټن وايي چې د احمد شاه د پښتنو سره دومره مينه او محبت و چې که چېرې به کومې قبيلې د ده نه بغاوت وکړ، نو هم ده به ورسره د جنګ کولو نه ډډه کوله. د ده دا نه پېرزو کېده چې د ده په لاس دې پښتنو ته د ځان يا مال نقصان ورسېږي، احمد شاه بابا په يوسفزو، ترکاڼو، ګيګيانو، تخانخېلو، بر مومندو، د هشنګر شنګر محمدزو، خليلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومندو، اپریدو، شینوارو، ورکزو، داودزو، خټکو او بنگښو ته (بر دراني) ویل او خپل نږدې قام یې گڼلو.

د جنوري په ۱۱-۱۷۴۸ع کال کې چې حیات الله خان د پنجاب مغلي گورنر په لاهور کې د احمد شاه بابا په مقابل کې ماتې وکړه او ډېلي ته وتښتېد، نو احمد شاه بابا د لږ توقف نه وروسته د ډېلي په خوا روان شو. د ډېلي شهنشاه دوه لکه، لښکر د ده مقابلې ته را وایست او قمرالدین صدراعظم یې وربانديې سپه سالار مقرر کړ. په ۲۵ د فبرورۍ د مغلو فوځ سرهند ته راورسېد. دوی لیدل چې علی محمد خان د سر هند گورنر چې یو پښتون سړی و، قلعه یې پرېښې ده او په خپله تللی دی. اوس نو دوی ته څرگنده شوه چې پښتون د پښتون ورور سره جنگ کول نه غواړي. د پاني پت په مشهور جنگ کې د احمدشاه سره پنځوس زره فوځ و. په دې پنځوس زرو کې لس زره هغه کسان وو چې نواب شجاع الدوله د حافظ رحمت خان د کورنۍ مشر، د ځان سره د احمد شاه بابا د کومک لپاره د روهلکينډ نه راوستي وو او علاوتاً دېرش زره نور روهیلي هم د ایله ناچارۍ په طور د احمد شاه بابا تر څنگ حاضر وو. پښتانه چې هر ځای وو احمد شاه بابا ته یې د بادشاه په سترگه نه،بلکې د خپل مشر او لیډر په سترگه کتل او د ده امر یې بې دلیله منلو. په دغو دلایلو دی، په هر ځای کې کامیابېدو. د احمد شاه بابا شخصي اعمال ښخي پاک او صاف وو کومې ورانۍ چې د مشرق په سلاطینو کې دغه وخت موندل کېدې په ده کې نه وې. په معاملو کې باالکل سم، په لوظ قول کې ډېر پوخ و. پنځه وخته لمونځ به یې کولو، هېڅ نشه یې نه کوله. د هر قسم حرص، منافقت، لالچ او ظلم څخه پاک و. په قومي معاملو کې هغه په خپل قوم بلکل مین او شیدا و. فیرید وایي چې احمدشاه په خپل سلوک او محاوره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایماق، تایمني، بلوچ او نور چې د چا ژبه پښتو او نژاد پښتون نه و، پښتانه نه بلل.

احمد شاه بابا خپل ولیعهد ته نصیحت کې ویلي وو چې هېڅکله باید د چا غوږ، پوزه غوڅ نه کړی شي. د ښځو طلاق هغه ډېر بد گڼلو او د بادار نه یې د خپل مریي د وژلو اختیار سلب کړلو. بادشاه ته په دربار کې ټیټېدل او ځمکه ښکلول هغه شرک گڼلو، حکم یې کړی و چې د بادشاه د احترام په وخت کې دې سړی لاس په تندي ږدي او سلام دې کوي. د علماو مجلس یې ډېر خوښ و او له هغوی څخه یې د دین او دنیا معلومات حاصلول او استفاده به یې کوله. د حکومت د انتظام لپاره هغه باقاعده قوانین منظبط کړي وو او لوی واړه ټولو د دغو قوانینو یوه پیسه نه اخستله. حتی الوسع به هغه خپل لوی مخالفین هم نه وژل، د پښتنو د قومونو په منځ کې به هغه د یو پښتون په حیث جرگې او روغې کولې. د پښتو په ادبیاتو کې هغه ډېر اوچت معلومات او علم لرلو او په خپله د پښتو شاعر هم و، د علماوو فضلاوو د رایې د ازادۍ احترام به یې ساتلو. هغه په هېڅ مصیبت او تکلیف کې له خپلې رایې څخه نه اووښتو. فیریر فرانسوي مورخ وایي د احمد شاه عهد د خلکو لپاره د ښېگڼو او خوشحالیو عهد و. احمد شاه په خپله ډېره ساده وضعه او سلوک د خلکو په زړونو کې ځای نیولی و. خلک ورته په ډېره اسانۍ سره رسېدی شول. خلکو سره یې سختې خبرې نه کولې. خلک به یې رضا ساتل او هېچا د هغه د فیصلو نه شکایت نه و کړی. میلسن هم د دغو ټولو خبرو تصدیق کړی دی، نو مورخین وایي: چې احمد شاه طبعاً نرمۍ او رحم ته مایل و. اگر چې په حکومت کې سړی سختۍ کولو ته اړ کېږي. د احمد شاه طبیعت بشاش او خوش خویه و. په دربار کې خو به یې خپل وقار ساتلو. مگر عموماً د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعت او سلوک د خلکو سره په سادګۍ اواخلاص بنا و. ده به کوشش کاوه چې ځان کې د بزرګانو خوی خصلت پیدا کړي.

د احمد شاه بابا په باب د ټولو مورخینو د اراو خلاصه ده: ((احمد شاه په اصلي معناوو کې پښتون او د پښتنو د قومیت باني و. د هغه زمانه کې غیرت او عزیزولۍ ته پښتو ویل کېده. دینداري، مېلمه پالنه او بهادري پښتو بلل کېده. هر یو نېک او ښه صفت د پښتو په تعریف کې داخل و او د ده د دربار ژبه پښتو وه او د ده د سردارانو ټول خصلتونه په پښتو بنا وو. د عزیزولۍ ټکی د ده د زمانې نه شروع شوی دی. د دغې عزیزولۍ په نوم ده ټول قام د خپل ځان نه راچاپېر کړی.))

(۲۳: ۴۸۸-۴۹۲)

پر پورتنیو شاعرانو او مطرحو شخصیتونو سربېره یو شمېر نور داسې شخصیتونه او لیکوال هم شته چې خادم صیب یې له اثارو او افکارو سره خواخوږي ښودلې، د هغوی اثار او افکار یې مطالعه کړي، پر هغوی یې لیکنې کړي، لکه خپله اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی، فقیر صاحب، سپه سالار شاه محمود خان، سردار محمد هاشم خان، عبید زابلی او ګڼ شمېر نور چې دلته یې له تفصیلي بیان څخه تېرېږم، ددې ترڅنګ استاد خادم په خپلو ژورنالیستیکو لیکنو کې هغه مهال ګڼ شمېر نور داسې شخصیتونه، لیکوال او مهم افراد یاد کړي چې ده د بېلابېلو خپرونو د مسول په توګه دنده ترسره کوله.

د استاد خادم په دې ډول لیکنو کې د سیمې او نړۍ له مطرحو لیکوالو او شخصیتونو سره د ده روحي او فکري پیوند څرګندېږي. پر هر چا چې هر ډول لیکنه شوې، یا ورته نظم ځانګړی شوی، نو په هغه کې بیا نور ډول ډول مثبت پیغامونه پراته دي، چې کله څوک دا لیکنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه لولي، نو د اصلي شخصيت د ځانګړنو او ښېګڼو د بيان ترڅنګ له ګڼ شمېر نورو داسې مرتبطو، نويو او ښکلو موضوعاتو سره مخامخېږي چې د اصلي موضوع ترڅنګ دا نوې موضوعګانې لا پسې خوندورې دي.

که د خادم صيب د فکر پر همدې برخه هم تفصيلي کار وشي، نو د (PHD) د يو بل تېزس ليکنې ايجاب کوي.

**۸- سيد جمال الدين افغان:** سيد جمال الدين افغان د افغانستان د معاصر تاريخ يوه ځلانده څېره ده. د ده له ليکنو او افکارو نه يوازې افغان ليکوال او پوهان متاثر شوي دي، بلکې ټول ختيځ او په مجموعه کې ټوله اسلامي نړۍ د ده له اسلامي افکار و الهام اخلي. اسلامي وروروګلوي او اتحاد د سيد جمال الدين افغان د ايډيالوژۍ محور جوړوي. د خادم صيب له



خوا سيد جمال الدين افغان ته په دې ويل شوي نظم کې د هغه ټوله مفکوره او کړه وړه په ډېر دقت سره بيان شوي دي. ښه به وي چې خپله دې نظم ته تم شو.

سيد جمال الدين افغان ته

ســـــــتا منتظـــــــــره افغانســـــــــتان دی
ســــيده راشــــــه دا مـــــو ارمــــــان دی
ســــوری ځيګــــر دې لــــړ راښــــکاره کــــړه
ســــوی ټټــــر دې لــــړ راښــــکاره کــــړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــــکلی بشـــــر دې لـــــــړ ړا ښـــــکاره کــــړه
عشـــق مضـــمر دې لـــــړ ړا ښـــــکاره کــــړه
محفـــــل جـــــوړ شـــــوی ســـــتا دبیـــــان دی
ســــــیده راشــــــه دا مــــــو ارمــــــان دی

***

پــــــه ســــــفر لاړې ولــــــې لــــــه مــــــونږه
مــــــرور لاړې ولــــــې لــــــه مــــــونږه
بــــــې خبــــــر لاړې ولــــــې لــــــه مــــــونږه
لاس پـــــه ســـــر لاړې ولـــــې لـــــه مـــــونږه
واړه ملــــــت دې نــــــن قــــــدردان دی
ســــــیده راشــــــه دا مــــــو ارمــــــان دی

***

لکــــــه نســــــیم وې تــــــل نــــــاقراره
ګلشــــــن ویــــــده وو تــــــه وې بیــــــداره
ژونــــدون دې صــــرف کــــړو ملــــت د پــــاره
شــــرق دې خبــــر کــــړو لــــه خپلــــه کــــاره
غــــږ د (درا ) کــــړه تیــــار کــــاروان دی
ســــــیده راشــــــه دا مــــــو ارمــــــان دی

***

مــــــړ اور دې بــــــل کــــــړ مصــــــر و ایــــــران تــــــه
جــــګ پــــه منبــــر شــــوې هنــــد و افغــــان تــــه
بــــې ځانــــه تــــرک دې راجــــع کــــړه ځــــان تــــه
مســــلم دې وویســــت بیــــا و میــــدان تــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا پـــه نغمـــو کـــې تـــاو د بـــاران دی
ســـــیده راشـــــه دا مــــو ارمـــــان دی

***

بـــــوتې د لاس ســـــتا نــــن د ثمـــــر شـــــو
اکـــــاه لـــــه حالـــــه مصــــر و ازهـــــر شـــــو
جـــګ د اقبـــال لمـــر ســـتا پـــه اثـــر شـــو
نـــن پـــه توحیـــد بیـــا اســـلام خبـــر شـــو
شـــام کـــې د زړه غـــږ ســـتا ارســـلان دی
ســـــیده راشـــــه د امـــــو ارمـــــان دی

***

پـــه ډېـــره مینـــه ســـتا د دیـــدن کـــې
بلبلـــې وایـــې اوس پـــه چمـــن کـــې
قـــدم مـــو کېـــږده بیـــا پـــه ګلشـــن کـــې
هغـــه حـــال شـــته نـــن پـــه وطـــن کـــې
چـــې زړه خـــوږمن ســـتا ورتـــه ســـتومان دی
ســـــیده راشـــــه دا مــــو ارمـــــان دی

***

تیـــــاره ظلمـــــت کـــــې اعـــــلام دې راوړ
لانســــــت نـــــارا ، پیغـــــام دې راوړ
بـــې خـــوده قـــام تـــه انعـــام دې راوړ
د حریـــــت ښـــــه ډک جـــــام دې راوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځــه ګــوټ د خونــد و یــاد مــو هــر آن دی
ســـیده راشـــه د امـــو ارمـــان دی

***

بانـــګ د تعـــالو الـــی دې ووې
پـــه ښـــار و دښـــت و صـــحرا دې ووې
ســـر دژونـــدون او عقبـــا دې ووې
ځـــه ښـــه پـــه خونـــد او رســـا دې ووې
قـــام دې هـــر غـــږ روح روان دی
ســـیده راشـــه دا مـــو ارمـــان دی

***

غـــافلان جـــګ شـــو ســـتا لـــه اذانـــه
مـــړی ژونـــدی شـــو ســـتا لـــه بیانـــه
غـــږ د لبیـــک شـــو لـــه هـــرې خوانـــه
جومـــات جـــوړ شـــو چـــول و بیـــدیا نـــه
داغمـــو پـــه زړه ســـتا لوســـت د قـــران دی
ســـیده راشـــه، دا مـــو ارمـــان دی.

(۱۲: ۴۹۲-۴۹۸)

په پورتني نظم کې هم د افغان سید جمال الدین، فکر، هیلې او فکري نړۍ لید انځور شوی او هم سید جمال الدین افغان ته د خادم صیب د عقیدت، درناوي او اخلاص انځور ښکاره کېږي.

**۹- توکل بابا:** په پښتو ولسي شاعرۍ کې توکل بابا یو نامتو او وتلی نوم دی. دی اصلاً د پخواني کوز کونړ او اوسني ننگرهار د ښېوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالۍ اوسېدونکی و، د ده نوم د عوامو پر ژبه خور دی. خو څومره چې د ده نوم یادېږي، شعرونه یې هغومره عوامو ته نه دي رسېدلي. د دې علت دا دی چې موږ د خپلې ولسي شاعرۍ پر څېړنې زیات کار نه دی کړی. په ننگرهار کې یو متل دی: ((نن وي که سبا وي، توکل له ښېوې تلی)) توکل بابا مشهور و، خو شعرونه یې له ولسي سندرغاړو پرته د ډېرو خلکو لاسته نه وو ورغلي، تر هغه وخته چې خادم صیب دا لیکنه کړې، د توکل بابا په باب ډېر کم لیکلي معلومات موجود وو.

څرنگه چې خادم صیب هم په همدې سیمه کې لومړني دیني تعلیمات کړي وو، نو دې سیمې سره ډېر اشنا و، نو ځکه یې پر توکل بابا دا لیکنه وکړه. اوس په ښېوې ولسوالۍ کې د (توکل بابا) په نامه یوه لېسه هم شته، د خلکو په منځ کې دتوکل بابا خاص احترام موجود دی. ښه به وي چې دزیاتو معلوماتو لپاره د خادم صیب لیکنې ته تم شو:

## توکل د ښېوې

((ښېوه په کوز کونړ کې د شگې څخه څلور کروه بره یو لوی کلی دی، د دې کلي څخه دسپین غره خوا ته د ((نور)) دره ده چې کوز سر ته یې بوډیالی وایي، توکل په بوډیالۍ کې د ملک سیدال د کلي دی، داسې برېښي چې په قام ساپی دی، اورېدلي مو دي چې توکل په اوله کې یو شوقي ځوان و او د ساز و سرود شوق یې درلود، اکثره به یې غزل سرایي کوله او د ساز و سرود په مجلسو کې به شریکېده، په اخره کې د ده وضعیت بېخي وگرځېد او یو بل کیفیت پر طاري شو، دا کیفیت د استغراق او محوه کېدو کیفیت و، په دې حالت کې د ده شعر هم جاري شو، دا جریان څنگه جریان و؟ دا یو بند دریاب و چې ناڅاپه یې بندونه یوړل او راخلاص شو، په داسې شان چې هېڅ شي یې مخه نه وه نیولې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**توکل سوونه او زرگونه بدلې جوړې کړې دي، د ده شعر هر څه چې دی ټول غزل دی، رباعي او چاربيته او نور اقسام نه لري.**

**او غزل يې هم ټول يو مخصوص اهنگ او وزن لري چې ډېر دلکش او خوندور دی، دی د نورو شعراوو غوندې په مختلفو زمينو او بحرو کې نه دی گډ شوی، د ده شعر ټول د عميق او ژور عشق او محبت او سوز و گداز د يوې بلې دنيا څخه حکايت کوي.**

**د توکل ډېر ډېر غزل اوس هم د ننگرهار او پېښور د سازنده گانو په خولو جاري دي، سازندگان عادت لري او د توکل د غزلو لپاره د دوی په منځ کې يو مخصوص وخت ټاکل شوی دی چې هغه کراره شومه او د نيمې شپې پس وخت دی، په بل وخت کې د توکل غزل نه وايي.**

**په دغه وخت کې چې کاينات د شپې د سکوت په ژوره کې پراته وي.**

**او د ډېر لرې لرې نه هم بې چرگانو د وار په وار اذانونو او کېرړو د خوړو ساندو څخه بل اواز نه اورېدل کېږي او عالم د خوب په شرابو مخمور وي، په دې وخت کې د توکل غزل د ساز او سرود سره دومره کيف پيدا کوي چې سړی د دې عالمه اوچتوي او يوې داسې دنيا ته چې د ستورو د دنيا څخه هم پورته ده، هلته يې بيايي او له خونده سړي ته ټالۍ ورکوي!**

**د توکل په غزلو کې چې کومه د عشق او محبت جذبه ليدل کېږي، هغه د نورو له هغو څخه سوا او بل رقم ده، له دې څخه د يو عالي او بې زواله مينې بوی راځي، په دغه معنوي خواصو کې د توکل غزل د رحمان‌بابا رباعي گانو ته ورته او تر نورو ټولو شاعرانو پورته دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم توکل ناخوانه سړی دی، مگر د شعر موهبه یوه لاهوتي موهبه ده، څومره چې په فطري استعداد او تناسب باندې اړه لري، هغومره تعلم او زده کړه په کې دخل نه لري، همدا خبره ده چې د سړي دا رقم شعر محل د ډېرو تعجب او حیرت دی!

توکل د یوه ځانته اسلوب موجد دی، تر توکل وروسته نورو ډېرو شاعرانو د ده پیروي کړې ده، مگر په دې لاره کې د ده حد ته څوک نه دي رسېدلي، په تېرو شاعرانو کې یوازې (میرا) د ده په رنگ غزل ویلی شي، گومان کاوه شي چې دوی دواړه سره معاصر دي او تر (۱۲۵۰هـ) وروسته اوسېدل، دلته یوه خبره بله هم د یاد وړ ده، هغه دا ده چې دا میرا هغه میرا نه دی چې زموږ په تذکره (د پښتو شاعرانو تذکره چې موږ اوس لیکلې ده) کې د قلندر سره یو ځای ذکر شوی دی، د قلندر میرا شاعر نه دی، بلکې د قلندر شاعر معشوق دی.

قلندر یې د خپل نامه سره یادوي او دا میرا پیاوړی شاعر دی.

د توکل د سبک خواص دا دي:

۱- مخترع د یو مخصوص سر او اهنگ دی.

۲- د مجازي محبت د نری پردې لاندې یوه بله دنیا او بې زواله محبت ښیي.

۳- دژبې استعمال په داسې طور سره کوي چې هېڅ رقم تکلیف په کې نه وي او سړی گومان کوي چې روان نثر دی، دی په کلام کې د تخیل د لوړوالي او د ژبې د محاورو او متلو په استعمال خوږوالی او جذابت پیدا کوي، په تخیل، تمثیل او استعاراتو کې د پښتانه له محیطه نه وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دې لحاظ چې د توکل غزلیات د کتاب په صورت نه دی ټول شوي چې موږ په کې انتخاب وکړی شو او د ادبي تبصرې لاندې يې راولو، نو هغه چې په لاس راځي، دلته يې د نمونې په ډول لیکو، که څه هم زموږ د پورته ادعاگانو اثبات ونه کړی شي.**

غزل

(۱)

پــــه گلشـــــن کـــې د بلبلـــو شـــور مـــا شـــوردی
غمـــازان چـــې غمـــازي کـــا مـــخ یـــې تـــوردی
د هغـــو چـــراغ بـــل نـــه شـــو تـــر ســـهاره
چـــا چـــې کـــړی پـــه عاشـــقو ظلـــم زوردی
مـــا بـــه دم کـــړې د وصـــال پـــه منترونـــو
ســـور پېـــزوان دی او د دار پـــه شـــونډو ســـوردی
درســـته شـــپه انـــوار وربـــرېږي تـــر ســـهاره
د ســـهار د وخـــت رحمـــت گـــوره لا نـــوردی
د دنیـــا لـــه عیشـــه وتـــی سراســـردی
چـــې بـــل شـــوی د هغـــو د مینـــې اوردی
ســـر دې نـــه پورتـــه کـــوي د غـــم لـــه تالـــه
توکلـــه ! نـــن دې څـــه کـــانې پـــه کـــوردی.

(۲)

پربـړده چـې مـې مـړ کـې شـاه لـیلا پـه تېـره تـوره
ســـتا ظلـــم و جفـــا ده یـــاره مـــا و تـــه منظـــوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کــه بېگنــاه د ســتا لــه لاســه شــادت مــومم
تــه کــه رانــه لاړې رب بــه راکــه جنــت حــوره
ډېــر دا ســتا پــه شــان زېــر زمــين شــو بــې شــانه
پربــړده کبــر پربــړده نــوره مــه گرځــه مغــروره
راغــــى پــــه توکــــل پســــې چپــــاو د غمــــازانو
اوس بــه يــې ســرغوڅ کــا پــه چــاړه او يــا پــه تــوره.

(۳)


شــــا لــــيلا پــــه تــــور وربــــل ايښــــي گلونــــه
اوس روانــــه ده پــــه ســــيل کــــوي ســــيلونه
بــــال و پــــر مــــې د هجــــران پــــه لمبــــو وســــو
چــــا تــــه نــــه وايــــم د ســــوي زړه حالونــــه
توکــــل دې تــــل صــــفت د خــــال و خــــط کــــا
ســــپين دنــــدان دې مرواريــــد شــــونډې لالونــــه.))
(۲۳: ۱۵۱-۱۵۳)

د توکل په باب معلومات که له يوې خوا له نومړي ولسي شاعر سره د خادم صيب مينه او لېوالتيا څرگندوي، نو له بلې خوا د هغه شعرونه خوندي کوي. د توکل پر کلام د استاد خادم دغه تبصره او تحليل موږ ته هغه مهال د پښتو ولسي ادب د پېژندنې لپاره ښه وسيله کېدى شي. له بلې خوا ادب تاريخ ته د دې موادو خوندي کول ډېر زيات گټور دي. پر ولسي ادب باندې د استاد خادم د پوهې احاطه بل هغه ارزښت دى چې موږ ته د دې ډول شاعرۍ تحليل او څېړنې ته ښه زمينه برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰ - باچا خان (فخر افغان):** په شلمه پېړۍ کې د پښتنو او سیمې یو ستر ملي او مبارز شخصیت دی. نږدې اویا کاله یې ملي مبارزه وکړه او نږدې (۳۰) کاله یې د انګرېزانو له خوا په زندانونو کې تېر کړل. ده د هند په ازادۍ کې فعاله ونډه واخیسته، خو د پښتونستان د ازادولو په لاره کې خپل ملي ارمان ته ونه رسېد، ده په سیاست کې د سړیتوب لاره ونیوه، (عدم تشدد) یې اختیار کړ، جنګ جګړې ته یې لاس وانه



چاوه، د خدایي خدمتګارو تحریک یې جوړ کړ او د پښتنو د پرمختیا لپاره یې تعلیم او سواد یوه اساسي لاره وګڼله. د باچا خان نظریات د سیمې پر ډېرو لیکوالو خپل تاثیر کړی دی. خادم صیب هم په دې ډله کې شامل لیکوال دی. ده فخر افغان ته ګڼ شمېر شعرونه او لیکنې لیکلې دي، چې دلته یې ځینې د بېلګو په توګه راوړو:

((راتــګ دې پســرلی دی پـې چمــن فخــر کــوي
د نـــاز پـــه تـــش کتلـــو دې ګلشــن فخــر کــوي
کــولی شــي پــه ښــه ژبــه تعریــف ســتا د کمــال
پــه ټــول چمــن کــې نــن ځکــه سوســن فخــر کــوي
چــې ښــکل یــې شــي نصــیب د قــدمونو داشــنا
هغــه خــاوره پــه مشــکو د خــتن فخــر کــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینـــدو ســـرلوړی دی د زامنـــو پـــه نبـــوغ
د ښـــو زلمـــو پـــه ســـرباندې وطـــن فخـــر کـــوي
پـــه خیـــر راغلـــې وطـــن لـــره زمـــونږ فخـــر افغانـــه
پـــه یـــاد ســـتا د نامـــه شـــعر و ســـخن فخـــر کـــوي
(خادم) چې په اخلاص شي څوک د ملک و د ملت
وطـــن یـــې پـــس لـــه مرګـــه پـــه مـــدفن فخـــر کـــوي.))
(۱۲: ۱۲۱)

**استاد خادم دا نظم فخر افغان ته د (۱۳۱۷ل) کال د کب پر (۱۳مه) نېټه لیکلی دی، دا هغه مهال و چې باچا خان له محکوم افغانستان څخه ازاد افغانستان ته سفر وکړ، دلته یې د هېواد بېلابېلې سیمې وکتلې او له ګڼو ولسونو سره یې ملاقاتونه وکړل.**

**خادم صیب چې د خپل وخت یو مفکر شاعر او د ملتپالنې د ښوونځي لېوال او مینوال وو، د پاچا خان افکارو پرې ډېر تاثیر کړی و، نه یوازې پورتنی نظم یې ورته ویلی، بلکې ډېر نور نظمونه یې هم ورته ویلي دي، د بېلګې په توګه به یې دا بل نظم هم وګورو. دا نظم یې بیا تر هغه پخواني نظم، شپږویشت (۲٦) کاله وروسته ویلی دی. دا ددې مانا ورکوي چې د (۲٦) کلونو په بهیر کې له پاچا خان سره د خادم صیب مینه هماغسې توده پاتې شوې ده. استاد خادم دا نظم د (۱۳۴۳ل) کال د جدي پر (۱۰)مه نېټه په کابل کې لیکلی دی.**

((د پښـــتو او پښـــتنو بـــه لا څـــه حـــال و
کـــه تـــه نـــه وای ای بابـــا فخـــر افغانـــه
د پښـــتون شـــان دې بیـــا وښـــودو دنیـــا تـــه
تکلیفونـــه دې ډېـــر وګاللـــل بـــې شـــانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د چــا پــه نــوم ویــده پښــتون راویښ شــو
مــــارګلۍ نــــه تــــر هــــرات او بدخشـــانه
د تکــــل پــــه لاره ډار لــــه هېچـــا نشــوې
اولوالعزمـــــــه و بهـــــــادره، پهلوانــــــه
د همــت تخــم دې وکـــاره پــــه ملــک کـــې
پښـــتونخوا دې پــه بــل رنـــګ کړلــه ودانــه
پــه افغــان کــې دې د مینــې مشــال بــل کــړ
پلوشـــې یـــې پورتـــه کېـــږي تـــر اسـمانه
د پښـــتون تـــوره د ورور پـــه وینـــو رنـــګ وه
د خپــل قـــام پـــه تبـــاهۍ یـــې وه مېړانـــه
کټـــارۍ یـــې وه تـــر مـــلا ټوپـــک پـــه ولـــي
د تربـــور د مـــرګ لـــه پـــاره ســـرګردانه
تـــا یـــې تـــوره، ټوپـــک واخیســـتل لـــه لاســـه
د تربـــور کـــور تـــه دې بوتللـــو پښـــېمانه
دښـــمني دې پـــه وروری کړلـــه بدلـــه
لاربښـــــوونکیه و راهنمایـــــه مهربانـــــه
د خــــدایي خــــدمتګارۍ پیغـــــام دې راوړ
هــــدایت دې پښـــتنو تـــه لــــه اســـمانه
تـــه دښـــمن د اســـتعمار او اســـتبداد یـــې
رحمتونـــه دې پـــه تـــا وي لـــه رحمانـــه
تـه بـه مـړ شـې، مـوږ بـه مـړه شـو، ټـول بـه مـړه شـي
د پښـــتون نـــوم بـــه ورک نـــه شـــي لـــه جهانـــه
اباسـین بـــه پـــه مســـتۍ مســـتۍ بهېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځوي به سپین ځګونه له دهانه
سپینې واورې به په لوړو غرو وربېږي
له پامیره، تر خیبره او کاغانه
کاروانونه به چلېږي تل تر تله
له امو نه په خیبر تر هندوستانه
په بل شان به تاریخونه لیکل کېږي
وي هېر شوي به وختونه له هر چا نه
خو ستا نوم به د پښتون په خوله یاد بږي
څو چې وي د پښتنو خونه ودانه
کاشکې نه وای کړه شوې دغه لاره
ای د ټولو پښتنو قومونو پلاره
په جامه د پښتانه کې لوی انسان یې !
ته افغان یې، خو خیر خواه د کل جهان یې ! ))
(۱۲: ۴۰۲-۴۰۳ )

پورتني نظم کې د باچا خان د مبارزو یو ډېر ښه تصویر وړاندې شوی دی، دا نظم په حقیقت کې کې د باچا خان د مبارزو یو مانیفسټ دی. د هغه ارمانونه تصویروي، د دې ترڅنګ له باچا خان سره د خادم صیب روحي پیوستون څرګندوي. د دې نظم له محتوا څخه دا خبره په ښه ډول څرګندېږي چې د خادم صیب پر روح و روان، فکر او نظر د باچا خان مبارزو او فکر څومره ژر تاثیر پرې ایښی دی. خادم صیب نه یوازې په نظم کې د باچا خان د مبارزو تصویر کاږلی، بلکې په نثر کې یې هم د هغه په باب ګڼ شمېر لیکنې کړي دي. که د باچا خان په باب د استاد خادم منظوم او منثور کلام ټول سره راټول کړو، نو یو ځانګړی اثر به ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړ شي. دلته به يې د نثر يوه بېلگه هم وړاندې کړو:**

## **د پښتونستان لوی زعيمان**

**((خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان به په جېلخانو کې تر کومه مريضان پراته وي؟**

**پنځه کاله او شپږ کاله بامشقته قيد د يو داسې شخص د پاره چې عمر يې د (٦٠) او (٧٠) کالو څخه تېر وي، څه اسانه کار نه دی او بيا د يو داسې شخص د پاره چې په عمر کې يې تحقير، سپکوالی، خرابه غذا، بنده هوا او بدني مشقت نه وي ليدلی، انسان خو له غوښو جوړ دی، له تيږو خو جوړ نه دی.**

**خان عبدالغفار خان د محکوم پښتونستان د سرحد د صوبې لوی زعيم، د خدايي خدمتگارو د حزب موسس او رييس او خان عبدالصمد خان د بلوچستان لوی زعيم او د وطن د حزب موسس او رييس چې دواړه په اوه مليونه پښتنو کې نافذ الکلمه او منلي ليډران دي. د پاکستان د تشکيل نه وروسته په دې گناه چې دوی پښتونستان او د خپل وطن او قام ازادي غواړي، بې محاکمې او بې گفتگو په کوم وخت چې د فرنگ له قيده خلاص شوه، د پاکستان په جېل کې ولوېدل.**

**ډېر کلونه تېر شول، ډېرې وعدې راغلې او پوره شوې، خو هر وار پاکستان د دوی د قيد ميعاد افزود کړ او پرې يې نه ښودل، اوس هېڅوک نه شي ويلی چې دا لوی زعيمان او دا اوه ميليونه پښتنو ازادي غوښتونکي به تر څه وخته بنديان وي؟ د دوی صحتونه خراب دي، د دوی زندگي تباه ده. ځينې پښتانه ليډران لکه قاضي عطاء الله په بندونو کې مړه شول. ايا پاکستان دا اراده کړې ده چې د دوی مړي دې له جېلخانو ووځي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د وطن ازادي غوښتل دومره لویه گناه وای چې سزا یې مرگ وای، نو پرنگیان خو تر هر چا زیات د قوت خاوندان وو، نو خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان اڅکزی یې ولې په بندونو کې نه وژل چې هره دفعه به یې د غذا په نه خوړلو او د صحت په خرابېدو له بنده ایله کول.

قوي خبره دا ده چې که د سیاسي ازادۍ غوښتلو سزا مرگ وای، خو مسټر جناح، لیاقت علي خان او دا نور ټول به په بندونو کې مړه وو. ښه، هر کله چې دا کار پرنگیانو نه کاوه، نو د اسلام مدعیان یې په کوم سند کوي؟

مخکې جرایدو ویلي وو چې د نهرو، محمد علي له خبرو او مفاهمې نه وروسته به خان عبدالغفار خان ایله کړی شي. په لندن کې ښاغلی محمد علي د جرایدو نمایندگانو ته ویلي وو چې زه پاکستان ته ورشم، نو د خان عبدالغفار خان په بند به غور وکړم. مبصرینو ویل چې د نهرو او محمد علي د ملاقات نه به وروسته (خان) خلاص شي، مگر موږ پوهېدو چې د پاکستان صدر اعظم دا کار نه کوي او دغه دی ویې نه کړ.

په دې ورځو کې محلي جرایدو د خان عبدالغفار خان یو دردناک تصویر نشر کړی دی. دا معزز سړی په یو ابتر حالت او مریضه قواره سره د بندیخانې د فولادي سیخونو هغه خوا ته څادر اغوستی ښکاري، ناشر د فوټو په سر لیکلي دي:

((باچا خان د فرنگ له قیده وروسته د پاکستان په بند کې)) زه پوهېږم چې د دې تصویر په لیدو به هر پښتون وژاړي، دا دی هغه تصویر موږ هم کاپي او نشر کړ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا خان خو هر چا ته معلوم دی چې دا څلورم، پنځم ځل دی چې شفاخانه په شفاخانه یې ګرځوي او پاکستاني ډاکټران یې اپرېشن کوي او خپل مشقونه وربانديې کوي او اوس په لاهور کې پروت دی، یوه بله د زړه خبره د خان عبدالصمد خان اڅکزي هغه لیک دی چې ده د خپل یو دوست په ځواب کې د روژې نه مخکې لیکلی او دا خط مونږ ته د دهلي د تیج اخبار په ذریعه راغلی دی.

تیج وایي چې دا خط د لاهور د (اثار) نومې اخبار نشر کړی دی او مونږ ته د ډاک په ذریعه رارسېدلی دی. دا خط د هند او پاکستان نورو جرایدو هم نشر کړی دی.)) (۲۳: ۹۲۴-۹۲۵)

**۱۱- کامل مومند:** دوست محمد خان کامل مومند د پښتو ژبې



یو لوی لیکوال تېر شوی، پښتو ادب ته یې نه هېرېدونکې خدمتونه کړي دي، په تېره بیا په خپړنیزه برخه او خوشال پېژندنه کې، دوست محمد خان مومند تر شلو زیات علمي اثار لیکلي، چې اکثره یې چاپ شوي دی. د کامل مومند شخصیت ، اثارو او افکارو پر خادم صیب خپل خاص تاثیر لرلی دی او هغه ته یې د (۱۳۴۸ل) د غبرګولي، پر (۲۸)مه نېټه یو نظم لیکلی دی، ددې نظم له محتوا څه ښکاري چې انګرېزانو د کامل مومند د تعلیم او کار مخه نیولې او دې کار د خادم صیب پر افکارو تاثیر کړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامل خان مومند

((د انګرېـــــز نـــــا مـــــراد تعلیمــــــه !
پـــــوه پښـــــتون چـــــې دې عاطـــــل کـــــړ
پـــــه غربـــــي تعلـــــیم لګیـــــا شـــــو
خـــــو پښـــــتو ادې فاضـــــل کـــــړ
لـــــه نـــــري رنځـــــه ممنـــــون یـــــم
غـــــټ مومنـــــد یـــــې چـــــې کامـــــل کـــــړ
لـــــوی کـــــرم و لـــــه اســـــمانه
چـــــې پښـــــتون تـــــه یـــــې مایـــــل کـــــړ.))
(۱۲: ۱۹۴)

د پورتني نظم محتوا ته په کتو سره خادم صیب د کامل مومند له سیاسي ملي او پښتني افکارو سره خواخوږي څرګندوي او دا د خدای لوی کرم ګڼي چې د کامل په شان یو لوی انسان یې د پښتو او پښتنو خدمت ته وهڅاوه.

**۱۲- جهان زېب:** جهان زېب د پښتنو یو بل ادبي او ټولنیز شخصیت تېر شوی، د خادم صیب د ژوند له زمانې سره همهاله و، د هغه افکارو د خادم پر فکر خپل تاثیر کړی او خادم صیب دې ته هڅېدلی چې د هغه کار، فکر او مبارزه وستایي او هغه ته د غزل په فورم کې یو ځانګړی نظم ولیکي، نظم ته یې هم د (جهان زېب په مینه) نوم ورکړی دی. استاد خادم دا نظم د (۱۳۴۰ل) کال د جدي پر (۸)مه نېټه لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جهان زېب په مینه


((زېبا ګلونه جهانزیب په پښتونخوا کړلي
تازه بڼونه یې په مینه د بابا کړلي
ښکلی وطن، ښکلی پښتون، ښکلې پښتو ده په کې
یا په وربل ښکلي ګلونه دي لیلا کړلي
د عشق او مینې په هېواد او د مکېز په سیمه
ګل خندانې دا ګلونه په خندا کړلي
قربان د هغه پاکې خاورې د آدم نه شمه
چې درخانۍ په کې باغونه د وفا کړلي
توتیان به پورته د زیب سر د هغې ځمکې نه شي
چې یې تخمونه د نغمو په کې پخوا کړلي
د افغان زېبه، ته نواب وې چې ګلشن دې که جوړ
(خادم) ته ګوره چې ګلان یې په بېدیا کړلي.))
(۱۲: ۱۳۰)

پورتني نظم کې خادم صیب د جهان زېب، پښتو او پښتونولي ستایي او په دې برخه کې د جهان زېب خدمت، د ستاینې وړ بولي، هغه ته د افغان زېب خطا کوي، څرنګه چې جهان زېب هغه مهال یو ټولنیز شخصیت و او خدمتونو یې څرګند وو، نو خادم ورته په خطاب کې وایي چې تا په نوابۍ کې ګلشن جوړ کړی، خو خادم په بیدیا کې همدا فکر پاللی او ګلان یې په کې کرلي دي. ددې نظم محتوا دا ده چې جهان زېب او خادم یوه لاره تعقیبوي او هغه پښتو او پښتنو ته خدمت کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳- اجمل خټک:** د پښتو په معاصرو ادبیاتو کې اجمل خټک



یوه ځلانده څېره ده. په نظم او نثر دواړو کې لوی لاس لري. د اجمل خټک افکار او شاعري د خپل وخت پر ځوان ادبي قشر خپل تاثیرات پرې ایښي دي. استاد خادم چې د اجمل خټک د زمانې همهاله ادبي شخصیت دی، هم د اجمل خټک له نظریاتو سره یې نظریات ډېر نږدې دي او په ځینو برخو کې یې د هغه د افکارو رنګ هم اخیستی دی. د (غیرت چغه) د اجمل خټک یو مشهور کتاب دی. د دې شعري ټولګې شعرونه دومره عام شوي وو چې خلکو به په مظاهرو او لویو غونډو کې د شعارونو په توګه کارول، ان اوس هم د هغه له شاعرۍ څخه همدا ډول ګټه پورته کېږي. (د غیرت چغه) کتاب څخه یو غزل یو وخت د مشاعرې لپاره انتخاب شوی و، ګڼو مطرحو پښتنو شاعرانو ددې شعر په اقتفا شعرونه وویل او بیا دا مشاعره د یوه ځانګړي کتاب په بڼه هم چاپ شوه، استاد قیام الدین خادم هم د اجمل خټک د دې غزل په اقتفا یو شعر لیکلی دی. سربېره پر دې استاد خادم د اجمل خټک د زنداني کېدو او د هغه د مبارزو په باب نورې لیکنې هم کړي، دلته به یې لومړی دغه منظوم کلام ته نغوته کوو:

**د اجمل په شعر**

خبـــر د زمـــانې لـــه انقـــلاب لـــري کـــه نـــه؟
ســبا تـــه بـــه دغـــه ښـــکلی حبـــاب لـــري کـــه نـــه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه سـرو سـترګو خمـارو نـه دې ځـار شـمه سـاقي
د خــم د ځنځولــو هــم څــه تــاب لــرې کــه نــه؟
راوا چــوه نــامردي دا وخــت نــه بــه وي ســبا لــه
لــږ نــور هــم چېـرې وګــوره شــراب لـرې کــه نـه؟
بهـــار د تـــازګۍ او رنګینـــۍ پـــه تېرېـــدو دی
مطربــه پــه تخـرګ کــې دې ربــاب لــرې کــه نــه؟
قومونـــه درنـــه والوتـــه د بـــرق پـــه وزرونـــو
افغانـــه تـــه هـــم فکـــر د شـــتاب لـــرې کـــه نـــه؟
بادشـاه د قـام پـه مینـه جام د نـوي ژونـد اوچت کړ
خادمــه کــوم غــزل دې انتخــاب لــرې کــه نـه؟))
(۱۲: ۱۴۲)

استاد خادم دا پورته غزل د (۱۳۴۲ل) کال د ثور پر (۳۰)مه نېټه په کابل کې لیکلی دی. دا شعر چې د اجمل خټک د شعر په اقتفا لیکلی شوی، د خادم صیب د فکري قوت او هنري جوهر څرګندونه کوي. په هغه زمانه کې چې چا هم د اجمل خټک د غزل په اقتفا شعرونه لیکلي، اکثره یې تقریباً یوه مشترکه موضوع تعقیبوي، یانې همغه موضوع چې اجمل خټک پنځولې وه، پر همدې اقتفا د نورو شاعرانو ټول لیکل شوي شعرونه بیا د همغې موضوع پر محور راڅرخي.

د اجمل خټک فکر او د مبازو تاثیر خادم صیب له ذهني مسیر سره برابر دی او پر هغه خوږ لګي، په یوه بل ځانګړي نظم کې اجمل خټک ته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اجمل ته

مـــا پېژنـــــدلی پـــه پښــــتو بانـــــدې
اجملـــــه وروره پــــه نغمــــو بانـــــدې
مســـحور پـــه چغـــه د غیـــرت دې شـــومه
پـــه افغـــاني ننـــګ و همـــت دې شـــومه
دا دې لا بلـــــه ثـــــه نعـــــره وکړلــــــه
لـــــه پښــــتونوالې دې توبـــــه وکړلـــــه.

د اجمل خټک په باب یې نور نظمونه او نثرونه هم لیکلي دي، دا یو نثر یې د هغه د زنداني کېدو په اړه دی چې ادبي رنګ هم لري.

## اجمل خټک ولې بندي شو؟

((د یو متجسس شاګر پوښتنې

استاذه! هغه بله ورځ ما ویل چې زه یوه پوښتنه کوم، تاسو ویل چې اوس د پوښتنو وخت نشته، نو اوس غواړم چې همغه پوښتنه وکړم:

استاذ: ښه وایه کنه هغه پوښتنه څه ده؟

شاګرد: ما دا پوښتنه کوله چې اجمل خټک ولې بندي شو؟

استاذ: کوم اجمل خان؟

شاګرد: ولې اجمل خټک د پېښور مشهور شاعر او ادیب؟

استاذ: هو، پوه شوم اجمل خان د کومې ژبې شاعر او ادیب دی؟

شاګرد: خو د پښتو ژبې شاعر او ادیب دی کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاذ: په پېښور کې گوندې د پاکستان د حکومت له لاسه یوازې اجمل خان خټک بندي شوی دی، بل څوک نه دي بندیان شوي؟**

**شاگرد: هسې خو معلومه ده چې ۱۲ زره پښتانه بندیان دی، خو د اجمل خان بندي کېدل یوه تازه پېښه ده.**

**استاذ: ولې د صنوبر حسین بندي کېدل گوندې تازه پېښه نه ده؟**

**شاگرد: صنوبر حسین غریب خو پخوا هم ډېر وخت بندي و، هغه خو خبره جوړه ده وایي چې خدایي خدمتگار او د فخری افغان د گوند سړی دی. پخوا یې هم سیاسي کاروونه کړي دي او اوس هم د پښتونولۍ په ننگ ولاړ دی. صنوبر حسین خو معلوم سړی دی او اوس خو یې ډېر احتیاط کاوه، خو د اسلم په مجله کې چې په پښتو یې چلوله، له یوې خوا یې پښتو ته خدمت کاوه او له بله پلوه یې د پښتنو په تذلیل او غلامۍ ژړل. ما اورېدلي دي چې صنوبر حسین خان د اسلم د مجلې د یوې گڼې په سبب چې په هغه کې یې د (رحمان بابا) د سالگرۍ په باب مشاعره شوې وه او په هغه کې د پښتنو حال ژړا وه، په هغه بندي شوی دی.**

**استاذ: ښه نو دغه مجله تا کتلې ده؟**

**شاگرد: نه، نه مې ده کتلې.**

**استاذ: دغه مجله پیدا کړه، ویې گوره، د اجمل خټک گناه به هم درته معلومه شي!**

**شاگرد: ښه، استاده! تاسو به کتلې وي، هلته نو اجمل څه ویلي دي؟**

**استاذ: هلته اجمل خان خټک یو ډېر دردناک شعر ویلی دی. په هغه شعر کې نور څه نشته، یوازې د پښتنو عظمت، وقار، دبدبه، اخلاقي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سجا په دغسې بلاغت بیان شوي دي، چې په لوستو یې پښتون اوښکې نه شي ټینګولای، ما یو ځل دغه منظومه د خپل یو دوست په کور کې واورېدله، چې ده راته لوسته. دومره مې پرې وژړل چې د پلار پر مرګ مې دومره نه دي ژړلي.**

**شاګرد: اهو درېغه ما هم یو ځل دغه شهکار لیدلی وای.**

**استاذ: هیله ده چې زه به یې دروښیم.**

**شاګرد: ښه، نو اجمل خان یوازې په هغه یو شعر چې هغه هم د پښتونولۍ په باب لیکل شوی بندي دی؟**

**استاذ: نور نو څه؟**

**شاګرد: ښوونکیه! په محکوم پښتونستان کې د پښتونولۍ کنایې یادول هم ګناه ده او سړی به د خپل عظمت په یاد ژړلی هم نه شي؟**

**استاذ: ولې به ژاړي، د شاعر اوښکې خو عروق تازه کوي او د قوم لپاره اوبه او ژوند دي. پاته شوه دا خبره چې ته وایې په محکوم پښتونستان کې د پښتونولۍ کنایې یادول هم ګناه ده؟ دا خبره باید تا ته معلومه شي چې د پاکستان حکومت چې یو بې تاریخه حکومت دی، د پښتو او پښتونولۍ له اصطلاحاتو څخه دومره وېرېږي چې د توپ له ګولې نه دومره نه وېرېږي. دوی تل کوښښ کړی دی چې د پښتو او پښتونولۍ سرچینې په محکوم پښتونستان کې وچې کړي.**

**شاګرد: ښه، نو سیاست د خلکو له تهذیب سره څه کار لري؟ ژبه او تهذیب خو د هر قوم ازاد دی او هر قوم که څه هم د بل محکوم وي، د خپل تهذیب په ساتلو کې ازاد دی، لکه دین چې ازاد دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاذ: ته د کوم ځای خبرې کوې؟ ته چې لګیا یې دا خو دنیایي قوانین او نړیوال اصول بیانوې. د پاکستان واکمن دا یو هم نه پېژني، په پاکستان کې نه دین ازاد دی، نه تهذیب او بل دا چې د دوی د ځانګړي سیاست نقشه غرب طرحه کړې ده.**

**شاګرد: نو دا خو ډېره بد اخلاقي ده چې د پاکستان سیاسیون یې کوي.**

**استاذ: په (خندا شو) د سیاستوالو په اند اخلاق او سیاست بېل بېل ځیزونه دي، په ځانګړي ډول هغه سیاستوال چې د دین غړوندي یې شلولي دي، هغوی هېڅکله نه متجسس کېږي او نه د قوانینو او مقرراتو پابندي کوي.**

**شاګرد: دا نو څه خبره ده چې سیاست له اخلاقو بېل شی دی؟**

**استاذ: زه دا خبره اوس نه شم بیانولی، خو د (ماکیاولي) دغه نظریه ده او په دغه نظریه سره دین او سیاست سره بېل شوي دي او همدا لامل دی چې نن یې دنیا د بد اخلاقۍ په سیند کې لاهو کړې ده. مسلمانان باید دغه نظریه ونه مني، خو له بده مرغه د پاکستان حکومت د اسلام له دعوو سره بیا هم په بېله لاره روان دی.**

**شاګرد: دا په زړه پورې بیان به کله واورو؟**

**استاد: که خدای کول په یو فرصت کې به یې واورو، خو اوس به پوه شوي یاست چې اجمل خان خټک او صنوبر حسین خان ولې بندیان شول او ۱۲ زره خدایي خدمتګاران ولې بندیان دي او پښتانه او پاکستان ولې له یو بل سره په ټکر کې دي؟ د پاکستان حکومت یوازې پښتانه نه دي، تنګ کړي، خپله د پاکستان مظلوم مسلمانان هم په بندونو کې**


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځورېږي. الله دې رحم وکړي، نن ټول شرق وسطي خوځېږي او یوه قوه يې خوځوي. د پښتونستان مساله په دغو مسایلو کې یوه مساله ده.**

**ډېره مهرباني، السلام علیکم.)) (۲۳: ۸۴۶-۸۴۷)**

**۱۴- خان عبدالولي خان:** **خان عبدالولي خان د پښتنو له سترو سیاسي مشرانو څخه و، ده په سیاست کې د خپل پلار باچا خان لاره تعقیب کړه او د ژوند تر پایه يې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. خان عبدالولي خان پر سیاسي فعالتونو سربېره لیکوالي هم کړې او یو شمېر کتابونه يې هم چاپ شوي دي. (ربنتیا ربنتیا دي) دده د نامتو اثارو له جملې څخه دی. د ده فکر او مبارزې د استاد خادم پر**



**فکر او مبارزې تاثیر ښندلی او د همدې اغېز له امله يې هغه ته یو نظم ډالۍ کړی دی. په دې نظم کې يې هغه یو مشر او لیډر معرفي کړی دی:**

عبدلولي خان ته

عبـــدالولي خـــــان، مشــــر او لیـــــډر دی
پښـــتون چـــې څـــه دی، ټـــول یـــو ټبـــر دی
ســــل مـــو دې ومـــري، یـــو مـــو دې نـــه مـــري
ځینـــــو تـــــه لاس او زمـــــونږه ســــــر دی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه خانه، په مونږه ګرانه
صاحب د عزم او لوی انسانه
که هر پښتون دې، د ملک ولي کړ
مشکلات واړه، به شي اسانه

***

قام خو مریض دی، مرض یې څه دی
مرض د سر دی، د ګېډې نه دی
سر یې د بل دی، نور به یې څه کړو
که سر یې ښه شو، بدن یې ښه دی

***

کولتور و هر قام ته لکه ساه ده
هو اقتصاد یې د ژوند بقا ده
قام دې ژوندی کړه، سیاست دانه
له عمرو پاتې، دغه خلا ده

***

هر استعمار چې قومونه ګېر کړي
ټول خپل دودونه ورځنې هېر کړي
ذهن یې غلام کړي، که وي ازاد هم
هېر یې په هېر او تېر یې په تېر کړي

***

حسوده پرېږده، خوشې سودا ده
دا ډلې نه دي، دا پښتونخوا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library




بـــدي يـــې ماخلـــه، دوســـتي يـــې ښـــه ده
دا نســــــــخه تاتـــــــــه، د مســـــــيحا ده

***

ګـــولۍ بـــاران شـــوې، دربانـــدې ديـــر کـــې
تـــاثير يـــې پرېښـــود ، زمـــوږ ضـــمير کـــې
د عشـــــق د لارې، ترخـــــه خـــــوارږه وي
انســـان تـــه رســـي، چـــې وي تقـــدير کـــې.

دا نظم چې د اوو څلوريزو له جوړښته رغېدلی، د ولي خان سياسي او ملي شخصيت ته د استاد خادم د درناوي څرګندونه کوي. په دې څلوريزو کې نه يوازې د ولي خان شخصيت ارزول شوی، بلکې ډېر غټ حکمت هم په کې پروت دی. هغه په دې څلوريزو کې د خپل قام ناروغي په ګوته کوي.

**۱۵- ماسټر عبدالکريم:** ماسټر عبدالکريم د پښتو معاصرو ادبياتو يوه ځلانده څېره وه. دی د لنډو کيسو يو خورا پوخ ليکوال و. ده په لسګونو لنډې کيسې ليکلې دي او نثر يې خورا خوږ، سليس او روان و. د ده د نثر اغېزې نورو ځوانو ليکوالو ته هم وررسېدلي او ځينو يې د ده د نثري ليک پسې تعقيب کړی. استاد خادم له ماستر عبدالرکيم سره له



نږدې ليدلي او کتلي وو، د هغه ليکوالي يې خوښېدله، کله چې ماستر عبدالکريم وفات شو، نو استاد خادم (د ماسټر کريم ادبي شخصيت) تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه لاندې یو مضمون ولیکه او د ماسټر کریم د شخصیت په باب یې رڼا واچوله. دا دی دا لیکنه دلته وړاندې کوو:

## د ماسټر کریم ادبي شخصیت

((د پېښور د اتمانزو ماسټر عبدالکریم چې ملګرو او همزولو به (ماسټر کریم) باله، په تېرو ورځو کې له دې دنیا څخه سترګې پټې کړې. د ده مرګ د پښتونخوا په لر او برو سیمو کې یوه خواشینې او ژړوونکې حادثه وګڼل شوه.

هر څوک پوهېږي چې مرګ یوه طبیعي حادثه او په هر ژوندي هرو مرو راتلونکې ده. دا ترخه د هر چا له ستوني تېرېدونکې او په دې تورتم کې هر څوک ورننوتونکی دی او چې خوږېږي او رڼا کېږي، نو په خپل عمل او بس.

ماسټر د عمر په لحاظ د مرګ نه و، خو مشکلاتو وواژه، موږ سره نور هېڅ نشته، یوازې تاوده اهونه د ده سره ملګري کوو. ماسټر خو به مړ کېده، ځکه چې بې له دې بله چاره نشته، خو د ده په تللو د پښتو او پښتونستانیانو په ډله کې یو داسې درز پیدا شو چې په مشکل سره به ډکېږي او د ارمان خبره دا ده چې ارماني ګور ته ولاړ.

ماسټر کریم له یوې غریبې کورنۍ سر رااوچت کړ او د باچا خان په سیوري کې لوی شو، دومره لوی شو چې خپله کورنۍ، د ملګرو ډله او پښتنه دنیا یې درنه کړه. د خدایي خدمتګارانو په ملي ښوونځیو کې عالم او بیا هملته استاد شو. د قوم په تربیه، پوهولو، راپورته کولو کې یې تکالیف وګالل. بندونه یې تېر کړل، ستغې سپورې یې وزغملې، خو نه یې شکایت وکړ او نه یې چا ته سر ټیټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای رحمت شه د ده په زېږېدنه، دده په ځوانۍ... د ده مړینه او د ده په عزم اوپښتونولۍ.

ماسټر کریم په دړ ډېر جګ او ډېر ټیټ سړی نه و، منځنۍ ونه یې درلوده، نه نروچکی و او نه ډېر چاغ، غنمي رنګ، ښکلې قواره او جذابه بشره یې لرله، خبرې یې لږې په ورو ورو او خوږې وې، په زوره یې نه خندل، خو په شونډو یې تل یوه نرۍ مسکا لوبېده.

ارام، متین او مؤقر سړی و، ځوک یې په ناسته او جرګه نه مړېدل، د ده له څهرې څخه راستي، صمیمیت او مینه برېښېده.

د سرې یا خړې خامتا کالي به یې اغوستل، د کالو په سکښتاو کې یې پښتني اسلوب نه پرېښود، یو خړ څادر به یې به ځان راتاواوه. څپلۍ به یې په پښو کولې، خو د مشر او خپلې ډلې په پل به لوڅ سر ګرځېده. ماسټر کریم د پښتو زورور لیکوال و. ده په نثر کې یوه ځانته لاره ایستلې وه. هغه وخت چې (پښتون) مجله چاپېده، نو په روانو سیاسیاتو باندې به تبصرې په کې د ده په قلم وې.

د ده نثر روان، خوږ او سیلس و. پښتو به یې په خاص پښتني اسلوب لیکله. د نورو ژبو تاثیر لاندې به نه راته.

دی په انګرېزۍ او نورو ژبو ښه پوهېده، ولې پښتو به یې نه ګډوله، لغات پښتو، ترکیبونه پښتو، جمله تړل پښتو او تعبیرونه پښتو، چې د پښتو په محاورو، کنایو، امثالو او استعمارو به ډک وو، دا د ده د اسلوب خصوصیات وو.

دی زیات یو عملي سړی و، خو د عمل نه پس یې د قلم په ډګر کې هم ځان ستړی کړی و، ولې لکه په عمل یې چې قیود لګېدلي وو، د قلم نتیجه یې هم لکه چې د قام په نصیب نه شوه. د ده په مرګ د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالو له ډلې دپښتو د میدان یو مزی پهلوان کم شو. د (۱۳۲۷هـ ق) کال په ژمي کې چې بېنوا او زه د پېښور موزیم ته دمشاعرې د ګډون د پاره پېښور ته تللي وو، نو هلته د ښاغلي عبدالولي خان په مرسته په اتمانزو کې د باچا خان په لیدلو بختور شو، دغلته د پښتو ډېر لیکوال او شاعران رابلل شوي وو او له دې محفل څخه مو ډېر خوند واخیست، څو ورځې پس مو ماسټر کریم په پېښور کې ولید: بېنوا ورته وویل: ((ماسټره! ته چېرته وې چې دا څو ورځې مو هېڅ ونه لیدې؟)) ماسټر ورته په مسکا وویل: ((زه خو د حکومت نوکر یم او د حاضرۍ په قید کې یم)). ما ورته په ټوکه کې وویل: ((نو خدای دې موقوف کړه چې موږ دې ډېر ووینو!)).

بله ورځ چې ماسټر راغی له ورایه یې خندل. موږ وویل: ((وایه څه چل دی؟)) ده ویل: ((زه خو یې رښتیا موقوف کړم)). موږ وویل: ((ولې اخر په څه؟)) ده په خندا کې موږ دومره پوه کړو چې: ((موږ په خپل وطن کې د (ولې) حق نه لرو)).

ماسټر سره موږ په څو مجلسونو کې مخ شوي وو، خو ماسټر بې له سترګو او تبسم نه په بله ژبه ډېرې خبرې له مصلحته د باندې ګڼلې!.

ماسټر کریم مړ شو، خو کوم وخت چې د پښتو او پښتون د هیلو غوټۍ ګلونه وسېړي، نو د پښتونخوا ځوانان او پېغلې به د پښتو دلارې د نورو شهیدانو په لړ کې هر کال د ده په مزار هم دګلونو ګېډۍ ږدي او د پښتونخوا د مالیار په حیث به ورته دعا کوي، دکابل پښتو اکاډیمۍ دغه مړینه لویه ادبي ضایعه ګڼي او د ده کورنۍ او ملګرو ته نېک اجر غواړي.)) (۲۳: ۲۶۹-۲۷۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د مرحوم ماسټر عبدالکریم له ادبي اثارو څخه د نثر یوه نمونه رانقلوو:

## پاکه پاڼه

((پاڼې په څو قسمه دي، د ونې پاڼې، د گل پاڼې، د قران پاڼې، د ژوند د کتاب پاڼې او د تماکو پاڼې، سره د دې چې هره پاڼه په خپل ځای ډېره درنه ده، خو په ټولو کې د قران پاڼه ډېره پاکه او مبارکه ده، مگر زیات کار نن سبا د تماکو له پاڼې څخه اخیستی شي....

یوازې کور، کوڅه، حجره، دېره، پوله، پټی نه دی چې گڼې د تماکو د پاڼې پیریان پرې ناست دي.

که سگرېټ په جامه کې سکول، کالج، دکان، دفتر او ښکلو ماڼو ته ورسېد؛ نو هغه ده د نسوارو په ډبلي کې د جماعت محراب کې ناسته ده او ان د ملا صاحب نه سرسایه اخلي، ولې ډېره موده کېږي چې د چین ماچین ښاپېرو زموږ دې وطن ته یوه نوې پاڼه راوړې ده او دا وطن د دې پاڼې دومره خوښ شو چې خپل ټول قام قبیله یې ورپسې په کډه راوستلې او نوې پاڼه یې شا ته کړه، دا پاڼه د رنگه توره او د خوی نه ترخه ده؛ خو بیا هم د خلقو تن وجود دی او هر سړی ورته دومره ممتاز دی چې بې د دې د اجازې نه د کوره بهر ته نه شي وتی، بس د هر چا د کور مېرمن ده، دې ته د چایو پاڼه ویلی شي، پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کې د قران په پاڼه سترگې غړولې، ولې اوس خو چې یې د چایو پاڼه ښکل کړې نه وي، د قران پاڼې ته کتلی قدرې نه شي.

که چای د خوی نه ترخه ده، نو خواږه یې هم شته، که ډېټې ته دې وړاندې کړه، نو مقدمه به وگټې، که په وکیل دې ووهله، نو رښتیا به


(c) ketabton.com: The Digital Library



درله دروغ کړي او دروغ به درله رښتیا کړي چې د تاڼې تحصیل د واکدارو د چایو غم کوې، نو بیا سپین باز ګرځه، خیر دی که بې لېسنه ټوپک ساتې او که غلا غلطې او جوارۍ کوې، که دعوه ګټې قاضي صاحب باندې یې نوش کړه. که مړی ښښې، نو ملا صاحب ته یې هبه کړه.)) (۲۳: ۲٦۹-۲۷۱)

خادم صیب پر ماسټر عبدالکریم باندې په تحلیلي نثر کې د ماسټر عبدالکریم د نثر ځانګړنې، کمال او هنر هر څه په ګوته کړي. دا کار له مرحوم ماستر عبدالکریم سره د استاد خادم مینه او خلوص هم څرګند وي او له هغه یې تاثر هم.

**۱٦- وزیر محمد ګل خان مومند:** وزیر محمد ګل خان مومند په شلمه پېړۍ کې د پښتنو د ستر ادبي، سیاسي، ټولنیز، ملي او حکومتي شخصیت دی. محمد ګل خان مومند په دې پېړۍ کې د افغاني نشنلېزم او ملتپالنې له مخکښو څېرو څخه دی. ده د پښتنو د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي ودې لپاره نه هېرېدونکي کارونه ترسره کړل. دی نه یوازې یو پوخ



سیاستوال او پوځي جنرال و، بلکې ښه لیکوال او شاعر هم و.

(پښتو لیاره، پښتو سیند، لنډکۍ پښتو) یې مشهور اثار دي. ده په ویښتیایي پړاو کې د پښتو پنځه ستوري وهځول چې خپلې ژبې ته بې دریغه خدمت وکړي. که د ده سیاسي، اقتصادي او حکومتي ملاتړ نه وای، نو نه به په کندهار کې (طلوع افغان) پښتو شوی وای، نه به کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مجله، نه به (پښتو ټولنه) جوړه شوې واى، نه به پښتو د پرمختګ جوګه شوې واى. نه به د پښتو پنځه ادبي ستورو په زغرده کار کړى واى، نه به اساسي قانون کې پښتو ته خپل حق ورکړل شوى واى او نه به هم دا نور پرله پسې ادبي خدمتونه په دې ډول رامنځته شوي واى. د پښتو پر نورو ګڼو خدمتګارانو او ليکوالو سربېره استاد خادم هم د مومند بابا له افکارو څخه سخت متاثر و. خادم صيب خو لومړى ځل په کندهار کې د همدې وزير محمد ګل خان مومند بابا له خوا په ډالۍ يا جايزې ونازول شو او خادم هم وروسته د بابا لاره تعقيب کړه. وزير صيب يو وخت په مشاعره کې دغه لاندې شعر ووايه:**

((پښتو مين په تا يم که وم وم که نه وم نه وم
هر کله به دې ستا يم که وم وم که نه وم نه وم
پښتو د بنې چونې يم شور به کومه پښتنو ته
تل دوى ته په وينا يم، که وم وم که نه وم نه وم
د رب مخ مې دروړى پښتنو پښتو کړئ ټينګه
زه تا ته په ژړا يم، که وم وم که نه وم نه وم
دروغ مې هېڅ زده نه دي، هم ټګي نه شم کولاى
پښتون يم په رښتيا يم که وم وم که نه وم نه وم
خبره د زلمو ده چې پښتو ته ځان تکړه کړي
زه زوړ يم او بوډا يم که وم وم که نه وم نه وم
غليمه ورځ به راشي چې له تا سره کتل شي
څرګنده درته وايم، که وم وم که نه وم نه وم
ليلا د مجنون نه کړم ژبه وينځه ستا په مخ کې
مجنون د ستا ليلى يم که وم وم که نه وم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ ته ولې ښایستې به له پښتو خپلې نه ځار کړم
تر مړینې به همدا یم، که وم وم که نه وم نه وم
پښتو کوکیانه ښه ده په همدې درست ګلستان کې
د دغه بڼ بورا یم، که وم وم که نه وم نه وم
که نه وه پښتونواله او اعمال اسلامي راکې
پیرنګ د اروپا یم، که وم وم که نه وم نه وم
که خوشې کړم پښتو بې پښتوګي کړم زه نن غوره
نن خوشې به بېړا یم، که وم وم که نه وم نه وم
که خوړ ژوندون مې پلورم او ځان وژن بل لپاره
نو پوهې کې سنډا یم که وم وم که نه وم نه وم
په خټه سپین پښتون یم محمد ګل د قام خادم یم
له ستې نه اریا یم که وم وم که نه وم نه وم.))
(۴: ۵۳-۵۴)

دا شعر وروسته نورو شاعرانو هم پسې تعقیب کړ، د خادم صیب مشهور شعر (شاعر مسلک) هم د همدې شعر په پلوۍ لیکل شوی:

صحیح لاره به ښا یم که وم وم که نه وم نه وم
رښتیا رښتیا به وایم که وم وم که نه وم نه وم
د حق د پیروۍ نه مې بل څه په زړه کې نشته
چې څه یمه همدا یم که وم وم که نه وم نه وم
ازاد یم زېږېدلی بندګي کولی نشم
بنده د خپل مولا یم که وم وم که نه وم نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بډو خوشامندو مې ځان خوښ نه دی چې غټ شم
که غټ یم خو همدا یم که وم وم که نه وم نه وم
چې څوک غواړي څه سپکه مې د قام له څه جهته
دښمن د هغه چایم که وم وم که نه وم نه وم
په ماته کشتۍ سپوریم طوفانونه دي په مخ کې
په دې لاره یې بیایم که وم وم که نه وم نه وم
خدمت د خپلې ژبې قام وطن زما مسلک دی
په دې مینه به پایم که وم وم که نه وم نه وم.
د ناز په خوب ویدې غونچې ورو ورو راویښومه
خادم باد د سبا یم که وم وم، که نه وم نه وم

وروسته بیا خادم صیب په نورو برخو کې هم د وزیر صیب لاره تعقیب کړه او د هغه په یاد یوه مشاعره کې یې دا نظم ووایه.

## د محمد ګل خان مومند په یاد د مشاعرې شعر

((عمر دې تېر کړلو په نره د پښتو له پاره
اروا دې لاړله په بره د پښتو له پاره
خلکو په دې نیمګړې جوړې کړې مانۍ اوچتې
تا د مېړونو لار کړه غوره د پښتو له پاره
په ملیونو سرونه خلکو ځان له پاره کړه ټیټ
ته په همت تېر شوې، له سره د پښتو له پاره
ارزو دې دا وه چې په قام کې شي سرونه پیدا
هوډ دی پخپله کړو ترسره د پښتو له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلــه ورکــړ شــولې میــدان تــه چــې پښــتو وګټــې
کلــه ورتېــر شــوې تــر ســنګره د پښــتو لــه پــاره
د پښــتونخوا د بــاغ مالیــاره ! شــه اوچــت لــه خوبــه
بابــا راغلــی لــه خیبــره د پښــتو لــه پــاره
چــې د پــامیر څوکــه یــې غــواړي اباسیند ورســره
ورځ ده راغلــې مقــرره د پښــتو لــه پــاره
ځوانان راغونډ دي په مزار دې محمد ګل مومنده !
مشــاعره ده زوروره د پښــتو لــه پــاره
واړه پښــتون ده مــلا تړلــې چــې پښــتو لــوړه شــي
ښــه تقاضــا ده زوروره د پښــتو لــه پــاره
ټینګــه وعــده راســره کړېــده ښــاغلي صــدر
کاشــکې رایــاده یــې شــي غــوره د پښــتو لــه پــاره
خادمــه کلــه بــه جرګــه د پښــتونخوا جــوړه شــي
د پښــتنو د زړه پرهــار لــه بــه دوا جــوړه شــي.))
(۱۲: ۴۱۰-۴۱۱)

**په یوه بله خلوریزه کې د محمد ګل خان مومند په باب وایي:**

**پښتو مینان**

داســې څــوک دی چــې هــر څــه لــه پښــتو ځــار کــړي
محمــد ګــل یــا باچــا خــان یــا صــمد خــان دی
بــل یــو کــس کــه لټــوئ پــه پښــتنو کــې
یــو خــادم دی چــې ولاړ پــه دې میــدان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷- غازي محمد نادرخان:** غازي محمد نادر خان د افغانستان د خپلواکۍ د ګټونکو له جملې څخه دی. د ده په مشري افغاني لښکرو د جنوبي جبهې په (ټل) چاونۍ کې انګرېزانو ته سخته ماتې ورکړه او همدا ماتې بیا د هغوی د نورو ماتو سبب شوه. غازي نادر خان نه یوازې د ازادۍ د بېرته ګټلو یو سرلښکر و، بلکې کله چې پر افغانستان باندې د غازي امان الله خان د نظام تر سقوط وروسته، د انګرېزانو تر ښکېلاک یو بل بدتر



حالت (سقاوي اړو دوړ) حاکم او هېواد له یوه بحران سره مخامخ شو، نو نادر خان یو ځل بیا له همدې جنوبي څخه د هېواد او ولس د نجات لپاره مبارزه پیل کړه، سقاوي اړو دوړ یې ختم کړ او ملک بېرته نورمال حالت ته راوګرځېد. د نادر خان فکر او مبارزې د خادم پر فکر او خیال تاثیر کړی او ده ورته په ولسي فورم کې یو نظم لیکلی دی.

## اعلیحضرت محمد نادر شاه ته

((پښتون دې خلاص کړو له زندانه - غازي شاه افغانه

اصیل ازاد وې، ته له فطرته     خاص یو وجود وې، جوړ له غیرته

دریاب د الطاف بې پایانه

بیرغ د افغان چې لوړ رپېږي     په کارنامو ستا باندې نازېږي

عالي همته عالي شانه

اول دې خلاص کړو له کافرانو     بیا دې د لاسه د ناپوهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وطن شو ستا په مخ روښانه**

**چا کړي داسې مشکل کارونه　　درته حیران دې ټول عالمونه**

**الله په تا شو مهربانه**

**حلقه به گوش وې د مصطفی ته　　مخلص بنده وې د پاک الله ته**

**شوه مشکلات درته اسانه**

**واړه دې کړلو غاړه په غاړه　بدي د منځ زمونږه لاړه**

**خبر دې کړو له هرې خوانه**

**تهداو د ټولو کار و موسم شو　　له هرې خوا مو زړگی راجم شو**

**په ترقۍ کې شو کوشانه**

**(خادم) دعا درته د مغفرت کا　　سوال د ښېگڼې د ټول امت کا**

**خالي له تمې (طمع) له ریا نه)).**

(۱۲: ٤٦٦)

**خادم صیب دا ولسي نظم د (۱۳۱۳ل) کال د تلې پر (۷)مه نېټه لیکلی دی. ده د اعلیحضرت نادر خان په باب په نثر کې هم یو شمېر لیکنې کړې دي، د هغه کارنامې یې ستایلي چې د دې بحث د اوږدوالي له امله یې له راوړلو څخه ډډه کوم.**

## ۱۸- سردار محمد داود خان:



**سردار محمد داود خان د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه ځلانده څېره ده، دی دوه ځله د صدراعظم او یو ځل د جمهور رییس په توگه دنده ترسره کړې ده. ده د خپل حاکمیت پر مهال افغانستان کې د ابادۍ ډېر زیات کارونه ترسره کړي دي. په افغانستان کې دی د یوه ستر معمار حیثیت لري. د ده لنډ مهالي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوږدمهالي پلانونه د افغانستان لپاره خورا ګټور وو او ان درې څلور لسیزې وروسته هم د ده له پلانونو څخه ګټه پورته کېږي. داود خان پر (۱۳۵۲ل) کال د چنګاښ پر (۲٦)مه نېټه شاهي نظام ختم او پر ځای یې جمهوریت اعلان کړ. هغه وخت تر یوې اوږدې سلطني واکمنۍ وروسته د جمهوریت اعلانول د خلکو له هر کلي سره مخ شول. خادم صیب هم د جمهوریت هر کلی وکړ او دا یې د خلکو هیله وبلله. خادم صیب وایي:**

داود خاني جمهوریت

جمهوریـــــــــــت و ارزو د خلکـــــــــــو
دا لـــــــوی نعمـــــــت و ارزو د خلکـــــو
افغـــــان بـــــه اوس شـــــي، ســـیال د قومونـــو
ملـــــــي نهضـــــــت و، ارزو د خلکـــــو.

**خادم صیب په یوه بله څلوریزه کې بیا د جمهوریت ځانګړنې بیانوي او وایي:**

جمهوري حکومت

جمهوریـــــــت دی، اختیـــــــار د خلکـــــو
چـــــې پـــــه کـــــې نـــــه وي، ازار د خلکـــــو
چـــــې خلـــک یـــــې غـــــواړي هماغـــــه کېـــږي
حکومـــــت نـــــه وي، بـــــادار د خلکـــــو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمهوریت وظیفه

وطـــــن خــــراب دی، جــــوړول غــــواړي
ملـــــت وران شــــوی، رغــــول غــــواړي
دغــــه کــــانې کــــا ، پــــردي لاســــونه
پــــردي لاســــونه، لنــــډول غــــواړي.

وروسته وروسته چې جمهوریت څخه هم خلک ناهیلي شول، نو خادم صیب بیا یوه بله څلوریزه ولیکله:

## د جمهوریت ابتکار

دا یــــو ملــــت و ، پــــردو ټــــوک ټــــوک کــــړ
یــو لــوی کــاروان و ، غلــو شــوک پــه شــوک کــړ
همــــدا یــــو کــــار دی، چــــې کــــول غــــواړي
مــــرد بــــه هغــــه وي، کــــه چــــا یــــو ســــوک کــــړ.


خادم صیب که څه هم د داود خان له افکارو او رغاونیزو ارمانونو څخه متاثر و، خو وروسته یې بیا په جمهوریت کې د دیکتاتورۍ او په دربار کې د غوړه مالۍ له حالته خوښ نه و، خو پر خپل وخت یې د داود خان د جمهوریت تائید کړی دی.

**۱۹ - نور محمد تره کی:** نور محمد تره کی د افغانستان په معاصرو ادبیاتو کې یوه مطرحه څېره ده، به تېره بیا په نثر لیکنه یا ناول لیکنه کې. تره کي په څلوېښتمو لمریزو کلونو کې (د افغانستان د خلکو دیموکراتیک گوند) تاسیس کړ، تر هغه وړاندې یې پر (۱۳۲٦ل) کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویښو زلمیانو غورځنګ به جوړونه کې خپل نقش درلود. ددې غورځنګ په جوړونه کې د تره کي، خادم او رښتین له طرحو ګټه پورته شوه. د خلکو دیموکراتیک ګوند پر (۱۳۵۷ل) کال د سردار محمد داود خان جمهوري نظام ړنګ کړ او پر ځای یې په خپله اصطلاح د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت جوړ کړ. دا مهال یو ډول ایډیالوژیک حکومت رامنځته**



**شو چې د خپل مخالف زغمل ورته اسانه کار نه و، خادم صیب چې له نور محمد تره کي او حفیظ الله امین سره یې له کلونو کلونلو راهیسې پېژندل، هغه یې هم د زندان تورو خونو ته وردننه کړ. اختناق تر دې حده زیات شو چې د خادم صیب په شان لوی لیکوال هم د مرګ له ګواښ سره مخامخ شو. خادم صیب د تره کي د واکمنۍ پر مهال هغه ته یو نظم لیکلی، دا نظم (د افغانستان د خلق رهبر په حضور) نومېږي. د دې نظم له متن او رواني حالته ښکاري چې خادم صیب تر سخت فشار لاندې دی، نو ځکه یې دا نظم لیکلی دی. دا نظم موږ ته دا پیغام راکوي چې ژوند لوړې ژورې لري، نه په کې واکمن په یو حال کې پاتې کېږي او نه په کې ولس، نه سیاستوال او نه هم لیکوال، نو خادم صیب هم د یوه لیکوال په توګه د زمانې ناخوالو ځپلی او دې ډول نظم ته یې مجبور کړی دی. دا نظم په خپل ذات کې د یوې مشخصې دورې د واکمنۍ د زور انځورنه هم کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان د خلق د رهبر په حضور

((رهبره وروره زه خادم یمه بادار خو نه یم
که ګناګار یمه نو دومره ګناګار خو نه یم
که ستا خادم نه یم، نو وایه د چا یمه زه
د مرتجع، سرمایه دار او استعمار خو نه یم
شاعر ته تش د کړو سترګو سزا هم ډېره ده
د عتابونو او ناخوالو سزاوار خو نه یم
زه عندلیب یمه پر ګلو مې نغمې ویلې
بد خواد ګل او د باغوان او د ګلزار خو نه یم
پر دغه سمه لار به درومو چې ویستلې ده تا
په زحمتونو کامیابۍ ته رسولې ده تا
دموکراتیکه لاره غوره ده منلې ده موږ
د ده پر ضد هر یو شعار زموږ شعار خو نه دی
چې جوړولی هېڅ یو کار نه شي ورانی کوي تل
دا سې سړي زمونږه خپل او زمونږ یار خو نه دی
چې د وطن په غم کې نه وي بد امني جوړوي
د وطن دوست او غمشریک او خدمتګار خو نه دی
وخت دی چې ودرېږو په نره په رهبر پسې ټول
د بېلتانه او تشتت هم روزګار خو نه دی
خلکو ځانونه په زحمت اسمان ته ورسول
چې ورنه پاتې وو هغه کاروان ته ورسول
(۱۲: ۴۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نه تره کی شته او نه هم خادم، خو دا نظم د زمانې د یوه ترخه انځور په توګه زموږ سترګو ته پروت دی.

**۲۰ - موسی شفیق:** موسی شفیق د هېواد د نومیالي علمي شخصیت او د پښتو معاصرو ادبیاتو د ویښتیایي بهیر له وتلو څېرو څخه دی. موسی شفیق یو ژور لیکوال، شاعر او سیاستوال و. ده د هېواد د ابادولو لپاره ژور لرلید، لیدلوری او تګلوری درلود. دا تګلوری له ملي او اسلامي فکره رغېدلی و او پر اقتصادي اساساتو یې ډډه لګوله. موسی شفیق د خپل کفایت او درایت له مخې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له خوا د خپل لومړي وزیر په توګه غوره شو.



هغه د پښتونستان د ازادۍ لپاره یو ښه دقیق او منظم پلان درلود چې د هېواد اقتصادي ودې ددې پلان زړی جوړاوه. موسی شفیق او خادم صیب دواړه د یوې لسوالۍ (کامې) اوسېدونکي هم وو. د یوه بل له نظره او فکره ښه خبر و او یو پر بل یې فکري اغېزې هم لرلې. استاد خادم د موسی شفیق په نظر حکومت او د هغه وخت حالات په څو څلوریزو کې په ښه ډول ارزولي دي:

د شفیق نظریه

توحید بهتـــــــر دی، لــــــه افتراقـــــه
ټولنــــــــه ښــــــه ده لــــــه انفلاقــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمـــان، حـــزب، دولـــت دې یـــو شـــي
کـــار بـــه کـــاوه شـــي، بـــې لـــه نفاقـــه

د شفیق حکومت

مـــدعا کـــار ، کـــه دیموکراســـي ده؟
مطلـــب ژونـــدون دی، کـــه ازادي ده؟
دا ګنګوســـې وې، نـــن کابینـــه کـــې
څـــه کـــې فایـــده ده، څـــه کـــې ښـــادي ده؟

د شفیق پر حکومت تبصره

یـــو ویـــل دا خـــو کمونیســـتي ده
بـــل ویـــل نـــه دا ، بـــورو کراســـي ده
حکومـــت هـــر رنـــګ، هـــر شـــان کېـــدای شـــي
خـــولې مـــاتې شـــوې، دي ازادي ده.
(۱۲: ۲۵۸-۲۵۹)

استاد خادم په یوه څلوریزه کې د موسی شفیق نظریه په ښه ډول انځور کړې، هغه وایي چې موسی شفیق تر انفلاق او چاودنې د یووالي او پیوستون حالت ډېر ښه ګڼي، مخکې تر دې چې خبره انفلاق ته ورسي، نو تر هغه مخکنی حالت څو ځله ښه دی. شفیق په دې نظر دی که چېرې په یوه دولت یا ټولنه کې ګوندونه، دولت او پارلمان ټول سره لاسونه ورکړي او له نفاقه لاس واخلي، نو د ټولنې د پرمختګ لپاره به لاره اواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. موسی شفیق پر داسې یو مهال دا نظریه وړاندې کړې وه چې اکثره سیاسي ډلې ډېرې ګرمې وې، افتراق او انفلاق ته یې لمن وهله، خو نړدې پنځه لسیزې وروسته او نن مونږ عملاً ګورو چې د موسی شفیق نظریه ډېره ګټوره وه. څرنګه چې شفیق پر یوې ولس خوښې اسلامي ولسواکۍ باور درلود، نو ځکه خو د هر چا له خوا یې پر حکومت ډول ډول تورونه پورې کېدل.

**۲۱- غلام رحمن جرار:** ښاغلی غلام رحمن جرار د پښتو د معاصرو ادبیاتو له مطرحو شاعرانو څخه دی، ده د دېواني شاعرۍ په انډول ولسي شاعري زیاته کړې ده. په ولسي شاعرۍ کې یې هم د (چاربیتې) فورم زیات کارولی دی. د جرار صیب چاربیتي خورا مشهورې دي، پر هر چا اغېز ښندي. خادم صیب د جرار صیب همعصره شاعر و، د ده چاربیتو پرې تاثیر کړی دی، نو ځکه یې د جرار صیب د یوې چاربیتې ځواب ویلی دی. خادم صیب په دې باب وایي:



## د جرار جواب

((ښاغلی غلام رحمن (جرار) د کسبه وو په باب یو فکاهی نظم په اتحاد مشرقي کې نشر کړی و دا نظم د ده په جواب کې لیکلی شوی دی.)):

(c) ketabton.com: The Digital Library



((جراره زما یاره!
شاعره نامداره!
بیان دی د کسبه ؤ په قانون د شعر سم دی
د خوږ زړونو ملهم دی
***
لیکن چې ورته گورم، لوستو باندې یې ښورم
په حقه درته لورم
پوهېږم چې تا کړی په دې شعر کې څه چل دی
زما زړه په تا غل دی
***
کسبه بې شانه ډېر دی له حدو شماره تېر دی
څه یاد او څه مې هېر دی
په دوی کې زورور عاجز غریب او معتبر شته
بینا او بې بصر شته
***
نیولی دې غریب دی هېر شوی دی رقیب دی
دا کار د ستا عجیب دی
د حق ځینې خبرې دې پرې ایښې دي له ډاره
شاعره نامداره
***
شاعر چې شاعري کا زرگر دې زرگري کا
ساحر دې ساحري کا
ورکړی رب قوت دی، د خوږو خوږو خبرو
د لعلو جواهرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

تاثير كوي په زړونو          د ښكلو ښكلو نجونو
مغرورو كبرجنو
دا نور عالم خو څه كوي پرې لوبې شاعران كا
هر څوک پسې ارمان كا

***

حكمت چې په كې نه وي          دقت چې به كې نه وي
رقت چې په كې نه وي
دا شعر نه دی یاره هسې خوشې كوتې لال دی
بې فيضه قيل و قال دی

***

طامع اوريا كار          حاسد او جفا كار
مداح او بې وقار
لايق د دروند لقب د شاعرۍ نه د ادب دی
مغضوب په دې سبب دی

***

د حق رښتيا بيان          ښكاره ويل عيان
سموالی د جهان
دا كار د شاعرانو اديبانو د عالم دی
د خوږ زړونو ملهم دی

***

چې څوک ليكي اخبار          اديب راځي په شمار
نور مه كوه گفتار
كه نيت يې په دې كار كې ويښول وي د ملت
د خدای دې وي رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

که تش گټه د ځان کا          ناحقه پوچ بیان کا
نو خپل ایمان به زیان کا
په خپل ټیټ وضعیت باندې به ځان کاندي ښکه
رذیل به وي بیشکه

***

قاضي صاحب ته گوره          په خوا خوا کې یې ښوره
خبره نه کړې سپوره
بېځایه به په تول کې د املوکو چېرې دل شي
مصره به د غزل شي

***

هو، څه وکړې قاضي          ترې زه یمه راضي
قضیه ده...
حاکم یې تحقیقات په دروغه کړي دا یې رایه
لیکلې ده څو ځایه

***

حاکم وایي زه څه کړم          چې دغه بندي نه کړم
نو کار به څنگه وکړم
اصلي جاني خو نشته یا ترې زه یمه بیزاره
شاعره نامداره

***

که ونیوې ما سل          په حق وي که باطل
زه یې ښیم درته چل
چې ونه کړې خبرې د قانون دا یې قانون دی
لیکلی په مضمون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

چې لاړ شي سرمامور ته يا قوماندان حضور ته
چې ونه ګورې پورته
معقول ځان ښکاره نه کړې چې بيا ونه کړې ارمان
په منځ کې د زندان
***
ته ورمه شې دښمنه! زندان و ته دننه
چې بيا نشته پوښتنه
اميد نشته چې دلته به څوک رحم په تا وکړي
شايد زړګی به ښه کړي
***
رښتيا رښتيا به وايو ښه، بد، به په کې ستايو
هر چا و ته يې نمايو
چې نن لا ښه دوره ده په وطن له هره حاله
خبر شه له احواله
***
چې څوک کوي خدمت په صاف ښکلي نيت
د قام و او د ملت
سلام په داسې ويښ زلمو (خادمه) مقدم دی
د خوږ زړونو ملهم دی)) (۱۲: ۴۷۲-۴۷٦)

څرنګه چې د خادم صيب دا چاربيته د جرار صيب د چاربيتې په ځواب کې ويل شوې، نو ځکه خو له شکلي پلوه د جرار صيب چاربيتو ته ډېره ورته ده او د هغه شکلي اغېزې پرې محسوسې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲- نصیر خان بلوڅ:** نصیر بلوڅ د بلوڅو یو ملتپال شاعر دی، د پاکستان تر جوړېدو دمخه یې د انګرېزانو او تر هغه وروسته یې د پاکستان د واکمنو پر وړاندې مبارزه کړې ده. استاد خادم د ده ادبي او سیاسي مبارزه تعقیب کړې او کله چې نصیر بلوڅ د پاکستاني چارواکو له خوا بندي شو، نو استاد خادم پرې خپل تاثر څرګند کړی او دغه لاندې لیکنه یې پرې کړې وه.

## بلوڅ شاعر نصیر خان دې پرېښودل شي

((په دې ورځو کې جرایدو او راډیو ګانو یو خبر خپور کړی چې د هېواد په ادبي محافلو کې یې اضطراب پیښ کړی دی. خبر وایي چې ښاغلی نصیر خان بلوڅ شاعر د کوټې اوسېدونکی د پاکستان د حکومت له خوا نیول شوی او بندي شوی دی. د ده د بندي کېدو سبب دا ښودل شوی دی چې د ده په شعرونو کې دازادۍ غوښتلو سپریټ موجود دی او هم دا چې بلوڅ او پښتانه یووالي او اتفاق ته رابولي. خبر وایي چې د دغې حادثې په نسبت د پېښور د مشهور شاعر اجمل خټک تر مشرۍ لاندې دپېښور د ادبي ټولنې (ساهو مرکې) له خوا یوه غونډه شوې وه چې د دغې سیمې ادیبانو، شاعرانو او نورو خلکو په کې ګډون کړی و، غونډې د بلوڅ شاعر نصیر خان په نیول کېدو سخته خواشیني څرګنده کړېده.

خبر دا هم وایي دغه ټولنه چې په یوه درنه مشاعره او د ښاغلي سلیم راز، ښاغلي ایوب صابر، ښاغلي منتظر، ښاغلي قلندر مومند، ښاغلي اجمل خټک، د ټولو شاملینو په نماینده ګۍ له حکومت څخه وغوښتل چې ښاغلی نصیر خان دې سمدستي پرېښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ د هېواد ادبي ټولنه د (ساهو مرکې) د غوښتنې په تائید هیله کوي چې ښاغلی نصیر خان بلوڅ شاعر دې فوراً ایله کړی شي. ځکه شاعران په قومونو کې داسې دي، لکه په مرغانو کې بلبلې، بلبلې خلک نه بندوي او نه یې په پنجرو کې اچوي، بلبله یوه وړه او کمزورې مرغۍ ده، خو په لویو لویو او غټو غټو مرغانو غوټې کوي او په ټونګو یې وهي. ایا دغه غټ او قوي مرغان نه شي کولی چې په یو ګوزار د بلبلې کار تمام کړي؟ وګورئ! توتکۍ ته هېڅ غوښه خوړونکی مرغه څه نه وایي، ښه نو چې په وړو وړو مرغیو کې دغومره شرافت او ساهو توب شته نو انساني ټولنې دې ولې ورڅخه خالي وي.

په بلبلو او توتکیو کې نور څه شی دي؟ بې له دې چې سحر خېزې دي او د سباوون په روح پروره هوا کې د کایناتو غوږو ته خپلې خوږې او شیرینې نغمې اهدا کوي، د ښکلا، ظرافت او جمال پرستۍ شعور د ژوند په ذره ذره کې راښکل شوی دی، نو ایا حیف به نه وي چې د سیاست د زور سره او نا پایداره لوبو لپاره روح نواز شاعر چې د کایناتو د زړه اواز منعکس کوي، بندي، محبوس او ازاد کړی شي. شاعر د حیات په ډګر کې خپله مستقله او جلا وظیفه لري، دی د ښکلا، حسن او ظرافت پسې ګرځي. د ژوند ښایست او استحکام د خلکو خوشالي او نېکمرغي د جامعې سعادت او بهبود د شاعر هدف دی، نو ځکه کېږي که کله د شاعر نغمه د سیاست له ډول سره تصادم وکړي، ایا د رباب اواز ډول ماتولی شي؟ او یا د تنبور ټنګهار د ډول په درزهار غلبه موندلی شي؟ چې نه یې شي موندلی، نو وېره له څه ده؟ د دې نړۍ ټول قومونه او ملتونه د شاعر او ادیب احترام کوي او ناز یې اخلي. تاسو وګورئ اقبال، ټاګور او برنارد شا څه نه دي ویلي، د ګورګي او تولستوی اقوال د ګوندۍ په سیاست برابر وو څه؟ ادب هېڅکله په سیاست نه شي برابرېدی او چې برابر شي، هغه ادب نه دی، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي ده کوم شعر او ادب چې د حقیقت لاره پرېږدي او د سیاست په لاره روان شي، نو گمراه شي، شاعر پرېږدئ او ایله یې کړئ، دی ستاسو د ټولو دی، په ده ظلم مه کوئ، ځکه:

د هغوی چراغ بل نه شو تر سهاره
چا چې کړی پر عاشقو ظلم زور دی))

(۱۲۱٦:۲۴)

**۲۳- سید حسن خان:** سید حسن خان د پښتو معاصرو ادبیاتو یوه مطرح څېره وه. نه یوازې د شاعر او لیکوال په توگه مطرح و، بلکې، سیاسي اوقومي شخصیت هم و، د دې شخصیت فکر او عمل د استاد خادم پر فکر او احساس تاثیر کړی او د هغه پر قبر یې یو نظم لیکلی دی. دا نظم په ټولیز ډول د سید حسن خان د کرکتر انځورگري کوي.

## د سید حسن خان د قبر ډبره

پــــه ادب بانـــــدې تېربـــــږه ای زلمیـــــه درتـــــه وایـــــم
د حرمـــت او شـــرف ځـــای دی، زه یـــې پـــه گوتـــه درتـــه ښـــایم
دا د خـــاورو ډېـــرۍ گـــوره پـــه کـــې لعـــل د بدخشـــان دی
مـــرور ورتـــه راغلـــي پـــه کـــې پـــروت ســـید حســـن خـــان دی
د وطـــن پـــه هـــوډ کـــې مـــړ دی، لـــوی پښـــتون دی لـــوی ســـړی دی
لـوی عـالم دی،لـوی شـاعر دی،لـوی پښـتون دی،لـوی سـړی دی
خولـــه یـــې ډکـــه لـــه خنـــدا ده، خـــو پـــه زړه یـــې دي غمونـــه
د وطـــن پـــه غـــم غمجـــن دی چـــا تـــه نـــه وایـــي حالونـــه
پـــه محفـــل کـــې د یـــارانو د ډیـــوې غونـــدې بلېـــږي
پـــه هـــېڅ وخـــت یـــوازې نـــه دی، پتنگـــان پـــرې راټـــولېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا خندا په ټوکو د علم درسونه وايي
د ادب، د سیاست او د تاریخ بابونه ستايي
لوی جنرال دی لوی قاید دی، نېشنلېست دی وطنپال دی
نه يې کور شته نه يې اور شته مسافر دی دا يې حال دی
د وطن په مینه مست دی له هر څه نه بې پروا دی
په دې مینه له سرتېر دی، دغه کار له پیدا دی
د خوږې ژبې خاوند دی، ښه ملګری ښه اشنا دی
ټوله مینه محبت دی، مهربانه په هرڅا دی

***

نه سید دی نه پاچا دی نه د کوم بابا اولاد دی
کلک پښتون دی، مېړنی دی، نر فرزند د پښتونخوا دی
نه منت منې نه عذر، نه يې څوک شي اړولی
دا ولس یو فدايي دی څوک يې نه شي ډارولی
اشنايانو دی ټګلای خپلو ورونو تېرا بستلی
بې ارزۍ خوابدی کړی څوک يې شي پخلا کولی
په زندان کې يې ساه ورکړه نه يې عذر نه فریاد کړ
د همت هېر شوی درس يې دوباره مونږ ته رایاد کړ
وايي خبې مې په ډېران کړئ چې میدان کې شهید نه شوم
څه پروا کېده له مرګه خو افسوس چې سعید نه شوم
ځئ چې غونډ يې شو په قبر ورته ښکته کړو سرونه
لاس يې ښکل کړو پښې يې ښکل کړو ورته و کاندو عذرونه.))
(۱۲: ۲۲۳-۲۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم دا پورته نظم د (۱۳۴۷ل کال د کب پر (۳)مه نېټه لیکلی دی. په دې مثنوي نظم کې یې سید حسن خان ته د خپل عقیدت ترڅنگ د هغه د شخصیت څرنگوالي ته هم نغوته کړې ده.**

## ۲۴- استاد عبدالروف بېنوا:




**استاد عبدالروف بېنوا هم د پښتو معاصرو ادبیاتو یو مخکښ لیکوال دی. د پښتو پنځو ادبي ستورو له جملې څخه یوه ځلنده څېره ده. په نظم او نثر دواړو کې یې پښتو ادب ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړي. د ادب تاریخ په برخه کې یې هم خورا غنیمت کارونه ترسره کړي دي او په لسگونو عنوانه اثار یې لیکلي دي. (اوسني لیکوال) درې ټوکه یې خوار مهم اثر دی. د استاد بېنوا نظم او نثر دواړه دومره خواږه دي چې څوک یې په لوستلو نه مړېږي. استاد خادم ته هم د استاد بېنوا لیکنو خوند ورکړی، دی د هغه لیکنې د سپرلي سره گلونه گڼي او د هغه د پښتو په باب وایي:**

د بېنوا پښتو

چــــې رایـــــاده مـــــې پښــــتو د بېنـــــوا شــــي
ســــره گلونـــــه د بهـــــار ســــترگو لــــه راشــــي
د ادب پــــه بــــې قــــدرۍ داســــې خفــــه شــــم
خــوږین زړگـــی مـــې پـــه سـلگو کــې پــه ژړا شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library





**۲۵ - حمزه شینواری: امیر حمزه شینواری د پښتو معاصرو ادبیاتو له سترو لیکوالو او شاعرانو څخه دی، په نظم او نثر دواړو کې یې په لسګونو اثار لیکلي دي. په تېره بیا په نظم کې د نظم په برخه کې یې هم دغزل فورم کې زیاته شاعري کړې ده. ده غزل ته بېخي پښتني رنګ ورکړ او زیات نوښتونه یې په کې راوستل، نو ځکه خو پښتنو لیکوالو ده ته (د غزل بابا) لقب ورکړی دی، ده خپله هم دې ټکي ته اشاره کړې ده:**

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم.

**خادم صیب د حمزه بابا کار او هنر ستایلی او دی یې په خپل وخت کې د خیبر د ادب پلار ګڼلی دی. خادم صیب وایي:**

امیر حمزه شینواری

چې مین په پښتو ژبه او مسلک دی
چې رښتیا په پښتنو اله باندې کلک دی
د خیبر د ادب پلار امیر حمزه دی
چې یې هر تالیف د دې لارې محک دی

**حمزه شینواري هم په خپل وار د استاد خادم، پښتو او پښتونواله ستایلي چې پر خپل ځای ورته اشاره شوې. پښتو، پښتونولي، افغانیت، ملتپالنه او هېوادپالنه د دواړو سترو لیکوالو او شاعرانو د افکارو مشترک ټکي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**۲٦- استاد گل پاچا الفت:** استاد گل پاچا الفت د پښتو ادب په پنځو ستورو کې یو بل ځلنده ستوری دی. په نثر او نظم دواړو کې یې تر (۵۰) عنوانو بېلابېل مهم او مغتنم اثار لیکلي دي. د الفت شاعري او نثر په معاصره ادبي دوره کې د هر چا ذهن ته وررسېدلي، د ده د اثارو او افکارو په نتیجه کې یو ملایم فکري خوځون رامنځته شوی دی. استاد خادم هم د استاد الفت رول ستایي، خو د دې ترڅنګ خواشیني هم ښکاره کوي چې الفت ولې پر سیاست اخته شوی دی. استاد خادم وایي:

د الفت شاعري

چې پیدا مو پښتو ژبه کې الفت شو
د پښتو د ښکلا خوب مو حقیقت شو
چا نا مراد کړو د خپل قوم په خدمت کې؟
چې شاعر رانه اخته په سیاست شو.

**۲۷- پوهاند عبدالحی حبیبي:** پوهاند عبدالحی حبیبي د



پښتو معاصرو ادبیاتو یوه مطرح څېره او د پښتو ادب له پنځو ځلانده ستورو څخه یو ځلاند ستوری دی. ده په نظم او نثر دواړو کې ګڼ شمېر اثار لیکلي دي.

په تېره بیا په تاریخ لیکنه، ژبپوهنه او ادبپوهنه کې د ده اثار د زیاتې یادونې وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. استاد حبيبي تر (۱۳۵) عنوانو زيات، علمي، څېړنيز او تاريخي اثار ليکلي دي. د پښتو ادب د لرغونې پانګې يوه برخه د همدې استاد د زيار او پلټنې په نتيجه کې ترلاسه شوې ده. (پټه خزانه) او (تذکرة اوليا) او ځينې نور ادبي او تاريخي اثار دده د څېړنو او پلټنو په نتيجه کې رابرسېره شوي دي. استاد حبيبي پر پښتون ولس او پښتو ژبې ډېر حق لري، خو پښتون داسې يو قام دی، هر څومره خدمت يې چې کوې، له ستونزو سره به مخامخېږې. استاد حبيبي هم يو وخت له ډول ډول ستونزو سره مخامخ شوی. استاد خادم دې ډول ستونزو ته متوجه شوی، نو ځکه يې د استاد حبيبي په باب ليکلي دي:

حبيبي او پښتو

حبيبـــي پـــه پښـــتو ژبـــه نـــامور شـــو
خـــو اخيـــر لـــه خپلـــه کـــاره لاس پـــه ســـر شـــو
خـدای زده کـوم ظـالم سـتومانه پـه خپـل کـار کـړ
د پښـــتو قلـــم يـــې کېښـــود مـــرور شـــو.

خو استاد خادم د استاد حبيبي خدمتونه نه هېروي او وايي چې همدی و چې د پښتو ژبې تاريخ يې عيان کړ .

حبيبي او د پښتو تاريخ

ورک تـــاريخ د پښـــتو ژبـــې يـــې عيـــان کـــړ
حبيبـــي پـــه پښـــتو ژبـــه لـــوی احســـان کـــړ
پـــه دې کـــار تـــر هغـــه وختـــه ځوربـــدلو
چـــې پـــه کـــړو خـــدمتونو يـــې پښـــېمان کـــړ

او ورپسې ددې کار په مقابل کې د جهاني د خبرو په باب وايي:


(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاني وايي

راتـــه وايـــي دا جهـــان دې ولـــې جـــوړ کـــړ؟
د پښـــتو ژبـــې کـــاروان دې ولـــې جـــوړ کـــړ؟
چـــې ويـــل مـــو هـــم هغـــه بـــه دې کـــولای
دې کـــاروان لـــره څـــاروان دې ولـــې جـــوړ کـــړ؟

**۲۸- سلېمان لايق:** ښاغلی سلېمان لايق هم د پښتو معاصرو



**ادبياتو کې يوه مخکښه او سرکښه څېره ده. ده د پښتو معاصر شعر محتوا ته نوی رنګ ورکړ، هم د فورم او هم يې د مانا له مخې د شعر رنګونه بدل کړل. لايق ګڼ شمېر اثار وليکل، په تېره بيا په نظم کې د ده اثارو پر ټولنې ژور اغېز وکړ، د لايق انقلابي شاعرۍ له ټکر او پرمختګ سره ګام پر ګام حرکت وکړ او نويو شاعرانو ته يې ذهني فضا خلاصه کړه. استاد خادم، سلېمان لايق هغه وخت د پښتو دخدمت يو لايق زلمی ګڼي او د هغه په باب وايي:**

سليمان لايق

لانـــــدې ځمکـــــه پـــــاس اســـــمان دی
مـــــنځ کـــــې پـــــروت د پښـــــت جهـــــان دی
د پښـــــتو لايقـــــان ډېـــــــر دي
ښـــــه زلمـــــی يـــــې ســـــلېمان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افســـــــــــوس ده دا خبـــــــــــره
پـــــه پښـــــتو نـــــا مهربــــــان دی

تر لایق وروسته خادم د خپل ځان په باب هم قضاوت کوي او وايي:

خادم څه دی؟

څـــه پو ښـــتنه د خــــادم کـــوئ چـــې څـــه دی
پـــه پنجـــره کـــې بنـــدي شـــوی یـــو مرغـــه دی
د پښـــتو پـــه کبیـــره ګنـــاه کـــې ګیـــر شـــو
څـــوک خبـــر نـــه شـــو چـــې څنګـــه دی او څـــه دی؟

تر دې وروسته بیا د پښتو او پښتنو په باب نظر څرګندوي او د هغو پښتنو یادونه کوي چې له پښتو سره مخالفت ښيي، په دې باب وايي:

پښتانه او د پښتو مخالفت

څوک ناپوه شو څوک محتـاط او څـوک بدبین شو
د پښـــتو بیـــاض چـــې ســـپین پاتـــه و ســـپین شـــو
پښــــتانه د پښــــتو ژبــــې مخــــالف شــــول
سرنوشـــت د پښـــتو دغســـې تعـــین شـــو

استاد خادم د پښتو د خدمتګارانو وروستۍ نتیجه هم په ګوته کوي او وايي چې څوک پښتو ته کار کوي، نو نتیجه به یې څه وي؟

د پښتو نتیجه

نــه پوهانــد ، نــه بــه رییس، نــه بــه وزیــر شــي
هـــر پښـــتون چـــې د پښـــتو طرفـــداري کـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـو ! دا تـول تـرې جوړېـدای شـي خـو شـرط دا دی
چـــې څرګنـــده د پښـــتو نـــه بېـــزاري کـــا.

استاد خادم که څه هم دا قطعه له نن (۱۳۹٦ل)کال څخه نږدې پنځوس- شپېته کاله دمخه ویلې، خو که اوس یې هم د خپلې ټولنې پر عیني واقعیتونو تطبیق کړو، نو سل په سلو کې پرې د تطبیق وړ ده.

۲۹ - سید رسول رسا : سید رسول رسا هم په لسګونو اثار پښتو ژبې



ته پرې ایښي دي. (ارمغان خحوشال) یې د اثارو یوه بېلګه ده چې د خوشال بابا دژوند، فن او اثارو په باب په کې هر اړخیز معلومات وړاندې شوي دي. استاد خادم سید رسول او همېش خلیل دواړه په یوه قطعه کې یاد کړي چې وروسته به ورته اشاره وشي.

**۳۰ - همېش خلیل:** همېش خلیل د پښتو ژبې د دې معاصرې



دورې اوچت شاعر، لیکوال او څېړونکی دی. ده په لسګونو علمي، څېړنیز او ادبي اثار لیکلي او د شعرونو څو ټولګې یې هم چاپ شوې دي. په تذکره لیکنه او د تاریخي متونو په راټولونه کې ده ډېر زیات زیار ګاللی دی. دده د چاپ شویو اثارو شمېر لسګونو ته رسېږي. (ورکه خزانه) د ده د نامتو تذکرو له جملې څخه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــوتې خـــاوره د وطـــن بـــه پـــرې ورنـــه کـــړم
کـــه پـــه ســـر د ځمکـــې هـــر وطـــن خـــتن شـــي
کـــه غلـــیم لـــه مـــا بـــری یـــوور محبـــوبې
ســـتا پړونـــی دې زمـــا د تـــن کفـــن شـــي

**دا او دې ته ورته نور شعرونه د همېش خلیل د هغو شعرونو له جملې څخه دي چې د عوامو او خواصو پر ژبه خواره دي.**

**خادم صیب د دې دواړو لیکوالو او شاعرانو (رسا او همېش) شاعري او لیکوالي په یوه قطعه کې ارزولې ده:**

رسا او همېش

د رســـا پـــه شـــاعرۍ او لیکـــوالۍ کـــې
چـــې مـــې وکتـــل هـــم ډار هـــم ابتکـــار شـــته
خـــو همـــېش د پښـــتو ژبـــې فـــدا کار دی
کـــه رښـــتیا چېرتـــه پښـــتو تـــه فـــدا کار شـــته.

**۳۱- محمد عمر سیماب:** **محمد عمر سیماب هم په پښتو معاصره ادبي دوره کې یو مطرح شاعر تېر شوی دی. د ده کلام پر استاد خادم خاص تاثیر کړی دی. کله چې هغه د ناروغۍ پر بستر پروت و، نو خادم صیب ورته ډېر ځوربدلی او دغه څلوریزه یې ورته لیکلې ده:**

محمد عمر سیماب


پـــه ســـیماب محمـــد عمـــر مـــې زړه زهیـــر دی
د خـــوږې ژبـــې شـــاعر مـــرض کـــې ګیـــر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومیــــت عـــالي احســـاس د پښــــتونوالي
دا شـــعري نغمـــه اوازیــــې د ضـــمیر دی.

**۳۲- مراد شینواری:** مراد شینواری بیا د پښتو ژبې د معاصرې دورې بل مطرح شاعر دی، چې شاعري یې نه یوازې پر خیبر ادبي حوزې خپله اثر ښندلی و، بلکې ټولې پښتونخوا ته یې اغېز رسېدلی و. د مراد شینواري شاعري پر خادم صیب هم خپل خاص تاثیر کړی و، خادم صیب هغه ان له (دقیقي بلخي) سره چې د غزنویانو په عصر کې د فارسي ژبې یو نومیالی شاعر تېر شوی و، پرتله کړی او وایي، که دقیقې بیا راژوندی شي، نو هم د مراد شعر به وستایي. خادم د مراد شینواري په باب دا څلوریزه پر (۱۳۴۱ل) کال لیکلې ده.




مراد شینواری

ښایســـته ګلونـــه واشـــول پـــه خیبـــر کـــې
کاشکې دا سې ګلان شنه شوای په شبېر کې
د مـــراد د تـــاترې شـــعر بـــه ســـتایي
دقیقـــي کـــه بیـــا ژونـــدی شـــي پـــه بـــاختر کـــې.

**۳۳- سېلاب ساپی:** سېلاب ساپی بیا د پښتو معاصره شاعرۍ کې یو بل نامتو شاعر تېر شوی، د خادم صیب سیموال هم دی او خوږه

(c) ketabton.com: The Digital Library





شاعري یې هم کړې ده. د سېلاب کوم شعرونه چې د هنرمندانو له خولې ویل شوي، هغه د ټولو افغانانو د خوښې وړ گرځېدلي دي:

لېونۍ مینې دې اشنا کړم له بیابانه سره
پرېږده چې گرځم لېونی په غرونو

د سېلاب شعرونه د زړه تل ته لاره پیدا کوي، د ده شاعري د خادم صیب هم خوښه شوې، نو ځکه خو هغه د ښې قریحې خاوند گڼي:

سېلاب او پښتو

ښه قریحه خدای ورکړه سېلاب ته
قدم یې هم واخیستل په لار کې
ردې سترگې د ښمنان د پښتو ژبې
یې ولیدل سرگومه شو په چار کې

**۳۴- قاضي عطاء الله:** قاضي عطا الله خان دمرحوم نصرالله خان دویم زوی و، دعطاالله خان پلار د پېښور د (تاکال) په کلي کې اوسېده او (قاضي)یې کورنی لقب و .

قاضي عطاالله خان شرعي متداول علوم له خپل پلار څخه لوستي وو او ورسره ورسره یې په ښوونځیو کې زده کړه کړې وه، د(۱۹۱۸ع ) کال په شاوخوا کې یې دعلیگړ له پوهنتون څخه د وکالت (حقوقو) په څانگه کې برى لیك واخیست او تر دې وروسته یې په مردان سیمه کې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکالت لاس پورې کړ،خو د وکالت یې لا یونیم کال تیر شوی نه و، چې په مغزو کې یې دسیاست افکارو وده ومونده.

قاضي عطاالله خان د پښتنو دازادۍ دحق دغوښتلو اوګټلو په لاره کې خورا زیات ربړونه ، تکلیفونه ، زیانونه اوجېلونه وګالل، خو دانګرېزانو ځای ناستو ته یې د تسلیم سر د یو نرپښتون په شان ښکته نه کړ ، د (۱۹۴۸ ع ) کال پر جون میاشت دوروستی ځل له پاره بیا دحیدر آباد سنده سنټرل جېل ته بوتلل شو او ترڅلور کاله بند وروسته په داسې حال کې له جېله دلاهور یو روغتون ته یو وړل شو، چې په ژوند کې یې څه پاتې نه و او دوې درې ورځې وروسته د (۱۹۵۱ ع) کال دفبروري پر (۱۹) مه د (۱۳۳۰ هجري شمسي) کال دسلواغې میاشتې په پای کې دنامرادۍ په حال کې وفات شو او دحق غبرګې ته ولاړ .

قاضي عطاء الله (د پښتنو تاریخ) مهم اثر هم لیکلی، په جېل کې یې ډېر کتابونه ولیکل، دا کتاب څو ځله چاپ شوی دی. استاد خادم د دغه نومیالي پښتانه له افکارو متاثر شوی او (د شهید قاضي عطاء الله په یاد) په نامه یې دغه لاندې لیکنه پرې کړې ده:

## د شهید قاضي عطاء الله په یاد

((د خلقت او پیدایښت په سلسله کې ډېر خلک پیدا کېږي، مګر د خلکو حقیقي خدمتګاران کله کله پیدا کېږي!

په دریاب کې زرګونه او کروړونه خاڅکي لوېږي، مګر کوم یوه په کې شهواره مرغلره شي.

ډېرې مېندې کېني او زامن راوړي، مګر داسې کله کله پېښېږي چې مور نابغه زوی وزېږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتبونو ته ډېر هلکان ځي او علم زده کوي، مگر د علم سره سړیتوب د هر چا نه په برخه کېږي!

دا صحیح ده چې ټول سرونه ماغزه لري، مگر په مغزو کې کامل استعداد د هر چا نه روزي کېږي.

سیندونه او غرونه له کاڼو ډک دي، مگر لعل په بدخشان کې او هغه هم د ځینو کاڼو په سینه کې وي!

هر قوم او هر ملت ډېر سړي لري، مگر د سړو سر یو یا دوه کسه وي، په کاروان او قافله کې لکونه عالم روان وي، ځي، مگر د قافلې سالار هر کس نه شي کېدای!

د سړیتوب دعوې هر سړی کوي،مگر هغه سړی چې خلک یې په سړیتوب قانع او قایل شي، هر څوک نه وي!

قاضي عطاء الله مرحوم خو یو سړی و، مگر څنگه سړی؟

یقیناً قاضي صاحب مرحوم د پښتون ملت صحیح رهنما او خدمتگار و.

دې کې شک نه شته چې د افغان د لوی ټبر او لویې جامعې په منځ کې یې داسې حیثیت درلود، لکه شهواره مرغلره یوه امېل کې!

رښتیا ده چې شهید قاضي د پښتو بابا او پښتني انا رشید او ننگیالی زوی و.

د قاضي صاحب سره علم او عمل، همت او مردانگي، عزم او اراده، قوم پروري او قوم پرستي د کمال په درجه کې موجود وو.

دا لوی شخص، لوی پښتون، د کره مغزو خاوند، د پښتنو سر او د حریت خواهانو د قافلې مشر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دده سره پولادي اراده او نه ماتېدونکی عزم او د پښتونولۍ په شرافت کامل ايمان موجود و.

د پښتونستان او خدايي خدمتگارانو په ليډرانو کې د خان بابا مټ بازو او دده د ښه اعتماد ځای و.

افسوس دی چې دښمنانو د ده شخصيت ونه شو زغملای.)) (۲۳: ۱۴۴)

**۳۵ - نصر الله حافظ:** نصر الله حافظ د پښتو ادبياتو د ويښتيايي او اوښتيايي دواړو پړاوونو شاعر دی او خوږه شاعري لري. تر (۱۲) زياتې شعري ټولگې لري، چې اکثره يې



چاپ شوي دي او همدارنگه نور گڼ ادبي او څېړنيز اثار. د (شمشاد له هسکې څوکې) د نصر الله حافظ د شعرونو هغه ټولگه ده چې خورا مشهوره ده. نصر الله حافظ او خادم د نږدې يوې زمانې شاعران وو، يو بل سره يې له نږدې پېژندل، پر يو بل يې شاعري خپله خپله اغېزه هم کړې ده. خادم صيب د حافظ شعر ((په غره کې يوه رڼه چينه)) گڼي او شاعري يې يوه ((ازاده توتکۍ)) چې پر ځانگه ناسته وي او ترانې وايي:

د حافظ نصر الله پښتو

د حافظ نصر الله خان شعر مې خوښ دی
لکه پاکه چې چينه غره کې بهېږي
توتکۍ ده بې ازاره ښايسته توکې
چې په ځانگه باندې ناسته ده ويېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳٦- ولي محمد مخلص:** ښاغلی مخلص هم د پښتو معاصرو ادبیاتو د ویښتیایي پېر شاعر تېر شوی، د خادم صیب د ژوند له زمانې سره یې ژوند هممهاله و، پر (۱۳۵۲ل) کال د زمري پر (۱۴)مه نېټه، استاد خادم د هغه په یاد یوه مرثیه ویلې. په دې مرثیه کې په ښه ډول د ولي‌محمد خان مخلص د شخصیت انځورنه شوې ده. دا مرثیه په مثنوي فورم کې ویل شوې ده:

### د ولي محمد خان مخلص په یاد

((شـاعره سـتا ښـکلی صـورت مـې شـو یـاد
سـتا د مـزې ښایسـته صـحبت مـې شـو یـاد
د کنـــدهار د ســـیمې ســـتوری وې تـــه
پـــه خـــوارو خلکـــو بانـــدې سـیوری وې تـــه
رښـــتیا زهیـــر وې پـــه ملـــت بانـــدې
مـــین د خلکـــو پـــه خـــدمت بانـــدې
ځـــومره ازاد و ســـتا فطـــرت شـــاعره
مـــولا درکـــړی و قـــدرت شـــاعره
طمعـــه او ډار دې طبیعـــت کـــې نـــه و
ســـاز شـــي کـــار دې پـــه فطـرت کـــې نـــه و
وې آیینـــــه د پښـــــتنې ټـــــولنې
تـــل بـــه دې کـــړې د ارتقـــا ځېړنـــې
کلـــه ولاړ بـــه محـــافلو کـــې وې
مصـــروف د خلکـــو پـــه روزلـــو کـــې وې
کلـه بـه ګیـر پـه کـار او بـار کـې شـوې
کلـه ورګـډ بـه پـه دربـار کـې شـوې

(c) ketabton.com: The Digital Library




حـــــرص دې وژلــــــی و ازاد شـــــاعره
ځکــــه د خلکـــو یــې پـــه یـــاد شـــاعره
هـــر څـــه دې کـــړل، خـــو د ملـــت پـــه مینــه
نـــه د پیســـې نـــه د دولـــت پـــه مینـــه
پـــه زړه مـــې ګرځـــي ســـتا خـــوږې خبـــرې
لـــــه مینـــــې ډکـــــې د مـــــزې خبـــــرې
ځـــان بـــه دې وور کـــه د کوچنیـــانو ســـره
درونـــد لکـــه غـــر وې د لویـــانو ســـره
ډیـــــوه د جمعـــــې د یـــــارانو وې تـــــه
تنـــدر پـــه ســـر د مغرضـــانو وې تـــه
ســـتا پـــه ښـــکنځاو کـــې حکمـــت پوښـــلی
و ټولـــو خلکـــو تـــه عبـــرت پوښـــلی
وې د مومنـــــــد او د داود ملګـــــــری
د قـــــام د ګټـــــې او د ســـــود ملګـــــری
راتـــه یـــاد بړي ســـتا روان شـــعرونه
د محـــــافلو قهرمـــــان شـــــعرونه
بالفعـــل شـــعر پـــه محفـــل کـــې ویـــل
لـــوړ مطالـــب نظـــم و غـــزل کـــې ویـــل
و ســـتا د طبیعـــې لـــوړ مثـــال شـــاعره
چـــې پکـــې زور و هـــم جمـــال شـــاعره
د خـــدای رحمـــت ســـتا پـــه مـــدفن دې وي
ســـتا پـــه اروا لا پـــه کفـــن دې وي
واخلـــه ســـلام دې د خـــادم مخلصـــه
نـــوم دې ژونـــدی اوســـه دا یـــم مخلصـــه.))
(۱۲: ۲۳۰-۲۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۷- سرمحقق عبدالله بختانی



**خدمتګار: استاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار د پښتو معاصرو ادبیاتو یوه ځلانده او مخکښه څېره ده. ده په نظم او نثر دواړو کې په لسګونو عنوانه مستقل اثار لیکلي دي. د استاد بختاني د ټولو لیکلو اثارو شمېر تر (۷۰) اثارو پورې رسېږي. شاعري یې هم کړې، خو ډېر کار یې په څېړنه او ادب تاریخ لیکنه یا تذکره لیکنه کې ترسره کړی دی. د پښتو ژبې یو رښتینی خدمتګار دی. د استاد خادم په باب یې هم (د ملي ادب او ژورنالېزم خدمتګار) په نامه یو اثر لیکلی دی. استاد خادم د استاد بختاني کار او زحمت او له پښتو ژبې سره د هغه مینه تشخیص کړې او د هغه په باب وایي:**

بختاني او پښتو

بختـــــاني پــــه کــــار د ژبـــې ښـــه پـــوهېږي
چـــې دا بـــد حـــال د پښـــتو ګـــوري ځـــوربږي
زړه یـــې غـــواړي چـــې راګـــډ شـــي پـــه میـــدان کـــې
د اســـــلافو حـــــال چـــــې وګـــــوري ډاربـــــږي.

**پښتو ته د خدمت په برخه کې د هر لیکوال په باب د استاد خادم نظر ځکه دقیق دی چې استاد خادم خپله هم د روزګار دا تجربې تېرې کړې، نو ځکه د استاد حبیبي، استاد بختاني او یا هم کوم بل لیکوال په باب چې څه وایي، له حقیقت او واقعیت سره بشپړ سمون خوري. له استاد**


(c) ketabton.com: The Digital Library



**بختاني سره د استاد خادم یو شمېر ادبي لیکونه هم تبادله شوي، هم استاد خادم او هم استاد بختاني په ډېرو ځایونو کې د یوه بل یادونه کړې او هغه لیکونه یې هم په خپلو اثارو کې خپاره کړي چې دوی یو بل ته لیکلي دي، خو د دې لیکنې د زیات اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږم، خو د استاد خادم په باب به د بختاني نظریات په خپله برخه کې راوړم.**

## ج- نړیوال لیکوال او موثر شخصیتونه:

**ددې لیکنې په مخکنۍ برخه کې مو د هغو کورنیو لیکوالو، شاعرانو او موثرو، ټولنیزو، سیاسي او ملي شخصیتونو یادونه وکړه چې خپله افغانان وو او په یو نه یو ډول یې استاد خادم له اثارو، افکارو، ټولنیزو او سیاسي کړو څخه متاثر شوی و او هغو ته یې د همدغه تاثر له مخې شعرونه او نظمونه لیکلي او یا یې دهغو پر فکر، شخصیت، اثارو او کړنو لیکنې کړي دي. د دې لیکنې په دې برخه کې غواړو هغه نړیوال لیکوال او موثر شخصیتونه دروپېژنو چې استاد خادم یې اثار او افکار لوستي او پر ده یې خپل تاثیر پرې ایښی، ان یو نیم پرې منفي اغېز هم کړی دی. همدغو اغېزو ته وشعر، نظم او لیکنې په غبرگون ښودلی چې دا دی دلته یې په ترتیب سره وړاندې کوو:**



**۱- ماکیاولي:** **(نیکولو ډي برنارډود ماکیاولي) د ایټالیا ډېر نامتو فیلسوف، سیاسي شخصیت، شاعر او لیکوال و، د (۱۴۴۹م) کال د مې پر (۳)مه نېټه په فلورانس کې وزېږېد او د (۱۵۲۷م) کال په جون کې ومړ. ماکیاولي، د سیاست، فلسفې او ادبیاتو په برخه کې ډېر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کتابونه لیکلي دي. سلطان یا (ټولواک) په نامه یې یو نامتو اثر دی چې د واک د نیونې او ساتنې لارې چارې په گوته کوي. دا اثر د نړۍ په اکثرو ژبو ژباړل شوی، پښتو ته هم (محمد داود حبیبزي) ژباړلی او چاپ شوی دی. د ماکیاولي نظریات په ټوله نړۍ کې خپل پلویان او مخالفان لري. خادم صیب هم د ماکیاولي له نظریاتو خبر دی، خو دی یې نړۍ ته په گټه نه بولي، نو ځکه یې د هغو پر وړاندې غبرگون ښودلی دی. خادم صیب وایي:**

ماکیاولېزم

د وخـــــــت وبـــــــا ده، ماکیـــــــاولیزم
تــــــــوره بــــــلا ده، ماکیـــــــاولیزم
مشــــــري و قــــــام تــــــه پیغمبـــــري ده
لویــــــــه اغـــــــوا ده، ماکیـــــــاولیزم


ماکیاولیست

چــــې وایــــې یــــو څــــه، عمــــل بــــل څــــه کــــا
پــــه ســــمه لار بانــــدې، هــــم تلــــه نــــه کــــا
پــــرې خطــــا نــــوځې ماکیاولســــت دی
پــــه دروغــــو دربــــو، خطــــا ایســــته کــــا.

**۲- ماکسیم گورکي:** **ماکسیم گورکي د شلمې پېړۍ په پیل کې د روسیې ستر شاعر و. نه یوازې د روسیې، بلکې د ټولې نړۍ په کچه یو ستر شاعر او لیکوال و. د هغه اثار د نړۍ تر (۵۰) زیاتو ژبو ته ترجمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**شوي او د نړۍ په گوټ گوټ کې لیکوال او عام خلک ترې متاثر شوي دي. (مور) د ماکسیم گورکي هغه ناول دی چې نړیوال شهکار گڼل کېږي او په نړۍ کې خورا مشهور دی. گورکي د لوړ اخلاقي ایډیال په لټه کې و او ستر انساني ارزښتونه یې پالل. استاد خادم د گورکي له اثارو الهام اخیستی، د هغه شخصیت پرې تاثیر کړی او هغه یې په یو لوړ او خواږه نظم کې ترسیم کړی دی:**

## ماکیسم گورکي

ای د نــــوي ادب پـــــلاره، ای ازاده قلنــــــدره !
ای د روس د خـــاوری زویـــــه، ای انســـانه منــوره
هغـه خـاوره وه لا جګـه چې یـې تـا غونـدې پیـدا کـړ
تـا بیـرغ د قـام اوچـت کـړ، لـه دې خـاورې نـه تـر نمره
فکـر جـګ لـه اقتصـاد شـي، حکیمـانو وو ویلـي
تـــا وطـــن ثـــرو تمن کـــړ د خپـــل فکـــر لـــه ثمـــره
د دې ځمکـې پـه ټیټـوالي د رحمـت بـاران پـه کـارو
د انســـان لـــه انحطاطـــه ژړېـــدلې بـــه شـــیبره
د هــوس پــه دام کــې ګیــر و، د ادب مارغــه اســیرو
تـا پنجـره کـړه ورتـه ببرتـه چـې تـرې والـوزي پـه بـره
د ســاقي لاس کــې شــراب وو د مظلــوم د زړه د وینــو
دا پیـالې بـه هـر چـا څښـلی بې لـه خـوف او لـه خطـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غریب ډوب و پـه خولـو کـې هـېڅ خبـر نـه و لـه ځانـه
نـه خبـر و لـه جهانـه، نـه لـه خیـر او نـه لـه شـره
د شـرف قبـایې ګـرو وه پـه دکـان د سـوداګرو
د یـوې مـړۍ د پـاره تېرېـدلو بـه لـه سـره
د حسـد پـه ویرانـه کـې لاره وره کـه وه لـه عشـقه
لکـه وره کـې چـې چینـه شـي پـه ترخـه ځمکـه بنجـره
پـه صـهبا د زنـدګۍ کـې سـره شـراب د دښـمنۍ وو
پـه صـحنه د دې جهـان کـې نیکـي نـه وه بـې لـه شـره
فلسـفه وه نـا امیـده لـه نېکـۍ او سـعادته
پـه نهـاد د دې بشـر کـې یـې بـدي لیـده مضـمره
دا خو ته وې چې انسان دې د معشوق پـه صورت ولید
د دوسـتۍ د طفـل پـلاره پـه لیکوالـو کـې بهتـره
زه څـه ووایـم چـې څـه وې خـو دا وایـم چـې انسـان وې
پـه انسـان بانـدې مـین شـوې، دغـه مینـه دې کـړه غـوره
تـه د مینـې راهنمـا وې، تـه د دې تیـارې رڼـا وې
ای د روس د خـاورې زویـه ای د نـوي ژونـد رهبـره
د ګـورکي خـاورې تـه یوسـه د خـادم سـلام د مینـې
ای سـبا سـبک خرامـه ای د مینـې پیغـامبره.
(۱۲: ۱۳۲-۱۳۷)

**استاد خادم پورتنی نظم د (۱۳۵۵ل) کال، د کب پر (۲۲)مه نېټه لیکلی دی. خادم صیب پر پورتني نظم سربېره د ګورکي ځینې منثور اثار هم ژباړلي او د دې ترڅنګ یې د هغه په باب ځینې لیکنې هم کړې دي، چې د لیکنې د زیات غځېدو له کبله ورڅخه تېرېږو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- مصطفی کمال اتاترک:** مصطفی کمال پاشا د (۱۸۸۱م) د می پر (۱۸)مه نېټه زېږېدلی او د (۱۹۳۸م) کال د نومبر پر (۱۰)مه نېټه وفات شوی دی. ده د ترکیې د استقلال لپاره مبارزه وکړه او د ترکیې



جمهوریت اساس یې کېښود، ترکانو د ده خدمتونه، مبارزې او هلې ځلې وستایلې او ده ته یې اتاتورک (د ترکانو پلار) لقب ورکړ. مصطفی کمال اتا ترک پر ترکیې باندې د (۱۵) کلنې واکمنۍ په بهیر کې ترکیې ته ډېر خدمتونه وکړل، د هغه مبارزې، فکر او د حکومتولۍ طرز د یو زیات شمېر نړیوالو پر اذهانو تاثیر وکړ او هغه د یو نړیوال مبارز په توګه مطرح شو. مصطفی کمال له افغانستان سره ځانګړې مینه درلوده او غازي امان الله خان ته یې د ملګرتیا او دوستۍ لاس ورکړی و. دواړو مشرانو له انګرېزي ښکېلاکه د خپلو هېوادونو د ژغورنې بریمنه تجربه لرله. د اتا تورک افکارو او نظریاتو د استاد خادم پر فکر هم خپل تاثیر پرې ایښی و. استاد خادم د اتا تورک د افکارو له جملې څخه د هغه یو تقریر ته اشاره کوي. ده دې وینا ته ده (د کمال اتا تورک یو تقریر) نوم ورکړی او دا یې په خپلو اثارو کې خوندي کړې ده.

## د کمال اتاتورک یو تقریر

((کمال اتا تورک په خپله یوه وینا کې وویل: یوه زمانه وه چې ما به ډېر کتابونه لوستل، غرض مې دا و چې د دنیا لوی لوی مفکرین او فلسفیان د ژوند متعلق څه وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضې فلسفیان چې په ژوند کې په هر لور تیاره ویني وایي چې زموږ هستي نیست ده، زموږ له پاره د دنیا په عارض ژوند کې هېڅ قسمه خوشحالۍ نشته، خو ځینې نورو هوښیارانو خلکو د ژوند متعلق په بل شان اظهار کړی دی.

هغوی وایي، که د ژوند انجام نشت دی، نو دا د نا امېدۍ خبره نه ده، څومره پورې چې موږ ژوندي یو خپل ژوند په خوشحالۍ او په خندا تېرول په کار دي.

زه په خپله د ژوند دا وروستی مفهوم خوښوم، البته د ژوند د تېرولو طریقه زما خپله ده.

زما خیال دی چې هغه سړی ډېر بد قسمت دی، څوک چې خیال کوي چې د انسان د ټول ژوند دارومدار په ما موقوف دی یعنې نور خلق دې ما د پاره ژوند وکړي.

دا ظاهره ده چې د دې سړي انفرادي ژوند به ډېر ژر تباه شي، خپل ځان هېرول او د موجوده او د راتلونکي نسل د پاره تعمیري کار کول په اصلي معنی کې د خوشالۍ د حصول لومړی راز دی.

د عقل او هوش خاوند په مدعا پوهېدی شي چې په ژوند کې د پوره پوره خوشالۍ د حاصلولو بېشک او بېشک چې بس یوه طریقه ده او هغه دا چې سړی د راتلونکي نسل د عزت او خوشالۍ حاصلولو د پاره ژوند تېر کړي.

کوم سړی چې په ژوند کې له دې قسمه رویه اختیار کړي، نو هغه دې هېڅرې د ځان نه دا نه پوښتي چې آیا هغه راتلونکي نسلونه چې د چا د ښېګڼې د پاره ما په ځان شپه او ورځ یوه کړې ده، زما په ښو به قایل وي او که نه زما د کار قدر به ونه کړي؟ زما خیال دی چې ټولو کې خوش

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسمته خلق هغه دي چې خپله زرينه کارنامه او ښه اعمال د راتلونکي نسل د نظر نه پټ ساتي، ځکه چې د خپل نوم ناموس لپاره د قوم او د وطن خدمت کول د خوشحالۍ سبب نه شي جوړېدای. البته هر سړي ته د څه کار په کولو کې خوشالي حاصلېږي، ځينې خلکو ته باغباني خوند ورکوي، ځينې نورو ته مالياري او گلونه کرل او پالل مزه ورکوي او ځينې خلک داسې هم شته چې هغوی ته د خلکو پالل، ساتل او لويول د خوشحالۍ باعث وي. کوم سړی چې د شوق او خوشحالۍ  لپاره گلونه کري او پالي يې، هغه ته گلونه نور څه ورکوي؟ خو صرف گلونه کرل او پالل او هغو ته کتل د هغه د خوشالۍ سبب وي. دغه شان چې کوم خلک د خلکو د پاللو مالياري په سر اخلي، نو هغو ته په کار دي چې د گلونو د ماليار د ذهنيت په مطابق خپل کار وکړي، صرف دغه قسم خلک د خپل وطن او قوم په اصلي معنی کې خدمت کولی شي، د نامه او شهرت او د مالي مفاد او د ذاتي عهدو خواهشمند خود غرضه دي. د قوم خادم نه دی، څوک چې خپلې خوشالۍ او خپل مفاد ته د قوم او د وطن په خوشالۍ ترجيح ورکوي او خپله خوشالي ورله د قوم د خوشالۍ نه زياته مرغوبه ښکاري، نو داسې خلک که هډو د قوم خانان هم شي، نو هېڅ د کار خلک نه وي.

او داسې خلک هم څوک چې ځان ته ډېر قيمت ورکوي او د هغو خيال وي چې د وطن او د قوم د مفاد او د خوشالۍ مکان د هغوی په سر ټينگ دی، په حقيقي معنی کې د قوم او وطن د مفاد سبب نه شي جوړېدای، صرف هغه خلک څوک چې خپل ژوند د راتلونکو نسلونو، مفاد او خوشالۍ لپاره وقف کړي او ځان په ليس بشی شمار کړي په اصلي معنی کې د خپل نسل خدمت کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يوه لويه غلطي ده، که يو قومي کارکن خيال کوي چې د قوم د ترقۍ او مفاد بوټي چې د هغه په لاس زرغون شوي دي، د هغه د ژوند نه پسته به بې خصمانې پاتې شي او وچ به شي، د روغ نيتي سړي د لاسه لګېدلي بوټې د زمانې د حوادثو باد بارانونه او طوفانونه نه شي بادولی، هغه همېش او همېش شنه ولاړ وي.

تر اوسه پورې ما په يو نسل کې د يو فرد د اوسېدو په طريقه بحث کولو، خو نن ورځ د دنيا د ترقۍ او د اتحاد رخ نه معلومېږي چې د ځمکې د مختلفو تپو اوسېدونکي ټول کوښښ کوي چې يو بل سره د ورورولۍ او د اتحاد خپلوي وساتي، په دې سبب سړي ته په کار دي چې د خپل قوم د ترقۍ او د مفاد د خيال سره د نورې دنيا د ترقۍ او د امن خيال هم ولري، نن ورځ د دنيا د ټولو هوښيارو خلکو دا خيال دی چې د دنيا د ټولو اقوامو د امن او خوشحالۍ ساتل يو مبارک خيال دی او په حقيقت کې دا د خپل وطن د خلکو د خدمت يوه بله طريقه ده. که د دنيا د مختلفو قومونو تر منځ د امن، اتحاد او ښه سلوک رشته او خپلوي قايمه نه وي، نو يو قوم ځان ته امن او خوشحالي نه شي حاصلولی، د دې لپاره د خپل قوم د محبت په خاطر زه د دنيا د نورو قومونو سره هم د اتحاد او اتفاق رشته ساتم.

د يو قوم رښتينی مشر همېشه هيله لري چې د خپل قوم د تعمير په خيال کې يوه نمايانه حصه واخلي، خو هغه هېچرې دا نه غواړي چې د نورو قومونو په تعميري کار کې خلل انداز شي، د دنيا د واقعاتو نه ظاهره ده چې يو افت يا بلا چې په يو قوم نازله شي، اکثره نور قومونه هم په مصيبت کې واچوي. د انسان ژوند لکه د يو جسم غوندې دی، د دنيا قومونه د يو جسم اندامونه دي چې د جسم يو اندام نقصاني شي، نو ټول جسم نقصاني شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ترک) او د هغوی دوستان نن د خدای (ج) په فضل سره په طاقت کې دي او په خپلو پښو درېدای شي، موږ له هېچا نه هېڅ قسمه طمع نه لرو، په دې وجه موږ ته موقع ده چې د دنیا په واقعاتو سړه سینه غور وکړو. موږ په هغه خلکو کې نه یو چې په ډکه خوله وایي چې د دنیا په هغې حصې کې یا دغې حصه کې که بې قراري ده، یا جنگ دی، یا جگړه ده، نو زموږ پرې څه؟**

**د دنیا په هره حصه کې چې بد امني پیدا شي، نو هغې ته دومره توجه کول په کار دي، لکه څنگه چې د سړي په خپل وطن کې گړبړ وي، دا یو داسې اصول دي چې د دنیا قومونه او د دنیا حکومتونه د خود غرضۍ نه خلاصولی شي.**

**د سړي اول فرض خپل کور جوړول دي، چې خپل کور جوړ شي، نو بیا د ټولې نړۍ د کور جوړولو فکر په کار دی.)) (۲۴: ۶۳۱-۶۳۲)**

**د کمال اتا تورک افکارو او کرکتر د استاد خادم پر افکارو دومره تاثیر کړی و چې کله هم مصطفی کمال وفات شو، نو استاد خادم یې پر مرگ مرثیه وویل، دا مرثیه دا ده:**

د مصطفی کمال مرثیه

خدای په مشرق باندې بېشکه امتحان کړلو
داسې صورت یې د بلا ورته عیان کړلو
نمر پرېواته له خوا یې وازه خوله مشرق ته کړله
لکۍ یې تاوه په کې گیر یې ټول جهان کړلو
یوه په مځکه بله شونډه یې وه تر غرونو جگه
یوه مری به یې مملکت په یوه آن کړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوزخ د نـس يـې و لـه تيـرو او قومونـو نـه ډک
لــه مصــيبته بــه هــر يــو شــور فغــان کړلــو
شــپاړس مړيــو بانــدې، کلــه تســلي کېدلــه
پــه اشــتها يــې نيـت د ستورو د اسـمان کړلـو
د نمـر خاتـه لـور تـه راتللـه پـه بنـدر د سـويز
وچـې لنـدې بـه طاعـت يـې پـه ښـه شـان کړلـو
مشــرق لــه ځانــه بېخبــره و د مــړي پــه شــان
غــم يــې د ديــن او د دنيــا او نــه د ځــان کړلــو
ټــوټې ټــوټې د جهالــت او د نفــاق پــه تــوره
نـه يـې زګېـروي نـه د جـوړوالي يـې ارمـان کړلـو
د شخصــياتو، خرافــاتو، پــه زنځيــر تړلــې
نــه يــې د ژونــد وينــې رګونــو کــې دوران کړلــو
مريض پـر کالـه و تـوره شـپه بلا يـې راغلـه پـه سر
نجــات هــر ګــوره لــه قدرتــه و د عقــل بهــر

***

پــه پورتــه غــاړه ناڅــاپي ســپينه رڼــا شــوله
ورســره ســمه د محشــر غونــدې غوغــا شــوله
دوړې، ګردونــه، بربښــناګانې ډزهــار کــې
يــوه يــوه پــه کــې رمبــاړه د بــلا شــوله
ښکاره په دې منځ کې يو ځوان شو ملا تړلی ولاړ
چـې پـه ليـدو يـې پـه حيـرت واړه دنيـا شـوله
وبستلې تـوره پـه ښي لاس کې يې بلکونه کوي
ګس کې يې ښکلې سياسي رنګې همسا شوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې همسا باندې عجب ډول کارونه کوي
ګویا د غه یې هرې خوا سره وینا شوله
کله به، یې مخ کړلو بلا ته په څه ډول سره
چې ترښنه پورته به زوروونه واویلا شوله
ده به ځواب په خپله توره د حملې کولو
بیا به یې زر مخه مشرق ته په خندا شوله
وی به یې پورته شه چې د بو د استعمار راغی
چاره کوه زندګي سخته نن سبا شوله
لمن یې لویه ترښنه لاندې د زمریانو بچې
په دوی یې ډېره خوا خوږي مینه رښتیا شوله
د شرق کمال د تورکو پلار و مصطفی دا ځوان
په کامیابۍ ځي نن په لوري د عقبی دا ځوان

***


ښه عمارت د شرق و غرب منځ کې ودان که تا
په بل رقم دې نوی دور د اسمان که تا
تالا والا مشرق مثال د قربانۍ غوښتلو
په ښه مېړانه سره پاس دا امتحان که تا
د ملیت اساس دې وښودو مشرق ته خپله
نورو ته تګ د دغه لارې ښه اسان که تا
د لوی عفریته سره مخ شوې په لړګي او توره
په څه حکمت سره تر لاس ترښنه میدان که تا
خدمت دې وکړلو د قوم په مېړانه سره
ملت د ترکو ګروېده د خپل احسان که تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـاروي يـو يـو وو ترهېـدلي لـه لېوانـو څخـه
پـه کوښښـونو سـره جـوړ ترېنـه کـاروان کـه تـا
سـم دې ملـت کـړ د سـيالانو لـه عالمـه سـره
تـر سـر پـه تـوره د زخمـي زړګـي ارمـان کـه تـا
تيـاره د جهـل دې بهـر کـړه لـه وطنـه څخـه
وطـن پـه علـم و معرفـت سـره روښـان کـه تـا
فـداکاري دا هسـې ښـايي لـه مردانـو سـره
خپـل خاصـيت پـه مليـت بانـدې قربـان کـه تـا
د ترکو پلاره ستا په غم مو سترګې سرې دي نن
پـه بېلتانـه دې د مشـرق نـارې سـورې دي نـن ))
(۱۲: ۵۰۳-۵۰۵)

استاد خادم دا نظم د (۱۳۱۷ل) کال په لیندۍ میاشت کې لیکلی دی. پر همدې کال اتاتورک له نړۍ سترګې پټې کړې. استاد خادم په پورتني نظم کې د مصطفی کمال اتا تورک، فکر، مبارزه او پر نورې نړۍ، په تېره بیا پر اسلامي ټولنې د هغه تاثیرات په ښه ډول انځور کړي دي.



**۴- رابندرنات ټاګور:** د هند د نیمې وچې لوی لیکوال او شاعر دی. نه یوازې د لوی هند لوی شاعر ګڼل کېږي، بلکې د ختیزې نړۍ د شاعرۍ یو لوی استازی هم دی.

ټاګور ګڼ شمېر اثار لیکلي چې د نړۍ په ډېرو معتبرو ژبو ژباړل شوي دي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو کې هم د ټاګور اثار ژباړل شوي. (تاج) او (ګیتانجلي) د ټاګور دوه مهم اثار دي چې پښتو ته ژباړل شوي. د (تاج) اثر مهم کرکترونه پښتانه افغانان دي، چې ټاګور د خپلو اثارو لپاره غوره کړي دي. د ټاګور اثار نه یوازې د شرقي ټولنې غوره اثار دي، بلکې نړیوال ادبي میراث هم ګڼل کېږي. (ګیتانجلي) د ټاګور مشهور اثر د نوبل نړیواله ادبي جایزه اخیستې ده. د ټاګور له اشعارو او اثارو څخه اکثره افغان لیکوال اشنا دي او ځینې ترې په مستقیم او نا مستقیم ډول متاثره هم دي. استاد خادم هم یو له هغو لیکوالو څخه و چې د خپلې لیکوالۍ او مطالعې له پیله یې د ټاګور او علامه اقبال له اثارو تاثر اخیستی دی استاد بېنوا، خپله استاد خادم او ځینو نورو لیکوالو هم دې تاثر ته اشاره کړې ده. استاد خادم د ټاګور ځینې لنډې لیکنې راژباړلي چې د ټاګور افکار د یوه عمومي تصویر په توګه یې یو څو بېلګې دلته وړاندې کوو:

## زما نغمې!

((ما په ټول ژوند کې ستا د موندلو کوښښ په نغمو سره وکړ، دغه نغمې وې چې زه یې در په در وګرځولم او دغه نغمې وې چې د دوی په مدد ما د خپلې دنیا په تلاش او احساس کې ته، خپل څلور واړه خوا موندلې!

هغه څه چې کله ما زده کړل هغه دغه نغمې وې چې دوی ما ته دا راوښودل! دوی پټې لیارې راته ښېرته کړې، دوی د زړه په افق کې راته ډېر ستوري راوخېژول، دوی ټوله ورځ ما ته د مسرت او غم د رازونو په طرف لارښودنه کوله او ماښام یې د سفر د ختم په وخت کې زه دا د کوم محل درشایي ته راوستم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سفر تیاری

ما ته رخصت راکړی شوی دی ای ورونو! ما ته په مخه ښه ووایئ، زه تاسو ټولو ته سلام کوم او روانېږم! دغه دی د دروازو د ټولې کنجیګانې درکوم او د خپل مکان، د ټولو اینده دعوو نه ابرا کوم، اوس زه له تاسې څخه تش د مهربانۍ د وروستیو الفاظو د اورېدو په امید یم!

مونږ او تاسې ډېره موده همسایه وو، لېکن ما ته همېشه د هغې نه زیات عوض راورسېد څومره چې ما ورکړل. اوس ورځ تمامه شوه او هغه ډیوه چې زما تیاره ګوټ به یې رڼا کاوه مړه شوه، د طلب پیغام راغلی دی او اوس زه سفر ته تیار یم.

## یوه پوښتنه

د دنیا په دې لوی جشن کې ما ته هم زېری رارسېدلی دی، ځکه زه خوشاله یم، زما سترګو ولیدل، زما غوږونو واورېدل.

په دې جشن کې ساز غږول ما ته سپارل شوي دي، هغه څه چې ما کولی شوه، ومې کړل!

زه اوس دا پوښتنه کوم چې تر اوسه ګوندې هغه وخت په دې راغلی چې زه دننه درشم، ستا صورت وګورم او خپل غلی سلام ستا په حضور کې تقدیم کړم!!!

## وروستۍ ورځې

زه پوهېږم ورځ به راشي چې د دې دنیا نظاره ما لپاره تمامه شي او ژوند به زما په سترګو وروستنۍ پرده واچوي او غلی به رخصت شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېکن ستوری به هماغسې د شپې ځلېږي، سبا به هغه شان لمر راخېږي او ساعتونه به د دریاب د چپو غوندې د غم او ښادۍ حساب کوي او موجونه به وهي!

زه چې کوم وخت د خپلو لمحو د دغه انجام فکر کوم، نو د دغه لمحو پرده وشلېږي او زه د مرگ په رڼا کې ستا دنیا او د هغسې بې انتها خزانو ته گورم، د هغې یو ډېر حقیر څیز هم بېمثله او د هغې ډېر ذلیل ژوند هم بې بها دی!

هغه شیونه چې د هغو بېکاره ارزو ما کوله او هغه شیونه چې ما ته ورسېدل هغه ټول پرېږده! ما ته یوازې په هغه حقیقي څیزونو قبضه راکړه چې هغه ما تل پرېښي او غورځولي مې دي!

## د ژوندون مبارزه

هر کله چې محاربین ړومبی ځل د خپل څښتن له ځایه راغلل، نو هغوی خپل قوت چېرې پټ کړی و؟ د هغوی زغرې چېرته وې؟ د هغوی وسلې کوم ځای وې؟

هغوی غریب او بېکسه ښکارېدل، کوم وخت چې د خپل بادار له ځایه راووتل، نو د غشو باران پرې وشو! هر کله چې د خپل بادار کور ته بیا لاړل، نو هغوی خپل قوت چېرې پټ کړ؟ هغوی تورې وغورځولې، غشي او لیندۍ یې کېښودل، صلح د هغو په وچولو کې ځلېده، هغوی د خپل ژوندانه نحوې تر شا پرېښودې، څه وخت چې د خپل بادار ځای ته بېرته لاړل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما دعا

ای زما خاونده، زه له تا څخه دا غواړم چې زما له زړه څخه د افلاس بنیاد وباسه! ما ته دا قوت راکړه چې د ژوند د ترخو او خوږو برداشت اسانۍ سره وکړی شم!

ما ته دا قوت راکړه چې بې وزلي له زړه ونه باسم او خپل سر د کوم گستاخ قوت په مخکې ټیټ نه کړم!

ما ته دا قوت راکړه چې خپل ځان له روزمره رذایلو څخه پورته وساتم! او ما ته دا قوت راکړه چې خپل قوت له مینې سره ستا رضا ته وسپارم!

## زه شرمېږم

د ملاقات ټاکلي ځای ته د تلو لپاره  ما ټوله لیاره یوازې قطع کړه، لېکن دا څوک دی چې په دې چوپه تیاره کې ما سره روان دی؟

زه ورنه د بچ کېدو لپاره لاره پرېږدم، خو نه یې شم پرېښودای!

هغه په خپل متکبرانه رفتار کې خاورې الوزوي، ځي. هغه خپل جگ اواز زما د هر یو لفظ سره یو ځای کوي! ای باداره! دا زما خپل مختصر وجود دی، دی خو نه شرمېږي، لېکن له ده سره ستا دربار ته په رسېدلو زه شرمېږم!

## شاه جهان

ای د تاج و تخت خاوند شاه جهانه!

تا ته معلومه ده چې د زمانې تېز توپان جاري دی، حسن، زنده گي، عزت، شهرت او دولت هر څه له ځانه سره وړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېكن ستا د زړه درد؟

آه، شهنشاها! ستا دا ارمان و چې ستا د زړه درد تل باقي پاتې شي!

ستا سلطنت چې په خپل استحكام كې د فولادو نه هم زيات محكم و، كه چېرې دغه سلطنت د لمر د لوېدو د منظرې غوندې د فراموشۍ د دروند خوب د تيارې سره يو ځای ولاړ شي، نو لاړ دې شي كنه.

مگر ای شهنشاها! ستا دا ارزو وه چې ستا د زړه درد همېشه د يوې لوړې نور افشانې شغلې په شان اسمان د خپل درد په لمبه روښانه او دردمن كړي!

## ستا دا ارمان و!

ستا جاه جلال، ستا عظيم الشان سلطنت، ستا د لويې د پادشاهۍ، دبدبه چې ددې دنيا په اسمان په لعل، زمرد، عقيق او الماسو باندې دجړاو شوي محير العقولې قوس فرح غوندې خپره شوې وه، كه هغه شان او شوكت د عدم په ويرانه كې ورک او فناء شي، نو شي دې كنه!

آه! پاتې دې شي.

د زمانې په مخ ستا له سترگو لوېدلې

د اوښكې مرغلره مجلا او روښانه تاج محل.

های د انسان بې واكه زړه!

په وارو وارو د ورمېږ اړولو كتلو فرصت چېرته دی؟

وخت يو رنگ د ژوندانه په تېز سېلاب كې بهېږي!

ددې دنيا له ډېرو دمه ځايونو څخه ته تېرېږې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه ځایه ته پېټی اخلې، په بل ځای کې یې ږدې!

له ښکته چې کوم وخت د پسرلي باد په شرنګهار رادرومي، ستا د باغ پر هر کونج ګرځي، ناځي او نغمې وايي!

پسرلی چې هر کله ستا باغ ته د ګلانو د یو سېلاب په شان راشي، بيا کوم وخت چې په ماښام کې شپون خپلې رمې کلي ته راولي، نو د مال له پښو نه پورته شوی ګرد د ماښام له تیارې سره یو ځای کېږي، نو ګوره!

د پسرلي ټوله حسن افريني هم ورو ورو له څښورو سره ګډېږي!

ګلان مړاوي شي، ورژېږي!

د وخت او زمانې ډيل نه شته؟

بيا پرځې ته د ډکو شپو وخت راځي

نو ستا په باغ کې پسرلی خپل کمال ته رسېدلی دی او بيا هر کله چې د ورېځو ټوکرې د سپينو سپينو پاغوندو په شان په اسمان کې سرګردانه ګرځي، نو ښايي چې د دغه وخت دا د اوښکو ډکې ډکې لمنې د چا په مزار د نذر د مرغلرو په شان نثار کړې وي!

های! د انسان بېواکه زړه!

های! ستا انتخاب!

دا هر څه به د ورځې په تمامېدو، دلته د لارې په غاړه پاتې شي! وخت نشته، فرصت نه شته، د زمانې مهلت نه شته،

ای د بادشاهۍ د تاج خاونده!

کوم وخت چې تا په خپل ناقراره زړه کې فکر کړی و او تا دا ارزو کړې وه چې له زمانې زړه ته د حسن نذرانه ورکړم او خپل یې کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واه تا دغه نذر او دغه تحفه څومره ښکلې تياره کړه، مرگ چې د شکل او صورت نه مبرا دی، تا هغه ته بې زواله مجسم ښايست ور وبښه.**

**واه! تا دا څومره دلفرېب وگرځاوه**

**لېکن آه! د اوښکو تويولو لپاره زما فرصت ورکوې، د ژړا لپاره مهلت نه شته!**

**نو ځکه تا خپلې نه ټينگېدونکې اوښکې د مرمرين سکوت په جال کې بندې کړې، کېدې ښودلې!**

**د دې اسمان نه لاندې، د سپوږمۍ په غلې عبادت گاه کې،**

**چې تا خپله محبوبا په کوم نامه ورو ورو په خپل زړه کې يادوله**

**هغه نوم او د هغې انگازه نن د هر چا په غوږو کې انعکاس کوي!**

**ای لويه بادشاه، ای شاعره، هغه ستا د زړه د ارزو تصوير د چا د دلربا حسن يادوي؟**

**په دې عظيم الشان، تمام اطمينان**

**مرمرينه مجسمې باقي پاتې دی**

**دا ستا استازی،**

**دا بې مثله شعر**

**دا بې نظيره وزن او لا جوابه ترنم د اسمان په لورې تل پرواز کوي، هلته چې ستا د معشوقې د ارام ځای دی!**

**هغه د سبا د رنگين منظر په انعکاس کې دی!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مابنام په سترېي ستومان ژور تنفس چې د مغرب پر غاړه خپور دی!

د ځوارلسمې سپوږمۍ په رڼا کې د شبو ګلانو په بې انتهاء خوشبويي او ملاحت کې دی!

هغه په هغه نا لیدونکی د بیان نه یا هر فردوس کې دی!

چې له هغه ځایه د دیدار وږې سترګې په وارو وارو په ناکامۍ بېرته راګرځي.

ستا دا بې زبانه استازی د ښایست غمی تاج محل په هره زمانه کې چې د پهره دار سترګې ځاري، ستا پیغام رسوي، هېر مې نه یې، زما د روح له یاده وتلی نه یې!

ای شهنشاها! ته نن په دې دنیا کې نه یې

ستا سلطنت د خواږه خوب په شان والوت

ستا تخت نن وجود نه لري!

ستا لښکرې چې د هغوی د قدمونو له هیبته دنیا رپېده

نن د دغه ټول جاه و جلال یاد، د ډیلي د سرکونو په دوړو او ګردونو کې الوزي!

ستا درباریان، مصاحبان او ستا د حضور شاعران نن ستا د مدحې قصیدې نه وایي!

د جمنا د چپو اواز ستا د ماڼۍ د نوبت د ساز سره نه ګډېږي.

ستا د ماڼۍ د پیمخې ډمې د پایزېبونو شرنګهار د ورانو ماڼیو په ګوټونو کې غلی پروت دی او نن هلته د کیرړو سخت اواز اورېدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیارې شپې، تیاره اسمان په خپل قسمت په سرو سترګو ژاړي

ستا قاصد هغه چې ستوماني يې هېڅکله له خپل خدمت نه زړه بدی کوي

د پادشاهانو د سلطنتونو د جوړېدو او ورانېدو سره کار نه لري

هغه چې د زمانې د تعمیر او تخریب تصویر خیال ته نه راولي.

هغه چې د ژوند او مرګ له لاس وهلو څخه ازاد دی، په خپله دل ګدازه نغمه يې عالم په غم کې محوه کړی دی.

ستا د دې قاصد پيغام د تاج محل فرياد!

د ابدي فراق وهلی شهنشاه پیغام دی:

هېر مې نه يې، زما د روح نه هېر نه يې!

غلطه ده، څوک وايي چې هېر شوی نه يې!

دا څوک وايي چې د محبوبې د یاد کفس دې ببرته کړ او د یاد مرغه دې پرېښبود چې والوزي

تا د محبوبې د یاد مرغه پرېښبود چې والوزي!

د تېرې زمانې د مغرب غاړه چې همېشه یو تیاره عالم دی، ستا زړه اوس هم د هغې د تورو زلفو په ول کې نښتی دی.

د فراموشۍ په همېشه خلاصه لاره هغه نه دی...

مزار مزار، خو تل په یو ځای ولاړ دی

د قبر په غلیظو تیارو کې پټ دی

او قبر مرګ د خپل کفن په پرده کې پټ ساتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېکن ژوند؟ څوک يې منع کولی شي؟ څوک يې درولی شي؟

د اسمان هر ستوری هغه خپلې خوا ته رابولي، راشه په ټول عالم د زنده گۍ بلنه ده، د ژوندانه د هر سبا په طلوع کې د هغې بلنه ده، د یاد غوټه پرانیستل کېږي او له لاسه وځي، د فراموشۍ په خلاصه لاره کې ورکېږي.

ای شهنشاه! ته د دنیا تاج و تخت په خپلې غېږ کې ټینگ ونه شوې ساتلی،

دریابونو لره په غېږ کې پالونکې دا زمکه، ای باد شاه! ستا د ژوندانه لپاره ناکافي ثابته شوه، نو ځکه تا د ژوندانه له دې رنگین محفل څخه پښې سپکې کړې، پاڅېدې. ته د خپلو اعمالو له لویې څخه خورا لوی وې، نو ځکه ستا د ژوندانه تېز گامه اس هر وارې ستا اعمال او د هغې نتایج وروسته پرېښي، مخکې درومي. له دې سببه ستا نښې دلته باقي پاتې دي او ته په خپله دلته نه يې، هغه دلبستگي چې نه پاتې کېده، پاتې نه شوه، هغه عشق چې خپل تخت يې د لیارې په سر ایښی وي، هغه عشق چې په کوم لطف او عشرت سره يې ستا استقبال وکړ، هغه د لیارې د دوړو غوندې ستا په پښو پورې نښتی و، تا هغه د خپلو پښو د گرد غوندې وڅنډه او لیارې ته وسپاره، مگر د تا نه وروسته د لیارې په گرد کې ستا د ژوند یوه ټوټه خدای خبر څه وخت لوېدلې وه، هغه گوره د ژوندانه د هار یوه دانه وه چې بېله شوې لوېدلې وه!

ته ډېر وړاندې تللی يې، لېکن هغه دانه د یو همېشه گل په صورت غوړېدلې د اسمان په خوړا يې مخ کړی ولاړه ده.

د دې نغمې راگ په زوره وایي: هر څومره چې لرې گورم، هغه مسافر هېچرې نه شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library




د هغه معشوق دې راستون نه کړای شو، تخت و تاج د هغه لیاره بنده نه کړه او مانع يې نه شوه، غرونه او دریابونه له مخې لرې شول

نن د هغه د سپرلۍ اس د تیارې شپې له غلې انګازې نه د ستورو په نغمه الوزي، د سبا د ختو خوا ته يې مخ کړی درومي، ځکه زه اوس دلته د محبوبې دیاد د باد لاندې پروت یم

او هغه چې له باره ازاد دی، دلته نه شته.)) (۲۳: ۱۸۰-۱۸٦)

استاد خادم د ټاګور نورې نثري ټوټې، لکه (د سحر باد، وروړکی، نارکو، ای ژوندونه، د زړه درد، خوب او حقیقت، زما پېشکش، یوه ارزو، بدبخت خوب، د ودې چم، خوشحالي، له مرګ سره محبت، د خپل لاس زولانه، د ازادۍ جنت، عبادت) او نور هم ژباړلي چې خورا هنري قوت په کې پروت دی. په دې اثارو کې نه یوازې د ټاګور روح ځلېږي، بلکې د ژباړن هنري قوت، له ټاګور سره اخلاص او د هغه ټول تاثر هم په کې له ورایه ځلېږي.

**۵- مهاتما ګاندي:** موهنداس کرم چند ګاندي پر (۱۸۴۹م) کال



په یوه منځنۍ سوداګریزه کورنۍ کې زېږېدلی دی، ګاندي خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل استوګنځي کې ترسره کړې او بیا د نورو زده کړو لپاره (راجکوټ) ته لاړ ، وروسته بیا د نورو زده کړو لپاره لندن ته لاړ. لندن کې له نوي ژوند او همدارنګه له بېلابېلو افکارو سره اشنا شو، بېلابېل ادیان يې مطالعه کړل، وروسته بیا جنوبي افریقا ته لاړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته څو ځله زنداني شو، تر هغه وروسته هند ته راغی او پر لویې سیاسي مبارزې یې لاس پورې کړ. (۲۹) کاله یې مبارزه وکړه، ده د هند د ازادۍ لپاره سوله ییزه مبارزه پیل کړه او په پای کې دا مبارزه د هند د ازادۍ سبب شوه. ګاندي که خپله د (عدم تشدد) د نظریې له مخکښانو څخه و، خو خپله د یوه تشدد ښکار او پر (۱۹۴۸م) کال د (ناتورام ګودسه) په نوم د یو شخص له خوا وویشتل شو او ووژل شو. د ګاندي فکر، نظر او مبارزه د نړۍ ګوټ ګوټ ته خپره شوه او په نړۍ کې یې له تشدد پرته د یوې سوله ییزې مبارزې له لارې د سیاست ور پرانیست. په همدې خاطر د نړۍ ستر شاعر رابندرنات ټاګور او وروسته بیا هندي ملت هغه ته د مهاتما (لویې ارواح) لقب ورکړ. د ګاندي نظریات ریښتیا هم انساني او له نفرت څخه لرې وو، نو ځکه خویې نظریقه پر ټولې نړۍ خوره شوه.. استاد خادم هم له دې نظریې څخه متاثر شوی او د هغه نظریاتو ته یې یوه کتنه کړې ده.

## د مهاتما ګاندي افکار

((...د ریښتیاوو په عمل کې ریښتینی تسکین دی، صداقت پخپله د صداقت انعام دی، له قیمتو څخه قیمته څیز خرڅوونکي لپاره لکه څنګه چې د هغې نه بل قیمته څیز لاس ته نه راځي، دغه شان، ریښتیا ویونکی به د ریښتیا نه زیات نور څه شی وغواړي؟ ... ریښتیا چې کوم ځای ته د لمر غوندې ګرمي ورکوي، هلته ژوندون هم ختم کوي...))

((... هغه انسان چې خپله ژبه په واک کې نه شي ساتلی، هغه د حق مدعي نه شي کېدی))

(c) ketabton.com: The Digital Library



((د رښتیاوو نه وروسته په اصل کې عدم تشدد په دنیا کې تر ټولو لوی طاقت دی. هغه هېڅکله عبث نه ځي، تشدد تش د پاسه کامیاب ښکاري.))

په توره او په خدای باندې اعتقاد لرل، دوه متضاد شیونه دي.

که چېرې عدم تشدد یا د محبت مذهب زموږ د ژوندانه نه وای، نو په دې فاني دنیا کې زموږ ژوند مشکل کېدو، ژوند خو په مرگ باندې د ظاهري او پخواني فتح علامه ده.

... که چېرې د انسان او د حیوان په منځ کې کوم اساسي او لوی فرق شته، نو هغه دا دی چې انسان خپل فرض پېژندلی شي. د تېرې او اوس زمانې ښه خلک دخپل توفیق او طاقت په اندازه د ژوند دغه ډېر ضروري قرض روښانه مثالونه وو. په دې کې شک نه شته چې په موږ کې حیوانیت کله کله حاضرېږي. مگر د دېنه دا نه ثابتېږي چې دا فریضه غلطه ده. له دېنه تش دا ثابتېږي چې په دې باندې عمل مشکل کار دی.

د تورې په ذریعه چې کوم شی حاصلېږي هغه په توره بېرته هم اخیستل کېږي.)) (۲۳: ۸۵)

خادم صیب د دغه لوی انسان د لویې سببونه په یوه لیکنه کې په گوته کړي دي، دا لیکنه د گاندي د لسم تلین په مناسبت شوې وه. استاد خادم دې لیکنې ته د ((مهاتما گاندي د لویې سببونه)) نوم ورکړی دی:

## د مهاتما گاندي د لویې سببونه

((دی فطرتاً د تفکر او تجسس خاوند و، تفکر یې د علم پوهې، هندوستان او جهان پېژندنې لپاره په کار واچاوه. د نفس په ضبط او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس باندې د حاکمیت لپاره یې جهاد شروع کړ، په هوا و هوس، حظوظو او لذایذو خود خواهۍ او نورو کامیاب شو.

دی وایي غذا باید د دوا په صورت وخوړل شي، په جنسیاتو کې پام په کار دی، دا مسخره او لوبه نه ده، د ملت د زړونو په لاسته راوړلو لګیا شو، دا کار یې په خدمت، ایسار، قربانۍ، ادب او احترام چې مشرانو او کشرانو ته یې لاره وکړه او لوی اعتماد یې وګاټه، د ملت د خدمت د مینې سره یې بله مینه ګډه نه کړه. ده د مخالفت عنوان ترک کړ، د صبر استقامت او زغم روحیه یې ټینګه کړه، ده ویل زه د هېچا مخالف نه یم، حتی د انګرېز هم، ده ویل زه فقد ازادي غواړم!

ده ویل زه هندو یم، خو د هېڅ مذهب او مسلک مخالف نه یم، په خدای ایمان لرم، خدای د هر چا دی، خو هندي کلچر د هندوستان لپاره له بل هر تهذیب نه بهتر دی. ده ویل له نفرت نه نفرت او له تشدد نه تشدد پیدا کېږي. موږ باید د هر انسان څه چې د هرې زرې روح سره مینه وکړو. ده ویل زه نوی مذهب، نوی حزب او نوې ډله نه جوړوم، هندیت مې مذهب او ډله مې د هند خلک دي. په دغه شان د خلوص، صمیمیت، کار او عمل فکر او ذکر مجسمه شوه.

دی په خپلو مجاهدو کې په وېره، تمه، غمونو، دردونو او مرګ غالب او بیا فاتح شو. سره د دې چې مهاتما ګاندي په یقیني تور خدای نمانځونکی و، خو حکومت یې لا مذهبي جوړ کړ، چې مذهبي اختلافات له منځه لاړ شي، د ټول هند د وفاق او اقتصادي مساوات د پاره یې د سوشل ډیموکرات جمهوریت ومانه.


یقیناً مهاتما ګاندي د ډېرې ستاینې وړ انسان و، خو دلته د انګرېز دیموکراسۍ هم بې ستاینې نه پاتې کېږي، چې په دغه حکومت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګاندي، نیهرو، پټیل، را دا کرشنن، راجا ګوپال، ابوالکلام غونډې خلکو د نشو نما امکانات موجود وو.))** (۲۴: ٦٥٥)

**٦- علامه اقبال: علامه اقبال د اسلامي نړۍ یو ستر مفکر و، دی پر (۱۲۵٦ل) کال د سیالکوټ په ښار کې چې هغه وخت د هندوستان اړوند یو ښار و، وزیږېد، هغه لومړی دیني علوم ولوستل، بیا یې شاعرۍ ته مخه کړه، دري ژبه یې هم زده کړه او په دې ژبه یې زیات شعرونه ولیکل. له (کیمبرج) پوهنتون څخه یې د حقوقو په څانګه کې د دوکتورا سند**



**ترلاسه کړ.علامه اقبال، په اردو، دري، انګلیسي، الماني او عربي ژبو پوهېده، د اسلامي معارفو ژوره مطالعه یې وکړه او په پای کې ترې یو لوی عارف، شاعر او فیلسوف جوړ شو، چې پر ټوله اسلامي نړۍ یې افکارو تاثیر وکړ. علامه اقبال بیا په خپله له افغان ملت او په تېره د هغه له ستر حکیم (خوشحال خټک) څخه زیات متاثر و، د خوشال شعرونه یې لوستي وو او پر هغه یې ژوره اغېزه کړې وه.**

**استاد خادم بیا پر خپل وار د علامه اقبال د شاعرۍ او فکر تر اغېز لاندې راغلی و، پر ده یې زور تاثیر ښندلی و، ځکه نو څومره چې استاد خادم د فکري او ادبي بلوغ لوړو مدارجو ته رسېده، له علامه اقبال سره یې نوره مینه هم زیاتېدله. د ژوند تر پایه یې له علامه اقبال سره خپله مینه وپالـله، د هغه پر ژوند، فکر او اثارو یې ګڼ شمېر لیکنې وکړې. (خودي در نظر اقبال، د اقبال د شاعرۍ محرکات) او ځینې نورې لیکنې یې غوره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثالونه دي. دلته یې یوه لیکنه (د اقبال د شاعرۍ محرکات) د بېلګې په توګه راوړو:

## د اقبال د شاعرۍ محرکات

((مخکې تر دې چې مونږ د علامه اقبال د شاعرۍ اساس او بنیاد ته ځان ورورسوو، باید د ده د شاعرۍ محرکات او ماحول وپېژنو. اقبال څنګه د شاعرۍ دې معیار ته ورسېد او څنګه یې دغه قسم شاعري غوره کړه؟ د دې سوال د ځواب د پاره باید اتیا کاله شاته وګرځو او وګورو چې دغه وخت د هند و پاکستان د قارې څه حال و؟ ایشیایي ملتونو کوم مراحل طی کول؟ د غرب او شرق مناسبات په څه ډول وو؟

اقبال د شپېتو کالو په عمر مړ دی. (۲۷) کاله یې د مرګ نه تېر دي، مونږ به د ده د زېږېدنې شاوخوا محیط په نظر کې ونیسو او اتیا کاله به تر شا ولاړ شو. په دې وخت کې د هند الې ګولې لړې کرارې دي، د هند د قارې د استیلاء رقیبان غلي دي. د هند د حکومت واګې د انګلستان د سلطنت په لاس کې دي، د انګلستان مدبرین فکر کوي چې هېڅ قوم هېڅکله تر ډېره پورې د بل قوم واګې کاملاً په خپل لاس کې ساتلی نه شي او که ساتي یې فایده نه لري، نو څه په کار دي؟ په کار دا دي چې ورو ورو هندیانو ته د نوي تعلیم او تربیت سره د ادب او سیاست دروازه بېرته کړی شي چې څو په څه وخت کې د خپل ځان د ادارې په خپله توان پیدا کړي، نو د کانګرس د بنیادونو د ایښودلو د پاره یې په زمینه برابرولو غور شروع کړ.

هند چې د دنیا د تهذیبونو او کلچرونو د موزیم حیثیت لري، بیا هم دوه ثقافته په کې د نورو نه غټ او اوچت سترګو ته راتلل. یو هندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تهذیب و چې له ډېرو مودو څخه په دغه قاره کې پیدا شوی، روزل شوی او پاتې و.**

**بل د اسلام تهذیب و چې له لس سوو کالو څخه دغلته راغلی او مستحکم شوی وو. د هندو تهذیب حامله د سنسکریت ژبه وه او د اسلامي تهذیب خزانه عربي او فارسي ژبه وه. د سنسکریت ژبه همدغلته پیدا شوه، لویه او بېرته ورکه شوه چې نورې ژبې یې وزېږولې، د فارسي او هندي له اختلاطه اردو پیدا شوه.**

**هندیان چې د هند بومي خلک وو په خپل کلچر ډېر ټینګ ولاړ وو او سخته یا فشار ې پرې لرله. انګرېزي ژبې، غربي تعلیم او تربیت او غربي ادارې هند ته نوي رجحانات راوړل. کانګرس په خلکو کې سیاسي شعور او فعالیت پیدا کړ. هندوانو د غربي تعلیم سره په خپله ژبه، دین او ثقافت اصرار لاره. په مسلمانانو کې هم د غربي رنګ د منلو سره په اسلامیزم او عربي شعایرو د رد العمل په ډول ټینګار پیدا شو. د دې حرکت او رقابت ته په دواړو خواوو کې لوی علماء، سیاستدان، ادبا او شعرا منځ ته راغلل چې د شعراوو په ډله کې ټېګور او اقبال داسې ادب او شاعري وړاندې کړه چې د حیرت او استعجاب وړ ده. ټېګور سل په سلو کې هندو او اقبال سل په سلو کې مسلمان و، خو دا دواړه د انسانیت د پاره مهم او مفید غړي وو.**

**په دغسې ماحول کې اقبال او د ده شاعري وزېږېده، نو ځکه د ده په شاعرۍ کې غربي جهان بیني، اسلامي تصوف او د هندي تفکر ګډ لیدل کېږي. په سیاسي لحاظ اقبال مجبور و چې د هندي نېشنلیزم په مقابل کې چې په ډېرو پخو تهداوونو ولاړ و، د اتکاء او تمرکز کوم بل ټکی پیدا کړي. دا ټکی بې له مذهبه د هندي مسلمان د پاره بل هېڅ شی نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو کېدای. ځکه هلته نژاد، تاریخ، ژبه او د ملیت نور مقومات نه وو، نو ځکه په هندوستان کې مسلمانانو زیات په مذهب او ورپسې په اردو ژبه د خپلې سیاسي مانۍ تهداو کېښود، خو اردو ژبه هم د ښاغلي نهرو په قول هغه ژبه ده چې په هند کې زېږېدلې ده او د هندي کلچر جز دی. همدا وجه ده چې هندي مسلمان د پاره بې له اسلامي روایاتو د اتکاء او تمرکز ثابته نقطه بله نه وه، نو د شاه ولي الله صاحب د تحریک پسې د سر سید او شبلي شاګردان او په اخره کې د اقبال شاعري راپیدا شوه چې په هند کې یې اسلامي حرکت د فلسفې او تصوف په عالمګیرۍ کې نغښتی د فارسي شاعرۍ په اب و تاب کې مصور کړ. دا و په هندوستان کې د مسلم‌لیګ او پاکستان د تاسیس محرکات.

## د اقبال د شاعرۍ غټ عناوین

د اقبال شخصیت له تېز ذکاوت، وسیعي مطالعې، سوزان عشق، فلسفي تفکر او شاعرانه بیان څخه جوړ شوی و، ده غوښتل چې په ژوند کې نوې مفکوره او لیاره پیدا کړي. د ده کوشش دا و چې د عقل او دین علم او عقیدې، فلسفې او شعر نه یو ګډ جوهر وباسي او مخلوط معجون ترې جوړ کړي. د اقبال په شاعرۍ کې د متداولې او غلطې پیرۍ، ملایۍ، پیر پرستۍ او هوا و هوس سخت مذمت موجود دی. په مقابل کې یې مومن، فقیر، بې نیاز، مسلمان او رند ډېر یادوي.

دی په مخلصانه جدوجهد، بې لوثه خدمت او انساني کرامت معتقد دی. د ده په شاعرۍ کې د سوشلیزم ډېر مواد پیدا کېږي. د شخصیت پرستۍ او استعمار سخت مخالف دی، د غرب د استعمار اسرار او رموز په ډېر ښه شان ښکاره کوي. یو روغ مسلمان او سم انسان د تربیت د پاره د ده شعر ډېره ښه لاره ښیي، نو ځکه یې د ځوانانو د پاره مطالعه ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروري ده. سره د دې چې خپله مفکوره او نوې لیاره په خپلې شاعرۍ کې نه پرېږدي او تعقیبوي یې. په شاعرۍ کې هم نوي ابتکارات کوي، نوې کلمې، نوي تراکیب او نوي مصطلحات او تعبیرات په خوندور ډول پیدا کوي. په منظرنګارۍ او تصویر ایستلو کې دومره ماهر دی چې په یو څو جملو او تعبیرونو کې یوه وسیعه، ښکلې تابلو د انسان مخې ته ږدي. د اسلامي عباداتو او روایاتو د پاره نوي استدلالونه پیدا کوي. د غرب او شرق د افکارو خلص او ماحصل په شاعرانه تعبیراتو کې مجسم کوي. په اسلامي دنیا کې د ده ډېره توقع له افغانانو او عربو څخه کېږي. د اروپا او غرب څخه مایوس دی، نوې روسیې ته هیله من دی، نو ځکه ورته پېشنهادونه کوي. د ایشیا په حال ژاړي او د هندوستان په غربت اوښکې تویوي. دی غواړي چې خلک اسلام ومني او په نوي او حقیقي شان داسې اسلامي دولت جوړ شي چې د مادي او معنوي حریت او مساوات په بنیادونو ولاړ وي.

د دې د پاره چې دی خپلو اهدافو ته په ښه شان ځان ورسوي او نوی نسل په یوه مبدا معتقد او تربیه کړي، نو د ((خودۍ)) په مبدا ډېر ټینګار کوي، خودي په پخوانۍ اصطلاح د غرور او تکبر په معنا راغلې ده، خو دی یې په نوې معنا استعمالوي او نوې اصطلاح ورڅخه جوړوي، خودي د ده په نزد ځان شعور، ځان پېژندنه او له ځان څخه یو صالح عنصر جوړول دي. خودي د ځان د تربیت، د نفس تکمیل او د اخلاقي مراتبو او مراحلو طی کول دي. دی داسې فکر کوي چې د مسلمانانو د انحطاط لوی سبب د تصوف هغه تلقینات دي چې انسان نفس وژلو، بېځایه تواضع، انکسار، له ځانه تېرېدلو او فنا ته سوق کوي. دی فکر کوي چې په دې شان په انسان کې په ځان اعتماد، د حیات د پاره مجادله او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق د پاره د جهاد روحیه کمزورې کېږي او مري. بیا نو انسان هر څه قضا و قدر ګڼي او په یو غیر اسلامي جبر عقیده پیدا کوي.

نو ځکه علامه اقبال د خودۍ په تعلیم او تشریح زور لګوي او په خپلو ټولو کتابونو کې له مختلفو خواو د (خودۍ) شرحه او تفسیر وړاندې کوي. که څه هم د ده په ټولو اشعارو کې د خودۍ ذکر شته، خو یو مستقل مثنوي یې هم ورباندې د ((اسراسر خودی او رموز بېخودی)) په نامه لیکلی دی. په (اسرار خودی) کې د شخص د تکامل مراتب ښیي او په (رموز بېخودی) کې شخص ته په جامعه او ملت کې د انضمام او محوه کېدو لارې چارې ښیي. د خودۍ دغسې تعبیر او تبلیغ د علامه اقبال ذهن ته د افغاني اخلاقو د مطالعې او د افغان ملت د سایکالوجي د شرحې او معرفت نه راغلی دی. دا هغه شی دی چې په خپله افغانان ورته په افغانیت او پښتونولۍ تعبیر کوي او افغاني روح یې ګڼي.))

(۲۴: ۱۱۷۹-۱۱۸۱)

له علامه اقبال او د هغه له اشارو او افکارو سره استاد خادم دومره مینه لرله او دومره ترې متاثر و چې کله علامه اقبال د ابدي نړۍ د سفر لمنه ونیوه، نو استاد خادم پرې زیات متاثر شو او دغه نظم یې ورته ولیکه.

## د اقبال په مرګ

((څنګه په مشرق نن د رڼا او تیرې جنګ دی؟
ولې د فلک ګرېوان په وینو باندې رنګ دی؟
غلی په طلسم د تیري دی هر بلبل د باغ
زړه د هر انسان لکه غوټۍ له غمه تنګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته دی نغمې د زرکو چېرته په راغونو کې
نه د چا په غوږ کې د نسیم د رباب شرنګ دی
لکه بې اسرې چې هر یو ژاړي پټ له ځان سره
ستورو د مشرق هر یو پرېښې د بل ځنګ دی
ډوب په آه و اوه کې نمر خاته دی سر تر پا یه اوس
هر زړه باندې پروت د بدبختۍ د تیري زنګ دی
ځکه چې لو بېدلی د مشرق نمر د اقبال دی
خړ اسمان د علم او د ادب او د کمال دی
ای اقباله ستا په غم کې ژاړي مسلمان ټول
چین تر شام و رومه، ترکیه، هندو افغان ټول
تـه تمامي عمر ژړېدلی د ملت په غم
ځکه دي قومونه ستا په تلو باندې ګریان ټول
مړاوی لاله زار دی د خلیل تازه په اوښکو کړو
مه وچوه سترګې چېرې وچ نه شي ګلان ټول
بیا دې هېر سبق مسلم ته یاد په زېر و زور کړلو
ودې ښوده دوی ته محکمات د ښه قران ټول
پېښې وو درانه او منزلګاه لرې بېحده وه
ستا سوو نغمو ښه دمه لو دی که کاروان ټول
پاتې چې سید، شبلي حالي نه وو په لار کې
تا هغه بارونه کړل اوچت په یوه ځان ټول

***

مخکې لږ مزل دی چې یې پرې نه ږدې په لار کې
داسې لار بلدي هېڅوک نه شته په قطار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې مخ کړو پټ او په خندا لاړې مولا لره
اوس به نو رهبر د خودۍ څوک شي ایشیا لره
پورته د کوشش په تمه ستړي د تقدیر کړه
دا قدرت درکړی دی خاوند یوازې تا لره
نن د بغاوت له عقله وېره چې حرم کې ده
جګ د ولایت له عشقه فوج که دې بلا لره
شعر و فلسفه تاریخ دې ګډ کړه په حکمت سره
جوړه دې نسخه کړه ترېنه ملت بیضا لره
ای د ژوند حکیمه زړه دې ډک و د بشر په غم
تا پیام راوړی همګي واړه دنیا لره
شرق و غرب دې مخکې د یوې منډې میدان و
ځکه دې نظر تل په حصار د کهکشان و !))
(۱۲: (۴۰۷-۴۰۸)

استاد خادم له علامه اقبال سره ډېره مینه لرله، د اقبال افکارو، اثارو او شخصیت د استاد خادم پر ذهن ژور اغېز کړی و، نو ځکه یې به خپله منظوم او منثور کلام کې د علامه اقبال زیاته یادونه کړې ده، هم یې نظمونه پرې لیکلي او هم ګڼې لیکنې. که دا ټول منظوم او منثور کلام سره راټول شي، نو د علامه اقبال په باب یو غټ او ځانګړی اثر ترې جوړېدی شي. موږ یې دلته په لنډیز سره یادونه وکړه.

په پای کې غواړم د یوې ټولیزې نتیجې په توګه یادونه وکړم چې خادم صیب د یو متحرک انسان او لیکوال په توګه مجبور و چې له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې، چاپیریال او د خپل مسلک له نور مطرحو څېرو سره تماس او اړیکي ولري، له هغو څخه اغېز ومني او پر هغو هم خپلې متقابلې اغېزې وښندي. دا اغېزې داسې وي چې له تېرې زمانې څخه اوسمهالی شخص متاثر کوي او له اوسمهالي شخص څخه د خپلې زمانې او راتلونکې زمانې اشخاص متاثر کېږي. خادم صیب هم همدغسې اغېز زغملی او نورو ته یې هم خپل تاثیرات وررسولي دي. پر خادم صیب چې کومو پخوانیو کورنیو او بهرنیو لیکوالو، مطرح څېرو او هم د ده د خپلې زمانې مطرحو ادبي او ټولنیزو شخصیتونو کوم اغېز پرې ایښی، د هغو شمېر زیات وو، خو موږ پورته یاد کړي اشخاص د ډېرو مطرحو څېرو په توګه یاد کړل. دا لړۍ تر دې زیاته غځېدلای شوه، خو موږ د دې بحث د نور زیات اوږدوالي له امله پر همدغو اشخاصو بسنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیمه برخه

# د خادم نړۍ لید

د استاد خادم د نړۍ لید د پېژندنې لپاره تر ټولو غوره سرچینه د هغه خپل اثار دي. کله چې موږ غواړو د استاد خادم فکري نړۍ لید وپېژنو، نو په کار ده چې دده ټول اثار په ژور ډول له نظره تېر کړو. خادم صیب د ژوند ډېرو لوړو ژورو ته په ژور ډول متوجه شوی، په هره برخه کې یې خپل فکر ځغلولی او موږ ته یې ګڼ شمېر اثار پرې ایښي دي. دلته غواړو د استاد اثار لومړی له فکري پلوه ډلبندي کړو او تر هغه وروسته به د ملتپالنې، دینپالنې، سمونپالنې، کره کتنې، ټولنپالنې او نورو مسایلو په باب د استاد خادم نړۍ لید راوخېړو:

ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل د استاد خادم د ژوند او فن په باب یوه مفصله لیکنه کړې، دا لیکنه یې پر (۱۳۶۰ل) کال د (امیر علي شېر نوایي) په نامه په یوه ځانګړي اثر کې خپره کړې ده. د استاد نړۍ لید یې د هغه د اثارو د محتوایي وېش له مخې پر بېلابېلو برخو وېشلی دی. په دې لیکنه کې یې د استاد خادم اثار د فکري ځرنګوالي له پلوه په ډېر ښه ډول ډلبندي کړي دي. همدا لیکنه په حقیقت کې د استاد د فکري جغرافیې بېلابېلې برخې ځرګندوي.

زه غواړم د همدې لیکنې د ډلبندۍ زیاته برخه د موضوع د ځرګندتیا لپاره دلته راانتقال کړم او ددې ترڅنګ د ضرورت تر کچې په هغې کې څه زیاتونې او کمونې هم وکړم. هېوادمل صیب په خپله لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د خادم صیب کتابونه هم په لنډېز سره معرفي کړي، خو څرنګه چې موږ دکتابونو پر پېژندنې په بله برخه کې بحث کړی، نو ځکه یې دلته د کتابونو د پېژندنې له برخې څخه تېرېږم. استاد سرمحقق زلمی هېوادمل په خپله لیکنه کې وایي:

[استاد عبدالروف بېنوا په اوسني لیکوال کې کښلي دي: ((ښاغلی قیام الدین خادم، په اوسنیو پښتو لیکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري او د افغاني پوهانو او ادیبانو په لومړۍ ډله کې درېږي.

ښاغلی خادم د علمي شخصیت خاوند او د فلسفي افکارو څښتن دی. دده د ژوند زیاته برخه په لوستلو او لیکلو کې تېره شوې ده او دده د لوستلو او لیکلو مهم مقصد پښتو ژبې ته خدمت کول او د خپل قوم راویښول دي، چې په دې لاره کې یې زیار ایستلی دی او اوس هم لګیا دی زیار باسي.

دده فلسفي افکارو کله د علامه اقبال د افکارو رنګ اخیستی دی او کله د رابندرنات ټاګور معنوي فلسفې ته ورته وي. خوپه دواړو لارو کې د افغاني تفکر طرز هم نه هېروي.))

د استاد بېنوا پورته نظر چې د استاد خادم فلسفي افکار کله د (علامه اقبال او کله د (رابندرنات ټاګور) له معنوي فلسفې رنګ اخیستی دی، دې موضوع ته مو په یو بل ځانګړي بحث کې هم نغوته کړې او د بېلګې په توګه مو د خادم صیب د منظوم او منثور کلام ځینې داسې بېلګې راوړي چې دې لویو شاعرانو ته یې لیکلي دي. دا په دې مانا ده چې: که خادم صیب دې لویو نړیوالو لیکوالو سره فکري لېوالتیا نه درلوده، نو دا لیکنې نه رامنځته کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېوادمل صیب په نظر د استاد خادم په اثارو کې د نورو فکري خواوو ترڅنګ د فلسفې رنګارنګي هم څرګنده او جوته ده، استاد هېوادمل دې ټکي ته اشاره کوي چې:

[په خپله استاد خادم هم د خپل ژوند په قصه کې په دې باب یو ځای لیکلي دي: ((... دغسې به زه کائناتو او د هغې نظام ته هم ملتفت کېدم. د حیات شاوخوا او د اجتماع ادارې ته هغه وخت زما فکر پیدا شو چې د اخبارونو سره اشنا شوم. دغه وخت د قومیت، ملیت او په اخر کې د انسانیت معناګانو ته ملتفت شوم او هغه حیرت او تحیر چې په ما کې طبیعي پروت و اوس ورسره درد او خوږ هم ملګری شو، دا درد مجمل و او زه یې په تفسیر قارد نه وم. خو هغه وخت چې ما د اقبال اثار ولوستل زما د مبهم زړه ترجماني یې راته څه څه وکړه.))

استاد هېوادمل زیاتوي: ((دده د فکر په باب تاسې د پښتو د یوه نومیالي لیکوال او په خپله د استاد خادم نظر ولوست. دغه لوړې خبرې پر خپل ځای د منلو وړ دي. مګر که چېرې سړی د استاد خادم د خپرو شویو اثارو مطالعه وکړي او له پیله یې تر پایه پسې وڅېړي په کُلي ډول دغه لاندې ټکي ترې راوځي:

۱- د استاد لومړنۍ لیکنې او کتابونه او حتی ځینې ادبي اثار دیني رنګ لري. دین ته زیات تمایل ښیي او د اسلام د مبارک دین اساساتو ته په پاملرنه د جامعې او خلکو د رفاه او ارامۍ لار لټوي او د اسلامي نصوصو د مقدسو ارشاداتو په رڼا کې د خلکو د اخلاقي او اجتماعي روزنې لپاره اثار لیکي او د اسلام په ننګه شعرونه وایي. د اسلامي علومو د علماوو، مشاهیرو او رجالو او سیالانو په باب مقالې کاږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېوادمل صیب نظر دا دی چې د نورو افکارو تر څنګ د استاد خادم د لومړنیو اثارو د فکر یوه درنه او پام وړ برخه  دیني مسایلو ته وقف شوې ده. څرنګه چې خادم صیب په خپله یو لوی دیني عالم و، نو طبیعي خبره ده چې دا ډول افکار یې په کلام کې جوت او ثابت دي. د هېوادمل صیب په نظر د دیني افکارو تر څنګ پښتني افکار هم دده د کلام یوه اساسي برخه ده. سرمحقق زلمی هېوادمل په دویمه برخه کې دې افکارو ته اشاه کوي، او وایي:

[۲- ورپسې استاد پښتو، پښتنو، د پښتنو تاریخ او پښتني کولتور ته متوجه کېږي او دا ورته ښه ایسي چې د خپل نومیالي قوم د ملي کولتور او ملي تاریخ د ځلولو هڅه وکړي. د پښتو ژبې او پښتو اثارو په باب تحقیقات وکړي او د شعرونو او نورو ادبي ایجاداتو مخه یې هم په دغه وخت کې د پښتنو د تاریخي او ملي عظمت د څرګندولو خواته اړولې ده.

۳- په یوه بله مرحله کې د استاد په اثارو کې د یوه ملي فکر پلوشې ځلېږي. دغه مهال دده هڅه داده چې خپلې دغه فکري اندېښنې د وطن د ابادۍ، د اجتماعي اصلاح او د یوه پیاوړي او متحد ملت د جوړولو په لیاره کې استخدام کړي

ده په دې لاره کې ډېرې هڅې کړي او ددغو هڅو ازانګې یې په اثارو کې هم ښکاري. د استاد فکر وطني او ملي فکر دی، د استاد فکر اجتماعي عدالت غواړي، خو په افغانستان کې د ټولو اوسېدونکو ورونړو قومونو د ملي دیني او نورو سنتي دودونو ته په کلکه پاملرنه. د استاد فکر ظالم غندي او د مظلوم پر خوا دی. د استاد فکر د هر ډول ملي او اجتماعي ستم پرضد دی. دده په فکر د نړۍ له ټولو ولسونو سره دوستي او په سوله او ارامۍ کې ژوند کول، د خپل هېواد د ابادۍ لیاره د نورو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربو او مرستو څخه استفاده کول. د وطن او خلکو په گټه کار دی. مگر تر هغه حده چې د وطن ملي مصالح یې غوښتنه وکړي. دده فکر هر ډول استعمار، استثمار، تېري او تجاوز غندي. د انگرېزي متجاوزینو پرضد د استاد چاربیتې زموږ د ملي ادب ښه باب جوړوي. دده فکر پر خپلو خلکو او وطن د نورو بلوسېدل نه مني او په خپله هم په چا نه بلوسېږي، خو خپل حق چاته نه پرېږدي.

دا وه د استاد فکر لنډیز چې ما یې د اثارو له مطالعې څخه څرک ایستلی دی. دده زیاتره مقالې، لیکنې او اشعار او ادبي پارچې ددغه فکر مولود دي.

۴- په وروستیو مرحلو کې استاد د پښتو او پښتني تاریخ اساسي ستونزو ته متوجه شوی دی. د پښتو د لیک او د پښتنو د تاریخ ځینې مهم مسایل یې څېړلي دي.))

استاد سرمحقق زلمی هېوادمل بیا د همدغه فکر د څرنگوالي له مخې د هغه اثار هم ډلبندي کړي دي.د عمومي ډلبندۍ ترڅنگ یې اثار هم په لنډېز سره معرفي کړي دي. خو زه یې دلته د اثارو دمعرفۍ له برخې تېرېږم او یوازې فکري ډلبندۍ ته یې په لنډیز نغوته کوم:

استاد هېوادمل بیا د موضوعي یا فکري وېش له مخې داستاد خادم اثار په دې ډول ډلبندي کوي:

## د پښتو د ادبي تاریخ په باب لیکي:

استاد هېوادمل وایي: ((که څه هم استاد د ادبي تاریخ او یا د ادبي تاریخ په څانگو پورې مربوط کوم مستقل کتاب نه دی کښلی. خو دده ځینې متفرق کارونه زموږ د ادبي تاریخ د ځینو برخو په روښانو کې بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونډې نه دي، نو ځکه زه دلې هغه کارونه یادوم چې استاد په دې خصوص کې ترسره کړي دي.)) په دې برخه کې بیا (۱- د پښتو د قدیمو شاعرانو شرح حال، ۲- بایزید روښان،۳- د پښتو د نثر تاریخي تطورات او د نثر لیکونکو تذکره، ۴- د پښتو ننني لیکوال) اثارو یادونه کوي او په لنډېز سره یې معرفي کوي چې استاد خادم په دې برخه کې لیکلي دي.

## د ادب او پښتو ادب په باب تحلیلي څېړنې:

استاد هېوادمل د استاد خادم د اثارو د موضوعي وېش په لړ کې وایي: ((د استاد قیام الدین خادم په اثارو کې ځینې داسې لیکنې هم موندل کېږي چې هغه د ادب په باب عمومي بحثونه کوي او ځینې وختونه د پښتو ادب د ځینو برخو په باب تحلیلي څېړنې هم وړاندې کوي. په دې خصوص کې د دوی له ډېرو زیاتو لیکنو څخه څو مقالې او څېړنې د یادونې وړ دي: ۱- د خوشال او رحمان موازنه، ۲- د خوشال دستار نامې ته یوه کتنه، ۳- د پټې خزانې په باب توضیحات، ۴- شعر و ادب.))

## د پښتو ژبې او پښتنو د تاریخي قدامت په باب لیکنې:

د استاد هېوادمل په وینا: ((د استاد خادم په کښلو اثارو کې ځینې داسې کښنې هم شته چې په هغو کې د پښتو ژبې او پښتون قوم د تاریخي قدامت په باب خبرې او بحثونه شوي دي. د دوی دغه ډول لیکنې دده د هغې مینې ښکارندویې کوي، چې ده له خپلې مورنۍ ژبې او خپل قوم سره درلوده. دلته دغه یادونه هم ضروري ده چې د استاد دغه ډول لیکنې تر یوه حده پر احساساتو ولاړې دي.)) د ښاغلي زلمي هېوادمل په نظر ((د استاد دا ډول لیکنې تر زیاته حده د احساساتو تر اغېز لاندې راځي. دده په نظر دا سمه ده چې پښتانه او پښتو ژبه لرغونی تاریخ لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا ډول تاریخي واقعیتونه باید له احساساتو لرې، د علمي پرنسیپونو پر اصولو برابر وڅېړل شي.))

## له لرغونو متونو سره مینه:

د هېوادمل صیب په نظر: ((استاد خادم د پښتو پر کوم لرغوني متن مستقل کار نه دی کړی، خو د (روهي ګلونه) په نامه د لرغونو متونو یو منتخب یې ترتیب کړی دی.))

## د پښتني کلتور او فولکلور په باب لیکنې:

استاد خادم د پښتني کلتور او فولکلور د ځلولو په لاره کې هم د قدر وړ کار کړی دی، ده چې د (۱۳۱٦ل) کال په کالنۍ کې د (پښتونولۍ) (۲۵: ٥٦۸-٦٤۷) په نامه کومه رساله خپره کړه. داسې وخت و چې په پښتنو لیکوالو کې له لوی استاد پوهاند حبیبي پرته بل پښتون په دې خصوص کې په پښتو ژبه څه نه وو کښلي. استاد خادم په دې رساله کې د پښتني کلتور پر یوه ډېر مهم ټوک (پښتونواله) رڼا اچولې او د کلتور دغه برخه یې معرفي کړې وه. وروسته یې خپلې دغه څېړنې لړ څه بشپړې کړې. د پښتنو قبیلوي حقوقي او جزایي لیارې، د احمدزو جرګې او د دغو لارو او جرګو ځینې خاص اصطلاحات یې هم په کې شرح کړل او د پښتونولي د رسالې له نشر څخه پنځلس کال وروسته یې بیا دغه بشپړ متن چاپ ته وړاندې کړ.

پر (۱۳٥٤ل) کال د پښتنو ټولنې له خوا د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د پرانیستلو بین المللي سیمینار په کابل کې جوړ شو، په دغه سیمینار کې استاد خادم ته د پښتونولۍ موضوع د تحقیق او څېړنې لپاره ټاکل شوې وه. استاد خادم په دغه مقاله کې د پښتونولۍ په باب عمومي څېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړې، خو پر ځینې داسې موضوعاتو یې هم خبرې په کې کړې دي، چې هغه باید په ډېره دقیقه توگه د فلالوژۍ د اساساتو له مخې وڅېړل شي، مگر زموږ استاد د خپل فکر په زور څېړلي دي، خو بیا هم د مقالې محتویات، د پښتونولۍ په باب عمومي معلومات د لوستونکو زړه ترلاسه کوي او له موضوع سره د استاد مینه ترې څرگندېږي.)) (۲۲: ۹۹-۱۱٦)**

**استاد هېوادمل د خپلې لیکنې په ترڅ کې وایي: ((د پښتني کلتور د ځینو مهمو خواوو د څرگندولو په ترڅ کې استاد د پښتني فولکلور په باب هم کله ناکله څېړنې او لیکنې کړي دي، چې زه یې له دغه ډول خدمتونو څخه درې بېلگې لوستونکو ته واندې کوم:**

**۱- استاد خادم د سید کمال او ببوجانې نکل لومړی ځل له ولس څخه ثبت او بیا یې لومړی ځل په (ورږمه) (۹: ٥٦-٦۲) او بیا په نوې رڼا کې خپور کړ.**

**۲- د پښتو حیاتي فلسفه د متلونو په ملاحظه، په دې برخه کې د دوی له تحلیلي څېړنو څخه یوه څېړنه ده، چې په وروستیو کې د پښتو د چاپي اثارو د بین المللي سیمینار په مناسبت کښل شوې، په یاد سیمینار کې اورول شوې او بیا په (پښتو چاپي اثار) نومي مجموعه کې چاپ شوې ده. (۲۱: ۲۳٦-۲٤٤)**

**۳- استاد خادم د افغاني موسیقۍ په باب هم یو مستقل اثر کښلی دی، چې متأسفانه تر اوسه چاپ نه دی.)) هېوادمل صیب زیاتوي: ((د استاد دغه اثر ښاغلي محترم رفیع او ما لیدلی و، په خپله دوی موږ ته راوښود او د محتویاتو په باب یې خبرې راسره وکړې)) په دې رساله کې استاد د افغاني موسیقۍ په باب خبرې کړې دي او افغاني موسیقي کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د ځينو سيمو د موسيقۍ د اصالت په باب په زړه پورې نظريې وړاندې کړې دي.))

## د پښتنو د تاريخ په باب ليکنې:

((د استاد خادم په متفرقه ليکنو کې د پښتني تاريخ پر ځينو خواوو کښنې موندلی کېږي، د پښتني تاريخ د ځينو قهرمانانو په باب يې هم خاص څه کښلي دي، خو په دې خصوص کې يې مرتب ليکونه لاندې ښيم:

۱- بايزيد روښان، ۲- لرغوني پښتانه قومونه، ۳- د روښانيانو مبارزې پورتني ليکونه يې له دې ډول اثارو او ليکنو څخه دي.))

## ديني ليکنې:

استاد هېوادمل وايي: (( دمخه مې دا يادونه کړې وه، چې د استاد خادم لومړني اثار ديني رنګ لري، ددې موضوع د روښانولو لپاره غواړم، چې د استاد له ډېرو ديني ليکنو او اثارو څخه چې زياتره يې په (هېواد، اصلاح، طلوع او ننګرهار،اتحاد مشرقي) کې خپاره شوي، د څو ليکنو او کتابونو يادونه وکړم:

۱- استاد چې د کندهار د پښتو ادبي انجمن غړی شو، نو د انجمن د نشراتي ارګان لپاره يې ځينې تربيتي او اخلاقي مضامين له داسې منابعو څخه ترجمه کول او يا ليکل چې ديني جنبه به يې درلوده او کله يې د اسلامي نړۍ د مشرانو شرح حال هم کښه، لکه د پښتو مجلې د (ځلورم) کال په (٦-٧) ګڼه کې د ((حضرت سعد ابن وقاص)) مقاله، د ځلورم کال په (اتمه) ګڼه کې د ((د اولاد پالنې اسلامي طريقه)) مقاله او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- استاد خادم د (اصحاب کرام) پښتو ترجمه په (۱۳۱۴ل) کال کې بشپړه کړه او پښتو متن یې په دوو جلدونو کې ترتیب کړ، چې خطي نسخې یې په ملي ارشیف کې د اصحاب کرام (پښتو) په نامه ضبط دي.))**

## اخلاقي لیکنې:

**((لکه چې د مقالې په پیل کې تاسې ولوستل د اخلاقو په باب استاد د (مکارم الاخلاق) په نامه یو غنیمت کتاب پښتو ته ترجمه کړی دی، خو ددې ترڅنګ ده د ماشومانو د اخلاقي روزنې لپاره هم کار کړی او (د کوچنیانو اخلاقي پالنه) په نامه یوه کوچنۍ رساله یې د (هربرټ سپنسر) د یوې رسالې له اردو ترجمې څخه پښتو کړې او ځای پر ځای یې خپلې خبرې او لاربښوونې هم ورزیاتې کړې دي، پر دې سربېره د اخلاقو په باب یې متفرقې مقالې هم لیکلې دي، چې د هېواد موقوتو نشراتو، په بېلابېلو کلونو کې خپرې کړې دي.))**

## فلسفي لیکنې:

**((استاد قیام الدین خادم، د (نبوغ او عبقریت) په موضوع کې په همدې نامه یو کتاب لیکلی دی.))**

## درسي لیکنې:

**((استاد خادم د خپلو اثارو په فهرست کې راوړي دي، چې : د پښتو کلي لومړي، دویم، درېیم او څلورم جزونه ده کښلي دي، خو د پښتو کلي ګانو د دویم جلد پر لومړي او دویم جز دواړو له ښاغلي زمریالي سره یو ځای د قیام الدین خادم نوم هم راغلی دی. ( وګورئ! پښتو کتابونه، د ښاغلي ویښ، ۵-٦ مخونه، د ۱۳۳۷ل کال چاپ، کابل، پښتو ټولنه) چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم ټوک دغه دوې جزوې دوی دواړو په ګډه تالیف کړې دي او پر (۱۳۱۹ل) کال د پښتو ټولنې له خوا نشر شوي دي.))

## اجتماعي او اصلاحي لیکنې:

((که چا د استاد لیکنې لوستې وي، د دوی اجتماعي او اصلاحي لیکنې تر (۱۳۲٦ل) کال پخوا د اخلاقي پرنسیپونو تابع او د (ښه کوئ، بد مه کوئ)، پر اصولو برابرې دي. تر دغې نېټې وروسته دده اجتماعي او اصلاحي لیکنې دوه مشخصې لارې تعقیبوي.

الف: هغه لیکنې چې د یوې مشخصې ملي او مترقي مفکورې په رڼا کې لیکل شوې دي.

ب: هغه لیکنې چې د وخت د دولتونو د پالیسیو په رڼا کې یې کښلي دي، استاد له (۱۳۲٦ل) کال راپدېخوا د (طلوع افغان، اصلاح او هېواد) ورځپاڼو د چلوونکي په توګه کار کړی دی. دغه ورځپاڼې دولتي ورځپاڼې وې او خپرونې یې د دولت له پالیسۍ سره سمې عیارېدلې، نو دده هم د وخت د دولت له نشراتي پالیسیو سره سمې اجتماعي، اصلاحي او سیاسي مقالې او سرمقالې په کې کښلي دي.))

## له نورو ژبو څخه ترجمې:

((د مخه مو وښودل چې استاد خادم (مکارم الاخلاق)، (لوی اصحابان) او د (کوچنیانو اخلاقي پالنه) زیاته برخه له نورو ژبو څخه ترجمه کړې دي، د دغو اثارو تر څنګ د دوی دا لاندې ترجمې هم د یادونې وړ دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- د شریف سرگذشت:** **استاد دغه داستان له اردو څخه پښتو کړی او پر (۱۳۳۲ل) کال په (۱۰۸) مخونو کې د اصلاح ورځپاڼې له خوا خپور شوی دی.**

**۲- د افغانستان د پخواني تاریخ د لومړي ټوک د یوې برخې ترجمه؛ (۸: ۴۹۰-۵۳۵) دوی دغه ترجمه له پارسي څخه کړې ده.**

**۳- د اریانا دایرة المعارف د ځینو برخو ترجمه: (۱:سریزه) دغه ترجمه هم له پارسي ژبې څخه شوې ده. سربېره پر دې استاد ډېرې مقالې له عربي، اردو او پارسي ژبو څخه پښتو ته ژباړلې دي او د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې خپرې شوې دي. د استاد د ترجمو مهمه خاصه داده چې مطالب د پښتو ژبې په چوکاټ کې ترجمه کوي او د بلې ژبې تر تاثیر لاندې نه وي، نو ځکه یې په ترجمو کې رواني او سلاست لیدل کېږي.))**

## پښتو رسم الخط او خادم:

**((استاد خادم د پښتو له موجوده رسم الخط سره پوره موافقت نه ښود او په دې برخه کې د فونیمیکي الفبا تابع هم نه و، ده غوښتل چې د کوشاني دورې له رسم الخط سره سم پښتو رسم الخط جوړ شي او زموږ د ژبې رسم الخط خپل ملي او تاریخي حیثیت ولري، پر همدې اساس استاد د خپل ژوند وروستي کلونه د کوشاني رسم الخط په رڼا کې پښتو ته دیوه خاص رسم الخط پر جوړولو تېر کړي او د خپل زیار او هڅو نتیجه یې د یوه کتاب په بڼه پښتنو ته وړاندې کړه.**

**د استاد دغه کتاب (پښتو پتۍ) نومېږي او په دې وروستیو کلونو کې له پېښوره چاپ او خپور شوی دی.)) (۴۴: ۴۱ – ۵۵ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د سرمحقق زلمي هېوادمل له خوا په دې فکري وېش کې د استاد خادم د فکر بېلابېلو خواوو ته په لنډیز سره نغوته شوې، خو بیا هم د استاد خادم د اثارو فکري خواوې د ژوند نور ډېر زیات ډګرونه هم رانغاړي چې هغو ته هم اشاره په کار ده. د هېوادمل صیب د لیکني محتوایي لنډیز دا دی چې استاد خادم په فلسفي، تاریخي، ژبنیو، سیاسي، ټولنیزې، اصلاحي، دیني، اخلاقي او ځینې نورو برخو کې لیکنې کړي اوفکري محتوا یې پر همدې محور راڅرخي. دلته غواړو د همدې مسایلو ځینې برخې اوهمدارنګه یو لړ نور اساسي مسایل چې داستاد خادم د فکر محور جوړوي او هغه ورته خپل پنځوس کلن فرهنګي ژوند وقف کړی و، د ده د خپلو اثارو په رڼا کې څه نا څه په تفصیل سره وڅېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملتپالنه

ملتپالنه د استاد خادم د اثارو د فکری محتوا محور جوړوي، د ده په اثارو کې هېڅ بله برخه دومره زياته محوري نه ده، لکه ملتپالنه، ملي فکر او ملي ايډيالوژي. د استاد خادم په مستقلو چاپي او ناچاپه اثارو کې، (پښتونولي، نشنلېزم او انټر نشنلېزم، افغاني حکومت، لرغوني پښتانه قومونه، اينده پښتنو ته، پښتني پور، د پښتنو د تاريخ زړه پاڼه) هغه اثار دي چې په مستقيم ډول له ملتپالنې سره تړاو لري او د ملت د مفاهيمو توضيح او تشريح ته ځانګړي شوي دي. د دې ترڅنګ (نوي ژوندون، مرغلرو امېل، نوې رڼا، د پښتو شاعري، د پښتو ولسي ادب) او ځينې نور هغه اثار دي چې په مستقيم، نامستقيم او په يو نه يو ډول له ملتپالنې سره اړيکي لري. د مستقلو اثارو ترڅنګ استاد خادم د پنځوسو کلونو په بهير کې ګڼ شمېر داسې ليکنې کړې دي چې هغه هم په مستقيمه او نا مستقيمه توګه ملتپالنې ته وقف شوي؛ د ملت مفهوم تشريح کوي او د هغه پر پالنه ټينګار کوي.

په مجموعي ډول د استاد خادم په ټولو منظومو او منثورو اثارو کې ډېر داسې نظمونه او ليکنې شته چې د ملت، ملتپالنې او ملت ځلونې پر محور راڅرخي. په دې کې دغه لاندې ليکنې او نظمونه شامل دي:

((په محشر کې، د پښتونولۍ روح، افغان ولس، افغاني ثقافت، پښتو او پښتونولي، پښتانه په قران کې، کالي، د پښتنو مقابله له سکندر سره، پښتانه څوک دي؟، د افغانستان ملي ثقافت، موږ څوک يو؟، د پښتو په تاريخ کې يوه رڼا، د مليت حس، د مليت علمي تشريح، افغان مليت او پښتنې ښځې، ملت او حکومت، زموږ استقلال، دا عصر د مليتونو دی، نشنليزم او فاشيزم، افغان ملت او اينده دنيا، ناسيونال ديموکراتيک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوسیالست، ملت، دولت او حکومت، د هندوستان د ملت بنیاد، د پښتونستان په خاوره کې د دښمن د مداخلاتي رويې په ضد د ملي جرګو فیصلې، مادر وطن، د خپلواکۍ حق، حکومت او ملت، د کراچۍ عمالو پر پښتونستان څه لوبې وکړې؟، پښتونستان، د محکوم پښتونستان جمعیت العلماء مولانا سید ګل بادشاه، د بلوچستان د وطن حزب مشر خان عبدالصمد خان، ملیت و بین الملیت، د پښتونستان لوی زعیمان، د پاکستان په جېل کې د بلوچستان زعیم عبدالصمد خان، حریت او ازادي، افغانستان او پښتونستان، په محکوم پښتونستان کې په پښتنو مشرانو ظلم، افغان در مرض امتحان، اعترافات به حقیقت پښتونستان در نشرات پاکستان، د پښتونستان مجاهد، ولسي جامې، افغاني ثقافت، حقیقت پشتونستان قابل توجه دنیای حق پسند، اهمیت موضوع پشتونستان توجه ښاغلی نکسن راجلب کرد، مطالعه پشتونستان بر روی حقایق روشن اتکا دارد، په محکوم پښتونستان کې اغتشاش، د ملي ورورګلوۍ ټینګار، د پښتونستان د لیډرانو وظیفه خورا درنه ده، د پښتونستان د هیئت پذیرایي په قندهار کې، د قومي ترقۍ اساس د فکر و بیان ازادي ده، ازادي څه مانا؟، ملت او ملي یووالی، ملي موسیقي، زموږ کومه موسیقي ملي رنګ لري؟، ددې وخت لوی قوت ملت دی، تعصب د ملي وحدت دښمن دی، د استقلال د استرداد یادګیرنه، د ازادۍ د لاس ته راوړلو لپاره د پښتونستان د خلکو مجاهده، د پښتونستان ملي ورځ، استقلال او ملي ارتقاء.)) دا هغه لیکنې دي چې استاد خادم په بېلابېلو وختونو کې لیکلي دي، ځینې یې د هغه په ځانګړو اثارو او ځینې نورې یې په بېلابېلو چاپي خپرونو کې پر خپل وخت چاپ شوي دي. د دې ترڅنګ په منظومو اثارو کې استاد خادم په بېلابېلو نظمي فورمونو کې داسې نظمونه لیکلي چې ملي فکر او ملي روحیه لري. لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((دعا، شه بيدار پښتونه، د ملي شهيد حضور ته، د استقلال جشن، نارينتوب، قومي ژوندون، فخر افغان ته، د وطن بهبود، قام ته خطاب، د جهان زېب په مينه، د شاعر مسلک، وطن غواړي خدمت، حجره، فخر افغان ته، څه شوه يارانه، ځوانان راټولوم، افسوس مې په ځان، خوږ جهان، ملي ارشاد، سياسي مشاعره، روښان به شم، ستا يمه، ته يې وينې که نه؟، د قهر تاثير، ذلت، افغانيت، ملي انتقام، په ملت شبخون، ملي حاسد ته، ملي کاروان، د وحدت فکر، ملي هسته، د توحيد شعار، وطن او خلک، د استعمار نسخه، ورانکاري، ملت او حکومت، د پښتونخوا مجادله، معمور افغان، د انګرېز ماته، د پښتو دښمني، افغانيزم، ملي هويت، د مليت شرطونه، ملي افکار، ملي کلتور او اقتصاد، افغان ملت، ملت او قومونه، ابدالي، افغان او پښتون، قومي تفرقه، د استعمار فساد، د هند پښتانه، د ايران پښتانه، امتحان، د افغان تاريخ، وران ملت، ملي وحدت، د انحطاط سبب، بې لارې مشر، بې سري، ملت بې سره کول، مړ ملت، سپی او سړی، مغرض مشر، افغان عيب، قام او قبيله. پښتون ليډر، انګرېز او پښتون، وطن ته، د قام تباهي، بلا وهلي پښتانه، د افغانستان بدلون، خوار افغان، خادم وايي، مذهب او قام، استعمار او پښتون، د پښتون تاريخ، افغانيزم، وړ شوم، د افغان ګمراهي، د پښتون مال، ملي هويت، ملتونه، ناسيوناليزم، د ملت دنيا، د فرد قوت، د افغان نوم، قومي مرګ، ويښ مرګ دی، ګډ وډ ملت، سم انسان، سپېڅلي قومونه، د حق اول غږ، د ظلم منکر، سړی قام، ملت سازول، پښتون او استعمار، د انګرېز ماته، پښتون دښمني، پس له انګرېزه، افغان او ازادي، د دښمنۍ ثبوت، ساک او پښتون، پښتانه قومونه، پښتون په اسلاميزم کې، شپږ سوه کاله ، له انګرېز سره جنګ، د ناکامۍ علت، د ناکامۍ علاج، ملي حکومت، افغاني محک په کار دی، دا افغاني محک دی، پر محک سم، طفلانه کارونه، ملت ساتنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وروسته والي علت، افغان مشر غواړي، منلى حق، افغاني شعار، قوي افغاني حکومتونه، پردي لاسونه، دين او ملت، بې مارکه افغان، مسلطه بلا، بې دستوره افغان، د افغان مړی، چې افغان ياد کړم، مکتب او د فساد پلان، ملي تخريب، بېکسه افغان، ځان خوري، بدبخته افغان، ايزمونه ټينګ شول، بد استعمار، د پښتون قيمت، د قتل حکم، ملي تخريب، د ملت قاتلان، پلان، دوه نيم زره کاله مبارزه، مشوره، ټيټ شو پښتون. د شلم قرن پښتون، شاعر او قوم، مات قلم، افغان وطن، غوره لاره، له پښتونه ګيله، پښتون ته خط، لاړې قافلې، نوي نسل ته پيغام، واړه افغانان يو، دا يوه ارزو لرو، پښتانيا ادې، افغاني ترانه، د استعمار زمزمه، لوی جهان، ځوان ته بلنه، مستقل افغان ته، سپين سترګي، يو نظر کړه، اينده پښتنو ته پيغام.)) او ځينې نور نظمونه ټول ملي ايډيالوژي او ملتپالنه تبليغوي او پر هغو ټينګار کوي. په دې نظمونو کې د فورم له مخې قصيدې، غزلې، قطعې، څلوريزې، ولسي فورمونه او نور شامل دي. په دې مانا چې دا نظمونه په يادو فورمونو کې ويل شوي دي.

دلته غواړو د همدې نثري ليکنو او نظمونو د ځينو برخو څېړنې او شننې ته تم شو. دا ټولې ليکنې چې تحليل او تجزيه کړو، نو په ټوله کې د ملتپالنې پر محور راڅرخي، په ملتپالنه کې بيا هم درې غټ محورونه لري: پښتانه او پښتونولي، پښتانه او پښتونستان او افغان او افغانيت، چې دا درې واړه بيا په خپل وار سره د افغاني نشنليزم يا افغان ملتپالنې زړی جوړوي، دلته غواړو پر همدغو دريو محورونو لږ په تفصيل سره رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف- پښتانه او پښتونولي:

د افغان ملت او افغانیت د لویې بدنې د یو اساسي او رغوونکي رکن په توګه پښتانه او پښتونولي د استاد خادم په اثارو کې ډېر زیات مطرح دي، لکه څنګه چې دمخه مو اشاره وکړه، دا برخه په کې محوري نقش لري، دی په خپلو اثارو کې پښتانه هم خپلې ټولنې او هم نورې نړۍ ته ورپېژني، د هغوی ځانګړې پېژندنه کوي، اتلولۍ یې څرګندوي او له نورو سره یې مقابله او مبارزه تشریح کوي. استاد خادم په یوه ځانګړې لیکنه کې چې ((پښتانه څوک دي؟)) د هغوی تاریخ تشریح کوي، د هغوی جغرافیایي موقعیت په ګوته کوي، له دې ډول لیکنو څخه د استاد یو هدف دا دی چې پښتانه له خپل تاریخ څخه خبر کړي او بل یو شمېر پردیپالو عناصرو ته دا په ډاګه کړي چې پښتانه د دې ځای اصلي اوسېدونکي دي او له بل ځایه راغلي نه دي. استاد په دې لیکنه کې دې ټکي ته هم اشاره کوي چې د پښتنو په باب اکثره تاریخونه د پردیو له خوا لیکل شوي او هر کله چې د یو چا تاریخ د بل چا له خوا ولیکل شي، نو طبعاً به له غرضه او مرضه خالي نه وي. استاد خادم په دې لیکنه کې د یو شمېر لیکوالو له خوا د پښتنو د بني اسرائیلیت خبره هم ردوي او دا د پردیو یوه توطیه ګڼي. هغه په دې لیکنه کې وایي:

((پښتون په قومي لحاظ د یو توکم او نسل نوم دی، په پښتو ژبه خبرې کوي. دا قوم د زرګونو کالو څخه د امو او اباسیند، پامیر او بحر هند د منځ په غرنیو علاقو کې اوسېدلی او اوسېږي.

د زر دولس سوو کالو څخه مخکې د دې قوم تاریخ څه ډېر روڼ او روښان نه دی، د اسلام د دورې نه رادې پلو دا قوم په زیات تعداد د بلخ، غزني، غور، ملتان، پکتیا، کابل او ننګرهار په سیمو کې د مالدار او زمیندار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیث لیدل کېږي. د شل دېرش کالو مخکې پورې ددې قوم تاریخ نورو خلکو لیکلی دی. پخپله د پښتنو په لاس نه دی لیکل شوی، د اسلام نه مخکې اثار اوس یو یو له ځمکې د لیکل شویو ډبرو په شکل راوځې، مگر هغه هم لا په ښه شان تر اوسه نه دي لوستل شوي او څه زمانه غواړي چې دغه تاریخي خبرې سپینې شي. د اسلام نه وروسته زمانه هم په دغه قوم باندې اکثره د داخلي او خارجي جگړو او جنگونو په صورت تېره شوې ده، نو په دغه لحاظونو موږ سره خپله د دغه قوم په لاس لیکل شوي، تاریخي مثایق ډېر لږ دي، چې هغه هم بل چا لیکلي دي او د سهوو، غلطیو سیاسي او استعماري اغراضو څخه خالي نه دي.

د اسیا او اروپا غیر پښتون لیکوالو پښتنو ته هر څه ویلي دي، خو هغه چې تر اوسه یې د یو لوی روایت شکل غوره کړی و، هغه دا خبره ده چې پښتانه بني اسرائیل دي. د دې خبرې سر پوره نه معلومېږي چې لومړی چا دا خبره چا او د څه مدعا لپاره لیکلې ده، مگر دا خبره ډېر ځله ډېرو خلکو یو تر بله نقل کړې ده، داسې معلومېږي چې دا خبره هغو خلکو عمداً جعل کړې ده چې هغوی غوښتل چې پښتانه یو مهاجر، منفور او مغضوب قوم معرفي کړي. او په دغه شان سره د دغه غیور او بهادر قوم رسوخ او قیمت هم د دنیا او هم د دوی په خپلو نظرونو کې ټیټ کړي، څو دوی په خپله نفساتي ضعف اخته شي او د دوی په ښکلې ځمکه به دغه مغرضین تسلط وکړي، دې کې هېڅ شک نه شته چې خلک د پښتنو د رندانه جرأت، بېباک اقدام او ملي حمایت څخه سخت په ډار کې وو او دي.

له دغه کبله خلکو او مخصوصاً اروپایي استعمارچیانو چې په مشرق کې هر ځای د قوت مبدا لیدلې ده، علم، سیاست، توپ او توره یې هغه ټکي ته متوجه کړي دي، چې څو یې منحله کړې ده، نو په پښتنو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اسرایلیت اطلاق خالص د غرض کار دی چې د پښتنو ژبه، ادبیات، عتیقه اثار او ملي عنعنات ټول یې په وضاحت سره تردید کوي.**

**دلته یوه بله خبره هم شته چې د اولې نه کمه نامعقوله نه ده او هغه دا ده چې پښتانه عرب او د خالد بن ولید اولاد دی. د پکت او پښت مبدا چې د پښتون د کلمې اصل حسابېږي او د دغه قوم نوم دی او دغه شان د پښتو ژبې د لغاتو او کلماتو څرک دومره مخکې لګي چې هغه وخت لا تقریباً حضرت اسماعیل او حضرت یعقوب هم نه وو پیدا شوي، نو معلومېږي چې پښتانه او پښتو ژبه د عربو او یهودو، عربي او سریاني ژبو څخه مخکې موجود وو.**

**دلته یوه غټه خبره د پښتو ژبې ده. پښتو ژبه خو د موثقو دلایلو له مخې یوه لرغونې او پخوانۍ ژبه ده چې سنسکرت او ژوند او اوستا سره خوا په خوا او یا د دغو دوو ژبو نه مخکې هم موجوده وه، نو هر کله چې پښتو ژبه څو زره کاله مخکې ژوندۍ وه، نو د پښت او پکهت د ریشې او همدارنګه د بلخ د کلمې د شهادت په اساس چې په اصل کې بخدي و او د بخد، بخت، پخت او پکت کلمې ته راجع کېږي، نو دا هم دلالت کوي چې پښتو ژبه او پښتو ویونکي زرګونه کاله مخکې موجود وو، نو دغه پښتو ویونکي زرګونه کاله مخکې هم دمخه پښتون قوم دی چې د یو ملت په حیث د امو او اباسیند په منځ کې اوس هم اوسېږي.**

**همدارنګه د فردوس کلمه چې په قران شریف کې راغلې ده او په اروپایي لهجو کې په پیرا ډایز ګرځېدلې ده، په اصل کې (برادیس) یعنې اوچته هېواد او د استوګنې جګ ځای په معنی ده.**

**فردوس جنت هم په اسمان کې دي، داسې برېښي چې دا تخیل د پښتون له تخیل څخه معرب شوی دی، قران کریم چې د خلکو په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصطلاح نازل شوی دی، دغه کلمه یې اخیستې ده او دغه فکر یې تصحیح کړی دی. د اعلیحضرت نادر شاه د عصر نه دې پلو چې په وطن کې رسماً ادبي او تاریخي تحقیقات او انجمونه جاري شول، اوس په ډېرو دلایلو او شواهدو دا خبره ثابته شوه چې پښتانه ارین او پښتو ژبه د اریایي ژبو له جملې څخه یوه ډېره پخوانۍ او متینه ژبه ده، چې د زمانې د حوادثو له لاسه تر اوسه د پښتیانا یعنې پښتونخوا د غرونو په منځ کې د پښتو په وینا او لهجه باندې د نن ورځې پورې پاته ده او څوک چې دغه ژبه وايي طبعاً هغوی پښتانه او د دې خاورې بومي او لرغوني خلک دي.

په افغانستان کې یهود ځای پر ځای، تر اوسه موجود وو چې هغوی په خپلو کې په سریاني ژبو ګړېدل، هر کله چې پښتو ژبه او پښتون قوم بل هېڅ ټاټوبی بې له افغانستانه نه لري، نو په یقین سره د پښتنو له خټې څخه داسرائیلیت شرمناک اتهام چور لرې کېږي!)) (۲۳: ۴۸٦ -۴۸۷) د استاد خادم پورتنۍ لیکنه ځکه ضروري وه چې یو شمېر کورنیو او بهرنیو لیکوالو د پښتنو د اسرائیلیت موضوع ته ډېره لمن وهلې، ولف کایرو انګرېز چې د پټانز (پښتانه) په نامه یې غټ اثر لیکلی دی، هغه هم دې موضوع ته اشاره کړې ده. دخادم صیب په شان یو شمېر نورو لیکوالو هم دې ډول پوښتنو او ګومانونو ته منطقي او ژبنی ځواب ویلی دی او هغه دا چې ټول ژبپوهان په دې متفق دي چې پښتو یوه مطرح اریایي ژبه ده، نو دا ژبه دلته چا ویلې چې له اسرائیلو څخه یوه قبیله راغله، دلته یې دا ژبه زده کړه، په دې کې حل شوه، نو ځکه د دوی په اصطلاح دا ورکه قبیله پښتانه دي، مخکې تر دې چې کوم یهود زموږ هېواد ته راشي او دا ژبه زده کړي، نو دا ژبه (پښتو) دلته چا ویله، ویونکي یې څوک وو؟ دا خو باید دلته یو لوی قوم او مدنیت موجود وای چې د وړو او نورو مهاجرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیلو د جذب او حذف ظرفیت یې درلودلای. خادم صیب هم دې موضوع ته په خپله لیکنه کې منطقي ځواب ویلای دی.

استاد خادم د پښتو ژبې او پښتنو له تاریخ سره د زیاتې مینې او پر هغوی باندې د ګڼو لیکنو ترڅنګ، د پښتونولۍ پر فلسفې هم خورا سخت مین دی. دی د پښتونولۍ پر ماهیت پوه دی او غواړي نورو ته هم دا ماهیت ورسوي. دی (د پښتونولۍ روح) په ادبي طرز او نوي ډول تشریح کوي او په همدې نامه یوه لیکنه کې وایي:

((انسان یو عجیب مخلوق دی، د عالم اسرار خو تر یوې اندازې پورې معلوم شوه، مګر دا پټه خزانه لا همغسې سرمهره پرته ده.

دده د حالاتو څخه بیداري، خوب، مرګ دی، د بیدارۍ او خوب په منځ کې یو بل حال هم شته چې له ما سره تر اوسه د هغه لپاره نوم نه شته.

په داسې حال کې ناست، د حس مشترک په مینمایي پرده رنګارنګ صورتونه متحرک وینم، ناڅاپه پرده لوېږي، یو داسې ښکلی او بې عیبه روغ، صورت ګورم چې په ښایسته مخ کې یې رعب، وقار، شجاعت، دیانت، توره، نارینتوب... بلقېږي، زه د ده مفتون شوم، نو د پېژندګلوۍ خواهش وکړم، نو زما او د ده دا ګفتګوی شروع شي:

دی ووایي: ته ما نه پېژنې...؟ شک نه شته چې ته به ما نه پېژنې! په دې سبب چې ته خو که ویده نه یې، نو ویښ هم نه یې!

زه البته همداسې به وي، مګر زه ستاسې د تعارف ارزو لرم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ورته وایم، خو  په دې شرط چې زما وینا لکه د ګنبذې غږ همدلته ورکه نه شي، بلکې لکه د سبا د شمال غوندې د وطن په فضا کې نشر شي، چې زما متعلقین پوه شي، چې زه څه وایم!

-په دواړو سترګو! دا خو ښځي اسانه فرمایش دی، مهرباني وکړئ.

-زه هغه څوک یم چې په تاسې، ستاسې په پلرونو، نیکونو، د افغان په تاریخ، تر دې چې د آرین په نسل زه حقونه لرم.

-منم صحیح ده، مهرباني!... معاف مو کړې، که په خوب کې مو څه هېر شوي وي، نو تاسې!...

د پښتونخوا ښاغلي ما ډېر ښه پېژني!!...

- په دې کې هېڅ شک نه شته! مګر ستاسې املا؟...

-((د پښتون ژوندون!))

-اوه! اوس پوه شوم!

د پښتو د نهضت څخه خبر یې؟...

-په خندا، خو همدې زموږ احساسات راوخوځول!

-زه تاسې خپلو ملګرو ته په خپل نامه ښودلی شم؟

- ارو مرو! اوس خو دې وپېژندم، زه یم ((د پښتونولۍ روح))! چې لکه د لاله د تخم غوندې د وطن د خاورو د لاندې پوره جلوې ته د رحمت د باران انتظار باسم!)) (۲۳: ۱۲۸)

خادم صیب پښتو او پښتونولي داسې یو عنصر ګڼي چې د پښتنو روح او روان ته داخلېږي، هر پښتون چې دا عنصر ونه لري، هغه په پښتنو کې نه حسابېږي. شاعران بیا په دې برخه کې ډېر حساس  دي او تر هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات په کې دا عنصر ښکاره کېږي. استاد خادم (په محشر کې) په نامه یو نثر لري، په دې نثر کې استاد خادم د یو شاعر روحي حالت انځور وي چې پښتو او پښتونولۍ یې روح و روان ته لاره پیدا کړې ده او په خوب کې هم د پښتو، پښتنو او پښتونولۍ غم ورسره دی، هغه وایي:

((راحاضر کړئ، دغه سړی چې په دنیا کې یې ډېر ژړلي او اوښکې یې تویې کړي دي، ما د دغو اوښکو له برکته دی وبانبه، ځه، زما جنت ابدي نعمتونو، حورو قصورو ته!

پښتون شاعر: ای زما خاونده! ای د کایناتو خالقه! ما په ډېر عجز او نیاز ستا رحم او مهربانۍ، ستا داد او نعمتونه غوښتي دي، مگر نه یوازې د ځان لپاره ای زما مهربانه باداره! زما ناپوه، خوار اومظلوم قام ستا د رحم وړ دي!

لوی څښتن: ځه، قام دې هم درسره بوزه!

پښتون شاعر: ای زما ربه! زما قام یوازې همدا نه دي، زما قام د خیبر نه کښته پورته، د سلیمان غره نه لر و بر پروت دی. ظالمانو دوه نیمه کړی دی. که اذان وي چې غونډ او متحد یې ووینم، دغه دی زما سوال ای زما اقا.

لوی څښتن (په مسېدو) ځه، همدغسې زما خوښه ده - ای زما د غریب مخلوق محب او خدمتگاره!

پښتون شاعر: (د قام د وحدت ترانه وایي) روان شو!

د شاعر مېرمن: پاڅه، پاڅه، ای سړیه په خوب کې هم ستا سندرې دي، پاڅه سبا دی! لمونځ قضا کېږي!... پاڅه!)) (۲٦: ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صیب د ځینو تاریخي اثارو له مخې د یوه ژبني او تاریخي تحلیل په ترڅ کې (پښتو او پښتونولي) تشریح کوي او هغه ځوک چې له دې محتوا څخه زیات معلومات نه لري، هغو ته ګټور معلومات وړاندې کوي، پښتو او پښتونولي، د پښتون د پېژندګلوۍ نښه ګڼي او د پښتنو د ژوند لار. استاد په دې لیکنه کې د ژبپوهنې او فلالوژۍ د علم له مخې د پښتو، پښت او پکت تاریخي ریښه هم څېړي او هغه مورخان چې دا کلمه یې په خپلو اثارو کې کارولې، د هغو یادونه هم کوي او تر هغه وروسته پښتونولي معرفي کوي. هغه په دې باب وایي:

((د پښتو او پښتونولۍ کلمه اوسنۍ نه ده ، له زرګونو کلو څخه چې پښتون ځان د پښتون په حیث پېژندلی دی، نو پښتو او پښتونولي ورسره ده. هر شی علامه لري او د هر شي د شناخت او پېژندګلوۍ لپاره نښې نښانې پیدا شوې دي او د پښتون د پېژندګلوۍ نښه او مارک پښتو او پښتونولي ده.

پښتونولي د پښتو د ګرامر او د ژبې د لیارې په اصطلاح فعلي مصدر یعنې د معنی اسم دی، پښتونولي د پښتون د کلمې نه جوړ شوی لفظ دی. پښتونولي یعنې افغانیت یا د فارسي په تعبیر افغان بودن! پښتون په ګرامري اساس سره صفتي اسم دی.

دا اسم د پښتو له کلمې څخه ساز شوی دی، نو د پښتون معنی شوه (هغه شخص چې پښتو لري او د پښتو خاوند وي) پښتو خو که یو پلو پښتو د ملي ژبې نوم دی، خو له بلې خوا یو جامع لفظ دی او ډېرې معناوې لري چې د غیرت (همت) شرافت او اصالت د عناوینو لاندې راغونډېدای شي. پښتو د ګرامر اصولو په قرار منسوب اسم دی، نو اصل کلمه (پښت) پاته شوه (پښت) د شاه، توکم، نژاد، اصل او قوم په معنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قديمو تاريخي رواياتو کې چې د هيون تانگ چيني زوار او يوناني مورخينو څخه منقول دی، پښت: پکت هم قيد شوی دی چې د يو قوم نوم و. همدارنگه پکتين او پښتين هم پخوانو مورخينو د دغه قوم نوم ياد کړی دی. زموږ د اوسنۍ پښتو په لهجو کې هم چې ځينې و او په (يې) بدلوي، پښتون ته پښتن وايي او همدغه شان د پکتون تلفظ بايد پکتين وکړي، خو داسې معلومېږي چې اصل کلمه (پښت) ده.

پکت د يوناني لهجې په اساس د (پښت) د کلمې متحرف تلفظ يا تحرير ته راجع دی.

د پښت او پکت څخه (پکتيا، پکتيانه او پښتيانا) ظرفي کلمې جوړېږي، نو د پکتيا او پښتيانا معنی شوه، د پښت او پکت قوم د اوسېدو ځای يا وطن او هېواد. د پکت څخه پکتيا کټ مټ په هغه شان جوړېدای شي، لکه د (ار) څخه چې اريانا جوړ شوی. پښت نه هم پښتي پښتيه، پښتيا، پښتيانه او پښتيانا اصولاً او اساساً جوړېدای شي، وگورئ له لودي څخه لوديان د ظرف اسم جوړ شوی دی او همدارنگه خوگيانۍ چې خوگيانه ته منسوب دی، يعنې د خوگيانۍ اوسېدونکی.

اوس مو چې د پښتو او پښتونولۍ په اشتقاق د گرامر او فلالوجي خواوو څخه مجمل بحث وکړ، نو رابه شو دې ته چې پښتونولي په موجوده اصطلاح څه شي ته وايي: لکه د پښتنو ټول کولتور او ثقافت چې تر اوسه پټ او د خاورو لاندې پاته دی.

نو په پښتونولۍ باندې هم تر اوسه په کتابي صورت چا بحث نه و کړی، لومړی کتاب چې په دې باب وليکل شو، هغه د پښتونولۍ په نامه د دې کتاب د ليکونکي لخوا په (۱۲۳۱هـ ش) کال کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي عبدالصمد خان اڅکزي د ورور پښتون رییس د پښتو میاشتنۍ مجلې په ۹-۱۰ ګڼه کې چې د مارچ اپریل (۱۹۵۴ع) کال له بابته له ګلستان څخه نشر شوې ده، د پښتونولۍ له کتابه اقتباسات کړي دي او خپله اڅکزي خان د پښتونولۍ په باب خورا مدلل او قوي بیان په دغه مجله کې نشر کړی دی. راځئ! چې د ده له خولې د پښتونولۍ شرحه او معنی واورو: (پښتو یا پښتونواله د یو بېل ژواک او ژوند لیاره ده د الیار سرېتوب، روغې، امن، نېکۍ، ازادۍ او مسلمانۍ ته تر اوسنۍ انګرېزي یا یوروپي ژواک یا ژوند تر لار او دود چې خپله دغه خلک یې قانون بولي، زیاته ورته او نژدې ده. پښتنو هر کله د خپل دین په شان په خپل دغه ژوند او ژواک او دغه دود او قانون سرونه ورکړي دي. همدغه شی د اوسني افغانستان د خپلواکۍ سبب دی. د کابل دویم جنګ چې د غازي اکبر خان، غازي عبدالله خان او غازي محمد جانخان په مشرۍ شوی دی، په همدغه پښتونولۍ شوی دی. ښاغلي عبدالصمد خان اڅکزی وایي: د پښتنو جرګه په رښتیا د خلکو له خوا او د خلکو لپاره وه او ده. پښتانه بې له جرګې چې د پښتونولۍ پر اساسونو جوړه شوې وي، نه چلیدلي دي او نه به وچلېږي.

خان وایي:

لنډه دا چې پښتانه او بلوڅ له نورو خلکو څخه جلا او بېل خلک دي، ځکه دوی ځانته ژوند او د ژوند علیحده دود او قانون لري چې نور یې نه لري، ځکه خو پخوانی هند چې پاکستان او بلوڅو ونه مانه، تر دې وروسته هم پښتانه بې پښتو او پښتونولۍ په بل څیز نه شي چلېدلای او نه ورته غاړه ږدي او دا ځکه چې پښتونولي که نور هېڅ هم نه وي د پښتون لپاره تر بل هر دود او قانون ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلي عبدالصمد خان د وینا خلاصه دا ده چې په پښتونولۍ کې د پښتنو د ژوند ټولې خواوې لکه اخلاق، عادات، اجتماعیات، جزایي اصول، د جنګ قوانین، عدلي مسایل، حتی اقتصادیات هم ښودل شوي او فیصله شوي دي.

د پښتنو ولس د پښتونولۍ د قوانینو د تطبیق لپاره ځانته متخصصین او جرګې لري، د پښتونولۍ عمومیات هر پښتون نر او ښځې ته معلوم دي. نو پښتونولي د پښتنو لپاره د ژوند ظابطه او قانون دی. البته دا قانون تر اوسه دپښتنو په منځ کې په روایتي او تعاملي صورت موجود دی او په کتابي رنګ کې یې بابونه او فصول نه دي پیدا کړي، خو د پښتنو د روح سره اغږل شوي دي.)) (۲۳: ۲۲۴-۲۲۵)

ددې ډول لیکنو لیکل خورا ضروري دي، دا لیکنې که له یوې خوا یو ټولنیز قانون تشریح کوي، نو له بلې خوا یو شېر هغو شکاکانو ته ځواب دی چې پښتو او پښتونولۍ یوه ((شیونیستي)) پدیده ګڼي. په داسې حال کې چې پښتونولي یو ټولنیز قانون دی، چې اساس یې پر جرګې، معرکې او مشورې ولاړ دی او پرېکړې یې د اکثریت په خوښه کېږي، د استاد خادم له خوا د داسې مقالو لیکل نه یوازې د خپل وخت یوه اړتیا وه، بلکې د نن او سبا اړتیا هم ده، ځکه زموږ نننی او راتلونکی نسل هم باید د خپل تېر او اوسني ټولنیز قانون له څرنګوالي ښه خبر شي.

خادم صیب تر دې وروسته یو ګام نور هم پورته اخلي او (پښتانه په قران) کې په نوم یوه ځانګړې لیکنه کوي،سره له دې چې دا ټولې لیکنې زیاتې څېړنې او دقت ته اړتیا لري، خو په دې برخه کې د استاد احساس او ملي روحیه د ستاینې وړ ده. هغه په دې لیکنه کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((مولانا ابوالکلام آزاد په خپل یو مشهور تحقیق کې دا خبره په ښه شان سره ثابته کړې ده چې ذوالقرنین هغه چې په قران کې یاد شوی دی (کوروش) دی چې په (۵۱۹-۵۵۹ق م) کې تېر شوی دی. وايي چې د یاجوج او ماجوج (سد) چې په قفقاز کې دی او یاجوج او ماجوج همغه قوم دی چې د قفقاز د تنگي نه هغه پلو ته پراته وو او هر کله یې چې هېڅ مدنیت نه درلود، قران په (لایکادون یفقهون حدیثا) سره یاد کړی دی. دی وايي: ماجوج، ماگوگ منگول او مغول سره نژدې لغات دی چې په دوه نیم زره کالو کې لاندې باندې شوي دي. (کوروش) هخامنشي شاهنشاه دی چې په تورات کې د (دوه ښکري قوچ) په نامه یاد شوی دی.

یشعیا پیغمبر، دی د مشرق د عقاب په صورت ښودلی دی، مولانا وايي: په همدغه دوه لحاظونو سره د کوروش کومه مجسمه چې په پاسارگاد یعنې (مشهد مرغاب) کې پیدا شوې ده، دوه ښکرونه او د عقاب وزرونه لري.

مولانا په دغه تحقیق کې لیکي: د ذوالقرنین دوهم قدم په مشرق الشمس یعنې په هغه ځای کې و چې لمر راخېږي.

هیرودوت اکتزیاس وايي: کوروش د (لیدي) او (بابل) د فتح نه مخکې دغه ځمکې ته مخه وکړه. ځکه دغه ځای کې اغتشاش موجود و. وايي: چې دا خبره د قران سره مطابقت لري(حتی اذا بلغ مطلع الشمس و جدها تطلع علی قوم لم نجعل لهم من دونها سترا) یعنې کوم وخت چې د مشرق انتها ته ورسېد ویې لیدل چې لمر په یو داسې قوم خېږي چې د خپلو ځانونو د ساتلو لپاره د لمر د گرمۍ څخه وسایل نه لري. وايي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا قوم کوچي قبايل وو چې په ښارونو کې نه اوسېدل او طبعاً کورونه او ځايونه يې نه درلودل.**

**مولانا ليکي: چې ښه ! دا قبايل څوک او دا ځمکه کومه ده؟ دی وايي: د يونان د مورخينو له ليکنو څخه معلومېږي چې ښايي دا هماغه د (باکتريا) يا د بلخ قبايل وي.**

**کوم وخت چې موږ نقشې ته گورو، وينو چې بلخ نسبت ايران ته لرې شرق دی، ځکه چې له دغه ځايه غرونه يو وار ارتفاع مومي او لاره بندوي، وايي چې کوروش شرق ته مخه کړه او تر بلخه ورسېد.**

**ښاغلی کهزاد په خپل تاريخ کې ليکي چې پخوا پخوا په بلخ کې د آرين د نورو اقوامو څخه يو قوي او لوی قوم د پښت او پکتين په نامه هم په بلخ کې اوسېدل او دا هماغه پښتانه دي چې د وطن د حمايت او حفاظت لپاره يې دوه نيم زره کاله مخکې د ذوالقرنين سره مقابلې کړې دي چې د قران کريم د نص په اساس هغه وخت  هم کوچيان او مالدار وو او د هغو اولاده اوس هم هماغسې وطن دوسته او حيرت پسنده پوونده دي.**

**تاريخ دا هم ثابتوي چې عقاب د لوی کوروش نښه او د هغه د سترې واکمنۍ د برم علامه ده. وايي چې: کوروش خورا نېک خصاله ستر واکمن و.)) (۲۳: ۴۲۶-۴۲۷)**

**د استاد خادم او نورو ليکوالو دا ډول ليکنې که څه هم د تامل وړ دي، خو دنورو تاريخي پلټنو لپاره زمينه برابروي. استاد خادم کوروش يو خورا نېک خصاله ستر واکمن معرفي کړی دی. خو زموږ ځينې نور ليکوال له هغې جملې څخه پوهاند رشاد بيا د ځينو تاريخي اسنادو له مخې (کوروش) يو ظالم او وينې څښونکی واکمن معرفي کوي او وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مرگ یې هم د یوې پښتنې مېرمنې په لاس ترسره شودی دی. استاد رشاد د (کوروش خوناشام) په نامه یوه وړوکی منظومه هم لري چې د او یایمو لمریزو کلونو پر مهال په پېښور کې چاپ شوې ده.

پورتنۍ منظومه لیکنه که څه هم د یو لړ تاریخي روایاتو پر بنسټ لیکل شوې او یو څه تخیلي رنگ هم لري، خو بیا هم په دې برخه کې نورو تاریخي لیکنو ته د پلټنو او څېړنو انگېزه ورکوي.

استاد خادم په خپلو گڼو لیکنو کې د تاریخ په بهیر کې د پښتنو اتلولي څېړلې او د تاریخي اسنادو له مخې یې د هغو مبارزې ثبت کړې دي، په یوه لیکنه کې یې له سکندر سره د پښتنو مبارزه هم یاده کړې ده. دا لیکنه د تاریخ یوه پاڼه ده چې موږ ته تر میلاد وړاندې په سیمه کې د پښتنو د ثابت موجودیت او د سکندر په شان له یو ستر زورواکي سره د پښتنو مقاومت په گوته کوي. د پردیو پر وړاندې د پښتنو مقاومت یو تاریخي تسلسل لري او دا تسلسل تر ننه رارسېدلی دی. په دې لیکنه کې دا پیغام په ښه ډول افاده شوی دی. خادم صیب په دې لیکنه کې وايي:

((د حضرت مسیح علیه السلام تر میلاد تخمیناً (۳۲۷)کاله پخوا د هخامنشیانو تر زوال وروسته یوناني سکندر د هندوستان د نیولو په غرض د پښتنو په ځمکه حمله وکړه، خو دمخه تر دې چې هندوستان ته ورشي، افغانستان او پښتونستان کې د داسې سختو مقاومتو سره مخامخ شو چې څو کاله د ده ټول لښکر د پښتنو په غرو او رغو کې حصار و او دی پخپله دوه واره د پښتنو له لاسه ټپي شو.

د (۳۲۷ قبل المیلاد) په پسرلي؛ هغه وخت چې سکندر د هندوکش د شمال له خوا د هندوکش جنوبي خوا ته حرکت کاوه د ده عکسر یو سل او شل زره پلي او پنځلس زره سپاره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خاواک د کوتل له لارې په لسو ورځو کې د پروان هغې نظامي کلا ته راورسېد چې دوه کاله یې دمخه جوړه کړې وه. د هغه ځای حاکم یې معزول کړ او له خپلې خوا یې حاکم وټاکه او هم یې خپل څه ستړي عسکر هلته پرېښودل او پخپله د ((نیکایا)) د ښار خوا ته روان شو. د نیکایا د ښار اصلي موقعیت ښه معلوم نه دی، خو پروفیسر (ولسن) هغه د بگرام په شاوخوا کې بولي او (ونسنټ سمت) یې د جلال اباد د لمر لوېدو خوا ته د کابل او هند په لاره کې گڼي. کوم وخت چې سکندر د نیکایا ښار ته ورسېد، هلته یې واورېدل چې ځینې آریایي قبایل د کونړ، اسمار، باجوړ سوات او نورو غرونو په غرنیو کلاگانو کې اوسېږي.

سکندر ته دا هم وویل شول چې دا خلک تر اوسه د هېچا او هېڅ قوت تابع شوي نه دي او ازاد ژوندون کوي، ځکه نو سکندر دا عزم وکړ چې دا غرونه فتح کړي.

خپل لښکر یې په دوه برخو ووېشه، یوه برخه لښکر یې د ځان سره وساته او بله برخه لښکر یې د دوه لویو او مشهورو یوناني مشرانو (هفستیون) او (پردیگاس) تر قوماندانۍ لاندې وټاکل چې د (تکسیلا) د شهزاده په لارښوونه د (پوکي لاوتیس) د منطقې خوا ته لاړ شي چې هلته پر اباسین باندې د لښکرو د تېرېدو د پاره پل جوړ کړي.

دی په خپله د خپل لښکر سره د لغمان او کونړونو د نیولو په غرض هغې خوا ته وخوځېد، خو څومره چې دی پر مخ تلو په هماغه اندازه د پښتنو له مقاومت سره مخ کېده.

د کونړ د سیند پر غاړه یې ډېر تلفات ورکړل او سره د دې چې له سکندر سره د ټول یونان او نورو مفتوحه ملکونو مجهز لښکر بېخي ډېر و، خو بیا هم د هغه ځای ننگیالیو پښتنو ډېر وځنډاوه او ډېر مشکلات یې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړل، حتی چې د یوې کلا د محاصرې په وخت کې پخپله سکندر په اوږه باندې ټپي شو چې دا د سکندر بطلیموس د لاکوس زوی، اولو ناتوس د سکندر دوه لوی منصبداران هم ټپیان شول، سکندر د سخت سرو پښتنو له دې مقاومت څخه سخت عصبي او په غضب شو، امر یې وکړ چې د پښتنو ټول بندیان چې د یونانیانو په لاس کېوتي دي، هغه دې ټول تر تېغ تېر کړي چې په دې امر یې د پښتنو ټول بېگناه بندیان په ډېر وحشت سره ووژل، خو بیا یې هم ونشو کولای چې د پښتنو جنگي کلا ونیسي څو په پای کې سکندر خپل ټول قوت سره یو ځای کړ او کلا یې محاصره کړه او ډېر سخت خونړی جنگ یې شروع کړ. هر کله چې دپښتنو جنگیالو شمېر ښځي لږ و او هم محاصره ورباندې ډېره تنگه شوې وه، دوی مجبور شول هغه کلا یې تخلیه کړه خو بیا یې هم ځانونه متجاوزینو ته تسلیم نه کړل او د غرو سرونو ته وختل، مگر سکندر دومره په غضب شوی و چې د هغې کلا یوه تیږه یې هم پر ځای پرې نه ښودله، له بېخه یې ونړوله او لوټې لوټې یې کړه او هم هر څوک چې یې پښتون لیده که بوډا و که ماشوم که نر او که ښځه، ټول یې په ډېر بې رحمۍ او ظالمانه ډول وژل. له دې نه وروسته سکندر خپل څه لښکر د (کراسروس) په قوماندانۍ د کونړ په دره کې پرېښود او پخپله د (سوات) د سیند په غاړه رهي شو، د هغه ځای پښتنو چې د سکندر د راتگ واورېدل خپل ښار ته یې اور واچاوه او پخپله په دې غرض چې د دښمن په لاس ورنه شي غرونو ته وختل. تر هغه وروسته سکندر د اسمار له لارې د باجوړ او جندول د پښتنو سره لاس او گرېوان شو.

سره د دې چې د سکندر عسکري قوت ډېر زیات وو، خو بیا هم پښتنو د خپلې ازادۍ ساتلو لپاره لاس په لاس خورا سخت جنگونه ورسره وکړل چې په دې جنگوو کې د پښتنو یو ننگیالی مشر هم مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مؤرخین لیکي چې سکندر په دې جنګونو کې څلوېښت زره سړي بندیان کړل او دوه لکه او ډېرش زره غوايي يې په غنيمت ونيول او څنګه چې هغه وخت پښتونستان ډېر ښه څاروي درلودل، خصوصاً غواوې، نو سکندر امر وکړ چې څو غواوې دې د نسلګیرۍ لپاره یونان ته واستولې شي.**

**سکندر تر ډېرو جنګونو وروسته باجوړ قبضه کړ او د پسرلي په وخت د (کوريوس) تر رودخانې چې اوس يې (پنجکوړه) بولي پوريوت او د کوز سوات په دره کې بيا د هغه ځای د غښتلو او ننګياليو اوسېدونکو د سختو مقاومتو سره مخامخ شو.**

**(آرين) مورخ ليکي چې د هغه ځای اوسېدونکو دوه زره سپاره او تر دېرشو زرو زيات پلي جنګيالي مېړونه او دېرش پيلان د جګړې ډګر ته حاضر کړي وو.)) (۲۳: ۴۷۸- ۴۷۹)**

**پورتنۍ ليکنه له تاريخي شواهدو، اسنادو، رواياتو، حکاياتو او ملي احساساتو جوړه يوه ليکنه ده، خو په دې کې ګڼ شمېر پيغامونه پراته دي. په سيمه کې د پښتنو دايمي شتوالی، له سکندر سره د جګړو رښتينوالی او د پښتنو سايکالوجيک جوړښت چې تر ننه پورې په کې د پرديو پر وړاندې کوم تغير نه دی راغلی. دا ليکنه پر دې سيمه د پښتنو تاريخي وراثت او حاکميت ثابتوي او هغو کسانو ته چې پر پښتنو ډول ډول تورونه پورې کوي، هغو ته هم يو تاريخي او منطقي ځواب ګڼل کېدی شي.**

**(د پښتو د لرغوني تاريخ يو فصل) په نامه په يوه بله ليکنه کې هم د پښتنو پر لرغوني تاريخ، د هغوی پر سياسي جغرافيا او اتلوليو رڼا اچوي. دا ليکنه هم دکورنيو او بهرنيو سرچينو پر بنسټ ليکل شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صيب په يوه بله تحليلي او تاريخي ليکنه کې پښتانه او د هغوی تاريخي ټاټوبی معرفي کوي، خادم صيب په (موږ څوک يو؟!) ليکنه کې هم دا ډول مسايل تشريح کوي، استاد خادم په دې ليکنه د پښتنو د استوګنې پر جغرافيايي موقعيتونو، تاريخي نومونو او بېلابېلو دودونو رڼا اچوي.

هغه په دې ليکنه کې وايي:

((موږ هغه قوم او نژاد يو چې د ايشيا په منځ کې ژوند کوو، زموږ وطن له امو تر اباسينده او له چتراله تر بلوچستانه او د عربو د دريا ګوټې پورې وسعت لري، په دې وطن کې زموږ پلرونه او اسلاف زرګونه کلونه کېږي چې تولد شوي، لوی شوي او خاورې شوي دي.

دا ځمکه چې بهترينه هوا او رنګارنګ مېوې، نعمتونه او هر قسم پيدا وار او معادن لري؛ دلته چې خروشان سيندونه، قوي ابشارونه، لوړ غرونه، شنې جلګې او مزارع موجود دي او د قدرت په شاهکار يو ښايسته ده، (لويه پښتونخوا)، (اريانا، (پښتيانه) يا (طبيعي افغانستان) بولي.

د زرګونو کلو څخه دا وطن زموږ دی او په دې ځمکه کې زموږ تاريخ، زموږ روايات او مفاخر او زموږ ابدات چې زموږ د قومي حيات اسناد او زموږ د اجتماعي ژوند د بناء ستنې بلل کېږي؛ پراته دي، د دې ځمکې موږ وارثان يو؛ دا ځمکه موږ ته خدای (ج) راکړې ده او موږ په کې د استوګنې او واک حق لرو، زموږ تربيه او مورثي اخلاق موږ ته دا وايي چې دا ځمکه اباده کړو، په خپله خوښه مو څنګه چې رضا وي؛ هغسې اداري او قوانين په کې قايم او جاري کړو، دا زموږ وظيفه ده چې دا ځمکه د هر متعرض له يرغله او د هر داړه مار له چپاوه وساتو، موږ په دې ځمکه کې مختلفې دورې تېرې کړي دي، مختلف تهذيبونه مو پاللي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زاړه کړي دي، ډېر خلک راغلي او موږ سره یې کور-کلی شروع کړی او وروړگلوي یې راسره منلې او په موږ کې پاتې شوي او له موږ سره یو شوي دي، موږ په پښتو او فارسي خبرې کوو او دپښتونولۍ او افغانیت وینه مو په رگونو کې زغلي، موږ د دنیا ټولو قومونو مخصوصاً د همسایه گانو سره خاص بیا په دې مدني عصر کې په صلح او ارامۍ ژوند کول غواړو، زموږ د بابا ادم له اولاد سره ورانه نه شته.

ټول راباندې گران دي؛ خو خپل قوم او عزیزان راباندې تر هر چا دمخه حق لري چې په مینه او محبت ورسره ژوند وکړو او د حق د راگرځولو او اثباتولو لپاره ورسره د هر ظالم او متجاوز په مقابل کې د دوی په خوا ودرېږو او د حیات په قیمت یې وگټو او خاص بیا په هغه وخت کې چې زموږ قوم او عزیزان د ظالمانو له ظلمه څخه چغې او سورې وهي او له مونږه کومک غواړي؛ ځکه که دا ونه کړو؛ نو ژوندی قوم نه حسابېږو.

نو موږ څوک یو؟! حقیقت دا دی چې موږ (پښتانه) یو، که څه هم اوس موږ ځان ته (افغانان) وایو او خلکو په موږ د (پټان) یا نورو نومونو اطلاق کړی دی او زموږ طبیعي ملک او خاوره دغه ده چې پورته وښودل شوه، پښتانه د خپل طبیعي وطن په یوه څنډه کې د ازاد پښتونستان جوړول غواړي، د دنیا هېڅ قوت به ونه کړای شي چې پښتانه د پښتونستان له جوړولو منصرف کاندي؛ ځکه دا هېڅ امکان نه لري چې پښتانه د خپل وطن خاوره بل چا ته پرېږدي؛ یا په خپله خاوره بې له پښتونستان نه بل نوم ومني.

پښتانه که په خپلو دننه معاملو کې هر قسم ژوند او اداره خوښوي؛ دا د دوی خپل کار دی؛ مگر د دنیا په سیاسیاتو کې دا ټول شل میلیونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو (پښتون) دی، د دغه (لوی پښتون) د ازادۍ، استقلال حریت او حق لپاره مجادله د هر فرد وظیفه ده.

د دغې ارزو لپاره د هر پښتون زړه ناکراره دی، که څه هم په امریکا، هند، روسیه، اروپا او جاپان کې اوسېږي دا هغه کېدونکی کار دی چې د دنیا لوی لوی سیاست دانان ور نه غافل پاتې شوي دي او دې غفلت د دوی په سیاست کې لویه خامي پیدا کړې ده او کېدونکی کار اخر کېږي.)) (۲۳: ۴۹۹ - ۵۰۰)

پر تاریخي ویاړونو او دودونو د ویاړ ترڅنګ د دې لیکنې بل اصلي پیغام پر اینده باندې پوره باور دی. لیکوال دا په ډاګه کوي چې که اوس هر څومره ستونزې شته، خو پښتانه د خپل لوی ارمان (لوی پښتونستان) له جوړېدو څخه تېرېدونکي نه دي او اخر به دې ارمان ته رسېږي.

د پښتنو او پښتونولۍ په باب د استاد خادم پر پورتنیو لیکنو سربېره نورې لیکنې هم شته چې پر همدې موضوع راڅرخي، چې د دې بحث د زیات اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږم، خو پر نثري لیکنو سربېره د استاد خادم په نظمي کلام کې هم ګڼ شمېر داسې نظمونه شته چې پر یادې موضوع راڅرخي دی د (دعا) په نظم کې د خدای (ج) له درباره هیله کوي چې خدایه پښتانه د نظام خاوندان او ښه نظام ورته په برخه کړې.

خدایـــه پښـــتنو لـــره ورکـــړې، ښـــه نظـــام
دغـــه دعـــا زمـــا - کـــړم یـــې صـــبح و شـــام
یا حق د پښتون نه شته یا نه شته پښتون چېرې
دی پـــه ازادۍ کـــې اوس څلـــه دی غـــلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په (اتحاد مشرقي) کې د استاد خادم صیب لومړی چاپ شوی نظم هم پښتنو ته وقف شوی، دا نظم (شه بیدار پښتونه!) نومېږي، د سر بیت یې دا دی:**

نن د غفلت د خوبه پاڅه شه بیدار پښتونه
د ترقۍ په لار روان شه مه کړه وار پښتونه

**د (نارینتوب) په نامه نظم کې هم خادم صیب د پښتنو ځانګړنو ته نغوته کوي، د هغوی غیرت او ممیزات ستایي، پر هغو ویاړ کوي. دا نظم د خادم صیب د ډېرو نامتو او مطرحو نظمونو له جملې څخه دی چې د تعلیمي نصاب په پښتو قرائت کتاب کې هم خپور شوی و. خادم صیب په دې نظم کې وایي:**

((زه پښتون یم، زما کار دی نارینتوب
راښودلی مورو پلار دی نارینتوب
توره، سپر، توپ و ټوپک زما ګاڼه ده
بس زما ډول سینګار دی نارینتوب
نر یم زه نر مې بابا نر مې دادا وو
نارینه لره په کار دی نارینتوب
چې د ظلم زغرې وړي له یو ګذاره
هغه تېغ جوهردار دی نارینتوب
پرې تېر شوی یم، همېش له مال و سره
میراث زما د پلار دی نارینتوب
په فیشن و په خبرو خه کار نه شي
چې د چاشي ورنه ډار دی نارینتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلـــم ښــه دی هنـــر ښـــه دی علـــم ښـــه دی
خـــو پـــه ټولـــو کـــې ســـردار دی نـــارينتوب
چـــې اســـانه ورتـــه فتحـــه د خيبـــر ده
خـــدا يږو هغـــه ذوالفقـــار دی نـــارينتوب
قلـــم هلـــه کـــړي خبـــرې چـــې خبـــر شـــي
چـــې تـــر شـــايې مـــددګار دی نـــارينتوب
د وطـــن ګـــل چـــې ســـاتي لـــه هـــر خزانـــه
خدايـــه څـــه ښايســـته بهـــار دی نـــارينتوب
اخســـته وارړه حقـــوق پـــه نـــارينتوب شـــي
دغـــه شـــانې پـــر اســـرار دی نـــارينتوب
پـــرې ښايســـته بـــاغ د شـــرف و د ايمـــان دی
د دښـــمن د ســـترګو خـــار دی نـــارينتوب
هـــيڅ ســـر ســـر د اســـتبداد پـــرې اثـــر نـــه کـــا
هميشـــه تـــازه ګلـــزار دی نـــارينتوب
وربـــه يـــې نـــه کړمـــه لـــه لاســـه چـــې ژونـــدی يـــم
مـــا ګټلـــی ډېـــر پـــه زيـــار دی نـــارينتوب
د (خـــادم) دغـــه ســـبق د نـــارينتوب دی
ښـــه يـــې زده کـــړه مـــزه دار دی نـــارينتوب.))
(۱۲: ۱۰۲)

**استاد خادم په خپله یوه څلوریزه کې د انګریزانو ماتې ته اشاره کوي، سره له دې چې پر ماتې خوښ برېښي خو وايي چې دا ماته هم پښتنو ته په یو فساد او غټ زیان بدله شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



انگرېز غمجن شو، چې دلته مات شو - دافتحه نه وه، مونږ ته پسات شو په مغولواله کې قام ژونـــــــــدی و - چې انگرېز لاړو پښتون میرات شو.

بیا د انگرېز چل ول ته نغوته کوي، وایي چې کله انگرېزانو پر پښتنو باندې یرغل کاوه، نو دا مهال د پښتنو پر ژبه، کلتور او کمرزوریو نه و خبر، نو ځکه یې ماته هم وخوړه، خو کله چې د پښتنو پر ژبه او کتلور پوه شول، نو بیا یې پښتنو ته چلوټه جوړه کړه:

پرنگـــي چـــې پـــه پښـــتون بانـــدې یرغـــل کـــړ
خپـــل عســـکر یـــې د پښـــتون پـــه ســیمه دل کـــړ
دی هغـــه وخـــت پـــه پښـــتو ژبـــه نـــادان و
خو چې پوه شـو، نـو پښـتون تـه یـې ساز چل کـړ.

په یوه بله څلوریزه کې بیا له انگرېزانو سره د پښتنو د دښمنۍ په باب وایي، چې دا د څو کسو دښمني نه ده، د ټول قوم او ټولې پښتونخوا دښمني ده.

لـــه انگرېـــز پـــاتې، د پښـــتنو دښـــمني
د لـــــوی ټبـــــر د پرگنـــــو دښـــــمني
اوس یـــو څـــو کســـو، پـــه ذمـــه اخیســـتې
د پښـــــتونخوا د مېړنیـــــو دښـــــمني.

خادم د نورو پښتنو شاعرانو په شان د پښتنو یوې دایمي ناروغۍ (قومي تفرقې) ته هم نغوته کړې، دا هغه ناروغي ده چې د نري رنځ حیثیت لري او پښتانه یې ټول کړولي او شا ته پرې ایښي دي. هغه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښــتون چـې ببـل شــو، افغـان چـې ببـل شــو
جــوړ پــه وطــن کــې یــو تبــل ماتېــل شــو
امریـــــالیزم، همـــــــدا غوښـــــــتله
ازاد افغــــان پـــه اســــانه ښـــکېل شـــو

استاد خادم نه یوازې هېواد مېشتو پښتنو ته غمجن دی، د هغوی پر حال ژاړي، د هند د پښتنو غم هم څورولی او کړولی دی، استاد خادم یو قوم په ژبه ژوندی ګڼي او چې ژبه یې ختمه شوه، قوم خپله ختمېږي. هغه د هند پښتنو په باب وایي:

پـــه هندوســـتان کـــې پنځـــوس میلیونـــه
پښـــتانه محـــوه شـــول پـــس لـــه یونـــه
نومونـــه یـــې شـــته دي، پښـــتانه نـــه شـــته
پښـــتو چـــې لاړه، ورک شـــوه قومونـــه.

چېرته چې پښتون پروت دی او د محوه کېدو له خطر سره مخامخ دی، نو استاد خادم ورته څورېدلی او هغه حالت یې په نظم کې انځور کړی دی، هغه په خپله یوه څلوریزه کې (د ایران پښتانه) هم یادوي، وایي:

کـــورد او بلـــوخ او پارتیـــان څـــه شـــول؟
چـــې هضـــم نـــه شـــول هوتکیـــان څـــه شـــول؟
لـــړ څـــه خـــو فکـــر، دخراســـان کـــړه
ســـوچه قومونـــه، افغانـــان څـــه شـــول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا له پښتنو مشر څخه هم ګیله کوي چې په پښتنو سوداګري کوي، دلته یې د کوزې پښتونخوا کوم پښتون مشر ته نغوته ده، هغه دې ډول (پښتون لیډر ته!) په خطاب کوي او ورته وایي:**

اول دې ومانـــــــه، قـــــانون لیـــــډره
بیـــا دې ورتېـــل واهـــه پښـــتون لیـــډره
پښـــتو دې پرېښـــوده، بوتـــو د پـــاره
اوس راشـــه څـــه کـــوې لمســـون لیـــډره.

**استاد خادم د انګرېزانو او پښتنو د تاریخي دښمنۍ پر بنسټ یو ځل بیا (انګرېز او پښتون) سره پرتله کوي او تر دې عنوان لاندې په یوه څلوریزه کې وایي:**

چـې انګرېـز پـه جهـان وي پښـتون بـه نـه وي
تښــتېدلی دا بنـــده دی لـــه ســـرکاره
پـرې یـې بنـدې تـولې لارې د ژونـدون کـړې
پـه هـر خـوا چـې ځغلـي نشـته چېـرې لاره.

**خادم صیب د (بلا وهلي پښتانه) په نامه یوه څلوریزه کې له پښتنو څخه هم ګیله کوي چې څه بلا وهلي یاست چې ځای پر ځای ناست یاست، نورې نړۍ پرمختګ وکړ، تاسې نه ځان پېژنۍ او نه نړۍ، نورې نړۍ ځان او ورپسې جهان وپېژندل، خو تاسې نه ځان پېژنئ او نه نړۍ.**

هــر څــوک پــه ځــان پســې جهــان پېژنــي
پــه ژوندانــه کــې ســود او زیــان پېژنــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څــــه بـــلا شـــوه پـــه پښـــتون نازلـــه
چـــې نـــه خپـــل ځـــان او نـــه جهـــان پېژنـــي.

بيا (د پښتون تاريخ) ته نهيلى دى، پر هغه ځورېږي، د دښمنانو له چل ول څخه خفه دى او د پښتنو راتلونکي ته فکر وړى دى:

اوس ښـــه پـــوه شـــوم د پښـــتون تـــاريخ ورکېـــږي
ای پښـــتونه ســـتا پـــه حـــال مـــې زړه ځـــورېږي
دښـــمنانو راتـــه خپـــل هـــم دښـــمنان کـــړل
لا بـــه څنګـــه پـــه دې کـــار څـــوک نـــه پـــوهېږي.

استاد خادم د پښتنو سرو مال ته هم فکر وړى او وايي چې کله يې مشران (ماکياولي) ځانګړنې ولري، نو د دوی سر او مال ته خطر دى، له لويه خدايه هيله کوي چې په داسې يو حالت کې د (پښتون مال) ته خير پېښ کړي.

ماکياوليســـت چـــې ليـــډر، واکـــوال شـــي
ژونـــــد و ملـــــت تـــــه واړه وبـــــال شـــــي
الهـــي خيـــر کـــړې قـــام د پښـــتون تـــه
پـــرې نـــه پـــوهېږو څـــه بـــه يـــې مـــال شـــي.

استاد خادم د (پلان) په نامه يوه څلوريزه کې هغه رنځ ته اشاره کوي، چې پښتون هم کله کابل ته راشي، نو د کابل په چاپېريال کې خپله ژبه پرېږدي، ژبه يې هېره او تېره شي او په ژبني لحاظ محوه شي، خادم دا يو پلان ګڼي او په دې خبره ډېر ځورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که څه هم څو لسيزې پخوا کابل په همداسې يو حالت کې و، خو اوس کابل نه يوازې د پښتنو د قبرستان حيثيت نه لري، بلکې کابل د پښتو ژبې او ادبياتو د ودې يوه حوزه هم ګڼل کېدی شي.**

رښـــتيا چـــې مـــړ شـــو، پښـــتون کابـــل کـــې
دا جـــــوړه شـــــوې وه پـــــه اول کـــــې
يـــو بـــدل نـــوم هـــم چـــا ورپـــرې نـــه ښـــود
پـــلان تکميـــل شـــو، اوس ســـل پـــه ســـل کـــې.

**خادم د (ټيټ شو پښتون) په نامه يوه څلوريزه کې، د پښتنو يو بل رنځ ته نغوته کوي او هغه رنځ دا دی چې پښتون مشر نه مني، د پښتنو دا مرض د خادم صيب تر زمانې پخوا هم و، د هغه په زمانه کې هم، اوس هم دی او ګانده کې هم د دې اټکل شته.**

ټيـــټ شـــو پښـــتون او لا ټيټېـــږي بـــه نـــور
ښـــکته لو بـــدلی دی او لـــو بږي بـــه نـــور
نـــه مشـــر پېژنـــي، نـــه ځـــي ورپســـې
چـــې دا ســـې وي، نـــو دا ســـې کېـــږي بـــه نـــور.

**خادم صيب که له يوې خوا له پښتنو څخه ماښجن دی چې مشري نه مني، نو له بلې خوا (د پښتنو مشر) څخه هم خپلې ګيلې لري او وايي چې زموږ مشران د عزت پر ځای دولت غواړي:**

خلـــک مشـــري کـــوي عـــزت غـــواړي
زمـــوږ چـــې مشـــر شـــي دولـــت غـــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای چــــې ســــودا ده د مشـــري درســــره
قــام دي لـــه تـــا ځنــې خــدمت غـــواړي.

**د پښتنو د ګڼو نیمګړتیاوو تر څنګ خادم صیب د (شلم قرن پښتون) ته یو ځانګړی او مثبت پیغام لري چې په هغه کې د وطن سوکالي او ښېرازي نغښتې ده، هغه (د شلم قرن پښتون) له لیدلوري غږېږي او وایي:**

((کـه زه پښـتون ومـه ، وطـن بـه کـړم بیـدار یـو ځلـې
قـام بـه مـې پـوه کړمـه، د خیـر و شـر پـه چـار یـو ځلـې
رهبـر د اوښـکو چـې کـوم راز پـه نیمـه شـپه را وښـود
د عشـق لـه فیضـه بـه یـې، اخـر کړمـه اظهـار یـو ځلـې
نــه بــه دا تــوره شــپه ظلمــت وي، نــه ژړا د شــمعې
مـات بـه دا سـحر کانـدي، سـترګه د سـهار یـو ځلـې
خلاص بـه لـه جالـه کړمـه، دا طوطیـان د لـوړو څوکـو
شـور د بلبلـو بـه شـی جـوړ، پـه دې ګلـزار یـو ځلـې
پښــتون بــه یــو پــه ورور ولــی، او محبــت ســره شــي
پـه پښـتونخوا بانـدې بـه، بیـا راشـي بهـار یـو ځلـې
نفـاق بــه نــه وي، زور بــه نــه وي، نــاداني ورســره
لکــه د نــاوې بــه وطــن کړمــه، ســینګار یــو ځلــې
آمــو بــه بیــا شــي معتــرف، لــه اباســینده ســره
په (لوی پښتون) باندې به، وکاندي اقـرار یـو ځلـې
د طمعــې طــوق بــه د زلمــو، لــه غــاړې وشــلومه
بیــرې بــه مــاتې، د زلمــو نــه کــړم د ډار یــو ځلــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد یخــواه یــم زه، د بــد رســمونو جیــل نــه یــم
لــه غلامــۍ ځنــې مــې، کــړې دی انکــار یــو ځلــې
پختــه کــار شــوی، د شــلم قــرن پښــتون یمــه زه
ښــه رســېدلی پــه رازونــو، د ژونــدون یمــه زه))
(۱۲: ۳۹۹)

**خادم صیب (د پښتنو تاریخ) پر حال افسوس کوي او وايي چې سیاست او سیاستوالو مسخه کړی دی:**

چـــې مـــې وکتـــو تـــاریخ واړه غلـــط و
خپـــل پـــردي وربانـــدې کـــړی تجـــارت و
د پښـــتون د معاصـــرو لـــوی تـــاریخ ټـــول
اړولـــــی مســـــخ کـــــړی سیاســـــت و
ډېــر افســوس چــې پــه خپــل ځــان او قلــم راغــی
چـــې د علـــم پـــه نـــوم شـــوی پـــرې غـــارت و.

**بیا له پښتنو څخه ګیله کوي:**

ای پښــتو نــه خدایږو چــې ګیلــه مــې شــي لــه تــا نــه
دا ګیلــه مــې څــه ده چــې ګیلــه مــې ده لــه ځانــه
لاړې قــافلې پرلــه پســې او لا ویــده یــې تــه
نــه اورې نغمــې نــه د جــرس نــه لــه ځاروانــه
خوب دی، که غفلت دی که دا مرګ دی نه پوهېږمه
هــېڅ هــم خبــر نــه یــې نــه لــه ځانــه لــه جهانــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او دې سره يو ځل بيا پښتون ته خطاب كوي او هغه ته بلنه وركوي چې د غفلت له خوبه راويښ شه او دغه راز (اينده پښتنو ته) په پيغام كې وايي:**

د استعمار علاج
د استثمار علاج
فقط دا كار دى بس
دا مې اظهار دى بس
نور دى سلام زما
دا دى پيغام زما.

**د پښتنو او پښتونولۍ په باب د استاد خادم په نثر او نظم كې ډېر زيات مطالب بيان شوي، چې موږ ددې بحث په پيل كې ددې ډول نثرونو او نظمونو نومونه ياد كړل. دلته د هغو ټولو ليكل او شنل ددې ليكنې د زيات اوږدوالي سبب گرځي، نو ځكه مو دلته پر همدې يو څو بېلگو بسنه غوره وبلله.**

## ب- پښتانه او پښتونستان:

**لكه څنگه چې مې دمخه په خپل بحث كې وويل؛ د افغان ملتپالنې د يوې اساسي برخې په توگه پښتانه او پښتونولي د استاد خادم د افكارو يو مهم عنصر گڼل كېږي او په دې برخه كې محوري نقش لري، دغسې پښتانه او پښتونستان، هم د افغان ملت د لويې داعيې او د ملتپالنې د يوې اساسي برخې په توگه مطرح دي. خادم صيب د خپلو اثارو او افكارو يوه درنه برخه، پښتو، پښتونولۍ، پښتنو او پښتونستان ته وقف كړې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. زموږ ځینې مطرح لیکوال هم د خادم صیب د فکر او اثارو په باب همدا نظر لري. پوهاند صدیق الله رښتین د استاد خادم په باب وایي: ((خادم د پښتو ژبې یو نومیالی لیکوال او په زړه دردمن شاعر دی، دده ټول درد د پښتو او پښتون له غمه و. په ده کې یې نړدې (اویا) کاله ډېرې چغې او سورې ووهلې. د خادم په اشعارو کې د بیدارۍ، د پښتو او پښتونولۍ، چغې، قومي ترانې، دژوند پیغامونه، انتقادي سکونډاري، د عشق بلبلې او داسې نور مطالب په ښه شان بیان شوي دي.)) (۴۰: ۱۵۱)

رښتیا هم خادم د خپلې لیکوالۍ یوه درنه برخه همدې ارزښتونو ته وقف کړې وه. په پښتو معاصره شاعرۍ کې مرحوم ملنګ جان او بیا استاد قیام الدین خادم هغه شاعران دي چې پښتانه او پښتونستان یې په شاعرۍ کې ډېر زیات ځلیدلي دي. استاد خادم د پښتونستان د خپلواکۍ لپاره ګڼ شمېر لیکنې کړي دي، د پښتنو د حقه حقوقو ملاتړ یې کړی او د پښتنو پر خاوره یې پر وخت د پاکستان مظالم غندلي دي. ده ((د پښتونستان په خاوره کې د دښمن د مداخلاتي رویې پر ضد د ملي جرګې فیصلې)) په نامه په یوه ژورنالیستیکه او تحلیلي لیکنه کړې، استاد په دې لیکنه کې دبهرنیو مداخلو په باب د پښتنو دجرګو درول په باب رڼا اچولې او د پاکستان دمظالمو په باب یې د پښتنو دیووالي څرنګوالی تشریح کړی دی، هغه په دې لیکنه کې وایي:

((له دې ښکاره او څرګند حقیقت څخه هېڅوک حتی هېڅ ولس او قام انکار نه شي کولی چې یو ځل په یوه ملت کې د خپلواکۍ او ازادۍ غوښتلو روحیه او جذبه راژوندۍ شوه او احساسات یې راوپارېدل، هرو مرو د خطر په مقابل کې لکه د زمري په شان مقامت کوي، تر څو چې په خپلو ارزوګانو بریالي شي. خو دغه بریالیتوب او موفقیت په ملي یووالي او وحدت سره لاس ته راتلی شي او په نړۍ کې چې څومره محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونه تر اوسه پورې ازادۍ ته رسېدلي او د خودارادیت د حق په اخیستلو موفق شوي دي، د ملي یووالي، اتحاد او اتفاق په رڼا کې دغه مقصد ته رسېدلي دي. د پښتونستان توریالی ولس تقریباً د اتلسو کالو راپه دې خوا د خپلې ازادۍ او د خودارادیت حق د لاس ته راوړلو د پاره په مجاهده او مبارزه لګیا دی. که څه هم په دې لار کې یې ډېر فشارونه او کړاوونه، زحمتونه او تکلیفونه قیدوبند، مرګ او ژوبله او داسې نور ډول ډول جبرونه لیدلي دي او لاویني یې، خو د خپل دغه مشروع حق او د خاورې د تمامیت د دفاع د پاره یې خپله ملي مجاهده او مبارزه جاري ساتلې ده. په تېره بیا کوم وخت چې د دښمن له خوا د دوی په حقوقو تېری او چارو کې د هغه له خوا مداخله شوې ده، د پښتونستان د بېلو بېلو سیمو عالمان، مشران او نور خلک سره راغونډ شوي او د دښمن د دغې مداخلاتي رویې په مقابل کې یې د قومي او ولسي جرګو او مرکو جوړولو ته اقدام کړی او د رایو په اتفاق یې مفید او ګټور تصمیمونه نیولي دي او دښمن یې دېته نه دی پرې ایښی چې خپل متجاوزانه پلانونه او نقشې د پښتونستان په خاوره کې عملي کاندي. د دغو جرګو په سلسله کې لا د شمالي ازاد پښتونستان نه په رارسېدلو خبرونو کې ویل شوي دي چې په دې وختو کې یوهستره ملي جرګه د عیسی خېلو، برهانخېلو او ترکزو د قبیلو له خوا په (ماین) نومي ځای کې او بله جرګه د شینوارو او صافیو د عالمانو او مشرانو له خوا د ګوردامي ورسک به سیمه کې جوړې شوې وې چې په هغو کې د نوموړو قامونو د عالمانو مشرانو او قومي نمایندګانو له خوا د پښتونستان ازادۍ څخه د دفاع په باب ډېرې مهمې او جذابې ویناوې وشوې او په دې ترڅ کې د ګټورو تصمیمونو په نیولو علاوه د رایو په اتفاق د پښتونستان د خلکو په مقابل کې دپاکستان د حکومت تېری کوونکی سیاست وغندل شو او دغه حکومت ته اخطار ورکړی شو چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې دغې رويې څخه لاس واخلي او که نه د هغې د ناوړو نتيجو مسوليت به د پاکستان د حکومت په غاړه وي. د پښتونستان خلک چې کوم وخت له خطر سره مخامخ شي او دوی د خپلې خاورې په کومې سيموي باندې د تېري او تجاوز احساس وکړي د پښتونستان د بېلو بېلو سيمو ولسونه، قامونه او قبيلې سره راغونډېږي او ټول سره يو لاس کېږي، جرګه او مرکې جوړوي او د تېري کوونکي او دښمن په مقابل کې ملي او قومي فيصلې صادروي او د دغو فيصلو په رڼا کې مفيد او ګټور تجويزونه نيسي. دغه جرګې د پېړيو پېړيو نه راپه دې د پښتونستان په خلکو کې چې د پښتونستان خلک او خاوره دښمنانو له خوا د تېري او تجاوز مورد ګرزېدلې د دغو ملي جرګو او مرکو په رڼا کې يې د غليمانو شومې نقشې او پلانونه شنډ کړي دي او هېڅوک يې نه دي پرې ايښي چې د دوی په خاوره او کورنيو چارو کې لاس ووهي.

نو اوس چې د ازادۍ او خپلواکۍ، د عدالت او مساوات عصر دی او د دنيا اکثر ولسونه او قامونه د خودارادیت مشروع حق ته رسېدلي، بايد چې د پښتونستان خلک هم دغه حق ته ورسېږي. ښه به دا وي چې د پاکستان حکومت د پښتونستان د خلکو د خود ارادیت په حق اعتراف وکړي او هغه ګړي او هغه ګړېږ ته خاتمه وکړي چې له دغې ناحيې څخه موجود دي.)) (۲۴: ۷۶۰-۷٦١)

دا ليکنه که څه هم هغه وخت د يوه ژورناليستيکې خبري ليکنې په توګه نشر شوې، خو اوس يې تر ژورناليستيک اړخه تاريخي ارزښت زيات مطرح دی. اوس چې کله هم څوک دلته د پښتونستان يا د لوی افغانستان د جوړېدو خبره او داعيه مطرح کوي، نو يو شمېر کسان وايي چې لرو پښتنو دپاکستان پر وړاندې نه پخوا مقاومت کړی او نه يې اوس کوي، خو د خادم صيب دا ليکنه موږ ته د خپل وخت يو تاريخي تصوير راتداعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. لکه څنګه چې دمخه مو اشاره وکړه دا لیکنه که څه هم یوه ژورنالیستیکه خبري لیکنه ده، خو د خپل وخت حقایق او د پښتونستان د خلکو مبارزه ترې په ښه ډول څرګندېدلای شي. خادم صیب که په بېلابېلو چاپي رسنیو کې د مسول چلوونکي په توګه دنده تر سره کړې، نو خپل ملي مسولیت یې هم له یا ده نه دی ایستلای. له پښتنو، پښتونستان او نورو ملي مسایلو سره د ده ځانګړې لېوالتیا دی، دېته هڅولی چې له دا ډول ملي او وطني افکارو ډکې لیکنې وکړي او د خپل وخت په چاپي رسنیو کې یې خبرې کړي.

استاد خادم خپلو دې ډول لیکنو ته دوام ورکوي، د پاکستان تر جوړېدو وروسته چې کله هم پاکستان له (کراچۍ) څخه اداره کېده او په اصطلاح هغه یې اداري مرکز و، نو د دې سیاسي مرکز له خوا چې په پښتونستان کې څومره ناوړه مداخلې کېدلې او پښتانه په کې څومره کړېدل، خادم صیب د هغه وخت د حالاتو تصویر کاږلی دی. ((د کراچۍ عمال پر پښتونستان څه لوبې کوي؟)) په نامه یوه لیکنه کې هم دی پر پښتنو باندې د پاکستان د حکومت د مظالمو تصویر کاږي، دی په دې لیکنه کې وایي:

((پښتنو چې کوم وخت په محکوم پښتونستان کې خپل پښتني او افغاني حکومت له لاسه ورکړ، په قسم قسم عذابونو مبتلا شول. دوی عاجزانو په خپل وطن او سیمه کې دکرارۍ ژوند ونه کړ. زموږ په یاد دي چې په لکونو پښتانه د پردو اجانبو د حکومت له لاسه تنګ شول او په یو مخ یې کډې وکړې او خپل کور افغانستان ته راغلل چې له هغوی څخه اوس هم په افغانستان کې اباد فامیلونه پراته دي. په قصه خانه کې پر ګولیو وویشتل شول، مارشالاګانې ورباندې جوړې شوې او مغربي قوانین ورباندې اجباري کړی شول. دا قیصه ډېره زړه او خورا ټېرایجیډي ډرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. پردو دا کارونه دڅه لپاره کول؟ د دې لپاره چې پښتانه دوی ته اورمېږ ټيټ کاندي. مګر پښتون دا کار نه شوای کولای او تر ابده يې هم نه شي کولی، مګر په زور هر څه کېږي.

کراچيوال چې وايي پښتنو پښتونستان پخوا ولې نه غوښت، چې اوس يې غواړي، نو دوی دې پخپله ووايي چې دغه جدوجهد د څه لپاره و؟ د دې لپاره چې د مغرب د سياست شاګردانو ته څوکۍ پيدا شي. د پاکستان له تشکيل نه وروسته پر پښتونستان همداسې ځمکه توده ده، لکه پخوا چې وه، اوس هم همغه لوبه کېږي، لکه پخوا چې کولی شوه، پخوا هم د پښتنو پر ځمکه پردو خلکو اجباري حکومت کاوه او اوس هم همغه د مغرب توپ او ټوپک په زور حکومت کوي. پښتانه د پښتون اسلامي حکومت غواړي او خپلې جرګې، دودونه، خپله ژبه او خپلې حجرې د مغرب له دروغجنې ډيموکراسۍ نه ښې ګڼي، سره د دې چې کراچيوال بيا هغه دروغجنه ډيموکراسي هم نه لري.

د پرنګيانو په وخت کې سرحد چې نن پښتونستان بلل کېږي، په دوو برخو وېشل شوی و، لومړی يې تصفيه شوی او دويم يې نا تصفيه شوی و. کومې برخې چې د پرنګيانو په لاس کې وې او خپل قانون يې ورباندې چلولی و، دا يې تصفيه شوی بللې، مګر کوم چې د دوی په لاس کې نه وې، هغه يې نا تصفيه بللې، اوس کراچيوال غواړي چې نا تصفيه شوې برخې تصفيه کاندي او رسماً يې ډومينيو کې داخلې کاندي، د دې مطلب لپاره بلا پيسې لګېږي چې حساب يې خدای ته معلوم دی. سياست دانان چې وايي د سرحد صوبه خپل مصارف نه پوره کوي، خو وجه يې همدا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم خلک چې له حوادیثو سره دلچسپي لري، هغوی پوهېږي چې پاکستان پر پښتونستان څه لوبې کوي او د څه لپاره؟ هر ځای د مکتبونو او شفاخانو اعلانونه کوي، وايي چې په جم کې مکتب جوړ شو، مصارف يې د حکومت پر غاړه دي. ډېر خلک پوښتنه کوي چې گوندې په پاکستان کې د افغانستان په څېر تعلیم وړیا او مجاني دی، مونږ وايو نه، نو بیا څنگه په پښتونستان کې دمجاني تعلماتو اعلان کېږي.

مگر خلک په دې خبر وو، اوس خلک پوه شوي دي چې دا همغه دام دی چې دا نه يې ښېله ده، د پاکستان مدعا همدا ده چې ناتصفیه شوي مناطق د مکتبونو او شفاخانو په زور تصفیه کاندي. یعنې څه؟ مدعا دا چې له پښتونولۍ يې وباسي او د اغیار په حکومت راضي شي. په دې کې کراچيوالو سهوه کړې ده، دوی نه دي پوه شوي، همغه خدای چې عبدالغفار  خان، ډاکټر خان صاحب، عبدالصمد خان، مرحوم گاندي او اقبال لاهوري يې پیدا کړي چې د استعمار طنابونه يې وشلول. سره له دې چې دوی ټولو انگریزي مکتبونه  لوستي وو، همغه خدای او همغه د پښتونولۍ روح او د ازادۍ خواهش اوس هم په انسانانو او پښتنو کې نه دی مړ.

په دې مکتبونو کې به نور کسان هم پیدا شي چې د استعمار جرړې وباسي، نو دغه وخت کې به د پښتنو ځمکې خالص پښتنو ته پاته شي. کراچيوال نه شي کولای چې د قوم روح ووژني، بلکې دوی به په خپله مړه شي او پښتونستان به ازاد شي. که غربي استعمار اوس په جامعه کې لوبه کوي، نو پښتانه هم په بله لوبه پوه شوي دي او د ازادۍ بله ترانه وايي. ۲۰ میلیونه پښتانه پښتونستان غواړي، نو دا به څنگه قوه وي چې دا ارزو ما ته کړي. نن ۲۰ میلیونه پښتانه او افغانان دا ترانه وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې مـــانع نـــن بیـــرغ د لوړولـــو د افغـــان وي
مـونږ تـه يـو شـان دی، خـارجي کـه پاکسـتان وي

کراچيوال نن مغرورانه لگيا دي او پښتونستان تصفيه کوي. يعنې څه؟ د غلامۍ په زنځيرونو کې به يې راگيروي. لږ پخوا يې هم د دربند رياست په پاکستان کې دا خل کړی و او اوس يې اعلان وکړ چې د امب نواب غټ گورنر صاحب ته عريضه کړې وه او د هغه په امر دامب رياست په پاکستان کې وتړل شو. اوس نو په اصطلاح تصفيه شو، خو د پاکستان حکومت په دې اړه هيڅ اظهارات نه کوي چې دا څنگه داسې وشول چې د دربند او امب نوابانو خپله ځمکه پاکستان ته ورکړه او د خير پر غونډۍ کېناستل، دروغو ته خو لږ پرتوگ په کار وي، خو اوس د دوی خبرې پرتوگ څه شی دی؟

مونږ پوهېږو هغه لوبه چې له دربند او امب سره يې وکړه، د سوات، دير، چترال او نورو سره يې هم په زړه کې ده. مگر نه پوهېږي چې: ((بنده وتړل بارونه، خدای وکړل خپل کارونه)). دا د کراچۍ عمال دي او د پښتنو زړونه وگورئ چې په زړونو کې يې څه شی دی؟ دوی ته هغه بادار او دا بادار هيڅ فرق نه کوي، دوی له سره بادار نه غواړي. د هغې ازادۍ باد غواړي چې په ايران، مصر او ښکته يشيا کې لگېدلی دی. حتماً به پښتانه هم خپل وطن کامل ازاد کاندي، مگر دوی د پښتنو ځمکه بل چا ته ورکوي، نو دغه ضعيف عنصر دغه قوي لقمه نه شي تېرولی، ازاد دې وي ۲۰ میلیونه افغانان.)) (۲۴: ۸۵۰-۸۵۱)

دا ليکنه که څه هم دخپل وخت يوه خبري او ژورناليستيکه ليکنه گڼل کېږي، خو ليکوال ورسره خپل سياسي تحليل او تبصره هم ملگري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. اوس دې لیکنې د یو تاریخي سند بڼه خپله کړې، که څوک غواړي د پاکستان له خوا په چل او فریب او د یوه سستماتیک پلان له لارې د پښتنو سیمو د لاندې کولو مسیر مطالعه کړي، نو دا او دېته ورته لیکنې ورته د یو تاریخي تصویر او سند په توګه کار ورکولای شي. استاد خادم د یوه ژورنالېست په توګه په دې بریالی شوی چې د خپل وخت حساسې ملي موضوعګانې ثبت کړي او راتلونکي نسل ته یې ولېږدوي.

استاد خادم د پاکستان د حکومت له خوا د پښتنو د ځمکو د غصب تر څنګ د پښتنو شخصیتونو د حذف او ځورولو لړۍ هم له یاده نه ده ایستلې، د پښتونستان د خپلواکۍ د مبارزینو په لړ کې د یوې مطرح څېرې (اجمل خټک) د بندي کېدو یادونه کوي، دی د اجمل خټک پر بندي کېدو خواشیني څرګندوي، (اجمل خټک ولې بندي شو؟!) په نامه یوه لیکنه کوي او په دې لیکنه کې د پوښتنې او ځواب په بڼه، چې د یوه زده کوونکي او ښوونکي تر منځ تبادله کېږي، د هغه شخصیت، تفکر او د پاکستان د حکومت مظالم انځوروي. دې لیکنې ته موږ د اجمل خټک په باب د استاد خادم د نظریاتو په برخه کې اشاره کړې ده، نه غواړو بیا تکرار شي. استاد خادم د (پښتونستان) په نامه یوه بله ځانګړې لیکنه هم لري چې دا لیکنه یې هم پر خپل وخت په (اصلاح) ورځپاڼه کې خپره شوې ده. استاد په دې لیکنه کې د پښتونستان موضوع، د پښتونستان مشران او نور مسایل په ښه ډول تشریح کړي دي.

د لیکنې په پیل کې د افغانستان تاریخي موقعیت تشریح کوي او دلته قومي او تاریخي واقعیتونو ته اشاره کوي، بیا د خپلو نیکونو مبارزو ته نغوته کوي، وروسته دمحکوم پښتونستان دمبارزینو حالات څرګندوي، د خان عبدالغفار خان او اجمل خټک د زندانونو داستان بیانوي او د پاکستان دحکومت توطیې بربنډوي، استاد په دې لیکنه کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ځکه خو مونږ نن د دنیا دلویو لویو قوتونو دحسد، غبطې او انتقام هدف واقع شوي یو، نو توکل په خدای: د پښتنو د لویو لویو امپراطوریو او د افغانانو د لویو لویو شهنشاهیو د دوران له تېرېدلو نه وروسته چې غوریان، سوریایان، خلجیان، لودیان، له تختونو پرېوتل او سرونه یې په کفانه کړل، دپښتون پر خاوره د مغولو یرغلونه، د سکانو پتنه او د غربیانو حملې راغلې او د اوبو او پسرلي د تنا په شان تېر شول. په دې عصر کې چې انسان د خپل دماغ د انکشاف او دعلم دتوسیع په واسطه د امن خوا ته مایل لیدل کېږي، نو انسانان په خپلو هغو حقونو چې په پېړیو پېړیو سلب شوي او خوړل شوي وو، نایل کېږي او د حق او ازادۍ نارې په شرق او مغرب کې ډنگول کېږي، د پاکستان ځینې مشران په دې سودا کې دي چې د پښتون بابا د زامنو هغه میراث چې روښان، رحمان بابا، خوشحال خان، جلال الدین، شېخ عمر، عبدالقادر، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، شاه محمود خان غازي او سردار محمد داود خان او داسې نور په دغه ننگ باندې ولاړ وو او خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان او زرگونه پښتانه ورباندې بندونه او محرومیتونه تېروي او جناب میرزاعلي خان د تیرا اپریدي، د خیبر ځوانان، د مهمندو او باجوړ زلمیان، د دیر، سوات او چترال ننگیالي ورباندې جنگېږي، غواړي چې دا ځمکه تر خپلې خېټې لاندې کړي او د پښتنو د خانانو پر ځای د دوی خانان پرې باندې واکمن پاتې شي.

ایا دا ممکنه ده؟ فرض کړو چې د غرب سیاست هم د خپلو اغراضو لپاره د دوی پخوا ورغړي او د دوی ملا ټینگه کړي؟ فرض کړو چې کشمیر مساله حل شي او د کوریا جگړه په سوله بدله شي، هندوچین هم خپلې ستونزې حل کړي، د سویز د کانال په شاوخوا کې هم ډاډ حاصل شي، له ایرانه غربي طنابونه وشلېږي او د پښتونستان ادعا همدغسې د بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکې ورځې د وړاندوینې لپاره وساتله شي او فرض کړو چې د پښتنو ډېر سپین ږیري په بندونو کې مړه شي او ځینې نور دلته او هلته مسافر او در په در پاتې شي او فرض کړو چې پښتانه په لویو لویو مظاهرو، غال مغالونو او په هر ځای او هر محل کې په نطقونو او د دنیا د سیاحینو په راوستلو او د حقیقت په ښودلو موفق نشي؛ نو ایا بیا به هم د پښتنو ځمکه د پاکستان شي؟

نه دا کار کېدونکی نه دی، دا خبره رښتیا ده چې غربیانو ډېره موده پر اسیا حکومت کړی دی او ښایي چې یو څه موده نور هم په مشکله سره دلته پاتې شي، اسیا د اسیاوالو ده، پښتانه به ضرور خپله ځمکه په خپله ولکه کې راولي، دا یوه د افسوس خبره ده چې غربیان په اسیا د حکومت کولو په اسلوب کې له هر چا سره یو قسم گوزاره وکړي، مگر تر هر چا یې له پښتون سره ډېره سختي غوره کړه. شاید چې دا زمونږ د سختۍ د ردالعمل په نتیجه کې وه، خو بیا هم له پښتنو سره د غربیانو دومره سختي ښه نه وه، لکه د پاکستان حکومت چې خپل لاسونه له گرېوانونو ایستلي دي.

حبس، تعرضونه، بمبارۍ، په ژبه مذهب، تهذیب، ادیبانو قیود ایښودل، دا ټول کارونه د پاکستان د واکوالانو له لاسه پر پښتنو وشول، مگر د ۲۰ میلیونو پښتنو همدا ناره ده چې دا ازاد پښتونستان دی.

له پاکستانه مخکې چې په پښتنو دغو کسانو د زور حکومت کاوه، ځانونو ته یې مسلمانان هم ویل، په دغه وخت هم دپښتنو مشران بندیان وو، خو هېڅکله داسې نه دي شوي چې پنځه یا شپږ کاله دې بندیان شوي وي. اوس دا شپږم کال دی چې دپښتنو لوی مشر خان عبدالغفار خان په پاکستان کې بندي دی.د دنیا د ټولو حکومتونو لویو کسانو د خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالغفار خان خلاصون وغوښت او د ده بې گناه او بې محاکمې بند يې يو ظلم وباله، مگر تر اوسه د پاکستان د واکوالانو په زړونو کې په دې اړه د رحم اوبه نه دي تويې شوي. اوس خان عبدالغفار خان د لاهور په شفاخانه کې مريض پروت دی.

مسټر سهراوردي چې د پاکستان د عوامي ليک موسس دی، څو ځلې يې د خان عبدالغفار خان د خلاصون تقاضا وکړه او ويې ويل چې ژر تر ژره دې نوموړی خوشې شي. دی وايي چې زه هېڅ نه يم خبر چې خان ولې بندي شوی دی، ده دا هم وويل: هغه کسان چې مدني ازادي محترمه گڼي، د خان بې محاکمې بند ته په ډېر نفرت گوري. ښاغلي سهراوردي اضافه کړه: د پاکستان دولت بايد پوه شي چې که چېرې بد اتفاق خان عبدالغفار خان ته پېښ شي، نو ممکنه ده چې د پاکستان د حکومت بر عليه عمومي قهر او خواشيني خطرناک صورت غوره کاندي.

همدارنگه د ډهلي د راډيو د وينا له مخې د جناح عوامي ليگ حزب د سرحد د سياسي کارکوونکو په توقيف او د هغو پر بندي کېدو نيوکه کړې ده. د دغه حزب عامه کومېټې تصويب کړې ده او ويلي يې دي چې د سرحد حکومت له بنديانو سره بد سلوک کوي او غوښتنه يې کړې ده چې د دغه حزب ټول سياسي بنديان دې خوشې کړي.

همدارنگه دې کومېټې ويلي دي چې د دغو کسانو د باز خواست په اړه عريضې او حکمونه نه دي لېږل شوي يا د دې عريضو لېږل تر نامعلومې نېټې پورې ځنډېدلي دي. له پېښوره رارسېدلو اطلاعاتو وويل چې د ارباب عبدالغفور خان د خلف هغه عريضې چې دوی غوښتې وې چې له دوی نه دې په محکمه کې بازخواست وشي، رد شوې دي او وويل شول چې دوی د امنيت عامه قانون په اساس توقيف دي. پاکستان ټايمز

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په لاهور کې چاپېږي، فوراً يې د عبدالغفور خان خلاصون وغوښت او ويې ويل: ((خان عبدالغفار خان هند د نيمې قارې د ازادۍ له پېش روانو څخه دی چې اوس په بند کې دی. دغه ورځپاڼې وويل: د خان له لاسه کوم بد کار نه دی شوی چې دی پرې بندي شي، خو د نوموړي کړنو د پاکستان حکومت ته شکونه پيدا کړي وو)).

د جوزا پر (۲۷)مه مسټر غلام محمد خان(اف لونډ خور) د سرحد د ايالت د عوامي ليگ زعيم وويل چې خان اوس د خپل بند په شپږم کال کې دننه شو او ويې ويل چې دا لوموړی سړی دی چې له محاکمې پرته په بند کې ساتل کېږي او بندي کېږي. د دې ترڅنگ يې دا خواهش وکړ چې خان عبدالغفار خان دې ژر تر ژره خوشې شي او دا به هند او پاکستان په ډېرو شخړو کې دحل لاره پيدا شي چې له هغو څخه يوه هم د کشمير مساله ده.

نوموړي وويل چې ما له خان عبدالغفار خان سره ډېرې شپې او ورځې تېرې کړې دي، خان يو وطنپرسته شخص دی او د غدار په حيث د ده بند يو مضحک کار دی. ترجمان د سرحد جريدې د سرحد د ټولو سياسي بنديانو خلاصون، چې خان هم په کې دی غوښتی دی. دې ورځپاڼې ويلي دي: ((د حيرانتيا ځای دی چې هغه کسان چې ټول عمر يې د ازادۍ په لاره کې تېر کړی، نن بنديان دي. د جون د دويمې نېټې اطلاع ده چې په سرحد کې د خان د خلاصون لپاره کار پيل شوی دی.))

د پېښور په عمرزو کې ډېرو خلکو عريضې تيارې کړې چې د پاکستان مشر محمد علي له سفره ببرته راشي، نو دوی به دا عريضې ورته وړاندې کوي. په دې عريضو کې د خان عبدالغفار خان دخلاصون غوښتنه شوې ده. همدارنگه دمصر، عراق، ترکيې، ايران او هند او د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نورو هېوادونو څخه د خان دخلاصون لپاره اوازونه پورته شوي دي، خو د پاکستان مشران يې نه مني. خير دی، هغه وخت چې د مومندو پښتنو د ځينو منصبدارانو برمته شروع کړې وه، بيا يې په بدل کې ۱۲ تنه بنديان ازاد کړل، اوس هم لرې نه ده چې دا کار بيا پيل کړي چې پښتانه له بندونو څخه پرې را ازاد کړي. پښتنو د پرنګيانو په وخت کې پر دې لوبه ډېر کار کړی دی او اوس هم ورباندې ډېر کار کېږي.**

**لنډه دا چې کوم لاس چې د پښتونستان مسالې ته نورې غوټې هم ور اچوي، هغه لاس پټ نه دی، بلکې ټول يې ويني. مغرب به د پښتونستان په مساله کې کوم سياست په نظر کې نيولی وي، خو دا يې هېره شوې ده چې دپښتنو دوستي د منځني شرق په مسايلو کې ډېر دخل لري او د پښتنو ياس به د شرق وسطي پر سياسياتو يو داسې تاثير وکاندي چې بيا به يې تلافي ډېرو خلکو ته ناممکنه وي!)) (۲۴: ۸۸۳-۸۸۵)**

**پورته ليکنه چې څوک يو ځل په دقت سره له نظره تېره کړي، د پښتنو ددا‌عيې يو غمجن داستان تداعي کوي. د دې لويې داعيې لپاره خلکو ډېرې قربانۍ ورکړي، خو اوس چې حالت د پاکستان د نظاميانو په ګټه انګېرل کېږي، دا به بې انصافي وي چې د پښتونستان د مبارزينو اتلولي هېره شي.**

**ددې ليکنې د پوره متن له راوړلو څخه زما هدف دا و چې لوستونکي د پښتونستان د هغه وخت د حالاتو پر څرنګوالي ښه خبر شي او هم د خادم صيب له ملي افکارو څخه چې څنګه دې ملي موضوع ته متوجه و. که خادم صيب په خپل قلم د هغه وخت حالات نه وای ثبت کړي، نو اوس به موږ ته هم دهغو حالاتو څرنګوالی څرګند نه و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد په یوه بله لیکنه کې چې (د پښتونستان نوي زعیمان) نومېږي، د پښتنو دوه ستر مشران (خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان اڅکزی) معرفي کوي، په زندان کې د هغوی پر حالاتو خواشیني څرګندوي او د پاکستان له حکومت څخه غواړي چې هغوی باید ژر تر ژره له زندان څخه راخلاص شي، دې لیکنې ته مو په یو بل بحث کې هم اشاره کړې ده. دغه راز استاد خادم په یوه بله ځانګړې لیکنه کې یو ځل بیا د خان عبدالصمد خان یادونه کوي چې دا مهال دپاکستان په جېل کې شپې تېروي. د دې لیکنې نوم دی: (د پاکستان په جېل کې د بلوچستان د زعیم، خان عبدالصمد خان حالت). په دې لیکنه کې د عبدالصمد خان اڅکزي دهغه لیک متن هم راغلی چې ده له زندانه رسنیو ته لېږلی و او هغه وخت په (اثار) اخبار کې خپور شوی و، لیک کې عبدالصمد خان د خپلې ناروغۍ په باب لیکلي، خو د پاکستان حکومت د هغه له ناروغۍ سره سره هغه په زندان کې ساتلی و. استاد قیام‌الدین خادم نه یوازې د پښتونستان دلویو مشرانو زنداني کېدل غندلي، بلکې د باچا خان د نورو ملګرو او د لارې د لارویانو او نورو دیني او ملي شخصیتونو بندي کېدل یې هم غندلي دي. ده (د محکوم پښتونستان جمعیت العلماء مولانا سید ګل پادشاه)) په نامه یوه لیکنه کړې ده او د دغه عالم نیول کېدل یې محکوم کړي دي. استاد خادم لیکلي:

((مولانا سید ګل پاچا د محکوم پښتونستان د پېښور دضلعې مشهور او فاضل عالم دی او د هغه ځای د جمعیت العلماء د ډلې مشر دی. دا لوی او فاضل شخصیت د خان عبدالغفار له بندي کېدو سره سم په بندیخانه کې اچول شوی دی. د خان عبدالغفار خان دبند دا شپږم کال پوره شو او د پاکستان او هند ټولو سیاسي حزبونو دا خبره په تاسف سره یاده کړه او وې ویل: ((خان)) کله چې له پېښور څخه د کوهاټ خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**روان و، په لاره کې ونیول شو او په بندیخانه کې واچول شو، پلمه یې دا وه چې له فقیر صاحب سره یې لیدل، نوځکه ونیول شو.**

**د هند او پاکستان ملي او سیاسي کسانو دا وویل چې د خان عبدالغفار خان بې محاکمې بند او پر ده باندې د خاین تور د خندا وړ خبره ده. خان عبدالغفار لومړی سړی دی چې د هند او پاکستان د ازادۍ لپاره یې ډېره فداکاري ور کړه او دا ډېره د افسوز خبره ده چې نور خلک ازادۍ ته ورسېدل او دی دې په بندیخانه کې پاتې شي، باید ژر تر ژره خوشې شي او له ده سره نور سیاسي بندیان هم باید ایله کړای شي. ځینې منابع وایي چې خان به تر محمد علي کتنګ نه وړاندې خوشې شي، خو ځینو مطبوعاتو دا وویل چې عبدالقیوم د ده له ایله کېدو سره ډېر مخالف دی.**

**دی وایي چې خان له فقیر صاحب سره جوړ دی، نو کوم وخت به نوموړي ته ضرر ورسوي، خو ښاغلي عبدالقیوم دا خبره نه ده کړې چې خان دې شکمن سړی وي، بلکې د دې لپاره چې که دا خلک له بنده خلاص شي؛ نو د ه ته به ضرر ورسوي. دا ځکه چې عبدالقیوم د پښتونستان له پښتنو سره ډېر بد سلوک کړی دی او دی له خپلو بدو عملونو څخه وېرېږي. دا چې د خان عبدالغفار خان بندي کېدل د عبدالقیوم له وېرې نه دي، خو دا نور علماء چې د هغوی ایډیال او مقصد د اسلام له حمایته نه بل هېڅ نه دي، دوی ولې بندیان دي؟ دا پوښتنه خو د سړي فکر ته راځي، خو چې لږ فکر په کې وشي، نو په اصلي خبره پوهېدل څه مشکل کار نه دی.**

**اصلي خبره دا ده چې پښتانه، سیاسیون او عوام ټول دیني او ټولنیزه ازادي غواړي او دا د پاکستان د واکوالانو لپاره لویه ګناه ده. مولانا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید شاه د پېښور یو مشهور عالم دی، نوموړی له یوې خوا د پښتونولۍ پر اساسونو ټینګه عقیده لري او له بلې د پاکستان د ځمکوالو پر هغو چلونو ښه پوه شوی دی چې باید پاکستان او محکوم پښتونستان یوازې د پاکستان دواکمنانو له اسلامي چغو سره ډېره موده نور هم د غلامۍ او اسارت دوره تېره کړي. نو پر همدې اساس د پښتنو خوشې کېدل د الله تعالی په کړو پورې تعلق لري او په اسانه یې پاکستان نه خوشې کوي او دا ډېر لوی ظلم دی.)) (۲۴: ۹۰۲)

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه عبدالصمد خان اڅکزی د پاکستان د حکومت په جېل کې و او سخت ناروغه و، نو کله چې د پاکستان پر حکومت زیات فشار راغی، نو حکومت مجبور شو هغه له زندان څخه روغتون ته انتقال کړي، استاد خادم په یوه بله لیکنه کې دا حالات هم ثبت کړي دي، د دې لیکنې نوم دی: ((د بلوچستان د وطن حزب مشر عبدالصمد خان له بند نه شفاخانې ته یوړل شو)). خادم صیب په دې لیکنه کې وایي:

((په پښتنو کې خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان او حاجي میرزا علی خان لومړني او لوی مشران دي. د دغو مشرانو پروګرام د پښتنو او پښتونخوا ازادي او د اسلامي شریعت نظام قایمول دي. د دغه مقصد د ترلاسه کولو لپاره دې لویو مشرانو جهاد او کوښښونه کړي دي او دوی له پرنګیانو څخه د مذهب، قوم او خپل وطن ازادي غوښتله او مشکلات یې ګالل. کله چې پاکستان جوړ شو، دا مشران یې په بندیخانو او قیدونو کې واچول، هېڅوک پر دې نه پوهېږي چې دا وطنپال انسانان د بشریت دوستۍ په جرم بندیان دي، نو دوی به خلاص شي او که به د قاضي عطاءالله په څېر د قوم او وطن د ازادۍ په مینه کې خپل سرونه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا درې مشران غیر معروف کسان نه دي، هر څوک یې پېژني. د نړۍ سیاسي خلک به چې راتلل، نو له دوی سره به یې لیدل او هم د دنیا له لرې لرې ځایو څخه وزیرستان ته د فقیر صاحب لیدو ته راځي. فقیر صاحب او خان عبدالصمد خان دواړه باچا خان ته عقیده لري او د وطن د ازادۍ په جهاد کې د دوی پروګرام پلان یو دی او ډېره موده دا لویان په همدې مفاهمه روان وو. خان عبدالغفار خان پر همدې پلمه نیول شوی چې له فقیر صاحب سره یې د ملاقات اراده درلوده. په همدې کال چې خان عبدالغفار خان ونیول شو، نو په کوېټه کې خان عبدالصمد خان او د ده ملګري هم ونیول شول.

دا شپږم کال دی چې خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان په بند کې پراته دي او د دوی پر جایدادونو او اولادونو د ظالمانو له خوا ظلم کېږي او له دغو مذهبي مشرانو سره بې انصافي او بد سلوک کېږي. په ټوله دنیا کې به له خلکو سره دومره ظلم نه وي شوی، لکه دوی چې له دې مشرانو سره وکړ. د دغو درې لویو مشرانو رسوخ له چتراله تر بلوچستانه په پښتونستان پورې غوړېدلی دی. د دوی فیصله د پښتنو په نزد د قطعیت حکم لري. د دنیا هېڅ قانون او هېڅ خوا کې به چا داسې نه وي کړي چې دومره لوی او دومره ډېر کسان بې حرمته کړي. خان عبدالغفار خان خو څو څو ځلې شفاخانو ته یوړل شو او تر عملیاتو پورې ورسېد. اطلاعات وایي چې خان عبدالصمد خان د ډېر بند له امله ناروغ شوی او روغتون ته وړل شوی دی. دې درې ملګرو یو ځای د وطن حزب بنیاد کېښود. له دغو درې کسانو څخه یو هم محمد ایوب خان دی چې نن د پښتونستان د ازادۍ په هیله په افغانستان کې ژوند کوي. پر پښتنو د دغو مشرانو ډېر احترام حق دی چې دوی باید دې کسانو ته ډېر مرحمت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا په یو ډېر رذیل قوم باندې به هم د دنیا یو ډېر زورور او جابر قوم هم داسې لوبې ونه کړي، لکه نن یې چې پاکستاني مشران په شریفو پښتنو کوي او له ټولو څخه خندا او استهزا دا ده چې د پاکستان پروپاګنده منابع بیا لا هم د پښتنو دوستۍ او محبت ته تمه لري. تل نارې وهي چې پښتانه او پاکستانیان سره ورونه دي او د دوی تهذیب، مذهب او ثقافت سره شریک دي، که ورورې د دوی په قول صحیح وي، نو په ورونو خلک داسې کوي چې د کافرو زړه هم ورباندې خوږ شي او ورباندې وژاړي؟ مګر اصله خبره دا ده چې پښتو مذهب سوچه مسلماني ده او د پاکستان واکوالان په ژبه ټینګ ولاړ نه دي؛ ژبه او مذهب خو یې سره دومره لرې دي چې هر څوک پرې پوهېدای شي او پاکستان د نن پښتنو ژبه او تهذیب محوه کول هم غواړي او دغه کوښښ کوي چې ښه نو څنګه به شي دا دوستي؟)) (۲۴: ۹۰۲)

پورتنۍ لیکنه کې موږ ته د پښتنو د سترو مشرانو اوږده مبارزه انځورېږي. موږ ګورو چې په دې ملي مبارزه کې د ټولنې بېلابېل اقشار، سیاستوال، مذهبي مشران او لیکوال ټول سره همغږي دي او د خپل ملي ارمان لپاره په ګډه مبارزه کوي. دا لیکنه په پښتونستان کې د تاریخي پېښو یو ښه تابلو ده چې تاریخ لیکونکو ته پاخه مواد په لاس ورکوي او هر څوک چې د پښتونستان منظم او تفصیلي تاریخ لیکي او د پښتونستان د پېښو کرونولوژي جوړوي، نو دا ډول لیکنې ورته ځکه ډېرې ضروري دي چې دا لیکنې پر خپل وخت  لیکل شوي او هره هغه لیکنه چې پر خپل وخت ولیکل شي، دقیقې ځکه وي چې حوادثو ته نږدې لیکل شوې وي.

پر پورتنیو لیکنو سربېره استاد خادم  د (افغانستان او پښتونستان) په نامه په یوه لیکنه کې د پښتون ولس ځانګړنې تشریح کوي او دا دواړه د یوه وجود دوه غړي ګڼي. د دې ترڅنګ د (ګذارشات مراسم شاندار) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه په یو بل خبري راپور کې په ارګ کې د پښتونستان د ورځې د نمانځنې جریان بیانوي. په دې مراسمو کې د وخت د حکومت پر افغان چارواکو سربېره دپښتونستان مشران هم حاضر وو، وروسته په پښتونستان واټ کې دا ورځ په شاندارو مراسمو سره ونمانځل شوه. استاد خادم دغه راز د پاکستان د بېلابېلو اخبارونو په استناد پر پښتنو مشرانو له شوي ظلم څخه پرده پورته کوي. په دې لړ کې د یوې لیکنې نوم دی ((محکوم پښتونستان کې دپښتنو په مشرانو ظلم)). دا لیکنه هم په اصلاح ورځپاڼه کې چاپ شوې ده. په دې لیکنه هغه مظالم بیان شوي چې د پاکستان د حکومتي چارواکو له خوا پر پښتنو مشرانو ترسره شوي دي.

استاد خادم د پښتونستان داعیه په خپلو لیکنو کې تر دې حده تعقیب کړې چې ان پاکستاني نشرات هم ورڅخه پاتې شوي نه دي، هغه یې هم ګام پر ګام تعقیب کړي، له هغې جملې څخه یې یوه لیکنه ده: ((اعترافات به حقیقت پښتونستان در نشرات پاکستان)) په دې لیکنه کې چې په دري ژبه ده، په پاکستان کې دکراچۍ رادیو او نورو رسنیو په استناد ویل شوي چې د پاکستان حکومت د پښتونستان او همدارنګه بنګالي ژبې له داعیې څخه په وېره کې دی. دوی دا داسې داعیې ګڼي چې دوی به یې یو وخت په کنترول کې پاتې راشي.

استاد خادم په یوه بله لیکنه کې چې هغه هم په اصلاح ورځپاڼه کې خپره شوې ده، (حقیقت پښتونستان قابل توجه دنیای حق پسند) نومېږي. استاد خادم په دې لیکنه د پښتونستان د داعیې پر حقانیت رڼا اچولې، هغه یې تشریح کړې ده او هدف یې دا دی چې دنیا باید دې برحقه داعیې ته پاملرنه وکړي.

په یوه بله لیکنه کې بیا وایي: (اهمیت موضع پشتونستان توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاغلی نکسن را جلب نموده)). د امریکا متحده ایالتونو نوموړي لوړپوړي چارواکي افغانستان ته سفر درلود، د وخت صدر اعظم (سردار محمد داود خان) سره تر ملاقات وروسته چې هغه ورته دپښتونستان موضوع تشریح کړه، نو د هغه پاملرنه یې ځان ته راجلب کړه. په دې لیکنه کې هم دې موضوع ته اشاره شوې ده. د پورته لیکنو ترڅنګ، استاد خادم د (مطالعه پشتونستان بر روی حقایق روشن اتکا دارد، په محکوم پښتونستان کې اغتشاش، دپښتونستان د لیډرانو وظیفه درنه ده، د پښتونستان د هیئت پذیرایي په کندهار کې، د ازادۍ لاس ته راوړلو لپاره د پښتونستان د خلکو مجاهده، د پښتونستان ملي ورځ) او ځینې نورې لیکنې هم لري، په دې ټولو لیکنو کې استاد خادم د پښتونستان داعیه شنلې او واضح کړې ده.**

**د دغو یادو منثورو لیکنو ترڅنګ استاد خادم د خپل منظوم کلام یوه درنه برخه هم د پښتونستان او پښتنو موضوع ته وقف کړې ده. (فخر افغان ته، د جهان زېب په مینه، ولي خان ته، اجمل خټک ته، حمزه شینواري ته) نظمونه یې هم دې موضوع ته وقف شوي چې موږ ورته په خپل ځای اشاره کړې ده. پر دې یادو نظمونو سربېره استاد خادم دې موضوع ته ځینې څلوریزې او قطعې هم ځانګړې کړې دي:**

**(د پښتونخوا مجادله) په نامه یوه څلوریزه کې د پښتونخوا د خلکو مبارزې او راتلونکې هیله منتیا ته نغوته کوي:**

په پښتونخوا کې مجادله ده
د هر یو ظلم او تېري سره ده
فتح په خوا به د لوی افغان وي
سبا راتلونکی دی، نن توره شپه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه بله ځلوریزه (پښتون په اسلامیزم او نشنلیزم کې) د پښتنو دریځ ته اشاره کوي او وایي:

په اسلامیزم کې پښتون برو
په اشیا کې لکه رهبرو
چې نشنلیزم بیرغ او چت کړ
دی له جهانه، نه ناخبرو.

استاد خادم د پښتنو د ناکامۍ بېلابېلې علتونه څېړل دي، په یوه بله ځلوریزه کې بیا هم یو علت ته اشاره کوي:

انګرېز جوړ کړی قوي ملت و
مظبوط په نظم، د خپل دولت و
پښتون غافل و، له نوي عصره
د ناکامۍ مو دغه علت و.

او همدارنګه ګڼ شمېر نورې ځلوریزې او نظمونه چې همدې موضوع ته وقف شوي او ددې لیکنې د زیات اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږو او یوازې پر همغو نومونو یې بسنه کوو چې د دې لیکنې په پیل کې مو ورته نغوته کړې ده.

## ج- افغان او افغانیت:

افغان او افغانیت د استاد خادم د فکر اساسي او تر ټولو مرکزي محتوا جوړوي. د دې موضوع دوه برخې مو دمخه یادې کړې. پښتانه او پښتونولي، پښتانه او پښتونستان، د پښتون نشنلیزم او په ټوله کې د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نشنلیزم یا ملتپالنې دوه اساسي برخې جوړوي. پښتو او پښتونپاله یا ژبپالنه چې د اکثرو ټولنپوهانو په نظر د دې ملتپالنې بله برخه ده، موږ به په خپل ځای کې پرې بحث وکړو، خو اوس راځو، د همدې ملتپالنې دې بلې اساسي برخې ته:**

**افغاني ملتپالنه که څه هم د پېړیو په اوږدو کې یانې د افغانستان د ځو زره کلن تاریخ په بهیر کې په طبیعي ډول زموږ د ولس په ذهن او شعور کې موجوده وه او د همدې عنصر په وسیله یې بهرني خطرونه رفع کول، د افغانستان تېر تاریخ د دې پېښو شاهد دی. له سکندر مقدوني، مغولو، عربو، صفویانو او نورو سره د افغانانو جګړې د دې ادعاوو ثبوت دی. د لاسته راغلو اسنادو له مخې د پښتنو په اکثرو سیاسي مشرانو او فرهنګیانو کې تر بل هر عنصر زیاته د نشنلیزم او ملتپالنې روحیه زیاته مطرح وه. د امیر کروړ ویاړنه د ملتپالنې او ټبرپالنې رنګ لري. د شېخ اسعد سوري په ویرنه کې له محمد سوري سره د خواخوږۍ تر ټولو غټ عنصر، ملتپالنه ده. د ښکارندوی غوري قصیده هم پر هند باندې د یوه افغان شاهنشاه (سلطان شهاب الدین غوري) د برید او فتوحاتو په ترڅ کې د دینپالنې او ملتپالنې تصویر کاږي. د خلیل خان نیازي رباعي هم له خپل مشر سره د ملتپالنې د روحیې رنګ لري. د مغلو پر وړاندې د بابا هوتک سندره پر ملي احساساتو ولاړه ده، د شېرشاه سوري د مبارزې نیت د خپلو نیکونو د تاریخ بیا راژوندي کول، پښتونولي او افغانیت و. د روښانیانو غورځنګ که څه هم مذهبي رنګ پرې ډېر غالب و، خو د پردیو پر وړاندې د هغو پرله پسې مبارزه ، پر پښتو ژبه د ګڼو اثارو لیکل د ملتپالنې روحیه څرګندوي. خوشال بابا خو بیا په منظم او سستماتیک ډول د افغاني نشنلیزم بزغلی وکاره. د افغان په ننګ یې توره وتړله، له کندهاره تر اټکه یې د ټولو پښتنو د یووالي غږ پورته کړ او د پښتنو یووالی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې داسې یو ارمان وګاڼه چې بیا دې پرې بیا ځوانېدلای شو، خوشال د پښتنو د تېر شان و شوکت د بیا احیا هیله څرګنده کړه او تر پایه پورې د پښتونولۍ او افغانیت پر اساساتو ټینګ ودرېده. خوشال په حقیقت کې په منظم او ستراتیژیک ډول د افغاني نشنلیزم اساسات ورغول او ادبیات یې ددې مفکورې د تبلیغ لپاره د یوې کارنده وسیلې په توګه وکارول، د خوشال د هیلو زړي د میرویس نیکه او د هوتکیانو د ملي دولت په جوړېدو سره زرغون شول او میرویس نیکه پر دې بریالی شو چې د افغانستان په یوه برخه کې د ملي حکومت اساسات ټینګ کړي. احمد شاه بابا دې اساساتو ته لا پراختیا ورکړه او د معاصر افغانستان په جوړېدو سره یې د افغانانو له خوا په سیمه کې د یوې لویې امپراتورۍ زړی زرغون کړ. دې سره نو په ولس کې د ملت او ملتپالنې روحیه پیاوړې شوه او تر هغه وروسته نورو اکثرو افغان شاهانو هم تر خپله وسه دا روحیه وپالـله.
خو نشنلیزم یا د ملتپالنې مفکوره په نړیواله کچه د یوه منظم او سیستماتیک ښوونځي په توګه د نولسمې پېړۍ په بهیر او د شلمې پېړۍ په پیل کې زیاته مطرح شوه. زموږ په هېواد کې هم انګرېزي ښکېلاک ته په دریو پوځي جبهو کې تر ماتې او د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته دا روحیه ډېره پیاوړې شوه. غازي امان الله خان د یو ملي او مترقي دولت بنسټونه جوړ کړل او په لسو کلونو کې په دې برخه کې د پاموړ پرمختګ وشو، که څه هم د حبیب الله کلکاني (سقاو زوی) له خوا په نهه میاشتني اړو دوړو سره دا پرمختګ او ثبات متزلزل شو، خو غازي اعلیحضرت محمد نادر خان او د هغه ملګرو، هېواد بېرته نورمال حالت ته ستون کړ. د اعلیحضرت ظاهر شاه او سردار داود خان په حاکمیت کې ملي افکار په ښه ډول وځلېدل او وروسته بیا هېواد له یو نوي بحران سره مخ شو، چې تر دې دمه لا دوام لري. په دې دومره بهیر کې د ملتپالنې روحیې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مذهبپالنه هم په قوت کې روانه وه، ان تر ملتپالنې هم په ډېر قوت کې وه. ځینې ټولنپوهان په دې نظر دي چې افغان ولس د بهرنیو خطرونو د دفعې لپاره دوه ایډیالوژیک بېزونه لري : یو اسلامیت دی او بل ملتپالنه. د اسلامیت اساس پر عقیدې (دین) ولاړ دی او د ملتپالنې اساس پر (افغانیت) او ملي احساس. هر کله چې دا دواړه بنسټونه یا عناصر په هماهنګ ډول کارول شوي، نو افغانانو په ښه ډول افغانستان ساتلای دی. خو کله که له دغو دوو اساسي وسیلو څخه یوه کارېدلې، افغانانو جنګ ګټلی، خو په ډېر قیمت ورته تمام شوی دی. ځینې نور بیا په دې نظر دي چې اسلامیت یا د خادم صیب په اصطلاح (اسلامیزم) زیاتو افغانانو ته تر افغانیت زیات د یوې اساسي دفاعي وسیلې په توګه کار ورکړی دی. دوی د یوې محاسبې له مخې وایي، افغانانو ټول هغه جنګونه چې د اسلام تر راتګ وروسته یې له نامسلمو یرغلګرو سره کړي، تقریباً ټول یې ګټلي  او نږدې اکثره هغه جنګونه یې بایللي چې دوی له مسلمانانو سره کړي دي. د انګرېز او روس جګړې یې له نامسلمو سره غوره مثالونه دي او له مغولو سره جګړې یې له مسلمانانو سره د جګړې څرګند مثالونه. خادم صیب که څه هم د یوه دیني عالم په توګه تر یوه حده پر اسلامیت ټینګار کړی، خو څومره تودوخه چې د افغانیت په باب د ده په افکارو کې موجوده ده، د بلې هېڅ موضوع په باب دا تودوخه هغه حالت ته نه رسېږي.  د اسلامیت په باب د خادم صیب نظریه به په بل عنوان (خادم او دینپالنه) کې وڅېړو، خو اوس راځو خپلې اصلي موضوع؛ خادم او ملتپالنې ته او په هغې کې هم افغانیت ته!

د ملیت، افغان، افغانیت او ملي کلتور په باب خادم صیب په لسګونو لیکنې کړي او هم یې په منظوم کلام کې په دې باب ډېر څه ویلي دي، دلته غواړم په ترتیب سره د ده د ځینو مهمو لیکنو پر بنسټ د خادم د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افکارو یادونه وکړم، خو مخکې تر هغه غواړم دې ټکي ته اشاره وکړم چې (ملیت) د خادم صیب په اثارو او افکارو کې، په هغه مفهوم نه دی کارول شوی چې پر افغانستان باندې د روسانو تر یرغل وروسته هغوی او د هغو کورنیو پلویانو دلته استعمال کړ. دلته دوی (ملیت) د یوه قومي تشکل په توګه وکاروه، یانې د (قوم) او (ملت) تر منځ یو بل جوړښت. په داسې حال کې چې (ملیت) د (ملت) تشریح ده، لکه (انسانیت) چې د (انسان) تشریح ده. یا هم په انګلیسي کې چې (Nationalism) د (Nation) څرنګوالی تشریح کوي، خو روسانو د خپلو کورنیو لاسپوڅو د خوشالۍ لپاره د هغو اړوندو قومونو ته د (ملیت) اصطلاح وکاروه، خو استاد خادم (ملت) او (ملیت) دواړه پر خپلې اصلي مانا کارولي دي.

استاد خادم د ملي مسایلو د تشریح په ترڅ کې تر ټولو لومړی ملي احساسات تشریح کوي، ملي ولوله او احساس څه ته وایي او څه وخت رامنځته کېږي. هغه (د ملیت حس) په نامه په یوه لیکنه کې دا موضوع ډېره ښه تشریح کوي، خادم ملتپالنه یو طبیعي احساس ګڼي چې په طبیعي او خدایي ډول په انسان کې موجود وي. هغه په دې باب وایي:

((د شلم قرن په اوایلو کې دانسان فکر د یوې داسې دنیا په جوړولو کې بوخت شو چې په هغې کې د جنګ او نا ارامۍ اثار او علایم ونه لیدل شي. یعنې بشر په داسې ډول سره متحد او یګانه شی چې د دوی اتحاد او یووالی د نړۍ دصلحې او امنیت ضمانت وکړي او دنزاع او اختلاف مخه بنده شي.

د همدې مفکورې په اساس د امریکایي (ویلسن) او افریقایي (سمتس) د نظریو له مخې دملتونو جامعه منځ ته راغله، دې جامعې د دې د پاره چې له یوې خوا په نړۍ کې صلح او امن ټینګ شي او له بې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک وکولی شي چې په سرعت او اسانۍ سره د لویو قوتونو د علمي پانگو او پرمختگ څخه گټه واخلي، نو د دولتونو د اتحاد طرفداري یې په کلکه سره کوله.

مگر دا جهاني موسسه د داسې مشکلاتو او موانعو سره مخامخ او مواجه شوه چې له هغو ټولو پیشرفتونو او ښو نظریو څخه چې په نظر کې وو پس پاتې شوه. حتی داسې حوادث او واقعات چې د دولتو د اتحاد او د صلحې د استقرار سره یې مخالفت و، د دې موسسې دړنگېدو او بېخي شکست اسباب وگرځېدل.

د دویم لوی جنگ نه وروسته ځینو عواملو د نشنلیزم (ملیت) مفکوره په ډېر شدت او مختلفو ډولو سره منځ ته راوړه.

د دوهم لوی جنگ دنتایجو او د ملیت د مفکورې د موثراتو څخه یو د برتانیې د لویې امپراطورۍ شکست او د ډېرو داسې ملتونو او جوامعو ازادي وه چې څو قرنه یې په اسارت کې تېر کړي وو او دازادۍ مخ یې نه و لیدلی چې د دغسې ممالکو یومثال هندوستان دی، هندوستان د ازادۍ گټلو نه وروسته د ملیت د نظریې په اساس په درې برخو هندوستان او پاکستان او کشمیر ووېشل شو چې کشمیر په همدې اساس سره د هندوستان او پاکستان تر منځ د نزاع او جگړې مورد وگرځېد.

پاکستان هم دنشنلېزم (ملیت) نظریې په درې حصو تقسیم کړ چې عبادت له شرقي پاکستان اومغربي پاکستان او (پښتونستان) څخه دي چې ددغې وروسته منطقې په سر اوس هم مناقشه موجوده ده!

په شمالي افریقا کې د ملیت خواهۍ نهضت ورځ په ورځ زیاتېدونکی او مخ په انکشاف دی چې دهمدې انکشاف له امله د فرانسې تسلط او اقتدار په دغه منطقه کې مخ په ضعف او انحطاط روان دی. بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اروپا مدنيت هم په دغه ځای کې دمليت او نشنليزم د تقويت دپاره خدمت کوي.

## مليت په امريکا کې:

د مليت مفکوره په امريکا کې نه يوازې دهسپانوي زبانو سره شته، بلکې په ټوله امريکا کې دغه مفکوره په ډېر شدت سره د نشوو نما په حال کې ليدل کېږي.د کاناډا مليت چې اوس د ملي رشد مرحلې ته رسېدلی دی.

غواړي چې کاناډا د لويې برتانيې له پنجو څخه وباسي او همدارنګه په خيال کې لري چې د امريکې هغه اقتصادي سيطره چې د خپلو اقتصادي چارو د ازادۍ مخالفه يې ګڼي، ختمه کاندي. په هر حال دا کار په لاتيني امريکا او کاناډا کې يوه مهمه واقعه او تاريخي حادثه ده.

که څه هم ځينې مؤرخان او فلاسفه د مليت او نشنليزم مفکورې سره مخالف دي او په امحا کې يې زيار باسي. خو سره د دې ديو نه شي موفق کېدلی چې د مليت حس له منځه يوسي. ځکه چې دا کار د افرادو په ذاتي تمايلاتو متکي دی او لکه څنګه چې خلک دخپل موروثي هېواد (مقط الرأس) سره بې دليله محبت او علاقه لري.همدارنګه يې دخپل مليت سره هم لري، نو په دې لحاظ ويلی شو چې د دې مفکورې په ضد هر رنګ مقابله کوم تاثير نه شي کولی.

دا طبيعي ده چې د بشر يو فرد هغې ژبې سره علاقه او محبت لري چې هغه يې مورنۍ ژبه وي او همدا ژبه له ټولو ژبو څخه مرجحه ګڼي او هغه وخت ځان مسعود او نېکبخت ويني چې خپل ملي افتخارات او قومي غرور د تاريخ په پاڼو کې ملاحظه کړي. مليت په هر نسل کې خپل موجوديت ساتي اوپه يوه ځلانده څېره سره ظهور کوي.))

(۲۴: ٦٣٥-٦٣٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم صیب (د ملیت حس) تر توضیح وروسته د (ملیت علمي تشریح) ته راځي او تر دې عنوان لاندې په تفصیل سره ملت، ملیت او نور اړوند مفاهیم تشریح کوي، د استاد دا ډول لیکنې ځکه ډېرې ګټورې دي چې ځینې خلک د (ملیت) یا (ملت) له اصطلاحاتو سره ډېر حساس دي، له هغو څخه ناوړه تعبیر کوي او هغه په توکم پالنه یا نژاد پالنې تفسیروي او تعبیروي، نو ځکه یې (د ملیت علمي تشریح) ته پام وکړ، دې ډول لیکنو سره دا ډول ناسم تعبیرونه له منځه ځي. خادم همدغه ډول ناوړه تعبیرونو ته د سم ځوا ب او رڼاوي لپاره په (اصلاح) ورځپانه کې د همدې موضوع اقتراح خپره کړه او څو پرله پسې یادښتونه یې ورپسې خپاره کړل، په دې اقتراح کې یې (ملیت) او (بین الملیت) تشریح کړل، د شکاکانو او د ملتپالنې مخالفینو ته یې منطقي ځواب ووایه. په دې ترڅ کې یې په پښتني او په ټوله کې په افغاني ټولنې کې د ملتپالنې د مخالفینو دریځ هم څرګند کړ، خادم دا موضوع واضح کړه چې په نوي عصر کې حکومتونه د همدې ملتپالنې په احساس راجوړ شوي، افغانانو چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې انګرېزانو ته ماتې ورکړه، دی یې یو اساسي علت د ملتپالنې د شعور ویښتیا بولي. له دې ډول لیکنو څخه د خادم صیب هدف دا و، لکه چې اوس د (افغاني نشنلیزم) پر وړاندې بېلابېل خطرونه موجود دي، شپږ اوه لسیزې دمخه هم دا ډول ګواښونه او خطرونه وو، خو خادم صیب د خپلو علمي او تحلیلي لیکنو له لارې دې ډول ګواښونو ته خپل غبرګون ښودلی دی. هغه په ولس کې د ملي شعور غوړېدا ته هیله من او خوشاله دی، په دې باب وایي:

((که په غور خپل ولس ته ځیر شو، نو دا به راته څرګنده شي چې په دې څو وروستیو کلوکې یو لوی فکري تحول پکې پېښ شوی دی، هر چېرې چې څو کسه سره پېښ شي، معلم وي، که متعلم، مامور وي که

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکاندار، سم د لاسه خپل یا د جهان اجتماعي اوضاع د بحث میدان ته راغورځوي. خپل او پردی حال سره څېړي، دجهان په لویو اشخاصو، رهبرانو او لیکوالو تبصرې کوي. یو یې ښه یادوي بل یې بد وایي. یو یې د حق د لارې پیرو بولي، بل یې د نفس خواهشاتو مرید. یو یې اجتماعي خدمات شمېري بل یې خبط او خطاوې، یو بل په دلایلو او براهینو سره قانع کوي او له خپله بحثه نتیجه سره اخلي. مقصد دا دی چې نن ورځ لکه پخوا سړه او توده هوا، یا د فلاني اس او گاډۍ د بسمندان سپی او پیشیی یا د هابل لنگر اوډوډۍ د بحث موضوع نه ده. بلکې د انسان بشري صفات د اجتماعي او ملي خدماتو په مقیاس د مباحثې ډگر ته راوتلي دي، هېڅ یو مطلع سړی د یو ملت د مادي ترقۍ له مزایاو څخه انکار نه شي کولی، هېڅ یو د عقل او شعور خاوند به پیدا نه شي چې د ښکلو ښارو، د لویو فابریکو د منظمو هوسا لارو او سړکو، د لوړې ملي حیاتي او اقتصادي سویې ارزو نه لري. مگر زه فکر کوم چې تر دې ټولو نه لومړی هغه فکري تحول او هغه اجتماعي حالت ډېر د خوشالۍ وړ دی چې سړی ووینې ولس یې د جامعې سره علاقه او مینه لري. د ملت په خیر او شر په هسکه او ټیټه کې ځان شریک بولي او د ولسي او ملي رهبرانو او لیکوالو کړه وړه څېړي، نه غواړم چې د دې اوضاع د نتایجو او اجتماعي مفادو په وینا مو سر وخوږوم، مگر صرف د خپلې ادعا د اثبات لپاره دومره وایم چې ډېرو جوامعو ته د مادي ترقۍ وسایل میسر شو. د اوسپنې خطوط په کې ځغلېدل، لوړې ماڼۍ، ښایسته ښارونه په کې جوړ شول، فابریکې پرانیستلې شوې، خو چې ولس کې یې اجتماعي حس نه و، ملي مفاد یې نه شوای پېژاندی، د هر چا نظر فقط په خپله گېډه او خپل کور کهول و، نو نتیجه یې هغه شوه چې د وسپنې له پټلیو او د فابریکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فولادو څخه يې بېلونه او سپارونه او يا د تشناب نلونه جوړ شول، شته او هستي يې تالا شوه او ملي جواهر يې په شخصي هوسو ولاړل.**

**ځو ورځې پخوا په يوه مجلس کې د اصلاح اقتراح (مليت او بين المليت) دا د بحث موضوع وه، له يوې خوا دا اقتراح يوه ډېره د ستايش وړ او هغه بل د يوه غټ سړي، د وينا په استناد بې موجبه بلله. يوه ويل چې رښتيا دا لومړی پلا ده چې په (اصلاح) کې داسې يو مضمون د بحث او اقتراح ميدان ته راوزي، بل ويل دې موضوع کې علماوو ډېر کتابونه ليکلي....**

**موږ فطرتاً ملت پرست يو...، نو د دې مضمون ليکل بې مورده دي. دا بل ورته راسم شو، ويې ويل رښتيا چې علماوو په دې موضوع کې او ډېرو نورو موضوعاتو کې کتابونه ليکلي دي، که موږ د جهان کتابونه پسې را وپلټو داسې يوه معمولي خبره به هم پيدا نه شي چې په امريکا يا اروپا او يا د جهان په بل گوټ کې په هغې څه نه وي ليکل شوي، په دې اساس موږ بايد هېڅ ونه ليکو چې مبادا د نړۍ دکوم مولف پر حق تجاوز ونه شي.**

**همدارنگه دا يقيني خبره ده چې د ملت او بين المليت موضوع په درستو ويښو ممالکو کې څېړل شوې. کتابونه پرې ليکل شوي او يا لږ تر لږه ترجمه شوي دي او جامعه په دې مهمو موضوعاتو پوهول شوې ده، مگر زموږ په مملکت کې چې تر اوسه په دې خبره تاليف لا څه چې کومه وړه رساله هم نه ده ترجمه شوې، په سلو کې مو يو سړی هم په دې موضوع ښه نه پوهېږي، نو څنگه اجازه ورکوي چې يو خادم راپيدا شي او کومه کوچنۍ مقاله د اولس تر غوږو ورسوي دا چې وايي موږ فطرتاً ملت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرست یو نو بین المللي  موضوع کې ګړېدل خدای مکړه زموږ دې حس ته ضرر پېښوي، ډېره د تعجب خبره ده!**

**اول خو بین الملليت (اینټر ناسیو نالستي) او ضد ملیت (اینټي ناسیو نالستي) دوه بېل موضوعات دي یعنې بین الملليت د ملیت د ضد معنی نه لري.**

**بله دا چې له بلا څخه ژغور لاره دا نه ده چې د خپل خواخوږي لاس اوپښې سترګې او غوږونه وروتړئ.**

**بلکې د ګمراهۍ نه یګانه ناجي علم او پوهه، تحقیق او مطالعه ده او بس. د جهان په بیدیا کې هغه څوک جل وهي او تباه کېږي چې د سراب له خواصو خبر نه وي، په هر تقدیر دا مباحثه او ایراد که د شخصي نقاضت په اساس و او که بې له کومه غرضه و، د فکر وړ و ځکه چې د ایراد او انتقاد اسرار امیزه خاصه دا ده چې یوې ډېرې کوچنۍ او بې اهمیته موضوع ته هم دخلکو ورپام کوي او بې له انتقاده ډېرې لویې او مهمې خبرې ته سړی نه متوجه کېږي!**

**نو دا مسلمه کلمه ده چې انتقاد که پر ځای وي، یا بېځایه په دواړو صورتونو د جامعې په خیر تمامېږي. په اول مورد کې انتقاد د سهوې او خطا د خبط او خیانت مقتدر راګرځوونکی دی او په دوهم مورد کې لومړی د یوه فرد خیر خواهۍ ته یو څه صدمه رسوي، مګر له بلې خوا چې د خلکو توجه موضوع ته جلب شوه، حقیقت ښکاره کېږي او ډلې ته د هغه فرد قدر او احترام لا زیاتوي.**

**همدا خبره ده چې د جهان یوه پیاوړي شخص ویلي دي چې که په فرض د محال څوک د اجتماعي خدمت په ډګر کې مخالفه ډله ونه لري، نو ښایي چې دا جنبه له تیږې او لرګي څخه جوړه کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوله کې چې د ملیت او بین المللیت موضوع اقتراح ته راووته زما قصد دا نه و چې زه دې همدا بحث وځېړم، مګر دې پورته مباحثې اړ کړم چې یو څو کرښې ولیکم.

## ملیت اوبین المللیت:

ملیت په هغه مفهوم چې نن ورځ یې دنیا پېژني، کومه زړه خبره نه ده او خصوصاً د دې کلماتو شیوع زموږ په وطن کې ډېره تازه ګې لري. مقصد دا نه دی چې منظم اجتماعي ټولګی چې په معیني خاورې کې زېست کوي تر یوه بیرغ لاندې راټولېږي، دولتي منظم تشکیلات لري دا کوم نوي شیان دي، د پښتون قوم څو زره کاله پخوا (د استرابون اوهرودت په قول سره چې په خپل عصر کې دجهان پیاوړي علمي شخصیتونه وو) په همدې خاوره کې ژوند کاوه، د خپلې زمانې سره سم یې منظم تشکیلات لرل منتها د افغانستان نوم آریانا و، سیاسي حدود یې دومره نه وو رانغښتل شوي، یوې خوا ته اباسین بلې خوا ته یې پارس پاپرزلیس و. شمال ته یې جیحون (آمو) او جنوب کې یې بحر پروت و. د افغان اوسنۍ جامعې وجود درلود، خو اساس د تشکل یې ملت نه و، یعنې د ملت پرستۍ په محور نه و راټول شوي، بلکې په هغه زمانو کې اوس بیا حتی تر څو کلو راپه دې خوا د دې خاورې بشري کتله د یوې کورنۍ او یا د یوه مطلق شهنشاه تر قیادت لاندې راټوله وه او یا د یوه جهانګشا تر بیرغ لاندې درېدلې وه دا اجتماعي سړه وضعه یوازې زموږ د جامعې په برخه شوې نه وه، بلکې د جهان د درستو اوسنیو مللو خاصه هغه ورځ همدا وه. د بلخ امپراطورۍ او د بګرام تر ټولواکي د کابل شاهیانو، غزنویانو او غوریانو، هرې یوې کورنۍ تر هغه د خوند شهنشاهي چلوله چې اهل او لایق کسان یې درلودل. په مجرد د دې چې به یو بې کفایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټولواک په تخت کېناست یو د لاس لاندې حکمدار یا همسایه پادشاه به پرې یرغل راوړ هغه به یې ورک کړ او اول به په رضا او رغبت د دې نوي د قدرت خاوند فرمان بردار و.**

**فداکاري اکثراً د شخصي اغراضو یا د یوه فرد لپاره وه نه د یوې سپېڅلې مفکورې (ملیت) په خاطر!**

**بابر له فرغانې راغی پښتنو په کابل کې د هند د امپراطورۍ اساس ورته کېښود، لرې به نه ځو په ۱۸ او ۱۹ع پېړۍ کې ورور د ورور، پلار د زوی، زوی د پلار، تره دوراره او وراره د تره په مخ کې تورې راوایستې، د کابل، کندهار، فراه، هرات، بلخ او مزار میدانونه یې د یو بل په وینو ګلګون کړل دا ځکه چې زموږ د اجتماع محور فردیت او قدرت پرستي وه، نه وطن دوستي او ملت پرستي.**

**د ملوک الطوافي، یا ځان پرستۍ لمن د ۱۹ پېړۍ په اخرو کلو کې په ډېر شدت سره ورټوله شوه، درست قوتونه قلعه او قمع شول او مرکزي قوت په ټول مملکت کې سلطه ټینګه کړه.**

**د شلمې پېړۍ په ابتدا کې لومړی ځل د ملت پرستۍ پلوشې وطن ته راولوېدې دملت پرستۍ رڼا د افکارو تنویر د وطن میدان ته راووت. تعلیم او تربیه، نشریات او تبلیغات ورو ورو شروع شول، د قوم پرستۍ بنا د ملت پرستۍ خوا ته توسعه ومیندله، تر څو چې لومړی ځل د ملت پروری عالي او مقدس روح د استقلال په جنګ کې مجسم تبارز وکړ، د دې خاورې زمریو ړومبی د لوی تاریخ په ادوارو کې ډېرې مجاهدې کړې دي، ډېرې وینې یې تویې کړي او د ډېرو وینې تویې شوې دي، پردی خاورې یې په خپلو وینو ګلګونې کړي او خپله خاوره یې د دښمنو په وینه رنګینه کړې. مګر د استقلال مقدسه مجاهده د معنی په لحاظ له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ یوې بلې جگړې سره مقایسه کېدای نه شي. ځکه چې دا هغه وخت و چې دښمن ظاهراً د پښتنو په خاوره تېری نه و کړی، د پښتنو پادشاه، امر او مامور درست پښتانه وو، له پښتنو کوم پردي باج او خراج نه غوښت، دوی ارام او اسوده په خپلو کورو کې له خپل کلي کور سره ژوند کاوه، مگر یو ناڅاپه هیجان او شور ورته پېښ شو، توره او ټوپک، تبر او چاړه یې سره راواخیستل دوطن په جنوبي او شرقي سرحدو کې ددښمن د توپو اوطیارو ماشینگڼو او بمو په مقابل کې ودرېدل. دوی څه غوښتل؟ ایا د غوریانو او غزنویانو برم او جلال یې په زړه شوي وو؟ ایا د احمدشاه او زمان شاه هوا یې په خاطر کې گرځېدلې وه، نه نه، د دوی غایه له دې واړو څخه ډېره لوړه وه، د دوی مقصد ډېر مقدس او سپېڅلی و، دوی د ملي حریت او سیاسي ازادۍ په معنی پوهېدلي وو، دوی استقلال او خپلواکي غوښته، له نر او ښځې، له قلم او کاغذ، له تورې او ټوپکه د حریت او ازادۍ نارې ختې، هغه څوک چې ملت پرستي زموږ فطري خاصه بولي، گومان کوم چې یا سهوه کوي او یا د خلکو خوشحالول غواړي، یو لیکوال چې دجامعې د طبابت سمت لري، نو د یو پوه اوصادق طبیب غوندې اول د ناروغ رنځ کشفوي او بیا یې علاج ته ملا تړي، ترخه دوا ورکوي او کله، کله یې پیچ کاري او اپرېشن کوي هم، له دې هېڅوک انکار نه شي کولی چې پښتانه که څه هم اساسي تعلیم او تربیه نه لري افق نظر یې هم نه دی وسیع شوی، خو بیا هم قومي حس پکې دومره قوي دی چې کله کله هر یو فرد د خپل قوم په مخ کې له سر او مال نه تېر شي او بیا همدا حس دخارجي خطر په مقابل کې په یوه ملي حس بدل شي چې د تاریخ پاڼې یې له مثالو ډکې دي.

په پښتنو کې یو متل دی چې: تربور ته دې خدای بې وروره مه کړه، ورور ته بې زویه، مگر هغه پښتانه چې یو وار پوه شول یو ځل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افق نظر وسیع شو او د جهان په حال او په خپله ورځ خبر شول، یو پلا د ملیت حس ورته پیدا شو، د حق په مقابل کې پر هغوی د تربره او ورور، د ورور او زوی فرق نه کېږي، هغوی ته ټول وطن خپل کور او درست وطنداران وروڼه او زامن ښکاري، قومي، نژادي، طبقاتي او نور درست غټ واړه اختلافات د ملیت تر نامه قربانوي. په کراره کې خو د وطن د شپږو خواوو خلک یو د بل له اجتماعي حال څخه خبر وي، یو د بل په ښادۍ ښاد او په غم یې غمجن وي، اساس یې د ټولنې او اجتماع یې محور د بحث او څېړنې وي، مگر کله چې یې د ملي احساساتو سیند په څپو شي، زړه یې له شوق او محبته جوش وکړي، د وطن او ملیت له پاکو کلماتو خبر اخلي، نو یو روحي عالم یې احاطه کړي، په خپلې اجتماع کې فقط یو شی ویني، یو شی اوري او هغه یو شی څه وي؟ (ملت) د لویو ملي اشخاصو او باعظمته سلسلو دکارنامو په یادونه یې زړه باغ شي، د وطن د بدبختیو د عاملینو، د خارجي او داخلي غاصبانو او ظالمانو په یاد یې د څېرې رنگ بدل شي، وینې یې په جوش راشي او د نفرت طوفان یې څپې ووهي، له ښو دورو سر مشق او له تیاره او غمجنو شپو ورځو د عبرت درس اخلي او د ملت پخوا پورې لا نږدې کېږي.

ملت پرور د ملي سعادت او لوړتیا په مخه کې دوطن د ارتقا او برم په لار کې له کور، کلي اوقوم څخه تېر وي، ملي گټې ته له هرې یوې بلې گټې نه ترجیح ورکوي.

دا حس چا کې نه شي پیدا کېدای، تر څو چې پوه نه شي، سترگې یې خلاصې نه شي په خپل او د جهان په احوال خبر نه شي، ملت پرستان په نړۍ کې بې معارضې نه دي پاتې،یوه ډله مخالفین لري چې هغوی ته انټي ناسیونالستان وایي او د دوی د نظریاتو په اساس دولتونه هم جوړ شوي دي، دوی ملت پرستي، خودخواهي گڼي او وایي چې له ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساساتو تفوق ملي او له تفوق ملي څخه لوی مخالفتونه د مللو تر منځ پیدا کېږي او په نتیجه کې دا حس بشري جامعه د خونړیو جګړو خوا ته راکاږي، نو ښایي چې د جهان ملل له دې تنګ نظرۍ څخه صرف نظر وکړي او یو کوچني ټولګي په ځای چې ملت یې بولي د درست بشریت لمنې ته ځان ورواچوي.

مګر ناسیونالستان وایي: په دې کې شک نشته چې بشر یو دی د انسانیت په لحاظ د بشر تر منځ زښت ډېر اختلافات موجود دي چې له دې څوک منکرېدای نه شي.

مثلاً په ظاهري شکل او د ژوند په سویه کې د اروپا متمدن ملتونه لکه جرمن، انګلیس او فرانسه به چندان توپیر نه لري، مګر که عادات، اخلاق، شئونات، دود دستور، طرز تفکر او روحیاتو ته یې ورننوزو، نو فاحش لرې والی او جدایي به یې تر منځ ولیده شي.

بل دا چې ملت په عالم بشریت کې د یوه فامیل حکم لري، نو که چېرې څوک له خپل فامیل سره مینه کوي، دا معنی نه لري چې له همسایه سره دې رخه او حسد ولري او که څوک دخپلې کورنۍ اسایش او شرافتمندانه ژوند د سمون په لار کې هڅه کوي، دخپلې کورنۍ د غړو د حیاتي، اقتصادي، صحي او علمي سویې په لوړتیا کې زیار باسي، معنی یې دا نه ده چې هرو مرو د خپلو ګاونډیانو د حقوقو غصبول غواړي، بلکې یو مهذب فامیل د یوې ښې تربیې خاونده کورنۍ یو پوه او باحسه فامیل څومره چې د ملت لپاره خدمت کوي، یو د لوړو صفاتو خاوند ملت هم په جامعه بشري کې هماغومره عالم بشریت ته لوی خدمات کوي. برجسته ملت ضمناً د نورو مللو د رقابت حس راپاڅوي چې د دې مسابقې نتیجه کې دمدنیت د کاروان سرعت ګړندی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بين المليت (انټر ناسيونالسيتي):

بين المليت داسې يوه مفکوره ده چې د مليت تر منځ واقع شوې ده، له يوې خوا ملت ته قايله او د ملت د وجود احترام کوي، له بلې خوا غواړي چې د مللو د تصادماتو جلوگيري وکړي.

په هغه وخت کې چې ملتونو وجود نه درلود يعنې بشري جوامعو قبيلوي او قومي ژوند کاوه يا يې د کوم جهان کشا په قلمرو کې شپې تېرولې په هغه وخت کې هم دا د بين المليت اوصافو او خواصو وجود درلود.

مثلاً څو زره کاله پخوا د بودا او زردشت په زمانې کې ځينې داسې اوصاف او مميزات، داسې دودونه او رواجونه، اخلاق او اداب د اريانا، فارس، هند او چين تر منځ موجود وو چې دوی يې لړ او ډېر يو بل ته سره نږدې کول.

په نوي عصر کې کوم وخت چې ملي حس تقويه او ملي حکومتونه جوړ شول، د بين المليت مفکوره په عمومي ډول سره ميدان ته راووته، ويې غوښتل چې د مللو د زياده روۍ مخه ونيسي او دوی سره نږدې کړي، نو منازعاتو او دعوو د دفع لپاره يې بين المللي محکمې او بين‌المللي جوامع جوړې کړې او د دوی د نږدې والي لپاره يې موسسات او مجالس لکه د پوستې او تلگراف او د وسپنې د لارې او د امراضو د مجادلې بين المللي موسسات، د مللو د اجتماعي، علمي او اقتصادي سويې د لوړتيا مجالس پرانيستل.

د بين المليت عناصر يا په بل عبارت د بين المليت د بنا خښته ملت دی. بين المليت بې د ملت له وجوده معنی نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حقیقي ملت بې د ملي حس له روزنې تشکیلېدای نه شي او ملي حس پرته د تعلیم او تربیې، د نشریاتو او تبلیغاتو له لارې په بله لار پیدا کېدای نه شي، هغه څوک چې وايي فلانی قوم فطرتاً (بې له تعلیم او تربیې) ملیت پرست دی، دوی یا د ملیت او قومیت تر منځ فرق نه شي کولی او یا د ځان یا د جهان غولول غواړي.)) (۲۴: ٦۳۷-٦۴۱)**

**د خادم صیب په پورته لیکنه کې د ملتپالنې ډېر درسونه، عبرتونه او پندونه پراته دي. هغه دلایل چې اوس هم د ملتپالنې پر وړاندې لویه ننګونه ده، ده یو په یو څېړلي دي او د مغرضو کړیو پوښتنو، انګېرنو او پلمو ته یې ځواب ویلای دی. د خادم صیب دا لیکنې مو ځکه په تفصیل سره راوړې چې ګڼ موضوعات یې په کې په تفصیل سره څېړلي دي، هغه پوښتنې او ګروېږنې، ابهامات او شکونه چې له هر چا سره د ملت، ملتپالنې او افغانیت د پاللو په باب موجود وي، هغه ټول په دې لیکنو او بحثونو کې واضح شوي دي.**

**خادم په افغاني ټولنه او ملت جوړونه کې د ښځو نقش ډېر مهم ګڼي، هغه په دې باب یوه ځانګړې لیکنه کوي او په دې لیکنه کې د ژوند په ټولو چارو کې د ښځو دفعال ګډون غوښتونکی دی. (افغان ملیت او پښتني ښځې) د دې لیکنې نوم دی او په ټولنیز، سیاسي او مدني ژوندانه کې دښځو دګډون اړتیا تشریح کوي. خادم صیب د همدې لیکنې په پای کې وايي: ((نن افغاني شعور او د پښتونولۍ غریزه په ټوله جامعه کې په سرعت سره په انکشاف روان دي، ښځې او نر په یوه شان د ژوند نویو غوښتنو او د ملیت د نوو مبارزو لپاره په عصري ډول ځانونه اماده کول خپله وظیفه ګڼي. اوس ښځې ته عاجزه، صنف نازک، مستوره، مخجوبه او څه څه ویل عیب ګڼل کېږي، خو افغاني جامعه ښځه ملعبه، لوبونې او د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارینه وو د خوشوقتۍ شی نه گڼي، ځکه د پښتنو په مصطلحاتو کې ښځه (مېرمن واکداره) او د پوره انساني حق حقداره ده.))

استاد خادم ملت د حکومت او حکومت د ملت لپاره ضروري گڼي. ځینې ټولنپوهان په دې نظر دي کله کله ملتونه وي، چې حکومت جوړوي او کله کله حکومتونه وي چې د ملت دساتنې، هوساینې او پرمختگ سبب گرځي، که د یوه حکومت تر شا ملت ولاړ نه وي،حکومت خپله له منځه ځي او که یو ملت حکومت ونه لري، نو له انارشۍ او گډوډۍ سره مخامخېږي او د پرمختگ لاره یې ډب کېږي. خادم صیب د (ملت او حکومت) تر عنوان لاندې په یوه لیکنه کې دا موضوع څېړلې ده، هغه په دې باب وایي:

((حکومت هغه منظم صاحب اقتدار جماعت ته وایي چې د یو وطن د ادارې واگي د هغه په لاس کې وي او ملت هغه مجموعه افراد دي چې د دغسې یو ټولگي تر ادارې لاندې په یو وطن کې ژوند کوي.

که د حکومت افراد خپله د ملت څخه منتخب شوي او د حکومت ډله یې تشکیل کړې وي، نو په دې صورت کې حکومت او ملت بې له یو اعتباري فرق څخه کوم حقیقي فرق نه لري.

بلکې په دې صورت کې چې د قوم اداره د اجنبي افرادو په لاس کې نه وي او د قوم د خپلو اجزاوو په لاس کې وي، حکومت د ملت تنظیمه قوه بللی کېږي، په دې صورت کې چې د حکومت او ملت په مینځ کې کوم فرق دی، صرف اعتباري دي، مثلاً هماغه یوه ونه ده، لاندې حصې ته یې بېخ وایي او پاس ته یې ډډ یا ښاخونه یا مثلاً هماغه یو دریاب دی، هغه حصې ته یې چې له نور دریاب څخه پورته او په حرکت کې شي موج یا چپه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یا مثلاً یو فرد راواخله چې د مختلفو اندامو څخه جوړ شوی دی، هر اندام یې بېله بېله وظیفه اجرا کوي، دماغ، زړه ، سږې، معده پښتورگي، ټول بېله بېله وظیفه لري او په عین زمان کې د همدغه فرد حیات په همدغه وخت کې د ځان لپاره خدمت کوي.**

**نو وگورئ ونه او بېخ، دریاب او چپه، شخص او اعضا یې کوم بېل شخصیت لري؟ نه: نه یې لري، بلکې کوم فرق چې لري فقط د کل او جز فرق دی او دا معلومه ده چې جز بې کله او کل بې جزه مستقل وجود او حیات نه شي لرلی. دغه رنگه حکومت هم چې د خپله ملت څخه وي، د ملت څخه حسابېږي، همدغه افراد دي چې لږ شانې برجستگي په کې پیدا شي او د ملت اداره په لاس کې واخلي، نو حکومت شي، حکومت د ملت اداره او تنظیم کوي او د اعتلا خوا ته یې سوق کوي.**

**په عین حال کې چې حکومت د ملت خدمت کوي او د ملت زنده گي ساتي، د ځان لپاره هم همدغه کار کوي،ځکه چې د حکومت او ملت زنده گي ځانته متمایز وجود نه لري چې ملت نه وي، حکومت به هم نه وي او چې حکومت یانې تنظیم نه وي، ممکنه ده چې ملت هم ملت پاتې نه شي. مدعا دا ده چې زموږ په ژوند کې حکومت او ملت کومه متمایزه معنی نه لري، زموږ حکومت د خپل ملت د افرادو له خوا دی او په داسې حکومت کې ملت او حکومت په اصل کې یو شی وي.**

**هو؛ یو بل ډول حکومت هم شته چې هغه دا دی چې د یو قوم اداره د بل یو اجنبي په لاس کې وي، دلته نو د حاکم او محکوم ملت او حکومت په مینځ کې ډېر لوی فرق وي، په دې صورت کې حکومت قهار او ملت مقهور گڼل کېږي او حکومت د ملت د فایدې په غم کې نه وي، بلکې په دې فکر کې وي چې څنگه به د دې لاس لاندې خلکو څخه گټه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، ګویا حاکم انسان وي او محکوم حیوان، تېښته دې وي، خدای ته دې وي، خدای ته مه یې وینې دغسې ساعت؟)) (۲۴: ۶۲۵)

استاد خادم خپلواکي او استقلال هم دیوه ملت د بقا او سوکالۍ لپاره یو ضروري عنصر ګڼي چې له هغه پرته یو ملت له زوال سره مخامخېږي، استقلال په حقیقت کې د یوه ملت د شتوالي یوه اساسي نښه ده. استاد خادم ((زموږ استقلال)) په نامه یوه لیکنه کې دا موضوع څېړلې ده او استقلال یې داسې یو څیز ګڼلی چې هېڅ شی ورسره په تول کې برابر نه دی. هغه په دې باب وایي: ((استقلال یو لوی نعمت دی او د خدای یوه لویه عطیه ده، دا نعمت د نورو ټولو نعمتونو سرچشمه ده، په دې کې هر څه شته، ولې هېڅ شی په تول کې دده سره برابر نه دی)) نو ځکه خو یې استقلال د یوه ملت لپاره ډېر ضروري ګڼلی دی. خادم صیب خپله زمانه د ملتپالنې عصر ګڼي، حکومتونه او ملتونه دوه بېلابېل مفاهیم او جوړښتونه دي، خو یو بل سره ارتباط لري، دی وایي: ((دا عصر د ملیتونو دی)) په دې باب دی خپله تشریح لري:

((حکومتونه ډېر پخوا پیدا شوي دي، خو ملیتونه دغومره زمانه عمر نه لري، ځینې کسان متشکل حکومت ته ملیت وایي، مګر خبره داسې نه ده، حکومت بېل شی دی او ملیت بېل شی دی، حکومتونه په زمامدار او اداره چې اړه لري، د زمامدارۍ او مملکت چلولو شکل زرګونو کاله مخکې منځته راغلی او ډېر تحولات یې کړي چې څو یې د ((ملي حکومت)) شکل غوره کړی دی.

ملي حکومت یعنې هغه حکومت چې په ملي قوه متکي وي او د ملت د ارزوګانو او غوښتنو ممثل او پوره کوونکی وي، موږ په دې عصر کې حکومت د ملت منظمه، اجتماعي قوه بللی شو او نور ټول تعریفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پخوا شوي دي باطل دي، حکومت د ملت اجتماعي قوه وي، نو طبعاً د ټولو تر مخه د ملت د بقا او ارتقا وظيفه بايد پر مخ بوځي.

متاسفانه زموږ ځينې کسان لا اوس هم نه ملت پېژني او نه مليت، دوی فکر کوي چې اوسنی عصر د بين المللي توب پر خوا روان دی، نو د مليت شعار بېځايه دی او ځينې يې حکومت هر څه گڼي او د دې فکر نه غفلت کوي چې که د حکومت سره د ملت مفکوره نه وي، نو د منځنيو پېړيو حکومتونه د سړي فکر ته راولي.

د بين المللي توب د پاره د نن ورځې سوسيالستي او کاپيتالستي دواړه ډوله حکومتونه پروپاگند کوي، خو بايد سړی وپوهېږي چې بين‌المللي توب هغه وخت منځته راځي چې ملتونه موجود وي، نو د دغسې اوازو څخه زموږ د ځينو کسانو فکر ته د مليت نفې راځي؟

بله لا دا ده چې په دې عصر کې د بين المللیت نمايندگي د (يونو) پر غاړه ده چې تر اوسه هېڅ قوت نه لري، بعضې توصيې کوي او هغه يې هم څوک نه مني، بلکې پخپله (يونو) د قوي مليتونو د لاس اله ده.

د (هيگل) د اضدادو د فلسفې پر اساس ((هر شی خپل ضد پيدا کوي، بيا ضدين سره مجادله کوي او د دواړو د گډون نه نتيجه راوځي چې په هغې کې د دواړو ضدينو اثار او علايم موجود وي.))

نو کوم وخت چې سر ايله حکومتونه منځته راغلل، په خپل مقابل کې يې د مشروطه حکومتونو نظريه راپيدا کړه، خو کوم وخت چې مشروط ملي او قانوني حکومتونه چې که څه هم د خپل ملت د پاره ښه وو، د نورو په مقابل کې متجاوز ثابت شول، نو د انټرناسيونالېزم مفکوره پيدا شوه، خو په ټولو هغو حکومتونو کې چې د انټرناسيونالېزم نغاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډنګوي، د ملیت صبغه په وضاحت سره څرګنده ده او دنیا لا د انټرناسیونالېزم له مرحلې ډېره لرې ده.**

**نو د پښتنو دنیا کې چې څوک پردې لاندې یا بې پردې د ملیت مخالفت کوي، نو یا غرض لري یا نه پوهېږي، زموږ منورین لا ځینې داسې هم دي چې په ملیت خو ټینګ دي، دلایل هم وایي، مګر د ملیت د ځینو یا ټولو مقاماتو پابندي او تحقیق نه مني، یعنې ملیت مني، خو شرایط یې نه مني.**

**په دې عصر کې چې که د ملت د تحکیم او قوام فکر ونه شي، نو ملت ورو ورو خپل تاریخي او کولتوري هویت بایلي او په پای کې د عربو غوندې په بلا اخته کېږي.**

**که په استعماري دوره کې عربو خپل کولتور له لاسه نه وای ورکړی، نو اسراییلو دغلته حکومت نه شو جوړولای او له بلې خوا که یهودو د دربدرۍ په وخت کې خپل یهودي ملیت بایلودی وای او د ملت مقاومت روحیه یې مړه شوې وای، دوی د عربو په مقابل کې خپل وجود نه شو څرګندولای.**

**همدغه شان که هند هندیت له لاسه ورکړی وای، هېڅکله به یې خپل هندي حکومت نه و جوړ کړی او که هند په یوه برخه کې پاکستانی کولتور نه وای پیدا شوی، نو هېڅکله به هم پاکستان نه وای جوړ شوی.**

**همدارنګه که پښتنو له خپل کولتوره غفلت نه وای کړی او له ځانه سره یې هند ته خپله ژبه او خپل کولتور وړی وای، اوس به د پاکستان پر ځای هلته پښتني حکومت موجود و، سوونه ملیونه پښتانه به په هند، ایران او پاکستان کې نه وو هضم شوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدغه پښتانه وو چې ژبه او کولتور يې و نه ساته، په خپل ملک کې ترې نور څه جوړ شول او که پام نه کوي، د پاتې هغو هم دغه حال وګڼئ.**

**که ایران ایرانیزم او فارسي ژبه نه وای روزلې، نو په دغومره اوږد تاریخ کې به د دغو ټولو تهاجمونو او خطراتو په مقابل کې ژوندی نه و پاتې او وخته به تجزیه او د نورو ضمیمه شوی و.**

**نو دا خبره رښتیا ده چې ((ملیت یوه صبغه ده، نه د نسب سلسله)) او دا هم باید ومنو چې ((دا عصر د ملیتونو دی نه د حکومتونو)).**

**(۲۴: ۶۴۷-۶۴۸)**

**استاد خادم بیا د خپل پورتني بحث او تحلیل د نتیجې او توصیې په توګه وايي:**

**((اوس لازمه ده چې پښتانه خپل ملي جوړښت ته جدي توجه وکړي او د هر قسم استعمار نه ورته نجات ورکړي.))**

**ځینې خلک له نشنلیزم یا ملتپالنې څخه ناوړه تعبیر کوي او هغه په نژاد پالنې او قومپالنې تعبیروي چې د نورو حقوق تخریبوي، خو خادم صیب دې ډول اندېښنو او ناوړه تعبیرونو ته د (نشنلیزم او فاشیزم او په دې باب د اشتباهاتو رفع) په نامه یوه لیکنه کې څرګند ځواب ویلای دی. خادم صیب په دې لیکنه کې د دې دواړو موضوعاتو حدود ټاکلي او نشنلیزم يې نه یوازې یو روا عمل بللی، بلکې پر هغه يې زیات ټینګار هم کړی دی. په یوه بله لیکنه کې د وطنپالنې یادونه کوي او وايي چې ((وطن ونمانځو که خارج؟))، د خادم صیب هدف دا دی چې وطن نمانځنه کوم عیب نه دی، دی وايي چې (د وطن مینه غریزي ده) په طبیعي ډول په خلکو کې موجوده وي. خادم صیب د خپلو لیکنو په ترڅ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې یوې بلې جالبې موضوع ته هم نغوته کوي، هغه اشخاص چې د ملي فکر په باب د خلکو په زړونو کې خلل اچوي. استاد خادم دا ډول اشخاص په یوه لیکنه کې تشریح کوي، دوی ته (ملي منافقان) وایي. خادم صیب په دې لیکنه کې د ټولنې داسې یو اساسي رنځ ته متوجه شوی، چې د ټولنې له داخل څخه د ټولنې او ملتپالنې د تباهۍ سبب ګرځي. خادم صیب په دې نظر دی لکه څنګه چې په اسلام کې منافقان غندل شوي او خطرناک ګڼل شوي، دغسې په ملي مسایلو کې هم دا کته‌ګورۍ خلک څکه ډېر خطرناک دي چې تشخیص یې ګران او خطر یې زیات دی. د خادم صیب د دې لیکنې ارزښت هغو خلکو ته ډېر ښه معلومېږي چې عملاً همدا اوس د پردیپالو، ځان ساتو پښتنو افغانانو او ناوړه احتیاط کارو پر وړاندې پر مبارزه بوخت دي. منافقان او مضر احتیاط کاري په دې پلمه چې دمقابل لوري حساسیت راونه پارېږي، له غټو ملي داعیو څخه تېرېږي او هغه څوک چې د ملي هویت او ملتپالنې ملاتړ کوي، هغوی هم د توکم پالو او افراطیانو په نامه مشهوروي او په دې ډول یې په ټولنه کې د کار مخه نیسي. مقابل لوری چې د ملي هویت او جوړښت د کمزوري کولو لپاره شعوري هڅې کوي، نو بیا ورته دا ډول اشخاص د ښې وسیلې په توګه کارېږي او د ملتپالو افغانانو پر وړاندې یې په اسانۍ سره استعمالوي.**

**خادم صیب وایي: ((د هر مذهب، هر دین او هر مسلک په مقابل کې خلک په درې قسمه دي: مومنان، کافران او منافقان. مومنان خو منونکي، کافران نه منونکي او منافقان هغه دي چې هم منونکي دي او هم نه منونکي دي. یعنې منافقان د هر مذهب او مسلک سره خو ظاهراً د منلو وضع څرګندوي، مګر په باطن کې د نه منونکو رول لوبوي او ملک ړنګوي. د مذاهبو او مسالکو په نزد دغه ډول خلک (منافقان) له کافرانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېر بد او مضر دي او دا ځکه چې کافر يعنې مخالف خو خپل مخالفت ښکاره کوي، خپل دليل او منطق وايي؛ نو که په مناظره يا مبارزه کې پړ شو، ډېره هيله شته چې وگرځي او ايمان راوړي، بله دا چې مخالف پېژندل کېږي او سړی ورنه ځان ساتلی شي، مگر منافق د وينې دننه خوراک کوي او لويه بنا سر د لاندې راغورځوي.**

**ناسوناليزم د دې عصر عالم شموله مسلک او د استثعمار او استعمار د مخنيوي ازمايل شوې وسله ده، استعمارچيان او امپرياليستان هم تل د دغې خطرناکې الې څخه کار اخلي چې نفاق يې بولي، دغه اله د هغې ملي وسلې په مقابل کې استعمالوي. استعمار وايي: (اختلاف واچوه، نو حکومت کوه) استعمار چې په هر ځای کې وغواړي خپل مرام پر مخ بوځي، منافقان پيدا کوي، منافقان تقويه کوي.**

**وړ سترگي، بې غيرته، خپل چاري او ټيټ فطرته خلک خو په هره جامعه کې وي، مگر که د دغو ټيتو اوصافو سره زرنگ، چالباز، دوه مخي او پل غلطي هم وي، نو د استعمار د لاس لپاره ښه اله کېدای شي. استعمار دغو اخلاقو ته کپېسېتي، هوښياري، موقع شناسي او سياست داني وايي او دغسې کسان په خپل لاس کې نيسي او په خپل ملت يې استعمالوي.**

**ای ځوانانو او منورينو، ای وطن پالونکو افغانانو، د استعمار د لاس وسلې، د استعمار د کورنی بچي او د امپراليزم غلامان وپېژنئ. که تاسې دوه مخي منافقان وپېژندل؛ نو بيا مو يو مخيزه کافران نه شي تېر ايستلی، دلته د افغان ملت ډېوه بله شوې ده، ای ملي پتنگانو پرې راغونډ شئ او د دې ډېوې په رڼا کې د ملي منافقانو منحوسې څېرې وپېژنئ، دا هغه کسان دي چې د افغان، افغانيزم، افغاني او افغانستان له کليمو څخه په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چل ول ډېره کوي او کله په ښکاره هم ورته سپکې سپورې وايي؛ نو راځئ چې په ګډه دا ترانه ووايو: ((واړه افغانان يو، ټول مسلمانان يو، ګران هېواد زموږه، لکه ګل افغانستان دی، جګ له کل جهان دی.)) (۲۴: ٦٦۴)**

**خادم صيب د پورته يادو موضوعګانو تر تحليل او ارزونې وروسته په اينده نړۍ کې د افغان ملت رول ته پاملرنه کوي او له افغانانو څخه هيله کوي چې له راتلونکې نړۍ سره ځان اعيار کړي، هغه ((افغان ملت او اينده دنيا)) په ليکنه کې دا موضوع تشريح کوي، استاد خادم په دې ليکنه کې، د نړۍ د راتلونکي وړاندوينه کوي چې تل د تغير په حال کې ده او په دې برخه کې د قران کريم مبارک ايت د دليل په توګه راوړي.**

**حکومتونه او ايډيالوژي هم د تغير په حال کې ګڼي، نو ځکه خو دی توصيه کوي چې د حکومت او ملت د بقا لپاره بايد ملي اساسات ټينګ شي او حکومتونه د ملي مفکورو پر بنسټ جوړ شي، ددې ليکنې محتوا دا ده چې ملت دايمي ژوند لري، حکومتونه او ايډيالوژۍ د بدلون په حال کې دي. د ختيځ او لويديځ بلاک د تغير په باب چې په دې ليکنه کې د استاد خادم له خوا څه وړاندوينه شوې وه. نيمه پېړۍ وروسته هغه پر واقعيت بدله شوه. ختيځ او لويديځ ايډيالوژيکو سستمونو خپل رنګ او جوړښت بدل کړ، سوسياليستي بلاک خو لا بېخي له منځه لاړ، نړۍ د دوه زبرځواکيز بلاک پر ځای په يو قطبي ځواک بدله شوه، حکومتونه ړنګ شول، خو ملتونه لا ژوندي دي، نو ځکه خو خادم صيب پر ملتپالنې او ملي حکومت ټينګار کوي، هغه وايي:**

**((د سبا نړۍ د نن د دنيا په شان نه ده، نن دنيا د ايډيالوژيکي مفکورو او اختلافاتو په بنا روانه ده، په سرعت کومې خوا ته درومي، ځينې کسان داسې فکر کوي چې په دنيا کې به خلاف توقع حوادث پېښ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي او د دنیا نقشه به بدله شي، مګر دغسې غیر مترقب خو احتمالات دي، همدغه رنګه اټومي جنګ هم د احتمال نه زیات شی نه دی، البته د دغو احتمالاتو په څنګ کې واقعات هم شته، واقعات دا دي چې دنیا د سوسیالیستي او کاپیټالیستي بلاکونو تر منځ تقریباً وېشل شوې ده، بې طرفان شته، خو د دوه خوا جاذبه قوتونو د توازن له کبله په منځ کې ولاړ دي، هر کله چې په دنیا کې ثابت شی هېڅ وجود نه لري، نو څنګه باور کېدای شي چې دغه قوتونه دې تل په یوه توازن پاتې شي، قران کریم رښتیا ویلي دي چې: ((إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَى أَن رَّآهُ اسْتَغْنَى)) واړه او غیر منکشف دولتونه هېڅکله باید په هغه توازن چې د دوی په خپل لاس کې نه وي اتکا ونه کړي، بلکې په خپل ځان دې اتکا وکړي.

ځینې سیاست دانان داسې فکر کوي چې کوچني دولتونه د لویو په مقابل کې هېڅ کله متکي به خود سیاست نه شي غوره کولای، خو دوی باید سویډن، ناروې، هالنډ، ډنمارک، البانیا، کیوبا، ایرلینډ او دغسې نورو دولتونو ته وګوري، ښه به دا وي چې افغانستان د شرق او غرب د سیاساتو د یو طرفه کېدو نه لومړی د یو ملي، ثابت او غیر متزلل سیاست خطوط تعین کړي، یعنې د یو واحد، متمرکز، ارادي او په خپلو پښو ولاړ ملت اساسات ومني.

ملي پرابلمونه باید د خپل ملت د سرانو او طبقاتو د باهمي تفاهم، تساند، استدلال هلته چې د ډیموکراتیکو شرایطو لاندې وي پرېښودل شي.

په دې کار کې د افغانستان د دولت او ملت دواړو خیر دی، دستي د دولت د اوږو بار کمېږي، ملت په خپلو پښو د ودرېدلو چل زده کوي، بدګومانه کېږي، د فعالیت او مشغولیت زمینه برابرېږي او تخریبي افکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تعمير ته متوجې کېږي، کوم وخت چې ملت متمرکز شي؛ نو که په دنيا کې هر څه حوادث پېښ شي افغان ملت به د يو واحد افغان په حيث په کې رول ولوبوي، که نن افغان ملت ته خپل لاس او اراده د ځان د انکشاف چانس نه برابرېږي، نو د سبا په تياره کې ډېر مشکلات د مخاوف او مهالک په مخ کې دي، رښتيا دا ده چې ملت سازول تر ټولو لومړی کار دی او تر ټولو وروسته پاتې دی، څو چې دا کار ونه شي، بل هېڅ پلان به ترسره نه شي او زموږ اصلي دردونه به دوا شي.)) (۲۴: ٦٦٨)**

**استاد خادم د ملتپالنې په باب چا ته هېڅ ډول شک او شبه نه پرېږدي، يوه مسئله چې د اکثرو په ذهن کې ګرځي، لکه څنګه چې (د نشنليزم او فاشيزم) ترمنځ توپير نه کوي، دغسې (د نشنليزم او انټرنشنليزم) تر منځ هم توپير نه شي کولای، خادم صيب دا موضوع هم په ښه ډول تشريح کړې ده. ده په دې باب په دري ژبه يوه ليکنه کړې ده، دا ليکنه ((مليت و بين المليت)) نومېږي، استاد خادم په دې ليکنه کې د دې دواړو موضوعګانو بريدونه په څرګند ډول مشخص کړي دي.**

**استاد خادم (ملي يووالی) د يو ملت د بقا لپاره ضروري بولي، په دې برخه کې يې (ملت او ملي يووالی) په نامه يوه ځانګړې ليکنه لري، خادم صيب په دې ليکنه کې د ملت د يووالي ارکان تشريح کړي، په دې برخه کې يې د نورو پوهانو نظريات هم راوړي دي، ملي يووالی يې تعريف کړی، د ژبې، دين او نژاد يووالي ته يې اشاره کړې چې ايا دا د ملي يووالي اساسي عناصر دي که نه؟ په پای کې يې بيا د نتيجې په توګه ملي يووالی تعريف کړی دی. هغه په دې باب وايي:**

**((د ملت او ملي يووالي په شاوخوا کې علماوو او پوهانو مختلفې نظريې ورکړې دي چې زه د مثال په ډول د (ارنست رونان) د فرانس د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه مشهور مورخ نظريه لاندې ډول سره بيانوم. ارنست رونان ملت يو قديمي او پخوانی شکل بولي چې په اوسني عصر کې ټولې جوامع په دې نامه و ميدان ته راوتلي دي.

که موږ ملت يوه درخته فرض کړو، ريښه به يې په تېر وخت او تنه به يې په اينده نصب العين کې پيدا کوو، نو په واضح ډول سره ملت عبارت له هغو افرادو څخه دی چې د ګډ تاريخ، يوې مفکورې او د يوه مرام او مقصد خاوندان وي او د يوه قوي (حکومت) تر ادارې لاندې په يوه جامعه او مفيده خاوره (مملکت) کې ژوند کوي.

ملي يووالی عبارت د اتفاق او اتحاد څخه دی چې د يوه ملت د افرادو په منځ کې چې نفع او ضرر کې يو د بله شريکان، خير او شر يې يو وي. ملي يووالی په يوه جامعه او خاوره کې هغه وخت مونده شي چې د هغې خاورې په ټولو افرادو کې مليت او ملت پرستي پيدا او موجود شي.

ايا د ملت او ملي يووالي اساس څه شی دی؟

پر اساس او بنسټ باندې هم د علماوو په منځ کې اختلاف نظر موجود دی.

ځينې پخواني علما او پوهان د ژبې وحدت، دين، نژاد د ملي يووالي او مليت اساس بولي.

لېکن د نني عصر علماء يوازې د پورتنيو عناصرو وحدت د ملت او ملي يووالي اساس نه، بلکې بعضې نور عناصر او عوامل په دې جمله کې داخل او شريک بولي او د هغو اثبات په لاندې ډول سره کوي:

۱- د ژبې يووالی ، څرنګه چې معلومه ده چې د يوې ژبې خاوندان کولای شي چې خپل افکار او نظريات په صحيح ډول سره يو د بله اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیان کړي او د ژبې د یووالي په توسط سره اختلافات د منځه ورک او خپل مقصد په انساني صورت سره حاصلولای شي چې دا د ژبې یووالی د ملي یووالي د پاره کومک او معاونت کوي.

خو بیا هم ژبه په مطلق صورت سره د ملي یووالي اساس نه بلل کېږي او ځنې ممالک لکه امریکا او انګلستان چې ژبه یې سره یوه ده او دغه رنګه جرمني او سویس چې په یوه ژبه خبرې کوي، مګر ملتونه یې جلا او بېل دي، نو دا معلومه شوه چې د ژبې وحدت د ملي یووالي او ملیت مطلق اساس نه دي.

۲- د دین یووالی هم د ملي یووالي د پاره ضرور او حتمي شمېرل شوی دی، مګر څرنګه چې ژبه د ملیت اساس نه ده، دغه رنګه د دین وحدت هم د ملیت اساس نه بلل کېږي، د مثال په ډول سره ټول عربي او اسلامي ممالک چې د یوه دین خاوندان دي، بیا هم د بېلو ملتو درلودونکي دي، لکه مصر، عربستان، افغانستان، ایران او نور... دغه رنګه د عیسوي دین پیروانو هم بېل ملتونه تاسیس کړي دي.

۳- د نژاد یووالی د ملي یووالي دپاره مفید ګڼل کېږي، مګر د ملت او یووالي اساس کېدای نه شي او ډېر هم نژاده ممالک سته چې بېل او جلا ملتونه یې تشکیل کړي دي.

څرنګه چې معلومه شوه چې د پورتنیو عناصرو وحدت د ملي یووالي اساس نه دی، نو ایا کوم شیان د ملیت اساس او بنسټ شمېرل کېږي؟

د ننیو علماوو په عقیده مشترک تاریخي مفاخر، ګډ منفعت، یوه مفکوره او ایده آل یو مرام او مقصد ملیت او د ملي یووالي اساس بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په مملکت کې چې مختلف اقوام ژوند کوي، ټوله پښتانه د یوه تاریخ او د یوه مرام خاوندان که څه هم د هغوی ژبه، عنعنه او نژاد بېل دی، خو بیا هم د ټولو ارزو یوه، مقصد او مرام یې یو دی او د دې خاورې د ساتلو او حفاظت دپاره هر قوم په خپل نوبت او وار قربانۍ ورکړې او دملیت مهم شواهد یې څرگند کړي دي، محض زموږ د ملیت دښمنانو د خپلې استفادې د پاره دا مترادف نومونه بېل کړي دي.

نو د افغانستان هر فرد یو پښتون او هر پښتون د هر قوم او نژاده څخه چې وي، د مساوي حقوقو لرونکی د افغان او پښتانه له مفهوم څخه کوم اساسي بېلتون نه لري.

موږ لره لازمه ده چې دا بېځایه قومي او نژادي تعصبات او تفریق زموږ د بربادۍ سبب و نه گرځي او ټوله په یوه لاس او اتفاق سره د دې وطن د استقلال د ساتلو د پاره په سر او مال اماده او تیار اوسو. د پردو او دښمنانو په اغراضو او پوچو افکارو ونه غولېږو.)) (۲۴: ۱۱۲۶-۱۱۲۷)

استاد خادم کینه او تعصب د ملي یووالي دښمن گڼي او هغه له هر اړخه څېړي، تعصب تعریفوي، یانې پر وینه او نژاد باندې دومره ټینگېدل چې حق او حقیقت هم له یاده وباسي. استاد په دې لیکنه کې د تعصب عزم ، ارادې او ثبات ترمنځ بریدونه هم مشخصوي. زموږ په ټولنه کې اوسمهال  د دې ډول موضوعگانو څېړل خورا مهم ځکه دي، چې یو شمېر داسې متعصبین شته چې په خپله تعصب ته لمن هي او هغه څوک چې د دې تعصب پر وړاندې ودرېږي، پر هغوی د تعصب تور پورې کوي، یانې هم تعصب کوي، هم ځان سپینوي او هم پر نورو تور پورې کوي، په دې توگه ددې ډول متعصبینو پر وړاندې مبارزه گرانېږي. خادم صیب د دې موضوع د تشریح ضرورت شپږ اوه لسیزې وړاندې احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و او دا لیکنه یې کړې ده، خو اوس یې تشریح او تفسیر د وخت یو بل مهم ضرورت دی. خادم صیب وایي:

((هر څوک وایي تعصب بد دی، مګر دا چې تعصب څه شی دی او ولې بد وي؟ په دې باب هېڅوک څه نه وایي، دلیل یې دا دی چې یا خو اکثره خلک د خبرو په عمق نه پوهېږي، خو چې څه خبره چا په خوله کې ورکړه شخوند ورباندې وهي. یا دا چې ځینې خلک خو پوهېږي، مګر په رډو سترګو اوبه خړوي چې کبان په کې ونیسي.

پروپاګند په شرقي اصطلاح کې دېته وایي چې ثابت دلایل په کړه لاره د خپلې مدعا د پاره په کار واچول شي. د ارسطو د منطق په اصطلاح دغسې دلایلو ته مغالطه وایي چې پښتانه یې خطا ایستل بولي. تعصب دعصب ځینې ماخذ دی، یعنې په وینه او نژاد باندې دومره ټینګېدل چې په حق او حقیقت هم سړی سترګې پټې کړي. د عربو په جاهلیت کې خلک په قبایلي او عشایري افتخاراتو ډېر ټینګ ولاړ وو، هرې قبیلې به ځان بر تر او پورته ګاڼه او داسې د یو واحد ملت او لویې جامعې دجوړولو بالغ و، نو ځکه داسلام په راتګ سره دغه حس ته تعصب وویل شو او دا کار وغندل شو. زموږ ستایلي استازي وویل: ((لیس منا من دعی الی عصیبته: څوک چې د عصیبت بلنه کوي زمونږ نه دي)).

نو پورته څېړنې څخه دا خبره معلومه شوه چې کوم شی چې د واحد ملت، جامعې او ټولنې دتشکیل مانع وي، کوم شی چې ځانځانی پیداکوي، کوم شی چې تفرق او تشتت پیدا کوي،کوم شی چې د شخصي اوخاندانی تفوق لپاره دعوت ګڼل کېږي؛ دغه تعصب دی. وروسته بیا په دغه مفهوم کې لږه توسع پیدا شوېده او هر هغه کس چې په شخصي آر او افکارو اونظریاتو زیات ټینګار کوي، دومره ټینګار چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو خلکو دلایلو ته هڅو غوږ نږدي، نو دغه هم متعصب ګڼل کېږي. په اصل کې تعصب هغه حس دی چې سړی په یوه نکته او نقطه دومره مرکوز اومنهمک کړي چې بس هماغه شی،هر څه ګڼي او د موضوع نور اطراف اوحواشي نه سنجوي، نو په دې لحاظ چې هېڅ ځانله په یوازیني صورت نه شي مطالعه کېدای، نو ځکه دغسې حس د شعور یو قسم ړوندوالی ګڼل کېږي او د نظر د وسعت منافي دي، نوځکه بد دی، خو په هېڅ صورت هغه جهد او ایمان، اذعان او عقیده چې د یوه نېک، اجتماعي او ملي کار لپاره یې څوک لري او ور باندې ټینګار کوي،دغسې ټینګار ته تعصب نه وایي، بلکې دغه ته عزم، ثبات او استقامت وایي. د پیغمبرانو لوی صفت چې په قران کې راغلې دا دی چې ځینو ته ((اوالاالعزم من الرسل)) ویل شوي دي اود ځینو نورو په حق کې راغلي دي: ((فلم نجدله عرفا)) یعنې ځینې پیغمبران چې په ځینې نورو فضیلت لري او دا فضیل د ((عزم)) پورې ډېر دخل لري، نو ګویا عزم، اراده ثبات او استقامت چې په نېک او مهذب صورت وي او د خلکو ملت او جامعې ګټه مضمره وي، دا تعصب نه دی. بلکې دا د سړیتوب لوی معیار دی، ځکه چې د بوالهوس، بې ایمانه او ابن الوقت انسان د لاسه هېڅ وخت لوی کار او لویه نامه نه کېږي.

نو په دې منطق او تحقیق سره لیډران، مشران او رهنمایان چې د یوې مدعا د اثبات لپاره ټینګار کوي، لکه؛ لینن، ګاندي او واشنګټن یا لکه جمال خان او داسې نور دغو ته متعصبان ویل لوی ظلم دی. ځینې کسان د اوبو خړولو او د خپلو معایبو د پټولو لپاره لوی کسان په تعصب متهم کوي، خو دا د خلکو کار دی چې غور وکړي په خبرو ځان پوه کړي او د خپل چارو کسانو دپروپاګند لاندې لاړ نه شي.

په اسلامي روایاتو کې ((لیس منامن ادعی لی عصبیته))یې په ((عصبیته لجاهلیته)) باندې مقید کړی دی. مدعا یې دا ده چې څوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جاهلیت د زمانې په شان تعصب لري، نو هغه بد دی. یعنې هغه تعصب چې د اسلام، ایمان او مسلمان ورور لپاره کېږي، بد نه دی، بلکې دغه شی تعصب نه حسابېږي. د پښتنو په روایاتو کې د ورور، تربور او قوم مرسته او طرفدار شته، خو هغه تعصب نه دی. ځکه پښتانه وايي: ((کوتک وهه د ورور لپاره خبره کوه د خدای لپاره)). ددې متل معنی دا ده چې په پښتونولۍ کې له ورور څخه دفاع لازمه ده، خو داسې دفاع نه ده چې ورور د گټې لپاره به سړی په حق پښې ږدي، نو هغه کسان چې په یوه لویه جامعه، تاریخ او ملت کې د خپلو گټو لپاره تشتت پیدا کوي او زهر په کې شیندي یا دا چې د نورو وروڼو په ثابتو اجتماعي حقوقو سترگې پټوي. یا دا چې موقع نه ورکوي، نو دا تعصب دی. د غندلو وړ دی، د دې عصر په تشخیص سره تعصبات په څلور ډوله دي: مذهبي تعصب، نژادي تعصب، لساني تعصب او ایالتي تعصب.**

**خو که څوک د خپل مذهب، نژاد، لسان او ایالت لپاره داسې خدمت کوي چې د نورو حقوقو ته په کې سپکاوی نه وي. اتلاف او تحقیر نه وي، دا تعصب نه دی او که څوک وايي چې ((میم زور ما ټوله زما)) نو بېشکه دا تعصب دی او مذموم دی. ځکه دا مفکوره د یو لوی ملت د تشکیل مانع ده او په دې صورت د انفرادیت او شخصیاتو پر خوا هڅه او ټینگار دی.)) (۲۴: ۱۲۴۴-۱۲۴۵)**

**استاد خادم پر یادو لیکنو سربېره (د استقلال او ملي ارتقا، د استقلال د استرداد یادگیرنه، ملي موسیقي، ملي ثقافت، افغان در معرض امتحان، مادر وطن، ولسي جامې) او گڼ شمېر نورې لیکنې هم لري چې پر ټولو تبصره یې دا لیکنه ډېره اوږدوي، خو د ده د نثري لیکنو د یوې نتیجه په توگه وایو چې استاد خادم تر ټولو لوی قوت د ملت قوه گڼي او وايي چې په ټولنه کې تر دې بل زیات ځواکمن ځواک نه شته. خادم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیډرشیپ د ملت د قوت لپاره مهم ګڼي، خو دا مشرتوب باید تصنعي او جعلي نه وي، ملت ته دروغ ونه وايي، ځینې خلک داسې فکر کوي چې دلته افغان ملت ساده دی او پر څه نه پوهېږي، د خادم صیب په نظر دا د دوی خپله ساده ګي ده، د ده په نظر ملت ته سپینه او ساده لاره ښودل په کار دي، دې کار سره ملت په خپلو پښو ودرېږي او کله چې ملت دې حالت ته ورسېد، نو یو غټ قوت ورڅخه جوړېږي، هغه په دې باب وايي:

((ددې وخت لوی قوت ملت دی. دا جمله کومه ابتکاري معنا نه لري، هر منور شخص پوهېږي چې د اجتماعي قوت منبع یوازې ملت دی او بس. مګر څنګه ملت؟ هغه ملت چې منظم او متمرکز شي او دا کار په شعوري صورت وي. یعنې په ملت کې د یووالي، ګډو موافقو او واحد ایډیال روحیه تقویه او وروزل شي او دا کار بیا څنګه کېږي؟ دا کار داسې کېږي چې په یوه ملت کې د اختلاف او تشتت پیدا کېدو ټول پرابلمونه ولټول شي او یو یو د دنیا د مسلماتو او مقرراتو په رڼا کې سپین او حل شي. حل هم باید د عقل، منطق او برهاني اقناع په صورت وي، نه د چال، فریب او رضا نمایه زور په ډول.

ښه نو که څوک غواړي چې د یوه ملت ټول اختلافي پرابلمونه په همدغه شان حل شي، نو طبیعي لاره یې څه ده؟ طبیعي لاره یې څنګه تر اوسه دنیا کشف کړې ده، د یو سم، روغ او حقیقي لیډرشیپ د روزلو په سېوري کې موندل کېدی شي. هغه وخت چې یو ملت سیاسي او اجتماعي مشق او تمرین نه وي کړی، نو هره طبقه عجیبې او غریبې سوداګانې لري، نو دا سوداګانې چې کوم وخت د عمل په میدان کې وازمایل شي، نو دغسې واقعیت نه لري، لکه څنګه چې طبقاتو فکر او سنجش کړی وي. لکه چې وايي د کور حساب په بازار کې سم نه راوځي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا رنګه تصوري او تخيلي خبرې د سياست او اجتماع په عملي ميدان کې اکثراً بل شان خېږي. مثلاً خلکو ګومان کاوه چې افغانان ساده او بېسواده او خيال پرست او احساساتي خلک دي، دوی د دنيا د حالاتو سره سم د ځان فيصله نه شي کولای، خو په عملي ميدان کې د ډېرو هوښيارو خلکو دا ګومان پوچ ثابت شو او افغانانو په تېرو دوه لويو جرګو کې پوره لياقت او عاقبت بيني و سياسي رشد وښود. لوی اجتماعي تحولات او سياسي موافقو ته د دنيا له رجحاناتو سره سم درک کړی شول او ويې منل.

د افغانستان همدا طبقات چې سم نيم تخمونه په کې شيندل کېږي، دا خلک ګومان کوي چې د ځان په فايده به ورنه ګټه وکړي، هېڅ لرې نه ده چې ملت د عاقبت بينۍ او تاريخي رشد له کبله په اصل حقايقو پوه شي او بده استفاده ورنه ونشي کېدای، نو ځکه زما عقيده دا ده چې هېڅ هوښيار بايد د ملت د غولولو د پاره اقدام ونه کړي، ځکه دا ملت دغومره ساده او نارسيده نه دی، لکه چې ګومان کېږي، نو دوی ته له سمې او سپينې لارې رامخکې کېدل په کار دي او لازمه ده چې ملت خپلې خوښې ته پرېښودل شي چې خپل پرابلمونه په کوم شان حل کول غواړي، حل يې کړي. نو چې ملت پخپله خپل مشران پيدا کړي او هغوی په خپل منځ کې کښېني او يو د بل خبرو او منطق ته غوږ کېږدي، نو انجرې به ټولې حل شي.

هو! لږ وخت به وغواړي، خير دی که وخت تېر شي، خو چې د طبقاتو د زړونو عقدې سمې او وسپړل شي او حل شي. هغه وخت چې ملت په دغه شان خپل مسايل حل کړي او د لفظ او معنا له مخې يوه خوله شي، نو بيا فکر وکړئ چې کومه ورانه به سمه نه کړي؟ او تر څو چې دغه کار نه وي شوی او ملت خپل ځان په خپله نه وي سنبال کړی او خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاره یې پخپله نه وي ایستلې، نو نور ټول کوښښونه چې هغه د اپلاتون او ارسطو په لاس ولې نه وي، بېځایه شوي او هېڅ هم نه شي کېدای، باید مونږ ایمان ولرو چې په دې وخت کې لوی قوت ملت دی او باید چې ملت په خپلو پښو ودرېږي.)) (۲۴: ۱۱۹۱)**

**د خادم صیب پر منثور کلام سربېره د هغه په منظوم کلام کې هم ملت، ملتپانه؛ افغانیت او پښتونولي په پراخه کچه منعکس شوي دي. که ووایو چې د ده د نظم (اویا سلنه) همدې موضوعګانو ته وقف شوې، نو مبالغه به مو نه وي کړې. په دې کې د ده لنډ او اوږده نظمونه، څلوریزې، قصیدې، چاربیتې او قطعې ټولې شاملې دي. د (ملي شهید حضورته) نظم یې هم ملي پیغام لري، (د استقلال جشن) نظم کې هم، هېوادپالنه، ملي ولوله او ملتپالنه ځلېږي:**

بلبله د زړه پورته شه بهار راغلی دی
د سوزو د جذبې وخت د چغار راغلی دی
هغه باغ چې خړوب کړو ملي شهید په وینو
نن ښه په تازه ګۍ او برګ و بار راغلی دی.

**(قومي ژوندون) نظم کې هم قومي او ملي روحیه انځور شوې ده. (د وطن بهبود) نظم هم ملي او وطني روحیه رانغاړي. (قام ته خطاب) نظم یې هم د ملتپالنې جذبه لري. (د شاعر مسلک) خو د خادم صیب هغه مشهور شعر دی چې د ده د شاعرۍ مانیفیسټ (مرام) ګڼل کېږي. (وطن غواړي خدمت) نظم یې هم د وطن د ابادولو روحیه لري. (حجره) نظم د افغاني په تېره بیا د پښتني ټولنې د کلتور انځور کاږي، (څه شوه یارانه) او (ځوانان راټولوم) دواړه نظمونه کلتوري او ملي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزښتونه پالي، (خوږ جهان او ملي ارشاد) نظمونو کې د پښتنو او افغانانو درد او غم انځور شوی دی. (سیاسي مشاعره) هم ملي پیغام لري، (روښان به شم) نظم هم افغاني فکر رانغاړي، (ستا یمه، لوی استعمار، ته یې وینې که نه؟) او نور نظمونه ټول یې ملي، پښتني او هېوادنی فکر انځوروي.**

**د دې نظمونو ترڅنګ د استاد خادم په څلوریزو او قطعو کې هم د ملتپالنې افکار په ډېره څرګنده بڼه انځور شوي او بیان شوي دي:**

**دی په یوه څلوریزه کې د اولاد د روزنې لپاره قومي چاپېریال ډېر مهم ګڼي دده په نظر هر هغه ماشوم چې له خپل کلي، کور او ولسه لرې شي، د همغوی خوی بوی او رنګ اخلي، نو ځکه خو خادم په خپل قومي او ملي چاپېریال کې د اولاد پر روزنه ټینګار کوي.**

کـــه بېـــل قومونـــه دې، زوی ولـــور شـــي
د نـــورو خلکـــو ســـره محشـــور شـــي
دوی بـــه هغـــه شـــي چـــې چېـــرې اوســـي
پـــه رنـــګ د نـــورو، بـــه رنـــګ ضـــرور شـــي.

**دی د افغانانو پر بد حالت ژاړي او خپل دا درد په یوه څلوریزه کې انځوروي:**

افغـــان راټیـــټ شـــو، دومـــره ذلیـــل شـــو
چـــې سپک یـــې خلکـــو تـــه هـــر یـــو دلیـــل شـــو
نـــورې خبـــرې لـــــه منځـــــه لاړې
پـــه شـــرافت کـــې یـــې قـــال و قیـــل شـــو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لکه څنګه چې د استاد خادم په نثر کې مو یادونه وکړه، افغان او افغانیت د ده د افکارو او نظریاتو محور جوړوي او ده پرې لسګونو لیکنې کړي، دغسې یې نظم کې هم دا موضوع په لسګونو ځایه یاده کړې ده، د افغانیت پر اوسني حالت چې ده ته ښه نه ښکاري افسوس کوي او وایي چې موږ باید پرې ټول راټول وای او له لاسه مو نه وای ورکړی، دی وایي:**

کاشکې غیرت مو مړ شوی نه وای
کاشکې همت مو مړی شوی نه وای
په پښتونوا له واره راغونډ وای
افغانیت مو، مړ شوی نه وای.

**استاد خادم په خپله یوه بله څلوریزه کې مشر ته خطاب کوي چې ملت مه ټیټیوه، د هغه په ټیټاوي کې خپل لوړاوی مه ګوره او هر چا چې دا کار کړی، په پای کې د ملت له ملي انتقام سره مخ شوی دی.**

که ملت ټیټ کړې چې ته پرې بر شې
خلک راند ه کړې چې ته رهبر شې
بې غمه نه شې له انتقامه
ژر به له حاله ځنې خبر شې.

**خادم صیب د ملت دښمنانو ته خطاب کوي، هغوی ته ګوتڅنډنه کوي چې د ملت له تجزیې لاس واخلي او افغانان د یو واحد ملت په توګه ارام پرېږدي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټــول یــو افغــان دی، ټــول یــو پښــتون دی
تــا چــې کــوم فکــر کــړی زبــون دی
ټــول یــو وحــدت دی، تــا تجزیــه کــړ
پــه لــوی ملــت دې کــړی شــبخون دی.

**دې پسې بیا ملي حاسد او کینه گر ته چې د هېڅ ډول اصولو او قوانینو تابع نه دی، گواښ کوي . خادم صیب حاسد ته دا خبره په ډاگه کوي چې که دلته د قانون منگولو ته ونه سپارل شوې، نو د قیامت ورځ خو شته له هغې ځخه به څنگه خلاصی مومې:**

پــه قوانینــو را ایســار نــه شــوې
لــه لویــه قامــه، څخــه ډار نــه شــوې
پــه ورځ د حشــر، بــه څــه ځــواب کــړې
فــرض کــړو چــې دلتــه کــه سنگســار نــه شــوې.

**خادم صیب بیا افغان ته خطاب کوي چې له خپل کاروان سره یو ځای روان شه، د بل کاروان په تمه مه کېنه، د خپل کاروان لمنه ونیسه:**

دنیــا روانــه، کــه تــه روان یــې
پــه فکــر او تمــه، د کــوم کــاروان یــې
بــې ملیتــه، بــل کــاروان نــه شــته
بــاور یــې وکــړه کــه تــه افغــان یــې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دې پسې خادم صیب خپل ملت ته (د وحدت فکر) ورکوي او دا ملي یووالی د هېواد د نجات لاره ګڼي، نو ځکه خو پرې ټینګار کوي:**

راځـــئ چـــې فکـــر، د ملـــت کـــړو
پـــه دې وطـــن کـــې د یـــو وحـــدت کـــړو
پـــه نـــوم د قـــوم، کـــه بیـــرغ غـــواړو
د چـــا پـــه لاس یـــې بایـــد اوچـــت کـــړو.

**خادم صیب قام او ولس له ځانځانی ځخه یووالي ته رابولي او دا د بدمرغی یوه علامه او اسماني ټکه ګڼي چې هر یو دې ځانته ډنګوي او وړوکی کلی دې هم ځان ته د ملت په سترګه ګوري:**

تـــل یـــې د قـــوم بیـــرغ اوچـــت کـــړو
دا یـــو افغـــان و چـــې یـــې همـــت کـــړ
نـــن دا څـــه ټکـــه، شـــوله رانبـــکته
چـــې هـــر یـــو کلـــي، خپـــل ځـــان ملـــت کـــړ.

**د ملت یووالی دده ستر ارمان دی، نو ځکه خو یې هر وخت ورته (د توحید شعار) ورکړی او پر یووالي یې ټینګار کړی دی:**

دا یـــو وطـــن دی، افغانســـتان دی
یـــو یـــې ملـــت دی، نـــوم یـــې افغـــان دی
د ملـــت ژبـــه خـــوږه پښـــتو ده
د دیـــن لـــه مخـــې ټـــول مســـلمان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خادم صیب په یوه بله څلوریزه کې د ولس او لاربنود تر منځ اړیکې بیانوي، پر یووالي ټینگار کوي او دا کار مدعا ته د رسېدو لپاره ښه وسیله گڼي:**

عــــوام محتــــاج دي و راهنمـــــا تــــه
خــــواص تنـــویر او ،علـــم و رڼــا تــــه
وطـــــن د دواړو تــــر مــــنځ کــــړی ده
پــــه دې شـــان رســـي، دوی مــــدعا تــــه.

**استاد خادم د استعمار هغې نسخې ته هم په یوه څلوریزه کې نغوته کوي چې وایي: ((بېل یې کړه ا ایل یې کړه)). دا د استعمار یو فورمول و چې تر ننه هم له همدې فورمول څخه کار اخلي، استاد خادم د استعمار دې نسخې ته داسې اشاره کوي:**

د اســــــتعمار دا ، پخــــــه نســــــخه ده
ازمایــــــل شــــــوې، او تجربــــــه ده
اخـــتلاف جــوړ کــړه، بیــا حکومــت کــړه
کــــه دې پــــه زړه کــــې اســــتفاده ده.

**استاد خادم د ځینو اشخاصو پر هغو ورانکارو عملونو خواشیني څرگندوي چې د هېواد د ورانولو سبب گرځي:**

هــــر یــــو لگیــــا دی، پــــه ورانولــــو
د لــــوی افغــــان، پــــه را پرزولــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دود او دستور او، دین پاتی نه شو
کاری مشکل شو، د جوړولو.

**استاد د ملت او حکومت بېلوالی د ګډوډۍ ستر عامل ګڼي او بیا همدا کار په یوه ټولنه کې د ټول نظام د ړنګونې سبب ګرځي:**

که ملت بېل شي، حکومت بېل شي
له دی بېلتونه جوړ تېل ما تېل شي
نظام پخپله، نور خرابېږي
چې ملت خوار شي، حکومت فېل شي.

**استاد، په یوه څلوریزه کې په پښتونخوا کې ملي مبارزو ته اشاره کوي، هلته د روان ظلم یادونه کوي، خو په پای کې دې نتیجې ته رسي چې دا توره شپه به تېرېږي او بری به د لوی افغان په نصیب کېږي:**

په پښتونخوا کې، مجادله ده
د هر یو ظلم او تېري سره ده
فتح په خوا به، د لوی افغان وي
سبا راتلونکی، دی تېره شپه ده.

**خادم په خپله یوه بله څلوریزه کې د دې خبرې وضاحت کوي چې که مبارزه شعوري وي، نو نتیجه ورکوي، دی د روښان، خوشال بابا او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رحمان بابا د مبارزو يادونه کوي چې مبارزو يې نتيجه ورکړې او دی هم همدغه شان افغان معمور کړی دی.**

جهـــــاد ځـــــای ونیـــــو ، د میاروښـــــان
ملـــــت یـــــوکېږي، د خوشـــــحال خـــــان
عطـــر پاشـــي چـــې، پـــرې رحمـــان وکـــړه
خـــــادم معمـــــور کـــــړ، هغـــــه افغـــــان.

**بيا د هوښيارو افغانانو په توګه، د خان عبدالغفار خان او وزير محمدګل خان مومند يادونه کوي او وايي چې ويده خلک يې راويښ کړل:**

خلـــک ویـــده وو، بابـــا بیـــدار کـــړل
روان پـــــه لاره، عبـــــدالغفار کـــــړل
تـــا ژبـــه ورکـــړه، محمـــد ګـــل خانـــه!
خـــادم تـــه ګـــوره، څـــومره یـــې هوښـــیار کـــړل.

**استاد خادم پر افغانيزم (افغانيت) ټينګار کوي او وايي چې همدا زموږ د خلاصون لاره ده، هغه مشر ته وايي چې ته همغه کار خپل کړه چې ملت يې غواړي:**

د قـــــام لیـــــډره، ابتکـــــار وکـــــړه
چـــې خلـــک یـــې غـــواړي، هغـــه کـــار وکـــړه
افغـــان یـــو کېـــږي، پـــه افغـــانیزم
لـــــه چـــــور تقلیـــــده څخـــــه ډار وکـــــړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم له افغانیت سره موازي د ملي هویت په ساتنه ټینگار کوي او د ځان پېژندنې د فکر تبلیغ ضروري گڼي:**

ملـــي هویـــت مـــو، ســـاتل پـــه کـــار دی
ځـــان پېژندنـــه، روزل پـــه کـــار دي
څـــه بـــه اخلـــو لـــه نـــورو خلکـــو
دې کـــې لـــږ غـــور او څېـــړل پـــه کـــار دي.

**استاد خادم نه یوازې په خپلو نثري لیکنو کې د (ملیت) او (ملت) علمي تشریح کړې، بلکې په نظم کې یې هم په ډېر موثر ډول دا مفهوم څو څو ځله سپړلی دی، هغه د (ملیت) د پېژندنې لپاره اته شرطونه په گوته کړي دي:**

د ملیـــــت دي، اتـــــه شـــــرطونه
قـــام، وطـــن، ژبـــه خپـــل عادتونـــه
دیـــن، حکومـــت او تـــاریخ ثـــروت دی
جـــوړ دي پـــه دغـــو، ټـــول ملتونـــه

**استاد خادم د (ملیت) د اتو شرطونو ترڅنگ، د هغه د استحکام او ملاتړ لپاره نور اته شرایط هم په گوته کوي، په دې کې اقتصاد، کلتور او معنویات مهم گڼي:**

اتـــــه شـــــرطونه، مقومـــــات دي
همـــــدا کولتـــــور او معنویـــــات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملــت چــې ټینــګ شــي، اقتصــاد ســم شــي
چــې تشــکیل سســت وي، ډېــر مشــکلات دي.

**بیا د ملي کلتور او اقتصاد تر منځ اړیکي څېړي او د ملت لپاره یې ګټه او همدا دوه څیزونه د ملت د ژوند د دوام سبب ګڼي:**

کولتــــور یــــې ســــا ده، ثــــروت غــــذا ده
عصــــــر منلــــــې دا نــــــن ســــــبا ده
ملــــت پــــه دغــــه، دوه توکــــه ژونــــد کــــا
یــــــوه مــــــاده ده، بلــــــه معنــــــی ده.

**استاد خادم د افغان ملت د رغنده توکونو یادونه کوي، دی (کوردان او بلوڅان) هم د دې ملت برخه ګڼي، چې تر اوسه لا له خپلې اصلي سرچینې سره یو ځای شوي نه دي.**

ملــــت جــــوړ نــــه دی، ملــــت جــــوړ نــــه دی
کــــه چېــــرې جــــوړ شــــي، دومــــره ووړ نــــه دی
کــــــورد او بلــــــوڅ او پښــــــتانه یــــــو دي
دا مضــــــمون نــــــوی، دی لا زوړ نــــــه دی.

**بیا د افغان ملت د ترکیب یادونه کوي، کورد، بلوڅ او داردیان د دې ملت برخه او پښتون یې مشر ورور ګڼي:**

پښــــت مشــــر ورور دی، لــــه ابتــــدا نــــه
ان لــــــه بــــــاختره او بلهیکــــــا نــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــــورد او بلـــــوڅ او داردیـــــان واړه
تـــول یـــو ټبـــر دی، لـــه ډېـــر پخـــوا نـــه.

**استاد خادم د يو شمېر هغو تاريخ ليکونکو له نظرونو سره مخالف دی چې افغان ملت يې په بېلابېلو نومونو سره وېشلی دی، دده له فکره دا تاريخي وېش غلط اساس لري:**

لـــه ابـــدالي یـــې، یفتلـــي جـــوړ کـــړ
لـــه یفتلـــي یـــې، بیـــا چینـــي جـــوړ کـــړ
تـــولي پلمـــې وې، د مفســـدانو
پـــه دې پلمـــو یـــې، افغـــان را ووړ کـــړ.

**همده اندېښنه بيا په يوه بله څلوريزه کې يو ځل بيا يادوي:**

غلجـــی خلـــج شـــو، خلجیـــان ترکـــان شـــول
منګـــل مغـــول شـــول، خلـــک حیـــران شـــول
غـــوري پښـــتون یـــې، راتـــه تاجـــک کـــړ
بیـــا لـــه پښـــتونه، بېـــل افغانـــان شـــول.

**استاد خادم په يوه بله څلوريزه کې د استعمار فساد، چل او نيرنګ ته نغوته کوي او وايي چې استعمار د دې توان لري چې بدرنګه سړی هم د علم په رنګ رنګ کړي او واک ته يې ورسوي. د خادم صيب دا وړاندوينه په تېرو څلوېښتو کلونو کې په هېواد کې په واضح ډول او څو ځله تجربه شوې ده:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استعمار دي، هزار نیرنگه
خلاصی مشکل دی، دده له چنگه
چې مسلط شي، سحر او افسون یې
په علم رنګ کړي، خلک بد رنګه.

خادم صیب پرافغانانو باندې د سختې ورځې ازموینې ته هم اشاره کوي او وايي چې سختې ته هر څوک نه شي ټینګېدلی او نن د امتحان ورځ ده، معلومه به شي چې څوک له دې امتحانه بریمن راوځي:

نوبت راغلی، د امتحان دی
نن په افغان او افغانستان دی
بې پښتو کله، ورته ټینګېږي
نن به معلوم شي، چې څوک افغان دی.

خادم صیب په خپله یوه څلوریزه کې د افغان تاریخ ته اشاره کوي چې فارسیانو په خپل هنر او چل د ځان په نامه تمام کړ، دی دا حال د افسوس وړ ګڼي:

تاریخ زمونږه، خلکو د ځان کړ
اریانا نه، یې جوړ ایران کړ
دې تریجیدی، ته په خندا ګوري
زماني دغه، حال د افغان کړ.

خادم صیب د ژبې یووالی د یو ملت د ارمان د بریا لپاره ضروري ګڼي او له ژبني وحدت پرته ملي ارمان ته رسېدل ناشوني ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وران ملـــت، کلـــه شـــي مـــړ ېـــدلای
بـــې ژبــې نــه شــي، څــوک یــو کېــدلای
چـــې څـــو یـــو نشـــي، ولـــوړ مـــرام تـــه
قامونـــــه کلـــــه، شـــــي رســـــېدلای.

**استاد خادم ملي وحدت د یوه ملت او قام لپاره لوی نعمت گڼي او نشتوالی یې د خدای لعنت بولي. ملي یووالی د ملت د لوړتیا اساسي عامل گڼي:**

وحـــدت پـــه قـــام کـــې یـــو لـــوی نعمـــت دی
چـــې وحـــدت نـــه وي، د خـــدای (ج) لعنـــت دی
چـــې څـــه لوړتیـــا ده، پـــه دې دنیـــا کـــې
لـــومړی ســـبب یـــې، ملـــي وحـــدت دی.

**استاد خادم نفاق د یوه ملت د پرزېدلو او تباهۍ اساسي وسیله گڼي، خو پر دې هم افسوس کوي چې پر دې خبره د ملت پوهول گران کار دی:**

د ملتونـــــــــــو، دغورځېـــــــــــدلو
د پرزېـــــــــدلو، دورکېـــــــــــدلو
بـــې لـــه نفاقـــه، بـــل ســـبب نشـــته
خـــو کـــار مشـــکل دی، د پوهېـــدلو.

**استاد خادم په خپل کلام کې څو ځایه له مشرانو غوښتي چې له خپل قام سره په رښتیني ډول ملگرتیا وکړي، ملت یووالي ته راوبولي، خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې دی په خپله د ملت د بې اتفاقۍ سبب ګرځي دا نو بیا یو بل لوی عذاب او لوی ازار دی:**

مشـــر، لیـــډر دی او کـــه ســـر کـــار دی
چـــې ملـــت یـــو کـــا، دغـــه یـــې کـــار دی
خـــو کلـــه خپلـــه دوی نفـــاق راوړي
دا لـــوی عـــذاب دی او لـــوی ازار دی.

**یو ځل بیا پر بې سره ملت او بې سره مشر نیوکه کوي، دا د خدای (ج) لوی عذاب ګڼي او کله چې پر یوه ملت داسې یو حالت واکمن شي، نو پر ملک باندې بې حسابه او بې کتابه محشر جوړ شي:**

ملـــت بـــې ســـره، مـــال د قصـــاب دی
مشـــر بـــې ســـره، د خـــدای (ج) عـــذاب دی
چـــې بـــې ســـري شـــي، پـــه ملـــک راګـــډه
دغـــه محشـــر دی، خـــو بېحســـاب دی.

**په یوه بله ځلوریزه کې یو ځل بیا له بې سرۍ څخه سر ټکوي، خو د ولسواکۍ یادونه هم کوي چې که هغه په منځ کې نه وي، نو واکوال یا زورواکي چې پر ملت هر څه غواړي، کولای یې شي:**

ملـــت بـــې ســـره، ســـاتل کېـــدی شـــي
چـــې ســـر هـــبڅ نـــه وي، دا هـــم کېـــدی شـــي
دیموکراســـي، چـــې پـــه مـــنځ کـــې نـــه وي
واکـــوال چـــې غـــواړي، هغـــه کـــوی شـــي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خادم صیب رسنۍ او ګوندونه د یوه ملت د ویښتابه لپاره ډېر مهم ګڼي او له هغو پرته یو ملت مړ ګڼل کېږي:**

چې پریس او حزب، د ملت نه وي
دا ملت مړ دی، نور چې هر څه وي
د مړو واک وي، د بل په لاس کې
پرې نه پوهېږي، بد او که ښه وي.

**استاد خادم په ټولنه کې افراد پر دوو کتګوریو وېشي: یو چې ځان د قام لپاره قربانوي او بل چې قام د ځان لپاره کاروي. دی لومړۍ ډله افراد د سړیتوب په معیار برابر ګڼي او دویمه ډله د دې معیار مخالفه ګڼي:**

ځینې قام وژني، د ځان د پاره
ځینې ځان وژني، د قام د پاره
څوک په مېړانه، سړیتوب ژوند کا
څوک کا سپیتانه، د خان د پاره

**استاد خادم د زړه له تله پر افغانانو غږ کوي چې ستاسو د سوکالۍ او پرمختګ لاره قلم او کتاب دی، نور عیبونه نه لرئ، که همدغه یو مشکل مو حل کړ، نو د سوکالۍ پوړۍ ته به ورسېږئ، پر دې یوه څلوریزه باندې هم خورا لوی بحث کېدی شي، ځکه د افغانانو اصلي مشکل همدا فرهنګي فقر دی، کله چې دوی له قلم او کتاب سره روږدي شول، د دوی د ژوند ډېر مشکلات پرې حلېدلای شي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په لوح او بیا په قلم خورم
افغانه ستا، د اعتلا غم خورم
قلم راپورته، کتاب کړه مچې
بل عیب دې نشته، اوس بیا قسم خورم.

**پر پورتنیو سریزو او قطعو سربېره د استاد خادم یو شمېر نور نظمونه هم شته چې په هغو کې هم پښتونولي، پښتانه، افغانیت او ملتپالنه منعکس شوې ده.**

**د (شاعر او قوم) په نامه نظم کې یو قوم ته د شاعر اړتیا انځور شوې ده:**

هر ملت چې شاعر نه لري نادار دی
د شاعر چې قوم ونه لري نو خوار دی
په خپل سر به څوک عالي مرام سر نه کا
چې روان د قام په سر کې شي سردار دی.

**په (مات قلم) نظم کې هم د ملت او ملتپالنې بېلابېلې برخې راغلې دي.**
**په (افغاني وطن) نظم کې هم له هېواد سره مینه څرګنده شوې ده:**

ښکلی دی او بر دی افغاني وطن
هر ځای نه بهتر دی افغاني وطن
ډک دی له لعلونو جواهرو نه
څه وشو که غر دی افغاني وطن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(غوره لاره، له پښتنو نه ګیله، پښتون ته خطاب، لاړې قافلې، نوي نسل ته پیغام، واړه افغانان یو، دا یوه ارزو لرو، پښتانیا ادې، افغاني ترانه، د استعمار زمزمه، نوی جهان، ځوانانو ته بلنه، مستقل افغان ته، یو نظر کړه په ما) او ځینې نور نظمونه ټول د ملت، ملتپالنې او افغانیت پیغامونه لري. د ملت، ملتپالنې، ملي احساس او ملي روحیې په باب د استاد خادم نورې لیکنې او نظمونه هم شته، خو موږ د ده د لیکنو او نظمونو د مهمو بېلګو په توګه د پورته نثرونو او نظمونو یادونه وکړه. د وروستۍ جملې په توګه ویلای شو چې ملي فکر یا ملتپالنه د خادم د اثارو اساسي برخه ده او د ده د فکر محور جوړوي. کوم ملي اصطلاحات، مفاهیم او مسایل چې استاد خادم په خپلو لیکنو کې څېړلي او یا یې په نظمونو کې یاد کړي دي. د هغه تر مړیني نږدې څلور لسیزې وروسته موږ په خپل ټولنیز او سیاسي ژوند کې محسوس کړل اوعملاً ورسره مخامخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دينپالنه

ديني اعتقاد، دينپالنه، اسلامپالنه، د استاد خادم د افکارو او باورونو اساسي برخه ده. خادم اساساً یو دیني عالم او دینپال شخصیت و. ده خپلې لومړنۍ زده کړې له مسجد او مدرسې څخه پیل کړې وې، ان مخکې تر دې چې د مسجد او مدرسې په وره داخل شي، کور کلي کې یې پر دیني زده کړو پیل کړی و. د ده ټوله کورنۍ، له پلاره نیولې، بیا تر نیکه او غور نیکه پورې ټول دیني عالمان وو. دیني زده کړې د استاد د نورو ټولو زده کړو او په را وروسته کې د ټولو کارونو اساسات جوړوي. په کومه زمانه کې چې استاد خادم ژوند کاوه، زموږ په هېواد کې له دیني زده کړو پرته په واقعیت کې نورې زده کړې په اساسي مانا هډو وې نه او که وې هم نو په ډېره ابتدایي بڼه وې. نه یوازې د استاد خادم د علم او تجربې اساس پر دیني زده کړو ولاړ دی، بلکې د پښتو ادب نور پاتې ځلور ستوري، لکه استاد علامه عبدالحی حبیبي، پوهاند صدیق الله رښتین، استاد ګل پاچا الفت او استاد عبدالروف بېنوا د ټولو د زده کړو اساسات همدا دیني زده کړې وې. پر یادو پنځو ادبي ستورو سربېره د دې عصر او ان تر دې دوه درې لسیزې وروسته هم د پښتنو لیکوالو زده کړې پر دیني علومو ولاړې دي. ورو ورو بیا په هېواد کې عصري زده کړې پیل شوې، د دې عصر شاعرانو او لیکوالو هم د خپلو دیني زده کړو تر څنګ نه یوازې دا چې د نویو علومو مخالفت یې ونه کړ، بلکې په خپله یې هم ځان ورسره اعیار کړ، د هغو یوه برخه یې هم راخپله کړه او د دې ترڅنګ یې د هغو په دودونه کې خپل کارنده نقش ولوباوه. د پښتو ادب پنځه ځلانده ستوري او ورسره نور هممهاله لیکوال په هېواد کې په عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول د دوديزو  ديني علومو او عصري علومو تر منځ د وصل کړۍ هم ګڼل کېدی شي. د دې کټه ګورۍ د لیکوالو بل ستر خدمت دا و چې د خپل ديني منطق او علمي قوت په زور يې د يو شمېر هغو ارتجاعي عناصرو، چې د مذهب تر چت لاندې په ټولنه کې د هرې نوې پدیدې مخالفت کوي، د تخریب مخه هم ونیوله. که چېرې دوی د دین عالمان نه وای، نو بیا یې د دین په نامه له دنیا څخه د ناخبرو په اصطلاح عالمانو مخه هېڅکله نه شوای نیولای شو او په دې ډول به تر ډېره وخته په ټولنه کې له دین او مذهب څخه د ترقۍ او تمدن پر وړاندې ناوړه ګټه پورته کېدله. نو زموږ د ویښتیایي پیر دې ډول لیکوالو ستر تاریخي مسولیت او رسالت تر سره کړی دی. د خادم صیب د ديني علومو د زده کړې کیسه مو د هغه له خپلې خولې او د نورو لیکوالو له نظره مخکې تېره کړه. نه غواړم، هغه خبرې بیا تکرار کړم.

خو دلته غواړم په پیل کې د دینپالنې په برخه کې د خادم صیب د ځینو ځانګړو اثارو او لیکنو یادونه وکړم: د ځانګړو اثارو له جملې څخه (مکارم الاخلاق) او (اصحاب کرام، یا لوی اصحابان) د استاد هغه اثار دي چې پر ديني مسایلو لیکل شوي دي او استاد خادم پښتو ته ژباړلي دي. موږ ورته د همدې څپرکي په پیل کې اشاره کړې ده. سربېره پر دې: ( دیانت او روحانیت  بزرگترین نعمت خداوندی،  فتنه قادیانیزم، قیام عمومی مسلمانان علیه قادیانیت پروری پاکستان در ایالت پښتونستان، خیر او نیکي، د اخلاقو موقعیت ، اخلاق او ایمان ، زړه سوی او مهرباني ، رحم او عاطفه، روز عاشورا، غندینه او بده ستاینه، چغلي او خبرې وړل ، انتقاد و نصیحت، مبینات شر منهات، فساد مه کوئ، ایا افلاس سبب ارتشا است؟، د اسلام پیغمبر او قران) او ځینې نورې هغه لیکنې چې په بېلابېلو خپرونو کې چاپ شوې دي. دغه راز د نظم په برخه کې: (دعا، اسلامي ترانه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران ساتونکی، د اسلام ارکان، اسلام او عبادت، توکل ، سردار عالم وفاداري، د اسلام پیغام، ای د دې جهان خاونده، یوه مثنوي، یوه عریضه ، د اسلام د علماوو په حضور ، دین غریب دی) او ځینې نور نظمونه. د استاد خادم د دیني افکاروځرگندونه کوي. په دې مانا چې خادم صیب دا لیکنې،ژباړې اونظمونه دبېلابېلو دیني مسایلو په باب لیکلي دي. غواړو دلته د همدغو لیکنو او نظمونو له جملې څخه پر ځینو یې لنډه لنډه تبصره ولرو، خو تر تبصرې وړاندې غواړو ووایو چې د خادم صیب په دیني اثارو کې دوه سترې محتواوې او ارزښتونه زیات ځلېږي:

الف- د دین اصلي ماهیت

ب- د دین اخلاقي ایډیالونه

دلته غواړو پر همدغو مسایلو لنډه رڼا واچوو:

## الف- د دین اصلي ماهیت:

استاد خادم په یوه لیکنه کې چې (بزرگترین نعمت های خداوندی) نومېږي او پر (۱۳۳۲ل) کال په (اصلاح) کې هم نشر شوې، د انسان په وجود کې خدای ورکړي نعمتونو ته نغوته کوي. له هغې جملې څخه صحت یا روغتیا نه اشاره کوي او پر هغې ټینگار کوي.

استاد په دې لیکنه کې وایي چې انسان باید د خپل خدای (ج) له خوا د وضع کړیو قوانینو او اصولو له مخې خپل صحت ته پام وکړي، که هغه قوانین یې عملي کړل، نو صحت به یې هم خوندي شي او که تر هغو یې سر غړاوی وکړ، نو طبعاً چې خپل صحت ته یې زیان اړولی دی. دی وایي انسان باید د خپلې روغتیا ساتنې لپاره خپل دین ته ډېر ژمن وي، ډېر کار وکړي او له کار څخه ونه ډار شي، بېل بېل کارونه ترسره کړي، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وخت  غذا وخوري او ساده ژوند غوره کړي، جایزه تفریح او ساعتیري وکړي، په دنیا پورې ډېر زړه ونه تړي، په وړو خبرو او ناروغیو ډاکټر ته ډېره مراجعه ونه کړي، دلته د استاد هدف دا دی چې په وړو خبرو ډاکټر ته تګ د ناروغ اندېښنې لا پسې زیاتوي، په تېره بیا هغه ډاکټران چې په ډېر لنډ او تنګ وخت کې ګڼ شمېر مریضان هسې سرسري ګوري، نسخه ورکوي، خپل فیس اخلي او له طبابت څخه یې د تجارت یوه وسیله جوړه کړې ده. استاد په دې لیکنه کې نه یوازې د اسلام د مبارک دین د اصولو له مخې روغتیا یا (صحت) تشریح کوي، بلکې د خپل روزګار تجربې او توصیې هم ورسره ملګرې کوي، هغه وایي:

((انسان در نعمای خداوندی از سر تا پا پوشیده شده و بخشش های بی پایان او بر وی احتوا نموده است، ولی بزرگترین نعمت های او بعد از نعمت حیات و زندگی که در ان انسان هیچ دخل ندارد و تنها مرهون به قدرت میباشد، نعمت صحت و تندرستی است که کم و بیش اراده انسان در ان ذیدخل شمرده میشود، یعنی اگر انسان مطابق قوانین فطرت رفتار کند و کوشش نماید تا اندازه زیادی میتواند از لذایذ و حظوظ صحت بهرمند و مستفید شود، باالعکس اگر انسان از اصول، قوانین و نوامیس افرینش غفلت و یا سر تابی روا دارد، قدرت  در مقابل ان سزا داده و نعمت تندرستی را از انسان میگیرد و با مراض دچار میشود، البته مرض تا مرض فرق دارد، که بعضی قابل تحمل و علاج بوده و برخی دیگر از توان و تحمل انسان ضعیف بیرون میباشد.

اکثراً نصایح و وصایای ادیان و مذاهب و مقررات حکما، و فلاسفه، راجع به صحت و تندرستی انسان باید هیچ وقت به این توصیه ها و مقررات طلایی پشت پا نزند و به ان بی اعتنایی را قابل نشود، که لطمه ها و

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدمه های سختی در قبال دارد و اغلبا در اخر پشیمانی هم فایده نمی کند.

مخصوصاً احکام و فرمایشات اسلام سراسر به فایده صحی انسان تمام می شود، اول دین اسلام به ایمان به خدا هدایت می کند، و با اثبات رسیده است انهائیکه طویل ترین اعمار داشته زهاد و اصحاب عقاید محکم می باشند و اصحاب اعمار قلیل کسانی هستند که عقاید راسخ و اتکای محکمی نداشته قلباً شکاک و وهمی میباشند. و همیشته از خوراک و جراثیم وغیره می ترسند.

دوم اسلام جداً توصیه عفت و ضبط نفس داشته است که مانع نشر امراض زهروی است و امراض زهروی مدهشترین و خطرناکترین مرض ها می باشد.

سوم اسلام هدایت می نماید که باید انسان با امراض نفسی چون حسد، رقابت بیجا، کینه، تکبر، غرور، ایذا رسانی وغیره مجادله نموده بر ان غلبه حاصل کند، و حقیقتاً وقتی انسان نفس خود را ازین بلاها پاک کند، از امراض عصبی نجات می یابد.

چهارم اسلام فرمایش به نظافت و پاکی فرموده و کار و فعالیت را برای انسان لازم دانسته و از عطالت منع نموده است و کار و فعالیت قوی ترین مؤید صحت و قوام دهنده بدن می باشد. ان هائیکه عقب غذا های خوب و دواهای مقوی می گردند و کار و فعالیت رافراموش می کنند و استراحت طلبی را خوش داشته چند قدمی هم بدون موتر نمی بردارند مرتکب مخالفت از قوانین فطرت شده و به امراض خون و عروق و مفاصل دچار می گردند و از نعمت عظیم خداوندی محروم می شوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



من مختصرا چند يادداشت ارايه می کنم، هر چند که شايد راجع به صحت کتابهای ضخيمی خوانده باشيد:

۱-به دين حنيف خويش پابند باشيد.

۲-کار کنيد و از زحمت کشی نترسيد، ولی يکنواخت نه، نوع کار بايد متنوع باشد.

۳- غذا بر وقت مقرر بخوريد و بسادگی گرائيد.

۴-تفريح های، و ساعت تيری های جايز را فراموش نکنيد، و بدنيا انقدر دلبستگی نداشته باشيد.

۵-در امراض عادی و خفيف که خود بخود و يا به پرهيز و يا تبديل غذا خوب ميشود، به داکتر مراجعه نکنيد.

٦-و اگر مجبور مراجعه به داکتر شديد از کسانيکه به صحت مردم علاقه ندارند و پيش از تشخيص، نسخه نوشته می کنند، و در نيم ساعت ۲۰ نفر را معاينه می نمايند خود داری فرمائيد. انشاء الله تعالی صحت و خوشی نصيب تان ميشود.)) (۲۴: ۷۸۲)

استاد خادم په اسلام کې د بېلابېلو مذهبي فرقې رامنځته کېدل د اسلام په ګټه نه بولي او ځينو دا ډول مذهبي فرقو ته چې د سياسي غرضونو پر بنسټ رامنځته شوي او غواړي د سني حنفي اسلام پر وړاندې ودرېږي، له هغې جملې څخه، (قاديانت) يادوي چې د هند او پاکستان تر وېش وروسته ورته دده په نظر د سياسي اهدافو له مخې د ودې زمينه برابره شوه. استاد خادم دا په اسلامي امت کې يوه فتنه ګڼي او په دې باب په يوه ليکنه کې چې (فتنه قاديانيزم در پاکستان) نومېږي، د دې مذهبي فرقې سياسي ماهيت څرګندوي. دا ليکنه داستاد دهغو ليکنو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



جملې څخه ده چې په یو نه یو ډول سیاسي اسلام تشریح کوي. دی په دې لیکنه کې دې ټکي ته اشاره کوي چې د اسلام اکثره علما ان د علامه اقبال په ګډون او د پاکستان اکثریت علما په دې نظر وو چې (قادیانیزم) د اسلام برخه نه ده، خو د پاکستان د کراچۍ واکمنو دا ډله د اسلام د مشرانو او ممثلینو په توګه په واک کې وساتله او پر نورو مسلمانانو یې تحمیل کړه. استاد خادم په دې لیکنه کې وایي:

((در نصف قرن گذشته تغییرات مهمی در جهان رخ داد، اسیای خوابیده نیز ازین تحولات بی نصیب نبوده، و مخصوصاً از قاره هند که در زیر سلطه استعمار بود نعصت های عجیب و غریبی بروز نمود.

دیپلوماتهای دور اندیش استعمار وقتی از رقباء و اقوامیکه بطرف هند بچشم طمع میدیدند میدان را ربود و تسلط شان بر خاک هند محکمتر گردیده و تمام مقاومت ها را از بین بردند، و نه می خواستند در دنیائیکه بسرعت پیش می رود، قاره هند عقب بماند.

بنا بر ان بر اساس دیموکراسی غرب دروازه های فعالیت اجتماعی را بر روی مردم باز نموده. و ملت هند را که بواسطه تعلیم بیدار نموده بود در ساحه مشق و تمرین سیاسی داخل ساخت. استعماریون می فهمیدندکه هیچ چیز دنیا به یک حال و یک و تیر نمی ماند، و هندیکه فردا بدست دیگران بیدار میشود چرا بدست خود شان بیدار نشود؟ در صورتیکه معنی استعمار در اصل ادعای عمران و ابادی است. پس خواستند هند بیدار شود، ولی رجحانات و تمایلات او را در نظر داشته مطابق تقاظای عصر و زمان استفاده رانیز مدنظر بگیرند.

طوریکه مطالعه نموده احساس دین و مذهب را در هند بر تمام شعایر اجتماعی دیگر قویتر یافتند و این احساس را تحریک دادند، از

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذاهب و ادیان مختلفی که در هند وجود داشت قویترین انها را که هندویزم و اسلام بود انتخاب نموده یکی را بدیگری برقابت انداختند، اکثریت هند که هندوها بودند اولتر به نهضت شروع نموده و در صدد چاره کار خویش برامدند اما مسلمین که بحیث اقلیت در هند امرار حیات داشتند چندی بعد متوجه حال و احوال خود شان شدند، چناچه در نهضت مسلمین هند مساعی سر سید احمد خان و رفقای او، و حضرت شا ولی الله صاحب و تلامیذ شان و حضرت مولانا شېخ الهند (رح) و حلقه شاگردان او تا حالی و شبلی و سید سلیمان ندوی و مولانا محمد علی و مولانا محمد قاسم بانی دارالعلوم دیوبند وغیره تا ابد قابل یادگار است، خلص اینکه اساس نهضت هند بر بنیاد مذهب گذاشته شد و هر دو طبقه هند که هندو و مسلمان باشد محور تمام فعالیت های ادبی، اجتماعی و سیاسی خود را مذهب قرار دادند. شکی نیست که دین از قویترین عناصر زندگی بوده و اگر انسان طبق قوانین خداوندی بر ان کار پابند شود، تمام وسایل مادی در مقابل ان مات و مبهوت میماند، اما طبقه حاکم که می خواستند، هند بزودی از دست شان نرود. در صدد پیدا کردن انشعابات دیگری در هر دو طبقه بودند و بر ان کامیاب شدند. چانچه در نتیجه بزرگترین شخصیت هندوستان، مهاتما گاندی از دست یکنفر هندوی متعصب بقتل رسید، و در بین دین حنیف اسلام فتنه قادیانیزم را پیدا نموده تقویت بخشیدند. سیاسیون مغرب در هند توانستند که هند متحده را بدو حصه تقسیم کنند، ولی هند و پاکستان بذات خود قوتی بود که اگر به پای خویش ایستاده می شدند احتمال می رفت که بزودی سر از اطاعت اقایون. بنا بر ان از یکطرف، بریاست هند اختیار داده شد که در هند متحد، شرکت ورزند ویا استقلال خود را اعلان کنند، و از طرف دیگر لیدران مسلم لیگ را وادار ساختند که فرقه قادیانی را در شمار مسلمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محسوب نمایند، در مدت چند سال گذشته سر ان هندو بر تمام موانع غالب امدند، و ریاسات هند را در اتحادیه هند، داخل ساخته جمهوریت ازاد هند را تاسیس نمودند.**

**ولی روسای مسلم لیگ که جز از جاه طلبی و استفاده سوء مرامی نداشتند نه تنها ملت پاکستان را از غلامی نجات ندادند، بلکه فتنه قادیانیزم را نیز بر دین و ائین شان، مسلط ساختند، بیچاره مسلمان پاکستان، که میخواست، در اغوش حریت اسلام حیات ازاد و مرفهی داشته باشد در جنگ دو بلا گیر امد اکنون داد و فغان مسلمان پاکستان را هر شب تمام دنیا می شنود. از مطالعه حقایق فوق انسان درک کرده میتواند، که سیاسیون غرب از تاسیس حکومت اسلام، در پاکستان چه مرامی داشتند.**

**فتنه قادیانیزم که در مهد غلامی و استعمار پرورش یافته است، نه تنهای خطری برای پاکستان، بشمار می رود، بلکه از ان خطری بعالم اسلام نیز متصور است که تشتت و افتراق را، در ملیت اسلامیه خواهد انداخت. تمامی علمای متبحر پاکستان که مفکوره پاکستان زاده دماغ های شان است، و پاکستان بفدا کاری انها به حد دومینیون، رسیده است اتفاق دارند که قادیانیها، خارج از اسلام میباشند، علامه اقبال قادیانیزم را خطر اسلام گفته بود مگر اولیای امور کراچی زمام اختیار تمام مسلمانان پاکستان را در دست اش می دهند، ایا فیصله سیاست کراچی بر فیصله علمای دین در پاکستان در امور دینی تفوق دارد.**

**اگر مبنای پاکستان بر چنین سخایی نمیبود، مسئله پښتونستان که از روی قضاوت دین اسلام و سیاست عادلانه بخوبی فیصله شده میتواند، به صورت برادری حل می گردید، و پاکستان یقیناً به پشتیبانی عالم اسلام که در پهلوی ان وقوع دارد دولت قوی پاکستان محسوب میگردید. قادیانیزم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معتقدات عجیبی دارد، که یکی از ان انکار مطلق از جهاد باسیف میباشد که به عقدهٔ ایشان به هیچگونه جایز نیست. سیاست غرب که از اسلام و قران به لحاظ مسئله جهاد همواره در هراس میباشد قادیانیزم را غنیمت شمرده تا حد توان از سر پاکستان دور نخواهد نمود.**

**زیرا اگر همچو غنیمت ها در بین میباشد پان اسلامیزم در انظار غرب کمتر از خطر زرد و خطر کمونیزم نمی باشد!!!**

**ولی ما مسلمان در مقابل تمام این دسایس و قوای قاهره باین ایه کریمه ایمان داریم که (انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون) و برین وعده زندگی مینمایم که (ولا تنهو او لا تحزنوا و انتم الاعلونه ان کنتم مومنین))**

**(۲۴: ۷۸۴)**

**د خادم صیب له اندېښنې سره سم وروسته له دې فرقې څخه په خلکو بې اتفاقي رامنځته کېږي او خلک يې پر وړاندې ودرېږي، دا مسایل او پېښې هم د استاد خادم په اثارو کې څېړل شوې دي. استاد خادم په ((قیام عمومی مسلمانان علیه قادیانیت پروری پاکستان در ایالت پښتونستان)) کې دې پېښو ته اشاره کوي او پر (۱۳۳۲ل) کال يې په (اصلاح) کې په دې باب یوه لیکنه هم خپره کړې ده. په دې لیکنه کې په پاکستان کې د دې فرقې پر وړاندې د نورو ولسونو د خلکو احساسات هم څرګند شوي او د پښتنو هم.**

## ب- د دین اخلاقي ایډیالونه:

**استاد خادم د خپلو ديني ليکنو او ژباړو په لړ کې يو شمېر اخلاقي مسايل ژباړلي او څېړلي، له هغې جملې څخه (خير ښېګڼې، خلکو ته ګټه رسول، ښه اخلاق او ښه سړيتوب) ليکنې دي. دده له خوا په يوه ژباړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې لیکنه کې چې (خیر ښېګڼې) نومېږي، د اسلام له نظره د خیر ښېګڼې پیغام څېړل شوی، د خیر او شر تعریف شوی، د خیر او ښېګڼې پوړۍ تشخیص شوي او د خیر ګټې بیان شوې دي. په دې لیکنه کې راغلي دي:

((د خیر اطلاق کله کله په عمل صالح او نیکۍ باندې کېږي، لیکن خپله خیر بله خاصه لغوي معنا هم لري، لکه حال صله عطیه، بیا یې په کې توسع کړې ده، نو یې په هر صالح عمل احسان، ښېګڼې او ښو باندې اطلاق کړی دی چې یو انسان یې د خپل انسان ورور سره، بلکې د هر ژوندي حیوان سره کوي، تر دې چې حسن بصري ویلي: ((البر من لا یوذی الذر)) ښه سړی هغه دی چې مېږتون هم ازار نه کړي او د خیر ضد شر دی او د شر خاوند ته شریر او فاجر وایي، یعنې هغه څوک چې ظلمونه او فسادونه کوي او بل چا په ضرر او بد یې نه ډېل کېږي او هر کله چې د خیر فعل او د نیکو عملو ممارست د انساني ټولنې د راحت اطمینان او د سلامتیا سبب ګرځي او هر کامل انسان چې د انسانیت معنا پېژني پوهېږي چې د خیر د فعل نه د خلاصون چاره نشته، نو له دې کبله یې خیر ته واجب ویلي دي، یعنې هغه خیر چې په انسان واجب دی او اخلاق فاضله په انسان کې د خیر له هغې عاطفې څخه صادرېږي چې د ده په نفس کې راسخه شوې وي، نو ځکه مولفینو ویلي دي:

د علم اخلاق موضوع صرف ((د خیر فکر)) دی. دا هغه شی دی چې د تربیت علماوو ډېر اهمیت ورکړی دی او دا فکر باید په ورکوټوالي په زړونو کې پیدا او کلک کړی شي او له ورکوټوالي او صغارت څخه کوچنیو ته د خیر رسولو عادت ورکړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د دې فکر په درلودلو او استحکام کې یو برابر نه دي، بلکې نسبت دې فکر ته په درجو او مراتبو وېشل شویدي چې حضرت نبي کریم (ص) ورته قانون او میزان ایښی دی او خدایږو چې دا له هغو ادبي قوانینو څخه ډېر باریک او ربښتنې قانون دی چې سړی ورباندې له ځان سره محاکمه کوي، دا دی د رسول الله (ص) قول ((کارونه ټول په نیت سره دي)) یعنې د هر کار او عمل د قبول او اعتبار مرتبه د دغه عمل د خاوند د نیت او قصد په لحاظ او د ده د ارادې د حسن او اعتدال په اندازه ده، مثلاً څوک چې د خپل پوروړي حق د حاکم د حکم نه وروسته ادا کړي، ده هم گویا یو اندازه ښه وکړل، لیکن نه هغومره چې یو سړی بې له غوښتنې او حکم څخه د خپل پوروړي حق ادا کړي، مثلاً هغه څوک چې په خپله ځان ښه ساتي، خوري، څښي، راغونډوي، خپل حاجتونه پوره کوي، دی ښه کوي، لیکن نه هغومره لکه څوک چې له اهل، عیال او خپلوانو سره ښېگڼې کوي او دا سړی بیا د هغه سړي د فضل او ښه والي اندازې ته نه شي رسېدای چې له پردو او اجنبي خلکو سره چې هېڅ په ده حق نه لري، ښېگڼې کوي، همدا رنگه هغه څوک چې شر پرېږدي او ښه کار کوي، لېکن د خلکو له کبله او د هغو له وېرې دی پدې فضیلت کې له هغه چا سره نه شي سمېدای چې دی د ثواب د گټلو او د خدای د وېرې له کبله ښه کارونه کوي او دا وروستنی سړی بیا په فضل او نېکۍ کې د هغه چا غوندې نه دی چې ښه کارونه کوي. تش د ښه والي د پاره او یوازې په دې سبب چې دی د ښو سره شوق او مینه لري، بې د یو د باندې موثر او محرک څخه نور دغه داخلي سایق چې سړی ښو ته راکاږي، د دې نه کله په ضمیر او وجدان سره او کله په شعور باالواجب سره تعبیر کاوه شي او د اخلاقو ځینې علماوو دې ته ((قانون ذاتي)) ویلی دی او دغه نفسي سایق په بشر کې هغه وخت کلکېږي او غالبېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په ((دیني)) او اجتماعي تربیت او پالنه کې کامل شي، لکه چې د دیندارانو خواص او د صدیقینو او ابرارو طبقه ښه کار تش په دې لحاظ کوي چې دا ښه دی، لکه چې د خپل رب سبحانه تعالی عبادت خاص د ده د ذات د پاره او د دې د پاره کوي چې دی د عبادت مستحق دی، نه د جنت په طمع او نه د اور له وېرې، لکه چې ډېرو کاملینو په دې تصریح کړېده، یو له دوی نه ویلي دي: ((زه د خدای (ج) عبادت محض د تعظیم او تجلیل د پاره کوم او د ثواب طمع نه لرم)) او د دیني او نفسي تربیت همدغسې لوېې درجې ته زموږ سردار حضرت عمر (رض) اشارت کړی دی او زموږ د سردار ((صهیب رض)) په حق کې یې فرمایلي دي، نعم العبد صهیب: ((لولم یخف الله لم یعصه)) یعنې صهیب خورا ښه سړی دی، که له خدای (ج) نه نه وېرېدای، هم گناه به یې نه کولی، مطلب دا دی چې د ده نفس او فطرت دومره ښو ته راجع دی چې که فرض کړو چې دی له خدای نه وېرېږي او له عذابه ونه ډارېږي هم گناه نه کوي او هغه چې په ده واجب دي، نه یې پرېږدي، نو خصوصاً په داسې حال کې چې دی (رض) له خدایه وېرېږي او له قهره او عذابه یې ځان ساتي، ځومره به له عصیانه وړاندې گرځي، نو صهیب (رض) د حضرت عم (رض) په شاهدۍ سره د هغه نیکانو او ښو خلکو سردار دی چې ښه محض د ښه‌والي په نیت او د ضمیر او وجدان په غریزه او د واجب د پېژندگلوۍ په لحاظ ادا کوي.

د خیر او شر پېژندگلوي او تمیز د بشر په فطرت کې پرته ده، بلکې فطرت سلیم او مزاج مستقیم وي، نو ده ته تقریباً بدیهي وي.

هر څه چې د ښو ممارست او مشق وي، نو دا په نفس مشکل او سخت تمامېږي او د ورکوټوالي نه تربیت روزنې، پالنې او عادت کولو ته احتیاج لري، په ټولو کې یو ښه شی چې نفس ورباندې د ښو کولو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدو نه منع کېدلو ته تیارېږي، هغه دغه قاعده ده چې امتونو پر له پسې او د هر دین متدینینو منلې ده، هغه دا ده چې ((په بل هغه مه کوه چې په ځان دی نه وي خوښ)) او د همدې زرینې قاعدې په معنا ډېر نبوي احادیث راغلي دي چې هغه له دې نه ښه فصیح او خواږه دي له هغو څخه دا لاندې حدیثونه دي:

((ښه کوه او له بدو ځان ساته، هغه کارونه کوه چې ته یې ښه ګڼې، کوم وخت چې ته پاڅېږې او خلق یې درپسې وایي، نو کوه یې او مه ګوره هغو ته چې ته یې بد ګڼې کوم وخت چې ته پاڅېږې او قوم یې درپسې وایي، نو له دېنه ځان ساته)) ((کوم وخت چې ته د بل چا د عیبو د یادولو اراده وکړې، نو خپل عیبونه په یاد کړه.)) ((په خلکو هغه پېرزو کوه چې په ځان دې پېرزو وي.)) ((هغه چې ته نه غواړې چې خلک یې درڅخه ووینې، نو چې یوازې اوسې هم مه یې کوه.)) له دې قسمه په دې باب کې ډېر حدیثونه او ایتونه راغلي دي چې استقصا یې دلته نه ده ممکنه، نو په همدغو مو کفایت وکړ.)) (۲۴: ۸۳۴)

ټولنیز او فردي اخلاق بله موضوع ده چې په ټولنه کې د عدالت د تامین سبب ګرځي او عامه نظم ټینګوي، استاد په خپلو ژباړل شویو دیني لیکنو کې د اخلاقو څېړنې ته ډېر پام کړی او په څو لیکنو کې یې دا موضوع څېړلې ده. په یوه ژباړل شوې لیکنه کې یې چې (د اخلاقو موقعیت)نومېږي، د اخلاقو موضوع څېړلې ده، په دې لیکنه کې، ښه اخلاق تعریف شوي او د دیني اساساتو پر بنسټ ښه خوی د دین نیمه برخه ګڼل شوې ده. په دې لیکنه کې دښو اخلاقو د ترویج په خاطر په خپله د رسول الله مبارک دا مبارک حدیث د قوي دلیل په توګه راوړل شوی چې ویلي یې دي: ((زه د دې لپاره رالېږل شوی یم چې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویونه تمام او پوره کړم)) الله تعالی هم د خپل استازي ستاینه په (حسن خلق) سره کړې ده. په دې لیکنه کې راغلي دي:

((مکارم الاخلاق (ښه خویونه) هغه ادبي روح او الفاظ دي چې لوی ځښتن د بشر په نفسونو کې اېښي دي او د دوی سعادت او شقاوت یې پر دې پورې تړلي دي او د بشر د ډلو د پوره والي او کښته والي د مقایسې لپاره یې دغه اخلاق دغسې تله مقرره کړي دي چې خورا واړه باریک او نري فرقونه په دې سره سنجول کېږي. لکه ځینې علماوو چې ویلي دي: امتونه په ابتدایي حالت کې په بدني قوت سره یو پر بل زیاتېږي، نو چې څه پوره شي، بیا د علم پر اساس یو بل ته درناوی کوي، کله چې تر دې هم پوره شي، نو بیا د اخلاقو پر بنسټ یو بل ته درناوی کوي.

هو، لوی ځښتن اسماني دینونه د دې لپاره چې انسان ته د سعادت لاره ښیي او د مدنیت او تهذیب مقام ته یې رسوي. ځکه چې لوی خاوند دا اراده کړې ده چې اخلاق او واجبات دې د دې شرایعو او دینونو د ظهور لپاره کلک رکن او لوی سبب وي، لکه حضرت انس (رض) روایت کړی دی:

((ان حسن الخلق نصف الدین))

ژباړه: ښه خوی نیم دین دی.

همدارنګه په صحیح حدیث کې د انس (رض) په روایت راغلي دي: ((ان الخلق وعاء الدین)). یعنې ښه خوی د دین لوښی (ظرف) دی. معنا یې داسې ده چې ښه خوی نسبت دین ته داسې دی، لکه د لوښي نسبت هغه شي ته چې په کې پروت وي. د مثال په ډول: لکه اوبه چې په خپله یې له یو داسې لوښي نه چې راغونډې کړو او له ضایع کېدو نه یې وژغورو، نشي ټینګېدی، دا رنګه تعلیمونه هم په خپل حال نه پاته کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قوت یې نه ساتل کېږي، تر څو په مديننو کې داسې کلک او قابت اخلاق نه وي چې د دين د تعليمونو څخه چاپېره شي او له ضايع څخه يې وساتي. لکه رسول کريم (ص) چې فرمايلي دي: (ان الله حف الاسم مکارم الاخلاق و محاسن عمال) يعنې: ((لوی څښتن اسلام په نېکو خوينو او ښو عملونو سره ساتلی دی)).

خپله رسول کريم (ص) د بعثت غرض دا ښودلی دی چې ښه خويونه خپاره کړم، لکه چې ويلي يې دي،: ((زه د دې لپاره رالېږل شوی يم چې ښه خويونه تمام او پورته کړم)). کوم وخت چې خدای تعالی وغوښتل چې د خپل نبي ستاينه وکړي، نو د نوموړي ستايته يې په حسن خلق سره وکړه او ويې فرمايل:

(انک لعلی خلق عظيم)

دا ډېره رښتيا خبره ده چې ته په لويو خويونو باندې متخلق يې. همدارنگه حضرت علی کرام الله وجهه ويلي دي: ((لا فرين کحسن الخلق ولا تجارة کاالعمل الصالح. د ښه خوی په شان ملگري او د ښه عمل غوندې سوداگري هچېرې نشته)). د يو حکيم وينا ده هېڅ قوم د علم زياتوالي ته دومره اړتيا نه لري، لکه د ښو خويونو ډېروالي ته يې چې لري.)) (۲۴: ۸٦۵)

استاد خادم د اخلاقو موضوع ډېره مهمه گڼي او په دې باب د (اخلاق او ايمان) په نامه يوه ليکنه ژباړي، ددې ژباړې هدف همدا دی چې (اخلاق او ايمان) خلکو ته په ښه ډول معلوم شي. په دې ليکنه کې د (ايمان) تعريف کېږي، د ايمان ډولونه او ځانگې په گوته کېږي، د ايمان او اخلاقو تر منځ رابطه معرفي کېږي. هر څوک چې دا ليکنه لولي د ايمان د پياوړتيا سبب يې گرځي. په دې ليکنه کې راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ایمان په لغت کې کلک یقین او د شرعې په ژبه د اسلام په تعلیمو او صحیحو عقایدو باندې ټینګ باور کولو ته وايي. مکارم الاخلاق د اسلام غټ غټ تعلیمونه په غېږ کې نیسي او په حدیث شریف کې راغلي دي: ایمان څه د پاسه اویا څانګې لري، خو خورا ښه یې کلمه طیبه ده او ادنا یې له لارې نه ضرري شی لرې کول دي. وګورئ ضرري شی لکه کاڼی، اغزی او بل داسې شی چې لاروي ته ضرر رسوي، له لارې نه لرې کول یې د اسلام له خصلتونو څخه وبلل او دا بې له دې نه چې د اجتماعي واجباتو څخه یو واجب دی، بل نو څه شی دی؟ نو ښه چې د ضرري شي لرې کول د ایمان له شعبو څخه وبلل شو، نو د ایمان شعبې او خصال چې د شخصي او اجتماعي واجباتو سره تعلق لري، څومره ډېر شول او دا چې (څه د پاسه اویا) یې ویلي دي؛ دلته مراد حصر او تعین نه دی، بلکې مراد د مطلق ډېروالي او کثرت دی. په عربي او پښتو دواړو کې دا یو اسلوب دی چې له کثر څخه د اویا په لفظ تعبیر کوي.

لکه وايي چې اویا وارې درغلم، مانا دا چې ډېر وارې درغلم. دلته ډېر داسې حدیثونه شته دي چې د ایمان د شعبو، اخلاقو او ادبي خصایلو نمونې دي. لکه: اشرف د ایمانونو دا دی چې خلک دې امین وګڼي او اشرف اسلام دا دی چې خلک ستا له ژبې څخه سلامت اوسي. مومن هغه دی چې خلک ورباندې د خپلو مالونو او ځانونو له خوا ډاډه وي او مهاجر هغه دی چې له ګناهونو او بدو کارونو څخه بېزار وي.

هجرت پر مسلمانانو هغه وخت واجب و او ښه کار ګڼل کېده چې کوم وخت چې مکه مکرمه د شرک او کفارو ځای و، خو هغه وخت چې مکه فتحه شوه او د اسلام او توحید ښار شو، نو د هجرت لپاره دغه ښه والی پاتې نه شو، نو په دغه وخت کې له ګناهونو او بدو کارونو څخه بېزاري د هجرت پر ځای ودرېدل. په حدیث شریف کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((زښت ښه ایمان دا دی چې ته په خلقو هغه شی پېرزو کړې چې په ځان یې پېرزو کوې او په دوی پېرزو نه کړې کوم چې په ځان یې نه پېرزو کوې او ښې خبرې وکړئ، یا غلی اوسې. (څوک چې پخپله نېکی خوشحاله او خپله بدي یې خفه کړي، نو دغه مومن دی) معنی یې دا ده چې داسې زړه او وجدان چې سړی په بد کار باندې خپه او په ښه یې خوشحاله کړي، نو دغه سړی مسلمان دی. حضرت علی کرم الله وجهه فرمایلي دي چې: ایمان دا دی چې په هغه ځای کې رښتیا غوره کړې چې ضرر در رسوي. په حدیث شریف کې هم راغلي دي: (هېڅوک تر هغه مسلمان نه بلل کېږي، تر هغه چې د خپل ورور لپاره هغه شی خوښ نه کړي کوم چې د ځان لپاره یې خوښوي، په تاسو کې ښه ایمانوال هغه دی چې اخلاق یې ښه وي).

(ښه ایمان له کاملونکیو څخه دی، همدارنگه لوړ همتي د ایمان له ارکانو څخه ده. لوړ همتي د لویو کارونو  د کولو سعیه او د زړه غټوالی دی. دین معامله ده، یعنې هغه څوک دیندار دی چې معامله یې ښه وي. په دې باب ډېر حدیثونه راغلي دي، خو مونږ به په همدې کفایت وکړو. دا ټول حدیثونه په دې دلالت کوي چې کوم شي ته چې مونږ مکارم‌الاخلاق وایو، هغه که شخصي وي او که اجتماعي، هغه د ایمان پوره کوونکي بلل کېږي، نو په چا کې چې دغه اخلاق زیات وي، نو د هغه ایمان ډېر بشپړ دی. له دې نه ښه معلومېږي چې اخلاق له ایمان سره څه اړیکه لري.

د حاتم طایي لور (سفانه) وایي: ((کوم وخت چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملگرو ونیولو، نو ما ورته وویل چې که تاسو دا مناسبه بولئ، نو ما پرېږدئ، د قبایلو دوستان راباندې خفه او دښمنان راباندې مه خوشالوئ. ځکه زه د هغه چا لور یم چې د خپل قوم مشر و، بندیان به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصول، بدکاران به يې وژل، ګاونډيان به يې ساتل، د خپل قوم حمايت به يې کاوه او له نورو سره به يې کمک کاوه. همدارنګه څوک يې نه نا اميده کول، د هغه نوم حاتم طايي دی.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وويل: ((ای نجلۍ! دا په رښتيا د اسلام صفتونه دي، نو حکم يې وکړ چې دا نجلۍ پرېږدئ، ځکه چې د دې پلار مکارم الاخلاق خوښول)) کله چې دوی خوشې شول، نو دا نجلۍ او ورور يې عدي بن حاتم مسلمانان شول.)) (۲۴: ۸۷۹)

د يادونې وړ ده چې دا پورته درې ليکنې د (مکارم الاخلاق) د اثر يوه برخه ده چې په اصلاح ورځپاڼه کې د مستقلو ليکنو په بڼه هم خپرې شوې دي. (مکارم الاخلاق) که څه هم د استاد له خوا ژباړل شوی اثر دی، خو په دې ژباړه کې له محتوا سره سم د وضاحت په خاطر ده خپل فکر هم ورسره ملګری کړی او د موضوع د څرګندتيا په خاطر يې زموږ په ټولنه او ژبه کې ورته مثالونه ورکړي دي.

استاد خادم د خپلو ديني ليکنو او ژباړو په لړ کې د فساد موضوع هم څېړلې ده. فساد چې هم د دين او هم د دنيا له نظره يو مردود عمل دی او د ډېرو زياتو ټولنيزو ناروغيو سبب کېږي، استاد يادې موضوع ته نغوته کړې، هغه د (فساد مه کوئ!) تر عنوان لاندې په يوه امريه عنوان کې دا موضوع ارزولې ده، په دې ليکنه کې د فساد او فسادګر پر څرنګوالي په لنډو ټکو کې، خو په ډېر دقت سره بحث شوی، فساد داسې يوه مضره پديده ګڼل شوې چې د ټولې ټولنې د تباهۍ سبب ګرځي. دا ډول ليکنې زموږ د ټولنې د پرون ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي. په ليکنه کې راغلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((دا امر په قرانکريم کې په تکرار راغلی دی او په تکرار سره مسلمانان له فساد څخه منع شوي دي، قرانکريم د بشر د لارښوونې او هدايت لپاره نازل شوی دی او اکثره پکې ده ((یا ایها الناس)) ای خلکو په کلمه سره منع شوي دي، نو په دغه صورت سره انسانان د اسماني شرايعو پر اساس اصلاح ته رابلل شوي او له فساد څخه منع شوي دي. ((لا تبغ فی الارض الفساد))

ژباړه: په ځمکه کې فساد مه جوړوئ

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي: ((ان الله لا يحب الفساد))

ژباړه: بې له شکه چې الله سبحانه و تعالی فساد نه خوښوي.

همدارنګه ډېر رنګونه، عبارات او کلمات د فساد د مخنوي لپاره د قرانکريم په ايتونو کې راغلي دي. زنا او داسې نور کارونه الله سبحانه و تعالی فحشا بللي دي، غلا او رشوت يې ظلم او بد اخلاقي ګڼلې ده. اوس نو پوښتنه دا ده چې فساد څه شی دی؟

فساد شر انګېزي، د دښمنۍ پيدا کول او د دوو کسانو په منځ کې تيرو ټکولو او جګړې کولو ته وايي. د قرانکريم وروستۍ سوره د ناس سوره چې په دغه سوره کې د دغو مفسدانو او حاسدانو له شر څخه د ژغورنې لپاره د لوی څښتن په مرسته حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته امر شوی دی. فساد خلک د خولې او ژبې په اور باندې دومره تباه کولای شي چې يو عسکر يې پخپله تخريبي قوه نه شي تباه کولای. هغه کسان چې ځانونه مسلمانان ګڼي دوی بايد خپل ځانونه له فساد څخه وساتي. د فساد دغه ډولونه د دروغو او دسيسو له ډولونو څخه دي. د شر خبرې جوړول او د خلکو په منځ کې د هغوی خپرول چې د دوستانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې اختلاف پیدا شي، دا د هغو خلکو کار دی چې اخلاقي جراات نه لري، په دروغو نه شرمېږي او دسیسه عیب نه گڼي.

نو دوی ټوله ورځ خبرې جوړوي او په همدې ډول یې په خلکو کې خپروي چې هېڅوک پر دې نه پوهېږي چې دا کار چا کړی. د دې کسانو پېژندل خورا گران کار دی، دوی ماسکونه لري او پر خپلو مخونو یې اچوي، په ښکاره یو ډول او په پټه بل ډول وي، مخامخ خوښي کوي او په پټه خلکو ته کوهي کني او خلک په کې ور غورځوي او په دې سره خپلې موخې ترلاسه کوي. دا چې د دغو کسانو له شر او دسیسو نه خلاصون خورا گران کار دی، نو قران کریم په ډېر اهمیت ورته قایل شوی دی او په سورة فلق او سورة ناس دواړو کې یې د دغو مفسدانو له شر څخه مونږ ته د پناه غوښتلو امر کړی دی.

هغه کسان چې په صراحت خبرې نه شي کولای او هغه کسان چې دروغ وایي او پر ثابت شي او هغه کسان چې دسیسه کول روا گڼي، بې له شکه چې دغه کسان مفسدان دي. دوی د اوبو غوندې په نرمۍ سره کورنۍ او ملتونه له منځه وړي او دوی د خپلې موخې د ترلاسه کولو لپاره په هېڅ رذالت نه شرمېږي او په نرمه لهجه د خلکو ورمېږونه ماتوي.

دوی د وینو غوندې یو قوم او یو ملت خوري، تر هغه وخت یې خوري چې له منځه یې نه وي وړی. هر کله چې په یو قوم او ملت کې دا ډول کسان ولیدل شي چې په بدیو نه شرمېږي او عیب یې نه گڼي، نو په دې ډول فساد، دروغ او دسیسې خپله ریښه ټینگوي. که څوک مفسدان نه شي پېژندای، نو په عمومي صفاتو به وپېژندل شي، خو ځینې د زکاوت څښتن بیا دا ډول کسان په اسانۍ سره پېژندلای شي، گڼې دوی ډېر چالاک وي او د خپل بام واورې د بل پر بام وراچوي، هو رزایل پسندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مفسدانو لویه علامه ده، مسلمانانو! له مفسدانو ځان وساتئ. په تا پورې پناه غواړو ای زمونږ خدایه!!!)) (۲۴: ۱۰۸۱)

د استاد د دا ډول دیني لیکنو او ژباړو شمېر زیات دی چې موږ یې پورته یوازې څو بېلګې راوړې او د لیکنو عنوانونه مو ورته یاد کړل. پر پورته لیکنو او ځانګړو اثارو (ژباړو) سربېره استاد خادم په خپلو منظمو تخلیقي اثارو کې هم ځینې دیني مسایل یاد کړي او یا یې هم خپل کلام هغو ته وقف کړی دی.

د نظم په برخه کې د (دعا او اسلامي ترانه) نظمونه دیني اسلامي رنګ لري، د (قران ساتونکي) په نامه په یوه څلوریزه کې وایي:

لـــه مـــخ د ځمکـــې چـــې ایمـــان والـــوت
د احمـــد روح چـــې لـــه جهـــان والـــوت
پـــه غـــړ کـــې چـــا و اول نیـــولی
چـــا دی ســـاتلی چـــې قـــران والـــوت.

په یوه څلوریزه (توکل) کې بیا پر خدای (ج) توکل کوي په مسلمان کې قوت او قران کې توري پاتې بولي او وایي، نهیلي کېږئ مه:

قـــوت لا شـــته دی پـــه مســـلمان کـــې
تـــوري لا پـــاتې دي، پـــه پـــاک قـــران کـــې
مایوســـه نـــه شـــئ د خـــدای ج لـــه رحمـــه
ای افغانـــانو پـــه لـــوی جهـــان کـــې.

استاد خادم په خپل منظوم کلام کې یو حمد لري، د سر بیت یې دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امـــــت لپـــــاره محمـــــد مصـــــطفی دی
حبیـــب یـــې خـــدا دی حبیـــب یـــې خـــدا دی

په دې نظم کې چې ټول (۱۵) بیته دی، د حضرت محمد (ص) اوصاف بیان شوي دي.

(د اسلام پیغام) په نامه یو نظم کې چې ټول (۵۹) بیته دی، پر مسلمان باندې غږ کوي چې د اسلام اصلي پیغام ته غاړه کېږدئ او له ناوړه کارونو لاس واخلئ!

(ای د دې جهان خاونده) نظم کې د کایناتو له رب څخه هیله کوي چې په دې دنیا کې هر څه ستا په واک کې دي، نو د استعمار له ظلم او ستمه یې وژغوره او نړۍ له ظلم څخه پاکه کړه.

ددې ترڅنګ (یوه مثنوي، یوه عریضه، د اسلام د علماوو په حضور، دین غریب دی) او ځینې نور نظمونه هم دیني پیغامونه لري. د دې بحث په پای کې غواړو د (مکارم الاخلاق) له اثر څخه د استاد خادم یوه ژباړه چې (چغلي او غیبت) نومېږي او په (اصلاح) ورځپاڼه کې د (چغلي او خبرې وړل) په نامه هم خپره شوې ده. د دې بحث د وروستي مطلب په توګه راوړم:

په دې لیکنه کې چغلي یا خبرې وړل او غیبت د اسلام له نظره څېړل شوي دي.

((چغلی او غیبت ورور او خور دي او اکثره سره یو ځای ذکر کېږي. چغلي چې په عربي ورته نعیمه وایي، دا ده چې سړی د چا داسې خبرې، احوال او واقعات خلکو ته یوسي چې سړي ته ضرر لري یا پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرمېږي یا د ده یو اینده کار ورخرابوي، دا معلومه خبره ده چې د دغه بد خوی له خپرېدو څخه په خلکو کې څومره شر او فساد پیدا کېږي او د دوستانو په منځ کې دښمني اچوي او د ښو یارانو تر منځ پرېکړه کوي، نو چغلي د اسلام له منافي اخلاقو څخه شمېرل شوې ده. رسو الله ویلي دي:

((د چغلي او حسد خاوند زمونږ څخه نه دی)). ((له تاسو څخه د خدای په نزد ډېر د قهر وړ هغه څوک دی چې چغلګري کوي، هغه چې د وروڼو په منځ کې بېلتون راولي)).

قران شریف په هغه چا عیب ویلي دي چې دغه خوی یې لرلو، لکه چې وایي:

((دی بد ستایونکی او چغلګر دی)).

چغلګري نمیمه د یو نه بل ته خبرې وړل دي، مګر جاسوسي دخلکو خبرې د واک او اختیار خاوندانو او هغه کسانو ته وړل دي چې د هغو قهر دډېرو تاوانونو سبب ګرځي. دا قسم چغلګري ډېره بده ده، قران شریف د دې نه منع کړې ده، لکه چې وایي:

((ولا تجسسوا؛ جاسوسي مه کوئ)).

جاسوس د خلکو په پټو اسرارو کې لاس وهي او د خلکو پټ رازونه او دسینې خبرې دواک خاوندانو ته وړي او هغوی مشتبه کوي او په خلکو یې په قهر وي او په دغه شان د پاس لاس او لاندې لاس خلکو په منځ کې بدګوماني، بدنیتي، حسد او کینه پیدا کوي. غټه خبره دا ده چې د خلکو د سینو اوزړونو په کوایفو کې ګوتې وهل شرعاً منع شوي دي، بلکې واکداران باید ظاهر او عمل ته وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران كريم مونږ ته امر كړى دى چې د دغو جاسوسانو په خوله باور ونه كړو، تر څو چې پټه پلټنه وكړى شي او معامله ثبوت ته ورسېږي، خداى تعالى وايي:

((كه تاسې ته كوم فاسق څه خبر راوړي، نو ښه يې ځان ته معلوم كړئ)).

يعنې: استيضاح يې وكړئ.

وگورئ جاسوس ته يې فاسق ووايه او همدغه شرم يې بس دى. هو! لكه څه رنگه چې غيبت په ځينې مواردو كې جواز لري، نو دغسې جاسوسي هم ده. كه سړى ووينى چې زيد د عمرو د پاره يو څه پسات جوړوي او غواړي چې ويې وژني، ويې شرموي يا يې حق تلف كاندي، په دې وخت كې نو دا عدل نه دى چې مونږ چپ كېنو او د واک خاوندان پرې خبر نه كړو. دا خو شخصي معاملات شو، راغلو اجتماعي مسايلو ته، د عام امنيت د ساتلو، د جنگونو، غزاگانو او فتنو په وخت كې د واک خاوندان مضطر دي، چې داسې كسان وساتي چې احوالات ورته راوړي، د خلفاوو په وخت كې يې داسې خلكو ته (اصحاب الاخبار) ويل: اوس ورته (پټ پوليس)، (رپوټ چيان) يا (مخبران) وايي.

اوس نو مدعا دلته دا ده چې كوم وخت دغسې غيبت او جاسوسي روا شوه، نو دا بيا هېڅكله روا نه ده چې دغه كار دې دغسې خلكو ته وسپارل شي چې په خلكو كې په بې وجدانۍ، اغراضو، حسد، بول پرستي او خباثت سره مشهور وي. بلكې واجب ده چې خبرې رسوونكي دې حر، پاک زړي، مخلصان او د داسې وجدان خاوندان وي چې هېڅكله د حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه نه تېرېږي او د واک خاوندانو ته شخصي خبرې نه وړي او همېشه يې د ضرر رفع او د خبر رسول مراد وي.

خبره دا ده چې داستخباراتو په واسطه د خلکو اسرار او پټ رازونه معلومول په هغه خاص وختونو کې موجود وي چې که هوښياري و نه شي، نو فساد به پېښ شي او مملکت به خراب شي، مگر په عادي او معمولي حالاتو او حوادثو کې د خلکو په پټو کارو او موهومو اسرارو کې لاسونه وهل د خلکو زړونه بدوي او په مخالفت يې ټينگوي. پيغمبر صلعم ويلي دي:

((کوم وخت چې د واک خاوند په خلکو کې شک لټوي، نو فاسد به يې کړي)).

د چغلي او خبر وړلو، لوی نقصان دا دی چې چغلگران او خبرې وړونکي اکثره په خبرو کې خپل اغراض ، مقاصد او مطالب وړاندې بيايي، دوی گوري چې کومې خبرې ښې خرڅېږي او له چا سره د دوی کينه ده او چا ته بايد ضرر ورسوي او په څه صورت بايد خپل موړی ټينگ کاندي. اکثرا د عام نظام او ملي منفعت سره د دوی دل جمي نه وي، نو ځکه د دوی د فايدې په ځای ضرر ډېر وي. دا ضرر د دوی له لاسه دواړو خواوو ته متوجه دی، هم حکومت او هم ملت ته، ای خدايه! مونږ په تا پورې له ټولو شيطانانو څخه پناه غواړو.)) (۲۴: ۹۹۱)

په پای کې يو ځل بيا يادونه کوم چې په اسلامپالنه يا دينپالنه کې د استاد خادم ليکنې، ژباړنې او نظمونه تر دې زيات دي چې موږ يې پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه وكړه، خو موږ يې دلته دا څو ليكنې د بېلګې په توګه يادې كړې او د ځينو متن مو رااانتقال كړ.**

**په مجموعي ډول كه په ديني برخه كې موږ د استاد خادم، كار، زيار، فكر او اثار ارزوو، نو اكثره يې پر ټولنيزو اخلاقو او ټولنيز سمون راڅرخي، ده كه په ديني برخه كې ژباړې كړي او يا يې خپلې ځانګړې ليكنې دي، اكثره يې د ټولنيز سمون او د يوه ايډيال مسلمان د جوړولو لپاره هڅه ده. خادم د يوه ديني عالم په توګه په دې برخه كې خپل مسوليت ترسره كړى دى.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټولنپالنه

استاد خادم د خپلې ټولنې د پرمختګ، سوکالۍ او سمون لپاره د خپلې وسې تر وروستي بریده هلې ځلې کړي، د ده د اثارو یوه درنه برخه پر همدې ټولنپالنې راڅرخي، دی که کله هم د پښتو، پښتون، پښتونولۍ، افغان او افغانیت بحث کوي، نو هدف یې همدا دی چې همدا د افغاني ټولنې رغنده بشري او معنوي توکونه دي. د ده په نظر، ده چې کوم څلور کتابه لیکلي، هغه یې د همدغې ټولنې سوکالۍ، د سمون او پرمخیون لپاره لیکلي دي:

سپینتمن راوړ د ژوند کتاب
کلي رایج کړ، د خوند کتاب
خیرالبیان شو، الهام روښان ته
خادم ته راغی د ژوند کتاب.

بیا څلورو اسماني کتابونو ته اشاره کوي او پر پښتون غږ کوي چې د حق لاره مونده کړه او د مرګ له خوبه راویښ شه!

څلور استائي، څلور کتابه
درته راکوز شول، له لوړ جنابه
پښتونه لار دې، حق ته مونده کړه
که لا ویښ نه یې د مرګ له خوابه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم د ټولنې د پرمختګ لپاره سیاسي او خپرنیز حرکتونه پیل کړل، د ویښ زلمیانو غورځنګ کې ده فعال حضور درلود او هلته یې پر ټولنپالنې او ملتپالنې زیات ټینګار کاوه، د افغان ملت ګوند په جوړښت کې یې هم فعال ګډون درلود، د هغوی تګلاره هم پر ټولنپالنې ولاړه وه، (افغان ولس، طلوع افغان) او نورو ګڼو خپرونو کې د ده زیات شمېر لیکنې د همدې ټولنپالنې پر محور راڅرخېدې. منظوم او منثور کلام دواړو کې یې په دې اړه ګڼې لیکنې شته چې دلته یې ځینو ته نغوته کوو: (زموږ په وطن کې تر ټولو لوی سوال د کلچر سوال دی، د اجتماع جراثیم ، په ټولنه کې سوداګران ، اجتماعي اخلاق ، مشر او کشر ، زموږ جامعه ، ښځې په انتخاباتو کې) او ځینې نورې لیکنې یې پر همدې محور راڅرخي. په نظم کې: (عالم او ټولنه، اعتدال، نوې لاره، ګډوډي او استفاده، څلور کتابه، خپلواک پښتون او ټولنپالنه، ټولنیز اعلان) او داسې نور نظمونه یې د ټولنپالنې د فکر انځورنه کوي.

استاد خادم یو ټولنپال لیکوال او سیاسي فعال و، د ده ټولنپالنه په نظري او علمي ډګر کې څرګنده وه، په نظري ډګر کې خو د دې خبرې د سپیناوي لپاره د ده لیکنې پوره وضاحت ورکوي. دی په یوه لیکنه کې چې (د اجتماع جراثیم) نومېږي، له خپلې ټولنې سره خپله مینه په ډاګه کوي، دی په ټولنه کې ناروغي پر دوو ډولونو وېشي، یوه طبي یا شخصي او بله ټولنیزه ناروغي. دی په دې نظر دی چې د شخصي ناروغۍ درملنه اسانه ده، خو د ټولنیزې هغې ډېره سخته ده. دی رشوت، رشوت خواره، د ټولنیزې ناروغۍ جراثیم ګڼي، دی وایي که موږ غواړو خپله ټولنه ورغوو، نو په کار ده، چې د دې جراثیمو درملنه وکړو، دی وایي:

((څرنګه چې د طب د نوو تحقیقاتو څخه ثابته شوې ده، اکثره بدني مهلک امراض له جراثیمو څخه پیدا کېږي؛ دا رنګه د اجتماع د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانو تدقیقاتو څخه دا راپاته ده چې انساني اجتماع هم مهلک امراض لري او دا مهلک امراض هم د یو نوع مخصوصو جراثیمو په واسطه پیدا کېږي او نشرېږي. دومره قدرې خبره ده چې د بدني امراضو جراثیم بې له ذره بینه څخه نه لیدل کېږي. مگر د اجتماع جراثیم غټ غټ د هر چا په مخکې گرځي او هر څوک یېویني او گوري یې. د بدني امراضو د جراثیمو څخه ځان ساتل په لږ کوښښ سره هر څوک کولای شي؛ لیکن د اجتماع د جراثیمو په غېږ کې هر څوک، په خپله ځان غورځوي او نه پوهېږي چې دا وضعیت دوی او د دوی ټولو هم صنفانو ته مهلک اثر لري!

ښه نو دا د جمعیت جراثیم څه شی دي؛ دا بدې خواره دي چې د مهلکو جراثیمو غوندې د اجتماع حیاتي منابع مسموم کوي او فنا ته یې سوق کوي. د دې خبرې دلیل دا دی چې په هر ملک کې چې بدې خواره پیدا شي، د هغوی په واسطه حق او باطل؛ رښتیا او درواغ سره گډوډ شي. بیا نو نه په حق او رښتیاوو خپله ثمره مرتبېږي او نه په باطل او دروغو باندې څوک ترټل کېږي. بلکې کله دا هم وشي چې حق او رښتیا ویونکي د باطل او دروغ پالونکو له خوا داسې غوبل شي، لکه بوس د خرو د پښو لاندې. په دغه شان سره بدې خواره په هر اجتماعي مقصد کې خپلو شخصیاتو ته دخل ورکوي او له دغه پلوه څخه د ظلم په ترویج کې کومک او کوښښ کوي.

او دا خو صحیح حدیث دی؛ ((الملک یبقی مع الکفرو لا یبقی معل الظلم.))

نو په اخره کې د یوې اجتماع دېوال له بېخه رالوېږي او یو ملت تباه شي.)) (۲۳: ۵۵۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد خادم پورتنۍ لیکنه که څه هم ډېره لنډه وه، خو د یوې اساسي ټولنیزې ناروغۍ د عاملانو د رشوت خورو څېره او د هغه د ضررونو کچه یې په ښه ډول ټولنې ته وړاندې کړې ده.

استاد خادم د ټولنې د سوکالۍ او پرمختګ لپاره پر مینه او محبت، ټولنیز توازن ټینګار کوي، دی (مشر او کشر) د ټولنې ده انډولیزې برخې ګڼي، په همدې نامه په یوه نثر کې د دواړو مکلفیتونه څرګندوي. استاد خادم په دې نظر دی که چېرې دا دواړه قشره خپل مسولیتونه ترسره نه کړي، نو په ټولنه کې عدالت، ثبات او پرمختګ نه رامنځته کېږي. دی وایي مینه او محبت د ژوندانه د پیاوړتیا اساسي عناصر دي، کوم کارونه چې په مینه او محبت ترسره کېږي، په بل هېڅ نه شي ترسره کېدلای، خادم د (مشر او کشر) په لیکنه کې وایي:

((دا دوه درجې دي چې ټول انساني افراد د قدرت له خوا په دې وېش وېشل شوي دي.

که د یوې ټولنې ټول افراد د دې وېش په لحاظ، هر یو خپله خپله وظیفه وپېژني او اجرا یې کړي، نو ډېر ډېر مشکلات به حل شي او ډېر زړه بدوالی به په خوشحالۍ سره بد ل شي.

مشري په درې قسمه ده: د رتبې، علم او د عمر په لحاظ نو کشروالی هم، دغسې په درې قسمه وېشل کېږي.

په جامعه او ټولنه کې لکه څرنګه چې مشر په کشر حق لري، دا رنګه کشر هم په مشر حق لري.

د مشر حق په کشر باندې دا دی چې باید د خپل مشر خبرو ته غوږ کېږدي، ویې مني او په در نه سترګه ورته وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د کشر حق په مشر باندې دا دی چې مشر باید له ده سره زړی سوی، خواخوږي او مهرباني څرګنده کا.

نو مشران باید د کشرانو د ښېګڼې لپاره سعیه وکړي: ویې روزي او تربیه یې کاندي او کشران د خپلو مشرانو منښت وکړي او په عزت ورته وګوري.

که په یوه جامعه کې پر دغه اساس عمل وشي، نو رښتیا خبره دا ده چې تر ډېره حده پورې به جګړې او نښتې ورکې شي!

څکه چې د دې قسم ګذران څخه مینه او محبت پیدا کېږي، مینه او محبت د ګډون، بلکې د ژوندانه لپاره قوام بلل کېږي، هغه کارونه چې په مینه او محبت باندې کېږي، په بل هېڅ شان نه شي کېدای!)) (۲۳: ۵۹۷)

استاد خادم په ټولنه کې د عدالت د تامین، ثبات، نظم او امن لپاره (اجتماعي اخلاق) ډېر ضروري ګڼي او په دې نامه یوه ځانګړې لیکنه لري. استاد په دې لیکنه کې د ټولنې د افراد ترمنځ د دندو بریدونه ټاکي او پر اخلاقي اصولو ټینګار کوي.

((په یوه ټولنه کې متفاوت افراد او متعدد اشخاص موجود وي. نر، ښځې، واړه، غټ، مشران، کشران، مور وپلار، اولاد، قوي، ضعیف، امر، مامور، حاکم، محکوم او داسې نور.

اجتماعي حقونه چې ادیانو، فلسفې او اخلاقو تعین کړي دي، له دغو څخه مراد دا دی چې انسانان خپل خپل حدود وپېژني، پر خپلو حدودو ودرېږي او هر فرد هره ډله خپله وظیفه د نورو په نسبت اجرا کاندي. نو انسانان به خوشحاله، مسعود او نېکبخت شي او نزاع ګانې، جنجالونه او تصادمات به لرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلي صورت سره که سړی نظر وکاندي، اجتماعي حقوق هغه شیان دي چې د جامعې د افرادو په منځ کې د یو بل د قرضونو په صورت تثبیت شوي دي او د هرې ډلې د اړتیا او طبیعت سره سم د هغو حقوق منل شوي دي.

مثلاً ښځه او مېنزه چې په یو کور کې اوسي، دوی مجبور دي چې یو تر بله ښه ګذران وکاندي. نارینه چې نسبتاً کلک پیدا شوي دي. باید د باندې کار او ګټه وکړي او ښځه حمل، رضاعت د اولاد پالنه، دکور سامانول چې د دې په غاړه ایښودل شوي دي، بایدد کور رییسه وګڼل شي، نو ځکه  خاوند د کور نه د باندې رییس او مېرمن د کور دننه چارو رییسه ده. کوم وخت چې سړی د کور په کارو کې مداخله کوي، نو د ښځې احترام به ساتي او که ښځه له کوره وځي، نو د څښتن په صلا او مشوره به وي. دواړه به یو تر بله مینه کوي او یو د بل زړه به ساتي. د همدغه متقابلو حقوقو په اساس په پښتو کې مېړه ته خاوند او ښځې ته مېرمن ویل شوې ده.

معنی یې دا ده چې یو د بل خاوند نه دی، بلکې دواړه د خپل حق خاوندان دي او مکلف په ښه ګذران.

سړی چې له ښځې نه دا غواړي چې دا دې د مېړه پت وساتي او خپل ځان دې د حیا په پوړني کې ونغاړي. دغه رنګ ښځه هم دا حق لري چې د مېړه نه د خپلو حقوقو د مراعات انتظار وکړي.

مدعا دا ده چې اجتماعي حقوق هېڅکله یو طرفه نه دي. دا د خلکو ناقص تصور دی چې دوی د څښتن، مشر، معلم، امر، حاکم او مور و پلار په حق قایلېږي او د مېرمنې، کشر، شاګرد، مامور محکوم او اولاد حق ته اعتنا نه کوي. اجتماعي حقونه دوه جانبه دي. زموږ لوی استازی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: ((چا چې زموږ پر کوچني رحم ونه کړ او چا چې زموږ د مشر عزت ونه کړ. هغه زموږ له ډلې نه دی.)) يعنې مسلمان نه دی، همدغه معنی لري، وګورئ، د کشر حق يې په مشر باندې رحم، مهرباني او مينه وښودله او کشر ته يې وويل چې د مشر عزت او احترام وساتي. دلته مراد له رحم څخه يوازې لساني او د ژبې د سر رحم نه دی، بلکې مراد دا دی چې مشر دې د کشر د تربيت، وړاندې تګ او انکشاف لارې ورته سمې کړي. چې سړيتوب او تکامل ته ورسېږي. ځکه چې دمشر تجربه او پوهه زياته ده، نو له دغه لارې څخه دې دکشر سره کومک او مرسته وکړي او کشر دې مشر ته د احترام سر ټيټ کاندي. خبره دې يې ومني او غاړه دې ورته کېږدي چې څو نظام قايم شي او له مشر څخه پوره ګټه او فايده واخلي. دغه رنګ اولاد او مور و پلار هم دي. مور و پلار په اولاد او اولاد په مور و پلار حق لري. له نکاح څخه مراد يوازې د جنسي ميل تقاضا نه ده. بلکې صالح اولاد پيدا کول هم دي او د صالح اولاد روزنه او لويونه د مور و پلار وظيفه ده. له دغه حديث څخه مراد چې ويلي يې دي: ((مور و پلار له اولاد څخه يهودي، نصراني او مجوسي جوړوي)) دا دی چې د مور و پلار لاس د اولاد په تربيه کې ډېر زيات تاثير لري، تر دې چې د اولاد بد اخلاقي او کفر هم مور و پلار ته راجع کېږي، نو که مور و پلار تش اولاد زېږوي او د سمې روزنې فکر يې نه کوي، نو لويه اجتماعي او ديني ګناه کوي.

دغه شان ټول اجتماعي حقوق دوه مخيزه دي. دا چې په حديث کې راغلي دي: ((ستاسو هر يو د رعيت خاوند دی او د خپل رعيت په باب به ورڅخه پوښتنه کېږي.))

دا معنی لري چې هر يو فرد او هره طبقه ښايي چې خپله وظيفه په ښه شان اجرا کړي، که نه وي اجتماعي سعادت لاس ته نه راځي.))(۲۳: ۵۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم د خپلو ټولنپالو لیکنو په لړ کې په ټولنه کې یو بل اساسي مضمون ته هم اشاره کوي، سره له دې چې دا خبره اوس د یوې کلیشې حد ته رسېدلې چې ښځه د ټولنې نیمه برخه ده او د هر یو په ژبه دا خبره خوره ده، خو کله چې عملي ډګر ته داخلېږو، هېڅکله هم ښځو په ټولنه کې د ټولنې د نیم بدن رول نه دی ترسره کړی او نه چا دې رول ته پرې ایښي دي. په ټولنیز ژوند کې د ښځو د فعال ګډون یوه برخه هم انتخاباتي پروسه ده، چې اوس هم ډېری افغانان حاضر نه دي، خپلې خویندې او میندې یې په ازادانه توګه په ټاکنو کې ګډون وکړي. استاد خادم له نن څخه شپږ اووه لسیزې وړاندې دې نقطې ته متوجه شوی و او دا نیمګړتیا لا نیمه پېړۍ وروسته هم هماغه شان محسوس ده.

استاد خادم په ټاکنو کې د ښځو پر ګډون ټینګار کوي او په دې برخه کې دخپل وخت اساسي قانون ته اشاره کوي، هغه په دې باب وايي:

((نوي اساسي قانون ښځو ته پوره حقوق ورکړي دي، د اساسي قانون د پاس کېدلو په وخت کې په لویه جرګه کې هم د ښځو نماینده ګانې موجودې وې او اوس هم ښځې د پارلمان د عضویت لپاره د کاندیدېدلو او رایه ورکولو حق لري، خو دغومره ده چې ښځې تر اوسه د سرشمارۍ په اساس د نفوسو تذکره نه لري، نو باید چې د خپل هویت د ښودلو او شخصیت د اثبات لپاره انتخاباتي حوزو ته ورشي او د هویت ورقه واخلي، د دې لپاره چې د انتخاباتو د مراقبت جرګه ښځه وپېژني، باید خپل کوم محرم شخص چې تذکره لري له ځانه سره بوځي. دا مسله څه ډېر مشکلات نه لري، خو په هر صورت اوس چې په ښځو کې د سواد او پوهې خاوندانې ډېرې دي، باید خپلو قانوني حقونو ته ملتفتې واوسي او د دې فرصت نه پوره استفاده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رایه ورکولو کې د ښځو دلچسپي اخيستل ضروري خبره ده، د ښځو حقونه مودې مودې خوړل شويدي، نو اوس چې قانون ښځو ته حق ورکړی دی، نو که ښځې د دې حق نه استفاده نه کوي، نو گويا معنا به يې دا وي چې ښځې خپل حق نه غواړي، يا دا چې ښځه په سياسي او اجتماعي مسلو کې د حق او برخې اخيستلو استعداد نه لري، زموږ په عقيده خو ښځه هم لکه نر انسان دی، دې ته هم خدای (ج) عقل، فکر او دانش ورکړی دی. ښځه کولی شي چې علم او مطالعه وکړي. ښځه کولی شي چې د انسانيت لپاره خدمت وکړي. ښځه کولی شي چې لوی شهرت حاصل کاندي.

يوازې دا دنده چې ښځه گوندې د ښکلو هنرونو، ارټ او صنعت استعداد لري او د علومو، فنونو، سياسياتو او اجتماعياتو استعداد نه لري، بلکې ښځې ټول انساني استعدادونه لري، څه زمانې داسې تېرې شوې چې ښځې حيثيت نه لاره، بلکې د غلامۍ دوره په ښځه او نر دواړو تېره شوېده اوس بايد ښځې په پوره حريت سره د قوم، وطن او مملکت په چارو کې داخلې وي، خو دا کار په قانوني ډول نه و. اوس زموږ قوانينو صراحت وکړ او دا مسله په ښه صورت حل شوه.

د افغاني ښځو شهامت او مېړانه د افغانستان په تېر تاريخ کې د نارينه وو نه کمه نه وه او اوس هم دافغانانو د ازادو قومونو په ټولو واقعاتو او حوادثو کې ښځې له نارينه وو سره اوږه په اوږه ولاړې وې. به جرگو کې شاملې وې، په جنگونو، سنگرونو او دفاعي چارو کې موثر رول لري، د کرکيلې، مالدارۍ او د کور د پخلي او مېلمه پالنې زياته برخه د ښځو په ذمه ده. اوس موږ د افغانانو د ښارونو ښځو ته دا غږ کوو چې خپلو نورو خويندو ته دې وگوري، يوازې په فيشن او غربي تقليد پسې دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګرځي. د علم، کمال کار کسب او په اجتماع کې د پوره برخې اخيستلو امتحان دې ورکړي.**

**دغه دی د امتحان ورکولو يو ميدان په انتخاباتو کې برخه اخيستل دي، دا مخه د ښځو لپاره کامله ازادي ده.)) (۲۴: ۱۲۲۳)**

**په پورتنۍ ليکنه کې نه يوازې په ټاکنو کې د ښځو پر ګډون ټينګار شوی، بلکې هغه حقوق چې اساسي قانون ښځو ته ورکړي، له هغو څخه پر ګټې اخيستنې هم ټينګار شوی، نن هم زموږ نوي اساسي قانون (د استاد خادم د زمانې له اساسي قانون څخه پوره شپږ لسيزې وروسته) په ټاکنو کې ښځو ته د ګډون پوره حق ورکړی، خو نه ښځو له دې حق څخه پوره ګټه پورته کړې او نه ورته حالاتو او نامناسب چاپېريال له دې حق څخه د کار اخيستلو پوره مجال ورکړی دی. د استاد خادم ليکنه موږ ته له نن څخه د شپږو لسيزو وړاندې تصوير راکوي، خو دا تصوير لا اوس هم په همغه شکل ژوندی دی او څه ډېر بدلون په کې نه دی راغلی.**

**د خادم صيب پر نثري ليکنو سربېره د هغه په نظم کې هم ټولنپالنې ته پاملرنه شوې او ډېر ځايه د ټولنې سمون، پرمختګ، تعادل او ثبات ته نغوته شوې ده. هغه په ټولنه کې د عالم رول ته اشاره کوي او وايي:**

عمـــل هـــم کـــار دی، پـــه حقيقـــت کـــې
عـــالم عامـــل دی، پـــه جماعـــت کـــې
ځينـــې ښـــودل کـــا ، ځينـــې کـــول کـــا
دا تقســـيم شـــوی، دی پـــه فکـــرت کـــې.

**خادم په ټولنه او د ژوند په چارو کې پر (اعتدال) ټينګار کوي او وايي هر کله چې په ټولنه کې تعادل نه وي، سوکالي له منځه ځي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیـــا ودانـــه، پـــه اعتـــدال ده
دا د ژونـــــد لاره، او د کمـــــال ده
ژونـــد کـــه د فـــرد وي، کـــه د ټـــولنې
بـــې توازنـــه، بنـــادي محـــال ده.

**خادم د ټولنپالنې او ټولنپوهنې په باب ځانګړي اثار ليکلي او (نوی ژوندون) د ژوند (نوې لاره) ګڼي، په يوه څلوريزه کې پر هېوادوالو غږ کوي چې همدا لاره تعقيب کړي:**

خـــادم ايســـتلې ده، نـــوې لاره
نـــوي ژونـــدن تـــه، ســـمه هـــواره
ټولنپالنـــه ، نـــوې رڼـــا ده
پاڅـــه روان شـــه، بـــې خـــوف و ډاره

**دی ګډوډي د ټولنې او ځوان نسل تباهي بولي، ټوله کې يې د قام تباهي ګڼي او وايي چې ډېرې بدمرغۍ له همدې ګډوډۍ څخه زېږي:**

محـيط ګـډوډ کـړه، ځـوان بـه ګـډوډ شـي
چـې ځـوان ګـډوډ شـو، قـام بـه ګـډوډ شـي
پـه ګـډوډۍ کـې هـر څـه کېـدی شـي
هـر څـه بـه کـړی شـې شـان بـه ګـډوډ شـي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد د (خپلواک پښتون او ټولنپالنه) په نامه په یوه څلوریزه کې یو ځل بیا خپلو هغو کتابونو ته نغوته کوي چې ده، د پښتون او په ټوله کې د افغان ولس د ویښتابه لپاره لیکلي دي:**

نــــوی ژونــــدون دی، نــــوی رڼـــا ده
پـــه نـــوې لار کـــې، د ژونــــد بقـــا ده
خپلــواک پښــتون تــه، چــې پــرې رســېږي
ټولنپالنـــــــه ، مـــــــو مـــــــدعا ده.

**او په پای کې د یوه (ټولنیز اعلان) په توګه پر خپلو هېوادوالو غږ کوي چې د ټولنې، وطن او ملت د بقا په خاطر څو شیان ضروري دي چې هغه باید خوندي وساتل شي:**

چــې وطــن، ژبــه، ملــت در څخــه لاړ شــي
نــو بــه څــه شــی، درتــه پــاتې شــي افغانــه
خلــک پــه ژبــه را ټــولېږي، پــه وطــن کــې
بیــا پــه دوی شــي، د ملــت خونــه ودانــه.

**ددې بحث په پای کې غواړو یادونه وکړو چې د ټولنې د استحکام، جوړښت، رغښت، پرمختګ او سوکالۍ په برخه کې د خادم صیب په اثارو کې نورې لیکنې او نظمونه هم وو، خو موږ یې دا یو څو د بېلګې په توګه راوړل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سمونپالنه

لکه څنګه چې مو په تېرو برخو کې یادونه وکړه، استاد خادم یو ملتپال، دینپال او ټولنپال لیکوال و، دغسې یو سمونپال لیکوال او شاعر هم و. ده د ټولنې دسمون او پرمختګ لپاره چې څه کولای شول هغه یې تر سره کړل. د لیکوال په وس کې له قلم او لیکنې پرته نور څه نه شته، خادم هم د خپل وس تر وروستي بریده د ټولنې د اصلاح لپاره خپل قلم وکاراوه او په دې برخه کې یې په لسګونو لیکنې وکړې، خادم هم په نظم او هم په نثر کې د ټولنې د اصلاح لپاره ژور مفاهیم وړاندې کړل او ټولنې ته یې د خپلې اصلاح لارې په ګوته کړې. کومې لیکنې یا نظمونه چې خادم صیب یوازې په مشخص ډول د ټولنې او ولس دسمون لپاره لیکلي، هغه په دې ډول دي: ((د اصلاح لاره، د خپل هر فعل اجر، نجات په څه کې دی؟، د انصاف دارای یوه نمونه، ښځه د پښتنو په جامعه کې، نېکان او محسنان، تشدد او سختي، متقابل اخلاق، ګډون، رښتیا او دروغ، انصاف در وزن و ترازو، د مېرمنې او خاوند ګډ ګوزران ، د چا غیبت مه کوئ، زړه سوی او مهرباني، د اجتماعي سمون لیاره، اجتماعي حقوق، په سیاسي مبارزه کې تقوا، متقابل احترام، په مملکت کې اصلاحي فعالیت، قوت او نېکي، سمه لار، د ځان تربیت، د سړیتوب لار، سپینتمن وایي، غم او زغم، اعتدال، ښځه انسان دی، د وطن اصلاح.)) او ځینې نورې لیکنې او نظمونه چې دلته به یې ځینې د بېلګې په توګه راوړو او خپل لنډ لنډ تحلیل به هم ورسره ملګری کړو. د سمونپالنې په برخه کې د استاد خادم لیکنې پر درېو محورونو راڅرخي. الف- فردي سمون، ب-ټولنیز سمون،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج- هېوادنی سمون. چې دلته یې همدې درېو برخو ته په لنډېز سره اشاره کوو:

## الف- فردي سمون:

استاد خادم په یوله لیکنه کې چې (د اصلاح لاره) نومېږي، د یوې ټولنې اصلاح په یوه ساده مثال سره توضیح کوي. دی په دې لیکنه کې دا واضح کوي چې پر یوه ناړامه شخص متواتر فشار، شکنجه او زور کارول د اصلاح لاره نه ده، تشویق، هڅونه او یو شخص ته د ښو کارونو د چانس ورکول هم کولای شي، یو منفي شخص پر یو مثبت شخص بدل کړي. دی په دې برخه کې د انگلستان د یوه چارواکي مثال راوړي چې څنگه یې یو منفي کرکتر په خپل تدبیر او هڅونه پر یوه مثبت شخص بدل کړ. زموږ په ټولنه کې هم د سمونپالنې داسې بېلگې وې. محمد گل خان مومند چې کله په کندهار کې تنظیم رییس و، نو له ډېرو هغه سرزورو اشخاصو یې په ډېر تدبیر او هڅونه د قانون د حاکمیت لپاره کار اخیسته چې پخوا یې قانون ته غاړه نه ایښوده. د استاد خادم د دې لیکنې هدف دا دی چې د زور او فشار د کارونو په انډول کله کله تشویق او هڅونه د زیاتې اصلاح سبب گرځي. استاد خادم وایي:

((اورېدلي مو دي چې د انگلستان پادشاه پنځم جارج د تخت د کېناستلو مخکې یو وخت امیر البحر مقرر شو، د هغه ځای قاعده ده چې هر نوی امر کومې ادارې ته ورشي، نو ړومبی څو ورځې خاص د دغه ادارې دفترونه گوري، علم راولي او وروسته په کار شروع کوي.

پنځم جارج په دې سلسله کې کوم وخت چې د مامورینو د سوانحو دفتر گوري، د یو سړي د سوانحو پاڼې یې ولوستلې چې پخوا څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



امران په هغه تېر شوي وو، ټولو په سرو قلمونو په دغه پاڼو کې د دغه شخص بېکاري او بد اخلاقي لیکلې وه.

امیر البحر (جارج) دغه سړی راوغوښت او د ده د سوانحو پاڼې یې ورښکاره کړې چې دغه دی ستا امرینو ستا په باب دا، دا یاداشتونه پرېیښي دي، مگر زه نه غواړم چې ستا د سوانحو پاڼې په بدعملۍ ډکې وي، زه غواړم چې ته یو کاري او اخلاقي سړی شې! دغه دی زه ستا په مخکې ستا د سوانحو پخوانۍ لایحه شکوم، د ده د سوانحو لایحه یې وشکوله، دریاب ته یې واچوله، د دې ورځې نه وروسته سوانح بیا د سره څخه لیکل کېږي، اوس ته پوره اختیار لرې چې دخپلو سوانحو په لایحه کې د هر شي په لیکلو راضې اوسې، هغه به ولیکل شي!!

وایي چې د دې واقعې څخه د دغه سړي په حیات داسې عمیق اثر ولوېد چې تر دې وروسته هغه بېخي بل سړی شو او ښه ښه خدمتونه یې د لاسه وشوه.)) (۲۳: ۱۷)

دا له فشار او قوې کارولو پرته د فردي سمون یوه بېلگه وه.

استاد خادم په ټولنه کې افراد پر څلورو کته گوریو وېشي: (خپل چاري، سادگان، تاجران او نېکان)

استاد ددې هرې کته گورۍ ځانگړنې بیانوي، په دې ترڅ کې نیکي هم تعریفوي او صالح اشخاص هم په گوته کوي. دا ډول لیکنې د استاد په اثارو کې د فردي او ټولنیزې سمونپالنې څرگندې بېلگې دي. د موضوع د لا څرگندتیا په خاطر به ښه وي چې د (نېکان او محسنان) په نامه د استاد خادم خپله لیکنه دلته راوړوو:

((وگړي په اجتماعي لحاظ موږ په څلورو گروپو ویشلي وو. خپل چاري، سادگان، تاجران او نېکان یعنې محسنان. د درې اولو ډلو څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېو مخکې مقالو کې څېړنه وشوه او د دوی خواص مميزات او نښې وښودل شوې. اوس غواړو چې نېکان او محسنان وښيو: وګړي ګومان کوي چې نېکان بس هغه خلک دي چې دوی پټه خوله، بېغرضه، بې ازاره او مظلومان وي.

مګر نه! بې ازاره خلک، خو هغه خلک دي چې موږ په ساده ګانو کې ګڼلي دي. نېکان او محسنان هغه کسان دي چې په منفي صفتونو او عباراتو د دوی تعريف کېږي. نېکان او محسنان د بابا ادم د اولاد بوره او مالګه ده. که دا ډله خلک په انساني جامعه کې نه وای او نه پيدا کېدای، نو ژوند به سراسر تريخ، ستغ او د زهرو ګوټ و، بيا به نو ددغسې ژوند څخه مرګ ډېر خوندور او مستريح و.

زموږ خالق جهان پيدا کړو په دې جهان کې ډېر ښه او بد، سپين او تور، مضر او مفيد، خواږه او ترخه څيرونه پيدا شول او د ده قدرت وغوښتل چې د جهان ترکيب له متضادو شيانو څخه وکاندي. په دې عالم کې انسان هم پيدا شو، انسان يوه جامعه نسخه ده، هر هغه څه چې په ټول عالم کې وو، تقريباً هغه ټول د ده په ذات کې راغونډ شول، نو ځکه په خپله د انسان په خټه کې زميني او اسماني، ملکي او شيطاني، نفساني او روحاني ګټې، منفعت او مادي خوند څخه يې نور هدف نشته، نو په عين زمان کې په همدې نوعه کې د داسې کسانو پيدا کېدل هم يوه طبيعي خبره ده چې هغوی د خير، افادې، د عالم د تعمير او خوشحالۍ لپاره ځانونه وقف کړي وي، زه پوهېږم چې ډېر خلک دا خبره نه مني او هغوی وايي چې انسان هم د نورو حيواناتو غوندې پوه او زماني دومره لوی علما او فلاسفه د دې خبرې قايل او معتقد دي چې سړی يې د نوم په اورېدو د تاثير لاندې راځي او بيا نو خپل فکر نه کوي. مګر دغسې ډېر قرون او اعصار په دې انسان تېر شوي دي او دغسې ډېرې د علم په رنګ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیدې باطلې او مزخرفې ثابتې شوې دي چې یوه له هغو څخه د انسان د شلم قرن دغه سوچه مادي نظریه ده چې انسان یو خالص لذت پرست او منفعت خوښوونکی حیوان ګڼي او دغه لذت او نفع هم هغه لذت او نفع ګڼي چې خاص وده ته راجع وي. د دغه نظریې خاوندان د انسان د تاریخ ټول رجال، حوادث او مسلکونه په همدغه تله تلي او په همدغه شان یې تحلیل کوي، دوی نه مني چې انسان څنګه د نورو د پاره لاغرضه ایثار او فداکاري کولی شي؟! دا ډېر اوږد بحث دی، د دې موضوع ټول دلایل او اسناد دلته راغونډول ګران او مشکل کار دی.

دا موضوع دومره مبسوطه او وسیعه ده چې لوی کتاب لیکل غواړي، خو سره د دې ټولو خبرو بیا هم دومره ویل په کار دي چې که د انسان طبیعت همدغسې مادي او خپل چاري وای او د دنیا د تاریخ ټولې انساني واقعې فریبونه، دروغ او مزخرفات وای، نو د انسان په فلسفه او ادبیاتو کې به د خیر، فضیلت، ایثار، فداکاري، عشق، محبت، مینې او فایده رسانۍ لغات او کلمات څنګه موجود شوي وای!

که څوک ووایي چې د انسان په ژبه او لغت کې خو د شیطان او شریک الباري لغت هم شته او ناممکن هم یو لغت دی، مګر دلته فکر په کار دی چې د شریک الباري او ناممکن لغات منفي تعبیرونه دي، نه مثبت حقایق. خیر، نیکي او خوبي خو د انسان په لغت کې د یو مثبت حقیقت په صورت راګډ شوي دي. بله خبره دا ده چې هر کله ومنو چې د انسان په نوعه کې شیطاني طبیعتونه او هغه چې سراسر ځان غواړي او د بل په هېڅ ضرر رسولو اړ نه وي، موجودېدای شي، نو څه مانع موجود دي چې یو خالص منور، منافع او فیاض انسان دې هم پیدا شي؟ اګر چې له هرې خوا د نفې او اثبات د پاره دلایل پیدا کېدی شي، خو چې انسان خپل ضمیر ته رجوع وکړي هېڅکله د خیر، نېکۍ، عشق او ښکلا څخه ابا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي، بلکې دغه حقیقت ته په سجده پرېوځي، دغه حقیقت چې کوم وخت جسماني جامه واغوندي او د انسان په صورت راښکاره شي، نو نېک او محسن سړی ورته ویل کېږي. نیکي او احسان هغه ښېګڼې ته ویل کېږي چې د غرض په ناولتیا ککړه نه وي:**

**د نیک او محسن لپاره دا لازمه نه ده چې په سر به یې جوغه ولاړه وي. دا یو طبیعت دی او یو فطرت دی. دغسې یو شخص خوند او مزه اخلي چې خلک مسعود خوشحاله، مرفه او مطمین وګوری او د همدغه عشق او خوند لپاره د ده حیات او ژوند وقف وي. په خپلو ناکامیو، الامو او مصایبو کې چې د نورو د سعادت لپاره وي، ډوب وي، خو دی غواړي چې لږ نور عذاب هم په خپل سر واخلي، څو چې په خلکو هوسایي راشي.**

**دغه کار مکر، فریب او ریا نه وي، بلکې دغه د ده طبیعت شوق او اراده او جبلي ذوق وي، دی کله د ځانه سره ډېر ژاړي، خو د نورو د پاره او کله هېڅ نه ژاړي. ځکه چې په عمل کې دومره منهمک وي، چې ژړا د پاره وخت نه لري. دغه انسان د نورو غوندې ښکاره ظاهره خو څه د بزرګۍ ښکرونه نه لري، خو حقیقتاً د ده زړه د ورېښمو د یو نري ویښته نه هم ډېر نرم، ولې قوت او اراده یې د فولادو او الماسو څخه کلکه وي. یو مرګ کولی شي چې د ده د فعالیت مخه ونیسي، بل هېڅوک نه!**

**مګر دا نېک او ښاغلی انسان مرګ یوه طبیعي او پېښېدونکې واقعه ګڼي، له مرګه دومره نه وېرېږي چې خپل وظایف او انساني ذوق او انسان پرستي د هغه له ډاره پرېږدي، یا پکې اهمال وکړي، دښمني په دغه سرشت کې نه وي هغه هر څه د نېکۍ لپاره کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يې هم نه ده چې دغه سړی گناه نه کوي. داسې هم نه ده چې په ده باندې خلک اعتراضونه او انتقادونه نه لري. داسې هم نه ده چې دی دښمنان نه لري. داسې هم نه ده چې دی قهر نه لري. داسې نه ده چې دی د انسان د طبيعي خواهشاتو څخه خلاص وي. دغه ښاغلی سړی خوري، څښي، اغوندي د نورو په شان کور کهول هم لري، قهر او محبت هم لري. خلک ورسره دښمني او دوستي هم کوي، خو د ده معيار د نور انسانانو له معيار څخه ډېر لوړ وي. د ده دښمنان دغومره سر سخت وي، لکه دوستان يې چې وي. قهر او مينه يې د نورو خلکو سره ډېر فرق لري، خو چې ورته په غور وکتل شي، د ده ښه او بد هم د خلکو د کلاسيکي معيارونو سره ډېر فرق لري. ډېر کرته دغسې يو انسان دې دنيا ته راشي او بېرته لاړ شي او څوک يې ونه پېژني او دی هم موفق نه شي چې په خلکو ځان وپېژني. داسې هم کېږي چې تمهيدونه کېږدي او نتيجه ورنه کړي.

داسې هم کېږي چې انسانانو ته داسې کاميابۍ او ارمغانونه راوړي چې تر ډېرو نسلونو يادېږي او د ده د کېنولو ونو لاندې خلک کېني او مېوې يې خوري.

دنيا کې تغير راغلی دی او نور به هم په کې راشي، مگر په دنيا کې به دغه څلور طبقې خلک موجود وي، هو، د انسانانو په سويه کې به فرق راشي. داسې به وشي چې له انسانانو څخه به خود غرضي کمه شي، خو په عمرونو به خود غرضي ورکه نه شي او چې څو پورې خود غرضي موجوده وي، دغه خير خواهان به هم پيدا کېږي، دنيا به د دغه فعل او انفعال په واسطه وړاندې ځي. دغه نېکان په کومه طبقه، نژاد او مسلک پورې اړه نه لري. دغه يو انساني طبيعت دی، په انسان تعلق لري، دا هم وايم چې دنيا کاپټياليزم ته لاړه شي او که دغسې خلک ډېر نادر او ناياب دي. منم چې د دوی نظريات په سلو کې سل نه عملي کېږي، ولې د دوی په رنگ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالمونه رنګ کېدای شي. دغسې خلکو ته نوابغ هم وایي او لکه څنګه چې د دنیا هر څیز قسمونه او مدارج لري، همدغسې نبوغ هم قسمونه او درجې لري، چې دنیا ورنه خالي نه شي پاتې کېدای.)) (۲۳: ۵۷۷)

## ب- ټولنیز سمون:

استاد خادم تر فردي سمون وروسته ټولنیز سمون ته راځي، په دې باب خپل نظر څرګندوي او د اجتماعي سمون لاره ښیي. استاد په یوه لیکنه کې چې (د اجتماعي سمون لیاره) نومېږي، د سمون بېلابېلو لارو ته نغوته کوي، دی وایي دا د پوهانو دنده ده چې د خپلو ویناوو او لیکنو له لارې ناپوهانو ته د ژوند لاره وښیي، سم تبلیغات د سمون بله لاره ده. استاد د الهي ارشاد له مخې د سمون لاره ښیي؛ (د بدو رفع او اصلاح دې په ښه خبره او سلوک وشي.) دی د اجتماعي سمون لاره په دې ډول بیانوي:

((ویل او لیکل د پوهانو له خوا، د ناپوهانو د اصلاح او سمون د پاره زرینه لیاره ده. په دغه اساس ښه فکرونه تصمیم کېږي، ښه نظریات منځ ته راځي او په ناسته ولاړه، نشست و برخاست، جلسو او کنفرانسو بې تربیې خلک  تربیه کېږي، په دغه لیاره ټوله دنیا تللې ده، پس له معارفه ښه او موثره چاره همدغه ده.

صحیح تبلیغات په لږه موده کې زیات تاثیرونه بخښي  (ښو ته ښه ویل او بدو ته بد) چې اغراض په کې مداخله ونه کاندي، د اصلاح بهترینه ذریعه ده او که په کومه جامعه کې سړی دځینې موجباتو له کبله بدو ته بد نه شي ویلی، نو ښو ته خو دې ښه وایي. زه په دغه اسانه او سهله طریقه خورا زیاته عقیده لرم. هو! لومړی لازم دی چې د اصلاحاتو شوقمن خپل اغراض له پښو لاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویل او لیکل چې د اصلاح د پاره وي، ځان ته اصول لري. قران کریم دغه اصول داسې ښودلي: ((وجادلهم باالتی هی احسن)) او ((ادفع باالتی هی احسن السیئته)) د دې دا معنا ده چې د بدو دفع او اصلاح دې په ښه خبره او سلوک وشي. داسې نه چې د بدو ځواب دې په بدو ورکړی شي، ځکه چې د دغه صورت نه عداوت او دښمني زېږي او د هاغه بل ځخه دوستي او محبت پیدا کېږي.**

**زموږ نوجوان لیکوال په ښه نظریه ښه شیونه لیکي، زما سره د دغو لیکنو قدر موجود دی، که دغسې ښې لیکنې ادامه شي، په دغو کې وطن، قندهار او طلوع افغان او خپله لیکونکو ته فایده ده. دا یو شی باید هر لیکونکی په خپل فکر کې ښه وتلي چې زما دا عبارات او کلمات به کوم رنجش او ازردګي پیدا کاندي، که پوهېده چې د چا د خپګان سبب ګرځي او د یو چا حیثیت خرابوي، لازمه ده چې نور هم کوشش وشي چې دغه جنبه یې اصلاح شي. د یو سړي ازرده کول او خپه کول د هغه د اصلاح سبب نه ګرځي، بلکې هغه سړی انتقام ته لا پسې اماده کوي. دغه سلسله دوام کوي او یو عالم شرونه پیدا کېږي. اګر چې رډ بډ چا ته د هغه عیوب ویل، د ادب طریقه نه ده او دغسې مضامین موږ نشر کړي او اخستي هم نه دي، په کنایه او اشاره یو سړی خپه کول هم ښه کار نه دی، وګورئ سترګکونه او تمسخر کول قران کریم منع کړي دي او شریعت ورباندې تعزیر ویلی دی.**

**د یو لیکونکي او مبلغ وظیفه ډېره درنه او باریکه ده. دا د ((کج دار و مریز))**

پــا درمیــان قمــر دریاتختــه بنــدم کــرده
بــاز میګــویی کــه دامــن تــر مکــن هشــیار بــاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال لري پیغمبران او مصلحین په دغسې باریکه لیار تللي دي. که موږ د ځان څخه څوک خفه کوو، ګویا خپله پښه په تبر وهو، ځکه چې زموږ د همدغو خلکو سره ګذران لرو، که څه هم د نن عصر ازادي د جامعې د حق په مقابل کې د شخص ولوکه هر څوک وي، پروا نه کوي، مګر اوس موږ په دغه لیار کې مبتدیان یو.

هوا! دومره شی بل هم شته چې د قلم حق باید هر څوک ومني. عام الفاظ او عام اصطلاحات باید په خاصه معنا محمول نکړی شي. که څوک داسې کوي عاملې کلمې ځان ته رااړوي او ځان خپه کوي دا به د قلم حق نه منل وي. دغسې تنقید ته چې د عامو کلمو په ذریعه شوي دي، غیر مستقیم تنقید وایي. په دې پسې څوک نه ګرځي او نه دا دومره قابل د خپګان شی دی.)) (۲۳: ۵۷۷-۵۵۸)

استاد خادم متقابل احترام او درناوی د ټولنیز سمون یوه بله اساسي لار ګڼي، دی وایي، متقابل احترام د متقابل چلند پر بنسټ ولاړ دی، ته باید یو چا سره ښه وکړې چې بل هم درسره ښه وکړي، داسې نه چې ته تر بله ځان په پوهه، مال او ټولنیز موقف کې لوړ وګڼې او له بله بیا هیله وکړې، څه چې ته غواړې بل یې باید هماغه شان درسره ومني. استاد خادم په دې برخه کې د اسلام دین پر لارښوونو هم ټینګار کوي، چې ټول خلک یې په ښه وضع، ښه تخاطب او متقابل احترام مکلف کړي دي.

هغه د (متقابل احترام) په نامه لیکنه کې وایي:

((د متقابل احترام معنا دا ده چې زه به تاته په درنه سترګه ګورم او ته ماته. زه به زه به ونکړې؛ زه به تا سره په سلام او خوږو عباراتو مخامخ کېږم او ته هم باید له ما سره همدغسې وکړې؛ هېڅوک دا نه شي ویلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه عالم فاضل، منصبدار، سپین ږیري، مشر پلانکی او پلانکی یم او دا بل ناپوه، بېسواده، بې منصبه، کشر، دا او دا دی- نو ځکه زه ورنه زیات حق، وجدان او شرافت لرم او په دې لحاظ ما که هر قسم وضع او کار کاوه، دی به زما لحاظ کوي.

د اسلام دین ټول خلک په ښه وضع، ښه تخاطب او متقابل احترام مکلف کړي دي. بد عبارات، بد نومونه اخیستل، چا پورې خندا، پوسخند، کنایه او اشارت، تردې چې د سترګو کږول او داسې لفظ یا وضع کول چې په کې د بل تحقیر یا سپکاوی وي، حرام او ممنوع ګڼلي دي.

په دې باب کې صریح ایتونه موجود دي او ډېر حدیثونه هم په دې معنا کې راغلي دي چې د لا ضررو لا ضررفي الاسلام، که د دنیا قوانینو ته مراجعه وکړو، نو د (یونو) انسانی حقوق وایي چې هر شخص د ضمیر، وجدان او شرافت او حیثیت خاوند دی، معنا یې دا ده چې هېڅوک دا حق نه لري چې د وجدان او شرافت په لحاظ ځان ته په زیات او بل ته په لږ حق قایل شي. د شعراوو او حکیمانو اقوال وایي، ادمیت احترام ادمی است.

د افغانانو او پښتنو په دنیا کې که څه هم دهمځولتیا او ملګرتیا په عالم کې د خوشطبعۍ لپاره ډېرې ټوکې ټکالې شته، خو په عامو محاورو، مجلسونو او معاشرت کې د ورور، عزیز، ملګري مېرمن، خور، ادې، بابا، کاکا، ماما، لالا، رورکي، کوکۍ، لالی، ګل، خان، د زړه سر، سردار، اغا او ښاغلي خطابونه موجود دي چې ډېر خواږه، درانده او مینه ناک دي، څوک چې د بل چا احترام نه کوي، په لفظ، وضع یا په زړه کې د خلکو کموالۍ کوي، داسې چې خلک غولوي، مستعملوي یې یا یې تېرباسي، نو پښتانه وایي چې ډېر سپک سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نن چې د خدای په فضل زمونږ په وطن کې سواد او علم خپرېږي، ښځې ازادۍ ته ورسېدې، پوهه او تهذيب عامېږي، حقوق او قوانين خپل ځای نيسي. د کار او فعاليت ساحه پراخېږي، افغانستان په بين‌المللي ژوند کې داخل شوی دی، خلک مونږ ته راځي او مونږ دنيا ته ځو، نو بايد خپل د ژوند محترمانه او نجيبانه کرکټر ښکاره کړو. ښځې، ماشومان، سپين ږيري، مشران، عالمان او استاذان، د افغانانو په سوسايټي کې په درنه سترګه کتل کېږي.)) (۲۳: ۵۹)**

## ج- هېوادنی سمون:

**استاد خادم، تر فردي او ټولنيز سمون وروسته پر هېوادني سمون بحث کوي او هغو ټکو ته اشاره کوي چې د ټول هېواد په کچه د سمون او اصلاح سبب ګرځي. دی هېوادني اصلاحات د وخت او چاپېريال تابع بولي. اول بايد اصلاحاتو ته زمينه برابره شي او بيا د اصلاحاتو پلان وړاندې شي، کله چې ټولنې کې د اصلاحاتو د هضم ظرفيت نه وي او اصلاحات پرې عملي کېږي، د داسې طعام مانا نه لري چې يو ضعيف‌المعده انسان ته په زوره ورکول کېږي. استاد خادم په دې ليکنه کې د هېواد په کچه سمون په ښه ډول توضيح کړی دی، هغه د سمون لپاره، اعتدال، کورني او بهرني حالت ډېر ضروري ګڼي او پر فشاري او بې وخته اصلاحاتو ټينګار نه کوي، ځکه چې داسې يو ډول اصلاحات د غازي امان الله خان په وخت کې تجربه شوي وو.**

**استاد خادم (په مملکت کې اصلاحي فعاليت) تر عنوان لاندې ليکنه کې ليکي:**

**((څومره چې يو لوی لوښی د يو لوی ځايه څخه راولوېږي، هماغومره دړې وړې کېږي، دا تمثيل زمونږ په مملکت صادق دی چې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې مودې څخه د څه اسبابو او عواملو له امله چې اکثره یې خارجي وو انحطاط وکړ.

مگر یو مملکت چې یو وار انحطاط وکاندي، د هغه پورته کول په یو مخ نه کېږي، که څوک دا فکر لري، هغوی کله کله داسې خسارې هم ویني چې د دوی نه، بلکې د مملکت په ضرر هم تمامېږي. لکه چې داسې مثالونه د دنیا په ټولو اقوامو او زموږ د وطن په تاریخ کې هم لیدل کېږي.

اجتماعي اصلاحات د قوم د فکر اصلاح پورې اړه لري، کوم وخت چې یو قوم د یو فکر او یو اصلاحي پلان د منلو د پاره تیار نه وي او په زوره ورباندې تطبیق کېږي، نو هغه د هغه طعام مثال لري چې یو ضعیف‌المعده انسان ته په زوره ورکړی شي او په پای کې په هغه قی او دستونه ولگوي.

د یوې جامعې د فکر اصلاح کولو که ډېر فعالیت هم په کې وښیي، وخت او زمان او د داخلي او خارجي اوضاعو په مساعدت پورې اړه لري.

سره د ټولو خبرو اوس باید دا ووایو چې د څو وروستیو کلو په ظرف کې زموږ په مملکت کې یو اصلاحي فعالیت جاري دی، ځینې کسان عادت لري دوی حال ته گوري او له ماضي سره یې نه تطبیقوي. که رښتیا ووایو د شل کالو راهیسې په مملکت کې خورا ډېر اصلاحات شوي دي. هغه کسان چې انتقاد مفید شی گڼي هغوی باید په دې هم پوه شي چې تحسین او تمجید او شکر هم د نعمتونو په زیاتوالي کې مهم عامل دی. دا نننی اوضاع که د مملکت د شل کالو مخکې اوضاعو سره مقابله کړو، نو هغه وخت به موږ ته یو متمایز فرق معلوم شي چې د مملکت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاحي لیاره کې شوی دی. موږ باید د دغه اصلاحاتو او د هغو د عاملینو تقدیر او تمجید وکړو.

د دې وخت او هغه وخت لوی فرق دا دی چې هغه وخت خلک کاملاً بېخبره وو، هغوی په دې فکر کې ډېر کم لوېدل چې زموږ حیات هم د دې نه بهتر کېدی شي او د دې د پاره باید څه وکړو؟

اوس خلک دومره هوښیار شوي دي چې تقریباً د دنیا د هوښیارو خلکو غوندې ښه او بد سنجولی او د اصلاحاتو لیارې ورته هم لټولی او پیدا کولی شي. البته د دغو افکارو عملي کول د زمان او مکان د تقاضاو پورې ضرور اړه لري چې هوښیار خلک ورباندې ښکېله پوهېږي.

اوس که ځینې شکوې او شکایتونه اورېدل کېږي، د دې لوی عامل دا دی چې خلک پوه شوي دي، د حیات معیار سنجوي او کوشش کوي چې هغه حاصل کاندي چې دا ښکېله د ترقۍ او اصلاحاتو لوی سبب دی. هغه امنیت او ارامي چې نن روی کار ده، یقیناً شل کاله دمخه نه وه، د حیات کوم معیار چې نن ثابت شوی دی، په هغه د شل کاله مخکې وضعیت سره د سره مقایسه کېږي نه. دغسې مهم د مملکت په هره خوا او هره ډډه کې محسوس تحول او تطور راغلی او اوضاع د ښخوا په نسبت په اصلاحي صورت امید افزا دی.

هغه ځوانان چې غواړي مملکت په سرعت ترقي وکاندي، هغوی ته لازم دي چې د خپل حکومت سره د موافقت په صورت د اصلاحاتو د پاره د افکارو د تنویر په لیار کې کومک وکاندي او زمینه تیاره کړي، ځکه موږ نه شو کولی چې کوم کارونه چې قوم د هغو منلو ته تیار نه دی، قوم باندې یې په اجبار اجرا کړو، سره د دې چې ځوانان باید د اجبار څخه مخالف اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ باید د مملکت د اصلاحي اوضاعو څخه مطمین اوسو او هغه بدبیني چې مملکت ته ضرر لري، له ځانه لیرې کړو.**

**په اخره کې وایم ژوندی دې وي اعلیحضرت محمد شاهر شاه اصلاح غوښتونکی پادشاه او مترقي دې وي افغان او افغانستان.))**

**(۲۴: ۱۲۸۲-۱۲۸۳)**

**پر پورتنیو یادو لیکنو سربېره استاد خادم (د خپل هر فعل اجر، نجات په څه کې دی؟، د انصاف داری یوه نمونه، ښځه د پښتنو په جامعه کې، تشدد او سختي، اجتماعي اخلاق، ګډون، رښتیا او دروغ، انصاف در وزن ترازو، د مېرمن او خاوند ګډ ګوزران، د چا غیبت مه کوئ!، زړه سوی او مهرباني، اجتماعي حقوق، په سیاسي مبارزه کې تقوا) او ځینو نورو لیکنو کې هم په فردي، ټولنیزو او هېوادنیو سمونونو او د هغو پر لارو چارو ښه رڼا اچولې ده چې موږ د دې لیکنې د زیات اوږدوالي له امله مجبور شو، پر هغو لیکنو له تبصرې څخه تېر شو، خو که په مجموعي ډول په سمونپالنه کې د استاد ټولې لیکنې سره راټولې کړو، نو یو ځانګړی اثر ترې جوړېدی شي. پر نثري لیکنو سربېره استاد خادم په نظم کې هم سمون او سمونپالنې ته ځای ځای اشاره کړې ده. په یوه څلوریزه کې چې (سمه لار) نومېږي د سم او ښه سړي ځانګړنې ته اشاره کوي او وایي چې د (هوما) خوی لري او ځان له ناولو کارونو څخه لرې ساتي.**

سم سړی نه ځي، په کږو لارو
لمن را نغاړي، له بدو چارو
له چل فریب او، دغا نه ښنګ کا
ساتي هوما تل، ځان له مردارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا د (ځان تربیت) په باب وايي چې هر څوک غواړي د ښه خوی تربیت او انسانیت خاوند شي، نو ځان ته باید یولارښود او مشر پیدا کړي:**

د ښـــــوعاداتو، نـــــوم تربیـــــت دی
ښـــه خـــوی هماغـــه، د ښـــو عـــادت دی
اســـتاذ مرشـــد او، لیـــدر پیـــدا کـــړه
کـــه خـــوښ دې ځـــان تـــه، انســـانیت دی.

**بیا (د سړیتوب لار) په ګوته کوي او وايي چې د سړیتوب لار او معیار همدا دی چې یو څوک ښه لارښوونکی ولري او د هغو خبرو ته غوږ کېږدي:**

د لارښـــوونکوو، صـــحبت اختیـــار کـــړه
د دوی پـــه نغوتـــه، برابـــر کـــار کـــړه
دا ســـــمه لار ده، و ســـــړیتوب تـــــه
کـــه رســـېدل غـــواړې، و کـــوم معیـــار تـــه.

**تر هغه وروسته د شخصیت جوړونې لپاره د مشرانو (سپینتمن) نظر راوړي او په هغه کې (نیت) (الفاظو) او (ښه عمل) ته اشاره کوي چې د یوه شخصیت د لوړاوي او د نړۍ د فتحې سبب ګرځي:**

ســـپینتمن وایـــي نیـــت دې ســـم کـــړه
وینـــا دې ښـــه کـــړه، الفـــاظ دې کـــم کـــړه
کـــار او کـــړه بویـــه، چـــې بـــې ازار وي
پـــه دې دري تو کـــه، فتحـــه عـــالم کـــړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم په خپله یوه څلوریزه کې (غم او زغم) ته نغوته کوي او وايي چې یو څوک د (زغم او غم) ظرفیت ونه لري، هغه به لویو پوړیو ته ونه رسېږي، دی دا څېزونه په ژوند کې حتمي ګڼي او د دنیا ځانګړنې یې بولي، نو که څوک غواړي د ژوند لوړو مدارجو ته ورسېږي، نو د غم د زغملو روحیه باید ولري:**

چې ته سم نه شې. کار به سم نه شي
پېښې د غم به، درنه کم نه شي
د دنیا ګی دي ډېر کړاوونه
قوي روح بویه، بې له زغم نه شي.

**استاد خادم په ژوند کې پر (اعتدال) ټینګار کوي او اعتدال په خپله د ژوند په مانا انګېري، دی د فرد او ټولنې او د ژوند په هر ډګر کې (اعتدال) لوی کمال ګڼي:**

ژوندون پخپله، یو اعتدال دی
چې نا انډول شي، ژوندون محال دی
د جامعې، وي که دا د فرد وي
انډول په هر خوا کې لوی کمال دی.

**استاد خادم وايي ښځه انسان دی، باید قدر یې وشي، دی د ټولنیز سمون لپاره د ښځو پر حقوقو او د زوی او مور پر برابرۍ او د هغوی پر تعلیم ټینګار کوي او همدا سمون او اصلاح یوه لاره ګڼي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــځه انســـان دی، انســـان یـــې بولـــه
زوی دی کـــه لـــور ده، یـــو شـــان یـــې بولـــه
غیـــرت و دوی تـــه، زده کـــول ښـــایي
دوی پښـــتانه دي، افغـــان یـــې بولـــه.

استاد خادم بیا په ملي کچه د وطن د اصلاح لپاره وایي، کله چې یو هېواد له ستونزو او دسیسو سره مخامخ شي، نو د اصلاح یوازینۍ لاره یې دا ده چې علم او اخلاقو ته کار وشي او دا عناصر پیاوړي شي، نو بیا کېدای شي، دسیسې، توطیې او اندېښنې کنترول کړی شي.

وطـــن چـــې وران شـــي، پـــه د سایســـو
خلـــک اختـــه شـــي پـــه خبـــایثو
قـــوت د علـــم او، اخلاقـــو ښـــایي
چـــې بریـــالی شـــي، پـــه وساوســـو.

د استاد خادم په ځینو نورو منظومو اثارو کې هم دسمونپالنې په برخه کې نورې یادونې هم شته، خو موږ یې دلته دا څو څلوریزې د بېلګو په توګه یادې کړې. په ټولیز ډول استاد خادم د بل هر لیکوال په شان یو سمونپال شخصیت دی، خو دی په ټولنه کې د سمون او اصلاحاتو د راوستلو په برخه کې پر اعتدال ټینګار کوي او وایي چې افراطي اصلاحات د ګټې پر ځای په تاوان تمامېږي، نو لومړی باید چاپېریال مساعد او بیا اصلاحات پلي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کره کتنه

د استاد خادم په منظومو او منثورو اثارو کې یوه پاموړ برخه کره‌کتنه ده. دی کره کتنه د ژوند په ټولو برخو کې د پرمختګ او سمون یوه اساسي وسیله ګڼي او له هغې پرته د فرد، ټولنې او نظام اصلاح ناشونې ګڼي. د خادم صیب د کره کتنې ژبه، مستقیمه، ساده او تېزه ده، په همدې خاطر خو یو شمېر اشخاص د ده د کره کتنې د صراحت او تېزوالي له میتود سره زیات موافق نه دي. د استاد په اثارو کې ګڼ شمېر داسې لیکنې او نظمونه شته چې په مستقیم ډول پر کره کتنې راڅرخي او ځینې یې بیا داسې دي چې په نا مستقیم ډول د کره کتنې تومنه او عناصر په کې موجود دي.

دلته غواړو لومړی د هغو لیکنو او نظمونو سرلیکونو ته اشاره وکړو چې په مستیقم او نا مستقیم ډول د کره کتنې جوهر او عناصر په کې پراته دي او بیا غواړو په بېلابېلو برخو کې د استاد خادم له خوا شویو کره کتنو ته نغوته وکړو، یانې ډلبندي یې کړو. دکره کتنې په برخه کې د خادم په اثارو کې څو ډوله کره کتنه لیدل کېږي: الف- ژبپوهنیزه کره کتنه، ب- ادبي کره کتنه، ج- سیاسي او ټولنیزه کره کتنه. هغه لیکنې چې د کره کتنې په باب دي، ځینې یې په دې ډول دي:

(ادبي قاچاق، د پښتو شاعرۍ معیار، پښتو سمونه، پښتو لیکل او لولول، کور-لره، د غلطو شویو کلمو تصحیح، پښتو تصفیه غواړي، بدې، ملي منافقان، ایا افلاس سبب ارتشا است؟، ازادي څه مانا؟، د جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار بې اصوله دی، د پښتو ادبي معیار، په انتخاباتو کې تهدید او تطمع او ځینې نور نثرونه.

په نظم کې: (د ځان علاج ، بې تهدابه چې تعمیر کا، سیاست، فاسد حکومت، بد عملو ته ، د استعمار وسیله، فحش او شراب، بدنیتي، چل جوړول، د قام تباهي، واوا مسلماني، د تربګنۍ لعنت، سپین سترګي، دنیا واړه ټګي ده، مغربي فیشن او ځینې نور نظمونه.

## الف- ژبپوهنیزه کره کتنه:

د کره کتنیزو لیکنو په لړ کې، استاد خادم د ژبې او ژبپوهنې په برخه کې هم یو شمېر داسې لیکنې لري چې دکره کتنې مالګه اوعناصر په کې څرګند دی. (پښتو سمونه، پښتو لیکل او لولول، د غلطو شویو کلیمو تصحیح، پښتو تصفیه غواړي) او ځینې نورې لیکنې د دې ډول لیکنو له جملې څخه دي. (پښتو سمونه) او پښتو لیکل اولولول) د استاد هغه دوه وړې لیکنې دي چې د لیکونو په بڼه لوستونکو ته د ځواب په توګه لیکل شوي دي. په دې دواړو لیکونو کې د پښتو دلیکني څرنګوالي په باب بحث شوی دی. لومړی راځم (پښتو سمونه)لیکنې ته!

((ګرانه! د پښتو د ګرامري اصولو لپاره قاعده داسې ده چې کوم وخت له اسم عام څخه اسم معنی جوړول مراد وي؛ نو د اسم معنی الحاقیه توری (سفکس) د اسم عام پورې یو ځای کوي؛ نو اسم معنی شي.

مثلاً: ورور، تربور او پښتون عام اسمونه دي، ګلوي، ولي او واله؛ الحاقیه یا د سفکس توري دي، ورور؛ یعنې برادر، تربور؛ یعنې عموزاده، پشتون؛ یعنې دارنده پښتو؛ یعنې د غیرت او همت خاوند؛ نو کوم وخت چې ورور، تربور او پښتون څخه د برادرۍ، عمزادګۍ او افغانیت په معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسم جوړوي؛ نو الحاقيه توری ورپورې کوي؛ نو وروروليي، تربوروليي، پښتون وليي؛ يا وړورګلوي، تربورګلوي ترې جوړه شي.

پښتون ګلوي صحيح نه ده؛ همدارنګه کله او د ځينې محاورو په لحاظ د پښتون (واو) لوېږي؛ نو پښتونوليي يې وايي او د (واله) په الحاق سره له پښتون څخه پښتنواله جوړېږي؛ مګر ورور واله ا تربور واله نه ده صحيح او دليل يې محاوره او استقراء ده؛ نو په دې اساس پښتونواله له پښتنواله څخه ضعيف دی او ضعيف صحت لري.)) (۲۳: ۲٦٧)

(پښتو ليکل او لولول) هم د همدغو ليکنو له جملې څخه ده، په دې ليکنه کې استاد، د نړه پښتو کلمو او همدارنګه له نورو ژبو څخه د راغلو مروجو کلمو د کارونې پر څرنګوالی بحث کوي. دی د دې پلوی دی چې کومې کلمې ساده، اسانه او عام فهمه وي، هغه دې کارول شي، نظر دې ته چې پر سوچه پښتو کلمو ټينګار وشي، خو د ګرامر په برخه کې د پښتو ژبې د خپل ګرامري جوړښت پر کارونې ټينګار کوي.

((اوس هغه وخت راغلی دی چې هم پښتو وليکو او هم يې ولولو، يعنې په تدريساتو کې يې ننباسو، مګر د پښتو د ليکلو او لولولو لپاره بېلې بېلې مرحلې او مقامونه موجود دي، د هرې مرحلې او مقام تقاضا بېله ده او بايد دغه تقاضاګانې يو تر بله ګډې نه شي، ځکه که ګډې شي، نو اصلي هدف چې د پښتو تعميم او عملي کول دي؛ هغه پاتې او موانع او مشکلات به پيدا شي.

په شعر او شاعرۍ او ادبي مضامينو کې د روزمره محاورې څخه لږ شانې سرې ووځي، دومره ډېر عيب نه حسابېږي، ځکه د شعر او ادب ژبه د عوامو او حجرو له ژبې څخه لږ ډېر فرق کوي، که څه هم خورا ښه شعر او ادب هغه دی چې د فصاحت او بلاغت په اصولو برابر وي او دلته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثقیل، غریب او متهجن لغات او کلمات راوړل ادبي عیب ګڼل کېږي، راغلو د تدریس او معارف ژبې ته، دلته اوس زمینه په ډېره ساده، بسیطه او اسانه محاوره قایل یم، هغه عربي، فارسي او هندي لغات او کلمات چې د پښتو په روزمره محاوره کې راګډ شوي او رایج شوي وي او په ژبه او محاوره کې روان خولې ته راځي، د دغو استعمال او اخیستل زه له هغو پښتو لغاتو او محاورو څخه چې تش په قاموسونو کې وجود لري؛ بهتر ګڼم، ځکه چې په دغه مرحله کې چې موږ غواړو چې پښتو عامه، رایجه او مانوسه کړو باید په سهل، اسان او خوزرنګ کې وښودل شي. ولې که د یوې معما په شکل کې وښودل شي، نو نفرت او مقاومت به د پښتو د تامین مخه ونیسي او مخصوصاً په دې حال کې چې بره او کوزه پښتونخوا کې فارسي او اردو ژبې له پښتو سره د رقابت کولو په میدان کې ولاړې دي، لیکن په هېڅ صورت سره زما د خبرې معنا دا نه ده چې د پښتو اصلي بڼه او لهجه او ګرامري حدود او مزایا دې پرېښودی شي، د دغو ساتل او تصفیه کول لازم او ضروري دي.

هو د پښتو خاص لغت او لوړې محاورې او ادبي اصطلاحات باید متدرجاً د معارف لوړو صنوفو او عالي کورسونو ته د تخصیص او اقتدا په لومړي سر کې له ډېرې ساده ګۍ، بساطت او له مشترکو لغاتو او روزمره محاورې شروع وشي.

زه پوهېږم چې زما د دې نظریې سره به د پښتو ځینې هواخان موافق نه وي، ځکه دوی به وایي چې له ابتدا څخه د خلکو ژبې باید د پښتو په اصلي لغاتو او محاورو وخوځول شي، دوی وایي: طفل ته چې هر څه وروښودل شي، هغه زده کوي، نو ولې لیاره اوږده کړو، مګر دلته یوه خبره موجوده ده، هغه دا ده چې دا کار د فطرت له اصولو څخه مخالف دی، وګورئ هر طفل چې اول په خبرو راځي، څومره ماته ګوډه، لنډه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتاه محاوره او ژبه استعمالوي. مور هم چې د ژبې اصلي معلمه ده، الفاظ او کلمات نرموي، پستوي او په خوله کې يې ورکوي، وګورئ د ډوډۍ نه ورته (دودۍ)، د مړۍ څخه ورته (پپه) او د سترګې نه ورته (تګه) جوړه کړي او علی هذالقياس...

زه دا خبره بيا کول غواړم چې زما مدعا ژبه کړول نه دي، بلکې په اول سر کې ژبه نرمول او پستول او اسانول، وروسته په تدريج سره خپل اصلي معيار ته رسول دي. يقين لرم چې دا د ژبې د تعليم او ښودلو اساسي ليار ده. د ژبې سوچه کول او په ژبه کې خپشاوه کول، دا هم يو ګډ کار دی، مګر دا د تعميم له مرحلې څخه وروسته دی، هر کله چې ژبه په مکتوبونو، مکتبونو، اخبار، تبليغ، تدريس، تاليف، تصنيف، شعر او شاعرۍ کې په عام صورت داخله شوه، ورو ورو به خپله د شاعر او اديب او منتقد په قلم او ژبه، خپل مراحل طی کوي او ساده کېږي، هر کله چې خلک او علما پوه شي چې د قلم اصل کلم دی، نو په خپله ورو ورو قلم پرېږدي او کلم به ليکي، مګر په اوله مرحله کې د قلم په ځای ليکاڼی څه ضرورت لري، زه نه وايم چې دا کار بد دی، دا يو کار دی، دا دې هم وي، مګر په تعليمي او تدريسي کتابونو کې دې دستي نه وي، څه لازم دی چې د کاغذ کليمه وي، موږ د دې پر ځای چغزی وليکو، په دې مرحله کې چې د پوهنې وزارت د پښتو په تعليمي پروګرام کې اوس له سره غوره کوي بايد دا نظريه چې ما په اختصار سره وليکله، له نظره ونه غورځوي.)) (۲۳: ۲۵۹) د استاد خادم پورتنۍ ليکنه که څه هم له نن څخه نيمه پېړۍ وړاندې ليکل شوې، خو ژبپوهنيز او کره کتنيز ارزښت يې اوس هم پر ځېل ځای دی، اوس هم موږ له همغې وېرې او ستونزې سره مخامخ يو، لکه نيمه پېړۍ وړاندې چې مخ وو، اوس هم د نړه پښتو کلمو په کارونه کې له افراطه او تفريط څخه کار اخلو، نو يوازې له ژبني

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوه، بلکې له لیکني پلوه یې هم په لیکلو کې ستونزې لرو، د خادم صیب نظر تر ډېره بریده منځلاری دریځ لري او د پښتو موقعیت یې هم له سیالو ژبو سره په پام کې نیولی دی.

## ب- ادبي کره کتنه:

استاد خادم هغه ادبي اثر د ارزښت وړ ګڼي چې د کره کتنې یا انتقاد له فلتره تېر شوی وي، که په ټولنه کې پر یوه اثر نقد نه وي شوی، لیکوال یې خپل اثر ته په لوړ ارزښت قایل وي، یا هم له ناقدینو څخه غواړي چې د ده اثر د ده د خوښې مطابق وارزوي او د خپل اثر عیب په دې ډول له خلکو پټ کړي، نو دا یو ادبي قاچاق دی. دی وایي چې (قاچاق) یوه ترکي کلمه ده چې مانا یې په پټه د شیانو تېرول دي، لکه ځینې سوداګر چې د ګمرک له محصولاتو پټ خپل مال تېروي، یانې قاچاق کوي یې، دغسې په دې برخه کې د یوه اثر عیب پټونه هم قاچاق ګڼل کېږي، نو ځکه استاد خادم خپلې لیکنې ته (ادبي قاچاق) نوم ورکړی دی، په دې لیکنه کې وایي:

((قاچاق یو ترکي لفظ دی د ګرېزۍ او پټو تېرولو په معنی، یو تاجر چې وغواړي په خپل تجارتي مال باندې د ګمرګ قانوني محصول ورنه کړي او خپل مال د ګمرک له موظفو مامورینو نه پټ وارد کړي، یا یې صادر کاندي، دغې ته قاچاق وایي.

قاچاق یوه اقتصادي او ګمرکي اصطلاح ده، خاص په اقتصادیاتو او ګمرکي چارو کې مستعملېږي، مګر موږ په یو مناسبت سره غواړو چې په ادبیاتو کې هم دا کلمه مستعمله شي، دغه مناسبت دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې یو تاجر خپل مال په غیر قانوني صورت سره، خلاف د مقرراتو، په غلا تېروي او د خپل شخصي مفاد لپاره قانون او د جماعت نښګڼه تر پښو لاندې کوي، ځینې لیکوال هم کټ مټ دغه شان دي.

مثلاً؛ هغه کسان چې غواړي چې خپل قلمي زحمت کښې باندې ځان ته شهرت او دولت حاصل کړي، نو دوی باید لږ شانې دا فداکاري هم وکړي چې په سړه سینه سره ځان ته معلومه کړي چې د دوی دا لیکنې، جماعت او ټولنې ته څومره مفیدې دي؟ او د اجتماع متوسط ذوق تر څه حده د دوی د لیکنو طرفدار او تر څه حده ورنه بېزار دي.

دغه طرفداري او بېزاري څه معمولي خبره نه ده، د حسن او قبح، ظرافت او ښه والي، بابیزتوب او بدوالي معیار فقط همدغه شی دی، کوم شیونه او صنایع چې د اجتماع متوسط ذوق ورته ښه ووایي، هغه ښه دی او چې بد ورته ووایي، هغه بد دی او چې هېڅ په کې و نه وایي، هغه هېڅ نه دی.

د اجتماع د متوسط ذوق د معلومولو تله صحیح او اساسي انتقاد دی، هغه وخت چې د یو لیکونکي کوم اثر د انتقاد په تله وتلل شي، نو بیا د هغه د قیمت اندازه معلومېږي، ناقدین چې د صحیح ذوق او کاملو معلوماتو خاوندان وي او په صاف ضمیر سره د جماعت د فایدې لپاره تول کوي، هغوی حق لري چې د جماعت له متوسط ذوق څخه نمایندګي وکړي.

اوس نو هغه کسان چې په خپل کوم اثر یې د صحیح انتقاد تول ته په نورو ذرایعو ډېل قیمت غواړي او هېڅکله نه راضي کېږي چې د دوی متاع دې د انصاف په تله د انتقاد په میدان کې وتلل شي، فقط مقصد یې دا دی چې د څو کسو سترګې وتړي او خپل مال ګران خرڅ کړي، ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته په کې نقص وي اوکه فایده، ایا دا کسان یو قسم قاچاق نه تېروي؟ نو که داسې کارونه په ادبیاتو کې وي، نو بې له (ادبي قاچاق) یې نور څه بللی شو؟)) (۲۳: ۲۳۴)**

**د ادبي کره کتنیزو لیکنو په لړ کې استاد خادم د پښتو ادبي لیکنو معیار ته کتنه کړې، په دې برخه کې مخکې تر دې چې خبره یوه ادبي متن لیکلو ته ورسېږي، استاد د ژبې پر معیاري کولو او معیاري لیکلو ټینګار کوي. دی وایي که حکومتونه موږ ته هر څومره د ژبې د ودې ټولنې جوړې کړي، خو چې موږ خپله کار و نه کړو، نو ژبه نه معیاري کېږي. دی د ژبې پر سمې املا او انشاء هم ټینګار کوي او دا کار بیا په خپل وار سره د ادبي معیار د رامنځته کېدو سبب ګڼي، استاد خادم (د پښتو ادبي معیار) په نامه لیکنه کې وایي:**

**((پښتو یوه ژبه ده چې ډېر خلک پرې ګړېږي، لوی تاریخ او لویه سابقه لري، خواږه ادبیات او رنګینه موسیقي لري، د ګریمر او فلالوجۍ د تحقیقاتو په واسطه سره یې ډېرې تاریخي او اجتماعي غوټې پرانیستل کېدی شي. د ډېر لرې لرې نه خلک راځي او دلته پښتو زده کوي او ځي. اوس په چین، جاپان، اتحاد شوروي، امریکا او اروپا کې د پښتو ژبې په واسطه زمونږ ډېر شاګردان دوستان او اشنایان شته.**

**د دنیا ډېر لوی علماء نن په اتحاد شوروي، امریکا، انګلستان، ناروې، جرمني، فرانس، چین، هندوستان او ډېرو نورو ممالکو کې د پښتو په زده کړه او تحقیقاتو بوخت دي او په شوق سره یې سپړي او لولي یې. ډېر کتابونه پرې لیکل شوي دي او لیکل کېږي ورباندې. د دنیا د ډېرو ممالکو راډیوګانې د پښتو ژبې منظم سرویسونه لري او په پښتو نشریات کوي. د دنیا ډېر ممالک له افغانستانه د پښتو استاذان غواړي او په ډېرو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوس هم د پښتو استاذان شته، ما ته معلومه ده چې په دنیا کې پښتو ډېر قیمت او اهمیت لري.

زموږ په وطن کې د هرې دورې د حکومت په پروګرام کې د پښتو روزل، لوړول، معیاري کول او علمي او ادبي سټنډرډ ته رسول داخل وو. شهید اعلیحضرت غازي محمد نادر شاه رحمة الله علیه چې د هېواد هرې خوا ته یې پام و، تر ټولو دمخه یې پښتو ته توجه وکړه او انجمنونه او موسسې یې ورته جوړې کړې. اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ورته مخصوصه پاملرنه مبذوله کړه، کورسونه، اخبارونه، مکتبونه، دارالتالیفونه، اکاډیمي او د پښتو د تالیفاتو امتیاز یې منځ ته راوړ.

رښتیا خبره دا ده چې پښتو د نشت نه ډېر لوړ مقام ته ورسېده، خو یو ټکی لا پاتې دی. هغه دا چې د پښتو ادبي معیار سټنډرډ او میزان لا تر اوسه نه دی ټینګ شوی. که څوک ووایي چې معیار نشته، خو معیار شته، مګر دا چې د معیار پروا نه کېږي او د معیار د لوړولو کوښښ نه کېږي، دا یوه موضوع او مسئله ده چې د غور وړ ده.

جوړ شوی معیار ولې ګډ وډ شو؟ د معیار ساتنه او حفاظت د چا کار دی؟

لوحې غلطې، عناوین غلط، د مختلفو نشریاتو مختلف ډول لیکنې، یوه کلمه په څو شکله کښل، د یو ترکیب د پاره څو ډوله ګریمر، خام او اوسه سبکونه، ناسره او ناکره املاګانې او انشاګانې، غلطه تالیفات، بدرنګ راګونه او اشعار دا ټول د پښتو دپاره عیب دی.

که پښتانه خپله پښتو نه شي سمولای، رغولای او معیاري کولای، نو دوی د څه کار دي؟ د دې نه لوی، غټ، مهم او ضروري کار څه شی دی؟ زه نه شم کولای چې د دې نه زیات څه ووایم، دا د ټول قام، وطن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت وظیفه ده. علل اسباب او نقایص دې پیدا او رفع کړي. زموږ د ژوند، تاریخ او ثقافت د پاره پښتو مالگه ده. فکر په کار دی، جرگې په کار دي او ژبه سمول ضروري دي، که دا کار سم نه شو، ډېر کارونه به وران پاتې شي(۲۳: ۱۱٦٥)

پورته لیکنه کې که څه هم تر ادبي معیاره پر ژبني سمون او معیار ډېر ټینگار شوی، خو اصلي هدف دا دی، تر هغه چې ژبنی معیار او کره‌والی رامنځته نه شي، نو ادبي معیار خو هېڅکله نه رامنځته کېږي. د دې کار علت دا دی چې ادبیات یو ژبنی هنر دی؛ د یوې معیاري ادبي لیکنې رامنځته کېدل په معیاري ژبې پورې اړه لري.

## ج- سیاسي او ټولنیزه کره کتنه:

په سیاسي او ټولنیزه برخه کې استاد ډېرې داسې لیکنې لري چې د کره کتنې، نیوکې او گوتنیونې تومنه لري، موږ یې په تېرو برخو کې د ځینو یادونه کړې ده. په دې برخه کې د استاد نورې لیکنې چې تحلیلي بڼه لري، په هغو کې هم د کره کتنې عنصر موجود دی. په سیاسي، ملي اوټولنیزه برخه کې استاد خادم زموږ په ټولنه کې له ډېرو واقعیتونو څخه پرده پورته کړې، له هغې جملې څخه دی د (منافقانو) یادونه هم کوي چې په څو څو ډوله ځان ښودلای شي، دی دې ډول اشخاصو ته ((ملي منافقان)) وایي چې موږ یې په به یوه بل بحث کې یادونه کړې، له تکرار څخه یې ډډه کوو.

خو د ملي منافقانو تر څنگ دی پر یوه بله ملي موضوع هم کره کتنه کوي، انتخابات او انتخاباتي موضوعگانې د هېواد په کچه یوه ملي، ټولنیزه او سیاسي پروسه گڼل کېږي، خو دا پروسه د رڼاوي او عدالت د نشتوالي له امله هر وخت له سختو نیوکو سره مخ وي، تهدید او تطمیع یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور او رشوت په کې زیاتره وخت مطرح وي، استاد خادم چې عملاً هم په یوه انتخاباتي دوره کې له دې ستونزو سره مخ شوی و، نو دې موضوع ته سخت متوجه و او پر دې موضوع یې (په انتخاباتو کې تهدید او تطمیع) په نامه یوه لیکنه کړې ده، په دې لیکنه کې استاد پر ټاکنو کره کتنه کړې، او ویلي یې دي چې په ټاکنو کې د تهدید مخه نیول کېدی شي، خو د تطمیع مخه نیول اسانه کار نه دی، په دې ډول ټاکنو کې هغه څوک بریالی کېږي چې پیسې لري او دا خو څرګنده خبره ده چې پیسې خو پوهو کسانو سره نه شته، نو په دې ډول په اصطلاح ډیموکراسۍ ته لاره اوارېږي. استاد په دې لیکنه کې وایي:

((د ټولو قوانینو او مقرراتو هدف او فایده دا ده چې د خلکو لپاره سپینه لاره جوړه کړي او د خلکو د فعالیت او اجتماعي حرکت لپاره چې د ارتقا پر خوا کېږي لار پرانیزي او مشکلات کم کړي. څکه که قانون نه وي، سړی نه شي ویلای چې ښه څه دي او بد څه دي؟ دا خو قانون دی چې ښه او بد ښیلوي. د بدو مخه نیسي او د ښو لپاره لار خلاصوي.

که قوانین دغه صبغه او نتیجه ونه لري، نو ارتقایي قوانین به نه وي امتناعي به وي. امتناعي قوانین هغه دي چې نواهي په کې ډېر وي او ترغیبي جنبه یې لږه وي.

زمونږ مدعا په انتخاباتو کې ده، د انتخاباتو قانون تازه له تصویبه راوتلی دی، دې قانون ښځو او نرو ته په انتخاباتو کې د شمول حق ورکړی دی. موږ دا خبره څو ځله څېړلې ده چې د انتخاباتو مطلب او فلسفه څه ده؟ او ویلي مو دي چې له انتخاباتو څخه مقصد دا دی چې منور، فعال، پوه او وطن پرست خلک وچوڼل شي او د امورو زمام دغه شان خلکو ته په لاس ورشي، ضمناً په انتخاباتو کې خلک هم ژر تربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، نو په انتخاباتو کې دوه څیزه ډېر ضروري دي، یو دا چې تهدید دې په کې نه وي، بل دا چې تطمیع دې په کې نه وي. خلک دې کاندید کېدو او رایه ورکولو کې کاملاً ازاد وي. زه یقین لرم چې زموږ حکومت به د تهدید مخه ونیسي او څوک به پرې نږدې چې بل وډار کړي او په دې شان یې د کاندید کېدو او یا چا ته د رایې ورکولو مخه ونیسي، مګر د دې بل شي نه چې هغه ((تطمیع)) ده، زه پخپله په ډار کې یم. زموږ په بخوانو قوانینو کې په صراحت سره دا ټکي ذکر و چې په انتخاباتو کې تهدید او تطمیع منع دي. یعنې دا چې که چا بل د انتخاباتو په وخت کې په ضرر وډاراوه یعنې دا چې چا بل ته وویل که ته داسې کوې، یا داسې نه کوې، نو زه به تاسره وګورم، نو بس دا جرم دی او سزا به لري. اوس هم یقین دی چې تهدید به منع شي، خو د تطمیع په باب یعنې دا چې که ته داسې وکړې، دومره پیسې به درکړم، یا دا چې دومره پیسې واخله او رایه په دې ما ته او یا هغو کسانو په لاس ورشي، چې ډېرې پیسې لري، نو په دې حال کې دیموکراسي به وي، خو په نتیجه کې به ارسطو کراسي د دیموکراسۍ ځای ونیسي، بل لوی ضرر یې دا دی چې خلک به ټول پیسو ته مخه وکړي او په هر شان چې وي حلالې وي، که حرامې خو پیسې به ګټي اخلاق او فضیلت به کډه وکړي او چې په کوم ملک کې اخلاق او فضیلت نه وي، نو که هلته هر څومره دولت زیات هم وي، مګر انسان بدحاله او پرېشان وي. د تطمیع او تهدید په صورت کې حق حقدار ته نه رسېږي. عالم، دیندار او اخلاقي کسان هېڅکله ډېرې پیسې نه لري، نو دوی به تل ناکام وي او کامیاب به هغه څوک وي چې د ډېرو کورونه یې وران کړي وي او خپل یې ودان کړي وي. نه پوهېږم چې په دې مساله چا فکر کړی دی که نه؟)) (۲۴: ۱۲۴۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم په یوه بله لیکنه کې پر هغو خلکو نیوکه کوي چې د (ازادۍ) له نامه څخه غلطه ګټه پورته کوي، هغه د بېباکۍ او لاقیدۍ په مانا اخلي او هر څه يې چې زړه غواړي هغه ترسره کوي. د دوی په فکر ازادي داسې یو شی دی چې سړی د هېڅ اخلاقي، قانوني او مذهبي شرایطو پابند نه وي، خو د استاد خادم په نظر  ازادي دا مانا نه لري، د هغه په نظر بېباکي، لاقیدي او بې مسلکي بېل شی دی او ازادي بېل شی دی، ازادي د انسان د طبیعي او حقه حقوقو په مقابل کې د موانعو رفع کولو ته وايي. خادم په دې لیکنه کې ازادي تشریح کوي:

نن ورځ د ازادۍ کلمې د انسانانو په نزد خورا زيات قیمت پیدا کړی دی. څوک په یو مسلک کې ازادي ډېره ویني او هغې خوا ته زغلي او څوک په بل مسلک کې د ازادۍ تکامل ویني او دغه خوا ته اوړي. نن انساني جوامع د ازادۍ د کلمې د تاثیر لاندې په غټو غټو بحرانو مبتلا دي او د ازادۍ د کلمې داورېدو او د ازادۍ د معشوقې د میندلو او غېږې ته راوستلو په مقابل کې هر قسم فداکارۍ ته تیار دي.

((مګر دلته ډېر داسې کسان شته چې د ازادۍ په صحیح معنا لا تر اوسه نه دي خبر، ډېر کرته ما داسې خلک لیدلي او په داسې مجلسو کې محشور شوی یم چې له ازادۍ څخه  یوه عجیب و غریبه معنا د دوی مغزو ته راځي، دوی چې دا لفظ اوري فوراً د دوی فکر د بېباکۍ او لا قیدۍ خوا ته درومي.

د دوی په فکر ازادي داسې یو شی دی چې سړی د هېڅ اخلاقي، قانوني او مذهبي شرایطو پابند نه وي. دا کسان چې ازادي په دغه معنا اخلي، هم ملامت نه دي، ځکه چې ځينې بېباکان ازادي په همدغه معنا خلکو ته ورمجسمه کوي او دا مقدسه کلمه په خپلو ناپاکو اعمالو ملوثه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي. تمرد، بد اخلاقي او بېباکي باید د ازادۍ په ذېل کې ونه ښوول شي.**

**بېباکي، لاقیدي او بې مسلکي بېل شی دی او ازادي بېل شی دی. ازادي د انسان د طبیعي او حقه حقوقو په مقابل کې د موانعو ارتفاع ته وایي. مثلاً هر انسان طبعاً حر او اصیل دی، کوم وخت چې یو انسان اجباراً په مریي توب ونیول شي او د ده حق سلب شي کوم وخت چې دغه موانع رفع شي، نو وایي چې فلانی ازاد شو.**

**دغه رنګه کوم وخت چې یو قوم او ملت د خپلواکۍ او استقلال حق لري او څوک دا حق اجباراً سلب کاندي، نو دغه خت دغه توده غلامه وي، مګر کوم وخت چې خپلې واګې پخپله لاس کې واخلي، نو خلک وایي فلاني قوم ازادي حاصله کړه.**

**دغه رنګه که یو قام او ملت د ناوړو دودونو، تعصباتو او جهل په دام کې ګیر وي، یا یو انسان د یو طبعي اختیار په ځای کې له خپل اختیار او ازادۍ څخه کار نشي اخیستی او څه موانع موجود وي، نو دغلته سړی ویلی شي چې ازادي نشته. یو عالم یو نویسنده د یو غیر شرعي یا غیر اخلاقي کار په مقابل کې باید علیحده وینا وکولی شي، کوم وخت چې داسې نشي کېدای، ازادي ناقصه وي. په قانوني او انتخابي مسایلو کې رایه د هر انسان حق دی، که دا نه اجرا کېږي، نو په دغه وخت کې سړی ویلی شي چې ازادي نشته. په ځینې شخصي کارونو کې سړی ازاد دی، مګر که څوک د چا په شخصي کارو کې مداخله کوي، نو دغه وخت ویل کېږي ((دغلته شخصي ازادي نشته)). انسان په تعلیم، کسب، خوراک او څښلو کې ازاد دی، د تحریر او تقریر ازادي د ازادۍ د مهمو اقسامو څخه حسابېږي چې دا د هر انسان حق دی، په ازادۍ پورې د انسان ټول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادي او معنوي پېشرفتونه تړلي دي، چېرته چې ازادي نه وي انسان د حيواناتو له درجې نه هم ټيټېږي. علوم، فنون، اختراعات دا ټول د ازادۍ په برکت لاس ته راغلي دي، که ازادي نه وي د انسان څخه يو جامد شي جوړېږي.

هو، ازادي يو محترم شی دی انسانان بايد يو د بل د ازادۍ احترام په زړه کې وساتي او د چا د ازادۍ د سلبولو کوشش ونه کاندي. دازادۍ فورمول دا دی چې ((انسان تر هغو پورې ازاد دی چې بل ته يې ضرر نه وي)).

مباش درپي ازار و هر چه خواهی کن
که در طريقت ما غير ازين گناهی نيست.

هر وخت چې موږ د ازادۍ کلمه استعمالوو، نو هلته زموږ اخلاقي قانون او مذهبي حدود په نظر کې وي. ازادي د اخلاقي او قانوني حدودو سره مخالفت نه لري، بلکې د ازادۍ د پاره دا شيان ضروري دي. آزاد انسان هغه دی چې خپل جايز اعمال بې له ممانعته اجرا کاندي، جايز او ناجايز د قانون، شريعت او اخلاقو په اساس معلومېږي، نو گويا قانون او شريعت له ازادۍ سره کومک کوي او د قانون په ذريعه ازادي حاصلېږي.

اوس نو که څوک چې د قانون، شريعت او اخلاقو په دايره دننه د بل چا حق نه مني او موانع پيدا کوي، لکه موږ چې د ښځو د ميراث، ازدواج، تعليم او حکومت ته په حاضرېدو کې موانع پيدا کوو، يا دغسې نور نو دا ظلم دی او په قران شريف کې راغلي دي چې ((الا لمنة الله على الظالمين)) (ای خدايه موږ ستا له لعنته خلاص کړې.) (۲۴: ۱۱۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خادم صیب پر نثري لیکنو سربېره د هغه په منظوم کلام کې هم ځینې داسې نظمونه او شعرونه شته چې په هغو کې دکره کتنې څرک لیدل کېږي، هغه په یوه نظم کې چې (د ځان علاج) نومېږي، پر خپل ځان نیوکه کوي، هغه وایي چې ما کله خپل ځان او جهان سره پرتله کړل، نو تر بهرنۍ نړۍ پر خپل ځان انتقاد ډېر ضروري دی. زما داخلي نړۍ تر هغه ډېره ارته ده چې ما فکر کاوه، هدف یې دا دی چې د هر چا په وجود کې دومره نیمګړتیاوې وي چې دی د بل په وجود کې هغو ته ګوته نیسي، دی وایي، په حقیقت کې دا ټولې نیمګړتیاوې زما په خپل ځان کې دي. بیا د خپل ځان درملنې ته هم ګوته نیسي، له هغې جملې څخه په خپل وجود کې د حسد او کینې کمولو ته ګوته نیسي. د خادم صیب دا نظم، د ده د نورو نظمونو په انډول له هنري پلوه هم قوي دی او مهمه محتوا هم لېږدوي. دا پر خپل ځان باندې د کره کتنې ښه بېلګه ده:**

د ځان علاج

((ما د ځان ایینه کې وکاته و ځان ته
بیا مې واوړلې سترګې کل جهان ته
د خارج د انتقاد نه دا ضرور وه
چې داخل شم طلسمي ښار پنهان ته
سر مې کېښود و په دوه زنګنو باندې
شوم داخله بلې ځمکې بل اسمان ته
مجرده حقایق په ژبه راغله
قوت هومره کله شته زما لسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایینـــــې د صـــــفایی لـــــه برکتـــــه
وواتــــه ســــرونه پــــټ رالـــه عیـــان تـــه
چــې پــه بـل کـې مـې لیـدو عکـس د ځـان ؤ
تعجـــب مـــې راغـــی نفـــس د انســـان تـــه
د ژونـــدون کنـــډو کپـــر چـــې لیـــده کېـــږي
تخییـــل ؤ چـــې مـــې وکاتـــه ښـــه شـــان تـــه
مـا دځـان لـه پـاره ځـان کـې عـلاج ومونـد
محتـــاج نـــه وم د طبیـــب دارو درمـــان تـــه
د هـــر رنـــځ عـــلاج پـــه کـــې مســـیحایي و
مګـــر نـــه د حاســـد غشـــی و کمـــان تـــه
ای خادمـــه پـــه خـــدمت نـــه راضـــي کېـــږي
ورنـه تېـر شـه ځـان دې وسـپاره سبحان تـه))
(۱۲: ۱۴۴)

خادم صیب په یو بل نظم کې پر هغو خلکو نیوکه کوي چې بې بنسټه تعمیرونه جوړوي، مانا دا چې یو شی چې هېڅ اساس ونه لري، پر هغو باندې زړه تړل د خپل وخت ضایع کول دي. دی پر ټولو هغو خلکو کره کتنه او نیوکه کوي چې په خوشې خوشې خبرو او کارونو خپل وخت تېروي.

دی وایي چې د یوه مرض درملنه د هغه تر شدته دمخه په کار ده، کله چې ناروغي د یو چا پر مرګ بدله شي، نو بیا پرې ماتمونه په کار نه دي او دا کار هسې د وخت ضایع کول دي، دا نظم ټول پر همدې نیوکو او نصیحتونو پایته رسېږي، دلته به ټول نظم ته مراجعه وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((بې تهدابه چې تعمیر کا ، کړي کارونه خوشې خوشې
د ورانۍ د پاره کاږي، زحمتونه خوشې خوشې
په څو ورځې ژوندانه کې، هوښیار زړمه د محشر کا
غافل تېر په هغه دغه، کړي عمرونه خوشې خوشې
بلبل جوړه کړله جاله، ښه مامونه د ګل خوا کې
تېر په سم او کوږ کړه چتې، موسمونه خوشې خوشې
جوړ شي لعل له هغو اوښکو، چې تویېږي و ګوګل ته
چې شه ای آبشاره مکړه، دا شورونه خوشې خوشې
چې ژوندون لري مړ کېږي، ښه هغه چې با شرف مري
که سپی زر کاله وپایي، وي کالونه خوشې خوشې
لوړهمت په دام د طمعې، کې څوک کله شي نیولی
د هما د پاره مه ږده، دا دامونه خوشې خوشې
د مرض علاج په کار دی، څه لا مخکې له شدته
پس له مرګه څه په کار دي، ماتمونه خوشې خوشې
زه د عشق په پیاله مست یم، محتاج نه یم د شرابو
ساقي، مه ډکوه ماله، دا جامونه خوشې خوشې
چې حاصله خپل مرام کړ، په قوت د خپلو متو
څوک دی ناست، کوي په زړه کې ارمانونه خوشې خوشې
په شهباز سره د شعر به، تازه د ژوند نغمه کړو
دا رباب د زړه غږیږي، ډېر عمرونه خوشې خوشې
د فرهاد تېشه په لاس کړه، که شیرینه معنی غواړې
پراته کله وي ایرو کې، سره لعلونه خوشې خوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې روان تـــر اوبـــو نـــه وي، او ژور هـــم لـــه دریابـــه
نـــه پـــوهېږم څلـــه وایـــي دا شـــعرونه خوشـــې خوشـــې
دا نقصـــان د شـــعر نـــه دی، لـــه خپـــل ذوقـــه ســـراغ وکـــړه
پـــه (خـــادم) بانـــدې مـــه وایـــه، تهمتونـــه خوشـــې خوشـــې))
(۱۲: ۱۵۳)

**استاد خادم زموږ په ټولنه کې د (سیاست) په عملي څېرې نیوکه کوي او هغه داسې یو کار ګڼي چې په رمز او اشارې ترسره کېږي، خبره یې پټ په پټه وي:**

چـــې پـــه خولـــه نـــه شـــي، ویـــل کېـــدلای
کـــار یـــې پـــه رمـــزاو پـــه اشـــارت وي
مـــوریـــې پـــټ ســـاتي لـــه زوی او لـــوره
دا سیاســـــــــت دی، دا سیاســـــــــت دی.

**خادم صیب پر (فاسد حکومت) هم نیوکه لري، دی وایي چې حکومت د قوم زړه او مرکز دی، باید له فساده پاک وي، کله چې زړه فاسد او ناروغ شي نو ټول وجود ورسره له منځه ځي یانې دا چې په فاسد حکومت سره ټول قام له هلاکت سره مخامخېږي:**

حکومـــــت زړه دی، د قـــــام مرکـــــز دی
فســـــاد ددې زړه، شخصـــــي غـــــرض دی
چـــې زړه فاســـد شـــي، بـــدن مـــریض شـــي
هـــلاک قـــوم، لـــه دې مـــرض شـــي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم پر (بدنیته خلکو) او (بدنیتۍ) هم نیوکه لري، دی وایي هر څوک چې بل ته بد نیت لري، په پای کې خپله په خپل دام کې ګیر کېږي.**

په څه سختیو ، دې زنځیر جوړ کړ
چې ما به تل، ساتې اسیر په کې
د بد نیتۍ دا نتیجه وي کنه
اوس ته خپله شوې، را ګیر په کې

**استاد خادم (چل جوړول) او چا ته فریب ورکول هم غندي، که څه هم دا یو مشکل کار نه ګڼي، خو نتیجه ډېره منفي ده. دی وایي:**

چل جوړول، څه ډېر مشکل خو نه دي
دا مو کول چې، دا مو حال شولو
افغان د شرم او پېغور شو
د عزت ژوند ، ورته محال شولو.

**استاد خادم (بدعملونه) لکه، د (چرسو، شرابو او اپینو) کارول، بدعملونه او د استعمار نښې ګڼي. او دا په پای کې د یوه قوم د اسارت لامل ګڼي، هغه وایي:**

دښمن چې غواړي، یو قام محصور کا
چې څه یې زړه وي، پرې یې مجبور کا
چرس او اپین او ، شراب ور سر کا
استعمار دغه ، کاني ضرور کا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم وايي (د قام تباهي) هغه وخت رامنځته کېږي، چې د دولت مشران او د واک څواک خاوندان يې بې لارې شي، د دوی د دغو فاسقو عملونو په نتيجه کې ټول قام د تباهۍ خوا ته لاړ شي:**

هلاکت د کوم يو قوم چې څه وخت راشي
د دولت او قوت خلک يې گمراه شي
د گناه فسق و فجور شرم ترې ورک شي
نو د دوی په شاميت ټول قوم تباه شي.

**د استاد خادم انتقادي او کره کتنيزې ليکنې زياتې دي، خو موږ يې دلته دا څو ليکنې او نظمونه د نورو ليکنو او نظمونو د بېلگو په توگه ياد کړل اولنډه لنډه تبصره مو پرې وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښارپالنه

استاد خادم که څه هم په کلي او ولس کې زېږېدلی او رالوی شوی و، لومړنۍ زده کړې یې هم په خپل کلي او ولسي سیمو کې ترسره کړې وې، د کلیوالي ژوند ډېرې خوږې او ترخې تجربې یې درلودلې، خو بیا یې هم له ښاره، ښاري ژوند او عصري ژوند او سمون سره زیاته مینه درلودله. استاد چې کله هم په بېلابېلو کلیوالي سیمو کې زده کړې وکړې، سفرونه یې وکړل او د عمر یوه اوږده برخه یې هلته تېره کړه، نو دکلیوالي او وروسته پاتې سیمو د ژوند کړاوونه او ستونزې ورته ښې معلومې شوې، نو ځکه خو د یوه متمدن ژوندون په لټه کې شو، د خادم فکر او هنر هم دومره په جوش او فوران کې و چې کلیوالي چاپېریال یې د انتشار ظرفیت نه درلود. څومره چې د خادم صیب علم زیاتېده او لیکوالي یې پخېدله، نو له ښار، ښاري ژوند او هلته له کار او روزګار سره د ده اړتیا او لېوالتیا زیاتېدله، کله چې له خپل کلي او ولسوالۍ څخه (جلال اباد ښار) ته راغی او دلته یې د ښوونکي دنده واخیسته نو دلته د ښاري ژوند له لومړیو اړتیاوو او ځانګړتیاوو سره اشنا شو. پېښور او هندوستان ته په تعلیم پسې د سفر پر مهال هم له ښاري ژوند سره اشنا شوی و.

کله چې یې د کندهار په ادبي انجمن کې دنده واخیسته او بیا د (طلوع افغان) مسول مدیر شو، نور نو د وظیفوي مکلفیت له مخې مجبور شو چې په ښار کې ژوند اختیار کړي او کله چې له کندهاره کابل ته راغی، نو دلته یې دایمي دنده شوه، نو بیا له جلال اباده کابل ته په کډه شو او دلته یې دایمي ژوند اختیار کړ. خادم په کابل کې ځان ته کور اور جوړ کړ او هغه سیمه چې دی په کې اوسېده هغه یې په (خادم مېنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونوموله. خادم صیب دا مهال د ښار وړتیاوې لاپسې تشخیص کړې او په ښار کې د ملکیت، کور او ځای ځایګي له دایمي اخیستلو سره یې لېوالتیا وښودله.

نه یوازې خپله یې د دې کار لپاره هڅه وکړه، بلکې نور یې هم وهڅول چې کابل کې کور، هتې او ځمکې واخلي. له دې کار څخه د خادم یو هدف دا و چې پښتانه به له کلیوالي ژوند څخه ښار ته راشي، دلته به متمدن شي او ددې ترڅنګ به د ملکیت خاوندان هم شي.

ښار کې ژوند کول د وخت په تېرېدو سره خادم ته پر یوې اړتیا بدل شول او نور یې هم دېته وهڅول چې کابل کې مېشته شي، سره له دې چې له ژبني پلوه د کابل چاپېریال یو شمېر پښتنو ته په زیان تمامېده؛ هغوی په کې خپله ژبه هېروله او خادم هم پر دې حالت اندېښنه ښودله، خو ددې ترڅنګ د ښار ګټې تر زیانونو زیاتې وې. خادم صیب چې کله هم په کندهار، کابل او ننګرهار کې دبېلابېلو خپرونو مسول مدیر و، نو دا مهال یې د دې ښارونو په باب ګڼ شمېر لیکنې خپرې کړې دي. دا لیکنې اکثره خبري او ژورنالیستیکه بڼه لري چې د هغه وخت د ښارونو د رغونې، نوې جوړونې او بیا جوړونې، ستونزې او پرمختیاوې انځوروي. د دې ترڅنګ  خادم صیب د ښاري ژوند په هکله نورې لیکنې هم کړې دي چې د ښاري ژوند اړتیا په ګوته کوي. دلته به لومړی ددې ډول لیکنو عنوانونه یاد کړو او بیا به یې د ځینو پر څرنګوالي هم لږه رڼا واچوو: ((ننګرهار، د ننګرهار منظره، لوګر، د ګردېز جغرافیه، مدنیت او موږ، د ولایاتو د مملکت وېش: د راتلونکو اصلاحاتو لپاره لویه لار، کلیو او دیهاتو ته د ډاک نظام، راه ها، معابر  و سرک ها، هدایت تعمیر (نوی ښار) در لغمان، ریشخور یا غازي اباد، د نادر پښتون د جادې د دویمې برخې کار، سرک ګلبهار و سروبی، د تنګي غارو د سړک په باب نوی تصمیم، جلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



اباد و موضوع برق ان، د کابل د ښاروالۍ د (۱۳۳۳ل)کال پروګرام، د قندهار د ښاروالۍ انتخابات، د بلدیې انتخابات شروع کېږي، د ښار په لوی مجلس کې د ښاغلي نایب الحکومه بیانیه، د ۵۰ ورځو د کار راپور، په ۲۹ ولایتونو کې دمملکت وېش ، د جلال اباد ښار بې اصوله دی ، د جلال اباد ښاروالۍ انتخابات، د زاړه ښار عفونتونه به تر څو پاتې وي؟، د ښار په احاطه کې خشت مالي، د جلال اباد ښاروال انتخاب، د ښاریانو په مخکې د ده تعهد، عصري ښارونه او ارزانه کورونه، کابل د څلورو بین‌المللي لارو په منځ کې، کابل د خوشبویۍ په دریاب کې لامبو وهي، له ښاریانو ضرر رفع کول د ښاروالۍ وظیفه ده، د کابل د ښار نتظیفات)) او ځینې نورې لیکنې.

په نظم کې ( تهذیب ، تمدن، ننګرهار) او ځینې نور نظمونه

دلته غواړو د خادم صیب پر دې ډول لیکنو چې ښار، ښار جوړونې او ښارپالنې ته ځانګړې شوي، یو څو یې د بېلګې په توګه راوړو او لنډه لنډه تبصره هم پرې ولرو:

خادم صیب د (مدنیت او موږ) په نامه یوه لیکنه لري، په دې لیکنه کې یې مدنیت، مدینه یا ښار له لغوي پلوه هم شنلي او له محتوایي پلوه هم دی په دې نظر دی چې هر څومره چې یو فرد له خپل فردي ژوند څخه ټولنیز او ښاري ژوند ته لاره پیدا کړي، تجربه او پوهه یې زیاتېږي. دی د ساري په توګه یو کلیوالي او ښاري شخص سره پرتله کوي چې طبعاً یې په علم او مهارت کې ډېر توپیر لیدل کېږي، خو که همداکلیوال شخص څه موده وروسته ښار ته لاړ شي او هلته وخت تېر کړي، نو علم یې بروز کوي او ډېره نوره پوهه زده کوي، دی وایي چې دا ټول د مدنیت او ښاروالۍ برکت دی، دی په دې نظر دی چې په ښار کې ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم زيات دی، چې دلته د کلونو په اوږدو کې د ګڼو انسانانو تجربې راټولې شوي دي. نو خادم ځکه ښاري ژوند ګټور بولي، خو د مدنيت او مدني له نامه څخه ناوړه ګټه اخيستونکي هم ښه نه ګڼي، خادم صيب په دې ليکنه کې وايي:

((د مدنيت کلمې نن ورځ په دنيا کې له حده زيات اهميت موندلی دی، د دنيا ټول افراد، جوامع او ملل همدا کوښښ کوي چې مدني وبلل شي، هېڅ فرد او هېڅ جامعه دې ته تياره نه ده چې د غير مدني (شاړ) نوم په ځان قبول کړي!

نن ورځ چا ته شاړ (غير مدني) ويل دومره زور ورکوي، لکه لږه موده مخکې به چې کافر يا د بې دينه کرغېړن لقب خلکو بد منلو، که څه هم شکر دی، نن هم په دنيا کې د دين او خصوصاً د اسلام د دين پيروان او عقيدتمندان شته دي، لېکن زما وينا داکثريت او نورې دنيا په لحاظ ده!

هو؛ د مدنيت، کلمې د نن ورځې وګړو په زړه او دماغ داسې طلسم کړی دی چې دوی هر څه د لاسه ورکولی شي، مګر دغه ښکلې معشوقه له لاسه نه شي ورکولی!

لکه د تېرو ورځو انسان به چې د نورو قسم قسم اشياوو او مفهوماتو په مينه کې سر ورکولو او د زړه په شوق سره به يې د حيات قرباني کوله، دغه رنګ نننی انسان د دغه مفهوم په مينه او محبت کې داسې فاني دی چې اډو پته يې نه لګي او د دغه دلفرېبه مفهوم په حمايت کې د ځان، مال او هر څه نه تېر دی!

دا خو د دې کلمې عام مقبوليت او محبوبيت دی چې که يو قوي جماعت يا ملت وغواړي چې ځان ته د اغا لقب حاصل کړي او خپل تسلط او اقتدار په بل چا ومني او په دغه شان سره د بل وطن د اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثروتي منابعو څخه استفاده وکړي او وړ يا غلامان ځان ته پيدا کړي، نو پرته له دې هېڅ چاره نه شته چې ووايي موږ مدني يو او دغه قام غير مدني يا شاړ دی او موږ غواړو چې دوی ته مدنيت وښيو!!!

نن ورځ د دنيا لويې لويې هنگامې او ډېر ډېر نهضتونه د دغه کلمې د نفسي اثر په واسطه سره تړلي دي چې د ټولو بيان زه دلته نه شم کولی، البته بې مبالغې به وي، که ووايم چې د انساني ټولنې د سمندر مد و جزر د دې بسيطې کلمې د جذب او راښکودنې په ذريعه دی!!!

نو راځئ چې دغه کلمه لږ شانې سره وشيندو او ويې سپړو وگورو چې په دې کې څه دي او ولې يې دومره ډېر اهميت موندلی دی؟!

يو شاعر وايي:

((د خلکو خولې د خدای نغاره ده))

هر شی چې دومره عموميت او محبوبيت ومومي، هغې ته په معمولي سترگه کتل د انسان په خپل حماقت او ناپوهۍ محمولېږي، نو ښه مدنيت، يعنې څه؟

مدنيت: شهريت، ښاروالي دا درې واړه کلمې يوه معنی لري، يعنې ښار ته منسوبېدل، مدينه او شهر وايي ښار ته. مدني، شهري، يعنې د ښار سړی.

دلته يوه بله کلمه هم شته چې اکثره د مدنيت سره يو ځای خولې ته راځي، څه؟

(تهذيب) د تهذيب معنی ده، شايستگي او (ښکليتوب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره ویلی شي، مدني او مهذب سړی دی، یا هېڅ تهذیب او مدنیت نه لري، یا مثلاً: د اروپا تهذیب او مدنیت، اوسنی تهذیب او مدنیت دی.

دا دواړه کلمې سره په معنی کې ببخي نږدې دي، مګر څه لږ فرق چې لري، هغه دا دی چې مدنیت په عمراني، معاشرتي او اجتماعي امورو ډېر اطلاق کېږي او تهذیب په علمي اخلاقي او ادبي شیونو زیات اطلاق کېدی شي!

کله داسې هم کېږي چې یوه کلمه د بلې په ځای مستعمله شي! او یوه د دواړو معنی ورکړي، ځکه چې کوم فرق چې موږ بیان کړو، دا اعتباري فرق دی، په خارج او د ذهن نه د باندې دنیا کې مدنیت او تهذیب لازم او ملزوم لیدل کېږي، د ښار خلک مهذوب وي، یا مهذب خلک په ښار کې وي!

اوس نو خبره دا ده چې د تهذیب او مدنیت په کلماتو انسان څنګه شیدا دی؟

د حکماوو او پوهانو رایه ده چې ((د انساني فرد ټوله پوهه او کمالات د جماعت د احسان مرهون دی، که دی د جماعت او ماحول نه زده کړه ونه کړي، نو دی هم د نورو حیواناتو په شان یو حیوان دی.))

هوښیارانو تحقیق ته رسولې ده چې انسان په اول سر کې د کور کهول، کلي او ښار نه نا اشنا و، نو ځکه دی د علم فن، اخلاقو او شایستګۍ نه عار و او ژوند یې کټ مټ د نورو حیواناتو په شان و، د قرنو او د عمرو په تېرېدو او د ډېرو پېړیو د اووښتو راووښتو په سبب یې د خپل همجنس سره وپېژندل او د یو تر بله فعل و انفعال او کسب د اکتساب په برکت د نن ورځې طلایي عصر ته راووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي چې د انسان د هغه حال نه دې حال ته انتقال په همدومره موده کې شوی دی، لکه په څومره کې چې د همالیه دا ایورسټ څوکه چې د ځمکې د سطحې سره برابره وه او معمولي باد و باران په ذریعه ترې نوره ځمکه وبهول او یوړلی شوه او دغه غر په دغه عظمت او لویۍ سره تشکیل شو.**

**وايي چې که انسان اوس هم د جماعت نه وایستل شي او د انسانانو نه لرې په کوم ځنګل کې لوی شي، نو بیا به هم د حیواناتو څخه یو حیوان وي.**

**دا خبره موږ ته ډېره بعیده معلومېږي، لېکن د دې تجربه زموږ په مخ کې پرته ده، راځئ یو د ښار او یو د لېرو او ځانته کلو یو سړی به سره کېنوو او وبه ګورو چې د دوی په افکارو، احساساتو او تعقلاتو کې سره څومره فرق دی، د دېنه موږ هغه حالت قیاسولی شو چې انسان ببخي د انساني ټولنې نه وتلی لوی شوی وي!**

**هو؛ دا هم موږووينو چې د کلو او اطرافو سړی لږه موده په ښار او ټولنه کې واوسېږي، د هغه ټول استعدادونه بروز کوي او د کم استعداده ښاريانو نه وړاندې پل ږدي!**

**نو ګويا د نن ورځې ټول هغه څه چې انسان ورباندې دا فخر کوي چې:**

برخیـــز کـــه ادم راهنگـــام نمـــود امـــد
ایـــن مشـــت غبـــاری را انجـــم بســـجود امـــد

**د مدنيت، ګډون او ښاروالي په برکت سره دی.**

**د نن ورځې ټول علوم، فنون، حکمت، فلسفه محير العقول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایجادونه او اختراعات، لوی جمعیتونه او تشکیلات، حسن او شایستګي، ادبیات او مستظرفه صنایع دا واړه د دغه چینې نه راوتلی دی چې (مدنیت) یې بولي، نو د مدنیت کلمه د انسانیت ټول محتویات په غېږ کې نیسي او دا معلومه ده چې سړی ړومبی انسان کېږي او وروسته متمدن کېدی شي.**

**پخوا که هر څه وو هغه به وو، لېکن نن ورځ د مدنیت دا معنی نه ده چې سړی دې ضرور په تنګو، تېرو کوټو او متعفنو کوڅو کې اوسي، د فطرت د ټولو مظاهرو د تماشې نه دې بې نصیبه وي، اشیاو ته دې ګوري، که څه هم یې ونهویني، خبرې دې اوري، که څه هم فکر پرې ونه کړي، بلکې د مدنیت معنی دا ده، لکه څه رنګ چې په ښار کې د کتلو، لیدلو، اورېدلو او غوږ باسلو ذریعې ډېرې وي، سړی کولی شي چې په لږه موده کې ډېرې تجربې وکړي او ډېر څه زده کړي، عالم، صنعت کار، کتاب، اخبار او نور د زده کړې اسباب مهیا وي، هر رقم شی او هر رقم خلک موجود وي، دا نه کېږي چې یو معمولي شي ته د سړي لوی کار بند پاتې شي او په دې واسطه سره هر استعداد او فطرت چې سړی یې لري ښکاره کولی یې شي! دغه رنګ که یو سړی په کلو کې اوسېږي او هغه ته دغه ټول وسایل ورسېږي او په لاس ورشي، نو دا سړی مدني دی او دغه کلی، کلی نه دی، بلکې ښار دی.**

**نن ورځ د مدنیت د تعمیم او انتشار لپاره ښه ښه اسبابونه او ډېر ډېر ذرایع پیدا شوي:**

**سرکونه، موټرونه، ګاډي، رېلونه، ټلېفونونه، تلګرافونه راډیو ګانې، ډاګخانې، برق، اخبارونه، مجلې، کتابخانې، ښارونه، هوټلونه،مسجدونه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شفاخانې، مکتبونه، دارالعلومونه، انجمنونه، بانکونه، شرکتونه، صنعت گاهونه، مېلې، سینماگانې، تفریح گاهونه او داسې نور...**

**دا ټول د مدنیت لوازم او د انسان د استعداد د بروز او عقلي انکشاف لپاره ممد او معاون شیان دي. د دغه ذرایعو په واسطه د خلکو په منځ کې د ناستې ولاړې او د افکارو د تبادلې موقعه پیدا کېږي، سوء تفاهم او تباعد په میل او اشنایي بدلېږي، خلکو ته د تجربو، زده کړې او معلوماتو حاصلولو زمینه تیارېږي او په اخره کې په ټولو اذهانو کې یوه نظریه او په ټولو طبایعو کې یو کولتور محکمېږي.**

**جگړې، جنگونه په اتفاق او مشوره تبدیلېږي او د توحید ملي نقطه لاس ته راځي.**

**د ټولو حکومتونو اوله وظیفه دا ده چې په مملکت کې مدنیت عام او ملت مدني کاندي، خکه چې تهذیب او مدنیت د ټولو خوبیو سر دی او شاړوالی او یاغیتوب د ټولو معایبو بېخ دی!!!**

**دلته نورې ډېر خبرې د مدنیت په اقسامو او وېش (لکه مادي او روحاني) او د ده په انتقالاتو او تحولاتو او ځینې معایبو کې شته چې د بحث د اوږدېدلو له وېرې یې نه شو لیکلی.**

**زموږ گران وطن هم پخوا ډېر مدنیتونه لیدلي دي: بلخ، بامیان، هډه، گندارا، بُست، هرات، غور، غزني په منځنیو پېړیو کې د ایشیا د منځ تجارتي، صنعتي او علمي مرکزونه وو، مدنیت زموږ د پلرونو پاتې میراث دی.)) (۲۳: ۴۴۹-۴۵۰)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېره لیکنه کې استاد خادم د ښار، مدنیت او تهذیب پر تعریف او څرنګوالي بحث کړی و، د هغه ګټې یې مشخصې کړې وې، خو خادم صیب خپلو ښارونو ته هم فکر وړی دی، دکابل ښار پر وضعیت اندېښنه څرګندوي او وايي چې دا د ډېر افسوس ځای دی چې د کابل ښار په بېلابېلو برخو کې (خشت مالي) کېږي. دې کار د کابل ښار ښکلا ته ډېر زیان اړولی دی. دی په دې اړه یوه لیکنه لري، د لیکنې نوم دی (د ښار په احاطه کې خشت مالي). دی په دې لیکنه کې د کابل ښار عیني واقعیتونو ته اشاره کوي؛ هغه ځایونه په ګوته کوي چې خښتې په کې وهل کېږي، ځمکې یې ژورې کړي او ښار یې سخت بدرنګه کړی دی. دی د مثال په توګه دکابل دهمزنګ سیمه او ځینې نورې سیمې یادوي، چې خشت مالانو سختې بدرنګه کړي دي. دی نه یوازې دکابل ښار پر حال افسوس ښکاره کوي او وايي چې د هېواد په ځینو نورو ښارونو کې هم داحال دی، خادم صیب هغه مینه چې له ښار اوښار پالنې سره لري، دخښتو دجوړولو، پخولو او د ښار د صفایۍ لپاره موثر وړاندیزونه لري چې په دې لیکنه کې یې ورته اشاره کړې ده. ښه به وي چې دا لیکنه د ښار او ښار پالنې په باب د خادم د یوه نظر په توګه تر پایه ولولو:

((خښتې د هر ښار ضرورت دی. ښارونه خښتو ته اړتیا لري، خو دلته کومه خبره چې ډېره مهمه او د یاد وړ ده، هغه دا ده چې باید خښتې چېرته او څنګه واچول شي؟ ایا په هر ځای کې چې د هر چا خوښه شوه خښتې به اچوي، داش به دروي او خپل کار به کوي؟ او که نه ځینې ځایونه د خښتو اچولو د پاره مساعد نه وي او خښتې اچول د ښار په ضرر تمامېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم ځای کې چې خښتې اچول کېږي، نو ایا دا هم اصول او اسلوب باید ولري او که نه، یوه ځمکه چې د ښت مالانو لاس ته ورغله، نو چې څومره یې گنده کولای او خرابولای شي، نو اختیار لري؟

زمونږ د پایتخت کابل په حال افسوس په کار دی، علاوه له نورو ډېرو خبرو څخه چې د سړي ورباندې افسوس راځي، د بېځایه او هر ځای خښتو اچولو څخه کابل ته سخت تاوان رسېدلی او متوجه دی، یوازې د کابل ښار نه دی څومره ښارونه چې ما لیدلي دي، لکه جلال اباد، کندهار، پروان، هرات او داسې نور دا ټول خشت مالانو بد وضعه کړي دي. د ښارونو په نږدې احاطه او هغسې ځایونو کې چې د ښار د نقشې لاندې وي، باید قطعاً خښتې وانه چول شي او که څوک خښتې اچوي چې خاوره یې زیاته وي او کمول غواړي او بیا هم چې خښتې اچول کېږي، باید د مهندس د اجازې او نگرانۍ لاندې وي چې ځمکه هغومره ژوره او کنده نشي چې د سبا له استفادې ووځي.

مثلاً په سیاه سنگ (توره تیږه) کې چې اوس د ښار نقشه روانه ده تطبیقېږي، خشت مالانو دومره لویې لویې کندې ایستلي دي چې که ښاروالي وغواړي چې ډکې یې کړي، نو څنگه به یې ډکوي؟ او که نه یې ډکوي نو د ښار په منځ کې به کندې جوړې وي چې مردارې اوبه، غلاظتونه او ناولتیاوې به په کې پرتې وي او بدبویي به یې پورته کېږي. که په اوله کې دا فکر شوی وای چې دلته خشت مالي نه وای پرېښودل شوې، یا چا دا مراقبت کړی وای چې جگه ځمکه دومره ټیټه کړی شوې وای چې د نورې سره برابره شوې وای او بېځایه کندې نه وای پرېښودل شوې، نو اوس به د ښار په نقشه کې گاټه او خرڅ نه پېښېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه شان بېځایه او بې ترتیبه خشت مالي د کابل د ښار په هره خوا کې روانه ده، اجرا کېږي، مگر هېڅوک د دې بد کار مخه نه نیسي. خشت مالي باید په داسې ځای کې وشي چې یا کومه غونډۍ وي، هوارول غواړي، لکه د بلخه تپه یا جگه ځمکه وي ټیټول غواړي، لکه د پوستین د وزانو شا ته ځمکې، خو په هېڅ صورت باید د ښار په احاطه کې داسې کندې او چقوري گان جوړ نه شي چې ډکول یې مشکل وي او د غلاظتونو مرکزونه شي.

پخوا چې هر څه شوي دي، هغه خو شوي دي، لېکن اوس که دې کار ته پام نه کېږي، زموږ ټول ښارونه به بد وضعه او بد قواره شي. بله خبره دا ده چې د خښتو مراقبت دې هم وشي، کومې خښتې چې پخې نه وي او نیم پخته وي، باید ښاروالي یې مخه ونیسي او په تعمیرونو کې دې یې لگول بند کړی شي، چې څو ښې او پخې خښتې رواج شي. پخې خښتې داسې وي لکه د پېښور د ښار، که څوک ورشي وگوري ورمعلومه به شي چې پخې خښتې څنگه وي؟ په دې باب باید مؤظف اشخاص توجه وکړي.)) (۲۴: ۱۱۸۹)

خادم صیب دا لیکنه له نن څخه نږدې شپږ لسیزې وړاندې کړې ده، خو د افسوس ځای دا دی چې نن هم د هېواد ښارونه له هغې جملې کابل هغه ایډیال حالت ته نه دی رسېدلی چې د خادم صیب او د دې وطن د نورو خادمانو هیله وه. کابل یو وخت تنظیمي جگړو پسې خراب کړ، هر ځای کې کنډو کپرې جوړې شوې او د ښار اکثره واټونه د خاورو ډېریو ونیو. د (۱۳۷۲ل) کال په بهیر کې چې د کابل میوند واټ له خاورو سره برابر شوی و، د همدې خاورو له ډېرو څخه خلکو د خښتو جوړولو لپاره کار اخیسته او د میوند واټ په عمومي سړک یې ایښودلې، تر (۱۳۸۱ل) کال وروسته د کابل ښار پر بیا جوړونې پیل وشو، ښار کې ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ابادي وشوه، خو بې پلانه ابادي هم تر حده زیاته ترسره شوه. ښار بې نقشې وده وکړه. اوس کابل ښار د هوا د خرابوالي له خطر سره مخ دی، اوونۍ کې یوه ورځ رخصتي د هوا د ککړتیا له امله زیاته شوه، اوس کابل د نړۍ په هغو لسو ښارونو کې راځي چې ډېره چټله هوا لري.**

**استاد خادم صیب بیا په کابل ښار کې د ښتو وهلو تر اندېښنې پورته د عصري ښارونو او ارزانه کورونو ایډیال حالت فکر هم کوي، ښکلي او ایډیال ښارونه تعریفوي او د ارزانه او صحي کورونو ضرورت تشریح کوي. (عصري ښارونه او ارزانه کورونه) په نوم لیکنه کوي، په لومړۍ برخه کې خپل ایډیال ښارونه تشریح کوي او بیا هغې پروژې ته گوته نیسي چې د وخت حکومت په کابل ښار کې د عصري او صحي کورونو لپاره په نظر کې نیولې ده. خادم صیب په دې لیکنه کې وایي:**

**((ښار د کورونو داسې مجموعې ته وایي چې د خلکو اکثر حوایج په کې پوره کېږي، کلی هم د کورونو مجموعه وي، خو هلته زیات حوایج نه پوره کېږي او خلک د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ښارونو ته ځي، خو د نن ورځې په ښارونو کې یو څو شرطونه نور هم زیات شوي دي، نو سړی باید د ښار تعریف داسې وکړي: ښار د کورونو هغې مجموعې ته وایي چې په مشترکو اجتماعي سیستمونو یو پر بل تړل شوی وي، مثلاً د دوی تر منځ د اوبو د رسولو سیستم، د تسخین او تبرید سیستم، د تنویر سیستم، د تنظیفاتو سیستم، د سپورت د میدانونو سیستم، د عمومي باغونو او تفریح ګانو سیستم، د دوکانونو منډیي ګانو او صنایعو انتظام، د خوراکي موادو، شفاخانو، مکتبونو، مساجدو او داسې نورو انتظامونه یې یو تر بله شریک وي، نو بس دا ښار دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که کورونه په داسې ترتیب وي چې هر کور ځانته احاطه ولري. ځانته باغچه ولري ځانته کوهي یا نل ولري، د سړو او تودو اوبو په خپله ذمه وار وي. اوبه په صحي توګه برابرول د ده خپل کار وي. کوچنیان او ځوانان یې که په خپل کور او صحرا کې لوبې ونه کړي، بل ځای نه لري. یو کور وي او ښه بده یې په خپله ذمه وي. که په خپله غوا ونه ساتي د شودو درک نه وي. که وي هغه د صحت لپاره برابرې نه وي. که کور او کور شاوخوا په خپله پاکه او ستره نه کړي، کوم انتظام نه وي چې غم یې وخوري، نو بس داسې کورونه که څه هم زرګونه سره خوا په خوا پراته وي، دغه ښار نه دی او نه پرې د عصري ښار اطلاق کېدی شي، لکه زموږ د نوي ښار کورونه، کارتې او داسې نور دا دیهات دي. له یو څه مودې څخه دولت ته دا فکر پیدا شوی دی چې په منظم او عصري ډول ښاري یونټونه جوړ کړي. دغسې یونټونه لږ ځای نیسي. کورونه یې کمصرفه اقتصادي، مجتمع او د ټولو عصري ضروریاتو له لحاظه مکمل وي. لومړنۍ نقشه واچول شوه او دغه دی دوه درې ورځې مخکې په دغه احاطه کې یو سلو څلوېښت کسانو ته د کورونو ځمکې وسپارل شوې. وایي چې دولت پس له فکر او تدبر څخه د کم مصرفه عصري کورونو یو زرو سل لمبرونه د سیاسنګ په سیمه کې وټاکل او څه برخه یې خلکو ته ورکړې شوه او نور هم مستحقینو ته ورکول کېږي. د کورونو نقشه داسې جوړه شوې ده چې ټولو کورونو ته د ښځلو اوبه ورسول شي او هر کور باید پوره لمر او رڼا ولري.

دولت دا خبره فیصله کړې ده چې د خلکو سره د کورونو په جوړولو کې مرسته او کومک وکړي. په همدغه لحاظ په نظر کې دي چې په دغه ځای کې د نجارۍ یوه فابریکه ودرول شي چې د ودانیو سامانونه خلکو ته تهیه کړي. همدارنګه دغلته یوه تعمیراتي کومپنه هم موظفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوېده چې خلکو ته لاربنوونه وکړي. وايي چې دغه سيمه سينما، د کوچنيانو پارکونه، غذايي مارکېټونه، ښوونځی، جوماتونه او داسې نور لري. د کور يوه لمبر قيمت چې (۱۳۴) مربع متره کېږي (۷۱۵۰افغانۍ) ټاکل شوی دی. موږ داسې فکر کوو چې دغه سيستم د عصري کورونو او عصري ښارونو لپاره خورا ښه سيستم دی. بايد تعميم شي او په دغه شان د بې کورۍ او غير صحي کورونو خاتمه وشي.)) (۲۴: ۱۲۲۲)

استاد خادم پر نثري ليکنو سربېره په نظم کې هم د تمدن، کلتور او ښاروالۍ گټې تشريح کړي او د (تهذيب) په نامه يوه څلوريزه کې خپل زوی ته نصيحت کوي: د تمدن لمن ونيسه چې همدا د سړيتوب لاره ده:

تهـــذيب کولتـــور او تمـــدن بويــــه
ســـړی، ســـړی شـــي لـــه خپلـــه خويـــه
همـــدا هڅـــوب دی، پـــه پښـــتو ژبـــه
چـــې پـــرې يـــې نـــږدې ښـــاغليه زويـــه.

په يوه بله څلوريزه کې تمدن ته هم اشاره کوي، يوازې فزيکي ابادي تمدن نه گڼي تمدن لږ نور هم تشريح کوي سپېڅلی روح او پاک کارونه، د فزيکي تمدن ترڅنگ د معنوي تمدن ارکان گڼي، اوسنيو پوهانو هم تمدن او کلتور د انسان د مادي او معنوي پانگې مجموعه گڼلې، خادم صيب هم د (تمدن) په نامه څلوريزه کې دې موضوع ته نغوته کړې ده:

تمـــــدن کلـــــه د ښـــــار کـــــوڅې دي
ســـاز او ســـامان او مـــال او پيســـې دي
ښـــاغلی روح او ســـپېڅلې چـــارې
پـــه دې دوه توکـــه د ژونـــد نقشـــې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر پورتنیو لیکنو سربېره چې موږ پر لنډه لنډه تبصره وکړه، خادم صیب نورې دا ډول لیکنې هم لري چې د ځینو نومونه مو د دې لیکنې په پیل کې یاد کړل، خو د هغوی تر څنګ د تمدن، ښارپالنې او کلتور پالنې په باب د خادم صیب نورې لیکنې هم شته چې پر ټولو بحث ددې لیکنې له زغمه پورته کېږي. په وروستۍ جمله کې ویلای شو چې خادم په پښتنو لیکوالو کې داسې یو لیکوال و چې ښار، تمدن او ترقۍ سره یې زیاته مینه وه او په لیکنو کې یې د دې مینې ځلا له ورایه ښکاره کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فلسفي افکارو روزنه

استاد خادم له کوچنیتوبه یو متجسس انسان و، ده د طبیعت په هره برخه کې پلټنه کوله، د انسان په لاس جوړ شویو شیانو، لکه موټر، اورګاړی، توپک او نورو ته به هم ډېر ځیر و، په کور، کلي کې به له لویانو او مدرسه کې به یې له استاد څخه ډول ډول پوښتنې کولې، ان له پوښتنو څخه به یې هم خلک په تنګ وو. د بېلابېلو مسایلو په باب پوښتنې او د طبیعت پر رازونو باندې د ځان پوهول د فلسفې یوه برخه ده. خادم صیب کې دا فلسفي ماده په طبیعي ډول پرته وه. څومره چې دی فکري بلوغ ته رسېده، دې مادې خپل ځان ښوده. کله چې استاد خادم د لیکوالۍ لومړي ګامونه پورته کړل او د مطالعې ساحه یې پراخه شوه، نو د (رابندرانات ټاګور او علامه اقبال) اثار یې ولوستل له هغو څخه سخت متاثره شوه، د اقبال انساني او اسلامي فلسفې پرې سخت تاثیر وکړ. د وخت په تېرېدو سره استاد خادم ګڼ شمېر فلسفي افکار راخپل کړل او خپله طبیعي فلسفي تومنه یې هم ورسره ملګرې کړه. په نتیجه کې یې ګڼ شمېر لیکنې وکړې او همدارنګه د (نبوغ او عبقریت) په نامه یې یو مستقل فلسفي اثر هم ولیکه. پر دې اثر زموږ د هېواد نامتو لیکوالو خپل نظریات لیکلي او دا یې په پښتو کې په ټولیز ډول یو غوره فلسفي اثر بللی دی. د دې فلسفي اثر یوه ځانګړنه په دې کې ده چې تر ډېره حده په خپله د استاد خادم د افکارو زیږنده ده. ښاغلو (محمد قدیر تره کي، غلام جېلاني جلالي، دوکتور حفیظ الله ناصري او سید بهاو الدین مجروح) پر دې اثر سریزې او یادښتونه لیکلي دي. په دې اثر کې (ایا له نبوغه انکار کېدی شي؟ نبوغ څه شی دی؟ د استعدادونو او صلاحیتونو تفاوت، د اجتماع

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصر او نبوغ، یوه لویه اشتباه، فلسفه او ساینس، ایا چنګېز خان نابغه و، د جنون او نبوغ فرق، د نبوغ اقسام، د نبوغ نښې، د نبوغ د انکشاف موجبات او موانع، د نبوغ پېژندل او پالل، له نبوغ څخه کار اخیستنه، یو نابغه هلک، ملاحظات، د شلمې پېړۍ نابغه او د نبوغ مخالفت) بېلابېلې لیکنې خوندي شوي دي. په (نوې ژوندون، خیالي دنیا او نوې رڼا) کې هم په ځینو برخو کې فلسفي ماده لیدل کېږي. پر (نبوغ او عبقریت) سربېره استاد خادم ګڼ شمېر داسې لیکنې او ځینې ژباړې هم کړي چې هغه هم فلسفي افکار یا فلسفي رنګ لري. چې دلته یې د سرلیکونو یادونه کوو: (د ژوندانه درې لارې، د ستورو دنیا، طلسمي ښار، د ژوندانه مقصد، د ارتقا حس، حیات او مهات، د نویو انکشافاتو په رڼا کې قدیم حقیقت، د نبوغ اساسي لارې، اتفاق او اختلاف، دیانت او روحانیت، انسانیت او حیوانیت، انسان او فاضل ملکات، ژوند څه شی دی؟، سعادت په څه کې دی ، د اقبال د خودۍ فلسفې مبدا) او ځینې نورې لیکنې چې ځینې دا ډول لیکنې یې په ځانګړو اثارو او ځینې نورې یې په جلا جلا ډول خپرې کړې دي.

نظم کې یې(د عروج رمز، انسان او کاینات) او ځینې نور نظمونه فلسفي مفاهیم لري.

د نبوغ او فلسفې په برخه کې د خادم راټول او منسجم اثر همغه د (نبوغ او عبقریت) اثر دی چې همدا فلسفي افکار په کې راټول شوي. په دې کتاب کې لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، بېلابېل فلسفي موضوعات شنل شوي او ارزول شوي دي، لوستونکو ته یوه نتیجه هم په لاس ورکوي. د دې اثر په یوه برخه کې استاد خادم (فلسفه او ساینس) یو بل سره پرتله کړي، ځانګړنې یې په ګوته کړي او په دې برخه کې یې د بېلابېلو پوهانو نظریات وړاندې کړي دي. دی ساینس پر تجربې ولاړ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علم ګڼي، وايي ساينس نظر له فلسفې نه يو شتمنه مجموعه ده چې وحدت نه لري، يا په بل عبارت يو جسم دی چې روح نه لري او فلسفه بيا زيار باسي چې د پوهې حقيقت او د پېژندنې وړ شيانو قيمت تعين کړي. ساينس وايي، کوم شيان حقايق دي، لېکن فلسفه وايي، حقيقت څه شی دی؟ په دې ليکنه کې استاد د ساينس او فلسفې تر منځ رابطه او توپيرونه مطالعه کوي. هغه وايي:**

**((دلته بايد د دې څېړنو مطالعه کوونکی په دقت او بې طرفۍ سره لاندې نظريات چې لويو پوهانو ته راجع دي، ولولي او په خپله يوه فيصله وکړي:**

**څرنګه چې د پستمولوجي پوهان وايي د علمي تحقيقاتو موضوع خپله طبيعت دی، علمي تحقيقات له هغو کتنو او تجربو څخه عبارت دي چې د طبيعت پر تحولاتو باندې وشي او دا تحولات د قوانينو په توګه تعبير او په مختلفو علمي جدولونو ووېشل شي. بشر غواړي چې پرله پسې د نوو شيانو په اختراع خپله پوهه لا زياته او ددې علمي معرفت د صحت درجه پورته کړي. دغه کتنې او تجربې د طبيعت جزئيات موږ ته په روښانه ډول ښيي او ورځ په ورځ د حوادثو تر منځ ابهام لږوي. ځکه چې که څه هم (دا علمي قوانين عيني حقايق نه دي) او د انسان فکري ساختمان په کې دخل لري. اما بيا هم د حقيقت يو نسبي دقيق تصوير ګڼل کېږي. په کلي ډول سره د علمي نظرياتو مطلب دا نه دی چې پر جزيي مجهولاتو باندې ودرېږي، بلکې غير له دې چې جزيي مجهولات په نظر کې ونيسي، غواړي چې تر کلي عناوينو لاندې د طبيعت اهميت روښانه کړي او دا نظريات بايد له تجربي نتايجو سره تضاد ونه لري. که څه هم د فلسفې تاريخ د متضادو فلسفي نظرياتو مجموعه ده او يو واحد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تعریف موندل یې اسانه کار نه دی، خو دلته یو بل حقیقت ته هم ملتفت کېدل په کار دي چې په ساینس کې هم پخه او کلکه هماهنګي نه شته.**

**(مانکس بلانک د کوانتم د تیوري کاشف) وایي: ((په نني عصر کې داسې یوه علمي تیوري چې څوک ورسره مخالفت ونه کړي، ډېره نادره ده. دقیقو قواعدو خپل پخوانی حتمیت او قیمت له لاسه ورکړی دی. نني فزیک پوهانو د نوو علمي قواعدو د کشفولو له پاره تر ډېره حده پورې د فیلسوفانو شکل غوره کړی دی.**

**د ب، م د لسمې پېړۍ په سر کې نامتو انګلیس فیلسوف (بیکن) د فلسفې د تعریف او مقصد خوا ته د اشارې په باب کې وویل: ((موږ د خپلې پوهې په اندازه د عمل قدرت لرو، یعنې علم یې پر طبیعت باندې د قدرت په حیث وګڼلو او هدف یې د طبیعت تسخیر و. د بیکن د وینا خلاصه دا ده چې (علم قدرت دی.)**

**مارکس وایي: ((دا چې د یو افاقي واقعیت تصویر زموږ په مغزو کې انعکاس کوي د تیوري خبره نه ده، بلکې کاملاً عملي جنبه لري)). جان دیوي وایي: ((پوهنه باید د عمل له پاره یوه اله شي.)) دا د علم او ساینس په باب نظریات وو. راغلو فلسفي ته: ساینس غیر له فلسفي نه یوه شتمنه مجموعه ده چې وحدت نه لري. یا په بل عبارت: یو جسم دی چې روح نه لري. اما فلسفه غیر له ساینسه دغسې یو وحدت دی چې اجزا یې معلوم نه دي او داسې یو روح دی چې جسم نه لري. ځکه چې د ساینس هر شق د طبیعت جلا جلا برخو سره په ازاد ډول تعلق لري. د عمل د ساحې وېشل په ساینس کې یوه میتودولوژیکه اړتیا ده. نو بناء پر دې په کار دي چې د ساینس بېلې بېلې او ځانته ځانګې په یوه واحده (ایډیا) سره یو کړي. فلسفه زیار باسي چې د پوهې حقیقت او د پېژندنې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړ شیانو قیمت تعین کړي، نو په دغه لحاظ د فلسفې ډگر بې له دې نه چې د ساینس مینځه وي، هم ډېر وسعت مومي. ټول طبیعي علوم چې په خپلو تحقیقاتو کې ډول ډول نتیجې لاس ته راوړي. مگر د ساینس کومه داسې ځانگه نه شته چې خپله د حقیقت پر مفهوم وغږیږي، دا کار د فلسفې دی. ساینس وایي کوم شیان حقایق دي، لیکن فلسفه وایي حقیقت څه شی دی؟ ساینس کوښښ کوي چې پر طبیعي قوانینو پوه شي، مگر فلسفه څېړنه کوي چې څه رنگه یو متفکر شخص د قواعدو کشفولو ته رسیږي.**

**نن د هر وخت نه زیات د ساینس اخرني سوالونه فلسفې ته ځان اړ بولي. البرټ انشټاین لیکي: د ساینس پوهه عجیب شی دی، خو د لارښوونې قدرت یې ډېر لږ دی. دی وایي: ((فلسفه سرېېره پر دې چې د ساینسي مفاهیمو تدقیق کوي. دا هم کولی شي چې د انساني ژوند مختلفې خواوې، لکه مستظرفه صنایع، ادبیات، اقتصادیات، اخلاقیات، قانون، مذهب، ټولنه، تصوف، ژبه او تاریخ وڅېړي.))**

**تر دې ما د یو علمي بحث څه برخه راواخیسته، له دې څخه معلومیږي، چې ساینس انسان له فکر او تدبر څخه نه دی مستغني کړی. ساینس انسان ته ذرایع او وسایل په لاس ورکوي، مگر ذرایع په یواځېتوب سره سعادت نه شي تامینولای. د تفکر خاوندان پوهیږي چې نن سبا انسان تجسس او کومې سمې لارې پیدا کولو له پاره چې امن، ډاډ او ارامش ته ورغلی وي، له پخوا نه ډېر اړ او محتاج دی. که څوک د یو ملت له پاره په بې الایشۍ سره د نجات لاره لټوي، دا هم د انسان له پاره خدمت دی. علاوتاً فن او ادب ساینس نه دی، خو حیات او ژوند ته زیاته گټه رسوي. وگورئ دنیا هنرمندانو ته څومره اړتیا حس کوي. څومره تقدیر یې کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فن او ادب د زنده گۍ تصویر دی. شاعر او ادیب جمال او کمال لټوي او دا په خپله یو حقیقت دی او د حقیقت تصویر، مگر ښکلی ظریف او قشنگ. اوس پرېږ پوه شوئ چې نبوغ ته ترڅو پورې چې دنیا ودانه وي او انساني حیات وجود ولري اړتیا شته او خورا ډېرې ارتې زمینې ورته په مخ کې پرانیستې پرتې دي چې دی په کې ظهور، بروز او پېشرفت وکړي. بله دا چې د نبوغ له پاره ډگر د انسان زنده گي ده. د نابغه له خورا بارزو او غټو نښو څخه تېز ذکاوت، لوی عقل، توده مینه، ډینامیک او فعال طبیعت، ځان هېروونکی او د خلکو د الامو او مصایبو له پاره لار لټوونکی مزاج او د فطرت د اسرارو او حقایقو د انکشاف عشق دی، نو په دې حساب چې هر چېرته او په هر وخت کې او له هرې خوا انسان په عذاب وي، خدای پاک څوک پیدا کوي چې هغه څه داسې لارې راوباسي چې د خلکو مشکلات اسان شي او کرغېړن حالات په نوو خوشگوارو اوضاعو بدل شي.

په موجوده دنیا کې عبدالغفار خان، گاندي، نهرو، ابو الکلام، اقبال، ټاگور، ماووتسي تونگ، چوین لای، خروشچف، سردار محمد داود، برنارډشو، جمال ناصر، ډاکټر سوکارنو، هوچیمن، شکری القوتلی او داسې نورو کوښښ کاوه او وې یې چې محروم ملتونه د ازادۍ نعمت حاصل کاندي، ناکام قومونه کامیاب شي او بدبخت انسانان د ښې ورځې مخ وگوري. له استعمار سره مجادله او د محرومو انسانانو د صلاح او بهبود له پاره د زورورانو سره پنجه ورکول د لویو خلکو کار دی. که دغسې جرأت او کارنامو ته چې چا کړی دی او څوک یې په لاره کې روان ښکاري نبوغ او د نبوغ آثار ونه وایو، نو څه نوم ورته اخیستی شو؟ حال دا چې دا کارونه، نه فن حسابېږي او نه ساینس چې ځینو خلکو ورپورې نبوغ منحصر او تړلی بللی دی. البته یوه فلسفه خو ده، مگر هغه فلسفه هم نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ساینس په اطرافو او محصولاتو کې وي. اقبال، ټاګور، ګاندي، نهرو، جمال عبدالناصر، ډاکټر سوکارنو، د یوې نوې حیاتي لارې کشف کړی دی. د چا نظریات ډېر لوړ او عالي دي او د چا په یوه اندازه مهم دي، نو معلومه شوه چې نبوغ یواځې په فن، ساینس او اختراعاتو پورې اړه نه لري، بلکې د نبوغ د ظهور او تکامل له پاره ډېر فلسفي میدانونه او ډګرونه شته او وي به. ښه نو فلسفې څنګه افلاس وکړ؟ او د نبوغ دروازه څنګه علماً او عملاً وتړل شوه؟)) (۱۵: ۲۸-۳۳)

زموږ په ټولنه او په ټوله کې ختیزه ټولنه کې دا یوه خبره عامه ده چې عوام کله کله یوه (نابغه) ته (لېونی) وایي او کله کله بیا پر یوه لېوني د نابغه ګومان کوي، د دې لپاره چې دا موضوع عوامو او خواصو ته ښه څرګنده شي، نو استاد خادم د دې دواړو اصطلاحاتو په باب یو تحلیلي بحث کړی او د (مجنون او نبوغ تر منځ فرق) یې تشریح کړی دی. هغه وایي، که لږ دقت وشي، نو د نابغه او لېوني تر منځ توپیر اسانه کېږي، دی وایي د نابغه کارونه اعتدایي او ارتقایي وي او په فکر او کردار کې یې همغږي او انتظام موجود وي، مغرض نه وي او د خلکو د طبعې مطابق حرکت نه کوي، د عقل له جادې منحرف شوی نه وي او په ځان غوښتنه کې غرق نه وي، خو د مجانینو په اعمالو کې دا انتظام نه لیدل کېږي، ژوروالی او لرلید نه لري او که یې لري هم نو له خپلو رزیلو ارزوګانو سره یې لري، دده سره د خلکو توده مینه موجوده نه وي. هغه په دې اړه خپله لیکنه کې وایي:

((مجنون او لېونی یوازې هغه ته نه وایي چې خپل کالي څیرې کوي او خلک په لوټو او ګټو ولي. بلکې جنون د دماغ خرابي ده، د عقل عدم توازن دی. د سنجش او دوربینۍ فقدان دی. د انساني اخلاقو له مستوي نه چې هر څوک په هره خوا کې ولوېږي، د هغه عقل سلیم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼل کېږي، نو ځکه جنون په ډېرو قسمونو وېشل شوی دی. د مال او دولت لېونی، د عیش او استلذاذ لېونی، د اقتدار او جاه طلبۍ لېونی، د غرور او خودخواهۍ لېونی، د اغراضو لېونی او داسې نور. البته د عشق او مینې لېونی، د علم د فضیلت او حق لېونی هم خلک وایي، خو رښتیا دا ده چې دا جنون ذوفنون دی او کاشکې چې په هر ملت کې د اعلی مینې او عالي محبت لېونیان ډېر پیدا شي، نو هر کله چې انسان د ډېرو متضادو غرایزو او خواهشونو په منځ کې راګیر دی وسط پیدا کول یې خورا مشکل دی، نو په هره خوا چې ډېر میلان وکړي د هماغه شي لېونی بلل کېږي.

البته د علم، فضیلت، عدالت، د نوعې، قوم او انسانیت د محبت په خوا کې زیات میلان هم وشي، افراط نه بلل کېږي. بلکې حسن او خدمت یې بولي، نو هغه ټول فعالیتونه او بریالیتوبونه چې د انساني سطحې د سمې سویې له معیار نه د ټیټ کوم خواهش په اثر کې حاصل شي، نبوغ نه شي ثابتولای، ډاروین ویلي دي: ((انسان چې په خپل ارتقایي سیر کې د رحم او عاطفې کوم معیار ته رسېدلی دی، د ده مقام یې خورا جګ بیولی دی او په دغه څېز دی، د انسانیت د لقب ګڼلو مستحق ګرځېدلی دی)). نو هغه ټول لوی کارونه چې بې د خدمت او نوع پرورۍ او د انسانیت له اعتلا او ارتقاء نه به غیر د بل کوم هدف او مرام له پاره اجراء شي، هغه د نبوغ نښې نه دي، یعنې ټول تخریبي او شخصی کارونه چې سم عقل یې تثبیت ونه کړي، هغه د نبوغ له دایرې وتلي دي. البته نابغه هم له عامې سویې او مفکورې څخه وتلي کارونه او فکرونه کوي، ځکه نو خلک ورته حیرانېږي او کله ورته په غصه کېږي هم. دغه شی دی چې د نابغه او لېوني په منځ کې عادي خلکو ته اشتباه پېښېږي او همدغه خبره ده چې په ډېرو لویو کسانو باندې ځینو خلکو د لېونو ګومانونه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر په لږ دقت سره نابغه او عبقري له دغه تهمته خلاصېږي. ځکه چې د ده کارونه اعتلایي او ارتقایي وي او د ده په فکر او کردار کې هماهنګي او انتظام وي. دی هېڅکله خود غرض او دنی الطبع او د خلکو بدخواه نه وي. په مقابل کې د عقل له جادې منحرف شوي کسان په اغراضو او خودخواهۍ کې غرق وي.

دوی په دني خواهشاتو پسې پړی شکوي، دوی وایي یو څه او کوي بل څه. د مجانینو په اعمالو کې انتظام نه لیدل کېږي. عمق او دوربیني په کې نه وي، مینه او محبت نه لري. که لري یې فقط د ځان او د خپلو رذیلو ارزوګانو سره یې لري. په دوی کې د وګړو او جامعې توده مینه نه حس کېږي. که څه هم د عقلي نقص او عدم تدبر له کبله کله داسې اقدامات کوي چې هغه د هر چا د کولو نه وي او سړی ګومان کوي چې دا لطونی سړی دی، خو په هر صورت په نبوغ کې د عقل او انسانیت تکامل لیدل کېږي. هو! دا خبرې موږ د عام او لوی اجتماعي نابغه په حق کې کوو. ممکنه ده چې فني نابغه غیر له خپل فن څخه په نورو خواوو کې ډېر نقصانونه ولري.)) (۱۵: ۳۸-۴۰)

استاد خادم د (حیات او ممات) په نامه په یوه لیکنه کې یو ژور فلسفي مفهوم رانغاړي او د ژوند او مرګ دا دوه متضاد مفهومونه په ښه ډول تشریح کوي. دی وایي زموږ د ماښام او سهار خوب او بیداري د حیات او ممات اسرار امېز حقیقت نمونه ده. دی په دې لیکنه کې د ژوند فلسفه څېړي. فلسفه ربښتیا هم د حقیقت پېژندنې په لټه کې ده، خو استاد وایي چې هر څومره پلټنه کوې، سړی پر دې حقیقت نه پوهېږي چې موږ له کومه راغلي یو او کومې خوا ته ځو. دی حیات او ممات دواړه یوه معما ګڼي چې څوک یې پر حل نه پوهېږي. لیکوال د وروستۍ نتیجې په توګه وایي ژوند او مرګ دواړه داسې معماوې دي چې تر پایه زموږ سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږي نه خلاصېږي، خو څومره چې موږ ته ژوند مجال راکوي، باید له هغو څخه ډېره ګټه پورته کړو، د انسانیت دنده اجرا کړو ا له ځانه کامل انسان جوړ کړو، هغه وایي:

((د بشر یو میلیارد او پینځه سوه میلیونه نفوس پر دې خاورینه کره ژوند کوي او هره ورځ یو بل ته ګوري او یو د بل په احوالو کې دقیق کېږي او لږ لږ یو د بل سره کومک کوي! څه موده لا تېره نه وي چې ټول د حیات د صحنې څخه د باندې وځي او خپل ځای راتلونکو خلکو ته پرېږدي!

د بشر د دې بې شماره افرادو او د دې ملیونونو انسانانو څخه چې سپین، تور او ژېړ نژادونه لري او نن د بشر جامعه تشکیلوي تر بلې پېړې پورې یو زر هم په دې خاورینه ځمکه نه پاتې کېږي.

په هره لحظه کې په زرګونو اشخاص زموږ د هم جنسانو له ډلې څخه له دې نړۍ ځنې سترګې پټوي او د هغوی پر ځای په زرګونو نور اشخاص د وجود په میدان کې پښه ږدي!

په همدې ګړۍ کې چې تاسو دا کرښې لولئ، څومره خلک د ژوند اخرینۍ سلګۍ وهي او ساه یې له قالبه وځي او څومره کوچنیان زېږي او لومړی وار په دې نړۍ کې د هوا تنفس کوي. د نوو زېږدېدونکو کوچنیانو فریادونه او د محتضرینو او غمجنو زګېروي پرله پسې اسمان خوا ته متصاعد کېږي.

ړومبی ځل چې موږ له مرګه سره اشنا کېږو، په رنځ او اندوه اخته کېږو او په تحیر او ابهاماتو کې ډوبېږو هغه کوچنی چې د تور تابوت په اړخ کې درېږي او په تعجب ورته ګوري او د خپلو خپلوانو څخه سوالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، نو که دی خپلو سوالونو ته جواب نه شي ویلای ډېر پوه او دانا سړي هم نه شي کولی چې هغه قانع کاندي او تسلي یې راولي!

موږ سره د دې علومو او پیشرفتونو او لوړ فرهنګ تر اوسه پورې یوه کوچنۍ اطلاع د مرګ او حیات له اسرارو څخه نه لرو.

موږ نه پوهېږو چې له کومه ځایه راغلي یو او کوم ځای ته ځو؟ او زموږ د راتلو اصل علت او زموږ د افرینش راز څه و.

مذهبي عقیده او دیانت کولی شي چې افکار او عقل د شک او تردید له کوځې څخه خارج کاندي او د دغه بې ځوابه سوالونو په مقابل کې تر یو حده پورې ځواب ووایي. بشر تر اوسه پورې د خپل ټول قوت او علومو د نوو لیارو په واسطه د دې معما دحل کولو کوښښ کړی دی او بری یې نه دی موندلی.

زموږ د ماښام او سهار خوب او بیداري د حیات او ممات د اسرار امیز حقیقت نمونه ده. شکسپیر د خپل رسا فکر او قوي روح له لیارې څخه د ژوند په اسرارو کې یو خوږ او ژور بحث کړی دی: هغه وخت چې (مارګینت) ته وویل شول چې ستا ښځه مړه شوه، دی د خپل ژوند نه مایوس شو او خپل ټول کوششونه او مساعې یې خوشې او بېهوده وبلل او په ډېره ناکامۍ یې وویل: ((په دې ورځې پسې بله ورځ! او د هغې پسې هم نورې ورځې دي؛ تر هغه ورځې پورې چې دا محدود ژوندون خاتمه ومومي او زموږ د مقدورو ورځو حساب پای ته ورسېږي.))

دا دی د ژوند تعبیر د هغو اشخاصو په نظر چې له خپله حیاته څخه مایوس او ناراض دی. زما یو دوست چې ژوندون ته په همدې سترګه ګوري، په دې اواخرو کې یې یو مکتوب رالېږلی دی او د هغه په ضمن کې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((تاسې د ژوندانه او د هغه د روزانه وظیفې په باب ډېر څه لیکلي او پرله پسې خلکو ته نصیحت او هدایت کوئ چې د ژوندانه رم او رواج او دود او دستور زده کړئ، ولې تر اوسه پورې مو یوه کلمه هم نه ده لیکلې چې اصلاً ژوند څه شی دی؟ خلک پوه کړئ چې د دوی وجودونه لکه هغه حشرات دي چې د مسافرو په شاوخوا څو ثانیې پرواز کوي او بیا ژر ورک کېږي. هغوی متوجه کړئ چې فقط یوه لحظه ژوند لرئ او وروسته د نېستۍ په دریاب کې الی الابد معدوم کېږئ ولې خلک خوشې او بېهوده په رنځ او زحمت اخته کوئ او د دوه ورځو ژوند لپاره دومره پند او نصیحت اوروئ. د دېنه وروسته باید چې د خپل لیک طرز ته تغییر ورکړئ او د نصیحت کولو پر ځای ځینې مقالې د ژوند د بې فایده والي او پوچ توب په خصوص کې ولیکئ.))

دا زما دوست چې د ده د مفصل لیک څخه مو په پورتنیو کرښو کې څو مختصرې جملې ذکر کړې، ډېر فهیم او هوښیار سړی دی. ولې د ده د زلمیتوب دوره پای ته رسېدلې ده.

او بې له دېنه چې په خپله متوجه شي د ده په عاقله او ادراکه قوه کې لږ اختلال راغلی دی، ځکه که د ده د وینا له قراره د فکر له تربیته څخه غفلت وکړو، موږ ته لکه د ورانو شوو شیدو حالت راپېښېږي او په نتیجه کې به خلک تنبل او مهمل تربیه شي او همدا سبب دی چې ټول هغه اشخاص چې ژوندون ته د بدبینۍ په سترګه ګوري احوال یې په دغه شان دی.

موږ ټول اعتراف کوو چې د حیات او ممات د معما له تفسیره عاجز یو او هېڅ راز اطلاع نه لرو چې موږ دې دنیا ته څنګه راغلي یو او څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو؟ لېکن په عین حال کې نور اطلاعات او مطالب زموږپه فکر کې راځي او لاس په کې لرو.

موږ پوهېږو چې زموږ په وجود کې تمایلات او احساسات شته او په ودیعت کېښودل شوي دي چې دهغو په هدایت او رهنمایي مو ژوندون اداره کېږي.

پوهېږو چې ممکن دي چې په خپل وجود یو د بل استفادې او نورو موجوداتو ته د فایدې رسولو لپاره چې زموږ نه وروسته دې نړۍ ته راځي اماده کړو.

زموږ ژوند لنډ دی او حیات زموږ په نظر کې یوه معما او ممات بله معما ده. ډېر ښه موږ منو، ولې که ژوند یو مهم او نافع شی وي، نو لازمه ده چې انتفاع او فایده ورڅخه واخلو او که یوه لنډه او فراري شبحه وي، نو بیا هم د ده د څو دقیقې وجود څخه کامله استفاده وکړو. د حیات ظهور نه مخکې او وروسته هر څه چې وي، مګر دا مسلم او ناقابل انکار امر دی چې هر څه مو له لاسه پوره وي د هغه په باره کې استحضاریت حاصل کړو چې دهرې اشتباه او خطا څخه مصؤن پاته شو.

نور هم ځینې داسې مشکلات شته دي چې زموږ د هر یوه عقل د هغوی په ایضاح او حل کولو قادر نه دی. احمق سړی د لاینحلو او خوشې مسئلو په مقابل کې په ځمکه زنګنونه وهي او خپل عمر د هغو په شاوخوا کې صرف کوي او عاقبت هېڅ ځای ته نه رسېږي. لېکن یوه او هوښیار سړی هر کله چې په داسې مشکلاتو اخته شي او حل یې د خپل توانه څخه لرې ووینې، د هغه څخه صرف نظر کوي او خپلو مفیدو کارونو پسې ګرځي چې انجام یې کړي. مثلاً یو لوی منصبدار د دښمن په خاوره کې په جګړو مصروف دی او د ده په لیاره کې یوه ټینګه مستحکمه کلا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګ ځای ولاړه ده چې نه يې دحملې او نه يې د محاصرې په اثر فتح کولای شي.

نو دغه سړی که تجربه کار او ازموده منصبدار وي، نو د دغه کلا نه صرف نظر کوي او هېڅکله خپل وخت د داسې کلا په نیولو خوشې او بېهوده نه صرفوي، بلکې وړاندې ځي او ښايي چې يوه ضعيفه او بې دفاع کلا پيدا او هغه تسخير کاندي او په داسې نظريو او اقداماتو کې ممکن دي چې د دښمن پر ټوله خاوره يې لاس بر شي او ټول ځايونه يې فتح کړي او هېڅکله هغې ټينګې کلا ته اهميت ورنه کاندي.

پوه او خردمند سړی هم دژوند په عرصه کې لکه هغه تجربه کار منصبدار دی چې هر کله ورښکاره شي چې يوه موضوع د هغه د حوصلې او ادراک څخه خارجه ده. د هغې د مقابلې څخه ډډه کوي او نورو مفيدو کارونو پسې ګرځي.که ته نه پوهېږې چې ژوند څه دی او مرګ څه دی بيا هم د سعې په اثر کولای شې چې ددې لاينحلې موضوع له پاره يو ځواب پيدا کړې اويوې ښې نتيجې ته ورسېږې.

او خپل ژوند د ځان او د نورو له پاره مفيد او نافع وګرځوې. نو ته کولی شې چې د خپل ژوند په اخرو دقيقو کې په ډېره نام نېکۍ او ابرومندۍ سترګې پټې کړې، په اخرينه لحظه کې چې د رحلت خبرې کوې، نو هغه وخت ممکن دي د ځان سره ووايې:

((زه نه پوهېدم چې له کومه ځايه څخه راغلم او نه پوهېږم چې کوم ځای ته ځم، ولې د دې نړۍ اقامت په وخت کې چې هر څومره قوه ما درلوده کوښښ مې وکړ چې يو کامل انسان شم او د خپل انسانيت وظيفه انجام کړم.)) نو هغه وخت ځان ته سعادتمند سړی ويلی شې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ممکنه ده چې د دوی دوو لويو او لاينحلو معماوو له فکره چې مرگ او ژوند دی هم بې نیاز شي!)) (۲۴: ۶۹۵- ۶۹۶)**

**( د ارتقا حس) کې هم د ژوندانه د طبیعي ودې او انساني غریزې راز تشريح کوي، دی ترقي د انساني نفس يوه اړتیا گڼي او سعادت د ارتقا شعور، دا ارتقا که په هر څه کې وي، په مال، په صحت، په رتبه او بل هر څه کې او کله چې موږ پر ځای ودرېدو او نوره ارتقا نه کوو، نو دغه زموږ د شقاوت (بدمرغۍ) لومړۍ مرحله ده. استاد وايي، انسان فکر کوي، تر هغه دی مسعود دی چې د ارتقا په لار روان وي او دغه طبیعت په فرد او جماعت کې فرق نه کوي. استاد په دې لیکنه کې د انسان نفسي خواهشات او نورې ډول ډول غوښتنې تشريح کوي، خو د خبرو او محتوا اصلي محور د ارتقا پر حس راڅرخي. هغه وايي:**

**((د انسان د نفس له پاره مهم او خورا ضروري شی (ترقي) ده یعنې دا چې له یوه حاله بل ته د ښه نه خورا ښه ته او له جگ نه خوراجگ وخېژي، دی دغه شی غواړي که څه هم په دې کې ځان بایلي.**

**نو انسان یو شریف مخلوق دی چې باالطبع ترقي غوښتونکی او د لوړتیا طالب دی، په دې خبره باندې د ده تېرو زمانو تطورات واضح دلالت کوي، بلکې د انسان د عقل او جنون، احلامو او خواطرو ټولو څخه دا معلومېږي چې دی دایماً اعتلایي او ترقي غواړي، نو د تطور نظریه په حقیقت کې ((د نشو او ارتقايي)) نظریه ده. د انسان تېر تاریخ راښیي چې انسان په خپل تطور او حرکت کې ترقي کړې ده او له یوه حاله بل حال ته پورته شوی دی، نو دا چې د انسان پخوانی تاریخ ترې ډک دی، هېڅ امکان نه لري چې دا به د ده دنفس سره اخښلی شوی شی نه وي او د غریزې په حیث به په ده باندې په اینده کې حکومت و نه کړي، لکه د ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پلرونو يې چې کړی دی. پخوانو خلکو ډېر ځله د سعادت او خوشبختۍ څخه بحث کړی دی.

لیکن نن موږ نږدې ده چې په دې خبره اتفاق وکړو چې سعادت فقط د ارتقا شعور دی دغه ارتقا په صحت وي که په مال او که په رتبې او علم، نو تر څو چې موږ پورته ځو او (ارتقا) کوو، نو موږ ((مسعود)) یو او دا له دې کبله چې ((د ارتقا حس)) زموږ په طبیعت او خټه کې ایښودل شوی دی، نو کوم وخت چې موږ د احس کړو چې موږ په ځای ودرېدو او ((ارتقا) نه کوو، نو دغه زموږ د (شقاوت) او (بدبختۍ) ړومبۍ مرحله ده.

ممکنه ده چې دغه غریزه موږ له هغه حالت څخه په ښه صورت وپېژنو چې کوم وخت موږ له ځانه جدیت کم کړو او خوږو خواطرو ته ځان تسلیم کړو، لکه دا چې موږ اعتقاد وکړو چې موږ لوړو منازلو ته ختلي یو، امر و نهې زموږ په لاسونو کې ده او د حل او عقد خاوندان شوي یو، نو کوم وخت چې موږ دا تصورات کوو، نو هم موږ د سعادت احساس کوو او دا ځکه چې دغه خواطرات او تصورات د ارتقا هغه شهوت چې زموږ په نفسونو کې پروت دی مړ کوي، په دغه شان سره هر سړی د ارتقا په طلب کې دی، څوک يې په قیمار کې لټوي، هغه گومان کوي چې ډېرې روپۍ به وگټم او د خلکو بادار به شم. مامور کوشش کوي چې لوړې رتبې ته به وخېږم او معزز به شم، طالب العلم وايي چې علم زده کړم، نو دولت او جاه دواړه به راپسې منډې وهي، بیا په همدغو خواطرو کې وسعت او ارتقا پیدا کېږي.

ځینې کسان داسې دي چې لېونیان شي، نو گومان کوي چې بادشاه او بادشاهي د ده حق دی، نو د بادشاهانو په لهجه امر او نهې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، نو دی گويا په خپل جنون کې هم د ارتقا خوا ته ساعي دی او غواړي چې د خپل ذليل حالت نه هغه حال ته تحول وکاندي چې ده يې مخکې تخيل کاوه تر څو چې د ده د ذهن يو مرض شو.

راشئ! هغه سړی وگورئ چې انتحار کوي، چې دی څنگه د ځان په قتل راضي کېږي؟ ځکه چې دی گوري چې محيط د ده د ارتقا غوښتلو د رغبت سره توافق نه لري، نو که انسان طبعاً منحط او ټيت وای ارتقا او صعود يې نه غوښتای، نو هېڅکله به په مرگ نه وای راضي شوای. هو کله انتحار کوونکی او مجنون خطا کېږي او د ارتقا معنی نه پېژني، لېکن اعتبار دغه غريزه لري، هر څه چې معنی ده هغه خو سړی له محيط څخه اخلي.

د ژوندانه زړه دغه ارتقا ده او زموږ د نفسونو په اعماقو کې دغه ارمان پروت دی، تر دې چې که موږ ښکلی شی خوښوو او شوق لرو چې وايې خلو، نو گويا موږ په دغه ارتقايي حس سره کوښښ کوو چې دغه جميل ذات پورې ځان وصل کړو، لېکن په دې کې هم کله  کله سړی غلطېږي.

نو انسان طبعاً ((ارتقا)) غوښتونکی دی او صالتاً ترقي او خير غواړي، تر هغه دی مسعود دی، تر څو چې د ارتقا په لار روان وي او دغه طبيعت په فرد او جماعت کې فرق نه کوي او همدغه مهم شی دی چې د ده هموم د جنون، بلکې کله دانتحار سبب کېږي، نو د علم النفس د تحقيقاتو له رويه ((هغه جامعه مسعوده گڼل کېږي، چې د ارتقا لاره يې ببرته وي)).

(۲۴: ۶۸۸-۶۸۹)

(ژوند څه شی دی؟) ليکنه هم د ژوند مانا او مفهوم تشريح کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې دمخه مو یادونه کړه چې د ژوند او مرګ څېړنه د فلسفې یوه اساسي موضوع ده، فلسفه په حقیقت کې د ژوند د مانا پېژندنه ده، په دې پېژندنه کې له فرد (ځان) څخه نیولې بیا تر لوی او اصلي خالق پورې ټول مسیر شامل دی. (ژوند څه شی دی) لیکنه کې خادم صیب وایي که موږ هر څومره ژوند ته متوجه شو او د ژوندانه بېلابېل پړاوونه وپېژنو، نو موږ ته به ژوند اسان شي، هدفمن ژوند به ترسره کړو او زموږ د ژوند ونه به مېوه ونیسي. دی وایي چې د ازل باغوان د ژوندانه زړي بې هدفه او بې مرامه نه دي کرلي. دی غواړي چې د حیات بڼ دې تازه، د ژوندانه صحنه دې ښکلې او د زندګۍ هنګامه دې توده وي. جمال او کمال د حیات غایه ده. خادم صیب په دې لیکنه کې وایي:

((که موږ ړومبی له حیات او ژوندانه صحیح معلومات ولرو او د حیات په معنی پوه شو او هدف یې وپېژنو، نو موږ به مقصود خوا ته سم روان اوسو او هغه کوږوالی او اعوجاج چې یا منزل اوږدوي او یا مطلوب ته د رسېدو مانع ګرځي کم به مخې ته راشي او په ژوندانه کې به زموږ د سیر او حرکت فعالیت کامیاب وي او زموږ د ژوندانه ونه به مېوه داره اوسي.

زموږ خلقت او افرینش عبث چټي او بې مقصده نه دی، د ازل باغوان د ژوندانه زړي او تخم بې ارادې نه دي کرلي او زموږ د حیات اراده یې بې له مرامه نه ده کړې، دی غواړي چې د حیات بڼ دې تازه او د ژوندانه صحنه دې ښکلې او د زندګۍ هنګامه دې توده وي، جمال او کمال د حیات غایه ده، دنیا په همدغه طرف روانه ده او دغې خوا ته درومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کایناتو د ډېرو حقایقو په شان د ژوندانه مسئله چې له خورا مهمو مسایلو څخه ده، تر اوسه غامضه او پټه پاته ده، د ژوندانه اسراسر چا نه دي کشف کړي، لېکن بیا هم نه ویل کېږي چې موږ د همدغه مسایلو په باب چې زموږ د تعمق لاندې دي، معلومات نه لرو، یا زموږ دغه معلومات بې نتیجې دي.**

**موږ ډېر شیونه پېژنو او د هغو له پېژندګلوۍ او معرفت څخه مو فایده اخیستې ده، لېکن زموږ اکثره علم د اشیاوو او د هغو د خواصو او ممیزانو له مخه دی.**

**کوم وخت چې موږ د ژوندانه او ژوندو له موضوع څخه بحث کوو، ګورو چې ټول ژوندي اجسام له مړو اجسامو څخه په خپلو دغو خواصو متمایز دي چې ژوندي اجسام حرکت لري، نمو کوي او غذا خوري، د نبات او حیوان حیات د ارادې په لحاظ یو تر بله جدا کېږي.**

**حیوان اراده لري او نبات يې نه لري، مګر د ژوندانه مبحث چې کوم وخت انسان ته رسېږي، نورې معناګانې پیدا کوي او مخصوصاً هغه علاقه مندي چې ادب او اجتماعیات يې له حیات سره لري، پرته له هغو شیانو څخه ده چې ساینس او طبیعي علوم ورڅخه بحث کوي.**

**که څه هم د حیات ارتقاء د انسان په درجه درېږي، خو ترې پورته هم د هغه د کمال ډېرې درجې موجودې دي. ادب په دې چې ژوند تنفس، تغذیه، اراده او حرکت دی، قناعت نه کوي، دا وایي حیات قوت او اقتدار دی.**

**زنده ګي زور او اختیار دی، د حیات په تعریف کې د ادب نصب‌العین له ساینس او طبیعیاتو څخه جدا دی، ځکه د ادب موضوع چې حیات دی، په دې لحاظ دی چې حیات د احساس د خاصې او د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتياج د مميزې له کبله چې لري يې، د خپل خواو شا سره په تماس کې دی او د کمال په طلب کې ادب ژوندون د تاثير او اثر، فعل او انفعال او د خير و شر، جمال او کمال د مدارجو له رويه مطالعه کوي، هغه جرثومه چې له يوې خليې يا سيل څخه متشکله ده، هغه هم قوت او اقتدار لري، ځکه نو زموږ د ژوندانه معرفت له دغه ځايه شروع کېږي او له نبات او حيوان څخه تېرېږي، انسان ته رسي.

دلته د هغو مدارجو په لحاظ چې قطعه کړي يې وي، د حيات خاصه چې قوت او اقتدار، يا په بل عبارت زور او اختيار دی، خو پوړيو ته ختلی اوسي، تر دې پورته هم هر څومره چې قوه او اقتدار زور او اختيار زياتېږي او کاملېږي، حيات او زندگي هم هماغومره د ارتقاء او اعتلاء مدارج طی کوي، تر څو چې حيات د خپل کمال اعلی درجې ته ورسېږي چې هلته پرې زوال او ضعف تسلط نه شي کولای.

انسان د ضعف او قوت، اقتدار او بې اختياری، احتياج او استغنا، انحطاط او کمال د مدارجو په مينځ کې ولاړ دی، حيات د دغه پل او مرصاد او د دغه معبر او ممر څخه عبور کوي، کوم وخت چې د ارتقا مدارج او د تنزل لارې لنډې وي، دا خبره ده چې انسان له سجينه تر اعلی عليينه مکان او قرارگاه لري، دی کولی شي او اختيار لري چې په يو ناپاياوه درياب او لايتناهي فضا کې د خپلې ارتقاء او تکامل لپاره هرې خوا ته چې وغواړي لامبو ووهي او والوځي، يا ټيتوالی او د نايت په ځان قبول کړي او د حيواناتو نه لاندې درجه ځان ته ومني.

د حيات دغه معنی له معاصرو ادباوو څخه يوه په يوه وجيزه کې ځای کړې ده چې ذکر يې بې مورده نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیـــــات قـــــوه ده او اقتـــــدار دی
زنـــده ګـــي زور او واکـــې اختیـــار دی
چـــې دا دوه څیـــزه پـــه کـــې کامـــل دي
هغـــــه واجـــب دی پروردګـــار دی.

انسان یعنې دغه یو موټی خاورې چې له یوې خوا کمزوری او له بلې خوا قوي دی، یوه ډده یې ظلماني او بله یې نوراني ده، د سر د پاسه یې د عشق هما سیوری غورځولی او د پښو لاندې یې د عقل ساحر زرین فرش غوړولی.

د علم په وزر په هوا کې الوځي او د فلسفې په تعمق د دریابونو تل ویني، دین دی تجرد او روحانیت یې مجرداتو ته راکاږي، ښي لاس یې (حسب خیر) او کین یې (حسب نفس) کلک نیولی دی.

هغه چې رحمان غواړي دی دې ښاغلی وي او شیطان غواړي چې مشغول یې کاندي، هر څومره چې قوي او مقتدر وي، په هماغه اندازه له حیات او ژوندانه څخه مستفید او فیضیابه دی.

د قوة مدارج او د اقتدار مراتب لا محدود دي، هغه زور او اقتدار چې انسان ته ورکړی شوی دی، په اندازه کې نه دی راغلی، هغه قوة او استعداد چې یوه فرد ته اعطا شوی دی، د هغې په ذریعه هم انسان له نورو مخلوقاتو لوړ دی، لېکن هغه وخت چې یو شخص خپل قوت له بل سره مجتمع کړي، هغه قوت یو په دوه کېږي او درې هغومره کېږي، کوم وخت چې درې کسه سره متحد شي او څلور هغومره کېږي، کوم وخت چې څلور کسه سره موافقت وکاندي او همدغه شان تر اخره پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې اجتماع اتحاد او موافقت معنی دا ده: لکه څرنګه چې فرد په جماعت کې موثر دی، دی باید اختیاراً تاثر او انفعال هم ومني، لکه څرنګه چې دی غواړي، د ده خبره دې واورېدل شي، دی دې هم د نورو خبرې واوري او څنګه چې دی استفاده کوي مفید دې هم واقع شي.**

**تر ټولو ړومبی نن چې افراد مجتمع کوي او جمعیت ازادوي، فعالیت او قوت ورکوي قانون او انتظام دی، قانون که د (حب خیر) د غریزې د تاثیر لاندې وضع او اجرا شي، نو د عمران او خوشحالۍ نتایج ورکوي، د دغه دوه شیونو فقدان یا سوء استعمال غم او خرابي راولي.**

**هغه غم چې عام او عالمګیر وي، هغه ضمیر  چې د خیر او ایثار تخم په کې شین کېږي، د سم معارف په ذریعه ایجاد کېږي، هغه معارف چې عام وي او د ملت درد پرې دوا شي، د ثروت او اقتصاد له ځمکې زرغونېږي.**

**لېکن د شجاعت او بېغرضۍ  په اوبو خړوبه کېږي، هو؛ که زنده ګي قوت او اقتدار وي او هغه چې ښه قوي او مقتدر وي، ښه ژوندی حسابېږي، نو د قوت او اقتدار اسباب باید وپلټو، شخصي قوت او اقتدار ددې وخت یو مفکر په څلورو شیونو منحصر ګڼلی دی او په لاندې طور یې په یوه وجیزه کې ځای کړی دی:**

زور او قوت دی په څلور څیزه
درته یې وایم زما غریزه
صحت دولت او علم و شهرت دی
ښه یې په یاد کړه اهل تمیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یقیناً صحت، علم، دولت او شهرت شخص ته قوت او اقتدار ببښي، لېکن شخصي قوة او اقتدار کوم وخت چې له بل سره ضم نه شي او د خیر لپاره نه وي ضعیف او ناڅیزه ګڼل کېږي.**

**هغه صحت چې کار ترې نه اخیستل کېږي، هغه علم چې د ګمراهو رهنما نه شي، هغه دولت چې د خیر په کارو کې استعمال نه شي وجود او عدم یې مساوي وي او که ضرر رسوي، نو عدم یې اولی دی.**

**هغه عقل او معرفت چې خدای انسان ته ببښلی دی، د هغه په برکت انسان کولی شي، خپل صحت، علم، دولت او شهرت ته ترقي ورکړي.**

**نوي عصر د دې هر یو لپاره سپینه لاره جوړه کړې ده، که انسان د فطرت د قوانینو په تقاضا تګ کوي، نه کمزوری کېږي او که کمزوری او ضعیف وي، قوه یې اعاده کېږي.**

**مکاتب، جراید او کتابخانې د علم لپاره عمده وسیلې دي، کار او د جمع و خرڅ توازن انسان مالدار کوي، ښه نیت او ښه عمل انسان ښه شهرت ته رسوي او که څوک دا شیونه د ناروااو لارو څخه طلبوي، نو پوه دې شي چې کوږ بار تر مزله نه رسېږي، لکه چې مخکې مو وویل، شخص باید خپل ځان د صحت، علم، دولت او شهرت په واسطه قوي کاندي او بیا دې دغه قوت د نورو افرادو له قوت سره ضم کاندي او اجتماعي قوة د فطرت په ذخایرو او محازونو لاس وهومي او ښه لوی قوة ترې تشکیل شي او دا چې دغه قوت د بشر په خیر او صلاح کې صرفوي، انسان ته وجداني حظ او باطني استراحت ببښي، چې دا عین سعادت او نېکبختي ده، زندګي همدغه شی لټوي او بس.)) (۲۴: ۷۱۳)**

**پر پورتنیو څو لیکنو سربېره چې موږ یې په تفصیل سره متن راوړو، استاد په فلسفي برخه کې نورې لیکنې هم لري چې د دې بحث په پیل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې مو له هغو څخه د ځینو عنوانونه یاد کړل، نه غواړم دلته یې بیا تکرار کړم، دا هره یوه لیکنه د ژوندانه د فلسفې یو اړخ تشریح کوي. په نظم کې هم ځینې فلسفي مفاهیم افاده شوي دي. (د عروج رمز) له دې ډول نظمونو څخه دی. دی په دې نظم کې د ارتقا یا عروج رمز ته اشاره کوي، دی وایي دا لاره له خطره او ابهامه ډکه ده، څومره چې په کې وړاندې ځې، کارونه یې سختېږي او زیاتېږي، خو زما زړه غوښتل چې همدا لاره وڅېړم، دا راته د یو طلسمي ښار په بڼه ښکاره شوه، ما غوښتل چې له دې ښار او بازاره څه واخلم، دلته تورتم و، خو ما د رڼا لپاره تلاش کاوه، خو هلته لرې یوه کارخونه وه چې واک او اختیار یې د بل چا په لاس کې و او هلته تیټ او پاس ځمکې او اسمانونه نه وو. ( د عروج رمز) نظم په لومړۍ برخه کې همدا محتوا رانغاړي:**

مبدله، له خطرو شوم
ورکه شوه راځنې لاره
که هر څو مې مخکې لاډېر وو
کار بې حده بې شماره
زړه مې ډېر په تلوسه وو
مګر نه کېدله چاره
ما قلم به کړه راپورته
شوم به ځیر په څو واره
لاړ به شوم طلسمي ښار ته
چې څه راوړم د بازاره
کوڅې بندې په هر خوا وې
په تورتم به شوم دوچاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما زاری قلم ته وکړي
ده قسم کاوه له کاره
ویل که څه لاره ده سپینه
زه یې نه وینم باداره
وې منفي هغه رڼا ده
چې راتله ماله، له ښاره
ما تلاش محزن د برق کړ
د خپل ځان د کار د پاره
ډېره لرې کارخانه وه
واک اختیار د بل په لاس و
نه دا ځمکه دا اسمان و
نه دا کوز وو نه دا پاس و.

د نظم په دویمه برخه کې د ژوند له مبهمو او کږلیچنو لارو څخه راوځي او په حیرانتیا سره شاوخوا ګوري، خپله اراده کاروي او شاوخوا د غرونو پر راختلي لمر یې سترګې لګي، د قدرت ننداره کوي، بل څه ته وخت نه پیدا کوي، د غوړېدلي سپرلي تازه هوا ته ګوري، د قدرت پنځول شوې ښکلا ته ګوري، پر دښتې یې نظر لګي، چې باغوان په کې څه کرلي دي. رنګارنګ ګلونو ته یې پام کېږي، داسې ډول ډول ګلونه چې ده ته یې لا نومونه هم نه ورځي. د ګلونو منځ کې یې سیسیو او زرکو ته پام کېږي چې ځغلي راځغلي او پر شنېلیو باندې خپل ښایسته ښایسته پلونه ږدي. په همدې ننداره کې کله یوه او کله بل بوټې ته کښني او د زرکو په شان په ملي نغمو پیل کوي، تر دې ځایه بحث ټول فلسفي رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لري، خو د وروستي بيت په وروستۍ مسره کې بيا خبره يو څه سياسي رنګ خپلوي:**

پــــه حيـــرت ســـره ولاړ شـــوم
غـــم مــــې وغورځـــاوه شـــاته
اراده پـــــه مخکـــــې دروم ــــم
ګـــورم وړانـــدې کلـــه خـــوا تـــه
نمـــر جـــګ شـــوی دی د غرونـــو
د اســـمان ښـــکلې فضـــا تـــه
د قـــــدرت پــــه تماشـــه يــم
وزګـــار نـــه يمـــه بـــل چـــا تـــه
غوړېــــــدلی پســــــرلی دی
تـــازه ګـــې ده ډېـــره زياتـــه
قـــدرت کـــړې ګلکـــاري ده
چـــې څـــو ګورمـــه بيـــديا تـــه
د فطـــــرت بـــــاغوان کرلــــې
دي ګلونـــه پـــه څـــو ذاتـــه
ســـپين و زېـــړ بانجـــاني ســـره دي
نـــوم يـــې نـــه راځـــي و مـــا تـــه
غوړســـکې غوړســـکې د ګلانـــو
ټيـــټ و پـــاس کېـــږي ســـبا تـــه
سيســـې زرکـــې پـــه کـــې ځغلـــې
کلـــه پورتـــه شـــي هـــوا تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــــل پــــــه فـــــــرش د شـــــــينيلو ږدم
د ګلونـــــــــو خـــــــوا وو شـــــــاته
کلـــــــه دې بـــــــوتې تـــــــه کېـــــنم
کلـــــــه هغـــــــې تـــــــه روان شـــــــم
پـــــــه نشـــــــاط لکـــــــه د زرکـــــــو
پـــــــه ملـــــــي نغمـــــــه ګويـــــــان شـــــــم.

د نظم په درېيمه او وروستۍ برخه کې د غره له لمنې څخه د غره سر ته خېژي او د نړۍ ننداره کوي، دی وايي هلته ګوري چې په اسمان کې وريځې نه شته، بارانونه تازه اورېدلي، هوا صافه او پاکه ده، ټول ملکونه شنه ښکاري، له يوه لوړ ځايه د اوبو شرشرې دي، نو په همدې لوړ ځای کې دی کېناست، لاندې د ښارونو ننداره کوي. شورماشور او غالمغال نه و، يو خدايي او فطري حسن خپور و، نو ځکه له ده څخه غمونو کډه وکړه، پر دې وخت طبيعت ورته لاره ورکړه، خيالونو ته لاړ او هغه ټول مشکلات دلته حل شول چې په زور رامنځته شوي وو، نو دلته دی پوهېږي چې په زور کلي نه کېږي، خو يوازې په قلم هم کار نه کېږي او د خير او برکت په لار کې پر مزاج او خيال باندې جبر هم نه کېږي، همدغه نکته که څه هم ډېره ساده ده، خو له ډېرو رازونو او د ارتقا له ډېرو رمزونو ډکه ده.

د لمـــــــن د غـــــــره نـــــــه خېـــــــږم
چـــــــې پـــــــاس وکمـــــــه ســـــــيلونه
پـــــــه اســـــــمان کـــــــې خـــــــړه نـــــــه شـــــــته
تـــــــازه شـــــــوي بارانونـــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــوا صـــــافه ده هـــــر خواتـــــه
راتـــــه ښـــــکاري شـــــنه ملکونـــــه
پورتـــــه جـــګ پـــــه یـــــو مقـــــام کـــــې
شـــــر شـــــرې کـــــړه اوازونـــــه
هلتـــــه کېنا ســـــتم بـــــې غمـــــه
لانـــــدې ګورمـــــه ښـــــارونه
د فطـــــرت ســـــره همـــــرازوم
نـــــه غوغـــــا وه نـــــه شـــــورونه
د فطـــــري حســـــن اثـــــرو
رانـــــه لاړلـــــه غمونـــــه
طبیعـــــت لار راتـــــه راکـــــړه
زړه تـــــه راغللـــــه خیالونـــــه
هغـــــه واړه دلتـــــه حـــــل شـــــوو
چـــــې یـــــې شـــــوي وو زورونـــــه
دلتـــــه پـــــوه شـــــوم چـــــې پـــــه زوره
پـــــه قلـــــم نـــــه شـــــي کارونـــــه
نـــــه د فـــــیض پـــــه لار کـــــې کېـــــږي
پـــــه مـــــزاج بانـــــدې جبرونـــــه
دې ســـــاده نکتـــــه کـــــې شـــــته دی
د عـــــــروج واړه رمزونـــــــه.
(۱۲: ۵۲۷ ۵۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(انسان او کاینات) بیا بل نظم دی چې په هغه کې هم فلسفي مفاهیم او پیغامونه انځور شوي دي، دا هم یو اوږد نظم دی چې درې برخې لري. په لومړۍ برخه کې دځمکې او اسمان پیدایښت یادوي چې څنګه پیدا شول او بیا انسان په کې څنګه پیدا شو؟ په دې برخه کې په سلګونو زره خبرې وشوې، خو بیا هم د انسان د پیدایښت راز څرګند نه شو. که څه هم د ځمکې د جاذبې قوت ښکاره شو، خو د خلقت سر لا تر اوسه عیان شوی نه دی. دی وایي تر اټوم پورې خو برق کشف شو، خو پر دې کشف د انسان سر خلاص نه شو، خو زه چې کله مېګنېټ ته ګورم او دهغه کشش مطالعه کوم، نو ورته حیرانېږم، دا منم چې زړی او دانه زرغونېږي، خو د دې زرغونېدا اصلي کیفیت لا هم له موږه پټ دی، پر دې هم پوهېږم چې له چرګې څخه هګۍ پیدا کېږي، نو له دې هګۍ څخه بیا ولې ژوندی ځان جوړ شي، نو دا سلسله څنګه شروع شوله. دې خبرې ته فکر وړی یم، که موږ څه ژوندي موجودات ګورو، نو بیا خو به مړه نه وي، که مړه وي، نو بیا ژوندي څنګه؟ نو ما ته د ازلي او ابدي خطاب مه کوه، ځکه چې زه دې مسلې ته حیران یم. دی بیا وایي، څوک چې د یو شي په میکانیکي جوړښت باور لري، زما یې پر ایمان شک راځي، نو دا میکانیکي عمل څنګه راپیدا شو؟ میکانیکي عمل یوه فلسفي نظریه ده، ځینې فلسفیان وایي چې په طبیعت کې هر شی د تغیر په حال کې دی، خو دا تغیر د یو قوت په ذریعه ترسره کېږي، له کومې قوې او فشار پرته ممکن نه دی، دا چې ټول کاینات د تغیر او دوران په حالت کې دي، د دې تر شا د لایزال ذات (خدای ج) لاس دی، نو دلته هم دې ټکي ته اشاره ده چې میکانیکي عمل خو په خپل سر نه رامنځته کېږي، نو هغه څوک دی چې یو ساکن شي ته تغیر ورکوي او په هغه کې بدلون راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی وایي کله چې د طبیعت رازونو ته متوجه کېږي، نو د دې راز په اندوول ورته لوی لوی عالمان او فلاسفه هم د ماشومانو په څېر ښکاري. دی وایي دا دنیا روانه ده، خو تر کله؟ څواب یې گران دی، دا د طلسم داسې یوه کارخونه ده چې د انسان طلسم او عقل ورته کار نه کوي:**

څنګــه راپیــدا ځمکــه اســمان شــو؟
بیــا پکــې پیــدا څنګــه انســان شــو؟
ســل زره خبــرې هــر چــا وکړلــې
دا راز چــې و پــټ پــه هغــه شــان شــو؟
ســر د جــاذبې خــو څــه ښــکاره شــو لو
ســر هــم د خلقــت ګونــدې عیــان شــو؟
بــرق خــو د اټومــه پــورې کشــف شــو
کشــف یــې ســر کلــه پــه انســان شــو؟
وینمــه میګنیــټ ورتــه حیــران یمــه
دا کشــش لــه کومــه نمایــان شــو؟
زړی وي، دانــه وي، بیــا زرغونــه شــي
اصــل کیــف لــه مــوږ ولــې پنهــان شــو؟
چرګــې نــه هګــۍ، څنګــه پیــدا شــوله؟
بیــا پیــدا هګــۍ کــې څنګــه ځــان شــو؟
دا سلســله څنګــه او لــه کلــه ده؟
ډوب مــې ورتــه عقــل او ګومــان شــو
هــر څــه کــه ژونــدي وي، یــو بــه مــړ نــه وي
او کــه وي، نــو مــړ، څنګــه حیــوان شــو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــا تـــه ازلـــی ابـــدی مـــه وایـــه
ترهـــه مـــې پـــه زړه راغلـــه حیـــران شـــو
څـوک چـې میکانیـک بانـدې ایمـان لـري
سســـت یـې رابښــکاره دغـــه ایمـــان شـــو
دا میکـــانیکي عمـــل لـــه کومـــه شـــو؟
څنګـــه تـــرې پیـــدا دغـــه دوران شـــو؟
څـــومره عالمـــان فلاســـفه چـــې دي
هـــر یـــو لکـــه طفـــل راعیـــان شـــو!

دا دنیـــــا روانـــــه ده، روانـــــه ده
څنګـــه؟ او تـــر کلـــه؟ بېخـــي ګـــران شـــو
لویـــــه د طلســـــم کارخانـــــه ده دا
ګیـــر پـــه دې طلســـم کـــې انســـان شـــو.

د دې نظم په دویمه برخه کې بیا وایي: دا دنیا یوه تیاره کوټه ده، لیدل کېږي نه، خو دې پوښتنې ته ځواب هم موږ ته په کار دی. په دې تیارې کې سفر زما په برخه دی، داسې تیاره ده چې عقل هم ورته تېرېږي، خو دې تیارې سره سره ما په کې یو څه ولیدل او هغه ژوند دی. دا چې اسان دی که سخت، خو ژوند په کې دی. ټوله لاره یې راته څرګنده نه ده، د یوه ناپایه بحر مثال لري. علم او عقل دواړه ورته حیران دي، خو له تېرو تجربو څخه دا نتیجه تر لاسه کولای شو چې پلټنه موږ ته یو څه راڅرګندوي:

دا تیـــاره کوټـــه خـــو د لیـــدو نـــه ده
بیـــا هـــم را پـــه ســـر دا امتحـــان شـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخــه پــه تیـاره کــې دی ســفر زمــا
عقــل ټپربـــږي ســـر ګردان شـــو
څـه خـو مـې پـه دې تیـاره کـې ومونـدل
ژونـد پـرې شـو مشـکل او کـه اسـان شـو
لاره پــه یقــین راتــه ښــکاره نــه ده
ژونـد لکـه یـو بحـر بـې پـایـان شــو
علــم او عقـــل دواړه دارې وایســـتې
یـو طـرف کـه سـم شـو بـل مـو وران شـو
هــو، لـه تېـرو ټولـو تجربـو ځنـې
دومـره ټکـې مـوږ تـه نمایـان شـو.

د نظم په دریمه برخه کې بیا د فطرت غوټو پر سپړلو بحث کوي او وايي که ځینې رازونه یې نه شو حلولای، خو ځینې یې د حل وړ دي. بیا وايي چې انسان د مصایبو په منځ کې ګیر دی، چاره یې نه شته یانې دا چې په غاړه کې یې د ژوند زنځیر پروت دی.

دی دا خبره ردوي چې انسان له بدیو جوړ دی، دا خبره سمه نه ده، دی ژوند د ښو او بدو کارونو یو بهیر ګڼي، په دې ډول د نظم په دې دریمه برخه کې بېلابېل فلسفي مفاهیم یو پر بل پسې سپړي. د همدې برخې په پای کې پر ځان ټینګار کوي او وايي چې: که موږ دا فطرت اړولای نه شو نو تغیر او تحول خو راوستلای شو. دا نظم تر دې برخې پورې ډېر زیات فلسفي رنګ لري، خو په څلورمه برخه کې فلسفي رنګ ورو ورو کمېږي او سیاسي رنګ غالبېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــــوټې د فطـــــرت د ســــپړو د لـــــو دي
څــه کـــه نـــه دی څـــه د حـــل کېـــدلو دي
خـــوار انســـان د غـــنم پـــه دام کـــې ګیـــر دی
پـــوه دی، کـــه فقیـــر او کـــه امیـــر دی
هـــر خـــوا بلاګـــانې ورتـــه وازې خـــولې
ډېـــر پـــه غـــم لړلـــی یـــې تقـــدیر دی
څـــومره مصـــایب ترینـــه چـــاپیره دي
دا کمبخـــت پـــه منځکـــې یـــې اســـیر دی
څـــه وکـــړي اخـــر د ژونـــد چـــاره څـــه ده؟
ژونـــد د ده پـــه غـــاړه کـــې زنځیـــر دی
غـــورزي، پـــرزي، درومـــي، تلوســـه کـــوي
تـــل لکـــه آبشـــار د ځـــان پـــه ویـــر دی
وګـــوره خنـــدا بـــه لـــږه ووینـــې
چغـــې دي، ســـلګۍ دي او نفیـــر دی
نـــه پـــوهېږم څلـــه پـــه رســـمي خنـــدا
تېـــر لـــه خپلـــه ځانـــه او ضـــمیر دی
هـــیڅ حـــق پـــه نـــاحق حاصـــلېدی نـــه شـــي
نـــه پـــوهېږم کـــوم پلـــو تـــه ځیـــر دی
څوک که څوک بدبخت کي نو خوشبخت به شي
دا ټکـــي پـــه زړه مـــې لکـــه تیـــر دی
څـــوک وایـــي انســـان جـــوړ لـــه بـــدیو دی
بـــد د ده فطـــرت او هـــم خمیـــر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګــــه لـــه نېکـــۍ ځنـــې انکـــار کـــوي
وینـــــو ژونــــد د ښــــو بــــدو بهیــــر دی
ښــــه وینـــو چـــې ځنـــې خرابـــې کـــوي
مـــــخ د چـــا د ځمکـــې پـــــه تعمیــــر دی
مـــونږ کـــه دا فطـــرت چـــور اړوی نشـــو
ګونـــدې تحـــول هـــم څـــه کـــوی نـــه شـــو؟

په څلورمه یا وروستۍ برخه کې که څه هم په پیل کې بحث پر فلسفي موضوعاتو پیلېږي، خو وروسته وروسته سیاسي رنګ هم اخلي. په پیل کې د انسان د خوشبختۍ راوزنه یادوي، د زور کارونه د انسان کار نه بولي او د انسان د نېکمرغۍ او خوشالۍ اصلي عامل د هغه روحي خوشالي ګڼي او همدارنګه ځینې نور فلسفي مسایل رااخلي، په پای کې بیا د قام او حکومت پر یووالي ټینګار کوي او وایي یو ملت هغه وخت خوشالېدلای شي چې خپل واک او خپل اختیار ولري:

څـــه ســـودا چـــې خامـــه د انســـان ده
دغـــه ((خوشـــبختي تنهـــا د ځـــان)) ده
چـــا تـــه خوشـــبختي چـــې څـــه ممکنـــه ده
دا یــــــوازې نــــــه ده د انســـــــان ده
هـــــر څــــه زوراور کــــولی شــــي مګــــر
دا لار د انســـــان کــــــه د حیــــــوان ده؟
څوک چې ژوند یوازې خورد و خواب ګڼي
دغــــــه نقیصــــــه یــــــې د ګومــــــان ده
ژونــــد د خوشــــالۍ ســــره معنــــی لــــري
ښـــــه خوښـــــي د روح او د وجـــــدان ده
روح کـــه معـــذب وي، خوښـــي نشـــته دی
دا معنــــــــی واضــــــــحه نمایــــــــان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــو ، بـــدايي ښـــه ده ضـــروري ده
نـــه، مګـــر هغـــه، چـــې د کـــوم ځـــان ده
خـــوښ وي هـــر انســـان خپلـــه تولنـــه کـــې
دا څـــه پتـــه نـــه ده ! ښـــه عيـــان ده
ښـــه جامعـــه څنګـــه جوړېـــدلی شـــي؟
دا کشـــاله مخکـــې د افغـــان ده
لويـــه معضـــله ده د څېړلـــو ده
هـــو ، زمـــونږ د فکـــر او د تـــوان ده
ښـــه شـــي جامعـــه چـــې حکومـــت ښـــه شـــي
پرېکـــړه دا د عصـــر او زمـــان ده
شـــان د حکومـــت او قـــام کـــه يـــو نـــه وي
ورانـــه مســـئله بولـــه، بـــل شـــان ده
هلـــه يـــو ملـــت خوشـــحالېدلی شـــي
واک کـــه د خپـــل ځـــان خپلـــه کـــولی شـــي.))
(۱۲: ۵۰۶-۵۰۷)

(د اقبال د خودۍ فلسفي مبدا) کې بيا د علامه اقبال لاهوري پر فلسفې هر اړخيزه رڼا اچوي. څرنګه چې خادم صيب په خپله د اقبال له فلسفي افکار څخه ډېره متاثر و، نو ده د اقبال پر فلسفې ډېر کار کړی دی او هغه يې له هره پلوه ارزولې ده. چې د دې بحث د زيات اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږو او همدارنګه يو شمېر نورې ليکنې چې موږ د دې بحث په پيل کې ورته اشاره وکړه، په اکثرو کې يې فلسفي مسايل څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سیمې او نړۍ په باب انګېرنې

استاد خادم يو حساس او د ژور فکر خاوند ليکوال او شاعر و، هغه نه يوازې د خپلې سيمې او چاپېريال د حوادثو پر وړاندې حساس و؛ د هغو په باب يې پر خپل وخت غبرګون څرګند کړی او هر غبرګون يې په نثر او نظم کې انځور شوی، بلکې د سيمې او نړيوالو مسايلو، شخصيتونو او حوادثو په باب هم بې تفاوته نه دی پاتې شوی. د سيمې او نړۍ له ځينو شخصيتونو سره يې خو روحي او رواني پيوند دومره ټينګ و چې د هغو شخصيتونو او يا پېښو په باب يې د زړه د درد انځور د هغه په ليکنو او نظمونو کې په ښه توګه څرګند شوی دی. د مصطفی کمال اتاتورک، مهاتما ګاندي، علامه اقبال، ماکسيم ګورکي او ځينو نورو په باب مو په مخکيني څپرکي کې د استاد خادم د تاثر يادونه وکړه چې اکثرو ته ده په خپلو ادبي پنځونو کې اشاره کړې وه، خو استاد د سيمې او نړۍ د حوادثو په باب هم داسې ګڼ شمېر ژورناليستيکي، خبري او تحليلي ليکنې لري چې هره يوه د سيمې او نړۍ د خپل وخت مهم حوادث بيانوي، دلته د دې ډول ځينو ليکنو نومونه اخلو او بيا به وروسته پرې لږه لنډه رڼا هم واچوو: د مهاتما ګاندي افکار، د ټاګور له افکارو، د هندوستان په شخصي شفاخانو کې د علاج عبرتناک داستان، د ماوځې تونګ د ژوند يوه صحنه، خودی در نظر اقبال ، د کمال اتاترک يو تقرير، د مهاتما ګاندي د لويۍ سببونه، د هندوستان د مليت بنياد، فتنه قاديانيزم، ملت پاکستان در اتش مظالم ميسوزد، همدردی ساير مسلمانان با

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمين پاکستان ، ايا وضعيت مصر راجع به کانال سويز جدی تر شده است؟، د کراچۍ ډومنيون کابينه ماته شوه، د کراچۍ پروپاگندي لهجه، اختتام جنگ کوريا، مسله هندو چين، مصر و کانال سويز، د مصر وضعيت وخيم دی، مصر جهت تماميت خواهی می کوشد، د کوريا جگړې درې کاله وروسته خاتمه ومونده، د کوريا متارکه لاسليک شوه، دوستی صميمانه دولتين ترک و افغانستان ، پروپاگند ناحق پاکستان، په شمالي افريقا کې د ازادۍ تحريک، علت کشيدگی اوضاع در مراکش، موانع جنگ سوم جهانی، بين المللي منشور دې بايد ترميم شي، مجلس نام نهاد موسسان پاکستان، د پاکستان د ډومينيون يو بل ظالمانه اقدام، د يهودو عسکري تعرض پر عربي کليو تصديق شو، د پاکستان د حکومت قاديانت پروري، د بريتانوي گيانا زعيم ډاکټر جگن، د هندوستان د جمهوريت جشن، فرانسه و هند و چين، د پاکستان واکداران وارخطا دي، د پاکستان د ازادۍ ورځ، د ښاغلي خروسچف د زېږېدنې د (۷۰)م کال او په دغه مناسبت مراسم، په کابل کې د اقبال د يادگيرنې وينا ، د اقبال د شاعرۍ محرکات، د اقبال د شاعرۍ غټ عناوين، د اقبال د خودۍ فلسفې مبدا، د افغانستان او شوروي اتحاد همکاري به نوره هم ټينگه شي ، د فرانسې ناجي او مجدد صدر گوگول د اعليحضرت کوربه، فرانسه به له افغانستان سره په بېلابېلو ساحو کې مرسته وکړي، معظم ټولواک د فرانسې کوښښونه د مخ په انکشاف روانو هېوادونو ترقۍ کې وستايل، د ملگرو ملتونو موسسه، د امريکا د ازادۍ ورځ، د عراق او فرانسې ملي ورځ، د عربي متحده جمهوريت د جوړېدو ديارلسم تلين، د فرانسې ناجي د ډيموکراسۍ بله مرحله، د ايران د شاهنشاه د جلوس پنځه ويشتم کال، امريکا ته د معظم ټولواک او معظمې ملکې د ښه نيت مسافرت، د واشنگټن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سیمه کې د همایون اعلیحضرت د مسافرت خاتمه) او ځینې نورې لیکنې.

نظم کې: (ماکسیم گورکي، ماکیاولیزم، ماکیاولیست، د شیطان لار، د افغان گمراهي، د اقبال په مرگ، د مصطفی کمال مرثیه او ځینې نور نظمونه.)

د نړیوالو حوادثو او شخصیتونو په باب د خادم صیب انگېرنې کولای شو، پر دوو برخو ووېشو: الف په سیمه یزه کچه انگېرنې، ب- په نړیواله کچه انگېرنې.

په پورته متن کې چې موږ د کومو لیکنو او نظمونو یادونه وکړه، په هغې کې دا دواړه کتگورۍ انگېرنې شاملې دي، هم د سیمې د هېوادونو او شخصیتونو په کچه او هم په نړیواله کچه دپام وړ شمېر هېوادونه او شخصیتونو په باب د خادم صیب فکر، نظر او انگېرنې مطرح دي: دلته غواړو پر همدې دوو کته گوریو او اړوندو لیکنو لنډه لنډه تبصره ولرو:

## الف – په سیمه ییزه کچه انگېرنې:

استاد خادم د یو لیکوال، یوه ټولنیز او حساس موجود په توگه هر څه چې په خپل چاپېریال کې گوري، د هغو پر وړاندې غبرگون ښیي، هغه ثبتوي او خپل تاثر پرې څرگندوي. ده چې په کومه زمانه کې ژوند کاوه، نو پر هغه مهال چې زموږ شاوخوا او ځینو نورو گاونډیو هېوادونو کې څه پېښېدل، نو ده هغه ثبت کړي دي. خپل فکر او انگېرنې یې ورسره یو ځای کړي او د یوې نتیجې په توگه یې بېرته ټولنې ته وړاندې کړي. په سیمه ییزه کچه استاد خادم د خپلو گاونډیو هېوادونو د هغه وخت حالات څېړلي، د هغو پر ځینو مهمو شخصیتونو یې خپل نظر څرگند کړی او د نظم او نثر په بڼه یې خپلې ټولنې ته وړاندې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند، پاکستان، پخواني شوروي اتحاد، چین او ځینو نورو هېوادونو د هغه وخت ځینې حالات یې څېړلي او د هغو د شخصیتونو په باب یې خپله انګېرنه او یادونه لیکلې ده. د دې ډول لیکنو عنوانونه مو د همدې لیکنې په پیل کې یاد کړل، اوس د سیمه ییزو انګېرنو په توګه غواړو چې د استاد خادم یوې لیکنې ته نغوته وکړو چې ده د خپل ګاونډي (هندوستان) هېواد د ملیت د بنسټونو په باب لیکلې ده. دا لیکنه (د هندوستان د ملیت بنیاد) نومېږي. استاد په دې لیکنه کې په هند کې د متفرقو فرقو د یووالي راز او هغه روح ته اشاره کوي چې دا ملت یې سره ساتلی دی. دی د هند لرغوني کلتور ته ګوته نیسي چې د هندي ملت معنوي پانګه ګڼل کېږي، دی په دې باب وایي:

((بېشکه د خندا ځای دی که چېرې څوک د هندوستان او یا د کوم بل مملکت موجودیت د یو انسان د موجودیت په شان متصور کړي، زه په خپله داسې فکر نه کوم. زه په هغه اختلاف او مغایرت چې د هندیانو په حیات کې وجود لري پوره پوه یم. په طبقاتو، فرقو، مذاهبو، انساني نژادونو او د هندي کولتور په تفاوت په عمومي ډول خبر یم. سره د دې هم فکر کوم چې دا مملکت په اوږدو کولتوري سوابقو او د زندګۍ په یوې عمومي نظریې سره هڅه کوي هغسې روحیې ته چې دغه مملکت پورې اختصاص لري، ترقي ورکړي او هغه روحیه په یو ښه ډول سره د هند په وړو کې پوه کړي!

ایا څوک کولی شي چې په چین کې د همدغسې قضیې د وقوع نه انکار وکړي، دا یو روح دی چې زه یې په هندوستان کې لټوم او دا لټونه ډېره تېزه ده او زه هم په خپل کار کې پوره کفایت خرڅوم. سبب دا دی چې زه تصور کوم چې دا کار به داسې کلي ما ته په لاس کې راکاندي چې ښایي په هغې سره به د خپل حکومت او ملت په منځ کې د مفاهمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګه د هند په وسیعه ساحه کې د فکر او علم د لاربښودنې جذره پرانیزم!

پالیټکس او انتخابات د روزانه کارو څخه دي او موږ هره ورځ د جاري موضوعاتو له مخې متهیج کېږو. که چېرې زه وغواړم په اینده کې د هند د پاره داسې کور جوړ کړم چې محکم، مامون او قشنګ وي، باید چې له اوسه یې بنیاد داسې محکم کښېږدم چې د زمانې باد ورباندې کوم تاثیر ونه کړي. په لږه زمانه کې د هند لویې ترقی ته خلک حیران دي، مګر په کومه فلسفه باندې چې د هند د حکومت بنیاد د هند زعماوو ایښی دی، هغې ته نه ملتفت کېږي.

په پورته څو کرښو کې چې د ښاغلي نهرو د ((ډسکوري اف انډیا)) کتاب څخه اقتباس شوی دی، د دغه فلسفې د تهداو تیرې نظر ته راځي. د هند د حکومت د اساس تیږه د هند په ملیت او نشنالیزم ایښودل شوې ده او دغه ملیت او نشنالیزم د هند زرګونو کالو په تهذیب او ثقافت ولاړ دی. نو هغه بنا چې ښېخ یې دومره پوخ وي، بېشکه چې ډېره ټینګه او مستحکمه وي!.

نو که د هر ملت زعماء دغومره عمیق او ژور فکر وکړي، په دغومره پوخ او متین کار باندې موفق کېدای شي.)) (۲۴: ۷۱۰)

له دې لیکنې څخه د استاد خادم هدف دا دی چې د خپل ملت د یووالي لپاره هم له همداسې نظریې او موډل څخه ګټه پورته شي.

## ب- په نړیواله کچه انګېرنې:

د خادم صیب په اثارو کې نه یوازې د خپلې ټولنې، هېواد او سیمې په باب زیاتې انګېرنې او افکار لیدل کېږي، بلکې په نړی کې په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم بل لرې او نږدې هېواد کې چې څه پېښ شوي او پر ده یې تاثیر کړی، هغه یې هم په خپلو لیکنو کې انځور کړي دي. یانې هغه لیکنې چې خادم صیب د کامې له (زرشوی) کلي څخه پیل کړې وې، په پای کې یې سر (کوریا او شمالي افریقا) ته ورسېد. موږ د دې بحث په پیل کې د هغو لیکنو عنوانونه یاد کړل چې خادم صیب د سیمې او نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د حالاتو او شخصیتونو په باب لیکلي دي. د هغو بیا یادونه دلته ضروري نه برېښي، خو یوازې دا یو څو لیکنې چې د خپل وخت خبري، ژورنالیستیکي او تحلیلي محتوا لري، په نړیواله کچه د ده د انګېرنو په توګه یادوم:

لومړۍ لیکنه یې د کوریا د جګړې په باب ده، دې جګړې درې کاله دوام وکړ او په پای کې د اوربند په لاسلیک سره پایته ورسېده. په دې لیکنه کې استاد خادم د جګړې پر ناخوالو خواشیني څرګندوي او وایي چې انسانان ولې دخپلې تباهۍ پر اسبابو نه پوهېږي. دی وایي تر جګړې وروسته حالت سوله ده. په دې لیکنه کې راځي چې کاشکې ټولې شخړې د ولسواکۍ د نظریې پر بنسټ اوارې شي. ځکه ولسواکۍ کې پرېکړې د اکثریت له مخې ترسره کېږي. په دې لیکنه کې په کوریا کې د جګړې پر متارکې هم رڼا اچول شوې ده:

((پس له ډېرې مودې انتظار او لسګونو انسانانو د تباهۍ او وینو تویېدلو، اخر د کوریا جګړه بس او متارکه لاسلیک شوه. ډېره د افسوس خبره ده چې انسانان ولې پر دې نه پوهېږي چې د ټولو اختلافونو او جګړو پای صلحه ده. کاشکې چې دغه متارکه پخوا لاسلیک شوې وای او د دومره انسانانو د وژلو سبب نه وای ګرځېدلې. اوس دې هم د ځمکې د کرې امنیت غوښتونکي انسانان د هغو کسانو، ټولنو، دولتونو له زحمتونو څخه متشکر وسي چې په دې لاره کې یې ګاللي دي. که د نړۍ انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتیا سره د ډیموکراسۍ اصول ومني او انحرافات ورڅخه ونه کړي، نو شک نشته چې جنګ به اډو واقع نه شي.

د ډیموکراسۍ د اصولو پر اساس اکثریت نظریه او رایه سند ده، نو په هره ټولنه کې چې د انسانانو او انساني ټولنو اختلافونه پیدا کېږي، باید رایه ګیري او عمومي ریفرنډم ته په کې مراجعه وشي. له رایې وروسته باید زور ګویي بس کړي، هو، د داسې غټو مسایلو او لویو خبرو د پرېکړې او فیصلې لپاره د قوي کسانو، ټولنو او دولتونو منځګړي کېدل ضروري دي. واقعات داسې ښیي چې نن سبا دا ډول نېک خلک، د لوی همت خاوندان او داسې دولتونه نوي راپیدا شوي چې دغه روحیه به تقویه کړي.

لکه څنګه چې لویو لویو کسانو ویلي چې په شرق کې به هم د قومونو ټولنه تاسیس شي او هغه وخت به نو د لویو قضیو د ضمانت لپاره ښه لاره موجوده وي. په دې ډول د شرق او غرب شخړې له زورګویۍ او د قوت له کارولو نه پرته د خبرو له لارې حل کړي. په هر صورت د کوریا په متارکې باندې مونږ د خوشحالۍ اظهار کوو، چې د کوربا جګړه په درېیم جنګ منجره نشوه. اوس غواړو چې د متارکې د څرنګوالي په اړه لوستونکو او علاقمندانو ته معلومات وړاندې کړو.

مونږ خبر یو چې د جولای پر (۲۷)مه، د اسد پر څلورمه او د ذولقعدې پر ۱۵مه د کوریا پر وخت د سهار پر لسو بجو چې د کابل پر وخت د سهار پنځه بجې وې؛ په دار الصلح کې دکوریا د متارکې قرارداد لاسلیک شو او وروسته له هغه جنرال مارک کلارک په کوریا کې د ملګرو ملتونو عمومي قومندان او جنرال کمیل سونک، د شمالي کوریا د ټولو لښکرو قوماندان هم دغه تړون لاسلیک کړ. د دغه تړون د لاسلیک مراسمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په (پانمونجام) کې د هغو (١٦) گونو ملگرو دولتو لوی لوی منصبداران ورغلي وو چې د کوريا په جگړه کې د دوی نظامي قواو گډون کړی و. راغلي اطلاعات وايي چې پرون به د کابل په وخت هغه نظامي عمليات بس شوي وي چې د ۱۹۵۰ م کال د جون په ۲۵مه په جنوبي کوريا باندې د شمالي کوريا يو لک تنو عسکرو په تعرض شروع شوي وو.

د کوريا جگړه درې کاله او دوې ورځې جاري وه او په هغه کې دملگرو ملتونو د عسکرو تلفات دونيم لکه حساب شوي دي او د کمونيستانو د عسکرو مرگ ژوبله د هغوی پر څلورمه وه. د جنوبي کوريا د ملي دفاع وزارت وزير تای پينگ وويل که چېرته د متارکې د تړون تر لاسليک ۹۰ ورځې وروسته چې د کوريا د سياسي قضايا د حل کولو لپاره کېږي، ونه کړای شي چې په درې مياشتو کې دغه قضايا حل کاندي، نو د کوريا نظامي عمليات به بيا شروع کړي. ټاکل شوې ده چې په مخکې پنځو ورځو کې به د متحدو دولتو قواوې او د شمالي کوريا او کمونيستي چين عسکر د کوريا هغه ټولې جزيرې خوشې کړي چې د يوه او بل د نيوليو علاقو په شاوخوا کې يې لاس ته راوستې وې.

د پاريس سياسي ټولنو د کوريا د متارکې په لاسليک کېدو باندې انديښنه ښکاره کړې ده او وايي چې وروسته له دې به د کمونستي چين دولت د ويتمن له ميليونو سره ډېره مرسته وکړي او په دې سره به هندوچين کې د فرانسې مشکلات زيات کاندي. دوکتور (هانگ کي) د جنوبي کوريا د اطلاعاتو وزير وويل چې د کوريا ولسمشر به د متارکې په لاسليک کېدو باندې هېڅ تبصره ونه کړي او د هغې په باره کې به څه ونه وايي. جان فاستر دالس د اتازوني خارجه وزير وويل تر څو چې اتازوني لازمه ونه گڼي، په کوريا کې به خپلې قواوې لږې نه کړي. د يونو له واکمن مقام اعلان شوی دی چې سږ کال د اگسټ د مياشتې په ۱۷مه به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحدو عمومي اسمابله جرگه وکړي او په هغې کې به د کوريا قضيو باندې خبرې وکړي.

دا هغه خبرونه دي چې تر اوسه په دغه موضوع کې لاس ته راغلي دي. هيله ده چې دا صلحه به د دايمي متارکې او صلحې صورت غوره کاندي او لکه د دنيا ځينې لويو کسانو چې عقيده ښکاره کړېده، د دنيا د دوو بلاکو د قواوو توازن او د دهشتناکو وسلو اختراع به د درېيمې عمومي جگړې مخه ونيسي او زيات گمان دا دی چې بل جنگ به نږدې نه وي.)) (۲۴: ۹۱۵-۹۱٦)

د استاد خادم پورتنۍ ليکنه کې نه يوازې د دواړو کوريا وو، د جنگ څرنگوالی او اوربند تشريح شوی، بلکې د جگړې پر ناوړه عواقبو هم بحث شوی او خلکو ته له جگړې څخه نفرت تداعي کوي او سوله ييز پيغام وړاندې کوي.

خادم صيب د نړۍ گډوډو حالتو ته په کتو سره په نړۍ کې پر يو درېيم سوله ييز قوت او جوړښت ټينگار کوي. دی د دې کار لپاره (د ملگرو ملتونو موسسه) تر ټولو يو ښه ارگان گڼي، په همدې نامه يوه ليکنه کوي، په دې ليکنه کې نه يوازې د هغې موسسې جوړښت تشريح کوي، بلکې رول يې هم گټور ارزوي. په دې سازمان کې د افغانستان رول او غړيتوب ته هم نغوته کوي او په نړۍ کې پر سوله او امن ټينگار کوي، دی د اټومي جنگ د مخنيوي لپاره پر بشر غږ کوي او دا هم وايي چې که چېرې ذروي جنگ پيل شي، نو د بشر ژوند به ورسره ختم شي. استاد خادم وايي:

((دا موسسه چې شل کاله مخکې د دنيا د يوه اضطراري حالت په وخت کې تاسيس شوې وه، په دنيا کې يې کامياب رول بازي کړی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو مغشوشو او ګډو وډو وختونو کې د یوین موسسې د دنیا د امن او سلامتۍ لپاره ښه خدمتونه کړي دي، د امنیت له ساتلو نه علاوه چې د دنیا د ملتونو او جوامعو لپاره تر ټولو لومړی سوال دی، یوین په صحي، اقتصادي او اجتماعي ساحو کې د دنیا او مخصوصاً د نامنکشفو ممالکو لپاره خپل وجود محتاج الیه ثابت کړی دی.

افغانستان چې له ابتدا څخه د دې موسسې غړی دی او خپل تعهدات یې د دغسې موسسې په نسبت په وفادارۍ سره ادا کړي دي او تل دغسې موسسې ته ارزوګانې او ښه تمنیات لري. غواړي چې د ملګرو ملتونو موسسه ورځ په ورځ قوي او فعاله شي. اوس چې د عصري وسایلو او تخنیک په ذریعه دنیا یو تر بله ډېره نږدې شوېده، نو ډېره ضروري ده چې د یونو غوندې یوه موسسه موجوده وي. د پنجشنبې په ورځ د دغسې موسسې د شلمې کلیزې په نسبت په کابل کې د درناوي لپاره د یادګیرنې یو محفل جوړ شوی و چې په هغه کې دپایتخت مشهورو خلکو او ځینې محترمو مېرمنو ګډون کړی و، د ملګرو ملتو د موسسې د خدمتونو او تاریخ په مناسبت د ښاغلي صدراعظم، د صدارت د ښاغلي معاون او د ښاغلي صدقي له پلوه دلچسپ نظریات حاضرینو ته واورول شول او د افغانستان د حکومت او خلکو له خوا ښه علاقه مندي وښودل شوه. موږ داسې فکر کوو چې د نیشنلیزم په دې عصر کې چې نړۍ په ملتونو وېشل شوې ده او په دغو کې قوي او ضعیف، منکشف او نا منکشف، د ذروي قوت خاوند دولتونه او ذروي قوت نه فاقد دولتونه، په وسله، لور او تش لاسي ملتونه موجود دي، نو که دملګرو ملتونو په شان یوه بېطرفه بین‌المللي موسسه موجوده نه وي، قوي احتمال شته چې په نړۍ کې د جنګ اتش فشان افلاق وکړي، موږ عقیده لرو چې په جنګ کې به د دنیا موجوده شرایطو په نظر کې نیولو سره هېڅا ته ګټه نه وي، د دنیا عقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې فکر کوي چې ذروي جنګ به د دنیا خاتمه وکړي، نو لازمه ده چې انسانان او انساني ملتونه یو تر بله موافقه او ګذشت وکړي او پرېږدي چې د تاریخ جریان دنیا کوم پلو وړي.)) (۲۴: ۱۲۱۹)

شاعر او لیکوال فطرتاً ازادي غوښتونکی شخصیت وي. د دنیا په هر ګوټ کې چې د ازادۍ تحریک سر پورته کړي، نو شاعر یا لیکوال ورته دنړۍ په بل ګوټ کې خوشاله وي. خادم صیب هم (په شمالي افریقا کې د ازادۍ تحریک) په نامه یوه لیکنه کړې او د یاد تحریک د فعالیتونو څرنګوالی یې تشریح کړی، د هغو تنګ موقعیت ته یې اشاره کړې او د استعماري ځواکونو، چل، فریب، د زر او زور کارونه یې بیان کړي دي. په مصر، لیبیا، مراکش، تونس او د شمالي افریقا په ځینو نورو سیمو کې یې د امریکا، فرانسې، بریتانیې، ایټالیې او نورو غټو قومونو توطیې، پلانونه او رقابتونه تشریح کړي دي. استاد وایي:

((د شمالي افریقا ټول ممالک له مراکش څخه د مصر پورې د استعماري طاقتونو د اقتصادي او سیاسي تاثیراتو لاندې واقع دي. د فرانسې، هسپانیې او نورو غربي دولتو مستعمراتي او جنګي مفاد د دې متقاضي دي چې په دغه مملکتونو کې د حریت او استقلال تحریکونه ځان ونه نیسي.

په تیونس او الجزایر کې زرګونه وطن دوستان محض د دې ګناه په سزا کې د قید او بند سختۍ تېروي چې هغوی د زوروړو قوتونو څخه د هغو حقوقو مطالبه کړې ده چې د متحده اقوامو په منشور کې د هغو ضمانت شوی دی.

د مراکش مسئله چې کوم وخت مصر او نورو عربي مملکتونو وغوښتله چې مجلس امنیه ته یې وړاندې کاندي، نو د مغرب ځینې لویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دولتونو چې مفاد یې د فرانس سره شریک دي، کوشش وکړ چې فرانس له هغه رسوایۍ څخه وژغوري چې د دغه بحث په نتیجه کې فرانس ته په برخه کېده. د مراکش او تیونس مسئله اوس هم په هغه مرحله کې ده چې کوم وخت لا متحده اقوام منځ ته نه وو راغلي. دا پېش گویي سړی نه شي کولی چې د دنیا زورور قومونه به د شمالي افریقا په کمزورو مسلمانو قومونو څه وخت رحم او مهرباني وکاندي.**

**د شمالي افریقا ملکونو لا د ازادۍ خوب لیدلو چې د دوی د غلامۍ د دورې د اوږدېدلو د پاره نوی سامان تیار شو. مراکش امریکې ته د فضایي قواوو د میدانونو جوړولو اجازه ورکړه او لیبیا دغه قسم مراعات برطانیې ته ومانه.**

**د شلمې پېړۍ د اوایلو پورې به چې مغربي قوتونه په کوم کمزور ملک قابض کېدل، نو په اقتصادي اخذ و جر باندې به یې قناعت کاوه، په دغه وخت د استعماریت لویه فایده دا گڼل کېده چې غالب قوم د ارزانه خامو موادو او کم مصرفه مزدورانو په ذریعه خپل صنعت او حرفت ته ترقي ورکړي او د تمول او تجمل په منډه کې د نورو اقوامو څخه مخکې شي.**

**لېکن د دویم لوی جنگ نه وروسته چې په دنیا کې کوم نور تغیرونه راغله، نو ورسره د استعمار په نصب العین کې هم فرق پیدا شو او په محکوم او مغلوب مملکتونو کې هوایي میدانونه جوړول د خپلې غلبې د دوام د پاره یو داسې ضروري او لازمي شی وگڼل شو، لکه مخکې د جنگ نه به چې د غلام مملکتونو په تجارتي بازارونو باندې قبضه کول، دوی ضروري بلل.**

**برطانیه په دغه رقابت کې له نورو مغربي قوتونو څخه وړاندې ولاړه او په جبل الطارق، مالټا، نهر سویز، عدن او سینگاپور کې یې خپل فوجي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراکز جوړ او ځان يې په کې تقويه کړ. ورپسې امريکا هم د يورپ او ايشيا په مختلفو ملکونو کې فضايي و بحري مراکز تاسيس کړل. د دويم جنگ نه وروسته د دغه دوه قوتونو په منځ کې يو قسم رقابت شروع شوی و، برطانيې په سياسي او اقتصادي ميدان کې که څه هم د امريکا سره رقابت ونه شو کولی، لېکن په عسکری تياريو کې د امريکا څخه پاته نه شوه. دغه وجهه وه چې کم وخت امريکا په مراکش کې پښې ټينگې کړې، نو برطانيې په ليبيا کې د ځان د پاره د هوايي ميدانونو جوړولو اجازه حاصله کړه.

د برطانيې په واسطه ليبيا د ايټاليا له لاسه خلاصه شوه او برطانيې ورسره ډېر مالي او عسکری کومکونه وکړه او د ليبيا په ټولو پلانونو او پېشرفت کې يې ورسره مرسته وکړه. مگر په عوض کې يې ورته هغه مراعات حاصل کړ چې د مصر څخه يې حاصل کړی دی.

دغه رنگ کومک او پر دغه اساس امتياز د پسمانده ملکونو د پاره مفيد نه ثابتېږي.)) (۲۴: ۹٦۲-۹٦۳)

استاد پر نثري ليکنو سربېره په نظم کې هم د ځينو نړيوالو ليکوالو او تيوريستانو نظريې او افکار يا تائيد کړي او يا يې رد کړي دي. دی د (گاندي، اتاتورک، اقبال، ټاگور) او نورو نظريات تائيدوي، خو د (ماکياولي) له نظرياتو سره حساسيت ښيي، دی ماکياوليستي نظر ردوي او هغه څوک چې دا نظريات تعقيبوي هغه غندي، په يوه څلوريزه کې وايي:

چې وايي يو څه، عمل بل څه کا
په سمه لار باندې، هم تله نه کا
پرې خطا نه شې ماکياولست دی
په دروغو دربو، خطا ايسته کا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی د ماکیاولي لاره د شیطان لاره ګڼي چې زور او فریب د دې لارې مهم عناصر بولي، په یوه څلوریزه کې وایي:**

ماکیـــــــاولیزم لار د شـــــــیطان ده
چـــې حـــاوی شـــوې، پـــه ټـــول انســـان ده
زور او فریـــب، چـــې ســـره یـــو ځـــای شـــي
پنـــاه و ذات تـــه د لـــوی ســـبحان ده.

**دی بیا په افغاني ټولنه کې هم د ماکیاولي له نظریاتو اندېښنه لري، هغه ردوي او ایي چې افغانان همدې نظریاتو تباه کړي او لاره یې ورځخه ورکه کړې ده. په یوه څلوریزه کې دې نظریې ته داسې نغوته کوي:**

جهـــان تبـــاه کـــړ، ماکیـــاولیزم
عـــالم ګمـــراه کـــړ، ماکیـــاولیزم
ادم یـــې وایســـتو لـــه جنتـــه
افغـــان بـــد راه کـــړ، ماکیـــاولیزم.

**د سیمې او نړۍ په باب د استاد خادم د اثارو، افکارو او انګېرنو لړۍ تر دې زیاته غځېدلای شي، خو د دې لیکنې د زیات اوږدوالي د مخنیوي په خاطر پر همدې بسنه کوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبپالنه او نور افکار

تر ملتپالنې وروسته چې کومه موضوع د استاد خادم په اثارو کې تر ټولو زیاته مطرح شوې ده، هغه همدغه ژبپالنه یا پښتو پالنه ده. ملتپالنه او ژبپالنه د خادم صیب د ټولې لیکوالۍ اصلي محور دی. دا موضوعګانې تر دې حده زیاتې مطرح شوي چې ان په یو شمېر دیني نظمونو او لیکنو کې هم په یو نه یو ډول دا موضوعګانې تائید شوي دي. دلته به لومړی د استاد منثورو او منظومو اثارو کې د ژبپالنې یا پښتو پالنې په باب سرلیکنې راوړم او بیا به یې وروسته پر ځینو رڼا هم واچوم. هغه لیکنې او نظمونه چې دې موضوع ته وقف شوي دي په دې ډول دي: (پښتو کوم ډول ژبه ده؟، د پښتو ادبیاتو لومړي اثار، د پښتو شاعرۍ معیار، د پښتو پخواني نومونه، د پښتو ترقي، پښتو تصفیه غواړي، په جنوبي ولایاتو کې د پښتو لغت، پښتو باید تقویه شي، د پښتو دویمه منشاء، ملي ژبه او مشرق، د پښتو لرغوني تاریخ یو فصل، د پښتو په تاریخ کې یوه رڼا، د پښتو ادبي معیار، د پښتو په باب د کمېشن مذاکرې، د پښتو له خبرونو څخه د خلکو شکایات باید رفع شي.)

په نظم کې: (زور د استعمار، پښتو دلته او هلته،پښتون او پښتو، د پښتو دښمني، د انګرېز چل، د پښتون مقام، له قامه وتلي پښتانه، ملت په ژبه جوړېږي، نور به خیر غواړو، په پښتو شهیدان، استعماري معنویت، د وطن محبت، پښتو ته لغتې ورکول، له پښتو انحراف، قیامت، امتحان، ژبنی استعمار، د قام ژبه، د قام رسول، پښتني انقلاب، کابل او پښتو، پښتو او دربار، پښتو او اکثریت، په پښتو ژبه لوبې، دوه ژبې، بې دستوره افغان، د ژبې وحدت، د ملي ژبې قانون، د پښتون توهین، یونو او پښتو، په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبې ، پښتانه او د پښتو مخالفت، د پښتو نتیجه، د باړ ګلی پښتو سیمینار) او ځینې نور نظمونه.

دلته غواړو له همدغو لیکنو څخه پر ځینو یې لنډه لنډه تبصره ولرو، خو مخکې تر دې چې خپلو تبصرو ته لاړ شو، یو ټکی په وضاحت سره یادوو او هغه دا چې خپله ژبه ویل او پالل نه کوم تعصب دی او نه کومه ګناه، بلکې نه ویل یې ګناه او تعصب کې حسابېږي، خو زموږ په ټولنه کې خبره سرچپه ده، څوک چې پښتانه له پښتو منع کوي، هغو سره دتعصب ټاپه هم شته، پر هر هغه چا دا د تعصب ټاپه وهي چې د خپلې ژبې له خدایي حق څخه ګټه اخلي، خو دوی چې خپله ژبه پالي او د بل مخه هم نیسي، ځان ته متعصب نه وایي، د خادم صیب په ګډون هېڅ پښتانه لیکوال د چا د ژبې مخالفت نه دی کړی، په خپله ژبه ګړېدل یې هم خپل حق ګڼلی، خو دې سره سره په عملي ډګر کې په هر پښتانه لیکوال باندې د تعصب تور پورې شوی او هېڅوک له دې توره سپن پاتې شوی نه دی. دا زموږ دټولنې منفي واقعیتونه دي، خادم صیب هم په دغسې یو اغزن چاپېریال کې له منفي تورونو سره مقابله کړې او د پښتو ژبې د ترقۍ لپاره یې خپلې مبارزې ته دوام ورکړی دی. (د پښتو ترقي) په نامه یوه لیکنه لري، هغه په دې لیکنه کې وایي: هر قوم په خپله ژبه کې ترقي کوي، ادب هم په ژبې پرې اړه لري او د یوه قوم د ترقۍ درجه دهغه قوم د ادب دترقۍ په درجې پورې تړلې ده. استاد خادم دا هم وایي چې افغان بې پښتو او پښتو بې افغانه ترقي نه شي کولای. استاد په دې لیکنه کې په هېواد کې دپښتو او پاړسي ژبې دواړو واقعیتونو ته اشاره کړې ده. استاد په دې لیکنه کې د پښتنو د پرمختګ لپاره پښتو لیکنې سمون ته هم اشاره کوي، هغه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((پښتو د هغې ژبې نوم دی چې پښتون قام او د افغانستان مملکت او هېواد په هغې سره دنیا پېژندلی دی. د افغان، افغانستان او پښتون نوم چې د دنیا په هر ځای کې یاد شي؛ نو د هغه ځای خلک فوراً دا فکر کي چې دا د هغه قوم او وطن نوم دی چې خلک یې پښتو یعنې افغاني ژبه لري. دنیا ته په دغه خیال او مفکوره حاصلولو کې هېڅ پروپاګند او انساني ارادې کار نه دی کړی. بلکې په قدرتي صورت چې د دې قوم او وطن ژبه پښتو ده،په همدغه ډول افغانستان او پښتو لازم اوملزوم شیونه پېژندل شوي دي؛ نو دا خبره لاس ته راغله چې پښتو هر څنګه چې ده زموږ ژبه ده او هر کله چې هېڅ قوم په پردۍ ژبه ترقي نه ده کړې او له بلې خوا د یو قوم د ترقۍ اندازه د همدغه قوم د خپلې ژبې د ادب په ایینه کې لیدل کېږي.

نو د یو قوم د ترقۍ درجه همېشه د دغه قوم د ادب د درجې په اندازه وي؛ نو که د چا ژبې یا ادب پوره ترقي کړې نه وي، نو دا د قوم ګناه ګڼل کېږي، نه د ژبې، په هر صورت نه افغان بې پښتو او نه پښتو بې افغانه ترقي کولی شي.

دا خبره باید په خوله کې ونه ژویل شي چې په افغانستان کې ډېر خلک په پارسۍ هم ګړېږي، لکه په پښتو چې خبرې کوي. وطنوالو او قومونو په وچو او تشو تعصباتو ګټه نه ده کړې، په قدرتي صورت سره دواړه ژبې په دې وطن کې شته او پاته شوې دي. دابه ډېر حیف او افسوس وي او هېڅکله به له همدې فروګذاشته خالي نه وي چې سړی د افغان او افغانستان له پخوانو اوضاعو څخه بحث وکړي او د پښتو له اهمیت سترګې پټې کړي، یا له پارسي منکر شي، موږ باید په هغه شي فخر وکړو چې موږ پخپله د ځان د پاره کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د بل چا کارونه چې زموږ په فایده وي. د انکار او بې قدرۍ وړ نه دي، خو په دې باید پوه شو چې زموږ فایده یقیناً په هغه شي کې ده چې زموږ اجتماعي روابط ټینګ او د علم او رڼا خوا ته مو سوق کاندي!

زه په دې ځای کې نورې خبرې پرېږدم، راځم د (نسیمي) صاحب هغه مقالې ته چې لیکلې یې وو (زموږ د ملي ژبې رسم الخط د توجه وړ دی) نسیمي صاحب د یو افغان او د اصلاح روزنامې د مدیر په حیث مکلف دی چې د پښتو له اوضاعو غلی پاته نه شي. ده په خپله مقاله کې د ژبې په باب د استفادې وړ خبرې کړي دي. دوی دا هم اعتراف کړی دی چې په دغو تېرو کلونو کې د پښتو د ادب او ګریمري قواعدو په باب ډېر پرمختګ او انکشاف شوی دی، مګر د رسم الخط په باب وایي: چې تر اوسه پورې یې دغه خوا نیمګړې ده او یوه کلمه د لیکوالو لخوا په راز راز اشکالو لیکل کېږي. تر دې وروسته بیا نهه مثاله راوړي او په اخر کې له پښتو ټولنې او پښتو لیکوالو څخه خواهش کوي چې د دغه نقایصو په لرې کولو کې کوشش وکاندي.

زه د یو افغان لیکونکي په حیث ځان مکلف بولم چې په دغه موضوع کې وغږېږم: (پښتو لیکوالو په تېرو کلونو کې له کوم وخت څخه چې داعلیحضرت نادر شاه په توجه په هېواد کې د پښتو ادبي انجمن او پښتو ټولنه تاسیس شوي دي د پښتو د نورو ادبي خواوو د څېړلو سره د پښتو د رسم الخط مسئله هم له نظره نه ده غورزولې او کافي بحثونه په دې موضوع کې شوي او نتایجو ته رسېدلي هم دي، پښتو ژبه د یو لوی ژوندي قوم د ژبې په حیث په منځ کې اچول شوې او د ادبي مسلماتو په رڼا کې د کلماتو صورت منل شوی دی، لکه دا چې: (۱) کلمه دې مکمله وي. (۲) دا چې مطرده دې وي. (۳) د ګریمر د مسلم قانون څخه مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت دې ونه لري. (۴) تر ممکن حده پورې دې د قدماوو د اسلوب مراعات په کې مد نظر وي. (۵) حروفی اعجامو ته دې له حرکتي څخه زيات اهميت ورکړی شي. (٦) غير ملتبس صورت دې په ملتبس صورت مرجح وګڼل شي، د دغسې مقرراتو په ملحوظ (کښې) په کې او کښ، زه، زما او زمونږ په څه، څما، او څمونږ، چې په چه، کوچنی په کچني، پښه په پخه، خپه، زوی په ځوی، زلمی په ځلمي، پاته په پاتې مرجح ګڼلی شوی دی.) پاته شوه دا چې ځينې يې ولې په بل صورت ليکي، دا خبر هغه وخت فيصله کېدای شي چې ادبي فيصلې د جزايي فيصلو په شان قطعيت ولري. يا دا چې په ليکونکو کې هېڅ مبتدي نه اوسي. يا دا چې قلمي او طباعتي سهوې بېخي له منځه ووځي. په هر صورت د پښتو درسم الخط چاڼ شوی او فيصله شوی صورت لري. جزيي فرقونه د هرې ژبې د نويسنده ګانو په منځ کې موجود وي، لکه د پاړسي، اردو، عربي او حتی مغربي ژبو د ليکونکو په منځ کې چې شته چې ذکر يې طوالت پيدا کوي.

په هر صورت که د پښتو د مستندو مؤلفينو تاليفات په زيات تعداد نشر شي، نو دغه نقيصه که وي هم له منځه ځي اودلته د پښتو ډېر مهم کتابونه موجود دي چې طبع يې د پښتو د پاره خورا قيمت لري.))

(۲۳: ۳۰۹ - ۳۱۰)

استاد خادم په يوه بله ليکنه (پښتو دې تقويه شي) کې د پښتو د پياوړتيا او پرمختګ لارې چارې په ګوته کوي، دی وايي چې پښتو ټولنه دې پر رښتيني مانا د يو علمي اکاډمۍ حد ته پورته شي، د لغتونو د راټولو لپاره دې بېلابېلو سيمو ته هيئتونه ولېږل شي. ټول اثار دې د يوه واحد علمي مرکز له نظره تېر شي، متفرقه مرکزونه دې پر يوه واحد خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی مرکز بدل شي. دناوړه تبلیغاتو د مخنیوي لپاره دې هڅه وشي. پښتو دې د تعلیم، تعلم او مکاتبې ژبه شي، د پښتو د تالیفاتو ځانګه دې رامنځته شي، د ادبي معیار لپاره دې کوښښ وشي.

((په دې خبره به اوس زموږ د وطن واړه او زاړه پوه شوي وي چې پښتو د افغانستان مهمه ژبه ده، د افغانستان د بهبود او د دې وطن تنویر او معارف د پرمخ بیولو د پاره لازمه هم ده چې د وطن د نورو شئوناتو د انکشاف او مترقي کولو سره پښتو ته هم بشپړه توجه وشي.

ادبي انکشاف او ژبه تقویه کول د نورو بیدارو شوو اقوامو او مللو د نهضت په سرنامه کې ځای لري. موږ د حیات په ټولو خواوو کې تجدد او پېش قدمۍ ته اړ یو او تر یو څه حده په هره لیاره کې ان زموږ په وطن کې حرکت هم پیدا شوی او د تقدم اثار لیدل کېږي. مګر اجتماعي کارونه همېشه په یوه سویه پر مخ نه درومي کله اجتماعي حرکت تېزېږي او کله سکته پیدا کوي. مد و جزر د زندګۍ د جریان خاصه ده او په همدغه مد و جزر کې حیات یا صعود کوي یا نزول.

پښتو څه زمانه ښه پېشرفت وکړ، بیا دا هنګامه یو ناڅاپه سړه او غلې شوه. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د عصر نه مخکې په نږدې اعصارو کې پښتو یوازې د کلیو ژبه وه چې یوازې قدیم دېوانونه او ځینې دیني مسایل په کې د نظم په صورت خوندي شوي وو.

به دې دوره کې د اخبار، مکتب، تالیف او ترجمې د راډیو او خط او کتابت ژبه وګرزېده، د پښتو اکاډیمۍ ورته د پښتو ټولنې په نامه سازه شوه او هر څوک پوه شول چې افغانستان د خپلې ژبې (پښتو) خوا ته پوره توجو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وجهه ده چې د دنیا تبلیغاتي او نشراتي سرویسونه هم چې کوم وخت غواړی خپل اواز دې خاورې ته ورسوي، نو په پښتو خبرې کوي.

په مورنۍ ژبه کې خط او کتابت او په مورنۍ ژبه کې تعلیم او تعلم او په مورنۍ ژبه افهام او تفهیم چې د دې عصر د احتیاجاتو او مسلماتو څخه حسابېږي، یو بل شی هم دی چې موږ د پښتو تقویه کولو ته مجبوروي، چې هغه د پښتونستان اواز دی.

ټول پښتانه په یو اواز پښتونستان غواړي او د پښتونستان ژبه پښتو ده، اګر چې اعلیحضرت شهید محمد نادر شاه رحمة الله د خپل جلوس سره سم په کابل کې انجمن ادبي کابل او په قندهار کې د پښتو ادبي انجمن تاسیس کړ. مګر څومره چې د وطن په نورو شئوناتو کې قدم لیدل کېږي، نسبتاً زموږ ادبي خوا هغومره وړاندې تګ نه دی کړی. موږ پخپله په ادبي خوا کې نه په پاړسۍ او نه په پښتو څومره چې ضرورت او د وخت تقاضا ده ادبي بروز نه دی کړی. مګر دومره چې پاړسي بل څوک هم لري او پښتو بل هېڅ د امید ځای نه لري، بې افغانستانه دا خبره باید زه بیا تکرار کړم چې دا عصر د پښتو د پاره خورا غنیمت عصر دی او د پښتو د تقویه کولو زیات امید او هیله ورڅخه کېدلی شي.

په دې ځای کې چې کومه خبره زه کول غواړم، هغه دا ده چې پښتو باید تقویه شي. یعنې ښه ترا – د تقویه کولو لیارې یې د پښتو ټولنې تقویه کول دي.

پښتو ټولنه باید د حقیقي اکاډیمې حد ته ورسولی شي، زه عقیده لرم چې حکومت په دې باب کې د هر پېشنهاد منلو ته تیار دی اوس باید پښتو ټولنه د پښتو د پاللو مرکز وبلل شي. دغه متفرق کوششونه چې د پښتو په نامه په وزارت حربیه یا معارف کې کېږي. دا باید د توحید مساعي رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبول کاندي. د ټولو کورسونو انتظام باید له یوه ځایه وشي. د پښتو په باب هر قسم تالیف او تصنیف باید د یو قوي مرکز د نظر نه تېر شي د پښتو د لغاتو د راغونډولو له پاره باید سیار هئیتونه چې په عین زمان کې جغرافیایي او تاریخي تحقیقات هم وکولی شي باید جریان ومومي.

د نورو اصطلاحاتو او عصري لغاتو د پاره یو کمېسیون لازم دی چې د ژبې د فلالوژۍ د اصولو سره سم مجوزه لغات ترتیب او نشر یې کاندي او بیا د دغه ترتیباتو پر اساس د پښتو د دایرة المعارف اساس کېښودل شي د پښتو دایرة المعارف پس له دې محض د ترجمې په صورت وړاندې بیول گران کار دی.

د پښتو تالیفات چې تر اوسه منځ ته راغلي دي. اگر چې زیات اهمیت لري ولې د ادب په ناقدانه تله نه دي تللی شوي، ډېره ضروري ده چې د پښتو معیاري ادب خلک وپېژني.

زموږ په وطن کې هر شي یو مرکز لري. مگر بدبختانه د پښتو په باب دغه مرکزیت تر اوسه عملاً لاس ته ندی راغلی زه نه وایم چې دغه مرکز دې څوک او چېرته وي مگر دا وایم چې د پښتو د تقویه کولو د پاره دغه تمرکز ضروري شي دی. دا خبرې چې دلته ما ولیکلې د یوې نظریې په صورت مې اظهار کړې، هیله ده که د قبلولو او د تائید وړ وي، متفکرین او عاملین به یې له نظره ونه غورځوي.!!! (۲۳: ۳۴۰ - ۳۴۱)

استاد خادم د یوې ژبې، له هغې جملې څخه د پښتو د لغوي زېرمې د بډاینې یوه لاره دا گڼي چې پخواني لغتونه، متروکې کلمې او یا هم تغیر شوې کلمې بېرته راژوندی او ورغول شي او دژبې ورځنۍ محاورې ته داخلې شي. اوسني ژبپوهان هم د استاد خادم له دې نظر سره موافق دي، هغوی هم وایي چې د یوې ژبې د بډاینې او خوندیتابه لپاره څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال معیارونه ټاکل شوي دي، یو دا چې د یوې ژبې پخواني متروک لغتونه باید بیا له سره راژوندي او د ورځنۍ محاورې برخه شي. دویم ګړدودونو ته باید مراجعه وشي او له هغو څخه لغوي زېرمه راټوله شي، دریېم نوي لغتونه باید جوړ شي او څلورم له نورو ژبو څخه باید ضروري لغتونه پور شي. دوی د دې هر یوه لپاره (۲۵) سلنه ونډه ټاکلې. که څه هم دا د ریاضي د فورمول په شان د تطبیق وړ نه ده، ځینې برخې به یې زیاتېږي او کمېږي، خو په دې برخه کې یو معیار ګڼل کېږي، خادم صیب هم د لومړي معیار یادونه کوي. هغه د ژبې د پخوانیو لغتونو د بیا ژوندي کولو په ترخ کې د ځینو هغو پښتو لغتونو ریښې ته متوجه شوی چې دی ورسره په جنوبي ولایاتو کې د سفر پر مهال مخامخ شوی و، د دې لغتونو بڼه اوس اووښتې، خو ده یې د خپل تحلیل له مخې ریښه پیدا کړې چې له اره پښتو لغتونه دي. خادم صیب په (پښتو پخواني نومونه) لیکنه کې وایي:

((چې سړی د افغانستان کاڼي بوټي، غر او درو ته ګوري، نو لږ شانې فکر او تعمق وکاندي، د دې ملک هره تیږه او لوټه پښتو پښتو نارې وهي، د دې ملک تقدیر د پښتو او پښتونولۍ سره اخښل شوی دی، مګرم متاسفانه پښتانه غافل دي او دپښتو او پښتونولۍ په ښکلي مخ خاورې او ایرې اچول شوي دي او اچول کېږي، دپښتو سپېڅلي نومونه عمداً یا سهواً او غفلتاً بدل شوي او بدلېږي، په دې باب کې باید پښتانه ادباء محتاط اوسي، زه دلته یو څو مثالونه راوړم چې د جنوبي ولایت د سفر په څو ورځې فراغت کې مې ورته پام شو او په دې باب کې صداقت د خوست قاضي هم ما سره برخه لري.

۱- لوګر: ښکاره نارې وهي چې (لوی غر) دی، غورځېدلې ده او (غ) په (ګ) بدل شوی دی او دا تغیر دومره متعارف دی چې هېڅ ثبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته حاجت نه لري او مشاهدات هم دلالت کي چې دغه ځمکه د لويو غرونو منځ کې راګير ده.**

**۲- تېره: د (ر) په زوروالي او زور د (تېز) په معنا اول مذکر او دويم مونث صفت دی، د (تېرې کندو) په معنا د (تېرې څوکې کنډو) دی او دا يو غابنی دی چې غر يې ډېر نېغ دی، يا (تېره کندو) دی، غير اهل لسانو (تېرې کنډو) کړی دی، دا د هغه غره کنډو دی چې لوګر له ګردېزه بېلوي.**

**۳- ګردېز: په يقيني صورت سره (غرديس) دی، يعنې (غرنی) ديس د ملک په معنا پخوانۍ پښتو کليمه ده، لکه پرديس يعنې (پرديس ديس) پردی ملک او دغلته چې سړی ورشي، نو معلومه شي چې شاوخوا د لوړو غرونو او ځنګلونو سلسلې موجودې دي، معلومېږي چې زموږ پخواني پوونده پلرونه د زرګونو کالو څخه د خپلو مالونو سره دلته راتله او اوسېدل، د هغو اثار اوس هم دلته شته.**

**۴- خوست: په پښتو کې اوس د خوښت لغت د لوند په معنا موجود دی او (خيشت) د لوند په معنا ژوندی دی. (خېست) يوه لهجه ده، په خوشت او خيشت کې او دا ځمکه چې د غرونو په لمن او منځ کې پرته ده ډېرو بارانو او برساتو او د لوړو غرونو د زيم په واسطه همېشه لمده وي او اوس هم په خپل زيم اباده ده، که نه نو کوم سيند او جاري اوبه نه لري.**

**۵- هېرمند: غلط تلفظ دی، سهي يې هلمند دی، چې د ايلبند څخه جوړ شوی دی، ايلبند په پښتو کې د مال د پرېښودو ځمکې ته وايي، چې پرته له پيوونکي پکې مال څري، يقيناً دغه لوړې ځمکې چې د هلمند ناوه ترې راغلې ده، د ډېرو پخوانو زمانو څخه د مسلسلو او دايمي بارانو او واورو او ډېرو وښو په واسطه زموږ د مالدارانو نيکونو، د هستوګنې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای و چې ژمی به په تودو ځمکو او اوړی به دغو ځمکو ته لکه نن چې هم لیدل کېږي راتله.

٦- **کونړ**: په اصل کې (کنډ) دی، چې اوس هم دا نوم او دا لهجه د ننگرهار په پښتو کې موجوده ده، کنډ دغه غره ته وايي چې ننگرهار له شمالي ولاياتو بېلوي، چې لر سر ته یې پنجشیر او کوز سر ته یې نورستان او چترال پراته دي، پامیر د دغه غره لوړه څوکه ده او خلک دا غر هندوکش بولي پښتانه ورته کنډ وايي، ځکه کنډ سرپرې کړي شي ته وايي، کونډه ښځه هم سر پرېکړې غونډې ده او دا غر هم د ډېرو او مسلسلو واورو په واسطه په پورته حساب باندې ونې او بوټي نه لري، لکه سر پرې کړی دغسې دی، نو ځکه یې کونډ بولي.

٧- **زرلمه**: زر خو معلوم (هزار) ته وايي او (مله) د مېله یوه لهجه ده، مېله او مېنه یو شی دی او (زرمله) د (زر مېنو) او (زر کورو) په معنا ده، نو منسوب اسم یې (زرمتی) غلط دی. (زرملی) صحیح دی.

٨-**گرشک**: په اصل کې (غر او رسک) دی او دا معلومه خبره ده چې دغه ځای د غرونو په لمن کې او پوزه کې واقع کې دی، په دغه مناسبت سره دا نوم بېلکل صحیح دی.

٩- **تگاو**: په اصل کې له (تگ او) نه جوړ دی، (تگ) او (او) اوبو ته وايي، دلته هم ډېرې درې او شېلې راوتلي دي، نو څوک یې چې تگاب لیکي ظلم دی.

١٠- **ارغنداو**: په (ارغنداب) لیکل غلط دی، په اصل کې (ارغنداو) دی، د (اصیلې اوبه) په معنا دی.

په لږ وخت کې چې زه اوزگار وم، د دغو کلیمو په اصالت پوه شوم، هیله ده چې ملي نویسنده گان دا کلیمې غلطې نه کړي او رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مقامات یې په رسمیت وپېژني. په دغه شان د دې ملک غر او سمه پښتو پښتو نارې وهي.)) (۲۴: ۲۷۹-۲۸۰)**

**د ژبې، ژبپالنې او پښتو ژبې د پرمختګ او ترقۍ په برخه کې خادم صیب ډېرې زیاتې لیکنې کړي دي چې موږ یې د څو لیکنو متن د بېلګې په توګه راوړ او د ځینو نورو مو یوازې عنوان ته نغوته وکړه، خو ددې ډول لیکنو شمېر ډېر زیات دی. د خادم صیب په منصور کلام کې د ژبپالنې پر ګڼو لیکنو سربېره د هغه په منظوم کلام کې هم ګڼ شمېر داسې نظمونه شته چې ټول او یا یې یوه زیاته برخه همدې پښتوپالنې او ژبپالنې ته ځانګړې شوې ده. د (زور د استعمار) په نامه یوه نظم کې په پښتو ژبه د استعمار ظلم او انحصار ته اشاره کوي او هغه له پښتو ژبې سره سخت مخالف ګڼي:**

زور د استعمار په پښتو ژبه دی
ځکه چې ټول کار په پښتو ژبه دی
هر څه شو ازاد او پښتو بنده شوه
دومره انحصار په پښتو ژبه دی
دا کاروان به ځي یا به ولاړ وي تل
ولې؟ چې یې بار په پښتو ژبه دی
نه شته ازادي بې له پښتو ځنې
دغه مو شعار په پښتو ژبه دی
وګوره خادمه دا دې شعر دی
او که سور انګار په پښتو ژبه دی))
(۱۲: ۱۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد په یو بل نظم کې په بره او لره پښتونخوا کې د پښتو حالت ته اشاره کوي، هغه د اندېښنې وړ بولي، دی دې نظم ته د (پښتو دلته او هلته) نوم ورکوي او په دواړو ځایونو کې دپښتو پر حال ځورېږي. دی په دې نظم کې وايي:**

((روغــه پښــتو ماتــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
خونــه مــو میراتــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
چېرتــه چــې پښــتو نــه وي، څــه بــه تــرې امیــد کــوو
دا آرزو مــو پاتــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
دلتــه مــو پارســي وهــي ،هلتــه مــو هنکــو وهــي
ژبــه مــو وفاتــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
گرځــو پــه حکومــت پســې، درومــو پــه دولــت پســې
نــن چــار مــو ســبا تــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
زور پــه ثقافــت کــې دی، نــه چــې پــه حکومــت کــې دی
لاره مــو بــل خــوا تــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
وایـــي پښـــتو شـــاړه ده، دا ژبـــه ویجـــاړه ده
دا ملنـــډه زیاتـــه شـــوه، دلتـــه هـــم او هلتـــه هـــم
ځوان کول مو غویمې کوي، زوړ را کې پلمې کوي
هیلــه مــو مــولا تــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
شـــرم رانـــه لاړلـــو، مـــړ شـــولو غیـــرت زمـــونږ
مخــه نــا روا تــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم
مــړ محمــد گــل خــان شــولو، زوړ فخــر افغــان شــولو
مخکــې پښــتو شــا تــه شــوه، دلتــه هــم او هلتــه هــم))
(۱۲: ۱۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په یوه څلوریزه کې چې (پښتون او پښتو) نومېږي، پښتو ژبه د پښتون قام ساه ګڼي چې له هغې پرته ورته ژوند ناشونی دی او همدارنګه په هر ډګر کې بیا د سیاست لپاره د ساه حیثیت لري:**

پښتون او پښتو

پښـــــتو ژبــــه د پښـــتون د تېـــر ســــاه ده
پــــه میـــدان د سیاســـت کـــې یـــې امســـا ده
اوس ګیــــر شـــوی هـــم د ژبـــې پـــه ګنــاه دی
((خپلـــه ژبـــه هـــم کـــلا ده هـــم بـــلا ده )).

**په یوه بله څلوریزه کې (د انګرېز چل) ته اشاره کوي چې تر هغه پورې دلته ناکام و چې پښتو یې زده نه وه، کله چې یې پښتو زده کړه او د پښتنو په کلتور پوه شو، نو بیا یې پښتنو ته چل جوړ کړ.**

د انګرېز چل

پرنګـــي چـــې پـــه پښـــتون بانـــدې یرغـــل کـــړ
خپـــل عکســـر یـــې د پښـــتون پـــه سـیمه دل کـــړ
دی هغـــه وخـــت پـــه پښـــتو ژبـــه نـــادان و
خو چې پوه شو، نو پښتو ته یې ساز چل کړ.

**استاد خادم د پښتون مقام په پښتو کې ګڼي او چې پښتو له چا څخه تللې، هغوی په مړو کې حساب شوي دي.**

پښـــــتو مـــــو ژبـــــه، پښـــــتو مـــــو ســـــا ده
افغانــــــه پـــــــوه شـــــــه، دا مـــــــدعا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې چــا نــه لاړه، هغــوی خــو مــړه شــول
اوس مــو دې پــاتې، قــام تــه ســودا ده.

استاد خادم هغو پښتنو ته هم نغوته کړې چې پښتو يې هېره شوې او د هېواد په بېلابېلو سيمو کې اوسي. دی دا ډول پښتانه له (قامه وتلي پښتانه) بللي دي:

کابــــل هــــرات دی، کــــه کوهــــدامان دی
بلــــخ او تخــــار او کــــه کهســــتان دی
زيــــات پښــــتانه دي، ان تــــر بادغيســــه
خــــو کــــار د ژبــــې، تربنــــه لــــږوران دی.

استاد خادم د يو ملت په جوړښت کې د ژبې ارزښت ته اشاره کوي، دی وايي له ژبې پرته ملت نه جوړېږي، خو پښتون لا پر دې حقيقت تر اوسه هم خبر نه دی:

ملــــت پــــه ژبــــه بانــــدې جــــوړېږي
دا کــــار بــــې ژبــــې بېخــــي نــــه کېــــږي
ټولــــه دنيــــا ده، پــــه دې خبــــره
پښــــتون لا اوس هــــم، پــــرې نــــه پــــوهېږي.

استاد خادم د پښتنو پر غفلت خوږېږي او وايي چې (نور به خير غواړو)، يانې کېدی شي، حالات تر دې هم خراب شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــه دا غفلـــت وي، پښـــتو ورکېـــږي
چـــې پښـــتو لاړه، پښـــتون ډوبېـــږي
تللـــی خـــو تللـــي دي، خیـــر بـــه غـــواړو
پـــه پـــاتې قـــام مـــې اوس زړه رپېـــږي.

خادم صیب د پښتو ژبې د خدمت په لار کې د هغو اتلانو یادونه هم کوي چې د پښتو لپاره یې بې شانه قرباني ورکړې ده. دی د (محمد گل خان مومند، صمد خان اڅکزي، صادق کاسي او قاضي عطاء الله) نومونه یادوي او وایي:

چـــې زړه یـــې وچـــاود محمـــد گل خـــان دی
چـــې بـــم پـــرې پربـــووت، دا صـــمد خـــان دی
صـــادق کاســـي هـــم، پـــه پښـــتو مـــړ شـــو
د قاضـــي مـــرگ مـــو پـــه زړه ارمـــان دی.

استاد وایي کومو پښتنو چې پښتو پرې ایښې، نو هغو ته یو ډول (استعماري مصونیت) حاصل دی. دی وایي چې فارسي ته تمایل پیدا کړه او یا هم اردو ته قایل شه، نو بیا دې هر څه خوندي دي. که څه هم دا ډول مسایل بیانول به ځینو ته د زغم وړ نه وي او اتومات به پر استاد او نورو ورته اشخاصو باندې د تعصب ټاپه لگوي، خو له دې واقعیت څخه هم سترگې پټېدلای نه شي:

یـــا دې فارســـي تـــه، زړه کـــې مایـــل وي
یـــا دې اردو تـــه پـــه خولـــه قایـــل وي
پښـــتو دې پربـــږدي، نـــور چـــې هـــر څـــه کـــا
مصـــــونیت بـــــه، ورتـــــه حاصـــــل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خادم صیب له یو بل حقیقت څخه هم پرده پورته کوي، هغه پښتانه چې پښتو خرڅوي او د ده په اصطلاح (پښتو ته لغتې ورکوي) نو هغه ډېر ژر لوړتیا او منصب ته رسېږي:**

اوس هـــر چـــا زده کـــړه د لوړتیـــا چـــاره
و لـــــــوړ مقـــــام تـــــــه د ختـــــــو لاره
یـــو څـــو لغتـــې پښـــتو تـــه ورکـــړه
چـار بـــه دې ښـــه شـــي بـــې لـــه څـــه زیـــاره.

**دی په دې لړ کې یو بل حقیقت ته هم متوجه کېږي، تر هغه چې پښتانه (له پښتو انحراف) و نه کړي، که څومره لوړه پوهه ولري، نو بیا به هم لوړ مقام ته ونه رسېږي:**

نـــه بـــه پوهانـــد شـــي، نـــه بـــه وزیـــر شـــي
نـــه بـــه لیـــډر شـــي، نـــه بـــه امیـــر شـــي
څـــو چـــې لـــه خپلـــې، پښـــتو وانـــوړي
پښـــتون کـــه هـــر څـــو پـــه علـــم میـــر شـــي.

**استاد خادم دا ډول حالت پر پښتنو یو قیامت بولي او عوامل یې په ګوته کوي:**

نـــن پـــه پښـــتون او پښـــتو قیامـــت دی
وخـــــت د ذلـــــت او د حقـــــارت دی
لـــــه اســـــتعماره، دا حکـــــم شـــــوی
پښـــتون جاهـــل دی، پښـــتو بـــدعت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خادم صیب په یوه بله څلوریزه کې د الله تعالی قانون ته اشاره کوي چې خپل رسول یو قام ته د همغه قام په ژبه لیږي او دا کار خدای ته مقبول هم دی، نو افغانه ته بیا د بل په ژبه ولې فخر کوې او دا ناوړه کار ترسره کوې؟**

د قــــام پـــه ژبـــه، هـــر یـــو رســـول دی
خدای (ج) تـه پـه دې کـار، هر یـو مقبـول دی
د بـــل پـــه ژبـــه، فخـــر بـــه څـــه کـــړې
افغانـــه دا کـــار، دې ډېـــر فضـــول دی.

**بیا (د قام رسول) په نامه په یوه بله څلوریزه کې د اسلام له نظره، مورنۍ ته د ژبې اهمیت واضح کوي او وایي:**

لســـان قومـــه، مـــونږ تـــه ارشـــاد دی
رســـول د قـــام دی، دا یـــې مـــراد دی
چـــې پـــه اســـلام کـــې لـــه قـــام منکـــر وي
پـــوه شـــوی نـــه دی، غریـــب برېـــاد دی.

**خادم صیب په کابل کې د پښتو ژبې له حالت ډېر خوږېږي او بیا یې ورته (کابل او پښتو) په نامه یو نظم لیکلی دی، په دې نظم کې یې هغه ناخوالې یادې کړې چې په کابل کې پښتو او پښتانه ورسره مخ وو. دلته یې څو بندونه رااخلو:**

چـــې پښـــتو نـــه لـــري افغـــانن بـــه څـــه وي؟
لا بـــې غیرتـــه مســـلمان بـــه څـــه وي؟
ځکـــه مـــین زه پـــه پښـــتو شـــولمه
چـــې خـــودي نـــه لـــري انســـان بـــه څـــه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

کابلـــه زړه د کـــوم هېـــواد یــــې تـــه
د چـــا لـــه فیضـــه نـــه ابـــاد یـــې تـــه
لـــږ خـــو دې ځـــان او بیـــا پښـــتون وګـــوره
دا چـــا ازاد کـــړې، کـــه ازاد یـــې تـــه؟

***

پښـــــتو ددې هېـــــواد ملـــــي ژبـــــه ده
لا ورســـــره هـــــم بیـــــا رســـــمي ژبـــــه ده
مخالفـــــت د پښـــــتو نـــــه دی روا
چـــې دا ددې خـــاورې بـــومي ژبـــه ده

***

کلـــه دې و خـــوړو پـــه زور کابلـــه
اوس را نـــه شـــوکه کـــړې پـــه شـــور کابلـــه
د تعصـــب او د فاشســـت پـــه چغـــو
ځـان دې کـړو سـپین او مـونږ دې تـور کابلـه.
(۳۱۱:۱۲)

استاد خادم د پښتو پر هغه حالت اندېښنه څرګندوي چې وخت پر وخت پرې تجارت کېږي، که څه هم پښتو داکثریت ژبه ده، خو هېڅکله هم خپل حق ته نه ده رسېدلې:

پښـــــتو لســـــان د اکثریـــــت دی
ټینـــګ پـــه دې ټکـــي، افغـــان ملـــت دی
خـــو پـــه عمـــل کـــې چـــې ورتـــه ګـــورو
پـــه پښـــتو شـــوی تـــل تجـــارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بله څلوریزه کې بیا پر پښتو ژبه لوبې غندي او پر دې خواشیني څرګندوي چې پښتون پوه نه شو چې څنګه یې پر ژبه لوبې کېږي:

اکثریـــــت چـــــې تـــــل تکرار بــــږي
افغــان ملــت چــې، مــو نږ تــه یــا دیږي
مــراد یــې څــه دی، پښـــتون پــوه نــه شــو
پـــه پښـــتو ژبـــه چـــې لـــو بې کېـــږي.

استاد (د ملي ژبې قانون) ته هم اشاره کوي، خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې که څه هم قانون کې همېش پښتو ته د ملي او لومړۍ ژبې مقام ورکړل شوی، خو په واقعیت کې پښتو خپل دې حق او مقام ته نه ده رسېدلې:

د ډېـــــرو خلکـــــو ژبـــــه ملـــــي وي
معنـــــا یـــــې داده، چـــــې دولتـــــي وي
دنیـــــا منلـــــی، دغـــــه قـــــانون دی
پـــه دې پـــوهېږي، چـــې څـــوک ســـړي وي.

خادم صیب د یوې ژبې توهین د هغې د قام توهین ګڼي او نمانځل یې د هغه قوم نمانځه ګڼي:

تــــوهین د ژبــــې تــــوهین د قــــام دی
نمانځــــل د ژبــــې یــــو لــــوی مــــرام دی
پښـــــتو ملـــــي وه، ولـــــې شـــــوه تېتـــــه
دا ســـــوال پـــــه مینـــــه او احتـــــرام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد خادم یو ځل بیا پر پښتو ژبه کېدونکې متواترې لوبې یادوي او د علت پوښتنه یې کوي:**

پښـــــتو جګـېــــړې ببرتـــــه ټيټـېـــــړي
دا کـــوم کســـات دی چـــې نـــه خلاصـــېږي
لــــه میـــرویس خانـــه، تـــر نـــن زمانـــه
پـــــه پښـــــتو ژبـــــې دا لـــــوبې کېـــــږي.

**خادم صیب پښتو ژبې سره د کېدونکي ظلم په برخه کې تر هر چا زیات د پښتو خپل پښتانه مخالفین د ملامتۍ وړ بولي، په دې برخه کې وايي:**

څوک ناپوه شو، څوک محتـاط او څـوک بـد بین شـو
د پښـــتو بیـــاض چـې سـپین پـا تـــه و سـپین شــو
پښـــــتانه د پښــــتو ژبــــې مخـــــالف شـــــول
سرنوشـــــت د پښـــــتو دغســـــې تعـــــین شـــــو.

**نو د یو شمېر پښتنو د همدغې بې تفاوتۍ او بې کفایتۍ له امله د پښتو او پښتون نتیجه ښه نه ګڼي او په پای کې وايي:**

نــه پوهانــد نــه بــه ریــیس نــه پــه وزیــر شــي
هـــر پښـــتون چـــې د پښـــتو طرفـــداري کـــا
هو !دا ټول ترې جوړېدای شي خو شـرط دا دی
چـــې څرګنـــده د پښـــتو نـــه بېـــزاري کـــا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پښتو ژبې د پرمختګ او پیاوړتیا لپاره د خادم صیب یو ارمان دا و چې علمي مرکزونه دې جوړ شي، سیمینارونه دې جوړ شي، ژبه دې معیاري شي او لیکدود دې اصلاح شي. خادم صیب که څه هم د پښتو د پرمختګ په برخه کې له پښتنو څخه ناراضه و او دې نارضایتۍ ته موږ دمخه اشارې وکړې، خو د (باړګلۍ سیمینار) چې د پښتو ژبې د لیکدود د سمون لپاره جوړ شوی و او دا یې لومړی سیمینار و، د خادم صیب ګډون په کې ده ته د خوښۍ سبب څکه و چې د ده د ارمان لپاره یې کار کاوه. په دې سیمینار کې ګڼ شمېر پښتو پوهانو ګډون کړی و او خادم صیب هم د دې سیمینار برخوال و. د باړ ګلۍ ښایسته سیمې او د سیمینار چاپېریال د خادم صیب پر ذهن مثبت تاثیر کړی و، نو څکه یې دا یو نظم ورته لیکلی دی. نظم پر محتوایي بډاینې سربېره لفظي او هنري ښکلا هم لري. دلته به دې نظم ته تم شو:**

راټول د پښتو ژبې شول پوهان باړه ګلۍ کې
هوا لګي سپېڅلې د پغمان باړه ګلۍ کې
شنه غرونه جګ سرونه لوړې ځوړې ځنګلونه
شین پوښ دي درې، لکه اسمان باړه ګلۍ کې
ناوونه، ګړنګونه، سختې تېرې هلې دلې
ځای ځای ښایسته کورونه نمایان باړه ګلۍ کې
نه ښار شته او نه کلی نه باغونه نه مېوه شته
نه ګل شته، نه بلبل او نه خبان باړه ګلۍ کې
چې شته نو څو کوټې دي، یو سرک ورته راغلی
یو څو دي ترهېدلي اشنایان باړه ګلۍ کې
دلبر چې چېرته نه وي، نو رقیب به هلته څه کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــو ځکــه دلتــه نشــته غمــازان بــاړه ګلــۍ کــې
بلبلــه، نــه کــوتره، نــه مــې زرکــه پــه نظــر شــوه
شــادیانې پــه کــې ګرځــي او کارغــان بــاړه ګلــۍ کــې
مــري لــره وردرومــه کــه د ســترګو اوبــه غــواړې
تــش لــړې دي، څــه وربځــې او بــاران بــاړه ګلــۍ کــې
د ځمکــې مخ لا وچ نــه وي چې بیا پــرې څاڅکې اوري
ســـړي وي پـــه ارزو د شـــنه اســـمان بـــاړه ګلـــۍ کـــې
چــې (بــره ګلــۍ) ګــورم او بیــا (کــوزه ګلــۍ) هم شــته
نــو (کلــۍ) د پښــتو شــي راعیــان بــاړه ګلــۍ کــې
رقیــب بــه زهــره چــاودی شــي لــه ګرومــه کــه خبــر شــي
چــې ځنګــه ســیمینار و عالیشــان بــاړه ګلــۍ کــې
پښــتو زمــونږه پــت دی بــې لــه دې بــه ژونــدون څــه وي
لګیــا وربانــدې ځکــه دي ځوانــان بــاړه ګلــۍ کــې
قربــان د پښــتونخوا د ښــکلي قــام لــه ژبــې شــمه
چــې لــوړه پــرې شــمله شــوه د افغــان بــاړه ګلــۍ کــې
رســا! طرحــه دې کېښــوده، تــه لاړلــې کابــل تــه
نــو کېــږي بــه پــه تــا پســې ارمــان بــاړه ګلــۍ کــې
ښــې ورځــې، ښــه ســاعت و، پښــتانه لکــه ګلونــه
یــو ګــل د دې بــاغچې و (پرېشــان) بــاړه ګلــۍ کــې
هــر څــه کــه رانــه هېــر شــي (مولانــا) بــه مــې هېــر نــه شــي
خوښــۍ پســې زمــونږ بــه و روان بــاړه ګلــۍ کــې
خـــادم پـــه تـــوده مینـــه د پښـــتو او پښـــتونوالې
شــل ورځــې کړلــې تېــرې پــه ښــه شــان بــاړه ګلــۍ کــې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه پر یادو نظمونو او نثرونو سربېره د خادم صیب په منثور او منظوم کلام دواړو کې ګڼې نورې داسې بېلګې هم شته چې پښتو، پښتو پالنې او ژبپالنې ته ځانګړې شوي، خو پر ټولو بحث د یوه بل ځانګړې اثر  یا کتابګوټي ایجاب کوي، دا څو بېلګې مو دده د ګڼو اثارو له څرنګوالی سره د اشنایی او بېلګو په توګه راوړې.

د دې درېیمې برخې یا څپرکي په پای کې چې ټول د استاد خادم افکار یا نړۍ لید ته ځانګړی شوی او تر (۹) بېلابېلو سرلیکونو لاندې مو د خادم صیب افکار او نړۍ لید وڅېړه، دا په دې مانا نه ده چې د خادم د فکر وړانګې د ژوندانه نورو برخو ته نه دي وررسېدلې، خادم صیب پر نورو برخو، لکه : کلتوري، ادبي، سیاسي او نورو برخو هم ګڼ شمېر لیکنې کړې دي چې ځینو ته یې په ضمني ډول په همدې بحثونو کې اشاره وشوه، خو په ځانګړي ډول د هغو د هرې یوې څېړنه همدغسې جلا جلا بحثونو  ته اړتیا لري، خو ما له خپلو مفرداتو سره سم هغو موضوعګانو ته زیاته پاملرنه وکړه او څه نا څه رڼا مو پرې واچوله چې مخکې تر مخکې مشخص شوي وو.

ددې خبرې یادول هم په کار دي، ما چې د دې اثر د لیکنې په نیت د خادم صیب بېلابېل اثار وپلټل، نو دا خبره راته لا ښه څرګنده شوه چې د خادم صیب د ټولو اثارو شننه د دوکتورا دورې په یوه اثر کې شونې نه ده، نو زه هم مجبور شوم په ټولو برخو کې له لنډیز څخه کار واخلم. هیله ده د درنو لوستونکو دې ټکي ته پام وي. اوس راځم د دې درېیمې برخې نچوړ ته:

په دې برخه کې موږ د خادم د نړۍ لید (۹) بېلابېلو برخو ته نغوته وکړه، په دې کې د خادم د  فکر تر ټولو زیاته او درنه برخه همغه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي گام کې ملت او ملتپالنې او په دويم گام کې ژبې او ژبپالنې ته وقف شوې ده.

نورې برخې هم په کې مطرح دي، خو په هغه کچه نه دي چې له دې یادو دوو برخو سره پرتله شي. که څه هم د رياضي د ارقامو له مخې د افکارو سلنه معلومول اسانه کار نه دی او نه هم په دقيق ډول محاسبه کېدلای شي، خو بیا هم که له رياضي څخه د یوې اټکلي محاسبې په توگه کار واخلو او د استاد خادم د افکارو د موضوعي وېش له مخې د هغه د افکارو سلنه معلومه کړو، نو داسې یوه بڼه به غوره کړي:

ملتپالنه: ۴۰ ٪

دينپالنه: ۴ ٪

ټولنپالنه: ۷ ٪

سمونپالنه: ٦ ٪

كره كتنه: ۸ ٪

ښارپالنه: ۲ ٪

د فلسفي افكارو روزنه: ۳ ٪


سيمه ييزه او نړيواله انگېرنه: ۴ ٪

ژبپالنه: ۱۵ ٪

متفرقه افكار: ۱۱ ٪

(c) ketabton.com: The Digital Library






که څه هم دا وېش سل په سلو کې دقیق نه دی، خو موږ ته د موضوعي وېش له پلوه د خادم دافکارو یو ټولیز تصویر څرګندولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه برخه

## خادم د نورو لیکوالو له نظره

لکه څنګه چې څو ځله مو دمخه یادونه وکړه استاد قیام الدین خادم په شلمه پېړۍ کې د پښتو ادب یو ځلاند ستوری او پخه سټه ګڼل کېږي او د فکر وړانګو یې د ژوند بېلابېلې خواوې روښانه کړي دي. دغسې د خادم د زمانې ډېرو لویو لیکوالو د خادم خدماتو ته په درنه سترګه کتلي، هغه یې ستایلی او منلي دي. د هغه د ژوند او په تېره بیا پر فکري نړۍ لید یې پر خپل وخت څرګندونې کړي دي. د خادم تر ژوند وروسته هم ګڼو لیکوالو د هغه د فکر پر لیدلوریو او اثارو څرګندونې کړې دي. یو شمېر بهرنیو ادبپوهانو او د افغاني ادب متخصصینو هم خادم د خپلې زمانې یو لوی او ریالستیک لیکوال بللی دی. دلته غواړم د خادم د شخصیت او فکري نړۍ لید په باب ددې پوهانو او لیکوالو نظریات څرګند کړم او ددې ترڅنګ یو شمېر نور لیکوال چې اوس لا هم ژوندي دي او د خادم مینه وال او لېوال دي او د هغه له فکره یې الهام او تاثر اخیستی، د هغو نظریات هم دلته راوړم، دا نظریات د خادم صیب د ځانګړو لیکنو او مستقلو اثارو په باب د مشخصو لیکنو، تبصرو، سریزو او تولیز جاج په بڼه مطرح شوي دي، دلته غواړم د لیکوالو همدا ډول نظریات په ترتیب سره راوړم، خو مخکې تر دې چې د لیکوالو نظریات راوړم، لازمه ګڼم د دې ټکي یادونه وکړم چې د دې لیکوالو له ځینو نظرونو څخه ددې کتاب په دریو تېرو برخو او همدارنګه دوو نورو برخو کې هم د ضرورت له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګټه اخیستل شوې ده. په دې نظریاتو کې به کوښښ وکړو چې د تکرار د مخنیوي لپاره هغه برخې بیا غبرګې نه شي، د دې ترڅنګ دلیکوالو په دې لیکنو کې چې د استاد خادم کوم نظمونه او یا نثرونه د بېلګو په توګه راوړل شوي، هغه بېلګې به هم د تکرار د مخنیوي لپاره نه راوړل کېږي او ددې تر څنګ ځینې لیکنې چې ډېره تفصیلي بڼه لري، کوښښ به وکړو چې د هغو هغه غوښنه برخه دلته راانتقال کړو، نو که دلته د لیکوالو لیکنې یا نظریات په کټ مټ او پوره ډول نه راوړل کېږي، نو علتونه به یې همدا وي چې ما ورته نغوته وکړه، دلته لومړی غواړم د کورنیو لیکوالو او پوهانو نظرونه راوړم:**

## الف- کورني لیکوال:


**په کورنیو لیکوالو او پوهانو کې تر ټولو لومړی، د پښتو ادب له پنځو ستورو څخه څلور ستوري راځي چې دوی د خادم د زمانې خلک وو، د پښتو ادب ستر پوهان وو، پنځم ستوری خپله خادم و. دا ستوري له لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالروف بېنوا او استاد پوهاند صدیق الله رښتین څخه عبارت دي. پر دې ستورو سربېره د خادم نورو هممهاله لیکوالو او د هغه تر نسل څخه یو پښت یا دوه پښته وروسته لیکوالو هم د استاد خادم د افکارو په باب خپل نظریات څرګند کړي دي. دلته غواړم ددې لیکوالو د نظریاتو یوه زیاته برخه او یا هم یې د نظریاتو غورچاڼ وړاندې کړم:**

**۱-استاد پوهاند عبدالحی حبیبي: اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو او دري ژبو پوخ لیکوال دی، په دواړو ژبو کې مهم او پاخه اثار لري، په تېره بیا دده ادبي، تاریخي او علمي څېړنې ډېرې ګټورې او د قدر وړ دي، اروابناد علامه حبیبي د استاد قیام الدین خادم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دده د دوران دنورو شاعرانو او لیکوالو د فکر او فورم د نوي والي په اړه خپل نظر داسې څرګندوي: ((په هغه دوره کې مونږ، لکه امین الله زمریالی، غلام جېلاني جلالي، قیام الدین خادم... شاعران لرو چې په فکري لحاظ خو باالکل نوي دي اما د فورم له پلوه هم د دوی په ځینو اثارو کې د نوي توب څرکونه وینو.



د پښتو ادب په تاریخ کې دغه درنه ډله د پخواني کلاسیک مکتب او نوي مکتب تر منځ د منځګړو حیثیت لري، دوی د ګذشته ګانو د ادبي روایاتو حامل دي او هغه زوړ ادبي میراث یې نوی نسل ته رانقل کړی دی او د پښتو ادب تاریخ هېڅکله د دوی مشکوره سعیه نه هېروي، دوی له خپل عصر او زمان سره مطابق په پښتو شعر کې نوي افکار داخل کړل.

دوی نوی نسل له وطني او ملي حقایقو سره اشنا کړ، دوی د پښتو شعر تنکی نهال وپاله، په ادبي روایاتو کې چې کومه وظیفه  د دوی پر غاړه وه، هغه یې په لکه غاړه اجراء کړه او د پیش قدمۍ عالي مقام یې وګاټه.)) (۵: ۲۵-۲۶)

پوهاند عبدالحی حبیبي د خپل پورتني نظر له مخې استاد خادم د هغو شاعرانو په ډله کې دروي، چې پښتو شعر یې د موضوع په لحاظ داسې یوې مرحلې ته ورساوه، چې د مینې پر موضوعاتو سربېره یې ټولنیز، سیاسي، اصلاحي او انتقادي مضامین په کې راونغاړل، په رښتیا هم چې دا درنه ډله د مخکښۍ  د عالي مقام خاوندان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد عبدالحی حبیبي د استاد خادم د اثارو او افکارو په باب په نورو کتابونو کې هم یادونه کړې، چې موږ ورته پر خپل ځای اشاره کړې، نه غواړو همغه خبرې یو ځل بیا دلته تکرار شي.**

**۲- استاد عبدالرووف بېنوا: استاد عبدالروف بېنوا، د پښتو ژبې لوی لیکوال دی او د دې ژبې په پرمختیا کې یې د قدر وړ کارونه ترسره کړي دي. د خپلې یوې لیکنې په ترڅ کې د استاد خادم د فلسفي افکارو په اړه لیکي: ((ښاغلی خادم د علمي شخصیت خاوند او د فلسفي افکارو څښتن دی، دده د ژوندانه زیاته برخه په لوستلو او**




**لیکلو کې تېره شوې ده او دده د لیکلو او لوستلو مهم مقصد پښتو ژبې ته خدمت کول او د خپل قام راویښول دي، چې په دې لاره کې یې زیار ویستلی دی او اوس هم لګیا دی زیار باسي، دده فلسفي افکار کله د علامه اقبال د افکارو رنګ اخیستی او کله درابندرناټ ټاګور معنوي فلسفي ته ورته دی، خو په دواړو لارو کې د افغاني تفکر طرز هم نه هېروي.))**
**(۲: ۲۹۱)**

**د یادونې وړ ده چې استاد عبدالروف بېنوا د (اوسني لیکوال) په لومړي ټوک کې د استاد خادم پر خپل قلم د هغه پېژندنه خپره کړې ده. د دې اثر په ګډون اکثرو لیکوالو د استاد خادم دپېژندنې لپاره یاد اثر د یو مهم اخځ په توګه کارولی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- **پوهاند صدیق الله رښتین: د پښتو ژبې له پنځو ادبي ستورو څخه دی، دی د پښتو ژبې په گرامر او لغتپوهنه کې لوی لاس لري او د استادۍ مرتبې ته رسېدلی دی.**



**پوهاند رښتین د استاد خادم پر نورو افکارو سربېره د هغه د یوه کتاب (پښتونولۍ) په هکله هم نظر ورکړی دی، هغه په دې باب وایي:**

**((ددې کتاب اهمیت په خپله د کتاب په نامه کې په داسې ډول ښکاره دی، لکه بوی، رنگ او ښایست چې دگلونو په غونچه کې یو ځای هم چاته ځان ښیي او پښتون د پښتنو تاریخي قوم نوم دی، پښتو د دوی خوږه او درنه ژبه ده، پښتونخوا د دوی د اوسېدو او زېږېدنې ټاټوبی دی... له بلې خوا چې دا مهمه موضوع د پښتو د یو قوي او پوخ لیکوال، ښاغلي خادم په قلم لیکل شوې ده، نو زموږ په نظر د کتاب اهمیت لا زیاتوي او موږ ته جرئت راکوي، چې دا کتاب هم د کابل په مجله کې او هم ځانله نشر کړو.)) (۱۰: سریزه) پر پورته نظر سربېره استاد رښتین د استاد خادم په باب په نورو برخو کې هم نظرونه څرگند کړي چې هغو ته موږ په خپل ځای کې اشاره کړې ده.**

۴- **کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي: استاد روهي د پښتو ادبیاتو یو مسلکي څېړونکی او لوی ادبپوه دی، له استاد خادم سره یې له نږدې پېژندل، د هغه اثار او افکار یې ښه تحلیل کړي دي. اروانښاد کاندید اکاډمیسین سر محقق محمد صدیق روهي دده او د ده د نورو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همعصره لیکوالو په اړه په خپل کتاب (د پښتو د ادبیاتو تاریخ معاصره دوره) کې لیکي. ((کله چې د ویښ زلمیانو پر ادبیاتو باندې بحث کېږي، د نو لومړي ځل لپاره د حبیبي، الفت، بېنوا، خادم، رښتین او رشاد نومونه په ذهن کې تداعي کېږي، ځکه چې د پښتو د معیاري ژبې، لیکدود (املا) او ادبي سبک په پالنه کې یې ډېر ستر خدمتونه تر سره کړي او زیات شاګردان یې روزلي دي.



لوی استاد (حبیبي) او فاضل استاد (رشاد) دواړه د ادبي او تاریخي څېړنو سرلاري او په خپله برخه کې د تبحر په لحاظ بې سارې دي، محترم استاد پوهاند رښتین هم په ګرامر او ادبي تاریخ کې لوی لاس لري. الفت ، بېنوا او خادم که څه هم ادبي څېړنې ترسره کړي، خو هغوی زیاتره د ویښتیا د دورې د نامتو شاعرانو په توګه شهرت لري.)) روهي صاحب دا هم زیاتوي چې ((خادم صاحب د پښتو او پښتونولۍ او دهېواد له ترقۍ سره ډېره مینه درلوده، هغه د ښو احساساتو خاوند او د لهجې صراحت یې درلود. ))

استاد روهي د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) کې د استاد خادم په باب بحث کړی چې هغه ته مو پله بله برخه کې ځای ورکړی، نو ځکه نه غواړو، هغه خبرې یو ځل بیا دلته تکراري بڼه خپله کړي.

**۵- استاد سعد الدین شپون:** استاد شپون چې تر استاد خادم وروسته پښت کې د پښتو ژبې یو تکړه لیکوال او نقاد دی، د استاد خادم اثار یې پر خپل وخت هم تحلیل کړي او هم ارزولي دي، د استاد خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library





کلام یې د پرمختګ له پلوه پر درې تکاملي پړاوونو وېشلی، هغه وایي: ((لومړۍ برخه یې دده د شاعرۍ ابتداء ده، چې د مذهبي تبلیغاتو او اسلامي وحدت وخت دی او نمونه یې اسلامي ترانه ده.

په دغه مرحله کې یعنې له (۱۳۱۲) څخه تر (۱۸-۱۹) پورې ډېر مذهبي اشعار لري. دوهمه برخه له (۱۳۲۰) نه راپېخوا پیل کېږي، چې د وېښو زلمیانو نهضت په کې لیدل کېږي، لکه د (شاعر مسلک) او (د شلم قرن پښتون زلمیان) یې ددې وخت لمنه رانغاړي او ورسره د خادم د بدبینۍ حس شروع کېږي او هغه دنیاګۍ چې ده په خوب کې لیدلې و، له بنسټه خرابېږي، (ځوان) او (ترقي) یې د بدبینۍ اخري مرحله ښیي او (بدبخت قوم) یې سرباری دی، د (کابل سیند) چې په (۱۳۳۰ل) کال کې یې لیکلی دی دغه بدبینۍ نه استثنا دی او په دې شانې نشي تفسیرېدای تر څو سړی وانه وایي، چې ددې شعر په لیکلو کې د خادم په روحیه کې یو انقلابي توپیر راغلی دی او د یوې شېبې لپاره خوشبین شوی دی.)) (۳۵:۳۸)



## ٦- عبدالرحمن پژواک:

عبدالرحمن پژواک په هېواد کې دپښتو او دري ژبې مطرح لیکوال او یو وتلی سیاستوال د استاد خادم په باب د ده نظر د هغه پر یو اثر (نوي ژوندون) باندې د تقریظ په توګه څرګندېږي، استاد پژواک د دې کتاب په باب وایي: ((لوی خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



لره شکرونه دي چې د هېواد د رفاه او ارامۍ تر سیوري لاندې پښتو ټولنه موفقه شوه چې د نوي ژوندون کتاب طبع او خپور کړي. دا کتاب د هغو هیلو پر اساس طبع شوی دی چې پښتو ټولنه یې د منثور ادب د خدمت په لاره کې لري، څرنګه چې واضحه ده، زموږ په اثارو کې منظوم اثار ډېر زیات دي او مخصوصاً د پښتو د نهضت په دوره کې منثور اثارو ته ډېر زیات احتیاج لرو، ځکه چې هغه کسان چې په کورسو کې یا په مکاتبو کې یې پښتو ویلې او درسي کتابونه یې لوستي دي او په پښتو کې یې د مطالعې استعداد پیدا کړی دی، داسې اثارو ته خورا ډېر محتاج دی. نو ځکه پښتو ټولنې د بلې ډیوې د کتاب پر اساس چې مخکې طبع او خپور شو، د نوي ژوندون کتاب ترتیب او سره د ډېرو مشکلاتو یې چاپ کړ.

په دې کتاب کې برسېره په هغه ملاحظاتو چې د ادب له خوا نظر لاندې نیول شوی دی، دا هم سنجول شوې ده چې مضامین ډېر عصري او حیاتي افکار د جدیدې تربیې له اساس سره سم وي.

څرنګه چې له لوستلو نه وروسته معلومېږي، د قیام الدین خان (خادم) د دې کتاب مولف زیار او زحمت ډېر زیات دی، زه د دې لپاره یو دلیل لرم چې هغه د مولف لوی موفقیت دی او څرګنده ده چې دغومره موفقیت بې له ډېر زیار او زحمت څخه لاس ته نه راځي، نو پښتو ټولنه دې اثر ته د قدر په سترګه ګوري او مولف ته تبریک وایي.

موږ له ښاغلو لوستونکو هیله کوو چې له دې اثر نه استفاده وکړي او د پښتو ټولنې زیار او زحمت تقدیر د کتاب په لوستو او استفاده کولو وکړي، ځکه چې زموږ بې له مفید خدمته څخه بله هیله نه شته.

په پای کې دومره زیاتوو چې د دې کتاب انشاء او اسلوب او سبک ډېر جدید او تازه او د دې د نامه او مضامینو سره سم دی، نو لوستونکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به برسېره په دې چې په پښتو ادب کې یو لوی سرمشق ګڼل کېږي، د فکري او دماغي استفادې په لاره کې هم مفید لارښوونکی او مفید اثر شمېرل کېږي.)) (۱۸: یادښت)

**۷- سید قاسم رښتیا: د هېواد پېژندل شوی لیکوال او مؤرخ**




ښاغلی سید قاسم رښتیا د استاد خادم په باب وایي: ((مولوي قیام الدین خان ذاتاً یو حساس او متفکر سړی دی چې د هر شي پر ماهیت باندې فکر کوي او سره له دې یو دقت نظر هم لري چې د هغه په ذریعه ډېرو نازکو شیانو ته ملتفت کېږي او د یوې لویې او پېچیده موضوع له منځه د دقت قابل قسمتونه استخراج کولی شي.

هو! دا خصوصیت د یو ادیب لپاره چې په اجتماعي مسایلو کې بوخت وي، خورا اهمیت لري، له بلې خوا مولینا د ابتکاري افکارو خاوند دی او ښه ښه نوي نوي مضمونونه پیدا کوي، اقای خادم په ادبیاتو کې ښه پوره دسترسي لري او هر کله چې پخپله یو ازاد سړی دی، اشعار یې هم اکثراً مؤثر او د ازادۍ د روح او د شور او فعالیت له جذباتو څخه ډک دي، خادم صاحب د پښتو په نهضت کې ښه برخه اخیستې ده، او قیمتي نظریات یې وړاندې کړې دي...)) (۳۰: ۳۳۹)

**۸- حمزه شینواری: د پښتو ژبې نامتو لیکوال او د پښتو غزل** پلار امیر حمزه شینواری د خادم له افکارو او اثارو سره اشنا و، ده له استاد خادم سره په یوه ګډه مشاعره کې چې نورو لیکوالو هم په کې ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library





کړې و، برخه درلوده او هر یوه د یوه مقیدبیت په اقتضا شعرونه لیکلي وو. استاد حمزه هلته هم یو لنډ شعر لیکلی و چې موږ پر خپل ځای ورته اشاره کړې ده. سربېره پر هغه حمزه بابا په خپل یو منظوم یونلیک کې، چې د کابل د سفر په اړه یې کښلی دی، د نورو لیکوالو ترڅنګ د خادم د علم ستاینه کوي او د هغه په اړه داسې وايي:

بحث چې په (ی) و لر او بر ته یې ما خیال وکړ
یو محمد نور او بل رښتین په کې کمال وکړ
کله به خادم په دعوه خپله استدلال وکړ
کله پکتیاني به په بل اړخ کې جنجال وکړ
کله به الفت په اختلاف کې منځګړی شو
ولونه به یې دواړه سره یو کړه جوړ به پړی شو
ما چې د خادم او د رښتین علم ته پام وکړ
زړه مې د پښتون و پاکې خاورې ته سلام وکړ.



**۹- محمد قدیر تره کی: ښاغلی** محمد قدیر تره کی د هېواد له نامتو لیکوالو او پوهانو څخه ګڼل کېږي، د ژوند زمانه یې هم له خادم صیب سره هممهاله ده. د خادم په باب دده د نظریاتو یوه برخه په هغه لیکنه کې څرګندېږي چې د (نبوغ او عبقریت) په نامه پر کتاب یې د تقریظ په بڼه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد قدیر تره کي خپله دا لیکنه په کابل کې د (۱۳۳۷ل) کال د عقرب پر اوولسمه نېټه کړې ده او استاد خادم یې یو ژور او مفکر لیکوال ګڼلی دی. د هغه اثر یې د خپل وخت یو مهمه اړتیا ګڼلې. ده، خادم داسې یو لیکوال ګڼلی چې د خط او خال له دودیزو بندیزو راوتلی، ژور تفکر او فلسفې نړۍ ته یې مخه کړې او داسې څه یې لیکلي چې د خپل وخت او خپل نسل یوه مهمه اړتیا ده. دده په نظر استاد خادم په خپل فکر د شرق او غرب علوم سره نږدې کړي دي.**

**ښاغلی تره کي د نبوغ او عبقریت په باب وایي: ((رساله مختصر و پرمعنی و عمیق معنون به ((نبوغ و عبقریت)) نویسنده محقق و متعمق جناب ښاغلی ((خادم)) را خواندم و بدون مبالغه باید عرض کرد که زیادتر حظ بردم و به اینده محیط علمی و ادبی خود امیدوار شدم و فهمیدم که هنوز هستند مردمیکه در محیط ما هم در مباحث مهم که از مشغله عقول متفکره جهان متمدن امروزه است، قلم و قدم می زنند و اثاری بیرون می دهند.**

**درین کتاب یا رساله از شعر و شاعری چیزی نیست، از زلف و کاکل بحثی به میان نیامده و از سیمای زیبای معشوقه های فتان حکایتی نیست، ولی آنچه هست از موضوعات و مباحثی است که هنوز در محیط ما نیامده، ولی دنیای امروزه در آن بارها مدرسه و مسالک علمی و فلسفی داشته و دارند و از آن حظی می برند که مردم از زلف و کاکل و یا معاشقه های جوانان شیک و شنگ حاصل می کنند.**

**سالها است در همین موضوعات فکر و مطالعه می کردم و آرزو داشتم دران باره اثری بنویسم، ولی هنوز عطالت ها و تنبلی های که مولود بیکاری دائمی من است، به من مجال تحریر چنین اثری نه داده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بود که دیدم خوشبختانه آن آرزوی دیرینم از دماغ و قلم ورزیده تر از من، بیرون آمد.

من این اثر را قابل هرگونه تقدیر می دانم و علم آن هم این است که این اثر و امثال آن اثاری است که مارا هم با دنیای تفکر غرب اشنا می کنند و نیز هوس و ذوق می بخشد قدری جدی تر و عمیق تر بحث کنیم. بنا بر ان این اثر باید در درجه اول قدر شود و به سرعت ممکنه طبع گردد و مورد استفاده واقع شود. امید ما به تکثیر امثال این گونه اثار همیشه بدرقه همت و ذوق ارباب فضل خواهد بود.))(١٦: ج-د)

**١٠- غلام جيلاني جلالي:** ښاغلی غلام جيلاني د هېواد يو نامتو ليکوال او د استاد خادم همعصره سړی تېر شوی، ده مخکې تر دې چې د استاد قيام الدين خادم فلسفي اثر (نبوغ او عبقريت) چاپ شي، پر هغه يې د دويم تقريظ په توگه يوه ليکنه کړې ده، په دې ليکنه کې د استاد خادم پرياد اثر او د هغه پر فکر رڼا اچوي، غلام جېلاني جلالي ليکي:



((نبوغ او عبقريت د يو ښکلي کتاب نوم دی. دا کتاب که څه هم د حجم په لحاظ وړوکی برېښي، اما د موضوع په باب خورا ستر او مهم اهميت ورته ټاکلی شو. لکه له عنوان څخه يې چې ښکارېږي، ددې کتاب محتويات پر يوه بغرنجه بشري فلسفه راڅرخېدلي او له شروع تر اخره پورې د نبوغ او عبقريت په شاوخوا کې علمي څېړنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوموړي اثر لیکوال، مشهور لیکونکی ښاغلی قیام الدین خادم دی. ما په خپل نیمگړي ژوند کې دې موضوع ته راجع، ډېر مختلف مضمونونه لوستي او لیکلي مې هم دي. سربېره پر دې مې د نړۍ د سترو پوهانو نسبتاً زیاتې نظریې او مقالې ترجمه کړي دي، مگر تراوسه پورې ماته د کتاب په ډول په دې باره کې کوم اثر په نظر نه دی راغلی چې یواځې په دې موضوع مشتمل وي. رښتیا خبره داده چې ښاغلی مولانا خادم د نبوغ او عبقریت د کراړې فلسفې موضوع ښه تعقیب کړې او د قدر وړ زحمت یې په کې گاللی دی. زما په عقیده دا رساله د پښتو د نوي ادبي نهضت لومړی اثر دی چې تر اوسه د پښتو ټولنې له خوا لیکل شوی او د لوست ډگر ته راوتلی دی. ځکه دا کتاب د علمي اسلوب پر بنسټ سم لیکل شوی او د مخصوصې او ټاکلې بڼې او سبک خاوند دی. پوهان پوهېږي چې د پښتو د نوي ادبي رجحاناتو د تلې پله بې له کوم قید او شرط نه په ډېرو پاڼو او حجم لرونکو اثارو نه درنېږي، بلکې یو متین او موضوع په لحاظ پوخ اثر که وړوکی هم وي، د ژبې هغه حقیقي پانگه گڼل کېدی شي چې د ولس اړه ورپورې تړلې شوې وي.

که موږ غواړو چې د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) اهمیت په نا اشنا وگړو باندې ومنو، نو لومړۍ پلا دا لازمېږي چې دا مهمه او باقاعده ژبه په دغسې علمي او ادبي اثارو مجهزه کړو چې د هغو په لوستلو د هر چا ادبي تنده ماته او اړتیاوې یې بشپړې شي. د نبوغ او عبقریت کتاب بې له مبالغې د هغو اثارو له جملې څخه یو اثر دی چې لوست یې هر چا ته گټور ثابتېږي. سربېره پر دې هر کله چې په دې ډول اثارو کې د متکامل انسان، عادي او تر عادي ټیټ انسان په فطري استعدادونو علمي څېړنه کېږي، نو د ادب په نړۍ کې هم ښه گرانښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي مولانا خادم په دې کتاب کې دا لاندې مهم عناوین تر څېړنې لاندې نیولي دي: ایا له نبوغه انکار کېدای شي؟ نبوغ څه شی دی؟ د استعدادونو او صلاحیتونو تفاوت، ایا چنګېزخان هم نابغه و؟ د جنون او نبوغ فرق، د نبوغ اقسام، د نوابغو نښې، د نبوغ د انکشاف موجبات او موانع، نوابغ عصر پیداکوي او که عصر نوابغ؟ د نبوغ پېژندل او پالل، له نبوغ څخه کار اخیستل.

د خادم صاحب دا لیکنه له دې کبله د قدر وړ ده چې دی هر ځای خپله مدعا او موضوع په منطقي، تمثیلي او حسي مثالونو څرګندول او ثابتول غواړي او له نظر سره یې عمل یوځای ملګری دی.

شک نه شته چې فلسفه او بیا تطبیقي فلسفه خورا ګران کار دی، خو خادم صاحب موفق شوی دی چې په دې تنګ ډګر کې ارت ګامونه اوچت کړي. که څه هم دده د بحث موضوع (نبوغ او عبقریت) دی خو دی د خپلې څېړنې د اسانه کولو لپاره د ځینو نورو پوهنو مقدمات او ځینې مظاهر هم یادوي او له بلې خوا یې په تضمني ډول ځینې پېښې، علمي شخصیتونه او د نورو مثبته حقایقو مجمله څېړنه هم تر کتنې لاندې نیولې ده چې د نبوغ پر موضوع له هرې خوا نه رڼا واچول شي او مطلب غامض پاتې نه شي.

خادم صاحب که څه هم د ګربزي (روباه فطرت) په بلا اخته انسانان د ځان لپاره فوق العاده ګڼي چې شهرت پیداکولی شي، نوابغ نه دي بللي او د ارستو په شان یې هغه بنیادمان انانیت پسند، نفع دوست او د فردي ګټې مریان ګڼلي دي. له دې خبرې څخه د خادم صاحب اوږده څېړنه او وسیع معلومات څرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره اجازه غواړم او ويلی شم چې خادم صاحب د (جنون او نبوغ) له موضوع څخه لنډ تېر شوی دی. يعنې ډېر بحث يې نه دی باندې کړی. خادم صاحب نوابغ پر دوه ډلو وېشي چې يو ته يې علمي او فني او بل ته يې اجتماعي او اصلاحي نوابغ وايي او ددې ادعا د اثبات لپاره يوناني او منطقي دلايل او څه نور عقلي مثالونه بيانوي. ده د سترو متصوفينو نظريات هم ياد کړي دي او د (لا ادري) طايفې له افکارو سره يې هم تماس کړی دی. دی شهرت د نبوغ پرچم بولي او داسې نوابغ هم مني چې شهرت يې د ځينو عواملو په وجه پټ پاتې شي دا خبره رښتيا ده. په مجموعي ډول د خادم صاحب دا کتاب دده د ستر استعداد نماينده دی زه ده ته تبريک وايم او اوږد عمر ورته غواړم.))(۱۵: هـ-ز)

**۱۱- دوکتور حفيظ الله ناصري:** دوکتور حفيظ الله هم د دري ژبې له پياوړو ليکوالو څخه دی. ده د استاد قيام الدين خادم (نبوغ او عقبريت) اثر لوستی او د (۱۳۳۷ل) کال د حمل مياشتې پر (۱۰مه) نېټه يې د هغه له مخې د استاد خادم فکر ارزولی دی.

استاد خادم ته په خطاب کې وايي: ((جناب محترم مولانا خادم صاحب!

کتاب شما را تحت عنوان ((نبوغ و عبقريت)) مطالعه کردم. با آنکه لسان پشتوی بنده چندان قوی نيست، ليکن انسجام معانی و جملات، مشکل را مرفوع می ساخت. گذشته از همه معانی بزرگ و تحليلات علمی که در اين کتاب به عمل آمده، هر محصل و طالب علم و معرفت اجتماعی را به خود می کشاند. مطالب پخته و قوی در اين کتاب با اندک نقائص که شايد در تجديد نظر ثاني مرفوع شود مرموز گشته که از نقطه نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاوشهای علمی در بعضی گوشه های علوم اجتماعی و روحیاتی خیلی با ارزش است.**

**این کتاب از نقطه نظر عموم برای جمیع ذوقمندان دانش و از نقطه نظر خصوص برای محصلین فاکولته های حقوق و ادبیات و غیره خیلی مفید و چیز خواندنی و دانستنی می باشد. اگر که هم مطالب این کتاب از کدام ماخذ قوی اخذ شده باشد باز هم امثله ان محیطی و ادراک خواننده را به اصل مطلب روز رهبری کرده تعقیدات ذهنی را از بین می بردارد و هضم آن چندان ثقیل نیست و فعلاً برای مردمان ما مفید می باشد.))**

**د ښاغلي ناصري د ((اندک نقائص)) په باب بیا استاد قیام الدین خادم خپله یوه توضیح ورکړې ده. هغه په دې باب وایي: ((ما له ښاغلي دوکتور ناصري څخه پوښتنه وکړه چې مراد په (اندک نقائض) سره مثلاً څه شی دی؟ ده راته وویل چې ((لکه په لومړۍ برخه کې الکترون ذکر شوی دی. دلته باید پوزیترونونه چې د ایټم اجزاء دي، هم ذکر شوي وای)) ما ورته په خندا وویل: دا خبره خو په اندک نقائض کې نه راځي، ځکه چې د الکترون ذکر دغلته ضمني او تمثیلي دی او د ایټم د نورو اجزاوو ذکر نه لازموي او په اصل مفهوم او مضمون کې فرق نه راولي.))(۱۵:ح)**

## ۱۲- سید بهاوالدین مجروح:



**استاد دوکتور سید بهاالدین مجروح چې په خپله د نبوغ او فلسفي ذهن خاوند لیکوال تېر شوی او په دې باب یې د (ځانځاني ښامار) په شان مهم اثر هم لیکلی دی، د استاد خادم د (نبوغ او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبقریت) په باب یې د (۱۳۳۹ل) کال د جوزا میاشتې پر (۲۸) مه نېټه یو تقریظ لیکلی، ښاغلی مجروح دا مهال د ادبیاتو پوهنځي رییس و، هغه په دې تقریظ کې ددې اثر په اړه وایي: ((ما د خادم صاحب (نبوغ او عبقریت) کتاب ولوست. دا موضوع یوه ډېره مهمه موضوع ده او ښاغلي خادم چې کوم زیار او زحمت ددې موضوع په شرح او تحلیل کې ایستلی دی، د ډېر قدر وړ دی.**

**زه د نبوغ او عبقریت له لوستلو څخه وروسته د خادم صاحب په خپل نبوغ قایل شوم. ځکه چې ده یوازې له خپل شخصي فکر څخه کار اخیستی او د نبوغ په باره کې یې د خپلو شخصي افکارو او د خپل ژوند د تجاربو نتیجې په دې کتاب کې ځای کړي دي. ښاغلي خادم صاحب په دې کتاب کې ډېرو مهمو موضوعاتو ته اشاره کوي. شک نه شته چې په دې موضوعاتو بل شان خبرې هم کېدی شي او د خادم صاحب په نظریاتو بعضې انتقادات وارېدېدی شي. مګر دا هم د (نبوغ او عبقریت) یو بل صفت دی چې د علمي بحثونو او فلسفي نقادۍ لپاره لار پرانیزي. هر څوک دې باید دا کتاب ولولي. ددې لپاره ښایي چې پښتو ټولنه ددې پښتو اثر چاپولو ته توجه وکړي.)) (۱۵: ی)**

**ددې تقریظ تر لوستنې وروسته استاد خادم له استاد مجروح څخه په دې باب یوه پوښتنه مطرح کوي او هغه ته لیکي:**

**((ښاغلی محترم سیدبهاوالدین مجروح د ادبیاتو د فاکولتې رئیس!**

**ستاسو په تبصره کې چې زما په کتاب ((نبوغ او عبقریت)) باندې مو لیکلې ده د ((یواځې د خپل شخصي فکر (او) د خپلو شخصي افکارو، د خپل ژوند د تجاربو نتیجې)) عبارات راغلي دي. لطفاً ددې پوښتنې اجازه او ځواب راکړئ چې د ((یواځې)) او ((شخصي)) کلماتو خو به**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګوندې دا معنی نه وي چې ددې کتاب مندرجات عندي دي او څه علمي او فلسفي قیمت نه لري؟ ستا کلمې قیمتي دي، نو ځکه مو صراحت وغوښت. په احترام. قیام الدین خادم))**

**د استاد خادم د دې غوښتنې په تعقیب بیا ښاغلی مجروح څلور ورځې وروسته ورته بېرته (ځواب) ورکوي او وایي:**

**((ښاغلی خادم! تاسې ته او ټولو خلکو ته به معلومه وي چې د فلسفې او علم الاجتماع په ساحه کې هر څه لکه په طبیعي علومو (ساینس) کې مثبت او بدیهي نه وي. په انساني علومو مثبتیت او په طبیعي علومو کې مثبتیت یو ډېر عمیق فرق لري. پر دې اساس په طبیعي علومو کې باید هېڅکله عندي او نفسي ملاحظات داخل نه شي. مګر برعکس په انساني علومو کې له خپلو شخصي ملاحظاتو څخه کار اخیستل او د خپل شخصي فکر په وسیله تحقیقات کول ضروري او لازمي شی دی او په ذات خود علمي او فلسفي ارزش لري، نو ګومان کوم چې اوس به زما د کلماتو مفهوم ښکاره شوی وي. ستاسې کتاب له هر نقطه نظر څخه ارزش لري. ښه مطالب په کې پراته دي. پر مختلفو موضوعاتو ښه ښه بحثونه شوي دي او په لوستلو کې یې د هر چا فایده وینم. سید بهاوالدین مجروح))**

**(۱۵:ی – ط)**

**۱۳- عبدالهادي هدایت: عبدالهادي هدایت، لیکوال، ټولنیز، قومي شخصیت او د ولسي جرګې غړی و. له استاد خادم سره له نږدې پاتې شوی، د خادم له افکارو او اثارو ډېر ښه خبر و. هدایت صیب د خادم پر (څاروان) نومي اثر لیکنه کړې او ددې اثر له زاویې څخه یې د خادم افکار ارزولي دي. هدایت صیب خپله دا لیکنه د (۱۹۶۹م) کال د نومبر پر (۹)مه نېټه کړې ده، هغه وایي: ((ما د استاد خادم ټول تالیفات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتلي دي. د پښتني نړۍ لپاره د اب حیات په شان دي، خو ((څاروان)) چې شعر دی، دلته د لفظ او معنا دوه ډوله خوږوالی یوځای شوی دی او قند مکرر ترې جوړ شوی دی.)) هغه زیاتوي:

((زه د بختاني صاحب له دې جملې سره پوره موافقه لرم چې: ((خادم صاحب په خوشې خبرو خوشې نه دي لیکلي، بلکې د قوم د ویښولو، پوهولو او لوړوالي لپاره یې سندرې ویلي دي.))

د خادم صاحب فضل په دې کې دی، چې د معاصرې دورې په علمي ډله کې دمخه د پښتو د خدمت لپاره میدان ته راګډ شوی دی او تر اخره په کې لګیا دی او د اجتماع له پرمختګ سره سم پښتو ادب پرمخ بیایي.

خادم صاحب پښتو ملي ژبه د تعلیم او ښوونې له دورې څخه د ادب او د ادب له دورې څخه د علم او د علم له دورې څخه د فلسفې، تحقیقاتو او سیاست دورې ته راورسوله.

په هر حالت او هر وخت کې دده په قلم یې نوې ارتقایي بڼه غوره کړه.

د امان الله خان له زمانې نه پس د پښتو د خدمت دروازه اعلیحضرت شهید محمد نادرشاه افغان د محمدګل خان مومند په لاس بېرته کړه. محمدګل خان مومند په پښتو مین و. دده پر خوا پورې ډېر ځوانان او زاړه راغونډ شول. خو څلوېښت کاله په یوه لاره نېغ او سم تګ یوازې د ښاغلي استاد قیام الدین خادم په برخه لیکلی و او بس.

په دې لاره کې داسې نه چې مشکلات نه وو. لوی لوی غرونه او ګړنګونه په کې وو. خو په ټولو تېر شو. ډېر شاګردان یې وروزل. له ډېرو مخالفتونو سره مخامخ شو. زجرونه او ناخوالې یې وزغملې، خو اخر یې خپله دا خبره ترسره کړه چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټــولې ســـوبې د چـــا نـــه دي روزي شـــوې**
**ځـان بـه خـاورې کړمـه دا کـور بـه ابـاد کـړم.**

**استاد اوس د ډېرو تالیقاتو، تصنیفاتو چې په نظم او نثر مشتمل دي، خاوند دی. ډېر جراید یې چلولي، ډلې یې جوړې کړي او بنیادونه یې ایښي دي.**

**خو په ټولو کې یو ټکی مشترک دی. خپل وطن او خپل ولس، بېنوا صاحب په ((اوسني لیکوال)) کې ویلي دي: ښاغلی قیام الدین خادم په اوسنیو لیکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري.)) رښتیا داده چې په ډېرو د استادۍ حق لري.**

**ښاغلي قابل صادقوف لیکلي دي: ((د ښاغلي استاد خادم شاعري او تالیفات په شوروي اتحاد کې ورځ په ورځ شهرت پیداکوي او په ټولو ژبو ورباندې تبصرې کېږي)). په مسکو کې ویل کېږي، چې (خادم) په افغانستان کې هغه لار نیولې ده چې ((پوشکین)) په لویه روسیه کې ورباندې روان و. د خادم صاحب اشعارو په افغاني دنیا کې هم لوی شهرت پیداکړی دی. دا ځای ددې نه دی، چې دده په ټولو اثارو او کردار مبسوط بحث وکړو، خو دومره به ووایو چې خادم صاحب په ډېر مشکل او نامساعد وخت کې افغان ملت په ټولو مقوماتو داسې ټینګې منګولې لګولي دي چې څلوېښت کاله یې هېڅ مانع مخه ونه شوه نیولای. دده کار ته باید کار او ده ته باید د لوی عزم خاوند ووایو.**

**استاد خادم د خپل شعر او ادب هدف ته د (ځاروان) په مقدمه کې داسې اشاره کړې ده، وایي: ((د پښتو شاعري له زرګونو کالو څخه په روان ډول سره په قومي او اجتماعي بڼه راغلې ده.)) بیا وایي: ((پښتون شاعر نه شي کولای چې خپل اس بې له ملي لارې په بله لاره وځغلوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وایي: ما شعر د باطني شعور او تجسس له مخې ویلی دی او چې په بله ژبه مې څه ویلی شول، نو د شعر شپېلۍ مې نه غږولې.

یعنې شعر یې د ډېرو نازکو اداګانو ژبه ګرځولې او نور مفاهیم یې په نثر ادا کړي دي. دستي ورپسې وایي: ((لکه څنګه چې شعر ته په لوی ضرورت قایل یم، له شعري ضرورته چور منکر یم، نو ځکه هیله لرم چې د پښتو د ادب حقیقي نقادان به په دې مجموعه کې د ژبې سم استعمال د سلاست، فصاحت او بلاغت په قالب کې ومومي)).

ښاغلي ډاکتر دوریانکوف دده د شعر په باب ویلي دي: ((خادم صاحب په خپل سبک او اسلوب کې د پښتو د لرغوني عنعنوي شفاهي ادبیاتو ولسي فولکلور له منابعو ډېره زیاته استفاده کړې ده او معاصر مسایل یې په ډېر قدرت د ولس په ژبه بیان کړي دي. د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پیروۍ یوه عصري نمونه ده چې ددې عصر یو ځلاند ممتاز سبک یې ګڼلی شو.))

دغه پورته مطلب ښاغلي بختاني هم نقل کړی او زیاته کړې یې ده: ((شک نه شته چې خادم صاحب د پراخې مطالعې خاوند دی، ځکه یې د شعر معنوي خوا بډایه ده.))

خو څه چې ما په ((خاروان)) کې موندلي او د خادم صاحب د کلاسیکو اشعارو دریمه مجموعه چې (بلکا) نومېږي او لا نشر شوې نه ده. ددغې مجموعې له کتلو چې څه لاس ته راغلي دلته یې لیکم.

۱- د خادم صاحب شعر یو اجتماعي او ولسي شعر دی، دلته د شعري نزاکتونو له مهارتونو سره یو بل شی چې دی له نورو معاصرو شاعرانو ممتازوي هغه دادی چې دده د شعر افاقیت ډېر پراخه دی. دده په شعر کې دده ماحول، دده معاصرین، د افغاني دنیا نهضتونه او د دنیا معاصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست ښه اوترا او چې څومره په کې تعمق کېږي، نور نکات ترې راوځي.

۲- خادم صاحب شعر د ژوند او حیات لپاره ویلی دی. که څوک په کې ځیر شي لکه د شرق او غرب ددغسې شاعرانو په شان به دده په شعر کې د ژوند د دریاب ډېرې ملغلرې پیداکړي.

۳- د خادم شخصیت، دوستان او مخالفین، دده د عصر روحیه د افغان او افغانستان غوښتنې او د افغان حقیقي پېژندنه دده په شعر کې منعکسه شوې ده.

۴- دده د شعر له لوستلو څخه څرګندېږي، چې د عصر په پېژندلو کې د خادم صاحب مطالعه څومره ژوره او نظر یې څومره صائب دی.

۵- خادم صاحب د (بلکا) په مقدمه کې لیکلي دي؛ د پښتو په شاعرۍ کې دغه موجوده کلاسیک فورم چې ښه په عروج کې دی، له ښکارندوی، میرزاخان انصاري، خوشال او رحمان بابا نه راپاتې دی، مګر دغه کلاسیک فورم علاوه پر دې چې په پښتو کې مستعار او مهاجر دی او د اسلامي عصر له ابتدا څخه د ایران او عربو له خوا راګډ شوی دی. د پښتانه ولس د ټولو افکارو، عقایدو، احساساتو ترجمان نه شي کېدای. ځکه چې ډېر تنګ، ګنډلی او محدود دی.

دغو اقسامو څخه پرته یو بل قسم شعر هم شته چې ډېر لرغونی شکل لري. په دې شکل او فورم باندې د قدیم، باختر ادبیات لکه ویدونه، ژند، اوستا، هخامنشي اثار، ساساني کتیبې، د لویکانو د عصر ځینې اثار چې کشف شوي دي دا شکل د حضرت بایزید روښان د خیرالبیان پورې رارسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مو زړه ته دا راځي چې پښتو بېرته خپل اصل وروګرځاوه او په مقفی نثر یا سپین شعر یې ولیکو. ددې کار تمهید ډېر پخوا ایښودل شوی دی او د (ملغلرو امېل) څخه د پښتو د شعر په کلاسیک فورم کې د توسیعې پیداکولو لاره پیداشوې ده. په (ځاروان) کې دغه رنګ نور هم ټینګ شو. په (بلکا) کې دې کار بله بڼه غوره کړه، چې هغه باید د پښتو د شعر لپاره د کلاسیک قیودو څخه د خلاصون دوره وبولو. تر (بلکا) وروسته خادم صاحب په دغه نوي قسم شعر چې ډېر دی لاس پورې کړی دی. نمونې یې د خادم صاحب په خپله جریده (افغان ولس) کې موندل کېږي او په یوه نوې مجموعه کې د (نوې پوهېتانه) په نامه راټولېږي.

تر دې وروسته بیا هدایت صیب د استاد د اړوند کلام څو بېلګې راوړي چې هغو ته مور په ځینو برخو کې هم اشاره کړې ده، نو ځکه یې د تکرار د مخنیوي لپاره له راوړلو څخه تېرېږم.

او تر بېلګو وروسته بیا دیوه یادښت په توګه وایي: ((په دغو ټولو نمونو کې ښکارېږي، چې له کلاسیکي قیودو څخه د پښتو شعر د ازادۍ کوشش شوی دی. دا زیار په اخره کې پوره کامیاب ګڼل کېږي.))


(۱۲: ۵۶-۶۶)

**۱۴- سر محقق عبدالله بختانی خدمتګار:** سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار د هېواد یو پیاړوی څېړونکی او لوی لیکوال دی. په لسګونو عنوانه مستقل اثار یې لیکلي دي، له استاد خادم سره له نږدې پاتې شوی، ((د ملي ادب او ژورنالېزم خادم)) په نامه یې د استاد خادم پر ژوند او اثارو یو مستقل اثر هم لیکلی دی. هغه وخت چې سرمحقق استاد بختانی لا د (څېړنمل) علمي رتبه درلودله او استاد خادم د شپېتو کلونو عمر ته رسېدلی و، نو د استاد خادم پر (ځاروان) یې یو تقریظ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکلی دی، دغه راز یې د استاد پر نورو اثارو هم تفصیلي لیکنې کړې دي، زه نه غواړم هغه ټولې لیکنې دلته راوړم، خو غواړم یوازې هغه لیکنه دلته د بېلګې په توګه راوړم چې استاد خدمتګار د خادم پر (ځاروان) اثر لیکلې ده. خدمتګار د استاد خادم د علمي شخصیت او (ځاروان) شعري ټولګې په باب وایي: ((د ښاغلي مولانا قیام الدین خادم د اشعارو مجموعه**



**ماته وسپارل شوه چې څه پرې ولیکم. ښاغلی خادم د پښتو ژبې او ادب د معاصرو لیکوالو د لومړي صف یو لوی سړی دی. چې پښتو ژبې او ادب ته یې ښایسته د قدر وړ خدمتونه کړي دي. زموږ ددې پاخه لیکوال او شاعر عمر له شپېتو کلونو اوښتی دی. د پنځه دېرش کلونو راهیسې قلم چلوي، مطبوعاتي او ثقافتي خدمت کوي. دده لومړنی رسمي کار د کامې لومړني ښوونځي معلمي وه. د هغه وخت نه تراوسه څلوېښت کاله تېر دي او اوس د مشرانو په جرګه کې انتصابي سناتور دی. د پښتو ټولنې غړیتوب او د اتحاد مشرقي (ننګرهار)، طلوع افغان، زېری، اصلاح او هېواد اخبارونو مدیریتونه یې کړي دي. دده ادبي اجتماعي او سیاسي مقالې د هېواد په اخبارونو کې سلهاوو ځله چاپ شوي دي او یو شمېر ځانله کتابونه یې هم چاپ شوي دي. هند، پاکستان او شوروي اتحاد یې لیدلي دي.**

**په دې مجموعه (ځاروان) کې د ښاغلي خادم (۱۳۱۳ - ۱۳۴۶ هـ ش) یعنې د دري دېرش کلونو د اشعارو نمونې شته. کېدای شي چې دا به د خادم صاحب ټول اشعار نه وي. مګر د هغه ډېره او غوره برخه به وي. که موږ د سرعت او حرکت په دغه عصر کې د خپل هېواد تحولات او د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د تحول او ترقۍ شرایط او عوامل د هېواد او ولس د فکر، عمل او موقعیت مبهم خصوصیات تر نظر لاندې ولرو او بیا په دې هم اعتراف وکړو چې شعر د محیط هېنداره ده، نو د خادم صاحب د مختلفو دورو او اوښتونو په اشعارو کې دا خبره څرګندېږي، چې هره پارچه یې د خپل خپل وخت د جریاناتو او رجحاناتو نمایندګي کوي.

خادم صاحب د هر وخت او زمان د ضرورت او د شرایطو او ظروفو په مساعدت د خپل تشخیص او قضاوت له مخه یو څه ویلي دي او کوښښ یې کړی دی چې د خپل هېواد خلک د خپل زړه په خبره پوه کړي. همدغه سبب دی چې کله ځینې نقادان چې د خادم صاحب د عمر ټول شعرونه په یوه ورځ کې لولي، نو د ټولو تر متضادو تاثیراتو لاندې وایي چې د خادم صاحب په فکر یا وینا کې تضاد موجود دی.

که مونږ دغه انتقاد ونه منو او یا د محیط تر تاثیر لاندې خادم صاحب مجبور وبولو او ترې تېر شو، نو بیا دده په شعر کې د افغان ولس د یووالي او پرمختګ او بیدارۍ یوه ډېره عمیقه مفکوره پرته ده، چې کله په یو رنګ او کله په بل رنګ ځان ښیي.

سربېره پر ملي اشعارو دده یو څه غزلیات هم شته چې د هغو په عمق کې یو سوز او درد موجود دی. چې د کلاسیک هنر په ژبه یې په ډېر مهارت اداکوي. تر دې حده چې کله کله یې کنایې لا د صراحت نه ډېر بلاغت پیداکوي. د خادم صاحب اکثر شعرونه سلیس، ساده او خواږه دي او د پښتو ژبې محاورات او اصطلاحات یې په ښه شان په کې ځای کړي دي. خادم صاحب په خپل سبک او اهنګ کې د پښتو د لرغونو تحریري عنعنوي او هم د شفاهي ادبیاتو او ولسي فولکلور له منابعو نه ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زياته استفاده کړې ده او معاصر مسايل يې په ډېر قدرت د ولس په ژبه بيان کړي دي.**

**د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پيروۍ يوه عصري نمونه ده چې ددې عصر يو ځانله ممتاز سبک يې بللی شو. شک نه شته چې خادم صاحب د پراخې مطالعې خاوند دی، نو ځکه د شعر معنوي خوا يې بډايه ده. دی وايي:**

چې روان تر او بو نه وي او ژور هم له دريابه

نه پوهېږم څله وايي دا شعرونه خوشې خوشې

**نو ځکه يې په خوشې خبرو خوشې خبرې نه دي ليکلي، بلکې د قوم د ويښولو، پوهولو او لوړوالي لپاره يې سندرې ويلي دي. موږ په خپل وار هم ښاغلي خادم ته او هم د کتاب چاپولو موسسې ته ددغه خوندور اثر په خپرولو تبريک وايو. دا اثر د ملي احساس په پاللو او روزلو کې ډېر اغېزناک اثر او د پښتو معاصر شعر ډېره غوره نمونه ده.**

**تاسې به يې ولولئ او استفاده به ترې وکړئ. نور قضاوت ستاسې په لاس!!))(۱۲: ۴۸-۵۰)**



## ۱۵-قتيل خوږياڼی: قتيل خوږياڼی

**د افغانستان د مطرح ليکوالو او شاعرانو له جملې څخه دی. نه يوازې خپله يې پښتو ادب ته د يادونې وړ خدمتونه کړي؛ په لسګونو، علمي، څېړنيز او ادبي اثار يې پنځولي او ليکلي دي، بلکې ټولې کورنۍ يې هم د پښتو ادب لپاره نه هېرېدونکي خدمتونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي. قتيل صيب پر (۱۳۸۰ل) کال په پېښور کې د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز کې کار کاوه، نو د استاد خادم پر شعري ټولگې (بلکا) يې يوه ليکنه کړې ده چې دادی دلته يې لوستونکو ته وړاندې کوو، قتيل صيب دا ليکنه د (۱۳۸۰ل) کال د وږي پر (۱۹)مه نېټه په پېښور کې ليکلې ده.

((له ما نه د استاد خادم زوی گران بشيرجا ن خادم هيله څرگنده کړه چې د علامه خادم صاحب په (بلکا) نومي شعري ټولگه څه وليکم. استاد چې د پښتو ادب په ځلانده اسمان کې د يوه ځلانده ستوري په شان، چې وړانگې او پلوشې يې يوازې په خپل هېواد کې منحصرې نه دي پاتې شوي، بلکې پر گاونډيو هېوادونو سربېره په اروپايي هېوادونو کې يې هم علمي او ادبي غونډې روښانه کړي. په پښتو ادب کې ځانته مقام لري. دده شعر او نثر دواړه زيات اوچت ځکه دي، چې دده له هغه فکر او دماغ څخه سرچينه اخلي، چې له لوی خدای(ج) پرته يې د هېچا سجدې نه دي کړي. دی د ملحوظاتو په دايره کې دومره محصور شوی نه دی، چې د پښتو او پښتونولۍ په باره کې د چا د بې حيايۍ په مقابل کې غلی پاتې شي او يا يې د کومې ډالۍ په انتظار کې په خبره سترگې پټې کړي.

علامه خادم حتی د درباري نازولو د بې ځايه شوخيو پر وړاندې خپله زړورتيا په مېړانه ښودلې او بې ادبان يې تاديب کړي دي. دده خبرې، دده ليکنې، دده شعر او نثر دومره جذابيت درلود چې زړونه ورماتېدل او ځای يې ورکاوه.

((کاروان او څاروان)) د اروابناد استاد د کلاسيکو اشعارو هغه دوه ټولگې دي چې دده په ژوند چاپ شوي او دا ده (بلکا) دده د همدغه راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشعارو درېیمه مجموعه ده چې دده د نېکو فرزندانو له خوا چې د (صدقه جاریه) حکم لري چاپېږي. د (بلکا) د سریزې په پیل کې په خپله استاد خادم لیکي:

چې د نړۍ رڼا په څه ده
ښــکلا هــم لــه هــمده ده
او بــلــکاهــم پـــــه ده ده

خادم صاحب لکه څومره چې په شاعرۍ کې د استادۍ هسک مقام ته رسېدلی دی، دغه راز په نثر کې هم دده مقام ډېر هسک دی. دی که تکړه شاعر او لیکوال دی، نو ورسره جوخت تکړه ژوررنالیست او نامه نگار هم دی. دی چې کوم وخت د هېواد ورځپاڼې مسوول چلوونکی و، نو دده سرمقالې، مقالې او سیاسي تبصرې به نورو ورځپاڼو یعنې انیس او اصلاح کې د اقتراح په توگه تعقیبولې او دده په نقش قدم به یې گام پورته کاوه. (د وخت سرکار) دده لیکنو ته د شک او تردید په نظر کتل، نو ځکه دده د ځور او کړاو سبب کېدل او لوړ مقام یې نه ورکاوه. حتی چې د پښتو ټولنې د ریاست مقام ته د رسېدو په لار کې یې هم خنډونه ورته پیداکول، ځکه چې دی له دغو اوصافو سره سره سیاسي شخصیت هم و، داسې سیاسي شخصیت چې په خپله لاره په ټینگ عزم روان و او یو قدم ترې په شاکېدل یې بې ایماني گڼله.

خادم صاحب سره له دې چې یو فلسفي شاعر و، انتقادي شاعر هم و او په خپل انتقاد کې یې نه د ملاحظانو خیال ساتلی او نه یې قلم ټکنی شوی دی، نو ځکه یو شمېر تطمېع شویو زلمیانو ته داسې گوته نیسي:

تــول شــوي پــه ښــانک وو د حلــوا پــه تمــه بانــدې
گولــه چــې پــه لاس ورغلــه خپــاره غونــدې ښــکاربږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې تمدن اول له بلخه شروع شوی، خادم صاحب دغه ټکي ته په (افغاني ترانه) نومي شعر کې داسې اشاره کوي:

دنیـــا شـــوه منـــوره زمـــا لـــه کوهســـانه
نـــړۍ شـــوه بهـــروره لـــه دې بـــاغ و بوســـتانه
او چت لـه ټولې ځمکې په بام ددې جهان يـم
افغـان يمـه افغـان يـم- افغـان يمـه افغـان يـم

اروابناد استاد خادم (د قام سره مینه) تر سرلیک لاندې شعر کې وايي:

بې تـاثیره چې ترې څوک خلاصېدی نه شي
يـــوه ژبـــه، بـــل مکتـــب، بـــل ســـینما ده
کـه پـردي وي، پـه پـردي رنـګ کـې راغلـي
خپـل لبـاس او خپـل اسـاس درتـه پـه کـار دی
کـه دې مینـه لـه خپـل قـام سـره ربښـتیا ده

قتیل صیب د خپلې لیکنې په ترڅ کې د استاد خادم د ځینو نورو نظمونه یادونه هم کوي او په پای کې د استاد خادم په باب وايي:

دی په شعر کې د استادۍ مقام لري او زه یې د شاګردۍ وياړ لرم او خپله لیکنه ځوانانو ته د استاد خادم په دغې بلنې پای ته رسوم.

يـــــا ځـــــاروان د قـــــافلې شـــــه
يـــا روان شـــه پـــه کـــاروان کـــې
اخـــر تـــه هـــم يـــو انســـان يـــې
کـــار پـــه مثـــل د انســـان کـــړه
پـــه دې لـــوی جهـــان کـــې اوســـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــــړ څـــــه غـــــم د خپـــــل جهـــــان کــــړه
پــــه شخصـــــي ســــــودا کـــــې ګیـــــره
تـــــګ پـــــه لاره د کـــــاروان کـــــړه
همـــــېش لافـــــې د ځـــــوانۍ کـــــړې
لـــړ خـــو کـــار هـــم لکـــه ځـــوان کـــړه
یـــــا د بــــــل پســـــې روان شـــــه
یـــــا نـــــور ځـــــان پســـــې روان کـــــړه
ښـــــه پوهېـــــږمـــــه هوښـــــیار یـــــې
ســـــړیتوب غـــــواړې جهـــــان کـــــې
یـــــا ځـــــاروان د قـــــافلې شـــــه
یـــــا روان شـــــه پـــــه کـــــاروان کـــــې))
(۱۲: ۵۲-۵۵)

**۱٦- حبیب الله رفیع: استاد**



**حبیب الله رفیع د هېواد د پیاوړو لیکوالو او څېړونکو له جملې څخه دی، ده تر اوسه پورې په لسګونو علمي، څېړنیز او ادبي اثار چاپ کړي دي. نور هغه اثار چې استاد حبیب الله رفیع یې د ترتیب، اوډون او سمون چارې پر مخ وړې دي، تر (سلو عنوانو) هم اوړي، استاد رفیع له استاد خادم سره نږدې پېژندل، د هغه له فکر او ادبي فعالیتونو سره زیات اشنا و، هغه یې یو (پښتون مفکر) باله او د (پښتون مفکر) په نامه یې د استاد خادم د فکر په باب یوه هر اړخیزه لیکنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، د استاد رفیع دا لیکنه د استاد خادم پر یو منظوم اثر (نصوص الحکم) راڅرخي او هغه وخت یې کړې وه چې یاد اثر لا چاپ شوی نه و، دادی دلته یې وړاندې کوو:

تانـــه قربـــان شـــم زمـــا قلمـــه
زمـــا ملګریـــه زمـــا همدمـــه
ملګـــــري و اړه پـــــه بلـــــه ولاړه
تـــه مـــې همـــراه یـــې لا تـــر دې دمـــه.

استاد رفیع وایي: ((ارواښاد استاد قیام الدین خادم (۱۹۰۷- ۱۹۷۹) د یوې علمي کورنۍ غړی و او د خپل وخت له شرایطو سره سم یې په هېواد کې دننه او بهر دیني زده کړې وکړې او د دیني زده کړو ترڅنګ یې د ادب ژوره مطالعه او زده کړه وکړه او ددې ترڅنګ یې د فلسفې، سیاست او ټولنپوهنې په برخه کې پرله پسې اوږدو مطالعاتو ته دوام ورکړ او ورسره یې د خپلې افغاني ټولنې، چې دی یې پښتني ټولنه بولي د غرونو او رغونو له خاطرو او پندونو ډکې پاڼې ولوستې او د خپلې ټولنې د ویده کتاب ژورو ته وردننه شو او همدا و چې خپلې نظریې او علمي مطالعې نه یې د افغاني ټولنې په کچ مېچ برابر خاص او ځانګړي نظریات رامنځته کړل او د خپلې ټولنې د اقتصادي، کولتوري، سیاسي او اجتماعي جوړښت لپاره یې نظریې او تېزسونه وړاندې کړل او په دې هره ساحه کې یې د خپل نظر پر بنسټ تیرې کېښودې او لارې یې ورته جوړې کړې.

استاد خادم د خپل پیاوړي قلم له لارې وکړای شو، چې د نظم او نثر په ژبه خپل نظریات پاخه کړي او خپلې ټولنې ته یې ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استاد خادم د خپلو ټولو اثارو له جملې نه (نصوص الحکم) د ده یو داسې اثر دی چې د قطعو او څلوریزو په بڼه یې لیکلی دا اثر تر ډېره حده کرونولوژیکي بڼه لري او سره له دې یې چې دده ځانګړي افکار څرګندوي دده د فکري تکامل او وده هم رانښيي او ګام پرګام دده له افکارو نه دوړې او ګردونه پورته کوي او په پای کې یې د غوښتنو او تیورۍ واضحه بڼه راڅرګندوي.))**

**استاد رفیع په خپله لیکنه کې د همدې قلمي کتاب په رڼا کې دده د فکر ځینې اړخونه په لنډیز سره څېړلي او دې څېړنې ته یې د محتوا له پلوه کرونولوژیکه بڼه ورکړې ده. دی وایي:**

**استاد لومړی د فرد په جوړښت کې څلور څیزونه ضروري ګڼي:**

زور او قـــوت دی پـــه څلـــور څیـــزه
درتــــه یـــې وایـــم زمـــا عزیـــزه
صـــحت، دولـــت او علـــم و شـــهرت دی
ښــه یـــې پــه یـــاد کـــړه اهـــل تمیـــزه.

**دی دا څلور څیزه په نورو قطعو کې یو بل پسې تشریح کوي، ترتیب یې لازم بولي او خپل دلایل ورسره راوړي، ورپسې واک او ازادي مهم بولي، د علماوو عمل، روزنه یې، اخلاقو، دنارینه و ښځو مساوي والی تر بحث وروسته قوم او ټولنې ته رارسېږي او د قوم تاثیر او اغېز ډېر ژور بولي.**

**او همدا ځای دی چې (ټولنپالنه) په نامه کتاب کې لیکي؛ پښتون د ژوند نوې لارې ته سیده کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې له غربي تعليم او غربي فلسفې سره له دې کبله، چې زموږ خودي وژنې مخالفت ښيي او پښتانه په پښتونواله باندې راټولېدو ته رابولي.

خادم صيب په دې پسې د شخصي فکر پرځای د ملي فکر تلقين کوي او دا ارتقا او بره تگ لارو ته ځوانان رابولي، وحدت ته بلنه ورکوي او تشتت غندي.

او ځوانان د ښکېلاک هغې دسيسې ته چې پر (بېل يې کړه، اېل يې کړه) ولاړه ده ملتفت کوي.

استاد د ملي وحدت د ټينگښت لپاره پر واحد ملي، کولتوري او واحده ملي ژبه ټينگار کوي او دا د يوه ملت په وحدت کې د بنسټ ډبره گڼي او ورانکاري غندي.

ورپسې فاسد حکومتونه د ملت د هلاکولو مرض گڼي، دی پر کولتور او اقتصاد زور راوړي او د ملي سياست بريالیتوب په همدې کې گڼي.

دی د مليت په فلسفه کې عمل کول او دا لاره پالل د وخت د واک بريالۍ بڼه بولي.

دا هم بايد ياده کړم چې (مليت) په هغه مانا نه دی چې کمونستانو رايج کړی و او د افغانستان قومونه يې ((مليتونه)) بلل او د يو واحد مليت د سره بېلولو هڅه يې کوله، چې اوس ځينې نور غرضيان هم همدا کار کوي او په افغانستان کې د مليتونو په نامه نفاق ته لمن وهي، بلکې مليت د يو ملت د جوهر په معنا دی او ملت او مليت داسې تړون سره لري، لکه انسان او انسانيت، شخص او شخصيت او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارواښاد خادم همدا د افغاني ټولنې د اډانې د جوړولو په فکرونو کې ډوب و چې په هېواد کې د داود خان له د خوا جمهوریت اعلان وشو او خادم صیب یې داسې هرکلی وکړ:**

جمهوریـــــــــت و، ارزو د خلکـــــــو
دا لـــــوی نعمـــــت و ارزو د خلکـــــو
افغـــان بـــه اوس شـــي، ســـیال د قومونـــو
ملـــــي نهضـــــت و، ارزو د خلکـــــو.

**خو ده ته په دې خطرناکو نړیوالو حالاتو کې د جمهوریت یوه لاره هم ډېره باریکه ښکاري:**

د بلاکونـــــو تـــــرمنځ تلـــــل بویـــــه
لاس پـــه رســـۍ ده پـــرې ختـــل بویـــه
مـــنځ د دې ټولـــو خپـــل ملیـــت دی
پـــه دې مـــرام ښـــه پوهېـــدل بویـــه.

**همدا وخت دی چې خادم صاحب په خپلو تیوریو کې اجتهادي پوړیو ته رسېږي او د ملیت لپاره بنیادي شرطونه ټاکي.**

**او بیا د هغو پښتنو نمونې ورکوي چې په نورو لرې او نږدې قومونو کې ورک شوي، ژبه ترې هېره شوې او تش په نامه ځان ته پښتانه وایي.**

**ارواښاد خادم د قوم او ژبې د اهمیت لپاره د پاک قران محکمې رسۍ ته لاس غځوي او ددې مبارک ایات په رڼا کې ((و جعلنا کم شعوبا و قبایل لتعارفوا)) داسې وایي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر يــو انســان چــې كــوم ځــای كــې زېــږي
پـــه قـــام قبيـــل خپـــل پېژنـــدل كېـــږي
ددې خـــدايي كـــار چـــې دا حكمـــت دی
نفـــې او نهـــې يـــې نـــه ښـــايېږي.

**او د ژبې په برخه كې د قران كريم د ارشاد ((و ما ارسلنا من رسول الا بلسان قومه) يو علمي سبق بولي، وايي:**

لســـان قومـــه، مـــوږ تـــه ارشـــاد دی
رســـول د قـــام دی دا يـــې مـــراد دی
چـــې پـــه اســلام كـــې لـــه قـــام منكـــر وي
پـــوه شـــوی نـــه دی غريـــب بربـــاد دی.

**او د همدې تيوری په رڼا كې پښتون قام ته پښتانه استازي داسې شمېري:**

ســـپين تمـــن راوړه د ژونـــد كتـــاب
ملـــي رايـــج كـــړه د خونـــد كتـــاب
خيرالبيـــان شـــو الهـــام روښـــان تـــه
خـــادم تـــه راغـــی د ژونـــد كتـــاب.

**او بيا د ځان په برخه كې نور وضاحت هم وركوي:**

خـــادم راوړي ثلـــور كتابـــه
پـــه پښـــتو ژبـــه لـــه لـــوړ جنابـــه
ثلـــور اندامـــه د يـــو وجـــود دي
خپلـــواک پښـــتون شـــو جـــوړ پـــه څـــو بابـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــوی ژونـــدون دی، نـــوې رڼـــا ده
پـــه نـــوي لارکـــې د ژونـــد بقـــا ده
خپلـــواک پښـــتون تـــه چـــې پـــرې رســـېږو
ټولنپالنـــــــه مـــــــو مـــــــدعا ده.

**دده له نظره د ژبې قوت ډېر زيات دی او استعمار هڅه کوي چې لومړی له ملتونو نه ژبې واخلي:**

استعمار غـواړي چـې پښـتون مـړ شـي
لـه ځمکـې ورک شـي پـه خـاورو خـړ شـي
دا کـار د ژبـې پـه مـرګ کېـدای شـي
چـې پښـتو مـړه شـوه دښـمن بـه وړ شـي.

**دی مشر او ليډر هغه بولي چې د ملي وحدت سمبول وي:**

مشــــر ليــــډر دی او کــــه ســــرکار دی
چـــې ملـــت يـــو کـــا دغـــه يـــې کـــار دی
خـــو کلـــه خپلـــه دوی نفـــاق راوړي
دا لـــوی عـــذاب دی او لـــوی ازار دی.

**استاد خادم ټول هغه رژیمونه چې ملي واک په کې نه وي که په هر نامه وي بد ګڼي:**

شـــاهي عـــذاب دی دیکتـــاتوري هـــم
انارشـــي غـــم دی بوروکراســـي هـــم
د ملـــک مـــرګ تـــه ښـــه وســـيله ده
د غيـــر لـــه لاســـه سوسيالســـتي هـــم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه هــــر عنــــوان کـــې واکـــوالي وي
مــــــدعا داده چـــــې واک ملـــــي وي
چـــې بـــې ملتـــه واکـــوال هـــر څـــوک وي
د خـــدای لعنـــت دی خپـــل کـــه پـــردي وي.

دی په یو ملي حکومت کې د مطبوعاتو ازادي او د احزابو ازادي یو ضروري شرط بولي:

چـــې پرنســـیپ او حـــزب د ملـــت نـــه وي
دا ملـــت مـــړ دی نـــو چـــې هـــر څـــه وي
د مړیـــو واک وي د بـــل پـــه لاس کـــې
پـــرې نـــه پـــوهېږي بـــد او کـــه ښـــه وي.

استاد خادم چې د جمهوریت هرکلی کړی و، ویې لیدل چې د ده وضع کړي شرایط یې نه درلودل او واک ملي نشو، نو ویې ویل:

جمهوریـــــت او قـــــانون مـــــو ولیـــــد
حـــــال د بدبختـــــه پښـــــتون مـــــو ولیـــــد
د مـــــړي حـــــال او عـــــذاب د قبـــــر
د ســـر پـــر ســـترګو مضـــمون مـــو ولیـــد.

دی خپل زوزاد ته د پښتو او پښتون ساتلو او په دې لاره کې د جهاد د کولو وصیت کوي.

کـــه پښـــتو پښـــتون مـــو پرېښـــوده زوزاده
پـــه قیامـــت بـــه زمـــا لاس ستاســـې ګرېـــوان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــور ته پــاتې لــه نیکونــو نــه جهــاد دی
تــل قومونــه پــه جهــاد بانــدې ودان وي.

په دې ترتیب استاد خادم د نړیوال سیاست او فلسفې په رڼا کې پښتون سیاست او فلسفه وړاندې کوي او له پښتني او اسلامي غوښتنو سره سم د یوه ملي حکومت د جوړېدو هیله من و، خو لیدل یې چې له هرې خوا دده ملت ته دسیسې جوړې دي، خو ددې دسیسو د افشا کولو په خاطر یې په نړیوالو غږ وکړ:

چــا پــه یــو نــوم وخــوړم مــات کــړم
چــا پــه بــل اســم تبــاه میــرات کــړم
ای نړیوالــــــو د خــــــدای لپــــــاره
لــه کــومې لارې پیــدا نجــات کــړم))
(۱۲: ۷۶-۷۷)

د استاد رفیع په دې لیکنه کې د استاد خادم د منظوم کلام پر پورته راوړل شویو بېلګو، ځینې نورې څلوریزې هم راوړل شوې وې، خو څرنګه چې همغه څلوریزې په ورته مفهوم او شرح نورو ځایونو کې هم راوړل شوې وې، نو د تکرار د مخنیوي لپاره له دې متن څخه حذف شوې.

**۱۷- زرین انځور:** زرین انځور د هېواد پیاوړی لیکوال، ژورنالېست، کره کتونکی اوپه تېره بیا یو ښه کیسه لیکوال دی.تر اوسه پورې د زرین انځور نږدې شل عنوانه بېلابېل اثار چاپ شوي دي. ده د (۱۳۹۳ل)کال د دلوې پر (۱۲)مه نېټه داستاد خادم پر منظومو کلیاتو (خادم باد سبایم) یوه سریزه لیکلې ده. په دې سریزه کې یې دخادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب پر فکر اوکارونو هم لنډه رڼاچولې ده،چې دادی دلته یې وړاندې کوو:



((اروانباد استاد قیام الدین خادم د پښتو معاصرو ادبیاتو هغه نومیالی ستوری دی چې په خپلو شعرونو او نثرونو یې خپل نوم تلپاتې کړی دی. استاد د ګڼ شمېر منظومو او منثورو اثارو خاوند دی او په ځېړنیزه برخه کې یې هم مهم اثار لیکلي دي.

د هغه منظوم اثار د معاصر پښتو ادب د مهمې دورې له اثارو څخه دي. په دغه دوره کې په تېره بیا د موضوع او محتوا له پلوه ډېر نوي مفاهیم، فکري مسایل، اجتماعي، اخلاقي او حتی فلسفي موضوعګانې زموږ شاعرۍ ته راداخلېږي. که د فورم او یا هنري ارزښتونو له پلوه په دغه ډول ځینو شعرونو کې ډېر نوي څه ونه مومو، د موضوع او محتوا له اړخه دغه منظومه شاعري د پوره پاموړ ده. په حقیقت کې ددغې دورې د نظمونو په مطالعه کې موږ ددغه دوران د فکري بدلونونو، سیاسي اندونو، اجتماعي نظرونو او پر وړاندې یې د دریځونو پوره جاج اخیستلای شو. له همدې کبله ددغې دورې نظمونه ددغې دورې د سیاسي او اجتماعي دریځونو او اندونو غوره بېلګې شمېرلای شو.

استاد قیام الدین خادم هم د شلمې پېړۍ د پیل له غوره لیکوالو او شاعرانو څخه و او شعرونه او نظمونه یې د اجتماعي نظریاتو له پلوه پوره غني دي او له مطالعې او څېړنې سره یې دغه ډول شاعرۍ د منځپانګې او محتوا په باب موږ ته غوره ټکي برجسته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دغو نظمونو او شعرونو کې به زموږ ځوان ادیب او ادبپال نسل او دغه راز د فکري ودې د پرمختګ څېړونکي ډېر نوي څه پیداکړای شي او وبه توانېږي چې په افغاني ټولنه کې په ځانګړې مرحله کې په شعرونو او نظمونو کې د فکري، سیاسي او اجتماعي دریځونو ښه مطالعه وکړي.))**
**(۱۲: ۴۶-۴۷)**

## ۱۸- پوهاند ډاکټر زیور الدین زیور: ډاکتر زیورالدین زیور



**د پښتو ادبپوهانو له جملې څخه دی، چې ډېر کلونه یې په کابل، ننګرهار او نورو پوهنتونونو کې (د پښتو ادبیاتو تاریخ) مضمون تدریس کړی دی. ده (د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره) تدریسي اثر هم لیکلی دی چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې تر اوسه په تدریسي اثر په توګه ګټه اخیستل کېږي. پوهاند زیور په دغه او ځینو نورو اثارو کې د استاد خادم د ژوند او هنري کلام په برخه کې خپل نظر څرګند کړی دی، چې دا دی دلته یې لنډیز وړاندې کوو، دی د استاد خادم په باب وایي:**

**((د برې پښتونخوا د پښتو په اوسنۍ ادبي نړۍ کې پنځه ادبي ستوري (خادم، الفت، حبیبی، رښتین، بېنوا) دي چې ډېر شهرت لري او د استاذۍ درجې ته رسیدلي دي. دوی نه یوازې ادبي، تاریخي، اجتماعي، اقتصادي، ژبني، فولکلوري او نور علمي مسایل څېړلي، لیکلي او چاپ کړي دي، بلکې بېخي ډېر پښتانه ځوانان یې په دې لار کې هڅولي او روزلي دي. له دغو پخو استاذانو څخه یو هم استاذ (خادم) د پښتو ژبې ریښتینی خدمتګار، یو پوخ لیکوال، ښه شاعر، نومیالی ادیب او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فلسفي افکارو خاوند دی.))

ډاکتر زېور د استاد خادم د ژوند او اثارو د پېژندنې په لړ کې د هغه نثري اثارو ته اشاره کوي او وايي:

((د استاذ خادم په دغو کتابونو کې لومړني اثرونه تدريسي دي (پښتونولي) او (بايزيد روښان) د پښتني روح د خوځولو لپاره ډېر ښه شيان لري.

(د مرغلرو امېل) يې هم له مرغلرو ډك دی او دغه نور کتابونه يې هم د موضوع او مقصد له مخې ډېر ګټور اثرونه ګڼل کېږي، په تېره بيا (د پښتنو د تاريخ ستېه) چې يوه برخه يې په ورځنۍ مجلې کې خپره شوې ده.

په نثر کې د مرحوم خادم تر ټولو سپېڅلي، خواږه او خوندور اثرونه يو (نوی ژوندون) او بل (خيالي دنيا) ده. دا دواړه د ده ادبي شاهکارونه دي.

د استاذ خادم په ليکنو کې د پښتو او پښتونولۍ مينه په پوره ډول ځلېږي او په دې برخه کې د يوې پخې عقيدې خاوند او د (مومند) د سبك كلك پيرو دی.)) (۳۴: ۱۸۱-۱۸۲)

پوهاند ډاکتر زېور د استاد خادم د نثر او نظم بېلګې هم يادې کړې چې موږ د ليکنې د اوږدوالي او د نورو ليکوالو له ليکنو او يادونو سره د تکرار له امله د هغو له راوړلو ډډه کوو.

**۱۹- پوهنوال لال پاچا ازمون:** پوهنوال لال پاچا ازمون تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې نږدې دوه لسيزې کېږي د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې تدريس کوي، په لسګونو اثار يې ليکلي، تدوين کړي او چاپ کړي دي، په پښتو څانګه کې، ادبي کره کتنه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ادبیاتو معاصره دوره او ځینې نور مضامین تدریسوي. د خادم په باب



یې ډېره مطالعه، څېړنه او پلټنه کړې ده. د خادم منظوم کلیات (خادم باد سبا یم) او منثور کلیات (رڼه چینه)، دواړه ده راټول کړي دي. رڼه چینه په دوو ټوکونو او (۱۲۸۸)مخونو کې په ښکلې کچه او صحافت د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا پر (۱۳۹۴ل) کال چاپ شوې ده. په دې ډول د خادم صیب د نظم او نثر د څرنګوالي او څومره والي په باب زیات معلومات لري. دلته دده هغه تفصیلي لیکنه راوړو چې د خادم پر نثر یې لیکلې او په (رڼه چینه) اثر لومړي ټوک کې یې چاپ کړې ده.

((استاد خادم په افغانستان کې د پښتو منثور شعر د لومړۍ لیکې یو بنسټګر او مخکښ لیکوال دی. دده لومړن ی شاعرانه نثر له (۱۳۱۲ل) کال راهیسې د طلوع افغان په لمن کې خپرېږي، دا نو داسې زمانه ده چې دغه ډول نثر لا دود شوی څه چې لیکل شوی هم نه و، استاد په لومړیو کې، هغه مهال چې دی د دودیزو او عربي علومو زده کړې و، له عربي ژبې اغېزمن نثر یې لیکه، په نثر کې یې د عربي ژبې د وینو او ترکیبونو اغېز وینو. بیا یې د سلېمان ماکو نه په اغېز یو څه ساده نثر ولیکه، خپل شډل کلي او شډلې ژبې ته شو، دلته دده د نثر سبک بدل شو، خو علمي منطق یې لا پوخ شو، پر علمي منطق یې پښتني احساس هم سیوری وکړ، خادم د یو پښتون مفکر په توګه راڅرګند شو.

په پښتو او پښتونوالې دومره ستي شو چې پښتون یې ملت وباله او په همدې تفکر یې په وروستیو کې بیا د پیر روښان لاره ونیوه، په مسجع

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نثر يې لاس پورې کړ، خو هغه نثر چې هنري ارزښت لري، هغه يې بيا په روانه او خوږه ژبه ليکلی دی. هغه يې د پښتانه کليوال او لوستي په ژبه ليکلی دی.**

**استاد د داسې زمانې منثور شاعر دی چې د پښتو نثر يې له کړلېچونو او پېچومو وژغوره، د نثر ژبه يې روانه، ساده، رڼه او پخه کړه. د کلمو، ترکيبونو او جملو به اوډلو کې يې د نورو ژبو له اغېزه ځان وژغوره.**

**د پښتو په محاورو او اصطلاحاتو يې خپله وينا رنگينه کړه. دی د نثر په روح پوهېده. شاعرانه ذهن يې د کلمو په اوډلو کې د يو شاعر او مفکر انسان په توگه ځان راڅرگند کړ. هغه کومې ځانگړنې چې د منثور شعر لپاره وړاندې شوې، د استاد ليکنې پر دغه تله تلل کېږي.**

**استاد د هغو اوسنيو نثر ليکونکو په څېر نه و چې د پردۍ تيورۍ تر اغېز لاندې راغلی وای. دده او دده د زمانې د وتلو سټو هنري نثر يو ځانگړی پښتني جوړښت لاره. که موږ د استاد ځينې نثرونه راواخلو، په جملو او فقرو يې ووېشو، نو د سپين شعر بهترينې بېلگې دي.**

**بېلگه يې:**

**((گله تر څو به دې دا نگهت، دا خوشبويي او دا خوږه وږمه په خپلو نازکو نازکو پاڼو کې رابنده کړې وي، پرېږده چې له گلشنه غېږ راچاپېره کړي!...))**

**اوس همدا نثر کولای شو، د سپين نظم يا سپين شعر په بڼه وليکو:**

**گله!!!**

**تر څو به دې**

**دا نگهت،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خوشبويي

او دا خوږه وږمه

په خپلو نازکو پاڼو کې

رابنده کړې وي.

پرېږده !

چې له ګلشنه غېږ

راچاپېره کړي!...

استاد دغه نثرونه په داسې زمانه کې ليکلي دي چې د شعر سفيد څرک نه و، خو استاد په خپله خپل نثر ته منثور شعر ويلی دی. د دغې ادعا ثبوت يې همدغه شاعرانه نثرونه دي چې ددې ټولګې په لومړۍ برخه کې ځای شوي دي.

د استاد خادم د منثور شعر کمال دادی چې دی د نثر داخلي او معنوي موسيقي سره ښه غاړه کوي، ځکه خو يې د نثر ژبه هم تصويري، مجازي او نا مستقيم بيان کوي. د استاد په نثر کې ذهنيت او عينيت شاعرانه چاپېريال برابروي چې همدغې ځانګړنې يې پر لوستونکو اغېز ښندلی دی. د کلمو په غوراوي او شاعرانه ترکيبونو جوړولو کې حساس دی. ژبه يې د حسي کلمو د عواطفو په رنګ کې يو عيني انځور وړاندې کوي. دلته يې همدا ځانګړنې راسپړو:

**پخې خبرې په شاعرانه نثر کې:** خادم استاد شاعر دی، مفکر دی، فکر يې د شعر په وږمو د نظم او نثر پر ځمکه کرلی دی، له رنګونو سره خبرې کوي، ګلونه تخنوي، وږمې پېيي، په لفظونو کې مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانغاړي، د ژوند ښکلا او ښايست په لفظونو کېويني، هيله او غوښتنه د ژور فکر او لوړ خيال په مزي د انسانيت کور ته رسوي.

له واړه کلي راوځي، هېوادنی کېږي او بيا پر نړيواله دايره ورننوځي، خادم د سبا د باد په څېر به مړاوو غوټيو تېرېږي، د ناز په خوب ويدې غونچې ورو ورو راويښوي، د شعر له ملکې سره خبرې کوي، تصوير جوړوي، تصوير يې ژبه لري، د هر چا سره غږېږي، غږېدا يې مينه، خپلواکي او ښايست وېشي.

تفکر يې شاعرانه دی، مفکوره يوازې د علم په دايره کې نه پرېږدي، د خيال پر څنو يې زنګوي.

د خادم وينا له نازکيو، ښايستونو، پاخه منطق او فلسفي افکارو نه ډکه ده، خوږلني يې لکه د ګل رنګ چې خوشبويي وېشي.

د خادم ذهن خپل فکر او خيال يوازې او يوازې د لنډ مهال او د لنډې زمانې په مزو کې نه تړي، خادم ژوند يو سفر بولي، خپل خيال او فکر د دغه سفر ملګری کوي.

د خادم لفظونه د هرې زمانې اوبه څښي، هرې زمانې ته رنګ او خوند ورکوي، په هره زمانه کې تازه کېږي، د هرې زمانې لپاره يو نوی پيغام لري او په زړه جامه کې نوی رنګ او خوند ځلوي، په زړه پيمانه کې د ژوند شراب وېشي او د هرې زمانې په زړه کې ځای نيسي.

ژوند انتها نه لري، ژوند يو بې انتها سفر دی، هنر د ژوند له سفر سره موازي روان دی، هنرمن لفظونه او د خادم په څېر عالي ذوق او عالي افکار هم په دې سفر کې ګډ دي، څو چې دا دنيا وي، څو چې د ژوند سفر وي، همدا تصويري نقشونه به يې د ښايست او خوږلنی بېلګې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تاسې دغو وېناوو ته په عادي سترګه مه ګورئ، دا وېناوې د هغه ذهن او زړه هغه ګډ مترنم او خوږ امتزاج دی چې د ښکلا په سفر روان دی.**

**په دې تورو کې هغه تصویرونه ځلېږي چې رڼايي او ښکلا وېشي، د دغو تورو تر شا د دنیا او ژوند تر منځ یو تړون نغښتی دی، ژوند بې له دې تورو نه کېږي، ژوند بې د خوند او رنګ له تصویره نیمګړی دی، تصویر د ژوند تفسیر او رنګین تعبیر دی، خادم په دې مانا پوهېدلی دی، د خادم ذهن، د خادم ژبه، د خادم فکر، د خادم خیال او باالاخره د خادم قلم د ژوند د ښکلا په انځور پسې راوتی دی.**

**دا زمانه ورته رباب ښکاري، دی یې د ناز په ګوتو ترنګوي، د رباب له تارونو د ژوند د نغمو وزرونه پرانیزي، د خپل ذهن له طلايي قفسه زرین انځورونه ازادوي، د زړه له رګونو سندریزې ولولې راوباسي او باالاخره د ژوند رنګین تعریف کاږي. ژوند حرکت بولي او ښکلا یې رنګ او سوکالي.**

**ژوند نه راستنېږي، ژوند پر مخ ځي، ژوند هدف لري، ژوند د ښکلا او ذوق په مزاج پوهېږي، ژوند شېبه ده، ژوند لمحه ده، ژوند ورځ ده، ژوند شپه ده، ژوند کال دی، پېړۍ ده اوړي، له ځانه سره همداسې شاعرانه افکار په تصویري ژبه زمزمه کوي او د لوړو غرو مزل کوي. په سر یې واورې او په لمنو یې ګلونه بویوي. د زلفو تار اخلي او د حرکت ملا تړي، سبا د تورو غرو مزل دی.**

**د خادم وینا له بیاني او وچې معنوي ژبې نه خپله ازادي اخیستې، له ځان سره غږېږي، له ځان سره بوږنېږي، څه وایي، څه زمزمه کوي، اخر له دې وینا تصویر راوباسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خادم لفظونه له تنگ چوکاټه ځان راوباسي، په یوه لویه دنیا او یوه لوی ارمان ورگډېږي، انساني افکار پالي، د انساني عواطفو رنگ اخلي او د بشریت احساس پالي.**

**د هر چا له نظره ژوند یو تعریف لري، ژوند سفر بلل کېږي، ژوند د زهرو پیاله گڼل کېږي، ژوند د یوې چینې خوږې اوبه دي، ژوند لوبه ده، ژوند زیان دی او سټړیا ده، سکون یې په سټړیا کې دی.**

**خادم د ژوند ستنې علم، شعر او سیاست گڼي، دده شاعرانه مزاج، دده فکر له همدې درېو ستنو جوړ دی.**

**په علم ذهن بوخت ساتي، څه کشفوي، په شعر احساس پالي او په سیاست کې عملي ډگر ته راوځي، ځان نبوغ او عبقریت ته رسوي، په شاعرانه تفکر خیالي دنیا جوړوي او سیاست د ملت د سرلوړۍ او پرمختگ یو اساس گڼي.**

**د ژوند له تجربو گټه اخلي، په دې قافله ورگډېږي، خادم په شاعرانه لفظونو کې سکون کټ مټ مرگ گڼلی، د ژوند برکت او سکون یې په حرکت کې موندلی، خادم په زړه او ذهن کې له دنیا څه پټ نه پرېږدي، ازادي د ژوند گاڼه بولي.**

**خادم له ولسه رنگ اخیستی، د خپلې سیمې هوا پرې چلېدلې، له خپلو خلکو او خپلو تجربو نه راولاړ شوی، نو داسې وینا چې د یوه حساس ذهن، پاک زړه، د ولس په رنگ رنگېدلې او پښتني ماحول نه راپورته شوې، په خپلو تجربو رنگېدلې وي، هغه به څنگه شاعرانه نه وي، داسې وینا چې د سپین غره باد پرې لگېدلای وي، د شمشاد د هسکې څوکې تر سیوري لاندې دمه شوی وي، د خېبرېو، نمنځو شور پرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګېدلای وي، د تنزرو غږ او د هوسیو منډو او ترپکو تخنولای وي، نو څنګه به د خیال پر ځمکه نه ورګډېږي.

دده وینا لکه د متل په څېر د ژوند له تجربو راوتې، لنډه، ګنډه، رڼه او په شمېر شمارلو لفظونو کې حساسه وینا ده، چې خوند، کیف او مانا وپشي.

دغه وینا د ژوند ښایست او ملت ته له پنده ډک پیغام لري، دده دغه ویناوې زما له انده ژوند ته ساه ورکوي او ملت ته لوری ورښیي، چې نور یې هېڅ نه وای لیکلی همدا لنډې ویناوې به دده نوم ژوندی ساتي او دی به د ژوند په ور ګډ وي.

(کوم ملت چې اتفاق نه لري، ګویا هغوی سړی نه لري)

دا داسې یوه وینا ده چې زموږ د ملت بنسټونه راژوندي کوي او ځوان نسل ته د ژوند مفهوم ورښیي، اوس مهال موږ له دغې ستونزې سره مخامخ یو چې هغه د سړیو نشتوالی دی، ببېټ نیکه دعا وکړه، وګړي ډېر شول؛ خو سړي ورک شول، ځکه چې خبره یوه نه شوه، خولې ډېرې شوې، خو له خولو یوه خبره راونه وته، ځکه خو د پښتانه بخت کوټه دی.

**د استاد د نثر یو لړ ځانګړنې:** استاد پر عربۍ او اردو ژبو پوهېده او له انګرېزۍ سره هم بلد و، دده مطالعې او علمي استعداد دده پر نثر اغېز کړی دی، کله نا کله داسې زیږ پښتون شي چې په لیکنه کې کره پښتو محاورې، اصطلاحات، پښتني ترکیبونه او د غرو رغو شډله او زیږه ژبه کاروي، خو کله بیا د مطالعې، زده کړې او پوهې اس زین کړي او د غرور په نیلي داسې مست ټوپونه وهي چې د عربۍ او دري ژبې کږلېچونو ته مخه کړي او هغه سخت ترکیبونه او میرزایي لغات راوړي چې تحلیل او مانا یې غور غواړي. دلته یې بیا یوه بله څېره راښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خادم کلتوري، سیاسي، ژورنالیستیک او ټولنیز نثرونه دده د ځانګړي استعداد، پوهې، منطق او استدلال داسې رنګیني لري چې دی په ټولنه کې د یو سترګور، خوله ور او نقاد لیکوال په توګه راڅرګندوي. کمه نه وايي، د کمې نه ویلو لاملونه یې ځانګړې پوهه، استدلال ، ځانګړی لیدلوری، منطق او پښتون جرات دی، نو بایده دي چې په تفکر او نثر کې د پېغمبرۍ دعوه هم وکړي. باید چې خپل صفت خپله وکړي، ځکه نورو یې صفت ته الفاظ هم نه لرل.

د یوه ښه نثر د پېژندنې لپاره د هر چا لیدلوری جلا دی، زما له انده د استاد خادم د نثر د سپړنې لپاره د لوستونکي ذهن ته یو څو ټکي ورځي، همدغه لاملونه او خوږلني به وي چې د استاد د نثر لوستونکي او مینه وال یې زیات کړي دي.

د یوه ښه نثر د پېژندنې په برخه کې لومړی لغوي زېرمه، معنوي او ښکلاییز اړخونه دي. معنا او ښکلا د جملو، ترکیبونو او فقرو په اوډون کې نغښتې. ددې ترڅنګ د کلام موسیقي هم د جملو، فقرو، ترکیبونو، پاراګرافونو او په ځانګړې توګه د غږونو په تکرار او اوډون کې نغښتې.

اهنګ د کلمې، جملې او پاراګراف د معنوي او لفظي ښکلا او بدلون یو بنسټي توکی دی. د غږونو تکرار او همغږي د کلام موسیقیت برابروي، همدارنګه په یوه نثر کې د کلمو او ترکیبونو معنوي تسلسل هم د کلام د ښکلا او اهنګین ترېښت لامل کېږي.

په نثر کې د مترادفاتو، اضافت، تشبیهي او استعاري ترکیبونو کارول د انځورونو د رامنځته کېدو لامل کېږي، مستقیمه او نامستقیمه وینا هم د نثر یوه ځانګړنه ده. د نثر معنوي او لفظي ښکلا د مخامخ لوري اورېدونکي یا لوستونکي د حواسو په پارولو کې هم ځانګړې ونډه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنري نثر هم دې ته وايه شي چې د جادوگرو لفظونو په اهنگين تړون خيال اوفکر وړاندې کړي او پر خپل اغېز د مخامخ لوري حواس او تخيل راپاروي او له ځانه سره يې ملگری کوي.

د ښه نثر يوه ځانگړنه داده چې ليکوال خپله موخه او هيله په داسې شمېرلو او رڼو لفظونو کې وړاندې کړي، چې لفظي او معنوي ښکلا ولري او کلمې يې زياتره حسي وي، ځکه حسي کلمې زموږ حواس فعالوي، ذهني او عيني انځورونه په حرکت راولي، متضادې کلمې او جملې او همدارنگه په نثر کې ايجاز او اطناب يې ښکلا لا زياتوي او يو معجز نثر رامنځته کېږي.

د استاد خادم نثر په پورته څرگندونو برابر دی، استاد خادم د ناز په گوتو ورو ورو غونچې تخنوي، له غونچو سره دده د گوتو تړاو او بيا تخنول هغه څه دي چې زموږ شاعرانه حواس فعالوي، ترڅنگ يې وږمو ته ژبه ورکوي او هغه بيا په خبرو راولي، وږمو ته جسم ورکوي او بيا په خبرو راوستل دا د يوه شاعرانه ذهن تخليق دی. خادم هڅه کوي چې دی د يوه شاعر نثر ليکونکي په توگه د مخامخ لوري يا لوستونکي ذهن او زړه په حرکت راولي او هغه له ځانه سره بوخت او ملگری وساتي، بوختيا يې په لفظونو، ترکيبونو، جملو اوعباراتو کې ده. دی خپل لوستونکی له ځانه لېرې نه پرېږدي، د شاعرانه ذهن له ټکو سره يې غاړه کوي.

د خادم د نثر سترگه خبرې کوي، خبرې کول د ژبې کار دی، خو خادم حس امېزي کوي، بې ساه او بې ژبې څيزونو ته ژبه ورکوي او له هغوی سره غږېږي، گل او لمر مخاطبوي، په هغوی خپل پيغام رسوي.

**انځوريزې ننداري:** استاد د خپل نثر په لمن او مرغلين هار کې په خوږو او رڼو لفظونو انځوريزې ننداري وړاندې کوي، د لوستونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهن یوه حالت، یوه ځانګړي شاعرانه چاپېریال، بېلابېلو اشخاصو او ښکلاوو ته بیایي، دا د یوې ادبي لیکنې ستره ځانګړنه هم ده، استاد په دې برخه کې د پیاوړي شاعرانه استعداد او حساس ذهن څښتن دی، هم ورسره علمي ځواک شته او هم تخیلي. د ده زیاتره هنري نثرونه له دغو خوږو مالامال دي، غوراوی په کې ګران دی، ځکه د رحمان تمام غزل دی انتخاب، د ده زیاتره انځوریز نثرونه د غوراوي دي، په دې برخه کې یې دا څو بېلګې ولولئ چې په یوه شاعرانه جام کې د ژوند خواږه وېشي:

((ګله تر څو به دې دا نګهت، دا خوشبویي او دا خوږه وږمه په خپلو نازکو پاڼو کې رابنده کړې وي، پرېږده چې له ګلشنه غېږ راچاپېره کړي!

ای د رباب نرو تارونو، دا خوږ اواز، دا ملکوتی سرود چې له جنته راوتلې حوره ده، پرېږدئ چې نوره ونه ژاړي او خپل اصلي وطن ته لاړه شي.

(۵)

کوم وخت چې امېدونه په یاس بدل شي!

هغه وخت چې شرافت د ننګ جامه واغوندي!

هغه مهال چې افتخار ذلت ته سر ټیټ کړي!

هغه ورځ چې عشق او محب خپل د بوډۍ ټال د حیات له اسمانه وشلوي!

او په هغه نوبت کې چې حیات د زهر هلاهل ګوټ شي!

(٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، دا مرگ دی!

نو ولې له ده دومره وېرېږئ؟

مور چې اولاد له یو تي جلا کوي، نو ژاړي؛ مگر دستي یې بل تي ته اچوي او کراروي یې!

ناوې چې د پلار له کوره بیایي، نو جیگر خونه او خواشینې وي؛ مگر دا ټولې خواشینۍ هغه وخت هېرې شي چې د خاوند د مینې په غېږ کې سر کېږدي او ویده شي.))

استاد د گل په پاڼو کې وړمې تخنوي، د گل له پاڼو د عطار په توگه عطر نه جوړوي؛ بلکې دی په لفظونو کې د گل خوشبویي د لوستونکي تر حواسو رسوي. دی د عطرو خوږ بویي په خبرو راولي او له گل سره د زړه خواله کوي.

په خوشبو کې درمل وېشي او رنځور ژوند په خپلو ښو دروي. استاد خادم په خپل نثر کې د ژوند لپاره خوند ظرف یا پیکر گرځوي، ژوند د خوند په پیمانه کې وړاندې کوي. د یوه امریکایي پوه له قوله د ژوند ښایست او د عمر اوږدوالی د کار په درې حرفي کلمه کې دی، استاد د نثر ښکلا او پاېښت د شعر په درېو توریو کېویني.

**شاعرانه مغکوره:** د استاد د نثر بله ځانگړنه داده چې دی د خپل پاخه سیاسي فکر او بصیرت له مخې ژوندنۍ چارې ترسره کوي، یوازې ځان په علم پورې نه تړي، علم د ټولنې د پرمختگ او ادب د ښایست لپاره کاروي، وایي: د دنیا ماشین په تش علم نه چلېږي. د (یو ځنگلي بنیادم) په نثر کې دی د مدني ټولنو د وگړو تر منځ اړیکه ښیي، دغه اړیکه او مدنیت د انسان ژوند، ذوق، خوند او رنگ وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو متل دی چې یو یې ګټي او سل یې خټي، همدا متل راسپړي، په دې متل کې د ټولنې د وګړیو تر منځ کاري اړیکه، مسوولیت او صلاحیت وړاندې کوي، نو کیسه کوي، لنډیز دا راباسي چې هغه چې د مسولیت احساس کوي او مشري ورپه غاړه کېږي، هغه تر ټولو لولنګر وي، هغه باید ګټه وټه وکړي، د رهبرۍ مسولیت باید وپېژني.

دده د مبارزې یو بل شاعرانه رنګ دادی چې (... د احسان په زور په زړونو حکومت کاوه شی او دا قوت په توره کې نشته) دلته استاد د یوه مفکر لیکوال په توګه د حساس ذهن له مخې غږېږي. د حکومت او ملت تر منځ اړیکه په لنډه وینا کې څرګندوي. پر ذهن حاکمیت عمر نه لري، خو پر زړونو حکومت تلپاتې وي.

استاد دلته د ټولنې د رهبرۍ لپاره خپله پخه مفکوره وړاندې کوي، دی دلته د یو مفکر ناثر په توګه خپل لفظونه څرګندوي.

د استاد نثر یوه بله ځانګړنه داده چې دی د ښکلا په پیمانه کې د نثر معنوي قوت ته پاملرنه کوي، معنوي اړخ یې په حکیمانه فلسفي فکر ولاړ دی. دی همدغه حکیمانه او فلسفي خبرې شاعرانه کوي، دی غواړي چې خپل خبرې په زړونو کېنوي او زړونو ته لاره پیدا کړي، دا کار دیوه شاعر دی، خو کوم شاعر؟ هغه شاعر چې د خپلې ټولنې په نبض پوه وي او د خپلو خلکو په خبرو مین وي، دی د خپلې ټولنې له زړه څخه غږېږي.

د استاد د نثر بل معنوي قوت دا دی چې د یوې ټولنې د وګړو تر منځ ټولنیز تړښت، یو بل ته درناوی، له ظلم او تېري څخه لاس اخیستل او باالاخره یو بشري او انساني ژوند ته خلک رابولي. (د چا کچرې مه ترهوئ) په دغه نثر کې یې همدا فلسفه نغښتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد په خپل نثر کې دا هڅه کړې ده چې په خوږو لفظونو او ترکیبونو کې شاعرانه خبرې وکړي او په دغو خبرو کې د ټولنې د پرمختګ او هوساینې لپاره یوه نسخه وړاندې کړي.

بله هڅه دا کوي چې په ټولنه کې د هرې طبقې ارزښت او فعالیت څرګند کړي، وايي: (عالم فکر کوي، شاعر خبرې کوي او سیاست عملاً کار کوي) پایله دا راوباسي: (زندګي یوه سرسبزه او ښېرازه ونه ده، علم یې بېخ، شعر یې تنه او سیاست یې مېوه ده.) داسې خبرې د ژوند فلسفه وړاندې کوي. د هر چا مخ ته هېنداره نیسي، هر سړی په دې هېنداره کې خپله څېره ویني او ځانته ځای پیدا کوي.

د استاد نثر یوازې او یوازې لفاظي نه ده او نه د لفظونو په ځل و بل لوستونکي تېرباسي؛ بلکې دی په لفظونو کې یوه مفکوره وړاندې کوي، د سبک په ځانګړنه کې یوه مهمه خبره دا ده چې سبک مفکوره او د لیکوال احساس او عواطف راښیي. د استاد په لیکنه کې مفکوره او دده احساسات او عواطف څرګند دي، مفکوره یوازې په وچو لفظونو کې هم نه وړاندې کوي؛ بلکې ددې چارې لپاره له خپلو احساساتو، عواطفو او تخیله هم کار اخلي، لکه په پورته جملو کې مو چې دده مفکوره د یوه شاعر له لید لوري ولوستله.

د استاد لیکنې ژبه، محاورې، اصطلاحات او ترکیبونه خپل دي. دی له ولس سره پاتې شوی دی. د ولس په ژبه پوهېږي. د ولس اخلاق او پوهه ورته معلومه ده. د طبیعت مطالعه یې کړې ده، خو پر دغه لوست مطالعې او اورېدو سربېره یې خپل ذهن او فکر هم په کار اچولی دی، پایله یې یوه رنګینه مفکوره ده. دده په لیکنه کې شخصي عقیده، علمي-ادبي قوت، استدلال او منطق څپې وهي. په خپل نثر کې دژوند معنا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا، مفهوم او روح څرګندوي، په تخیلي او تصویري ځواک خپله خبره وړاندې کوي.

**حسي کلمې:** د استاد هڅه دا ده چې لوستونکي په یو څه بوخت او ذهن يې فعال او متحرک وساتي، نو د همدې موخې په پار په خپلې وینا کې حسي کلمې ډېرې کاروي، په تصویري ژبه غږېږي.

د حسي کلمو یو ارزښت دا دی چې موږ ته مانا د ښکلا او هنر په جامه کې وړاندې کوي.

د استاد د نثر یو کمال دا هم دی چې دی هڅه کوي، خپله خبره او وینا په لنډو او غوڅو غوڅو جملو کې وړاندې کړي، په لوی لاس جملې نه اوږدوي او نه د زړه خبره په مصنوعي خبرو او جملو کې کوي، څکه خو وايي چې: ((کېدای شي چې نور کارونه په زور وچلېږي، مګر قلم نازکه شی دی، په ده چې زور راشي ماتېږي.))

دلته دی د قلم ارزښت د شمېرلو او رڼو لفظونو په یوه پاراګراف کې وړاندې کوي، د تورې او قلم خبره د هغه شخصیت څېره راڅرګندوي چې هغه هم لیکوال وي او هم تورزن، دا خبره د خوشال لپاره کلیشه شوې ده، ګرانه ده چې قلم او توره سره ملګري شي، د قلم او تورې پخلاینه استاد په خپل تفکر په څومره خوږ انداز کې وړاندې کوي.

قلم زور نه مني، قلم زنځیرونه شلوي، قلم د ټوپک ملا ماتوي، قلم د خبرو شی دی، خبرې انځوروي او ذهن تخنوي. د نورو د سترګو کسي پرې ګډوي، سترګو ته اوبه ورکوي، تورو ته ساه ورکوي، نو له قلم او قلموال سره چلن هره زمانه باید تعبیر او تفسیر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((توره به خپل ځای کې دیکتاتوري ده او قلم په خپل ځای کې وړاندې والی، هغه وخت کېږي چې دا دواړه احترامانه اتفاق وکړي.))

دا د ننني زمانې نسل ته یو پیغام دی، توره په نره ګټي، خو د تورې د ساتلو هنر نه زده کوي، خادم د خپل ملت په مزاج پوه و، ځکه خو یې دا وینا له خولې راوویسته.

د شعر تعریف د خپل مفکر او شاعرانه ذهن له مخې داسې کوي چې شعر د خوند او کیف مجموعه ګڼي، خوشال په ټولو معناوو سره شاعر ګڼي، خو رحمان بابا ته د شاعر نه پورته مقام په سترګه ګوري، دغه او دې ته ورته خبرې د استاد ذهن پراخوالی، تفکر او د خبرو روح څرګندوي.

خادم یو سترګور نقاد دی، له چا یې سترګه نه سوځي، خو د لفظونو جادوګر دی، دی په ادبي او تصویري ژبه پوهېږي، یو شی وچ په وچه نه وړاندې کوي، خبره ښکاره او بربنډه نه کوي، خبره په پرده کې نغاړي، خو خپل جرات ساتي، دلته دده تصویري ژبه هم څرګندېږي، وایي:

((خوشال په ټوله معنایو سره شاعر دی، ولې رحمان د شاعر نه پورته مقام لري.))

خوشال ته قایل دی او لکه زموږ ادیبان او شعر پېژندونکي چې وایي خوشال خان شاعر دی، خو د رحمان بابا نوم ته بیا د شعر له سترګیو ډېر قایل نه دي، دا خبره اوس څوک په ولس کې نه شي کولای چې رحمان بابا کمزوری دی، ان تر دې چې د ادب  نقادان هم د رحمان بابا د منظوم کلام په باب دا خبره په جرات نه کوي چې د خوشال په پرتله یې په منظومه وینا کې شعري ارزښتونه او ښېګڼې تتې دي.

خادم دا خبره لوڅه او بربنډه نه کوي چې رحمان شاعر نه دی او خوشال بابا شاعر دی، همدا مفهوم او مانا د ادب په ژبه کوي. رحمان بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په یوه بل څه قایلېږي، دا چې له شاعر نه پورته مقام څه دی، د رحمان بابا په څېر شاعر یو روحانیت لري، عاطفي رنګ یې پر نورو رنګونو غالب وي، له همدې امله په ټولنه کې یو اعزاز او درنښت لري.

به یوه نثر کې دی تېره او ښیښه په خبرو راولي او یو له بله سره خبرې اترې کوي، د دوی دواړو تر منځ خبرې یوه شاعرانه فضا رامنځته کوي.

د استاد د نثر یوه بله ښېګڼه داده چې دی د هر علت لپاره معلول او د هر دال لپاره یو مدلول کاروي.

په شاعرانه کلام کې یوه ښکلا دا ده چې شاعر د خپلې ادعا لپاره یو دلیل او ثبوت راوړي، استاد هم د خپلې خبرې لپاره یو هنري منطق کاروي، هڅه کوي چې د کلام د خوږلنۍ په برخه کې متناسبې کلمې ډېرې وکاروي، (د ګودر پېژندل، نیکي او سړیتوب) هغه لنډې ویناوې دي چې په رڼو ملغلرو کې د یوې پراخې دنیا تصویر جوړوي، د ژوند لپاره د علم، شعر او سیاست تعریف کوي، وایي:

((علم اکتشاف! شعر احساس! او سیاست کول دي، عالم فکر کوي، شاعر خبرې کوي او سیاست عملاً کار کوي.

عالم ګوري، شاعر خاندي او ژاړي او سیاستدان لويي کوي، علم د مغز، شعر د زړه او سیاست د ګېډې او غړو پورې تعلق لري...))

**د استدلال ځواک:** د استاد د نثر یوه بله ځانګړنه دا ده چې دی د خپل تحلیل او نظر د پخلي لپاره بېلابېل روایات راوړي، د خپلې ټولنې او ولس خبرې را اخلي، په دې نظر دی چې له سوچه پرته باید پر یوه چا د ښو او بدو اطلاق ونه شي، د ښه سړیتوب لپاره هم دا معیار ټاکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چې په خپل مسلک کې ماهر او ژمن وي ټولنې ته ګټه رسوي، دا لوړ ځای لري.

دده نثر د ژوند د فلسفې یو رنګین تعبیر او تفسیر دی، په دې نثرونو کې د ولس ځوان نسل روزنه، وطن پالنه، ملت پالنه، دین پالنه او بشر پالنه په ترتیب نغښتي، د فکر او نظر د دایرې د پراخولو توصیه کوي، د یوه مفکر له لیده غږېږي، په (زه) کې ځان نه قیدوي، خلکو ته غوږ نیسي، خپلې خبرې ته د منطق اوبه ورکوي.

په دې برخه کې یوه ځانګړنه دا ده چې دی یوه واحده مانا په خپل شاعرانه استعداد په بېلابېلو بڼو او لارو داسې رسوي، چې تر منځ یې اړیکه تخییلي او تعقلي وي، یعنې هم د بیان او هم د معاني علم پالي.

په دې ټولګه کې دی د یوه افغان له لیده غږېږي.

**موسیقي:** د استاد خادم په منثور شعر کې د لفظي موسیقیت او د معنا د بشپړولو لپاره د منظوم شعر په څېر کله نا کله یوه نیمه جمله یا فقره تکرارېږي، لکه واخلې، په (طلسمي ښار) کې (ببرته شه د خدای په فضل) همدا موزونه وینا د نثري وینا معنوي لفظي ښکلا ساتي.

که دا جمله لرې شي، نو بیا به په دغه منثوره شاعرانه ټوټه کې هغه خوند او کیف نه وي.

شاعرانه نثر د منطق له مخې هغه نثر ته وایه شي چې شعري ځانګړنې او ارزښتونه په کې وي، شعر د خبرو هنر دی، مخیل کلام دی او د فکر و خیال عاطفي تړون دی، دې ته یې ورته نور تعریفونه هم شوي دي، په شعر کې بنسټي توکي خیال، عاطفه، فکر او اهنګ دی. په هره وینا کې چې دغه توکي موجود وي، هغه شعر نومېږي، یوه ادبي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعرانه لیکنه له نورو لیکنو سره دا توپیر لري چې شاعرانه یا ادبي لیکنه تخیل پاروونکې وي، پر لوستونکي یا اورېدونکي اغېز کوي او د هغه احساسات، عواطف او تخییل راپاروي، د استاد خادم په دغو نثرونو کې همدغه ځانګړنې موجودې دي، همدغه ښېګڼې په کې تر سترګو او غوږ کېږي، نو ویلای شو چې د استاد نثر یو شاعرانه نثر دی.

د استاد د ادبي نثر په باب ډېرې خبرې کېدای شي، دده هر نثر ځانته سپړنه غواړي، خو ښه خبره دا ده چې له دغه شاعرانه نثر نه خوند او پند واخلو، د استاد خادم په دغه ټولګه (رڼه چینه) کې زیاتره ادبي نثرونه ځای شوي دي، ادبي نثر (تشبیه، استعاده، کنایه، مجاز، پاراډاکس، سمبول، اسطوره او ... رغېدلی دی.)

ادبي یا هنري نثر یو ځانګړی موسیقیت او اهنګ هم لري، د لفظونو ترمنځ اوډون، تکرار او هماهنګي یې موسیقیت جوړوي.

استاد په شمېرلو لفظونو، پرېوللو جملو او لنډو لنډو پاراګرافونو کې خپله خبره کوي، دی غواړي چې خپله خبره د داسې غږونو په اهنګین مزي کې وپیي چې مخامخ لوری تر خپل اغېزې لاندې راولي او د هغه حواس او تخیل راوپاروي، ددې موخې لپاره د لفظونو په ترښت کې استادانه چلند کوي.

هر لفظ ځانته اهنګ لري، د توریو د زیر و بم جګوالی او ټیټوالی، د غږونو تکرار، لفظي او معنوي تسلسل او اهنګین تړاو د نثر موسیقي جوړوي، د استاد په نثر کې دغه خوږلني زیاته وینو، د لفظونو او غږونو تکرار غوځې غوځې جملې او د کلام زیروبم دده د نثر موسیقي ده.

د ده د نثر په لفظي او معنوي کلمو او جملو کې داسې یو اغېز نغښتی چې لوستونکی ځان ته رابولي، دی نه وایي چې پاڼې رپېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د پانې د رپېدو خبره عامه او عادي ده؛ بلکې دی له پانې سره د خاندي فعل یو ځای کوي. پانې خاندي، په دې شاعرانه ترکیب کې د پانې (پا) او د خاندي (خا) د غږونو یو اهنګي تړښت دی او هم د خاندي فعل د پاڼو لفظ حسي کړی دی او خندا ته یې جسم ورکړی دی، ژبه یې له عادي حالته اړولې چې دغه حالت یې هم تصویر او هم موسیقي برابره کړې ده.

د استاد د نثر یوه خوږلني دا هم ده چې دی د ترکیبونو، فقرو، جملو او پاراګرافونو تړښت د غږونو په منسجم تکرار سندریز کوي، استاد لیکي:

(ای خدایه زه یوازې یم!

زه پرېشانه او بې مرستې یم.

وړې وړې مرغۍ چې جوړه او سیلونه سیلونه ګرځي ماته ژړا راځي.)

په دې نثر کې د (یم، ې، آ، ه) غږونو تکرار (وړې وړې او سیلونه سیلونه) لفظونو تکرار وینا سندریزه کړې ده چې دغه ښکلا یې د لوستونکي د زړه تارونه ترنګوي. دلته د استاد معنوي ځواک په تشبیهي جامه کې وړاندې شوی دی. دعا یې سندریزه او تشبیهي ده، (په زړه کې د وینې لارې کېدل) د ترحم خبره ده چې د دوو غوایانو په جنګ سره زړه ته راځي، نو په دې نثر کې مفکوره، ترحم، یووالی او محبت دی، ټولنې ته دا درس ورکوي چې انساني ژوند په مینه او محبت پایي.

د موسیقیت بله خوږلني یې په دې کې ده چې دی په انځوریزه ژبه غږېږي، دا ژبه یې له فصاحت او بلاغت نه ډکه ده، په دې (زما زړه پاچ ټیکری و، چې د ګل په بوټي غوړېدلی و، کوم وخت مې چې راغونډاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اغزو کې تار تار شو او په لاس رانغی) شاعرانه پاراګراف کې زړه او پاچ یوه تصویري ژبه او حالت رامنځته کړی دی. زړه یو چا ته ورکول او بېرته ترې اخیستل هماغه د پاچ او د اغزي تر منځ رابطه جوړول دي، دی دلته د خپلې خبرې لپاره حسي کلمې راوړي.

په بل ځای کې لیکي چې (مصنوعي خوشالي د پوکڼۍ غوندې چوي) لیکوال یا د قلم خاوند ته خبره رالنډوي او په لنډیز ورته وایي: ((د تروږمۍ د نیمې شپې په سکوت کې د غټو غټو ستورو نه ورهاغه پلو، د هغه وړو وړو سپرغیو په خفیفو اشارو کې ماته دا راز څرګندېږي، هلته وګورئ.))

د غبرونو تکرار یې د کلمو تر منځ معنوي تړښت په تصویري ژبه وړاندې کړی دی.

((... شپه په ټوکو او مسخرو او ساز و سرود اخر ته ورسېده، شمعې ددې مجلس د انحلال او خورېدو له غمه ټوله شپه په سرو سترګو وژړل، ستوري د لویې شپې په بیدارۍ او کتلو کتلو ستړي شول او وار په وار لاړل، د افق په لمن کې یې ځانونه وغورځول، نازنینانې د خوب په شراب مخمورې شوې، ځینې یوه یوه ځانګې وانګې پرېټې او ځینې لاړې کورو ته، ببوجانه یوازې په میدان پاتې شوه، سید کمال چې ببو جانې ته مخامخ ناست و او تمامه شپه یې د شمعې د ژړا هم اهنګي کړې او دننه دننه سوی و، اوس چې د سبا سترګې د مشرق له خوا سر راپورته کړی و او په یوه یوه جلوه یې د نورو ستورو سره خبره کولې، په ورو ورو د ببوجانې خوا ته ور وړاندې شو او په زنانه لهجه یې ورته وویل: (خورې، څه چې مورې هم کور ته ځو)، دواړه راروان شول، سید کمال له سره پوړنی وغورځاوه او خپل چنګ چنګ برېتونه یې ښکاره کړل...))

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نثري ټوټه کې د (س، ش او ... غږونو تکرار او همدارنگه د یو شمېر نومونو او فعلونو بیا بیا تکرار د جملو تر منځ یو اهنگین تړون رامنځته کړی او تصویر یې لا ښکلی کړی دی.

((... په خبرو خبرو... له مجلسه لاړل، د سیند غاړې ته ورسېدل، د سیند پر غاړه په یوه لویه تیږه سید کمال او ببوجانه دواړه مخامخ سره دوه په دوه کېناستل.

د اسمان ستوري د سیند په اوبو کې ځلېدل، په دې ځای کې یې ددې دوه سترگو څخه چې غړېدې، نورې غړېدلې سترگې نه وې، د سبا سترگه وار په وار رانږدې کېده او په غټو غټو یې دې مینو ته کتل.

سید کمال ببوجانې ته وویل، ببو جانې، ته خبر کوه او زه به درته گورم، دا راز او نیاز د هغې پورې و، چې څو ملا الله اکبر وکړ او سپینوالی په افق کې خپور شو، اوس دا دواړه مین نیمرېي او نیمه خوا بېل شول.

کوم وخت چې دوی دواړه راوتل، یوې زړې ښځې چې هغه وخت وینبه وه، دوی یې لیدلي او څارلي وو، سبا یې دا زړه چغول گره په منډه لاړه او د ببو مشر ورور ته یې واقعه وویله، مشر ورور کشرانو څلور وروڼو ته واقعه بیان کړه او هر کله چې دوی ددې دوه مینو په مینه څه د بدو اشتباه نه لرله، نو تجویز یې دا وکړ، چې ببو جانه دې په مېړه شي...))

په دویمه ټوټه کې د خبرو خبرو؛ نري نري؛ د (س، ش او یو شمېر نورو تورو) تکرار او همدارنگه د سید کمال او ببوجانې مخامېدو او یو د بل حالت څرگندول ددې نثري ټوټې موسیقي او تصویر لا رنگین کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لفظي ښېګڼې:** استاد په نثر کې یو پښتون ملا دی، کله پرې عربي دومره زوروره شي چې د یوه ویي بېلابېلو بڼې وړاندې کوي، هغه بڼه زیاته کاروي چې لوستي پښتانه یې هم ډېر نه کاروي او زما په څېر خو ترې ځینې ناخبره دي، خو کله داسې هم شي چې د کلیو او بانډو شډله ژبه کاروي، دا نو هغه خادم دی چې کلي ته یې تګ راتګ زیات دی او له کلیوالو اوري، خپله هم یوه نیمه کلمه جوړوي.

د استاد په نثر کې لفظي یا بدیعي اړخونه ډېر بارز دي، دی د یوه شاعرانه ذهن په ورېمو تصویر جوړوي، حرکت او هڅونه کوي، په تصویري جملو کې د زړه خبره او پیغام وړاندې کوي، لوستونکي له ځانه سره بیایي، د ژوند روح ورښیي، دی په وچه علمي او ګرامري ژبه مصنوعي خبرې نه کوي، بلکې د یوه شاعر په ژبه غږېږي او په هنري نثر کې ورته دا ارزښت لري چې څنګه پر لفظونو د ژوند ماهیت او حرکت وړاندې کړي: (پاڅئ سبا دی، وګورئ سترګه جګه راغلې ده) دلته دی غږ کوي، د غږ کولو فعل سر ته راوړي، (سبا دی) دومره په زړه پورې جمله نه ده، (سبا دی) جملې ته حرکت (پاڅئ) فعل ورکړی دی، د (پاڅئ) له غږ سره زموږ ذهن هغه چا ته ورګرځي چې د ژوند حرکت او خوځښت ته باید راوبلل شي، (سبا دی) د یوه حرکت سبب کېږي، ورپسې بیا (وګورئ) له (پاڅئ) سره همغږې کلمه ده چې د کلام موسیقي یې برابره کړې او هم یې (سترګه جګه راغلې ده) حالت ته د یوه چا پام ور اړولی، (سبا او سترګه جګه راغلې) له (پاڅئ او وګورئ) سره د ژوند د حرکت لپاره دي. دلته (سترګه) د لمر لپاره استعاره ده. همداسې خپله خبره په تصویري ژبه را اخلي: (اوه، دا څومره تیاره ده، څومره توره وریځ ده، په دې تکنده غرمه کې دومره تیاره، ته به وایې چې د تروږمۍ ماښام دی!!!) دلته (څومره) استفهام (تیاره، توره) نومونه او همدارنګه (تکنده غرمه، تروږمۍ او ماښام)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ژوند بېلابېل هنرونه تفسیروي او په معنوي تسلسل سره هم د کلام موسیقي او هم یې لفظي او معنوي ښایست برابروي.**

**((اوه، دا څومره تیاره ده! څومره توره وریځ ده په دې ټکنده غرمه کې دومره تیاره! ته به وایې چې د تروږمۍ ماښام دی!!!**

**د لمر خاته او لمر پرېواته له خوا تورې تورې غونډۍ غونډۍ ورېځې! اوه څومره په سرعت حرکت کوي، رڼا هېڅ نشته!!!**

**اوهو، غرهار، ډزهار سړی به وایي ګوندې کوم لوی ښار بمبار کېږي! اوه، برېښناګانې، داسې ښکاري، لکه د اور متروکې! یا لکه اتشي ښیښې چې په کوم ځای ورول کېږي!**

**سخت حال دی، بده ورځ ده او اوضاع ډېره خرابه ده، ددې ورېځې د شان سره باران، ږلۍ، تندر او سېلاب لازم برېښي!**

**آه د سېلاب مخه او دغه کلی! دا څوک دي؟ دا ولې داسې بېخبره دي؟ دلته هېڅوک خوځېدونکی نه ښکاري، اوازونه نه اورېدل کېږي؛ دا ولې؟ د خدای لپاره دوی ویده دي او که مړه؟!!**

**دغه دی سېلاب راځي، دغه یې مخه ده، ټوب به یوسي، آه په دوی کې به ماشومان وي، ښځې به وي، ښکلې ښکلې نازنینان به وي، د ارمانونو او ارزوګانو ډک زړونه به وي، ټول به یوسي، آه، برباد به شي!!!**

**هلئ ویښ یې کړئ، ورغبرګ کړئ چې څه چاره وکړي، دومره غفلت! دا غرمه او او دا دروند خوب!! آه، دا ټول ویده دي، دا ټول ویده دي؟!!!**

**فرض کړو چې څومره غرېږي، هغومره نه ورېږي، توره وېرول کوي او سپینه ورول کوي، څومره چې وایي هغومره نه خېژي، مګر بیا هم په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړو غرونو خو باران کېږي! او ددې نتيجه سېلاب وي، هر کله چې وي، دا سېلاب به راشي او ټول به يوسي!!!

دا چې ((د سېلاب مخه چا نيولې ده، سيندونه چا بند کړي، بل ځای هم نشته او نه د تېښتې لار چې څه به وي)) بې همتي ده!

سېلاب خو د کلکو ګټانو او تړو سره لګېږي، مګر ډډه ترې کوي!

د انسان عزم، همت او اراده د زمانې د سېلاب مخه لا هم ګرځوي، پاتې لا د باران سېلاب! او اسمان تل د همتناکو د ارادې په موافق حرکت کوي!!!))

په دې نثري ټوټه کې په تصويري يا انځوريزه ژبه د يوه متحرک ژوند بېلابېل اړخونه څرګند شوي دي، د نثر په رنګينه پايله کې د سېلاب يوه کيسه کوي.

((... ببرۍ، په تلو کې ده، زوړ خوار خفه! او غمجن دی ليکن ببرۍ، والا خوشال او په خندا دی!

دا صورتونه څوک دي؟ زوړ ولې خفه دی؟ ښه نو! دی د دوی د جلا کېدو په خيال غړند دی؟ نه! دی غواړي چې که خدای وکړي زر تر زره دده د سترګو نه پټ شي او د دوی ياد هم دده د پاتې ژوندانه څخه د غلط توري غوندې لرې شي! ځکه چې دا هغه زړه غلوونکي شيان دي چې د زلميتوب د نشې په ورځو کې هر وخت دده زړه نه چاپېره وو؛ دده په زړه يې پرده غوړولې وه، ده دا ګومان کاوه چې زما سترګې د حقيقت تصويرويني، څه چې وينم هغه هماغسې دي هم! ده د دنيا په رنګونو کې خپل زړه رنګ کړو او له دغه رنګ ورکولو څخه يې د ژوند په ښايست سره تعبير وکاوه؛ دنيا د خوشاليو يوه سلسله جوړه کړه: لومړی د ښايست سبا خپل جعلي نور خپور کړ، بيا رڼا شوه، نو د عشرت ورېځ په فضا کې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چترۍ وغوړوله، وربخ ورکه شوه، بیا نو د مستۍ، رنګ د سرې زرغونې په شان په اسمان خپل تال واچاوه؛ د ژوند ورځ په دغه ډول تېره شوه؛ اسمان شین شو چې وې لیده مابنام نږدې دی، نو ورځرګنده شوه چې دغه زړه غلوونکې شیونه په اصل کې د ځوانۍ تېر ایستنې وې چې وو یو څه او ښکارېدل بل څه! کله د زړه د مجلس رنګ و رونق په دوی سره و، طاقت، قوت، بډایي، عشرت، خودي، ازادي، ترقي، ښایست، مینهو علم او باور ددې ټولو پټ ښکاره شول!...))

په دې نثري ټوټو کې استاد شاعري کړې ده، دغه نثري ټوټې د منثور شعر لوړې بېلګې دي، ځکه له ژوند سره دده د خبرو انداز، هغه مخاطب کول، ژوند ته ژبه او جسم ورکول، د ژوند یو شاعرانه تعریف دی. (ای ژونده ته همدا وې؟ ده بیا سر وخوځاوه، ویې ویل: ته ټوکه یې او که نه! لیکن ځواني خو هرو مرو ټوکه ده.)

د استاد د نثر یوه بله ځانګړنه دا ده چې دی په کیسه یي ښه خپل نظر وړاندې کوي، د ټولنې د یوې برخې وجود کې خپل تفکر وړاندې کوي: (زوړ باغوان)

((... دا ځل یې تسکوره ډېره پورته کړه او چې په پوره طاقت یې د یوه زوز په سټه وار کړه، نو تسکوره یې په خاورو کې ډوبه پرېښوده او کړوپه ملا یې لږه سمه کړه.

ښۍ خپړه یې د تسکورې په لاستي راچاپېره کړه، کیڼه منګوله یې پرې د پاسه کېښوده، سر یې لږ ګسې خوا ته واړاوه.

د لمر پلو ته یې وکاته چې په جړو وربځو کې پټ و او زیړ بخنو وړانګو یې د ورځیو د نریو نریو درزونو څخه اوږده تنابونه په ځمکه راخپرول او لکه چې په ده یې خندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې خپلو سپینو وېښتو ته وکتل، نو دده هم وښکي څه لږ غوندې سره وتښتېدل.

او چې په کینې لاس یې د تندي خوله پاکه کړه، نو په ورو ورو یې وویل:

اخر مازیگر شو، زما ټوله ورځ د زوزانو په وهلو تېره شوه.

گلان به څه وخت کرم؟

ځمکه لا بنجره پاتې ده

دا یې وویل او بېرته لگیا شو، د زوزانو په وهلو، دده په زړه کې تېره شوه، زوزان ایستل خو هم کار دی، زه به خپله وظیفه سر ته ورسوم...))

دی په دې نثر کې د زاړه باغوان کړه وړه، کردار یا کرکټر په داسې تصویري ژبه وړاندې کوي، چې د ټولنې نبض او حالت ترې څرگندېږي، په ټولنه کې د یوه مسول شخص ارزښت ښیي، سکون او خوشالي د خدمت په جذبه کې وړاندې کوي.

د استاد په یوې بلې تصویري نثري ټوټه کې چې خوندور خوب نومېږي، د مور او ماشوم تر منځ خبرې اترې دي، ماشوم په ژبه غږېدل، د دوی تر منځ د مینې او عاطفې تړاو یو تصویري شعر دی، په دې شاعرانه نثر انسان خودي او ازادي داسې تمثیل شوې، لکه د ماشوم ژوند او خوب.

استاد په یوې بلې نثري ټوټه (وروستۍ ورځې) کې وایي: ((... زه پوهېږم هغه ورځ به راشي چې ددې دنیا نظاره ما لپاره تماشه شي او ژوند به زما په سترگو وروستنۍ پرده واچوي او غلی به رخصت شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن ستوری به هماغسې د شپې ځلېږي، سبا به هغه شان لمر راخېژي او ساعتونه به د دریاب د چپو غوندې د غم او ښادۍ حساب کوي او موجونه به وي!...))

په دې پاراګراف کې ژوند په خپله مرګ ته سپاري، دی په شاعرانه لهجه د مرګ خبره نه کوي، بلکې ژوند قاتل بولي، پرده اچول او غلی تګ د مرګ حالت دی.

د استاد په نثر کې مونږ لکه وړاندې چې وویل حسي کلمې یو شاعرانه منظر کاږي، دی وایي: (هوا ساړه اسویلي کوي) دا جمله یو ځانګړی حالت ښیي، هوا مشخص شکل نه لري او د حواسو په واسطه یې ښه وړاندې کېږي، دا حواس هم د یوه شاعر حواس دي. ((... غوږونه دي غوړېدلې، یوازې هوا ساړه اوسېلي کوي، نه ما د هغه صورت وکوت او نه مې د هغه اواز؛ واورېد! ما، تش د هغه دورو قدمونو اواز له هغه سرک څخه اورېدلی دی چې زما د کاله په مخکې دي! یوه لویه ورځ د فرض په غوړولو تېره شوه او ډېوه تر دغه وخته ونه لګېده؛ زه دې کور ته نه شم غوښتلی، زه د ده د وصال په ارزو ژوند کوم؛ لیکن دا ساعت تر اوسه نه دی راغلی!...))

**تصویري ژبه:** استاد خادم په دې برخه کې بیا د یوه استاد نثار په توګه خپل فکر او خیال کارولی دی. دده دغه نثرونه په بیاني ژبه نه؛ بلکې په بدیعي او تصویري ژبه وړاندې شوي دي، تر څنګ یې د ادبي نثر ټولې ښېګنې او ښکلاوې هم ساتلې دي، یوازې یې فکر نه دی وړاندې کړی او نه یې یوازې د خیال پروا ساتلې ده. خیال او فکر دواړه یې په یوه اهنګین مزي پېیلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپلو لیکنو ته یې خیال خوند او فکر ژوند ګنلی دی. له غره سره خبرې کوي، غره ته ژبه ورکوي، غر مخاطبوي، غر په خبرو راولي، په همدغو خبرو او تصویرولو سره دی خپل فکر پالي.**

**دی وایي: ((ای د خیبر غرونو! بس کړئ دا د بېلتانه وظیفه پرېږدئ، پرېږدئ چې د یوې مور او پلار زامن سره په دیدار ماړه شي، په یوه کور په یوه انګړ کې دننه تاسو د کوه قاف مثال څه له جوړ کړی دی؟**

**راټیټ شئ! او په خپله سینه لیار ورکړئ، هغه میندو ته چې زامن یې تاسو یو تر بله فنا کړي او هغو خویندو ته چې ورونه یې د هغه په بې ابۍ په خپلو سرونو اورونه بلوي.**

**بس کړئ! د مینانو او عاشقانو په منځ کې رقیبانه سیاست تر کومه...))**

**اوس په همدغه نثر کې کړئ، پرېږدئ، شئ او ورکړئ هماهنګې کلمې او د دغو کلمو تکرار او همدارنګه لنډې او غوڅې غوڅې جملې او شاعرانه ترکیبونه د نثر موسیقي برابروي.**

**په همدې اهنګ په نثر کې نور زیات فعلونه هم تکرار شوي دي، بله ښېګڼه په کې دا ده چې دی دخیبر غرونه ځانته مخاطبوي، د بېلتانه پړه پرې وراچوي، له دغې پړې نه دده موخه یو سیاسي غرض دی، ده هغه غرض په بیاني ژبه نه؛ بلکې په تصویري یا ادبي ژبه وړاندې کړی دی.**

**دې ته ورته نورې نثري بېلګې هم لولو، په دې ټولګه کې چې د منثور شعر او یا ادبي نثر نوم پرې ایښودل کېږي، زیاتره همداسې نثرونه راټول شوي دي، معیار هم ورته همدا په پام کې نیول شوی چې دا نثرونه به د خادم له هغو نثرونو چې یوازې او یوازې په معني رنګ رنګېدلي یا یې مانا پر رنګینۍ زوروره وي، توپیر ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې خو خادم په خپل ژوند کې ډېرې زیاتې لیکنې کړي، خو دلته موږ له هغو نورو خبري او ژورنالیستیکو، سیاسي او... لیکنو تېر شو، یوازې مو دده همدغه شاعرانه خبرې او د ژور فکر تحلیلي لیکنې چې ادبي مالګه هم لري، راواخیستې.

د خادم صیب په دغو نثرونو کې یو کمال دا دی چې کیسه یې طرحې وړاندې کوي او لوستونکي ته تلوسه په کې رانغاړي، همدارنګه خپله خبره د کیسې یا نکل په بڼه راسپړي او یوه لنډه، ګنډه او شاعرانه پایله یې راوباسي.

دغه ښېګڼې موږ په (نوی اکتشاف، نوې لیاره او...) کې لولو.

د نثر بله ښېګڼه یې دا ده چې تصویري جملې را اخلي، دغه تصویري جملې دده د خیال زېږنده دي، بېلګه یې (زما زړه داسې دی، لکه د سبا باد چې په لاله زار ګډ وي)

د استاد کمال په دې کې دی چې تصویري ژبه په لوی لاس مصنوعي کوي نه، طبیعي هنر یې به مصنوعي وزرونو نه الوځي، بلکې طبیعي مناظر په طبیعي او تصویري ژبه وړاندې کوي، په لوی لاس د خیال په وزرونو نه الوځي. دلته یې یو څو بېلګې راوړو چې یوه طبیعي منظره یې په ډېرو طبیعي لفظونو او تصویري ژبه کې وړاندې کړې چې هم خوند او هم رنګ وېشي.

((مازیګر لمر په غړ غړه دی، د انګړ په منځ کې د ګلانو د کیاریو په غاړه وړوکی ماشوم په لوبو بوخت دی، په لمن کې خاورې اخلي له یوه ځایه یې بل ته وړي او هلته غونډوي!

مور د کاله په کار اخته ده، په ډېره بیړه لګیا ده کالي کوندي سنبالوي، ځکه چې ماښام دی او وخت ناوخته دی، د کار په منځ کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پام شي، نو غږ کړي چې (زړگیه) څه کوې؟ ماشوم په خپله نیمکله او خوږه ژبه وایي (دودۍ پکه کم!).

مور: څه کوې؟

ماشوم: دودۍ پکه کم، یانې ډوډۍ پخوم

مور د کاله په کار بوخته او ماشو م په خپلو لوبو بوخت دی، وړې وړې مرغۍ چې په کیاریو کې یې ټوپونه وهل خوشحاله خوشحاله او جلتې جلتې گرځېدې، یوه یوه والوته او ټولې خپلو بچیو او ځالو ته لاړې.

وخت تېرېږي، لمر ولوېد، له ښکته تیاره راپورته او د ځمکې په مخ راخوره شوه، د اسمان په شنه او نامحدوده فضا کې ځای په ځای ستوري راښکاره شول.

مور چې د کاله د بیړې نه خلاصه شوه، نو ځان سره یې وویل: آه! ماښام دی ژړغونې شوه، بچی مې هلته لوبې کړي، آه زما هېر شوی دی!!!

ورغله، څه گوري، ماشوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنې ډوپکۍ جوړې کړي دي، جړ پړ پروت دی، چې ستړی شوی دی، په خاورو کې یې سر ایښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته یې ځان سپارلی دی.

د ماښام په خړه تیاره کې مور د خپل ماشوم سر ته ولاړه ده، زړه یې د یو عالم ترحم او رقت نه ډک دی او چرت وړې ده.

هو د ژوندانه مثال همدا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبې کوو، په دغه لوبو اخته اوسو چې د مرګ دروند خوب په موږ خپله چپه راوړي او بل عالم ته مو بوځي.**

**مګر آه، څومره خوږې دي دا لوبې!**

**او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او ازادۍ سره وي!!!))**

**ددې ترځنګ يو بشپړ انځور هم وړاندې کوي، مکالمې او ډيالوګونه يې ډېر خواږه دي، دی نه وايي چې يو ماشوم خبرې کوي د ماشوم په ژبه د ماشوم له ذهنه غږېږي، دمور او ماشوم تر منځ عاطفه ښيي، د بشپړ انځور په برخه کې هغه بهترينه منثوره شاعرانه ټوټه ده چې موږ ته دشعر په ژبه فکر راکوي.**

**دلته تاسې وګورئ (مازيګر نمر به غړغړه دی) دی نه وايي چې لمر په لوېدو دی، ځکه لوېده کلمه د هر چا په خوله کې وي، خو غړغړه يو داسې انځور جوړوي، چې هم غږ لري، هم يو حالت وړاندې کوي او د لوېدو مانا ښندي.**

**په دغه نثر کې دی د يوه ماشوم ټول حرکات، هيلې او غوښتنې را اخلي، د مور مينه له ماشوم سره ښيي، د ماشوم په ژبه غږېږي، دا د نثر يوه ښېګڼه ده چې ته په هغه کې شخصيتونه او سبکونه څرګند کړې، د ماشوم نيمکۍ ژبه داسې راښيي (دودۍ پکه کم) که دی هېڅ ماشوم ونه وايي او همدا لفظونه وکاروي، نو د دغو لفظونو تر شا د ماشوم څېره انځورېږي.**

**ښه ماشوم په لوبو ستړی کېږي، باالاخره ((په خاورو کې يې سر ايښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته يې ځان سپارلی دی))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته اوس دی نه وايي چې ماشوم ویده دی، څکه هغه یوازې یوه بیاني او خبري جمله گرځي، د خوب دقاصدانو لاس ته ځان سپارل تصویر او هنري جمله ده، دی د همدغې نثري ټوټې پایله راباسي او وايي ((هو د ژوندانه مثال همدا دی، موږ په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبې کوو، په دغو لوبو اخته اوسو چې د مرگ دروند خوب په موږ خپل چپاو راوړي او بل عالم ته مو بوځي، مگر آه څومره خوږې دي دا لوبې او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او ازادۍ سره وي.)

ددې نثر ډېر لفظ د پای په ټکو کې دا دی چې په ویښه کار اوفعالیت او بیا خوب هلته خوندور بولي چې له ازادۍ سره وي.

دا یوه بېلگه وه چې موږ دلته وړاندې کړه،په دې تولگه کې همداسې نورې ډېرې بېلگې هم موږ لوستلای شو، زه نه غواړم چې نور د استاد خادم په شاعرانه وینا وغږېږم، دده د منثور شعر راسپړنه وخت او پوهه غواړي، همدومره ده چې لږ تر لږه ددې ټولگې (رڼه چینه) په تخنیکي اړخ یو څو جملې لیکم.

همدې نثر ته ورته خواږه موږ دده په یو شمېر نورو نثرونو، لکه د کوترو کور او ... کې هم موندلای شو، دا هغه نثرونه دي چې د فورم یاچوگاټ له مخې یې نثر بولو، خو د کیفیت له مخې د شعر خواږه او جوهر لري، نو دمنثور شعر ښې بېلگې یې گڼلای شو.

**د استاد مسجع نثر یا منثور نظم:** استاد عادي نثر ترڅنگ د مسجع نثر په لیکلو کې هم خپل قلم ازمیلی دی، هڅه یې کړې ده چې خپلې تصویري ژبې ته یو موسیقیت وروبښي، دده له انده د لفظونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیقیت او اهنگ کې پیغام او د ژوند تفسیر ډېر ښه وړاندې کېدای شي.

د مخامخ لوري د حواسو د پاروني لپاره اهنگینه تصویري ژبه تر عادي ژبې او وچو لفظونو غوره گڼي. ((...لوی افغانستان که کوچنی شوی وي، دا به ملي قصور نه وي،خو که جوړ نه شي او قهر به مو هم ورته سوړ نه شي.

وروري او دوستي په حساب ده، دا مسئله د پښتو د مقدس کتاب ده، غریبي به ومنو او مرگ، خو نه د ټپسورۍ ساز و برگ، دا زه نه وایم، دا وایي افغان، هغه چې بولي يې پښتون مسلمان، هغه چې نا دار دی، خو دارا دی د ایمان.

استعمار او استثمار دواړه لعنت دی، مفت خوري له ټولو بد عادت دی، چل ول کول د شیطانانو خصلت دی، موږ ټگان نه یو او خوښ مو نه دي ټگان، لعنت شه په هر شیطان.

دلته په دې ملک کې سپرغۍ دي او لمبې، پټې په ایرو کې پرتې دي او ویدې، په دې غرونو کې اورتونونه دي.

سلام ای پامیر او سپین غره!

درناوی ای امو او خیبره!

درځار شم ای د تاترې او تیرا سره!

ای مارگلۍ او هراته!

ای گوادر او سواته!

ای د لوړو څوکو گوربته سلام!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى لرغونيه غور او باختره احترام!))

استاد هڅه کوي چې په سمبوليکه ژبه هم وغږېږي، د يوه وفادار ملګري او سپي کيسه کوي. په دې نثر کې دی د خپلې ټولنې ټولنيز او سياسي حالت وړاندې کوي.

**د استاد دعلمي سفر يادښتونه او يوه سفرنامه:** په دې ټولګه کې داستاد يو شمېر تحليلي ليکنې هم ځای شوې دي. په دغو تحليلي ليکنوکې ټولنيز، سياسي او کولتوري مسايل نغښتي دي.

په دې ليکنو کې داستاد لوی کمال او هنر دا دی چې ده ټولنه، خلک او بېلابېلو خواووې مطالعه کړي، اورېدلي او ليدلي يې دي، وروسته يې پر خپلو مشاهدو ذهني فعاليت ترسره کړی دی، تر ذهني فعاليته وروسته يې دغه مشاهدې د خپلې مفکورې او نظر په لوښي کې د لفظونو په اهنګين اوډون وړاندې کړې دي، په دې ليکنو کې د استاد ذکاوت، نظر او پخه علمي مطالعه او ادبي ځواک له ورايه ښکاري، د ده د دغو ليکنو پله هم درنه ده.

**د استاد کيسه يي نثر:** استاد يو شمېر تخيلي، رومانتيکې او فولکلوري کيسې هم ليکلې دي، په دغو کيسو کې يې طبعي منظرې او رومانتيک اړخونه څرګند دي. خپله مفکوره ياتحليل په لومړيو او يا په اخر کې راوړي، د خپلې خبرې دپخلي دزبات اوخوړلنې لپاره يوه کيسه يا نکل کوي، عجيبه دا ده چې دده د کيسو کرکټرونه په تېره هغه چې په ټولنه کې منفي تصوير لري، هغه مثبت انځور شوي دي، لکه درواخلې د سيد کمال او ببوجانې په رومانتيکه کيسه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ټولګې په هنري نثري برخه کې دده یو شمېر داسې کیسه یي نثرونه هم ځای شوي دي چې د لنډو کیسو غوښتنې بشپړوي)). (۲۳: و-ظ)

**۲۰- اسدالله غضنفر:** اسدالله غضنفر د هېواد له نامتو لیکوالو، کیسه لیکونکو او کره کتونکو څخه دی، ده د نثر پر جوړښت او هنري خواوو ډېرې لیکنې کړې دي، غضنفر د استاد قیام الدین خادم (نوې رڼا) اثر کتلی او په یوه ځانګړې لیکنه کې یې د دغه اثر خصوصیات



ارزولي دي. دا لیکنه (له نوې رڼا څه راواخلو او څه راوانه خلو؟) تر نامه لاندې لیکل شوې ده. ښه به وي چې د استاد خادم له نثر سره د زیاتې اشنایي په خاطر یې درنو لوستونکو ته وړاندې کړو:

((د افغانستان د شلمې پېړۍ په ادبیاتو کې د مقالو یوه مهمه ټولګه د استاد قیام الدین خادم (نوې رڼا) ده. نوې رڼا په درېیم ځل په (۱۳۸۴ل) کال کې په لویه کچه په پنځه سوه شپږ دېرش مخونو کې چاپ شوې ده.

اووه څلوېښت کاله پخوا په (۱۳۴۰ل) کې د (نوې رڼا) په لومړي چاپ باندې په خپله مقدمه کې استاد خادم لیکلي دي چې: ما د خپلو تېرو څلوېښتو کالو له مقالو، کانفرانسونو، ادبي ټوټو، ځینې تحقیقي مضامینو او قصو څخه په کتابي صورت یوه داسې مجموعه تیاره کړه چې ادبي اوافادي اهمیت ولري او د پښتو نثر نمونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې کتاب لویه برخه د مقالو ده. مقاله نثري ژانر دی. معمولاً لنډه وي، لکه لنډه کیسه. لنډه کیسه د یو چا په ټول ژوند رڼا نه اچوي، بلکې خاصو پېښو او د یو چا خاصو خویونو ته اشاره کوي. مقاله هم غالباً د موضوع له ځینو اړخونو راچورلي. په مقاله کې لیکوال معمولاً د یوې پېښې، موضوع یا مفکورې په اړه خپل نظر څرګندوي. ځینې مقالې د خاصو علمي او فني ساحو د کسانو لپاره لیکل کېږي، خو اکثره یې د عام لوستونکي لپاره وي او د لیکوال هڅه په کې دا وي چې صریحې، واضحې او جذابې خبرې وکړي چې په لوستونکي باندې خپله لیکنه ولولي.

له (کنفرانسونو) د استاد منظور هغه لیکنې ښکاري چې خلکو ته یې اورولې دي. دغسې ویناوې چې ولیکل شي، مقالې یې بللی شو او هغه څه ته چې استاد (تحقیقي مضامین) وایي هغه هم د مقالې د ژانر برخه ده.

مقاله د استدلال او معلوماتو په مټ لیکل کېږي، تخییلي ژانر نه دی، خو ادبي یې د شعر په څېر ډېر ځله مجازي معناوې لري، د شعر غوندې یې لوی مقصد د احساس پارول دي او بیا هم د شعر غوندې د ژوند واقعي مسایلو ته واقعي حل لارې لټول خپل کار نه ګڼي. په ذکر شوې مقدمه کې د استاد خادم دا خبرې د هغه په ذهن کې د مقالې او ادبي ټوټې د توپیر څرنګوالی راښیي: زما د منثورو ادبي اثارو دوې مجموعې پخوا تر دې د نوي ادبیت پر خوا میلان ښودل شوی دی. مګر په نوې رڼا کې دا کوشش شوی دی چې د پښتو په نثر کې یو داسې اسلوب ایجاد کړی شي چې د ټولو علمي، فني او افاقي معلوماتو د افادې لپاره مساعد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قصه) هم چې په نوې رڼا کې یې ځو مثاله شته، د تخیل یا تخییل او واقعیت مشترک پیداوار دی او د ادبي ټوټې په څېر یې له مقالې په اسانه بېلولای شو، خو که یوه لیکنه د قصې غوندې پلاټ ولري، مګر پېښه او موضع یې ټوله واقعي وي، هغه بیا کیسه نه بولو. په نوې رڼا کې ځینې لیکنې د قصو غوندې پلاټ لري، خو واقعي حوادث دي، لکه د وزیر محمد ګل خان موند مرحوم په لاس د جنایت کارو د نیولو یوه حادثه چې د یو پولیسي ابتکار، تر عنوان لاندې لیکل شوې ده. دغسې لیکنې ادبي او هنري رپورټ بللی شو، خو ایا په خپله استاد به په نوې رڼا کې خپلو داسې لیکنو ته چې د کیسو غوندې مظبوط پلاټ لري، یا یې نه لري مګر واقع شوی حالت بیانوي، مثلاً:

د یوې خاطرې یا د سفر د مشاهدو (لکه د بحر اباد سمڅې) بیان یې په کې کړی دی، کوم نوم ورکاوه؟ زه بهتره بولم چې د (بحر اباد سمڅې) د یوه سفر راپورتاژ وبولم او په هغو ژانرونو کې یې شامل نه کړم چې استاد یې نومونه اخیستي دي.

په نوې رڼا کې دسوال و ځواب په بڼه یوه نیمه لیکنه هم شته چې واقعي هغې ته یې (لکه ایا د وطن مینه غریزي ده؟) رپورټ ویلی شو او خیالي هغې ته یې تر دې چې مقاله یې وبولو ممکن دمکالمې یا داسې بل نوم ورکول مناسب وي.

په دې کې شک نه شته چې مقاله ډېر مهم ژانر دی، مګر په دې کې هم شته نه شته چې دې ته که هر شکل اوتعریف وټاکې، دا په کې نه ایسارېږي. همدا وجه ده چې د ژانر په توګه په مقالې باندې ډېرې لړې خبرې کوو، خو په دې کې موږ تاوان کړی دی، مقاله د فکر د لېږدولو ډېر مهم او ممکن تر ټولو مهم ژانر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد خادم لیکنې هم ددې پخواني میراث له اثراتو پوره پاکې نه دي، د مثال لپاره د نوې رڼا د ادب او حیات په نوم مقالې داجملې ولولئ:

((په ایټم کې له هستې نه چاپېره الکترونونه او په افلاکو کې اقمار له شمسه او بیا شمس له خپلو ټولو اقمارو سره دیو بل شمس نه گرد چاپېره گرځي او مرکز د جاذبې په قوت سره خپله سلسله ساتي. هلته هېڅ زورور کمزوری نه خوري او نه یې هلاکت ته ورکوي، بلکې که احیاناً داسلسله خطا شي، نو هلاکت او تباهي طاري کېږي، نو ایا انسان له دې نظامه کوم وتلی شی دی  چې دلته به اجتماعي مرکز چې شاه وي، که حکومت، بې له تنظیم او ادارې نه بله خوا ته چې تخریب ته منجر کېږي، نیسي؟ او که دا لیار ونیول شي، نو د کایناتو د دغه حاوي قانون نه به پرته بله نتیجه ورکاندي؟ بلکې د کایناتو نظام د ارتقا او تکامل خوا ته هدایت او رهبري کوي، نه د تخریب اوتباهي لور ته.))

استاد خادم په خپلو ځینو جدي مقالو کې هم له تشبیهي استدلاله استفاده کړې ده.

## ۱- په تشبیه باندې د واقعیت گومان کول: په خیال باندې

د واقعیت گومان کول دي. په خیال باندې د واقعیت گومان ضرور نه دي چې خامخا د تشبیه په اساس وي. نور ډولونه هم لرلای شي. استاد خادم (د شهاب الدین غوري سیرت) په نوم مقاله کې لیکي: ((د دېنه پس په دویم کال ناڅاپه سلطان له غزني نه روان شو، یو نیم لک پښتانه، ترک او تاجیک لښکر ورسره وو، دا لښکر چې پېښور ته ورسېد، نو دلته دېره شو. هېڅوک نه پوهېدل چې سلطان څه اراده لري او دوی چېرته ځي. اخر یو زوړ سپاهي زړه کلک کړ، سلطان ته راغی، ویې ویل: اعلحضرتا، ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اراده څه ده؟ او ددې لښکر مقصد څه دی؟ سلطان په موثره لهجه ورته وویل...)) دلته مونږ وینو چې واقعیت او تخییل سره ګډ شوي دي. په تاریخي ناولونو کې تاریخ هم وي، خو څرنګه چې لیکوال تاریخ نه، بلکې ناول لیکي، نو د خپلې لیکنې د اغېز د زیاتولو لپاره بلا خیالي جزییات ورسره یو ځای کوي. خو یوه مقاله چې دتاریخ او واقعیت په نوم ثبتوو، هلته بیا تخییل که ښکلا هم پیدا کوي، د لیکنې اهمیت کموي. د استاد په لیکنو کې یو نیم بل ځای هم دخیال او واقعیت دغسې ګډول وینو.

**۲- بې طرفه سبک:** د (شېر شاه سوري اخلاق) په نوم مقاله کې لولو: ((... له دغه مینځه یو نفر پښتون چې یوسف خېل یې باله او په خان خانان ملقب و، کابل ته په بابر پسې لاړ او مغول بابر پادشاه ته یې په سلطان ابراهیم لودي باندې د یرغل کولو لارې چارې وروښودې او ترغیب یې ورکړ چې څو د دغه کورني نفاق او ملي خیانت په نتیجه کې د سلطان بهلول لودي نمسی او د سلطان سکندر لودي زوی، سلطان ابراهیم لودي د پاني پت په میدان کې په ډېره ځوانمردۍ او مېړانه دمغلو سره په جنګ کې په شهادت ورسېد.))

ایا که بابر په دې جګړه کې وژل شوی وای، بیا به هم لیکوال ورته لیکلي و چې په مېړانه شهید شو؟ په دې کې شک نه شته چې تاریخ ډېر ځله د زورورو ملاتړ کړی او بلکې د زورورو په خوښه لیکل شوی دی، نو کله چې د مغلوب لوري لیکوال ته قلم په ګوتو ورغلی، د تاریخ د بې انصافۍ د ازالې لپاره یې د مغلوب ننګه کړې ده، مګر له بې انصافۍ سره ورته مقابله پخوانۍ بې انصافي نه ختموي، بلکې صرف یوه نوې بې انصافي زېږوي او بله دا چې که غواړو تاریخ زموږ خلکو ته خیر ورسوي، نو دلیکلو په وخت یې باید خپلې ملي، نظریاتي، منطقوي، یا نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواخوږۍ هېرې کړو. یوازې په علم او تاریخ کې نه بلکې ان په بلکل تبلیغاتي لیکنو کې هم د سبک بې طرفي په ګټه ده.

**۳- د تېرو زمانو له خلکود خپلې زمانې دخلکو د ارزښتونو توقع لرل:** په همدې پاسني مثال کې یوسف خېل په ملي خیانت تورن شوی دی، خو ایا په هغه زمانه کې د ملي خیانت هغه مفهوم وو، لکه اوس چې شته؟ د استاد په لیکنه کې د افغانستان د ځینو نورو لیکوالو په څېر کله کله د تېرو زمانو د خلکو کړنې د اوسنیو ارزښتونو په تله تلل کېږي او یا پخوانیو خلکو ته اوسني ارزښتونه منسوبېږي.

**۴- په نوې رڼا کې (د غزني ساحه) په نوم مقاله داسې پیل شوې ده:** ((دغه ځمکه چې د امو او اباسین او پامیر او بحیره عرب په منځ کې پرته ده، د طبیعت او جغرافیایي وضعیت په لحاظ یو هویت او ځانته تشخص لري. دغه هېواد چې نن د افغانستان او پښتونخوا په نومو بېل یادېږي، په پخوانو اعصارو کې کله په اریانا او کله په پښتونخوا یاد شوی او نن ورته مونږ پښتیانا ویلی شو.

دا ځمکه یوه جګه سطحه ده چې داسې لوړو غرونو، اوچتو څوکو احاطه کړې ده چې تېرېدل ورنه په اسانۍ سره ممکن نه دي...))

لیکوال اصلي موضوع ته چې دغزني ساحه ده، ډېر وروسته راځي.

**۵- د غزني د ساحې په مقاله کې یو ځای لولو:** ((د غزني د ښار نه مخامخ د کندهار په لور د سړک دواړو غاړو ته یو څو کلي دي. دلته عنایت الله خان او د مهجور ډله زموږ اشنایان دي. حاکم عبدالوهاب د دغو کلیو سپین ږیری دی. دلته ځینې خلک په دې خبره سخت ټینګ دي چې مونږ خلج یوو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقالې یو لیکوال ممکن دغسې خصوصي موارد د مطلب د وضوح، د تصویري کولو او یا لوستونکي ته د زړه ورگډولو اود صمیمي حالت د پیدا کولو په خاطر ذکر کړي، خو که دغه کار د لیکنې د انسجام د ړنگېدو په بیه وي، بیا نو تاوان پېښوي. مقالې له لویه سره په جدي او غیر جدي ډولونو وېشل کېږي. لوستونکی د یوې مقالې د لومړیو جملو په لوستلو سره پرېکړه کوي چې له څومره جدي یا غیر جدي متن سره مخامخ دی. د غزني په اړه د مقالې پیل د پوره جدي او بلکل غیر شخصي طرز احساس راکوي، خو پاسنۍ خبرې بیا زموږ له لومړي احساس سره اړخ نه لگوي. دنوې رڼا په ځینو مقالو کې دغه ناهماهنگي شته.

**٦- شاعرانه تاکید:** د شعر ژبه د مبالغې ژبه ده، خو مقاله که ان د تشو تبلیغاتو لپاره هم لیکل کېږي، د مبالغې په وجه تاوان کوي، استاد په یوه نیمه مقاله کې له شاعرانه تاکیده کار اخلي چې د لیکنې د معنا قوت ته تاوان رسوي.په(ادب او حیات) نومې مقاله کې لولو: ((زماپه فکر په وروستیو قرنونو کې دپښتنو ناکامي د حیات په ساحه کې فقط او فقط دې ته راجع ده چې زموږ د مشرانو عمل له ادبه خالي وو...)) استاد دلته د ادب په اهمیت شاعرانه تاکید کړی دی.

**٧- د موضوعاتو تداخل:** د استاد په ځینو مقالو کې د موضوع وحدت ته پام نه دی شوی، کله کله خو ان په یوه جمله کې هم وحدت نه وي. مثلاً: (د گردېز جغرافیه) په نوم مقاله کې لولو: (خلاصه دا چې گردېز مهم مرکز اوله کابله ډېر پورته او یخ دی.) دا جمله د مقالې د تېرو کرښو خلاصه نه، بلکې د تیت و پرک خبرو مجموعه ده.

**٨- د کلمو د اصلي شکل او معنا تصور:** د نوې رڼا لیکوال دشلمې پېړۍ د افغانستان د ځینو نورو لیکوالو غوندې د کلمو د اصلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل او معنا په اړه خپل تصورات لري او کله کله خو د همدې شخصي اتمولوژي او فقه الغت په مټ تاریخ او واقعیتونه تفسیروي. د غزني د ساحې په نوم ذکر شوې مقاله کې یو ځای لولو: ((ډېر کرته به زما خاطرې ته راتله چې مقور څه معنا؟ مګر کوم وخت چې زه مقور ته لاړم او د دغه ځای وضعیت مې په یو عام نظر مطالعه کړ، نو پوه شوم چې دا ځمکه یوه چراګاه ده، په دې ځای باندې د کوچیانو او مالدارو د کډو د تګ لاره ده. دا خلک به په اوړي د غور ایلبندو ته تلل او ژمی به د اباسین غاړو ته کوزېدل.

کوچیان په خپل حرکت کې معلوم ځایونه لري چې هلته اړوي، دغه ځای ته مېنه او کور وایي، نو مقور د مکور، موږ کور او زموږ کور په لاره مقور شوی دی، د مکور په لاره سړی جاغوري ته ځي چې په اصل کې جای غوري یعنې د غوریانو ځای دی او د دې نه معلومېږي چې په دې ځای کې د غوریانو حکومت او دارالسلطنه تېره شوې ده.))

د کلمو د اصلی شک د تصورولو په مټ د تاریخ بیان د افغانستان د شلمې پېړۍ په څېړنه او لیکوالۍ کې نور ګڼ مثالونه هم لري.

د استاد خادم په ادبي میراث کې غور مونږ ته ډېر څه رازده کولی شي. د استاد نوې رڼا یوازې د خپل وخت لپاره نوې نه وه، د اوسنو لپاره هم د لارې د یو مشال حیثیت لري، په دې ټولګه کې د عالي فکرونو خزانې او د ښې لیکوالۍ ګڼې باریکۍ پیدا کولای شو. زما په خیال ځینې هغه مهم ټکي چې مونږ یې باید په نوې رڼا کې له استاده زده کړو او په هغو کې د استاد پیروي وکړو، دا دي:

**۱- په افعالو کې تنوع:** اسم او فعل د جملې اصلي اجزا دي. جمله بې ستاینومه او بې قیده راتلای شي، مګر بې اسمه او بې فعله نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوړېږي. کله چې وایم: راغی! که څه هم په دې جمله کې د چا نوم نه دی اخیستل شوی، خو د نوم مفهوم په کې شته. دلته یو چاته اشاره شوې ده، که چا ته په کې اشاره نه وای، بیا نو خبره نامفهومه وه.**

**په ژبه کې اسمونه بې شمېره وي، خو فعلونه خورا محدود وي او په دې محدودو کې هم ځینې افعال ډېر تکرارېږي او یا خو که د ډېر تکرار د مخنیوي امکان موجود هم وي، لیکونکي د لټون له زحمته د ځان د بچولو په خاطر یوازې هغه افعال استعمالوي چې سمدستي وریادېږي. همدا وجه ده چې د معنا د دقت او د بدرنګ تکرار د مخنیوي لپاره په افعالو کې تنوع له لیکواله پوره زیار غواړي. موږ په دې برخه کې له استاده ډېر څه زده کولای شو.**

**استاد لیکي: ((ځینو خلکو ته باغباني خوند ورکوي، ځینو نورو ته مالیاري کول او ګلونه کرل او پالل مزه ورکوي او ځینې خلک داسې هم شته چې هغوی ته د خلکو پالل، ساتل او لوېول د خوشالۍ باعث وي.)) د نوې رڼا د درېیم چاپ ۱۹۷مخ.**

**دا متن که بې تجربې لیکونکي لیکلای، نو شاید په درې واړو جملو کې یې یو فعل تکرار کړی وای.**

**یو بل مثال: ((د فرد او اجتماع حوایج او ضروریات یو تر بله سره فرق کوي، که نه؟ د فرد او جماعت روح سره تفاوت لري او که نه؟ د فرد او ډلې د پاره اصول او قوانین یو دي او که بېل بېل؟)) ۱۹۴ مخ**

**د استاد خادم په نثرونو کې دا رنګه ډېرې بېلګې وینو چې افعال د نثر د روانۍ، د موسیقي د قوت او د معنا د دقت درې واړه مقصدونه ترسره کوي. دلته که مثلاً د لومړۍ جملې فعل تکرار کړو، په معنا کې فرق نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي خو نثر به بې خونده شي او که د دغو مترادفو فعلونو ځايونه هم سره بدل کړو، د کلام رواني، موسيقي او د معنا رسايي به ورسره کمه شي.

استاد په خپله يوه مقاله کې چې دملگرو ملتونو د تاسيس د لسم کال په مناسبت يې کښلې، ليکلي دي: ((د ملگرو ملتو ټولنې وکولی شول چې د اروپا د جنگ د پېښېدو مخه ونيسي. په کوريا کې جگړه محدوده او په متارکه يې بدله کاندي. د هند-چين جگړه بس او ترک کړي. د يونان، ايطاليا او شرقي اروپا په اورونو اوبه واچوي، دجرمني خبره د حل خواته نږدې کړي. د چين او فارموسا معضله کې د وساطت او صلحې لاسونه کار کوي. د کشمير مسله غلې ده. ايران کې نن سبا ارامي ده. مصر، سوډان لږ و ډېر په ارام شول. دا خبرې د دنيا غټې غټې واقعې وې چې د ملگرو ملتو انجمن په کې موفق دی.)) ١٦٢ او ١٦٣ مخونه.

دلته وينو چې استاد د متنوع فعلونو په برکت د هغه وخت د نړی د بېلو بېلو ملکونو د امن و ثبات د وضعيت تر منځ ظريف توپيرونه راښودلي دي.

**٢- نثر کې موسيقي:** څېړونکو پخواني نثرونه له لويه سره د مسجع او مرسل په دوو ډلو وېشلي دي. په تېره زمانه کې اکثرو ليکونکو د معنا رسولو ته دومره اهميت نه ورکاوه، لکه د نثر هغه موسيقي ته چې د تسجيع په مټ پيدا کېدله،خو ځينو نورو ليکوالو د جملو تر داخلي قافيو او د کلمو تر مشترکې موسيقي د کلام معنا مهمه بلله. هغه لومړی تمايل د مسجع نثرونو او دا دويم تمايل د مرسل نثرونو له غوړېدو سره مرسته وکړه. زموږ په زمانه کې د مسجع نثرونو دود بې موده شو او ورسره ځينو ته د سجعې او د کلام د موسيقي نور صنعتونه بې ارزښه وايسېدل. حال دا چې د سجعې صنعتونه او د کلام د موسيقي نور صنعتونه که په طبيعي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشي او د معنا په رسولو کې خنډ ونه ګرځي، د کلام له ښکلا سره مرسته کوي. استاد خادم چې دیني علم لوستی او د بلاغت له پخواني علمه خبر و، د نثر و نظم په ښکلا کې د لفظي بدیع په اهمیت پوه و. دی د شلمې پېړۍ په هغو لیکوالو کې شامل دی چې له لفظي بدیع یې خورا کامیابه استفاده کړې ده. مثال:

((ومې کاته، چې د اسمان دروازې او د ځمکې خزانې ماته ټولې بېرته دي، له هرې خوا دولتونه او نعمتونه رارِوان دي، یوه مې دوه کېږي او دوه مې لس کېږي او لس مې په سلو بدلېږي، بخت مې ویښ دی او چې په چپه یې اچوم راسته لوېږي.)) ۱۷۸ او ۱۷۹ مخونه.

دلته خزانې او دروازې، دولتونه او نعمتونه او یا مثلاً چپه و راسته له یو بل سره د موسیقي ارتباط لري چې دغسې موارد د تسجیع په صنعتونو کې مطالعه کېږي. یو بل مثال:

((په ټولنه کې متفاوت افراد او متعدد اشخاص موجود دي.)) ۲۵٦ مخ

په دې جمله کې د (افراد، اشخاص او موجود) تر منځ متوازي سجعې او په افراد او اشخاص کې د (ا) د اوږد واول شتون، د (متفاوت او متعدد) د لومړیو څپو یوشانوالی او دغه راز په یوه مشترک توري (میم) باندې د څو کلمو پیل، یو بل ته لاسونه ورکړي، په جمله کې یې استحکام او لفظي ښکلا پیدا کړې ده.

**۳- کامیابه تصویري ژبه:** مونږ دمخه د استدلال په کمزورۍ کې د تخییل خطر ته اشاره وکړه، خو تصویري ژبه د مطلب د واضح کولو، د محسوسولو او ښکلي کولو لویه وسیله ده. د استاد خادم په نثر کې د تصویري ژبې کامیاب مثالونه مومو. استاد د ننګرهار د اب و هوا په اړه لیکي: ((د کونړ او سپین غره دامنې داسې یخي دي چې اوړی هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بړستن اغوستل کېږي، مګر د کابل د سیند غاړې دومره تودې دي چې ژمی هم څوک لمر ته نه شي ټینګېدای.)) ۹۹مخ

دلته یوازې د یخنۍ او تودوخې مفهوم نه لولو، بلکې یخې او تودې سیمې وینو، متل دی چې: شنیده کی بود مانند دیده.

استاد په یوه بله مقاله کې د سوري شېرشاه د نیکه ابراهیم خان سوري د وختونو د هندوستان د سیاسي وضعیت بیان د تصویري ژبې په مرسته په دومره رسا انداز کړی دی:

((دا هغه وخت وو چې د هندوستان د سیاست د سطرنج په تخته په کشمیر کې سلطان زین العابدین، ملتان کې سلطان یوسف، مالوه کې علاؤ الدین، جونپور کې سلطان ابراهیم، د سطرنج لوبې کولې او سلطان بهلول لودي په ټولو کې اوچت و.)) ۲۰۱ مخ

دغه جملې د سطرنج د خانو غوندې وېشل شوي، هندوستان او په هغه کې د سیاسیونو کشمکش او د دغه کشمکش شاته شخصي از وهوس په یوه وار او په وضوح سره راښیي.

**۴- سلاست و رواني:** د استاد نثر په سلاست او رواني کې هم اوچت مقام لري. سلیس نثر هغه دی چې د ویلو په وخت مو ژبه تکلیف احساس نه کړي او روان یې ولولو. استاد لیکي: ((... په جهان کې داسې وحشي انسانان هم شته چې د بل غوښه خوري، غلام یې نیسي او د خپل مفاد د پاره یې داسې قربانوي، لکه باز چې مرغۍ نیسي او په مزه مزه یې خوري او د هغې په چغو او فریاد یې زړه نه سوزي. تاسې خپلو زړونو ته متوجه شئ، دغه کسان چې یوازې د جاه او جلال، عظمت او استبکار پسې ګرځي او د دغه شي په حصول کې په روا او ناروا باندې اړ نه وي، خوشامندې کوي، دروغ وایي، دسیسه او چل جوړوي، خلک غولوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې جمع کوي او ایمان او شرافت ورباندې خرڅوي، نور ازاروي او خپله خېټه یا د اولاد بدن غټوي یا خپلې ماڼۍ اوچتوي او د بل انسان،اهل وطن، همنوعه او ورور په حال یې زړه نه سوزي، هېڅکله د یتیم، یسیر، مظلوم او کونډې، غریب او مسافر په حال یې سترګې نه لمدېږي. خندا د غرض لپاره، خبرې د غرض لپاره، ورکړه راکړه د غرض لپاره، د پښتنو په اصطلاح بې مزده کار مې نه زده، چې مزد راکړې کار مې ښه زده، دا کسان چې پیر، استاد، پلار و مور، مشر و حقدار ورته د خپل غرض او مفاد په مقابل کې په کسیره نه ارزي او د ګونګټې غوندې خپل مردار غونډاري ټولوي او تل یې په همدغه جیفه نظر وي، که ډېر دولتمن شي او د ډېرو شتو او رتبو خاوندان شي او ناز او نعمت یې له کوره بېرون وخوټېږي، تاسو ورته انسان ویلی شئ؟)) ۲۷۰ او ۲۷۱ مخونه

په دې جملو کې داسې مترادفې یا غیر مترادفې کلمې اوعبارتونه شته چې که یې وروسته وړاندې کړئ د جملو معنا ورسره نه بدلېږي. تاسې دا کار وکړئ او بیا وګورئ چې ایا بیا هم متن روان ویل کېږي؟ مثلاً: که د (جاه و جلال) یا (عظمت او استبکار) د کلمو ځایونه سره بدل کړو، نو وینو چې کلام د اصلي حالت غوندې روان نه پاتېږي. استاد په خپلو اکثرو لیکنو کې د کلام سلاست او موسیقی ته پام کړی او ډېر ځله یې د کلمو مترادفات د دې لپاره راوړي چې د متن اهنګ، موسیقي او رواني ورباندې وساتي.

**۵- خطابي کیفیت:** د نوې رڼا لیکوال په داسې طرز نثر لیکي لکه چاته چې خبرې کوي، دې ځانګړنې د استاد په نثر کې د صمیمیت و صراحت خصوصیت زیات کړی دی او د ده لیکنو ته یې د یو ژوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان د خبرو کیفیت وربښلی دی. لکه څوک چې مخامخ درته ناست وي، بحث درسره کوي او د ساه ګرمي يې احساسوې. استاد لیکي:

((تاسو پخپله فکر وکړئ که سړی ضرور يو فرضي او لزومي کار چې درجه يې له نورو نه مخکې وي، پرېږدي او په وروستي، متاخر او غیر مهم باندې مشغول شي، نو دا کار سره ددې چې بې ثمره به وي، مضر به ګوندې نه وي؟ مثال وایم: اودس يې پرېښود او په لمانځه لګیا شو، ښه نو لمونځ يې وشو؟ او که وروسته اودس کوي، نو څله يې کوي؟ او دغه وخت چې په بې اودسه لمانځنه تېر شو، دا ګوندې کوم ضرر نه و؟

د ژوندانه ټولې چارې همدغسې دي. که سړی د علم د تحصیل دپاره ماغزه بایلي یا ګټلی دولت د شهرت د پاره په یو او بل، خبرو او ساعتېریو، هغه او دغه د ښې شپې د خوب په شان له لاسه وباسي، نو چې ویښ شي، زړه به يې په ډاګ ونه لګېږي؟)) ۷ مخ.

د استاد په نثر کې د مناظرې او مباحثې روحیه د هغوی د لیکنو د خطابې طرز یوه نتیجه بللی شو، تاسې په لاندې جملو کې هغه ژوندي حالت ته پام وکړئ چې د مباحثې د انداز په برکت پیدا شوی دی:

((اروپا، امریکا، روسیه، چین، هندوستان ټولو کې د ښځو حق منل شوی دی. اوس نو ممکنه ده چې زموږ خلک ووایي دا خلک خو ټول کافر دي او موږ مسلمانان یو، نو زه ویلی شم چې عرب، ترک، ایران او پاکستان خو هم مسلمانان دي، وبه ګورو چې د هغه ځای د ښځو او ځینو پسماندو ممالکو په حقونو کې فرق شته او که نه؟ په دې وخت کې زموږ ځینې خلک دا ویلی شي چې موږ د نورو خلکو په تقلید او پیروۍ څه مجبور یوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دين او مذهب چې څه وايي په هغې مکلف يوو. دلته خبره حقيقت ته نږدې کېږي. که دا خلک موږ سره په قران او شريعت فيصله کوي، موږ خوشاله يوو، اسلام ښځو ته د تعليم، تملک، کار و کسب، ميراث، نکاح، تجارت، حج، غزا، محکمې ته د حاضرېدو، دعوې، شهادت، جمعې ته د حاضرېدو، خطبه اورېدو حقوق ورکړي دي او موږ هم له دېنه څه زيات څه نه وايو او نه نوره دنيا له دېنه زيات څه حقوق ښځو ته ورکولی شي. د ستر په باب لمانځه کې لا هم مخ، قدمونه، لاسونه ښکار کېدل ممنوع نه دي او د نورو ځايونو لوڅول بېباکي ده. گومان کوم چې زموږ په جامعه کې به کوم معقول څوک د بېباکۍ طرفدار نه وي.)) ۵۵ مخ

د تخاطب کيفيت د استاد په نثر کې د سواليه جملو مقدار زيات کړی دی او ژوندۍ گړنۍ ژبې ته يې د نږدې کېدو په برکت د ده د نثر ژبه د ليکنۍ ژبې له کليشو خوندي کړې ده. د ده د جملو طرز لکه کب چې په اوبو کې وي، همېشه تازه احساسوو او دا ځکه چې د استاد د جمله بندۍ طرز ژوندی او بې تکلفه ژبې ته ښځي ورنږدې دی.  د ده د مقالو په نثر کې د گړنۍ ژبې اصطلاحات، مثالونه او متکلم ته تر يوې خبرې پورې وريادې شوې خاطرې لولو. ځينو نورو ليکوالو هم کوشش کړی چې خپل نثر ژوندۍ گړنۍ ژبې ته نږدې کړي، خو دهغو د ځينو هڅه ناکامه ده، ځکه متل، اصطلاح يا د شفاهي ژبې بل توکی يې داسې را اخيستی وي، لکه څوک چې په لوی لاس په خپله ليکنه کې دغه توکي داخلوي، ما د استاد په نثر کې د شفاهي  ژبې د مصنوعي استعمال هېڅ نښه ونه ليده.

**٦- صراحت:** مقاله چې معمولاً د ليکوال نظر څرگندوي، صريح نثر غواړي. که يو څوک په خپله خبره باور نه لري، يا د سپينې خبرې د کولو جرأت نه کوي، د هغه مجلس د چا نه خوښېږي، د مقالې ليکوال هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې صریح خبره نه کوي، لوستونکي ورنه ممکن خواتوري شي. مقاله لیکونکی خو په دې خاطر هم صریح نثر او واضح طرز ته اړتیا لري چې له تخصصي لیکنو پرته نورې مقالې د هر لوستونکي لپاره لیکل کېږي او د هرې سویې لوستونکی شاید په هغو خبرو پوه نه شي چې پوره واضح نه وي او هغه خبرې یې ستړی کړي چې صراحت ورکې نه وي. د استاد خادم په څېر صریح اللهجه لیکوال شاید په افغانستان کې بل ډېر کم وي. د مثال لپاره به د استاد یوه څلوریزه راوړم چې د نوې رڼا په کتاب کې یې دوه ځله په دوو بېلو مقالو کې راوړې ده. استاد فرمایي:

اول صحت دی بیا ثروت دی
ورپسې علم و معرفت دی
تر دې نه وروسته چې خطا نه وځي
لازم انسان ته صحیح شهرت دی.

دغه څلوریزه که بل چا ویلی، نو دا امکان ډېر و چې د انسان په اول درجه ضروریاتو کې یې ثروت نه وای یاد کړی او که یې یادولی، نو دا بعیده وه چې تر علم یې وړاندې راوستی وای، شهرت یې هم شاید له لېسته ایستلی وای، ده به دا کار یا د اجتماعي تبلیغاتو تر اغېز لاندې کاوه، یا به یې خپل عزت په دې کې لیده چې ځان ډېر معنوي وښيي. خو خادم صاحب د خپل زړه د خبرې په کولو کې تر نورو اکثرو لیکوالو زړه‌ور دی او دې ځانګړنې د ده د نثر په محبوبیت کې لویه برخه لرلې ده.

که زه راولاړ شم، د سمندرونو د اوبو د جریان په اړه څېړنه وکړم او د دې څېړنې لپاره ډېر کتابونه وګورم دا به مې په افغانستان کې نادر تحقیق کړی وي. زما لوستونکي شاید ووایي چې لیکوال ډېر زحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایستلی، ډېر کتابونه یې پسې کتلي او د تحقیق حق یې ادا کړی دی. مګر دا هغه نتیجه وه چې ګټه یې ما ته ورسېده. ځینې لیکوال یوازې په خپل ځان او په خپل شهرت مېین وي، دوی غالباً داسې څه نه شي لیکلی چې د لوستونکي د ژوند، فکر یا مهارت په بهترۍ کې په کار راشي، خو هغه لیکوال چې له خپلو لوستونکو سره مینه لري، هغه غالباً داسې څه لیکي چې لوستونکي ته یې ګټه رسېږي. استاد خادم د هغو لیکوالو په ډله کې دی چې د ټولنې غم ورسره دی او اکثره وخت ددې لپاره لیکنه کوي چې فرد یا ټولنې ته خیر ورسوي.

د نوې رڼا د مقالو یوه لویه برخه د موضوع په لحاظ له اخلاقي فلسفې سره تعلق لري. استاد خادم د اخلاقي فلسفې په موضوعاتو کې هغه څه د بحث لپاره غوره کړي چې زموږ د ټولنې له اخلاقیاتو سره یې ارتباط دی. زموږ په دودیزه او پخوانۍ اخلاقي نظریه کې چې په کلاسیکو دېوانونو کې یې پوره ذکر راغلی دی، د فرد په ژغورنه خبرې کېږي، د ټولنې ژغورنې ته پام نه کېږي. استاد همدې کمزوري پاینټ ته پام شوی او په څو مقالو کې یې له بېلو بېلو اړخونو بحث ورباندې کړی دی. په یوه مقاله کې یې د اجتماعي اخلاقو په اهمیت باندې د تاکید لپاره د اسلام د دویم خلیفه دا کیسه راوړې ده: ((وایي د حضرت عمر (رض) په حضور یو صحابي دیو سړي تذکیه او سفارش وکړ او ویې ویل، دانښه سړی دی. حضرت فاروق ورڅخه پوښتنه وکړه چې تا د دغه سړي سره چې توصیف یې کوې، کله معامله یعنې راکړه ورکړه کړېده؟ صحابي وویل: نه. حضرت فاروق وویل، سفر دې ورسره کړی دی؟ صحابي وویل، نه. ویل یې نو د څه له مخې وایې چې ښه سړی دی؟ صحابي وویل، لمونځونه اودسونه او د قران تلاوت او نور عبادات مې یې لیدلي دي. حضرت فاروق وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو یو سړی د دغه اجتماعي امتحان لاندې رانه شي، تر هغه موږ ورته ښه سړی نه شو ویلای.

نو زهد و عبادت یقیناً دښه سړیتوب لویې علامې دي، خو دا شیونه د خدای او بنده تر منځ شیونه دي، موږ څه پوهېږو چې د یوه سړي دغه عبادات خدای پاک ته منظور دي او د نیت په صفایي اوخلوص بنا دي او که نه؟ نو ځکه مونږ یو سړي ته د ښه سړیتوب د شهادتنامې ورکولو د پاره چې ځو د عمل په میدان کې امتحان ورنه کړي، په تش ذهد نه شو متسلي کېدی، ځکه په حدیث شریف کې راغلي دي چې (الدین المعامله، یعنې دین معامله ده او قدسي حدیث کې راغلي دي چې خلک زما عیال دی چې ځوک زما د عیال سره ښه سلوک او ښېګڼه کوي، هغه پر ما ګران دی)) (۳۳ او ۳۴مخ).

استاد خادم د دین عالم دی، ده په خپلو ګڼو مقالو کې له خپلې دیني پوهې استفاده کړې ده، خو د استفادې منظور یې دا نه وي چې د خپل علم زور راوښیي، بلکې دغه معلومات د ټولنې د بهترۍ او ترقۍ لپاره راوړي. استاد خادم په خپلو کابو ګردو مقالو کې د لوستونکي د حال بهتره کولو او په لوستونکي کې تحول راوستلو ته توجه کړې ده.

**۸- مشاهدې:** د بشر یو ډېر پخوانی تصور دا دی چې قدیم خلک تر مونږ ډېر پوهېدل او چې هر ځومره لرغوني وخت ته ورشې هغومره به د لوی حقیقت په خزانه واوړي. د دغه ناسم تصور یوه نتیجه دا راوتې ده چې ګڼو پوهانو د خپل وخت، خپلو تجربو، خپلو مشاهدو او خپل چاپېریال په اړه څه نه دي ویلي، دا یې ښه ګڼلې ده چې راتلونکو خلکو ته د پخوانو کتابونو په مرسته د هغې زمانې په اړه معلومات ورکړي چې دی هم د راتلونکو خلکو غوندې ورنه لرې و. دغه تصور تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې ډېر اغېزمن دی. زموږ ګڼو اوسنو لیکوالو دا غوره بللې ده چې دخپلو تجربو او مشاهدو په اړه څه ونه وایي، خو استاد خادم له هغو لیکوالو څخه دی چې په خپلو مقالو کې خپلو خاطرو او مشاهدو ته بیا بیا مراجعه کوي او د خپل وخت په باره کې غږېدل ورته ضروري ښکاري.

استاد اووه پنځوس کاله پخوا (په ۱۳۳۰ل) کې د (ملي کالي) په نوم یوه مقاله لیکلې او هلته یې کښلي دي:

((د کابل خلک که قره قلي ترې لرې کړې، کوم علیحده طرز نه لري، خو که په عمومي او پراخ نظر وکتل شي، دلویې پښتونخوا ملي لباس وطني خولۍ، کمیس پرتوګ، څادر یا کورتۍ څپلۍ یابوټ د نرو او پوړنی، کمیس چې تر زنګنو لنډ نه وي، پرتوګ، بوټونه د ښځو جامه تشکیلوي.

د کمیس لستوڼي پوره وي او ګرېوان یې تنۍ لري او په عمومي صورت سره کمیسونه کمرچین وي. پښتنې ښځې وېښته نه لنډوي او اکثراً یې اوبي. د اوبدلو طریقې د هر ځای بېلې دي، نارینه په اس او وسله افتخار کوي او ښځې په ګاڼه. دې کې هم اختلاف شته. په مناطقو اړه لري. مګر چارګل، غوږوالۍ، غاړکۍ، پاولۍ، چکن دوزي، په لاسونو کې بنګړي یا وښي او ګوتې عمومیت لري. د دې نه چې زیات شي، نو افراط یې بولي. پښتانه نارینه ورېښمینه او رنګینه جامه نه اغوندي.)) ۳۵۹ مخ

د دغسې معلوماتو امتیاز په اصیل والي او اول لاس والي کې دی. د استاد اکثره لیکنې دهغه د زمانې په باره کې یو احساس او تصور راکوي چې دا د کامیابې لیکوالۍ لویه نښه ده. د یوه لیکوال لیکنه که د راتلونکو زمانو لوستونکي لولي، نو لویه وجه به یې دا وي چې هغه لیکوال به د خپلې زمانې په اړه خبرې ورته کړې وي. بنیادم د بل هر ژوندي ساري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړ یوازې په یوه زمانه کې ژوند کولای شي، خو زړه یې غواړي چې مختلفې زمانې احساس کړي. دی په دغه لټون کې طبعاً د اول لاس معلوماتو ته ترجیح ورکوي.

**۹- د نورو ژبو د لغتونو استعمال:** استاد خادم د نورو ژبو د کلمو په رااخیستلو کې د پراخ نظر څښتن دی، دی چې له دري، اردو او عربي سره بلد دی، د دغو ژبو هغه لغتونه چې پښتو یې خپلولای شي او د ده په لیکنه کې له رواني، د معنا له دقت یا د نثر دموسیقي له پیاوړتیا سره مرسته کوي، په خلاص مټ را اخیستي دي. په نوې رڼا کې چې اکثره یې د شاوخوا پنځوس کاله پخوا مقالې دي، د نورو ژبو داسې لغتونه هم موندلای شو چې اوس یې مونږ نه استعمالوو او نا اشنا رابښکاري. ددې شي وجه دا نه ده چې استاد علم نمایي کوله او د نا اشنا لغتونو د راوړلو پلوی وو، وجه یې دا ده چې ژبه بدلېږي. استاد د کتاب د دویم چاپ په سریزه کې په نوې رڼا کې د خپلو تېرو لسیزو په نثر کې راوړل شویو کلمو باندې داسې تبصره کوي: ((که څه هم د هغه وخت رایج لغات او ترکیبونه چې اوس ورته ضرورت نه شته په کې راغلي دي، خو هغه وخت ناچاري وه، زموږ مدعا افاده وه.))

استاد په همدې سریزه کې چې په (۱۳۵٦ل) کال کې لیکل شوې ده، د ژبې د خپلو کلمو په استعمال کې افراط په تاوان بولي، لیکي:

((... د ژبې تصفیه په ناڅاپي ډول ژبه له ترویجه غورځوي. ضرر یې له فایدې زیات دی.))

د استاد له دغو خبرو دا نتیجه اخلو چې دی د ژبې په تحول باوري وو، خو په دې کار کې یې د افراط ملگرتیا نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**که د نوې رڼا مقالې د موضوعاتو په لحاظ وګورو اکثره یې هغه خبرې دي چې اوس هم زموږ لپاره ضروري بحثونه دي. مثلاً وطنپالنه، دموکراسي، له رشوت او نورو اجتماعي مفاسدو سره مبارزه، د ښځو حقونو ته توجه، د ملت په ماهیت او جوړولو باندې غور، د شعر و ادب د ماهیت او اهمیت په باره کې خبرې، د مطبوعاتو د ارزښت په اړه یادونې، د شخصي ژوند د کامیابۍ لپاره لارښوونې، هڅې او زیار ته د وګړیو وربلل، د ژبې اهمیت ته توجه او ځینې نور مسایل. که د نوې رڼا موضوعات د هغه وخت د مقالو د موضوعاتو یوه بېلګه ومنو، نو ویلی شو تر اوسنو مقاله لیکونکو له هغو تېرو لیکوالو سره د وطن او خلکو غم ډېر وو. پخواني په خپل تېر تاریخ او هویت تر اوسنو ډېر ډاډه ښکارېدل چې دا کار که ګټې لري تاوان یې هم شته، ځکه ډېر ځله د مصنوعي ډاډ د پیدا کېدو سبب کېږي.**

**دغسې ډاډ مو ممکن تېرباسي او د ډېرې هڅې ضرورت ته مو متوجه نه کړي، خو اکثره اوسني مقاله لیکونکي سره له دې چې ډاډ نه لري داسې خبرې ډېرې نه کوي چې د لوستونکي اوسني مقاله لیکونکي له بیدارۍ او پرمختګ سره مرسته وکړي. دوی اکثره یا د اوبو وړیو غوندې وارخطا دي او یا ګومان کوي چې د دوی د وطن او ټولنې د سمون کار باید بل څوک وکړي. که په خپل تېر تاریخ او هویت باندې بېځایه تکیه د تېر نسل د لیکوالو عیب وبولو، نو اوسني چې په پردو ملکونو خیالي تکیه کوي، دا شاید لا لوی عیب وي.**

**زموږ په ټولنه کې له تېرو درېو لسیزو د تشدد اوربل دی. مونږ کابو هره ورځ د ظلمونو او قتلونو خبرونه اورو، خو ما په اوسنیو مطبوعاتو کې د خشونت په خلاف دومره پیاوړی مطلب نه دی لوستی، لکه استاد خادم چې اته پنځوس کاله پخوا (د ۱۳۲۹ ل د دلوې په ۲۷مه نېټه) لیکلی و. دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه (تشدد او سختي) نومېږي، کاشکې د معارف د نصاب په کتابونو کې شامله شي.

د افغانستان د وروستیو درېو لسیزو تحقیقي مقالو ته چې سړی ګوري په ځینو کې یې د بې ضرورته مأخذ ورکولو تمایل وینې. لکه د مقالې د اعتبار چې د مأخذونو په اوږده لېست پورې غوټه شوی وي. که زه لیکم چې کابل د افغانستان مرکز دی، دا خو ښکاره خبره ده، دلته ماخذ ته اړتیا نه شته. مګر په ځینو مقالو کې یې صرفه نه ده کړې، خو استاد خادم بیا په نوې رڼا کې په ځینو خورا ضروري ځایونو کې هم د منابعو یادونه هېره کړې ده. په دې کتاب کې ځینې داسې ژباړې شته چې لیکوال او منبع یې نه دي ذکر شوي. مثلاً: (د انسان معرفت) په نوم مقاله ماته د خپل سکښت او جوړښت له مخې داسې ښکاري چې ژباړه به وي. استاد په نوې رڼا کې د خپلو معاصرینو یوه نیمه لیکنه هم را اخیستې ده. استاد خادم له وفاته کال دوه دمخه د نوې رڼا د دویم چاپ لپاره په سریزه کې کښلي دي چې: په (۱۳۵٦) کال کې ما د نوې رڼا کتاب تصحیح کړ. نوټونه مې پرې ولیکل او چاپ ته مې تیار کړ. استاد دا ځل تر وسه وسه لیکلي چې پلانۍ لیکنه ژباړه ده، خو ګومان کوم تېر عمر او ناروغۍ ورته دا اجازه نه ده ورکړې چې دغه نوټونه تکمیل کړي. بهتره ده چې د استاد بختاني په څېر خادم شناسه عالم په لارښوونه څوک زلمی څېړونکی په نوې رڼا کې د استاد خپلې لیکنې د نورو له لیکنو بېلې کړي. د نوې رڼا درېیم چاپ چې د دې مقالې د لیکلو پر وخت له ما سره و، د اول چاپ په څېر چې پخوا مې لوستی و او نوي زلمیتوب د وخت د شیرین ژوند خاطرې مې ورسره غوټه وې، له چاپي تېروتنو مالامال دی. بهتره ده دې خوا ته هم توجه وشي. د درېیم چاپ په دوتنې باندې د سل مقالې عبارت راغلی دی، خو په فهرست کې عناوین تر دې زیات دي


(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې دا ولې؟ دغسې نورې ورې وړې خبرې هم شته چې د نوې رڼا په راتلونکو چاپونو کې پام ورته په کار دی.**

**په تلو تلو کې مې زړه غواړي د (نوې رڼا) داستاني اړخ ته هم اشاره وکړم. په دې کتاب کې د (شنه غوا) او (د پلار مرګ) په نوم داستاني لیکنې د نثر د قوت، د انساني عواطفو د اثرناک بیان او روښانه انځورونو له جهته، لوستونکي ته د اروپا د نولسمې پېړۍ د داستاني ادب کلاسیک استادان وریادولی شي. زما وړاندیز دی چې که څوک په پښتو کې د معاصر داستاني ادب په پیل او انکشاف څېړنه کوي، دا دوې لیکنې دې خامخا ولولي. په نوې رڼا کې استاد خادم (سید کمال او ببو جانې) د ولسي داستان یو روایت هم خوندي کړی دی. دغه روایت د پښتو د اکثرو ولسي نکلونو په خلاف، چې قتل او خشونت په کې ډېر وي، له تشدده خالي انساني داستان دی. کاشکې په دې نکل کې د زغم، لورېینې، عدم تشدد او پاکې مینې عالي ارزښتونه په فلم کې خلک ووینې. دغسې فلم به د ولس د ذوق او فکر په تلطیف کې برخه واخلي.))**

**۲۱- عبدالغفور لېوال:** **څېړندوی عبدالغفور لېوال د**



**هېوادد اوسمهالو پیاوړو، لیکوالو، شاعرانو او کره کتونکو له جملې څخه دی، تر اوسه یې ګڼ شمېر ادبي، علمي او څېړنیز اثار چاپ شوي دي. ښاغلي لېوال په یوه ځانګړې لیکنه کې د استاد خادم ملي فکر یا ملتپالنه (نشنلیزم) څېړلی دی. ده په دې لیکنه کې استاد خادم د ملتپالنې عملي او نظري مبارز ګڼلی او په دې لاره کې یې د مخکښ شخص په توګه یاد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی. د څېړندوی لېوال لیکنه (مولانا خادم او نشنلیزم) نومېږي، متن یې په دې ډول دی:

((نشنلیزم Nationalism یا ملت پالنه د یوې سیاسي مفکورې په توګه د یوه ملت د تشخص، پرمختګ او پر ځان متکي کېدو لپاره د یوه سیاسي تمایل ترڅنګ یو فردي او رواني تمایل هم دی، یعنې دا یوازې سیاسي مفکوره نه، بلکې یوه رواني غریزه هم ده. دغه رواني غریزه هغه مهال د یوې سیاسي مفکورې په بڼه را څرګندېږي چې د سیاست پوهنې، ټولنپوهنې او ولسپوهنې له معیارونو سره سم په ځانګړو چوکاټونو، کړنلارو او منظمو خوځښتونو کې ځای شي. فرد له ځانه سره مینه لري له کورنۍ سره د تړلو مزي ټینګوي څکه د ځان تر ټولو نږدې اړیکي یې له دوی سره وي، د روحي تړون دغه اړیکه په مخروطي بڼه له ځانه پیل بیا کورنۍ، قوم او بلاخره ملت ته پراخېږي، زه غواړم ووایم چې له خپل ملت او ولس سره مینه سیاسي نه، بلکې رواني تنده ده. د تېرو دېرشو کلونو په اوږدو کې سرو- شنو انقلابونو د ډېرو افغاني او ملي ارزښتونو ترڅنګ د افغانانو دغه روحي تنده او غریزه هم وځپله او زموږ د افغاني نشنلیزم هغه محرکه قوه چې د هېواد د ودانۍ او د ملت د سوکالۍ د حل لاره کېدای شوه په دې او هغه نامه تر برید لاندې راغله. انقلابونو ډېر ښه او محبوب نومونه او اصطلاحات وسولول او بدنامه یې کړل، انقلاب، ګوند، آزادي، سوله، پوهاند، پروفیسور، رهبر، دیموکراسي، تنظیم او بېلا بېل ایزمونه ځینې هغه اصطلاحات وو چې تر سیورو لاندې یې جنایتونه وشول او اوس یې حتی یادول زموږ د بېچاره خلکو خوا راګرځوي. یو له همداسې بدقسمته اصطلاحاتو څخه نشنلیزم یا ملتپالنه هم وه، چې کله ارتجاعی او کپیټالیستي تمایل او کله کله د کفر او غیر اسلامي تمایل په نامه وځپل شوه حال دا چې له خپل ملت او خلکو سره مینه او د ملت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوکالۍ او هوساینې لپاره هلې ځلې نه ارتجاعی عمل و او نه هم کفري او غیر اسلامي کار. د خپل هېواد، ملت او خلکو قدر هغه وخت زیات شو چې افغان سرګردانه مهاجر په هر اسلامي او غیر اسلامي هېواد کې روحاً وځپل شول، وشړل شول، خوار او فقیر د پردیو په دروازو کې ودرېدل او ایله په دې وپوهېدل چې خپل هویت څومره ارزښت لري، ددې وطن هر اوسېدونکی له ملکه بهر اول افغان دی بیا احمد یا محمود او د کلبي یا مقصود زوی. ښه نو چې داسې ده، د ملت پالنې غریزه هغه څه ده چې د ملت جوړونې او هېواد جوړونې لومړۍ خښته یې ګڼلی شو او دا هغه څه ده چې ترسرو او شنو انقلابونو ډېر پخوا زموږ یو سترګور، ویښ او متبحر دیني عالم ارواښاد مولانا قیام الدین خادم ورته متوجه شوی و. عجیبه دا ده، چې پر ملتپالنې معتقد ډېر افغان مشران له آره دیني عالمان وو، له پینځو ستورو یې راونیسه تر استاد عبدالله خدمتګار بختاني پورې چې لوی خدای «ج» دې تر ډېره راته ژوندی لري. زموږ په مشرانو کې استاد خادم هغه څوک دی چې نه یوازې پخپله یو عملي ملت پال شخصیت و، بلکې د ملتپالنې یا نشنلیزم پر تیوري او علمي اړخونو، پېژندنه او څېړنه یې کار هم کړی او دغه تمایل یې افغانانو ته ور معرفي کړی هم و. ارواښاد استاد خادم په خپله یوه لیکنه « د ملیت علمي تشریح» کې پر ملیت او بین الملیت باندې بحث کوي او د هغه مهال په فکري چاپېریال کې ددغو اصطلاحاتو تعریف لټوي،استاد یو ځای لیکي: ((د شلمې پېړۍ په ابتدا کې لومړی ځل د ملت پرستۍ پلوشې وطن ته راولوېدې. د ملت پرستي رڼا د افکارو تنویر د وطن میدان ته راووت. تعلیم او تربیه، نشریات او تبلیغات ورو ورو شروع شول . . . د قوم پرستۍ بنا د ملت پرستۍ خواته توسعه ومیندله تر څو چې لومړی ځل د ملت پروری عالي او مقدس روح د استقلال په جنګ کې مجسم تبارز وکړ)). په پورته کرښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هغه باور له ورایه لیدای شو چې استاد خادم یې پر افغاني نشنلیزم او د هغه پر نتایجو لري. استاد د نشنلیزم یا ملتپالنې پر اغېز غږېږي او نتیجه اخلي چې که د افغان ولس د افغانیت مینه او حب نه وای دغه ملت به څنگه تر نورو ولسونو وړاندې خپل استقلال گټلای وای. بل ځای د یوه نشنلیست انسان ځانگړنې داسې شماري : (( ملت پرور د ملي سعادت او لوړتیا په مخه کې د وطن د ارتقا او برم په لار کې له کور، کلي او قوم څخه تېر وي، ملي گټې ته له هرې یوې بلې گټې نه ترجیح ورکوي. دا حس چا کې نه شي پیدا کېدای، تر څو چې پوه نه شي، سترگې یې خلاصې نه شي په خپل او د جهان په احوال خبر نه شي.)) او دا کټ مټ هماغه حس دی چې نن ورته د آب حیات په څېر اړتیا شته، د سرو او شنو انقلابونو په بهیر کې شخصي، گوندي او ډله ییزې گټې دومره مهمې وې چې افغانستان خو پرېږده حتی د انسانیت او اسلامیت آرونه هم هېر شول د وطن چور او ورانول ځکه مباح گڼل کېدل چې په سیاستبازانو کې د ملت او وطن د مینې حس نه و. هر چا خپله گټه لټوله او ددې لپاره یې د افغان وینه داسې اسانه بهوله لکه د خوړ اوبه. ددې لیکنې هدف دادی چې د نشنلیزم په اړه د مولانا خادم نسخه همدا نن هم او سبا ته هم ددې ملت رنځ دوا کولای شي. اول دا چې که خدای مکړه نشنلیزم د کفر معادل وای نو ولې د مولانا خادم په څېر گڼ دیني عالمان او روحانیون پرې معتقد وو؟ دوهم دا چې د استاد خادم په څېر افغانستان دوسته او افغان دوسته شخصیتونو کې د نشنلیزم د حس قوت ډېر طبیعي و، نه سیاسي. هغه مهال د ایډیولوژیو دیکته او تحمیل لا رواج نه و، د استاد خادم د سیاسي مفکورې او تمایل روزنه هغه پخپله کړې وه، هغه ډېر فکر کړی و چې د وطن او ملت د ژغورنې لاره کومه ده؟ او بلاخره دې باور ته رسېدلی و چې اول دې له وطن او ملت سره مینه تعریف کړي او بیا دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولو افغانانو کې وروزي. ښايي استاد خادم او د هغه همزولی روڼ انده نسل د لومړي ځل لپاره متوجه شول چې یوازې په ادبیاتو او سندرو کې د وطن دوستۍ او وطن پرستۍ چیغې سورې کفایت نه کوي، بلکې افغانان باید عملاً خپله وطن پالنه او ملتپالنه زبات کړي. په اوسنۍ نړۍ کې په دې اړه د قضاوت معیار بدل شوی دی، تاسو نړیوالو ته یوازې په شعارونو او ترانو کې ځان ملتپال او وطن دوست نه شئ ثابتولی، بلکې اوس د هر ملت لپاره د وطن دوستۍ معیار د هغه ملت د آبادۍ، پرمختګ، رفاه او نړیوال اعتبار سطح ده که یو هېواد ډېر آباد او پرمختللی وي، نو ملت یې وطن دوسته دی او که یو هېواد وران، ویجاړ وروسته پاتې او فقیر وي، نو ملت یې وطن دوست نه شي ګڼل کېدای، ولاو که هر څومره یې په شعرونو او سندرو کې د وطن دوستۍ ډېرې پر سینه وهلې وي. لوی کار د همدغې مفکورې تعمیم دی. پنځه واړه ستوري په تېره بیا استاد خادم، استاد الفت او استاد بېنوا هغه مشران دي چې پخپلو خوږو نثرونو او لیکنو کې یې دې اصل ته پام کړی دی. د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې که څه هم د افغانستان سیاسي وضعیت ثبات درلوده خو عامه شعور او اجتماعي پوهه خوار ټیټ وو، د بې سوادۍ کچه لوړه وه، اقتصاد کمزوری و او خلک له سیاسي – ټولنیز فرهنګ سره ډېر نه وو اشنا. له همدې امله د نشنلیزم په څېر اصطلاحات خلکو ته ناآشنا وو. د استاد خادم په څېر منلو پوهانو او لیکوالو ته ډېر کار په کار و چې دغه اجتماعي ارزښتونه معرفي کړي، استاد خادم او د هغو همزولو لیکوالو یو امکان درلوده او هغه دا چې د خپل اجتماعي موقف، دیني پوهې او ولسي شخصیتونو له برکته په عامو خلکو کې منلي وو او د هېڅ ډول بهرني سیاسي ایزم ټاپه نه وه پرې لګېدلې او خلکو پرې باور کاوه. استاد خادم څنګه نشنلیزم خلکو ته ورپېژانده؟ عجیبه ده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعي اصطلاحاتو پېژندنه ځانګړي میتودونه لري او استاد خادم هغه مهال پردې میتودونو پوهېده. په نړۍ کې د نورو موډلونو معرفي او بېلګه یي شننه ددغه کار یوه برخه ده. استاد خادم پخپله یوه لیکنه کې چې (د ملیت حس) نومېږي د نشنلیزم موډلونه معرفي کوي. استاد د امریکا، هندوستان، پښتونستان او نورو ملتونو مثالونه معرفي کوي او د خپلې لیکنې په پای کې داسې نتیجه اخلي :« دا طبیعي ده چې د بشر یو فرد هغې ژبې سره علاقه او محبت لري چې هغه یې مورنۍ ژبه وي او همدا ژبه له ټولو ژبو څخه مرجحه ګڼي او هغه وخت ځان مسعود او نیک بخت ویني چې خپل قومي غرور د تاریخ په پاڼو کې ملاحظه کړي. ملیت په هر نسل کې خپل موجودیت ساتي او په یوه ځلانده څېره سره ظهور کوي.» په نوې اروپوهنه کې له فردي اروپوهنې ورها خوا یوه اصطلاح شته چې قومي اروپوهنه یې بولي، قومي اروپوهنه د هغو ګډو ارکیټیپونو مجموعه ده چې له ارثي پلوه له یوه نسل څخه بل ته لېږدي او آن په فردي تحت الشعور کې یوه لویه برخه جوړوي، فردي شخصیت د ودې په بهیر کې په کلکه د لاشعور له دغو رسوبي خاطراتو څخه اغېز مني. له کورنۍ، مورنۍ ژبې، قومي جوړښت، نژاد، ملت او هېواد سره مینه مخامخ په همدغو ارثي اخیستنو پورې اړه لري.تاسو د (کارل ګوستاویونګ) په بحثونو کې د کلتوري او قومي ارزښتونو د انتقال او د قومي تمایل د رواني اړخونو ګڼ شمېر مثالونه کتلای شئ، ځکه خو موږ ددې کرښو په پیل کې یاده کړه چې نشنلیستي تمایل غریزي او رواني بنسټ لري. زموږ استاد خادم کلونه کلونه پخوا دې ته متوجه شوی و، د استاد دغه کرښې ولولئ. « که څه هم ځینې مورخان او فلاسفه د ملیت او نشنالیزم مفکورې سره مخالف دي او په امحا کې یې زیار باسي خو سره ددې دوی نه شي موفق کېدلی چې د ملیت حس له منځه یوسي. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا کار د افرادو په ذاتي تمایلاتو متکي دی او لکه څنګه چې خلک د خپل موروثي هېواد «مسقط الراءس» سره بې دلیله محبت او علاقه لري. همدارنګه یې د خپل ملیت سره هم لري، نو په دې لحاظ ویلی شو چې ددې مفکورې په ضد هر رنګ مقابله کول تاثیر نه شي کولای». هېره دې نه وي چې له خپل ملت سره مینه او خپل ولس او هېواد ته کار هېڅکله د بل ملت او هېواد یا قوم پر ضد ګام اخیستل نه دي. د نړیوال کېدو یا (Globalization)په عصر کې هم ملتونو خپل جوړښت ساتلی، د اروپا په لویه وچه کې چې اوس د یوه هېواد په څېر سره یو ځای شوې ده، فرانسوی پر خپل فرانسوي توب نازېږي او جرمن پر خپل جرمنوالي ویاړي، ملت ملت دی، له ملت سره همدا لېونۍ مینه وه چې له نړیوالې جګړې څخه را وتلې ټوټه ټوټه او ویجاړه جرمني یې ډېر ژر د اروپا په لومړي اقتصادي ځواک بدله کړه. افغانستان هم له جګړې څخه راوتلی، د نړیوالې ټولنې د مرستو د میلیونونو ډالرو بهیر هم ورته را روان دی، خو لا هم نه جوړېږی، ځکه موږ له خپل ملت سره مینه نه لرو او د نشنلیزم حس مو کمزوری دی .که څوک دا بهانه کوي چې موږ خو بهرنیان نه پرېږدي چې جوړ شو، دا ((عذر بدتر از ګناه)) ده ځکه ولې بهرنیانو ته اجازه ورکوو چې موږ له ابادۍ څخه منع کړي او یو بل را باندې ووژني، موږ که پر هېواد او ملت مین وای او د هر سیاسي حرکت هدف مو د افغانستان او افغان هوساینه او آبادي وای بیا خو بهرنیو دا لوبې نه شوې را باندې کولای. نشنلیزم له بل سره دښمني نه، بلکې د ځان آبادي ده. د نشنلیزم بل منطق دادی چې تر هغو ټول قوم نېکمرغه نه شي فردي نېکمرغي ناممکنه ده. تاسو به ښکلی کور ولرئ، په ښکلي موټر کې به ګرځئ، په بانک کې به ډېرې پیسې ولرئ، خو همدا چې ښار ته راووځئ او د سوالګرو کتار وګورئ، نو وجدان به مو وځورېږي چې د ښار سړک ویجاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نو ستاسو ښکلي موټر ته به تاوان ورسوي او ستاسو ښکلې جامې به په ختېو شي، خاورې به تنفس کړئ او په يوه ويجاړ روغتون کې به مو علاج ونه شي. دا په دې مانا چې فردي نېکمرغي هم په ملی نېکمرغۍ کې نغښتې ده او د ملي نېکمرغۍ د رامنځته کېدو لپاره هاند او هڅې د نشنليزم او ملت پالنې د روحيې پر اساس رامنځته کېږي. هغوی چې په سرو شنو انقلابونو کې ځانونه وپړسول او نړيوال بانکونه يې له خپلو پيسو ډک کړل دغه اصل ته نه دي متوجه شوي، چې تر څو يې خلک نه وي نېکمرغه شوي دوی او کورنۍ يې نه شي نېکمرغه کېدای او دادی د افغاني نشنليزم حکم. له پورتني بحث څخه داسې پايله اخلو : استاد خادم د يوه متبحر ديني عالم په توگه نشنليزم را پېژنده او د ملتونو د نېکمرغۍ او رفاه لپاره يې د هڅو معنوي سرچينه گڼله، استاد باور درلوده چې هېوادونه يوازې د دوستۍ په شعارونو نه، بلکې له ملت او هېواد سره د کلک محبت او مينې پر اساس د عملي هلو ځلو په پايله کې ودانېږي. ملتپالنه کومه را تپل شوې سياسي ايډيولوژي نه، بلکې په افرادو کې يو ذاتي تمايل او رواني ځواک دی. ځکه خو انسان فطري ملتپال او هېواد دوست وي. اوس چې افغانستان له ملي پلوه ډېرې ستونزې لري او خدای مکړه بيرې يې ډوبه ده، يو ځل بيا ډېرو ملي مرشدانو ته اړتيا لرو چې د استاد خادم په څېر را پاڅېږي، په قلم، قدم او درهم ملت راويښ کړي، رالوييدونکی نسل په دې وپوهوي، چې دوی هم يو هېواد لري چې افغانستان نومېږي، دوی هم يو ملت لري چې افغان ورته وايي او دوی بايد د افغاني نشنليزم پر گاڼه سينگار د ودانۍ معرکې ته ور گډ شي. افغان نسل ته په تېر تاريخ تش وياړونه روزي نه ورکوي او په ادبياتو او سندرو کې د ملتپالنې او هېواد دوستۍ شعارونه کافي نه دي، بلکې د افغاني ملتپالنې پر روحيه سمبال نسل بايد يو شمېر داسې عملي ميکانيزمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځ ته کړي چې د هغو پر اساس وران افغانستان ودان او ځوریدلی ملت هوسا شي.

**۲۲- احمد جاوېد نوري:** د ګڼو نورو پښتنو لیکوالو تر څنګ ښاغلي احمد جاوېد نوري هم د استاد قیام الدین خادم د لیکوالۍ، په تېره بیا د نثري برخې په باب یوه لیکنه کړې ده. جاوېد نوري په دې لیکنه کې د استاد د نثر پر ښکلاییزې برخې بحث کړی، خو تر اصلي موضوع دمخه یې د هغه ډېرې لنډې پېژندنې ته هم اشاره کړې ده.

په دې لیکنه کې جاوید نوري د استاد د نثر بېلابېل اړخونه څېړلي دي. نوري خپلې لیکنې ته (د استاد قیام الدین خادم په نثر کې ښکلا) نوم ورکړی دی، د ده لیکنه په دې ډول ده:

((استاد قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی پر (۱۲۸٦ل) کال د ننګرهار ولایت په کامې ولسوالۍ کې زېږېدلی دی.

استاد خادم افغان سیاستپوه، د مشرانو جرګې سناتور، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد، پیاوړی لیکوال، ویښ شاعر، ادیب او د فلسفي اندونو یو پوه عالم و؛ نوموړی د پښتو ادب له ځلانده ستورو څخه یو ستوری ګڼل کېږي .

خادم پښتو ژبې او ادب ته کابو (۵۰) په زړه پورې منظوم او منثور اثار لیکلي دي، چې ډېرې برخه یې چاپ او لږ برخه یې لا ناچاپه پاتې ده، هیله مو دا ده چې هغه هم په لنډو وختو کې د چاپ په ګاڼه سمبال شي.

استاد قیام الدین خادم په نثر کې د ځانګړي سبک خاوند تېر شوی؛ چې په دې برخه کې د استادۍ تر درجې رسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه نثر ښکلا د هغه په هنریت پورې اړه لري، هر څومره چې یو نثر هنري وي په هماغه کچه یې ښکلا هم زیاته وي؛ خو ځینې نثرونه په عین ساده ګۍ کې هم یو هنري نثر ګڼل کېدای شي، هغه داسې چې لیکوال په کې ښکلي الفاظ په پوره استادۍ اوډلي وي، لکه د رحمان بابا شاعري، چې شعر یې ډېر ساده خو په عین ساده ګۍ کې هنري هم دی، استاد خادم هم په خپلو نثرونو کې دغه هنریت ته پام کړی.

قیام الدین خادم د سیاسي او اقتصادي نثرونو ترڅنګ خورا زیات هنري نثرونه هم لیکلي دي، د هغه هنري نثرونه ډېر ښکلي، لطیف او په ګټورو کلیمو او مفاهیمو سمبال دي؛ کومې لفظي او ښکلې معناوې چې ده په خپلو نثرونو کې ځای کړي دي، هغه شعرونو ته ورته دي. دده لومړۍ مقاله چې له اردو ژبې څخه ژباړه وه په (اتحاد مشرقي) کې چاپ شوې ده .

په پیل کې غواړم د اروانباد خادم د نثر یوه ټوټه د خپلې څېړنې لپاره را واخلم، چې دا ټوټه د ده د لیکوالۍ له لومړنیو لیکنو څخه ده او د کندهار د پښتو مجلې د دویم کال په نهمه ګڼه کې خپره شوې ده.

((اوربېدلي مې دي چې یو پادشاه د خپل زوی د تعلیم لپاره یو متدین او تجربه کاره عالم پیدا کړو او دده د ارام او راحت ټول اسباب یې راغونډ کړل او په مال او دولت یې ښه خوشاله کړ، نو د خپلو سترګو تور ګران ځوی یې د هغه د څېړې لاندې کېښود او ورته یې وویل :جناب دا زما ځوی دی، اوس یې ستا په شاګردي کې درکوم چې دې د سلطنت د ارزو نیالګي ته د علم او ادب په باغ کې داسې پرورش ورکړې چې وروسته د عالم د راحت او اسودګۍ لپاره د مېوې ډکه سایه داره ونه شي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ښېلگه په نثر کې د دې لیکوال د استادۍ ښکارندویي کوي، نو ځکه روهي صاحب د خادم د نثر په هکله لیکي: ((د ده په نثر کې ایجاز لیدل کېږي او د ځینو لیکوالو په شان د حق الزحمې لپاره خبره نه اوږدوي، بلکې نېغ په نېغه خپل مطلب بیانوي)). خادم صاحب د خپلې لیکوالۍ په لومړیو پوړیو کې د پښتو لرغوني او خپل وخت نثر ژوره او انتقادي مطالعه وکړه، پر (۱۳۱۹ل) کال یې د پښتو د نثر پر تطوراتو او بدلونونو څېړنه وکړه او تر دې وخته یې د پښتو نثارانو تذکره او پېژندگلوي وکښله، چې د (۱۳۱۹ ل) کال په کابل کلنۍ مجله کې یې خپره کړه، تر دې وروسته د پښتو نور زاړه متنونه لکه (خیرالبیان او پټه خزانه) هم رابرسېره شول، چې ده ولوستل او په خپلو لیکنو کې یې یاد او زیات کړل؛ دې لیکنو په خپل وار سره دده پر لیکوالۍ اثر وکړ او څرنگه چې ټول یې په غور لوستي او د کره کتنې په مرسته یې سنجولي وو، نو په پایله کې ده د یوه روان، خواږه او سلیس نثر د لیکلو لپاره خپله لار وټاکله او د بېلابېلو موخو لپاره یې درې ډوله نثرونه ولیکل :**

**۱- عادي نثرونه**

**۲- عالي یا هنري نثرونه**

**۳- لارښودي، ارشادي یا استاذیانه نثرونه**

**۱- عادي نثرونه : خادم صاحب تر ډېر زیار او ریاضت وروسته په نثر لیکلو کې د یوه ځانگړي سبک څښتن شو.**

**د لیکوالۍ په هره برخه کې لکه: کلتوري، علمي، ټولنیز او ان اقتصادي برخو کې یې سلیسې لیکنې وکړې او په دغو ټولو برخو کې یې فصیحه، بلیغه او روانه ژبه کارولې ده؛ لوی مطالب یې په لنډو جملو کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کړي، له بې ځایه اوږدوالي، ګونګتیا او اطناب څخه یې ځان ژغورلی، چې همدا دده د نثر یوه مهمه ځانګړنه ګڼل کېږي.

**۲- عالي یا هنري نثرونه:** په لره او بره پښتونخوا کې د ادبي ټوټو یا منثورو اشعارو له دودېدو سره استاد هم په دې لاره کې په بریالیتوب ګامونه پورته کړل او ګڼې ادبي ټوټې یې ولیکلې؛ چې د دې ډول ټوټو لومړۍ ټولګه یې پر (۱۳۲۰ل) کال د (نوي ژوندون) په نامه خپره شوه، بیا یې د (خیالې دنیا) په نامه بل اثر پر (۱۳۳۹ل) کال خپور کړ، نورې پارچې یې خورې ورې په اخبارونو کې خپرې شوې دي، یو شمېر هغه ټوټې چې په (نوې رڼا) کې هم راغلي په یوه نثر کې وایي: ((کېدای شي چې نور څیزونه په زور وچلېږي مګر قلم نازک شی دی، په ده چې زور راشي ماتېږي)).

همدارنګه د خوشال او رحمان بابا په هکله یې داسې نظر درلود: ((خوشال په ټولو معناو سره شاعر دی خو رحمان بابا له شاعر نه پورته مقام لري)).

د استاد خادم په ادبي ژبه او ټوټو کې د فلسفې او منطق قوت، خوږوالی او د الفاظو او کلمو عذوبت داسې سره اغږل شوی، لکه د ګل رنګ او بوی .

**۳- لاربنودی یا استاذیانه نثر:** استاد خادم ته په لاربنودي پښتو نثر لیکنه کې یو بل خیال پیدا شو او د بایزید روښان په څېر یې الهامي مسجع نثر پیل کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په خپل دغه ډول نثر کې پندونه او نصېحتونه راوړل چې نمونې يې په (افغان ولس) اخبار او دده په ځينو وروستيو کتابونو لکه: (د پښتو پټۍ) او (لرغوني پښتانه قومونه) کې راغلي دي .

دده د درېيم ډول نثر يوه نمونه دا ده:

((ايمان لوی نعمت دی، اخلاق ستر قدرت دی، پوهنه برکت دی، يووالی دی، زور او قدرت، ازادي ده ژوند، بې پروايي ده خوند.))

د استاد خادم د عادي نثر، هنري نثر او لارښودي نثر ليکلارې سره بېلې دي؛ خو سلاست، صلابت، متانت، فصاحت، بلاغت، صراحت او ژبنی قوت يې سره يو دی؛ په همدې توگه د خادم بابا نثر د پښتو يو خوږ، پوخ، معياري او داسې نثر دی چې د روانې او سليسې پښتو ليکنې لارښوونې کوي او زموږ په پښتو ليکنه کې يو ځانگړی او د ستاينې وړ ځای لري .د خادم په اثارو کې (خيالي دنيا) او (نوی ژوندون) چې مخکې مو يې هم يادونه وکړه، د ده د نثر په دويمه ډله (هنري نثرونو) کې گڼل کېږي، نوموړي اثار د استاد خادم د اوچت فکر، پراخ نړۍ ليد، له خپل ولس، هېواد او قوم سره د لاانتها مينې درلودلو ښکارندويي کوي.

ښاغلی عبدالوکيل اټک د خيالي دنيا په سريزه کې ليکي:

((خيالي دنيا په رښتيا هم چې خيالي دنيا ده، ډېرې د خوند او مينې خبرې په کې دي. لارښوونې لري، د پند او عبرت درسونه لري، د رنگ او رباب دنيا لري...)) او زياتوي چې د دې کتاب نثرونه دومره خواږه دي چې هر يو يې لولې، نو خوند او عبرت به ترې اخلې.

خو ډاکټره ثريا خادم بيا دغه نثري ټوټې شعر بولي او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((د استاد دغه اثر هنري ارزښت لري او د خیالي دنیا په هره نثري پارچه کې د ژبې فصاحت، بلاغت، خوږوالی، ښکلا، ژوروالی او خوند له ورایه ځلېږي؛ که لوستونکي یې په دقت ولولي وبه ګوري چې دا ژورې نثري ټوټې یې تر ډېرو منظومو اشعارو زیات شعریت او خوږوالی لري، نو که د خیالي دنیا دا نثري ټوټې اشعار وبولو پرځای خبره به وي)).

استاد خادم په خپل (خیالي دنیا) اثر کې د ژوند درې خواوې (علم ، شعر او سیاست) داسې بیانوي:

((علـم اکتــشاف، شعر احساس او سیـاست کـول دي.

عالم فکر کوي، شاعـر خبـرې کوي او سیاستدان عملاً کار کوي.

عالـم ګوري، شاعر خاندي او ژاړي او سیـاستدان لوبې کوي.

علم په مغزو، شعرپه زړه او سیاست په ګېډه او غړو پورې اړه لري.

عالم قوانین، شاعـر ملل او سیـاستدان ډلې جـوړوي.))

هېواد پالنه او ملتپالنه دده په ټولو منثورو او منظومو لیکنو کې ښکاره رول لري، دی تل خپل خلک یووالي او اتفاق ته رابولي او د یوه ملت ښېرازي، خپلواکي، کامیابي د هغه ملت په یووالي کې بولي.

دی وایي: ((ټولې قومي او ملي کامیابۍ د اتفاق مرهونې دي مګر اتفاق د پسرلي باران نه دی چې په خپله ورېږي، بلکې د هر ملت د اتفاق تهدابونه خواخوږي حکیمان او فلاسفه ږدي)).

تورې او قلم ته زیات ارزښت ورکوي او د یوه ملت د بقا لپاره د دې دواړو څیزونو شتون حتمي ګڼي او وایي: ((توره په خپل ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېکتاتوره ده او قلم په خپل ځای، وړاندېوالی هغه وخت کېږي چې دا دواړه احترامانه اتفاق وکړي))!

د ده له نظره ملیت د ملت د جوهر په معنا دی او ملت له ملیت سره داسې تړون لري لکه انسان او انسانیت او شخص او شخصیت ... او داسې نور

دی د ژوند سعادت او خوشبختي، د مادیاتو په زیاتوالي نه، بلکې په خپلواکۍ پورې تړلې بولي او وایي: ((د ژوند سعادت او خوښي د مادیاتو په زیاتوالي او ډېروالي پورې دومره اړه نه لري، لکه د ضمیر په ازادۍ او د روح په خوشالۍ پورې)).

**۲۳- سرمحقق عبدالواجد واجد:** سر محقق عبدالواحد واجد د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی دی. د ژبو او ادبیاتو په برخه کې یې یو شمېر لیکنې او څېړنې کړې دي. د استاد خادم په باب چې مېرمن هوسا یوسفزۍ د ماسټرۍ کوم ځانګړی اثر لیکلی دی. په هغه کې د استاد خادم په باب د سرمحقق واجد یو لنډ نظر هم راغلی دی. هغه د خادم صیب په باب وایي: ((استاد خادم د ملي مفکورې خاوند و. ملي مشران او ملي شخصیتونه یې ښه ګڼل او ورباندې ډېر ګران وو، خو د ادبي انتقاد ژبه یې ډېره تېره وه او کله کله یې پر خپلو دوستانو هم چلولې ده.

په همدې ترتیب د نړیوال سیاست او فلسفې په رڼا کې پښتون سیاست او فلسفه وړاندې کوي او له پښتني او اسلامي غوښتنو سره سم د یوه ملي حکومت د جوړېدو هیله من و.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۴- استاد محمد اصف صمیم:** استاد محمد اصف صمیم د



هېواد یو نومیالی، لیکوال، څېړونکی او ژبپوه دی، تر اوسه یې په لسگونو عنوانه بېلابېل اثار لیکلي او یو زیات شمېر یې چاپ کړي دي. دی د استاد خادم سیمه وال او د فکر لېوال یې هم دی. ما ورڅخه داستاد خادم په باب خپل نظر غوښتی و، ده راته خپل نظر په لنډو ټکو کې داسې څرگند کړ:

د کامې د یونان یو اپلاتون

څــه پوښـــتنه د خـــادم کـــوې چـــې څـــه دی !
پـــه پنجـــره کـــې بنـــدي شـــوی یـــو مرغـــه دی
د پښـــتو پـــه کبیـــره گنـــاه کـــې گیـــر شـــو
څـوک خبـر نـه شـو چـې څنگـه دی او څـه دی !

دا سرلیک د ځان او خپل علمي مقام په باب د هېواد د یوه وتلي عالم، ادیب، شاعر، فلسفي، ستر ملتپال (نېشنلسټ) او د پښتو ادب د اسمان د ځلاند ستوري استاد مولینا قیام الدین خادم دعوا ده، چې کامه یې ځان ته د خپل انتساب له امله یونان بللې او ځان یې له اپلاتون سره د خپل فکري او فلسفي تړاو له امله اپلاتون گڼلی دی.

د استاد خادم دې علمي تعلي ته له ناکامه دعوا ووېل شوه، ځکه بل تعبیر راسره نه و، گڼې د استاد فکري نبوغ او د خپلې ټولنې د ملي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي او کولتوري ښکلا او ځلا لپاره عبقریت ښه بېلګه ده او د نورو ثبوتونو او د لایلو اړتیا ورته نه شته.

استاد خادم د خپل ولس او ټولنې د ځوانانو په فکري روزنه کې د یوه ناستومان مبلغ او مبارز په توګه خپله استادانه ژمنه ښه په نره ترسره کړه. هغه په ړومبي ځل په خپله افغاني ټولنه کې چې دوه نیمې پېړۍ په کې پر افغاني نیشنلزم د سیاسي چارواکیو د ټولنیزو بې عدالتیو دوړې پرتې وې. د یوې رغنده او منصفانه ملتپالنې نظام متعارف کړ. پښتو او پښتونواله د استاد افغاني پېژند و، په خپلو څېړنو یې د پښتنو ساکیواله جوته کړه. بایزید روښان یې د ملي مشرتابه ایډیال او ارمانیال و.

استاد خادم د خپل فکر د مصداق او انځورنې لپاره خپل سباني کهول ته د خپل اغېزمن قلم په ژبه دومره څه پرېښودل چې که ځوان کهول یې د زړه په سترګو ولولي، هېڅکله به هم د بېنومۍ او نومورکۍ په دوړو کې ډوب نه شي.

ددې تنګ کاغذ په تنګه سینه کې د استاد خادم غونډې د سمندر فکر خاوند افکار او د ارمان و سعتونه ځایول به ډېره لویه دعوا وي او زه ځان هېڅکله ددې دعوې جوګه نه ګڼم.

زموږ ګران منلی استاد پوهاند محمد اسمعیل یون په بختوره ورځ پیدا دی چې د خپلې دوکتورا د پایلیک لپاره یې د یوې داسې علمي او ملي ستې د ځلونې ژمنه وکړه. مبارک دې وي

محمد آصف صمیم

۱۰/۱۱/۱۳۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵- حفیظ الله غښتلی:** ښاغلی حفیظ الله غښتلی د پښتو



ژبې او ادبیاتو یو ښه ځوان څېړونکی او شنونکی دی، ده د نورو لیکوالو ګڼ شمېر اثار کره کړي او چاپ ته یې تیار کړي دي، خپله هم د ښه قلم خاوند دی، د خادم په باب د ده یوه لنډه لیکنه په (هیله) مجله کې چاپ شوې ده. حفیظ الله غښتلي په خپله لیکنه کې استاد خادم (د پرون، نن او سبا خادم) ګڼلی دی، د هغه پر ژوند یې هم لنډه رڼا اچولې ده. چې دلته یې د لیکنی متن وړاندې کوو:

((ارواښاد استاد قیام الدین خادم د هېواد او ولس هغه خادم و چې خپل ولس او هېواد ته یې له (روهي ګلونو) څخه د (مرغلرو امېل) وپېیه او ور ترغاړې یې کړ، د هېوادوالو لپاره یې (مکارم الاخلاق) سره (نوی ژوندون) غوښت او په مینه یې د خپل ولس خدمت کاوه. داسې خدمت چې د تېر، اوس او راتلونکي خادم پاتې شو او په خپله یې وویل:

خدمت د خپل ژبې قام وطن زما مسلک دی

په دې مینه به پایم، که وم وم، که نه وم نه وم

ارواښاد استاد قیام الدین خادم پر (۱۲۸٦ل) کال د ننګرهار ولایت د کامې په یوه پوهه پالونکې کورنۍ کې دنیا ته سترګې پرانیستې، پلار یې ملا حسام الدین او نیکه یې ملا علي ګل اخونزاده، د خپل وخت نامتو پوهان وو، چې په سیمه کې یې د پوهې رڼا خوره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارواښاد خادم لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په کور و کلي کې ترسره کړې او بیا وروسته پېښور، ډیلي او لودیانې ته لاړ او هلته یې هم څه مهال په زده کړو تېر کړ او د وخت دودو علومو زده کړه یې ترسره کړه.**

**خادم د فلسفې اند او علمي شخصیت خاوند و، د خپل اند او شخصیت په رڼا کې یې هېواد، ولس مخ روڼی او سور مخی غوښت او په رښتینې بڼه یې د خپل ولس خدمت کاوه او دا خدمت یې لومړی په خپل کلي کې د ښوونکي په توګه پیل کړ.**

**ارواښاد استاد قیام الدین خادم د افغانستان د معاصرو ادبیاتو له هغو پنځو ستوریو څخه و چې پښتو ادب او کلتور یې ځلولي دي او په یوه داسې ویښ زلمي احساس یې د پښتو ادب چوپړ کړی چې د نن زلمیان به یې درناوی کوي.**

**ارواښاد خادم د ویښ زلمیانو یو پیاوړی غړی و، چې له خپلو نورو ملګریو سره یې اوږه پر اوږه د ولس د بیدارولو او ویښولو ګړندۍ هڅې پر مخ بیولې.**

**ارواښاد استاد خادم، پر (۱۳۵۸ ل) کال له دې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې.)) (۴۷: ۲)**

**۲٦- سرمحقق سید محی الدین هاشمي:** **ښاغلی سرمحقق سید محی الدین هاشمي د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی او د هېواد یو وتلی نومیالی لیکوال او څېړونکی دی. هاشمي تر اوسه پورې په لسګونو عنوانه بېلابېل علمي اثار چاپ او خپاره کړي دي. د استاد خادم له ژوند او اثارو سره له نږدې اشنایي لري. کله چې د استاد خادم د نثرونو ټولګه (رڼه چینه) د علومو اکاډمۍ له خوا چاپېدله، نو سرمحقق هاشمي پر دې ټولګې د نظر د څرګندولو ترڅنګ د استاد خادم د اثارو او افکارو په باب**

(c) ketabton.com: The Digital Library





هم خپل نظر څرګند کړی دی. ده دا لیکنه د (۱۳۹٦ل) کال د وږي پر لومړۍ نېټه لیکلې ده چې دا دی دلته یې همدا برخه دلته وړاندې کوو.

((استاد قیام الدین خادم زموږ د هېواد د معاصرې دورې نومیالی علمي، فرهنګي او سیاسي مفکر شخصیت دی، چې څه د پاسه پنځه لسیزې یې د پوهې، فرهنګ او ټولنیزو خدمتونو په ډګر کې د ستاینې وړ خدمتونه، علمي او عملي هلې ځلې کړي دي.

پیاوړی عالم او معلم و، په مدرسه، ښوونځي او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې یې د مدرس، ښوونکي او استاد په توګه دنده ترسره کړې وه، تکړه ژورنالېست و، د زېري، اتحاد مشرقي، کابل مجلې، طلوع افغان، هېواد، اصلاح او افغان ولس خپرونو د مسوول مدیر او چلوونکي چارې یې سمبال کړې وې. ښه شاعر، لیکوال او څېړونکی و، په لسګونو د نظم او نثر ځانګړي چاپ او ناچاپ اثار او په چاپي خپرونو کې په سلګونو خپرې شوې علمي، ادبي، سیاسي او نورو ټولنیزو مسایلو پورې اړوندې څېړنیزې او تحلیلي لیکنې یې ددې لامل شوې چې زموږ د معاصر ادب په پنځو ځلنده ادبي ستورو کې شمېر او د پښتو ادب په اسمان کې وځلېږي.

په عامه توګه د استاد خادم د نثري لیکنو زیاته برخه دیني، علمي، ادبي، تاریخي او ژبنۍ څېړنې او د عامو ټولنیزو ، ملي ، سیاسي مسایلو په اړه ژور تحلیلونه او کره کتنې دي، چې هره یوه یې پر خپل ځای زموږ د


(c) ketabton.com: The Digital Library



**علمي-فرهنګي شتمنۍ او زېرمې په بډاینه کې ځانګړی اهمیت او ارزښت لري، خو تر څنګ یې د منثور تخلیقي ادب ډېره ستره پانګه هم پنځولې ده، چې په هغو کې د هنري نثر ډېرې مهمې ځانګړنې، لوړ تخیل، د خبرې زړه راښکون، ساده ګي او رواني، د لفظ او معنا برابري او نورې ښې جوتې دي.**

**د منځپانګې له مخې که څه هم ددې هنري او ادبي لیکنو ځینې برخې ظاهراً په خپله لمنه کې د مینې د راز او ناز خبرې، د ګل او بلبل، شمعې او پتنګ د زړه خوالې، د طبیعت د ښکلو ننداړو او کیفیتونو منظرونه او داسې نور په عاطفي بڼه په الفاظو کې رانغاړي، خو تر څنګ یې د ټولنیز ژوند ډېر واقعیتونه، علمي، فلسفي، ملي، سیاسي او نور عام ټولنیز مسایل په ډېره خوږه، ساده، روانه، خو رنګینه ادبي، هنري ژبه په داسې په زړه پورې بڼه بیانوي چې هره برخه یې د لیکوال د علمي او ادبي پیاوړتیا، بشرپالنې او هېوادپالنې د ویښې جذبې د لوړتیا استازیتوب کوي.)) (۲۳: یادښت)**

**۲۷- خېړنوال ذکریا ملاتړ: خېړنوال ذکریا ملاتړ، د هېواد**



**یو نامتو لیکوال او خېړونکی دی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی، ده ګڼ شمېر اثار لیکلي، چاپ کړي او ایډېټ کړي دي. ملاتړ استاد خادم له نږدې لیدلی و، د هغه په باب خپل نظر داسې څرګندوي:**

**((اروابناد قیام الدین خادم نامتو پښتون مفکر، ملا، لیکوال او شاعر دی. هغه تر مرحوم علامه حبیبي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د پښتون ژبې او ادب په اسمان کې راوخوت، د خدای بخښلي خیالات ډېر اوچت وو، ځان یې تر بل چا ټیټ نه باله، زما ورسره په لومړي ځل پر (۱۳۵۳ل) کال په ابن سینا کتاب پلورنځي کې، چې پل باغ عمومي ته مخامخ د منډوي کوڅې په خوله کې یې موقعیت درلود، ملاقات وشو.

همغه وخت د سرحدونو چارو وزارت هم په همدې کوڅه کې و، په دې کتاب پلورنځي کې پښتو کتابونه خرڅېدل.

خادم صاحب به وخت ناوخت دغه کتابپلورنځي ته تګ راتګ کاوه، یوه ورځ زه په دې کتاب پلورنځي کې وم، استاد خادم له یو بل کس سره چې د ده په عمر و داسې کیسه کوله، چې زه یو ورځ سردار محمد داود خان وروغوښتلم، ډېر ښه روغبړ یې راسره وکړ او داسې یې راته وویل: خادم صیب څه کول په کار دي؟ تاسو له ما نه کومه غوښتنه لرئ؟ خادم صیب وایي چې ما ورته په ځواب کې وویل، هو! غوښتنه مې دا ده، چې که لوګر، میدان او پروان ولایتونه له کابل ولایت سره یو ځای شي، ښه به وي. زه ډېر وروسته په دې پوه شوم چې د خادم صیب په دې خبره کې لوی حکمت و.))

ذکریا ملاتړ په خپله لیکنه کې یادونه کوي چې: ((کله چې سردار محمد داود خان پر (۱۳۳۲ل) کال د صدارت واګې په لاس کې واخیستې، نو دا وخت ځینو اشخاصو سره چې یو نیم په کې دولتي چارواکی هم و، یو نظر و، غوښتل یې چې د افغانستان تاریخي نوم پر (اریانا) بدل کړي، دې چارواکو د دې کار د عملي کولو لپاره د غلام حسن خان ساپي په خوله د وخت مشهور او پوه کسان، لکه (سراج الدین سعید، سید شمس الدین مجروح، محمد امین خوږیانی، استاد قیام الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم، جلالي، عبدالروف بېنوا، مولانا ارشاد، محمد موسی شفیق، ارسلان سلیمي، پکتیانی، عبدالقدوس پرهیز، محمد ظاهر ساپی، صدیق دالله رښتین) او ځینې نور، چې شمېر یې (٦٠) تنو ته رسېده د یوې مېلمستیا په پلمه کور ته راوبلل، خو د غلام حسن خان ساپي په ګډون یو هم د مېلمستیا په علت پوه نه وو. په دې وخت کې یو چارواکي مېلمنو ته وويل څه کېږي، چې د افغانستان نوم بدل کړو او پر ځای یې د اریانا خوږه کلمه غوره کړو، ټول رابلل شوي کسان چې له اصلي موضوع څخه خبر نه وو، چوپه خوله ناست وو، یوازې خادم او رښتین اوچت شول او ویې ویل دا به سمه وي، خو که دا د غرو پښتانه چې د افغانستان نوم ورته ډېر خوږ او د اسلام مترادف ایسي، خدای خبر که هغوی په دې نزاکت پوه شي. ډېره وېره ده چې له دې کار به څومره غم او فساد جوړ شي. داود خان چې دې حساسیت ته متوجه شو، چې خبره رسوایي او بحث ته وځي، ژر یې د دې خبرې د مطرح کوونکي پر خوله لاس کېښود او ویې ویل چې دا د لوی احمد شاه بابا ستر میراث دی، پر دې بحث نه کوو.


لنډه دا چې پر پښتنو او پښتو ژبه باندې د استاد خادم مرحوم ډېر احسان دی، پښتانه یې باید قدر وکړي.

خادم صیب او د هغه ملګرو پښتو ویله، پښتو یې لیکله او پښتو یې کوله. الله پاک دې هغوی ټول وبخښي.))

**۲۸- څېړنوال وجیه الله شپون:** څېړنوال وجیه الله شپون د علومو اکاډمۍ غړی او دا مهال د پښتو څېړنیو د نړیوال مرکز رییس دی، په دې وروستیو کې یې د استاد خادم یو شمېر اثار ایډېټ کړي او د هغوی د کورنۍ په مرسته یې چاپ کړي دي. دی په یو یادښت کې د استاد خادم د ټولنیزو خدمتونو په باب وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





((مرحوم استاد خادم د هېواد نومیالی لیکوال، شاعر، مؤرخ، ژورنالیست او عالم شخصیت دی چې نوم به یې تل د علم او فرهنګ په تاریخ کې ژوندی وي. دا طبیعي خبره ده چې شاعر او لیکوال په خپله ټولنه کې سر راپورته کوي، په ټولنه کې اوسېږي او لیکنې یې د ټولنې لپاره وي. په هره برخه کې د فکر او قلم هره زېږنده یې په یو ډول نه یو ډول له ټولنې او اجتماع سره تړاو او سر و کار لري. پر دې بنسټ مرحوم استاد خادم هم خپلې تولنې ته ډېر علمي او فرهنګي آثار پرېښي چې تر اوسه ورڅخه د علم، پوهې او فرهنګ مینه وال د خپل فکر، ذهن او قلم په پیاوړتیا کې ګټه اخلي. پر لیکنې او قلم سربېره نور ټولنیز کارونه یې هم د خپل ژوند په موده کې سرته رسولي چې په مستقیم یا نا مستقیم ډول یې خیر او ښېګڼه ټولنې ته رسېدلې او د ټولنې په تنویر، سپېڅلتیا او پیاوړتیا کې یې نقش درلودلی دی. مثلاً هغه د ویښو زلمیانو د غورځنګ مؤسس غړی و، دې غورځنګ ته یې ډېر زلمیان جذب او دعوت کړي او په دغه غورځنګ کې یې تنظیم کړي وو چې د وخت د موجود جبر، اختناق او مطلق العنانیت په مقابل کې مبارزه وکړي او ټولنه له ستونزو خلاصه کړي. خلک خپلې غوښتنې، پوښتنې، ستونزې او نظریات په واز کومي پرته له ډاره له حکومت او مسولینو سره شریکي کړي.

همدارنګه مرحوم استاد خادم د خپلې ټولنې په داسې شرایطو کې چې ښځینه قشر ته د زده کړې زمینه نه وه برابره او پر خپلې خور او لور باندې درس او ښوونځی لوستل خلکو ته عار او ننګ ښکارېده، په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولادونو باندې زده کړې وکړلې او ټولنې ته يې د خدمت جوګه کړل. حتمي ده چې د دوی دغه کار به په ټولنه کې ډېرو خلکو ته د الهام سبب شوی وي. په خپله هم ډېر کلونه ښوونکی و او د ډېرو خلکو اولادونه يې روزلي دي چې دا هم د مرحوم د ټولنيزو خدمتونو يوه بله بېلګه کېدی شي.

مرحوم استاد خادم پر (۱۳۴۴ل) کال په مشرانو جرګه کې د انتصابي سناتور په توګه دنده تر سره کړې چې له دې لارې يې له خپل ولس سره د هغوی د استازي په توګه نږدې اړيکي درلودلي او د هغوی ستونزې يې د حکومت غوږونو ته رسولي، د هغوی له حقوقو څخه يې دفاع کړې او د هغوی خادم پاتې شوی دی. دا ټول هغه څه دي چې د استاد خادم د ټولنيزو خدمتونو بېلابېلې بېلګې وړاندې کوي او د هغه پر ټولنيز شخصيت باندې د تائيد مهر لګوي.))

پر يادو ليکوالو او څېړونکو سربېره ځينو نورو ليکوالو هم د استاد خادم د فکر او نړۍ ليد په باب خپل خپل نظرونه څرګند کړي وو، خو د دې برخې د زيات اوږدوالي له امله مو د هغوی له راوړلو ډډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ب- بهرني ليکوال:

د استاد خادم د ژوند، کار او افکارو په باب د کورنيو ادبپوهانو او ليکوالو تر څنګ يو شمېر بهرنيو ليکوالو او ادبپوهانو هم خپل نظرونه څرګند کړي دي او په دې برخه کې يې ځينې ليکنې کړې دي. د دې خبرې يادول ضروري دي چې کومه زمانه کې خادم ژوند کاوه، هغه وخت نړۍ تر ډېره حده دوه قطبي وه، پر ختيځ او لويديځ بلاک وېشل شو وه، د افغانستان نړيوال اړيکي هم ډېر نه و، نړۍ لکه د اوس په شان ازاده نه وه او نه هم تخنيکي، سياسي او ټولنيز اړيکي دومره پراخ وو، لکه اوس چې دي. ادبي اثار هم دومره نه چاپېدل چې د نړۍ بېلابېلو برخو ته په ښه ډول ورسېږي، له شوروي پوهانو پرته د نورې نړۍ ډېر کم ختيځپوهان افغانستان ته راتلل، خو دا مهال شوروي پوهانو د افغاني ادب مطالعې او شننې ته دوام ورکاوه. دوی د افغانستان د ادبياتو په باب بېلابېل اثار وليکل. (د افغانستان ملي ژبه او ادب) په نامه يو کتاب هم د شوروي پوهانو له خوا وليکل شو. شوروي ادبپوهانو او ځينو نورو بهرنيو ليکوالو دنورو افغان ليکوالو په ګډون د استاد خادم په باب هم خپل نظر څرګند کړی دی، چې دلته يې د ځينو يادونه کوو:

**۱- ګراسيموا:** مېرمن ګراسيموا د پخواني شوروي اتحاد پياوړې



ليکواله ده، چې د مسکو د ختيځ پېژندنې په انستيتيوت کې يې کار کاوه او د افغاني ادب په باب يې يو زيات شم ېر مقالې ليکلي دي. مېرمن ګراسيموا د استاد خادم د ادبي شخصيت او مقام باب وايي: ((په اوسني پښتو ادب کې قيام الدين خادم هم څرګند مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، دی هم لکه بېنوا او الفت یوازې شاعر نه دی، بلکې لیکوال، ادب پېژندونکی او بشر پېژندونکی هم دی، ده د خپل سفر مشاهدات (څو ورځې په شمال کې) پر (۱۹۴۱م) کال په اصلاح کې په مسلسل ډول خپاره کړل، په دغو مشاهداتو کې په رښتیاني ډول سره افغاني ژوند تمثیل شوی دی. پر هماغه کال دده یوه مجموعه (نوی ژوندون) چاپ شوه، په دې مجموعې کې مضامین او منثور اشعار ځای شوي دي، دده د اثارو وروستۍ مجموعه (خیالي دنیا) پر (۱۹۶۰م) کال چاپ شوې ده. د خادم په اثارو کې وطن دوستۍ او پر فرهنګي موضوعاتو سربېره اجتماعي موضوعات هم لیدل کېږي.))

۲- ګ.ف. ګیرس: د پخواني شوروي اتحاد د ختیځ پېژندنې د انستیتیوت یو پېژندل شوی غړی دی، چې د پښتو ژبې او پښتنو لیکوالو په باب زیاته مطالعه لري. ده ((د پښتو هنري نثر)) په نامه یو ځانګړی کتاب لیکلی دی. دا اثر چې د سرمحقق معتمد شینواري له خوا پښتو ته ژباړل شوی دی. په دې اثر کې لیکوال د استاد خادم په باب ډېر څه لیکلي دي.

په دې اثر کې راغلي دي: ((پر (۱۹۴۱م) کال د دوه مجموعو (نوی ژوندون د قیام الدین خادم تصنیف او بله ډیوه د ګل پاچا الفت تصنیف) چاپېدل د هغه وخت په ادبي ژوند کې یوه مهمه پېښه وګڼل شوه.

قیام الدین خادم د نویو معاصرو پښتنو لیکوالو څخه دی، دی پر (۱۹۱۲م) کال د ننګرهار د کامې په سیمه کې زېږېدلی دی او په قوم زاخېل دی، ده ډېر کلونه په هند کې تېر کړي دي او هلته یې خپل مذهبي تحصیلات او علوم تکمیل کړل. کوم وخت چې ده خپل هېواد ته مراجعه وکړه، نو د معلم په حیث په کامه او جلال اباد کې مقرر شو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عین حال کې ده د ننگرهار په ورځپاڼه کې ههم کار کاوه او هلته یې شرکت درلود.

پر (۱۹۳۴م) کال خادم د کندهار په ادبي ټولنه کې داخل شو، په دې ځای کې دده فعالیت په ادبي کارونو کې ښکاره شو او وسعت او انکشاف یې پیدا کړ، ده یو گرامري کتاب (د پښتو معلم) تصنیف کړ او پر (۱۹۳۵م) کال یې د سپینسر سر کتاب (د اطفالو اخلاقي تربیه) ترجمه کړ، په هماغو کلونو کې د خادم ډېر اشعار د کندهار په اخبار (طلوع افغان) کې چاپېدل او دا سلسله ورکې جاري وه.

خادم یو له هغو مبتکرینو څخه دی چې غوښتل یې پښتو تصفیه کړي او پردي لغات ورڅخه وباسي.

پر (۱۹۳۷م) کال چې د پښتو اکاډمۍ تشکیل شوه، نو خادم کابل ته راوغوښتل شو او په اکاډمۍ کې د یوې څانگې د مدیر په حیث مقرر شو او هم یې د (زېري) چارې په غاړه واخیستې.

د څلورو کلونو په موده کې چې خادم په مرکز کې تېر کړل دغه لاندې کارونه ورڅخه صادر شول:

د معاصرو پښتنو لیکوالو سوانح یې ولیکلې او چاپ یې کړې، یو ډرام یې (یو مسلمان او ټوله اروپا) په پښتو ترجمه کړ، یو کتاب یې (په پښتو نثر کې تاریخي تطورات او د نثر لیکونکي په باره کې معلومات) د چاپ لپاره تیار کړ. د (پښتانه شعرا) نومي کتاب په جوړولو او ترتیبولو کې یې برخه واخیسته، د امین الله زمریالي په گډون د حکومتي مامورینو د تدریس لپاره یې دوه ټوکه پښتو کلی ولیکلې، ملي قصو او مضامینو ته یې ادبي رنگ ورکړ د اشعارو یوه مجموعه یې (د مرغلرو امېل) د چاپ لپاره تیاره کړه او هم یې د (نوی ژوندون) کتاب چاپ کړ، په دې کتاب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پر دې قصو او مضامینو لوستونکی له وړو وړو اشعارو سره هم مخامخ کېږي. په دې کتاب کې د خادم ډېر اثار او مضامین ځای شوي دي، هغه مضامین چې پخوا په طلوع افغان، زېري، په کابل مجلې او نورو نشراتي څانگو کې چاپ شوي او نشر شوي وو.

د خادم په دې مجموعه (نوی ژوندون) کې چې کوم نثري اثار ځای شوي دي، هغه په درې گروپو وېشل کېږي:

الف- مذاقي، عبرتي او اجتماعي قصې چې دا د شرقي ادبیاتو یو مشهور سبک دی.

ب- د مولف خپل اصلي او ابتکاري نثري اثار.

ج- اجتماعي مضامین.

له دغو قصو څخه په زړه پورې قصې (پردی خط لوستل او د تیرې خال) دی ((د ثروت چل)) قصه د ټوکو او ټکالو په روح لیکل شوې ده، ددې قصې مضمون داسې دی:

یو وخت یو سړي په اخبارونو کې اعلان وکړ چې زما د دولت د گټنې چل زده دی، زه دا چل وړیا د هېواد او وطن د استفادې لپاره بنیم، هر څوک چې غواړي دې موقع څخه گټه واخلي، په کار دی چې د خپلې سمې پتې سره د ځواب لپاره دوه (آنی) او یا د دوه انو د ډاگ ټکسو نه راولېږي، نو ده ته به داسې چل ور وښودل شي چې په کاله کې ناست وي او معقوله گټه وکړای شي.

په داسې وخت کې چې ډېر عالم د بې کارۍ او بې روزگارۍ نه سر ټکولو، دا اعلان زرگونو کسانو په ډېر شوق سره ولوست او د هر یوه په زړه کې دا راغله چې څه بابا دوه (انې) څه شی دي گوندې خدای مهربان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي او په دوه انو راته پوره دولت لاس ته راشي، نو د هرې خوا څخه د سړي په نامه کاغذونه راروسېدل، څو ورځې وروسته سړی په اخبارونو کې دا بیان خپور کړ.**

**((د جنوری په پنځمه نېټه چې ما د دولت ګټلو د چل د ښودلو په باب اخبارونو کې اعلان کړی و د هغې په  په اثر ماته شپاړس زره خطونه راغلل هر کله چې زه دې ټولو ته په انفرادي ډول ځواب نه شم ورکولای، نو حسب الوعده خپل ځواب د اخبارونو په خولو خپلو منتظرینو ته ورکوم، دا شپاړس زره خطونه چې ماته راغلي دي د هر یوه سره دوه دوه انې هم دي چې ټولې دوه زره کلدارې شوي، زه خو د تمام عمر لپاره د مفلسۍ له بار څخه خلاص شوم، د دولت د ګټنې لپاره ددې نه بهتر چل بل چېرې دی. دغه دی تاسې ته مې وړیا وښود.))**

**د خادم ځینې عجب نثرونه چې په نوموړې مجموعې کې چاپ شوي دي په سوچه پښتو لیکل شوی دی. ددې جملې نه یو مضمون د (توتکۍ ځاله) او بل (د کوترو کور) دی لکه چې مخکې مو وویل خادم یو له هغو لومړنیو اشخاصو څخه دی چې د پښتو د سوچه والي د جریان طرفدار دی، نو ځکه کوښښ کوي چې خپل اثار د سوچه پښتو په سبک ولیکي او همدا سبک دده په اثارو کې لیدل کېږي.**

**د خادم دغه قصه (د کوترو کور) د (۱۹۳۹م) کال د کانکور لپاره وړاندې شوې وه او لوړ مفهوم لري.**

**په دې مجموعې (نوی ژوندون) کې ځینې اثار د طبیعت د ستاینې لپاره وقف شوي دي او د حیواناتو د ژوند او د دوی له څرنګوالي څخه بحث په کې شوی دی او د خادم بدیعي او هنر اثار چې په نوموړې مجموعې کې چاپ شوي دي، لوستونکو ته ډېر په زړه پورې شیان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کوي او د دلچسپۍ وړ دي، دا اثار د محاورې په ژبه لیکل شوي دي، له متلونو نه ډک دي او اصطلاحات لري.

ددې مجموعې ټول مضامین د یوازې پښتو په سبک او سټایل لیکل شوي دي او په دې موضوع کې یو تر بله سره کوم فرق او توپیر نه لري.

د خادم کوم اجتماعي مضامین چې دننه چاپ شوي دي هغه ډېر په زړه پورې دي او دلچسپي لري، دا مضامین په خپله د لیکوال ایډیال او مفکوره ښیي او هم دده د اثارو متضاد خاصیت ورنه څرګندېږي.

خادم د نوموړې مجموعې په یوه مضمون کې (استعداد) پر هغو خلکو چې وايي د ټولې نړۍ علوم او تخنیک د لقمان له معلوماتو څخه اخیستل شوي دي او دده په برکت خلکو کمال حاصل کړیدی، سخت انتقاد کړی دی او دا انتقاد یې په ډېره رښتیانۍ لهجه لیکلی دی، په یو بل مضمون (تنګ نظري) کې دی د پان افغانیت پر نظریې ټینګ دی.

په هغه مضمون کې (د غمجنو سره) دی له بېوزلو او مظلومو سره خپله خواله کوي او دوی ته توصیه کوي چې عفو کوئ، صبر او تحمل کوئ، خبره تېروئ، وروسته بیا دی هغو اشخاصو ته چې سخت سري دي، سر زنش ورکوي او رټي یې او هم هغه وګړي دده د تنقید او فشار لاندې دي چې نه غواړي له خپل خواهش او ارزو څخه په لږه اندازه هم تېر شي، د خادم دا مضمون یوه دیني محتاطه نظریه ده او د پښتنو د مذهبي ټولنو افکار په کې منعکس شوي دي، دومره خبره باید وویل شي چې خادم داسې نه دی چې ګوندې یوازې ددغو محتاطو او محافظه کارو ټولنو په زړه پورې او د علاقې وړ شیان ښکاره کوي، بلکې دده په اثارو کې متضاد تمایل لیدل کېږي او دده د جهان بینۍ مهم تحولات ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر (۱۹۴۱م) کال اصلاح ورځپاڼې د خادم د سفر سلسله (څو ورځې په شمالي کې) خپروله، دغه د سفر او سیاحت د کتنو لیکل او دغه ډول مضامین له ډېرې مودې راهیسې په پښتو نثر کې نه وو، خادم یو له هغه مبتکرینو نه دی چې دا سلسله یې شروع کړه او خپلې سفرنامې لیکې.

باید ښکاره او مستقیماً ووایو چې دده مضامینو هم د موضوع له حیثه او هم د خپل بدیعي مزیت له حیثه د معاصرو لیکوالو لپاره تراوسه پورې د سر مشق او نمونې په رنگ خدمت کړی دی.

د خادم د مضامینو ژبه بېخي د ننگرهار محاورې ته نږدې ده او د دغو خلکو په محاوره لیکل شوې ده.

په هغه دوره کې چې خادم په کابل کې کار کاوه دده دلچسپې دایرې وسعت او انکشاف پیدا کاوه، ده د اوسنیو عصري علومو په باره کې مقالې ترجمه کولې، د اټومي انرجۍ او فضایي وړانگو په خصوص کې یې ژباړې کولې او د ټاگور اثار یې په پښتو ژبه چاپول.

پر (۱۹۴۵م) کال خادم یوه کیسه د (تقدیر لاس) په کابل مجله کې چاپ کړه، ددې کیسې مضمون داسې دی:

((په یوه وخت کې دوه د وړکتوب دوستان سره مخامخ شول، پخوا دوی یوځای سره سبق ویلو، یوځای به یې لوبې کولې، بیا د مکتب نه فارغ شول او سره جلا شول، وروسته له ډېرو کلونو دا دی دوی بیا سره دوباره ولیدل. دغه یوه دوست بل دوست ته بلنه ورکړه چې بېگاته زما مېلمه یې، دا کوربه ډېر د ثروت څښتن و، ډېر ښه کور یې درلود، ډېر اعلی باغ یې درلود، مگر دغو شیانو نه خوشالاوه او غمگین معلومېدلو، بالاخره دغه کوربه خپل حال ورسره شریک کړ او د خپل ژوند سرگذشت یې ورته داسې بیان کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تحصیل نه وروسته ډېر کارونه چې لازم وو، ما وکړل، ډېرې چوکۍ مې اشغال کړې او حتی د گور تر رتبې ته دادی راورسېدم، پیسې ډېرې دي، عزت ډېر دی، لویه دارایي لرم، ډېر کورونه مې وران کړل او خپل مې اباد کړل، یوه پېغله مې ځانته انتخاب کړه، مگر د واده په اوله ورځ زما په لاس او پښو گوزڼ ولگېد او چې هر څومره ډاکترانو باندې وگرځېدم تراوسه پورې لا هماغسې دی او نه ښه کېږي او د زړه داغ مې ورځ په ورځ تازه کېږي.))

په دې کیسه کې خادم د مامورینو پر حرص انتقاد کوي، هغه مامورین چې د خپلې هوسایۍ لپاره یې ډېر کورونه وران کړي دي او ډېر یې غریبان کړي دي. د مولف په عقیده نوموړي مامور خپله سزا ولیدله او حتی خپله گناه یې په خپله حس کړه او خپل وجدان ته خجالت وباسي.

د خادم ډېرې مقالې د کورني ژوند لپاره وقف شوي دي، د ازدواج او د ښځو اوضاعو په باره کې ده لیکنې کړي دي، ده په یوه کیسه کې (په ماشومانو پام کوئ) هغه عوارض چې د ماشومانو د هلاکت سبب گرځي بیان کړي دي، هغه خبرې چې دده نه بې اختیاره او د نورو موضوعاتو په ضمن کې وځي هغه ډېرې په زړه پورې وي، دی ضمناً لیکي: ((د پښتنو په یوه غریبه کورنۍ کې د یوه هلک د تلین مراسم نیول کېږي، ډېره مړۍ یې پخه کړه، سېرلکی یې حلال کړ او یوه ښه مېلمستیا یې ترتیب کړه، ددې مړۍ اکثره برخه یې ملا ته وروړه)) مولف دا واقعه په دې جمله ختموي:

((اخ! په پښتنو کې داسې دستورونه دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر (۱۹۴٦م) کال قیام الدین خادم د استقلال جایزه واخیسته، داجایزه ده ته له دې کبله ورکړې شوه چې ده د هند د یو معاصر لیکوال (نیاز فتح پوري) اثر (د شریف سرگذشت) له اردو نه ترجمه کړ. د خادم دغه ترجمه لومړی په (۴۸- ۱۹۴۷) کلونو کې د کندهار په ورځپاڼه (طلوع افغان) کې چاپ شوه، وروسته بیا په اصلاح کې نشر شوه او بالاخره بیا پر (۱۹۵۳م) کال د یوه مستقل اثر په حیث مینځته راووته.

( موضوعاتو د وسعت له کبله د خادم ترجمه په پښتو کې یو لوی اثر گڼل کېږي. پښتانه دا ترجمه په خپلې ملي ژبې کې د لومړي رومان په حیث شمېري. په هغو تقریظونو کې چې پر دې ترجمه باندې لیکل شوی دی په اتفاق سره دا لیکي:

((چې د مطلب د وضاحت نه، د کلام د روانۍ نه. محاورې ته د نږدېوالي نه، د جملو د ساخت او تاثیر نه او د عنعنوي اصطلاحاتو نه دا معلومېږي چې (د شریف سرگذشت) ترجمه نه، بلکې د خادم خپل اثر دی.)) پر (۱۹۴۷م) کال خادم یوه مقاله (پښتانه او پښتونستان) نشر کړې ده، په دې مقاله کې ده په ښکاره سره ویلي دي او ټینگار یې کړی دی چې نور اریایي خلک چې اوس په ایران، هند او اروپا کې اوسېږي له پښتنو نه تللي او جدا شوي دي او اصلي ټاټوبی یې دلته و.

قیام الدین خادم یوه مسلکي مخصوصه مقاله د ښځو د احوال لپاره وقف کړه، دا مقاله پر (۱۹۴۸م) کال هغه وخت چې په کابل مجلې کې دا اقتراح (ښځه د پښتنو په نظر کې) شروع شوې وه نشر کړه، په دې مقاله کې خادم وایي چې په افغانستان کې ښځې هم په ټولنه او هم په کورنۍ کې له ټولوحقوقو نه بې برخې دی حتی خرڅولی یې شي او بې له کومې سزا چې قاتل ته یې راجع شي وژلی یې شي. خادم د خپلې دې مدعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې ښځې د حقوقو نه محرومې دي، ښکاره حقایق او روښانه دلایل راوړي دي. خادم په هغه عادت (چې کونډه د لېوره ده) سخت انتقاد کړی دی او دا خوی او دا عادت یې ناموزون ښودلی دی.

په ډېرو مواردو کې مور او پلار له خپلې لور سره موافقه نه کوي چې په خپله خوښه مېړه وکړي، بلکې تر ټولو لومړی دوی دا فکر کوي چې په څه شان او په کومو امکاناتو به وکړی شي چې ډېر (ولور) لاس ته راوړي، خادم پښتنو ته بلنه ورکړې ده چې دا درانه او بد عادتونه له منځه یوسي او ښځې ته د یوې کورنۍ او د یوې جامعې د غړي په حیث حقوق ورکړي او دې کار ته متوجه شي.

خادم د مېرمنو د خیریه ټولنې موسسې ته ډېرې هیلې لري او هم ده په ځلمیانو پورې هیلې تړلې دي.

د خادم په عقیده دا لومړی ځل دی چې زموږ په هېواد او زموږ په ټولنو کې د ښځو پر حقوقو باندې بحث او غور کېږي، تر اوسه پورې نه اخبارونو او نه مجلو په دې باره کې خپرونې کړې دي او که چاپه دې باره کې څه لیکلي وي، نو هغوی به له ډار نه د تبجن غوندې لړزېدلی وي.

خادم د بدبختیو ریښې په دې کې ویني چې پښتنو د پیغمبر(ص) له اوامرو نه سرغړولی دی او د شریعت هغه احکام یې پرېښي دي چې د ښځو حقوق په کې ذکر شوي دي.

لکه چې وینو د خادم مذهبي او محیطي محدودیت دده د تنقید لهجه په دې په زړه پورې موضوع کې ډېره راټیټه کړې ده او مضمون یې پوره نه دی رسولی.

خادم له ابتدا څخه د ویښ ځلمیانو په ډله کې شریک و، ده په یوې مقالې کې چې د ځلمیانو لپاره یې لیکلې ده داسې ویلي دي: موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له متمدنې نړۍ څخه وروسته پاتې یو، هم د سواد له حیثه وروسته یو او هم د صنعت له حیثه تجارتي چارې مو نورو سره نه دي برابرې او هم مو د ژوند شرایط ټیټ دي. هغه مواد چې د خادم له خوا د افغانستان اوسنیو ځلمیانو ته وړاندې شوي دي، د توجه وړ دي، ځکه له هغو نه د خادم د نظریاتو بې ترتیبي او عدم موازنه ثابتېږي، دی نوموړي مواد داسې وړاندې کوي:

۱- باید هر یو خپل ځان په خپله ورسوي او هم دې نورو سره کومک کوي.

۲- دروغ او هغه خبرې چې حقیقت نه لري، نه دې وایي.

۳- له هغو پېښو نه چې په نړۍ کې واقع کېږي، ځان دې ور نه بې خبره نه اچوي.

۴- د شخصي غرض له خاطره دې له چا سره کینه نه کوي او هم دې د جامعې مفاد د شخصي مفادو نه وړاندې گڼي.

۵- تملق او چاپلوسي به نه کوي او نه به چاپسې د طمعې له کبله گرځي.

٦- خلکو ته به ضرر نه رسوي.

۷- خپل مذهب، هېواد، خپل ملیت او حکومت سره به مینه او عشق لري.

۸- د حقایقو نه به نه وېرېږي.

۹- رشوت به نه اخلي او پر هېچا به ظلم او تېری نه کوي.

لکه څنگه چې وینو په پورتني پروگرام کې قیام الدین خادم په څو مراحلو سره د ښځو له اوضاعو نه لرې شوی دی، په هغه مقاله کې چې دښځو په باره کې یې لیکلې ده، څومره یې د ښځو موضوع ته پاملرنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ده او څومره يې خلک دښځو حقوقو ته وربللي دي، مګر دلته بيا چې ځلميانو ته کوم مواد وړاندې کوي هغه يوازې په نرانو پورې اړه لري او د ښځو کوم ذکر په کې نشته.

په (۱۹۵۰ ع) کال د يو کال د پاره خادم له کابل نه کندهار ته ولاړ، دی هلته د هغه ځای محلي اخبار (طلوع افغان) د مدير په حيث تللی و، په راتلونکي کال کې دی بېرته کابل ته راغی او دلته د پښتو اکاډيمۍ د معاون په حيث وټاکل شو. پر (۱۹۵۱ع) کال د ده يوه مقاله (ملي کالي) چاپ شوه، په دې مقاله کې ده د خپل هېواد د لاسي صنعت طرفداري کړې ده او خلک يې له هغو زړو مالونو نه چې د سېلاب غوندې له خارج نه راځي د خپل هېواد لاسي محصول ته ورترغيب کړي دي او هم يې په عين حال کې هغه بډايان چې د دوی فوق العاده خرڅونو او بې اندازې مصرفونو د مملکت اقتصاد متاثره کړی دی، تر تنقيد لاندې نيولي دي.

پر (۱۹۵۲ع) کال خادم يو کتاب (پښتونولي) چاپ کړ، په دې کتاب کې د پښتنو عادات او نواميس بيان شوي دي، د خادم دې کتاب نه ممکنه ده چې ښه په زړه پورې شيان چې پښتون ملت په کلچر پورې اړه لري راوايستل شي، يو کال وروسته پښتو ټولنې د خادم يو تاريخي کتاب (بايزيد روښان) چاپ کړ، دا کتاب د روښانيانو د نهضت مشر بايزيدانصاري ته چې يې فعال ديني لار ښوونکی دی وقف شوی دی.

د خادم د وينا له مخې تر (۱۹۵۰ع) کال پورې د ده اثار (تاليف اوترجمې) تر پنځه ويشتو پورې رسېږي. مګر له دغه وخته راهيسې د ده ادبي فعاليت لږ شو او د دې علت دا دی چې د ده نور کارونه ډېر شول، يعنې د اصلاح مدير شو او د تاليف وخت يې له مينځه لاړ، بيا د پوهنې په وزارت کې د کورسونو مدير شو او په عين حال کې د زېري مدير هم و.

د قيام الدين خادم د ليکنې سبک او لار رنګا رنګ او پېچلې ده او له مختلفو موضوعاتو نه بحث کوي.

هو! د پښتنو د لويو معاصرو و ليکوالو په اثارو کې تضاد واقع کېدل کومه تصادفي خبره نه ده.))(۴۱:۳۸-۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- قابل صادقوف: د پورتنیو بهرنیو لیکوالو تر څنګ نورو شوروي لیکوالو هم د استاد خادم په باب نظرونه څرګند کړي دي. ښاغلی قابل صادقوف وايي: ((د ښاغلي استاد خادم شاعري او تالیفات په شوروي اتحاد کې ورځ په ورځ شهرت پیداکوي او په ټولو ژبو ورباندې تبصرې کېږي)). په مسکو کې ویل کېږي، چې (خادم) په افغانستان کې هغه لار نیولې ده چې ((پوشکین)) په لویه روسیه کې ورباندې روان و. د خادم صاحب اشعارو په افغاني دنیا کې هم لوی شهرت پیداکړی دی. دا ځای ددې نه دی، چې دده په ټولو اثارو او کردار مبسوط بحث وکړو، خو دومره به ووایو چې خادم صاحب په ډېر مشکل او نامساعد وخت کې افغان ملت په ټولو مقوماتو داسې ټینګې منګولې لګولي دي چې څلوېښت کاله یې هېڅ مانع مخه ونه شوه نیولای. دده کار ته باید کار او ده ته باید د لوی عزم خاوند ووایو.))**

**۴- دوریانکوف: ددې ترڅنګ شوروي ختیځپوه دوریانکوف د استاد خادم په باب وايي: ((خادم صاحب په خپل سبک او اسلوب کې د پښتو د لرغوني عنعنوي شفاهي ادبیاتو ولسي فولکلور له منابعو ډېره زیاته استفاده کړې ده او معاصر مسایل یې په ډېر قدرت د ولس په ژبه بیان کړي دي. د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پیروۍ یوه عصري نمونه ده چې ددې عصر یو ځلاند ممتاز سبک یې ګڼلی شو.))**

**د یادو بهرنیو لیکوالو تر څنګ یو شمېر نورو پوهانو هم د خادم په باب نظرونه څرګند کړي چې موږ د بېلګې په توګه د دې څو تنو یادونه وکړه. د نورو زیاتو معلوماتو لپاره (استاد خادم د شوروي پوهانو په نظر کې) د ښاغلي سرمحقق متعمد شینواري څېړنه هم لوستلای شئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

## د خادم د خدمتونو ارزونه

د یوه لیکوال یا شاعر د خدمتونو ارزونه هغه وخت شونې شي چې د هغه د ژوند ټول بهیر له نظره تېر شي، اثار یې مطالعه شي، سیاسي، ټولنیز فردي او فرهنګي ژوند او ډله ییز فعالیتونه یې یو یو له نظره تېر شي، کوم شخص، اشخاصو یا چاپېریال سره چې ده اړیکي درلودل، له هغو څخه دده په باب وپوښتل شي او د هغوی نظرونه وشنل شي. دوه اړخیز اړیکي او تاثیرات مطالعه شي او ان د تېر نسل د اثارو او افکارو اغېزې پر ده او دده پر بل نسل وڅېړل شي. تر دغه پړاو وروسته سړی کولای شي، د یوه لیکوال یا خدمتګار د خدمتونو ارزونه وکړای شي. موږ د دې اثر په تېرو څلورو برخو کې دا بهیر تقریباً بشپړ کړ، په لومړي برخه کې مو د استاد خادم ژوند ته کتنه وکړه. له زوکړې بیا تر مړینې پورې (۷۲) کلن بهیر مو له نظره تېر کړ. په دې کې مو د خادم لومړني ټاټوبي یا استوګنځي ته نغوته وکړه، د هغه د زده کړو بهیر مو وڅېړه، دولتي او رسنیزې دندې مو وڅېړلې، د استاد سیاسي فعالیتونو، وکالت، ویښ زلمیانو غورځنګ او نورو ته مو نغوته وکړه او د ده ټولنیز او سیاسي ژوند مو له نظره تېر کړ، ورپسې مو د ده منظوم او منثور اثار له نظره تېر کړل، یو یو مو په لنډیز سره معرفي کړ، د هغو نوښتونو او پر هغوی د نورو د لیکوالو د اثارو تاثیراتو ته مو هم اشاره وکړه، سربېره پر دې مو هغو کورنیو او بهرنیو لیکوالو، شاعرانو او موثرو شخصیتونو ته مو هم نغوته وکړه چې د استاد خادم پر افکارو او اثارو یې خپل اغېز ښندلی او دی یې دې ته اړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی یا هڅولی چې د نظم او نثر په مروجو فورمونو کې د هغوی پر وړاندې خپل غبرگون څرگند کړي، دا ډول تاثیرات موږ ته د خادم د ټول علمي او ادبي شخصیت په باب یو مجموعي تصویر راپه گوته کوي.
د دې ترڅنگ موږ د خادم د نړۍ لید پر بېلابېلو خواوو بحث وکړ، لکه: ملتپالنه، دینپالنه، ټولنپالنه، سمونپالنه، کره کتنه، ښارپالنه، د فلسفي افکارو ارزونه، د سیمې او نړۍ په باب د هغه انگېرنه او همدارنگه ژبپالنه مو وڅېړل. ورپسې موږ د نږدې (٤٣) تنو بېلابېلو کورنیو او یو شمېر بهرنیو لیکوالو نظرونه هم راوړل او پر هغو مو هم لنډ بحث وکړ چې د استاد خادم پر فکر، ژوند او اثارو یې بحث کړی و. د دغو بحثونو مجموعې ته په پام سره اوس موږ ته دا خبره اسانه کېږي چې په ټولیز ډول د خادم د خدمتونو ارزونه وکړو، کېدی شي څوک ووایي چې خادم د ژوند بېلابېلو برخو کې افغاني ټولنې ته خدمتونه کړي دي، د هغو ډلبندي به څنگه کېږي؟ په دې برخه کې باید ووایو چې موږ دا ډول خدمتونه راټول کړي او تر دوو غټو عنوانو لاندې مو سره ډلبندي کړي: ١- فرهنگي برخه، ٢- ټولنیزه برخه.

دلته غواړو دا هره برخه او هغې سره نورې تړلې برخې په لږ تفصیل سره وڅېړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرهنگي برخه کې
# د استاد خادم خدمتونه

ټولنې او هېواد ته د استاد قیام الدین خادم د اساسي خدمتونو له جملې څخه تر ټولو اساسي خدمت همدا فرهنگي ډگر و، ده په دې برخه کې نږدې پنځوس کاله یا نیمه پېړۍ متواتره مبارزه وکړه او د دې مبارزې ټوله نتیجه یې نږدې (اویا) عنوانه بېلابېل اثار شول چې اکثره یې چاپ شوي او ځینې یې لا تر دې دمه ناچاپه پاتې دي. که د استاد خادم فرهنگي کارونه له هرې بلې برخې سره پرتله کړو، نو دا برخه یې ډېره درنه ده. په حقیقت کې استاد خادم اساساً یو فرهنگي شخصیت و، د وخت اړتیاوو ټولنیزو، سیاسي او نورو خدماتي کارونو ته هم مجبور کړی او هڅولی دی. هغه کارونه یې په واقعیت کې فرعي یا څنگزني کارونه دي، اساسي او بنسټیز کار یې په همدې درېو فرهنگي برخو کې چې دی پرې ژوندی دی او تر ډېره به لا ژوندی وي. که ځینې سیاسی او ټولنیز کارونه که یې هم ترسره کړي، نو د همدې فرهنگي کار په زور او واسطه یې ترسره کړي دي. د ده فرهنگي کارونه کولای شو په دې ډول وڅېړو:

الف- لیکنیز خدمتونه ب- رسنیز خدمتونه، ج- دیني خدمتونه، دلته غواړو پر هرې برخې باندې یې لږه لږه رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف- لیکنیز خدمتونه:

لکه څنگه چې مو دمخه یادونه وکړه، استاد خادم (۷۲) کاله په دې نړۍ کې مزل وکړ ددې مزل تر (۵۰) زیات کلونه یې پر لیکوالۍ او شاعرۍ تېر کړل، کله چې یې لیک لوست زده کړ، نو پر شاعرۍ او لیکوالۍ یې لاس پورې کړ، د خپل وخت په مطرحو جریدو؛ طلوع افغان، اتحاد مشرقي، اصلاح، زېري او نورو کې یې شعرونه چاپ شول، په (۵۰) کلونو کې یې په لسگونو بېلابېل اثار ولیکل، په تېره بیا ادبي اثار، زموږ ځینې ادبپوهان له هغې جملې څخه استاد (عبدالله بختانی خدمتگار) په دې نظر دی چې: ((استاد خادم پښتو ژبې او ادبیاتو ته ډېر کار کړی دی او د دې ژبې دادبیاتو په ذخیره کې یې قدر وړ اثرونه زیات کړي دي، قیام الدین خادم پښتو ادبي ژبې ته د یو ښه معیار ورکولو په کار کې ډېر زیار ایستلی دی، له هغو لیکوالو څخه دی چې د گوتو په شمېر دي، د پښتو د اوسني ساده، عام فهم او خوندور سټایل د هغه هلو ځلو او فعالیتونو پورې اړه او زموږ پر نسل د پښتو ادب او لیکوالۍ د استاذۍ حق لري.)). استاد بختانی زیاتوي:

((استاد قیام الدین خادم پر عربي او اردو ژبو ښه پوهېده، په پښتو او دري ژبې یې نظم او نثر لیکل او ترجمه کول، هغه به په نظم او نثر کې هڅه کوله چې یو څه ووایي او خلک بیدار کړي، خپل خیر او شر ته یې متوجه کړي، علم او کمال ته یې راوبولي او د ترقۍ او پرمختگ یووالي او یو راز والي خو ا ته یې وهڅوي، نور نو هغه به په غزل کې هم کوښښ کاوه چې د خپل عصر پیغام خپلو خلکو ته وړاندې کړي، د هغه د افادې لهجه به کله تونده، کله نرمه، کله به علمي او مستدلـله او کله به شاعرانه او احساساتي وه، مگر تل یې نقادانه نظر درلود)). (۲: ۱۱۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استاد بختاني د دې لیکنې محتوا او پیغام دا دی چې خادم د خپلې لیکوالۍ او بېلابېلو اثارو له لارې خپلې ژبې، قوم او ولس ته د زیاتو فرهنګي خدمتونو جوګه شوی دی.**

**دا خو په ادبي برخه کې دده د اثارو یوه ځانګړنه وه، استاد خادم د پښتو ادبیاتو دتاریخ په باب هم لیکنې کړي او اثار یې پنځولي دي. د یوې ژبې ادبیات هغه وخت ښه وده کولای شي چې لیکوال یې د خپلو تېرو ادبیاتو له تاریخ سره ښه اشنا شي، ځوان لیکوال د همدغې مطالعې او تجربې پر بنسټ کولای شي، په حال او راتلونکي کې د خپلو ادبیاتو دودې لپاره ګټه پورته کړي، لکه څنګه چې په یوه ټولنه یا هېواد کې سیاسي تاریخ د ځوان نسل لپاره ډېر ضروري دی او د ولس د حال حافظه د هغه له ماضي سره وصلوي، دغسې ادبي تاریخ هم له خپل ارزښت څخه برخمن دی. د ادب تاریخ تسلسل او ټینګښت ان تر سیاسي تاریخه هم زیات استحکام لري. سیاسي تاریخ کله کله لوستل کېږي او کله کله تکرارېږي، خو ادبي تاریخ له حال سره خپل تسلسل نه شلوي او هر مهال ورڅخه په تکراري ډول هم ګټه پورته کېږي.**

**د ساري په توګه د پښتو ادب کلاسیکه دوره کې چې خوشحال بابا، رحمان بابا او حمید بابا له کومو نظمي فورمونو څخه  ګټه پورته کړې او شعر ته یې کومه ښکلا ورکړې ، اوسني شاعران هم همغه فورمونه کاروي او یو زیات شمېر د همدغو لویو شاعرانو له تجربو څخه په تکراري ډول هم ګټه پورته کوي. استاد خادم دغه مهم ضرورت ته پام کړی، په پښتو ادب کې یې هم ادبي تذکرې لیکلي، هم یې ولسي شاعري راټوله کړې، هم یې پر پښتو لرغونې شاعرۍ څېړنه کړې او هم یې د هغو غورچاڼ راټول کړی دی. لکه پښتانه شعرا، د پیر روښان په باب ځانګړی اثر، روهي ګلونه او نور. په دې خاطر چې د خپلې زمانې د لیکوالو حال بلې زمانې ته انتقال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو (ننني لیکوال) اثر یې هم لیکلی، یانې د تېرې زمانې د ادیبانو حال یې خپلې زمانې او د خپلې زمانې یې راتلونکې زمانې ته انتقال کړی دی. د دې ترڅنګ یې په دې خاطر چې زموږ فرهنګي حوزه او دایره لاپسې روښانه شي، نو استاد خادم په ټولیز ډول د ادب او په ځانګړي ډول د پښتو ادب په باب ځانګړي تحلیلي اثار هم لیکلي او متفرقه لیکنې یې هم کړې دي. د ساري په توګه د رحمان بابا او خوشال بابا په باب که هر څومره څېړنې وشي، بیا هم کمې دي، بیا به هم د دې سترو شاعرانو د فکر او کلام ډېرې خواوې ناسپړلې او نا ویلې پاتې شي، نو خادم دا اړتیا حس کړې ده او هڅه یې کړې چې (د خوشال او رحمان موازنه) کې دې اړتیا ته تر خپله وسه ځواب ووایي.

د خوشال (دستار نامه) چې د هېواد او سیمې په کچه یو ښه روزنیز، ښوونیز، ټولنیز او سیاسي اثر دی، ټولنې ته یې شننه او ارزونه خورا ضروري ده، استاد خادم دې اثر ته یوه کتنه کړې او هغه یې ارزولې ده.

(پټه خزانه) چې د پښتو ادبیاتو یوه مهمه تذکره ده، پښتو لرغوني او کلاسیک ادبیات یې خوندي کړي، پر دې مهم اثر یې هم لیکنه کړې، د هغې ځانګړنې یې تحلیل او توضیح کړي. د دې لپاره چې د (شعر ا ادب) په باب زموږ ځوانو لیکوالو او شاعرانو ته هدفمن مواد په لاس ورشي، نو د (شعر او ادب) په نامه یې یو ځانګړی کتابګوټی برابر کړی او په دې کې یې هغه لیکنې خوندي کړې چې د شعر له غایې سره اړیکي لري.

د هرې ژبې د تاریخي لرغونیت په باب نه یوازې د هغې ژبې له ویونکو سره لېوالتیا موجوده وي، بلکې د هغې ژبې د سیالانو او مخالفینو د پوښتنو ځوابولو لپاره هم کار په کار دي. د یوې ژبې ویونکي باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپلې ژبې له تېر حال، تاریخ او د تغیراتو له بېلابېلو پړاوونو څخه خبر شي. په تېره بیا په هغه حالت کې چې ژبه نه یوازې د یوې ژبې، بلکې د یوې سیاسي وسیلې په توګه وکارول شي او سیاسي مخالفین یې هم هر ډول پوښتنې، شک او تردید یوازې او یوازې د سیاسي غرضونو او مرضونو له مخې مطرح کړي. له هغې ورځې چې پښتو ژبې، په حکومت، قانون په تېره بیا اساسي قوانینو کې د لومړۍ، ملي او رسمي ژبې په توګه خپل مقام تثبیت کړی، نو د یو شمېر ډلو او ډلګیو له خوا د پښتو او پښتنو د تاریخ په باب هم ډول ډول پوښتنې مطرح شوي. دا ډول پوښتنې او ګروېږنې کله کله د سیاسي او قومي کینې وروستي برید ته هم رسېدلي دي. په پښتو ژبه د تاریخي اثارو کمی او په دې برخه کې د زیاتو معلوماتو نشتوالی، د پښتنو کمسوادي او وروسته پاتې والي، کلیوالي ژوند او نورو نیمګړتیاوو هم د مخالفینو تبر ته لاستي برابر کړي دي. په دغسې یو حالت کې مطرح پښتانه لیکوال مجبور وو چې د خپل ادب، تاریخ او ژبې د تاریخي شالید په باب لیکنې وکړي، دا ډول لیکنې که څه هم سل په سلو کې د ژبپوهنې، تاریخپوهنې او لرغونپوهنې له عصري میتودولوژۍ، اصولو او پرنسیپونو سره برابرې او همغاړې نه وې، تر یوه حده یې د احساسي او عکس العملي لیکنو بڼه درلوده، خو بیا یې هم د خپل وخت اړتیاوې تر یوه حده پوره کولې.دا لیکنې په دې مانا هم نه وې چې هېڅ تاریخي حقایق یې نه دي بیان کړي، واقعیتونه یې بیان کړي، خو د احساس مالګه هم ورسره ملګرې ده. په پښتنو کې یو شمېر شاعرانو او د هنري نثر پنځوونکو لیکوالو هم په جبري یا ضروري ډول تاریخي لیکنو، تاریخي متن څېړنې اوتاریخي ژبپوهنې ته خپل قلم اوفکر وقف کړی دی. د پښتو ماصرو ادبیاتو پنځه ځلانده ستوري ټول په دې تاریخي جبر او غبرګونونو کې راټاله شوي، خو په دوی کې بیا لوی استاد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علامه عبدالحی حبیبي خپل زیات پام تاریخ لیکنې اوتاریخ څېړنې ته ځانګړی کړی، د علمي او تاریخي برخې په اړه ول يې احساساتي برخه کمه ده او که کله عکس العملي ځواب ویلو ته هم اړ شوی دی، نو بیا یې هم خپل علمي استقامت ساتلی او د هر شکاک پوښتنو ته یې د تاریخي اسنادو له مخې ځواب ویلای دی. لکه د پټې خزانې په باب د ځینو شکاکانو پر وړاندې د لوی استاد حبیبي، تاریخي، علمي او مستند دلایل چې د تاریخي لاسوندونو پر بنسټ وړاندې شوي دي، خو د استاد خادم په ګډون زموږ د یو شمېر لیکوالو په تاریخي ژبپوهنیزو اثارو کې د تاریخي حقایقو او واقعیتونو د بیان ترڅنګ د ملتپالنې انګېزه او احساسي مالګه هم څه نا څه څرګنده ده.**

**استاد خادم د وخت ناخوالو په غبرګون کې او د خپل ځوان پښت د ویښتابه لپاره د پښتو ژبې او پښتنو د تاریخي لرغونوالي په باب لیکنې کړې دي، د ساري په توګه (د پښتو د تاریخ په باب)، (پښتو کوم ډول ژبه ده؟) (پښتون او پښتونولي) او ځینې نور اثار. استاد لرغونی متون هم څېړلي او د پښتني کلتور او فولکلور په باب یې هم لیکنې کړي، (لرغوني پښتانه قومونه) یې هم تشریح کړي، دا ډول اکثره لیکنې او اثار د ملي احساس تر چتر لاندې لیکل شوي. خو دې لیکنو پر خپل وخت د حقایقو په رڼاوي او د ځوان نسل په ویښتابه کې خپل رول ولوباوه، پښتانه یې دې ته وهڅول چې په دې برخه کې نورې څېړنې او پلټنې وکړي او د خپل تاریخ تیاره ګوټونه لا پسې روښانه کړي. که استاد خادم او د ده په شان نور لیکوال نه وای، نو هغه فرهنګي او تاریخي تشیال چې په دې برخه کې محسوس و، هغه به تر ډېره وخته هم پر خپل ځای پاتې وای، خو د استاد خادم او د ده په شان د وخت د نورو لیکوالو د فرهنګي کار او زیار برکت و چې هغه زماني خلا یې تر ډېره حده ډکه کړه او نوي نسل ته یې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا دقیقو تاریخي پلټنو بنسټونه کېښودل. په مجموعي ډول د استاد خادم د لیکوالۍ برخه د هغه د فرهنګي کارونو او خدمتونو اساسي برخه جوړوي، ده نور فرهنګي کارونه هم تر سره کړي، چې هغه هم د همدغې لیکوالۍ پر محور راڅرخي.

## ب- رسنيز خدمتونه:

لکه څنګه چې مو پورته یادونه وکړه، په فرهنګي ډګر کې د خادم صیب د خدمتونو ډېره درنه برخه د هغه پر خپلې لیکوالۍ راڅرخي. په دې برخه کې هغه په زغرده خپل کارونه ترسره کړي دي، خو د خپلې لیکوالۍ تر څنګ نورې داسې برخې یا ډګرونه هم شته چې استاد په کې هلته نه یوازې د خپلو فرهنګي هڅو د پرمخبیولو جوګه شوی، بلکې له دې لارې یې نورو ګڼو لیکوالو ته هم د فرهنګي کار د سر ته رسولو زمینه برابره کړې ده. دا ډګرونه د خپل وخت مطرح رسنۍ دي. دې رسنیو کې چې کله هم استاد خادم د مسول مدیر چارې ترسره کړي، نو هلته یې نه یوازې د خپلو اثارو او افکارو خپرولو ته لاره اواره کړې، بلکې د نورو لیکوالو اثار یې هم د خپلې لېوالتیا او هم د وظیفوي مکلفیت له امله خپاره کړي دي. دا کار بیا په پایله کې د هېواد د علمي او فرهنګي شتمنۍ د بډاینې سبب شوی دی. استاد په دې رسنیو کې د ژبې او فرهنګ د بډاینې لپاره کله کله یوه نیمه علمي اقتراح هم خپروله، نورو لیکوالو به بیا دا اقتراح پسې شاربله، شنله او خپل نظریات، معلومات او وړاندیزونه به یې ورسره یو ځای کول او په نتیجه کې به ټاکلې موضوع په ښه ډول توضیح کېدله. دې ډول اقتراحګانو ته موږ په ځینو برخو کې نغوته کړې ده.، خو اوس راځو، هغو رسنیو ته چې استاد خادم په کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسؤل چارواکي په توګه کار کړی او د هېواد په فرهنګي بډاينه کې يې رول لوبولی دی:**

**۱- اتحاد مشرقي:** ((اتحاد مشرقي، زمونږ د هېواد يوه پخوانۍ جريده ده چې د هېواد د استقلال پر لومړي (۱۲۹۸ل) کال په (هډه) کې د ننګرهار او هغه پورې د نښتو سيمو د خلکو، قومونو او قبايلو د مشرانو استازو د يوې لويې جرګې په موقع، تاسيس شوې او په همدې نوم په (اتحاد مشرقي) نومول شوې ده، ډېر وروسته بيا دا نوم په (ننګرهار) واوښت.

استاد قيام الدين خادم پر (۱۲۲۱ل) کال د دغې جريدې مسؤل مدير وټاکل شو او تر (۱۳۲۴ ل) کال پورې يې دې وظيفې ته دوام ورکړ.

دا جريده دمخه په پښتو او دري ژبو په ډېريزماشين خپرېدله. د استاد د مديريت پر وخت يوازې په پښتو ژبه په حروفي ماشين خپره شوه، په جريده کې د شعر او ادب خپرونه زياته شوه او په ساده ژبه پخو مضامينو ته په کې ځای ورکړی شو. په ډېر ظريفانه ډول په کې کله نا کله انتقادي ليکنې هم خپرېدلې او دا ليکنې زياتره د طنز په توګه پخپله د استاد خادم په قلم دي. لکه د (بډې) تر عنوان لاندې ليکنه او ځينې نورې...

د استاد خادم د (اتحاد مشرقي) د مديريت وخت د دويمې نړيوالې جګړې دوران و.زمونږ په هېواد کې راډيوګانې بېخي کمې وې او د کابل راډيو د خپرونو وخت هم په شپه ورځ کې دوه درې ساعته و، جريدو او ورځپاڼو ته د لوستونکو کسانو ډېره تلوسه وه. د مرکز ورځپاڼې (اصلاح او انيس) په وړه قطع چاپېدلې او ولايتونو ته وروسته رسېدلې، نو د ولايتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جریدو بازار نسبتاً تود و او د نړیوالې جګړې د پېښو د اجمال او په جریده کې د ادبي طنزي لیکنو د خپرېدو په برکت د (اتحاد مشرقي) جریدې ښه مقبولیت درلود.)) ( ۲۹:۳٦- ۳۸)**

**(اتحاد مشرقي) جریدې پر خپل وخت نه یوازې د پخو لیکوالو لیکوالي لاپسې وغوړوله، بلکې د ځوانو لیکوالو د استعدادونو غوړېدو ته یې هم لاره اواره کړه.**

**د هغه وخت ځوانو لیکوالو له جملې څخه یو هم (عبدالله بختانی) و چې وروسته د پښتو ادب په یو کارنده خدمتګار بدل شو. هغه په دې باب وایي: ((زه پخپله په دغه وخت کې یو نوی ځوان طالب علم وم چې د خپرونو لوستو ته مې مخه شوې وه. زه د استاد قیام الدین خادم له نامه، د هغه له شعرونو او لیکنو سره د (اتحاد مشرقي) د لوستو په واسطه د لومړي ځل لپاره اشنا شوم.) (۲۹:۳۸)**

**د استاد بختاني په شان نورو ګڼو ځوانو لیکوالو هم دا جریده لوستله، د خپل کلام بېلګې یې ورلېږلې او د هغوی د استعدادونو د غوړونې سبب ګرځېدله.**

**۲- د طلوع افغان: (استاد خادم ((پر (۱۳۲۹ل) کال کې له هرات څخه کندهار ته تبدیل او د (طلوع افغان) ورځپاڼې مسؤل مدیر شو. (طلوع افغان) هم د (اتحاد مشرقي) په شان د پښتنو د یو بل ستر او مهم ولایت د مرکز دولتي ورځپاڼه وه. استاد خادم دغې ورځپاڼې ته، هم د چاپ او صحافت، هم د اطلاعاتو د نوي والي او جدت او هم د ادبي او انتقادي مضامینو د خپرولو له لارې ښه بڼه ورکړه. استاد خادم په دغه ورځپاڼه کې هم د ویښ زلمیانو د مرام تبلیغ کاوه.)) (۲۹: ۴۵-٦۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد خادم د طلوع افغان د کیفیت د لوړوالي له لارې په دې بریالی شو چې یو زیات شمېر لیکوال دې جریدې سره همکارۍ ته مایل کړي او له دې لارې د هغو د لیکنو خپراوي ته لاره اواره کړي. استاد خادم د قام د ویښتابه لپاره په جریده کې ځینې اقتراحګانې هم خپرې کړې چې خلکو، په تېره بیا لیکوالو ورسره لېوالتیا وښوده.

**۳- کابل مجله:** استاد خادم ((پر (۱۳۳۰ل) کال د کابل مجلې چلوونکی و، د مجلې د مسؤل مدیر چارې یې ترسره کولې، خو د پښتو ټولنې د لوی مدیریت او د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستې د نشتوالي له امله یې نوم د مجلې په سر کې د مسؤل مدیر په حیث نه چاپېده. سره له دې یې هم خپله وظیفه په ډېر دقت، شوق او علاقه مندۍ ترسره کوله.

کابل خو د سیاست او مطبوعاتو او پښتو ټولنه د سیاست او ثقافت مرکز و، خو د ثقافت خادم پکې نه ځایېده او ځورول کېده، له همدې کبله مجبور شو مطبوعات پرېږدې او پر ادراي چارو بوخت شي. هماغه و چې استاد خادم پر (۱۳۳۱ل) کال د سروبي د برېښنا فابریکې دکوپراتیف د لوی مدیر په حیث وګومارل شي.)) (۲۹: ٤٦-۴۷)

له پورته ستونزو سره سره، هغه مهال چې استاد خادم د کابل مجلې مسول مدیر و او کومې ګڼې چې د ده تر لارښوونې لاندې خپرې شوې، په هغو کې د مجلې کیفیت پورته شوی او ګڼو لیکوالو ته د دې زمینه برابره شوې چې په یاده مجله کې خپلې علمي او ادبي لیکنې خپرې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- اصلاح ورځپاڼه:** د استاد بختاني د څېړنو له مخې ((پر (۱۳۳۲ل) کال، د مطبوعاتو د مستقل رياست په مشرتابه کادر کې تغیرات راغلل. استاد خليل الله خليلي د مطبوعاتو مستقل رييس شو. د هغه په وړانديز استاد خادم د (اصلاح) ورځپاڼې د مسول مدير په حيث مقرر شو. (اصلاح) دولتي اورگان او د ټول هېواد سراسري ورځپاڼه وه. د دولت مامورين تر پنځمې رتبې (مدير) پورې مکلف و چې په هغې کې اشتراک وکړي. د اهميت له مخې يې نور مشترکين هم زيات وو. دا ورځپاڼه په پښتو او دري ژبو چاپېدله. کله د دواړو ژبو تناسب او تعادل پکې ساتل کېده او کله نه.

خو د استاد خادم په وړانديز (اصلاح) ورځپاڼه په سلو کې (پنځه اويا) پښتو او (پنځه ويشت) دري او مقابل کې (انيس) ورځپاڼه په سلو کې (پنځه اويا) دري او (پنځه ويشت) پښتو شوه.

د ورځپاڼې د ژبې سبک او سټايل ښه شو. پښتو او دري برخې يې په خوږه، روانه، ساده، عام فهمه، ژورناليستيکه ژبه خپرېدلې. دې کار ته د استاد خادم خاصه توجه وه.

استاد خادم به په (اصلاح) کې د ورځې مهم مسايل طرح کول. د (مليت او بين المليت) په باره کې د دې ورځپاڼې يوه په زړه پورې اقتراح وه، چې استاد خادم طرح کړې وه. پخپله يې په کې هم ښه مقاله ليکلې وه)) استاد بختانی وايي: (( ما هم يو څه ليکلي وو. د هغه وخت مشرانو، پوهانو او ځوانو ليکوالو په کې برخه اخيستې وه. زما په فکر دا مقاله او دا ډول څېړنې اوس هم زموږ د ځوانانو په درد خوري.))

(۲۹: ۴۷-۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح ورځپانه کې د خادم صیب ګڼې لیکنې خپرې شوي دي، نه یوازې دده لیکنې په کې راغلي، بلکې دنورو ګڼو لیکوالو لیکنې او شعرونه هم په کې خپاره شوي، (اصلاح) په واقعي مانا (اصلاحي کارونه) ترسره کړي دي.

**۵- زېري:** استاد بختانی وایي: ((کله چې استاد خادم په سروبي کې و او بیا د اصلاح د ورځپاڼې مسول مدیر شو، خپلې مقالې او شعرونه به یې د مهربانۍ له مخې زېري ته استول او هلته به خپرېدل. د زېري د اقتراحګانو: ((نېکي هدف دی که واسطه؟)) لپاره یې خپلې درنې مقالې استولې وې. په دغه وخت کې د شعر او ادب په باره کې یو کتاب چاپ شو او د استاد خادم دا مقالې هم پکې ځای لري: (۱- د شعر غرض او غایه. ۲- ادب او حیات ۳- د شعر او شاعرئ په باب.) دا کتاب (شعر او ادب) نومېږي او پر (۱۳۳۳ل) کال د پښتو ټولنې له خوا د امریکې د سانفرانسسکو د اوسېدونکو پښتنو؛ (محمد خالد خان، ملا حیات خان، پیر محمد خان او امیر محمد خان) د اعانې په پیسو چاپ شو او تر چاپ وروسته د شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د افغان پېژندونکو د توجه او استفادې وړ هم وګرځېد.)) (۲۹: ٦۵-۵۷) استاد بختانی وایي: (( په دغه وخت کې زه (خدمتګار) د زېري د جریدې مسؤل مدیر وم او د شعر او ادب کتاب هم زما ټولونه ده چې زما په اهتمام د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.)) (۲۹: ۵۷)

استاد خادم بیا یو وخت د (زېري) د چلوونکي په توګه هم وګومارل شو. د ده په مسوول مدیریت کې د زېري جریدې کیفیت پورته شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼو لیکوالو لیکنې په کې خپرې شوې، ځینې افتراحګانې هم په کې نشر شوې، د ځوانو لیکوالو د لیکنو خپراوي ته هم په کې لاره اواره شوه.

**٦- هېواد:** د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په وینا : ((د (۱۳۴۱ل) کال په وروستیو کې د افغانستان د حکومت په چوکاټ کې تغیر پېښ شو، ډاکټر محمد یوسف د سردار محمد داود پر ځای صدراعظم شو. په نوې کابینه کې استاد ګل پاچا الفت د قبایلو مستقل رییس وټاکلی شو. د پښتو ټولنې د ریاست په مقام د ده د دغه مقام سلف پوهاند صدیق الله رښتین د ده خلف شو. استاد خادم ته په پښتو ټولنه کې د پاته کېدو ځای پاته نه شو. کار یې پرېښود. تر څه لنډې مودې اوزګارتیا نه وروسته د (۱۳۴۲ل) کال په لومړنیو میاشتو کې د هېواد ورځپاڼې د مسؤل مدیر په حیث وټاکل شو.

هېواد جریده پر (۱۳۲۸ل) کال په پښتو ژبه د نشر ډګر ته راووتله. وروسته بیا ورځپاڼه شوه، سربېره پر (اصلاح) د بلې دولتي ورځپاڼې په توګه په پښتو خپرېدله. استاد خادم تر (۱۳۴۴ل) کال پورې د دې ورځپاڼې مسؤل مدیر و. هغه یې په ډېره ښه سویه چلوله او له خپل عادت سره سم د نورو موضوعاتو په خوا کې ادبیاتو او د ورځپاڼې د ژبې سمولو ته یې هم ډېره زیاته توجه کوله. وخت په وخت یې مشاعرې هم په کې خپرولې.)) ګڼو شاعرانو به په مشاعرو کې برخه اخیستله او همدارنګه په نورو برخو کې یې لیکنې خپرولې استاد بختانی وایي: (( زما په یاد دي چې ما ان له مسکو نه د (هېواد) له یوې مشاعرې سره ملګرتیا کړې وه.))

(۲۹: ٦٦-٦۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد ورځپاڼې کې د پخو لیکوالو تر څنګ ځوانو لیکوالو ته هم زمینه برابره شوه چې خپل استعدادونه وغوړوي او خپلې لیکنۍ تجربې په کې پخې کړي.

**۷- افغان ولس:** ((کله چې افغان ملت ګوند یا ډله کې انشعاب راغی او استاد خادم خواشینی شو، نو د خپلو افکارو، نظریاتو او اثارو د خپرولو لپاره یې پر (۱۳۴۸ل) کال کې د (افغان ولس) په نامه خپله جریده واېستله، د دې جریدې د امتیاز خاوند او چلوونکی په خپله استاد و، هغه غوښتل چې د دې جریدې په شاوخوا کې یوه ملي ډله جوړه کړي، خو ونه شوه. استاد ډېره درنه او عمیقه سیاسي جریده خپروله چې فرهنګي رنګ وربانديې غالب و. د پېژندل شوو سیاسي مکتبونو او فلسفو پیروي یا شدید مخالفت په کې نه و، له ورځنیو چارو سره یې ډېر تماس نه نیوه او د توندې لهجې انتقادونه په کې دومره نه خپرېدل.

استاد سره د جریدې د خپرولو او چاپ څارنې په چارو کې ښاغلو مسافر خان صادق (پخوانی ویښ زلمی) او ځوان (اباسین کونړي) مرسته کوله.)) استاد بختانی وایي: ((استاد په همدې بنسټ ما ته د ډلې د جوړولو وویل، مګر ما استاد ته احترام درلود، خو د ډلې د انکشاف امکانات راته ستونزمن ښکارېده، نو زه غلی شوم.

ډله نه وه او استاد یوازې و، د جریدې د چاپ او خرڅلاو مرستیالان نه وو، یا کم وو. د استاد مالي طاقت هم کم و، د حکومت فشار هم راغی او جریده تر یوولسو ګڼو خپرېدو وروسته بنده شوه. دا تبه هم وشلېده.)) (۲۹: ۷۹-۸۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له دې سره سره چې (افغان ولس) جریده د خپل وخت له سیاسي فشارونو او همدارنګه اقتصادي مشکلاتو سره مخ وه، خو څومره ګڼې چې یې خپرې شوي، په هغوی کې لیکنی او ژبنی معیار ساتل شوی او د وخت د یو شمېر مطرحو لیکوالو او شاعرانو کلام په کې خوندي شوی دی.**

**پورته چې موږ د کومو رسنیو یادونه وکړه، دا په حقیقت او واقعیت کې فرهنګي خدماتي وسیلې وې، خادم صیب د دې وسیلو چلوونکی و، نه یوازې له لیکوالو څخه یې د دې رسنیو د چلولو لپاره لیکنې را اخیستلې، بلکې هغوی یې دې ته هم هڅول چې ښې لیکنې وکړي او ډېرې لیکنې وکړي، د یوې رسنۍ تکړه چلوونکی همغه دی چې هم خپله رسنۍ پر خپل وخت خپره کړي، هم ښه پیغام ولري، هم نوی مطالب ولري، هم دایمي ملګري او همکاران ولري او هم خپل نوي لیکوال او مینوال زیات کړي. خادم د دې وړتیا لرله چې په خپلو چاپي رسنیو کې داسې نوې علمي اقتراحګانې وړاندې کړي چې هم لوستونکي جذب کړي او هم لیکوال وهڅوي چې هغه موضوع ښه تحلیل او تجزیه کړي. د خادم له خوا به په مطرح شویو اقتراحګانو کې ګڼ شمېر لیکوالو برخه اخیسته او تر هغه پورې به موضوع تعقیبېدله چې روښانتیا ته یې اړتیا لیدل کېدله، چې د دې ډول اقتراحګانو ځینې بېلګې مو په بېلابېلو برخو کې یادې کړې.**

**پر اقتراحګانو سربېره استاد خادم د لیکونو له لارې هم یو زیات شمېر مطرح لیکوال دې ته هڅولي چې یوه ادبي، یا ژبنۍ موضوع لا پسې ښه وسپړي، ده به د لیکوالو ځینې هغه شخصي لیکونه او سوالونه هم ځوابول چې دیوې ژبنۍ موضوع په باب یې له ده څخه پوښتلي وو. استاد بختاني چې له استاد خادم سره ډېر کلونه له نږدې پاتې شوی، د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتو د یوې (یې) په باب چې دوی ورته د همدې ثقیلې (ۍ) نوم ورکړی، په یوه لیکنه کې د ثقیلې (یې) د شکل په باب له استاد خادم څخه پوښتلي:**

**((ښاغلی پوه مولانا خادم!**

**نور لیکوال ثقیله یې که د مؤنث اسم په اخره کې وي، داسې لیکي:**

**(ۍ) لکه کړکۍ، څپلۍ، نجلۍ او که د جمع مخاطب فعل په اخره کې وي، نو داسې یې لیکي: (ئ) لکه: لیکئ، وایئ، لولئ.**

**تاسو په دواړو مواردو کې یو شکل غوره کړی دی او: (ډوډئ، خورئ) لیکئ، نو که د دواړو صورتونو په شکل کې فرق موجود وي، دا به ښه نه وي؟ (بختانی)**

**ځواب: نه! دا به ښه نه وي، ځکه چې دغه (یې) ته تاسو پخپله ثقیله (یې) ویلې ده، نو د دې نه پخپله معلومه شوه چې ثقیله (یې) که په اسم کې وي او که په فعل کې هماغه یوه ثقیله (یې) ده. یعنې تلفظ، صوت او اواز یې یو شی دی، نو څه ضرورت دی چې مونږ بلا ضرورته د ابجد خوان کوچنی دپاره د (پتهٔ) د تورو اشکال نومونه او صورتونه ډېر کړو؟**

**زما مدعا دا ده چې ثقیله (یې) د پښتو د پتهٔ (الف بې) په جمله کې یو حرف دی، چې ځانله اواز لري. د دې د پاره چې زمونږ رسم خط اسان او خوانا شي، نو موږ ورله یو ځانته صورت او شکل غوره کړ چې له معروفې، مجهولې او ملینه (یې) څخه وپېژندل شي او صوت یې په خپل اهنگ اداء او ملتبثه نه شي. دا خبره یوازې په ثقیلې (یې) پورې منحصر نه ده، بلکې د ابجد خوانی د ټولو حروفو اشکال د دې د پاره وضع شوي دي چې وپېژندل شي او هم هغسې په خپل اواز ادا کړی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره چې ځيني خلک يې کوي چې دا صورت: (ی) د تانيث د ثقيلې (يې) او دا صورت (ئ) د فعل د ثقيلې (يې) د پاره ټاکل شوي دي، يوه خبره ده چې په خپله باطله ده. ځکه چې د ابجد خوانۍ د تورو اشکال خالصه په صوتي بنياد ولاړ دي، نه په گرامري فلسفه. ځکه که گرامري فلسفه مد نظر ونيسو، نو يوازې ثقيله (يې) گنهگاره نه ده، بلکې معروفه، مجهوله او ملينه (يې) خو هم په اسم، فعل، مفرد او جمعې، مذکر او مؤنث کې راځي، نو هلته ولې متعدد صورتونه نه غوره کېږي؟ او که څوک وغواړي چې هلته هم متعدد اشکال د گرامر په اساس وتراشي، هغه به هم دغسې غلطي وي، لکه د ثقيلې (يې) په مسئله کې چې پېښه شوې ده.)) ( ۲۹: ۱۴۱-۱۴۳)

خادم صيب دا ډول ليکونه نه يوازې له بختاني صيب سره تبادله کړي، بلکې له نورو گڼو ليکوالو، لکه صديق الله رښتين، عبدالروف بېنوا او ځينو نورو سره يې هم دا ډول ليکونه تبادله کړي دي.

دا ليکونه په ټوله کې د ليکوالو تر منځ د يوې فرهنگي بوختيا سبب هم کېدل، ليکوال هم تشويقېدل، موضوع هم لا پسې روښانېدله او په ټوله کې د فرهنگي غنا سبب گرځېدل.

## ج- ديني خدمتونه:

د استاد قيام الدين خادم په پېژندنه کې مو د خادم ديني زده کړو او د هغو بهير ته اشاره وکړه، ده خپلې لومړنۍ ديني زده کړې له خپل پلاره راپيل کړې، بيا ورپسې له کوره بهر شو، بوډيالۍ ته لاړ، پېښور، هندوستان او نورو ځايونو ته يې په علم پسې سفرونه وکړل، تر دې چې د خپل وخت ديني زده کړې يې ترسره کړې او د (مولوي) علمي پوړۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېد. په همدې خاطر خو د استاد په ځینو لیکنو کې هغه د مولانا، مولینا او مولوي په دیني علمي پوړیو هم یاد شوی چې د ده تر اصلي نامه دمخه ورسره لیکل کېږي. دده په منظومو او منثورو کلیاتو کې هم ددې اصطلاح له کارونې څخه کار اخیستل شوی دی. کله چې استاد خادم دیني زده کړې بشپړې کړې، نو بیا یې پر دیني خدماتو هم لاس پورې کړ، دلته به دې ډول خدماتو ته په لنډیز سره نغوته کړو:

۱- تدریسي برخه: کله چې استاد خادم خپلې دیني زده کړې بشپړې کړې، نو عملاً یې پر دیني تدریس لاس پورې کړ، په لواړګي، ننګرهار او ځینو نورو سیمو کې یې پر تدریس پیل وکړ او ګڼ شمېر زده‌کوونکي یې ورزول. خادم زده کوونکو یا طالبانو ته پر دیني تدریس سربېره، د لیکوالۍ، املا او انشاء زده کړه هم ورښودله، ده خپله څو ځایه د دې یادونه کړې چې په څو میاشتو کې یې زده کوونکي لیک و لوست ته چمتو کړل او په شپږو میاشتو کې یې لیکوالۍ ته تیار کړل. د استاد خادم د دیني تدریس بڼې له دودیز تدریس سره توپیر درلود، ده له دیني زده کړو څخه د دودیزې تنګنظرۍ جال پورته کړ، پر دودیز سستم سربېره د عصري زده کړو د تدریس له میتود څخه یې هم کار واخیست. یانې یو طالب العلم داسې فکر نه کاوه چې یوازې د مدرسې په چاپېریال کې درس لولي، بلکې فکر یې کاوه چې یو عصري ښوونځی هم ورسره لولي. د تدریسي میتود له مخې ده هڅه وکړه چې ښوونځی او مدرسه او همدارنګه طالب او زده کوونکي سره نږدې کړي، دا هغه واټن وو چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوونو کلونو راهیسې زموږ په ټولنه او تعلیمي نصاب کې موجود و. ان دا واټن تر اوسه هم په څرگند ډول محسوس دی. په تېره نیمه لسیزه کې گڼو سیاستوالو د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو په بهیر کې د دې د دې واټن د راکمولو او له منځه وړلو ژمنې وکړې. خادم او زموږ ځینو نورو لیکوالو که څه هم دا واټن ختم نه کړای شو او نه یې هم په کې کمی راوستلای شو، خو لږ تر لږه یې په دې برخه کې خپله شخصي هڅه وکړه. البته دا یو داسې تشیال او واټن دی چې د کوم لیکوال او گڼو لیکوالو د وس خبره هم نه ده، خو تر هغه پورې چې حکومتونه او لوی سستمونه په دې برخه کې اساسي کارونه ونه کړي، ددې خلا، واټن او تضاد له منځه وړل اسانه کار نه دی، خو که په دې برخه کې د استاد خادم په شان یو شخص شخصي او فکري هڅه هم کړې وي، هغه د ستاینې وړ ده. خادم صیب چې په هر ځای کې دیني تدریس کړی، نو عصري علم ته یې د زده کوونکو د هڅونې لپاره هم کوښښ کړی دی. د دین اصلي جوهر او ماهیت همدا دی چې خادم ورته عملاً کار کاوه.

۲- **دیني اثار** :د استاد خادم د دیني اثارو او خدمتونو په باب مو مخکې هم یادونه کړې ده، اثار مو ورته معرفي کړي دي. (مکارم الاخلاق او لوی اصحابان) او ځینې نورې لویې وړې لیکنې د استاد د دیني اثارو له جملې څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مكارم الاخلاق) يې ځانګړی ژباړل شوی اثر دی. په (لوی اصحابان) ژباړل شوي اثر کې ستر صحابه معرفي شوي او د هغوی سرښندنې بيان شوي دي. پر (مكارم الاخلاق) مو دمخه هم رڼا اچولې، چې اکثره برخې يې پر اخلاقي محور راڅرخي، دغه راز د ماشومانو د اخلاقي روزنې لپاره (د کوچنيانو اخلاقي پالنه) په نوم يو بل ځانګړی اثر يې هم ژباړلی دی، دې ژباړې سره يې خپلې خبرې او لارښوونې هم يو ځای کړې دي.

پر دې اثارو سربېره استاد خادم د يو ديني مبلغ، ملا او معلم په توګه هم خپل ديني مسوليت ادا کړی، محراب، ممبر، مسجد، دېره، ښوونځی او مدرسه يې ټول سره نږدې کړي وو او د دين متعدله نظريه يې خلکو ته وړاندې کړې وه. به ټوليز ډول که د خادم فرهنګي خدمتونه يادوو، نو ديني برخه يې هم د پاموړ برخې په توګه د يادونې او ستاينې وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټولنیزه برخه کې
# د استاد خادم خدمتونه

انسان یو ټولنیز موجود دی، د ژوند په هر ډګر کې چې کوم کار او فعالیت کوي، که یوه برخه یې شخصاً په ده پورې اړه لري، نو بله برخه یې ضرور په ټولنې پورې تړلې ده. د هر انسان مخاطب، بل فرد، افراد او په مجموع کې خپله ټولنه ده. له ټولنې جلا د انسان ژوند ستونزمن او ان ناممکن دی، نو ځکه چې موږ کله انسان مطالعه کوو، نو ټولنه یې ورسره حتمي تر څېړنې لاندې نیول کېږي. لیکوال او شاعر چې په انسانانو کې تر ټولو حساس قشر دی، د ټولنې د هرې پېښې پر وړاندې غبرګون ښیي، نو شاعر یا لیکوال چې هره پنځونه کوي، په هغې کې یو ټولنیز ارمان او درد پروت وي. خادم د یو لیکوال په توګه خپل ټولنیز مسولیتونه په ښه ډول ترسره کړی، د ده په لیکنو کې ټولنپوهنه، سیاستپوهنه، ټولنپالنه، پر ټولنې ځوربدنه او کړېدنه، د هغې لپاره د خلاصون لارې چارې او دا ډول ډېر مسایل لیدل کېږي، چې موږ د ده افکارو د څېړنې په برخه کې دې ډول مسایلو ته اشاره کړې، نه غواړو هغه مسایل یو ځل بیا دلته تکرار شي، خو دلته غواړو دیوه ښوونکي او ټولنیز خدمتګار په توګه د استاد خادم د خدمتونو یو لنډ جاج واخلو او د هغو ارزونه وکړو. زموږ په نظر په دوو برخو کې: الف- کورني او سیمه ییز چاپېریال او ب- عامه ټولنه کې د خادم د ټولنیزو خدمتونو یادونه ضروري برېښي، موږ غواړو دلته پر همدغو دوو برخو لنډه لنډه رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف- کورنۍ او سیمه ییز چاپېریال:

لکه څنګه چې مو د استاد قیام الدین خادم په پېژندنه کې وویل؛ دی په یوه عالمه دیني کورنۍ کې زېږېدلی او رالوی شوی، نو طبیعي خبره ده چې دین د ټولنې د اساسي ستنې په توګه تر بل هر فکر او جریان څخه دخلکو په ټولنیز ژوند کې زیات اغېز لري. د دین عالم چې د دین د مبلغ، لارښود، ساتندوی او پالندوی په توګه کار کوي، زموږ په شان په یوه ټولنه کې تر هر چا زیات مطرح او اغېزناک شخص وي. استاد خادم د خپلې کورنۍ د مشرانو غړو په تعقیب او تسلسل دیني علوم زده کړل او دې زده کړې دی د یوه دیني عالم په توګه د ټولنې د خدمت لپاره په یوه پیاوړي دریځ کې ودرواوه. که خادم صیب دیني علوم نه وای لوستي، نو نه د ده د ټولنیزې سمونپالنې مفکورې د تبلیغ لپاره داسې زمینه برابرېده او نه هم ده په ټولنه کې د ارتجاعي ذهنیت د حاکمیت له امله داسې په زغرده اصلاحي انتقادونه کولای شول. دیني زده کړه د خادم د ټولنیزو خدمتونو لپاره د ملاتړ ښه وسیله شوه.

خادم د همدغه دیني علم او منطق په زور، ټولنیز ریفورمونه پیل کړل. دا سمون لومړی د یوه فکري جریان په توګه د ده په منظوم او منثور کلام کې څرګند شو. وروسته یې کورني چاپېریال ته غځونې وکړې.

خادم پر خپلو اولادونو عصري علوم زده کړل، پر لوڼو یې زده کړې وکړې. هغه وخت پر نجونو زده کړې دعامه ټولنیز ذهنیت له مزاج سره برابر کار نه و، خو خادم صیب دا ټولنیز او اخلاقي جرئت ترسره کړ، تر هغه وروسته بیا د ده په چاپېریال کې نورو خلکو هم دا جرئت پیدا کړ چې پر خپلو لوڼو زده کړې وکړي، نو په دې ډول سړی ویلای شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد ټولنیز خدمت په خپل کورني چاپېریال کې له ریفورم څخه پیل کړی دی.**

## ب- عامه ټولنه:

**د استاد قیام الدین خادم ټولنیز خدمتونه هغه وخت زیات محسوس شول چې دی له خپل کورني چاپېریال څخه لرې شو، په لواړگي او د ننگرهار په بېلابېلو سیمو کې یې د ښوونکي دنده واخیسته، سره له دې چې ښوونه او روزنه یوه فرهنگي پروسه ده، خو د فرهنگي کار تر څنگ یو ټولنیز کار هم گڼل کېږي. استاد خادم دا بهیر له ډېرو سختیو او کړاوونو سره سره، په ښه ډول ترسره کړ، یوه غټه ټولنیزه تجربه یې هم تر لاسه کړه او د راتلونکو لویو ټولنیزو کارونو د سر ته رسونې لپاره یې د پخو بنسټونو په توگه کار وکړ.**

**استاد خادم د (۱۳۱۲ل) کال په پای کې په کندهار کې (د پښتو ادبي انجمن) غړی شو. دا مهال دی هلته له بېلابېلو لیکوالو سره اشنا شو. په دې ادبي انجمن کې به د شاعرانو ترمنځ له لیکدود څخه نیولې تر نورو علمي او ادبي مسایلو پورې پر ټولو باندې بحث کېده، بحثونه که څه هم علمي او ادبي وو، خو د شاعرانو او لیکوالو راټولېدنه په خپله یو ټولنیز حرکت و، خادم صیب په دې ټولنیز فرهنگي حرکت کې خپله خاصه اغېزه درلودله، دی خپله په دې هکله لیکي: ((زه د دلوې په ۲۴-۱۳۱۱هـ (۱۹۳۲م) د (کوټې) او (چمن) له لارې (کندهار) ته ورسېدم، د کندهار پښتنو ما ته په ډېر ښه نظر کتل، په ډېرو محفلو او مجلسو کې به شاملېدم او ښه موقع به راکول کېده.)) (۲۹: ۲۸)**

**استاد خادم پر (۱۳۱۸ل) کال د پښتو ټولنې د تالیف او ترجمې مدیر په توگه مقررېږي او بیا د (۱۳۲۰ل) کال د اسد په پیل کې د پښتو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې د مرستیال په توګه  او دا کار تر (۱۳۲۱ل) کال پورې دوام کوي. خادم په دې دوره کې پر خپلو کلتوري کارونو سربېره يو شمېر ټولنيز کارونه هم ترسره کړل، له ليکوالو سره يې راشه درشه زياته شوه، هغوی يې علمي کارونو ته وهڅول او له هغوی سره يې د اثارو په چاپ او خپراوي کې تر خپلې وسې مرسته وکړه.

د (۱۳۲۵ل) کال د دلوې پر (۲۵) نېټه د جلال اباد ښار په پېښوری دروازې؛ د استاد خادم په کور کې د ويښ زلميانو بنسټ کېښودل شو، استاد خادم او استاد الفت يې له موسسانو څخه وو، د يوه کال په بهير کې دغه غورځنګ د هېواد په کچه مطرح  شو. د هند او پاکستان تر وېش وروسته د ويښ زلميانو غورځنګ د پښتونخوا د ولسونو د خپلواکۍ غوښتنه کوله، په لومړي سر کې دغه سيمه د هند په خپرونو کې د (پټانستان) په نامه يادېده، د افغانستان په خپرونو کې هم دې نوم ځای ونيو. مګر د ننګرهار ويښ زلميانو تر يوې جلسې وروسته د خوګيانو د کړې له دروازې سره استاد قيام الدين  خادم وينا وکړه او ويې ويل: (( دا سيمه دې نور (پټانستان) نه، بلکې (پښتونستان) وبلل شي.

تر دې وروسته د افغانستان په جرايدو او خپرونو کې د پښتونستان دا نوم رواج شو او بيا په پښتونخوا او نړۍ کې هم عام شو.)) (۲۹: ۴۳-۴۵)

استاد خادم د ټولنې د سمون او ټولنيزو خدمتونو لپاره د سياسي حرکتونو جوړول او دنشراتي اورګانو رامنځته کول ډېر ضروري ګڼل. د استاد بختاني په وينا: ((۱۳۴۱ نه تر ۱۳۵۲ هـ ش کال پورې زمونږ د هېواد روښانفکران په ډلو او ګروپونو کې تنظيم شوي وو. يوه هم د افغان ملت ډله وه چې دمليت پر اساس جوړه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وخت کې د ملت روښانفکرانو په هر ځای، په هر کور، په هره دېره او حجره کې، څومره چې کېدای شوای یو تر بله د نزدې کېدو او ګډو سیاسي فعالیتونو د تنظیمولو، د حزبونو د جوړولو لپاره مشورې، مشاورې او مفاهمې کولې.

یوه ورځ زه د میوند واټ په کوزه برخه (خادم مېنه) کې له استاد سره ناست وم او خبرې مو کولې، خبرې دې ځای ته ورسېدې چې څنګه حزب او څه لپاره جوړ شي؟ نو خبره دې ته ورسېده: (کمونست حزب خو نشي جوړېدای، ځکه چې زموږ دینداره ټولنه یې هم نه مني او د خارجیانو د مداخلې امکان هم په کې شته، اسلامي حزب خو عام خلک به یې ومني، مګر د خارج د مداخلې لپاره ورته لار ببرته ده او هم د ریاکارو مغرضانو د لاس د اله کېدو امکانات په کې زیات دي، ځکه چې د عامو طبقاتو دیني جذبات خو د قدر وړ دي، مګر د دوی د بې علمۍ په وجه د مغرضانو له خوا د دوی د بې ځایه استعمالېدو امکانات زیات دي، نو څه وشي؟

زما وړاندیز دا و چې باید داسې حزب جوړ شي چې ملي، اولسي او دیموکرات وي، نوم به یې څه وي؟ (افغان سوسیال دیموکرات)، استاد په ډېره مینه دا نوم تائید کړ، ویې ویل: مبارک، ډېر مبارک نوم دی.

ما وویل: استاده د دې نوم د کلماتو د سر توریو نه د هغه مخفف شکل (اسد) کېږي.

استاد وویل: دا خو لا ښه شو، اسد زمري ته وایي او افغانان خو په شجاعت کې زمریان دي.

ډېره موده وروسته په همدغه نامه او مفکوره د افغان ملت د حزب لومړنۍ کنګره یا د موسسانو جرګه په کابل کې داستاد خادم په کور کې دایره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خادم صاحب فکر، منطق او دلايل په کې د جرگې د لیارې مشال وو، زه دې جرگې ته چا نه وم خبر کړی. استاد خادم د دې ډلې په موسسانو کې شامل و، د هغه ډېرې زياتې مقالې د دې ډلې په نشراتي اورگان (افغان ملت) جريده کې خپرې شوي. د دې جريدې د چاپولو په چارو کې يې هم پوره مرسته کوله او د جريدې چلوونکو د استاد خادم له سياسي افکارو، ټولنيزو نظرياتو او ژورناليستي تجربو نه زياته گټه اخيستله.)) (۲۹: ۷۷-۷۹)

نو په دې ډول استاد تر خپله وسه پورې د ټولنيزو خدمتونو لپاره د سياسي بهيرونو او حرکتونو په جوړونه کې برخه اخيستې او فعال رول يې لوبولی دی.

ده د ټولنيزو خدمتونو د سر ته رسونې لپاره د سياست او وکالت ميدان ته ودانگل، د سياست عملي ډگر يې هماغه د ويښ زلميانو حرکت وچې موږ څو څو ځله د هغه يادونه وکړه.

دی يو ځل له کامې ولسوالۍ څخه ولسي جرگې ته نوماند شو، خو د وخت ناخوالو برياليتوب ته پرې نښود، نو بيا په مشرانو جرگه کې د انتصابي وکيل په توگه د دې جوگه شو چې هېوادوالو ته يو شمېر سياسي او ټولنيز خدمتونه ترسره کړي.

که څه هم د استاد خادم ټولنيز خدمتونه د اوسمهال په شان د ټولنې پر فزيکي جوړونې او رغونې زيات راټول نه دي او نه هغه وخت د داسې کارونو د سر ته رسونې امکانات وو، خو ده په دې برخه کې تر ډېره بريده په ټولنه کې فکري خدمتونو ته کار کړی دی. فکري توليد يې په دې برخه کې زيات محسوس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږمه برخه

# وروستۍ یادونې

لکه څنګه چې مې د دې اثر په پیل کې یادونه کړې وه چې د استاد خادم د افکارو او اثارو په باب ځینو لیکوالو متفرقه لیکنې کړې دي او یوازې یو مستقل اثر پرې چاپ شوی، د ماسترۍ دورې یو تېزس پرې لیکل شوی او هغه لا هم تر اوسه چاپ شوی نه دی. نور نو د استاد خادم په اثارو او افکارو کوم منظم او منسجم اثر نه دی لیکل شوی. ما چې د دوکتورا پروګرام د (ډېزرټېشن) د لیکلو کار پیل کړ، نو فکر مې کاوه چې د خادم د اثارو او افکارو شنل او سپړل به ځکه اسانه وي چې دی یو ریالیستیک شاعر او لیکوال دی، ددې ډول شاعرانو او لیکوالو کلام کې ډېره پېچلتیا موجوده نه وي، پیغام ساده او په مستقیم ډول لېږدول کېږي او د هنر التزام ته هم لکه د سمبولیزم او نورو ښوونځیو په شان ډېر پام نه کېږي. د استاد خادم ذهني نړۍ لید هم راته دومره پراخ نه ښکارېده او په تېره بیا دا چې له وروستیو لیکنو څخه یې نیمه پېړۍ تېرېږي. ما ویل ځینې مطالب، مفاهیم او پیغامونه به یې زاړه وي او ځینې به یې د خپل وخت یو ضرورت و او هغه اړتیا به اوس ډېره نه احساسېږي، خو کله چې مې د استاد خادم اکثره اثار یو یو له نظره تېر کړل، د خادم نړۍ لید راته د یوې لویې فکري او ارماني نړۍ په توګه راڅرګند شو. څومره چې دې په دې سفر کې د نظر سفر کاوه، مزل لا پسې اوږدېده او د سفر په هر پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نوې څېړې رابیدا کېدلې. پر ټولو اثارو او افکارو بحث او تبصره هم د هغه چوکاټ تر بریده وتله چې ددې ډیزرټیشن یا پایلیک لپاره ټاکل شوی و. د ده د نړۍ لید وېش هم تر هغو مباحثو یا برخو زیات او پراخ و چې مخکې تر مخکې د څېړنې لپاره ټاکل شوي وو. د اثارو تنوع بله موضوع وه چې موږ یې لا نورې څېړنې او پلټنې ته هڅولو. په انصاف سره د یوه لیکوال د پنځوس کلن متواتر کار څېړنه او ارزونه هم اسانه کار نه و، نو په دې خاطر دې وروستۍ یادونې ته اړ شوم چې زما د (PhD) ډیزرټیشن د استاد خادم پنځوس کلن کار او د هغه د نړۍ لید د ځینو مهمو برخو یادونه او شننه ده، خو دا شننه په ټوله مانا کره او پوره نه ده او نه هم داسې ده چې د خادم د ټولو کارونو د رنګارنګ افکارو د هرې برخې سل په سلو کې تلنه، ارزونه او شننه. البته په دې برخه کې یو مهم ګام ګڼل کېدی شي. د خادم د کار او فکر د څېړنې او همدارنګه د هغه د لیکنۍ او ژبنۍ برخې په ثبت او رالېږد کې هم د ځینو خبرو یادول ضروري دي چې زه یې د وروستۍ بشپړونې د ځانګړي عنوان په توګه دلته یادونه کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستی بشپړونې

د هر سخت کار په جریان کې سړی له یو لړ ستونزو سره مخامخېږي. د دې اثر د لیکلو په بهیر کې هم په طبیعي ډول ستونزې وې، ما غوښتل چې د استاد خادم ټول چاپ شوي اثار ، یو په یو له نظره تېر کړم او هم یې ناچاپه اثار تر شوني بریده ترلاسه کړم، د چاپي اثارو په برخه کې تقریباً هدف ته ورسېدم، د خادم صاحب اکثره اثار مې ترلاسه او وکتل، خو نه ټول اثار، خو د خادم د چاپي او متفرقه اثارو ترلاسه کول راته هغه وخت اسانه شول چې د استاد خادم منظوم او منثور کلیات مې ترلاسه کړل. که څه هم د استاد خادم منظوم کلیات (خادم باد سبا یم) مې پر (۱۳۹۱ل) کال (تر چاپ وروسته) ترلاسه کړي او څو ځله مې له نظره تېر کړي وو، د خپل هدف اړوند مواد مې په کې په نښه کړي وو. د دې کلیاتو ښېګڼه په دې کې وه چې د استاد خادم پر پخوانیو چاپي شعري ټولګو سربېره یو شمېر متفرقه شعرونه هم په کې خوندي شوي وو. دې ټولګې (کلیاتو) کې د استاد خادم منظوم کلام د فورم له مخې ډلبندي شوی او چاپ شوی دی. که څه هم په دې برخه کې یو څو ځایه تېروتنې هم لري او یو څو نظمونه په کې په تکراري ډول هم چاپ شوي، خو په مجموعي ډول، د هغه چا لپاره چې د فورم او محتوا له پلوه د خادم منظوم کلام څېړي، د دې اثر کتنه ډېره دمه وروليږ. د دې اثر د کتنې تر څنګ ما ته ډېره مهمه برخه د استاد خادم منثور اثار وو. د ده دا اثار ځکه ما ته ډېر مهم وو چې د کمیت له پلوه د خادم داثارو دا برخه د خادم منظومو اثارو په پرتله نږدې (۱۷) ځله زیات وو، د خادم د افکارو یوه ډېره درنه برخه هم په همدې منثوره برخه کې خوندي ده. د هنري ښکلا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوه هم په منثوره برخه کې ډېره تودوخه، خوند او لذت پروت دی. په تېره بیا د استاد خادم دوه هنري اثار (نوی ژوندون او خیالي دنیا) يې ان له هنري پلوه د ده تر منظوم کلامه هم زیات شعریت لري. په نورو منثورو اثارو په تېره بیا په ځینو ژباړو کې هم هنري قوت او جوهر لیدل کېږي.

مال له (۱۳۹۳ل) کال راهیسې هڅه کوله چې د استاد خادم ټول چاپي او تر ممکنه حده ناچاپه اثار له نظره تېر کړم، چاپي اثار يې اکثره پیدا شول، هغه مې یو په بل پسې له نظره تېر کړل، د ناچاپه اثارو په باب مې د استاد خادم له اولادونو سره چې اکثره يې په بهر کې مېشت دي، څو څو ځله په تماس کې شوم، هغوی د مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه، خو عملاً مې څه ترلاسه نه کړای شول. له نېکه مرغه چې د (۱۳۹٦ل) کال په بهیر کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په دوو ټوکونو کې د استاد خادم (منثور کلیات) هم چاپ شول. پر دې کتاب لیکل شوي دي: ((د مولینا قیام الدین خادم د نثري لیکنو ټولګه، رڼه چینه)). (خادم باد سبا یم) او (رڼه چینه) دواړه د پوهنوال لال پاچا ازمون په زیار راټول شوي دي. په (رڼه چینه) کې د استاد خادم ټول پخواني چاپي مستقل اثار او په بېلابېلو اخبارونو کې د هغه متفرقه لیکنې راټولې شوي او له محتوایي پلوه ډلبندي شوي دي. د دې کلیاتو په ترلاسه کولو سره ما ته ډېره دمه راغله، د دې اثر (رڼه چینه) ښه والی په دې کې دی چې تر دې دمه د خادم د کومو منثورو اثارو پیدا کېدل شوني وو، هغه په کې خوندي شوي دي.

د استاد خادم د منظومو او منثورو اثارو په پخوانیو چاپي بڼو کې چې کومې تېروتنې وې، هغه تر یوه حده په دې دواړو منظومو او منثورو کلیاتو کې اصلاح شوې وې، خو په دې دواړو کلیاتو کې هم ځینې چاپي تېروتنې شوې دي او هم په شکلي او محتوایي ډلبندۍ کې یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروتنې لري، خو دا ډلبندي داسې نه ده چې د خادم د اثارو پر شکل او محتوا کوم تاثیر ولري.

د مننې ترڅنګ مې د دې پورته اثارو یادونه ځکه ضروري وګڼله چې زما کار، قلم او طرحه یې په یوه قوي دریځ کې راوستل. یانې دا مهال ما له کمي پلوه د خادم د اثارو د نشتوالي کومه ستونزه نه احساسوله. نو ځکه مې په زغرده خپل کار چټک کړ. د پخواني کار په تعقیب مې د نړدې شپږو میاشتو په بهیر کې شپه او ورځ کار وکړ، نور ټول، ټولنیز، فرهنګي او سیاسي کارونه مې څنډې ته کړل او د عوامو په اصطلاح همدې یوه کار ته اړم شوم. په شپه ورځ کې مې اتلس ساعته پر همدې موضوع کار وکړ، کاري مواد دومره زیات وو چې هر څومره مې د لنډون هڅه کوله بیا هم موضوع غځېدله، خو پر دې وخت راسره د انتخاب، غورچاڼ او تخلیص مفکوره پیدا شوه. د یوې اړوندې موضوع په برخه کې مې هڅه وکړه چې د خادم تر ټولو غوره (نظم) او (نثر) انتخاب او بیا یې وشنم. لومړی مې د ټولو هغو اړوندو لیکنو نومونه راوړي او بیا مې ځینې ترې غوره کړي دي. د منظوم او منثور متن په انتخاب کې هم یو لړ ستونزې وې، ستونزې په دې ډول وې چې د خادم له زمانې څخه بیا تر دې دمه پښتو لیکني متن کې یو لړ بدلونونه او سمونونه پېښ شوي دي، دلته ستونزه دا وه که چېرې لیکنی متن دې له اوسني کارېدونکې لیکني متن سره همغاړی کاوه، د متن اصالت ته زیان رسېده، په تېره بیا د متن هغه برخه چې یو لړ ګرامري تېروتنې هم په کې ښکارېدې، د ساري په توګه، د (له) پر ځای د (د) کارونه، د (پر) پر ځای د (په) کارونه او ځینې نور سربلونه او اوستربلونه چې پر خپل ځای نه دي کارېدلي.

د دې ډول ګرامري تېروتنو سمون ته مو ځکه لاس ورنه وړ چې د متن پخواني اصالت ته زیان رسېده. ځینو برخو کې په سربلونو کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلون راوړل شوی و، خو په هغو ځایونو کې چې متن کې یې سمون ته زیاته اړتیا وه.

زما په نظر دا ډول سمونونه یوې درنې ژبپوهنیزې کمېټې ته اړتیا لري چې لیکنی سمون یې مسلک وي او د استاد خادم په ګډون زموږ د نورو غښتو لیکوالو لیکنی متن په داسې ډول کره کړي چې هم له اوسنیو لیکنیو معیارونو سره برابر شي او هم د متن محتوایي اصالت ته زیان ونه رسېږي. په دې اثر کې چې د استاد خادم د منظوم او منثور کلام ټېلګې راوړل شوي، که څه هم تر ډېره حده په اوسني پښتو لیکني معیار برابرې دي، خو په ځینو ځایونو کې لیکني سمون ته اړتیا لیدل کېږي، دا په دې مانا نه ده چې د پښتو پنځو ادبي ستورو او د دوی د مهال نورو لیکوالو په لیکني متن کې ځینې ګرامري تېروتنې دي، بلکې هغه وخت دوی سره په لیکنۍ بڼه کې همدا معیارونه وو. څرنګه چې ژبه یوه متحوله پدیده ده او لیک کې هم د وخت په تېرېدو سره اړتیا وړ بدلون او سمون راځي، نو ځکه موږ باید د هغوی د اصلي محتوا د سمې افادې په خاطر په لیکنۍ بڼه کې سمون راولو چې د هغوی د پیغام د افادې جوګه شي، خپله استاد خادم او نور لیکوال هغه وخت هم د لیکبڼې او ژبپوهنې ډېرو حساسو مسایلو ته متوجه وو. د ساري په توګه خادم د پښتو زورکي واله (ی) او حمزه واله (ئ) دواړو لپاره یوازې یو شکل (ی) غوره باله او پر دې یې ټینګار هم کاوه. د استاد خادم په نظر څرنګه چې دا دواړه یو غږ دی، نو د یوه اواز د افادې لپاره ولې دوه بېلابېل شکلونه ولرو؟ استاد خادم، استاد بختاني ته د هغو خلکو د شکونو، ګومانونو او پوښتنو د ځواب لپاره چې (ی) ګنې په نومونو او (ئ) په فعلونو کې راځي، نو ځکه یې باید په دوو بېلابېلو بڼو ولیکو، خو خادم دې ډول ناسمو انګېرنو ته غوښ ځواب ورکړی دی. هغه وایي که خبره د (فعل) او (نوم) وي، نو بیا خو دا درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورې یاګانې (ې، ی، ي) هم په فعل او نوم دواړو کې راځي، نو ولې هغه پر دوو بېلابېلو بڼو نه لیکو او که یوازې همدا یوه زورکي (ۍ) ګناهګاره ده. که پښتو لیکوالو او علمي مرکزونو هغه وخت د زورکي واله (ۍ) د واحد شکل په باب د استاد خادم علمي او ژبپوهنیزه منطق منلای وای، نو نن به د حمزه والې (ئ) له ناضرورته کارونې څخه بې غمه شوي وو. له پورته خبرو څخه مې هدف دا دی چې په لیکدود کې باید وخت پر وخت سمون راشي. څو کاله وړاندې جرمني د خپلې الفبې په دوو تورو کې بدلون راوست او همدا یو لیکنی بدلون هغو ته په ملیاردونو یورو لګښت څکه تمام شو، چې دوی په تعلیمي او تحصیلي کتابونو کې د دې نویو تورو له امله بدلون راوست. په لیکدود کې که پر وخت تغیر راشي، نو د دغسې احتمالي لګښتونو مخه نیول کېدی شي.**

**زما له ډېرې هڅې سره سره بیا هم زه په دې اثر کې ټولو هغو هیلو ته ونه رسېدلم چې ما یې هیله درلوده، په تېره بیا د خادم د ناچاپه اثارو تر لاسه کول. دا یو مهم ضرورت و، خو تر اوسه پورې لا داسې مهم ادرس پیدا نه شو چې د استاد خادم د ناچاپه اثارو ډاډ ورکړي چې له دوی سره خوندي دي. د ده کورنۍ د دې اثارو لپاره تر اوسه هم یو ښه احتمالي ادرس کېدی شي، خو څرنګه چې د هغه اولادونه اوس له هېواده بهر په بېلابېلو هېوادونو کې اوسي، د هغوی له ځینو سره زما له پرله پسې تماسونو سره سره بیا هم د ناچاپه اثارو پر ترلاسه کولو بریالی نه شوم. البته د استاد خادم یوې قدرمنې لور (ډاکټر ثریا خادم) یوه هڅه پیل کړې چې د استاد خادم ناچاپه اثار او هم ځینې هغه پخواني اثار چې اوس یې پیدا کول اسانه کار نه دی، د بیا چاپ لړۍ پیل کړي. خدای (ج) دې وکړې چې دا لړۍ چټکه شي او په دې ډول په لومړي ګام کې د استاد خادم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې ناچاپ اثار چاپ او په دویمه پوړۍ کې د هغه پخواني کم پیدا اثار له سره چاپ شي.

څرنګه چې هېواد کې د چاپي اثارو تیراژ ډېر کم دی، یانې (تر زر ټوکو نه پورته کېږي) نو ټولو هېواد مېشتو او بهر مېشتو افغانانو ته يې رسونه ممکنه نه ده. نو د دې یوه حل لاره دا ده چې د استاد خادم اثار د انټرنېټ له لارې د برېښنايي کتابتونونو په واسطه خوندي او هېوادوالو ته ورسول شي.

د دې لپاره له ټولو هغو اشخاصو، علمي او نشراتي بنسټونو څخه هیله کوو چې د استاد خادم اثار تر چاپ وروسته د انټرنېټ په څپو هم د دنیا ګوټ ګوټ ته ورسوي. په تېره بیا د افغانستان له علومو اکاډمۍ او دانش کتابتون څخه چې د استاد خادم منثور او منظوم کلیات یې چاپ کړي دي. زه خپله کوښښ کوم چې دا اثر تر قانوني پړاوونو او چاپ وروسته د انټرنېټ په ذریعه او هم په (سي ډي) بڼه هېوادوالو ته د مطالعې لپاره ورسوم.

د پورته یادونو ترڅنګ په دې اثر کې کېدی شي یو شمېر نورې نیمګړتیاوې هم موجودې وي، خو دا نیمګړتیاوې هغه وخت په ښه ډول محسوسېدی شي چې کتاب چاپ او د لوستونکو لاس ته ورشي. د هغو تر کتنې وروسته کېدی شي هغه تېروتنې په ګوته او د سمون لپاره یې بیا کار وشي. خو اوس چې څومره زما وس و، د وخت او حالاتو د کاري ساحې څومره ظرفیت و، له هغو ټولو امکاناتو مې کار واخیست او دغه اثر مې تر دې ځایه راورسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډیز او پایله

دا اثر (د خادم نړۍ لید) زما د دوکتورا دورې پایلیک دی. کله چې د کابل پوهنتون پښتو څانگه کې د دوکتورا کورس پیلېده، نو تر هغه لږه موده وروسته په کورس کې شامل هر غړي د (پایلیک) یا (ډیزرټېشن) لپاره یوه موضوع ټاکله. موضوع د لارښود استاد په مشوره او موافقه غوره کېدله او تائیدېدله، زما په ذهن کې هم څو موضوعگانې گرځېدلې، ما ویل داسې یوه موضوع باید غوره کړم چې تر څېړنې او چاپ وروسته زموږ عام ولس او ځوانانو ته گټوره وي؛ ژر زړه نه شي او ډېر وخت ترې خلک گټه پورته کړي، ملي او فرهنگي مسایلو سره زما له پخوا څخه ډېره زیاته مینه ده. نو داسې یوه موضوع راته په کار وه چې دا دواړه عناصر په کې خوندي او راټول وي. په دې فکر کې وم چې ذهن ته مې د پښتو ادب پنځه ځلانده ستوري راغلل. زما زړه و چې د دې دورې پنځه تنه ملگري به یو یو ستوری انتخاب کړو، د هغو اثار او افکار به وڅېړو، هم به د دې حقوالو او خدمتگارو لیکوالو حق ادا شي او هم به د دوی د کار او زیار د شمېر نچوړ ولس ته وړاندې کړو. په دې کې مې هدف دا و چې دوی پښتو ادبیاتو لپاره اساسي کارونه ترسره کړي او ترځنگ یې د ملي فکر د تبلیغ او ترویج لپاره بې شانه مبارزې کړې دي. هغه هدف چې زما په ذهن کې و، هغه په دې پنځه واړو ستورو کې محسوس وو. استاد بریالي باجوړي تر ما دمخه استاد الفت په نښه کړی و، استاد محمد رفیق رفیق پوهاند رښتین انتخاب کړی و ، ځینو نورو انډیوالانو نورې موضوعگانې په نښه کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما خادم صیب خوښ کړ او خپل ډیزرټیشن ته مې (د خادم نړۍ لید) نوم غوره کړ. (د خادم نړۍ لید) نوم مې ځکه انتخاب کړ چې د خادم له افکارو او ذهني دایرې یا نړۍ لید سره زما ډېره لېوالتیا وه. لاربنود استاد هم دا موضوع خوښه او د موضوعاتو اوټ لاین مو ورته جوړ کړ. په شپږو برخو کې مو د یادې موضوع د څېړنې لپاره مفردات غوره کړل او د همدغو ټاکلو مفرداتو له مخې مې پر خپل وخت د اثر د لیکلو تکل وکړ. کله چې د پایلیک د لیکلو لپاره ټاکل شوی وخت راورسېد، نو کارونه مې سره پیل کړل، څه موده د اثارو پر راټولولو، انتظام او له فکری پلوه د هغو پر ډلبندۍ ولګېد. خو اساسي کار مې په وروستي یو کال او په تېره بیا په وروستیو شپږو میاشتو کې تر سره کړ. په وروستیو شپږو میاشتو کې بیا وروستۍ درې میاشتې داسې وې چې نور ټول کارونه مې یوې خوا ته کړل، شپه او ورځ دې کار ته اړم شوم، په نتیجه کې دغه اثر له سریزې پرته په شپږو برخو کې منظم، راټول او ترتیب شو. د سریزې په پیل کې د دغه اثر د لیکلو اړتیا په ګوته شوې او تر هغه وروسته د استاد خادم په باب د څېړنو شالید ته اشاره شوې او هغه چاپ او ناچاپ ځانګړي اثار او همدارنګه ځینې نورې مهمې لیکنې په ګوته شوي چې د دغه اثر تر لیکلو دمخه لیکل شوي وو.

وروسته بیا د دې اثر ګټورتیا او ترجیحات په ګوته شوي او همدارنګه د دغه اثر لیکنې میتودولوژۍ ته ګوته نیول شوې ده چې په دې کې ساحوي، کتابتوني او مشاهداتي میتود ته اشاره شوې چې په دې اثر کې ورڅخه ګټه پورته شوې ده.

د اثر په لومړۍ برخه کې (خادم څوک و؟) پوښتنې ته د خادم پېژندنې له لارې ځواب ویل شوی دی، د خادم زوکړه او زده کړه څېړل شوي، بیا یې لیکوالۍ ته ګوته نیول شوې او د لیکلو اثارو نومونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخيستل شوي دي. تر هغه وروسته ټولو هغو دندو ته اشاره شوې چې خادم له پيله بيا د ژوند تر وروستيو شپو پورې تر سره کړي دي. بيا يې اثار په لنډيز سره معرفي شوي، يوازې نومونه يې اخيستل شوي دي. بيا يې سياسي فکر تشريح شوی، سياسي ژوند يې بيان شوی او سياسي فعاليتونه يې تشريح شوي دي. د دې ترڅنګ يې پر کورني او ټولنيز ژوند بحث شوی او بيا يې د ژوند پر وروستيو کلونو، بند او مړيني خبرې شوې دي.**

**استاد خادم چې کله وفات شو تر هغه وروسته بيا د ده په باب چې کومې غونډې، يادونې او نمانځنې شوي، د هغو يادونه هم راغلې ده. دويمه برخه خادم څه کړي؟ موضوع ته وقف شوې، يانې د خادم اثار په کې څېړل شوي دي. د خادم اثار په کې پر دوو برخو وېشل شوي، منظوم اثار او منثور اثار. په منظومو اثارو کې (( د مرغلرو امېل، څاروان، بلکا، نصوص الحکم، د بابا نصيحت، د شعرونو دريمه مجموعه، اينده پښتنو ته، نوي پوهيتابه، خادم باد سبا يم)) ته نغوته شوې او په منثورو اثارو کې ((پښتونولي، نبوغ او عبقريت، لرغوني پښتانه قومونه، بايزيد روښان، نوې رڼا، افغاني موسيقي، شلمه پېړۍ او پښتانه، پښتني پور، د پښتنو قامولي، غوره سندرې، د پښتو مشاعرې، د تنقيد حق، د پښتو ولسي ادب، افغاني حکومت، مليت او بين المليت، کوشانيان څوک وو؟، پارتيان څوک وو؟، د خوشال او رحمان موازنه، د پښتو د تاريخ يوه زړه پاڼه، نوې لار، نوی ادب، علمي پښتونولي، غريزه حب خير، اسماني غږ، د پښتون د ستې ځانګې، لرغوني افغانان، د پښتونولۍ ادب، لوی سهاک، ټولنپال افغان مونوفيسټ، کنفرانسونه، د پښتو نثر ليکوال، د پښتو نثر تاريخي تطورات او د نثر ليکونکو تذکره، پښتانه شعرأ، مجلسي شاعران، روهي ګلونه، په تذکرة الاوليا تبصره، د کوچنيانو اخلاقي پالنه، اصحاب کرام، د شريف**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرګذشت، د افغانستان پخوانی تاریخ، اریانا دایرة المعارف، مکارم‌الاخلاق، یو مسلمان او ټوله اروپا، د مور مینه، د ریګویدا سرودونه، نوی ژوندون، خیالي دنیا، سورګل، ادبي قصې، سید کمال او بابو جانه، د داستانونو مجموعه، د پښتونخوا کیسې، علمي سفرونه او یونلیک، پښتو پټۍ، پښتو په عربي لیکدود، پښتو نحوه، معلم پښتو، پښتو کلي اول جز، پښتو کلي دویم جز، پښتو کلي دریم جز، پښتو کلي څلورم جز، کره پښتو، پښتو قرائت د دویم ټولګي لپاره، پښتو قرائت د دریم ټولګي لپاره، پښتو قرائت د څلورم ټولګي لپاره، پښتو زده کړه، معیاري پښتو، مکالمات، سیاستپوهنه او ټولنپوهنه، علمي څېړنه او شننه، ژورنالیستیکي لیکنې، دري لیکنې)) اثار معرفي شوي دي.

د اثارو تر معرفۍ وروسته په ټولیز ډول د دې اثارو ارزښتونو، ماهیت او نوښتونو ته اشاره شوې او هغه بیا د ډلبندۍ له مخې پر منظوم او منثور کلام وېشل شوي او د هر یوه پر ځانګړنو بحث شوی دی. تر هغه وروسته بیا د پښتو ادبیاتو په ویښتیایي پړاو کې د خادم د اثارو مقام څېړل شوی، هم پر دې پړاو بحث شوی او د ده د اثارو رول ته ګوته نیول شوې ده او بیا وروسته له نورو کورنیو او بهرنیو لیکوالو څخه د خادم تاثر څېړل شوی او په دې کې لومړی د خپلې ټولنې اغېز، شاوخوا (۴۳) داسې کورني او یو شمېر بهرني لیکوال څېړل شوي چې په یو نه یو ډول یې د خادم پر فکر او ذهن اغېز کړی دی، دا لیکوال او موثر شخصیتونه په دې ډول دي: ((سلطان شهاب الدین غوري، بېټ نیکه، شېرشاه سوري، شېخ ملي، خوشال خان خټک، رحمان بابا، احمد شاه بابا، سید جمال الدین افغان، توکل ، باچا خان (فخر افغان)، کامل مومند، جهان زېب، اجمل خټک، خان عبدالولي خان، ماسټر عبدالکریم، وزیر محمد ګل خان مومند، غازي محمد نادرخان، سردار محمد داود خان، نور محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تره کی، موسی شفیق، غلام رحمن جرار، نصیر خان بلوڅ، سید حسن خان، استاد عبدالروف بېنوا، حمزه شینواری، استاد گل پاچا الفت، پوهاند عبدالحی حبیبي، سلېمان لایق، سید رسول رسا، همېش خلیل، محمد عمر سیماب، مراد شینواری، سېلاب ساپی، قاضي عطاء الله، نصر الله حافظ، ولي محمد مخلص، سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار، ماکسیم ګورکي، مصطفی کمال اتاتورک، رابندرنات ټاګور، مهاتما ګاندي، علامه اقبال)) او ځینې نور...**

**د اثر په درېیمه برخه کې د دې اثر مرکزي او اساسي موضوع پیلېږي، په دې کې د خادم نړۍ څېړل شوې، په دې کې نهه برخې څېړل شوي دي: ۱- ملتپالنه ده چې د خادم د فکر محور جوړوي. دا برخه تر درېو جلال جلا عنوانو لاندې څېړل شوې ده. الف- پښتانه او پښتونولي. ب- پښتانه او پښتونستان، ج- افغان او افغانیت. بیا د خادم د نړۍ لید دویمه برخه پیلېږي. په دې برخه کې د خادم دینپالنه یا اسلامپالنه څېړل شوې، دا هم پر دوو جلا برخو کې څېړل شوې ده. (الف) برخه کې یې د دین اصلي ماهیت او په (ب) برخه کې یې د دین اخلاقي ایډیالونه څېړل شوي دي، دا دواړه د خادم په اثارو کې ډېر جوت دي. د خادم د نړۍ لید درېیمه برخه (ټولنپالنه) تشکیلوي، سمونپالنه د خادم له نظره څېړل شوې او په دې کې بیا هم په درې برخو کې پرې بحث شوی دی: (فردي سمون، ټولنیز سمون او هېوادنی سمون)، د خادم دفکر یا نړۍ لید بله برخه کره کتنه ده. په دې برخه کې چې د ده انتقادي اواصلاحي فکر پر کومه برخه زیات تمرکز لري پر هغو برخو بحث شوی دی، لکه (ژبپوهنیزه کره کتنه، ادبي کره کتنه، سیاسي کره کتنه او ټولنیزه کره کتنه.) د خادم د نړۍ شپږمه برخه (ښارپالنه) ده. دی د ښاري ژوند او تمدن سخت پلوی و او په دې برخه کې یې ګڼ شمېر لیکنې کړي دي. په دې برخه کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخادم لیکل شوي لیکنو ته کتنه شوې ده. فلسفه او فلسفي افکار هم د خادم د فکر یوه مهمه موضوع جوړوي، په دې برخه کې دخادم لیکل شویو اثارو او متفرقه لیکنو ته نغوته شوې ده. خادم نه یوازې د خپلې ټولنې او هېواد په باب لیکنې کړي، بلکې د فکر دایره یې د سیمې او نړۍ په کچه هم پراخه وه، نو د سیمې او نړۍ په کچه او یا هم د سیمه ییزو او نړیوالو پېښو او شخصیتونو په باب چې ده کومې لیکنې کړي هغه هم څېړل شوې دي. ژبه، ژبپالنه او پښتو پالنه هم د استاد خادم دافکارو یوه مهمه برخه جوړوي، د خادم نړۍ لید په نهمه برخه کې دا موضع په تفصیل سره څېړل شوې او استاد خادم چې د خپل عمر په اوږدو کې، ژبې، ژبپالنې، پښتو او پښتوپالنې ته څه کړي، هغه په تفصیل سره دلته څېړل شوي دي. د دې اثر په څلورمه برخه کې د کورنیو او بهرنیو لیکوالو له نظره د خادم ژوند، فکر او اثار څېړل شوي دي. په دې کې د دغو لاندې کورنیو او بهرنیو لیکوالو نظریات راغلي دي: ((استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، استاد عبدالرووف بېنوا، پوهاند صدیق الله رښتین، کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي، استاد سعد الدین شپون، عبدالرحمن پژواک، سید قاسم رښتیا، حمزه شینواری، محمد قدیر تره کی، غلام جیلاني جلالي، دوکتور حفیظ الله ناصري، سید بهاوالدین مجروح، عبدالهادي هدایت، سر محقق عبدالله بختانی خدمتگار، قتیل خوږیانی، حبیب الله رفیع، زرین انځور، پوهاند ډاکترزېور الدین زېور، پوهنوال لال پاچا ازمون، اسدالله غضنفر، عبدالغفور لېوال، احمد جاوېد نوري، سرمحقق عبدالواجد واجد، حفیظ الله غښتلی، سرمحقق سید محی‌الدین هاشمي، محمد اصف صمیم، څېړنوال ذکریا ملاتړ، څېړنوال وجیه الله شپون، گراسیموا، دوریانکوف او ف.گ گیرس )) او ځیني نور..**

**د اثر په پنځمه برخه کې د خادم فرهنگي او ټولنیز خدمتونه ارزول**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوي دي. په فرهنګي برخه کې د ده خدمتونه، په لیکنیزه، رسنیزه او دیني برخه کې تلل شوي او ارزول شوي دي او ټولنیز خدمتونه یې بیا پر کورني او سیمه ییز چاپېریال او همدارنګه د عامې ټولنې په کچه ارزول شوي دي.**

**شپږمه برخه د کتاب وروستۍ یادونې او بشپړونې دي چې د دې اثر پر لیکنې بهیر او ستونزو باندې بحث کوي او بله برخه یې لنډیز یا پایله ده چې همدا اوس مو له نظره تېره کړه. دا د دې اثر څرنګوالی او څومره والی و چې موږ یې لنډیز دلته وړاندې کړ.**

**په پای کې یو ځل بیا غواړم له قدرمنو استادانو؛ سرمحقق زلمي هېوادمل، پوهنوال دوکتور محمداجان حقپال، پوهاند دوکتور عبدالخالق رشید، سرمحقق دوکتور سید محی الدین هاشمي او نورو دوستانو څخه ډېره مننه وکړم چې ددې اثر د بشپړاوي لپاره یې راته خپلې ګټورې مشورې راکړې او د دې اثر په سمون او تکمیل کې یې راسره مرسته وکړه.**

**له ګرانو ورونو؛ فیاض حمید او ضیاء الرحمن ضیاء څخه هم ډېره مننه کوم چې د دې اثر په کمپوز، سمون او تخنیکي چارو په بشپړاوي کې یې خپله خپله مرسته وکړه، د ټولو دې کور ودان وي.**

**په هېواد کې د علمي څېړنو د پرمختیا په هیله**

**په درنښت**

**محمد اسمعیل یون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه


۱. اریانا دایرة المعارف، ۷ټوک، سریزه ، د اریانا دایرة المعارف ټولنه ، ۱۳۵۵ ل کال.

۲. بېنوا، عبدالروف ، اوسني لیکوال (بشپړ متن) د مطیع الله روهیال ترتیب او راټولونه، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ل کال.

۳. بېنوا، عبدالروف بېنوا، اوسني لیکوال، لومړی ټوک، د مطبوعاتو مستقل ریاست، دولتي چاپخونه، کابل، ۱۳۴۰ل کال.

٤. جبارخېل، قاضي حفیظ الله ښاد،حکومت پوهنه، د افغانستان ملي تحریک، ۱۳۹۳ل کال .

۵. حبیبي، پوهاند عبدالحی ، په اوسني پښتو شعر کې د ژوندځپې، د افغانستان علومو اکاډمي، دولتي چاپخونه، ۱۳٦۰ل کال.

٦. حبیبي، پوهاند عبدالحی ، په پښتو ادب تاریخ کې قصیده، کابل، ۱۳۵۷ل کال.

۷. حبیبي، پوهاند عبدالحی ، د پښتو ادب لنډ تاریخ، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۷ل کال.

۸. خادم قیام الدین، د افغانستان تاریخ، لومړي ټوک د یوې برخې ترجمه، انجمن تاریخ ، ۱۳۳۴ل کال.

۹. خادم قیام الدین، وږمه، لومړی ګڼه، د سید کمال او ببو جانې نکل، ۱۳۳۹ ل کال .

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۰. خادم، قیام الدین، پښتونولي، پښتو ټولنه، دولتي چاپخونه، ۱۳۳۱ل کال.

۱۱. خادم، قیام الدین ، څاروان، د کتاب چاپولو موسسه، کابل، ۱۳۴٦ ل کال.

۱۲. خادم، قیام الدین ، خادم باد سبا یم (د استاد قیام الدین خادم منظوم کلیات)، د لال پاچا ازمون په زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ل کال.

۱۳. خادم، قیام الدین ، د مرغلرو امېل، د اصلاح د نشراتو مرکز، کابل،۱۳۳۲ل کال.

۱٤. خادم، قیام الدین ، لرغوني پښتانه قومونه، پېښور، ۱۳۵٦ل کال .

۱۵. خادم، قیام الدین ، نبوغ او عبقریت، د استاد خادم د اثارو د چاپ علمي بورډ، دویم چاپ ، ۱۳۹۴ل کال.

۱٦. خادم، قیام الدین ، نبوغ او عبقریت، دویم چاپ، محمد قدیر تره کي تقریظ، د استاد خادم د اثارو د چاپ علمي بورد، د ، ۱۳۹۴ل کال.

۱۷. خادم، قیام الدین ، نصوص الحکم، خادم ډاینسټي، ۱۳۷۹ل کال.

۱۸. خادم، قیام الدین ، نوی ژوندون، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ ل کال .

۱۹. خادم، قیام الدین، بایزید روښان، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۳۲ل کال.

۲۰. خادم، قیام الدین، بلکا، خادم ډاینسټي، ۱۳۸۰ل کال.

۲۱. خادم، قیام الدین، پښتو چاپي اثار، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، کابل، ۱۳۵۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۲. خادم، قیام الدین، پښتو څېړنې، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۵٦ل کال.

۲۳. خادم، قیام الدین، رڼه چینه، لومړی ټوک، د لال پاچا ازمون راټولونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹٦ ل کال.

۲٤. خادم قیام الدین، رڼه چینه، دویم ټوک، د لال پاچا ازمون راټولونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۹٦ ل کال.

۲۵. خادم، قیام الدین، کابل کالنۍ، ۱۳۱٦ کال ګڼه.

۲٦. خادم،قیام الدین، خیالي دنیا، د خادم د اثارو د چاپ علمي بورډ، القدس چاپخونه،کابل، ۱۳۹۴ل کال.

۲۷. خاورې، غوټۍ د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون، د افغانستان علومو اکاډمي، ۱۳٦۱ل کال.

۲۸. خدمتګار، عبدالله بختاني ، ژوندون مجله، ٦ ګڼه، د لیکوالو انجمن، کابل، ۱۳٦۸ل کال.

۲۹. خدمتګار، عبدالله بختانی سرمحقق، د ملي ادب او ژورنالیزم خادم، (دویم چاپ)، د افغانستان د قلم ټولنه او ګویته انسټیټیوټ، ، افغان مسلکي چاپخونه، کابل، ۱۳۸۹ل کال.

۳۰. رښتیا، سید قاسم، سالنامه کابل، ادبي انجمن، دولتي چاپخونه، کابل، ۱۳۱۷ل کال.

۳۱. رفیع، حبیب الله، پښتو پانګه، ۲ ټوک، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۲. روهي، محمد صدیق کاندید اکاډمېسن سرمحقق، د پښتو ادبیاتو تاریخ، معاصره دوره، د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۸ل کال.**

**۳۳. زغم، احمد شاه ، پښتو چاربیته، د پوهنملی تېزس، ناچاپ**

**۳٤. زېور، پوهاند ډاکټر زېور الدین ، د پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره، مومند کتاب خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال .**

**۳۵. شپون،سعد الدین ، کابل مجله، ۷مه ګڼه،، ۱۳۴۱ ل کال.**

**۳٦. طرزی محمود، د افغانستان کالنۍ، ۴۵-۴٦ ګڼه، ۱۳۵۸- ۱۳۵۹کال .**

**۳۷. غبار، میر غلام محمد،افغانستان در مسیر تاریخ،څلورم چاپ، ۱۳٦۸ل کال.**

**۳۸. ګ، ف، ګیرس، پښتو هنري نثر، د محمد اکبر معتمد ژباړه، د چاپ او نشر دولتي کمېټه، ۱۳٦۵ ل کال.**

**۳۹. ماکو،سلېمان ، تذکرة الولیا، د پوهاند عبدلاحی حبیبي سریزه او تعلیقات، د علامه حبیبي د خپرونو مرکز، ۱۳۷۹ل کال،**

**٤۰. هاشمي، پروفیسور ډاکټر سید محی الدین ، د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي، فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵ل کال.**

**٤۱. هلالي، عبدالحکیم ، کابل مجله، ۴ ګڼه، ۱۳۴۱ل کال.**

**٤۲. هېوادمل، زلمی سرمحقق، دالفت یاد، کابل، ۱۳٦۱ کال.**

**٤۳. هېوادمل، زلمی سرمحقق ،د افغان یاد، د مقالو ټولګه، کابل،۱۳٦۰ل کال.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




٤٤. هېوادمل، زلمی سرمحقق، امیر علیشېر نوایي،د افغانستان د علومو اکاډمي،١٣٦٠ل کال.

٤٥. هېوادمل، سرمحقق زلمی ، د پښتو نثر اته سوه کاله، دانش خپرندویه ټولنه، ١٣٩٠ل کال.

٤٦. سرمحقق زلمی هېوادمل، ولسي سندرې، ٢ ټوک، ١٣٦٦ل کال.

٤٧. هیله مجله، پېښور، پنځمه ګڼه، ١٣٧٨ ل کال،

٤٨. یوسفزی، هوسا، د پښتو ادب په پرمختیایي بهیر کې د استاد قیام الدین خادم ونډه، (د ماستری دورې تېزس)، ناچاپ، ١٣٨٧ل کال.

٤٩. یون، محمد اسمعیل، ادب تاریخ، لرغونې دوره، د افغانستان ملي تحریک، ١٣٩۴ل کال.

٥٠. یون، محمد اسمعیل،پښتو شعر هندسي جوړښت، یون کلتوري یون، ١٣٨٧ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Certificate

This Thesis entitled " QAYAMODIN KHADAM' IEADA AND WORLD VIEW " submitted by **" MOHAMMED ISMAIL YOON "** Department of Pashto faculty of language and literature of Kabul university Kabul , for the award of the degree of Doctor Of PHILOSOPHY is an original work and has not submitted so for in part or full for any other degree in any university.

This may be placed before the examiners for evaluation and the award of the degree of Doctor Of PHILOSOPHY.

Prof. Abdul Khaliq Rashid

Department of Pashto,

Centre for Persian and central Asian Studies

School languages and culture

JAWAHARLAL NEHRU UNIVERSITY NU

New Delhi India

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ ښلونې

## (دفاع)

**الف- لومړنۍ یا مقدماتي دفاع:** کله چې مې د دوکتورا علمي پوړۍ لپاره ډيزرټېشن بشپړ کړ، نو د دوکتورا بورډ، پښتو څانګې، ژبو او ادبیاتو پوهنځي او د پوهنتون د علمي چارو معاونیت له خوا د مقدماتي دفاع ورځ وټاکل شوه. د دفاع لپاره د (۱۳۹٦ل) کال د سلواغې میاشتې (۲۵)مه نېټه غوره شوه. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي (ترکي څانګې) نوی جوړ شوی تالار د لومړنۍ دفاع لپاره مناسب ځای وبلل شو.




د یادې نېټې لپاره مو ټول اړوند ضروري مواد، پرېزېنټېشن، باینرونه، د موضوع لنډیز او نور ټول برابر کړل. د کابل پوهنتون استادان، د لوړو زده کړو وزارت یو شمېر کارکوونکي او د یو شمېر نورو علمي موسسو علمي شخصیتونه مو خبر کړل، نږدې یو نیم سل تنو علمي شخصیتونو او یو شمېر محصلینو د مقدماتي دفاع په غونډه کې ګډون کړی و، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library






ځینو یې په دې ځانګړي لېست کې خپل لاسلیکونه هم وکړل، له اصولو سره سم د علمي مرستیال (دوکتور محمد نعیم عظیمي) تر مشرۍ لاندې غونډه پیل شوه، ژوري هیئت وټاکل شو او ما خپله دفاع پیل کړه. له




موضوع سره زما لېوالتیا ما ته د دې امکان برابر کړ چې زه پر موضوع پوره حاکم شم، زما توضیحات د حاضرینو او ژوري هیئت د پاملرنې وړ وګرځېدل، څو تنو استادانو چې ځینې پوښتنې مطرح کړې، هغه هم په ښه بڼه ځواب او مفهوم هم په ښه ډول افاده او انتقال شو. زما تر

(c) ketabton.com: The Digital Library




**پرېزنټېشن یا توضیحاتو وروسته ژوري هیئت خپله پرېکړه واوروله چې متن يې په دې ډول دی:**


محترم پوهاند محمد اسماعیل یون از موضوع رساله دکتورای خویش
تحت عنوان "د خادم نړۍ لید" در محضر هیأت ژوری
که متشکل از دانشمندان و در جوابات موفقانه دفاع نموده و موصوف
به پرسش های موصوف دانشمندان، حاضران هیأت ژوری پاسخ
های قناعت بخش ارایه کرد.
هیأت ژوری دفاع موفقانه ایشان را هم از نگاه ساختاری [illegible]
[illegible] دفاع دکترا در رشته [illegible]
از [illegible] خداوند [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر هغه وروسته ټولو ګډونوالو ما ته د ښې او بریالۍ مقدماتي دفاع له امله مبارکي راکړه.**



**تر مبارکۍ وروسته مو اړوند استاد سره راټول او د وروستۍ دفاع لپاره مو د تیاري پلان جوړ کړ. هغو علمي شخصیتونو او دوستانو چې په دې**



**مقدماتي دفاع کې ګډون درلود، د ځینو څرنګوالی او لاسلیکونه یې په لاندې ډول دي:**

# د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا

# د پایلیک مقدماتي دفاع ګډونوال

د پښتو خانګې د دوکتورا پروګرام د مقدماتي دفاع ګډونوال ۱۳۹۶/ ۱۱/ ۲۵

(د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا د پایلیک مقدماتي دفاع)

| شماره | نوم | رتبه | تخلص | لاسلیک | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اسدالله وحیدي | پوهنمل | وحیدي | [illegible] | |
| ۲ | حسیب الله | کارمند | اتکوزی | [illegible] | |
| ۳ | سید اکرام الدین | پوهاند دکتور | حصاریان | [illegible] | |
| ۴ | ګل محمد | پوهنوی دکتور | باسل | [illegible] | |
| ۵ | محمد اجان حقپال | پوهنوال دوکتور | حقپال | [illegible] | |
| ۶ | سید محی الدین هاشمي | سرمحقق دوکتور | حقپال | [illegible] | |
| ۷ | زلمی هیوادمل | سرمحقق | هیوادمل | [illegible] | |
| ۸ | عطا محمد پویا | پوهنمل | پویا | [illegible] | |
| ۹ | دکتور خیر محمد عطایي | پوهندوی | عطایي | [illegible] | |
| ۱۰ | غلام دستګیر بهسود | پوهنوال | بهسود | [illegible] | |
| ۱۱ | احمدشاه زخم | پوهاند | زخم | [illegible] | |
| ۱۲ | فهیم | پوهنیار | نعیمي | [illegible] | |
| ۱۳ | عطاالحق رستم زاده | پوهنیار | رستم زاده | [illegible] | |
| ۱۴ | امان الرحمن اوروال | مولوي طارمند | اوروال | [illegible] | |
| ۱۵ | منصور | محصل | رفیقي | [illegible] | |
| ۱۶ | انورالله | دکتور | هوښند | [illegible] | |
| ۱۷ | ماهر | د ریاست رئیس | ماهر | [illegible] | |
| ۱۸ | حمیدالله | محصل | بها | [illegible] | |
| ۱۹ | ضیاالحق | ژورنالیست | حمید | [illegible] | |
| ۲۰ | طالب جان | فرمال | عامر | [illegible] | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شماره | نوم | رتبه | تخلص | لاسلیک | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | قدرت الله بدلون | د ملي [illegible] | بدلون | | |
| 22 | عبدالهادي صافي | پوهاند | صافي | | |
| ۲۳ | ډاکتر صفورا جلالي | | ملالي | | |
| ۲۴ | فیروز "صافي" | [illegible] | "صافي" | | |
| ۲۵ | ډاکتر ضیاالدین کمال | د ورګړې قومي شورا مشر | کمال | | |
| ۲۶ | استاد هیلا احمد | مسلمان ووزلو د دارالمعلمین استاد | کمال | | |
| ۲۷ | انیسه حیدر | دیپلوم انګلیسي | حیدر | | |
| ۲۸ | محمد صابر واحدي | پوهنمل | واحدي | | |
| ۲۹ | یحیی همام | پوهنیار | همام | | |
| ۳۰ | وفا الرحمن | پوهنیار | وفا | | |
| ۳۱ | بیت الرحمن | پوهنیار | ادروال | | |
| ۳۲ | رضیع الله | څېړنوی | نیازی | | |
| ۳۳ | یار محمد | پوهاند | یزال | | |
| ۳۴ | ملک شاه | محصل | غبغان | | |
| ۳۵ | حمید الله | محصل | شېرزاد | | |
| ۳۶ | نصرت الله | محصل | بصیر | | |
| ۳۷ | هدایت شکر | لیسانس | ارینوف | | |
| ۳۸ | بني امین | محصل | هوښمند | | |
| ۳۹ | لطف الرحمان | محصل | هوښمند | | |
| ۴۰ | کمال الدین | پوهنیار | کمال | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شماره | نوم | رتبه | تخلص | لاسلیک | کتنې |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۴۱ | عبدالله سعید | مدیر تعلیمات ریاست تحصیلات | سعید | | |
| ۴۲ | داکتر گل ناصر حماسی | مشاور دولتی | حماسی | | |
| ۴۳ | حمیدالله | پوهاند | امین | | |
| ۴۴ | نصرالله | پوهاند | ستانکزی | | |
| ۴۵ | محمد امیر | پوهندوی | کامه‌وال | | |
| ۴۶ | داکتر عبدالقیوم | پوهندوی | کریم | | |
| ۴۷ | څېړنوال ذکریا ملاتړ | څېړندوی | ملاتړ | | |
| ۴۸ | لطف الله | پوهاند | حامی | | |
| ۴۹ | حبیب الله حبیب | پوهاند | حبیب | | |
| ۵۰ | محمود سلیم | پوهنمل دکتور | هاشمی | | |
| ۵۱ | حاجی زمان | [illegible] | شمالی | | |
| ۵۲ | خسرین | رئیس شرکت څوکۍ | هدایی | | |
| ۵۳ | محمد رسول | پوهنمل | تیمولو | | |
| ۵۴ | محمد بشیر | پوهندوی | وزیری | | |
| ۵۵ | وږمه | محصله | حلیم | | |
| ۵۶ | ولوله | محصله | لغمانۍ | | |
| ۵۷ | بصیره | محصله | لغمانۍ | | |
| ۵۸ | شیرآغا | محصل | نیازی | | |
| ۵۹ | محمد ناصر | پوهیالی | قدرداد | | |
| ۶۰ | محمد کبیر | پوهنمل | نظامی | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شماره | نوم | رتبه | تخلص | لاسلیک | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦١ | آریانا | پوهنیار | حقیار | | |
| ٦٢ | عظیمه | پوهنوال | مجید | | |
| ٦٣ | محمدهارون | | عمری | | |
| ٦٤ | عبدالظاهر | څېړنوال | شکیب | | |
| ٦٥ | محمدعاکف | - | عاکف | | |
| ٦٦ | سریالی | پوهنوال | باجوړی | | |
| ٦٧ | سلام | نامشر | دانش | | |
| ٦٨ | حشمت دانش | محصل | دانش | | |
| ٦٩ | نعمت الله لستون | دولتي کارکوونکی | لستون | | |
| ٧٠ | امید | دولتي کارکوونکی | حیران | | |
| ٧١ | سروس | دولتي کارکوونکی | صمیمي | | |
| ٧٢ | حکیم الله | محصل | ارغیل | | |
| ٧٣ | روح الله | محصل | امرخیل | | |
| ٧٤ | حبیب الرحمن حافظ | ریاست کوونکی | حافظ | | |
| ٧٥ | ضیاءالرحمن ضیاء | محصل | ضیاء | | |
| ٧٦ | نثار احمد | مامور دولت | کریمزی | | |
| ٧٧ | عتیق الله | مدیر | عمرزی | | |
| ٧٨ | وحیدالله بریال | پوهنیار | بریال | | |
| ٧٩ | شاه محمود لمدوال | پوهندوی | لمدوال | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقدمتي دفع بشپړ جین د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپور شو او پر همغه مهال د یوټیوب څپو ته هم پورته شو چې لېنک یې په دې ډول دی:

(https://www.youtube.com/watch?v=LH٦jH٧vcG١Q&t=١١s)

تر مقدماتي دفاع وروسته مې د نهایي دفاع لپاره پلان جوړ کړ او د کارونو د انسجام په لټه کې شوم.

**ب- وروستۍ یا نهایي دفاع:** د وروستي دفاع لپاره څو ورځې وخت په کار و چې نور اړوند کارونه تر سره شي او د وروستۍ دفاع لپاره باید د بهرني استاد په توګه یو داسې استاد هم ګډون وکړي چې د کوم بل هېواد په یو معتبر پوهنتون کې استادي ولري او د ناظر استاد شرایط یې پوره کړي وي. ما چې د کابل پوهنتون د علمي مرستیال د رسمي مکتوب پر اساس لا وار د مخه (استاد پروفیسور دوکتور عبدالخالق رشید)



د ناظر استاد په توګه ټاکلی و او د دوکتورا تېزس مې وار دمخه ورلېږلی و، نو د مقدماتي دفاع له جزیاتو مې هم خبر کړ او په نهایي دفاع کې مې د هغه د حتمي ګډون خبره هم ورسره شریکه کړه، هغه په ورین تندې ومنله، د (١٣٩٦ل) کال د کب (٦)مه نېټه د نهایي دفاع لپاره وټاکل شوه، استاد خالق رشید هم تشریف راوړو او د (چینایي څانګې) نوی تالار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروستۍ دفاع لپاره غوره شو. په دې دفاع کې تر (دوه سوه پنځوس) تنو زیاتو استادانو، څېړونکو، محصلینو او د نورو علمي مرکزونو استازو ګډون کړی و. چې د ځینو لاسلیکونه او څرنګوالی په دې ډول دي:**

د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ٦/١٢/١٣٩٦

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سید الکریم الدین | احسان | پوهاندوی |  |
| ۲ | ایبل بتکلی | بتکلی | پوهندوی |  |
| ۳ | محمد صابر | مومند | . |  |
| ٤ | یار محمد بهرامی | بهرامی | پوهندوی |  |
| ٥ | احمدشاه | زغشم | پوهاند |  |
| ٦ | عبدالرزاق | احمدی | پوهیالی |  |
| ۷ | شاهین | یوسفزاده | پوهنیار |  |
| ۸ | احمد جاوید | پرشنګ | څېړیال |  |
| ۹ | جهان | دوستدوالی | د طب محصل |  |
| ۱۰ | شبیر الحمید اوریا | صافی | [illegible] |  |
| ۱۱ | نذیر احمد | نوري | اداري رئیس |  |
| ۱۲ | محمد نقیب | روحاني | پوهنیار |  |
| ۱۳ | زرغون | [illegible] | ماستر |  |
| ۱٤ | جاوید | مخزن | فارغ التحصیل |  |
| ۱٥ | یحیی | هما | استاد |  |
| ۱٦ | حبیب الله حمید | [illegible] | فارغ تحصیل |  |
| ۱۷ | محمد محی | ساداتي | [illegible] |  |

FACULTY OF LITERATURE AND ... LANGUAGES

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست**

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | احمد محمد | حبیبی | کارمند تحصیلات عالی | |
| ۱۹ | داکتر [illegible] رحیم | ساحل | تحصیلات عالی | |
| ۲۰ | عبدالله | سعید | تحصیلات عالی | |
| ۲۱ | پوهندوی داکتر نجیب الله | اریخیل | پوهنتون بلخ | |
| ۲۲ | صالح محقق | اسحق زی خالقی | [illegible] | |
| ۲۳ | دوکتور محمد نادر | هاشمی | [illegible] | |
| ۲۴ | پوهندوی محمد امین | کامروال | وزارت تحصیلات عالی | |
| ۲۵ | حاجی داود شاه اعظمی | اعظمی | مشاعر | |
| ۲۶ | طارق | سنګزی | وزارت [illegible] | |
| ۲۷ | سرمحقق سید علیشاه روستایار | | عضو اکادمی علوم | |
| ۲۸ | سرمحقق شریف الله | شریف | عضو اکادمی علوم | |
| ۲۹ | پوهنوال رحیم [illegible] | [illegible] | [illegible] | |
| ۳۰ | پوهندوی [illegible] | واصل | [illegible] | |
| ۳۱ | محمد هارون | محمد [illegible] | ماموریت | |
| ۳۲ | ګل محمد | [illegible] | [illegible] | |
| ۳۳ | سلطان [illegible] | ساحل | [illegible] | |
| ۳۴ | [illegible] | حمید | ضبط [illegible] | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستي دفاع د ګډونوالو لیست**

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| لاسلیک | رتبه | تخلص | نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
| | پوهیالی | شفیعي | مشید عبیدالله | ۳۵ |
| | 〃 | حلیم | عبدالرحیم | ۳۶ |
| | | رفیع زاده | داکتر سرور ساحه | ۳۷ |
| | پوهنمل دکتور | فروغ | خالده فروغ | ۳۸ |
| | پوهنیار | | سلوی لودی قریشی | ۳۹ |
| | پوهنوال | مجید | عظیمه | ۴۱ |
| | محصل | آرزوي | هدی | ۴۱ |
| | محصل | آرزوی | حدیه | ۴۲ |
| | محصل | هاشمي | فرشته | ۴۳ |
| | محصل | نادر | دلیوه | ۴۴ |
| | متعلم | یون | سوکه | ۴۵ |
| | محصل | محمدی | بحیره سمور | ۴۶ |
| | سنوونکی | محمدی | خالده | ۴۷ |
| | سنوونکی | محمدی | عزت | ۴۸ |
| | د ملګرو ملتونو د ... | عزیزي | عشق ... | ۴۹ |
| | کارمند | عشرتی | ثوبیه | ۵۰ |
| | پوهنمل | قریشی | نفیس الله | ۵۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستي دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ٦/١٢/١٣٩٦

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ٥٢ | [illegible] | مشرورزاده | پوهنمل | |
| ٥٣ | دکتور محمد افضل نوددال | بنوددال | پوهنیار | |
| ٥٤ | عبدالقیوم | قیوم | پوهاند دکتور | |
| ٥٥ | ګل محمد | باښل | پوهندوی دکتور | |
| ٥٦ | لوبل | حسینی | ماستر | |
| ٥٧ | اسدالله | ساحل | ماستر | |
| ٥٨ | سنګر الکوزی | الکوزی | PhD | |
| ٥٩ | عبدالاحد | اولیاخیل | B.Sc | |
| ٦٠ | عبدالقادر | حاجی | پوهاند | |
| ٦١ | شمولتوال حاجی عبدالرشید | مجدی | شمولتوال | |
| ٦٢ | محمد شعیب | محمدزاده | پوهنمل | |
| ٦٣ | میرستار | [illegible] | [illegible] | |
| ٦٤ | عبید . رحمانی | برکانی | پوهنیار | |
| ٦٥ | زبیر احمد | دعتزدی | پوهنیار | |
| ٦٦ | سید کمال معصومی | | پوهنیار | |
| ٦٧ | مصطفی پیشکاخ | نظامی | B.Sc | |
| ٦٨ | داکتر محمد اسماعیل | حنیف آیدین | DVM | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| لاسلیک | رتبه | تخلص | نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
| | استاد انستیتوت تکنالوژي سروسي - لیسانس | عارفي | سید نعمت الله | ۶۹ |
| | استاد انستیتوت تکنالوژي سروسي - لیسانس | [illegible] | نګینه | ۷۰ |
| | پوهاند | یزال | یار محمد | ۷۱ |
| | امر نظارت | کریمزی | نثار احمد | ۷۲ |
| | پوهنمل | [illegible] | عطا محمد | ۷۳ |
| | لیسانس | احمد | عابدالله | ۷۴ |
| | خریال | مومند | حقیق الله | ۷۵ |
| | څیړنیار | صابر | لطف الله | ۷۶ |
| | پوهنیار | [illegible] | زمری | ۷۷ |
| | محصل | سموال | محمد مصطفی | ۷۸ |
| | لیسانس | لوړی | حبیب الله | ۷۹ |
| | ماستر | [illegible] | څیړنوال عبدالشکور | ۸۰ |
| | پوهنوال | عزیزی | بخت میر | ۸۱ |
| | پوهنیار | وحدت | عبدالسمیع | ۸۲ |
| | پوهنیار | مرهون | محمود مرهون | ۸۳ |
| | ماستر | [illegible] | حسیب الله | ۸۴ |
| | څیړنیار، کاندید | [illegible] | فریدون | ۸۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستي دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ٦/١٢/١٣٩٦

| لاسلیک | رتبه | تخلص | نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
| | پوهنمل | نسیمی | محمد اسلم | ۸۶ |
| | پوهنیار | رهنورد | محمد یوسف | ۸۷ |
| | پوهندوی | [illegible] | غلام فاروق | ۸۸ |
| | پوهاند | عثمانی | عصمت الله | ۸۹ |
| | — | روحي | خوشحال روحي | ۹۰ |
| | — | شیدا | سید ولی شیدا | ۹۱ |
| | آمر سرکت | محمدی | [illegible] | ۹۲ |
| | [illegible] | [illegible] | محمد | ۹۳ |
| | تجارت | بارز | خان محمد | ۹۴ |
| | تجارت | [illegible] | [illegible] | ۹۵ |
| | تجارت | دوست زاده | [illegible] | ۹۶ |
| | استاد | اخلاص | استاد محمد ص اخلاص | ۹۷ |
| | استاد | [illegible] | یحیی | ۹۸ |
| | تجارت | [illegible] | حاجي محمد زمان | ۹۹ |
| | دولتي کارکوونکی | بدلون | قدرت الله بدلون | ۱۰۰ |
| | محصل | هلال | برکت الله | ۱۰۱ |
| | محصل | وردک | محمد خان | ۱۰۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| لاسلیک | رتبه | تخلص | نوم | ګڼه |
|---|---|---|---|---|
| | پوهاند | رفیق | محمد رفیق | ۱۰۳ |
| | زده کړیال | الکوزی | امیر | ۱۰۴ |
| | ماستر | شیدانی | ضیاءالاسلام | ۱۰۵ |
| | لیسانس | نادری | کبیرالله نادری | ۱۰۶ |
| | دانشجو | آریانی | رامین | ۱۰۷ |
| | محصل | ارکوزی | ستار | ۱۰۸ |
| | لیسانس | الهام | مسعود الهام | ۱۰۹ |
| | لیسانس | | حزب الرحمن صاحبزاده | ۱۱۰ |
| | لیسانس | حیدران | رفیق جان | ۱۱۱ |
| | څېړنوال | . | سید کاظم سیدی | ۱۱۲ |
| | ماستر | مشعل | عبدالاحد | ۱۱۳ |
| | لیسانس | ساحل | مصلح الدین | ۱۱۴ |
| | 〃 | همدرد | حضرت آغا | ۱۱۵ |
| | 〃 | شېرزاد | حمیدالله | ۱۱۶ |
| | ماستر | ساجد | عادله | ۱۱۷ |
| | [illegible] | نژال | احمد ضمیر نژال | ۱۱۸ |
| | لیسانس مدیر [illegible] | [illegible] | عشق الله | ۱۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲۰ | فیصل | امین | پوهندوی | |
| ۱۲۱ | نفیسه | هاشمي | پوهنوال | |
| ۱۲۲ | دکتور عبدالمعصوم | عارف | پوهاند | |
| ۱۲۳ | سرمحقق زلمی هیوادمل | هیوادمل | سرمحقق | |
| ۱۲۴ | پوهندوی دکتور ولي الله ادیب | ولي الله ادیب | پوهندوی | |
| ۱۲۵ | عبدالعزیز بابکرخیل | بابکرخیل | [illegible] | |
| ۱۲۶ | عبدالخالق حسیني شپږدی | حسیني شپږدی | د سولې عالي شورا غړی | |
| ۱۲۷ | پوهاند حمیدالله امین | امین | پوهاند | |
| ۱۲۸ | پوهاند دکتور محمد سلیماني | سلیماني | پوهاند | |
| ۱۲۹ | بریالی | باجوړی | پوهنوال | |
| ۱۳۰ | شاکره | نیازي | پوهنیار | |
| ۱۳۱ | ضیا رفعت | رفعت | پوهندوی | |
| ۱۳۲ | عبدالحق | سلارزوی | محصل | |
| ۱۳۳ | مهرلطیف | [illegible] | پوهنیار | |
| ۱۳۴ | سجیه | سیدخیل | ماسټر | |
| | | | | |
| | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۵ | عبدالله | فروتن | مامور ۳ | [signature] |
| ۱۳۶ | محمد احسان | سلطانی | ۲ | [signature] |
| ۱۳۷ | نسیم اکبر | سادات | پوهنمل/ استاد | [signature] |
| ۱۳۸ | محمد هارون | محمدی | مامور | [signature] |
| ۱۳۹ | نصیر محمد | هوتک | رئیس پروژه | [signature] |
| ۱۴۰ | امیر کروړ | کروړ | معلم | [signature] |
| ۱۴۱ | رحیم الله | رحیمی | محصل | [signature] |
| ۱۴۲ | محمد سلیم | کاروان | زده کړیال | [signature] |
| ۱۴۳ | نجیب الله | کاکړ | محصل | [signature] |
| ۱۴۴ | رئیس الله | مسیر | ″ | [signature] |
| ۱۴۵ | ګل الرحمن | مشعل | ″ | [signature] |
| ۱۴۶ | احسان الله | احسان | ″ | [signature] |
| ۱۴۷ | محمد یوسف | احمدی | ″ | [signature] |
| ۱۴۸ | د الله سراج الدین تڼان | تڼان | استاد د لوړو زده کړو | [signature] |
| | | | | |
| | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵۰ | آریانا | حقیال | پوهنیار | |
| ۱۵۱ | پښتیانا | حقیال | لیسانس | |
| ۱۵۲ | عادل | تخنی | لیسانس | |
| ۱۵۳ | لینا | تمیزازی | لیسانس | |
| ۱۵۴ | محمد آصف هوتک | هوتک | ۱۴ پاس | |
| ۱۵۵ | رحمت الله | صدیق | څېړنوال | |
| ۱۵۶ | زیب الرحمن سعتاب | سعتاب | دکتور | |
| ۱۵۷ | محمد اسماعیل | عندلیب | ماستر | |
| ۱۵۸ | عزیز الله | شمس | ماستر | |
| ۱۵۹ | مخزن انبارزی | ر | فارغ التحصیل | |
| ۱۶۰ | هدایت شهید | حیات شهید | لیسانس | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند محمد اسمعیل یون د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ دفاع د ګډونوالو لیست

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

| ګڼه | نوم | تخلص | رتبه | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱۶۰ | محمد علی | [illegible] | پوهنیار | [illegible] |
| ۱۶۱ | فضل احمد امینی | امینی | پوهنمل | [illegible] |
| ۱۶۲ | سید عارف عارف | عارف | دوکتور پوهندوی | [illegible] |
| ۱۶۳ | محمد یونس طغیان | [illegible] | پوهندوی دوکتور | [illegible] |
| ۱۶۴ | سید علی محمد | ازرقی | پوهنوال | [illegible] |
| ۱۶۵ | سیرا | امانی | پوهنیار | [illegible] |
| ۱۶۶ | فریبا | فرحت | پوهنمل | [illegible] |
| ۱۶۷ | ولی داد خوشبختی | | | [illegible] |
| ۱۶۸ | الحاج [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] |
| ۱۶۹ | الحاج محمد [illegible] | [illegible] | تاریخ [illegible] | [illegible] |
| ۱۷۰ | [illegible] | [illegible] | استاد | [illegible] |
| ۱۷۱ | [illegible] | [illegible] | استاد | [illegible] |
| ۱۷۲ | مطیع الله | خاکسار | برقی | [illegible] |
| ۱۷۳ | عابدالله | احمد | لیسانس | [illegible] |
| ۱۷۴ | مصطفی | شجاع | سیاسی | [illegible] |
| ۱۷۵ | محمد یونس | محسنی | سیاسی | [illegible] |
| ۱۷۵ | سید اکبر | سادات | پوهنمل | [illegible] |

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه له اجنډا سره سم د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو، بیا ملي سرود وغږول شو او ورپسې د کابل پوهنتون د علمي مرستیال (دوکتور محمد نعیم عظیمي) په وینا سره پیل شوه، بیا د دري څانگې امر (پوهاند دوکتور سید اکرام الدین حصاریان) لنډې خبرې وکړې او د




دوکتورا پروگرام یې تشریح کړ، وروسته د ماستری بورډ امر (وفاء الرحمن وفا) له خوا زما لنډ ژوند لیک ولوستل شو او بیا مې خپل پرزنټېشن پیل کړ، پر ټاکلي وخت مې خپل پرزنټېشن په سم ډول افاده کړ او د ټولو گډونوالو د هرکلي وړ وگرځېد، وروسته د پوهنتون د علمي مرستیال (دوکتور محمد نعیم عظیمي) له خوا له ما څخه غوښتنه وشوه چې تالار ترک کړم چې ژوري هیئت زما په نه شتوالي کې په ارامو اعصابو خپله عادلانه او ناپېیلې پرېکړه وکړي، تر څو دقیقو وروسته ما ته بېرته تالار ته د داخلېدو بلنه راکړل شوه او ژوري هیئت په دې ډول خپله پرېکړه واوروله:

## د پوهاند محمد اسمعیل یون

## د دوکتورا دورې د پایلیک د وروستۍ

## دفاع په باب د ژوري هیئت نظر

نېټه: ۶/۱۲/۱۳۹۶

استاد پوهاند محمد اسمعیل یون د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۶)مه نېټه د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د چینایي ځانګې په تالار کې د لوړو زده کړو وزارت، کابل پوهنتون د ځینو چارواکو، د بېلابېلو پوهنتونونو د ګڼ شمېر استادانو، د علومو اکاډمۍ او نورو علمي بنسټونو غړو او ځینو محصلینو په حضور کې (د خادم نړۍ لید) تر نامه لاندې خپل ډیزرټېشن ورواندې کړ. استاد یون خپل ډیزرټېشن په ډېره ښه او عالي بڼه افاده او تفهیم کړ چې د ټولو د پاملرنې وړ وګرځېد. ژوري هیئت د استاد یون ډیزرټېشن په هر اړخیز ډول وارزوه او هغه یې یو بریالي او عالي ډیزرټېشن وګاڼه او دا یې د دوکتورا دورې یوه ښه او بریالۍ دفاع وګڼله. ژوري هیئت استاد یون ته د دوکتورا دورې د پایلیک د دې بریالۍ دفاع له امله مبارکي وایي، د لوی خدای (ج) له درباره ورته د لا زیاتو بریاوو هیله کوي او د دې ترڅنګ له اړوندو لوړو مقاماتو څخه غواړي چې ده ته د دوکتورا تحصیلي سند منظور کړي.

په درناوي

ژوري هیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر دې پربکړې وروسته ټولو دوستانو، استادانو او اړوندو مسولینو ما ته مبارکي راکړه او په دې ډول هغه بهیر چې د (۱۳۹۲ل) کال د (ثور) میاشتې پر (۲۱)مه نېټه پیل شوی و، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (٦)مه نېټه په بریالیتوب سره پایته ورسېد. د دې پروګرام بشپړ جریان هم د ژوندون ټلوېزیون پر څپو خپور شو او تر هغه وروسته یوټیوب ته هم پورته شو چې لېنک یې په دې ډول دی:**

**(https://www.youtube.com/watch?v=Y٠d٩٩qm٠W_Y)**



**د وروستۍ جملې په توګه یو ځل بیا ټولو هغو قدرمنو استادانو، مسولینو او دوستانو ته کور ودانی وایم او د زړه له تله مننه ورڅخه کوم چې په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې یې د دوکتورا پروګرام په دې ډول د بریالیتوب پوړیو ته ورسوه او په مستقیم او نا مستقیم ډول یې له ما سره مرسته وکړه چې دا تحصیلي او علمي پوړۍ ترلاسه کړم.**

**د ټولو دې کور ودان وي، لاره یې روښانه او ژوند یې سوکاله غواړم.**

**په درنښت**

**محمد اسمعیل یون**

**۱۳۹٦ل کال د کب (٦)مه نېټه**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**